
də ahmad shāhi asar

numyāli

(THE LEGENDS OF AHMADSHAH DURRANI'S E

Academician Professor Abdul Shakoor Rasha



داحمد شاهي عصر نوميالي

(لومړی او دوهم ټوک)

علامه اکاډمیسن پوهاند
عبدالشکور رشاد

کال:
۱۳۹۴ ل.

وا اثر علامه رشاد په دوو ټوکو کې تصنیف کړی
. د دې اثر لیکوال د کتاب متن په ډېره منصفانه
ادلانه توګه او د تاریخ لیکنې د اصل په نظر کې
و سره لیکلی دی. په لومړي ټوک کې (٥٤)
یالي او په دوهم ټوک کې (٩١) نومیالي معرفي
ي دي او د احمد شاهي عصر د نومیالیو یوه
خي تذکره ده. دا اثر که له یوې خوا د احمد
هي عصر د نومیالیو یوه خورا مفصله او مغتنمه
کره ده، نو له بلې خوا د معاصر افغانستان په اړه
ؤرخینو د څېړونو له پاره یو معتبر او مستند ماخذ
دی ...

علامه رشاد اکاډیمي

د احمدشاهي عصر نوميالي

(لومړی او دوهم ټوک)

دا اثر د علامه رشاد اکاډمۍ له خوا ....

ته په ډېر اخلاص او ښتني مينه ډالۍ سو ... :

ستاسي د معنوي مرستو په هیله!

نېټه: .... تلفون: ۰۰۹۳۷۹۹۸۵۰۳۲۴

Email:rashad.academy@allamarashad.com

علامه اکاډميسن پوهاند
عبدالشکور رشاد

کال:

۱۳۹۴ ل.

بسم الله الرحمن الرحيم

کتاب پېژندنه

د کتاب نوم:	د احمدشاهي عصر نومیالي
لیکوال:	علامه اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد
خپرندوی:	علامه رشاد اکاډیمي/کندهار
کمپوز/ډیزاین:	علامه رشاد اکاډیمی/کندهار
موضوع:	تذکره
د مخونو شمېر:	(متن او فهرستونه ۷۶۸ مخه-لوي شجرې او تصویرونه ۵۲ پاڼي)
د پښتی ډیزاین:	نوراحمد خوشحال
د چاپ کال:	۱۳۹۴ل. / ۱۴۳۶هـ.ق. / ۲۰۱۵م.
د چاپ شمېر:	(۱۰۰۰) ټوکه
د چاپ ځای:	کندهار
د خپروونو لړ:	(۲۲)

ایمېل:	rashadacademy@gmail.com
تلیفون:	۳۰۲۰۰۳۰۵۲(۰)۹۳+ // ۷۰۸۸۹۷۶۷۴(۰)۹۳+

فهرست

(دوهم ټوک)

(د لویو شجرو فهرست)

(د تصویرو او نقشو فهرست)

د احمدشاهي عصر نومیالي له پاره

دخوشالۍ ځای دئ چي علامه رشاد اکاډیمۍ دخپلو ګټورو فرهنګي فعالیتو په لړ کي د (د احمد شاهي عصر نومیالي) په نامه دعلامه رشاد رحمه الله یو بل د روند علمي اثر چاپ ته تیار کړی دئ. دا اثر په لومړي سر کي د احمدشاهي شهنامې دتعلیقاتو له پاره لیکل سوی وو. خو کله چي د علامه رشاد رحمه الله په لاس د دغي شهنامې تهیه سوی متن د وخت د پښتو ټولنې له رسمي دفتره ورک او محوه سو، نو ئې وروستي ټوکونه د (احمدشاهي عصر نومیالي) ونومول سول. پر دغه اثر باندي ما په (۲۰۰۷ع.) کال کي کار پیل کړ. د کار په جریان کي مي فکر ته راغلل چي که د احمد شاهي شهنامې انتقادي متن تهیه سي او د تعلیقاتو له پاره ئې د احمدشاهي عصر نومیالي له لاسکښلي نسخې څخه استفاده وسي، هم به دعلامه رشاد رحمه الله ارمان تر وفات وروسته پوره سوی وي او هم به یو مهم تاریخي متن د ځېړونکو تر لاسو رسېدلی وي. په دې باب مي د (۲۰۰۷ع.) کال د سپتمبر پر لسمه د ایمېل له لاري له ښاغلي شیرشاه رشاد سره د احمدشاهي شهنامې د چاپ پر اړتیا خپل نظر شریک کړ. هغوی په جواب کي خپله موافقه وښودله او زه د احمدشاهي شهنامې د یوازنۍ خطي نسخې د ترلاسه کولو په لټه کي سوم. د نسخې کاپي مي له بریټیش موزیم څخه را وغوښتله او کار مي پر شروع کړ. کوم کار چي مي د احمدشاهي عصر نومیالي پر اول ټوک کړی وو، هغه مي ښاغلي شیر شاه رشاد ته واستاوه. د احمدشاهي شهنامې د متن ترتیب او د تعلیقاتو له پاره مي د احمدشاهي عصر د نومیالیو له نسخې څخه د لازمو موادو د لنډیز او تلخیص کار د (۲۰۰۸ع.) کال په مارچ کي پای ته ورساوه او علامه رشاد اکاډیمۍ احمدشاهي شهنامه په همدې کال چاپ او خپره کړه. د احمدشاهي عصر نومیالي پاته کار ئې دا دئ اوس بشپړ کړی او چاپ ته تیار کړی دئ.

د دې اثر د لومړي ټوک له پیل څخه بیا د (نواب ضابط خان) تر مبحث پوري غځېدلې برخه چي د دې حاضر متن تر ۲۷۹ مخه رسېدلې ده، تر زیاتي اندازې ما تهیه کړې ده. البته اکاډیمۍ هم ځني برخي وربشپړي کړي دي. په دې برخه کي مي د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د مبحث تر هغې برخي لاس اړولی وو چي د علامه رشاد مرحوم (دپاني پت قهرمان) نومي اثر کي راغلې وه. دغه راز د نواب احمدخان بنګښ او د ځمکنو د میا عمر صاحب رحمه الله تر بحث هم ځکه تېر سوی وم چي دغه برخي د مستقلو آثارو په توګه چاپ سوي وې. د حافظ رحمت خان بړېڅي د مستقل کتاب د

چاپ حال مي لا تر دغه وخته نه درلود، ځکه مي نو د همدغه بحث تقريباً توله برخه له اصل
ځخه را اخيستې او ټايپ کړې وه. په دې حساب ددغه ټولو يادو سوو برخو او پر ځنګ ئې
تلخيص سوو برخو په ترتيبولو کي زما ونډه شامله ده چي د احمدشاهي شهنامې په تعليقا
زما په انتخاب را اخيستل سوي دي. زما د کار او د علامه رشاد اکاډيمۍ د کارپوله په
ځرګنده سوې نه ده خو زه د اکاډيمۍ پر کار باندي ډاډه يم. د دغه شان درانه اثر د تهيه
ستونزي تر بل هرچا ښې را ته معلومي دي او پوهېږم چي د اکاډيمۍ ځوان کارکوونکي په
(ځومره) مينه او منبود سره د علامه بابا د آثارو په تهيه کولو کي خولې تويوي. زه ئې د کار
او ستاينه کوم او د نورو دغه شان مثمرو کارو له پاره ورته د توفيق او حوصلې غوښتنه د
خدای ﷻ له درباره کوم. پر ځنګ ئې علامه رشاد اکاډيمۍ ته د دغه راز درنو آثارو د تهيه
چاپولو او خپرولو له اسېته ډېري ډېري مبارکۍ وايم.

محمد معصوم هوتک
آشاوا - انتاريو - کاناډا
۱۷مه د فبروري ۲۰۱۵ع

د سریزي پر ځای

ځنګه چي د هېواد نامتو، درانه او پیاوړي لیکوال ښاغلي محمد معصوم هوتک ته د دې درانه او مغتنم تحقیقي-تاریخي اثر "د احمد شاهي عصر نومیالي" د مولف اروانښاد علامه اکاډمیسن پوهاند عبد الشکور رشاد رحمه الله د شاګردۍ ویاړ او افتخار حاصل دئ او یو له هغو دېرو مخلصو خادمانو او خدمتګارانو او د دوی د خاص ادبي او تحقیقاتي لیکنیز سبک او طریقې له پالونکو څخه ئې حسابېږي، په وارو-وارو د علامه رشاد رحمه الله د ناچاپه آثارو و چاپ ته د تیارولو په پراخه، سخته او ستونزمنه پروسه کي د خپلي بشپړي او دوامداره مرستي او همکارۍ اظهار کړی دئ او د علامه رشاد اکاډیمۍ له مسئولینو څخه ئې دا غوښتني دي، چې د علامه رشاد بابا رحمه الله د ناچاپه آثارو ځیني خطي (قلمي) نسخې یا د هغو کاپۍ دوی ته په واک کي ورکړي، تر څو دوی کار پر وکړي او چاپ ته ئې تیار او برابر کړي.

د علامه رشاد اکاډیمۍ د ښاغلي هوتک صاحب له غوښتني سره سم، د علامه رشاد رحمه الله د ځینو ناچاپه آثارو د خطي نسخو کاپۍ دوی ته ور استولي دي او دوی هم په خورا اخلاص او ورین تندي سره منلي او کار ئې پر کړی دئ او د دوی له خوا و چاپ ته د تیار سوو کتابو له جملې څخه ئې ځیني کتابونه، لکه؛ "جغرافیایي یاداښتونه" (دواړه ټوکونه)، "د کندهار یاداښتونه" (دواړه ټوکونه) او "احمدشاهي شهنامه" (د تعلیقاتو د برخي له تلخیص سره) زموږ له خوا په کندهار کي چاپ سوي هم دي. موږ و افغاني ټولني ته، په تېره بیا د پښتو ژبي ادب او تاریخ په ډګر کي، د دوی د دغه ستر او ارزښتمن کار، خدمت او ښه نیت د ستاینې او منني له پاره وړ او مناسب ټکي او الفاظ نه لرو، خو د ستر څښتن تعالی له لویه درباره څخه د روغتیا او خوښۍ سره ملګرې اوږ ژوند او د دارینو کامیابي او سلامتیا ورته غواړو.

ښاغلي هوتک صاحب د علامه رشاد رحمه الله د نورو ناچاپه آثارو په څېر، د دې درانه او س علمي اثر د لومړي ټوک د خطي نسخې پر کاپي باندي تقریباً اووه اته کاله وراندي، په کاناډا ک خپل کار پیل کړ او په خورا امانتدارۍ او دقت سره ئې د کتاب د اول ټوک ښه ډېره برخه تر ډېر ستړیا وروسته چاپ ته تیاره کړه او د چاپ له پاره ئې کندهار ته و علامه رشاد اکاډیمۍ راواستوله، چې زموږ له خوا تر ټایپ، کتني، ترتیب او ډیزاین وروسته، د تلخیص په دول د "حا ګل محمد خان مرغزي" له پښتو احمدشاهي شهنامې سره یو ځای، په کندهار کي په (۱۳۸۷ ش.) کال چاپ کړه سو. که څه هم د دغه اوسني کتاب زیاتره برخې د هوتک صاحب له خوا د

پخواني ترتيب سوي کتاب په شکل خوندي ساتل سوي دي، خو دا چي هغه وخت د احمدشاهي شهنامې سره يو ځای چاپيدئ، نو د تلخيص په توګه يو ځای ورسره چاپ کړه سو. د دغه اثر اوسنۍ بڼه کښې متن د اصلي خطي (قلمي) نسخې څخه په بشپړه توګه سره تياره سوې ده او د دوهم ټوک متن هم د لومړي ټوک له متن سره يو ځای کړل سوی دئ او دا اوسنۍ کچه ئې تر پخواني تلخيص تقريباً شپږ اووه ځله مفصله او لويه ده، چي په دې توګه ئې نو د نومورړي دورې او عصر د اکثرو نومياليو د يوې درنې او ارزښتمني تاريخي تذکرې حيثيت موندلی دئ.

دا درونددعلمي اثر اروابښاد علامه رشاد رحمة الله عليه په دوو ټوکو کي تصنيف کړی دئ، چي په لومړي ټوک کي (۵۴) نوميالي او په دوهم ټوک کي (۹۱) نوميالي، چي د ټولو نومياليو شمېره (۱۴۵) تنو ته رسيږي، معرفي سوي دي او د نومورړي عصر د نومياليو په باب يو له ډېرو کره، دقيقو او سوچه تاريخي تذکرو او آثارو څخه بلل کېږي. د دې درانه او مغتنم اثر کره والی او سوچه والی په دې کي هم دئ، چي د مولف له خوا څخه د دې تذکرې متن او محتوا په ډېره منصفانه او عادلانه توګه او د تاريخ ليکني د سپېڅلتيا اصل ته په نظر کي نيولو سره ليکل سوې ده، اروابښاد علامه رشاد رحمة الله عليه که له يوې خوا د اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي په اړه بحث کوي، نو په عوض کي ئې د وزير الممالک قمر الدين خان توراني د ژوندانه حالات هم څېړي، که په يوه ځای کي د احمدشاهي سپهسالار غازي سردار جان خان پوپلزي کارنامې بيانوي، نو په مقابل کي د غليم د لوی مرهټه سپهسالار سدا شيو راو بهاو جنګي مهارت، مړانه او دلاوري هم له پامه نه غورځوي او په ډېر احتياط تاريخي حقيقتونه کټ مټ را نقلوي.

په دې کتاب کي د راغلو نومياليو په باب د څېړنيزو او تحقيقاتي کار د حجم په حساب د علامه رشاد رحمة الله عليه له خوا د معرفي سوي نومياليو ګروپ بندي پر درو کټګوريو په لاندي ډول سره وېشلای سو:

لومړۍ کټګوري:

په لومړۍ کټګوري کي هغه نوميالي شامليږي، چي د هغوی د ژوندانه په باب د مولف له خوا مفصل او کافي معلومات را ټول کړل سوي دي لکه؛ لوی احمد شاه بابا، حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅ، اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزی، سردار جان خان پوپلزی، نواب احمد خان بنګښ، ميا عمر د څمکنو او نجيب الدوله نجيب خان يوسفزی.

دوهمه کټګوري:

په دوهمه کټګوري کي هغه نوميالي رانښېوزي، چي په اړه ئې ليکوال تر خپله وسه د ورسره موجودو آثارو او ماخذو څخه معلومات را ټول کړي دي، خو د نومړو نومياليو په باب کافي تفصيلات په لاس نه دي ورغلي، تر څو د هغو د ژوندانه ټول حالات روښانه کړي. دا برخه د کتاب لويه برخه تشکيلوي او ډېری نوميالي چي معرفي سوي دي هغه د دغه ګروپ په حدودو کي دي.

درېيمه کټګوري:

په درېيمه کټګوري کي هغه نوميالي معرفي سوي دي، چي په اړه ئې ليکوال په ځيني تاريخي اسنادو کي يو څرک موندلی وي، خو د نورو تفصيلاتو او د ژوندانه د حالاتو په باب ئې نور څه نه وي لاس ته ورغلي، لکه؛ بوستان خان پوپلزی، ملا الياس اخوند، سيد محمود خان، ملا محمد شريف اخوند، ملا محمد رسول اخوند، اسماعيل خان پنی، بارکزی عبد الرحمن خان توپچي باشي، محمد عثمان خان توپچي باشي، ملا دوست محمد ترين، ملا نصر الله امين محکمه، ملا مداح اخوند، ملا خدابخش ساګزی ملا باشي، سردار پاينده خان کمالزی، قاضي عبد الرسول پوپلزی او ځيني داسي نور.

د موضوعاتو په ترتيب به په اغلب ګمان د لومړي او دوهم ټوکو د نوميالیو توپير او جلاوالی دا وي، چي په لومړي ټوک کي د احمدشاهي دوري هغه نوميالي راوړل سوي دي، چي د هغو ذکر د "حافظ ګل محمد خان مرغُزي" په "احمدشاهي شهنامه" کي سوی دئ او په دوهم ټوک کي بيا د احمدشاهي، تيمورشاهي، زمانشاهي، محمودشاهي او حتی د شاه شجاع سدوزي د عصر او پېر ځيني نوميالي لکه؛ وجيه الدين وجيه الدوله، غلام احمد خان پوپلزی، سيد محمود خان، ملا نصر الله امين محکمه او داسي نور هم راوړل سوي دي، چي په دې توګه نو دا ويلای سو، چي د دې ارزښتمن اثر (د احمدشاهي عصر نوميالي) دوهم ټوک د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له پاچهۍ څخه نيولې بيا د سدوزيو د عصر تر پايه پوري لا هم ځيني نوميالي را پېژني.

د خطي نسخې وچاپ ته د تيارېدلو، ترتيب او اوډني په اړه:

د دې درانه اثر (د احمدشاهي عصر نوميالي) د لومړي او دوهم ټوکو د خطي نسخې د ځينو نوميالو، لکه؛ لوی احمد شاه بابا، ميا عمر د څمکنو، حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅ، اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزی، ملا پير محمد کاکړ، غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ، امين الملک ګل محمد خان بابړ، محسن الملک نواب يعقوب علي خان بامېزی او عطا محمد خان بامېزی، په باب ځيني موضوعات او معلومات پخپله د مولف (علامه رشاد رحمة الله عليه) له خوا د مستقل کتاب يا رسالو او مقالو په بڼه تهيه او ترتيب سوي او چاپ سوي دي، خو پوره او بشپړه برخه ئې په دې اصلي خطي نسخه کي خوندي وه. موږ د دغه اوسني کتاب مواد ټول له هغه چاپ سوي موادو سره پرتله کړل او ناچاپه برخي مو ورسره ګډي کړلې او يو تکميل سوی او بشپړ متن مو ځني جوړ کړ.

ځيني هغه نوميالي، لکه؛ قاضي فيض الله دولتشاهي، سيد جميل الدين کشميري، سورج مل جاټ، جنګباز خان بنګښ، نور محمد خان خوګياڼی، راجا ايسري سنګه سوايي کچهواهه، لقمان خان سدوزی خان‌خانان، ملا دوست محمد ترين، ملا خدابخش ساګزی ملاباشي او خواجه عبيد خان، چي په دواړو ټوکو کي ئې په اړه بحث راغلی وو او يا هم په يوه ټوک کي ئې دوه ځايه

تفصیلات درلودل، هغه ټول مبحثونه او معلومات زموږ له خوا تر پرتلې او مقایسې وروسته چاڼ او مکرر اضافات ځني ایسته کړل سول.

د خطي نسخې د لومړي او دوهم ټوک په فهرستو کي مولف د څو تنو نومیالیو لکه: آزاد خان سلیمانخېل، عبد الکریم خان بابړ، ملا محمد غوث خانعلوم، محمد شاه کورګاني، احمدشاه کورګاني، عالمګیر ثاني مغل او درېیم شاه جهان مغل نومونه راوړي دي، خو د کتاب په متن کي د دوی په اړه څه تفصیلات نه دي موجود، یوازي په نوموړي فهرست کي و ځینو نومونو ته ماخذونه لیکل سوي دي، چي ښایي د لیکوال به دا ورته په نیت کي وو، چي له نوموړو ماخذو څخه ئې متن وربشپړ کړي. موږ د مولف دغه کار تر خپله وسه ورپوره کړ او د آزاد خان سلیمانخېل متن مو د علامه رشاد رحمه الله علیه د بل ناچاپه اثر "پښتانه مشاهیر" له دوهم ټوک څخه ورپوره کړ، د عبد الکریم خان بابړ له پاره مو د علامه رشاد رحمه الله علیه د چاپي اثر "امین الملک ګل محمد خان غوریاخېل بابړ" له کتاب څخه تفصیلات رانقل کړل او د ملا محمد غوث خان خانعلوم بحث مو له "د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو شرحه" نومي کتاب څخه وربشپړ کړ او د نوموړو مغلي پاچهانو په اړه مو له انټرنېټي انسائیکلوپیډیا "ویکیپیډیا" څخه په لنډه توګه معلومات ورته راټول کړل.

د ملا ګلاب اخوند کندهاري په باب د خطي نسخو د دواړو ټوکو په فهرست کې، د مولف له خوا څه ذکر نه دئ سوی، خو د لومړي ټوک د (۵۴) او (۵۵) مخو په منځ کي، چي کومي پاڼې د اضافي یادښتو له پاره ورسره نښتي دي، په هغو کي د دغه نومیالي عالم نوم راوړل سوی دئ او ماخذ ئې د کندهار مجلې د (۱۳۸۳هـ. ش.) کال د غبرګولي او چُنګاښ ګڼه ښوول سوې ده. موږ د نوموړي نومیالي په باب له ذکر سوي ماخذ څخه لنډ او چاڼ سوي معلومات ورته رانقل کړل او د دې کتاب د نومیالیو په پای کي مو ځای ورته ورکړ، د غوره ورته وباله.

د علامه رشاد رحمه الله علیه د اصلي خطي نسخې په فهرست کي، چي د نومیالیو کوم نومونه راوړل سوي دي، په هغو کي ځیني داسي عنوانونه هم ول، چي تر نامه لاندي به ډېره لږه لیکنه ورته راوړل سوې وه او د نوري لیکني له پاره به ځای سپین ورته پرېښوول سوی وو، لکه: نواب سعد الله خان روهیله، نواب عنایت خان بړېڅ، سردار مدد خان ساګزی .... او یا به د کوم نومیالي نوم راغلی وو، خو ځای به سپین ورته پرېښوول سوی وو. موږ تر خپله وسه کوښښ کړی دئ، چي نوموړي معلومات د راسره موجودو منابعو او ماخذو په مرسته بشپړ کړو، یوازي د خطي نسخې د دوهم ټوک له نومیالیو څخه دوه تنه لکه: "شیخ کبیر روهیله" او شهید خوشال خان" په دې تذکره کي نه دي راوړل سوي، ځکه چي د خطي نسخې په فهرست او متن دواړو کي ئې نومونه لیکل سوي دي، خو د متن له پاره ځای سپین ورته پرېښوول سوی دئ. موږ ډېره هڅه وکړه تر څو د دوی په باب هم څه نا څه معلومات راوړو، خو متأسفانه په دې برخه کي مو هیڅ معلومات تر لاسه نه کړل، ځکه چي د دوی په اړه د هیڅ ماخذ ذکر هم نه وو سوی، خو په عوض کي مو د شیخ کبیر د زوی په باب ځیني

ومات د خطي نسخې له متن څخه ورته را نقل کړل.
که څه هم لیکوال په خطي نسخه کې "د پاني پت د جنګ سببونه" عنوان راوړی دئ، خو کافي
صیلات ئې نه لرل. موږ پخپله د نوموړي لیکوال د خطي نسخې د متن له مختلفو ځایو څخه ټول
ه اسباب او علتونه ورته را نقل کړل، چې په دغه عنوان پوري ئې هم مستقیم ارتباط لاره.
یکوال د سبک ځانګړتیاوي ساتل سوي دي:
کله کله مولف (علامه رشاد رحمة الله عليه) ځیني تاریخي ځایو ته پخپله تللی وي او خپل د سترګو
ولي حالات او حقایق بیانوي او یا هم پر یوه لیکلې موضوع باندي د خپل نظر او رأیي اظهار
ري، نو د ځان له پاره د متکلم مفرد ضمیر "زه" کلمه کاروي، نو موږ د کتاب په ټول متن کې، د
ه وضاحت او بېلوالي په غرض د "زه" کلمې ته په قوس (لېندیو) کې د لیکوال خپل تخلص
رشاد) وراضافه کړی دئ.
کوم ځایونه چې سپین پاته ول، له ماخذونو څخه مو تر خپله وسه پوري د راسره موجودو
کاناتو په درلودلو سره بشپړ کړي دي او ځیني هغه ماخذونه، چې په نورو ژبو ول، مطالب ئې
ور پښتو ژبې ته را ژباړلي او په خپلو ځایو کې مو ورته لیکلي دي، خو له ورایه څخه ئې څوک د
یکوال د متن له پخوالي او ځانګړي سبک څخه توپیر کولای سي او بل دا چې موږ هم هر ځای
و مورو زیاتونو ته په لېندیو کې یادونه ورته کړې ده.
کله کله په یوه عنوان پوري تړلې موضوع او متن په نورو ځایو کې هم مکرراً راغلی وي، خو
ا په دې معنا نه ده، چې رښتیا هم موضوع تکرار ده او یا هم بېځایه راغلې ده، ځکه په دې کتاب
کې داسي تاریخي پېښې او واقعات هم راغلي دي، چې د نومړو واقعاتو د لویوالي او پراخوالي
په سبب څو نومیالیو په ګډه برخه پکښې اخیستې وي او د ټولو برخه والو مشترکه کارنامه وي او
د بل نومیالي په بحث کې ئې هم بیانول لازمي او ضروري وي.
د لیکوال د لیکنې د هغه خپل وخت معمول طرز او لیکدود مو ساتلی دئ او دغه کتاب مو
ټول په هغه ترتیب او سبک ټایپ کړی دئ، مثلاً؛ مولف د غایب مفرد مذکر ضمیر کلمه، چې اوس
په دوو واوو "وو" لیکل کېږي، په یوه واو "و" لیکلې ده، موږ هم هغه د دوی ترتیب مراعات کړی
دئ، یا ئې د غایب مذکر جمع د ضمیر کلمه، چې اوس "ول" لیکل کېږي د "وو" په شکل لیکلې ده
او موږ هم کټ مټ د دوی سبک ساتلی دئ.
د اعلامو او ماخذو د فهرستو په اړه:
لکه څنګه چې د تاریخي او تحقیقاتي آثارو د اوسني عصري میتود دا غوښتنه ده، چې هر
کتاب ته د سړیو، ځایو، ماخذو او داسي نورو مهمو ټکو له پاره د صفحو د مخو د ګڼې او د الفبا د
تورو د ترتیب په مراعاتولو سره فهرستونه جوړ سي او د کتاب په پای کې ور ولوېږي، نو د
محققینو او ریسرچ کوونکو د لا آسانتیا له پاره موږ د علامه رشاد رحمة الله عليه د نورو تاریخي او
تحقیقي آثارو په څېر، و دې کتاب ته هم د چاپ ته د تیارولو پر مهال د اعلامو (سړیو، ځایو، قومو

او قبیلو د نومونو) فهرستونه ورجوړ کړل او د کتاب په پای کې مو ورسره یو ځای کړل.

د دې کتاب د خطي نسخې په پای کې مولف د هغه آثارو او ماخذو فهرست راوړی دئ، چې پښتو ټولنې ته د کتاب د ور تسلمېدلو تر وخته (۱۳۴۱ه. ش. کال) پورې ئې استفاده ځني کړې وه، په ټولیز ډول د دغه ماخذو شمېره (۸۸) ته رسېدله، خو دا چې اروا ښاد علامه رشاد رحمة الله عليه د ژوندانه تر وروستیو کلو پورې نورې ځېړنې هم پر کړې وې او نورې زیاتونې ئې ورته را نقل کړې وې، نو د دغه نوو ماخذو ذکر ئې بیا په هغه پخواني فهرست کې نه وو کړی. موږ چې کله د دې کتاب د متن له سمونې، ترتیب او ډیزاین کار پای ته ورساوه، نو مو د اعلامو پر فهرستو باندې کار پیل کړ او د دې فهرستو له پاره د معلوماتو د را ټولولو تر څنګ مو د هغه نوې ماخذو او آثارو لست هم جوړ کړ، چې مولف د ژوند تر وروستیو وختو پورې استفاده ځني کړې وه او د ماخذو د دغه نوي فهرست مو، چې د ټولو ماخذو شمېر ئې (۴۰۵) آثارو ته ورسېد، د خطي نسخې د پخواني لست پر ځای د دې کتاب په پای کې ځای کړ، خو دا چې مولف خپل د ماخذو لست د ژبو په ترتیب سره برابر کړی وو، موږ دا کار د کتاب د ژر چاپېدلو او تلوار په سبب پرېښود او د هغه پر ځای مو د الفبا د تورو پر ترتیب برابر کړ.

د تصویرو او نقشو په باب:

علامه رشاد رحمة الله عليه د خطي نسخې د لومړي ټوک په پای کې د فهرستو په برخه کې د تصویرو او نقشو یو اوږد فهرست هم راوړی دئ او غالباً به ئې مراد دا وو، چې نوموړي تصویرونه او نقشې د دې کتاب سره یو ځای چاپ کړل سي. موږ ډېر کوښښ وکړ چې د دغه فهرست ټول تصویرونه پیدا کړو، خو متأسفانه په دې ونه توانېدلو چې ټوله تصویرونه پیدا کړو، لیکن په عوض کې مو د دې نیمګړتیا د پوره کولو په هیله، د دې کتاب د ځینو نورو نومیالیو تصویرونه پیدا کړل، چې انشاءالله د دې کتاب په پای کې به ئې ورسره چاپ کړو. دلته د هغه تصویرو او نقشو لست راوړو، چې مولف په خطي نسخه کې په خپل ترتیب سره برابر کړی وو:

۱. ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه
۲. د لوی احمد شاه بابا په بګړۍ کې د وړو ټومبلو رسم
۳. حاجي جمال خان بارکزی د سرهند په جنګ کې
۴. د لوی احمد شاه بابا حضور ته د شاهرخ میرزا التجا او د هغه عفوه
۵. د لوی احمد شاه بابا حضور ته د میر معین الملک التجا او د هغه عفوه
۶. له ډېټا سیندهیا (پټېل) سره د پښتنو جنګ او د هغه وژل کېدل
۷. د تاتیه دکني سره د سردار جان خان، قلندر خان او شاه پسند خان جنګ
۸. په سکندره کې د ملهار راو هولکر تېښته
۹. په ګنجپوره کې د عبد الصمد خان اشنغري شهادت
۱۰. د لوی احمد شاه بابا امر او د جمنا تر سیند د پښتنو پورې وتل
۱۱. د عطائي خان بامېزي جنګ او د ګوبند وژله
۱۲. د پاني پت د خونړي جنګ یوه منظره

۱۳. د احمد شاهي کندهار کلا
۱۴. د لوی احمد شاه بابا د مزار گُمبته
۱۵. د لوی احمد شاه بابا قبر
۱٦. اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزی
۱۷. سردار جان خان پوپلزی سپهسالار
۱۸. حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅی
۱۹. نجیب الدوله یوسفزی
۲۰. د شهنامې د اصلي نسخې د لومړي مخ زنگوگراف
۲۱. د شهنامې د اصلي نسخې د وروستي مخ زنگوگراف
۲۲. د حاشیې او تعلیق لیکونکی
۲۳. د لوی افغانستان نقشه
۲۴. د پاني پت، ډهلي او پنجاب نقشه
۲۵. د روهیلکهنډ نقشه


د دې کتاب د نامه د تغیر په باب:

کله چې علامه رشاد رحمة الله علیه په (۱۳۴۰ هـ. ش.) کال د پښتو احمدشاهي شهنامې د خطي نسخې پر متن باندې کار کاوه او چاپ ته ئې تیاروله، نو د دې ستر تحقیقي کار تر څنګ ئې د احمدشاهي دورې او عصر د ځینو نومیالیو د ژوندانه حالات او د هغو کارنامې هم تر څېړنې لاندې نیولي وې او په دې برخه کې ئې ښه کافي اندازه معلومات را ټول کړي ول او تحقیق او څېړنه ئې پر کړې وه او تر سموني او کتني وروسته ئې، د یو چاپ ته تیار کتاب په بڼه، په (۱۳۴۱هـ. ش.) کال، د چاپولو او خپرولو په موخه، پښتو ټولنې ته وسپاره. پښتو ټولنې هم نوموړی اثر سمدستي د غور او کتنې له پاره د مسلکي جرګې له خوا د ټاکلي کمیسیون غړو ته تسلیم کړ، خو متأسفانه له هغې خوا څخه، څنګه چې د لیکوال او نوي عصري څېړنیز او تحقیقاتي میتود غوښتنه وه، د هغه پر خلاف په پټو سترګو سره فیصله صادره سوله. څېړونکی او محقق لیکوال د دې پر ځای، چې وستایل سي او د هغه دغه درانه او ژور څېړنیز خدمت ته په درنه سترګه وکتل سي او قدر ئې وسي، برعکس د دوی دا زیار او زحمت بالکل زائد او بې لزومه وبلل سو.

دا چې د اروابناد علامه رشاد رحمة الله علیه د څو کالو پرله پسې څېړني، تحقیق او ستړیاوو نتیجه، چې تر سموني، ترتیب او تصحیح وروسته د پښتو احمدشاهي شهنامې د ادبي–تاریخي اثر څېړنه وه او هغه هم په بشپړه توګه و چاپ ته تیاره د یو کتاب په شکل و پښتو ټولني ته، د لیکوال له خوا تر ورتسلیمولو وروسته، له هغه ځایه څخه غیبېږي او ورکېږي، دا نو هغه قضیه ده چې تر اوسه پورې لا هم د یوه معما او سوال په توګه په ذهنونو کې پاته ده.

اروابناد علامه رشاد رحمة الله علیه د دغه غیر عادلانه او ړندې فیصلې او بېځایه نیوکو ځواب پخپله ویلی دئ او له ښه مرغه پخپله د لیکوال په قلم د دغه ځواب اصل، و پښتو ټولنې ته د لیکوال له خوا د پښتو احمدشاهي شهنامې د تعلیقاتو او اعلامو د برخو د ورسپارل سوي قلمي (خطي)

نسخې د تسلیمی مکتوب، د پښتو ټولني د رئیس اروابښاد پوهاند صدیق الله خان رښتین
مکتوب یوه کاپي او پر دې اثر باندې د پښتو ټولني د مسلکي جرګې له خوا د ټاکلي کمیسیون
غور او کره کتني د لیکلي نظر یوه کاپي د دغه اثر د خطي نسخې د لومړي ټوک په پای کي،
لیکوال له خوا نښلول سوي دي او له دې څخه څرګندېږي، چي دوی هم دا هیله او خواهش درلود
چي په یو مناسب وخت کي دا حقیقت ټولو ته روښانه سي. موږ په دې ځای کي د نوموړو اسناد
یوه یوه سکن سوې کاپي د ښه وضاحت او د موضوع د روښانتیا په موخه راوړو.



دپښتو ټولنی ریاست
د (اداري لوی) مدیریت
د (لیک) خانګه
۵۳۷

نیټه ۱۱ /۳/ ۴۴
ورسره : یوه پاڼه

ښاغلی محترم عبد الشکور رشاد داد بیا تو د پوهنځی استاد !

ستاسی د احمد شاهی تعلیقات د پښتوټولنی مسلکی جرګی ته ورانډي شول . د مسلکی جرګی د خوا یو کمیسون و ټاکل شو د غه کمیسون احمد شاهی شهنامه له تعلیقاتو او حاشیو سره وکتله او خپله نظریه ئې د پښتوټولنی ریاست ته ورانډي کړي ده .
دادي د کمیسون د نظریی یونقل تاسی ته د رولیږل شو چه په دې باره کښی لازم غور او نوي نظر وکړي . که چیرې په دې باره کښی څه معلومات او توضیح غواړئ ،نو ښایی چه د مفاهمی د پاره یوځل پښتوټولنی تــه تشریف راوړئ چه په د غه موضوع کښی یو اساسی فکر وکړی شی .

په درناوي

پوهاند صدیق الله ((رښتین))
د پښتو ټولنی رئیس .

د احمد شاهي شهنامې د تعليقاتو او حاشيو په برخه کې بحثونه کره کتنه او نظريه

احمد شاهي شهنامه موږ ته له تعليقاتو او حاشيو وکتله چه په تحقيقي لحاظ ډېر ارزښت لري او هم رشاد صاحب د دې د تحقيق په برخه کې ډېر زحمت ګاللی دي او ډېر ماخذونه پيدا کړي دي او هم يې د پښتنو د ځينو مشا هيرو په باره کې تر کومه حده پورې چه کيداې شي پوره تحقيق کړي دي . د تعليقاتو د تحقيق له پلوه او هم د پښتنو د تاريخ له پلوه دا اثر ډېر اهميت لري . مګر ځينې زيادې او نا قصې خواوې هم لري . که چيرې د مخه تر چاپېدو ئې دا زيادې برخې لرې شي او پخپله د مؤلف له خوا ځينې اصلاحات په کښې وشي نو کتاب به د چاپېدو ارزښت پيدا کړي . — غير ضروري او ناقصې خواوې يې دا دي :—

١ـ د تعليقاتو په سرکښې د احمد شاه بابا په باره کې پوره معلومات ورکړ شوي دي يعنې د احمد شاه بابا کورنۍ ـ مؤلفات ـ پارسو ديوان ـ علم ګنج د کلام نمونې پښتو او فارسي او نور هغه څه چه په احمد شاه بابا پورې اړه لري په کافي اندازه تشريح شوي دي . همدارنګه له احمد شاه بابا نه وروسته سردار جانخان پوپلزي سپهسالار ـ شاپسند خان ساګري ـ اشرف الوزرا شاولي خان بامیزي شهزاده تيمور سدوزي او نور په کافي اندازه د تعليقاتو په اوله کې سره له ټولو جزئياتو تشريح شوي دي . په تعليقاتو کې د نوموړو سردارانو په برخه کې دومره تشريحاتو ته ضرورت نه ليدل کيږي او دلته دومره تشريحات ورکړ شوي دي چه د تعليقاتو دا برخه بيخي يو بيل مستقل تاريخي اثر کيداې شي . حال دا چه دلته دې ټولو تشريحاتو بايد د تعليق حيثيت درلوداې ـ مګر دلته د تعليقاتو څخه د پښتنو د ځينو سردارانو تاريخ جوړ شوي دی . همدارنګه په همدې برخه کښې يو لړ بې ضرورته کار هم شوي دی او هغه دا چه احمد شاه بابا او نور سرداران چه د ځينو نوموته هم مخکښې راغله . ټول په مفصل او مشرح توګه د تعليقاتو په سرکې تشريح شوي دي . بيا هم په عين تشريح او تفصيل دوهم وار د تعليقاتو په اخر کې بيا راغلي دي . چه په دې ... ضرورت ئې سړی هيڅ نه شي پوهيداې .

٢ـ د ٤٤٥ څخه تر ٤٦٤ پورې په متن کې د ذکر شويو سړيو او قبيلو نوموته فهرست جوړ شوي دي . دا فهرست زايد او بې ځايه دي ځکه هغه نوموته او قبيلې چه په متن کې ئې ذکر راغلي دي . او به حاشيه کې توضيحات هم ورکړ شوي دي . نو فهرست ته ضرورت لري .. او که چيری د تشريحاتو ته ئې ضرورت واې نو بايد د تعليقاتو په برخه کې تشريح شوي واې . همدارنګه په تعليقاتو کې د ذکر شويو سړيو او قبيلو د نوموتو فهرست ته هيڅ ضرورت نشته . ځکه چه په تعليقاتو کې ئې ذکر راغلي او هم د ځايو د نوموتو فهرست بې لزومه ښکاري ځکه چه د متن په حاشيو کې ئې ذکر راغلي دي . لنډه دا چه د تعليقاتو دريمه برخه ټول بې لزومه فهرستونه دي . هغه څه چه په تعليقاتو کې تشريح شوي دي بې د هغو له فهرستونو څخه ټول فهرستونه زايد او بې ضرورته دي .

٣ـ د متن فهرست بايد د شهنامې په پای کښې او د تعليقاتو فهرست بايد د تعليقاتو په پای کې راغلي واې حال دا چه د متن او تعليقاتو فهرستونه د دريمې برخې په منځ کې راغلي دي .

٤ـ د عکسونو او نقشو مستقلو پاڼو او فهرستونو ته هيڅ ضرورت نه ليدل کيږي . ځکه هر عکس او نقشه طبعاً په کوم ځاې پورې چه اړه لري هلته را وړل کيږي .

٥ـ ماخذ بايد د تعليقاتو تر فهرست وروسته را وړل شي .

٦ـ د شهنامې متن حاشيه لري او حاشيه بيا تعليق او تعليق بيا حاشيه لري . زموږ په نظر بهتره ده چه حاشيې او بيا تعليق پر موضوع پوره رڼا اچولای شي .

۱۸ جوزا ۱۳۴٤

ښاغلي صديق الله رښتين د پښتو ټولنې مشره!

ستاسي د ع ۵۳۷ - ۱۱/۳/۴۴ لیک په ځواب کښې

۱- ټاکلې هیأت چې خپلې نظریې په مقدمه کې د احمدشاهي شهنامې د تعلیق په باب کښلي دي:

((احمدشاهي شهنامه مو سره له تعلیقاتو ولیدله. په تحقیقي لحاظ د ډېر ارزښت لري او هم شاد صاحب د دې تحقیق په برخه کې ډېر زحمت ګاللی دی او ډېر ښه یې تحقیق کړی دی. د تعلیقاتو د تحقیق له پلوه او هم د پښتو د تاریخ له اړخه ډېر اهمیت لري...))

زه د دوی له دغې خوږې خبرې څخه تشکر کوم.

۲- د نظریې په لومړۍ ماده کې لیکلي دي:

((د تعلیقاتو په سرکښې د احمدشاه بابا په باره کې پوره معلومات ورکړل شوي دي . . . .
همدارنګه د احمدشاه بابا د وروسته سردار جهانخان پوپلزی سپه‌سالار - شاه پسندخان ساګری، اشرف الوزراء شاه ولیخان امیر [illegible] اده تیمورشاه سدوزی او نورو په کافي اندازه د تعلیقاتو په اوله کې سره له ټولو جزئیاتو تشریح شوي د تعلیقاتو په برخه کې د دو معیو سردارانو په باب دومره تشریحاتو ته ضرورت نه لیدل کېږي او دلته دومره تشریحات ورکړه شوي دي چې د تعلیقاتو دا برخه بېخي یو مستقل تاریخي اثر ګرځېدای شي حال دا چې دلته دې ټولو شخصیتونو ته د تعلیق حیثیت درلودای شي ګرځوله د تعلیقاتو څخه د پښتو د مشهورو سردارانو تاریخ جوړ شوی دی . . . .))

اوس په علمي مجامعو کښې پر دوه تحقیق طلبه او مخوانی متن باندې د تعلیقاتو لیکنه ټول عام رواج لري او د تعلیقاتو حجم او لښیر توب په عیبونو کې نه شمېرل کېږي د مثال له پاره، تاسي د حدود العالم تعلیقات وګورئ چې د لندن پوهنتون عالم مینارسکي پر لیکلي دي. د حدود العالم اصل متن ۷۸ اته اویا - او د هغه مقدمه او تعلیقات څلور سوه څلوېښت مخه دي. د دغه کتاب پارسي ترجمه چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی تعلیقات یې تر ۴۴۰ څخه هم واړه غټ دي.

۳- د نظریې په دوهمه ماده کښې لیکلي دي:

((له ۴۴ څخه تر ۶۶۲ مخ پورې په متن کې د ذکر شویو سیمو او قبیلو لوموړ فهرست جوړ شوی دی د افرست زاید او بې ځایه دی . . . .))

زه نه پوهېږم د هیأت محترمو غړو لا تر اوسه هم نه دي کتلي چې [illegible]؟ — اوس علمي دود دادی چې د ټولو تاریخي او تحقیقي کتابونو په پای کې د فهرستونو یوه برخه وي لکه اسماء الرجال، اسماء الاماکن، اسماء القبایل، د منقولو اقتباسونو فهرست او مأخذ [illegible] تاسي الیسانک [illegible] چاپ کړي تاریخ [illegible] شاهي لیدلي [illegible] چې ټول یې پاخه فهرستونه دي - حدود العالم چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي له خوا چاپ شوی دی متن یې ۷۸ مخه دی. فهرستونه او اعلام یې [illegible] اویا مخه دي چې د متن تر دوه چنده اوږده دي [illegible] چاپ کړي [illegible] وګورئ چې [illegible] هم [illegible] په پای کې [illegible] مخه [illegible] فهرستونه اعلام درج دي [illegible] . . . .

زه په پای کې [illegible] هیأت د نورو [illegible] غور وکړي. په درناوی

[illegible]

د دغه حقیقتو د رابرسېره کولو څخه زموږ یو مرام دا دئ، چې دا خبره واضح او روښانه کړو، چې ولې د دې اثر نوم له "د پښتو احمدشاهي شهنامې تعلیقات" څخه و "د احمد شاهي عصر نومیالي" ته اووښتی دئ، ځکه موږ د علامه رشاد رحمه الله د ټولو آثارو په باب معلومات په ځینو ځایو کې وړاندې کړي دي، په هغو کې هم دغه دوه اثره جلا جلا کتابونه بلل سوي دي، خو کله چې مو پر دې اثر باندې کار پیل کړ او چاپ ته د تیارولو په غرض د ټایپ، تصحیح، غور او پروف تر مراحلو تېر سو، نو دا موضوع واضح او روښانه سوه، چې دا دوه جلا جلا کتابونه نه دي، بلکې دواړه یو اثر دئ. زموږ د دې ادعا د ثبوت له پاره درې مهم دلیلونه سته، چې په لاندې توګه ئې ذکر کوو:

لومړی دلیل:

د پورتنیو پېښو نامنصفانه فیصلې او د سوال و ځواب د رد و بدل د اوږدوالي له اسیته به خدای ﷻ بخښلی لیکوال ډېر مایوسه سوی وي او خواشینه سوی وي او دا مایوسي به دې ته اړ ایستلی وي تر څو تصمیم ونیسي، چې خپل دې اثر ته "د پښتو احمدشاهي شهنامې تعلیقات" پر ځای د "د احمدشاهي عصر نومیالي" نوم ورته انتخاب کړي او د یوه مستقل کتاب شکل ورته غوره کړي.

دوهم دلیل:

د لومړي ټوک (د پښتو احمدشاهي شهنامې تعلیقات) او دوهم ټوک (د احمدشاهي عصر نومیالي) ځیني نومیالي په دواړو ټوکو کې معرفي سوي دي. د ځینو د ژوندانه حالات په یوه ټوک کې راغلي وي، خو ډېره برخه ئې بیا په دوهم ټوک کې بشپړه سوې وي، یا د لومړي ټوک په فهرست کې د ځینو نومیالیو نومونه راوړه سوي وي، مګر تفصیل ئې په دوهم ټوک کې راوړه سوی وي لکه: قاضي فیض الله خان دولتشاهي، خواجه عبید خان، سورج مل جاټ او داسې نور.

درېیم دلیل:

درېیم دلیل تر ټولو قوي دلیل دئ او هغه له دې اسیَته چې د کتاب مولف (علامه رشاد رحمه الله) پخپله د پښتو احمدشاهي شهنامې د تعلیقاتو د خطي نسخې په (۶۰۵) مخ کې داسې یو غټ عنوان لیکلی دئ؛

"د احمدشاهي عصر ځیني نور نومیالي چې په احمدشاهي شهنامه کې نه دي یاد سوي"

د مولف د دې عنوان له اشتراکه څخه، چې د احمدشاهي عصر د نومیالیو دوهم ټوک ته هم متوجه دئ، په واضحه توګه دا معلومېږي چې په حقیقت کې دا دوه کتابونه جلا جلا آثار نه بلکې یو کتاب دئ او پر دوو ټوکو وېشل سوی دئ. په لومړي ټوک کې د نومړي دورې او عصر هغه نومیالي راوړل سوي دي، چې حافظ ګل محمد مرغُزي ئې پخپله پښتو احمدشاهي شهنامه کې په اړه څه نا څه بحث کړی دئ او په دوهم ټوک کې د هغو نومیالیو د ژوندانه حالات او کارنامې راوړل سوي دي، چې په نوموړې شهنامه کې ئې ذکر نه دئ راغلی.

يوه خبره:

د پښتو احمدشاهي شهنامې ناظم "حافظ گل محمد خان مرغُزي"، چې د پېښ
شرقي سيمي (سوابۍ) په مرغُز نومي کلي کي په (۱۱۲۶هـ ق.) کال زېږېدلی، په خ
عرب او د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه له اولادې څخه سني مذهبه عالم او سالک دئ ا
سلوک کي ئې د څمکنو د ميا عمر صاحب سالارزي رحمه الله (۱۱۹۰هـ ق. مړ) ته ارادت
احمدشاهي عصر له لويو نوميالیو څخه شمېرل کېږي، ځکه دی په احمدشاهي لښکرک
يوه مؤرخ او وقايع نگار په حيث همېشه د لوی احمد شاه بابا رحمه الله په رکاب کي ورسره
که څه هم علامه رشاد رحمه الله د ده د ژوندانه د حالاتو په اړه، د احمدشاهي شهنامې تر
څېړني د مخه کافي معلومات راوړي دي، مگر په دې ټولگه (د احمدشاهي عصر نومي
ده نوم نه دئ راوړل سوی، دا چي مولف د ده نوم ولي د دې تذکرې په نوميالیو کي نه د
غالباً به ئې علت دا وو، چي د موضوع له مکرروالي څخه ئې مخه ونيول سي، خو په
علامه رشاد رحمه الله د نوموړي نومياڵي په باب ښه ډېر معلومات د احمدشاهي شهنامې په
راوړي دي، لوستونکي کولای سي د اړتيا په وخت کي هغه اثر ته مراجعه وکړي.

لکه څنگه چي ټولو دوستانو ته معلومه ده، چي د علامه رشاد رحمه الله پر ناچاپه آثا
کار کول او چاپ ته تيارول څه آسانه خبره نه ده او ډېره پراخه حوصله، دقت، اخلاص، ور
وخت غواړي، نو موږ په ډېره عاجزۍ سره د ټولو لوستونکو او مينه والو څخه دا غوښتنه ک
په دې درانه او له ستونزو څخه ډک کار کي زموږ د کارو د لاسمون او ښه والي له پاره موږ
ستر کار کي د کاميابۍ، بريا او خير دعاوي وکړي او په خپل شفقت او اخلاص سره ز
نيمگړتياوي او غلطۍ چي زموږ څخه ممکن پېښي سوي وي را وښيي، تر څو په نورو چاپ
اصلاح کړو.

په پای کي له ټولو مخلصينو او دوستانو څخه د زړه له کومي دا هيله لرو، چي د انسا
په نظر کي نيولو سره، د ډېري پېرزويني او مهربانۍ له مخي خپله عفوه او بخښنه
ولوروي.

په ډېر ادب او درنښت
محمد حامد متواضع
علامه رشاد اکاډيمي–کندهار
(۴/وری/ ۱۳۹۴هـ. ش.)

(ستر تولواک، لوی فاتح، پښتون غازي، د پاني پت قهرمان)

اعلیحضرت لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه

کورنۍ:

په یوولسمه هجري پېړۍ کي کندهار د هندوستان د مغولي امپراتورۍ او د پارس د صفوي پاچهۍ د رقابت ټکی وو او د یوه ګیند په څېر به د دوی په لاسو کي سره اوښت را اوښت، کله به د یوه تر اداري لاندي سو او کله به د بل. په دغه وخت کي "ښار صفا"، چي له کندهار څخه ختیځ لور ته دري مزله لیري واقع ده، د کندهار د ابدالیو پښتنو د محلي حکومت مرکز و. په دې ځای کي د پښتنو یوه درنه عشیره اوسېدله، چي سدوزي ئې بلل. د دغې عشیرې د مشر نیکه سدو خان (۹۶۵-۱۰۳۱ هـ. ق.) محلي امارت، د پارس صفوي پاچا لومړي عباس (۹۹۵-۱۰۳۸ هـ. ق.) هم منلی و[1].

زردار خان ناغر د صولت افغاني په ۲۲۷ مخ کي لیکلي دي، چي سدو خان ډېر زړه ور او منصف سړی و. ده د بارکزو، غلجو او هزاره و بغاوتونه ارام کړل. چي دی په (۱۰۳۱ هـ. ق.) کال ومړ، خضر خان مشر زوی ئې د ابدالیو مشر (محلي امیر) سو. خضر خان پنځه کاله دا مشرتوب وکړ او په (۱۰۳۶ هـ. ق.) کال چي دی ومړ، زوی ئې "سلطان خدا داد"، چي په سلطان خودکي سره مشهور دئ، د ابدالیو مشر سو او د صفوي پاچهۍ له خوا د سلطان لقب ورکړه سو.

د هندوستان مغولي امپراتورۍ د پښتنو د جنګولو له پاره، د صفوي پاچهۍ پر ضد د غلجو مشر "ملخي توخي" ته د سلطان لقب ورکړ او د غلجو د مشر په حیث ئې ومانه[2]. دغه دوه سلطانان، چي د پردو په چل او چم ښه پوه وو او نه ئې غوښتل، چي پښتانه پخپلو منځو کي، د نورو د ګټو له پاره سره ولوېږي، نو ئې یوه غونډه وکړه او په هغه کي ئې د جلدک ګرماو او د کلات پل سنګي د ابدالیو او غلجو ټک (سرحد) تعین کړ[3].

سلطان خودکي تر ډېره پوري د خپل اقتدار غولی ارت کړ او تر دې سوبي وروسته ئې د ابدالیو محلي امارت خپل ورور، شېرخان ته ورپرېښوو او پخپله ئې د شېرخان د نائب په حیث کار کاوه[4]. د شېرخان مناسبات ډېر ژر د کندهار له صفوي حاکم سره وران سول. په ښار صفا کي جنګ

---

[1] د پښتنو تاریخ، ۱/۹۸ مخ.

[2] هوتکي ها، ۷ مخ، د تاریخ سلطاني د ۶۰ مخ په حواله.

[3] هوتکي ها، ۶ مخ.

[4] صولت افغاني، ۲۲۷ مخ.

وسو او شېرخان برې وموند. تر دې سوبې وروسته د ښارصفا او کندهار تر منځ تګ او راتګ ب

سو.

د کندهار صفوي حاکم، چې د قوت له لارې مغلوب سو، نو ئې د "Divide & Rule" پالیس

غوره کړه او د شېرخان تربور شاه حسین[5] ئې د شېرخان په مقابل کې پورته کړ. د میرزا لقب ئې

وباخښه او د ابدالیو پښتنو د مشر په حیث ئې وپېژاند. اوس نو شېرخان په ښار صفا کې د ابدال

پښتنو د خپلواک امارت نغارې ډنګولې او شاه حسین په "ده شیخ" کې د ابدالیو د تحت الحما

مشرتوب ډولونه وهل. د صفوي حاکم د دواندازۍ په اغېزه، ابدالي دوه ګونده سول. شېرخان

هواخواهانو ئې ویل، موږ کورټ د صفوي حکومت اطاعت نه منو او شاه حسین او ډلې ئې بیا

صفوي پاچهۍ هواخواهي څرګندوله.

پای ته شاه حسین د صفوي حاکم په مرسته او لمسون پر مستقل امیر شېرخان باندې د یرغ

په تیاریو لاس پورې کړ. شېرخان چې خبر سو، مجبوراً ئې د ډهلي له مغولي درباره مرس

وغوښتله. د هندوستان مغول پاچا د شېرخان په دې غوښتنه زیات خوشاله سو او د شهزادګ

خطاب ئې شېرخان ته ورولېږه. ځکه چې د ایران صفوي پاچهان شیعه ګان او د هندوستان مغول

پاچهان سنیان وو. د مغولي دربار له خوا څخه د شهزادګۍ د خطاب په اورېدلو سره ابدالیان زیاتر

د شېرخان سیلي او حمایت ته مایل سول.

په دغه وختو کې شاه حسین سدوزي د کندهار د صفوي حاکم په دربار کې "خلیل غلجی

وواژه. خلیل غلجی هغه څوک و، چې د ابدالیو د نفاق له پاره ئې د صفویانو په ګټه ډېر کوښښونه

کړي وو او دا مخالفت د ده د زیار نتیجه وه. د کندهار صفوي حاکم د خپل یوه وفادار منصبدار په

وژلو خوابدی سو او شاه حسین ئې زندان ته واچاوه، مګر د اصفهان دربار چې خبر سو، ځکه چې

د ابدالیو د نفاق او ضعف له پاره ئې په شاه حسین پورې ډېر امیدونه تړلي وو، نو ئې سمدستي د

ده د خوشي کولو امر وکړ.

شاه حسین چې له زندانه راووت او خپل کور ته ستون سو، سد ئې سر ته ورغلی و، بیا ئې د

ګوندۍ نوم پر خوله رانه ووړ بلکې وطن ئې شېرخان ته پرېښوو او هندوستان ته ولېږدېد. اوس نو

شېرخان د ابدالیو پښتنو بې رقیبه مستقل مشر سو.

د صفویانو چې شاه حسین له لاسه ووت، د شېرخان دلجویۍ ته مجبور سول، ډېر ئې ونازاوه

او د ابدالیو ټول واک ئې ده ته وسپاره. شېرخان د ۶۵ کالو په عمر، په ښکار کې له آسه ولوېد او

مړ سو. پر ځای ئې مشر زوی سرمست خان د ابدالیو مشرتوب پر غاړه واخیست. سرمست خان چې

ومړ، زوی ئې دولت خان کوچنی و، ځکه نو د قام مشرتوب د سلطان خودکي زوی حیات سلطان[6]

ته ورسېد.

---

[5] شاه حسین د مودود خان زوی، د سدو خان لمسی، د ملتان د سدوزو نوابانو نیکه دئ.

[6] حیات سلطان د دولت خان د پلار سرمست خان د اکا زوی و. دا سړی د فیروز خان په نامه هم شهرت لري.

دولت خان چي څنګه مېړاني وواهه، د کندهار پښتنو د قام خاني او مشرتوب دده ته ورکړ. توريالي دولت خان د خانۍ او مشرتوب له موندلو سره سمدستي د کندهار صفوي حاکم ته د جنګ ډولونه وډنګول[۷]. صفوي حاکم هم يو درونډ په وسله پټ لښکر د "فرخ" نومي قزلباش په مشرۍ، د ايدادله پاره وروليږه. په دې جنګ کې د قزلباشو مشر فرخ، د پښتنو له لاسه وواژه سو او لښکر ئې په تېښته د کندهار ښار ته ننوت. دې ماتې د کندهار د صفوي حاکم قهر نور هم پسې وپاراوه او له يوه مجهز او درانه لښکر سره پخپله د خپلواکۍ غوښتونکي دولت خان جنګ ته راووت، مګر ده هم د بري مخ ونه ليد او دا پلا بيا د قزلباشو لښکر په ماته کندهار ته ستون سو[۸]. پسله دې سوبې، سلطان حيات (فيروز خان) د خپل پر ننګ مين وراره توره، مېړانه او مشرتوب ومانه، د خانۍ له دعوې ئې لاس واخيست، هندوستان ته ولاړ او د ايرانيانو پر ضد ئې د ډهلي له مغول پاچا "اورنګزېب" (۱۰۶۸-۱۱۱۸ ه. ق.) څخه مرسته وغوښتله. اورنګزېب پنځه سوی منصب ورکړ او حکم ئې وکاوه، چي "حيات سلطان" دې د "دکن" د شخړې تر فيصله کېدلو پوري په ملتان کي واوسي[۹].

د حيات سلطان تر تللو وروسته، توريالی دولت خان د کندهار د پښتنو بې رقيبه او خپلواک مشر سو. په (۱۱۱۴ ه. ق.) کال چي د اصفهان له درباره سفاک "ګرګين ګرجی" د نائب الحکومه په حيث کندهار ته رااستول سو[۱۰]، دستي ئې د دولت خان توريالي ځبلو لره لېږي راوغښتلې او د ميداني جنګ پر ځای ئې د تګۍ لار غوره کړه. د ابداليو پښتنو دوه کوچني خانان "عزت خان" او "اتل خان" ئې د توريالي دولت خان پر ضد وپارول[۱۱] او د نومړو ناسياله خانانو په لاربښوونه او ملګرۍ ئې په (۱۱۱۵ ه. ق.) کال نابُبره د شپې له مخي د قزلباشو لښکر په ښارصفا کي د دولت خان پر کلا وروخېژاوه. په دې ناڅاپي بريد کي، د ابداليو پښتنو توريالی مشر، دولت خان له مشر زوی نظر محمد سره وواژه سو او د کندهار د پښتنو خپلواکي، د دوو تنو ناسياله خانانو د خودخواهۍ قرباني سوه.

د دولت خان شهيد دوه زامن پاته سول.

۱. رستم خان:

رستم خان د پلار تر وژلي وروسته د کندهار د پښتنو مشر وټاکه سو. څلور کاله ئې مشرتوب وکړ، پای ته د صفوي حکومت پر ضد باندي د بلوڅو په لمسون کي د لاس لرلو په ګناه، د مشهور سفاک ګرګين زندان ته ولوېد او هلته په (۱۱۱۹ ه. ق.) کال وواژه سو. تر وژلي

---

[۷] کندهار له (۱۰۵۸ ه. ق.) کال راهيسي د صفويانو تر سلطې لاندي و.

[۸] حيات افغاني، ۲۶ مخ.

[۹] صولت افغاني، ۵۰ مخ.

[۱۰] د پښتنو تاريخ، ۱/ ۴۴ مخ.

[۱۱] تاريخ سلطاني، ۶۷ مخ-هوتکي ها، ۱۵ مخ.

وروسته ئې کور، قزلباشو تالا ترغه کړ او کهول ئې څوک ښوراوک او څوک بکوا ته فرار کړه
سول[۱۲].

۲. زمان خان:

زمان خان، چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پلار دئ، د دولت خان کشر زوی و. د پلار تر
وژلې وروسته، لومړی د ظالم ګرګین په دربار کې د برمتې (یرغمال) په توګه ژوند تېراوه، بیا
کرمان ته فرار کړ سو. هلته ئې تر (۱۱۲۲ هـ. ق.) کال پورې پردېسي ګالله او د صفوي حکومت
تر نګرانۍ لاندې و. په (۱۱۲۲ هـ. ق.) کال چې د ګرګین وراره خسرو خان د صفوي پاچا حسین
(۱۱۰۵-۱۱۳۵ هـ. ق.) په حکم، د کندهار د ناجې "میرویس خان هوتک رحمة الله علیه" د ایداد او د
ګرګین د وژلو د غچ اخیستنې له پاره وګوماره سو، نوموړي خسرو خان چې مخ پر کندهار لښکر
راوخوځاوه، زمان خان ئې دلاسا کړ، له ځان سره ئې له کرمانه مخ پر کندهار راوخوځاوه او د
ابدالیو پښتنو د مشرتوب خلات او خطاب ئې ورکړ، چې ګوندې په دې وسیله سره به ننګیالي
زمان خان او نور ابدالي، د میرویس خان رحمة الله علیه په مقابل کې استعمال کړي[۱۳]. خسرو خان چې
مشهد ته راورسېد، د عبد الله خان سدوزي[۱۴] سره ئې ولیدل، چې د هرات د ابدالیو پښتنو مشر
وو او د کندهار په نیولو کې ئې مرسته ځنې وغوښتله. مګر زمان خان چې له عبد الله خان سره
ولیدل، پر تېرولو زړو کورنې مخالفتو ئې، له پښتنې دود سره سم، ډېره کښېښوولهاو سره د دې،
چې د ابدالیو پښتنو مشرتوب د خسرو خان له خوا ده ته ورکړه سوی و، ده د عبد الله خان
مشرتوب ومانه.

د خسرو خان په دغه لښکر کښې کې عبد الله خان او زمان خان مجبوراً تر فراه پورې ملګري
ورسره وکړه. ځکه چې دوی د خپلې یوې پښتنې پاچهۍ په مقابل کې د صفویانو مرسته پېغور
ګڼله، نو ئې (د ناصري د روضة الصفا په قول) په کومه پلمه ځانونه له خسرو خانه څخه خلاص
کړل او له لښکر سره بیرته هرات ته ستانه سول. عبد الله خان سدوزي، چې په (۱۱۲۹ هـ. ق) کال پر
هرات باندې مسلطو پارسیانو ته ماتې ورکړه، د پښتنو د پاچهۍ اعلان ئې وکړ. د هرات له پاچا
عبد الله خان سدوزي سره، زمان خان د یوه مشاور او ملاتړ په حیث کار کاوه.

د دغه وخت په پښتنو کې دا دود و، چې پاچا به د قامي جرګې له خوا ټاکل کېده. په
(۱۱۳۲هـ. ق.) کال چې د هرات د پښتنو جرګې، د سپین ږیرتوب له امله، په عبد الله خان
سدوزي کې نور د پاچهۍ چلولو واک ونه لید، نو ئې خپل مشرتوب د عبد الله خان پر ځای

---

[۱۲] احمدشاه بابا، ۱۶ مخ.

[۱۳] احمدشاه بابا، ۱۸ مخ.

[۱۴] عبد الله خان سدوزی د سلطان حیات خان زوی او د سلطان خودکي لمسی و. تاسي دمخه ولوستل، چې سلطان
حیات د دولت خان تر ځوانېدلو وروسته ملتان ته ولاړ. په دغو وختو کې ئې زوی، عبد الله خان او لمسی اسد الله خان
د هرات د ابدالیو په بلنه، هرات ته تللي وو.

زمان خان ته وړاندي کړ او زمان خان تر مرګه پوري دوه کاله او پنځه میاشتي د پښتنو ملي مشر او د هرات د سیمي خپلواک او رسمي پاچا و. ننګیالی زمان خان چي په (۱۱۳۵ هـ. ق.) کال ومړ، دوه زامن ځني پاته سول(۱۵).

۱. ذوالفقار خان:

د زمان خان تر مړیني وروسته د هرات پښتني جرګې د عبد الله خان سدوزي زوی، محمد خان خپل پاچا وټاکه، مګر یو کال وروسته (۱۱۳۶ هـ. ق.) نوموړي جرګې خپله پاچهي او مشري ذوالفقار خان ته وړاندي کړله. ده هم ومنله او تر (۱۱۳۸ هـ. ق.) کال پوري ئې د یوه انتخابي رسمي مشر په حیث کار وکړ. د جرګې په خوښه تر ده وروسته بیا د هرات پاچهي د نوموړي عبد الله خان سدوزي بل زوی، الله یار خان ته ورسېدله. په (۱۱۴۲ هـ. ق.) کال چي له نوموړي الله یار خان څخه مشرتوب او پاچهي واخیستله سوه، بیا د جرګې له خوا ذوالفقار خان ته ورکړه سوه. د ذوالفقار خان په دې پلا پاچهي کي په (۱۱۴۳ هـ. ق.) کال "افشار نادر" له دېرشو زرو سپرو سره پر هرات برید وکړ. ذوالفقار خان پنځه میاشتي مقابله ورسره وکړه، مګر پای ته پوه سو، چي د الله یار خان ډله د زړه ملګري نه ورسره کوي. موضوع ئې جرګې ته وړاندي کړه. په ملي جرګه کي د دوهمي پلا له پاره، الله یار خان د پاچا په حیث وټاکه سو او ذوالفقار خان له خپل کشر ورور، احمد خان سره په (۱۱۴۴ هـ. ق.) کال، چي هرات افشار نادر ونیو، کندهار ته د شاه حسین هوتک رحمة الله علیه (۱۱۳۵-۱۱۵۰ هـ. ق.) دربار ته ولاړ او هلته ئې له خپل ورور سره، تر (۱۱۵۰ هـ. ق.) کال یعني د شاه حسین د پاچهۍ تر سقوط پوري، د سیاسي نظربند په حیث ژوند تېر کړ. افشار نادر چي کندهار ونیو، ذوالفقار خان، احمد خان او کورنۍ ئې "مازندران" ته فراره کړل.

ذوالفقار خان په دغه پردېسۍ کي ومړ. زوی ئې لقمان خان (د کندهار نائب) په (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته په کندهار کي پورته سو او په (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال په بندیخانه کي ومړ(۱۶).

---

(۱۵) د دریېم زوی په باب ئې هم خبري ستهٔ. د "نامه احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني" په ۲۷ مخ کي "برادران عالي مقام" راغلي دي. د کرامات احمدشاهي په ۳۹ مخ کي د احمد خان ورونه ذکر سوي دي، په دې ډول:

"مع برادران در قندهار مسلوب الاختیار بود".

د "Ahmad Shah Durrani" په ۱۰۰ مخ (دراني احمدشاه، ۱۳۴ مخ) کي لیکلي دي:

احمدشاه د عباسقلي خور واده کړه او خپله لورئې د ده مشر زوی ته ورکړله.

(۱۶) د تازه نوای معارک تعلیقات، ۷۶۸ مخ - احمدشاه بابا، ۱۹۳ مخ، مګر په تاریخ احمدشاهي کي دا واقعه په (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال کي ښوول سوې ده.

۲. احمد خان (تر پاچهۍ پخوا):

احمد خان، چي وروسته بیا احمد شاه بابا سو، په یوه روایت، په (۱۱۳۳ه. ق.) کال د بران
میاشتي په یوولسمه، [۱۷] او په بل روایت، په (۱۱۳۵ ه. ق.) کال د هرات په عسقان نو
کلي [۱۸] کي زېږېدلی دئ. د حافظ مرغـُزي په احمد شاهي شهنامه کي هم د احمد خان
زوکړي ځای خراسان بلل سوی دئ [۱۹]، مګر په ځینو نورو منابعو کي، ملتان هم د احمد خ
مولد بلل سوی دئ [۲۰].

احمد خان د لومړي روایت په استناد، د درو کالو او د دوهم روایت په اساس د
میاشتو و، چي پلار ئې مړ سو او روزنه ئې ننګیالۍ مور (زرغونې انا الکوزی) او مش
ورور "ذوالفقار خان" ته ورپاته سوه.

له ذوالفقار خان ځخه چي په (۱۱۴۴ه. ق.) کال د قامي جرګې په فیصله د هرات پاچه
واخیستله سوه، نو دی له خپلي کورنۍ سره کندهار ته ولاړ، مګر هلته د اعلیحضرت ش
حسین هوتک رحمة الله علیه (۱۱۳۵–۱۱۵۰ه. ق.) له خوا ذوالفقار خان او کشر ورور ئې احمد خا
په سیاسي نظربندۍ کي وساته سول. د (۱۱۵۰ه. ق.) کال د لوی اختر په میاشت، چي افش
نادر (۱۱۴۸–۱۱۶۰ه. ق.) کندهار ونیو، د کندهار پښتون پاچا شاه حسین هوتک رحمة الله علیه ئ
له پاچاهي کورنۍ سره مازندران ته فراره کړ، له دې پاچاهي کورنۍ سره د نورو پښتن
مشرانو درنې کورنۍ هم وې. د نتلي ذوالفقار خان کورنۍ هم په دغو فرارو کړو سوو کورنی
کي وه. هلته په مازندران کي ډېر ژر ذوالفقار خان ومړ او د کورنۍ مشرتوب د احمد خان پ
غاړه سو.

په (۱۱۵۴ ه. ق.) کال چي افشار نادر د هندوستان، سنده، افغانستان، بخارا ا
خوارزم تر ابلولو وروسته پارس ته ستون سو، مازندران ته فرارو سوو پښتنو مشرانو ورسر
ولیدل. احمد خان، چي په دغه وخت کي ۲۱ کلن یا ۱۹ کلن ځوان و، هم په دغو مشرانو کي د
افشار نادر دربار ته ورغئ. د افشار نادر په لښکرو کي شپاړس زره پښتانه عسکر وو، چي

---

[۱۷] د دهلي د پیام مشرق مجله، ۸ جلد، ۱۳ ګڼه، ۳۴ مخ. د مقالې لیکونکي خپل ماخذ نه دئ ښوولی.

[۱۸] احمدشاه بابا، ۴۱ مخ. د تاریخ احمدشاهي په ۳۵/۱ مخ کي د (۱۱۵۰ ه. ق.) کال په وقایعو کي د احمدشا
بابا رحمة الله علیه عمر ۱۰–۱۲ کاله ښوول سوی دئ. د نامه احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفٰی ثالث عثماني د مقدمې په الف
مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زوکړي کال "اوائل ذی الحجه ۱۱۳۵ هق" لیکلی دئ.

[۱۹] زما (هوتک) په خیال د علامه رشاد رحمة الله علیه دا خبره به د احمد شاهي شهنامې پر دغه بیت ولاړه وي:

شــه مولـــد ئې خراســـان
پـه مـــزاج وه عـــالي شـان

(احمدشاهي شهنامه، د پېښور چاپ، ۱۲ مخ)

[۲۰] تاریخ حسین شاهي – دولت درانیه، ۷ مخ.

خوارلسو تنو[۲۱] پښتنو جرنیلانو له خوا اداره کېدل[۲۲]. افشار نادر د دغو پښتنو لښکرو یوه ډله باندي احمد خان د خانداني اصالت او اعتبار په لحاظ منصبدار مقرر کړ.

احمد خان د خپلي شپږ کلني منصبدارۍ په زمانه کي ښې توري وکړې او د مېړاني او زړیالي توب نوم ئې ولاړ. د قفقاز په جنګ او نورو مبارزو کي ئې دوست او دښمن توره او تدبیر ومنل. د تواریخ خورشید جهان په ۱۶۸ مخ کي کښلي دي:

په داغستان کي چي نادر له سرخایي خان لکزي سره جنګېدئ، په دغو جنګو کي ابدالیو پښتنو، په تېره بیا احمد خان (احمد شاه بابا رحمة الله علیه) ډېر سخت جنګونه وکړل او لکزي جنګیالي ئې مغلوب کړل. تر دغه پرله پسې فتوحاتو او بریالیتوبو وروسته، افشار نادر احمد خان خپل د شاهي ګارډ (سراوسو) مشر قوماندان (سریساول) مقرر کړ.

د (۱۱۶۰هـ. ق.) کال د ځلرمي خور په یوولسمه د یکشنبې په شپه (د ۱۷۴۷ع کال د جون د نهمي او لسمي تر منځ شپه[۲۳] = ۱۱۲۶ هـ ش) چي افشار نادر د خپلي ماینې په تونګ، د ځینځو تنو قزلباشو افسرانو له خوا، د مشهد په مضافاتو کي، خبوشان ته نژدې، په فتح آباد نومي ځای "قدیم قوچان" کي وواژه سو، احمد خان او نورو پښتنو افسرانو ئې د بې کالخوایه کورنۍ سیله وکړه او د قزلباشو له لوټ او تالا څخه ئې وژغورله. وروسته احمد خان له نورو پښتنو افسرانو سره د سلطان میدان، ترشیز، تربت حیدري، تون[۲۴] او فراه له لاري مخ پر کندهار راروان سو او په کندهار کي ئې د پښتنو په هغه ملي جرګه کي، چي د پاچا د انتخاب له پاره ۹ ورځي د کندهار په "شیر سرخ" کي کېدله، ګډون وکړ[۲۵].

---

[۲۱] د علامه رشاد رحمة الله علیه په نورو چاپي اثارو کي دغه پښتانه جرنیلان "نهه" تنه بلل سوي دي، خو د دغه درانه اثر (د احمد شاهي عصر نومیالي) په قلمي (خطي) نسخه کي، چي کله ښه غور وسو، نو معلومه سوه چي علامه رشاد رحمة الله علیه د "نهه" پر کلمه باندي خط کش کړی دئ، چي د باطلولو نښه ده او پر ځای ئې د "څوارلس" کلمه کښلې ده، خو ماخذ ئې نه دئ ذکر کړی.

(علامه رشاد اکاډیمي)


[۲۲] "فرېر" د "ایمپایر درانیه" په ۲۱ مخ کي لیکي: د نادر په پوځ کي د پښتنو لس سرداران وو.

[۲۳] د نامهٔ عالم آرای نادری د مقدمې په ۱۲ مخ کي دا سنه (۱۹ جون ۱۷۴۷ع.) (= ۱۱ جمادی الاخری ۱۱۶۰ هـ. ق.) لیکلې ده.

[۲۴] تون له فتح آباده څخه درې پړاوه لیري د جنوب و خوا ته پروت دئ.

(تاریخ احمدشاهي، ۱/ ۴۵۵مخ)

[۲۵] د آریانا دائرة المعارف د دوهم ټوک په ۵۵۳ مخ کي لیکلي دي: د شیر سرخ جرګه د (۱۱۶۰هـ. ق.) کال د شوال په میاشت (= ۱۷۴۷ع اکتوبر) کي سوې ده.


سړه بن
خرښبون
ښرخبون
اورمړ
بړیڅ
میانه
شیراني
ترین
تور
ملک اودل (ابدال) (د ۴۴۰هـ. ق. شاوخوا)
سپین
اود زي
علي زي
عیسی
ماکو
ملک سلیمان (ځیرک) (د ۷۵۰هـ. ق. شاوخوا)
موسي
ملک بارک (د ۷۶۰هـ. ق. شاوخوا)
الکو
ملک پوپل (د ۷۸۳هـ. ق. شاوخوا)
حبیب
بامي
کاني
ملک بهلول
معروف
ملک سَدو (د سدوزیو ابا)
بهادرخان
کامران خان
زعفران خان
مودود خان
خواجه خضر خان
شیرخان
سرمست خان
دولت خان
نظر محمد خان
محمد زمان خان
رستم خان
ذوالفقار خان
(د هرات حاکم)
لقمان خان "خان خانان"
(د احمدشاهي کندهار نائب، په ۱۱۶۵هـ. ق. کال مړ)
(ستر تولواک، لوی فاتح، پښتون غازي، د پاني پت قهرمان)
اعلیحضرت احمد شاه بابا رحمة الله علیه
(۱۱۶۰–۱۱۸۶هـ. ق.)

(سترتولواک، لوی فاتح، پښتون غازي، د پاني پت قهرمان)

اعلیحضرت احمد شاه بابا رحمة الله علیه

(۱۱۶۰–۱۱۸۶ه.ق.)

- تیمورشاه
  (تیمورشاه په مازندران کي په ۱۱۵۵ه.ق. کال زوکړی او په کابل کي په ۱۲۰۷ه. ق. کال مړ دئ. مور ئې د جلال آباد د بهسودو د عرب سردار لور وه. ۳۳ زامن او ۱۳ لوني ځني پاته سوي دي)
  - شاه زمان (۱۲۰۷–۱۲۱۵ه.ق.)
    - یونس
    - قیصر
  - شاه محمود (۱۲۱۵–۱۲۴۵)
    - کامران (د هرات حاکم) (۱۲۳۴–۱۲۴۵ه.ق.) (په ۱۲۵۹ه.ق. کال مړ)
      - جهانگیر
      - سعادت
      - سلطان علي
      - جلال الدین
  - شاه شجاع (۱۲۱۸–۱۲۵۸)
    - فتح جنگ
    - شاه پور
    - تیمور
    - نادر
    - سنځر
    - صفدر جنگ
  - همایون
  - حاجي فیروز الدین (د هرات حاکم د ۱۲۳۰ شاوخوا)
    - ملک قاسم خان
      - ملک حسین
        - محمد رضا
        - محمد محسن
      - یوسف
  - سلطان علي (کابل ۱۲۳۴)
  - ایوب (پېښور او کشمیر ۱۲۳۳)
    - میرمحمد
    - محمد اسمعیل
    - علي احمد
      - احمد علي خان دراني
    - احمدشاه
    - شیر محمد
    - پیر محمد (ښکارپور)
      - دین محمد
      - سیف الدین
      - تاج محمد
        - خداداد خان
          - جان محمد
            - شاه محمد
- سلیمان
- داراب
- شهاب
- اسکندر
- پرویز

انتخاب:

ستر ټولواک، لوی فاتح، پښتون غازي، د پاني پت قهرمان اعلیحضرت احمدشاه بابا رحمه الله، چې د خپلې رعیت پالنې، اولوالعزمۍ، تدبر او فتوحاتو په لحاظ د ختیځ په تاریخ کې یو ځرګند مقام لري، د (۱۱۶۰هـ. ق.) کال د رجب د میاشتې تر اتلسمې (= د ۱۷۴۷ع کال د جولای ۱۵)[۲۶] یا اوومې ځو ورځې پخوا د کندهار په نادر آباد کې پر تخت کښېنستلی او له هغې ورځې څخه ئې د پاچهۍ خطاب موندلی دئ[۲۷]. د ده د پاچا کېدلو تاریخي مادې دا دي:

چو بنشست احمد شه نامدار بتخت خلافت بصد عز و شان
ندا زد بشیرم ز سال جلوس "بود تا ابد این خُدیو جهان"
۱۱۶۰هق

چې "افغان" د "احمدشاه" په مشرتوب راغی میدان ته
لیرې لیرې دې ترې اوسي، د اسمان جور و ګزند
نېزه واچوله بېرې، د ظالم غلیم له لاسه
شل ئې پاته سو له وهمه، د بدخواه د بخت سمند[۲۸]

حل: افغان = ۱۱۳۲ + احمدشاه = ۳۵۹ = ۱۴۹۱ – نېزه (۱) + شل (۳۳۰) = ۱۱۶۰هق

په احمدشاهي شهنامه کې دا تاریخي پېښه داسې راغلې ده:

احمدشاه دُرِّ آبدار په جلوه شه نمودار
چې لباس ئې سلطاني وه مرصع په خاقاني وه
دا جامه شوه په ده جوړه د قسمت په ځای کښې یو وړه
چې تاریخ ئې د خروج وه درز په درز[۲۹] ئې د عروج وه[۳۰]
د هاتف په دا زبان وه "له شهنشه در دران وه"[۳۱]
۱۱۶۰هق

---

[۲۶] په حیات افغاني کې د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د تخت نشینۍ میاشت د (۱۷۴۷ع.) کال اکتوبر ښوول سوی دئ، چې د شوال له میاشتې سره برابر دئ.

[۲۷] د "Ahmad Shah Durrani" ۳۱ مخ.

[۲۸] دا تاریخي ماده ما (هوتک) ته د علامه رشاد رحمه الله له خوا ویل سوې ایسي.

[۲۹] د شهنامه احمدشاه ابدالي د پېښور چاپ په هغه چاپي نسخه کې، چې د علامه رشاد په کتابتون کې خوندي ده، د علامه رشاد پخپل قلم سره "درز په درز" ته داسې "ورځ په ورځ؟" لیکلي دي.

[۳۰] دا نیم بیتی په اصل کې د (... د عروج وه) په شکل نیمګړی و. ما (هوتک) له شهنامه احمدشاه ابدالي (د پېښور چاپ، ۲۹ مخ) څخه بشپړه کړه.

[۳۱] په پېښور چاپ (۲۹ مخ) کې د "شهنشه" کلمه د "شهنشاه" په شکل لیکل سوې ده او دې لیکنې د تاریخي مادې عددي ارزښت ۱۱۶۱ کړی دئ، چې د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د تخت نشینۍ تر نېټې یو کال زیات دئ (هوتک).

د ده دا تخت نشیني، د یوه داسي قاهر برم او مسلط قوت په سیوري کي نه ده اجرا سوې، ي د هغې زمانې له رواجه سره سم به عموماً د حکمدارانو د تخت پښې، د ټټلو رعیتو پر څړیو ښو ولي کېدلې او نه ئې د پاچهی خطاب د هغو تېرو تورو د برېښ او ځلا په برکت موندلی ئ، چي د نافرمانی بیري او پرتم به ئې د مجبورو تابعینو غاړي تر وېښته ورته نرې کولې، کي د ده تخت ته ختل له پښتني دود سره سم، د هغې قامي جرګې په خوښه اجرا سوی دئ، ي د قام قوت ئې سیله کوله او د پاچهی خطاب ئې د پښتني ګڼو قبیلو د هغو منلو مشرانو له وا موندلی دئ، چي د خپلو خپلو قبیلو ارادې او تصمیمونه د هغوی ملاتړ و.

که څه هم پنځه ویشت کلن یا اووه ویشت کلن احمد خان، په دې قامي جرګه کي تر ټولو ړو د عمر په لحاظ کشر او د عشیروي قوت او حمایت له امله بې وسه او بې سیلي ځوان و، مګر د قام سپین ږیرو د ده په تندي کي د پښتانه اولس د بخت ستوری لیده او د ده فوق العاده یاقت ته ئې د تللي برم د راستنولو هیله کېدله. ځکه نو پر خودخواهیو پښې کښېښوولي سوې و ګردو په یوه سلا د ټول پښتانه اولس د مشری او پاچهی مبارکي ورکړه. د ده په ګړی کي د یوه مرصع تاج پر ځای د غنمو یو وړی وټومبه سو، چي تر اوسه پوري د افغانستان په رسمي ښان کي ځای لري.

د انتخاب د جرګې لومړی تصویب:

په دغه لویه تاریخي جرګه کي د پاچا تر ټاکلو پخوا د ټولو په اتفاق دا تصویب وسو، چي:

> "پښتانه به د یوه پښتانه پاچا تر اداري لاندي خپله خپلواکي ساتي او له ایران څخه به د اطاعت په لحاظ خپل سیاسي اړیکی شلوي"(۳۲).

د مشاورتي جرګې تشکیل:

لوی احمدشاه بابا رحمه الله چي څرنګه په پاچهي وټاکل سو، سمدستي ئې د پښتني قبیلو له هغو څوارلسو تنو سردارانو څخه، چي د افشار نادر (۱۱۴۸–۱۱۶۰ ه. ق.) په وختو کي د اداري او سیاست سره اشنا سوي او د ژوند سړې او تودې ئې لیدلي وې، یوه مشاورتي جرګه جوړه کړه. په هر مهم اقدام او درنه معامله کي به ئې د هغو سلا اخیستله، د هغو بې سلا او مشورې ئې هیڅ مهم کار ته اقدام نه کاوه او د هغو فیصله ئې هیڅکله نه ماتوله(۳۳).

---

(۳۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۸ مخ.

(۳۳) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۸ مخ.

د کابینې تشکیل:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر انتخاب وروسته دستي یوه کابینه جوړه کړه، چې په هغه کې شاولي خان بامېزي د صدر اعظم په حیث کار کاوه او د اشرف الوزراء لقب ئې درلود. سردار جانخان پوپلزی سپهسالار و او شاه پسند خان ساګزي د امیرلشکر خطاب درلود، چې غلام محمد خان غبار ئې د مرکزي قواوو قوماندان ګڼي. سربېره پر دوی، عبد الله خان پوپلزي ته د مالیې چارې وروسپارلې سوې او برخوردار خان اڅکزي او نور الدین خان بامېزي ته هم لویې عهدې ورکړلې سوې او قاضي ادریس ته د عدلیې چارې وروسپارلې سوې[۳۴].

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه شخصیت:
(د ده د زمانې شهادتونه)

زه (رشاد) غواړم په دې برخه کې د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب د هغو نظرېې راټولې کړم، چې اکثره ئې د ده د زمانې خلک وو، په دغو معاصرو خلګو کې، تر ټولو دمخه دا بحث د غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د خپلې پتمنې مور "زرغونې انا"[۳۵] په وینا پیل کوم، ځکه چې هره مور خپل زوی ولور تر هر چا ښه پېژني:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال په شروع کې هندوستان ته ولاړ او هلته تقریباً دوه کاله د مرهټو د ځبلو له پاره وځنډېد، په کندهار کې د پاني پت تر سوبې دمخه چکچوکه (اوازه) سوه، چې احمدشاه بابا رحمة الله علیه شکست خوړلی دئ او په ماتې وطن ته راستنېږي. دا اوازه د زرغونې انا تر غوږو هم وررسېدله او دې په خورا ډاډه زړه وویل:

> "زه احمد ښه پېژنم او د ده د غیرت اندازه تر هر چا ما ته ښه معلومه ده، احمد د ماتې پېغور ته هیڅکله غاړه نه ږدي، زما زوی به مرګ ومني، خو ماتې نه".

---

[۳۴] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۹ مخ او د "احمدشاه بابا" ۱۱۷ مخ.

[۳۵] د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مور زیارت د ارغنداو د رود پر لوېدیزه غاړه باندې، د کوهک د غره په شمالي لمنه کې دئ، یوه پخه ګمبته پر ولاړه ده، پخوا د دغه زیارت د شاوخوا ځمکې د زرغونې انا زیارت ته وقف وې، خو اوس خلګو لاندې کړې دي او د ګومبتې ودانې هم نړېدلو ته نژدې وه. له ښه مرغه په (۱۳۵۵ هـ ش) کال د کندهار د خلکو په چنده او د ښاغلي غلام محی الدین ایوبي رحمة الله علیه په زیار ترمیم سوه.

په کندهار کې د ګل اغا شېرزي د ولایت په دوهمه دوره کې، دغه زیارت او ګمبته له سره په پاخه او اساسي ډول ورغول سوه (علامه رشاد اکاډیمي).

زرغونه انا په قام الکوزۍ پښتنه وه، په الکوزو کې بیا نسوزۍ وه.

زموږ د زماني اسلامي فیلسوف، بې تمي او بې ریا شاعر علامه اقبال لاهوري رحمة الله علیه
۱-۱۳۵۷ه. ق.) (= ۱۸۷۳-۱۹۳۸ع) د پاني پت د قهرمان ستر ټولواک غازي لوی
شاه بابا رحمة الله علیه (۱۱۶۰-۱۱۸۶ه.ق.) په ستاینه کي ویلي دي:

مثل فاتح آن امیر صف شکن
سکه ای زد هم باقلیم سخن

(مسافر، ۴۳مخ)

په دغه بیت کي علامه اقبال رحمة الله علیه زموږ غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ترکیې له عثماني "سلطان محمد خان فاتح"(۳۶) سره تشبیه کړې دئ، وجه شبه ئې له توري او دبدبې سره د و کمال درلودل دي.

زموږ د زماني حساس پښتانه شاعر د پېښور اوسېدونکي حاجي خان میر خان "هلالي" دغه ب بې له تشبیه څخه داسي راوړې دئ:

د توري د قلم پادشاهي خوند کړي تا سره
د شعر د ادب، جهاد امام احمد شاه!

زموږ د توري او جهاد اتل، د پاني پت د میدان ګټندوی غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یوه نه شاعر د اسلام بربنډه توره بللې ده. یوه هندوستاني لیکوال بیا زموږ غازي بابا رحمة الله علیه ته د فاتح لقب ورکړی دئ، چي د هندوستان د تاریخ پاڼه ئې اړولې ده. یو پاکستانی شاعر ده ته ب کوي:

"آتوریالیه ابدالیه! د هندوستان پر هره ذره باندي ستا د مېړاني همت او ایثار افسانې ي دي".

رشتیا هم تاریخ شاهد دئ، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه توري او همت هغه سرکښه او ور مرهټیان له ډېري رسوایۍ او شرمندګۍ سره په ماتې د نربدا سیند پوري خوا ته وشړل(۳۷)، د کابل د نیولو تکل ئې کړی و(۳۸) او د اورنګزېب عالمګیر (۱۰۶۸-۱۱۱۸ ه. ق.) پر تخت

د عثماني خلافت په درنه کورنۍ کي تر ټولو نومیالی او برمیالی سلطان دوهم محمد خان (۸۵۵-۸۸۶ه ق) چي "فاتح" ئې لقب و، ده په (۸۵۷ ه. ق.) (=۱۴۵۳ ع.) کال د شرقي روما پایتخت قسطنطنیه (اوسنی مبول-استامبول) ونیوه او د بیزانس امپراتوري ئې رنګه کړله.

افغانستان نامتو عالم، عارف او شاعر حضرت مولانا نور الدین عبد الرحمان جامي هروي رحمة الله علیه (۸۱۷-۸۹۸ د دغه مجاهد سلطان په ستاینه کي یوه غرا قصیده لري، چي مطلع ئې دا ده:

کم کسی بر سریر جاه و جلال   چون تو کرد اکتساب فضل و کمال

په هندوستان کي د نربدا سیند له جبل پور څخه مخ پر لویدیز بهېږي او د بحیره عرب په کهمبایت خلیج کي لوېږي، ه سیند جنوب ته جنوبي هندوستان واقع دئ، مرهټه د جنوبي هندوستان اوسېدونکي دي.

زین سنګه لکهنوي په سلطان التواریخ کي لیکلي دي:
د احمد شاه ابدالي د سولي د پیغام په جواب کي، مغرور مرهټي سپهسالار "بهاو" وویل:

باندي ئې د "بسواس راو" د کښېنولو خوبونه ليدل. په دې کي شک نسته، چي د ابدالي غ...
سربازيو په برکت له هندوستان څخه د اسلام د محو کولو هوډي او ترونونه مات سوي دي[۳۹]
که ښه څېر سو، ښځايه نه ده، چي ووايو:
او سنی پاکستان د ستر غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د توري صدقه ده.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د عالي شخصيت بل اړخ (بعد) چي علامه اقبال رحمة الله علیه ستا...
دئ، هغه د ده علم و ادب او د اسلامي ثقافت او افغاني فرهنګ د پرمخ بېولو له پاره د ده مخلص...
او صادقانه هڅي دي. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه رشتيا هم عالم، عارف، د ديوان تښتن شاع...
مصنف، عالم دوسته او اديب پروره پاچا و. علماوو او عرفاوو ته ئې په ډېره درنه سترګه کتل...
دوی ئې تشويقول، چي د ملت د پوهي له پاره په پښتو او دري ژبو کتابونه وليکي، د دې ادعا...
ثابتولو له پاره دوه عادل او صادق شاهدان (په پښتو ژبه کي) فتاوٰی احمدشاهي او (په دري ژ...
کي) بحر الفوائد و درر الفرائد احمدشاهي دي، د فتاوٰی احمدشاهي په سريزه کي د احمدش...
غازي د علم، ادب او شاعرۍ په باب داسي کښلي دي:

د دې وخت پاچا سني دئ — په مذهب کي حنفي دئ
محبت ئې د کتاب دئ — بې عدد و بې حساب دئ
چي عالم لدني دئ — کم عالم د ده ثاني دئ
په صورت او په سيرت کي — هم د فکر په دقت کي
سيال ئې نشته دئ يکتا دئ — په دې چاره بې همتا دئ
دی پخپله مصنف دئ — په دې کار کي ډېر منصف دئ
څو ښايسته ئې دئ تصنيف — چي ئې کړای نه شم تعريف
هم عالم دئ هم شاعر دئ — په نکتو کي ډېر ماهر دئ
چي د ده ديوان هرا دئ — په تحقيق سره هرا دئ[۴۰]
تر هرا بلکه فايق دئ — مشتمل پر دقايق دئ
هر غزل ئې عشق انګيز دئ — او هر بيت ئې درد آميز دئ

د فتاوٰی احمدشاهي د ليکوال دغه شهادت بې ملاتړه نه دئ، د احمدشاهي زماني په ليکنو کي...
پر داسي نکتو ډېر پيښېږو، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه فضيلت او کمال بيانوي او له علماوو...

"که تر کابله پوري ټوله سيمه موږ ته راپرېږدي، سولي ته به غاړه کښېږدو".

[۳۹] ويليام جونس انګرېز ليکلي دي:

"د پاني پت په جنګ کي هندوانو په ګډه سره داسي لام تړلی و، چي اسلام به له هندوستانه محوه کوي، دا جنګ د...
صليبي جنګونو په څېر يو مذهبي جنګ و او د هندوستان د ګوټ ګوټ راجاګانو ګډون پکښي درلود".

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په هغه ليک کي، چي د ترکيې سلطان دريم مصطفٰی ته ئې لېږلی دئ، هم دغه مطلب سته.
(نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفٰی ثالث عثماني، ۵۶-۵۷ مخونه)

[۴۰] هيرا = الماس

ضلاوو او شعراوو سره د ده درناوی، تشویق او تقدیر ستایي، د تاریخ احمدشاهي مولف منشي محمود الحسیني بن ابراهیم الجامي د احمدشاهي قدرشناسی په باب داسي ویلي دي:

سخن هست سرمایه اعتبار — سخنور کند از سخن افتخار
نهال سخن را نخستین ثمر — بود عزت و شهرت و سیم و زر
گل و غنچه اش شادکامی بود — بهین میوه اش نیکنامی بود
خصوصاً در ایام این سرفراز — شد نکته سنج، سخنور نواز
که جوهر شناس است و صاحب تمیز — سخن گشته در عصر فضلش عزیز
ز فطر بلندی شد نکته جو — بکرسی نشانده سخن رانگو
بعهدش سخنور شده بهره ور — ز نخل تمنای خود چیده بر
درین حرف دارد کسی گر سخن — تفحص کند صدقش از حال من
که اول ز من بخت می کرد رَم — شب و روز بودم هم آغوش غم
کنون از عنایات شاه ز من — بعزت رسیدم ز عز سخن
ز قربش شدم در جهان روشناس — ز مدحش نمودم شرف اقتباس

د مجاهد اعظم لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه که په یوه لاس کي توره وه، په بل لاس کي ئې قلم و، څومره چي ده د تورو د خاوندانو قدر کاوه، د قلم د خاوندانو قدر تر هغو کم نه و، د ده په دربار کي به د قلم خاوندان، ملایان او بزرگان د پاچا ښي لاس ته کښېنستل او د توري خاوندان به کیڼ لاس ته.

دا و د تاج بخشه غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د عالي شخصیت دوه اړخه یعني توره او قلم، اوس راځو د لوی احمدشاه د شخصیت نورو اړخونو (ابعادو) ته:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت د دغو دوو خورا څرګندو اړخونو په څنګ کي، د ده د تدبیر اړخ هم د ذکر او حتی ستاینې وړ دئ. احمدشاه غازي مفکر، مبلغ او مصلح و اکمن و، ده د خپل قام سره خواخوږي درلوده. د دوی د مروج کولو له پاره ئې فکر کاوه، د قبیلو د نژدېکت او یووالي له پاره ئې زیار یوست، ده غوښتله د پښتنو ټولي قبیلې یو موټې سي او له دوی څخه یو ملت جوړ کړي، دی پوهېده چي قوت په وحدت کي دئ. د ده پیغام د اتحاد او اتفاق پیغام و، ځکه نو علامه اقبال د ده د دغه فضیلت په باب ویلي دي:

"از ضمیرش ملتي صورت پذیر"

غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه غوښتل د پښتنو پر څو لارو رواني قافلې پر یوه لار وخوځوي او دا تیت و پرک بهیرونه، د یوه مزله لوري ته رهي کړي. ده زیار یوست، چي د ټولو قبیلو هدف یو کړي او د یوې عشیرې په زیار د بلي عشیرې د سالم تپاک او مثبت هاند متمم او مکمل سي. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دغي عالي هڅي په باب یو انګرېز ختیځ پوه "Malleson" په خپل کتاب "The History of Afghans" کي داسي کښلي دي:

"د احمدشاه تر ټولو لوی قابلیت دا و، چي د پښتنو قبیلې ئې متحدي او منظمي کړلې، ده به همېش ویل:

زه د دې له پاره پاچا سوی یم، چي د پښتنو پاچهي قایمه کړم او له پښتنو څخه ملت جوړ کړم".

مفکر او مصلح احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دغي ملت سازی په څنګ کي دا دور اندیش
خواخوږي هم درلوده، چي پښتانه باید خپل ارثي خصلتونه او معنعني رشې له لاسه ورنه کړ
د نورو په رنګ کي ئې خپل رنګ بول نه سي.

د ټولنپېژندني (علم الاجتماع) د پوهانو په عقیده کله چي د څو قبیلو یا قامونو افراد د
مشترک هدف له پاره د لاري مله سي او د یوه مزله په لور ځي، نو د دوی له دې ګډون او اختل
څخه که ځنډن وي، داسي نفسیاتي اغېزې منځ ته راځي، چي د موروثي خصلتونو روحیه کمزو
کوي او معنعن دود او دستور ته زیان رسوي.

دوربینه او دوراندېشه بابا رحمة الله علیه په دې نکته ښه پوهېد، ده که له یوې خوا په شم
هندوستان کي د روهیلکهنډ د روهیلیو پښتنو او په ګران افغانستان کي د کهسان د ابدالیو تر
د هدف، لاري، جذباتو او میلاناتو په هم آهنګولو کي زیار یوست، په دغه وخت کي ئې د دو
ارثي روحیې او قامي خصلتونو د خوندي ساتلو له پاره هم مجاهده کوله.

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ په زمانه کي یوه سوداګر کندهار ته ورېښمین ټوکران راو
احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په خبر سو، هغه ټول ورېښمین ټوکي ئې د دربار مخي ته یو پر بل سره کو
کړل او په خپل لاس ئې اور لګیت ورته وواهه، چي ګرده وسوځېدل، نو ئې سوداګر ته د ټولو بیه
یوه ځای نقده ورکړه او د دربار خلکو ته ئې د سوداګر په مخ کي وویل:

"که پښتانه په دې عیاشیو روږد سول، چټېږي او پښتنواله ځني ځي، زه نه غواړم، چي زما توریالی قام چټ (سټ) سي.

د وطن څوی او خمتا زموږ سره ډېر ښه ایسي، دا مي ځکه وسوځول، چي د قام ځلمي په روږد نسي او بیا ئې کوم سوداګر د راوړلو جرئت ونه کاندي".

حق ګویه عالم او صوفي مشربه بزرګ ملا عبد الباقي اخوند کاکړ رحمه الله (۱۳۴۴ هـ ق مړ) په منظوم کتاب "تهذیب الواجبات لتخریب العادات" کي د احمدشاه غازي رحمه الله د دغي هڅي یادونه داسي کړېده:

ښه مسلک د شاه احمد و، تر دې قرنه سو تمام
خدای به نوی تجدید جوړ که، نور ځلانده د اسلام
رنګارنګ پوښاک ئې راوئ سوداګر و کندهار ته
شه بابا واری پر وکئ، پرې ئې نه ښوو خریدار ته
له رحمتې ټوله وسول چي عیال به مي هلاک سي
په وطن کي بې له شویه، کپړه نه وه چي پوښاک سي
سوداګر مبهوته پاته، په میدان کي ئې ایرې که
ټول قیمت ئې ورته ورکه، خدای دي نه که چي ښېرې که
رعیت ټوله خندانه په معنا سرې عارف سول
رنګارنګ کپړې موقوفي چي په دې صورت واقف سول
پر په عقل نوشته، چي احمد شاه فخر افغان
شهنشه د خراسان، سند و پنجاب و هندوستان
د کور پوښ ئې قلمکار و، چاپي سوی د ملتان
پر تربت دې صد رحمت سي، هم فقیر و هم سلطان

د سوداګر د رنګارنګو ټوکرانو په سوځلو کي د لوی احمدشاه بابا رحمه الله حکمت دا و، چي د خپل دربار اراکین او نور رعیت په دې پوه کړي، چي د خپل وطن شوی (کرباس) زموږ سره ډېر ښه ایسي. فقیر مشربه سلطان لوی احمدشاه بابا رحمه الله زیاتره پخپله د خمتا (کرباس) کالي اغوستل او د کور د میرمنو کالي ئې له قلمکار کرباسه څخه و، چي په ملتان کي به چاپېدل او اوس موږ دغه ټوکر "چیټ" بولو.

رشتیا هم مفکر احمدشاه بابا رحمه الله په دې ښه پوهېده، تر څو چي د یوه مصلح او مبلغ په عمل کي د مطلوبو اصلاحاتو او ابلاغ نخښني څرګندي نه وي، په وینا کي ئې اغېزه نسته، ځکه نو ده چي څه له قامه غوښتل، هغه ئې پخوا لا پر ځان عملي کړل او د وطن د جولاګانو په خمتائې اکتفا کړې وه.

د مصلح او مفکر غازي بابا رحمه الله د شخصیت بل اړخ (بعد) د ده دینداري، تقوی او خدای پېژندنه (عرفان) و، ده د افغاني سلطنت په قیام او تحکیم کي یوائي له قامي روحیې څخه کار وانه خیست، بلکي د اسلامي روحیې او دیني اغېزې څخه ئې هم په بریالی توګه ګټه واخیستله. ده د اسلامي اوامرو او نواهیو د پر ځای کولو، دیني ریاضتونو او نیکو اعمالو او نیک نیتی په برکت، په رعیتو کي دومره ګرانښت او محبوبیت موندلی و، چي خلکو یوازي د متبوع پاچا په سترګه نه، بلکي د یوه بزرګ، ستانه او ولي په سترګه ورته کتل او د ده په پیروي او فرمانبرداري

کي ئې ثواب لټاوه. د ستر غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په نسبت د بزرګۍ ا
عقیده تر اوسه پوري لا هم په پښتنو کي پاته ده او ډېر خلک ئې اوس هم له ارادې
فیض موندلو له پاره زیارت ته ورځي، مرادونه غواړي او د ده روی او قبول د خ
حضور ته شفیع کوي.

نامتو فرانسوي فیلسوف موسیو ګوستاف لیبان (۱۸۴۱-۱۹۳۱ع) ویلي دي
"د یوه مفکر قائد او سیاستمدار له پاره په خپلو خلکو کي د قامي او مذهب
حاصلول له هغو مواهبو څخه دي، چي د قائد او سیاستمدار د بري امکان ډېر زیا
ورپوري تړلې ټولنه د قائد د دغه تاثیر له امله د ټاکلي هدف لور ته په منډه ځغلي

زه باور لرم، چي د ستر غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په بریو کي هم دغه
تاثیر، چي د ده له عالي شخصیت، خداجویي او پرهېزګارۍ څخه په قام کي پید
و، مهمه برخه درلوده.

یوه بل پاکستاني مورخ لیکلي دي:
"د پاني پت په ستره غزا کي د مرهټو د مشر واکمن پیشوا "بالاجي راو
"بسواس" او تربور "سدا شیو بهاو" ووژل سول، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د هغو
نامه دکن ته د یوه استاځي په لاس ولېږله، چي پیشوا بالاجي راو ته ئې وړاندي ک
دغه تعزیت نامه کي ابدالي فاتح د بسواس راو پر ځوانیمرګۍ او د بهاو پر وژل
افسوس ښکاره کړی و او دا ئې هم زیاته کړې وه، ما د سولي پیشنهاد دوی ته و
کړ، دوی ځوانان وو، وینې ئې تودې وې، زما د سولي پیشنهاد ئې رد کړ.
بهاو او بسواس راو هغه څوک وو، چي له دکنه څخه د احمد شاه ابدالي د سر په
رارهي سوي وو او تر کابله ئې د مسلمانانو او بالاخص د پښتنو مځکه د ځان کوله
ابدالي احمد شاه د دوی د وینو په تویېدلو راضي نه و او د دوی د مړیني تعزیت نا
پیشوا ته واستوله".

د ځوانمرد او انسان دوسته احمد شاه بابا رحمة الله علیه دغه رویه وه، چي "مانسټ
الفنسټون" د ده په باب دې لیکني ته مجبور سوی دئ:

"د احمدشاه وضعه له رعیتو، معاهدینو او
حتی دښمنانو سره هم شریفانه وه، ځکه نو دا درې
سره ډلي د ده اخلاقي لوړتیا ستاییي".

رشتیا هم د ستر غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه عالي او انساني اخلاق وو، چي د هر پوه او منصف سړي په زړه کي ئې عزت درلود او په احترام سرونه ورته کاږه وو.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د افغانستان، پاکستان او هندوستان د مسلمانانو په تېره بیا د پښتنو په نظر کي یو خدای دوسته، بزرګ او د کراماتو تښتن، عدل خوښوونکی، خواخوږی او پر رعیتو مهربانه پاچا و، دوی ته د یوه داسي شهنشاه په سترګه کتل کېدل، چي له توري او قلم سره ئې خداجویي، عدل، احسان او سلوک و معرفت هم درلود. د ده د زمانې عالم، عارف او شاعر رکن الدین ابن منیر پېښوري، دی د حضرت امام مهدي رحمة الله عليه نائب بللی دئ او دا ئې هم لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ته په خطاب کي زیاته کړېده، په هندوستان کي د اسلام د خپرولو او ټینګولو کومه مقدسه دنده، چي غازي سلطان محمود غزنوي رحمة الله عليه (۳۸۷-۴۲۱ه. ق.) پر ځای کړله، له هغه نومیالي غازي څخه چي د دغه رسالت څه برخي نیمګړي پاته سولې، د هغه د بشپړولو له پاره لوی خدای جل جلاله ته وټاکلې او دا مقدسه تکمله خدای پاک ستا په لاس اجرا کړله. د نوموړي ابن منیر دا شهادت، چي وایي: "ټول د دین په پیروي ئې" د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصیت مذهبي اړخ ښه روښانوي.

د احمدشاهي شهنامې ناظم "حافظ ګل محمد مرغـُزي" (۱۱۲۶ ه ق زوکړی) غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پښتنو فخر بولي او وایي نن د مسلمانانو نړی په ده نازېږي.

د عماد السعادت مولف وایي:

"د پاچهانو پاچا ابدالی احمدشاه د فقر مدعي و او پر پوست به کښېنستی".

پنډت کاشي راو هندو، چي د پاني پت په لویه غزا کي حاضر و او د شجاع الدوله د ایلچي په توګه ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه دربار ته تګ او راتګ درلود، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د خداجویي په باب وایي:

"احمدشاه به تل د شپې په وروستی درېیمه کي ویښ و، تهجد لمونځ به ئې کاوه او قرآن به ئې وایه".

د ایسټ انډیا کمپنۍ یو لوړ رتبه مامور مانسټوارټ الفنسټون سکاټلنډي (۱۱۹۳ ه ق زوکړی) د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د ښه سرېتوب په باب داسي لیکلي دي:

"He (Ahmad Shah) treated mullahs and holymen with great respect both from policy and inclinahon.

He was himself a divine and an auther and was always ambitious of the character of a saint".

ژباړه:

هغه (احمدشاه) هم د پالیسي او هم د خپل طبیعت د غوښتني په حکم د ملایانو او ښو خلکو ډېر درناوی کاوه، هغه خپله هم یو بزرګ (مقدس شخصیت) و، کتابونه ئې تصنیف کړي وو. ده همیشه دا غوښتله او زیار ئې یوست، چي په ځان کي د بزرګانو او ولیانو خوی او خصلت پیدا کړي.

د ستر غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د بزرگۍ او کشف و کرامت په باب د غازي بابا د زمانې
لیکوال د حضرت شیخ الاسلام ابو نصر احمد جام (۴۴۱-۵۳۶ ه. ق.) لمسي سید اسماعیل
الحسیني هم لیکلي دي:

کی تواند خامه کردن شرح وصف کشف او
بود در ظاهر و در باطن ولی آن شهریار

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د زمانې بل ستر بزرگ، لوی ملا، بې تمې او بې ریا عارف حضرت میا فقیر الله جلال آبادي ثم الشکارپوري (۱۱۹۵ ه ق مړ) دئ[41]. میا صاحب رحمة الله علیه له غازي بابا رحمة الله علیه سره مکاتبه درلوده، د میا فقیر الله د مکتوبات اووه پنځوسم لیک د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په عنوان لیکل سوی او په هغه کي دې بې تمي او بې ریا عارف، ده ته داسي خطاب کړی دئ:

"مطاع الاکمل و السلطان الاورع الاکرم الاعدل، ملوک الاسلام، مکرم العلما والصلحا موسس اساس الکرم و الکرما، ممهد اصول العدل ماطر، مصر العطا، المنصوب الاعلاء کلمة الدین، معز الاسلام والمسلمین، عمدة الخواقین الزمان و صفوة سلاطین الدوران خلد الله ظلاله...."[42].

موږ وینو چي میا صاحب رحمة الله علیه، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه (د خپلي زمانې) د اسلام په پاچهانو کي ډېر عادل او ډېر پرهېزگاره بللی دئ او دا ئې هم ورته لیکلي دي، چي ته د کلمې د لوړتیا له پاره پاچا کړه سوی یې، اسلام او مسلمانانو په تا عزت موندلی دئ، ته یې چي علما او نیکان نازوې، ته یې چي د بخښښنو بارانونه اوروې، تا د سخا تادا او ایښی دئ او ....

د میا فقیر الله رحمة الله علیه دا سرنامه ځکه ډېر ارزښت لري، چي میا صاحب رحمة الله علیه د خپلي زمانې لوی عارف، بې تمي او بې ریا بزرگ و، زما په خیال دغه ستاینه د غوړه مالۍ له ککړتیا څخه پاکه ده او توزنه هیله ئې سبب نه دئ.

میا صاحب رحمة الله علیه په یوه بل لیک کي زموږ لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته د "اخص مظاهر اسماء الهي، مالک الملک ذی الجلال والاکرام" خطاب کړی دئ، دلته هم د "اخص" کلمه د فعل التفضیل صیغه ده او د لوی خدای جل جلاله د پاچهۍ، جلال او اکرام مظهر ئې په ډېره خاصه توگه سره احمد شاه بابا رحمة الله علیه ښوولی دئ[43].

---

[41] د میا صاحب رحمة الله علیه په باب د ده د زمانې سندي مورخ علیشیر قانع په تحفة الکرام کي داسي کښلي دي:
"حاجي فقیر الله درین جا (شکارپور) مرجع انام می باشد و سلسله مشیخت را با فضای غایت رسانیده الحق حالتی و فضیلتی نیک دارد، در اوامر و نواهی بجد سعی دارد و بفیض ظاهر و باطن گروه معتقد را می نوازد".
په کندهار کي د میا فقیر الله رحمة الله علیه د طریقت سلسله ملا فرح الدین اخوند (۱۱۵۹-۱۲۴۱ ه ق) چلوله.

[42] دا مکتوب ټول په عربي ژبه دئ.

[43] وگ: اتلسم مکتوب

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د زمانې عالم او شاعر د ګردي کڅ اوسېدونکي ميا شرف الکوزي د ده په ستاينه او د پاني پت د سوبې په مبارکۍ کې يوه قصيده لرې، د دغې قصيدې يو څو بيته دا دي:

احمدشاهه!

اې چې بلبل د عطا تل په چمن ستا که چغار
رب دې تل تل د جزا ګل په لمن ستا که نثار
څرخ دې د لمر وي همېش ستاسي د خواهش په مسير
کښت دې د ستورو وي تل ستاسي د آرزو په مدار
څو فلک ملک و ملک وي ته ملک اوسه د ملک
نګه از لطف وعطايا شه په تا يوم قرار
ستا دې رحمت وي د رب تل په حفاظت په مدد
ستا د همت برکت تندره د کفارو د دار
دا چې اوس مړ د ظلم اور د توري ستا شه په آب
دا هغه اور و چې تول هند ئې وريتېده په شرار
ګړ شه دهشت هسې وحشت د مرهټې په سپاه
تخت ئې يو لور ته راکو هم هسې بل لور ته ګولار
نصرت و فتح و ظفر دا چې په تېغ ستا کړه حکيم
انتقام اخلې له قمقامه د صمصام په ګذار
فتح و نصرت چې په لاس ستا شه هزيمت شه غليم
منهزم هم هسې کفار شوو د ګنګا په کنار
وايو تبريک د ظفر ستا په حضور ډېر په ادب
عرضوو ستا په جناب دا چې دې تل اوسه بهار
افتخار ډېر له حده تېر شه په دې فتحه د قام
انتصار زيات که د اسلام په توره ستا کردګار

د کابل مشهور بزرګ شيخ سعدالدين احمد کابلي رحمة الله عليه بره کې (۱۱۴۰-۱۲۲۵ه. ق.) په (۱۱۷۳ ه. ق.) کال په مدينه منوره زاد الله شرفها کې و[۴۴]، ده هلته يو تفسير کښلی دئ، چې "معدن الاسرار" نومېږي، دی د دغه تفسير په سريزه کې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه داسې ستايي:
"شبی در زاويه خمول خويش در شهر جمادی الثانی سنه هجری يکهزار و يکصد و هفتاد و

[۴۴] حضرت شيخ سعدالدين احمد رحمة الله عليه د "يکمرد بزرګ" د مولف په قول د څلور دېرشو او د "کمالات مولاييې" د مولف قول د شپږدېرشو کتابو مولف دئ. زيارت ئې د کابل په ده يحيی نومي کلي کې دئ، ډېر خلک ئې زيارت ته ورځي.

سه، سال سيزدهم از جلوس ميمنت مأنوس شهنشاه سکندرجاه، دين پناه، قاتل الکف
والمبتدعين، ناصر الاسلام و المسلمين احمدشاه درانی ايده الله تعالى بجنود الغيبة و اعز بالو
الادعية و خلد ملکه بالفضل والامتنان و ايد حکمه بالعدل والاحسان بجهة اربعين نشس
بودم"[۴۵].

دا د هغه سعد الدين احمد رحمة الله عليه وينا ده، چي نه کاله لېونی و او خلګو به د پای منار لېون
باله، شطحيات ئې ويل او د دغو شطحياتو له امله په کابل کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په حک
بندي سوی هم و، بيا چي د سيد زيور الدين پايمناري رحمة الله عليه (۱۱۵۱ هق شهيد) د مشر زوی مي
اکبر رحمة الله عليه په شفاعت له بنده خوشي سو، حجاز ته ولاړ[۴۶]. دا ثنا او دعا ئې هغه وخت کړې ده
چي له احمدشاهي قلمرو څخه ډېر ليري په مدينة النبي ﷺ کي د نفس په تذکيه بوخت و او چلې ئې
ګاللې، نه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د سياست بېره ورسره وه او نه ئې د ده له احسانه څخه څه تم
درلوده، ځکه نو د سعد الدين احمد رحمة الله عليه غوندي مست عارف له خولې، له بېري او تمي څخه پاک
ثنا او دعا ډېر اهميت وړ ده.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د زمانې شاعر "رحمت داوی"[۴۷] کله چي د دنيا بيوفايي غندي،
په دغه ترځ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ يادونه داسي کوي:

په پوره اووه ويشت کاله[۴۸]
د "احمد" و بنه دوران

❀ ❀ ❀

په لوټل ئې د ځان راغلل
د اجل لندی سنپاهيان[۴۹]

له فاني دنيا ئې راکښه   د احمد پادشاه عنان
و بقا ته ئې روان کړ   ګوري، څه عجب روان
ښايسته عادل پاچا و   رب دې که جنت مکان
په جنت کي دي دی تل وي   باقي عمر جاودان
که به زموږ په دعا کېږي   ديدار ورکه پاک منان

---

[۴۵] وګ: تفسير معدن الاسرار، ۴ مخ، د لاهور (۱۹۷۰ ع.) چاپ.

[۴۶] وګ: کمالات مولايي د امام الدين "درويش" تاليف، ۵۸، ۵۹، ۶۰، ۶۱، ۶۲ مخونه.
(زما ارشاد ا د کتابتون خطي نسخه)

[۴۷] رحمت داوی د کندهار د ښار صفا او سېدونکی و، څه موده ئې په کشمير کي تېره کړېده، د ليلی او مجنون مثنوي
ئې په کشمير کي په (۱۲۱۰ هـ. ق.) کال په پښتو ژبه نظم کړې ده.

[۴۸] د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پاچهی موده، څلور مياشتي کم شپږويشت قمري کاله ده.

[۴۹] لندی "Linday" د کماندار معنا لري.

درست پښتون ئې د ځان کړی | لکه لمر و پر تابان
دا لمر ګوره په غروب سو | اوس پر ځای ئې فرزندان
د احمد نور الابصار دئ | تیمور شاه در دران

❀❀❀

په راستي سره ګويا دئ
د رحمت داوي زبان (۵۰)

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د زماني نامتو ترکمن شاعر مخدوم قلي فراقي (۱۱۴۶ هـ. ق. زوکړی) د "عرش اعلايه" تر عنوان لاندي د احمد شاه بابا رحمة الله عليه يوه ستاينه لري، چي د "مخدوم قلي فراغي نينګ شعر لرتوپلامي" په ۵۶۴-۵۶۵ مخونو کي چاپ سوېده(۵۱).
د دغه ترکمني شاعر د نظم شکلي سکښت قوشوق دئ، چي موږ ئې مربع بولو، د دغه مربع څو بنده دا دي:

يا احمد شاه يرده ياييليپ چاوينګ | آدينګ اسمان ګيدر عرش اعلايه
کلان نوکر ينګديرکلمه ين آوينګ | په ييکليک زينه سين قيل پايه پايه

منظومه ژباړه:

خود به دي ستايمه هميش ای احمد شاه پښتونه!
دئ رسېدلی ستا ښه نوم تر اسمانونو پوري
ستا په همت د ښنه چوغکي سول دوستان بازونه
ځکه بری تل مچوي ستا د توغونو سيوري

❀❀❀

ايران غليچ اوربو ويرت سپاهي | باشينګدن برک بولسون دولت کلاهي
همايون داغينده شير لارينګ شاهي | ګويا بير نهنګ سن موج دريايه

---

(۵۰) وګ: د رحمت داوي ديوان، د پېښور (۱۹۸۰ع.) چاپ، د همېش خليل په اهتمام.

(۵۱) مخدوم قلي فراقي د استرآباد د کوکلان د سيمي اوسېدونکی و، د استرآباد په ترکمنانو کي دوې قبيلې ډېر شهرت لري، يوه قبيله ئې کوکلان ده بله يموت. مخدوم قلي د کوکلان قبيلې ګرکز ښېنې ته منسوب دئ، د استرآباد سيمه. چي اوس د ايران په شمال شرقي ګوټ کي پرته ده، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په وختو کي د لوی افغانستان په قلمرو کي داخله وه. کوکلان ترکمنان د دشت ګرګان په شرقي کوهستاناتو کي، د شوروي اتحاد تر سرحد پوري اوسي. په (۱۳۲۰ هـ. ش.) کال د دوی احصائيه پنځه ويشت زره تنه وه. قبيلې ئې دا دي: يانقاق، سنګرنګ، چيانقر، بيګدلي او نور. يموت په ترکمن صحرا کي اوسي. شمال ته ئې اترک رود، مغرب ته ئې مازندران رود، جنوب ته ئې فندرسک، رستاق، کتول او شرق ته ئې الياس تپه واقع ده. په (۱۳۳۹هـ. ش.) کال ئې احصائيه اووه زره نفره وه. ترکمنان حنفي مذهبه دي او د نقشبنديې طريقې پيروان په کوکلان کي ډېر دي.

منظومه ژباړه:

دی ستا لښکر دا چي ورځې پر ایران کښلي توري
دی ستا زړه ور چي پر بدخواهو ئې کړې میندي بوري
ته یې اتل د شنو زمریو چي پر وچه ګرزي
ته یې پاچا د نهنګانو چي په یم کي ښوري

❁❁❁

بیشه لرینګ اوانګتایان شیری سن   رومستان بینی سی دیوینګ پیری سن
زال اوغلو نینګ الماز پیکان بیری سن   ګشتاسپ اوغلی دک بللی بلایه[۵۲]

منظومه ژباړه:

ته د زمري غوندي غړمبېږې د ځنګلو په منځ کي
ته لکه د ببر په ځغستا ځې د هسکو غرو په منځ کي
ته تر رستم په خطرناکو طوفانو کي تېر سوې
ستا الماسین غشي همېش پر د ښمنانو اوري

❁❁❁

پیشینګ ایران بولسه، پشتینګ توران دیر   دوست ایشینګه خوشوقت، دشمان حیران دیر
البالینګ اچي لار ایشینګ دوران دیر   مرحمت نظرینګ سالسانګ بوجایه

منظومه ژباړه:

ته د ایران پالنه کړې، توران دي ولي هېر دي
توران و تا ته شهنشاهه، تر ایران درتېر دي
چي ستا له لوري برخوردار سو، بخت هغه ته ورځي
ته یو د رحم نظر وکړه د توران پر لوري

❁❁❁

"فراغی" دیر رواج بیرسن سن دینی   شاه لارینګ شاه لاری اسلامینګ زیني
امرینګه مطیع ات ایران زمیني   روز و شب نالیشیم بودیر خدایه!

---

[۵۲] په دغه بند کي هغې پېښې ته اشاره سوې ده، چي د کهسان (او سنی اسلام کلا) په واورو کي د (۱۱۶۴هـ. ق.) کال د ژمي د طوفان له امله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکر څو زره تنه مړه سول.

منظومه ژباړه:

فراقي وايي په رښتيا په تا اسلام غوړېږي
ته شهنشاه يې، مګر زړه دي درويشي ته کږي
که دي د پښو د مچېدلو شرف مومي ايران
زه به شيندم ستا تر قدم لاندي سپوږمۍ و ستوري

د مخدوم قلي فراقي د قوشوق منظمه پښتو ژباړه ما (رشاد) کړې ده، هغه وخت چي ما دا ژباړه کوله، د ځينو تنګ چشميو له امله، چا ما ته د مخدومقلي اصلي متن رانه کړ، ما دغه ژباړه د مخدومقلي د قوشوق له روسي ژباړي څخه کړې ده، چي د " Maxtam Kylu Uzδpaннble" په يو سل و شپږ اويايم مخ کي ليکلې وه[۵۳].

په کابل ښار کي د شاه شهيد رحمة الله عليه په نامه يو زيارت سته، دا زيارت د شهدای صالحين او تپه مرنجان تر منځ، پل مستان ته نژدې واقع دئ، کومه سيمه چي دغه زيارت پکښي سته، هغه هم د شاه شهيد په نامه يادېږي[۵۴]. د شاه شهيد رحمة الله عليه د زيارت اوسنۍ ودانۍ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پاچهۍ په زمانه کي په (۱۱۸۳هـ. ق.) کال د ياقوت خان خواجه سرا له خوا جوړه سوې ده[۵۵]. د دغي ودانۍ پر تندي باندي په پارسي ژبه يوه منظومه کتيبه سته، د دغي کتيبې د سر بيتونه، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په ستاينه کي دي، دا دي:

چو احمدشاه بر روی زمين شد | در اقليم ظفر مسند نشين شد
چو پا را در رکاب اشهب آورد | فلک گفتا که اقبالش قرين شد
بعصرش شير و بز يکجا خورد آب | که در عالم نهيبش اينچنين شد
بغبرا و سما افتد تزلزل | چو از راه غضب چين بر جبين شد
عدو زير زره چون آب بنشست | چو در روز نبردش دل به کين شد
چو نور احمدی بر چهره دارد | از آن رونق ده اسلام و دين شد

---

[۵۳] د دغه ترکمني نظم پښتو ژباړه ما (رشاد) په (۱۳۶۲هـ. ش.) کال کړېده او په کابل مجله کي خپره سوې ده.

[۵۴] د شاه شهيد نوم کنيه په مزارات شهر کابل (۶۹ مخ) کي "شاه ابو اسحاق ختلاني" ليکلی دئ، خو په خزينة الاسرار او نګارستان کشمير کي د ده نوم "شاه اسحاق" کښلی دئ. په نګارستان کشمير کي دا هم زياته سوې ده، چي دی پس له مرګه په "شاه شهيدان کابلي" مشهور سو. په خزينة الاسرار کي د ده لقب "خواجه بزرګ" ښوول سوی دئ او دا ئې هم زياته کړې ده، چي پس له مرګه په "شهيد" مشهوره سو.
شاه شهيد په اوسني تاجکستان کي د ختلان او سېدونکی و، په (۸۲۶ هـ. ق.) کال د ګوډ تيمور د زوی شاهرخ (۸۰۷-۸۵۰هـ. ق.) په حکم په ختلان کي وواژه سو، سر ئې په بلخ کي ښخ دئ. د سر پوستۍ ئې د شاهرخ په حکم له پړو (بوسو) ډک کړه سو او کابل ته ئې راولېږه، دلته دغه د پړو ډک د سر پوستکی خاورو ته سپارل سوی دئ، (وګ: خزينة الاسرار). شاه اسحاق ختلاني رحمة الله عليه په کبرويه طريقه کي د سيد علي همداني رحمة الله عليه (۷۱۴-۷۸۷هـق) خليفه و.

[۵۵] د دغي ودانۍ د جوړولو تاريخي ماده "با ظفر" ده، چي د مقطع په وروستي نيم بيتي کي داسي راغلې ده:
بگفتا "با ظفر" تاريخ اين شد

حبیب الله خلیل د پېښور اوسېدونکی، چي پښتو دیوان ئې په (۱۱۷۵هـ. ق.) کال استنساخ سوی دئ، پخپل دیوان کي د کندهار، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه، اشرف الوزراء شاه ولي خان او نورو خانانو په ستاینه کي یو اوږد نظم لري، چي څو بیتونه ئې دا دي:

چي داخل په کندهار سوم، نا آرامه پر کرار سوم
په ثنا د کردګار سوم، آه ارمان دئ کندهاره!
چي پادشاه ئې ډېر عالي دئ، بیا دوهم شاه ولي دئ
مستقیم پر خپل ویي دئ، آه ارمان دئ کندهاره!
چي دوی دي د مجلس شمعه، عالمونه دي پرې جمعه
له هیچا نه کاندي طمعه، آه ارمان دئ کندهاره!
که دوی نه وا پیدا سوي، خدا زده څه په اولس سوي
دوی سبب د عدل سوي، آه ارمان دئ کندهاره!
چي ئې نوم احمدپادشاه دئ، کل عالم د ده نېکخواه دئ
شاه ولي ئې پشت پناه دئ، آه ارمان دئ کندهاره!
احمدشاه دي نه کا خدای، د بدانو په بدرای
دی پادشاه دئ د هر ځای، آه ارمان دئ کندهاره!
د ده عمر دي دراز وي، له ولیانو دي په راز وي
هر سرې پرې سرفراز وي، آه ارمان دئ کندهاره!
خدای دې اوږد که سلطنت، تا به روز قیامت
له دښمنه فراغت ، آه ارمان دئ کندهاره!
خدای دي ورک د ده بدان کا ، چي غمونه جاودان کا
فریادونه ځان په ځان کا ، آه ارمان دئ کندهاره!
اې زما ربه ذوالجلاله ، پادشاهي ئې کړې کماله
بې نقصانه بې زواله ، آه ارمان دئ کندهاره!

(د حبیب الله خلیل چاپي دیوان، ۹۸-۹۹ مخونه، کابل چاپ-۱۳۶۰ المریز)

ملا علم اپرېدی (۱۱۳۰هـ ق زوکړی) په پښتو ژبه کي د دیوان تبښتن شاعر دئ. ده خپل دیوان په (۱۱۶۴هـ. ق.) کال ترتیب کړی دئ، د ده د دیوان هغه خطي نسخه، چي د ډهلي په نیشنل ارکایوز کي خوندي ده، ما (رشاد) کتلې ده، خو متأسفانه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ستاینه کي مي ئې دا یو بیت ځني رانقل کړی دئ:

احمد شاه غوندي ملک ئې پر ځای ناست دئ
چي ثاني ئې پخپل دور سلطان نسته

حافظ الملک رحمت خان بړيڅی (١١٨٨ هق شهيد) د خلاصة الانساب په سريزه کې، چې د ١١٨ ه. ق.) کال تالیف دئ، د پښتنانه ستر تولواک غازي احمدشاه بابا رحمه‌الله په باب داسي لي دي:

"درين عصر نيز چون فضل ذ الجلال شامل حال افغانان شده بمقتضای "توتی الملک من اء" در قوم افغانان مخصوصاً در قوم سړه بن خاصه در ابدال پادشاه بی بدل مالک دوستان و ايران و توران سکندرجاه سلطان احمدشاه پادشاه غازی در دران پيدا شده و امی ملک ايران و توران و هندوستان در قبضه اقتدار قدرت اوست و همگی اهل اطراف و ناف مطيع و منقاد او".

شهنشهی که جهان تازه شده بدورانش — گرفت روی زمين ظل نور احسانش
کجاست در همه آفاق سروری امروز — که نيست گردن او زير حکم فرمانش

حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅي، چې خلاصة الانساب ليکه، په دغه وخت کې دی د مالي هندوستان د روهيلکهنډ په بريلي کې مېشت و. دغه بريلي چې بانس بريلي ئې هم بولي، د نګا له روده څخه تقريباً پنځه اويا ميله ليري د شرق خوا ته پرته ده[٥٦].

د تيرا اوسېدونکی ماشوخېل ورکزی قابل خان شاعر د دقايق الاخبار د منظومي پښتو باړي په سريزه کې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه خليفة المسلمين بولي او داسي ئې ستايي:

دا کتاب "قابل" پښتو کړ — جوړ ئې نظم په پښتو کړ
پادشاهي د احمد شاه ده — تر دکنه ئې غوغا ده
په اسلام کې پهلوان دئ — په کافر او مسلمان دئ
د علماوو په عزت دئ[٥٧] — هر ساعت ئې په حرمت دئ
احمد شاه وبخښې خدايه — اي قادره رهنمايه!
احمدشاه خدايه مقبول کړه — دغه خواست زما قبول کړه
عالمان د تيراه واړي — په زاري له خدای نه غواړي
پادشاهي د احمد شاه — بر قرار لره پادشاه!
هم ئې آس و سپاهي دواړه — په امان لرې ته واړه
احمد شاه د ځمکي روړه! — خليفه د کتاب ګوره[٥٨]

د مير اسماعيل زوی مير عبد الکريم "نادم"، چې د سدوزيو پاچهانو په دربار کې پيشخدمت

[٥٦] په شمالي هندوستان کې بله بريلي هم سته، چې د امتياز او تخصيص له پاره ئې رای بريلي بولي.

[٥٧] علما کلمه د لام په سکون لوسته کېږي.

[٥٨] وګ: پښتو ادب د اروابناد عبد الحليم اثر تاليف، ٣٣٠ مخ، د پېښور (١٣٧٠ ه. ق.) چاپ او فرهنګ زبان و ادبيات پښتو، ١/٣٨٢ مخ.

و "په خپل کتاب" فغانو کابل و بخارا و خیوه و خوقند خانلرین حوال و حکیات" کي د نو
احمد شاه بابا رحمه الله شخصیت داسي را پیژني:

"احمد شاه بحق پادشاهي بود خلیق، عادل، سخی، رعیت پرور، ولی مشرب. سلیم
(الطبعه) حلیم و غریب نواز رحمة الله تعالی".

حسان الهند غلام علي آزاد بلګرامي (۱۱۱۶–۱۲۰۰ هـ. ق.) د خزانه عامره په ۱۰۹ مخ کي
پاني پت د سوبي په وياړ یوه غزله لري[61]، چي څو بیتونه ئې دا دي:

شاهي رسید و هند سیه فام را گرفت	ماهي طلوع کرد و سیه شام را گرفت
شکر خدا که گزلک تصحیح حک نمود	نقش غلط که صفحه ایام را گرفت
آخر ز تیغ خسرو غازي بریده شد	زلف ایاز کز دل خود کام را گرفت
انجام کار غیر ندامت چه صرفه برد	فیل که راه خانه احرام را گرفت
تازه ز اقتدار سلیمان کامگار	از دست دیو کشور اسلام را گرفت

تر دې غزلي وروسته نوموړي آزاد کښلي دي:

"نظم این غزل محض بنا بر انشراحي است که از فتح جنود اسلام رو نمود، نه بنا بر
مداحی. چه شاه دراني در هند (شمالي) بود و من در دکن".

د حفظ الآداب، قانون القرائت او مناقب غوثیه مولف رکن عالم یا رکن الدین د منیر
غوري خېل پښتانه زوی[62]، د پېښور د هزار خاني اوسېدونکي په (۱۱۷۳ هـ. ق.) د لوی
احمد شاه بابا غازي رحمه الله مېړانه، غیرت او د علم قدر ستایي، دی د دین پهلوان، د اسلام
رونق، د سلطان محمود غزنوي رحمه الله ساری، د پادشاهانو سر او د افغانانو ننګیالی بولي. د
ابن منیر د دغه مثنوي عنوان دا دئ:

---

[59] دی د سدوزیو له درباره بخارا ته ولاړ. هلته د بخارا د پاچا امیر حیدر منغیت (۱۲۱۵–۱۲۴۲ هق) په دربار کي نوکر سو. بیا د بخارا له سفیر سره قسطنطنیې ته ولاړ، هلته په ۱۲۴۶ هق (=۱۸۳۰ع) کال مړ سو.
(وګ: المنجد فی العلوم و الادب. ۲۳۹ مخ)

[60] د دغه کتاب یوه نسخه چي په (۱۲۹۰ هـ. ق.) کال په استانبول کي چاپ سوې ده، ما په الماته کي ولیدله، د سر څلور څلوېښت مخه ئې د افغانستان د پاچهانو په باب دي. ده پخپل کتاب کي د لوی احمد شاه بابا رحمه الله د پاچهی پېښي له (۱۱۶۱ هـ. ق) کال څخه راپیل کړي دي.

[61] حسان الهند آزاد بلګرامي په عربي او پارسي ژبو کي خورا خوږ ژبی شاعر و، په روضة الادبا کي ئې د ده څورلس مولفات راوړي دي. لکه د صحیح البخاري منظومه شرحه (عربي)، چي ضوء الدراري نومېږي، سبحة المرجان فی آثار هندوستان. غزلان الهند. ید بیضا، شمامة العنبر فی ما ورد فی الهند من سید البشر، مآثر الکرام تاریخ بلګرام، سرو آزاد. روضة الاولیا. عربي او پارسي دیوانونه او نور...
(وګ: تذکره علمای هند. ۱۵۴ مخ)

[62] ابن منیر ځان غوری بولي، د پښتنو پښت پوهان (نسابان) مومند، داود زي، خلیل، څمکني او زیران غوري پښتانه بولي او د غوریاخېلو په نامه ئې هم یادوي. په مناقب غوثیه کي یو ځای ابن منیر ځان دولت یار بللی دئ، مومند او داود زي د دولت یار څانګي (فرعي) دي. دولت یار په غوریو پښتنو کي یوه درنه او لویه پښه ده.

"در مدح مالک رقاب خلق الله
احمد شاه رحمة الله علیه"

ترعنوان وروسته ابن منیر پښتانه قام ته داسي خطاب کوي:

بر نه ئې چي بل دور، دویم طور شه — پادشاهي د پښتنو په دکن زور شه
ادشاهي د چارجوغه احمد شاه شوله[۶۳] — د ده مخ د کفر تنبتته په شا شوله
اکربای د هر دیار هره جوغه ده — د دین ننګ ئې عین د زړه په سر تغمه ده
بر نه ئې په دې ننګ په ډېره ځله[۶۴] — تر دې میان ورغی راغی څو څو ځله
وباره د علم قدر لور په لور شه — جهل شه په سر وهلو کور ئې خور شه
ا په دې ننګ و محمود غزنوي — هغه فرد و، دی ئې راغی مثنوي

....

چي تر حده جنګریزی دئ — احمدشاه غازي مزری دئ
یغ و توغ ئې سر درومي — په باغیانو بری مومي

....

چي له میانه ئې جلوه کا تشه توره[۶۵] — په جهان کې ئې مړانه ده مشهوره
اند ښنه خپله د وړاندي قراول کا — خود په خود، دی په کفارو چپاول کا
چي ناره ئې حیدري ده — هم رحمي ده هم قهري ده
د اسلام د زړه مرهم دئ — په کفارو شور د غم دئ

....

اوس ئې بیا دئ دوباره د غزا نیت — سر و مال ښندي هر څه د دین په پت
په دکن ئې لګولی شور ماشور دئ — احمد شاه غازي نیولی د دین زور دئ
تل له لاسه ئې د دین په دښمن اور دئ — په دوران ئې جمعیت د کفر خور دئ
وار په وار ئې دولت اوسه په زیاتي کې — په کفارو مدام اوسه په بري کې
آوازې ئې ډېري لاړې په هر لور شه — په آواز ئې وارخطا کفار په ګور شه
خدای ئې پاک لره مدام د نفس له خویه — کارو بار ئې اوسه ټول د خدای له رویه
هم په خلکو ئې جاري عدل و انصاف شه — د هر ملک په خوله جاري دده اوصاف شه
په دربار ئې چند در چند وړې مړېړه — هم ئې فیض و غائبانو ته رسېږه
الغرض دلې هورې ئې دولت اوسه — دلته هلته ئې دا طور شوکت اوسه

---

(۶۳) غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په خپله خولۍ یا پګړۍ کي څلور جوغې ټومبلې، ځکه نو چارجوغه باله کېده.

(۶۴) ځله (د لومړۍ څپې په خج) = شوق

(۶۵) میان = نیام، تېکی

الغرض که زموږ قدر څه د آه وي
ننګيالی پادشاه د دين دي احمد شاه وي

زموږ آه دي شين لوګی وي پاس پرې چتر
سايبان دې وي، د هري بلا ستر

دی غمی د دين، بزرګان ئې حلقه اوسه
دی قمر د دين، خانان ئې هاله اوسه

توپخانه ئې هميشه اوسه په شور کي
خزانه ئې هميشه اوسه په زور کي

آوازه ئې د لري اوسه دروغه[٦٦]
د بري نامه په ده اوسه تل روغه

....

خلکو جمعه پر دعا شئ
په دعا د احمدشاه شئ

احمدشاه پادشاه روان دئ
په مهم د هندوستان دئ

چي مهم ئې خدای په خير کا
دا سفر ئې خدای په خير کا

چي نصيب ئې فتح کاندي
کفر لاندي کا دی باندي

حضرت پير ئې بدرګه شه
په دکن ئې تېغ شغله شه

احمدشاه و هند ته تللی
و دکن ته پرې وتلی

تللی دئ، د دين په غم کي
کښېوتلی په تورتم کي

دعا کاندئ يتيماتو
اې عاجزو مسکينانو!

حافظانو قران خوانو!
فاضلانو، زاهدانو!

سحر خيزو، شب بيدارو
اې ظاهر، باطن ديندارو!

اې له خپلي هستۍ تېرو!
اې د عشق په لار دلبرو!

صادقانو، مومنانو!
خصوصاً اې افغانانو!

چي احمد غالب په زور شي
د ملک فتحه ئې هر لور شي

چي کفار له مخه ووزي
په تش خيال ورته پرې ووزي

خدای ئې فتحه و ظفر کړه
په کفار ئې زورور کړه

چي په کفر ئې غوغا وي
په هر ځای ئې حق وغا وي

په هر چا ئې حق ده مرسته
خدای ئې ساته له شکسته

لاس په تېغ کاندئ يارانو!
اې په توره باتورانو!

څوک ئې مرسته په لاس پښو کړي
څوک ئې مرسته په آرزو کړي

د ده مرستهٔ په هر څه کړي
هم په خوله هم ئې په زړه کړي

چيې هر څوک مسلمان وينه
په دي خيال به روان وينه

سته په فتحه به ئې زړه وي
تل دعا به ئې په خوله وي

دين په تا باندي روښان شه
خاطر جمع مومنان شه

لښکريان دي سالم اوسه
درانيان دي غانم اوسه

---

(٦٦) لری = د بری ضد، شکست، ماته، مغلوبيت

رومه جنګ کړه مړنیه
اې خاصه سربنیه!

ـه له توري درمانده یو
په دعا دي استاده یو

ـوږ لښکر ستا د دعا یو
په دعا همیش دا ستا یو

ـحمدشاه درومه زړه وره!
هرګز مه کړه هیڅ خطره

هند فتحه دي نصیب شه
فتحه ځای دي سراندیب شه

ـند له کفره پر فتور شه
د ظلمت له لاسه چور شه

ـښتنې په بند بېبولي
مرهټو په زور نتلي

ستا ورتلو ته انتظار کا
زاري ډېره په باربار کا

د دکن پښتون آرزو کا
آرزو ډېر ستا د ورتلو کا

ـشه، ګدای که د ډهلي دئ
په ورتلو د ستا راضي دئ

چي د هند بزرګان خواص دي
ستا ورتلو ته په اخلاص دي

که سرهند دئ که لاهور دئ
ستا په فتحه سر سرتور دئ

له سکانو چي عذاب دئ
په آزار دا درست پنجاب دئ

پنجاب ډک په شور غوغا دئ
لاس ئې تا ته په دعا دئ

خصوص تا ته دعا ډېره
صبح و شام که تر حد تېره

په اسرارو کي ماهر
حضرت جي غلام قادر

ستا د فتحي په غوښتو دئ
په آرزو ستا د ورتلو دئ

هر ساعت به ئې لاسونه
ستا د فتحي په لار وونه

په زاري به ئې وي خدایه!
د هر چا مشکل کشایه!

زر دا نمر له پاسه ځایه
راولـه کښته ئې بیایه

چي په هند نزول برسات دئ
د رحمت په ځای آفات دئ

په دهشت د ده، له ورایه
تښتوه کفر له ځایه

په دکن ئې تیغ برېښنا کا
په چا شیه، په چا رڼا کا

دا پادشاه چي ذوالادب دئ
ناست د شرعي په منصب دئ

هسي شان په بري ستا دئ
خوش خرم په فتحه ستا دئ

چي دا نمر له قبلې وراکړه
د توبې ور په ده واکړه

دا مغرب په تا مشرق دئ
هر وطن په تا مشفق دئ

چي په فتحه اشارت دئ
اول شاه ولایت دئ

په تمام جهان سوره شوه[67]
پس وعده شاید پوره شوه

چي د دین رونق دا شان دئ
په جهان کي نور تابان دئ

---

(67) سوره = ناره، چیغه، چغه

دی شاید مقدمه وي
د مهدي عجب تحفه وي

او دستور دي دا رنگ وينه
چي نمر مخ کي نور لرين

درومه نن ورځ بې وسواسه
کفر کاږه له اسا

هسې نقل مي تر گوش دئ
چي ويلی چا ذی هوش د

چي مهم د هندوستان و
په "محمود" دغه فرمان و[68]

له محموده چي وشنه
باقي ستا په ميراث شن

تول د دين په پيروي ئې
په ځان سد احمدي ئې

ده مړانه ستا مشهوره
هم دي برق ده تشه توره

سرحلقه په دې زمان ئې
ښه تحفه د دين ايمان ئې

د مهدي ته سرکلام ئې
ښه رونق د دين اسلام ئې

په کفارو هيبت ناک شې
د غزا په لار چالاک شې

تل حامي د اسلام اوسې
تر قيامته قيام اوسې

په دنيا کي تل سر اوسې
په عقبی هم بهتر اوسې

له تا سر اخيسته خيال
د هيچا مه شه مجال

اکثر خلک په دعا ستا دي
مخامخ هم پسي شاه دي

خصوصاً ابن منير زه
زخمي ستا د ننگ په تير زه

هر ساعت درته دعا کړم
ستا د فتحي تمنا کړم

ته مي خيال په زړه درون ئې
تمام پوزه د پښتون ئې

ته ئې سر د پادشاهانو
ننگيالی د افغانانو

ننگيالی د دين سلطان ئې
نن په دين کي پهلوان ئې

سر په پای د پاک رسول ئې
تل په خيال د ده مشغول ئې

درست په خيال د ده فاني ئې
هم په ده جاوداني ئې

په تمام جسم د ده ئې
رسم اسم هم د ده ئې

چي په ننگ د ده جليل شوې
تمامي په ده بديل شوې

ستا په ذات جلوه د ده شوه
نامه ستا، نامه د ده شوه

چي په نام ئې ملازم ئې
خود په ذات د ده قايم ئې

چي ظاهر خود محمد شه
نوم دا ستا مشهور احمد شه

چي احمد وي خود به شاه وي
په جهان کي به پيشوا وي

چي مرفوع په دې عنوان شه
خود موضوع احمد سلطان شه

---

[68] مطلب د غزني فاتح يمين الدوله غازي سلطان محمود رحمة الله عليه (۳۸۷-۴۲۱ ه ق) دئ، چي په (۴۱۶ ه. ق.) کال ئې د هندوستان په گجرات کي د سومناتهـ لويه سوبه روزي سوې وه، دی ختيځ لور ته تر قنوجه پر مخ تللی و، چي د گنگا د مشهور سيند پر غاړه واقع دئ.

نومونو نوم ئې سر دئ — په نومونو کي بهتر دئ
ه نومونو کي عجب دئ — له لفظينو مرکب دئ
ل جز ئې رفيع شان دئ — چي خود دال په درست امکان دئ
ي اول په امکان دال شه — د شاهي شان ئې پامال شه
ي دي دی تمام مقصود شه — ستا وجود د ده وجود شه
رته ته، چرته دي ځان دئ — سر په سر هغه تاوان دئ
ي د زړه مي اشتغال دئ — اول ستا د دعا خيال دئ
ي مي ځان خپل ته دعا ده — دعا ستا دعا زما ده
ي احمد پادشاه د دين وي — خود تازه به رکن الدين وي

د ابن منير دا مثنوي د مناقب غوثيه په پای (۵۶-۵۷ مخونو) کي کښلې ده، دغه خطي
نخه د پيښور د پښتو اکاډيمۍ په کتابتون کي خوندي ده، خو احمدشاهي مثنوي ئې د پښتو
حمدشاهي شهنامې په پای کي چاپ سوې ده.

ابن منير د خپل يو بل کتاب "قانون القرائت" په سريزه کي هم د غازي لوی احمدشاه
با رحمة الله عليه په باب ثنا او دعا لري، دا ستاينه ابن منير د پاني پت تر مشهوري سوبي وروسته داسي
ړې ده:

په حساب کي دري او يا زر سل کلونه — د هجرت په دا وخت واوره پوره وونه
ثه خو سپک مي له خاطره فکر زور که — پادشاهي د احمدشاه په دکن شور که
لکه باز په غوټه ورغی له پاسه — مکافات ئې يو په سل واخيست له لاسه
په مثال د رعد و برق پرې غړهار شه — د کفارو په ځان تندر، کندهار شه
خبر نه ئې، په ډېر ننګ د دين په پت — کافران ئې کړه لت پت په پاني پت(٦٩)
بې مهينې، بې روزينې، بې مواجبه — زې ګڼمه پخپل ځان د عا واجبه
ننګيالی دئ د اسلام په کار پښتون — ځکه ښکمه په دعا د ده متون

---

(٦٩) لکه د سلطان محمود غازي رحمة الله عليه کارنامه، چي د سومناته فتحه او د عثماني سلطان محمد خان فاتح کارنامه،
ي د قسطنطنيې نيول دي، دغه راز د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه غازي کارنامه د پاني پت په ميدان کي د مرهټو د جبار
و طاغي قوت ماتول دي. د پاني پت غټه سوبه د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د څلورمي خور په شپږمه (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ع)
غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه او پښتنو په برخه سوې ده. مير غلام محمد غبار چي په افغانستان در مسير تاريخ
۲۶۹ مخ) او احمدشاه بابا (۲۷۴ مخ) کي د پاني پت د لويي سوبي ورځ (۱۶ جولای ۱۷۶۱ع.) ښوولې ده، څرګنده
ېروتنه ده. څېړونکي بايد دغي تېروتني ته ځير وي. مير ذکا د دغي سوبي تاريخي ماده "غنيم پامال" موندلې ده،
ي د جمل په حساب ۱۱۷۴ ځني راوزي او يوه پښتانه د دغي لويي سوبي تاريخي ماده داسي موندلې ده:

چي کاږي "سه" وايي به دا: — " رحمت دي وي پر احمدشاه"
۶۵ — ۱۲۳۹

"سه" په ابجد حساب ۶۵ کيږي، د "کاږی" په حکم چي ۶۵ له ۱۲۳۹ څخه وايستل سي ۱۱۷۴ پاتېږي.

سـرېـن دئ درانـی پـه جـنـګ زمـری   د کـرېـي پـه بـاب دعـا کـوي غـوری
خدای دي ورکا زيات توفيق د عدل و داد   خالق، خلق اوسـه له ده راضـي دل شـاد

د ابن منير دا ثنا او دعا د مهيني، روزيني او مواجبو په هيله نه ده او نه ده د لوی احمدشاه بابا غازي رحمة الله عليه له حضوره دغه امتيازات موندلي دي، ابن منير فقط د دين د ننګي په خاطر مسلمانان او په تېره بيا پښتانه د ده دعا ته رابولي او د ده له پاره د خدای جل جلاله له لويه درباره ښخه بری غواړي.

د درباري شاعرانو ستايني د "احسنه اکذبه" له مقولې ښخه وي، دوی په دې پسي نه ګرزي، چي د دوی وينا حقيقت ته څومره نژدېکت لري، دوی په خپل ممدوح پوري هغه صفتونه نښلوي، چي په هغه کي ئې څرک هم نه وي، دوی د حسن بيان او لطف ادا په ښکار پسي د فکر بازهري خوا ته الوزوي. مبالغې هغه اوج ته رسوي، چي دده ممدوح د طبيعت ترخند (دايرې) باسي، له دغه امله نو ما نه غوښتل، چي زموږ د ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په باب د درباري شاعرانو ستايني هم په دغه اثر کي راټولي کړم، خو د "خذ ما صفا اودع ما کدر" مقولې دې ته اړ ايستلم، چي څو هغه ستايني دلته راوړم، چي د بېغرضو، بې تمو او بې لوڅو شاعرانو او ليکوالو شعرونه او ليکني هم د هغو ستاينو ملاتړ کوي:

په (۱۱۷۷ هـ. ق.) کال چي د لاش د کلا ودانۍ سر ته ورسېدله، ميرزا سيد عبد الهادي خان عشرت د دغي ودانۍ له پاره يوه قطعه نظم کړې او په هغه کي ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه عدل داسي ستايلی دئ:

بـدوران احـمـد شـه نـيـک بـخـت   کـه شـاهـی شـرف يـافـت از نـام او
خـديـوی کـه بـر درګـهـش بـنـدګـی   سـلاطـيـن عـالـم کـنـنـد آرزو
ګـرفـتـه ز ګـلـزار عـدلـش جـهـان   بـسـان بـهـشـت بـريـن رنـګ و بـو
شـهـی آنـکـه از پـنـجـه مـعـدلـت   کـنـد چـاک دلـهـا سـراسـر رفـو
کـنـد مـومـيـائي عـدلـش درسـت   اګـر رنـګ بـيـنـد شـکـسـتـی بـرو

په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ډهلي ونيوه، نوموړي ميرزا عبد الهادي خان عشرت ئې فتحنامه داسي ويلې ده:

چـو عـزم کـشـور هـنـدوسـتـان کـرد   شـهـنـشـاه جـهـان بـا عـون و تـائـيـد
ز دارايـی قـد بـخـت رسـايـش   بـدسـت قـدرت حق جـامـه پـوشـيـد
بـهـر ګـامـی کـه زد يـکـران عـزمـش   زمـيـن از مـقـدمـش بـر خـويـش بـاليـد
کشـيـد از بـهـر تـسـخـيـر جـهـان تـيـغ   ګـرفـت آفـاق را مـانـنـد خـورشـيـد
چـو تـيـغـش شـد عـلـم چـرخ مـقـرنـس   ز بـيـم او شـکـم بـر خـويـش دزديـد
بـچـوګـان خـم شـمـشـيـر عـزمـش   سـران سـر کـشـان چـون ګـوی غـلـطـيـد

چو رو آورد افواجش به پیکار ‌‌ ‌ سپاه دشمن از یک حمله پاشید
بدشمن برق تیغش پرتو افگند ‌ ‌ چو آتش دید مو بر خویش پیچید
چو نور دین احمد تافت بر هند ‌ ‌ جهان پاک از ظلام کفر گردید
هزاران فتنه بیدار ازین فتح ‌ ‌ بعالم همچو چشم مست خوابید
چو بگرفت آن ممالک تیغ تیزش ‌ ‌ به "عالمگیر" احسان کرد بخشید
از آن فتح نمایان قیصر روم ‌ ‌ بفکر خویشتن افتاد و لرزید
چو عشرت شد انیس طبع شاهان ‌ ‌ مشو عشرت ازین درگاه نومید
ز شاخ خامه کن گلچین مطلب ‌ ‌ پی تاریخ فتحش دست امید
بگو آنگه ز روی دولت و جاه ‌ ‌ ز فتح هند عالمگیر گردید (٧٠)

ملا عبد الله پوپلزي د فتاوٰی احمد شاهي ليکوال، چې د غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په امر ئې دغه فتاوٰی جوړه کړې ده، د کتاب د تصنيف سبب داسي بيانوي:

د دې وخت پاچا سني دئ ‌ ‌ په مذهب کي حنفي دئ
هم په توره بهادر دئ ‌ ‌ په دې کار بې بها، در دئ
دين هرگوره ډېر تاريک و ‌ ‌ دغه مزی ډېر باريک و
ده د نمر په شان روښان کړ ‌ ‌ ده محکم په څو څو شان کړ
حرصې ډېر د دين په کار دئ ‌ ‌ ذوقې ډېر د دې روزگار دئ
دا ئې وفرمايل ما ته ‌ ‌ چې يو امر کوم تا ته
ما وې وايه: "ای پادشاه! ‌ ‌ زما شاهه دين پناه!
اې دليله د ادلو ‌ ‌ اې جليله د اجلو
خوله ده ستا حقه د درو ‌ ‌ ځار شه در ستا تر خبرو
ته پادشاه در دران ئې ‌ ‌ عالي رأيه عالي شان ئې
هر هغه چې ستا خطاب دئ ‌ ‌ هغه واړه په صواب دئ"
وې ئې: "ډېر مين پر دين يم ‌ ‌ د افغان په کار غمگين يم
دا کتاب ورته پښتو کړه ‌ ‌ په تا حکم کوم، هو کړه"

---

(٧٠) "ز فتح هند عالمگير گرديد" ١١۶٣، ابجدي ارزښت لري، د تکملې په عمليه بايد د "دولت" کلمې دال او د "جاه" کلمې جيم، چې د دواړو ابجدي ارزښت اووه دئ، پر ١١۶٣ زيات کړل سي، چې ١١٧٠ ځني جوړ سي. په دغه معما کي له روی کلمې څخه مراد د دولت او جاه کلمو د سر توري دي.

(د هراتي سيد جونگ [قلمي])

لوی احمد شاه بابا رحمه الله په دغه پلا د (١١٧٠ هـ. ق.) کال د دريمې خورد مياشتي پر اوومه د ډهلي ښار ته ننوتلی دئ، دغه ورځ د (١٧٥٧ع.) کال د جنوري د مياشتي له اته ويشتمې سره برابره ده.

ما وې: "هر چي ستا مأمول دئ   په لېمو زما قبول دئ"

❁❁❁

مسمٰی په عبد الله یم   دعا ګوی د خپل پادشاه یم
خدایه! عمر د ده ډېر کړې   دښمنان ئې واړه زېر کړې
په صورت ئې تندرست کړې   غلیماني واړه سست کړې

❁❁❁

حافظ ګل محمد مرغزي رحمة الله علیه (۱۱۲٦ هـ. ق. زوکړی) که څه هم پښتو شهنامه د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حکم لیکلې ده، مګر دا عارف شاعر چي د څمکنو د میا عمر رحمة الله علیه (۱۱۹۰ هـ. ق. مړ) صاحب مرید او د ځینو په قول خلیفه و، د خپلي انصاف پسندۍ په برکت له بې ځایو او بې حقیقتو مبالغو څخه خوندي پاته سوی دئ او د ده دا خبره ئې رشتیا کړې ده، چي ویلي ئې دي:

شعر غه دئ چي درد خیز وي   په رموز د عشق آمیز وي

❁❁❁

نه چي وي پکښې دروغ   د دروغ نشته فروغ

❁❁❁

مخامخ چي څوک که مدحه   په باطن که ګویا ذبحه
روبرو مه کړه ثنا   د تزویر مه ږده بنا
که عادت دئ د عوام   خوشالي که پرې انام
ته ئې وکړه په انصاف   که ئې ډېر په زړه کي صاف
شعر مه کوه په طمعه   ګداز مه شه لکه شمعه[٧١]

حافظ مرغزي رحمة الله علیه په شهنامه کي غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته د خطاب په صیغه وایي:

ته غریب یتیم نواز ئې   په کرم صاحب د راز ئې
په ژړا د بېنوا   د احسان لرې دوا
په اعزاز د علما ئې   په بلند پایه سما ئې
نظر ستا دئ پر ګدا   چي خپل عجز که ادا
ته رفیق د نیکو کار ئې   له فاسقه تل وېزار ئې
په تا فخر که جهان   خصوصاً تمام افغان
په تا ناز کاندي اسلام   خوشالي که ستا په نام

---

[٧١] وګ: شهنامه احمدشاه ابدالي، د پېښور (۱۹٦۵ع.) چاپ.

په درګاه کې د الله ... که قبول شي زما آه
که مې خواست کې رب قبول ... په حرمت د پاک رسول
ستا جوغه اوسه مدام ... مطالب دي سه په دام
تمام ملک په تا روښان شه ... لکه لمر په دا جهان شه
مبارک دي تاج افسر شه ... په سایه دي هفت کشور شه
که مطلب لرې مضمر ... دعا کړمه په سحر
له عدم شه پر وجود ... چې ستا وي په کې بهبود

خانعلوم محمد غوث د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د الفنامې د شرحې په سریزه کې ویلي دي:
"وایي فقیر پر تقصیر، چې مخاطب دئ په خانعلوم سره له جناب د پادشاه آخر الزمن، چې ملقب دئ له عالم غیبه په شاه دران سره:

صدمه ئې صدمه د لویو غرونو ده ... لطمه ئې لطمه د لویو دریابونو ده
شاهان د زمکي که په ډېر شوکت کې دي ... زمور له شاهه کل په هیبت کې دي
صاحب د جود دئ، هم د کرم دئ ... په پادشاهانو کې محتشم دئ
که شاهان واړه دي د اسمان ستوري ... دی پکي نمر دئ انوار ترې اوري"[۷۲]

د تاریخ احمد شاهي د مولف منشي محمود الحسیني زوی، محمد اسماعیل جامي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په ستاینه کې ویلي دي:

پادشاه در دران خسرو آفاق گیر
آن سمی احمد مرسل حبیب کردگار
گوهر بحر فتوت اختر برج شرف
شاه شاهان جهان احمد شه والا تبار
بود در اسلام چون صدیق اکبر در جهان
در عدالت مانده چون فاروق اعظم یادگار
در حیا و شرم بوده مثل ذی النورین او
در سخا و در شجاعت همچو شیر کردگار
با وجود اشتغال اندر امور سلطنت
می نمود اوقات صرف طاعت پروردگار
ذکر حق می کرد در خلوت و جلوت پادشاه
بود دایم در حضر هم در سفر شب زنده دار

---

(۷۲) وګ: د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرحه، دوهم مخ، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.

کس ندیده کرده باشد او تهجد را قضا
زانکه بود آن شاه صاحب دل در ایمان استوار
بدعت شاهان سابق شد بعهدش بر طرف
خمر خانه با فواحش هم بیوتات قمار
کورنش را در زمان دولتش فرمود منع
چونکه این فعل است مخصوص نماز کردگار
پوست تخت و دلق درویشی و تاج سلطنت
داشتی در عهد خود شمشیر را با سبحه یار
هیچ کاری را نمی شد مرتکب بی حکم شرع
می نمودی احتراز از هر حرام آن شهریار
با هنود و با فرنگی سال ها شمشیر زد
داد قوت دین حق را آن خدیو بختیار
خلق همه آسوده شد در عهد آن جنت مکان
زانکه بود او سایه ای از رحمت پروردگار
خوان روزی پهن کردی آسمان در دور او
تا نماند خلق را بر دل غمی از روزگار
بود حکم او ز حد چین و ماچین تا دکن
بسته در خدمت کمر ایران و توران استوار
پادشاه ملک هندوستان نمودی بندگي
تاج بخشی کرد در ایران و هند آن شهریار
والیان کشور توران و دیگر مملکت
می نمودند از صدور حکمها بس افتخار
می رسیدند ایلچیان از کشور روم فرنگ
دایم از بهر خوشامد نزد آن گیتی مدار
در زمان دولت او کبک با شهباز زام
بود گرگ از عدل شه با میش دایم سازگار
پادشاه نیکنامی مثل او عالم نداشت
نام نیکش ماند در عالم همیشه یادگار
کی تواند خامه کردن شرح وصف کشف او
بود در ظاهر و در باطن ولی آن شهریار

او د کشف و کرامت تښتن ئې ښيي، د دغه شاعر پلار هم پخپل کتاب "تاريخ احمد شاهي" کې د غازي بابا رحمة الله عليه څو کرامته راوړي دي، چې يو له هغو څخه د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور په اتلسمه د سيلونو په طغياني حالت کې له مست او باداسکي وهونکي جمنا څخه د پښتنو لښکرو پوري ايستل دي. د دې پېښې تفصيل منشي محمود الحسيني داسې راوړی دئ:

بدرگاه خاقان کشور کشا — چو گردید معروض این ماجرا
سپه را پی هم روان یکسره — سوی باگپت کرد از شه دره
پس آن گاه با شوکت و فر و شان — روان گشت خود نیز در آن مکان
قشون را بدریا ز بهر عبور — چو بودست تشخیص معبر ضرور
فگندند در آب افیال را — به بینند تا صورت حال را
ز بس بود دریا پر از جزر و مد — نمی داد در هیچ جا آب قد
چو شد شاه را عرض این سرگذشت — که افیال را آب از سر گذشت
کشوده زبان کرامت بیان — چنین کرد ارشاد با بندگان
کزین مه چو تاریخ شد چارده — بحکم خدا میدهد آب ره
درآن روز افواج نصرت اثر — نمایند آسان ز دریا گذر
شنیدند چون بنده گان این سخن — ز فرمان روای زمین و زمن
تعجب کنان در تفکر شدند — همه غرق بحر تحیر شدند
نمودند با یکدیگر گفتگو — که این حکم را کرد شاه از چه رو؟
هنوز اندرین ملک این داب نیست — زمان فرو رفتن آب نیست
عبور چنین لشکر بیعدد — درین وقت بسیار مشکل بود
مگر موسی از غیب گردد دلیل — که تا بگذرانند ازین رود نیل
بهم داشتند این چنین قیل و قال — فرو رفته در فکر امر محال
همی کرد گوش این سوال و جواب — جوابی نمی داد مالک رقاب
که تا روز موعود آمد پدید — ز ایام مه، چارده در رسید
سحرگه روان شد چو سلطان مهر — برای عبور محیط سپهر
شه آبرو بخش دریا نوال — نشسته بر، ایرش بر عز و جلال
چو ابر کرم رو بدریا نمود — سوی آب چشم تعمق کشود
درآن ماهی چند شد آشکار — که بودند بر صورت شکل مار
پی هم نخستین زد از شست صاف — بران ماهیان تیر خارا شکاف
پس از صید ماهی و بعد از شکار — بفرمود کاین جاست جای گذار
بفرمان اشرف شنا آوران — شدند از برای تفحص روان
بجایی که ایما شد از شهریار — مشخص نمودند راه گذار
چو معبر عیان شد باقبال شاه — ز دریا گذر کرد خیل و سپاه

باسانی از آب آن رود گذشت — (تو) گویی که دریا بدل شد بدشت
چون این کشف بر خلق شد آشکار — ز شاه جهان خسرو کامگار
بروشن ضمیران صافی نژاد — ازین خرق عادت فزود اعتقاد
نمودند از باطن پاک و صاف — بکشف و کرامات شه اعتراف
قدم در طریق ارادت زدند — بدل طالب حسن خدمت شدند
هنود سیه روز هندوستان — که در تیره گی گشته گم قلب شان
چو فرعون و قومش ز خبط و جنون — شمردند از قسم سحر و فسون
کسی را که ابلیس گمره کند — دم از طعن و انکار پاکان زند
ازل تا ابد خوار و گمره بود — گرفتار من یضل الله بود
اگر بیند او معجزات رسول — کشاید زبان را بحرف فضول
درین عصر خاقان فرمان روا — بود بر زمین نائب مصطفی
جهان شد چو خورشید ازو پر ز نور — چه نقصان نه بیند اگر چشم کور
خدایا ازین شاه دنیا و دین — بود تا سپهر زمان و زمین
چراغ هدایت فروزنده دار — دل اهل اسلام تابنده دار[۷۳]

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د کراماتو په باب د ده په زمانه کي یو کتاب کښل سوی دئ، چي "کرامات احمدشاه" نومیږي، په دغه کتاب کي د غازي بابا رحمة الله علیه ډېر کرامتونه کښلي دي، یو له هغو څخه دا دئ:

"بعد از مراجعت سفر هندوستان قریب بدریای اتک خبر رسید که یکي از فرزندان عالیجاه وزیر اعظم و دستور معظم رخت هستي از سر منزل دنیا بربسته روانه عالم بقا گردیده از آنجا که نائره آتش محبت فرزند برق افگن خرمن صبر و شکیب است بی طاقت گردید.

بعض از مقربان بارگاه صورت این واقع را بعرض معتکفان پایه سریر خلافت مصر اعلی رسانیده که شاید ریزش تقاطر ابر نیسان مرحمت که شامل حال مزارع خاص و عام است، لمحه‌ای باطن فیض مواطن اقدس متوجه احوال عالی جاه وزیر اعظم گشته زورق وجودش از گرداب ماتم رهاند، شاه والا جاه وزیر اعظم را بحضور طلبیده بلفظ گهربار ارشاد فرمودند:

مخلوق خدا را چاره جز تسلیم برضای درگاه واحد یکتا نیست چنانچه فرزند دلبند ما نیز که در مشهد مقدس بود، سه روز شده که رهنورد سفر آخرت گردیده .... (باید) دست استمداد بدامن صبر و شکیبایی زده، امور خود را بخالق خود گذاشته طوطی زبانرا بنوای خوش ادای شکر جناب باری تعالی مترنم داریم.

عالیجاه معظم له عرض نمود:

---

(۷۳) وګ: د تاریخ احمدشاهي دوهم ټوک، ۹۳۴–۹۳۷ مخونه، د ماسکو (۱۹۷۴ع.) چاپ.

خدا نکند حق تعالی بر عمر و دولت اقدس و شاهزادگان کامگار بیفزاید.

چون در آنوقت شاهزادگان عالیمقدار و سایر عاکفان حرم محترم علیه در ارض مقدس تشریف داشتند و بسبب انقلاب ایام طائر خیال را راه آمد و شد آن ولایت میسر بود، که خبري به حیز وقوع برسد، این گفتگوی حیرت افزای خاطر عالیجاه مشار الیه گردید که از مشهد مقدس در عرض سه روز چه قسم خبر بخدمت اشرف رسیده، تاریخ آن سخن را بر صفحه کاغذي نوشته همواره منتظر صدق و کذب این خبر می بود، تا اینکه بعد از چند ماه عرایض متواتر از نوباوه گان حدیقه سلطنت رسید و تاریخ فوت شهزاده عالم و عالمیان، مطابق تاریخی که وزیر صاحب تدبیر به خامه تحریر درآورده بود بسمت ظهور پذیرفت".

قاضي عاقل محمد خان چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په امر، په طب کي یو لوی کتاب تالیف کړی دئ "بحر الفوائد و درر الفرائد احمدشاهي" نومېږي، نوموړي قاضي صاحب په مقدمه کي د خپل مشوق نوم په دومره ادب او له دغو صفاتو سره بیانوي:

"مروج دین مبین سید المرسلین، محبی آثار سنت خلفای راشدین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین حامی قوانین ملک و ملت و ماحی قواعد ظلم و بدعت همنام سرور دو جهان، سمی نبی آخر الزمان امام الاعدل الاعلم الاکرم، افتخار سلاطین العرب والعجم ..... احمد شاه پادشاه غازی در درانی خلد الله ملکه و سلطانه".

قاضي صاحب د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه علم دوستي او عالم پروري داسي بیانوي:

"در پرتو شعاع او (احمدشاه) ذرات عالم حیات تازه و نشاط بی اندازه یافته بحکم الناس علی دین ملوکهم هر یک در تحصیل علوم و کمالات کوشیده و رواج و رونق علم و علما بدرجه علیا رسیده .... مراحم شاهانه و اشفاق خسروانه بفرقه علما و فضلا در مجلس خاص و محفل اختصاص مبذول است ....".

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د زمانې یوه ایراني شیعه مذهبه مولف رستم الحکما محمد هاشم(۷۴) د رستم التواریخ په ۲۳۳ مخ کي لیکلي دي:

احمد شاه درانی د علم، فضل او کمال تښتن و، د صورت او سیرت ښکلا ئې پخپله زمانه کي ساری نه درلود، په شعر ډېر ښه پوهېد، حلم او حوصله ئې خورا ډېره وه، د ده د حلم او ځوانمردی په باب سید حسن صفوي نکل کاوه:

"په (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال زه څو ورځي په کندهار کي د احمدشاه دراني مېلمه وم، یوه هرکاره (جاسوس) حال راوړی و، چي په قاین کي یوه شیعه شاعر په یوه نظم کي د شیخینو (حضرت ابوبکر صدیق او حضرت عمر رضي الله عنهما)، د اهل سنتو د نورو مشرانو، پخپله د احمدشاه (دراني) او د

---

(۷۴) رستم الحکما محمد هاشم د میر حسن خوش حکایت زوی او د میر شمس الدین محمد کارخانه اقاسي لمسی دئ، گرگین چي په (۱۱۱۴ هـ. ق.) کال د شاه حسین صفوي له خوا د کندهار نائب وټاکه سو، میر شمس الدین د مستوفی په توگه ورسره و، د دغه شمس الدین مستوفي نیکه گنجعلي خان له (۱۰۳۱) څخه تر (۱۰۳۴هـ. ق.) کاله پوري د فارس د صفوي پاچا لومړي شاه عباس (۹۹۶-۱۰۳۸هق) له خوا د کندهار حاکم و.

ده د کورنۍ ډېره سخته غندنه کړې ده او دوی ټولو ته ئې خورا رد و بد ویلي دي. د خدای ﷻ پېښي دي، زه د احمدشاه په دربار کي حاضر وم، چي هغه هجوه ویونکی شاعر ئې د ده دربار ته راوست. پښتانه پاچا ورته وویل:

"هغه هجوه ووایه!"

د دې حکم په اورېدلو سره د شاعر غړي وتښتېدل او غوزار سو، د دربار سپاهیانو راپورته کړ، احمدشاه ورته وویل:

"پر هجوه دي نه وژنم، که دي شعر ادبي ارزښت درلود، انعام به هم درکړم".

د دې خبري په اورېدلو په شاعر کي ساه وچوښېدله او خپله هجویه قصیده ئې وویله. احمدشاه په شعر ښه پوهېد، ادبي ذوق ئې درلود، د شاعر قصیده چي ئې واورېده، د هغې ادبي ارزښت ئې وستایه، شاباسی ئې ورته ووایه، پر خلات سربېره ئې سل تومنه روپۍ (؟) هم ور وبخښلې. تر دغو نازولو وروسته ئې له شاعر څخه پوښتنه وکړله:

"زه و ته خو د یوې زمانې خلګ یو، تا چي زما او زما د کورنۍ په باب څه رد و بد ویلي دي، اورېدلي به دي وي، هر څوک دښمنان لري او بد پسي وایي، مګر د خلفای راشدینو له زمانې څخه یو زر و یو سل و څو کاله تېر سوي دي، ته د هغه په بدیو څنګه خبر سوې؟"

شاعر له شرمندګۍ څخه سر کښته واچاوه او هیڅ ئې ورته ونه ویل.

احمدشاه ورته وویل:

"د خدای ﷻ لعنت دي پر تا وي، د شیخینو د ښکنځلو ایداد دي خدای ﷻ درکړي".

پسله دې عادل او حلیم احمدشاه، شاعر یوه سپاهي ته وسپاره، چي خوندي ئې قاین ته ورسوي او د قاین له حاکمه څخه ئې د رسېدلو خط راوړي[٧٥].

عربان وایي: "الفضل ما شهدت به الاعدأ"، یعني هغه فضیلت چي دښمنان شاهدي ورکړي، رښتیاني فضیلت دئ.

زه اوس د دې بحث په پای کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زمانې د یوه هندو "پنډت کاشي راو" هغه بیان رانقلوم[٧٦]، چي په "بهاو نامه" کي ئې د یوه عیني شاهد په توګه کښلی دئ[٧٧]:

"شاه شاهان (احمدشاه) تهجد گذار بودند و با دل بیدار ثلثی از شب مانده، به تادیه وظایف و صلوة قیام داشت".

---

[٧٥] بنایي دغه هجوه کوونکی شاعر میرزا علي اکبر بمرودي وي (؟).

[٧٦] پنډت کاشي راو څلوېښت کاله د "اوده" په دربار کي منشي و، له شجاع الدوله (١١٦٧–١١٨٨ ه ق) سره د پاني پت په لویه غزا کي مل و، د خپلو سترګو لیدلي حالات او پېښي ئې په بهاو نامه کي کښلي وې.
(وګ: بهاونامه، ١٩٤مخ)

[٧٧] د بهاو نامې لنډیز د عماد السعادت په پای کي چاپ سوی دئ، انګرېزي ژباړه ئې "Jems Brown" (د ډهلي انګرېز ریزیډنټ) کړېده او د "An Account of the Battle of Panipat" په نامه د کلکتې د آسیایي تحقیقاتو په دریېم ټوک کي (له ٩١ مخه څخه تر ١٤٠ مخه پوري) په (١٧٩٢ ع.) کال لومړی وار چاپ سوې ده.

ه:
شهنشاه احمد شاه د تهجد لمونځ کاوه، د شپې په وروستۍ دریمه کې به ویښ و لمونځونه ظیفې ئې کولې.

نو موړي کاشي راو د دغه کتاب په بل ځای کې لیکلي دي:

"شاه جم جاه دل آگاهی داشت، با عفت و تقوی ربط کلی داشت و اکثراً اعمال از بزرگان دین ب کرده بود"(۷۸).

ړه:
احمد شاه ابدالي صاحبدله سړی و عفت او تقوی ئې زیاته وه، په زیاترو کارو کې ئې د دین زرګانو پیروي کوله.

احمد شاه بابا د شخصیت په اړه وروستني روایتونه:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دئ　　د بې ننګه ژوند جفا ده
لاس به وا نخلم له ننګه　　که پر ننګ پاته دنیا ده

(احمد شاه بابا رحمه الله)

د عماد السعادت او نګارنامه هند مولف غلام علي نقوي لکهنوي (۱۱۹۲ هـ ق زوکړی) په عماد السعادت کې(۷۹) کښلي دي:

"شاه والا جاه شاه شاهان احمد شاه ابدالی مرد میدان و صاحب عزم بود. وی مدعی فقر بود و بر پوست می نشست ....".

د سلطان التواریخ مولف زین سنګ زخمي لکهنوي د غلام علي نقوي لیکنه کټ مټ پښپل تاریخ کې داسي نقل کړې ده:

"احمد شاه ابدالي د فقر مدعي و، د تخت پر ځای پر پوستکي کښېناست، د خدای جل جلاله د مخلوق له وینو تویولو څخه ئې ډډه کوله. مرهټې بهاو، چې د دکن لښکري د ده جنګ ته له دکنه راوبهولې، ده په پاني پت کې د زړه سوي له مخې، هغه ته د سولې پیغام ورولېږه، مګر هغه مغرور دکني سپهسالار په جواب کې د ده ایلچي ته وویل:

"احمد شاه که تر کابله پورې ټولې سیمې موږ ته راپرېږدي، سوله به وکړو".

احمد شاه ابدالي چې دا تریخ جواب واروېده، وئې ویل:

"اوس نو په جنګ کې زموږ مسئولیت نسته"(۸۰).

---

(۷۸) وګ: بهاو نامه، ۱۸۸ مخ.
(۷۹) وګ: عماد السعادت، ۷۵، ۷۹، ۴۸ مخونه، د لکهنو (۱۸۹۷ع.) چاپ.
(۸۰) وګ: د خطي سلطان التواریخ ۱۶۴ مخ (د اروانباد استاد بېنوا د کتابتون).

اگر پیل زوري و گر شیر چنگ   به نزدیک من صلح بهتر که جنگ
چو دست از همه حیلتی در گسست   حلال است بردن به شمشیر دست
(بوستان، ۸۲مخ)

حاجي جمعه بارکزی په کندهار کي د ماشور نومي کلي او سېدونکی و، دی په (۱۲۵۹ه.ق.) کال مړ سوی دئ، په پښتو ژبه کي یو دیوان ځني پاته و، چي په (۱۳۶۰ه.ق.) کال د پښتو ټولني (د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ د ادبیاتو د مدیریت) له خوا په کابل کي چاپ سوی دئ.

حاجي جمعه پخپلو اشعارو کي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د "باطن دار" په صفت ستایي. له باطن داره څخه د ده مطلب صاحبدل او د باطني قوت او قبول تنبښتن دئ. د حاجي جمعه هغه بیتونه، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ستاینه پکښي راغلې ده، دا دي:

چي نوبت د احمد شاه سو   مړنی و، باطن دار
پر هر چا باندې نظر و   که غني و که به خوار
سلسله ئې پر جهان وه   په هیبت کي وو کفار
نه پر چا زور و زیاتی و   ملک و تولنه پر قرار
چي رحلت ئې له دنیا کړ   عالمونه سوه په خوار[81]

حاجي جمعه یوازي شاعر نه و، د سلوک او عرفان برخه ئې هم درلوده، دی په نقشبندیه، مجددیه، بنوریه طریقه کي د حضرت میا عبد الکریم حبیب زي پوپلزي رحمة الله علیه مرید و، چي د کندهار په ذاکر نومي کلي کي اوسېد[82]. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د عدل او عرفان په باب د ده روایت یوازي د یوه شاعر حکایت نه دئ، بلکي د یوه داسي سالک او عارف د روایت په سترګه باید ورته وکتل سی، چي ستاینه ئې له هر راز مادي ککړتیا (لوټه) څخه پاکه وه.

افغاني فیلسوف حضرت علامه سید جمال الدین رحمة الله علیه (۱۲۵۴-۱۳۱۴ه.ق.) په خپل کتاب "تتمة البیان فی تاریخ الافغان" (په پارسي ژباړه) کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب داسي کښلي دي:

"این سلطان عظیم الشان (احمدشاه) طوریکه ما بیان کردیم از قبیله سدوزایي بود افغانان قبیله موصوفه را خیلي دوست می داشتند و بدیده اعتماد و اعتقاد به اینان می نگریستند، بعلاوه سلطان مذکور خیلي شجاع، باعزم و حزم، صاحب فکر و تدبیر، خوش خلق، باعفت، عادل، عالم و منصف بود با رعیت برأفت، با عساکر خود برحمت گذاره می فرمود حتی باوجود اختلاف انساب و مسالک رعایا طوری در دل های شان محبت او عموماً و خصوصاً جاگزین بود که اورا

---

(۸۱) وګ: د چاپي دیوان ۱۷۳ مخ او د خطي نسخې ۵۲ مخ.

(۸۲) حضرت میا عبد الکریم رحمة الله علیه د دوهم میا عبد الحکیم کاکړ رحمة الله علیه خلیفه او هغه د پوتي د میا صاحب نور محمد داوي رحمة الله علیه خلیفه، هغه د مناري د میا صاحب نور محمد نورزي رحمة الله علیه خلیفه او هغه د میا صاحب عبد الحکیم کاکړ رحمة الله علیه خلیفه و.

ر گزیدگان خداوند تعالی شماریده، پدر تمام افغانان می پنداشتند و ازین باعث بلقب بابا یاد
کنند و مشار الیه نظام سلطنت خود را باساس محکم و ثابت استوار نموده بود و تا آخر حیات
شکوه و جلال حکومت کرد، علت اساسی ثبات حکومت و سلطنت او حسن حکمت و تدبیر ذاتی
بوده است ....."[83].

عربي ليکوال علامه فريد وجدي په دائرة المعارف قرن العشرين کي د لوی احمدشاه
ا رحمة الله عليه په باب ليکلي دي:

"احمد خان کان افغانی الاصل حکم البلاد بنفسه و اوجد لها من الثروة والرفاهية ما لم تره
ل ذالک و مات سنه ۱۷۷۲ع"[84].

اړه:

احمد خان پښتون و، د خپل ملک پاچا سو، هغه ثروت و رفاهيت ئې د خپل ملک خلګو ته
يا کړ، چي تر دغه پخوا ئې نه و ليدلی. احمدشاه په (۱۷۷۲ع.) کال مړ سو.

نوموړي فريد وجدي د "الدولة العبداليه" تر عنوان لاندي د احمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصيت
باب داسي ليکلي دي:

"احمد (شاه) العبدالي السدوزای کان شجاعاً، حازماً، عادلاً، رحيماً کان الافغانيون
تبرونه اباً شفيقاً لهم فلقبوه ببابا ....".

اړه:

احمدشاه زړه ور، دوراندیش، عادل او زړه سواندی پاچا و، پښتنو دی د خواخوږي پلار په
ان ګاڼه او د بابا لقب ئې ورکړی و.

دولت يار جنګ ميرزا نصر الله خان فدايي په داستان ترکتازان هند (۳۵۸/۴ مخ) کي د پاني
ت د لويي غزا په باب نسبتاً په تفصيل رڼېدلی دئ، په دغه ترڅ کي ده د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه
ه باب داسي ليکلي دي:

"احمدشاه روزي نبود که از بيست فرسنگ کمتر سواري کند، در خوابگاه با افزار جنگ
يخفت .... هميشه يک اسپ زين کرده بر در چادر خوابگاهش بسته بود و فرمانش بر همه
شکريان خويش، چنان روان بود، که هر چه مي فرمود در بجا آوردنش، يک دم ديری دست
ميداد ....".

محمد حيات خان پخپل کتاب "حيات افغاني" کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د نيک شهرت
ه باب دومره ليکلي دي:

"د دغه پاچا (احمدشاه) ډېر ښه او حميده صفات تر اوسه پوري په افغانستان کي مشهور
دي".

---

[83] وګ: حيات سيد جمال الدين افغان، د مولوي محمد امين خوګياني تاليف، (۱۰۶-۱۰۷) مخونه، د کابل (۱۳۱۸
ه.ش.) چاپ.

[84] وګ: د فريد وجدي دائرة المعارف، د افغانستان کلمه، ۱/ ۴۱۶ مخ، دوهم (۱۳۵۶ه.ق.) چاپ.

محمد حیات خان خپل کتاب په (۱۲۸۱ هـ. ق.) کال لیکلی دئ، دا وخت د لوی احمدشا
بابا رحمة الله علیه د مرګ پنځه کم سل کاله تېر سوي وو، خو د احمدشاه د نیکو صفاتو ستاینډلاله خول
نه وه لوېدلې.

قاسمعلي اپرېدي (۱۱۸۳-۱۲۴۱هـ. ق.) ویلي دي:

اوس پیدا په هندوستان شول پرنګي — دا فرقه د نصاراوو ده جنګي
نصارا په هندوستان حکومت کاندي — چیرته لاړل غه شېران ځوانان ننګي

.... — ....

بقالان وه اوس سپاهیان په هندوستان شول — دروېزه کاندي اشراف چونګي چونګي
حیف در حیف دئ چي حرمت د اشراف نشته — په اسلام هسي راغلې ده تنګي
احمدشاه درانی نشته دئ یارانو! — چي پر سر کاندي افسر حبشي زنګي
شاه عالم د قناعت پر حجره کښېناست — که پیدا کا نور اولاد تیمورلنګي

دا غزله ئې د شاه عالم ثاني (۱۱۷۳-۱۲۲۱هـ. ق.) په ژوند ویلې ده.

په تحفة الکرام (د ۱۱۸۱ هق تالیف) کي علیشیر قانع (۱۲۰۳ هق مړ) کښلي دي:

احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي هندوستان ته تلئ، سنده ته چي راغی، د سنده د مشهور ستانه
مخدوم احمد خدایي رحمة الله علیه[٨٥] (۱۲۰۳ هـ. ق. مړ) لیدلو ته ورغی، دعا ئې ځني وغوښتله. د
ښکارپر په ګړي یاسین، میرزان پور، نوآباد، وکړ او حرم کي ئې څه پټي د لنګر له پاره وروبخښل.
(دغه مځکي تر اوسه پوري د مخدوم احمد د لمسیو په لاس کي دي)[٨٦].

د لاهور د "کوه نور" اخبار مدیر مولوي سید محمد حسین اغلب موهاني په (۱۳۱۸هـ.ق.)
کال په خپل کتاب نیرنګ افغان (۲۹ مخ) کي لیکلي دي:

"احمدشاه د شیر سرخ بابا په جرګه کي خپلو رعیتو (د رعیتو مشرانو) پخپله پاچهي وټاکه،
له دغه امله د قام ټول سرداران د ده ملاتړ وو، احمدشاه پخپله هم مستقل مزاجه، هوښیار،
زیارکښه او منصف سړی و، د قامي سردارانو ملاتړ او د ده خپل نیک خویونه د دې سبب سوه، چي
دی د ایشیا یو لوی شهنشاه سي".

د علامه البیروني د "آثار الباقیه عن قرون الخالیه" ژباړونکي او د "تاریخ افغانستان"
مولف، اعتضاد السلطنه علیقلي میرزا ایراني د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په باب پخپل تاریخ
"تاریخ افغانستان" کي (په ۱۲۷۳هـ. ق. کال) لیکلي دي:

"گویند: احمدشاه اصلاً بلهو و لعب و عیش و طرب مایل نبود و با کمال سطوت و
شوکت و شجاعت همواره دم از فقر و فنا میزد، ذکر از کشف و کرامات میکرد و جماعت

---

(٨٥) مخدوم احمد خدایي د مخدوم عبد الرحمان شهید زوی و.
(٨٦) تحفة الکرام، اردو ترجمه، ۴۱۹ مخ.

ن را در زمان حیات و پس از وفات ببزرگی و کرامات وی اعتقاد زیاد است و از یاسای
ت در هنگام سلام و بار عام طبقات انام بجهت احترام سر فرود نیاورند، بلکه دست بر
گذارند ....." (٨٧).

نوموړي اعتضاد السلطنه د خپل تاریخ افغانستان په بل ځای کي لیکلي دي:

"احمدشاه مرد مدبر و از رموز ملک داري باخبر بود ....".

په (١٨٧٠ع.) کال د "Culcutta Review" په (٢/ ٤٠) مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه
باب لیکلي دي:

He (Ahmad Shah) was the best Politician of his time, a man with on instin
for order and discipline, and loyal in word and deed ....

Ahmad Shah still is in all the countries he left to his successor remembere
as a great a wise and a good prince and in his own land and amongst his ow
people he is regarded as the most glorious type of the nation and as the mo
finished model for the ruling.

باره:

احمدشاه پخپله زمانه کي لوی سیاستمدار و، ده د نظم او اداري له پاره غریزي
ستعداد درلود، په وینا او عمل کي صادق او راستکاره و ....

په هغو ټولو ملکو کي، چي ده نیولي او بیا ئې د هغو خاوندانو ته خوشي کړي دي، دی
لوی، هوښیار او ښه پاچا په نامه یادېږي. او پخپل ملک او خپلو خلګو کي د قام د سرلوړو
و خورا سترو په ډول د ده احترام کېږي او دی د حکمرانۍ یوه بشپړه نمونه ګڼله کېږي.

سلطان محمد خان "خالص" بارکزي پخپل کتاب "تاریخ سلطاني" (د ١١٨١ هـ. ق.
تالیف) کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب داسي کښلي دي:

"احمدشاه در اخلاق ثاني نداشت، با کمال حشمت دم از فقر می زد و از کمال علم شایان
تحسین بود و در مورد آفرین، حلمش بمرتبه ای بود، که گویند حین محاصره نیشاپور چون
مردم سپاه تنگدست بغایت بودند باتفاق هم خزانه شاهی را تاراج نمودند، صندوق دار از
بی ادبی سپاه بحضورش استغاثه نمود اما جواب لا و نعم نشنید، لاجرم قدم در مضار
گستاخي نهاد احمدشاه پس از اطلاع اورا توبیخ نموده گفت:

ای ابله نادان! من نیز یکی از ایشانم که باتفاق ایشان و ضرب شمشیر آنان بدین دولت
رسیده ام، چرا اوشان را شریک دولت خود ندانم در هر وقت که اوشان از مال من که در
حقیقت نتیجه همت خود شان است چیزی مطالبه دارند و من ندهم به نزد خالق و خلایق
ملامت خواهم بود".

(٨٧) وګ: د اعتضاد السلطنه تاریخ افغانستان، ٣٧ مخ، د تهران چاپ.
اعتضاد السلطنه علیقلي میرزا قاجاری شهزاده نائب السلطنه د عباس میرزا (١٢٤٩هـ. ق. مړ) زوی او د فارس د
پاچا فتح علیشاه (١٢٥٠هـ. ق. مړ) لمسی و.

خوش آن پادشاهی که چون در گذشت
ازو باز ماند چنین سرگذشت[۸۸]

د پاني پت د سوبې په بحث کې نوموړي خالص ليکلي دي:

"احمد شاه گفت که فتح بدین بزرگی بزور سر پنجه این مشت خاک نه شده است بلکه از مرحمت های یزدان پاک بود که اهل اسلام را از دست کفار سفاک خلاص نمود، الحال شکر ایزد متعال بر تمام اسلام بلکه بر کافه انام فرض و قرض است...."[۸۹].

د افغانستان د پاچا سراج الملت والدين امير حبيب الله خان (۱۳۱۹–۱۳۳۷ هـ. ق.) په پاچهي کې، يو کم نوي کاله پخوا[۹۰] د ده تر پاملرنې لاندې د افغانستان يو تاريخ وليکل سو، چې "سراج التواريخ" نومېږي، د دغه تاريخ د لومړي ټوک په دېرشم مخ کې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د خصلتو په باب داسې کښنلي دي:

"آن پادشاه خلد آرامگاه با حشمت و مکنت سلطنت ضعفاء را هرگز تحقیر نمیکرد و اقویای پارسا را توقیر نموده، زیر دستان زیر دست آزار را توبیخ می نمود و احاد و افراد سپاه را با افسران صاحب جاه مساوی میدید و فعلی که بشریعت مذموم بود به خود و احدی نمی پسندید، در طریقت هم سلک فقرا بود و علما و سادات را نیک پرورش داده اوامر و نواهی الهی را در محل اجرا می نهاد و ستم رسیدگان را بوجه پسندیده داد می داد و همواره در احیای حق و اماته باطل مطابق شریعت غرای محمدی اقدام می نمود و علما و سادات را با فقرا در مجلس خویش بدست راست جای نشستن تعین کرده، اعیان و اشراف را بدست چپ مقرر داشته، برای علما و سادات بقدر کفاف مونت و معیشت وظیفه مقرر گردانیده و دیگر اینکه در تمام عمرش چه در ملازمت و چه در سلطنت مرتکب ملاهی و مناهی نشده پاکی طینت او ضرب المثل افاغنه می باشد. همه علمای ملت گستاخانه (بدون خوف) فتوای احکام شریعت را در حضورش داده معاتب نمی شدند، چنانچه روزی از راه امتحان پارسایی و حقیقت گویی علمای دربار آله از آلات ساز خواسته، بنواختن درآورده شد، ملا ارادت معروف به ملا شاهو و یکی دیگر (از علما) که حاضر بودند از آواز ساز دلگداز گشته از مجلس برخاستند و ملا شاهو زبان حقیقت بیان کشوده بجرئت و جسارت گفت:

ای احمد! این چه کار است که مرتکب گشته ای؟

اعلیحضرت احمد شاه در جواب گفت:

---

[۸۸] وګ: تاريخ سلطاني، ۱۴۷ مخ، د بمبئي (۱۲۹۸ هـ. ق.) چاپ.

[۸۹] وګ: تاريخ سلطاني، ۱۴۲ مخ، د بمبئي (۱۲۹۸ هـ. ق.) چاپ.

[۹۰] د علامه رشاد رحمة الله عليه د دې (د احمدشاهي عصر نوميالي) اثر څخه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په اړه ځيني منتخبات د "پاني پت قهرمان لوی احمدشاه بابا د خلکو په نظر کې" په نامه، د افغانستان د علومو د اکاډيمي له خوا په (۱۳۷۰ هـ. ش.) کال چاپ سوي دي، چې د کتاب د چاپ په وخت کې به دا حساب سهي و.

(علامه رشاد اکاډيمي)

چه میشود و ضرر این کار چیست؟
وی بپاسخ گفت:
همین کلمه ای که گفتی، گویا حرام را حلال شمردی و نتیجه حرام را حلال شمردن کافر شدن
ست. این را گفته قدم به بیرون شدن نهاد.
اعلیحضرت احمد شاه گفت:
مباشر این امرشدن و آن گفتنم برای امتحان پاکدامنی علما بود، نه اینکه حرام را حلال
انستن.
پس ملا ارادت گفت:
حالا که کار امتحان در میان آمد، دیگر حاضر محفل پادشاهي نخواهم شد. چنانچه (ملای
وصوف) در کوه سرخ رفته منزوی گشت...."

شهادتونو او روایتونو په رڼا کي زموږ د زماني قضاوتونه:

مرګی ښه دئ په دنیا کي — نه چي څوک سي بې وفا
سر په تیغ پرېکړی ښه دئ — تر بې پته په دنیا

(احمدشاه بابا رحمة الله عليه)

اروا ښاد قاضي عطاؤ الله خان د پښتنو په تاریخ (۱/ ۱۳۰ مخ) کي د ستر ټولواک لوی
حمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصیت روش، اداري او مېړاني په باب داسي لیکلي دي:
"پادشاه ته په دربار کي تیټېدل او مڅکه مچول هغه شرک ګڼلو او حکم ئې کړی و، هر سړی دي
پادشاه ته نېغ په تندي لاس ږدي او په دې طریقه دي ورته سلام کوي، د حکومت د انتظام له پاره ئې
باقاعده قوانین لرل او نه تش دا چي خلق به ئې د هغه په تعمیل مجبورول بلکي پخپله خپل ځان، ټول
امرا او وزراء، خپل زامن او عزیزان ئې د هغو قوانینو ماتحت ګڼل، د هغه قانون په نفاذ کي به د
ویښته هومره سستي یا بې انصافي هغه ډېر سخت جرم ګڼلو، فوځونو له به ئې تنخواه پخپل مخ کي
ورکوله او د ملک له مالیې نه هغه یوه پیسه د خپلو ذاتي اخراجاتو له پاره نه اخیستله، صرف د
جنګونو په مال غنیمت باندي د هغه او د هغه د کور د خلکو ګذاره وه. د احمدشاه نوم د پاني پت د
فتحي په وجه په تمام ایشیا کي اوچت شو او د پښتنو (د مړاني) نوم بیا د هندوستان په ګوټ ګوټ
کي خور شو. هغه دومره رحمدل و، چي تر څو پوري به د هغه سلطنت په خطره کي نه و، نو د غټو غټو
جرمونو مجرمان چي چا به د هغه پر خلاف څه جرم کړی و هم هغه به نه قتلول. د قبایلو په منځ کي په
اندروني جنګونو کي به هغه د یوه معمولي پښتانه په شان جرګې او روغې کولې، د رعایا د رای عامه
نه به هغه هر وخت ځان پوره واقف ساتلو او د پښتنو له هري قبیلې سره به ئې په ډېري آزادۍ او بې
کبرۍ سلوک او خبري کولې، د پښتنو په ادبیاتو کي هغه د ډېر قابلیت خاوند و، د هغه ډېر شعرونه
تر اوسه پوري د یوه دیوان په شکل موجود دي، د عالمانو فاضلانو او قابلو خلکو هغه ډېر قدر او

خاطر، تواضع کولو او د هغوی د آزادانه رائی به ئې ډېر احترام کولو. په جنګ کې هغه بېشانه د
بهادر او د حوصلې خاوند و او اکثر به ئې میدان جنګ کې د خپل فوج پخپله انتظام کولو، استقلا
د مزاج چې په پښتنو کې کوم بیا موندی شي، په هغه (احمدشاه) کې ډېر زیات موجود و. هیڅ تکلیف
او مصیبت او مشکل به هغه له خپل مقصد نه نشو اړولای".

زموږ د زمانې اسلامي فیلسوف او شاعر علامه اقبال لاهوري (۱۲۸۹هـ ق = ۱۸۷۳ع
۱۳۵۷هـ ق = ۱۹۳۸ع) د ۱۹۳۳ع. کال د اکتوبر په دوه ویشتمه (=۳ رجب ۱۳۵۲هـ ق = ۳۰ میزا
۱۳۱۲هـ ش) د اعلیحضرت محمد نادر شاه غازي رحمة الله علیه (۱۳۰۸-۱۳۱۲هـ ش) په بلنه کابل ت
راغی، څو ورځې چې ئې دلته تیرې کړلې، د غزني له لارې کندهار ته ولاړ او هلته ئې د کندهار پ
ستاینه کې دا بیتونه کندهاریانو ته وړاندې کړل:

قندهار آن کشور مینو سواد — اهل دل را خاک او خاک مراد
رنگها، بوها، هواها، آبها — آبها تابنده چون سیماب ها
لاله ها در خلوت کهسار ها — نارها یخ بسته اندر نار ها
کوی آن شهرست ما را کوی دوست — ساربان بر بند محمل سوی دوست

کله چې د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه زیارت ته ولاړ، هلته ئې د ده قبر ته د خطاب په توګه
دا بیتونه ولوستل:

تربت آن خسرو روشن ضمیر — از ضمیرش ملتی صورت پذیر
گنبد او را حرم داند سپهر — با فروغ از طوف او سیمای مهر
مثل فاتح آن امیر صف شکن(۹۱) — سکه ای زد هم با قلیم سخن
ملتی را داد ذوق جستجو — قدسیان تسبیح خوان بر خاک او
از دل و دست گهر ریزی که داشت — سلطنت ها برد و بی پروا گذاشت
نکته سنج و عارف و شمشیر زن — روح پاکش با من آمد در سخن:
"پیش ما ای آشنای کوی دوست! — یک نفس بنشین که داری بوی دوست
ای خوشا آن کو از خودی آئینه ساخت — و اندران آئینه عالم را شناخت
پیر گردید این زمین و این سپهر — ماه کور از کور چشمی های مهر
گرمئ هنگامه ای می بایدش — تا نخستین رنگ و بو باز آیدش
بنده مومن سرافیلی کند — بانگ او هر کنهه را بر هم زند
ای ترا حق داد جان ناشکیب — تو ز سر ملک و دین داری نصیب
فاش گو، با پور نادر فاش گوی — باطن خود را بظاهر فاش گوی(۹۲)

---

(۹۱) له فاتح څخه مراد د عثماني ترکیې دوهم سلطان محمد خان رحمة الله علیه (۸۵۵-۸۸۶هـ ق) دئ، چې فاتح ئې لقب و.

(۹۲) وګ: مسافر، ۴۱-۴۳ مخونه، د کراچي (۱۹۶۸ع.) چاپ.

علامه اقبال د "حرکت بکاخ سلاطین مشرق" تر عنوان لاندي غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مرد ابدالي په نامه داسي ستايي:

مرد ابدالي وجودش آيتی | داد افغان را اساس ملتی
آن شهیدان محبت را امام | آبروی هند و چین و روم و شام
نامش از خورشید و مه تابنده تر | خاک قبرش از من و تو زنده تر
عشق رازی بود بر صحرا نهاد | تو ندانی، جان چه مشتاقانه داد؟[۹۳]

علامه اقبال په جاوید نامه کي د "ابدالي" تر عنوان لاندي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ملت جوړونه داسي بيانوي:

در نهاد ما تب و تاب از دل است | خاک را بیداری و خواب از دل است
تن ز مرگ دل دگرگون می شود | در مساماتش عرق خون می شود
از فساد دل بدن هیچ است هیچ | دیده بر دل بند، جز بر دل مپیچ
آسیا یک پیکر آب و گل است | ملت افغان در آن پیکر دل است
از فساد او فساد آسیا | در کشاد او کشاد آسیا
تا دل آزاد است آزاد است تن | ورنه کاهی در ره باد است تن
همچو تن پابند آئین است دل | مرده از کین زنده از دین است دل
قوت از مقام وحدت است | وحدت ار مشهود گردد ملت است[۹۴]

علامه اقبال د دغه کتاب په يوه بل ځای کي بيا د "ابدالي" تر عنوان لاندي د غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وطن دوستي او د خپل ملت مينه داسي بيانوي:

آن جوان کو سلطنت ها آفرید | باز در کوه و قفار خود رمید
آتشی در کوهسارش بر فروخت | خوش عیار آمد برون، یا پاک سوخت[۹۵]

په پیام مشرق مجله (د اپریل ۱۹۶۰ع گڼه، ۳۴ مخ) کي د غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په ستاينه کي دا څو اردو بیتونه راغلي دي:

مرحبا اے غازئ جانباز اے شمشیر حق! | آیا اس ظلمت کدے مین بنکے تو تنویر حق
ہند کے ہر ذرہ مین کندہ تیرا افسانہ ھے | تیرے دم سے غیرت فردوس یہ ویرانہ ھے
بادۂ توحید سے پر، تیرے دل کا جام تھا | تیرا ساقی مصطفی تھا میکدہ اسلام تھا
ہوگئین خم تیرے آگے گردنین اصنام کی | بن گئے پیک قضا جنبش تری صمصام کی

---

(۹۳) وګ: جاوید نامه، ۱۷۲ مخ.

(۹۴) وګ: جاوید نامه، ۱۷۶–۱۷۷ مخونه.

(۹۵) وګ: جاوید نامه، ۱۷۶–۱۷۷ مخونه.

ژباړه:

ښه راغلې اې تر سر تېره غازي! اې د حق توري!
ته دې تورستان ته د حق رڼا راغلې ئې
د هندوستان د خاورې په هره ذره کې ستا د مړانې افسانې کېندلې دي
ستا په ساه دغه کنډواله د فردوس د رخې وړ ګرزېدلې ده
ستا د زړه جام د توحيد له شرابو ډک و
ستا ساقي مصطفٰی و او ستا ميکده اسلام و
ستا د تورې مخې ته د بتانو غاړې کږې سولې
ستا د تورې هر حرکت د قضا يو استازی و

د غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د امتيازي خصوصياتو تر ښنګې عنوان لاندې د پيام مشر
په مجله کې کښلې دي:

"غازی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ابدالی مین چند امتیازی خصوصیات تهین جن کی بنا پ
هر سمجهه دار آدمی ان کا احترام کرتا تها، غازی محترم با وجود ایک با عظمت پادشا
هونے کے بے انتها ساده طبیعت اور انکساری پسند تهے ان کا یه معمول تها که غریبون کی
محلون مین جا کر ان کے حالات دریافت کرتے اور اگر ان کو کوئی شکایت هوتی تو اس ک
ازاله کرتے، ان کے مزاج مین غرور کا نام و نشان تک نهین تها وه هر ادنا و اعلی سے نهایت
اخلاق و محبت کے ساتهه بات چیت کرتے اور ان کے دکهه درد مین شریک هوتے تهے، وه روزان
پانچ وخت مساجد مین جاتے اور غریب مسلمانون کی صف مین کهڑے هو کر نماز پڑهتے
تهے ان کی دربار مین کسی قسم کی روک تهوک نهین تهی، جو شخص چاهتا آزادی ک
ساتهه حاضر هو تا اور اپنے حالات بیان کرتا تها".

ژباړه:

په احمد شاه غازي کې څو داسې امتيازي خصوصيات وو، چې د هغو په اغېزه به د هر پوه او
منصف سړي په زړه کې ده ځای درلود، احمد شاه غازي سره د دې، چې يو برميالی او بريالی ست
ټولواک و، يو خاکساره او بې تکلفه پښتون هم و، دی به پخپله د غريبانو او بېوزلو کورو ته ورتی
او پر هغو به ئې پوښتنه کوله، که به ئې څه اړ و مانده درلوده، د هغو پوراينه به ئې کوله او که به ئې
کوم شکايت درلود، د هغو په دفعه کې به ئې زيار يوست. د غازي احمد شاه بابا رحمة الله عليه په طبيعت
کې د غرور او لويې څرک نه و. د رعيتو له هر واړه او غټ سره په خورا مينه او محبت ږغېده او پ
درد و غم کې به ئې همدردي او غم شريکي ورسره کوله. دی به پنځه وخته لمانځه لره ماجت ته تې
او هلته به له غريبو مسلمانانو سره په يوه صف کې ښنګ پر ښنګ درېدئ. د ده دربار ته د هيڅ
عارض ورتګ منعه نه و، هر چا چې به عرض درلود پخپله به دربار ته ورتئ او ده ته به ئې خپل عرض
وړاندې کاوه.

د پیام مشرق په مجله کې ئې د احمد شاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب دا هم راوړي دي:

"غازی محترم (احمد شاه ابدالی رحمة الله علیه) کا یه بهی معمول تها که اپنی ذاتی آمدنی مین سے چوتهائی رقم غریبون، طالب علمون، یتیمون اور بیوه عورتون کو تقسیم کرتے تهے ایک مرتبه ایسا اتفاق هوا که حضرت غازی محترم رات کی وقت قندهار کے ایک بازار سے گذر رهے تهے، راستے مین آپ نے دیکها که ایک شخص اشکبار اور بے قرار هے اور قریب کے شکسته مکان مین سے رونے کی آواز آرهی هے.

دریافت کرنے پر مسافر نے کها که مین خراسان کا رهنے والا هون میرے ساته میری بیوی هے جو حامله هے، وضع حمل کا وقت قریب هے اور میرے پاس ایک پیسه بهی نهین هے غازی محترم نے اسے چالیس روپے مرحمت فرمائے اور خود اپنی بیگم کو اس حامله عورت کی خدمت کے لئے مقرر کیا".

ژباړه:

احمد شاه ابدالي د خپلې آمدنۍ څلورمه برخه پر بېوزلو، طالبانو، یتیمانو او کونډو وېشله. یوه شپه احمد شاه غازي د کندهار په ښار کې پر یوه بېوزلي، نابلده پردېس پېښ سو، چې ماینه ئې د لنګون په شولو (دردونو) اخته وه او دی ئې د خسمانې له پاره ډېر ناکراره و، احمد شاه غازي چې ئې په حال خبر سو، سړي ته ئې دستي څلوښت روپۍ ورکړې او خپله ملکه ئې د لنګې د خدمت له پاره ورته راوستله.

د غازي ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دغه کیسه ما (رشاد) داسي نظم کړې ده:

احمد شاهي رعیت پالنه

ستر ټولواک د پښتونخوا چي احمدشاو
دَی مین د رعیتو پر رِفاه و
تل ئې غم د غریبانو غمخوري وه
د زړه مراد ئې د ستومانو هوساېي وه
وې د ده له بېري پښې د ظلم شوټې
د ده داد ترلې وو د بیداد موټې
سرکښۍ ئې وِ پرتم ته پر ګونډو وې
فتنې غلې نَنَوتي په غارو وې
سعادت چي خدای نصیب د پښتونخوا کړ
د ملت داسي خواخوږی ئې پاچا کړ
چي د شپې به د ښارونو په کوڅو کي
ګرزېده، د خوارو خلکو په جامو کي
چي خبر په حال د اړ او درمانده سي

وضعیت د امن و عدل ورښکاره سي
د محرومو د حرمان په راز خبر سي
د مظلومو په فریاد متأثر سي
ورمعلوم سي تریخ ژوندون د بېوسیو
زړه رېبلونکي نامېندی د بېکسیو
پرېشانی د نتل سوو، د اِدبار
هریانی د ځبل سوو د روزګار
وای[٩٦] پاچـــا ولاړ له حَرَمه یوه شپه
په خـــلوت کي ئې بدله کړه جامــــه
ورغی د شپې په ګښت کي کاروانسرای ته
د ناشناختو پردېسانو وَ تم ځای ته
کې[٩٧] کتل چي یو پردېس خورا پرېشان دئ
ژړ ژړ وزي، نـــــنوزي سرګردان دئ
چي راوزي د کوټې تر وره هر واري
ته وا، غم ورباندي اوري داسي ښکاري
کله واخلي یو څو ګامه د سرای خولې ته
کله بیرته سي ورستون خپلي کوټې ته
کله وګوري په عَجز د اسمان لور ته
کله لاس کړي د دعا په ډول پورته
په دې ترڅ کي احمدشاه ورغی ورانـدي
بېغ ئې وکړ پر پرېشانه ځلمي باندي:
"زه ګمان کوم، درپېښه ده څه سخته
شکایت لرې دا آن له خپله بخته
نابلده ئې پوهېږم په دې ښار کي
سخت مشکل دی درته پېښ په کاروبار کي
راته ووایه، امید دئ چي زما زیار
د لوی خدای په فضل، ستا سي مددګار
چي دي مو‌ږ ته ډېري سختي، ډېري ګراني
د واکمن الله قدرت ته دي آساني

(٩٦) وای = وایي
(٩٧) کې = که ئې

د خدای دَر، د نامېندې نه دئ ښـاغلې!
خپله سـخـتـه راتـه وايـه غلې غلې!
پردېس ځوان ووې[۹۸] "شرمېږم خو معذور يم
په ويل زما د سـختي، سخت مجبور يم
زما مـايـنـه ده راسـره اوس ئې لنګون دئ
دا کـوټـه د دي بې بـختي زېږنتون دئ
مسـافر يو، څوک مو نسته په دې ښار کې
چې تـرې وغواړو کومک په دغه کار کې
دايـي نـه پېژنو، سـخـتـه ده راپېښـه
زه خو هېښ يم، دا تـر مـا ده زياتـه هېښـه"
احمدشـاه ورتـه ويـل:"دا کـار آسـان دئ
زمونږ په کور کې دايي سته، د خدای احسان دئ
دا يم ځم، ژر بې راولم، غم مه کړه
په دې زېري، ورسـه زړه د بي بي ښـه کړه"
احمد شـاه په تـلـوار ولاړ، تـر خپله کوره
ملکې تـه ئې ويـل: "مهرمني ګوره!
کـه د خـدای رضـا غواړې، دغه دي وار دئ
د بېکسـي عـاجزې د لـنګون کـار دئ
دايي نـه لري مينځيانې ئې څوک نسته
د سـفر ژوند دئ، دوسـتاني ئې څوک نسته
په کوټـه د کاروان سـرای کې خواره اوسي
خدای خبر چې به خپل بار تر منزله يوسي
کـه دايـي راغـواړم، وخت پکښي تېرېږي
لـنګون کله دايـي ګـانـو تـه ځنډېږي
ژر شـاهي لـبـاس بدل کړه، تـلـوار وکړه
ځه چې ځو، د ثـواب ګـټـه ده، ځنډ مه کړه"
ژر بـدلـې مـلـکې شـاهي جـامې کړې
دوې مينځيانې ئې له ځانه سره ملې کړې
په پاچـــــا د پښـــــتنو پسې رهي سوه

---

[۹۸] ووې = وويل

په کوټه کي د پردېسي جګې[٩٩] دايي سوه
پر پردېسي جګې لنګون الله آسان کړ
ملکې ئې دايي توب هم په ښه شان کړ
خدای پردېسي جګې ته زوی ورکړ ښادي سوه
په نصيب د پردېسانو خوشالي سوه
ملکه ورځني ولاړه، خپل انګړ ته
دوې مينځيانې ئې ورپرېښودې چوپړ ته
په سبا سهار خونچې راغلې کوټې ته
انعامونه، خلاتونه زوی و جګې ته
پس له دې په ښار کي دا خَبَر خپره سوه
پردېسانو ته هم دا نکته ښکاره سوه
چي دايي وه ملِکه، داعي[١٠٠] پاچا و
چي ټولواک د پراخې پلني پښتونخوا و[١٠١]

د يعقوب داداشي يو مضمون په ډان اخبار کي د "احمدشاه ابدالي" تر عنوان لاندي خپ سوی دئ، د دغه مضمون تر عنوان لاندي، چي په غټو تورو کومه جمله کښل سوېده، پښتو ژب ئې دا ده:

"هغه ستر شخصيت چي د هندوستان تاريخ ئې بدل کړ".

نوموړي داداشي د دغې مقالې په متن کي يو ځای کښلي دي:

د پاني پت د جنګ د قهرمان په حيث احمدشاه رحمة الله عليه د خپلو وطنوالو توره او مېړانه نړۍ ته وښووله ....

که څه هم احمدشاه يو زورور پاچا و، خو شاهي تجمل او کر و فر ئې نه خوښېده، نه خپله درباره څخه ئې د هند او ايران د شاهي دربارونو پر تکلفه آداب او رسوم ليري کړله او په يوه مسنونه سلام به کفايت کېده.

يوه ورځ په ډهلي کي احمدشاه غازي خبر سو، د ده هغه خاص خبريال د پاني پت په غزا کي شهيد سوی دئ، چي ده ته ئې د مرهټه وو د بريد خبر ورکړی و، دستي د هغه شهيد کور ته د پاتاله پاره ورغی، کوندي ته ئې څه شيان وروبخښل او د ده زوی ئې د پښتانه امير الامراء نجيب الدوله

---

[٩٩] جګه (jgá) = ښځه

[١٠٠] داعي = بَلوُنکی، دعوت ورکوونکی

[١٠١] دا پېښه د ډهلي په پيام مشرق مجله او د پاني پت قهرمان کي راغلې ده.

و سفزي په دفتر کي مقرر کړ.

زموږ د زماني حاجي خانمير خان "هلالي" په خپل کتاب "ننګيالي پښتانه" کي د پاني پت د قهرمان لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په باب ويلي دي:

شګي، خاوري، غنی، غر، ميدان د پاني پت — وايي پښتون قام او احمدشاه باندي رحمت
ملا د کفر ماته کړه ځوانانو پښتنو — واخلئ مشرانو نه سبق اې اوسنو!

وروسته د څمکنو د حضرت ميا عمر رحمة الله عليه (۱۱۹۰ هق مړ) له خولې غازي بابا ته داسي وايي:

ووې ميا عمر د څوکنو غوث الزمان: — "ای احمدشاه ته ئې بريالی پر هر ميدان
ستا سينه کي زړه ډک يو غيرت دئ د ايمان — ستا په مخ کي نشي درېدلای مرهټيان
ستا د سر د پاسه سوری دئ د پاک رسول — ستا تر قدم لاندي وينم واړه دښمنان
ځه، په مخه ښه ستا او راستون شې بريالی — ستا په لاس شه فتحه د سيالی په هر جولان
ای ننګيال پښتونه! ستا غيرت دئ په اسلام — ستا سره ملګري دي د خدای نيک بنده ګان
اې هلالي نشته د احمد په شان پښتون — چا چي د اسلام له پاره هر څه کړه قربان

هلالي صاحب د جمهوريت په اخبار کي د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ستاينه داسي کوي:

دئ فخر د پښتون عالي مقام احمدشاه — هر چا نه دئ اوچت په ننګو نام احمدشاه.
خيلونه قبيلې او پرګنې يو ځای کول — له دوی نه جوړولو پښتون قام احمدشاه
پښتون د ګمنامی کندي نه ده راوايستو — پښتون ته کړو ښکاره د عزت نام احمدشاه
تر اوسه په لرزان وينم ميدان د پاني پت — په چغو مرهټي وايي رام رام احمدشاه
پښتون په تا پښتون پادشاه هميش فخر کوي — زما هلالي دئ په تا سلام احمدشاه

د پېښور بل ممتاز ليکوال ښاغلي اميرنواز جليا په جمهوريت اخبار کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د قهرمانۍ په باب يو مضمون ليکلی دئ، چي عنوان ئې دئ "د اسلام بربنډه توره احمدشاه ابدالي"، دی د دغه مضمون په پای کي وايي:

"حقيقت دا دئ چي په اسلام کي د فيصلې دوه جنګونه سوي دي، يو جنګ د بدر بل جنګ د پاني پت، بدر کي که مسلمانانو شکست خوړلی وای، نو په دنيا کي به اسلام پاتي نه و او که په پاني پت کي پښتنو ګټه نه وای کړې، په هندوستان کي به اسلام نه و پاتي شوی. راځئ چي نن د اسلام هغي بربنډي توري او ننګيالي بابا رحمة الله عليه ته سلام ولېږو او د پاني پت هغو لسو زرو پښتنو شهيدانو ته د جنت مبارکي ووايو".

د هندوستان نامتو عالم او محقق علامه سيد سليمان ندوي ليکلي دي:

"احمدشاه ذاتاً لوی اولوالعزم او تجربه کاره فاتح سپهسالار وو او اما لکه نور فاتحين په انتظام نه رسيده، د هندوستان مسلمانان د ده څکه ممنون دي، چي مرهټيان ئې له شمالي

هندوستانه شړلي دي".

دا چي علامه ندوي ليکلي دي: "اما لکه نور فاتحين په انتظام نه رسيده" د دې سبب غالباً دا و، چي دی د هند د نورو فاتحينو لکه؛ ګوډ تيمور او افشار نادر غوندي ظالم، جبار او خدا ناترسه نه و، ده له خپلو لښکرو سره هم ډېره نرمه رويه درلوده، کېدای سي د ده له دغي نرمي رويې څخه به کله چا بده ګټه اخيستې او انتظام به ئې مات کړی وي، مګر دی بې رحمه افشار نادر نه و، چي د ډهلي په قتل عام کي ئې د لوی اختر په درېيمه ورځ د شاه ولي الله دهلوی رحمه الله عليه له وينا سره سم د چاندني چوک په لښتيو کي د اوبو پر ځای د سرو ويني وبهولې او د آئينه تاريخ نما په قول ئې تر يو لک تنه زيات ووژل. سپين ږيری آصف جاه نظام الملک لڅ سر، توره په غاړه ځړولې په ننواتي ورته راغی او ورته ويې ويل:

کسی نمانـد که دیگر بـه تیغ ناز کشـی
مگر که زنده کنی خلق را و بـاز کشـی

او يوه ډهلي وال شاعر ذ دې قتل عام په ساندو کي ويل:

یا رب کرا گذر شـد در شهر ما که باشـد
هر خانه بزم مـاتم، هر کوچه کـربلای

زړه سواندی احمد شاه ګوډ تيمور نه و، چي د ډهلي قتل عام ئې له خلکو څخه د اصفهان لوی او مشهور قتل عام هېر کړي او د ډهلي د جنګ په پيل کي پنځوس زره بنديان تر تېغ وکاږي او غياث الدين علي بن جمال الاسلام په روزنامه غزوات هندوستان کي په وياړ وليکي:

"در دهلي چندان بقتل آمدند که حکايت قتل عام اصفهان منسوخ شد و روز پنجشنبه همه اهل قلعه (ميرټه) را ا ز تيغ گذرانيده زن و فرزند آنانرا اسير گرفته بعمارات آتش انداختند و حصار را ويران ساختند".

زموږ زړه سواندی غازي بابا رحمه الله عليه خو د تاريخ مظفري په قول دوولس زره مرهټيان، چي د پاني پت په جنګ کي نيول سوي وو، د شجاع الدوله په شفاعت خوشي کړل او يعقوب داداشي د مير غلام محمد غبار دغه شمېر دوه ويشت زره تنه ښيي او داداشي دا هم زياتوي، چي هر يوه ته ئې د خرڅ له پاره دوې دوې روپۍ او يوه يوه شړۍ هم ورکړله[۱۰۲].

ګوډ تيمور (۷۷۱-۸۰۷ هـ. ق.) د ترکيې تر نيولو وروسته، د بالقاناتو فاتح مجاهد اعظم عثماني خليفه بايزيد يلدرم رحمه الله عليه (۷۹۲-۸۰۵ هـ. ق.) په قفس کي اچاوه، خو زموږ غازي لوی

---

[۱۰۲] د پاني پت سوبه د (۱۱۳۹ هـ. ش.) کال د جدي په څليرويشتمه پېښه ده او دا د ژمي د څِلې يخي ورځي وې. مير غلام محمد غبار چي د پاني پت د سوبي تاريخ (۱۶ جولای ۱۷۶۱ ع.) ليکلی دئ، تېروتنه ده، بايد سهي سي. (وګ: افغانستان در مسير تاريخ، ۳۶۹ مخ او احمد شاه بابا، ۲۷۴ مخ). په ځينو تاريخونو کي ليکلي دي، چي دا يوه يوه شړۍ او دوې دوې روپۍ شجاع الدوله ورکړي دي، ځيني کسان بيا د سورج مل جټ نوم يادوي (؟).

د شاه بابا رحمة الله عليه چي خواخوږي او زړه سوی ئې د قام او دین تر بډونو اوښتی و، د مرهټیانو وا ته د پاتا لیک ورلیږه او په هغه کي ئې د ده د هغه ځوان زوی او هغه توریالي توربره پر ل د خواشینۍ اظهار کاوه، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه او د ده د قام په قتل پسي ئې، له ه توري را ایستلي وې او د کابل د نیولو تکل ئې په ټینګه کړی و.

به بین تفاوت ره از کجاست تا بکجا

اروانباد استاد علامه عبد الحی حبیبي د لوی احمدشاه بابا نومي کتاب په سریزه کي کلي دي:

"زموږ د هیواد ډېر لوی بریالی او د پښتنو د تاریخ روڼ ستوری اعلیحضرت لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دئ، د دنیا تاریخ او پښتانه دی یو مشهور بریالی او ستر فاتح ګڼي، ده د لي توري او میړاني په سیوري کي د افغانستان اوسنی دولت تشکیل کړی دئ ....

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه لکه د آسیا پخواني فاتحین یوازي پخپلو جنګي تشکیلاتو او وقیاتو سره جهانګیري نه ده کړې، بلکي ده د خپلي توري سره قلم او له خپلي سربازۍ او ریالیتوب سره علم، فضیلت، تقوٰی او ادب هم درلود، ځکه نو دی موږ د آسیا یوازي نامتو دلاور فاتح نه ګڼو، بلکي د دې خاوري یو تکړه ادیب، پوه عالم، عادل پاچا، لوړ شاعر، جتماعي مصلح، دیني پېشوا او روحاني مقتدٰی هم بولو ....

احمدشاه لکه د پښتنو اجتماعیاتو، سیاسیاتو او عمومي ژوندون ته چي لوړ لوړ دمتونه کړي دي، (دغسي ئې) د پښتو علم او ادب او شعر ته هم ګرانبها او د ګټو ډک دمتونه کړي دي...."

په مرقع مشاهیر (۴۱ مخ) کي د "احمدشاه ابدالي" تر عنوان لاندي یو مضمون خپور سوی دئ، په دغه مضمون کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په باب داسي کښلي دي:

"احمدشاه ابدالي هغه څوک (دئ) چي د بر اعظم کي (هند و پاکستان) د تاریخ پاڼي ئې بدلي کړې، دې مړني د پاني پت په میدان کي یوه داسي تاریخي فتحه حاصله کړې وه، چي د اسلام سترګي ئې اوچتي کړي دي، مغل سلطنت ئې له بدرنګي تباهۍ نه بچ که او له ناپسندو نه ئې وساتل.

دی یو دوراندیشه، قوم ودانی، ساده (بې لوثه) پاکدامنه او د شهرت او د طاقت له نشې نه پاک سړی و.

رحمت شه د اسلام په دې ناموره جانبازه ...." [۱۰۳].

د پېښور په سیمه کي یوه مجله خپرېده، چي "رهبر" ئې نوم و، د دغي مجلې د (۱۹۵۷ع.) کال د می د یوویشتمي په ګڼه کي د "ستر ابدالي" تر عنوان لاندي د ځیګر اپرېدي یو نظم خپور سوی دئ، چي څو بندونه ئې دا دي:

---

[۱۰۳] دا مرقع د (۱۹۶۶ع.) کال د جون په میاشت په کراچي کي چاپ سوی دئ.

مرسته کړنه د کمزوریو، د دې ستر انسان فطرت و
هسکول د غورځېدلو پرزېدلو ئې صفت و
ورته خواست خو ځکه کړی د مغلو سلطنت و
د غلیم په وینو لت پت چي میدان د پاني پت و
پسي توري چي له میانه راوتلي ابدالۍ وې
او په پښو د پښتنو کي د مغل پرتې خودۍ وې

د اورنګ په کورنۍ هم دې پښتون کړی احسان و
دا فاتح ګوره هیواد ته له ډهلي بیرته روان و
دې سلوک د ابدالي ته سکندر به هم حیران و
حاتم هم فکرونو وړی سخاوت ته د افغان و
تخت ئې وباخښه و بل ته، دا بخښني مېړنۍ وې
او په پښو د پښتنو کي د مغل پرتې خودۍ وې

سر به ده قربانولو د پښتون ملت په پت کي
پرېشانۍ ترې بوګنېدلې ځان ځانۍ وې په هیبت کي
دا خورې ورې چي څومره قبیلې دي په ملت کي
تا به وې چي بس کړۍ دي په ځنځیر د جمعیت کي
دا لښکر د ننګیالو و، ترې په تېښته بې ننګۍ وې
او په پښو د پښتنو کي د مغل پرتې خودۍ وې

اروانباد عبد الروف بېنوا (۱۴۰۵ هـ ق مړ) د افغانستان په نومیالیو (۳/ ۲۸۰ مخ) کي
غازي بابا لوی احمدشاه رحمة الله علیه په باب داسي کښلي دي:

"احمدشاه بابا رحمة الله علیه یو سپېڅلی مسلمان، غیرتي پښتون او عادل پاچا و، د کمزورو ئې
لاس نیوه او د زورورو ئې لاس پېچه، په دیني اوامرو او نواهیو او ملي او پښتني دود او دستور
کلک پابند و، مجرمینو ته تر سزا ورکولو په عفوه کولو ډېر خوښ و.

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه شخصي ژوند هم ډېر ساده او له هر ډول تصنع او تجمل څخه سپېڅلی
و، ده هیڅکله د اعتدال له حده تېری نه کاوه، د ده اخلاقي ښېګڼو د ده د شخصیت په تکامل کي
لویه اغېزه درلوده، ځکه به نو افشار نادر ویل:

"من در ایران و هندوستان و توران مردي
چون احمد خان حمیده خصال و پسندیده افعال
ندیده ام".

اروابناد سيد رسول رسا (۱۹۱۰ ع.زوکړی) د پښتو ر له وتلو شاعرانو او ليکوالو څخه و، دی
احمدشاه ابدالي تر عنوان لاندي يو شعر لري، چي په هغه کي ئې د مرهټو له منګولو څخه د
هندوستاني مسلمانانو د نجات له پاره د غازي بابا غورځنګ داسي بيان کړی دئ:

فخر د وطن و، د پښتون مرد ميدان دمونږ
ځوان و، مسلمان و، د ملت په غم غمجن افغان

❁❁❁

پوه و چي وحدت زور لري، قوت لري
دين د وحدت نوم دئ، د وحدت توره طاقت لري
هند ظلمتکده وه، د هندي مسلمان زور نه و
هر ځای مرهټيان وو، د کمزوري مسلم کور نه و
ګور و هند مسلم ته، د دين ورور د ابدالي و خپور
داسي مسلم نه و، مرهټي چې په سر سپور نه و

❁❁❁

جمعه ئې غازيان کړو، ورنې ځوان قوي لښکر جوړ که
هند ئې مرهټانو ته، د سرو لمبو سقر جوړ که
ياد دئ، پاني پت ته، جنګي زور د ابدالي ځلمي
څنګه بې تس نس کړل، يادېدل چي مرهټي ځلمي

په آريانا دائرة المعارف (۲/ ۱۵۵۴ مخ) کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصيت په باب
داسي ليکلي دي:

"احمدشاه د افغانستان يو لوی پاچا او د مشرق يو قابل فاتح و. احمدشاه د خپلو
سياسي او نظامي تجربو، معتدلو اخلاقو او خدای ورکړي عقل په مرسته وکولای سوه، چي د
مشرتوب درنه وظيفه د ملت او تاريخ په مقابل کي په ښه ډول سره اجرا کړي، ده اداري توحيد
راوست او ...."

زموږ د زماني لوی شاعر مير حيدر صاحبزاده، چي د کندهار د ارغنداو په "جوی لاهور" کي
اوسېده او په (۱۴۰۷ هـ. ق.) کال مړ دئ، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په ستاينه کي د "د احمدشاه
بابا خويونه" تر عنوان لاندي داسي ويلي دي:

چي ږغېږي مورخين له دې ټولواکه
ګانه کېږي معتدل شاه له اخلاقه
ډېر پابند د اوامرو مذهبي و
ولاړ تينګ پر عرف عاداتو پښتني و
چي اعمال افعال د ده ته کاته کېږي
له شاهانو عادلانو حسابېږي
د ديندار ه ټولواک زښته ډېر غيرت و
له غيرته ئې هر ځای کي حکايت و

د خپل ملک په نیک، مشفقه لکه پلار و — پر مجرمو پر ظالمو ډېر قهار و
دا ټولواک و ډېر خوانمرد حق پېژندونکی — د احسان په هیڅ وخت نه وهېروونکی
له بناغلي چا لیدلی امساک نه و — ډار و حرص او تکبر د ټولواک نه و
په سخا او جوادي کې ئې ګور نه و — خو مسرف او مبذر لر و بر نه و
ښه اعمال صالحه چې ئې دا شان دي — په همت او بزرګي ئې شاهدان دي
او اکثره پښتانه د دغه غولي — احمد شاه له اولیاوو څخه بولي

محمد آصف خان په تاریخ سوات (۶۴ مخ) کي کښلي دي:

"د احمد شاه ابدالي حکومت د پښتنو د رسم و رواج او د هغوی د خواهشاتو عین مط
و، نو ځکه پښتانه د هغه جنډې لاندي متحد شولو، د احمد شاه د حکومت مقاصد دا وو:

١. د پښتنو خورې ورې قبیلې د قامي وحدت په پړي کښي تړل او هغوی کښي مشتر
قامي جذبات پیدا کول او د عالم اسلام سره ملحق کول.
٢. د پښتون حکومت استحکام.
٣. د قابل فخر افغاني روایاتو جاري کول او ترقي ورکول.

د یورپ مورخین په دې متفق دي، چي احمد شاه عظیم سیاست دان او ډېر مدبر پادشاه و
د خپل قام عاشق و، د احمد شاه په دربار کي د هري قبیلې یو څو پوهنده نمایندګان به موجود و
او د ټولو نمایندګانو مشتمله جرګه د هغه پارلیمنټ و او د هري قبیلې یو پوهنده مدبر هغه پ
وزارت کښي اخیستی و، په ټولو معاملو کښي به د جرګې په رأیه عمل کېده، د جرګې اراکینو
احمد شاه دراني احترام کولو همدغه وجوهات وو، چي احمد شاه پښتون اتحاد کښي کامیاب و
او د احمد شاه حکومت صحیح معنو کښي د پښتون قامي حکومت و ... احمد شاه په پښتنو
داسي مین و، لکه پخپل ځان".

اروانښاد غلام محمد غبار (۱۳۵۶ لمریز مړ) په "احمد شاه بابا" نومي کتاب کي، چي د
(۱۳۱۷ هـ. ش.) کال تالیف دئ، زموږ د ستر غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په باره کي لیکلي دي:

"وقتیکه احمد شاه بابا به تخت سلطنت افغانستان نشست یک نفر نظامی جنگدیده و
یکمرد سیاسی تجربه اندوخته بود، احمد شاه ملت افغانستان را در حالی ملاقات کرد که با
(وجود) اشتراک در احساسات و دیانت از حیث عدم اشتراک منافع متشتت (بودند) ولی به حکم
فطرت و خصایس ملی مستعد آزادی، جاه طلبی و افتخار و از نظر ضیق اقتصادی طالب ثروت
بودند و هنوز نسیم جانفزای ایقاظ دوره هوتکیه بر پیشانی شان می وزید، لهذا بالطبع آماده و
منتظر پیشوا و رهنمایی بودند. احمد شاه این وظیفه رهنمایی را قبول کرد و الحق بدرستی از
عهده آن بر آمد.

احمد شاه بابا در تماس نخستین وی با قوم مثل (یک) سیاستمدار قابلی که قدرت تعصبات
مردم را به میل و نظریه خود استعمال می کند احساسات جنگجویی، افتخار طلبی، آزادی

رستي، حس حکمرانی و منفعت دوستی افغانها را تحریک و قضیه دفاع از وطن اسلامی، جنگ با مخالفین مذهب (و دین و مقدسات و نوامیس ملی) و اغتنام از ممالک پر ثروت را پیش کشید و باین وسیله قوای نهفته و خفته معنوی تمام طبقات ملت را بیدار و قدرت های پراگنده قوم را جمع و بیک استقامت بحرکت انداخت، پیشبرد نقشه های بزرگ از همه بیشتر محتاج تحریک احساسات عمومی است تشکیل یک قوه عسکری معظم ملی و شروع بجنگهای متوالی و متواتر بار دیگر قوای نهانی ملت افغانستان را بیدار نمود و در نتیجه عقیده فتح و پیروزی نژاد افغان را نسبت به اجانب در قلوب قوم تقویه نمود.

احمدشاه بعد از حرب و فتوحات، توسیع دائره ملیت افغانی را در تمام ولایات متصرفه مد نظر گرفت و لهذا ملیت افغان روز بروز کسب وسعت نمود، احمدشاه عدالت و مشورت را اساس کارهایش قرار داد و باین واسطه خوش بینی و اعتماد عموم را جلب نموده بمحبت و اعتماد قلوب مامورین و منصبداران خودش را تصرف کرد. معهذا احمدشاه در مورد مخالفین این خط مشی و عناصر مضره آدم شدید البطش و قاهری بود، متمردین را بحکم قوت براه می انداخت.

احمدشاه بخوبی توانست از روحیه ملی و استعدادیکه در نتیجه اقتضاآت فطری و حوادث ماضی تهیه شده بود برای اعتلای مملکت استفاده کند، این قدرت تشخیص و استفاده با صیت فتوحات بلند آوازه و طرز اداره داخلی و شهرت مکارم اخلاق شخصی او یکجا شده تمام توده های افغانی را به تسلیم و اعتماد نسبت با و وادار نمود[١٠۴]".

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه درې پلا ډهلي ته تللی دئ، لومړی وار په (١١٧٠ هـ. ق.) کال، دوهم وار په (١١٧٣ هـ. ق.) کال او دریيم وار په (١١٧۴ هـ. ق.) کال.

په (١١٧٠ هـ. ق.) کال لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي د مغل پاچا دوهم عالمګیر (١١٦٧-١١٧٣ هـ. ق.) په بلنه ډهلي ته ولاړ[١٠٥]. مغل پاچا غوښتله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ورتګ په برکت ځان د خپل ناسياله وزير غازی الدين عماد الملک له شره خلاص کړي. غازی الدين عماد الملک هغه وزیر و، چي تر دوهم عالمګیر د مخه د (١١٦٧ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په لسمه د ډهلي مغل پاچا احمدشاه (د محمد شاه زوی) ړوند کړی او معزول کړی او د (١١٧٣ هـ. ق.) کال د دوهمي خور په اتمه ئې پخپله دوهم عالمګير هم وواژه او محی الملة ئې د دوهم شاه جهان په نامه، د ده پر ځای د ډهلي پاچا کړ[١٠٦].

دا پلا چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ډهلي ته بې جنګ و جګړې ورغی، د ډهلي تاج و تخت ئې دوهم عالمګیر ته وباخښه، دی کندهار ته ځني راغی.

دوهمه پلا چي په (١١٧٣ هـ. ق.) لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي شاوخوا ته ورسېده، د برارۍ په میدان کي د "دتاسیندهیا" مرهټه وژونکی او د مرهټو لښکرو ماتوونکی فاتح

---

[١٠۴] وګ: احمد شاه بابا، اتلسم فصل، ١٠٠-١٠۴ مخونه، د کابل (١٣٢٢ هـ. ش.) چاپ.
[١٠٥] د دغه بلنليک متن د علي ګړه مسلم پوهنتون د تاریخ د څانګي په لکچرونو کي خلیق احمد نظامي رانقل کړی دئ.
[١٠٦] محی الملة د محی السنة زوی، د کام بخش لمسی، د اورنګزيب عالمګیر (١٠٦٨-١١١٨ هـ ق) کړوسی و.

احمد شاه په ډهلي کي د ناسياله غازي الدين عماد الملک مقرره کړی مغل پاچا محی الملة پر خپ
پاچهي پرېښوو، فقط د ډهلي قلعه داري ئې يعقوب علي خان باميزي ته وسپارله، پخپله انو
شهر ته ولاړ.

درېيمه پلا چي د پاني پت تر لويي سوبي وروسته احمد شاه بابا رحمة الله عليه ډهلي ته ولاړی،
ډهلي پاچهي ئې د نوموړي دوهم عالمګير زوی دوهم شاه عالم "عالي ګوهر" (۱۱۷۳-۱۲۲۱ه
ق.) ته ورکړله، ځکه چي پخپله شاه عالم په ډهلي کي نه و، نو ئې د شاه عالم زوی "ميرزا جوا
بخت" نائب السلطنه مقرر کړ.

اروابناد مير غلام محمد غبار د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دغه تاج بخشي غندي او داسي
ليکي:

"روش سياسی احمدشاه تقاضا می نمود که سلطنت موجوده هند را برای حفظ مناف
افغانی تقويه و حمايه نمايد، لهذا مصمم به تنبيه مخالفين او گرديد. هنديها حق دارند اگ
اظهار نارضامندی ازين رويه احمد شاه نموده و اورا جهت آنکه چرا سلطنت هندوستان را ازيک
خانواده پوسيده و محکوم بانقراض منتقل بيکدست قوتمند ديگري ننموده ملامت کند. شايد
سياست احمد شاه افغان با در نظر داشت اوضاع آنروزه ولايت مشرقی افغانستان اين رويه را در
نظر او الزام می نمود. بعلاوه فرود آوردن پادشاهی را از مقام سلطنت اش که خود به احمد شاه
تسليم شده بود، دور از فتوت می دانست مخصوصاً در حاليکه خود الحاق هندوستان را با
افغانستان اساساً در نظر نداشت...." (۱۰۷).

د بناغلي غبار دا بيان په هغي تاج بخشۍ پوري اړه لري، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په
(۱۱۷۰ه. ق.) کال دوهم عالمګير ته کړې ده. اروابناد غبار د پاني پت تر سوبي وروسته په
(۱۱۷۴ه. ق.) کال دوهم شاه عالم ته د ډهلي د تاج و تخت بخښل تر دې په تنده لهجه سره داسي
غندي:

"احمد شاه با تحمل زحمت و نثار خون جوانان افغان و با در نظر گرفتن نتيجه خوفناک
شکست احتمالی با دشمن خطرناک دولت هندوستان مقابل و بالآخره تاج درخشنده هند را از کف
مرهته ربوده و رايگان بر سر بی استحقاق گذاشته بود. چون نتيجه مفيد اين جنگ نه عايد دولت
هند شد نه افغانستان، لهذا اين جنگ عظيم يکی از بيفايده ترين کارهای احمد شاه شمرده ميشود
از ديگر طرف چون احمد شاه نميتوانست در آن وقت خطرات آينده اروپايی هار را در هند پيش بينی
کند لهذا از عدم اتخاذ تدابير اساسي معذور شمرده ميشود" (۱۰۸).

داو، په هندوستان کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د تاج بخشۍ رد العمل، چي د بناغلي غبار
په ذهن کي ئې کړی دئ، خو د تعجب خبره دا ده، چي په ايران کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه تاج

(۱۰۷) وګ: احمد شاه بابا، ۲۳۴ مخ.
(۱۰۸) وګ: احمد شاه بابا، ۲۸۰ مخ.

بخشي ته په دغه نظر نه گوري، ښايي دی به ړوند شاهرخ (د افشار نادر لمسی) د زنديه او قاجاريه قوتونو په مقابل کي مړوچه بولي او گمان به کوي چي شاهرخ په ړندو سترگو د دغو قوتونو موټ بچلای سي. په مشهد کي د تاج بخشی پېښه ښاغلی غبار داسي بيانوي:

"احمد شاه از هرات به جام و لنگر و از آنجا بمشهد کشيد ....

امرای بی لجام آن شهر شاهرخ نابينا را بجنگ با احمد شاه واداشتند او قلعه بندی اختيار نمود و جنگ شروع شد اما اهالی شهرخ را به تسليم رای دادند و او (پس از شش ماه محاصره) در اردوی احمد شاه حاضر و مراتب اطاعت و انقياد خودش را تقديم نمود. احمد شاه چنانچه روش سياسی او درين مورد بود شهرخ را نوازش و از طرف خود به نائب الحکومگی ولايت مشهد مقرر نمود"(١٠٩).

تورن ارکان حرب علي احمد جلالي په "مطالعه تاريخ افغانستان از نگاه عسکري" (٢/ ٢٥١ مخ) کي د لوی احمد شاه بابا رحمه‌الله عليه په باب ليکلي دي:

"احمد شاه ملت خود را از يک وضعيت نابسامانی بمراحل بسيار عالی امپراتوري رسانيد و در طول زمامداری بيست و شش ساله خويش چنان تحولی رابوجود آورد که مسير تاريخ افغانستان را تغيير داد او برای رسيدن باين مرام دربدو مرحله وسايل و شرايط مناسبی نداشت. وضع مملکت در اثر فتوت های متمادی که از پنج قرن باينطرف باحوال کشور روی داده بود فوق العاده بحرانی بشمار ميرفت و بوجود آوردن يک وضعيت مستقر دران، مستلزم طرح پلان ها و پاليسی های مخصوصی بود که احمد شاه با کفايت ذاتی خود از آن بدر آمد ....

ستراتيژی احمد شاه بابا به اساس بوجود آوردن يک افغانستان قوی مقتدر و مستقر تنظيم ميگرديد. او عقيده داشت که از همه اولتر لازم است خاکهای افغانستان توحيد شده و ملت افغان در داخل يک حدود معين صاحب نفوذ، اقتدار وحدت نظام اداری مقتدری باشد. ازين جهت هدف اولين او محافظه افغانستان بود او بياد داشت که دولت غلزائيها بعلتی دوام نکرد که آنها قبل از تحکيم دولت ملی در داخل افغانستان و تامين شرايط سياسی و اقتصادی يک دولت در آن، بفتوحات خارجي پرداخته و مرکز ثقل عمليات خود را بدانجا نقل کردند، در نتيجه تاثير آنها بمراکز متفرق و متعدد تقسيم شد و بهمين علت بحال منفردانه از بين برده شد.

احمد شاه بابا فتوحات زياد در هند بعمل آورد ولی هيچگاه حاضر نشد آن را بطرز دايمی اشغال و محافظه کند، در حقيقت او اراده نداشت تخت دهلی از آن او باشد. بلکه مقصد او از فتوحات در هند از يکطرف تامين منافع افغانهای هندی که بالای سياست ملی او تاثير زياد داشت و از جانب ديگر رفع خطرات احتمالی بود که در آينده سرحدات کشورش را تحت تهديد

---

(١٠٩) وگ: احمد شاه بابا، ٢٢١-٢٢٢ مخونه. ړانده شاهرخ ځان د مشهد نائب الحکومه نه باله، بلکي تحت الحمايه شاه ئې باله. دا مطلب د ده د مهر له دې سجعي څخه ښکاري:

يافت از الطاف احمد پادشاه
شاهرخ بر تخت شاهی تکيه گاه

قرار می دادند، وی از دهلی با آسانی می گذشت ولی بهیچ قیمتی حاضر نبود، یک وجب خا
بلوچستان، هرات، نیشاپور، پشاور و مادون النهر را بکسی بگذارد".

اروانباد غلام جیلاني جلالي د "نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفٰی ثالث عثمانی"
تعلیقاتو کي د تاج بخشه او مهربان احمد شاه بابا رحمة الله علیه شخصیت داسي ښوولی دئ:

"نظر به مطالعه تاریخ و تدقیق در حوادث زمان اعلیحضرت (احمد شاه) چنین بنظر میر
که وی با وصف اینکه از نوابغ حربی و سیاسي و اداری وقت خود بودند، در عین حال شخص
صافدل، یکروی و دارای اخلاق حمیده بودند او عادت داشت هر وقت دستی از در صلح و دوس
از جانب خصم بسوی او دراز شود، گرچه درعین مغلوبیت خصم و بعد از رسانیدن خسارات
باشد آن دست را بر خلاف روحیه فاتحین دیگر باغرور عقب نمی زد، بلکه آنرا بمحبت فشار
داد و بخواهشات خاطر خصم تا جائیکه امکان داشت لبیک می گفت.

اعلیحضرت احمد شاه بتاسی از همین خاصه صلح دوستی او بود که تاج وتخت دهلی را
دفعه بشاهان مغلوب و درمانده گورگانی هند بخشیدند[١١٠].

میر منو (میر معین الملک) تورانی هنگامیکه از طرف دربار دهلی والی لاهور بود ح
وصول رایات قشون احمد شاهی با اطراف لاهور تمرد ورزیده بجنگ بزرگی اقدام کرد و بعد
چهار ماه محاربه وستیزه از حضور اعلیحضرت احمد شاه امان خواست. شاهنشاه افغانست
فوراً از تمام جرایم در گذشته وی را بحکمداری آن سامان باقی گذاشت[١١١].

هکذا نصیر خان حکمدار بلوچستان جنگهای خونین را در مستونگ و قلات براه انداخت
با اعلیحضرت احمد شاه بغی کرد، ولی همینکه نامبرده از رویه خود اظهار ندامت نمود و تسل

---

[١١٠] لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي تاج و تخت په (١١٧٠ هـ. ق.) کال دوهم عالمګیر (١١٦٧–١١٧٣ هق) او
(١١٧۴ هـ. ق.) کال د تیموري دوهم عالمګیر زوی دوهم شاه عالم (١١٧٣–١٢٢١ هق) ته وباخښه.

[١١١] د لاهور والي میر منو (میر معین الملک) څو کاله د چار محال مالیه، چي د کاله څور لس لکه روپۍ وه ورونه لېږل
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (١١٦۵ هـ. ق.) کال د لاهور شاوخوا ته راغی، دی په جنګ ورووت، تر ماتي من
وروسته، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ورغی، (د حسین شاهي تاریخ په قول) لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه
پوښتنه ځني وکړله:

اې تورياليه! که زه ستا په لاس کښېوتلی وای، څه به دي راسره کړي وای؟

میر منو جواب ورکړ:

"ککری به مي دي پرې کړې او د ډهلي د پاچا حضور ته به مي استولې وای".

د حلم او حیا کان احمد شاه بابا رحمة الله علیه ورته ومسل او وئې فرمایل:

"اوس زه څه درسره وکړم؟"

میر منو ورته وویل:

"د پاچا له رحم څخه مجرمان د بخښني هیله لري، که رحم کوې ومي بخښه او که ظلم کوې دا مي سر دئ پرې ئې
کړه".

زړه سوانده احمد شاه بابا رحمة الله علیه دی وباخښه، د رستم هند لقب ئې ورکړ او د زوی په نامه ئې خطاب ورته وکړ او
بیرته ئې د لاهور والي وټاکه.

شت احمد شاه مهربان از تمام جرایم او درگذشته با خلعت و اعزاز دوباره بخانی بلوچستان مقرر رد[١١٢].

بهمین طور علی مردان خان والی تون و طبس و عباس قلیخان بیات والی نیشاپور که مدتی اکز خویش را متجاسرانه در تحت محاصره قشون احمد شاهی دادند و در پایان کشش و کوشش باد چاره جز تسلیم ندیدند، هر دوی شان بحضور اعلیحضرت احمد شاه حاضر و شرف دستبوسی اصل کردند و از حضور شهنشاه افغانستان فرمان عفو جرایم بنامهای شان صادر و مردانگیهای ان را که در اثنای محاصره بضد قشون شاهی ابراز داده بودند، ستودند.

هم چنین اعلیحضرت احمد شاه تاج بخش بعد از تسخیر مشهد مقدس با شاهرخ نوه نادر شار از در مدارا پیش آمد فقط بخطبه و سکه اکتفا نموده حکمداری مشهد را بشاهرخ ذاشت"[١١٣].

د ایران متعصب سیاستمدار "مهدي فرخ" په "تاریخ سیاسی افغانستان" (۵۱ مخ) کي د وی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب داسي لیکلي دي:

"درانی احمد شاه یو زړه ور، هوډیالی، مدبر، احتیاط کاره او مآل اندیشه سړی و، د فغانستان د پاچهۍ تاداو ده ایښی دئ. سپاهیانه خویونه ئې وو، د فقر دعوه ئې هم درلوده، ه علماوو او فقیرانو سره ئې په ډېره مینه او ادب رفتار کاوه او پر زیردستانو خورا مهربان .....".

اروابناد محمود خان بنګلوري (۱۹۶۰ ع.مړ) په تاریخ سلطنت خداداد میسور کي په ډېر صراحت سره لیکلي دي، چي په میسور کي د میسور د خداداد سلطنت جوړېدل، په پاني یت کي د احمد شاه بابا رحمة الله علیه د توري صدقه ده، د ده خپل الفاظ دا دي:

"مرهٹون کی شکست ۱۷۶۱ع:

یہ وہ وقت تھا کہ مرہٹون کا نیّر اقبال احمد شاہ ابدالی کے ہاتھون میدان پانی پت مین ڈوب چکھاتھا، بالاجی باجی راو اس صدمے سے انتقال کر گیا، علاقہ میسور مین جسوقت یہ خبر میدان جنگ مین پھونچی تو گوپال راو تمام افواج کو جمع کرکے سرا مین قلعہ بند ہوگیا اس موقع سے فایدہ اٹھا کر حیدر علی نے ان تمام علاقون پر قبضہ کرلیا جو مرہٹون کے زیر نگین آچکے تھے اس نمایان فتح و کامیابی کے بعد حیدر علی سرنگاپٹم واپس ہوئے".

---

[١١٢] نصیر خان بلوخ په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته یاغي سوی دئ. په یادګار تاجپوشي خان قلات کي. چي دا پېښه د (۱۱۷۱ هـ.ق.) ګڼلې سوې ده، ما ته د تامل وړ ښکاري.

[١١٣] شاهرخ په (۱۱۶۲ هـ.ق.) کال د خپلي عمه د زوی، سید محمد متولي په حکم ړوند کړه سو. سید محمد متولي، چي د سلیمان شاه په نامه د مشهد پاچا سوی و، د یوسفعلي له خوا وواژه سو. د سلیمان شاه تروژلو وروسته، بیا ړوند شاهرخ د مشهد پاچا کړه سو. د (۱۱۶۲ هـ.ق.) کال په پای کي چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مشهد ونیوه شاهرخ ته ئې بیرته د مشهد واک وسپاره او د احمد شاهي دولت یو تحت الحمایه واکمن و.

ژباړه:
په ۱۷۶۱ ع.(= ۱۱۷۴ه.ق.) کې د مرهټو ماته (په میسور کې):
د مرهټو دا ماته هغه وخت وه، چې په پاني پت کې د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په لاس د مر
بخت لمر ولوېد او د مرهټو پېشوا (بالاجي باجي راو) له دغه دوکه مړ سو، د مرهټو کوم پوځ
میسور له حیدر علي سره جنګېده، مشر ئې ګوپال راو و، ګوپال راو ته دا بږغ د جنګ په میدا
ورورسېد، ده چې دا واورېدل خپل ټول پوځونه ئې راټول کړل او په سرا نومي کلا کې کلابند
حیدر علي[114] له دغه فرصته ګټه واخیستله او هغه ټولي سیمي ئې بیرته ونیولې، چې په (۵
ع.) کال مرهټو ځني نیولي وې، تر دې سوبې وروسته حیدر علي خپل مرکز سرنګاپټم ته ستون
نوموړي محمود خان بنګلوري تر دغه وروسته د کتاب په ۸۵۰ مخ کې زیاته کړې ده:
"فطرت الهی نے هر قوم کو آزاد پیدا کیا اور آزاد رکهنا چاهتی هے، مگر جب وه اسکی
ثابت نهین هوئی تو یه نعمت چین لی جاتی هے، مگر اس نعمت کے چهیننے سے پهلے مهلت پر م
دیتی هے، اور جب ان سے فایده نهین اٹهایا جاتا تو قدرت بهی اس کو اسی حالت مین چهوړ د
هے، هندوؤن کو مسلمانون کے حملون کے وقت مهلت پر مهلت دیگئی مگر وه نهین سنبه
مسلمانون کو ان پر مسلط کردیا گیا اب مسلمانون کی باری آئی اور قدرت نے ان کو مهلت د
شروع کی، عالمگیر (اورنګزیب) کی بعد (احمدشاه) ابدالي کے ذریعه مهلت دی گئی اور
مهلت سے فایده اٹهانے کیلئے وه سلطنت وجود مین آئی جس کا نام تاریخ مین سلطنت خد
میسور هی، هند کیلئے خدا نے یه غیر مترقبه نعمت دی".

ژباړه:
لوی خدای قومونه آزاد پیدا کړي دي او دا ئې هم خوښه ده چې آزاد وي، خو کله چې قام د
اهلیت ونه لري، چې خپله آزادي وساتي نو د آزادۍ او خپلواکۍ نعمت ځني اخلي، مګر بیا د
خپلواکۍ تر اخیستلو دمخه یو په بل پسې مهلتونه ورکوي، قام چې له دغو مهلتونو ګټه و
خیستلای سي، نو ئې دغسي پرېږدي. د مسلمانانو د حملو په وختو کې خدای جل جلاله هندوانو ت
په بل پسې مهلتونه ورکړل، خو دوی ځانونه اصلاح نه کړل، مسلمانان ئې پر مسلط کړل او
مسلمانانو وار راغلی دئ، خدای جل جلاله دوی ته هم مهلتونه پیل کړل او تر اورنګزیب عالم
(۱۰۶۸-۱۱۱۸ه.ق.) وروسته د احمدشاه ابدالي (۱۱۶۰-۱۱۸۶ه.ق.) په واسطه مسلمانان
مهلت ورکړ سو او له دغه مهلت څخه د ګټي اخیستلو په برکت د میسور خداداده پاچهي منځ
راغله. د هندوستان له پاره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه بری یو داسي نعمت دئ، چې
هندوستانیانو په خوا و خاطر کې نه و.

---

(114) د میسور لومړی مسلمان واکمن حیدر علي خان (۱۱۷۳-۱۱۹۶ه ق) د میسور د زمري سلطان ټیپو ش
(۱۱۹۶-۱۲۱۳ه.ق.) پلار دئ. محمود خان بنګلوري د دوی د نسب په باب لیکلي دي:
"ځیني کسان وایي دوی پښتانه دي".
(وګ: سلطنت خداداد میسور، ۴۲

زمونږ لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پنجاب کي څو واره له سکانو سره سخت جنګونه کړي او
ی ئې کلک ځبلي دي، یو واري ئې د سکانو دومره خلک ووژل، چي سکان هغه ته "وډه
لوګره" وايي، دغه پنجابي نوم یا نحوي ترکیب د "لوی قتل عام" معنا لري، مګر زمونږ د زمانې
منصف سکهـ مورخ ډاکټر پوهاند ګنډا سنګهـ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په باب داسي نظر
ي:

"I had been born and brought up in prejudies against him and had heard him only as a robber chief who swooped down upon India for plunder and carri away to Afghanistan tons of Indian gold and thousands of Hindu slaves. But t more I read of him, the more impressed I became with trait of his greatne irresistibly presenting themselves to my mind(۱۱۵).

اره:

زه په داسي چاپیریال کي زوکړی او لوی سوی یم، چي د احمدشاه سره ئې تعصب رلود، ما د ده په باب فقط دا اروېدلي وه، چي دی یو لوټمار مشر و، پر هندوستان باندي ې د چور او تالا له پاره برید کاوه، ده له هندوستانه په ټنونو سره زر افغانستان ته یووړل او ه زرو هندوان ئې د مریانو په توګه له ځانه سره خپل ملک ته بوتلل. خو څومره چي د ده په اب زما مطالعه زیاتېدله هغومره زیات د ده تر اغېزې لاندي راتلم او د ده لوی والي زما په هن او دماغ کي ځای نیوه(۱۱٦).

دا مطلب ښاغلي ډاکټر ګنډا سنګهـ د خپل کتاب "Ahmad Shah Durrani" په سریزه کي یکلی دئ او کله چي د کتاب په شپږویشتم فصل کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر شخصیت او کارنامو رڼغېږي، هلته لیکي:

"As we have seen in the foregoing pages Ahmad Shah's genius found its fullest expression in his remarkable military exploits, He combined with his soldier's career some great human qualities, Alborn soldier the great Afghan was a natural leader of men, a human ruler an able administrator and a Patron of learning and literature(۱۱۷).

ژباړه:

مونږ د کتاب په تېرو پاڼو کي ولیدل، چي د احمدشاه نبوغ خپله بشپړه څهره د ده په پوځي شهکاریو کي ښکاره کړې ده، ده د پوځي ژوند په څنګ کي ځیني ځیني لوی انساني صفتونه هم درلودل، دی پیدایشي عسکر و، دغه ستر افغان د خلکو پیدایشي مشر او رهبر و، انسان دوسته

(۱۱۵) وګ: د "Ahmad Shah Durrani" د سریزي اووم مخ، دکوټي (۱۹۷۷ع.) چاپ. دا کتاب لومړی په (۱۹۵۹ع.) کال په بمبئي کي چاپ سوی دئ.

(۱۱٦) وګ: درانی احمدشاه (د "Ahmad Shah Durrani" پښتو ژباړه)، ۳۱ مخ، په کابل کي د افغانستان د علومو د اکاډیمی د پښتو بین المللي مرکز له خوا په (۱۳٦٦هـ. ش.) کال چاپ.

(۱۱۷) وګ: د "Ahmad Shah Durrani" ۳۲۸ مخ.

حاکم و، یو لایق اداره چي و، د علم او ادب حامي و(۱۱۸).

A human ruler as he was, Ahmad Shah would not draw out his sword ecessarily, He was reluctant to Punish even the worst of his enemies and tantly manfested clemency(۱۱۹).

ژباړه:

احمدشاه داسي بشردوسته او مهربان پاچا و، چي هيڅکله ئې توره بې سخت ضرور تېکي څخه نه ايستله. دی د خپلو سختو دښمنانو په ايداد (سزا) خوشاله نه و، او تل ئې کاوه(۱۲۰).

دا بحث مي د هغه چا په وينا پای ته ورساوه، چي له مور، پلار، کورنۍ او چاپېريال څخ د احمدشاه بابا رحمة الله عليه له بدو څخه د احمدشاه بابا د شخصيت په باب نور هيڅ نه وو اورېدلي، خپلي مطالعې په برکت، انصاف دې ته اړ ايستلی دئ، چي زموږ لوی احمدشاه بابا ر وستايي.

اروپائيان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصيت په اړه څه وايي؟:

زه که نـــن احمــــد پادشـــاه يم
مغـــرور کلــه په خپل جـــاه يم

(احمدشاه بابا

په دې برخه کي غواړم، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د شخصيت په باب د ختيځ پوه نظريې راټولي کړم، د دې بحث پيل د "George Foster" په نظريه کوم، ځکه چي زموږ د او معلوماتو له مخي دی لومړی انگرېز دئ(۱۲۱)، چي د گرجي سوداگر په جامه کي په (۱۱۹۷هـ (=۱۷۸۳ع.) کال افغانستان ته راغلی او زموږ د ملک په باب ئې ډېر معلومات تر لاسه کړي

جارج فاستر پخپله سفرنامه کي، چي "A Journey from Bengal to England" نوم د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په باب داسي ليکلي دي:

"احمدشاه له مذهبه سره ډېره مينه درلوده، خو متعصب نه و، د دغه وسيع النظره پاچ قلمرو کي هندوان او عيسايان او يهودان خپل مذهبي دودونه په خورا آزادۍ سره ترسره کوي افغانستان سوداگري د هندوانو په لاس کي ده، هغه عيسويان چي افشار نادر د ايران له شم څخه فراره کړل او س په کابل کي اوسي. هندوان، يهودان او عيسايان په افغانستان کي ډېر هو

(۱۱۸) وگ: دراني احمدشاه، ۴۳۹ مخ.
(۱۱۹) وگ: د "Ahmad Shah Durrani" ۲۳۶ مخ.
(۱۲۰) وگ: احمدشاه دراني، ۴۵۰ مخ.
(۱۲۱) جارج فاستر د ايست اينډيا کمپنۍ آف برېتانيا نوکر و، له کلکتې څخه د کشمير پر لاري پېښور ته راغلی دئ کابل، کندهار او هرات له لاري فارس ته تللی او د بحيره کسپين پر لار ئې ځان لندن ته رسولی دئ.

خوندي ژوند لري"[۱۲۲].

انګرېز ختيځ پوه "Mountstuart Alphinstone" سکاټلينډی (۱۸۵۹ ع.مړ) د لوی احمدشاه بابا رحمه الله تر مرګ (په شمسي حساب) اووه ديرش کاله وروسته د (۱۸۰۹ ع.)کال د فروري په پنځه ويشتمه(= ۱۰ محرم ۱۲۲۴ه.ق.) پېښور ته راغلی دئ، دی د شاه شجاع سدوزي دربار ته د ايسټ انډيا کمپنۍ له خوا د لومړي ايلچي په توګه را استول سوی و، ده د پښتنو او افغانستان په باب معلومات په يوه کتاب کي راټول کړي دي، چي " An Account of the Kingdom of Cabul and its dependencies in Persia, Tatary and Indi"نوميږي، په دغه کتاب کي نوموړي الفنسټون زموږ د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د شخصيت په باب داسي ليکلي دي:

"The character of Ahmad Shah appears to have been admirably suited to th situation in which he was placed ...

His military courage and activity are spoken of with admiration both by his own subicets and the nations with whom he was engaged either in wars o alliances, He seems to have been naturally disposed to mildness and clemency and though it is impossible to acquire sovereign power, and perhaps Asia, to maintain it without crimes yet the memoir of no eastern prince is stained with fewer acts of cruelty and injustice..

In personal character he seems to have been cheerfull, affable and good natured. He maintained considerable dignity on state occasions, but at other times his manners were plain and familiar...".

ژباړه:

په کومو شرايطو کي چي احمدشاه واقع و، د احمدشاه خوی و خصلت د هغو شرايطو سره ډېر موزون و ....

د ده خپل رعيت او هغو ملتونو، چي له ده سره ئې جنګونه يا معاهدې کړي وې، ټول د ده زړه ورتيا او نظامي فعاليت ستايي، داسي ښکاري چي د ده طبيعت نرمۍ او زړه سوي ته مايل و، که څه هم د پاچاهۍ قدرت لاس ته راوستل او په آسيا کي د هغه ساتل بې ظلمه ممکن نه دي، خو بيا هم د احمدشاه پر لمن باندي د ظلم ټپلي تر هر شرقي پاچا لږ دي.

د احمدشاه شخصي خوی و خصلت بشاش او له ميني ډک و، دی د ښه طبيعت خاوند و، ده په رسمي مواقعو کي خپل وقار او تمکين په ښه توګه ساته، خو په غير رسمي وختو کي به د اولس له خلکو سره د ده سلوک ډېر ساده او مخلصانه و ..."[۱۲۳].

نوموړي مانسټوارټ الفنسټون پخپل دغه کتاب کي د احمدشاه غازي رحمه الله په باب دا هم

[۱۲۲] د دغه بيان انګرېزي متن زما (رشاد) سره نه و، ارواښاد غلام جيلاني خان جلالي د نامه احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفیٰ ثالث عثماني په تعليقاتو (۱۵۴ مخ) کي دغه مطلب راوړی او ما له هغه ځايه پښتو کړی دئ.

[۱۲۳] وګ: د کابل سلطنت بيان، ۲/ ۲۶۷ مخ او د پښتنو تاريخ، ۱/ ۱۳۶ مخ، درانی احمدشاه، ۴۴۱ مخ.

ليکلي دي:

"که چيري کوم آسيايي پاچا د خپل ملک په خلکو کي د منني حق ولري، هغه احمدشاه دئ"(۱۲۴).

فرير "J. P. Ferrier" په فرانسوي ژبه د پښتنو تاريخ کښلی دئ، د دغه تاريخ انګرېزي ژباړه، چي په (۱۸۵۸ع.) کال په لندن کي چاپ سوې ده، "History of The Afghans" نومېږي. په دغه انګرېزي ژباړه کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصيت په باب داسي کښلي دي:

"His reign was remarkable forth good which he spread around him and his generosity and simple and modest demeanor in the midest of courtly pomp made him loved by all who approached his person, he was of easy access and administered justice upon the most equitable principles without a harsh word even to those who deserved it. He was concelliating persuasive and no one even complained of judjment that he gave".

ژباړه:

د احمدشاه زمانه په دې شهرت لري، چي په ملک کي خوشالئ او ښېګڼي ډېري وې، په شاهي شان و شوکت کي د احمدشاه ساده (بې تکلفه) وضعي په ډېرو زړونو کي د ده مينه پيدا کړې وه، خلک د ده حضور ته د عرض و داد له پاره په ډېره آسانئ سره رسېدلای سوای، د ده عدالت منصفانه و، ده له هغه چا سره هم تندي او ترخې خبري نه کولې، چي د قهر او ترټني وړ به و، ده له هر چا سره په مينه خبري کولې، هيڅوک د ده له فيصلې څخه ناراضه نه و(۱۲۵).

جرمني فريدريک انګلز (۱۸۲۰-۱۸۹۵ع) (= ۱۲۳۶-۱۳۱۳ هـ. ق.) د (۱۸۵۷ع.) کال د اګست پر لسمه (= ۱۹ ذی الحجه ۱۲۷۳ هـ. ق.) د افغانستان په باب يو مضمون ليکلی او په (۱۸۵۸ع.) کال د "نيو امريکن انسايکلو پيډيا" په لومړي ټوک کي خپور سوی دئ، د دغه مضمون پارسي ژباړه جنرال ګل اغا کړې ده، په دغه ژباړه کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په باب داسي کښلي دي:

"سلطنت و قلمرو احمدشاه از خراسان تا دهلی امتداد يافته بود، با زور حتی کشور مرهټه ها را به آشتی واداشت، اين مصروفيت های بزرگ نظامی مانع آن نشد که او به انکشاف و رونق دادن صلح آميز يکتعداد هنر ها توجه ننمايد، او بمثابه شاعر و مورخ شهرت بزرگی کمايی کرد و در (۱۷۷۵ع.) وفات يافت"(۱۲۶).

---

(۱۲۴) وګ: د کابل د سلطنت بيان، ۲/ ۱۱۹ مخ.

(۱۲۵) وګ: د پښتنو تاريخ، ۱/ ۱۳۱ مخ، تنکيالي پښتانه، ۱۶۱ مخ.

(۱۲۶) وګ: افغانستان، ۷ مخ. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ کال چي (۱۷۷۵ع.) ليکلی دئ، سهي نه دئ. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د (۱۷۷۲ع.) کال د جون په دريمه ورځ (= ۲ ربيع الاول ۱۱۸۶ هـ. ق.) مړ دئ. زموږ په

پرملي غلام محمد غبار په افغانستان در مسیر تاریخ (۴۸۰ مخ) کي دغه مطلب داسي راوړی دئ:

"از خراسان تا دهلي زیر فرمان او (احمدشاه) بود، معهذا از روش صلح آمیز عاري نبود، او یک شاعر و مورخ هم بود ....".

انګرېز مورخ "کرنیل ملیسون" د پښتنو د تاریخ په باب یو کتاب لیکلی دئ، چي "History of Afghans from the earliest Period to outbreak of the War of 1878" نومیږي. ده پخپل دغه کتاب (۲۷۷ مخ) کي د لوی احمدشاه بابا رحمه الله په باب داسي کښلي دي:

"Above all he (Ahmad Shah) endeavoured to impress upon every act the stamp of nationality. He was King to extend Afghan authority to found an Afghan nationality and spread Afghan Ideas, in all his dealings with the tribes it was to this spirit that he appealed and it was this appeal that assured his success".

ژباړه:

د احمدشاه تر ټولو زیات کوښښ دا و، چي خپل هر کار ته د قامولۍ رنګ ورکړي، ده به ویل زه د دې له پاره پاچا سوی یم، چي افغان قدرت زیات او پراخ کړم افغاني ملیت جوړ کړم او د دوی دود او دستور رواج کړم. احمدشاه به تل د قومیت په نامه د ځان د ملاتړ له پاره قبیلې رابللې او له دغه امله به دوی، تل د ده ملاتړ وو(۱۲۷).

سر جان مالکم انګرېز د کرنیل ملیسون نظریه په دې الفاظو تائید کړې ده:

"احمدشاه د قام له فکره سره سم حکومت کاوه، ځکه نو ټول ملت په درنه سترګه ورته کتل. دی د هندوستان او افغانستان تر ټولو ستر فاتح دئ.

د هندوستان او افغانستان دې تر ټولو ستر فاتح په خپله حکمداري کي، یو عالي هدف درلود او هغه و، د پښتنو د قومیت جوړول".

نوموړي کرنیل ملیسون د خپل تاریخ په ۲۹۲ مخ کي کښلي دي:

"The chief merit to be ascribed to Ahmad Shah is undoubtedly the sonsolidation of the Afghan tribes he made them a nation".

ژباړه:

بې له شکه د احمدشاه ستر لیاقت دا و، چي پښتانه قومونه ئې متحد کړل او له دوی څخه ئې یو ملت جوړ کړ(۱۲۸).

کرنیل ملیسون دا هم لیکلي دي:

"د احمدشاه او جرګې تر منځ هیڅکله اختلاف نه دئ، پیښ سوی، دا ځکه چي د احمدشاه بابا

ځینو کتابو کي، چي د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د مرګ تاریخ د (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال د رجب شلمه ښوول سوې ده، هم سهي نه دئ.

(۱۲۷) وګ: د پښتنو تاریخ، ۱/ ۱۳۲ مخ.

(۱۲۸) وګ: د پښتنو تاریخ، ۱/ ۱۳۳ مخ.

نظريات ډېر عالي او له خپلمي د قامولۍ او اجتماعي منافعو پر اساس بنا وه. ټول قام به ځکه ډېره مینه او اخلاص د احمدشاه بابا د هر هغه اقدام ملاتړ کاوه، چي د دوی قبیلوي مشرانو به هغه منلی او د قام د خیر له پاره تجویز کړی وه او دا د احمدشاه بابا په هر اقدام کي د کامیابۍ رازو".

کرنیل ملیسون لیکلي دي:

د احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر ټولو زيات کوښښ دا و، چي خپل هر کار ته قامي رنګ ورکړي او تر ټولو لوړ قابلیت ئې دا و، چي د پښتنو قبایل ئې متحد او منظم کړل او یو قام ئې ورڅخه جوړ کړ.

اولف کیرو (Olaf Caroe) زموږ د زماني یو انګرېز مولف و، چي د (١٩٨١ع.) کال د نومبر په وروستۍ هفته (=قوس ١٣٦٠هـ. ش.) کي ومړ[١٢٩]. د ده دوه کتابه، چي د "Soveit Empire" او "The Pathans" په نومونو په (١٩٥٤ع.) او (١٩٥٨ع.) کلونو په لندن کي چاپ سوي دي، ما لیدلي دي. ده په "The Pathans" (٢٥٩ مخ) کي د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د شخصیت په باب کښلي دي:

"Ahmad[130] had a bold and commanding turn of natural genius. He was an adept in the difficult art of the management of men and tribes, man of war indeed he was, but one disposed by nature to mildness and clemency and prone to policies of conciliation where the way lay open, He was a king who never lost the common touch with his Durrani and Ghelji Counselors".

ژباړه:

احمدشاه زړه ور سړی و، د مشرتابه له پاره ئې فطري نبوغ درلود، د خلکو او قبیلو د تنظیم په مشکل فن کي استاد و، دی واقعاً د جنګ سړی و، خو په طبیعت کي ئې زړه سوی او نرمي پرته وه، تر کومه ځایه به چي کېدای سوای ده د روغي او جوړي سیاست پر مخ بیوه، دی هغسي پاچا و، چي د خپلو درانو او غلجو مشاورینو سره ئې رابطه هیڅکله پرې نه ښووله.

د پر وطن او ملت مین غازي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ښېګني دومره ډېري دي، چي را ټولوونکي ئې مجبورېږي ووایي:

ستا د ښایست ګلونه ډېر دي
لمن مي تنګه زه به کوم یو ټولومه

---

[١٢٩] اولف کیرو دیرش کاله په هندوستان کي تېر کړي دي، دی ډېره موده د محکوم هندوستان د بهرنیو چارو د وزارت سکرتر و، بیا په پېښور کي د پرنګیانو تر ټولو وروستی ګورنر سو.

[١٣٠] کیرو عادت لري، چي زموږ له ستر ټولواک سره "شاه" نه لیکي، ده ته به ښایي انګرېزیت مآبۍ اجازه نه ورکوله، چي د پښتنو له شهنشاه سره، چي د پاني پت قهرمان دئ، د شاه لقب ولیکي.

لنډې دا، چي ستر تولواک، لوی فاتح، پښتون غازي، د پاني پت قهرمان اعليحضرت
احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پښتنوالي په تاريخ کي د صحيحو او مطلوبو پښتني اخلاقو يو ربښتيانی
مثل و، خدای جل جلاله دي پر ورحمېږي، آمين يا رب العلمين!

لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه وفات او هديره:

ستر تولواک اعليحضرت لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه تر ۲۵ کاله، اووه مياشتي و څو ورځي
پاچهۍ وروسته، د (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور په دوهمه[۱۳۱] (= ۳ جون ۱۷۷۲ع.) د
پنجشنبې په ورځ، په "توبه" کي، چي د کندهار جنوب شرقي لور ته تقريباً نوي (۹۰) ميله ليري، د
اڅکزو سني سپين بولدک د کوږک په غره کي يو لوړ او سوړ ځای دئ، وفات سو. جنازه ئې په شاهي
احترام سره ابو احمدشاهي کندهار ته راوړه سوه او د شهزاده سليمان سدوزي له خوا د احمدشاهي کندهار،
په شاهي باغ کي ښخ سو.

محمد اعظم کودېزي په (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د "جلات او محبوبا" د قصې په پيل کي ويلي
دي:

دور تېر د شاه دران شو — درست پښتون يې په ارمان شو
شهنشاه د هر تومن و — د افغان چولی دامن و
چي دفتر د ده شو تول — پښتون واړه شو ختول
عنايت د حق ظهور شو — چي نا يب يې شه تيمور شو
چي په تخت د سليمان شو — په حسب نسب عيان شو
په جلوس يې لوی نښان شو — روه له قتله په امان شو

(پښتانه شعراء، ۲/۴۰۴مخ)

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مړيني په باب ميرزا سيد عبد الهادي خان لاري موسوي
"عشرت" داسي ويلي دي:

خسرو عادل خديو بې همال — آنکه عالم بُد ازو رشک ارم
سکه بر زر کرد شاهی در جهان — نامداری ماند از وی بر درم
دست و تيغش بود بر فرق عدو — مدت سی[۱۳۲] سال در عالم علم

---

[۱۳۱] هغه فرمان چي د شاه سليمان سدوزي له خوا د احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرگ په نسبت ميا فقير الله رحمة الله عليه ته ورلېږل سوی دئ، د لومړۍ خور ۲۳ تاريخ لري.
(مکتوبات ميا فقير الله، ۲۶۹مخ)

[۱۳۲] په دې دېرش کاله کي هغه څلور کاله هم حساب سوي دي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د افشار نادر په خدمت کي تېر کړي دي او دا ځني ثابتېږي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال د نادر په خدمت کي شامل سوی دئ.

ناگـــهان پیک اجـــل دادش ندا | کی[۱۳۳] سر و سرخیل شـــاهان عجم
وقت آن شد کز سـریر سلطـــنت | در ره فـــردوس بگذاری قـــدم
سوی جـــنت آن شه پاکـــیزه دین | شد روان با داعی حـــق بـــی الم
گر چه رفت از امر حق اما گـــذاشت | بر دل مـــردم تمامی درد و غـــم
گـــردِ غـــم بر چهره انجـــم نشست | پشت چـــرخ نیلگـــون گردید خـم
زین اَلـــم تاب و توان رفت از هـــمه | ناتوانیـــها بـــجا دارد خـــدم
ســـال تاریـــخ وفـــاتش مصـــرعی | جســـتم از پیر خـــرد کردم کـــرم

گفـت با مـــن بی تکلف شـو بگـــو
"شـاه درانـــی به جـــنت زد قـــدم"
۱۱۸۶ هق

دا عالیشانه گمبته، چي د غازي ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پر هدیره ولاړه ده، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ژوند جوړه سوې[۱۳۴] ده او تکمیل ئې په (۱۱۹۰ هـ. ق) کال د تیمورشاه سدوزي رحمة الله علیه په پاچهۍ کي سوی دئ.

سید عبد الهادي خان لاري موسوي عشرت د دې عالیشانه بنا د تکمیل تاریخ داسي ویلی دئ:

اسـاسـي کـه تـیـمـور شـاه زمـان | بـنـا کـرد بـا جـد و جـهـد تـمـام
اسـاس بـلـنـدی گـرفـت از زمـیـن | کـه انـدازد افـلاک از احـتـشـام
دریـن بـقـعـه بـهـر طـواف از فـلـک | درآیـنـد قـدوسـیـان صـبـح و شـام
یـکـی مصـرع از بـهـر تـاریـخ آن | بـخـواه از خـرد تـا شـود اهـتـمـام
بـجـسـتـم بـگـفـتـا کـه ای هـوشـیـار | بـگـو: "فـیـض آبـاد عـالـی مـقـام"
۱۱۹۰ هق

محمد اسماعیل د منشي محمود الحسیني زوی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د گمبتي د جوړېدلو تاریخ داسي ویلی دئ:

حبذا آن روضـــه و آن بقعـه جنت نظیر | مثل آن جائی ندیده دیده لیل و نهار
طاق کسرٰی شد شکسته پیش آن عالی بنا | میشـود ظاهر ز صـنعش قدرت پروردگار
منزل قدوسـیان و مهبط فیض خداسـت | بـاد دایـم قبلـه حـاجـات اهـل روزگـار
سـال اتمامش نویسـم از برایت عـام فهم | تا در اسـتدراک آن مطلق نباشـد انتظار
در هزار و یکصد و تسعین هجری شد تمام | آن عـمـارات مـزار شـهـریـار کـامـگـار

(تاریخ احمدشاهي، ۲/۱۲۹۳مخ)

---

(۱۳۳) کی = که ای

(۱۳۴) تیمورشاه درانی، ۲۴۰ مخ.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ په تاریخ کي اختلافونه:

د خدای بخښلي ستر ټولواک غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مړيني د کال، میاشتي، نیټې او د پاچهۍ د مودې په باب اختلافونه یا تېروتني په ځینو کتابونو کي لیدلي کیږي، په دې ډول:

الف-د کلونو اختلاف:

منشي عبد الکریم علوي د "تاریخ احمد" په اتلسم مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ موده درویشت کاله، دوې میاشتي او څو ورځي ښوولې ده، مګر د مرګ کال ئې سهي لیکلی دئ، خو واقعیت دا دئ، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په قمري حساب پنځه ویشت کاله، اووه میاشتي او څو ورځي پاچهي کړېده، چي په شمسي حساب څلېرویشت کاله او یوولس میاشتي ځني جوړېږي. د تاریخ احمد په اردو ژباړه کي، چي "واقعات دراني" نومیږي، ژباړن "وارث علي سیفي" د مولف روایت کټ مټ ژباړلی دئ.

"په فوائد الصفویه" کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مړيني کال (۱۱۸۳ ه. ق.) لیکل سوی دئ. ایراني پوهاند مدرس رضوي د ابو الحسن محمد امین ګلستانه د "مجمل التواریخ" د تعلیقاتو په برخه (۴۴۸ مخ) کي د فوائد الصفویه لیکنه واقعیت ته نژدې بللې ده، خو پخپله په مجمل التواریخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ نېټه د (۱۱۸۵ ه. ق.) کال د څلورمي خور پای ښیي، چي د "ګنډا سنګهه" په وینا د (۱۷۷۱ع.) کال له اکتوبر سره برابره ده.

شیر محمد خان ګنډاپوري د "تواریخ خورشید جهان" په ۱۷۵ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۱۸۴ ه. ق.) لیکلی دئ.

عبد الحکیم خان لودي د شوکت افغاني د دوهمي برخي په ۶۷ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۱۸۴ ه. ق.) (= ۱۷۷۰ع.) بللی او د ده د پاچهۍ موده ئې څلیرویشت کاله و څو میاشتي لیکلې ده. ډېټي حیات خان بیا د حیات افغاني د لومړي ټوک په ۱۲۶ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ موده، فقط څلیرویشت کاله ښوولې ده.

د واصل د دیوان د خطي نسخې په پای کي لیکلي دي:

"تاریخ ۱۱۸۶ جلوس سلیمان شاه و وفات احمدشاه پادشاه در دراني في شهر ربیع الاول".

د افغانستان مورخ اروابناد غلام محمد خان غبار (۱۱۵۶ ه. ش. مړ) د افغانستان در مسیر تاریخ د لومړي ټوک په ۳۷۲ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مړيني کال (۱۱۸۷ ه. ق.) او میاشت ئې رجب ښوولې ده. اروابناد غبار دغه نېټه په عیسوي حساب د (۱۷۷۳ ع.) د جون له میاشتي سره برابره ګڼلې ده[۱۳۵]. زما (رشاد) په خیال اروابناد غبار د دغي نېټې په لیکلو کي د

---

[۱۳۵] د (۱۱۸۶ ه. ق.) کال د رجب د میاشتي لومړۍ ورځ د سپتمبر له اتلسمي سره برابره ده. د اروابناد غبار په افغانستان در مسیر تاریخ کي د قمري هجري او عیسوي نېټو معادله هم سمه نه ده.

"مانستهوارټ الفنستون"، "جي. بي. مالیسون" او "جي. پي. فرېر" پیروي کړې ده. دغو دریو سرو ختیځپوهانو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مرګ د (۱۱۷۳ع.) کال په جون کي ښوولی دئ. دا به بې ځایه نه وي، چي ووایو تر اوسه پوري د دغه ټېروتنه ایراني لیکوال اعتضاد السلطنه علي قلي میرزا هم کړېده او ده هم د "تاریخ وقایع و سوانح افغانستان" په دیرلسم مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۱۸۷هـ. ق.) لیکلی دئ.

په دغو یادو سوو روایتونو کي د کال یا کلونو زیاتی یا کمی راغلی دئ، خو واقعیت دا دئ، چي د ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مرګ په (۱۱۸۶هـ. ق.) کال پېښ دئ[۱۳۶]. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دربار د منشي محمود الحسیني زوی محمد اسماعیل، چي د احمدشاه بابا رحمة الله علیه مرګ ئې پخپلو سترګو لیدلی دئ، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ویرنه کي تاریخي ماده داسي ویلې ده:

با دل مجروح جستم از خرد با صد فغان ... سال تاریخ وفات پادشاه نامدار
بهر تاریخ وفاتش "جان افغان" زد رقم ... از برای درک مطلب بر سبیل اختصار

❁❁❁

باز گفتم باو تاریخ ازین بهتر بگو ... تا نماند بر دلم زین رهگذر مطلق غبار
گفت در گوشم "ز ایزد شاهی فردوس یافت" ... زانکه با او لطف دارد دایماً پروردگار
روز پنجشنبه بتاریخ دوم ز اول ربیع ... وقت ظهر و سال لوئیل آخر فصل بهار
کرد رحلت در هزار و یکصد و هشتاد و شش ... سال تاریخ وفات از سال هجرت کن شمار

(تاریخ احمدشاهي، ۲/ ۱۲۹۲مخ)

له دغو دواړو تاریخي مادو "جان افغان" او "ز ایزد شاهی فردوس یافت" څخه ۱۱۸۶ راوزي. خدایداد خان ترین د "تاریخ سنده" په ۱۳۴ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ تاریخي ماده داسي راوړې ده:

"ز دنیای دون شاه رحلت نمود"

۱۱۸۶هق

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دربار یوه بل شاعر منشي عبد الهادي لاري موسوي، چي "عشرت" ئې تخلص و د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ویرنه کي داسي ویلي دي:

شاهی که تمام عمر از فضل آله ... بر خواهش او چرخ مخالف گردید
تیغش چو شعاع شمس بر فرق عدو ... از روز خروج تا بقرنی تابید
ناگاه ندای ارجعی پیک اجل ... در داد بگوش هوش آن شاه سعید
لبیک اجابت بر زبان جاری کرد ... بر داعی حق بطوع بی گفت و شنید

---

[۱۳۶] تاریخ احمدشاهي، د منشي محمود الحسیني تالیف، د ماسکو چاپ، ۲/۱۲۷۷مخ.

زین تعزیه آسمان با فر و شکوه — از بار گران درد و اندوه خمید
با چهره زرد از غم شاه جهان — لرزنده بر افلاک بر آمد خورشید
بر روی خلایق ز غم و درد و الم — خوناب سرشک همچو سیلاب دوید
از بهر وفات شاه "عشرت" می جست — تاریخ نیکو از خرد با تائید
از لطف بمن کرد جوابی که بگو — "فردوس ز مقدمش مزین گردید"

۱۱۸۶ هـ ش

په کندهار کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زیارت گُمبته، چې په (۱۱۹۰هـ.ق.) کال ئې ودانې بشپړه سوېده، پر دیوالونو ئې، په جلي قلم دا څلور بیتونه لیکلي دي:

شاه والا جاه احمد شاه درانی که بود — در قوانین امور سلطنت کسرٰی منش
از نهیب قهرمان سطوتش در عهد او — شیر آهو را به شیر خود دادی پرورش
میرسید از هر طرف در گوش بدخواهان او — از زبان خنجرش هر دم هزاران سرزنش[۱۳۷]
چون روان شد جانب دارالبقا تاریخ بود — سال هجري یکهزار و یکصد و هشتاد و شش

ب- د میاشتو او ورځو اختلاف:

په ځینو کتابونو کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مړیني کال سهي کښلی دئ، خو د میاشتو او روځو تېروتني پکښې سته، لکه:

د کندهار اوسېدونکي سلطان محمد خان بارکزي، چې "خالص" ئې تخلص و، د خپل کتاب "تاریخ سلطاني" په ۱۴۷ مخ کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مړیني نېټه "شب جمعه ۲۰ رجب یکهزار و یکصد و هشتاد و شش هجري قمري" لیکلې ده.

فیض محمد هزاره متخلص په "کاتب" د سراج التواریخ د لومړي ټوک په ۲۹ مخ کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ نېټه له تاریخ سلطاني څخه کټ مټ نقل کړېده.

هندوستاني پوهاند ډاکټر ګنډا سنګهـ د "Ahmad Shah Durrani" د پنځه ویشتم فصل په پای کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ نېټه د (۱۱۸۶هـ.ق.) کال د رجب د میاشتي شلمه بللې او د (۱۷۷۲ع.) کال د ډسمبر له درویشتمي سره ئې ذکر سوې نېټه برابره ښوولې ده. دغه دا هم زیاته

---

(۱۳۷) د ملیسون په کتاب کې د دغو بیتونو انګرېزي ژباړه داسي راغلې ده:

Ahmad Shah Durrani was a great king such was the fear of his justice that the lion and the hind lived peacefully together; the ears of his enemies were incessantly deafened by the noise of his conquest.

ملیسون د بیتونو متن نه دئ راوړی، پښتو ژباړه ئې د منشي احمدجان په ژباړلي تاریخ افغانستان (۲۷۳ مخ) کې په نثر راغلې ده.

نوموړي انګرېز کرنیل ملیسون په "History of Afghanistan" کې وایي:

"احمدشاه (ابدالي) په خپل داخلي انتظام او عدالت د خپلي ګومبتي د شنختي لیکلی مطلب رشتیا کړی دئ".

د مرګ هجري نېټه له تاريخ سلطاني او سراج التواريخ کړېده، چي ما د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه
څخه اخيستې ده.

اروابناد مير محمد صديق فرهنګ د "افغانستان در پنج قرن اخير" په ۹۲ مخ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ نېټه په عيسوي حساب د (۱۷۷۲ع.) کال د اکتوبر درويشتمه او په هجري قمري حساب ئې د (۱۱۸۶هـ. ق.) کال د رجب د مياشتي څلېرويشتمه ليکلې ده او خپل ماخذ ئې نه دئ ښوولی.

نبي مصداق په "Ahmad Shah Durrani" کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ نېټه د (۱۱۸۶هـ. ق.) کال د محرمي د مياشتي له اووه لسمي سره برابرېږي.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ د نېټې په باب دا بيان سوي روايتونه څکه سهي نه دي، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د دربار د منشي محمود الحسيني ليکنه هغه ردوي. منشي محمود الحسيني، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پر جنازه حاضر و، د خپل کتاب "تاريخ احمدشاهي" په دوهم ټوک کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پاچهۍ د شپږويشتم کال په بحث کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه مرګ د (۱۱۸۶هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په دوهمه، چي د پنجشنبې روځ وه، ښوولی دئ او دا ئې زياته کړېده، چي دغه کال د ترکانو د زماني وېش له مخي "لوی ائيل - لوئيل" و.

پوهاند ګنډا سنګه په "Ahmad Shah Durrani" کي ليکلي دي:

په عمدة التواريخ ګي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ نېټه د (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي دوهمه ليکلې ده، چي د (۱۷۷۲ع.) کال د جون د مياشتي له لسمي سره برابرېږي.

په پای کي هغه تاريخي مادې راوړم، چي ما (رشاد) د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د مرګ په باب ويلي دي:

د پښتون د کالبوت ساه وې احمدشاه ها!	ستا په مرګ مي زړه زخمي سو اينه ګرګ سوه
مفتيان د عدل و عقل پسي ګرزي	"هدايه" د "تاريخ" ورکه ستا په مرګ سوه

حل ئې:

د تخرجې عمل: "تاريخ" (= ۱۲۱۱) - "هدايه" (= ۲۵) = (۱۱۸۶هـ. ق.)

"دم" ئې ورکړ، عزرائيل ته "ځي جنت ته احمد شاه"
۴۴ ۱۲۳۰

حل ئې:

د تخرجې عمل: "ځي جنت ته احمدشاه" (= ۱۲۳۰) - "دم" (= ۴۴) = (۱۱۸۶هـ. ق.)

ی احمدشاه بابا رحمة الله علیه او د علماوو او صلحاوو قدر:

: زهور مین ولي ی نقشبند کي سرگرمیان په ۱۳۸ مخ او د خزینة الاصفیاء په ۱/ ۶۷۵ و کي لیکلي دي:

نوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د مرهتو له غزا څخه لاهور ته راستون سو، د حاجي محمد عید رحمة الله علیه زیارت ته ورغئ. حاجي محمد سعید (۱۱۷۶ هـ. ق. مړ) په قادریه طریقه کي د یه محمود بن سید علي حسین کردي او په نقشبندیه طریقه کي د حافظ سعد الله مجددي یفه و.

په نسخ التواریخ کي کښلي دي:

د شیخ احمد بن جلال الدین (مخدوم اعظم کاشاني ۹۴۹ هـ. ق. مړ) له لمسیانو څخه یو سړی چي غالباً "آفاق خواجه" نومېد (؟)، کاشغر ته ولاړ. قالماق مغول ئې، چي درې که ته وو او د کاشغر او ختا تر منځ اوسېدل او تل به ئې کاشغریان ځورول، مسلمانان کړل و کاشغریان ئې د هغو له ځوره په امان کړل. دی چي مړ سو، یو زوی ئې، چي "آی خواجه" نومېد، د کاشغر پاچا سو، بل زوی ئې، چي "کون خواجه" نومېد، د پیرۍ او ارشاد پر مسله کښېناست. په دغه وخت کي د ختا پاچا پر قالماقو برید وکړ، قالماق ئې اېل کړل او دواړه وروڼه بدخشان ته وتښتېدل. د ختای پاچا د بدخشان امیر "میر سلطان شاه" (د میر پادشاه دوهم زوی د پلار په وختو کي د چاه آب حاکم و) ته بدي ورکړلې او د دغو دوو وروڼو وژلو و نیونو ته ئې ولمساوه. ده دواړه وروڼه مېلمانه کړل، وئې وژل او ککرۍ ئې د ختا پاچا ته ورولېږلې. د آی خواجه زوی محمد امین خواجه کابل ته وتښتېدئ او لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته ئې پناه وروړه. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د خواجه ګانو د کسات اخیستلو له پاره یو لښکر بدخشان ته ولېږه، بدخشان ئې ونیو، سلطان شاه ئې بندي کابل ته بوت او محمد امین خواجه ته ئې د قصاص له پاره په لاس ورکړ. محمد امین خواجه د کابل په میدان کي د هغه سر غوڅ کړ[۱۳۸]. تر دغه وروسته محمد امین خواجه بدخشان ته ولاړ او هلته ئې د پیرۍ بازار تود سو. د ده تر مرګ وروسته ئې زوی، یوسف خواجه مصر، بغداد، بمبئي او ایران ته ولاړ. په (۱۲۲۸هـ. ق.) کال په مازندران کي د ایران پاچا فتحعلي شاه ته پورته سو او هلته وواړه سو. د یوسف خواجه پر سر باندي، د امیر سلطان شاه زوی، میر محمد شاه د بدخشان والي، ډېر انعام ایښی و[۱۳۹]. د یوسف خواجه کاشغري په مهر کي دا بیت کیندلی و:

آی خواجه چون بفردوس برین شد زین جهان
جانشین اوست یوسف خواجه صاحبقران

---

[۱۳۸] د تاریخ بدخشان په ۱۱۹ مخ کي د میر سلطان شاه د مرګ کال (۱۱۷۹هـ. ق.) یا (۱۱۸۴هـ. ق.) ښوول سوی دئ.

[۱۳۹] تاریخ بدخشان، (د خواجه ګانو راتګ بدخشان ته)، ۶۴ مخ.

احمدشاهي بناوي(۱۴۰):

۱. د کابل د ښار کلا، چې لس دروازې ئې درلودې، په (۱۱۶۶هـ. ق.) کال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر، احمدشاهي سپهسالار "سردار جان خان پوپلزي" ودانه کړې ده.

۲. د احمدشاهي ښار (کندهار) د تهداب خښتته په (۱۱۶۹هـ. ق.) کال د دوهمي خورد میاشتي په اوله، دیکشنبې په ورځ تر ډېرو خیراتو او دعاوو وروسته، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په لاس کښېښوول سوه(۱۴۱) او د "اشرف البلاد احمدشاهي" په نامه یاد سو.

۳. د خرقې شریفي عمارت. خرقه مطهره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په امر د اشرف الوزراء شاه ولیخان بامیزي په وسیله، د (۱۳۸۲هـ. ق.) کال د لومړۍ خورد میاشتي پر نهمه، د بدخشان له فیض آباده څخه کندهار (اشرف البلاد) ته را نقل سوې ده.

۴. په مکه مکرمه کي د افغاني حاجیانو له پاره کاروانسرای (رباط افغاني)، چي په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال جوړ سو. د هغي تاریخي کتیبې نقل، چي پر ډبره باندي په مکه مکرمه کي د حاجیانو په هغه کاروانسرای یا حاجي خانه کي ښخه ده، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په (۱۱۷۰هـ. ق.) کال(۱۴۲) ودانه کړې ده:

کشـــاده باد بدولت همیشه این درگـــاه
بحـــق اشهـــــد ان لا الـــه الا الله

حسب الامر مقدس امر و مقرر شد که بر سنگ که در کاروانسرای که در کعبه معظم زاد الله شرفاً و تعظیماً ساخته می شود بنویسند که چون جماعهٔ سلیمانی که عبارت از جماعهٔ افغانی باشد در مکه معظمه زاد الله شرفاً و تعظیماً محل سکونت را نداشتند و بخصوص چگونگی آن بعرض اقدس رسید، بنا بر دعای خیر جهة ذات با برکات شاهنشاه در درانی خلد الله ملکه و سلطانه در بلدهٔ مقدسه معلی فرمودند که جهت

---

(۱۴۰) په اصل کي د دغي برخي معلومات پوره نه وو راوړل سوي. موږ دغه برخه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دېوان. مشهور په دیوان هرا څخه، چي تر ټولو وروستی او دقیق چاپ دئ او د ښاغلي محمد معصوم هوتک په ترتیب، مقابله او سریزه، په کوټه کي د صحاف نشراتي موسسې له خوا په (۱۳۸۸هـ. ش.) کال چاپ سوی دئ، له سریزي او د علامه رشاد رحمة الله علیه له نورو آثارو څخه بشپړه کړه.

(علامه رشاد اکادیمي)

(۱۴۱) تاریخ احمدشاهي، د ماسکو چاپ، ۱/۵۴۷-۵۴۹ مخونه.

په سراج التواریخ (۱/۲۶ مخ) کي چي د احمدشاهي ښار د ودانولو کال (۱۱۷۴هـ. ق.) ښوول سوی دئ، تېروتنه سوې ده.

غبار هم په "افغانستان در مسیر تاریخ" (۱/۳۶۰ مخ) کي دغه تېروتني تېر ایستلی او د کندهار د ودانۍ کال ئې (۱۷۶۱ ع.) (=۷۵-۱۱۷۴هـ. ق.) لیکلی دئ.

(۱۴۲) عزیز الدین وکیلي پوپلزي د دغي حاجي خانې وداني په (۱۱۶۷هـ. ق.) کال ښیي.

جماعه سلیمانی چه درانی و غیر درانی هر افغانی که درینجا وارد گردد در کاروانسراء که ساخته می شود فرود آید و بحسب قیمت الی هر وقتی که در حجره های کاروانسرای مذکور ساکن باشد احدی بایشان رجوعی نداشته بعلت وجه کراهه مزاحمت نرساند، بنا بر آن عالیجاه حاجی الحرمین والشریفین حاجی محراب دیندار خان درانی نورزائي و حاجی الحرمین والشریفین حاجی عبد الکریم خان درانی بارکزائي را مامور ساختن کاروانسرای در آن بلده مقرر و مامور فرمودیم و به اهتمام ایشان به اتمام رسیده است و هر کس از جماعه سلیمانی چه درانی و غیر درانی که افغان بوده باشد وارد اینجا گردیده در حجره های کاروان سرای مزبور ساکن شود تا مادامی که درینجا باشد هیچکس بعلت کراهه ازو چیزی نگیرد تا که این دولت خداداد روز افزون به ثواب همایون ما از جناب اقدس الهی پایدار باشد. کراهه حجره های کاروانسرای مذکور بجماعهٔ سلیمانی بخشیده ایم و من بعد الی یوم رستخیز نیز کراهه آن بجماعهٔ سلیمانی چه درانی و غیر درانی هر افغانی که بوده باشد در کاروانسرای مذکور سکونت نماید وقف باشد و هر گاه حجره های کاروانسرای مذبور اضافه از جماعهٔ مذبور باشد به اشد رضا بدیگر مردم بکراهه بدهد، بعداً کراهه آنرا اولاً به تعمیر آن صرف کند و اضافه آن تعمیر هر چه باشد آنرا نیز بجماعهٔ سلیمانی صرف مایحتاج نمایند و سوای این جماعه سلیمانی چه درانی و غیر درانی و هر افغانی بوده باشد دیگری در اینجا طمع و توقع نکند و در وجه جماعهٔ مذکور الی یوم رستخیز وقف دانند و هر گاه احدی درینجا طمع و توقع نماید نزد خدا و رسول خدا مواخذ و مخاطب بازخواست خواهد گردید. فی غره شهر ربیع الاول روز پنجشنبه ۱۱۷۰ هـ[۱۴۳].

۵. په مدینه منوره کي د نبي کریم ﷺ د مبارک زیارت، د بام د باران د اوبو له پاره، د سرو زرو ناوه جوړول. په دې باب د احمدشاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان په ۵۶۴ مخ کي ښاغلي عزیز الدین وکیلي پوپلزي داسي کښلي دي:

"اعلیحضرت احمدشاه دران که در سالهای (۱۱۶۰ الی ۱۱۷۰هـ. ق.) بحصول افتخارات بسیار بزرگ نائل و کامیاب گردید، بشکرانهٔ آن همه اقدامات و فتوحات و نهضت های پی در پی واسترداد قلمرو افغانستان کهن، که شرح آن در این کتاب از نظر گذشت، بعد از فتح دهلی بر خود لازم دانست که بحیث شاهنشاه فاتح و شهسوار نامدار مجاهدین اسلام، هدیه ائی بزیارتگاه مبارک و مقدس مدینهٔ منورهٔ طیبه زاد الله تعالی شرفاً و تعظیماً از طرف خود و ملت نجیب و

---

[۱۴۳] طلوع افغان، د لسم کال شلمه گڼه، (چهارشنبه ۱ سرطان ۱۳۱۱ هـ. ش.) (= ۱۷ صفره ۱۳۵۱ هـ.ق.).
وزیر دربار احمدشاه خان د نادرشاه له خوا حج ته ولاړ هلته ئې دغه کاروانسرای ترمیم کړاو د پښتنو د تاتوبي ځای ئې وګرزاوه. مبشر طرازي او مولانا سیف الرحمن خان الکوزی هم د وزیر دربار مله ول. د کابل مجلې د (۱۳۱۱هـ.ش.) کال په ... ګڼه کي د دغو دریو تنو عکس هم راغلی دئ، دا عکس په بمبئي کي اخیستل سوی دئ او د هیأت د غړو په غاړو کي د ګلونو امیلونه ځړېږي.

بادیانت افغانستان کبیر بکمال خشوء و خضوء و منتهای صدق و اخلاص اهداء نماید. چون در زیارتگاه مبارک و مقدس حضرت سرور کائنات و مفخر موجودات و مقتدای عالمیان ﷺ از هیچگونه اشیاء بیش بهاء کم و نایاب نمی باشد که ایجاب هدیۀ بیشتر از جانب دولت شاهنشاهی افغانستان بنماید، لذا توسط صنعت گران و زرگران ماهر افغانی ناوه ئی از طلا از طرف خود و ملت بادیانت خود ترتیب داده، در بهار سال (۱۱۳۶هـ. ش.) مطابق (رمضان ۱۱۷۰هـ. ق.) بمدینۀ منورۀ طیبه فرستاده تقدیم نمود و از اولیاء دولت عثمانی و شریف مکه و رجال ارباب تولیت آن زیارتگاه مقدس و مطهر التماس نمود که در کنار بام روضۀ مقدسۀ نبویه ﷺ نصب نماید تا آب باران توسط ناوۀ طلای ساخت مملکت افغانستان بزمین فروریزد. تا باشد که بلطف و مرحمت حضرت آفریدگار عالم و روحانیت حضرت سید الکونین و الثقلین ملت با دیانت افغانستان تا فردای محشر از جمیع بلیات در حفظ و امان و آن نتیجۀ صدق و اخلاص شاهنشاه و مردم بلاد اسلامی امپراتوري افغانستان در مرور تاریخ بیادگار مانده باشد ....".

٦. د تاشقرغان (خلم) ښار جوړول، چي د تهداب ډبره ئې په (۱۱۶۵هـ. ق.) کال کښېښوول سوه.

٧. د فراه په ولایت کي د "لاش" کلا په (۱۱۷۷هـ. ق.) کال جوړه سوه. د دې کلا د ودانولو په باب د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دربار منشي، میرزا سید عبد الهادي خان عشرت داسي ویلي دي:

بدوران احمد شه نیکبخت	که شاهی شرف یافت از نام او
خدیوی که بر درگهش بندگی	سلاطین عالم کنند آرزو
گرفته ز گلزار عدلش جهان	بسان بهشت برین رنگ و بو
شهی آنکه از پنجۀ معدلت	کند چاک دلها سراسر رفو
کند مومیایی عدلش درست	اگر رنگ بیند شکستي برو
بنا کرد خان زمان(۱۴۴) قلعۀ	که سر کله زد باسپهر دورو
حصاري نباشد که چرخ نهم	بدوشش نمودی برنگ سبو
من از بهر تاریخش از پیر عقل	مدد جستم و کردم این گفتگو
جوابم چنین گفت و ارشاد کرد	حصار زمان خان بنای نکو

۱۱۷۷

٨. په سنده کي ئې د حیدر آباد ښار په (۱۱۸۲ هـ. ق.) کال ودان کړ. د دغه نوي ښار د جوړېدلو مسئولیت د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا، احمدشاهي نائب الحکومه غلام شاه خان ته ورسپارل سوی و.

٩. په کابل ښار کي ئې د شاه شهید مزار جوړ کړ. د بالاحصار کابل په ۸/۲ مخ کي لیکلي

---

(۱۴۴) زمان خان بامېزی

دي، چي د شاه شهيد (شاه اسحاق ختلاني رحمة الله عليه) د زيارت گمبته په (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال ياقوت خان خواجه سرا جوړه کړېده. هغه بيتونه چي د شاه شهيد په کتيبه کي کښلي دي، دا دي:

چو احمد شاه بروی زمین شد
در اقلیم ظفر مسند نشین شد

۱۰. د پل مالان مرمت د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په امر سوی دئ. د احمد شاه بابا رحمة الله عليه د دربار منشي ميرزا سيد عبد الهادي خان عشرت ويلي دي[۱۴۵]:

بحکم ثانی محمود احمد
شه توران و هند و هم خراسان[۱۴۶]

۱۱. په ډهلي کي ئې احمدشاهي مسجد ودان کړ.
۱۲. قلعهٔ احمد شاهي، د مشهد په شاوخوا کي.
۱۳. درانيه ماڼۍ په نارين کي[۱۴۷]، چي د احمدشاهي سپهسالار سردار جان خان پوپلزي له خوا، د نارين تر فتحي وروسته، د ده په سرپرستي ودانه سوه.
۱۴. د کندهار په ښار کي ئې په (۱۱۶۸ هـ. ق.) کال د "بيت الاشراف" په نامه ملي موزيم جوړ کړ.
۱۵. شاه جامع (احمدشاهي مسجد جامع، چي د کندهار په شاه بازار کي موقعيت لري).
۱٦. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مور (زرغونې انا) د قبر گمبته (گنبده).
۱۷. شاه واله، چي په (۱۱۷۲ هـ. ق.) کال کيندل سوې ده.
۱۸. د روضې واله، چي په "نهر روضه" سره مشهوره ده.
۱۹. روضه باغ، چي په "شاه باغ" سره مشهور و.
۲۰. د خپل زيارت گمبته، چي د ودانولو کار ئې د تيمورشاه سدوزي په پاچهي کي، په (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال بشپړ سو.

احمدشاهي مکتبه:

ميرزا محمد هاشم بهشتي خراساني په خپل تاليف "نگارستان سلطاني" کي د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال په واقعاتو کي ليکلي دي:

احمدشاه بابا رحمة الله عليه په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال خطاطان وگمارل، چي کتابونه استنساخ کړي. د

---

(۱۴۵) پنجاه مقاله، ۴۶۹ مخ.

(۱۴۶) مزارات کابل

(۱۴۷) تاريخ احمدشاهي، د ماسکو چاپ، ۵۹۰/۱ مخ.

عبد القادر بیدل دیوان ئې په دغه کال وموندئ.

په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال چې احمدشاه بابا رحمة الله علیه دهلي ته ولاړ، بیا ئې خطاطان، مینات
ښکونکي او تذهیب کاران وګمارل، چې د نظامي، امیر خسرو دهلوي، شهزاده داراشکوه
مولانای بلخي مثنوي ولیکي. میرزا عبد الهادي او میرزا الله ویردي ئې وګمارل، چې د نورالع
واقف لاهوري دیوان ولیکي[۱۴۸].

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر ملا محمد میرزا هراتي سلجوقي (د ملا محمد عمر سلجوق
نیکه) چې د وخت لوی عالم و، وګماره سو چې د هرات د پای حصار په مدرسه کي متداول عل
تدریس کړي[۱۴۹].

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه کتابتون:

د سیر تاریخي کتب خانه ها در افغانستان په ۲۰۳ مخ کي د آریانا مجلې د (۱۳۵۰هـ. ش
کال د لومړۍ ګڼې په حواله لیکلي دي:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په کتابتون کي یو خطي قرآن شریف و، چې په کوفي خط کښ
سوی و او خلکو د امام حسین رضي الله عنه په خط ګاڼه. دا قرآن کریم شهزاده تیمور سدوزي، چې د هرا
والي و، د (۱۱۷۵هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په یوویشتمه په هرات کي له درویش علي
ښخه، په پنځوس تومنه روپۍ رانیولی او د پلار کتابتون ته ئې راليږلی و.

د خوشال خان خټک د کلیاتو یوه خطي نسخه هم د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په کتابتون کي وه، د
نسخه شیخ محمد اعظم په (۱۱۴۱هـ. ق.) کال د محمد علي خان له پاره کښلې وه. د دغي نسخې پ
وروستۍ پاڼه دا لیکلي دي:

حسب الامر اعلی کتاب کلیات خوشال خان که بخط شکست نستعلیق المروج حال تحریر د
کتب خانه سرکار عظمت مدار بندګان والا سکندر نشان، معدن العدل والاحسان بادشاه ذی جاه و
والا جاه احمد پادشاه غازی دردرانی خلد الله ملکه و برهانه در هنګام توقف ارض اقدس (مشهد)
غرض دیده و ملاحضه شد از بابت تحویلی معتمد الخواص اقا ... صاحب جمیع رکیب خان
سرکار تحریر یوم السبت دهم جمادی الاول ۱۱۶۸.

احمدشاهي سنه:

مولوي محمد جان کندهاري په مجمل التاریخ کي احمدشاهي سنه هم راوړې ده، مبدأ
ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ کال دئ. په (۱۳٦۵ هـ ق) کال دغه احمدشاهي سنه

[۱۴۸] سیر تاریخي کتابخانه ها در افغانستان، د آریانا مجلې په حواله، د (۱۳۵۰هـ. ش.) کال لومړۍ ګڼه.
[۱۴۹] حصه سوم مزارات هرات، د ملا محمد صدیق هروي تالیف، د فکري سلجوقي له تعلیق سره (د کابل
چاپ)، ۱۸۳ مخ.

(۱۷۴) او په (۱۳۶۶ هـ ق) کال دغه احمدشاهي سنه (۱۷۵) بشپړه سوې ده. دا شمسي حساب دئ. او کال (۳۶۵/۴) ورځي شمېرل سوی دئ. جلوسي سنه ئې ځکه نه ده اخیستل سوې. چي احمدشاه کوزکني هم د (۱۱۶۱ هـ ق) کال د دريمي خور په ... پاچا سوی دئ. د دغه التبس د رفعي له پاره ئې مبدأ د لوی احمدشاه بابا رحمه‌الله وفات نیولی دئ. په (۱۳۹۵ هـ ق) کال احمدشاهي سنه (۲۰۳) ده (؟).

د احمدشاهي زماني د تول ډبري:

ال. بګدانوف ليکلي دي:

د احمدشاهي زمانې يو خروار	=	پنځه سوه نهه پنځوس (۵۵۹) کيلو ګرامه
د احمدشاهي زمانې يو سېر	=	اووه (۷) کيلو ګرامه[۱۵۰]
۲۵ تومانه	=	۲۷۷ د ايسټ انډيا روپۍ

(د راولينسن په قول، ايمپاير درانيه [په روسي ژبه]، ۲۹۱ مخ)

د لوی احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه مولفات:

وصف د يار به تمام نه وي
احمد جوړ کړه کتابونه

(د احمدشاه بابا ديوان، د کابل چاپ، ۲۱۰ مخ)

مانسټوارټ الفنسټون د لوی احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه د علم او عرفان د ذکر په ترځ کي، د ده مولفاتو ته هم اشاره کړېده[۱۵۱]. د ده کوم مولفات چي تر اوسه څرګند سوي دي، دا دي:

---

[۱۵۰] ۸۰ سېره د کابل يو خروار (۵۶۰ کيلو ګرامه) کېږي (رشاد).

[۱۵۱] مانسټوارټ الفنسټون چي د احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه تر مرګ ۳۷ کاله وروسته پېښور ته د شاه شجاع سره د ليدلو له پاره، د انګرېزانو د سفير په توګه راغلی دئ، د خپل کتاب "د کابل سلطنت بيان" په ۲۵۹/۱ مخ کي د پښتو ژبي درې شاعران؛ رحمان بابا رحمة‌الله‌عليه، خوشال خان خټک رحمة‌الله‌عليه او احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه راوړي دي.

الفنسټون دا هم زياته کړېده، چي د احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه پر ديوان باندي خانعلوم شرحه ليکلې ده. دا ئې هم (په ۲۶۱/۱ مخ کي) ليکلي دي، چي احمدشاه بابا رحمة‌الله‌عليه يو مجلس العلماء درلود. په هغه کي به ئې د ملک له جيدو علماوو سره خبري کولې.

کپتان هنري جورج راورټي د "Selection From the Poetry of the Afghans-London 1862" په ۲۸۹ مخ کي کښلي دي:

He wrote a collection of Odes in Pashto, his native tongue ... Ahmad Shah himself was a Molawi. He was also the author of several poems in the Persian language.

ژباړه:

ده (احمدشاه بابا) پخپله مورنۍ ژبه پښتو د قصايدو يوه مجموعه کښلې ده. احمدشاه پخپله يو مولوي و. ده دغه راز په پارسي ژبه هم څو شعرونه ويلي دي، (ژباړه زما ده. هوتک).

۱. پښتو دیوان:

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه پښتو دیوان تقریباً درې زره بیتونه لري. لومړی وار پ
(۱۳۱۹هـ.ش.) کال د ښاغلي علامه پوهاند عبد الحي حبیبي رحمة الله علیه په عالمانه مقدمه ا
تصحیح د "لوی احمدشاه بابا" په نامه، په کابل کي په کوچنۍ قطعه چاپ سوی دئ. دغه نسخ
څلورسوه مخه لري او دوهم پلا چاپ ئې په (۱۳۸۲هـ.ق.) کال د پېښور د پښتو اکاډیمۍ له خو
سوی دئ. دغه چاپي نسخه چي ۲۳۶ مخه لري، مدون او مرتب ئې قاضي هدایت الله او مولان
عبد القادر څلور مخه "پېژندګلو" پر کښلې ده. مهتمم ئې خیال بخاري دئ.

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دیوان معلومي قلمي (خطي) نسخې دا دي:

لومړۍ نسخه د لندن په برټش موزیم کي په (OR-4495) ګڼه خوندي ده. نقل کوونکی ئې
علي محمد چاریاری دئ.

دوهمه نسخه د لندن په انډیا آفس لائبریري کي په (B-20) ګڼه خوندي ده او د سر و پای
پاڼې نه لري.

دریمه نسخه د تاشکند د ختیځ پېژندني د انسټیټوټ په کتابتون کي خوندي ده. لیکونکی
ئې محمد حامد درانی دئ. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ژوند ئې دغه نسخه نقل کړې ده. د
دیوان د ختم نېټه (۱۱۶۳هـ.ق.) کال دئ[۱۵۲]. د دغي نسخې په باب لنډ معلومات د تاشکند د
خطي کتابو د کټلاک تر (۱۵۹۴/۲) لمبر کتاب لاندي راغلي دي. د دغي نسخې یو عکسي نقل
د پښتو په بین المللي مرکز کي هم سته، چي د پرمختیا او بیا پیاوړتیا د آمریت له خوا تهیه سوی
دئ.

څلورمه او پنځمه نسخه په منځني هندوستان کي د ټونک د پښتو نوابانو د کتابتون وې،
چي اوس د پېښور د پښتو اکاډیمۍ په کتابتون کي خوندي دي.

شپږمه نسخه د کابل د جمهوري ارګ په کتابتون کي خوندي ده.

اومه او اتمه نسخه د کندهاري سلیمي په شخصي کتابتون کي خوندي دي.

نهمه نسخه د کندهار په موزیم کي خوندي وه.

باید ووایم، چي له علامه استاد مرحوم سره مي په (۱۳۶۳هـ.ش.) کال، هغه وخت چي علامه استاد د زړه د
ناروغۍ له امله، په علي آباد روغتون کي بستري و، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په باب د انګرېز مستشرق
"راورټي" په هکله خبري کولې. ما د راورټي دا خبره، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ئې مولوي بللی و، ورته یاده
کړه او هغه یادابنت مي ورښکاره کړ، چي د نوموړي مستشرق له "سلیکشنز فرام د پویټري آف افغان" څخه مي
اخیستی و. استاد وفرمایل، چي هو! دا خبره ما لوستې ده او د یادابنت کاپي ئې راڅخه وغوښتله. د استاد امر
مي پر ځای کړ. دا کاپي د دې حاضري لیکني د اصل په ۵۷ مخ کي زما پخپل لیک خوندي ده (هوتک).

[۱۵۲] احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دیوان په پای کي ویلي دي:

کتاب ختم په دوشنبې — موږ به څو تاسِ دلې
په وروستۍ ورځ د روژې — هزار صد و شصت و سې

لسمه نسخه د لوی استاد پوهاند عبد الحي حبيبي په شخصي کتابتون کي خوندي وه[۱۵۳].

دا ديوان لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د (۱۱۶۳ هـ. ق.) کال د روژې په وروستۍ ورځ پای ته رسولی دئ. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د ديوان په تعريف کي، د فتاوی احمدشاهي مولف ملا عبدالله پوپلزي ويلي دي:

چي د ده ديوان هـرا دئ — په تـحـقـيـق سـره هـرا دئ
تـر هـرا بـلـکـه فـايـق دئ — مشـتـمـل پـر دقـايـق دئ
هـر غـزل ئـې عشـق آوېـز دئ — او هـر بـيـت ئـې درد آمېـز دئ

د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پښتو کلام نمونه:

نن بيا هسي د ګلزار په ننداره ځم — چي له ياره سره خوبښ هم کناره ځم
هله لاندي تر هاتي اوس ئې مهوت يم — چي دا فتحه مي روزي سوه اوس ښکاره ځم
چي رقيب د رقيبانو خدای فنا کړ — په تهولی د ښو يارانو هـمواره ځم
چي بر کړی مي خدای لاس پر رقيبانو — نور به زه د هند پر لور په تماشه ځم
چي د هند د ملکو فتحه مي روزي سوه — نـور ايران لـره پـه تـوغ پـه نـغـاره ځـم
پر دا کړي داد دي خدای نه سي پښېمانه — تر نګين مي ايران لاندي شاهانه ځم
زه تسخير د ولايت د خدای په داد کړم — په مـدد د حـبـيـب هـره خـوا تـازه ځـم
چي زما د ولايت فتحه روزي سوه — ترو به څه د يـار لـه نـازه کـنـاره ځـم
زه "احمد" دنيا فاني ګڼم چي نسته — دنـيـا پـاتـه لـه ايـمـانـه بـه سـره ځـم

❁ ❁ ❁

---

[۱۵۳] د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د ديوان په وروستي چاپ کي، چي د ښاغلي محمد معصوم هوتک په ترتيب، مقابله او سريزه او د ښاغلي حمد الله صحاف په زيار، په (۱۳۸۸هـ. ش.) (= ۲۰۰۹ع) کال په کوټه کي د صحاف نشراتي موسسې له خوا چاپ سوی دئ، ښاغلي هوتک د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د ديوان په سريزه کي د خطي نسخو په اړه، د علامه رشاد بابا رحمة الله عليه د معلوماتو سربېره نور تفصيل داسي راوړی دئ:

"پر پورتنيو نسخو سربېره ما (هوتک) ته د بابا رحمة الله عليه د دېوان دغه نسخې معلومي دي:

- د حاجي عبد المجيد هوتک د کتابتون نسخه.
- زما د کتابتون نسخه (نيمګړې)، د پېښوري ګل محمد په لاس کښلې.
- د حمد الله صحاف د کتابتون نسخه.
- د ښاغلي زلمي هيواد مل د کتابتون نسخه.
- د افغانستان د ملي آرشيف څلور نسخې (فهرست نسخ خطي آرشيف ملی افغانستان، ۴۶–۴۸ مخونه، "د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع" په حواله).

دغه راز هانري جورج راورټي په ګلشن روه، پادري هيوز په کليد افغاني، مير احمدشاه رضواني په بهارستان افغاني او شکرستان افغاني کي د بابا رحمة الله عليه د دېوان منتخبات اخيستي دي".

۲. پارسو دیوان:
خیني کسان وايي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پارسو ژبه هم دیوان درلود. د
ذکر د کابل مجلې د دوهم کال په څلرمه ګڼه پنځوسم مخ او د لوی احمدشاه بابا د کتاب
۱۶۱ مخ کي موجود دئ[۱۵۴]. په ګلستان مسرت کي چي ۱۳۶ کاله پخوا عبد الرحمان خ
راټول کړی او لومړی وار په (۱۲۶۷ه. ق.) کال په مصطفائي مطبعه کي چاپ سوی دئ
مخ کي د "احمدشاه دراني" په نامه دغه پارسي رباعي ضبط ده:

ما بصلحیم فلک در پی جنگ است اینجا
دل ازین حادثه بسیا به تنگ است اینجا
ما تباهي زده گانیم درین بحر فنا
تخته کشتی ما پشت نهنگ است اینجا[۱۵۵]

الفنستون د کابل سلطنت بیان د کتاب په (۲۶۱/۱) مخ کي لیکي، چي احمدشاه
ځه پارسي شعرونه هم لري. د ده خپل عبارت دا دئ:
amad Shah also wrote several poems in Persian".

د لوی احمدشا بابا رحمة الله علیه د پښتو دیوان کومه نسخه، چي په پېښور کي چاپ سوې
کي د احمدشاه بابا رحمة الله علیه شپږ پارسي غزلي راغلي دي[۱۵۶]. د لوی احمدشاه بابا د خطي
هغه نسخه کي، چي د پېښور په پښتو اکاډیمۍ کي خوندي ده، د لوی احمدشاه بابا
پارسي غزلي سته[۱۵۷]، چي د یوې پارسي غزلي څو بیته دا دي:

چو بر من تیر مژګان میزند آن شوخ ګلګونم — چو لاله داغ بر دل تا سراپا غر
ز سوز دل همی بارم شب و روز اشک حسرت را — ز خون دل نشسته بر کنار رو
نمی پرسی اگر از من، نګر[۱۵۸] حال دل و جانم — که از غیرت فتاده بر زمین چون بی

۳. د عربي اشعارو مجموعه:

---

[۱۵۴] وګ: په کابل مجله کي د حافظ نور محمد کهګدای مضمون.
[۱۵۵] د ګلستان مسرت د څلورمي حدیقې، ۴۵۶ مخ (۱۳۳۱ هق - لاهور چاپ) په قول، دا رباعي د محمد
د دغي رباعي په جواب کي ویل سوې ده:

صلح دور است مصمم همه جنګ است این جا
تنګ دل چون نه شوي تیر و تفنګ است این جا
چون تباهی زده، ملک عدم در پیش است
زانکه در هر قدمی کام نهنګ است این جا

[۱۵۶] وګ: د دغي نسخې (۴۱-۷۳-۷۴-۸۷-۱۰۰-۲۱۸) مخونه.
[۱۵۷] وګ: د پېښور د پښتو اکاډیمي "پښتو" مجله، لومړی ګڼه، ۱۱۵ مخ، د ۱۹۵۷ع کال چاپ.
[۱۵۸] د چاپي دیوان په ۸۷ مخ کي د "نګر" پر ځای "ببین" کښلی دئ.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یو څه عربي اشعار هم پاته دي، چي ترجمه او شرحه ئې په پارسي ژبه د هغې زمانې نامتو عالم "ملا محمد غوث خانعلوم" کړېده.

۴. علم گنج[۱۵۹]:

په دې رساله کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یو څه عرفاني ویناوي راټولي کړه سوي دي. شرحه ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په ژوند نوموړي ملا محمد غوث خانعلوم کړېده. دا شرحه، چي "شرح الشرح" نومېږي، په درې سوه مخو کي ده، یوه نسخه ئې د کابل په خطي کتابتون کي خوندي ده.

د شرح الشرحي بله نسخه لوی استاد علامه عبد الحي حبیبي رحمة الله علیه په چاریکار کي له حضرت نجم الدین مجددي څخه لیدلې وه. د درېیمي نسخې څرک ئې، مولوي محمد یعقوب ناصر په بلخ کي ایستلی و. د دغي شرحي یوه برخه داسي ده:

"هذا آخر الکلام فی شرح ابیات الملک الدرانی والسلطان الحقانی احمدشاه الغازی خلد الله تعالی ملکه و سلطانه و جعله مالکا الاقالیم السبعه، رحمه الله عبداً قال امینا. و اما شرح علم گنج پس مرتب گشت بهشت بهشت؛ باب الاول قال المصنف خلد الله ملکه اسمان شجر یعنی الف سین میم نون.

قال الشارح عفی عنه بدانکه قبل از شروع در علم واجب است تقدیم چند چیزی که موجب ازدیاد بصیرت شارع گردد و در آن علم که داب محصلین صناعات علوم حقیقت همین است اول تعریف یعنی بیان ماهیت علم است دوم در بیان موضوع آن است و سوم بیان غایه آن علم است.

اما ماهیت علم؛ پس بنا بر آنکه هر چیزیکه مطلوب باشد تا آن مطلوب معلوم نباشد پس طلب آن ممکن نباشد زیراکه لازم آید طلب مجهول مطلق و طلب مجهول مطلق امریست مستحیل، زیراکه هر چیزیکه متصور نباشد بوجهی از وجوه ممکن نیست التفات نفس بآن چیز بدانکه درینجا اشکالیت مشهور و صعب و آن اینست که میگوئیم در جواب اشکال که این حکم مجهول مطلق ملتفت الیه نیست باعتبار معلومیست ...".

۵. جامع بحر الفوائد و درر الفرائد احمدشاهي:

دا کتاب د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په امر "قاضي عاقل محمد"[۱۶۰] په پارسو ژبه د طب په

---

[۱۵۹] کېدای سي چي د دغي مجموعې د نامه ایښوولو په وخت کي د خوشال خان خټک دغه بیت د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په نظر کي و:

درست دېوان مي لکه باغ د علم گنج دئ
پکښي هر رنگه گلونه هر نهال

[۱۶۰] د علامه رشاد رحمة الله علیه په خپله لاسکښلې نسخه کي، دغه ځای ته د علامه بابا په خپل خط "په امر قاضي عاقل محمد" ورزیات سوی دئ او موضوع ئې، چي پخوا "تصوف" لیکلی و، خط پر کښ سوی دئ او پر سر ئې "طب" ورته

باب کښلی دئ. د دغه کتاب یوه ناقصه نسخه د (پخواني) شوروي اتحاد د تاجکستان په پایتخت
"دوشنبه" کي ما (رشاد) لیدلې ده، د سر دوې پاڼې ئې نسته، د پای د کمبوت اندازه ئې نه
معلومیږي، خوندي پاڼې ئې (۵۵) دي، چې ۱۱۰ مخه کیږي. دا نسخه د دوشنبه د ختیځ پېژندنې
په کتابتون کي په (۱۸۳۶) ګڼه ضبط ده[۱۶۱].

د دې کتاب یوه بله نسخه، چې ما لیدلې ده، د "بحر الفوائد احمد شاهي" په نامه د افغانستان
په ملي ارشیف کي په (۲۰۰/۱) ګڼه خوندي ده، مولف ئې عاقل محمد دئ او موضوع ئې طب ده
۵۶۳ پاڼي ده. دا نسخه د پای له خوا ناقصه ده.

٦. د افغانستان تاریخ:

ښاغلي حافظ نور محمد کهګدای د کابل مجلې د څلورم کال د دوهمي ګڼې په ۵۰ مخ کي
لیکلي دي، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د افغانستان تاریخ په پښتو ژبه کښلی دئ.
دا روایت ما (رشاد) بل ځای نه دئ لیدلی، لته ئې په کار ده.

۷. الفنامه:

الفنامه له معنوي لحاظه یو خاص ډول نظم دئ، چې د نړۍ په څو ژبو کي ئې مثالونه سته، په
دغسي نظمونو کي ناظم د الفبې هر توری له خپلي پوهي، ذوق، مشرب او غوښتني سره سم څیړي.
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دوې الفنامې کښلي دي، یوه ئې په پښتو خفیف بحر[۱۶۲] کي ده، چې د
پېښور چاپ دیوان په ۱۹ مخو کي (له ۱۹۸ څخه تر ۲۱۷ مخه پوري) ځای سوې ده، ۳۶۳ بیته لري،

کښلی دئ. موږ هم دغه برخه کټ مټ همدا راز رانقل کړه. د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه د وروستنیو لیکنو څخه هم
داسي ښکاري، چې دغه اثر د احمد شاه بابا رحمة الله علیه تالیف نه، بلکي د ده په امر "قاضي عاقل محمد" لیکلی
دئ.
(علامه رشاد اکاډیمي)

[۱۶۱] د بحر الفوائد و درر الفرائد احمد شاهي په مقدمه کي لیکلي دي:

"از پرتو شعاع او ذرات عالم حیات تازه و نشاط بی اندازه یافت بحکم الناس علی دین ملوکهم هر یک در
تحصیل علوم و کمالات کوشیده و رواج و رونق علم و علما بدرجه علیا رسیده نظر بر وفور مراحم شاهانه و
اشفاق خسروانه که بفرقه علما و فضلا که در مجلس خاصی محفل اختصاص مبذول و مصروف است امیدوار
تفضلات بی غایات و عطوفات بی نهایات که دیده متوقع زیادت حضور لامع النور شده ...".

د ده (احمد شاه بابا) په صفاتو کي (ئې لیکلي دي):

"مروج دین متین سید المرسلین و محیی آثار سنت خلفای راشدین رضوان الله تعالی علیهم اجمعین
حامی قوانین ملک و ملت و قاصی قواعد ظلم و بدعت همنام سرور دو جهان مسمی نبی آخر زمان الامام
الاعظم الاعدل الاعلم الاکرم افتخار سلاطین العرب والعجم احمد شاه بادشاه غازی درانی خلد الله ملکه
و سلطانه ...".

[۱۶۲] د دغي الفنامې په ځینو بیتو کي د وزن له لحاظه عروضي عدول سته. د پښتو نظم خفیف بحر دا شکل لري:

|| U – U U | U – U U

ړه ده او بیل ئې داسي سوی دئ:

الـــف اســـم د الله دئ
لـه هـمـه زړونـــو اګـــاه دئ
الـف اســـم کـه ئـې ګـــورې
ذات ئـې خـود پـخـپـل ګـواه دئ

دو همه الفنامه ئې هغه الفنامه ده، چي ملا محمد غوث خانعلوم شرحه پر کښلې ده، د دغي
امې یوازي ۴۵ بیته لاس ته راغلي دي، چي له "الفه" څخه تر "داله" پوري، فقط د اتو تورو
حه ده، په دې ډول:

د "الف" توری په شپږو بیتو کي شرحه سوی دئ، بحر ئې خفیف دئ، شروع ئې داسي سوېده:

"الـــف" اســـم ذات تـــه ګـــوري
نـــور د ذات پـــر اســـم اووري (۱۶۳)

وی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په اړه لیکل سوي آثار (۱۶۴):

مختلفو ملیتونو حاکمان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پاچهي کي:

غبار د افغانستان در مسیر تاریخ په ۳۵۹ مخ کي لیکلي دي:

"... در عمل احمدشاه بابا رحمة الله علیه را عادل تر از قول یافتند و دیدند که اشخاص با کفایت
ون تبعیض از لحاظ نژاد و زبان و مذهب در امور دولت شریک هستند".

د دغه مختلفو ملیتونو د حاکمانو نومونه او د حکمرانۍ د سیمو نومونه په دې ډول دي:

(۱۶۳) د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د الفنامې په اړه د زیات معلومات له پاره د "د احمدشاه بابا د اشعارو پښتو
شرح". چي د ملا محمد غوث خانعلوم تالیف دئ او د علامه رشاد رحمة الله علیه سریزه پر لیکلې ده، مراجعه وکړئ.
(علامه رشاد اکاډیمي)

(۱۶۴) علامه رشاد بابا رحمة الله علیه په خپل ژوند د دغه عنوان اړوند ټول مواد په جلا توګه هم سره راغونډ کړي وو او د "د
احمدشاه بابا کتاببنود" نوم ئې ورته غوره کړی و. علامه رشاد اکاډیمۍ دا لازمه وبلل، چي دغه اثر په مستقله
توګه چاپ ته تیار او چاپ کړي، ځکه یو خو به ئې د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه له هیلي سره سم، لوستونکو ته د لاسرسي
سهولت ډېر وي او بل به د دې کتاب له ډېر ضخامت څخه هم مخه نیول سوې وي. ګرانو لوستونکو ته دي معلومه
وي. چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په اړه، د نړۍ په مختلفو ژبو کي د لیکل سوي آثارو کافي معلومات د "د احمد
شاه بابا کتاببنود" په نامه، په دغه مستقل چاپ سوي کتاب کي، چي (۲۴۰) مخونه لري، راټول سوي دي. د زیاتو
معلوماتو له پاره مراجعه ورته کولای سئ.

(علامه رشاد اکاډیمي)

بلوڅ نصیر خان په بلوچستان کي.
افشار شاهرخ د مشهد تحت الحمایه واکمن.
هزاره درویش علیخان د هرات والي.
مغل دوهم عالمګیر او د هغه زوی دوهم شاه عالم د ډهلي تحت الحمایه پاچا.
توراني میر معین الملک، چي په میرمنو سره ئې شهرت درلود، د لاهور والي (حاک
عطاء الله خان ترکمان د بلخ سپهسالار.
حاجي بېګ خان بېګ د بلخ حاکم په (۱۱۶۳هـ. ق.) کال.
هندو سُکھ جیون مل د کشمیر والي.
امرسنګھ د پټیالې حاکم.
کابلي مل د لاهور (پنجاب) والي.
خواجه عبد الله کابلی خواجه زاده د کشمیر والي.
سید درګاهي کابلی په کابل کي والي.
امیر خان جوانشیر د چنداول شیعه د کشمیر والي.
میرزا عبد الهادي خان قزلباش میر منشي.
میرزا علي رضا خان قزلباش مستوفي.
محمد زمان خان قزلباش د تیمور شاه په وروستیو کلو کي د بلخ والي.
موسٰی خان په ډېره اسماعیل خان کي.
شجاع الدوله سدوزی په ملتان کي.
ولي خان جوانشیر د ترکستان شیعه والي.

(احمد شاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان، ۱

د مختلفو پښتني قبیلو څخه حاکمان:

شینواري:

الله یار خان شینواری د جلال آباد حاکم.

(اسناد آر

مومند:

زین خان مومند د سرهند والي.
یوسف علي خان ملقب په التفات خان خزانه دار.

مامن زي (محمدزي):

عبد الصمد خان اشنغری د سرهند والي (تر زین خان دمخه د کشمیر او پېښور والي

بنګښ:
جنګباز خان بنګښ د چار محل (پنجاب) والي.

یوسفزي:
نجیب خان نجیب الدوله عمرخېل یوسفزی د ډهلي امیر الامراء.

دولت شاهي (دولتښي):
قاضي ادریس دولت شاهي صدر اعظم او قاضي القضاة.
قاضي فیض الله خان دولت شاهي قاضي القضاة.

هوتک:
نور الله خان هوتک د حاجي انکو زوی، ملقب په اخلاص قلي خان.

توخي:
سورکی خان بابکرزی توخی د کلات والي.
اشرف خان توخی (تر سورکي خان د مخه د کلات والي).
سید رحمت خان توخی د سورکي خان زوی، چي د پاني پت په غزا کي د لوی احمدشاه رحمة الله علیه مل و.

بابړ:
امین الملک ګل محمد خان غوریاخېل بابړ د احمد شاهي دربار مشر خزانه دار.

متوحه ملکونه د هغو ملکو خلکو ته وسپارل سوه:

سنده نور محمد کلهوړه ته وسپارل سو.
بهاول پور مبارک بهاول خان ته وسپارل سو.
مشهد شاهرخ افشار ته وسپارل سو.
ډهلي دوهم عالمګیر او د عالمګیر زوی دوهم شاه عالم مغل ته وسپارل سو.
نیشاپور عباس قلي خان بیات ته وسپارل سو.
د کابل لومړی والي سید درګاهي وتاکل سو.
ښکارپر دوست محمد خان کاکړ ته وسپارل سو.

محمود الحسیني د تاریخ احمدشاهي په ۱/ ۳۲۷ مخ کي د میرمنو سره د جنګ په ب
احمدشاهي پوځ (د قومي جوړښت او انډول) بیان داسي کوي:

ز آواز طبل و صدای یلان — برقص آمده اسپ در زیر ران
گروهي ز درانیان هرات — همه رزم جوی و شجاعت صفات
ز مهمند و وردک بسی نامدار — که بودند هر یک چو اسفندیار
گروهی قزلباش و ازبیک هم — زده از شجاعت چو شمشیر دم
گروهی ز بلخ و سمرقند و دشت — که پیکان شان از حجر می گذشت
بسی سیستانی و هم زابلی — ز افغان غلجایی و کابلی
گروهی ز تاجیک و تاتار روم — گروهی دلاور ز هر مرز و بوم

ګانکوفسکي په .... کي لیکلي دي:
په ۱۷۵۷ع (=۱۱۷۰ هـ. ق.) چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په هندوستان ورننوت، د لښ
شمېر او قومي انډول ئې داسي و:

دراني	۱۲۰۰۰ تنه
ازبکان	۱۲۰۰۰ تنه
بلوڅ	۲۰۰۰ تنه سپاره
قزلباش	۸۰۰۰ تنه
مومند	۱۰۰۰ تنه
بنګښ	۵۰۰۰ تنه (د جنګباز خان بنګښ په مشري)

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په وختو کي د قبیلو خانان:

محمد خان اپرېدی د اپرېدو مشر و.
سعادت خان او خوشال شهید د خټکو مشران وو.
بېکر نیکه د کاکړو مشر و.
جنګباز خان بنګښ د بنګښو مشر و.
حاجي جمال خان نیکه د بارکزو مشر و[۱۶۵].
شاه پسند خان ساګزی د ساګزو مشر و.
برخوردار خان اڅګزی د اڅګزو مشر و.

(۱۶۵) وګ: "ایمپایر درانیه" (په روسي ژبه)، ۱۰۲ مخ.

لوی افغانستان

د غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په نامه، د افغانستان، هندوستان او ایران په غه‌لویو ښارو کي سکه وهلې (ضرب) سوېده:

۱. کندهار (پایتخت)
۲. کابل
۳. هرات
۴. مشهد
۵. شاه جهان آباد (ډهلي)
٦. بریلي (روهیلکهنډ)
۷. آنوله (روهیلکهنډ)
۸. فرخ آباد (روهیلکهنډ)
۹. مراد آباد (روهیلکهنډ)
۱۰. نجیب آباد (روهیلکهنډ)، په (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال کي.
۱۱. دېره غازیخان
۱۲. دېره اسماعیل خان
۱۳. دېره فتح خان
۱۴. اټک
۱۵. لاهور (پنجاب)
۱٦. سرینګر (کشمیر)
۱۷. ملتان (پنجاب)
۱۸. پټیاله (پنجاب)
۱۹. پېښور
۲۰. سرهند
۲۱. بهکر (سندهـ)[۱٦٦]

---

(۱٦٦) د نیویارک د "امریکن نیو مِسماټیک سوسایټۍ" په موزیم کي د افغانستان د دراني پاچهانو او افشار نادر ۳۴۰ سکې سته، په دغو سکو کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه درې سکې خوندي دي، دوې په (۱۱٦۳ هـ. ق.) کال او یوه ئې په بکهر کي په (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال ضرب سوېده، (The Coins of the Durranis ،۳۲۹ مخ، د "Longworth Dames" تالیف (*The Numismatic Chronical and Journal of the Numismatic Society third series. Vol. 8 London. 1888*).

۲۲. ټهټهه (سنده)

۲۳. بهاولپور

۲۴. امباله[۱۶۷]

د روهیلکهنډ نواب او د پټیالې راجا هم د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په نامه سکې ض
کړيدي[۱۶۸]. عجبه دا ده، چې د آذربایجان د خوی په ښار کې، په (۱۱۹۸هـ. ق.) کال د تیمور
سدوزي په نامه سکه ضرب سوېده[۱۶۹].

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ سرحد، د شمال شرق له خوا څخه د کشمیر په حدودو
همالیه غر، د افغاني ترکستان په حدودو کې د آمو سیند او د مشهد په حدودو کې نادري ک
ټاکل سوی و او د جنوب له خوا څخه د بلوچستان او سنده په حدودو کې بحیرهٔ عرب، د بهاو
په حدودو کې د بیکانیر سیمه او د سرهند په حدودو کې کرنال ته رسېدئ. شرقي سرحد د
سیند ته رسېدلی و او غربي سرحد له طبس او سبزوار څخه تقریباً پنځه دېرش (۳۵) میله غ
خوا ته تعین و. دا خو هغه سیمه وه، چې مستقیماً د کندهار د پاچهۍ تر اثر لاندې وه او موږ
لوی افغانستان په نامه پېژنو[۱۷۰]. سربېره پر دې د ډهلي پاچهي هم د لوی احمد شاه بابا
ګماشته ګانو له خوا اداره کېدله. نجیب الدوله یوسفزی د احمدشاهي وکیل او د ډهلي د درب
وزیر په حیث تر مرګه پوري په ډهلي کې موجود و. د ډهلي د پاچهۍ ټول کار و بار ده کاوه. د
شاه عالم (مغل) پاچا د ده تر مرګه پوري، د ګنګا غربي خوا ته راپوري نه وت او وزیر ش
الدوله، چې د پاني پت تر فتحې یوه میاشت وروسته اوده ته ولاړ، بیا ئې ډهلي په سترګو ونه
سربېره پر دې د ډهلي پاچهۍ د یوې باجګذاره پاچهۍ په حیث لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته اطا
درلود او د کاله ئې څلوېښت لکه روپۍ د کندهار شاهي خزانې ته تحویلولې[۱۷۱].

مګر د احوال بهاو په پای کې لیکلي دي:

لوی احمد شاه بابا چې د پاني پت د غزا په پلا، په هندوستان کې یو کال و څو میاشتې ت
کړلې، د نجیب الدوله له خوا څخه چې کومې نقدي پیسې او سورسات د لوی احمدشاه بابا
حضور ته وړاندې سو، څلوېښت لکه روپو ته رسېدلې.

---

[۱۶۷] د دراني پاچهانو د مسکوکاتو د ټولو ضرابخانو شمېر اووه ویشت (۲۷) دار الضربه دئ.
(افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل [۱۳۳۷هـ.ش.] چاپ، ۵۵۵-۵۵۶م

[۱۶۸] د درانیانو امپراتوري، ۳۹مخ.

[۱۶۹] د درانیانو امپراتوري، ۳۹مخ.

[۱۷۰] د افغانستان و هند برتانوی په (۲۰) مخ کې لیکلي دي:
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې مړ کېده، امپراتوري ئې له اترک روده څخه تر رود سنده (؟) او له تبته څ
بحیرهٔ عرب پوري پراخه وه.

[۱۷۱] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۸۷مخ.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سکه په څه نامه یادېدله؟:

تر اوسه پورې د سدوزیو پاچهانو اووه ویشت دار الضربه شمېرل سوي دي، خو میر غلام محمد غبار یوازي دغه دیارلس دار الضربه راوړي دي؛

۱. کابل
۲. کندهار
۳. هرات
۴. مشهد
۵. دیره جات
۶. بهکر
۷. سنده
۸. کشمیر
۹. انوله
۱۰. روهیل کهنه
۱۱. لاهور
۱۲. ملتان
۱۳. سرهند

د تاریخ احمدشاهي د لومړي ټوک په ۱۵۱ مخ کي؛ دینار تبریزي، روپیه، روپیهٔ جدید خراسان، روپیهٔ رائج هندوستان، روپیهٔ سکه جدید او روپیهٔ کهنه راغلي دي.

د سدوزیو پاچهانو سکې درهم، دینار او فلوس نومېدلې[172].

د تیمورشاه سدوزي د یوې مسي سکې پر مخ "تیمورشاهي فلوس" او پر شا ئې "ضرب بکهر ۱۱۹۴" لیکلی دئ[173].

د زمان شاه سدوزي پر یوې مسي سکې "زمان شاهي فلوس" او پر شا ئې "ضرب بکهر" لیکلی دئ[174].

د تیمورشاه په یوه فرمان کي، چي په (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال صادر سوی دئ، "دینار تبریزی" لیکلی دئ[175].

اروابناد غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په ۳۶۰ مخ کي لیکلي دي:

په احمدشاهي مسکوکاتو کي توره، ستوری او وړی کښلی و. د سپینو زرو سکه ئې

---

[171] وګ: د ښاغلي نیر مقاله په آریانا مجله کي.
[172] افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ، ۵۵۸ مخ.
[173] افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ، ۵۵۹ مخ.
[174] درة الزمان، د عزیز الدین وکیلي پوپلزائي تالیف، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ، ۲۵۶ مخ.

کندهاری روپۍ ده، چي دوه مثقاله و څو نخوده درنه ده او په پنځوس فلوسه ارزېدله (؟). د دې طلايي او نقره ئي سکو کي دا بيت و:

حکم شد از قادر بيچون به احمد پادشاه
سکه زن بر سيم و زر از پشت ماهی تا به ماه(۱۷۶)

ښاغلي غبار د احمدشاهي سکو په باب د "احمدشاه بابا" په (۱۸۲-۱۸۶) مخونو کي ليکلي دي(۱۷۷):

" ... يکي از اين سکه ها که مسينه، و در وزن و حجم و شکل معادل "فلوس های احمدشاه" است، در يک روی خود "خوشهٔ گندم" برجستهٔ داشته، اما سائر علامات اطراف خوشه، و روی ديگر سکه سائيده و مغشوش گرديده است(۱۷۸).

سکهٔ ديگری ازين قبيل که آنهم پول مسی است، در يک روی خود نقوش ذيل را دارد: "دو شمشير عمودی و متوازی، بين هر دو شمشير يک خوشهٔ گندم" در روی ديگر سکهٔ مذکوره حرف و کلمات ذيل خوانده ميشود "ب احمدشاهی"(۱۷۹) مسلم است اين سکه در شهر کندهار که موسوم است به "احمدشاهی" بعد از بنای شهر بدست احمدشاه در سال ۱۱۷۴- ضرب شده، اما در کدام سال، معلوم نيست. و محتمل است از يک روی سکه حرف (ضر) که در حاشيه منقور بود، بواسطهٔ طول زمان و مساس دست سائيده شده، و حرف (ب) به تنهائی مانده، پس مجموع هر دو حرف کلمه "ضرب" را تشکيل، و اصل عبارت چنين خوانده ميشد: "ضرب احمدشاهی".

بعضی مسکوکات مسينهٔ احمدشاه هم دارای عبارت و اشکال ذيل است:

۱. در يک روی عبارت "فلوس احمدشاهی" در ديگر روی شکل "دو شمشير- که

---

(۱۷۶) دا بيت د "افغانستان"، د آريانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ، په ۵۵۸ مخ کي داسي ليکلی دئ:

حکم شد از قادر بيچون به احمد پادشاه
سکه زن بر سيم و زر از اوج ماهی تا به ماه

او د ډاکټر ګنډا سنګهـ د "Ahmad Shah Durrani" په ۳۲ مخ کي بيا دا بيت داسي راوړل سوی دئ:

حکم شد از قادر بيچون به احمد بادشاه
سکه زن بر سيم و زر از اوج ماهی تا بماه

(علامه رشاد اکاډيمي)

(۱۷۷) د علامه رشاد بابا رحمة الله عليه په خپله لاسکښلي خطي نسخه کي دغه ماخذ ته ځای سپين پاته و، له ماخذ څخه را اخيستنه او بشپړونه ئي د علامه رشاد اکاډيمۍ له خوا تر سره سوه، که کوم کمی پکښې وي، مسئوليت ئې علامه رشاد اکاډيمۍ ته راجع کيږي، نه ليکوال ته.

(۱۷۸) اين سکه متعلق بجناب محمد رحيم خان پوپلزائی ساکن شهر کندهار است.

(۱۷۹) اين سکه بجناب محمد رسول خان بابری ساکن چلغور کندهار تعلق دارد.

عموداً یکی دیگر را تقاطع کرده".

۲. در یک روی عبارت "فلوس احمدشاهی ۱۱۶۱" در روی دیگر "دو شمشیر متقاطع بطور عمود".
۳. در یکروی "فلوس احمدشاهی ۱۱۷۷" در دیگر روی "یک شمشیر افقی- بالای آن یک نقش نا مفهوم".
۴. در یک روی "فلوس احمدشاهی" در دیگر روی "یک شمشیر افقی- یک قرابین یا تفنگ عموداً شمشیر را قطع کرده".
۵. در یک روی "فلوس احمدشاهی" در دیگر روی "یک شمشیر افقی- بالای آن یکدانه ستاره" در بعضی این ستاره در بالای شمشیر به "سه دانه" رسیده و در بعضی به "دو دانه" یکی در بالای شمشیر و یکی در پایان آن.
٦. در یک روی "فلوس احمدشاهی" در دیگر روی "یک شمشیر افقی دو زبانه "ذوالفقار" و یک دانه ستاره فوقانی[۱۸۰].

اما مسکوکات طلای احمدشاه عجالةً در موزهٔ کندهار نیست، تنها یک سکهٔ نقرئین احمدشاه را دیده توانستم که عبارت از یکروپیه ثمن المثل همانوقت افغانستان در وزن دو مثقال و چند نخود بوده[۱۸۱]. در یکروی این سکه عبارات ناتمام ذیل خوانده میشود: "... از قادر بیچون به احمد پادشاه ... زن بر سیم و زر ... ست ما ..." روی دیگر سکه: "... میمنت مانوس سنهٔ ۸ جلوس ... ب ..." شک نیست که اصل عبارات منقورهٔ سکهٔ مذکور بشهادت تاریخهای افغانی[۱۸۲] بدینقرار بود: "حکم شد از قادر بیچون باحمد پادشاه-سکه زن بر سیم و زر از پشت ماهی تا بماه-سنه ۸ جلوس میمنت مانوس ضرب ..." طوریکه معلوم است احمدشاه در شهرهای هرات، کندهار، کابل، مشهد، اتک، انوله "روهیل کهند ۷۳-۱۱۷۴"، بریلی "روهیل کهند در سنهٔ مذکور"، بهکر "اندوس ۱۱۶۸-۱۱۷۷"، پشاور، تته "سند"، دیرهٔ غازیخان "در ۱۱۷۰"، دیره جات، سرهند "تاریخ آخرین سکه اینجا در ۱۱۷۶ میباشد"، دهلی "در اوقات استیلای دو بار"، کشمیر "سکهٔ طلا ضرب ۱۱۶۷"، لاهور "طلا و نقره ضرب ۱۱۶۱"، مراد آباد "روهیل کهند"، ملتان "ضرب ۱۱۶۵"، نجیب آباد "اگره از طرف نجیب الدوله بنام احمدشاه در ۱۱۸۰ سکه زده شده" سکه زده و نمونهٔ مسکوکات او بدینقرار است: سکهٔ طلا ضرب اتک در یکروی سکه "حکم شد از قادر بیچون باحمد پادشاه- سکه زن بر سیم و زر از پشت ماهی تا بماه" در روی دیگر سکه "جلوس میمنت مانوس سنهٔ ۱۵ ضرب اتک" سکهٔ نقره هم به ترتیب فوق ضرب شده، سکهٔ مسی ضرب ملتان در یکروی سکه "احمدشاه

---

[۱۸۰] این مسکوکات متعلق است به مجموعهٔ سکه های تاریخی موزهٔ بلدیهٔ کندهار تحت عنوان احمدشاه.

[۱۸۱] این سکه در تملک خانوادهٔ نائب میر سلطان خان کوتوال مشهور امیر عبد الرحمن خان است.

[۱۸۲] مثلاً سراج التواریخ جلد اول عنوان احمدشاه.

پادشاه درانی فلوس سنه ۱۱۷۰" در دیگر روی سکه "ضرب ملتان جلوس مبارک ۱۰"[۱۸۳].

د درانیو پاچهانو د سکو په اړه، په "Manual of Musalman Numismatics" (د مسلمانانو د سکو لاسي کتاب) کي، چي د "Condrington" تالیف دئ، او په (۱۹۰۴ع.) کال په لندن کي چاپ سوی دئ، ډېر څه سته.

"د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه یوه سکه د "The Coins of India" په دوولسم پلېټ کي عکس برداري سوې ده[۱۸۴].





دا سنه (۱۱۷۰ه. ق.) کال ده. روپۍ ده د سپینو زرو.

د تیمورشاه زوی شهزاده عباس هم سکه وهلې وه[۱۸۵].

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په سکو کي جلوسي سنه هم وه. تیمورشاه هم جلوسي سکه وهلې وه[۱۸۶].

د پاني پت د جنګ سببونه:

امام الهند حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي فاروقي رحمة الله علیه (۱۱۱۴-۱۱۷۶ه. ق.) په دوولسمه هجري سدۍ کي د هندوستان خورا ستر عالم او لوی بزرګ و، په (۱۱۴۳ه. ق.) کال چي حجاز ته ولاړ، هلته ئې له شیخ ابو طاهر مدني شافعي رحمة الله علیه څخه، د طریقت د ټولو سلسلو د ارشاد اجازه وموندله. پخوا تر دې ئې د خپل پلار شیخ عبد الرحیم رحمة الله علیه (۱۱۳۱ه. ق. مړ) څخه خلافت موندلی و. عمر ئې په تدریس او تالیف کي تېر سوی دئ. د ده مولفات په هندوستان کي ډېر مشهور او منلي دي. ده د (۱۱۴۴ه. ق.) کال د میانۍ (ذی القعدې) د میاشتي په یوویشتمه د جمعې په شپه په مکه معظمه زاد الله شرفها کي خوب لیدلی و. شاه ولي الله پخپل یوه مولفه کي

---

(۱۸۳) رسالۀ مسکوکات افغانستان در عصر اسلام، نگارش مورخ معاصر مدیر شعبۀ تاریخ و موزۀ کابل احمد علی خان کهزاد، طبع کابل سال (۱۳۱۹ه. ش.).

(۱۸۴) د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه ذکر سوی ماخذ مو پیدا نه کړ تر څو له هغه څخه مو دد غه سکې د پلېټ عکس اخیستی وای، ځکه مو یوازي د دغه سکې د لیکني په رانقلولو بسنه وکړه.

(علامه رشاد اکاډیمي)

(۱۸۵) عروج بارکزائي ها، ۷۵ مخ.

(۱۸۶) افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷ه. ش.) چاپ، ۵۵۸ مخ.

چي "فيوض الحرمين" نو مېږي، د دغه خوب بيان داسي کړی دئ:

"...و رأيت ان ملک الکفار قد استولی علی بلاد المسلمين و نهب اموالهم و سبا ذريتهم و اظهر فی بلدة اجمير شعائر الکفر و ابطل شعائر الاسلام (والعياذ بالله) فغضب الله تعالی علی اهل الارض غضباً شديداً ....

و انا ساعتئذ فی جم غفير من الناس منهم الروم، منهم الازابکه و منهم العرب و بعضهم رکبان الابل و بعضهم فرسان و بعضهم مشاة علی اقدامهم اقرب ما رائت شبهاً بهولاء الحجاج يوم عرفة و رأيتهم غضبانا لغضبی و سألونی:

ماذا حکم الله فی هذه الساعة؟

قلت فک کل نظام.

قالوا الی متی؟

قلت الی ان ترونی قد سکت غضبی فجعلوا يتقاتلون بينهم و يضربون ابلهم فقتل منهم کثير و انکسرت روئن ابلهم و شفاهها ثم انی تقدمت الی بلدة اخربها و اقتل اهلها فلتبعونی فی ذالک و کذالک خربنا بلدة بعد بلدة حتی وصلنا الاجمير و قتلنا هنالک الکفار و استخلصا ها منهم....

ثم رأيت ملک الکفار يماشی مع ملک الاسلام فی نفر من المسلمين فامر ملک الاسلام فی اثنا ذالک بذبحه نبطش به القوم و صرعوا به و ذبحوه لبعکين فلما رائت الدم يخرج من اوداجه متدفقاً-قلت الآن نزلت الرحمة و السکينه، شملت من باشر القتال من المسلمين و صاروا مرحومين..." (۱۸۷).

ژباړه:

.... او ما په خوب کي وليدل، چي د کفارو پاچا د مسلمانانو ملک ونيوه، مالونه ئې ځني ولوټل، اولادونه ئې مينځياني او مريان کړل، د اجمير په ښار کي د کفر دودونه رواج سول او د اسلام رسوم له رواجه ولوېدل او (العياذ بالله) خدای ﷻ د مځکي پر خلګو باندي سخت په قهر سو....

زه دغه وخت د يوې لويي ډلي په منځ کي وم، په دغه ډله کي رومیان، ازبکان او عرب وو. ځيني ئې پر اسانو سپاره وو، ځيني پر اوښانو، ځوک پلي رهي وو. داسي ښکارېدل لکه د عرفې په ورځ چي حاجيان روان وي، خو دوی ډېر قهرېدلي او پارېدلي وو او زه ئې وپوښتېدلم:

"په دغه اوس حال کي د خدای ﷻ حکم څه دئ؟"

ما ورته وويل:

"هر راز نظام چي وي، له منځه ئې يوسئ!"

دوی وويل:

"تر څه وخته پوري؟"

---

(۱۸۷) وګ: د فيوض الحرمين ۸۹-۹۰ مخونه (تذکره حضرت شاه ولي الله، ۶۱-۶۵ مخونه).

ما ورته وويل:

"تر هغو چي زما قهر سړېږي".

دوی پخپلو منځو کي جنګ پيل کړ، بوده ئې هم وژل، ډېری ځني ووژل سوه، د دوی د اوښانو ککرۍ ماتي سوې او شونډي ئې پرې سولې، زه له دوی سره بل ښار ته ولاړم، د هغه ښار خلک مو وژل، ښارونه چي مخي ته راتلل، هغه مو ورانول، څو اجمير ته ورسېدلو، هلته مو کفار ووژل او ښار مو له دوی څخه خلاص کړ......

بيا ما وليدل، چي د کفارو پاچا د اسلام له پاچا سره رهي دئ او شاوخوا ته ئې مسلمانان روان دي، نابېره د اسلام پاچا حکم وکړ، چي دغه د کافرانو پاچا ووژنئ، خلکو دغه کافر پاچا ونيوه، وئې څملاوه او په چاړه ئې حلال کړ، له ښارګو څخه ئې ويني راخوټېدلې، ما چي د وينو داريو ته وکتل، تر خوله مي ووتل اوس نو رحمت او سکون نازل سو او پر هغو هم د خدای ﷻ رحمت راچاپېر سو، چي په دغه غزا کي ئې برخه اخيستې وه.

د ولي اللهي تحريک شرحه کوونکي حضرت مولانا عبيد الله سندهي رحمة الله عليه (١٣٦٣ هـ. ق. مړ) د دغه خوب په باب ويلي دي:

"د حضرت شاه ولي الله خوب ديرش کاله وروسته وخوت، د مسلمانانو هغه پاچا، چي په دغه خوب کي ورښوول سوی و، غازي ستر ټولواک احمد شاه ابدالي و، چي په (١١٧۴ هـ. ق.) کال ئې د پاني پت د ستري سوبې په برکت د ډهلي سياسي افق د مرهټو له خطره خوندي کړ"(١٨٨).

د مولانا عبيد الله سندهي تعبير ټکي په ټکي سهي دئ، حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه چي کوم ليک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته د فيروزبخت(١٨٩) په لاس له ډهلي څخه لېږلی او دی ئې د مرهټو له خطره څخه د هندي مسلمانانو د خلاصون له پاره هندوستان ته وربللی دئ، د دغه تعبير ملاتړ کوي. د دغه لوی ليک (مکتوب) په يوه برخه کي امام الهند حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله عليه لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته د هندي کفارو (مرهټه) سره د جهاد له پاره داسي بلنه ورکوي:

" ... حاصل کلام آنکه در ملک هندوستان غلبۀ کفار باین صورت است که در بيان آمد و ضعف مسلمانان باين صفت، درين زمانه پادشاهی که صاحب اقتدار و شوکت باشد و قادر بر شکست لشکر کفار، دوراندیش و جنگ آزما غیر از ملازمان آنحضرت موجود نیست، لاجرم بر آنحضرت فرض عين است قصد هندوستان کردن و تسلط کفار مرهټه برهم زدن و ضعفای مسلمين

---

(١٨٨) شاه ولی الله اوران کی سیاسی تحریک، د مولانا عبيد الله سندهي تاليف، ۵۷ مخ، د لاهور (١٩۴۵ع.) چاپ.

(١٨٩) حاجي خانمير خان هلالي د توريالي په ٣٠١ مخ کي ليکلي دي، چي د حضرت شاه ولی الله دهلوي رحمة الله عليه قاصد چي کندهار ته ولاړ او د حضرت شاه ولی الله رحمة الله عليه ليک ئې لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته ورساوه، "فيروزبخت" نومېد. مګر د شاه ولی الله دهلوی کي سياسي مکتوبات په ٢٢٨ مخ کي ليکلي دي، چي د فرحت الناظرين د يوه بيان څخه داسي معلومېږي، چي د حضرت شاه ولی الله دهلوي رحمة الله عليه قاصد، چي احمد شاهي دربار ته استول سوی و، نواب نجيب الدوله نجيب خان يوسفزی و.

که در دست کفار اسیر اند خلاص فرمودن، اگر غلبهٔ کفر معاذ الله بهمین مرتبه ماند مسلمانان اسلام را فراموش کنند و اندکی از زمان نگذرد که قومی شوند که نه اسلام را دانند نه کفر را، این بلای عظیم است که قدرت به دفع آن به فضل ایزد منان غیر آن حضرت کسی را میسر نیست.

ما بندگان الهی رسول خدا ﷺ را شفیع می آریم و بنام خدای عزوجل سوال مینمائیم که همت انهمت را بجانب جهاد کفار این نواحی مصروف فرمایند تا در پیش خدای عزوجل ثواب جمیل در نامهٔ اعمال آن حضرت ثبت شود و در دیوان مجاهدین فی سبیل الله نام نامی تان نوشته شود و در دنیا غنایم بی حساب بدست غازیان اسلام افتد و مسلمانان از دست کفار نجات یابند. بخدا پناهم از آنکه بدستور نادرشاه بعمل آید که مسلمانان را زیر و زبر ساخت و مرهته و جت را سالم و غانم گذاشته رفت، از آن باز دولت کفار قوت یافت و جنود اسلام از هم پاشید و سلطنت دهلی بمنزله لعب صبیان گشت. معاذ الله اگر آن قوم کفار مُسَلّم مانند و مسلمانان ضعیف، نام اسلام هم جای نخواهد ....."[۱۹۰].

د حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله علیه غوندي معاصر روحاني شخصیت په پورتني لیک کي مور ولوستل، چي دی زموږ لوی احمد شاه ابدالي رحمة الله علیه د دوراندیش او جنګیالي په صفت یادوي او د کفارو له بند او مریي توبه څخه د هندوستان د ضعیفانو خلاصون یوازي د ده له لاسه پوره بولي، د دغه کار د اجرا له پاره د خدای جل جلاله رویونه ورته نیسي او حضرت رسول الله ﷺ شفیع کوي.

د (۱۱۷۳ه. ق.) او (۱۱۷۴ ه. ق.) کلونه د هندوستان په تاریخ کي د واقعاتو د اهمیت له مخي یو خاص ځای لري، څکه هغه یرغلګر مرهټه کفار، چي د ډاکټر اظهر علي په قول به هر کال تر پشکال (برسات) وروسته لکه ژړی تبي له دکنه پر شمالي هندوستان رابهېدل، ملکونه به ئې لوټل، کلنګونه به ئې ړولول، کښتونه به ئې خرابول، ودانۍ به ئې سوځلې، کلاوي به ئې نړولې، مسلمانان به ئې وژل او د دوی لوټي او زامن به ئې د مینځیانو او مریانو په توګه له ځانو سره دکن ته بېول، په دغو دوو کلونو کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو په مقابل کي سختي ماتي ته مجبور سول، او د "پاني پت" لویه سوبه، چي پښتانه ئې باید پخپل تاریخ کي په زرینو کرښو ولیکي، د غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه او د ده د لښکرو په برخه سوه.

د (۱۱۷۱ ه. ق.) کال د برات په لومړۍ ورځ د لاهور افغاني نائب السلطنه شهزاده تېمور سدوزی (۱۱۸۶-۱۲۰۷ه. ق.) او د هغه مدار المهام سردار جانخان پوپلزی مرهټو کفارو د لاهوره پسي اخیستي او تر اټک ئې تېر کړي وو.

په (۱۱۷۱ ه. ق.) کال نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزی، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حکم د ډهلي امیر الامراء مقرر سوی و، مرهټو کفارو له ډهلي ایستلی او په (۱۱۷۲ه. ق.) کال ئې د سکرتال په کلا کي، چي د هردوار جنوب ته د ګنګا پر غاړه واقع ده، شپږ میاشتي[۱۹۱]

---

[۱۹۰] شاه ولی الله دهلوی کي سیاسي مکتوبات، د خلیق احمد نظامي ترتیب، د ډهلي (۱۹۶۹ع) چاپ، ۱۱-۱۲ مخونه.

[۱۹۱] په ځینو آثارو کي د دغي کلابندۍ موده څلورنیمي میاشتي کښلې ده.

داسي کلابند کړي و، چي کلابند پښتانه له لوړي مرګ ته رسېدلي وو او نژدې و، چي کفارو ته ځانونه تسليم کړي.

د مرهټي کفارو لښکرو او پوځونو په روهيل کهنډ کي يو زر او درې سوه ودان کلي، وران کړي او سوځلي وو.

د مرهټو کفارو دوست، د ډهلي ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين سهروردي د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د دوهمي خور د مياشتي پر اتمه د ډهلي مغول پاچا دوهم عالمګير، چي د شهزاده تيمور سدوزي خسر او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مايني تربور کېدئ له انتظام الدوله سره، چي هغه تر عماد الملک غازي الدين دمخه د ډهلي وزير و، وژلي وو.

له سکرتال څخه د نجيب الدوله نجيب خان رحمة الله عليه (۱۱۸۴ هـ. ق. مړ)، له روهيل کهنډ څخه د حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅي رحمة الله عليه (۱۱۸۸ هـ. ق. مړ)، له ډهلي څخه د مشهور ستانه امام الهند حضرت شاه ولي الله ډهلوي رحمة الله عليه (۱۱۷۶ هـ. ق. مړ) او له ښکارپوره څخه د حضرت ميا فقير الله جلال آبادي رحمة الله عليه (۱۱۹۵ هـ. ق. مړ) خطونه او حالونه يو په بل پسې، حضرت لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته ورتلل، چي د هندوستان د ټولو مسلمانانو سترګي تا ته دي، که ته په دې خطرناکه موقع کي د دوی په داد نه رسېږې، دوی تباه کېږي او ستا له پاره به لويه بدنامي پاته سي (۱۹۲).

د سير المتاخرين په ۷۰۵/۲ مخ او د حديقة الاقاليم په ۱۳۷ او ۱۷۵ مخونو کي کښلي دي، چي غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ هم لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته د هندوستان د راتللو بلنه ورکړې وه، مګر ما (رشاد) په بل ځای کي دا خبره نه ده ليدلې.

مغل پاچا دوهم عالمګير د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ليک وراستولی و او په هغه کي ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه څخه غوښتنه کړې وه، چي ما د خپل مغرور وزير عماد الملک غازی الدين له ظلمونو څخه خلاص کړه (۱۹۳).

برهان خان هم د پاني پت د ستري غزا محرک اسلامي حميت بولي، نه د ملک نيولو يا دولت ټولولو شوق، د ده خپل الفاظ دا دي:

احمد شاه پادشاه په جهر وويله
د غزا په نيَت وزم له کابله
پښتني مغلو لاندي کړې کفارو
دا خبره مي په زړه وګرزېدله
يا به قتل کړم کفار په هندوستان کي
يا به پرې کړمه کله پرې باندي خپله

(د پښتونخوا هار و بهار، لومړی نظم)

د پېښور د هزار خانی اوسېدونکي رکن الدين ابن منير ويلي دي:

---

(۱۹۲) وګ: شاه ولی الله اور ان کي سياسي تحريک، ۱۷۷ مخ، د مولانا عبيد الله سندهي تاليف، د لاهور (۱۹۴۵ع.) چاپ او حالات نواب نجيب الدوله، ۹ مخ.

(۱۹۳) شاه ولی الله دهلوی کي سياسي مکتوبات، د خليق احمد نظامي ترتيب، د دهلي (۱۹۶۹ع) چاپ، ۲۲۸ مخ.

احمدشاهه!

هند له کفره پر فتور شه — د ظلمت له لاسه چور شه
پښتنې په بند بېولي — مرهتو په زور نتلي
ستا ورتلو ته انتظار کا — زاري ډېره په بار بار کا
د دکن پښتون آرزو کا — آرزو ډېر ستا د ورتلو کا
له کفاره ځان پکو دي — په آرزو ستا د کتو دي
شه، ګدا که د ډهلي دي — په ورتلو د ستا راضي دي
چې د هند بزرګان خواص دي — ستا ورتلو ته په اخلاص دي
که سرهند دئ که لاهور دئ — ستا په فتحه سر سرتور دئ
.... — ....

د پاني پت سوبه:

" James Grant Duff " په "History of the Marathas" کي ليکلي دي:

"د هندوستان د مهابهارت تر مشهور او تاريخي جنګ وروسته بل تر ټولو لوی جنګ د پاني پت د ميدان جنګ دئ، چي په (۱۷۶۱ع) (= ۱۱۷۴ هـ ق) کال احمدشاه په دوو ورځو کي دوه لکه مرهټه مات کړه او فقط يوه شپږمه ئې په ژوند ځني وتښتېدله".

ويليام جونز انګليس د پاني پت د جنګ د يوه مشاهد، مؤرخ کاشي راج (راو) په حواله کښلي دي:

"د پاني پت په جنګ کي هندوانو په ګډه سره داسي يو پلان جوړ کړی و، چي اسلام به له هندوستانه محوه کوي. دا جنګ د صليبي جنګو په څېر يو مذهبي جنګ و او د هندوستان د لېرو برخو راجاګانو ګډون پکښي درلود "(۱۹۴).

د عماد السعادت د ضميمې په ۴ مخ کي د هغه ليک مطلب، چي د مرهټو د پيشوا د اکا زوی "بهاو" د چنبل د رود له غاړي څخه سورجمل جاټ ته راليږلی دئ، داسي ثبت کړی دئ:

"افاغنه يکدل شده و احمدشاه را از ولايت طلبيده باو مستظهر گشته ميخواهند که بيخ هندوان را از دائرهٔ هندوستان برکنند. ما بپاس ملت خود بمقابله اينها کمر همت بسته ايم پس مناسب حال هر هندو است که شرکت ما را از جمله آئين نگهداشت و فلاح خود فهميده تن برفاقت ما در هند خصوصاً آن برادر عاليشان را که در هندوستان مرد نام برآورده و درين مجمع اسلاميان تنها و با نجيب خان بدشمنی سر بر کرده بمراتب خيرخواهی سرکار پيشوا شهرت پذيرفته ايد لازم است که بمجرد رسيدن پتر (نامه) خودرا همدوش صبا و شمال اينجا برسانند و نيز فوجيکه

(۱۹۴) آزاد افغانستان، ۱۲ ګڼه.

محصور وسع امکان ایشان باشد همراه بردارند".

د پښتونخوا د شعر هار و بهار د تعلیقاتو په برخه (دوهم مخ) کي د پاني پت په جنګ کي د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه او مرهټه وو د لښکرو شمېر د برهان په نظم کي داسي ښوول سوی دئ، چي د احمدشاه بابا رحمة الله علیه د غازیانو شمېر دري لکه او د مرهټیانو د لښکرو شمېر نهه لکو ته رسیدئ. خو دا مبالغه ده، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د غازیانو شمېر تر دې ډېر لږ وو.

علامه سید جمال الدین الافغاني رحمة الله علیه (۱۲۵۴-۱۳۱۴ھ. ق.) په تتمة البیان فی التاریخ الافغان (۶۷ مخ) کي د پاني پت په غزا کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو شمېره شپېته زره (۶۰۰۰۰) او د مرهټو د پوځ شمېره اتیا زره (۸۰۰۰۰) ښوولې ده.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خپلو لښکرو سره دري میاشتي، په پاني پت کي پروت و.

د مادهو جي سیندهیا د کتاب په ۳۰ مخ کي مسټر کېن کښلي دي:

د پاني پت په جنګ کي د غازیانو شمېر دا و:

۱. اته ویشت زره (۲۸۰۰۰) ولایتي سپاره، چي په وسله پټ او پر ترکمني اسو سپاره وو.
۲. اته ویشت زره (۲۸۰۰۰) روهیله سپاره.
۳. اته دېرش زره (۳۸۰۰۰) هندوستاني پلي سپاهیان، چي توپک او برچې ئې درلودې.
۴. اتیا (۸۰) توپه[۱۹۵]

د پاني پت په ډاګ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه او مرهټه پوځو لښکري او جنګي قطعات داسي تقسیم او تنظیم سوي وو:

نجیب خان یوسفزی په میسره کي، د هغه تر شا د اوده نواب شجاع الدوله او د هغه تر شا اشرف الوزراء شاه ولي خان زره پوښه لښکر ځای پر ځای سوی و. پر میمنه باندي دوې ایراني رسالې، په قلب کي د حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅي رحمة الله علیه او نورو روهیله سردارانو رسالې او دوې غښتلي رسالې د احمدشاهي پوځ، پر دوو اړخو باندي ولاړې وې، چي د اړخ له حملو څخه خپل لښکر وساتي او دغه د ګردو غازیانو شمېره وه. غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ټول پوځ تر شا، د جنګ احکام جاري کول.

د مادهو جي سیندهیا د کتاب په ۳۰ مخ کي د مرهټو د لښکر شمېر دري لکه تنه ښوول سوی دئ او دا ئې زیاته کړې ده، چي په دې کي د بهیر خلک هم شامل دي، مګر هغو چي د پاني پت په جنګ کي برخه واخیستله اویا یا اتیا زره تنه وو. دوه سوه توپونه ورسره وو او د زنبورکي توپو

---

[۱۹۵] د هار و بهار د تعلیقاتو په ۳ مخ کي د "James Grant Duff-II, 104" په حواله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پوځ سپاره یو پنځوس زره اته سوه (۵۱۸۰۰)، پلي اته دېرش زره (۳۸۰۰۰)، اویا (۷۰) توپونه او ایله جاري سرتېري هم په دغه اندازه سره راوړل سوي دي. او د مرهټو د پوځ شمېر پنځه پنځوس زره (۵۵۰۰۰) سپاره، پنځلس زره (۱۵۰۰۰) پلي، دوه سوه (۲۰۰) توپونه او دوه لکه نامنظم عسکر ښوول سوي دئ. مګر الفنسټون د کابل سلطنت بیان په ۲۶۴/۲ مخ کي د مرهټه پوځونو شمېر داسي راوړي، چي اویا زره (۷۰۰۰۰) سپاره، پنځلس زره پلي (۱۵۰۰۰) او توپونه تر دوو سوو کم نه وو.

شمېر هم زيات وو.

پر دې سربېره د مرهټو يو بل پوځ هم و، چې سپکه وسله (توره او چاړه يا نېزه) ئې درلوده. مرهټو د يوې کړې ليکې په صورت پر مختګ شروع کړ، ميسره ئې وړاندې وه او توپونه تر ټولو دمخه وه، په قلب کې بهاو له خپلې محافظې دستې سره ولاړ و، په ميمنه کې مادهوجي سينده‌يا او هولکر ولاړ وو، پلي پوځ د ابراهيم ګاردي تر امر لاندې، د ميسرې اصلي پوځ و او دوې پلټنې لړ تر شا ولاړې وې.

د ابراهيم ګاردي د توپو او پلو په لومړۍ حمله کې اته زره (۸۰۰۰) پښتانه او قزلباش غازيان شهيدان سول. ايراني رسالې تر شا سولې او ميدان د ابراهيم ګاردي په ګټه و. شجاع الدوله چې دا حال وليد، د سکتې حالت ورپېښ سو، نه پر مخ تلای سو نه پر شا.

د شاه ولي خان پر پوځ پخپله بهاو حمله وکړه، د شاه ولي خان آس زخمي سو او هغه پلي پاته سو. شجاع الدوله ته ئې د حملې له پاره سړي ورولېږه، مګر هغه له ځايه ونه خوځېد.

نجيب الدوله نجيب خان تر ماپښينه پوري، د مادهوجي سينده‌يا او جنکوراو د حملو مقابله په زنبورکو کوله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه قلب ته غښتلې رساله په کومک ورولېږله.

پر يوه بجه غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د اړخ لښکرو ته د پيشقدمۍ امر وکړ او هندوان کرار کرار تر شا کېدل. سدا شيو راو بهاو وتښتېد (؟)، مادهوجي سينده‌يا وتښتېد، ملهار راو هولکر وتښتېد، خبار دهن بالاجي (چې ميا نانا فرنويس باله کېده) وتښتېد، بسواس راو وواژه سو، څلوېښت زره هندوان د جنګ په ميدان کې ووژل سوه او مرهټيو ماتې وکړه.

د ادب کا تنقيدي مطالعه په ۲۰۲ مخ کې کښلي دي:

بالاجي باجي راو چې په پونه کې د پاني پت په ماته خبر سو، له خپلو پوځو سره مخ پر ډهلي راوخوځېد، د نربدا سيند غاړې ته چې راورسېد، د ډهلي له خوا يو خط وررسېدئ، په دې خط کې کښلي وه:

"دوې مرغلرې ماتې سوې، اووه ويشت اشرفۍ ورکې سوې، د سپينو زرو او مسو ورکې سوې سکې تر شمار وتلې دي".

له مرغلرو څخه مراد بسواس زاو او سدا شيو راو، له اووه ويشت اشرفيو څخه مراد ۲۷ مرهټي سرداران او د سپينو زرو او مسي سکو څخه د مرهټي عسکرو تعداد مراد و.

پروفيسور براون ليکلي دي:

"د دنيا څو جنګونه به نه د پاني پت د جنګ څخه نه زيات خونړي وي او نه به د نتيجې په اعتبار زيات بنه وي. که چيري مرهټه په دې جنګ کې کامياب سوي وای، نو د مسلمانانو حکومت به د همېش له پاره په هندوستان کې ختم سوی وای".

سر پرسي سايکس ليکلي دي:

"د پاني پت جنګ د دنيا په فيصله کوونکو جنګونو کې يو و".

د هندوستان کې حالت په ۲۶۲ مخ کې د پاني پت د جنګ په باب يو خاص فصل سته.

شکر به کاږئ پښتنو! توبه به کاږئ له ګناه
ستاسي په توره چي که خدای د مرېټو لښکر تباه
ډو به بېړی کړه ستاسي زيار د دکنيانو د سپاه
بده کړه ورځ ستاسي ايثار د مسلمينو د بدخواه
دا بری فضل دئ د رب دا فتحه داد دئ د الله
چي راشنه کېږي په هر کال د پاني پت هره ګياه
ستايي به ستاسي لوړ همت صفت به کا ستاسي د جاه
چي کاږي "سه" وايي به دا
"رحمت دي وي پر احمدشاه"(۱۹۶)

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زمانې عالم او شاعر د ګردي کڅ اوسېدونکي ميا شرف الکوزي د پاني پت د لويي او تاريخي سوبي په مبارکي کي يوه قصيده لري، د دغي قصيدې يو څو بيته دا دي:

احمدشاهه!

اې چي بلبل د عطا تل په چمن ستا که چغار
رب دي تل تل د جزا ګل په لمن ستا که نثار
څرخ دي د لمر وي همېش ستاسي د خواهش په مسير
کښت دي د ستورو وي تل ستاسي د آرزو په مدار
دا چي اوس مړ د ظلم اور د توري ستا شه په آب
دا هغه اور و چي ټول هند ئې وريتېده په شرار
فتح و نصرت چي په لاس ستا شه هزيمت شه غليم
منهزم هم هسي کفار شوو د ګنګا په کنار
وايو تبريک د ظفر ستا په حضور ډېر په ادب
عرضوو ستا په جناب دا چي دي تل اوسه بهار
افتخار ډېر له حده تېر شه په دې فتحه د قام
انتصار زيات که د اسلام په توره ستا کردګار

(۱۹۶) له ۱۲۳۹ څخه چي د "وکاږي" په قرينه "سه" (= ۶۵) وايستل سي، ۱۱۷۴ پاتېږي.

په درباري شاعرانو کي ميرزا عبد الهادي لاري موسوي، چي عشرت ئې تخلص و، د لوی احمدشاه بابا رحمه الله او تيمورشاه په دربارونو کې د انشاء وظيفه د ده په غاړه وه. ده د پاني پت په فتحنامه کي ويلي دي:

مجاهد به يقين غازی صحابه خصال — سمی احمد مرسل سمه هلال رکاب[197]
شهی که گوی تفاخر ز خسروان برده — ازاو نبرده يکی از ملوک غير حساب
بروز جنگ بر آيد چو تيغ او ز غلاف — کشد ز واهمه خورشيد سر بزير سحاب
بهم فگند سر و دست و پا ز فوج عدو — کشيد بر رخ ايشان چو تيغ عالمتاب
بروز معرکه اعدا ز تابش تيغش — چو عکس آئينه افتند بر زمين بيتاب
شهی که جنبش تيغ سپاه او بجهان — چو طفل فتنه و آشوب و شوره کرد بخواب
بعهد دولتش آسودگي فراوان شد — بچار سوق جهان جز ستم نشد کمياب
شهی که لشکريانش دل ملوک جهان — کنند گاه ستيزه بسيخ نيزه کباب
برای هدم اساس منافقان هنود — کشيد لشکر غازی بهند چون سيلاب
زبسکه کشته شد از هر طرف هنود دکن — بجای آب روان شد ز چشمها خوناب
زبسکه از دم تيغ مجاهدان خون ريخت — فتاد زورق بود هنود در غرقاب
فگند سر ز تنش تيغ و نيزه کرد بلند — بهند هر که شد از حکم نافذش سرتاب
عدو فتاد چو از پا خرد علانيه گفت: — ز "قتل مرهته" تاريخ فتح را درياب[198]

د روهيلکهنډ شاعر حضرت امان د پاني پت د غزا په باب ويلي دي:

احمدشاه د هندوستان په لور سپرېږي
په کابل کي نغارې پسي ږغېږي

نور فوجونه ورسره شولو په زور — شپه و ورځ د هندوستان په طرف درومي
نجيب خان[199] له حده زيات شو دلاور — اوس به ګورو، پښتنو! بلا څوک مومي

حاصل دا چي پاني پت کي ديره کېږي

---

[197] سمی = (د سين په زور د ميم په زېر) همنام
سمه (د سين او ميم په زورونو) هغه آس، چي په تګ نه ستړی کېږي.

[198] د "قتل مرهته" ابجدي ارزښت ۱۱۸۰ دئ، د "از پا فتاد" په قرينه د تخرجې عمليه بايد وکړله سي او د "عدو" کلمې بېنه يعني واو چي شپږ ابجدي ارزښت لري، څني وايستل سي، نو به ۱۱۷۴ پاته سي، چي د پاني پت د لويي سوبې کال دئ.

[199] په اصل کي: نجيم خان

فتحې وکړه هندوستان کې په هر لور | په ځنګلونو په مېرو ئې ځغلوله
ټول اولس او قلاګاني، کلي کور | ځني پاته شول ځانونه ئې ژغورله

مرهټان لکه ګیدړ ورنه ترهېږي

احمدشاه په بیرته ولاړ تر خپله کوره | پس له دې چې مرهټان ئې کړه پامال
مرهټانو ته ئې پرېښوه پېغوره | پښتانه ئې تر ابده کړه خوشال

تر قیامته پوري نوم د ده یادېږي

په پاني پت کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له لاسه د مرهټو کفارو ماتې د دې سبب سوه، چې په میسور کې د مرهټې پوځونو په مقابل کې "حیدرعلي خان" (د میسور سپهسالار) بری تر لاسه کړي[۲۰۰].

د پاني پت د سوبې تاریخي مادې:

مارشاد د پاني پت د سوبې تاریخي مادې داسې ویلي دي:

چې الله راکړ بری د پاني پت
"زر و سل څلور اویا و د هجرت"
ککرۍ د دښمنانو چې ترې پرې سي
معنوي تاریخ د سوبې به جوړ ترې سي[۲۰۱]

❁❁❁

"لوی بری وو" چې نصیب د پښتنو سو
"زر و سل څلور اویا هجري سنه وه"[۲۰۲]

د پاني پت د لویې او تاریخي سوبې سهي تاریخ (چهارشنبه ۶ جمادی الثاني ۱۱۷۴هـ. ق.) (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ع.) (= ۲۵ جدي ۱۱۴۰ هـ. ش.) دئ[۲۰۳].
د تزک آصفیه په ۱۲۵ مخ کې "روز یکشنبه ششم جمادی الاخر (۱۱۷۴هـ ق)" لیکلې ده.

---

[۲۰۰] تاریخ سلطنت خداداد میسور، ۵۸۰ مخ.

[۲۰۱] د دښمنانو سر = د = (۴) – (۱۱۷۸) = ۱۱۷۴هـ. ق. کال

[۲۰۲] "لوی بری وو" = (۲۷۰) + "زر و سل څلور اویا هجري سنه وه" = (۹۰۴) = ۱۱۷۴هـ. ق. کال

[۲۰۳] په تاریخ مختصر افغانستان ۹۲/۲ مخ کې د څلورمې خور شپږمه لیکلې ده. استاد بېنوا د افغانستان نومیالي په ۲۵۵/۳ مخ کې د جمادی الثاني د میاشتې اوومه کښلې ده. په نامۀ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني (۶۵) مخ کې هم ۷ د جمادی الثاني د میاشتې راوړه سوې ده، مګر د شوکت افغان په ۵۲ مخ کې د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د څلورمي خور د میاشتې شپږمه لیکلې ده.

د پاني پت د سوبي تاريخي ماده مير ذُکاء "غنيم پامال" موندلې ده. مير ذکاء د بلګرامي ورارہ دئ.

غ (۱۰۰۰) + ن (۵۰) + ی + م (۵۰) + پا (۳) + مال (۷۱) = ۱۱۷۴ هـ ق

او آزاد بلګرامي ويلي دي:

تـاريـخ شـکـسـت فـوج کـفـار
فرمـود خـرد غـنيم پامـال[۲۰۴]

هندی تاريخ ثې د عبرتنامې په ۱۲۴ مخ کي داسي راوړہ سوی دئ:

يـاران سـے پـرسـن چـوهـتـر — پـاني پـت ميـن هـوا چـلـتـر
چهتي شـهـر جـمادی الثانی — هـار مـرهـتـه جيـت درانـی

ژباړ:

پريوولس دپاسه څلور اويا کاله
په پاني پت کي جنګ وسو
د جمادی الثانی شپږمه وه
مرهتي مات سوه او دراني بری ومومند

ميرزا سيد عبد الهادي خان عشرت ويلي دي:

عدو فتاد چو از پا خـرد علانيه ګفت
ز قتل مرهته تاريخ فتح را درياب[۲۰۵]

د افغانستان در مسير تاريخ په ۳۶۹ مخ کي د (۱۷۶۱ع.) کال د جولای د مياشتي شپاړسمه د پاني پت د جنګ ورځ ليکلې ده، مګر دا نېټه سهي نه ده. د جنوري ۱۴ سهي تاريخ دئ، چي د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د څلورمي خور د مياشتي له شپږمي سره برابرېږي. د شاه ولی الله اور اُن کي سياسي تحريک د تعليقاتو په ۱۶۹ مخ کي، چي د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د ذی القعدې د مياشتي ۱۹ ليکلې ده، هم سهي نېټه نه ده.

د پاني پت په جنګ کي د غنايمو شمېره:

د سير المتاخرين په ۹۱۴ مخ کي ليکلي دي:

"... بيست و دو هزار غلام دکنی نژاد که اکثری از اولاد و احفاد سروران و متوسطان بود در

---

(۲۰۴) وګ: درانی احمدشاه، ۳۴۷ مخ او سير المتاخرين.

(۲۰۵) "قتل مرهته" = (۱۱۸۰) – پای عدو "واو" = (۶) = ۱۱۷۴

لشکر ابدالی تقسیم یافت و غنایمی که در احاطه احصائیه نگنجد از جواهر و نقد و دراجناس
دیگر و توپخانه و پنجاه هزار اسپ و دو لک گاو و چندین هزار شتر و پانصد پیل کوه پیکر
بدست عساکر منصوره افتاد".

د پاني پت د جنګ فتحنامه په تاريخ ظفره کي هم راوړه سوې ده.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا له بنګاله څخه د انګرېزانو د ایستلو اراده:

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه جنګباز خان بنګښ د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د
څلرمي خور د میاشتي په اووه ویشتمه ورځ (= ۱۹ مارچ ۱۷۵۷ع) د درو زرو سپرو سره، د
نواب احمد خان بنګښ په ملګری او ملاتړ، د بنګال د نیولو له پاره ګمارل سوی و[۲۰۶] او د
حافظ رحمت خان رحمة الله علیه زوی، مستجاب خان پخپل اثر "ګلستان رحمت" کي دا هم زیاته
کړېده، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حافظ رحمت خان ته هم لیکلي و، چي د جنګباز خان
بنګښ مرسته وکړي[۲۰۷].

د "افغانستان و هند برتانوي" په ۱۹ مخ کي لیکلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په (۱۷۶۷ع.) (=۱۱۸۰ هـ. ق.) کال اراده درلوده، چي
انګرېزان له بنګاله څخه وباسي، خو له انګرېزانو سره د دوهم شاه عالم مغل د دوستۍ تړون
او له احمدشاهي دربار سره نه پیوستون، د اوهـ د نواب ناسیاله شجاع الدوله پټ او خطرناک
ائتلاف او سازش له انګرېزانو سره او د پنجاب د سکهـ قوت نه همکارۍ، د اسلام د لوی
حامي او غازي احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زړه دا هیله او آرزو ورپوره نه کړله او دی ئې له دې
ارادې څخه جبراً منصرف کړ[۲۰۸].

---

[۲۰۶] دولت درانیه، ۳ مخ، احمدشاه درانی، ۲۳۲ مخ او احمدشاه بابا ۲۶۰ مخ.

[۲۰۷] ګلستان رحمت، ۱۰۴–۱۰۵ مخونه.

[۲۰۸] د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه په خپله لاسي قلمي نسخه کي دغه لیکنه پر دغه ځای پای ته رسېدلې ده او نور
ځای سپین ورته پاته و، له ماخذ څخه را اخیستنه او مجمله ژباړه ئې د علامه رشاد اکاډیمۍ له خوا سوې ده.

اشرف الوزراء شاه ولي خان بامیزی

اشرف الوزراء شاه ولي خان، چې د احمدشاهي پاچهۍ تر ټولو لوی رکن و، د احمدشاهي سلطنت په بقا او قوت کې د ده توري، تدبیر او صمیمیت لویه برخه درلوده، ځکه د ده شخصیت او د ژوندانه حالات د ډیري څېړني حق لري، خو افسوس په تاریخونو کې، د دې نومیالي وزیر په باب څه معلومات سته، هغه ډېر لږ دي او د ده په پېژندګلوي کې پاته مرسته نه سي کولای، له دغه املهنو د ده د ژوندانه ډېر اړخونه تیاره پاته دي او موږ نه سو کولای، چې د ده د شخصیت پر ټولو اړخو باندي په تفصیل سره وړغېږو.
اوس هغه نیمګړي معلومات، چې د دې لوی پښتني شخصیت په باب لاس ته راغلي دي، د یوه ابتدایي زیار په توګه ګرانو لوستونکو ته وړاندي کیږي:

نوم، قبیله او ابتدایي حالات:

د اشرف الوزراء شاه ولي خان اصلي نوم بګی[۲۰۹] خان و، دی پوپلزی پښتون دئ، چې په پوپلزو کې بیا بامیزی پښې او صالح زی کورنۍ ته منسوب دئ، صالح زی کورنۍ هغه صالح خان ته منسوبه ده، چې د سدو زو د مشر نیکه (سدو خان) ورور و.
د بګي خان د ژوندانه د ابتدایي حالاتو په باب ویل کیږي، کله چې افشار نادر په (۱۱۵۰ هـ.ق.) کال د هوتکو پښتنو د پاچهۍ پایتخت (کندهار) ونیو، بګی خان په هغو څورلسو تنو پښتنو سردارانو کې شامل کړه سو، چې د نادر په لښکر کې ئې د پښتنو سپاهیانو مشرتوب پر غاړه درلود[۲۱۰] او د نادر تر وژلي (۱۱۶۰ هـ.ق.) پوري ئې دغه منصب پایښت وکړ.
د (۱۱۶۰ هـ.ق.) کال د رجب د میاشتي تر اتلسمي پخوا، چې ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د کندهار د شیرسرخ په جرګه کې، د پښتنو په سیاسي مشرتوب وټاکه سو، د عبرتنامې د مؤلف په قول[۲۱۱] بګي خان (چې د نوموړي جرګې یو رکن و) سمدستي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه

---

[۲۰۹] بګ (Bag) په پښتو کې د لوی معنی لري او اوس هم دا کلمه په کندهار کې ویله کیږي، یوه کندهاري شاعر (شمس الدین کاکړ) تقریباً یونیم سل کاله پخوا ویلي دي:

هسي شـوم طالـع زمـا دئ   باطـن وور په ظاهـر بـګ

(د دیوان ٦٦ مخ)

[۲۱۰] تیمورشاه درانی، د کابل چاپ، ۲۵۰ مخ.

[۲۱۱] وګ: د عبرتنامې لومړی ټوک، د لاهور چاپ، ۱۹۸ مخ.

پر سر هغه تاج کښېښود، چي پخوائې د دغه مقصد له پاره، پخپل شخصي مصرف تهيه کړی وا، دی لومړی سړی و، چي د پاچهانو په توګه ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته، د رسمي سلامی دود پر ځای کړ.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي څرنګه پاچا سو، بګی خان ئې د خپل وزير اعظم په حيث مقرر کړ. د "اشرف الوزراء" په خطاب ئې ونمانځه او د "شاه ولي" لقب ئې ورکړ[۲۱۲].

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په خپل هغه ليک کي، چي د ترکيې د پاچا سلطان مصطفی ثالث عثماني (۲۸ ربيع الاول ۱۱۷۱–۱۱۸۷ ه.ق.) په نامه ئې لېږلی دئ، د اشرف الوزراء القاب داسي کښلي دي:

"... عاليجاه بلند جايګاه مقرب الخاقان اعتماد الدولة العالية الخانيه اعتضاد السلطنة البهية القآنيه شاه ولي خان دراني باميزائی وزير اعظم و دستور معظم روانه نمود".

حافظ مرغزي، چي په (۱۱۷٦ ه.ق.) کال ئې پښتو احمدشاهي شهنامه بشپړه کړې ده، د دغه لقب د ورکړي په باب ويلي دي:

چي وزير و د پادشاه   په عروج و آصف جاه
په دا فضل د احد   ولي[۲۱۳] کړی و احمد
چي په سر ئې درلود شاه   هم په دا و عالي جاه

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه معاصر مشهور بزرګ ميا فقير الله ننګرهاري ثم الشکارپوري رحمة الله علیه پخپل (٦۹) ليک کي، چي شاه ولي خان ته ئې را استلوی دئ، د اشرف الوزراء خطاب ورته کړی دئ او په (٥٦) ليک کي ئې د "آصف جاه وزير اعظم" په لقب ياد کړی دئ[۲۱۴].

د تېمورشاه دراني د کتاب په (۲٥۰ مخ) کي زياته سوې ده، چي د اشرف الوزراء شاه ولي خان پر مهر باندي دا بيت کيندلی و:

در بارهٔ من چون کرم لم يزلی شد
بګ[۲۱٥] بودم و نامم بجهان شاه ولی شد

---

[۲۱۲] دولت درانيه، د ډهلي چاپ، ۱۳ مخ، "Ahmad Shah Durrani"، د مدراس چاپ، ۲۹ مخ.

[۲۱۳] شاهنامهٔ احمدشاه ابدالي په پېښور کي د پښتو اکاډيمی له خوا چاپ سوې ده، د دې کتاب په (۱٦۹ مخ) کي د (ولي) کلمې پر ځای (دلئی) کښلی دئ او يوه ډېره قبيحه غلطي پېښه سوې ده.

[۲۱۴] وګ: مکتوبات ميا فقيرالله (۲۷۰–۲۹۱ مخونه). د ميا فقير الله په مکتوبات کي دوه مکتوبه د وزير (شاه وليخان اشرف الوزراء) په نامه سته.

[۲۱٥] د تيمورشاه دراني په کتاب کي د دغه بيت وروستی مصرع "بګی بودم و نامم بجهان شاه ولی شد" کښلې ده، دلته د "بګی" کلمه په لوستلو کي خورا درنه سکته پېښوي او د لومړی مصرع له عروضي وزن (مفعول مفاعيل مفاعيل فعولن) څخه (چي هزج مثمن مکفوف محذوف بحر دئ) بل وزن ته اوړي او له (مفاعيل مفاعيل مفاعيل فعولن)

وروسته ئې بيا د "بگی بودم" يا "بگ بودم" جمله ځني وغورځوله او دوهمه پلا ئې داسي ترميم کړ:

دربارهٔ من چون کرم لم یزلی شد
القاب ز شاهم بجهان شاه ولی شد

د تاريخي وثيقو له مطالعې څخه دا څرگنديږي، چي دا لقب ورو ورو دومره عام سوی دئ، چي اصلي نوم له منځه تللی او د (خان) په زياتوب سره لقب د اصلي نامه ځای نيولی دئ، له دغه امله نو موږ هم پس له دې دا نوميالی وزير د شاه ولي خان په نامه يادوو او د اصلي نامه له ذکره څخه ئې صرف نظر کوو.

شاه ولي خان د کندهار اوسېدونکی و، کله چي د کندهار احمدشاهي ښار ودان سو، د بر درانيو په برج کي، چي اوس ئې څلرمه ناحيه بولي، زړې جامع ته نژدې، د ده کورو او دا کوڅه د ده د استوگي له امله تر اوسه پوري د بامېزو په کوڅه سره يادېږي. په دې کوڅه کي تر دې وخته پوري ځيني بامېزي ميشته دي.

د کندهار د مشهور محقق عالم حبو اخندزاده رحمة الله عليه پلار و نيکه، چي د شاه ولي خان له علمي منسوبينو څخه وو، هم په دغه کوڅه کي ورسره اوسېدل او د هغو ځيني اولادونه تر اوسه پوري لا په بامېزو کوڅه کي اوسي.

د اشرف الوزراء شاه ولي خان د زوکړي کال نه دئ ټاکلی، خو که دا ومنو، چي رشتيا هم په (۱۱۵۱ ه.ق.) کال د افشار نادر له خوا ده ته د پښتنو د يوه پوځ مشرتوب سپارل سوی دئ، نو بيا په دغه وخت کي د ده عمر لږ تر لږه پنځه ويشت کاله بايد تخمين کړو، چي په دې حساب نو د ده د زوکړي کال د (۱۱۲۵ ه.ق.) شاوخوا اټکل کيږي او وژله ئې په (۱۱۸۶ ه.ق.) کال پېښه سوې ده، چي په تفصيل سره به دا پېښه وروسته وڅېړو.

د اشرف الوزراء شخصيت:

د تاريخ حسين شاهي له ليکني څخه دا څرگنديږي، چي اشرف الوزراء شاه ولي خان ډېر موثر شخصيت درلود او ښه ژبور سړی و، د ده منطقي قوت او فصيحې ژبي هرومرو اورېدونکی تر خپل تاثير لاندي راوست او سحر بياني د ده د وينا خاصه وه.

د تاريخ حسين شاهي مؤلف امام الدين ليکي:

"شهزاده تيمور چي په هرات کي د پلار په مرگ خبر سو، دستي مخ پر کندهار وخوځېد. ده په بکوا کي اړولي و، چي اشرف الوزراء شاه ولي خان ئې استقبال ته راورسېد او د شهزاده خېمې ته

سره برابريږي، چي هزج مثمن مکفوف محذوف بحر دئ. مگر که "بگی" کلمه "بگ" ولوستله سي دا عروضي گډوډی له منځه ځي او سکته هم نه پېښيږي.

ئې د ورننوتلو اجازه وغوښتله، د شاه ولي خان مخالفينو دا نه غوښتل ځکه دوی پوهېدل، چې د اشرف الوزراء په خوله کي سحر دئ، که تيمورشاه ورسره مخامخ سي، هرو مرو ئې تر تاثير لاندي راځي او بيا زموږ خبري بې اغېزي پاتېږي..."(۲۱۶).

اشرف الوزراء شاه ولي خان پر عهد او دوستی ټينګ مخلص سړی و. د "دولت درانيه" په يوولسم مخ کي کښلي دي:

"اشرف الوزراء لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته بې ساری اخلاص درلود او په دې خوښ و، چي د ده د بري او نېکنامی په لاره کي د خولو پر ځای خپليويني وبهوي".

غالباً د شاه ولي خان دغه سرشاره اخلاص او صميميت و، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه زيات اعتماد ئې حاصل کړی و، د ده هره خبره به لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه منله او په زياته درناوي ئې ورته کتل، ځکه نو هر سياسي ياغي به ده ته پنا وروړله او د ده په شفاعت به ئې ځان، عزت، مال او منسوبين له سلطاني قهره ژغورل.

مير عبدالکريم نديم پخپل کتاب "افغان و کابل و بخارا و خيوق و خوقند خانلرينګ احوال و حکايات" کي، چي د شاه ولي خان تر مرګ ئې پنځوس کاله وروسته، په استانبول کي کښلی دئ، ليکي:

"وزير شاه ولي خان ډېر پوه سړی و. په حکمت کي د خپل وخت ارسطو و. د ده په وختو کي خلک ډېر آرام وو او د هوسايي ژوند ئې تېراوه. د ده د وزارت په زمانه کي پنځوس زرو تنو ته علوفه او مواجفه مقرره وه".

اشرف الوزراء شاه ولي خان توريالی سړی هم و، ده په زياترو لښکر کښيو کي برخه اخيستې ده او په ډېرو جنګو کي ئې د ټينګار، مېړاني او ننګيالي توب ښه امتحان ورکړی دئ.

د نامه احمد شاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی په ۶۶ مخ کي ليکلي دي:

"... عالي جاه معلی جايګاه مقرب الخاقان اعتماد الدوله العلية العاليه اشرف الوزراء که هميشه در معارک حرب و پيکار مقدمة الجيش سپاه نصرت شاه می باشد".

د بهاو نامې مولف "پنډت کاشي راو دکني" ليکلي دي:

"د پاني پت په غزا کي، چي مرهټو د اشرف الوزراء شاه ولي خان پر پوځ ډېر کلک بريد وکړ او د شاه ولي خان لښکر لږ تر شا وټکېد، په دغه وخت کي د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن (۱۱۶۷-۱۱۸۸ه.ق.) زه ورولېږلم، چي د اشرف الوزراء حال وروړم، زه چي ورغلم که ګورم اشرف الوزراء پخپله د جنګ په ميدان کي پلی ولاړ دئ، خپل لښکر جنګ ته لمسوي او مرګ تر تېښتي غوره بولي".

د حافظ مرغزي په قول اشرف الوزراء شاه ولي خان يو عيب هم درلود، چي هغه د مال او دنيا مينه وه، نوموړی حافظ په (۱۸۸ مخ) کي اشرف الوزراء ته خطاب کوي او د ده دا عيب داسي

---

(۲۱۶) تاريخ حسين شاهي يا تاريخ حسيني (قلمي)، ۷۵ مخ.

غندي:

مـدام دا لـرې نـظـر کـه اوس راشـي راتـه زر
....
پـه مـظـلـوم کـوه نـظـر عـزيـز مـه ګـنـه دا زر
....
تـه راغـلـی پـه غـزا يې د کـفـارو پـه سـزا ئې
ولـي سـسـت شـوې پـه دا کـار خـبـر نـا خـلـې د فـجـار[۲۱۷]
....
کـه "حـافـظ" وکـه ګـفـتـار تـمـام در کـه نـمـودار
څـه فـايـده کـه ګـفـتـګـوی کـه دی در پـه قـيـمـت لـوی
د هـر چـا مـطـلـب شـه زر کـلـه غـم شـتـه د مـحـشـر

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه معاصر حبيب الله شاعر ويلي دي:

چي ئې نوم احمد پادشـاه دئ کـل عـالـم د ده نـيـکـخـواه دئ
شـاه ولـي ئې پشـت پـنـاه دئ آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!

۞ ۞ ۞

چي پادشـاه ئې ډېر عـالـي دئ او دويـم ئې شـاه ولـي دئ
مـسـتـقـيم پر خـپـل ويـي دئ آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!

د شهزاده تيمور سدوزي ترستايني وروسته وايي:

بـيـا پـسـې شـاه ولـي خـان پـر هـر چـا دئ مـهـربـان
ورتـه نـه رسـي خـانـان آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
د ده خـوی دئ ډېـر حـلـيـم پـه هـر کـار دئ ډېـر عـلـيـم
مـظـفـر سـو پـه غـلـيـم آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
چي لـه چـا سـره وعـده کـا پـه وعـده ئې زړونـه ښـه کـا
نـقـصـانـي کـارونـه نـه کـا آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
پـه هـر کـار چي د ده عـلـم هـلـتـه رسـي نـه کـا ظـلـم
کـل عـالـم و ده تـه حـرم آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
شـاه ولـي رشـتـيـا ولـي دئ سـحـر خـېـزه مـقـتـدي دئ
د هـر چـا سـره شـفـيـع دئ آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!

---

[۲۱۷] فجار = بدکار خلق

د پاچا تر فهمه ښه شه
پـه هيڅ آن کي غـمجن مه شه
بـل بـه کلـه څـوک پـيدا شي
بيـا ئې رحم پـه هـر چا شي
خـداى دې ډېـر کـا تـر دې ډېر
چيري مـا نـه کـاندي هېر

د جنت نعمت د ده شه
آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
چي و ده تـه هـويـدا شي
آه ارمـان دئ کـنـدهـاره!
پـه غـلـيـم سـه لا دلـېـر
آه ارمـان دئ کـنـدهـاره !

(د دېوان ۵۲ مخ)

د ژوندانه ځيني مهمي پېښي:

لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي د مشهد لور ته اوله پلا خپل پوځونه ولېږدول اشرف الوزراء شاه ولي خان ورسره مل و. په دې سفر کي د ده د حربي فعاليت په اړه د نامهٔ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی د کتاب په ۳۳ مخ کي داسي کښلي دي:

"محمدحسين خان يکی از سرداران با اقتدار، کرد های خراسان بود که برای نجات محصورين قلعه مشهد، بر خلاف نهضت اعليحضرت احمدشاه از ايلات کرد و اتراک و ديگر ايلات خراسان لشکر بزرگی جمع آوری نموده و دو نفر برادرزاده های نادرشاه نيز که با آنگروه بود با خود برداشته، بقصد نبرد احمدشاه جانب مشهد می آمدند، شاه افغان پيشتر از حشر اشرار مزبور اطلاع يافته فوجی از قوای شاهی را بسرداری شاه وليخان درانی باميزائی وزير اعظم باستقبال قوای محمد حسين خان از قلعه بندی مشهد فرستادند، اين فوج درانی در منزل "چمن زاغان" با لشکر حمله آور مقابل شده بعد از يک محاربه شديد، قوای اکراد و اتراک و ديگر احشامات خراسان که بمعيت سردار مذکور بودند با دو نفر برادرزاده گان (نادرشاه) بکلی مضمحل گرديدند، وقراريکه در نامه فرخنده به آن اشاره رفته محمد حسين مذکور اسير و با دوازده هزار نيزه سر مقتولين اردوی حشری او بحضور احمدشاه در اطراف مشهد آورده شد، که بسزای جسارت خود رسيد".

په (۱۱۶۴ هـ.ق.) کال چي لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه دوهمه پلا د نيشاپور او طوس لور ته پوځونه ولېږدول، اشرف الوزراء شاه ولي خان هم ورسره و.

پښتنو چي نيشاپور کلابند کړ، د نيشاپور حاکم (عباس قلي خان بيات) د شاه ولي خان په وسيله سره د کلا د سپارلو عرض او د خپلي بخښني هيله د لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته وړاندي کړله او ومنله سوه[۲۱۸]. لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي په دغه پلا د مشهد او نيشاپور تر مکرري استيلا وروسته هرات ته راستون سو، شاه ولي خان ئې له يوه تکړه پوځ سره وګماره، چي د هندوکش او آمو تر منځ سيمي ونيسي. د ځينو تاريخو په قول ده هم دا کار په ښه توګه تر سره کړ او په نيولو سوو سيمو کي ئې افغاني حاکمان مقرر کړل. پخپله تر دې سوبې وروسته، د باميان او

---

[۲۱۸] د Ahmad Shah Durrani (۹۴ مخ)، د محمد امين ګستاني د مجمل التواريخ په حواله.

کابل له لاري کندهار ته ستون سو.
لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه هم په دغو نږدو ورځو کي له هراته کندهار ته رسېدلی و او د اشرف الوزراء شاه ولي خان له دغه فعالیته څخه ډېر راضي سو.
په (۱۱۶۵ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د لاهور د مغلي حاکم میر معین الملک د ځبلولو له پاره پنجاب ته پښتني پوځونه بوتلل، اشرف الوزراء شاه ولیخان هم ورسره مل و.
د دغه کال د دوهمي خور د میاشتي په منځ کي، چي د میر معین الملک پوځو لاهور ته نږدې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له لښکرو سره جنګ کاوه، دی د احمدشاهي پوځ په کیڼ غوړي (میسره) کي ولاړو او کلکه مقابله ئې وکړله[219].
د درېیمي خور د میاشتي په لومړۍ ورځ، چي د میر معین الملک پوځونه مات سول، میر معین الملک له خپلو درو تنو منصبدرانو سره، د بخښني په هیله اشرف الوزراء شاه ولي خان ته ورغی. د ده په وسیله سره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته وړاندي کړل سو او د بخښني هیله ئې ترسره سوه[220].
په (۱۱۷۰ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه څلرمه پلا هندوستان ته ولاړ، اشرف الوزراء شاه ولیخان بیا ورسره و. د دغه کال د دوهمي خور د میاشتي په درویشتمه ورځ، چي ده تر لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه یو مزل مخ کي له خپل پوځه سره په باولي Bawli[221] نومي ځای کي اړولي و، د مرهټي لښکرو له یوه پوځ سره ئې، چي "انتاجي مانک ایشور" نومي مرهټه سردار اداره کاوه، یوه سپکه نښته وسوه، د غلیم سل مړي پر میدان پاته سول او نورو ئې په تېښته ځانونه خلاص کړل.
تر دغي پېښي څلور ورځي وروسته (د دوهمي خور د میاشتي په اووه ویشتمه) د ډهلي د دربار مغلي وزیر ناسیاله غازي الدین سهروردي د اشرف الوزراء شاه ولیخان کیمپ ته ورغی او د خپلي بخښني له پاره ئې د شفاعت هیله ځني وکړله.
د شاه نوموړی غازي الدین، چي له افغاني حکامو څخه د لاهور د نیولو جرم ورته منسوب و، د شاه ولي خان په وسیله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ور وستل سو. که څه هم لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ډېر ورته دردېدلی و، خو د اشرف الوزراء په شفاعت او د میر معین الملک د کونډي په پوړني کي ئې وباخښه او بیرته ئې د ډهلي د دربار په وزارت سرلوړی کړ[222].
څو ورځي وروسته د اشرف الوزراء شاه ولي خان په واسطه سره، له مغلي وزیر نوموړي ناسیاله غازي الدین څخه، د یو کروړ روپو جواهرات او تر درو لکو زیاتي اشرفۍ، احمدشاهي

---

[219] د "Ahmad Shah Durrani" ۱۱۱ مخ.

[220] عبرتنامه لومړی ټوک، ۲۱۰ مخ.

[221] باولي له ډهلي څخه شپږ میله لیري واقع ده.

[222] خزانهٔ عامره، د لکهنو چاپ، ۹۳ مخ.

خزانې ته تحویل سولې. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لا په ډهلي کې و، چې د سردار جانخان په لاس متهرا د فتحې زیرې ورته راغی او سردار د اګرې نیولو ته وګمارل سو. په دغه وخت کې شاه ولي خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر "متهرا" ته ولاړ، چې د هغې سیمې د یاغیانو ځبل جاري وساتي او د سردار جان خان د قوت الظهر په توګه، په متهرا کې واوسي[۲۲۳].

په (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال چې د کلات والي نصیرخان بلوخ[۲۲۴]، په بلوچستان کې د خپلواکی نغاره وډنګوله، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه یو پوځ د اشرف الوزراء شاه ولي خان تر مشرتابه لاندې ور ولېږه. نصیرخان بلوخ چې خبر سو، د بلوخانو لښکر ئې مستنګ ته راوست او د اشرف الوزراء د پوځ مخه ئې ونیوله، مستنګ ته نژدې په فرینګوز Pringoz[۲۲۵] کلي کې جنګ ونښت. د اشرف الوزراء پوځ ماتې وکړه او دېرش میله د جنګ له ځایه تر شا سو. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې په خبر سو، ډېر ژر ئې له کندهاره څخه په مرسته ورغی او نصیرخان ئې په کلات کې کلابند کړ. څه موده وروسته نصیرخان بلوخ، اخوند محمد حیات د اشرف الوزراء حضور ته ولېږه او د اشرف الوزراء په وسیله سره ئې د بخښنې هیله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته وړاندې کړله. اشرف الوزراء شاه ولیخان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر د نصیرخان بلوخ د تسلۍ له پاره، کلات ښار ته ورغی، له ځانه سره ئې شاهي دربار ته راوستی او پخپله هم د وزیر اعظم شاه ولي خان په واسطه د پاچا په حضور مشرف او وباخښه سو.

د (۱۱۷۲هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتې په اووه ویشتمه ورځ، چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له کندهاره څخه، له مرهټو سره د غزا په نیت، پنځمه پلا هندوستان ته وخوځېد، اشرف الوزراء شاه ولي خان ئې هم مل و. دا سفر یو ویشت میاشتې پسې اوږد سو او د پاني پت مشهوره غزا او برې پکښې واقع سو.

د احوال نجیب الدوله په ۲۰ مخ کې کښلي دي:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه چې په (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د باغپت پر ګودر، تر طغیاني جمنا راپورې وتل، د جمنا پر غربي غاړه یوه بوښته وه، چې آسان او سړي پکښې نښتل، ځکه نو لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حکم وکړ، چې هر څوک دي د ونو څانګې، بوټي، پرړونه هر څه چې له دغه ډوله په مخه ورځي، په دغه بوښته کې اچوي. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د امر په احترام او د ثواب

---

[۲۲۳] دولت درانیه، ۲۲ مخ.

[۲۲۴] نصیرخان بلوخ د عبدالله خان زوی، د میر محراب خان لمسی او د میر احمد خان کړوسی دئ. تر (۱۱۶۴هـ.ق.) کال پخوا نصیرخان له حیدرآباد سنده څخه، د اشرف الوزراء په بلنه کندهار ته راغی او تر څو چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د میر محبت خان پر ځای د کلات په خاني ټاکل کېدئ، د اشرف الوزراء مېلمه و. او د اشرف الوزراء په پېرزوینه د خپل میرېزي ورور، میرمحبت خان پر ځای د کلات خانۍ ته ورسېد. اشرف الوزراء دی (نصیر خان بلوخ) زوی بللی و.

(تواریخ بلوچستان، ۹۶، ۱۹۰ او ۱۹۲ مخونه)

[۲۲۵] د دغه ځای نوم "فرینګوده" هم ضبط سوی دئ.

ګټلو په خاطر، پخپله اشرف الوزراء شاه وليخان له آسه کښته سو او د جمنا د غاړي له ځنګله څخه ئې يوه لويه څانګه پرې کړه او په نوموړې بوښته کې ئې واچوله. اتو زرو پښتنو خانانو د ده په متابعت پخپلو لاسو يو يو ښاخ پرې کړ او په بوښته کې ئې واچاوه او سپاهيانو به ډک غوزي راوړل هلته به ئې په بوښته کې تشول، په يوه ګړي بوښته يو ګزرا لوړه سوه او د لښکر له پاره داسي لار جوړه سوه، چي توپونه هم د پيلانو په واسطه پر تېر کړه سول.

د پاني پت په ډاګ کي د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د دوهمي خور د مياشتي په څورلسمه ورځ (= ۲۲ نومبر ۱۷۶۰ ع.) د سينډهيا مرهټه پوځونو د اشرف الوزراء پر پوځ باندي، د شپې ناڅاپه بريد وکړ. د اشرف الوزراء پوځ ئې په مقابله بوخت و، چي نور پښتني پوځونه ئې په مرسته ورغلل او مرهټه ئې تيښتي تهمجبور کړل.

د پاني پت په لويه تاريخي غزا کي، چي د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د څلرمي خور د مياشتي پر اوومه پيښبه سوې ده، اشرف الوزراء شاه ولي خان له نولسو زرو (۱۹۰۰۰) سپاهيانو سره، د احمدشاهي لښکرو په منځ (قلب) کي ولاړ و. د جنګ په شروع کي مرهټه پرسته مسلمان افسر ابراهيم ګارډي، چي د کفارو د پوځ په کيڼ غوړي (ميسره) کي ولاړ و، د مسلمانانو د پوځ پر ښي غوړي (ميمنه) بريد وکړ. د نواب حافظ رحمت خان بړيڅي، دوندي خان بړيڅي او احمدخان بنګښ پوځونه ئې له ځايه بې ځايه کړه. په دې حمله کي د شاه ولي خان د پوځ د ښي څنګ صفونه هم سره مات سول. د مرهټو د پېشوا زوی (بسواس) او سپهسالار (ويشواناتهـ راو بهاو)، چي دا وليدل، د اشرف الوزراء پر پوځ ئې يوه سخته حمله وکړله. پښتنو دا حمله ونه سهلای سوای او څه ترشا وڅکېدل. اشرف الوزراء چي دا حال وليد له آسه کښته سو او مرګ ئې تر تيښتي غوره کړ، څو تنه ملګري، چي ورسره پاته وو، د هغو په ملګري ئې له يوې خوا د مرهټو کلکه مقابله وکړه او له بلي خوا ئې خپل تيت و پرک پوځ بيرته راغونډ کړ او د مرهټو د پرمختګ مخه ئې ونيوله.

ذکاء الله خان دهلوي د تاريخ هندوستان د نهم ټوک په (۳۰۸ مخ) کي دا هم زياته کړې ده، چي اشرف الوزراء شاه ولي خان په دغه وخت کي د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن ته سړی ور ولېږه، چي مه ګوره پر مرهټو بريد کوه، ګوندي ئې په دې توګه فشار له موږه کم سي. مګر شجاع الدوله ئې د مرستي همت ونه کړ او ډېر ژر ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه خاص پوځ (د غلامانو دسته) په مرسته راورسېدله او مرهټه ئې ترشا کړل.

د نامه احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفٰی ثالث عثماني په ۷۵ مخ کي کښلي دي، چي د مرهټه پوځو سپهسالار باهو (بهاو) د اشرف الوزراء شاه وليخان سړيو بندي کړ او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ئې راوست.

د پاني پت تر لويي تاريخي سوبي وروسته، د برات د مياشتي په شروع کي اشرف الوزراء شاه ولي خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په امر د سورج مل جاټ ځبلو لره، له ډهلي څخه د اګرې لور ته ولاړ. په دې لښکر کي د ډهلي د مړه مغل پاچا دوهم عالمګير (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هـ.ق.) کونده "زينت محل" د مغلي پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳-۱۲۲۱ هـ.ق.) زوی "جوانبخت" او د دوهم عالمګير

زوم "میرزا بابر" هم ورسره مله وو. دا پوخ تر متهرا پوري ولاړ، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه بیرته ډهلي ته ورستون سو.

ډهلي ته ور وغوښت او اشرف الوزراء هم ډهلي ته ور وغوښت سو، چي د افغانستان سپاهیانو له نور ځیني کسان وایي، دغه پوخ ځکه بیرته راوغوښت سو، چي د افغانستان سپاهیانو له نور پرمختګ څخه نټه وکړه. دوی نولس میاشتي سوي وې، چي له خپلو کورو ورک وو او د هندوستان په سوځنده مځکه کي، د سفر له تکلیفو او پله پسې جنګو څخه ستړي او پکو سوي وو.

د اشرف الوزراء شاه ولي خان مخالفینو د دې نټي محرک شاه ولي خان وباله او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه خوا ئې ځني بده کړله.

د احمد شاهي شهنامې له بیانه څخه داسي معلومېږي، چي د وزارت له منصبه هم ایسته کړ سو او څه وخت لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په ښه سترګه نه ورته کتل. د شهنامې اصل مضمون، چي "اغماض شاه جم جاه از وزیر شاه ولي" عنوان لري دا دئ:

که څوک وي بلند په جاه	په یو دم به شي تباه
فلک تل کا نامرادي	په فنا لري شادي
غرور مکړه په دا مال	که وي ګنج د درو لال
چي اول تر تا ځوانان وو	مشهور په دا جهان وو
....	....
له دنیا نه په ارمان	د فنا په لور روان
بیا ئې نه مونده بقا	که دوام ئې وه لقا
په یو حال دئ کردګار	که زما اورې ګفتار
که وزیر ؤ شاه ولي	په عالم کي ؤ جلي
....	....
غم دي نه کاندي وزیر	چي دعا لري تأثیر
د دعا دئ دا اثر	تا به که په جهان سر
....	....
تمام ملک چي د خسرو	ستا په مهر به بیا شي نو

(د احمد شاهي شهنامې ۱۸۵-۱۸٦ مخونه)

په (۱۱۷۵ هـ.ق.) کال یوه شپه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په کندهار کي، حضرت سیدنا محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په خوب ولیده، چي ویل ئې:

"ته آرام خوبونه کوې او په پنجاب کي مسلمانان په وینو کي ډوب دي!".

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په ډېر دهشت له خوبه راوغورځېد، نور ئې نو د لښکر تهیې او انتظام ته ونه کتل، په هغه شپه له خپلو سر او سو او حاضر باشو (شاهي ګارد) سره مخ پر

ستان وخوځېد. شاه ولي خان ته ئې پيغام ور ولېږه، چي زه ولاړم، ته پوځونه ژر سره را غونډ
ورا پسي راځه.

دا د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه شپږمه پلا هندوستان ته تګ و. اشرف الوزراء شاه وليخان ته
دا پيغام ور ورسېد، دستي ئې پوځونه سره راغونډ کړل او په ډېر تلوار، په لوی احمدشاه
رحمة الله عليه پسي روان سو. لوی لښکر ئې ترشا پرېښوو او پخپله ئې له درو زرو تنو تکړه سپرو سره،
ورا ېېره پنجاب ته ځان ورساوه او په جنديلي (۲۲۶) کي، چي له امرتسره شخه دوولس ميله شرقي
ته واقع ده، ماښام مهال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف سو. لوی احمدشاه
رحمة الله عليه د دغي ورځي په سهار دغه ځای ته را رسېدلی و.

نور پښتني پوځونه هم يو په بل پسي ور ورسېدل. اشرف الوزراء شاه وليخان د (۱۱۷۵ه.ق.)
د رجب په مياشت کي اته زره تکړه سپاره، د زين خان مومند په ملګري، د سرلام (سرلاړيا
مة الجيش) پوځ په توګه، په سکهانو پسي وخوځول. درې ميله لا نه وو پر مخ تللي، چي د
انو له يوه لوی پوځ سره مخامخ سول. د سکانو دا لوی پوځ "چرت سنګه" او "جساسنګه اهلو
يه" اداره کاوه. جنګ ونښت، سردار جان خان هم د اشرف الوزراء په مرسته راورسېد. سکان د
هل کلي ته ترشا سول، چي غرمه کېدله په تېښته تېښته ئې ځانونه کبته او بهمني کلو ته، چي په
ير کوټله کي واقع دي، ورسول. پښتني پوځونه سم په پسې وو. دلته د شاه له خوا د دغو کلو
تنو هم پر سکانو بريد وکړ. په دې غزا کي د عبرتنامې په قول دېرش زره سکان ووژل سول. دا
نه د سکانو په تاريخ کي په "وډه ګهلو ګهاره" سره شهرت لري. په ګورمکهي ژبه "وډه ګهلو
اره" لوی قتل عام ته وايي.

په دغه سفر کي الاسنګه جاټ، چي د پټيالې د راجه ګانو نيکه کېږي، هم د غازيانو په لاس
ېوت او لاهور ته ئې بندي راوستی. څو ورځي وروسته د اشرف الوزراء شاه ولي خان په
ارښت، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له حضوره خوشي سو. نوموړي الا سنګه د شاه ولي خان په
سيله يو لک و پنځه ويشت زره روپۍ احمدشاهي خزانې ته، د جرمانې په نامه تحويل کړې او څه
لنی ماليه ئې هم ومنله (۲۲۷).

لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي د سکانو تر دغه لوی قتل عام وروسته، لاهور ته راستون سو،
ر الدين خان بامېزی ئې وګماره، چي کشمير بيا ونيسي او د هغه ځای ياغي سوی افغاني والي
سکه جيون" وځبي (۲۲۸). د مخه تر هغه چي نور الدين خان خپل پوځونه کشمير ته وخوځوي،

---

(۲۲۶) د عبرتنامې د لومړي ټوک په (۲۲۹ مخ) کي، د دغه ځای نوم جنديا له ضبط ده.

(۲۲۷) عبرت نامه لومړی ټوک، ۲۳۰ مخ.

(۲۲۸) سکه جيون په قوم کهتري هندو، چي د ځينو په قول کابلي او د ځينو په وينا پنجابي و، د اشرف الوزراء
شاه ولي خان ميرزا و. په (۱۱۶۵ ه.ق.) چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په امر عبدالله خان شاغاسي (ديوان
بيګي) کشمير ونيو، کوچنی عبدالله خان د نائب الحکومه او سکه جيون د سربښته دار په حيث وټاکل سول. څه

اشرف الوزراء شاه ولي خان خپل زوی حاجي نواب خان (یا د درة الزمان په قول دوست محمد خان) د جمون راجا "رنجیت دیو" ته ولیږه، چي لاهور ته راسي او کشمیر ته د تلونکي پوځ په انتظام او مرسته کي برخه واخلي. د رنجیت دیو راتګ چي وځنډېد، اشرف الوزراء خپل بل زوی شیر محمد خان پسي ور ولیږه او د جمون راجا ته ئې وکښل:

"زما دواړه زامن د یرغمل په توګه په جمون کي وساته، ته لاهور ته راسه که تا ته څه تاوان در پېښ سو زما په زامنو چي بیا هر څه کوې اختیار لرې".

دا پلا راجه رنجیت دیو له شیر محمد خانه سره لاهور راغی او د اشرف الوزراء مشر زوی حاجي نواب خان، تر هغو چي راجا خپلي مېني ته ستنېدئ، په جمون کي و.

راجه رنجیت دیو د اشرف الوزراء په وسیله د لوی احمد شاه بابا په حضور مشرف سو او خپل زوی برج راج دیو ئې د لارښووني او مرستي له پاره د کشمیر جنګ ته له نورالدین خان سره واستاوه.

په (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اوومه پلا هندوستان ته ولاړ، اشرف الوزراء شاه ولیخان هم ورسره مل و. په پنجاب کي د پټیالې راجا "الاسنګه جاټ" چي د شاه ولي خان منت باره و، د کاله درې نیم لکه روپۍ کلنګ ومانه، چي احمدشاهي خزانې ته به ئې تحویلوي.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي تر سُتلج سیند پوري ووت او په جالندهر دوآبه کي داخل سو، دلته د سکانو یو لوی پوځ، ناڅاپه ښکاره سو. د دې لوی پوځ اداره "جساسنګه اهلو والیه"، "چړت سنګه"، "جهنډ اسنګه"، "لِهناسنګه بهنګي" او "ګلاب سنګ" کوله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د دغو سکانو مقابلې ته کوم پوځ وګماره، اشرف الوزراء شاه ولي خان د دغه پوځ په منځ (قلب) کي د خپلو دوولسو زرو پښتنو سپاهیانو په مشرتوب ولاړ و. سردار جان خان او انزله خان پوپلزی ئې هم مله وو. په دې جنګ کي بیا سکانو ماتې وکړه او غرو ته وختل.

په (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال اشرف الوزراء شاه ولیخان خپله لور "بلقیس بیګمه"[۲۲۹] د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه زوی، شهزاده سلیمان ته ورکړه. د بلقیس بېګمي او شهزاده سلیمان د واده په تقریب، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د دربار منشي باشي، میرزا سید عبد الهادي خان موسوي، چي "عشرت" ئې تخلص و، ویلي دي:

شه والا گهر سلطان عالم	که گیتی راچو او نبود نگهبان
زنام نامی او جزم دارم	که شاهی سکه بر زر کرده دوران
درستی کرد از لطف عمیمش	شکست رنگ رخسار پریشان
بمکتب خانهٔ ادراک او هست	ارسطو کمتر از طفل دبستان

موده وروسته سکه جیون یاغي سو او د کشمیر الحاق ئې، د ډهلي په پاچهي پوري اعلان کړ او د دوهم عالمګیر په نامه ئې خطبه وویله.

[۲۲۹] درة الزمان، د عزیز الدین وکیلي پوپلزي تالیف، د کابل چاپ، ۲۲۹ مخ.

زبهر اوسطی فرزند دلبند   قمر سیما نگاری گشت خواهان
پی ترتیب سور و جشن بستند   کمر بهر خدمت شهریاران
به عرض چند روزی هر چه بایست   بحکم نافذش گردید سامان
چنان جشنی مرتب شد بزودی   که چشم از دیدنش گردید حیران
پس آنگه از بزرگ و کوچک شهر   صلا زد جملگی برخوان احسان
بهر یک خلعتی از راه رأفت   شده شفقت زیاد از وسع امکان
کف جود شه پاکیزه گوهر   دران جشن بزرگ از لطف یزدان
بنوعی کرد ریزش برخلایق   که گرد فقر شست از بینوایان
پی تاریخ آن عیش خجسته   ز پیر عقل پرسیدم شتابان
بگفتا عشرت از نو ساز کن   "قرین وصل بلقیس اش سلیمان"

(۱۱۷۹)

په (۱۱۸۱ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه اتمه پلا هندوستان ته ولاړ، اشرف الوزراء ولیخان ئې هم په رکاب کي و. د پنجاب جالندهر ته چي ورسېدل، د پټیالې راجا امرسنګه(۲۳۰) ل وکیل په لاس، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته پنځه زره روپۍ او دوه اسان د نذر په توګه ندي کړل او د اشرف الوزراء شاه ولي خان له پاره ئې هم دوه زره روپۍ، د سوغات په نامه را ولې.

کله چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له امبالې څخه شل میله جنوب ته، په اسماعیل آباد نومي ، کي اړولي و، نوموړی امرسنګه د سلامۍ له پاره ورغی، په دغه وخت کي یوسف زی نجیب وله، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا په ډهلي کي امیرالامراء و، هم د سلام له پاره د لوی دشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغلی و. نوموړي نجیب الدوله وغوښتل، چي امرسنګه له ځانه ډهلي ته بوزي او له ځانه سره ئې وساتي.

د امرسنګه انا "راني فتو"، چي د الاسنګه جاټ ماینه وه، شاه ولي خان ته ننواتي وکړې، ه و، چي د اشرف الوزراء شاه ولیخان په شفاعت، امرسنګه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له وره بېرته پټیالې ته رخصت کړه سو. له دې امله نو د تیمورشاه دراني د مؤلف په قول نوموړي رسنګه پخپل مهر کي "امرسنګه بامېزی" وکیندل او سکه ئې په پټیاله کي د لوی احمدشاه ا رحمة الله علیه په نامه ووهله(۲۳۱).

د (۱۱۸۲ هـ.ق.) کال په شروع کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره اشرف الوزراء شاه ي خان د تیمورشاه دراني د مولف په قول، له شپږو زرو او د Ahmad Shah Durrani د مولف قول، له دوولسو زرو سپرو سره، د بلخ او قطغن لور ته ولېږه سو، چي د هغې سیمي باغیان اېل ړي.

---

(۲۳۰) امرسنګه د الاسنګه جاټ لمسی و. الاسنګه جاټ دوه کاله پخوا په (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال مړ سوی و.
(۲۳۱) تیمورشاه درانی. ۲۵۱ مخ.

د بخارا پاچا شاه مراد بیګ چي خبر سو، یو پوځ ئې له بخارا څخه د بلخ لور ته را
اشرف الوزراء شاه ولي خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته حال ولیږه، لوی
بابا رحمة الله علیه ئې د هرات له لاري، په مرسته ورغی او د بخارا د پاچا سره روغه وسوه.
وروسته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا اشرف الوزراء وګماره سو، چي بدخشان ته و
له فیض آباده څخه نبوي خرقه مطهره کندهار ته یوسي. شاه ولي خان چي له خپل پوځه س
جات پای ته ورسېد، د قندوز محلي واکمن قباد خان ئې هرکلي ته راغی. شاه ولي خان چ
ته ورسېد، د بدخشان محلي حاکم میرسلطان شاه[۲۳۲] غوښته، چي مقابله ئې وکړي،
وخت چي د پښتنو سرلام (مقدمة الجیش) پوځ د ریکان تر کوتل ور واوښت، میرسلطان
واسط" ته، چي د پساکوه او چاهاب تر منځ، یو خوندي ځای دئ و تښتېد. اشرف الوزرا
آباد کي افغاني حاکم وټاکه، خرقه مبارکه ئې ورسره را واخیستله او د کابل لور ته را وخو
دوې میاشتي ئې خرقه مبارکه په کابل کي د خلکو د زیارت له پاره کښېښوله، وروسته تر
کندهار ته یووړله او د (۱۱۸۲ ه.ق.) کال د لومړی خور د میاشتي په نهمه ورځ، هلته ورس
چي د خرقې مبارکي دا اوسنی ودانۍ لا نه وه بشپړه سوې، نو ئې خرقه مبارکه په هغه مسج
کي کښېښوله، چي د شاه ولي خان کور ته نژدې واقع وه او اوس ئې کندهاریان زړه جامع ب

په کندهار کي د خرقې مبارکي د عمارت په مدخل کي چي کوم بیتونه لیکلي دي، په
د شاه ولي خان ذکر داسي راغلی دئ:

زهي خرقهٔ با سعادت که شد — خراسان زفیض قدومش منو
معلی جناب احمد آن شاه والا — که بد رتبه اش بر تر از بام اخض
فرستاد در جوز گون بهر تعظیم — ولي خان وزیر خود آن نیک اخت
بیاوردش از جوز گون آن نکو نام — بصد عز و تکریم بسیار و صد ف

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د (۱۱۸۳ ه.ق.) کال پای ته د شاهرخ[۲۳۴] د مشر زوی نع
میرزا د ځبلو له پاره مشهد ته پوځونه ولېږدول، اشرف الوزراء شاه ولي خان ئې په رکاب کي
څه موده کلابندی، وروسته، د شاه ولي خان په لاربښوونه او منځګړیتوب، نصرالله میرزا او ش
د روغي هیله وړاندي کړه او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له حضوره هم وبخښل سوه.

د درانیانو امپراتوري نومي کتاب په ۳۶ مخ کي د "gal and Madras Paper,
57-1795), Military consultation volume, Vol.III, No. 14, Calcutta P. 40-41
په حواله لیکلي دي، چي اشرف الوزراء شاه ولیخان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د ایسټ ا

---

[۲۳۲] میرسلطان شاه د امیر یار بیګ زوی دئ، چي د شاه بیګ ولي په نامه هم یادېږي.

[۲۳۳] تاریخ بدخشان. د لینن ګراد چاپ، له ۱۰۵ څخه تر ۱۱۰ مخه پوري.

[۲۳۴] شاهرخ د رضا علي زوی او د افشار نادر لمسی و.

کمپنۍ سره مکاتبه هم کړې ده.

د شاه ولي خان کورنۍ په وزیر خیلانو سره مشهوره وه[۲۳۵].

د شاه ولي خان موقوفېدل:

درویش علي خان هزاره چې پورته سو، د شاه ولي خان پېرزویني له پاچاهي غضبه خلاص کړ. دوهمه پلا چې شهزاده تیمورشاه بندي کړ، بیا هم د اشرف الوزراء شاه ولیخان په سپارښت خلاص سو[۲۳۶]. په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال چې درویش علي خان په کافر قلعه کې د جنېد خان هزاره په ملګرۍ یاغي سو، اشرف الوزراء شاه ولي خان د ده استمالت ته وګماره سو، په دغه سفر کې د اشرف الوزراء شاه ولي خان له خولې، ځیني داسي خبرې وتلي وې، چې د پاچهۍ د فکر نمایندګي ئې کوله. کله چې کندهار ته راستون سو، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له وزارته معزول کړ او د سپهسالارۍ کارئې ور وسپاره او قاضي ادریس خان دولتشاهي د شاه ولي خان پر ځای، دفتري او اداري کارونه انجامول.

د شاه ولي خان دوهمه پلا وزارت:

شاه ولي خان په (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال بیا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د وزیر په توګه مقرر سو.

په (۱۱۸۶ هـ.ق.) کال چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګي په خوږو پروت و، شهزاده تیمور سدوزی، چې د پلار له خوا د هرات نائب الحکومه و، د پلار د پوښتني په نیت له هراته مخ پر کندهار راوخوځېد. اشرف الوزراء شاه ولي خان چې په خبر سو، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته ئې وویل:

"په داسي خطرناک وخت کې د ملک یو مهم سرحد خوشي پرېښوول معقول کار نه و".

د ده د لمسون په اثر، ناروغه احمدشاه بابا رحمة الله علیه حکم وکړ، چې تېمورشاه دې له لاري هرات ته ستون سي او تېمورشاه د کندهار د څلور کروهۍ څخه بیرته هرات ته ولاړ[۲۳۷]. د دغه کال د لومړۍ خور د میاشتي په دوهمه د پنجشنبې په ورځ، چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له کندهاره څخه (۷۵) میله لیرې، د توبې په غره کې وفات سو، مړی ئې د اشرف الوزراء په وسیله کندهار ته راوړل سو.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر ښخولو وروسته، اشرف الوزراء شاه ولي خان خپل زوم شهزاده

---

(۲۳۵) ظفرنامه رنجیب سنګه، ۷۰ مخ.

(۲۳۶) تاریخ احمدشاهي

(۲۳۷) دولت درانیه، ۵۰ مخ.

سلیمان سدوزی، چې تر تیمور شاه سدوزي کشر و، پاچا کړ او خطبه و سکه ئې د ده په نامه کړه.
ځیني کسان اشرف الوزراء شاه ولي خان په دې عمل سره غندي او ځیني بیا وایي، چې اشرف
الوزراء د احمد شاهي کورنۍ خیرخواه، ډېر هوښیار او رښتینی سړی و. ده په پاچهي نوم د شهزاده
سلیمان مقررول، د وخت له مصلحت سره سم وکړ او تر هغو، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مشر
زوی شهزاده تیمور له هراته را رسیدئ، شهزاده سلیمان ئې موقت پاچا کړ، چې د پاچهۍ په کارونو
کې فتور پېښ نه سي او په خزه کې ناست مخالفین، له دغه خلاء څخه ناوړه ګټه وانه خلي.

د اشرف الوزراء وژله:

شهزاده تېمور سدوزی چې د پلار په مرګ او د شهزاده سلیمان په پاچا کېدلو خبر سو، د پلار
تر پاتا اخیستلو وروسته، له هراته مخ پر کندهار را وخوځېد.

شاه ولي خان چې دا واورېدل له خپلو دوو زامنو، دوو خوریانو او د کندهار له یوسل و
پنځوس تنو خانانو سره، د تېمورشاه د هرکلي(۲۳۸) له پاره، مخ پر هرات وخوځېد. د هرات او
کندهار د لاري په نیمایي (بکوا)(۲۳۹) کي، د شهزاده تیمور کیمپ ته ورسېد.

شهزاده تیمور چې خبر سو غوښته ئې، چې استقبال لره ئې له خېمې راووزي(۲۴۰)، قاضي

---

(۲۳۸) حسن علي د زیب تاریخها په اووم باب کي دا قصه بل راز کښلې ده، ده ویلي دي:

"د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر مړیني وروسته، چې په کندهار کي شهزاده سلیمان د خپلي پاچهۍ اعلان وکړ، د
کندهار ځینو درانو سردارانو لکه؛ عبد الله خان دیوان بیګي، پیر دوست خان، سعادت خان، د کدو خان زوی محمد
خان او نورو د شهزاده تیمور د پاچهۍ په طرفدارۍ پټې جرګې کولې. یاقوت خان خواجه سرا هم په دغو جرګو کي له
دوی سره مل و.

شهزاده سلیمان چې د عبد الله خان دیوان بیګي او د هغه د ملګرو په دغه حرکت خبر سو، د دوی د بند او اېداد
اراده ئې وکړله. چا دغه خبر عبد الله خان دیوان بیګي ته ورساوه، عبد الله خان له خپلو دوستانو او نژدې ډلې سره تر
ښار ووت. پیر دوست خان چې د عبد الله خان په تګ خبر سو، دی هم له خپلې ډلې سره پسې وخوځېد. کرار کرار
دوولس زره دراني ځلمي د عبد الله خان سره مله سول. شهزاده سلیمان چې د عبد الله خان په ښکاره مخالفت او قوت
خبر سو، برخوردار خان اڅکزي ته ئې حکم وکړ، چې د کلا دروازې وتړي او توپونه کلا ته وخېژوي. په دغه ترڅ کي
عبد الله خان او ملګري ئې خبر سول، چې د اشرف الوزراء مشر زوی دوست محمد خان له ډېرو طلاوو سره مخ پر
بلوچستان روان دئ. لار ئې ورته ونیوله، دوست محمد خان ئې بندي کړ او طلاوې ئې ځني ولوټلې. اشرف الوزراء
چې د زوی په بندي کېدلو خبر سو، د شهزاده سلیمان په سلا، د خپل زوی د خلاصون له پاره عبد الله خان دیوان بیګي
ته ورغی او دوه خوریان (روح الله خان او شکور خان) او یو زوی ئې آزاد خان هم ورسره مله وو. عبد الله خان د دوی د
بندي ساتلو امر وکړ. شهزاده سلیمان چې په دې واقعه خبر سو، یاقوت خان خواجه سرا ئې د قزلباشو له لښکرو سره د
عبد الله خان د ځبلو له پاره تر ښار ویوست. یاقوت خان چې د عبد الله خان پوځونو ته ورسېد، د هغه مل سو او په ګډه
د هرات خوا ته رهي سول، اشرف الوزراء، د هغه دوه زامن او دوه خوریان ئې هم له ځانه سره بوتلل".
(وګ: د روسي ژباړي ۲۹-۳۰ مخونه)

(۲۳۹) د بکوا د دښت په شمال غرب کي سیاه آو د یوه ځای نوم دئ، شهزاده تیمور په دغه سیاه آو کي اړولي و.

(۲۴۰) دولت درانیه، ۵۱ مخ.

فیض الله دولتبنی (دولتشاهي) چي د شهزاده استاد او مشاور و او ځینو نورو خانانو سره وویل، چي د اشرف الوزراء شاه ولي خان په خوله کي سحر دئ، که ئې له شهزاده تیمور سره ولیدل ګوري چي شهزاده د اشرف الوزراء تر تاثیر لاندي سي، [۲۴۱] ځکه نو دوی شهزاده تیمور د اشرف الوزراء له لیدلو څخه منعه کړ او د اشرف الوزراء وژلو ته ئې ولمساوه.

شهزاده تر ډېر چرت وروسته انکو خان [۲۴۲] بامېزي ته، چي د اشرف الوزراء په خپلوانو کي تر ټولو لوی امیر و، حکم وکړ، چي د اشرف الوزراء او دوو زامنو ککری ئې راوړه.

انکو خان چي له خېمې راووت که ګوري، چي اشرف الوزراء سره له خپلو زامنو او نورو خانانو، د باریابۍ په هیله ولاړ دئ. ده اشرف الوزراء شاه ولیخان او د هغه دوه زامن "دوست محمد خان [۲۴۳]" او "شکر الله خان" ووژل.

د سهراب خان لمسي د محراب خان زوی اسلام خان [۲۴۴] بادوزي پوپلزي د شاه ولي خان د دوو خوریانو سرونه غوڅ کړل. دا پنځه سره پهٔ وینو لړلي ککرۍ، چي په لسو وارو، د احمدشاهي پاچهۍ د بقا او قوت له پاره، مرګ ته مخامخ سوي وې، دخپلو عزیزانو پښتنو په لاسو، غوڅي سوې او د شهزاده تیمور مخي ته ور وړلي سوې. د شهزاده تیمور سدوزي په حکم د دغو پنځو تنو بدنونه، د بکوا په سیاه آو کي خاورو ته وسپارل سوه او سرونه ئې په نیزو وټومبل سوه، چي نورو خلکو ته د دنیا د بې ثباتۍ درس سي [۲۴۵]. د اشرف الوزراء وژلي، د پښتني سلطنت پرمخ د ضعف او کمزورۍ دروازې را خلاصي کړې، د نفاق بدبختي په ډېر قوت سره را وړاندي سوه او د پښتنو د برم ماڼۍ ئې په هغه زور ولړزوله، چي کنډوالې ئې اوس هم د قام پرستو زړونه په غم لړي.

د اشرف الوزراء شاه ولي خان ماندیني:

۱. ...

۲. د اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي یوه ماینه د سلطان مکرم خان (مقرب خان) ګکهر (۱۱۷۷ هـ. ق. شهید) لور وه. سلطان مکرم خان د سلطان معظم خان (۱۱۴۷ هـ. ق. مړ) زوی او د سلطان دلاور خان (۱۱۴۲ هـ. ق. مړ) لمسی دئ [۲۴۶].

۳. د اشرف الوزراء شاه ولي خان بله ماندینه بي بي صاحب بیګم وه، چي د کوهدامنۍ نواب

---

[۲۴۱] تاریخ حسین شاهي قلمي، ۷۵ مخ.

[۲۴۲] یو انکوخان په دغو وختو کي د اسلام خان ورور و.

[۲۴۳] دوست محمد خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پاچهۍ کي د "اعتماد الدوله" لقب درلود.

[۲۴۴] د دغه اسلام خان ورور بُستان خان څو کاله پخوا د اشرف الوزراء په امر لومړی بندي او بیا وژل سوی و. دغه بستان خان د اعظم خان "نساق چي باشي" پلار دئ، چي د کابل ګذر اعظم خان د هغه په نامه تر اوسه یادېږي.

[۲۴۵] دولت درانیه، ۵۱ مخ، واقعات دراني، د پنجاب اکاډیمۍ چاپ، ۶۰ مخ.

[۲۴۶] کی ګوهرنامه، ۲۰۲ مخ.

خان لوروه. دا مېرمن د کابل په کوهدامن کي ښخه ده.

د اشرف الوزراء شاه ولي خان اولادونه:

اشرف الوزراء شاه وليخان بامېزي څوارلس زامن او نهه لوڼي درلودې. د زامنو نومونه ئې دا دي:

۱. حافظ شیر محمد خان بامېزی (د شاه زمان سدوزي اشرف الوزرا و، "مختار الدوله" لقب ئې ورکړی و.)
۲. دوست محمد خان
۳. نظام الملک ګل محمد خان
۴. حاجي میر احمد خان
۵. حاجي عبد الرحیم خان
۶. قمر الدین خان
۷. شکر الله خان
۸. آزاد خان
۹. عبد الحمید خان
۱۰. منصور خان
۱۱. حاجي خان
۱۲. ولي محمد خان
۱۳. عبد المجید خان
۱۴. حبیب خان

د اشرف الوزراء تر وژلي وروسته ئې مشر زوی "حافظ شیرمحمد خان" بلوچستان ته وتښتېدی او د کلات خان نصیرخان بلوڅ ته ئې پناه ورووړه او په هغو سیمو کي ئې د پردېسی غمونه ګالل.

د تیمورشاه تر مرګ وروسته چي همایون، خپل پاچا ورور، زمان شاه (۱۲۰۷-۱۲۱۶ه.ق.) ته پورته سو، حافظ شیرمحمد خان او سید خدایداد پښنیګی ئې مله سول، په (۱۲۰۷ه.ق.) کال چي همایون د زمان شاه له لاسه ماتې وکړه، حافظ شیر محمد خان د همایون ملګري پرېښوول او زمان شاه سدوزي ته ورغی[۲۴۷]. زمان شاه ونازاوه او د زمانشاه په پاچهۍ کي ئې د "مختار الدوله" لقب وموند او د وزارت رتبې ته ورسېد.

په ... کال چي کامران د خپل اکا حاجي فیروز الدین له خوا د فراه حاکم و، پر کندهار برید وکړ او کندهار ئې له شهزاده قیصر څخه ونیو. شاه شجاع د پر ژر ځان کندهار ته ورساوه او کندهار

[۲۴۷] دولت درانیه، ۹۷ مخ.

ئې بيرته له کامرانه څخه ونيو. قيصر ئې د کابل حاکم وټاکه. په دغه وخت کې شيرمحمد خان شهزاده قيصر اغوا کړ او د پېښور نيولو ته ئې ولمساوه. شجاع چې خبر سو، د ډېرو له لاري ئې خان پېښور ته ورساوه.

په (۱۲۰۸ه. ق.) کال چې د مير محبت خان بلوڅ د زوی، بهرام خان او د نصيرخان بلوڅ د زوی، محمود خان (۱۲۰۸–۱۲۳۲ ه.ق.) تر منځ د بلوچستان پرخاني جنګونه شروع سول، وزير شيرمحمد خان د شاه زمان په امر، له کندهاره څخه، له دوو زرو سپرو سره، د محمود خان بلوڅ په مرسته ولېږل سو. دادر ته نژدې جنګ پېښ سو. بهرام خان ماتې وکړه او سنده ته وتښتېد. وزير شيرمحمد خان بريالی کندهار ته راستون سو(۲۴۸).

په (۱۲۱۳ه.ق.) کال چې په کندهار کې سردار پاينده خان او څو تنه نور پښتانه مشران د شاه زمان په امر ووژل سول، د وزير شير محمد خان او رحمت الله خان سدوزي، چې په وفادار خان مشهور و، تر منځ مخالفت پېښ سو. وزير شير محمد خان د اعليحضرت شاه زمان له خوا د کابل نائب وټاکه سو او د شاه زمان د سقوط تر وخته پوري، د کابل نائب و. پخپله شاه زمان د خپل ورور شاه محمود سدوزي د ځبلو په نيت، هرات ته پوځونه ولېږدول(۲۴۹).

د "رجال و رويداد های تاريخي" په ۲۸ مخ کي ليکلي دي:

مختار الدوله شير محمد خان د شاه شجاع په وختو کي د وزارت رتبه درلوده. مختار الدوله په پای کي د شاه شجاع مخالف سو او د شاه زمان د زوی شهزاده قيصر، چي خپل اکا ته ياغي سوی و، مل سو. پېښور ته نژدې په تهکال نومي ځای کي د مختارالدوله او شاه شجاع لښکري سره مخامخ سوې. په دې جنګ کي مختار الدوله او دوه ورونه ئې پیر محمد خان او خواجه محمد خان ووژل سول.

د اشرف الوزراء شاه ولي خان بل زوی "ګل محمد خان" د شاه شجاع په لومړۍ پاچهۍ کي، د "نظام الملک" لقب وموند او د وزارت رتبې ته ورسېدئ.

د (۱۲۱۵ه. ق.) په يوه فرمان کي، د ده د مهر سجعه داسي ده:

آنکه دلش روشن از نور علي است
گل محمد خلف شاه ولي است

اشرف الوزراء پرته له دغو زامنو، نور زامن هم درلوده، چي دوه ئې له ده سره يوځای ووژل سول. د شيرمحمد خان مختار الدوله په زامنو کي مشهور سړی عطامحمد خان(۲۵۰) دئ، چي د شاه

---

(۲۴۸) تواريخ بلوچستان، ۲۰۲ مخ.

(۲۴۹) تواريخ بلوچستان، ۲۰۳ مخ.

(۲۵۰) بي بي فخري (۱۲۱۲–۱۲۷۶ ه.ق.) دختر عبد العزيز خان، منکوحه عطا محمد خان باميزائی بود. (مزارات شهر کابل، ۱۲۹ مخ)

شجاع په لومړي پاچهۍ (۱۲۱۹–۱۲۲۲ هـ.ق.) کي د کشمير والي و.
"عطا از تو خواهم ايا کرد گار"

په (۱۲۲۴ هـ.ق.) کال چي شاه شجاع سدوزي له (خپل ورور) شاه محمود سدوزي څخه مات وکړه، کشمير ته ولاړ. هلته عطا محمد خان د خپل پلار د وژلو په جرم، بندي کړ(۲۵۱). وزير فتح خان کشمير ځني ونيو او خپل ورور عظيم خان ته ئې وسپاره. عطا محمد خان د پېښور، بنګښ او دير جاتو له لاري، کندهار ته ځان ورساوه او د شهزاده کامران مل سو. وزير فتح خان چي له پېښور څخه کابل ته ورسېد، په (۱۲۲۹ هـ.ق.) کال ئې په عطامحمد خان پسي، مخ پر کندهار لښکري وخوځولې، شهزاده کامران او عطامحمد خان هرات ته ځني وتښتېدل(۲۵۲).

په (۱۲۳۴ هـ.ق.؟) کال چي وزير فتح خان د کامران په امر ړوند کړ سو، عطامحمد خان هم په دغه کي لاس درلود. د وزير فتح خان تر ړندولو وروسته، چي شاه محمود کندهار ته تئ، خپل لمسی جهانګير خان او عطامحمد خان ئې په کابل کي پرېښوول. لږ موده وروسته دوست محمد خان او يارمحمد خان پر کابل بريد وکړ او جهانګير ورته تسليم سو(۲۵۳). عطا محمد خان په کابل کي د وزير فتح خان د ورڼو دوست محمد خان او يارمحمد خان په لاس کنبيوت او ړوند ئې کړ.

د حافظ شير محمد خان يو زوی غلام محمد خان دئ، چي د شاه شجاع سدوزي د زوی فتح جنګ وزير او مختارالدوله و.

د حافظ شير محمد خان مختارالدوله بل زوی جانداد خان و، چي د شاه شجاع په لومړي

---

(۲۵۱) حميد کشميری د ده د بند په اړه داسي وايي:

که در کابلستان چو باشه شجاع — شده قوم پاينده خان را نزاع

.... — ....

دل از شاهي و مملکت برگرفت — بـه آوارگی راه خيبر گرفت

بتدبير هندوی کشمير ئی — بکشمير چون شير زنجير ئی

عطا از خطای قصاص پدر — به زندان چو رندان نمودش مقر

پس از رفتن او بزرگان به تخت — نشاندند محمود بيدار بخت

.... — ....

به بستند در خدمت شه کمر — همه حاکمان نواحی مگر

محمدعطاخان که بر تافت روی — زکشمير شد سر کش و رزم جوی

بجنگش فتح خان چو غران هژبر — بيامد خروشان و جوشان چو ببر

عطاخان باميزئی هم چو شير — بميدان رزمش بر آمد دلير

و لکن چو پيکار او کار او — نبود و در آمد به زنهار او

(اکبرنامه، ۱۹–۲۰–۲۱ مخونه)

(۲۵۲) ظفرنامه رنجيت سنګ، ۷۵ مخ.

(۲۵۳) رجال و رويداد های تاريخی، ۳۴ مخ.

باچهۍ کې د اټک د کلا پوځدار و. د شاه محمود سدوزي په دوهمه پاچهۍ کې، چې وزیر فتح خان کشمیر له عطامحمد خان څخه ونیو، ده د اټک کلا سکهانو ته وسپارله، پخپله ئې د رنجیت سنګهه (۱۲۵۹ هـ.ق. مړ) نوکري ومنله او د پنجاب په وزیر آباد کې ئې د رنجیت سنګهه له خوا جاګیر وموند او هلته مېشت سو. کله چې په (۱۲۳۴ هـ.ق.) کال رنجیت سنګهه پېښور ونیو[۲۵۴]، د پېښور حکومت ئې له خپلي خوا دغه جانداد خان ته وسپاره[۲۵۵].

شاه شجاع چې له محمود شاه سدوزي څخه په (۱۲۲۶ هـ.ق.) کال ماتې وکړه، له کډو سره راولپنډۍ ته ولاړ. کډې ئې هلته پرېښوولې او د پېښور د نیولو له پاره هغه لورته وخوځېد. د اټک د کلا ساتندوی، جانداد خان بامیزی د شاه شجاع د نیولو په هڅه کې و. ناڅاپه ئې برید پر وکړ او شاه شجاع ئې ونیو، عطامحمد خان بامېزی (خپل ورور) ته ئې، کشمیر ته ور ولېږه[۲۵۶].

د اشرف الوزراء خوریی سید محمد خان یا محمد سعید خان بامېزی د (۱۸۷۵ ع.) په حدودو کې د اعلیحضرت امیر شیرعلي خان له خوا په کویټه کې اوسېد. د سیوۍ، تل او چوټیالۍ مالیه ئې، د افغانستان د دربار له پاره ټولوله. کله چې کپتان سنډیمن[۲۵۷] کوټې ته راغی او کلات ته، د خدایداد خان د لیدلو له پاره روان و، په کوټه کې سید محمد خان ورسره وکتل او په دغه کال مړ سو. د دغه محمد سعید خان زوی عبدالواحد خان نومېد.

سید محمد خان، چې شاه شجاع په (۱۸۳۹ ع.) (= ۵۴-۱۲۵۵ هـ. ق.) کال د کندهار له لاري د افغانستان پایتخت نیوی، ورسره مل سوی و او د ده په قول د شاه شجاع د وژلو په وخت کې هم د هغې صحنې ناظر و او زخمي سوی هم و. تر دغه وروسته شال (کوټه) ته راکډه سوی و او هلته ئې د "سید خان آباد" په نامه یوه کلا ودانه کړې وه او له خپلي کورنۍ سره پکښې اوسېد.

عبدالصمد خان د عبدالنبي خان زوی او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د وزیر شاه ولي خان اشرف الوزراء د لمسیانو او د افغانستان د دیارلسمي پېړۍ د شاعرانو څخه دئ. نوموړي که څه هم د سدوزو د دربار سره رابطه درلوده، مګر په سیاسي او حکومتي چارو کې ئې څه علاقه نه درلوده، بلکي د زمینداری په چارو کې بوخت و. یو دیوان ئې په یادګار پرې اینبی دئ، چې هرراز خبري پکښي پیدا کېږي. غزلیات او مثنوي ګاني ئې اکثره صوفیانه دي. نوموړي خپل دیوان په (۱۲۸۳ هـ. ق.) کال کې ترتیب کړ. ده د خپل ژوند په پای کې، د کابل په خواجه مسافر کې استوګنه

---

(۲۵۴) ظفرنامۀ رنجیت سنګهه، ۱۱۹ مخ.

(۲۵۵) عبرتنامه ۱/۴۳۲-۴۵۱ مخونه.

(۲۵۶) ظفرنامۀ رنجیت سنګهه، ۵۹ مخ.

(۲۵۷) "کرنیل سر رابرټ سنډیمن" چې د ږوب په اپوزي کې د ده په نامه یوه کلا هم ودانه سوې ده، په (۱۸۳۵ ع.) کال کې زېږېدلی، په (۱۸۹۲ ع.) په مکران کې مړ او هلته ښخ دئ. دی له (۱۸۶۷ ع.) څخه تر (۱۸۷۵ ع.) کال پوري، اته کاله د ډیره غازي خان ډپټي کمشنر او له (۱۸۷۵ ع.) څخه تر (۱۸۹۲ ع.) کال پوري، اتلس کاله د بلوچستان پولیټیکل ایجنټ و. (تواریخ بلوچستان، ۴۰۳ مخ)

اختیار کړه. لاندي غزل د ده دئ:

ایدل چکنم که نیست آرام مرا	بی نگهت روی آن گل اندام م
عاشق شده ام نیست گناهم دیگر	از بهر چه میکشد دلارام م
میخواست مرا بخلق سازد اظهار	خود باده بخورد و کرد بدنام م
با هر که ز مهر داد صد ساغر می	خالی چه بکف نهاد یکجام م
از بخت بد ای صمد شکایت چه کنی	قسمت که چنین نهاد انجام مرا(۲

غبار د "احمد شاه بابا" په ۲۱۴ مخ کي لیکلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال هرات ته ولاړ، میر علم خان عرب د هرا
حاکم، چي د ښار دروازې ئې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته تړلي وې او په جنګ ئې لاس پوري کړ
و، وواژه. درویش علیخان هزاره ئې د هرات والي وټاکه. شاه ولیخان ئې د هغو سیمو د انتظا
پاره ولېږه، چي د آمو او هندوکش تر منځ پرتې وې. شاه ولیخان تر فیض آباده پوري ولاړ، هر ځا
ئې حاکمان مقرره کړل او د (۱۱۶۴ هـ. ق.) پای ته بریالی کندهار ته ورسېدئ. لوی احمد ش
بابا رحمة الله علیه د ده له اجراءاتو ډېر راضي سو او د کابل د ګلبهار په سیمه کي ئې یوه مځکه وروبخښل
دا مځکه په دغه سفر کي وزیر خوښه کړې وه.

د اشرف الوزراء د کورنۍ یوه څانګه اوس هم د نوابي په قول د کابل د کوهدامن په لوچک
کارنده، لنګر او شکر دره کي اوسي. د افغانستان د مارکسیستي دولت وزیر خارجه شاه محم
دوست له دغي کورنۍ څخه و.

د کوهدامن د لوچکان په کلي کي د شاه ولي خان د لمسیانو او لور صاحبه بیګم قبرونه او
هم ښخ دي[۲۵۹]. صالحه بېګمه د حاجي رحمت الله خان بامیزی مایینه وه.

حاجي رحمت الله خان د حاجي دریاخان زوی اسماعیلزی بامیزی پښتون و. د شاه شجاع
لومړۍ پاچهۍ په اوایلو کي ئې د وزارت رتبه لرله او د سردار دوست محمد خان، چي په سیا امی
دوست محمد خان مشهور سو، خسر و. امیر شیرعلي خان د ده لمسی دئ.

حاجي رحمت الله خان د (۱۲۲۹ هـ. ق.) کال د شعبان د میاشتي په اوومه مړ دئ.

په کوهدامن کي د اشرف الوزراء جایداد و او د هغه سند (تقسیم خط) له مخي، چي د (۲۱۳
هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په ۱۷ ورځ[۲۶۰]، د اشرف الوزراء د دوو زامنو میر احم

---

[۲۵۸] "افغانستان"، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷ هـ. ق.) چاپ، ۴۷۸ مخ.

[۲۵۹] بوبو جان بنت محمد عثمان خان بامیزائی زوجه سردار امین الدوله متوفیه سال (۱۲۸۴ هـ.ق.).
(مزارات شهر کابل، ۱۹۰ مخ

[۲۶۰] دا تاریخ د "درة الزمان" په ۴۳۹ مخ کي (۱۲۱۷ هـ. ق.) کال ضبط دئ.

ن او ولي محمد خان[۲۶۱]، چي د میر احمد خان سکه ورور و، لیکل سوی دئ.

ندهار په دهله کي د شــاه ولي خان کلا پر یوه غونډۍ واقعه وه، اوس دغه کلا د دهلې د ډم په
خ کي ولاړه ده او د نوموړي وزیر د جلال او برم نماینده ګي کوي.

د هنې د رود غاړي، چي د کوټې شمال شرق خواته واقع دي، د شاه ولي خان اشرف الوزراء
کیت و. بروهي بلوڅان وايي، کله چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د شال سیمه میر نصیر خان بلوڅ
ور بخښله، نصیر خان د هنې علاقه وزیر شاه ولي خان ته ورکړله[۲۶۲]. مګر دراني سرداران وايي،
ي "هنه[۲۶۳]" لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اشرف الوزراء شاه ولي خان ته بخښلې ده.

د هنې د مځکي څه برخه، د (۱۲۱۴ه.ق.) کال د دوهمي خور په میاشت کي، حافظ شیر محمد
ان، ولي محمد خان، میر احمد خان (د شاه ولي خان زامنو) د محمد رحیم خان بامېزي پر زامنو،
حیمداد خان، سمندر خان او عبد الوهاب خان باندي خرڅه کړې ده. بله ټوټه ئې د دغه کال د
یانۍ په میاشت کي عبد المجید خان (د شاه ولي خان زوی)، میر عالم خان (د حاجي عبد الرحیم
خان زوی، د شاه ولي خان لمسی)، میرویس خان (د دوست محمد خان زوی، د شاه ولي خان
مسی)، ګل محمد خان او قمر الدین خان (د شاه ولي خان زامنو)، پر آزاد خان بامېزي باندي
خرڅه کړې ده.

د "کوټه" نومي کتاب په ۲۷ مخ کي کښلي دي:

هغه سیمه چي د شال په دې میدان کي د میرۍ غونډۍ د شرق او شمال خوا ته پرته ده، د
یاسین زو کاکړانو وه، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اشرف الوزراء ته وبخښله. دا سیمه تر ننه پوري د
"حلقه دراني" په نامه یادېږي او د اشرف الوزراء خپلوان پر مېشت دي.

د هرنايي او سیوۍ علاقه، چي په وزیرستان سره مشهوره ده، د کهندل خان د زوی، غلام
محی الدین خان په جاګیر کي وه او د ده له خوا څخه دا مالیه، محمد سعید خان بامېزي، چي کوټې
ته نژدې، په دراني کلا کي اوسي، ورټولوله[۲۶۴].

د زمزمې توپ:

دلاهور د موزیم په خوله کي یو توپ ولاړ دئ، دا توپ چي د خولې سوری ئې ($9\frac{1}{2}$) اِنچه او د


---

[۲۶۱] د وروستي سړي (ولي محمد خان) نوم د جعل په ډول، "ولي نعمت" سوی دئ او د درة الزمان په ۴۳۹ مخ کي
هم "ولي نعمت" کښلی دئ.

[۲۶۲] تواریخ بلوچستان، ۶۲۳ مخ.

[۲۶۳] هنه د کوټې د ښار لمرخاته خواته، د غرونو په منځ کي یو ښکلی، سوړ او د لیدلو وړ ځای دئ. دا ځای د کوټې
له ښار څخه ۷۵۰ فوټه لوړ او پنځه نیم میله لیري، واقع دئ.
(کوټه، ۷۶ مخ)

[۲۶۴] تواریخ بلوچستان، ۶۷۲ مخ.



دوست محمد خان
نظام الملک گل محمد خان
حاجي مير احمد خان
حاجي عبد الرحيم خان
قمر الدين خان
شکر الله خان
آزاد خان
عبد الحميد خان
منصور خان
حاجي خان
ولي محمد خان
عبد المجيد خان
حبيب خان
بلقيس بيگم
صالحه بيگم
د پلار سره وواژه سو
د کندهار حاکم
حبيب الله خان
نجيب الله خان
په ۱۲۲۳ ه ق کال له شاه شجاع سره په جنگ کي په پېښور کي وواژه سو.
د کوټي حاکم و. د پرخداى دوسته سړى و.
مير علم خان
.....
د کوټي حاکم و.
د پلار سره وواژه سو.
د پلار سره وواژه سو.
خوراخداى دوسته سړى و.
مهدي علي خان
احمد قلي خان
(په لکهنو کي اوسېدل)
د شهزاده سليمان سدوزي ماينه، چي په ۱۱۷۶ ه ق کال ئې واده کړه.
د دريا خان د زوى حاجي رحمت الله خان پوپلزي مابنه وه.
د دغي صالحي مور د نواب سردار خان (د کوهدامن د لوچکان) لور وه.
(تيمورشاه دراني، ۲۱۴ مخ)
محمد عثمان خان فقير
(بزرگ سړى و)
محمد عمر خان
محمد صديق خان
محمد حيدر خان
خليل خان
ولي نعمت خان
پير محمد خان
خواجه محمد خان
سلطان محمد خان
سلطان احمد خان
رحمت الله
سلطاني
انجنير محمد علي
د شاکر صاحب باجه
عبد الحکيم خان
عبد المجيد خان
ملکه سلطان
د عبد الله خان وکيل الدوله د زوى محمد کلان خان د زوى محمد عمر خان مابنه وه.
عبد الرحمان خان
عبد الرحيم خان
لعل محمد خان
محبوبه سلطان
د عبد الله خان ديوان
محمد حسن خان
محمد اسلم خان
محمد داود خان
محمد سرور خان
غلام احمد خان
سلطان محمد خان
جانداد خان
د غازي وزير اکبر خان خسر و. د شهزاده فتح جنگ وزير و.
سيد محمد خان
نور محمد خان
گل محمد خان
سايره
بيگم
داد محمد خان
جان محمد خان
دعبد الله خان ديوان بيگي د لمسي مير احمد خان ماندينه.
جان محمد خان
بختيار خان
.....

مین اوږدوئې (۴½) فټه دي په عوام کې ئې د بهنګیانو توپ بولي او تاریخي نوم ئې "زمزمه" د
دا توپ په (۱۷۵۷ع.) (= ۱۱۷۰ هـ.ق.) کال د شاه ولي خان اشرف الوزراء په امر، توی ک
سوی دئ. دا مطلب د توپ پر خوله باندي دا سي کښلی دئ:

بامر در دران شه ولی خان وزیر
ساخت توپ زمزمه عالمگیر

د توپ پر شا باندي چي کوم بیتونه کښلي دي، له هغه څخه هم دا مطلب تائیدیږ
بیتونه دا دي:

در زمان شه فریدون فر　　داور دار بخش عدل شعار
در دوران عصر، احمد شاه　　خسرو تخت گیر جم مقدار
که بریزد به اهتمام تمام　　توپ ثعبان شکوه کوه وقار
خانه زاد شه شهر سریر　　شه ولی خان وزیر اکثیر کار؟
بهر تقدیم آن مهم ...　　کرد استاد چند را احضار
تا بسعی تمام ریخته شد　　زمزمه نام توپ نادر کار
قلعه کوب حصار چرخ روم　　شد باقبال شاه او بر کار
سال تاریخ از خرد جستم　　کرد با وحشت انچنان اخبار؟
که اگر نقد جان کنی تسلیم　　راز پنهان به تو کنم اظهار
بعد تسلیم او بگفتا توپ　　پیکر اژدهای آتش بار

احمد حسین خان د عجائبات هندوستان په ۲۲۶ مخ کي کښلي دي:
"د اشرف الوزراء په حکم، د لاهور ښار د هر هندو له کوره څخه، په ججه (جزیه) کي د مس
یا ژړو یو یو لوښی واخیست سو او له هغو څخه ئې دوه توپونه توي کړل، چي یو له هغو څخ
زمزمه نومېد".

د کابل په موزیم کي یو کتاب سته، چي ۳۱۴ مخه لري، د دې کتاب مولف او نوم نه دی
څرګند. دا کتاب د اشرف الوزراء شاه ولي خان په امر [۲۶۵] کښل سوی دئ.

---

[۲۶۵] تاریخ احمد شاه دراني، آریانا مجله، ۲۶۴ ګڼه.
د اشرف الوزراء د کورنۍ په اړه یو لنډ یادابنت: د شاه ولي خان بامېزي د زوی عبد الرحیم خان بامېزي اولاده اوس
(۱۳۹۳ هـ ش.) هم د کندهار ښار د بامېزو په کوڅه کي اوسي. د کندهار ډېر مشهور ښکاري "ملا مشک اخوند"،
چي د ده له اولادې څخه دئ، هم د دغي کوڅې و.
(هوتک

سپهسالار سردار جانخان پوپلزی

ردار جانخان د حلیم خان زوی د حکیم خان لمسی د مقیم خان کړوسی او د اکو نیکه
ئ. په پوپلزو پښتنو کي ایوبزي یوه پښه ده، چي دغه غښتلی سپهسالار هغې پښې
ب دئ[۲۶۶]. سردار جان خان چي اصلي نوم ئې "جهان خان" دئ، په هغو (۱۴) تنو
مشرانو کي و، چي افشار نادر د یرغمل په ډول، پخپلو لښکري منصبدارانو کي
ړي وو[۲۶۷].
(۱۱۶۰ ه. ق.) کال د وروستۍ خور په یوولسمه شپه، چي ایراني منصبدارانو د
ه‌شاوخوا کي د افشار نادر خوله ورپټه کړه، جهان خان هم د نورو پښتني مشرانو سره
ته راستون سو. د دغه کال د رجب تر اتلسمي دمخه، چي د شیر سرخ په مشهوره
جرګه کي ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پښتنو ملي مشر وټاکه سو، جهان
ې د "سردار" خطاب[۲۶۸] او د "خانخانان" او "میر بزن" لقب ورکړ او د سپهسالارۍ
حرب) عهده ئې ور وسپارله[۲۶۹] او ده پخپل مهر کي دا بیت ولیکه:

به نقش خاتم ایاز پادشاه دُرّان
نوشته خامه تقدیر نام خان جهان[۲۷۰]

ړېز ختیځ پوه "مونسټوارټ الفنسټون" د "An Account of the Kingdom of
" یا "د کابل سلطنت بیان" مولف، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د دربار په مشرانو او
ني، سردار جان خان پوپلزی تر ټولو ستر او نومیالی جنرال بولي[۲۷۱].
ی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۰ ه. ق.) کال له کندهاره څخه د هندوستان په نیت
ه د سرلاړ (سر لام، مقدمة الجیش) پوځ مشر ئې له کابله څخه سردار جان خان و، پېښور
سېدل، له هغه ځایه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یو لوی پوځ د سردار جان خان په مشرتابه د

شاه درانی، ۱۱۷ مخ او صولت افغاني، ۳۴۳ مخ.
شاه درانی، ۱۱۷ مخ.
شاه درانی، ۱۱۷ مخ.
التواریخ، ۱/۱۰ مخ او د "Ahmad Shah Durrani" ۲۹ مخ.
مان، ۲۹۳ مخ.
سلطنت بیان، دوهم ټوک، ۲۹۳ مخ.

اباسین پوري خوا، چچ او هزاره ته په ناصر خان زیګ پسي ولیږه. ناصر خان (د پېښور م
حاکم) چي له اتو زرو قزلباشو سره، له پېښوره تښتېدلی و، د ده مقابل سو او سخته ماته
وکړه. سردار جانخان بریالی، له ډېرو اولجو سره پېښور ته را ستون سو (۲۷۲).

له شهنواز خانه سره، چي د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د محرمي په یو ویشتمه د لاهور په شاو
کي جنګ وسو، سردار جانخان د یوه لوی منصبدار په حیث پکښي شامل و (۲۷۳) او د (۱۱۶۱
ق.) د لومړی خور په پنځلسمه ورځ، چي د سرهند په شاوخوا (منورپور نومي ځای) کي،
له ډهلي څخه څلور کروهه لیري دئ، د ډهلي د دربار له وزیر او زامنو سره ئې لوی جنګ پې
سو، سردار جانخان د احمد شاهي لښکرو د ښي لاس د پوځ مشر و (۲۷٤).

په (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دوهمه پلا پر پنجاب برید وکړ،
پېښور څخه ئې یو سرلاړ پوځ د سردار جان خان په مشرتوب ولیږه، پخپله لوی احمدش
بابا رحمة الله علیه د چُناب سیند پر غاړه په سوهدره (۲۷۵) نومي ځای کي، د پنجاب د نائب الحکومه م
معین الملک (میر منو) مقابله وکړه او سردار جان خان خپل پوځونه تر لاهوره پوري ورسول
له لاهوره څخه دوه کروهه لیري، د راوي سیند پر دې غاړه ئې واړول، ځکه چي د راوي سیند
هغه غاړه عوض خان، چي په لاهور کي د میر معین الملک وکیل و، په درنو توپو خوندي کړ

(۲۷۲) دولت درانیه، ۱۳ مخ او "Ahmad Shah Durrani" ۳۹ مخ.

(۲۷۳) لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د محرمي په ۲۲ مه (=۱۲ جنوري ۱۷٤۸ ع.) لاهور ونیو.
(د واقعات دراني مقدمه

(۲۷٤) احمد شاه بابا، ۲۰۰ مخ.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه څلوېښت ورځي په جلال آباد کي تېري کړلې او په کابل کي ئې دوولس ورځ
تېري کړي وې (تاریخ احمد شاهي، ۸۸/۱ مخ). د بیان واقع په ۱۹۳ مخ کي لیکلي دي، چي لوی احمدشا
بابا رحمة الله علیه د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د محرمي په میاشت لاهور ونیو او څلوېښت ورځي هلته واوسېد.

په روسي ژبي چي د افغانستان تاریخ "ماسون او رمودین" لیکلی دئ، د هغه په ۹۵/۲ مخ کي لیکلي دي
چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ښکارپور ونیو بیا لاهور ته رهي سو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له دېرشو زرو سپرو سره د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د لومړی خور د میاشتي په دیرلسمه
د لودیانې له لاري سرهند ته ورسېد، د لومړی خور د میاشتي له ۱۵ څخه تر ۲۸ پوري په منوپور کي جنګ و. په
دوه ویشتم تاریخ د ډهلي وزیر الممالک قمر الدین خان د توپ په ګولۍ ومړ (سرود آزاد، ۲/ ۳۳۳ مخ) ایسر
سنګه سوایي د جی سنګه سوایي زوی، چي دا واورېدل له دوولسو زرو سپرو سره د جنګ له میدانه وتښتېدئ.
یوه میاشت وروسته محمد شاه د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په ۲۷ د جمعې په شپه ومړ او د
نظام الدین اولیاء په زیارت کي ښخ کړه سو. میر غلام علي آزاد ویلي دي:

ګفت تاریخ چون کشـــیدم آه　　موت شاه و وزیر و آصف جـــاه

۱۱۶۱=۶-۱۱۶۷

(۲۷۵) سوهدره له لاهور څخه شمالي لور ته پنځوس میله لیري واقع ده.

و. سردار جان خان چي د لاهور ښار له نيولو څخه نا مينده سو، مجبوراً پسله دوو مياشتو بيرته
سو هد رې ته ستون او د لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف سو[۲۷۶].

څو ورځي وروسته چي د مير معين الملک له خوا شيخ عبد القادر رحمة الله عليه او مفتي عبد
لله رحمة الله عليه د روغي له پاره د لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه لښکر ته روان سول، دې هيأت لومړى له
سردار جانخان سره وليدل، سردار جان خان د شيخ عبد القادر رحمة الله عليه سره پخپله تر مسجده پوري
لاړ، څو ديناره ئې د شيخ تر سر وګرزول او فقيرانو ته ئې ورکړل. دا هيأت د سردار جانخان د سپرو
په وسيله، د لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه کيمپ ته بوتلل سو[۲۷۷].

د پنجاب تر روغي وروسته سردار جانخان له لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره کندهار ته ولاړ او
په هغه ځايه د (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال پاى ته له لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره مخ پر هرات وخوځېد.
هرات چي کلابند سو، لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پنځو زرو تکړه سپرو سره يو پوځ د سردار
جانخان تر مشرتوب لاندي، د مشهد نيولو لره وګماره او د ده د مرستي له پاره ئې نصير خان بلوڅ
هم له بلوڅي فرقې سره پسي ورولېږه. د مشهد پوځ چي په تربت شيخ جام کي پروت و، د سردار
جانخان تر وررسېدلو پخوا مشهد ته وتښتېد. سردار جانخان د مشهدي پوځ وروستۍ ډله لاندي
کړله، هغه ئې ښه وځپله او بيرته هرات ته ستون سو.

په (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال چي لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه دوهمه پلا مشهد ته ولاړ، د نيشاپور او
سبزوار تر نيولو وروسته چي ئې مشهد کلابند کړ، په دغه وخت کي ئې سردار جانخان او نصير خان
بلوڅ د تون او طبس د حاکم علي مراد خان[۲۷۸] ځپلو لره وګمارل. سردار جان خان او نصير خان بلوڅ
په ډېر شهامت له علي مراده سره وجنګېدل، علي مراد خان ئې وواژه، لښکرو ئې ماتې وکړه او تون
او طبس د پښتنو په لاس کښېووت. سردار جان خان تر دې سوبې وروسته، له نصير خان بلوڅ سره
مشهد ته راستون سو.

لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي په (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال دريمه پلا پنجاب ته ولاړ، له پېښوره
څخه ئې يو سرلاښ پوځ د سردار جان خان په مشرتوب لاهور ته ولېږه او عبد الصمد خان اشنغري هم
ور سره مل کړه سو. سردار جان خان د محرمي په يو ولسمه ورځ ځان رهتاس کلا ته ورساوه. د (۱۱۶۵
هـ. ق.) کال د دوهمي خور په منځ کي، چي لاهور ته نژدې د مير معين الملک پوځو د لوى احمد شاه
بابا رحمة الله عليه پر سرلاښ پوځ بريد وکړ، لاهوريو دا تکل کړى و، چي تول به په يوه سلا له هري خوا څخه
پر سرلاښ پوځ ورځي او د لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه مېړه سپهسالار او د پښتنو شهباز (چي دوى به

[۲۷۶] په حيات افغاني (۶۲۸ مخ) کي ليکلي دي: په (۱۷۴۹ ع.) (= ۱۱۶۲ هـ. ق.) کال سردار جان خان د دوړو پر
... بنو ته راغى، بنوځيو په خپله خوښه پاچاهي کلنګ ورکړ، د بازار احمد خان د شاه بزرګ له لور بي بي سره ئې
... واده وکړ، د دوړو له سيمي څخه ئې هم دوولس زره روپۍ کلنګ واخيست او ولاړ.

[۲۷۷] د "Ahmad Shah Durrani" ۷۶–۷۷ مخونه، د شهنامهٔ احمد شاهيه د ۱۲۰ مخ په حواله.

[۲۷۸] دا نوم د په "Ahmad Shah Durrani" ۹۶ مخ کي "علي مراد خان" او د تيمورشاه دراني په ۱۱۸ مخ کي "علي
مردان خان" ضبط دئ.

تل ترې مات وو) وژني او تر دې وروسته به نو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پوځ خوا ته من
کوي(۲۷۹). مګر دا سوبه ئې تر سره نه سوه، د دربېمي خور په لومړۍ ورځ چې لوی جنګ وسو، ب
د میر معین الملک سپهسالار کوړامل، آدینه بېګ وګماره چې له یوه اړخه څخه د سردار جان خا
پر پوځ برید وکړي او دوی به پخپله له بلې خوا پر ورسي، مګر په دغه حمله کي کوړامل سر بایل
او لاهوریو ماتې وکړه(۲۸۰).

د میر معین الملک (میرمنو) سره تر روغي وروسته، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ملتان ت
ورسېد، یو پوځ ئې د سردار جانخان په مشرتوب د ډېره وال (جان نصیر خان) په ملګري،
بهاولپور د نیولو له پاره وګماره. دی چې "اوچ" ښار ته ورسېد، د بهاولپور داودپوتره(۲۸۱) مشرا
خبر سول، بهاولپور ئې پرېښوو او د شاوخوا کلاوو ته وتښتېدل، سردار جانخان بېله کوم
مقابلې بهاولپور ونیو او یو اته زري پوځ ئې د خیرپور نیولو لره وګماره، مګر دا پوځ چې د خیرپو
په یوه کروهي کي د مبارک خان داودپوتره سره وجنګېد، ماتي ئې وکړه او تر لسو کروهو (لا
سوهنرا) پوري ئې تعاقب وسو.

تر دې جنګ وروسته مبارک خان روغه وغوښتله، سردار جان خان هم ومنله. سردار جان خا
پر فتحپور ګدر تر سُتلج سیند پوري ووت، ملتان ته ولاړ(۲۸۲) او وطن ته ستون سو.

د (۱۱۶۶ هـ. ق.) کال د محرمي په میاشت کي، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د هندوستان پ
نیامت خپل پوځونه، جلال آباد (ننګرهار) ته ورسول، جهان خان ئې د یوه سرلاړ پوځ سره د اباسین
غاړي ته ولېږه، ډهلي او لاهور ته د دې خبر په رسېدلو سره، هلته یوه پرېشاني پیدا سوه، د پنجاب
احمد شاهي نائب الحکومه میر معین الملک د دې پرېشانۍ حال سردار جان خان او بیا د هغه پ
وسیله لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته ولېږه، ځکه چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د دې لښکر کښې
مقصد یوازي د هغو آوازو ورکول وه، چې د ډهلي ناسیاله وزیر صفدر جنګ، د شاهرخ له خوا
کندهار د نیولو په باب خپرې کړي وې او بل په مشهد کي د فریدون د بغاوت خبر ورورسېد، نو ئې
د ډهلي دربار ته د یوه استاځي تر لېږلو وروسته سردار جانخان بیرته جلال آباد ته وروغوښت. کابل
ته چې ورسېدل، سردار جانخان ئې د کابل نایب الحکومه وټاکه. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې ل
کابله څخه د کندهار لور ته وخوځېدئ، سردار جانخان په کابل کي ځني پاته سو او تر اباسینه پوري
ئې ټولي سیمي اداره کولې(۲۸۳).

د کابل پر غره باندي، چې کومه کلا لید له کېږي، دا کلا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په امر سر

---

(۲۷۹) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۱۱ مخ.
(۲۸۰) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۱۴ مخ.
(۲۸۱) "داودپوتره" د بلوڅو یوه قبیله ده او لغوي معنی ئې "داودزي" ده.
(۲۸۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۲۶-۱۲۷ مخونه.
(۲۸۳) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۳۱-۱۳۴ مخونه.

په(۱۱۶۶هـ. ق.) کال سردار جان خان جوړه کړېده. په دې باب د میرزا سید هادي خان عشرت یوه قصیده، چې د هراتي سید په جونګ کې ضبط ده دا ده:

در تاریخ حصاری که حسب الامر اعلیحضرت احمد شاه خانجهان خان درانی بر سر کوه کابل کشیده[۲۸۴]:

ثانی محمود احمد پادشاه — آنکه شد از امر حق عالم شکار
غم نه بندد صورتی در عهد او — گر شود عالم تمام آئینه زار
آنکه از بیمش حوادث تا ابد — بر نیارد سر ز جیب روزگار
آنکه گر بندد کمر از بهر صید — شیر گردون را کند در دم شکار
آنکه از عدلش ندیده دیده ور — پایهٔ ظلمی بعالم استوار
با ایاز خاصش آن یکتای دهر — آنکه گیرد وام ازان گردون وقار
آنکه پاس دولتش دارد مدام — آنکه افزوده ز خدمت اعتبار
خان جان خان آن امیر با گهر — آنکه گیرد جان ز خصم شهریار
آنکه دارد جان بکف از صدق دل — تا کند در شاهراه او نثار
امر کرد از لطف آن کیهان خدیو — از سر جاه و جلال و اقتدار
تا کشد حصنی ز بهر حفظ خلق — دور کابل همچو گردون پایدار
پر مشید همچو عهد عاشقان — مرتفع چون عز شاه کامگار
شد پی اجرای امر شه به جهد — از ارادت آن امیر نامدار
شهر بندی کرد بنیاد آن امیر — کو بسر برداشت چرخ زرنگار
گر چه دور از کار بودی کین بنا — سال چار و پنج گردد استوار
لیک ز اقبال شه والا نسب — دیگر از سعی امیر بختیار
ماه پنجم این اساس با شکوه — شد تمام از التفات چاریار
با علو شان حصاری شد بلند — کافگنند چرخ بلند از اعتبار
بسکه دارد شان و شوکت هم علو — خانه زادش چرخ اطلس در شمار
از "جهان" زد سر چو این عالی اساس — "عشرت" از کابل زمین شد آشکار
سال تاریخش چو جستم از خرد — شد معینم لطف او از سر کار
در فشان شد از سر اعزاز و گفت — "همسری دارد به گردون این حصار"[۲۸۵]

۱۱۶۶

---

[۲۸۴] دا جونګ د سرور خان ګویا اعتمادي په کتابتون کې خوندي و. په بالاحصار کابل ۷/۲ مخ کې هم دغه منظومه له دغه جونګه را نقل سوې ده.

[۲۸۵] سر اعزاز = الف = (۱) + همسري دارد بگردون این حصار = (۱۱۶۶) = (۱۱۶۷هـ. ق.) کال.

	=	۴۵
هم	=	۲۷۰
سری	=	۲۰۹
دارد	=	۲
ب	=	۲۸۰
گردون	=	۶۱
این	=	۲۹۹
حصار	=	
		۱۱۶۶

په مقالات الشعراء کي علي شير قانع (۱۲۰۳ه. ق. مړ) کښلي دي:
د شيخ محمد مريد قانونگو زوی، شيخ محمد محفوظ سرخوش چی د سنده له ښو شاع
ځخه و، څه موده په کابل کي د سنده د والي، نور محمد له خوا د وکيل په توگه له سردار جان
سره اوسېدئ، د کابل د کلا وداني چي خلاصه سوه، ده ئې تاريخي ماده په دې نيم بيتي کي
کړې ده:

"این حصن طلسم احمد شاهست"
۱۱۶۷

این	=	۶۱
حصن	=	۱۴۸
طلسم	=	۱۳۹
احمدشاه	=	۳۵۹
ست	=	۴۶۰
		۱۱۶۷

د مقالات الشعراء په هغه نسخه کي چي په (۱۹۵۷ع.) کال په کراچي کي چاپ سوېده، د
تاريخي مادې ته (۱۱۶۶) عدد کښلی دئ، چي سم نه دئ. د بالاحصار کابل په ۷/۲ مخ کي
کښلي دي، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ په شپږم کال سردار جانخان پوپلزي سپهسا
ته امر وکړ، چي د کابل ښار پر شا وخوا کلا جوړه کړي. دا کار په پنځو مياشتو کي پای ته ورسې
په قطغن کي د سردار جان خان د فتحي په باب، د افغانستان نوميالي په ۲۱۱/۳ مخ کي دا
کښلي دي[۲۸۶]:

"په دې وخت کي له قطغنه د (سردار) خان جهان خان د بري زېری لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه
راورسېد، چي د قطغانيه طايفې مشر "مضراب بی" د "سهراب بی" زوی، تر سختي جگړ
وروسته، په کندز کي ځان احمد شاهي لښکر ته تسليم کئ او هم نور متمردين يا ووژل سول او
وتښتېدل او يا هم بنديان سول، چي د وژلي سويو کسانو له سرو څخه ئې د حاجي علي خ
مستوفي پر قبر باندي کله منار جوړ کئ او بنديان ئې بيرته ايله او رخصت کړل. له هغو څخه ئ

(۲۸۶) د علامه رشاد رحمة الله علیه په قلمي نسخه کي د دغه ماخذ ذکر سوی و، خو ځای سپین ورته پاته و، نور کار ئې
بشپړ کړی دئ.

اسان، پسونه او مالونه په ولجه ونیول، چې یو ازي ئې د احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته پنځوس پسونه د هغه بري د زېري او مبارکۍ د لیک سره را ولېږل. هغه و چې د احمد شاه بابا رحمة الله علیه د مضراب بی (او) د قطغانیه طایفې د نورو مشرانو په نامه د مهربانۍ، شفقت او ډاډیني نونه واستول سول او سردار جهان خان ئې بیرته خپل حضور ته را وغوښت. سردار جهان خان مهغه کال د "نارین" د کلا په ارګ کې، یوه خورا ښکلې او لوړه ماڼۍ ودانه کړه، چې پر هغې "درانیه ماڼۍ" نوم کښېښود"[۲۸۷].

د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال په شروع کې چې د پنجاب احمد شاهي نائب الحکومه، میر معین ملک مړ سو، د مرحوم میر معین الملک دوو معاونانو (مومن خان قصوري او بهکهاري خان) خط د سردار جانخان کشرو ورور، ملا امان خان ته ولېږه، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ئې وړاندي کړي او یو استاځی (حاجي بیګ) ئې کابل ته سردار جانخان لره ولېږه.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د میر معین الملک دوه کلن زوی د پنجاب نائب الحکومه مومن خان قصوري د هغه وکیل وټاکه سو، مګر لږ وخت وروسته مغل میرزا جان ټول اختیارات ل کړه او په پنجاب کي اړودوړ پیښ سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې دا واورېدل، د سردار نخان کشر ورور، ملا امان ئې له لسو زرو سپرو او پلو سره، چې د سردار جان خان د حکومت له یمي (کابل او پېښور) څخه تهیه سول، د لږو درانو او قزلباشو سره، د لاهور د انتظام له پاره ستاوه. نوموړي ملا امان د لاهور تر انتظام وروسته، خواجه میرزا او د پنجاب اووه تنه نور شران بندیان کندهار ته ورسره بوتلل. مګر په دې هم ونه سوه او د (۱۱۶۹ هـ. ق.) کال په اواسطو ي، لاهور د ناسیاله غازي الدین په لاس کښېوت او ناسیاله آدینه بیګ ته ئې وسپاره. د میر ین الملک کونډي (مغلاني بیګم) په دغه حال کي سردار جان خان ته داسي خط ولېږه:

"دا ډېره د تعجب او افسوس خبره ده، چې تا غوندي د زمانې رستم او افراسیاب ژوندی وي زه به دا رسوایي او مظلومیت ګالم، د هغه عقیدت له مخې، چې زه ئې تاسي ته لرم، هیله کولای م چې ته به تر ډېره پوري ما په دې بې عزتي او مظلومیت کي پرې نه ږدې او هغو شریرو عناصرو به، چې دا کار ئې کړی دئ، ډېر ژر ایداد او سزا ورکاندې".

په دغو ورځو کي چې دغه خط سردار جان خان ته ورسېدئ، د ناسیاله غازي الدین استاځی ایلچ خان[۲۸۸]"، چې له سرهنده ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دربار ته لېږلی و، هم کابل ته رسېد، مګر سردار جان خان کندهار ته پرې نه ښوو او له مرکزه څخه ئې اجازه وغوښتله. کله چې وی احمد شاه بابا رحمة الله علیه غزني ته را ورسېد، د پاچا په امر نوموړی استاځی د سردار جانخان له خوا غزني ته واستاوه سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې کابل ته را ورسېد، سردار جانخان ورسره مل سو او مخ پر پېښور وخوځېدل. دا پلا له کابله څخه د سرلاڼ پوځ مشرتوب د ده پر ځای جنګباز خان

---

[۲۸۷] تاریخ احمد شاهي، ۱/۵۹۰ مخ.

[۲۸۸] دا سړی دلازاک پښتون دئ.

ته ورکړه سو ، مګر کوم وخت چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پېښور ته ورسېد ، په سرلانځ پسي ئي یو بل پوځ د سردار جان خان او شهزاده تیمور په مشري واستاوه او دې پوځ ته ئې امر ورکړ چي آدینه بېګ(٢٨٩) پسي واخلئ او پنجاب له شریرو عناصرو څخه پاک کړئ. سردار جان خان چي له اباسینه پوري ووت، په حسن ابدال کي ئې شهزاده تیمور له یوه واړه پوځ سره پرېښود جنګباز خان بنګښ خو مخ پر لاهور روان و ، ده امین آباد ښار ونیو او وېې لوټه، وروپسې ئې بټاله ونیوله او د آدینه بېګ ښار "آدینه نګر" ئې پسي ونیو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي له لاهوره څخه مخ پر ډهلي خوځېدئ، پخوا تر هغه ئې سرلانځ پوځ د حسن خان په مشرتوب د سرهند نیولو لره وګماره او سردار جان خان ئې د سرلانځ پوځ د قوت الظهر په حیث پسي ولېږه. سردار جان خان د دوهمي خور په دیرلسمه (= ٥ جنوري ١٧٥٧ ع.) سرهند ته ورسېد او حسن خان چي سرهند نیولی و ، د ده مل سو.

د سردارجانخان پوځ د کرنال او پاني پت له لاري ډهلي ته روان و ، چي د دوهمي خور په نولسمه په کرنال کي د پنجاب د احمدشاهي نائب الحکومه مرحوم میر معین الملک د مابنې (مغلاني بېګم) استاځي ور ورسېدل او ده سل سپاره له څلورو سردارانو سره د هغې مخي ته، سوني پت ته ورولېږل. نوموړې مغلاني بېګمه د دوهمي خور په شلمه (= ١٢ جنوري) د سردارجانخان کیمپ ته ورسېدله. مغلاني بېګمه چي د خپل زوم غازي الدین (د ډهلي وزیر) له خوا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته تلله، تر یوه مختصر مجلس وروسته د شاه ولیخان وزیر کیمپ ته پر مخ تېره سوه او سردار جانخان خپل پوځ تر جمنا رود پوري یوست، د جمنا پر شرقي غاړه ډهلي ته روان سو. د کیرانې، جهانجهانې، شاملې او کاندهلې مرهټه سربښته داران ئې پسي واخیستل او د شاملې حاکم ئې وواژه. ده د دوهمي خور د میاشتي په درویشتمه (= ١٥ جنوري) په لوني کي، چي له ډهلي څخه شپږ میله لیري، شمال شرقي لور ته واقع ده، واړول. سبا مخ پر ډهلي وکوچېد او د لال کلا په مقابل کي ئې د جمنا پر شرقي غاړه واړول.

سبا مابښام ته نجیب الدوله یوسفزي (د ډهلي د دربار امیر الامراء) د سردارجان خان سره ولیدل او د سردار مل سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د درېیمي خور په لومړۍ ورځ (= ٢٢ جنوري ١٧٥٧ ع.) د ډهلي شاوخوا (وزیر آباد) ته راورسېد ، په سبا ئې سردارجانخان د ډهلي په ښار بې مقابلې ننه ووت. د درېیمي خور په پنځمه شپه، سردار جانخان د یحیی خان(٢٩٠) په ملګري، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دا پیغام د ډهلي پاچا دوهم عالمګیر (١١٦٧-١١٧٣ هـ. ق.) ته (چي په لال کلا کي و) ورساوه:

---

(٢٨٩) آدینه بېګ شریر د جالندهر دوآبې حاکم و ، ناسیاله غازی الدین ئې د لاهور نیولو ته لمسولی و ، ناسیاله غازی الدین چي لاهور ونیو ، آدینه بېګ ئې د ډهلي د دربار له خوا نائب الحکومه مقرر کړ. آدینه بېګ خپل وکیل سید جمیل په لاهور کي پرې اینبی او پخپله په جالندهر دوآبه کي ناست و.

(٢٩٠) یحیی خان د لاهور د مغلي حاکم شهنواز خان مشر ورور او د عبد الصمد خان تورانی زوی و.

و د هندوستان پاچهي تا ته بخښم، سبا سهار زما د ليدني له پاره په شاهانه شان و
راسه".
درېيمي خور د مياشتي په يوولسمه ورځ (= ۱ فبروري) سردارجان خان فريد آباد ته نژدې،
ي مانګ ايشور[۲۹۱] مرهټه پر پوځ برېد وکړ. مرهټه پوځ ماتې وکړه، يو زر مړي ئې پر ميدان
. اتاجي متهرا ته په تېښته ولاړ او سردار جان خان له خپلو پوځو سره، سبا بيرته ډهلي ته
سو. تر دې سوبې وروسته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حکم، سردارجانخان د نجيب
يوسفزي په ملګري، متهرا ته پوځونه وخوځول. د څلورمي خور د مياشتي په اتمه ورځ (=
وري) د جاټانو مشر، جواهر سنګهـ له پنځو زرو سپاهيانو سره د ده د مخنيوي له پاره، له
خه راووت او د متهرا په اته ميلي کي "چومو هـ" کلي ته نژدې، د سردار جان خان له پوځ سره
د. جاټانو ماتې وکړه، درې زره تنه ئې ووژل سول او پخپله جواهر سنګهـ بلب ګړه ته
د. تر دې سوبې وروسته، سبا د سردار جان خان او نجيب الدوله يوسفزي پوځونه پر متهرا
توی سول، ډېر بت پرستان ئې ووژل او زياتي بتخانې ئې ونړولې او وسوځولې[۲۹۲].
سردار جان خان او پوځونه ئې په دغه شپه له متهرا راووتل او نجيب الدوله او پوځونه ئې
رخي نور هم هلته پاته سول.
سردارجانخان د متهرا تر سوبې وروسته د څلرمي خور په څورلسمه (= ۶ مارچ) پر "برينه
ښار برېد وکړ. دا ښار چي د متهرا شمال ته، اووه ميله ليري واقع و هم فتحه سو، ډېر
ونکي ئې ووژل سوه او ودانۍ ئې وسوځلي سوې.
تر دې سوبې وروسته سردارجانخان او نجيب الدوله دواړه لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه، چي د
په شپږ ميلۍ کي ئې د درېيمي خور د مياشتي په درويشتمه (= ۱۵ مارچ) اړولي و، و خپل
ر ته وروغوښتل او د اګرې نيولو لره ئې وګمارل. سردارجانخان له خپلو پوځو او نجيب
ه سره د څلرمي خور په نه ويشتمه ورځ (= ۲۱ مارچ) ځان د اګرې دروازې ته ورساوه. د اګرې
د پنځو لکو روپو ورکړه ومنله. سردار جان خان تر يو لک روپو زياتي نه وې تحصيل کړي،
رجب د مياشتي په دوهمه ورځ (= ۲۲ مارچ) د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه فرمان ور ورسېد،

"ژر راځه!".
سردار هم د نورو روپو حاصلولو ته تېک نه سو او سبا مخ پر ډهلي وخوځېد. له هغه ځايه دی
هزاده تيمور سدوزی د سرلاړ پوځ د مشرانو په حيث، مخ پر لاهور وخوځېدل او په لار کي ئې
تپور ښار، چي د ياغي سکهانو مأمن و، ولوټه او سکهان ئې ډېر وځبل.

---

[۲۹۱] دا سړی د غازي الدين په بلنه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مقابلې له پاره، د درېيمي خور په اتمه ورځ، د ډهلي
خواته راغلی و او د شاه وليخان پر پوځ ئې يوه داړه اچولې وه.
[۲۹۲] دولت درانيه، ۲۲ مخ - "Ahmad Shah Durrani" ۱۷۷ مخ.

د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د برات په میاشت، چي لوی احمد شاه بابا رحمه الله له لاهوره څخه وطن ته
ستنېدئ. د لاهور حکومت ئې شهزاده تیمور سدوزي ته ورکړ او سپهسالار سردار جانخان ئې
مدار المهام او وکیل په حیث ورسره پرېښنوو. په دغو وختو کي د سکهانو یوه لویه مېله په امرتسر
کي کېدونکې وه، سردار جانخان چي خبر سو، په هغه ورځ ئې برید پر وکړ. ډېر سکهان ئې ووژل
خو ورخي په امرتسر کي دېره و، بیا بیرته لاهور ته ستون سو.

د "مهیل پور" په جنګ کي، چي مراد خان او سرفراز خان له آدینه بېګ او سکهانو څخه ماتي
وکړه، دی ئې د ټینګولو او ملاتړ له پاره، تر تالاب شمشېر خان پوري ورغی، مګر څه ئې ونه کړای
سو او بیرته لاهور ته ولاړ. تر دغي ماتي وروسته سردار جانخان ته د ناکامیو مخه سوه، د پنجاب
سکهان. آدینه بېګ (د جالندهر دوآبې حاکم) او مرهټه سره یو لاس سول، د آدینه بېګ په بلن
مرهټو د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د څلرمي خور په منځ کي (د ۱۷۵۸ ع د فبروري پای) له ډهلي څخه
پر پنجاب برید وکړ او په یوه تراټ ئې ځانونه سرهند ته ورسول. د سرهند احمد شاهي حاکم "عبد
الصمد خان اشنغری" کلابند سو. سردار جان خان ته چي دا حال ور ورسېد، یو پوځ ئې له لاهوره
څخه مخ پر سرهند وخوځاوه، په دغه وخت کي آدینه بېګ هم له غرو را تا سو او د سکهانو په
ملګري. مرهټو مرستیال او مل سو. سردار جان خان چي پټیالې ته ورسېد، یو سرلاښ پوځ ئې د
شهزاده تیمور سدوزي د دېوان خانې د داروغه (یوسف خان) په مشري، د سُتلج د ګدر د ساتني له
پاره وخوځاوه. سرلاښ پوځ چي "هوشیارپور" ته ځان ورساوه، په دغه وخت کي خبر راغی، چي
مرهټو او سکهانو سرهند ونیو او عبد الصمد خان ئې ژوندی په لاس کښېوت، ځکه نو دوی بیرته
پر روهیله ګدر باندي تر بیاس راپوري وتل او سردار جان خان له خپل ټول پوځ سره جلال آباد[۲۹۳]
ښار ته ولاړ او غوښته ئې چي هلته د مرهټو، سکهانو او آدینه بېګ د پوځو مخه ونیسي. اته ورځي
هلته واوسېد. په وروستۍ ورځ خبر ور ورسېد، چي غلیمان دوآبې ته راپوري وتل او د پوځو بېلي
بېلي دستې ئې هري خوا ته خپرې سوې. سردار جانخان چي دا واورېدل نور ئې نو په جلا آباد کي
تېک ونه کړ او د لاهور د ساتني په غرض ئې د رجب پای ته (۱٦ اپرېل ۱۷۵۸ ع.) ځان لاهور ښار
ته ورساوه. غلیمانو آسونه پسي پونده کړل، ځو ده ځان ښوراوه، سبا ته د لاهور شاوخوا ته پسي
ور ورسېدل.

سردار جان خان چي پر هندوستانیو پوځو ویسا نه درلوده او د پښتنو پوځ ئې ډېر لږ و، د
غلیمانو د دې ګډ پوځ د مقابلې توان ئې په ځان کي ونه لید، ځکه نو د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د برات
په لومړۍ ورځ له شهزاده تیمور سدوزي سره، مخ پر پېښور وخوځېد[۲۹٤] او په لاهور کي ئې میر
هزار خان له لږو پوځو سره پرېښنوو. سردار جانخان چي ځان د امین آباد کاچي سرای ته ورساوه،
هلته ئې واورېدل، مګر ډېر ژر مرهټه او سکهان پسي ور ورسېدل او سردار جانخان، شهزاده تیمور

---

(۲۹۳) جلال آباد د بیاس سیند پر غاړه په ختیځ پنجاب کي د یوه ښار نوم دئ، چي جلال خان پښتنانه آباد کړی دئ.
(۲۹٤) دولت درانیه، ۲۳ مخ.

سدوزي او پښتانه پوځونه، وزير آباد[۲۹۵] ته نژدې تر چناب سيند (چې ډېر ډک و) پورې وتل. د لاهور خزانه او جبه خانه د مرهټو په لاس کښېوتله[۲۹۶].

سردار جانخان او شهزاده تيمور سدوزی پېښور ته ورسېدل او له هغه ځايه کندهار ته ولاړل. په دغه وخت کې لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د ياغي سوي امير نصير خان بلوڅ په ځبلو بوخت و. له ښخړي چې ئې فراغت وموند، يو پوځ ئې سردار جانخان ته په لاس ورکړ او د سرلاښ په حيث ئې کابل له لارې پنجاب ته ولېږداوه. پخپله لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د (۱۱۷۳ه. ق.) کال د صفري مياشتې، د بولان درې(؟) له لارې مخ پر پنجاب وخوځېد.

سردار جان خان چې له پېښوره څخه اټک ته وخوځېد، د اټک ساتندوی مرهټه سردار "سابا" مخ پر ډهلي وتښتېد. سردار جان خان رهتاس ته ورسېد او د لاهور خوا ته پسې تېر سو. د لاهور په شاوخوا کې ئې د مرهټو يو جرنيل او يو شمېر سپاهيان په لاس کښېوتل او هغه ئې ووژل[۲۹۷].

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه هم د بنون په حدودو کې د لومړۍ خور د مياشتې په درېيمه ورځ (= ۲۵ اکتوبر ۱۷۵۹ ع.) تر اباسين پورې ووت او په پنجاب کې داخل سو. لاهور ته نژدې څلوېښتو زرو سکهانو ناڅاپه بريد پر وکړ. په دې جنګ کې چې د سکهانو په ماتې تمام سو، د "ګنډا سنګهـ" په قول دوه زره پښتانه سپاهيان ومړل او سردار جان خان پخپله لږ ټپي سو[۲۹۸].

سردار جان خان تر دې سوبې وروسته، يو پنځلس زری سرلاښ پوځ مخ پر سرهند وخوځاوه او لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په لاهور کې د پنجاب په عارضي انتظام بوخت سو. د ډهلي په سيمه کې د مرهټو پوځو مشرانو "دتا سيندهيا" او "جنکو جي" چې دا واورېدل، له ګنجپورې څخه د مخنيوي له پاره مخ پر شمال راوخوځېدل. بهورتيا نومي مرهټه سردار ته ئې پنځه زره وتلي مرهټه سپاره ورکړل، د عماد الملک له لښکرو څخه هم د مغلو يو زرتنه مغلي سپاره، د محمد سعيد خان قبچاق په مشرۍ ورسره سول، دغه سرلاښ (قراول) لښکر په "تراورې" نومي ډاک کې د درېيمي خور د مياشتې په څلرمه ورځ د پښتنو له سرلاښ پوځ سره مخامخ سو. په لومړي بريد کې د پښتنو سرلاښ لږ ترشا سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چې د لاهور تر عارضي انتظام وروسته سم په پسې و، خبر سو چې سرلاښ پوځونه سره مخامخ سوي دي، دستي ئې د شاه پسند خان ساګزي په مشرتوب، څلور زره سپاره مرستې لره ور ولېږل او ورپسې ئې يوه بله رساله سپاره هم وګمارل، چې د سردار جان خان په مرسته ولاړ سي. مرهټه په دې جنګ کې له درو خواوو ګير سول، "دتا سيندهيا" هم د خپل ټول پوځ سره د خپل سرلاښ پوځ په مرسته راغی، مګر د پښتنو په مقابل کې ئې هيڅ ونه کړای سوه. د شپې تيارې جنګ تمام کړ. د شپې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځونه ترجنا

---

[۲۹۵] وايي وزير آباد د شاه جهان مغل په وختو کې، وزير خان جوړ کړی دئ.

[۲۹۶] خزانه عامره، ۱۰۱ مخ.

[۲۹۷] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۲۶ مخ.

[۲۹۸] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۲۷ مخ.

رود پوري وتل او سبائې مرهټې پوځونه ډهلي ته وخوځېدل، سردار جان خان هم پسې روان سو.
د (۱۱۷۳هـ. ق.) کال د رجب په میاشت کې چې پښتنو "گنگادهر ایشونت تاتیه" ته د سکندر آباد (سکندره) په شاوخوا کې ماتې ورکړه، سردار جان خان هم په دغه پوځ کې، د یوه منصبدار په حیث شامل و.

د "Ahmad Shah Durrani" په ۲۵۲ مخ کې لیکلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې د لومړۍ خور د میاشتې په درویشتمه ورځ په پاني پت کې د مرهټو په مقابل کې واړول، مرهټو پر ځان د توپو کلا راوگرزوله. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه درې پوځونه چې د هر یوه شمېر پنځه زره تنه و، وگمارل چې د شپې به تر ممکنې اندازې پورې ځانونه د مرهټو پوځ ته نژدې کوي، هم به د شبخون مخه نیسي او هم به له دباندې سره د مرهټو ارتباط قطعه کوي. له دغو پوځونو څخه یو پوځ د سردار جان خان تر مشرتابه لاندې و.

د دولت درانیه په ۳۵ مخ کې لیکلي دي:

مرهټو چې په پاني پت کې سنگر ونیو[۲۹۹]، یوه ورځ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حکم پښتنې لښکرو خپلې زړې خیمې، بېکاره آسان، ډنگرې کچرې او زاړه غوایې ځای پر ځای پرېښوول او لښکر لوېدیز پلو ته څو میله لیرې ولېږدېد. مرهټو ته چې دا خبر ورورسېد، دوی گمان وکړ چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه وتښتېد او درانه بارونه ئې ځنې پاته سول، نو په ډېر تلوار سره پر لښکر ځای ورتوی سول او په خوشالۍ سره ئې اُلجې راغونډولې. سردار جانخان چې په یوه ورځرمه ځنگله کې، له یوه تکړه پوځ سره پېڅونی (کمین) کړی و، برید پر وکړ او په مرهټو ئې هغه قتل عام گډ کړ، چې شل زره ککرې ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته وړاندې کړلې او ډېر ونازاوه سو.

د پاني پت په لوی جنگ کې هم سردار جان خان پوپلزی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر څنگ ولاړ و. په (۱۱۷۵هـ. ق.) کال چې شپږمه پلا لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هندوستان ته ولاړ، سردار جان خان ئې په رکاب کې و. د رجب په میاشت چې شاه ولیخان او زین خان د سرلاني پوځ په حیث د سکهانو پر پوځ باندې برید وکړ، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حکم ئې سردار جانخان په مرسته ورغی. په دې جنگ کې دغومره سکهان ووژل سول، چې د سکهانو په تاریخ کې د "وډه گهلو گهاره" یعني لوی قتل عام په نامه شهرت لري.

په (۱۱۷۹هـ. ق.) کال چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اوومه پلا هندوستان ته د سکهانو د ځپلو په نیامت روانېدئ، د مخه ئې د سردار جانخان په مشرتوب یو سرلاني پوځ وگماره، چې د عبرتنامې په قول ئې شمېر لس زره تنه و. دا پلا سردار جانخان ته په پنجاب کې د چارمحال د حکومت فرمان هم ورکړ سوی و. سردار جان خان چې رهتاس ته ورسېد، له هغه ځایه څخه ئې په یوه ورځ ځان

---

(۲۹۹) مرهټو د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې پر شلمه په پاني پت کې واړول او پښتانه پوځونه هم په درییمه ورځ پسې ورورسېدل.

ګوجرانوالې ته ورساوه، چې پر سکهانو باندي ناڅاپه برید وکړي، مګر افسوس چې سردار چړت سنګهـ (د مشهور رنجیت سنګهـ نیکه) څلور ساعته پخوا خبر سوی او له هغه ځایه تښتېدلی و. سردار سیالکوټ ته ولاړ او هلته مېشت سو.

کابلي مل چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د (۱۱۷۸هـ. ق.) کال راهیسي د لاهور حاکم و، له سکهانو سره لار درلود. سکهان په دغه وخت کي د لاهور په جنوب شرق کي، د قصور له پښتنو سره په جنګ اخته وو، کابلي مل ورته ولیکل:

"ستاسي لوی دښمن، د پښتنو شهباز، سردار جان خان سیالکوټ ته راورسېد او تاسي د کور د چوغکو سره په جنګ اخته یاست".

په دې لیک سکهان وپارېدل او سیالکوټ ته ئې مخه وکړه. له سردار جانخان سره ئې جنګ وسو[300]. په دې جنګ کي د سردار جان خان آس وویشته سو او سردارجانخان ځني ولوېد. سکهانو د ښادۍ ډمامې وړغولې، چې سردار جان خان مو وواژه. دې خبري پر پښتنو سپاهیانو بده اغېزه وکړه او مات سول. سردار جان خان پخپله ګرفتار نسو، مګر د پوځ درووند بار او څه له پښو لوېدلي کسان د سکهانو په لاس کښېوتل. سردارجان خان تر دې ماتي وروسته په رهتاس کي واو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د وررسېدلو انتظار ئې یوست. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې لاهور ته ورسېد، ده د لاهور د احمد شاهي حاکم (کابلي مل هندو) څخه شکایت ورته وکړ او وې ویل، چې دی له سکهانو سره ارتباط لري.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې د لاهور تر انتظام وروسته د جالندهر دوآبې له لاري، مخ پر سرهند ولېږدېد، سرلاښ پوځ ئې د سردار جان خان تر مشرتوب لاندي و. سرلاښ پوځ په لار کښې د سکهانو پر یوه لښکر پېښ سو، سردارجانخان د هغو مخه ونیوله او نصیر خان بلوڅ چې پسي ور ورسېد، سکهان ئې په ګډه پسي واخیستل.

د پټیالې تر تسخیر وروسته، چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه وطن ته د راستنېدلو په لار کي، تر سُتلج راپوري وتل، د سکهانو یو لوی پوځ ورسره مخامخ سو، د پښتنو یو پوځ د اشرف الوزراء شاه ولیخان، سردار جان خان او انزله خان په مشرۍ، د دوی سره وجنګېد او سکهان ئې مات کړل.

په (۱۱۸۱هـ. ق.) کال چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته دا حال راورسېد، چې سکهانو لاهور ونیو، ده دستي مخ پر پنجاب پوځونه وخوځول. د پښتنو سرلاښ پوځ، چې د سردار جان خان، برخوردارخان اڅکزي او درویش علي خان هزاره تر مشرتوب لاندي و، په (۲۱ ډسمبر ۱۷۶۶ع.) کال ئې لاهور ونیو او د سکهانو پوځونه شاوخوا ته سره ولاړل. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې لاهور ته ورسېد، یو پوځ ئې د ډسمبر پر ۲۷ مه د سردار جان خان په مشرتوب امرتسر ته ولېږه. دا پوځ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر معطل و، چې پخپله لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه (۳۰ ډسمبر

---

[300] عبرتنامه، ۱/ ۲۳۵-۲۳۶ مخونه.

او سباته ئې په کډه جنډیلې ته روان سول. څو ورځې وروسته بېرته لاهور ته راغلل. د سردار جان خان سرلان پوځ چې په امرتسر کې پروت و، په (۱۷ جنوري ۱۷۶۶ع) پسې ور ورسېدئ او سکهانو ته ئې په بریه پر وکړ او څه پښتانه سپاهیان ئې ووژل. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې دا واورېدل، له لاهوره ئې په مرسته ورغی او سکهان مات سول.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د امرتسر د کلا د ودانۍ امر وکړ او درې څلور زره سکهان ئې ووژل. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه اسماعیل آباد ته، چې د امبالې په جنوب کې ۲۰ میله لیرې واقع دئ، ورسېدل او نجیب الدوله له ډهلي څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغی. په دغه وخت کې سکهانو پر نجیب آباد برید وکړ، "نجیب الدوله" د هغو د ځبلو له پاره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له حضوره رخصت سو او په مرسته ئې سردار جانخان، له یوه تکړه پوځه سره واستول سو. سکهانو چې دا واورېدل، شاوخوا ته سره وتښتېدل او سردار جان خان اوومه ورځ بیرته احمد شاهي کیمپ ته ځان راورساوه.

په (۱۱۸۴ه. ق.) کال چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د نصر الله میرزا د ځبلو له پاره مشهد ته ولېږدېد او هغه ښارئې کلابند کړ، په دغه وخت کې د تون او طبس حاکم، علیمردان خان د نصر الله میرزا د ورور (نادر میرزا) سره مل سو او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابلې ته راوخوځېد. رسول خان شاغاسي، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د ده مخ نیوي لره مقرر سوی و، ماتې وکړه، څکه نو لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یو دروند پوځ د سردار جان خان او نصیر خان بلوڅ تر اداري لاندې ورولېږه، چې علي مردان خان ئې وواژه او بریالي مشهد ته راستانه سول[۳۰۱].

د مشهد تر سوبې وروسته، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه کندهار ته راستون سو، د (۱۱۸۶ ه. ق.) کال د محرمې په دوولسمه ورځ ئې خپل زوی، شهزاده سکندر د پېښور نائب الحکومه وټاکه او سردار جان خان ئې، چې شل زره لښکر ورسره و، د هغه د مدار المهام او وکیل په حیث ورسره ولېږه. په دغه وخت کې د باجوړ خان میر عالم خان سالارزی و. د میر عالم خان د خودسرۍ له امله د ده او سردار جان خان تر منځ څه اختلاف پېښ سو، چې بیا د څوکنو میا عمر صاحب رحمة الله علیه سره روغ کړل. "دادین" په دغه باب ویلي دي:

دا و تعظیم ته د صاحب سردار جان خان راغلی
که په فریاد ورته مزری د نیستان راغلی
راغی سردار سرداران خود په تکریم د حضور
هم ورسره د باجوړ میر عالم خان راغلی

(تېرهېر شاعران، ۱۵۴مخ)

سردار جان خان تر څو چې شهزاده تیمور سدوزی پاچا کېدئ، هلته و[۳۰۲].

---

[۳۰۱] دا واقعه او د (۱۱۶۴ه. ق.) کال د علي مردان خان واقعه دومره په جزئیاتو کې سره یو ده، چې د یوې واقعې گمان پر کېدای سي (؟).

[۳۰۲] په حیات افغاني (۶۱۱-۶۱۵ مخو) کې لیکلي دي:

شهزاده تیمور سدوزی چې پاچا سو، څو ورځې وروسته ئې شهزاده سکندر او سردار جان خان کندهار ته راوغوښتل. دی چې د شهزاده سکندر او شهزاده پروېز (د کابل نائب الحکومه) په ملګري د تیمورشاه په حضور، لومړی ځل باریاب سو، ونازاوه سو، مګر څو ورځې وروسته ئې زندان ته ولېږه او څه موده وروسته د نورو خوانینو په شفاعت له زندانه را وایسته سو او د نظربند په توګه ئې ژوند کاوه[۳۰۳].

مګر دا خبره نور ځای ما (رشاد) نه ده لیدلې او د زیب تاریخها په لسم فصل کې حسین علي کښلي دي:

د تیمورشاه د پاچهۍ په لومړیو کلو کې چې د بلخ حاکم قبادخان ازبک پورته سو، د تیمورشاه له خوا سردار جانخان د هغه ځبلو ته وګماره سو، خو سردار جان خان چې د قباد ځبل څه ګران کار نه ګاڼه او په ډېر اهمیت ئې نه وه ورته کتلي، پوځ ئې ماته وکړه او پخپله سردار جان خان له څو تنو نورو درانیو سردارانو سره د قباد خان په لاس کښېووت او هغه هم د بندي په توګه وساته.

کله چې د قباد خان رقیب خدای نظر خان د قباد په دغه سوبه خبر سو، پر قباد خان ئې برید وکړ او د خداینظر خان یوه ملګري، د جنګ په میدان کې قباد خان وواژه او د قباد ملګرو ماته وکړه. بلخ د خداینظر خان په لاس ورغی، مګر ده هم سردار جان خان او نور دراني سرداران خوشې نکړل، څو د تیمورشاه له خوا برخوردار خان اڅکزی له یوه جرار پوځه سره، د خداینظر خان ځبلو ته وګماره سو، برخوردار خان چې بلخ ته نژدې سو، له ازبکانو سره ئې جنګ ونښت. په لومړۍ حمله کې خداینظرخان بندي سو او ملګرو ئې په تېښته ځانونه خلاص کړل. برخوردار خان چې بلخ ونیو، سردار جان خان او نور پښتانه سرداران ئې له زندانه راوایستل او سردار جان خان څه موده هلته له برخوردارخان سره پاته سو[۳۰۴].

کله چې تیمورشاه (۱۱۸۶–۱۲۰۷ هـ. ق.) د بهاولپور د یاغي نواب "بهاول خان" د ځبلو له پاره ملتان ته روان سو، سردار جان خان او د هغه مشر زوی کریم خان ئې ورسره بوتلل. بهاول خان چې د تیمور شاه په ورتګ خبر سو، په "دیه راول" ښار کې، چې د ملتان جنوب شرق ته پنځه دېرش کروه لیري واقع دئ، وتښتېد. د تیمورشاه سرلاړ پوځ چې بهاولپور ته روان و، په لار کې ئې دغه ښار ولوټه، مګر بهاولخان یوه بل ښار ته، چې په چول کې واقع و، وتښتېد. تیمورشاه یو تکړه پوځ د سردار مدد خان ساکزي او سردار جان خان په مشرۍ پسې ولېږه، دې پوځ هغه ښار ونیو او بهاول خان و زوی ئې بندیان تیمورشاه ته راوستل. وطن ته د راستنېدلو په لاره کې د سردار جان خان مشر زوی، کریم خان له نهو سوو سپرو سره د "درابڼ"، چې د

په (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال سردار جان خان د اباسین پر ختیځه سیمه باندې د عیسی خېلو نیازیو سیمې ته ولاړ، پر غولبه ئې یوه روپۍ مالیه پر کښېښوله او له هر ملک څخه ئې یو آس د نذرانې په ډول واخیست او د معظم نګر کلا ئې ورانه کړله. د معظم نګر کنډوالې اوس هم د کونډیان په سیمه کې سته.

(۳۰۳) تیمورشاه درانی، ۵۶ مخ، د مجمل التواریخ د ۱۱۷ مخ په حواله.

(۳۰۴) وګ: د زیب تاریخها روسي ژباړه، (۴۱–۴۲) مخونه.

ګنډاپور د لواړو پښتنو سیمه ده، حاکم وټاکه سو او پخپله سردار جان خان له څو زرو سپرو او
څلورو توپو سره بنون ته ولېږه سو، چي د هغه ځای انتظام وکاندي.

سردار جان خان څه موده په بنون کي و او هلته ئې د شاه بزرګ له لور (بي بي) سره، چي د
شیتکو پښتنو خان و، واده وکړ[٣٠٥]. د سردار جان خان لومړی ماینه د اشرف الوزراء شاه ولیخان
خور وه[٣٠٦].

سردار جان خان د بنون پر سیمه باندي دوولس زره روپۍ کالنۍ مالیه کښېښوولې. څه موده
وروسته، چي ئې په دراېن کي زوی (کریم خان) د ګنډاپورو د مشر خان اعظم خان سره د
"سندو[٣٠٧]" د ورکړي په معامله کي جنګ ته اړ سو، دی ئې په مرسته ورغی، ګنډاپوریو ننواتې
وکړه او ده هم خپل پوځونه ځني وخوځول.

تر دې سفر وروسته چي سردار جان خان کندهار ته راورسېد، چا زهر ورکړه او د هغو په اثر
څو ورځي وروسته مړ سو. د وفات کال ئې (۱۱۹۱ هـ. ق.) دئ. قبر ئې په کندهار کي د حضرت جي
بابا رحمة الله علیه زیارت ته څرمه، د لمر خاته خوا ته، د پوپلزو په مشهوره هدیره کي واقع دئ[٣٠٨].

د سردار جان خان د قبر پر شنخته دا بیتونه لیکلي دي:

افسوس ز بیرحمی ایام جفا کیش — بیداد ازین سفله که مهرش همه کین شد
جانخان که سپهرش لقب خان جهان داد — تا نام سپهداری او نقش نگین شد
شد فرش زمین پرتو خورشید جهان تاب — تا مسند سرداری او زیب گزین شد
از برق حسامش جگر کفر ز بس سوخت — خاکستر او صیقل آئینهٔ دین شد
از صیت شجاعت که بآفاق در افگند — از لرزه رخِ هند و ختن لجهٔ چین شد
(حک) گشته چنان ز آب حسامش ورق کفر — کز هند سیاهی بدل خاک دفین شد
بگرفت چو آوازهٔ رزمش دو جهانرا — رستم ز نهیب آب در آغوش زمین شد
بگرفت دم تیغ او آرام چو خورشید — قرنی به غزا چون دل مهرش همه کین شد
ناگه بسرش لشکر بیداد اجل رفت — روحش ز بدن جانب گلزار یقین شد

---

[٣٠٥] شاه بزرګ عیسکی شیتک بنوڅی و، په بازار احمد خان کي اوسېدئ او د تیمورشاه سدوزي د پاچهۍ په اواخرو کي مړ سو.

(صولت افغاني، ٣٤٣ مخ)

[٣٠٦] عماد السعادت، ۴۶ مخ.

[٣٠٧] "سندو" د اعظم خان خور وه، کریم خان ځني وغوښتله، مګر اعظم خان ورنه کړه.

[٣٠٨] تیمورشاه درانی، ۲۲۰ مخ، مګر په زیب تاریخها کي د سردار جان خان د مرګ ځای بلخ ښوول سوی دئ او زیاته کړې ئې ده، چي د ده مړی برخوردار خان اڅکزي کابل ته راورساوه. په دغه اثر کي ئې د مړيني کال هم څه وړاندي لیکلی دئ.

(وګ: د زیب تاریخ ها د روسي ژباړي ۴۲ مخ)

زین داغ مصیبت جگر اهل جهان سوخت
هر کس که شنید از غم او خاک نشین شد
تاریخ وفاتش ز سر آه قضا گفت
"در منزل فردوس بقا جای گزین شد"[۳۰۹]
۱۱۹۱

د سردار جان خان علم پالنه:

په تحایف الاخبار فی ذکر اولیاء الاخیار (د امرتسر د سورج پرکاش مطبعې چاپ) کي الحاج ابو محی الدین مسکین لیکلي دي:

مولوي هدایت الله قادري رحمة الله علیه (۱۱۸۱ هـ. ق. مړ) په کشمیر کي زېږېدلی و او د متداولو علمونو تر حاصلولو وروسته ئې د شاه محمد غوث لاهوري رحمة الله علیه (۱۱۵۲ هـ. ق. مړ) لاس نیوی وکړ، خلافت ئې وموند او په پېښور کي په ارشاد بوخت و. سردار جان خان چي د پېښور والي و، مولوي هدایت الله قادري رحمة الله علیه ته ئې عقیدت پیدا سو. د مولوي هدایت الله له پاره ئې یوه مدرسه او یوه خانقاه په پېښور کي جوړه کړله. مولوي هدایت الله قادري په (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال مړ او په پېښور کي خاورو ته وسپارل سو.

د سردار جان خان ماندیني:

۱. د سردار جان خان لومړۍ ماینه (مېرمن) د اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي خور وه.
(عماد السعادت، ۴۶ مخ)

۲. د سردار جان جان پوپلزي دوهمه ماینه، د سلطان مکرم خان (مقرب خان) ګکهر (۱۱۷۷ هـ. ق. شهید) لور وه. سلطان مکرم خان ګکهر د سلطان معظم خان (۱۱۴۷ هـ. ق. مړ) زوی او د سلطان دلاور خان (۱۱۴۲ هـ. ق. مړ) لمسی دئ[۳۱۰].

۳. د سردار جان خان وروستۍ ماینه، د شاه بزرګ خان بنوڅي لور "بي بي" وه. شاه بزرګ خان د اعظم خان زوی او د احمد خان لمسی و، چي د بنون "بازار احمد خان" ده ته منسوب دئ[۳۱۱].

د سردار جان خان زامن:

د دې مجاهد او غازي سپهسالار دوولس زامن پاته سول[۳۱۲]، چي نومونه ئې دا دي:


---

[۳۰۹] "در منزل فردوس بقا جای گزین شد" = ۱۱۸۹ + سر آه (آه = ۲) = ۱۱۹۱.

[۳۱۰] کی ګوهرنامه، ۲۰۲ مخ.

[۳۱۱] په دغه ځای کي علامه رشاد رحمة الله علیه یو یادابنت کښلی دئ، چي ارتباط ئې نه څرګندېږي، یادابنت داسي دئ: "په (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال، حیات افغاني ۶۲۸ مخ".
(علامه رشاد اکاډیمي)

[۳۱۲] د سردار جان خان یو زوی د (۱۱۶۸ هـ. ق.) کال د نوروز په ورځ زوکړی دئ. سندي شاعر محمد محفوظ سرخوش ئې د زوکړي تاریخي ماده داسي موندلې ده:



سردار جبار خان
عباد الله خان
فتح الله خان
عبد الصمد خان
عيسى خان
د مير هوتک خان مہرمن
د امير محمد خان مور
د عبد الله خان مور
بي بي نيکو
سردار فقير محمد خان
مصري خان
نبنان خان
حبيب الله خان
موسى خان
عبد الرحمن خان
د محمد اياز خان مہرمن
جميل بیگم
د عبد القيوم خان مور
د سعد الله خان مہرمن
سعد الله خان
عنايت الله خان
عزت الله خان
صوفي محمد خان
جنت بیگم
بي بي حليمه
بي بي حوا
فتح محمد خان
تاج محمد خان
پردل خان
دوست محمد خان
محمد جان خان
رحمت الله خان
بوستان خان
شرف بیگم
جوهر بیگم
زليخا
محمد عظيم خان
عبد الواحد خان
بختو د کاکو ناصر خان مہرمن
نور محمد خان
خدايداد خان
نبي خان
غلام محمد خان
حمدي بیگم د جان محمد خان مہرمن
مستوره بیگم د عطا محمد خان مہرمن
ملکي جهان د اعظم خان اڅکزي مہرمن
بيو جان د عبد الله خان مہرمن
ستار خان
غفار خان
آزاد خان
عزيز خان
مظفر خان
احمد خان
بي بي حوا
آزاده
تاج بي بي
خانم جان
نورجهان
د شهزاده خان مہرمن
شاه بي بي
نبي محمد خان
دوست محمد
يسين خان
گدا محمد خان
شفا محمد خان
پردل خان
بي بي صفيه د آزاد خان مہرمن
مُرواريد د عبد الغفور خان مہرمن
طوتيا
فاطو د يوسف خان
قمر النساء د سلطان
دُردانه د سيد حبيب
صاحب جان
صابرو د عطا محمد

۱. سردار کریم خان
۲. سردار عبد الجبار خان
۳. سردار فقیر محمد خان
۴. سردار مصري خان
۵. عباد الله خان
٦. نښان خان
۷. فتح الله خان
۸. حبیب الله خان
۹. عبد الصمد خان
۱۰. موسیٰ خان
۱۱. عیسیٰ خان
۱۲. عبد الرحمن خان

د سردار جان خان پوپلزي تر ټولو مشر زوی سردار کریم خان پوپلزی و. سردار کریم خان تیمورشاه سدوزي له خوا د "درابن"، چي د ګنداپور د لوانو پښتنو سیمه وه، حاکم ټاکل سوی و

په کابل کي میوند جادې ته نژدې د سردار جان خان کوڅه، د دغه مجاهد سپهسالار په نام ده او د ده یادګار دئ. دغه کوڅه د کابل په پنځمه ناحیه کي واقع ده.

د کابل ښار په شپږو دروازو کي یوه دروازه هم د سردار جان خان په نامه ده. دغه دروازه د کابل د ارګ په زاړه بازار کي، د بابه کیداني زیارت ته نژدې واقع ده[۳۱۳].

"باشد آفتاب از صبح نوروز"
۱۱۶۸

[۳۱۳] بالاحصار کابل، ۴/۲ مخ او جغرافیائي قاموس، د کابل بحث، ۲۱۶/۳ مخ.

حاجي جمال خان بارکزی[۳۱۴]

یوولسمي هجري پېړۍ په پای کې د هلمند د تاریخي سیمي د "نادعلي" په کلي کې، د
و د قبیلې یو د روند مشر، د خپل قام مشرتوب پر غاړه درلود، چي حاجي جمال خان نومېدئ
ولس کي وروسته، په حاجي جمال نیکه مشهور سو. د حاجي جمال نیکه د مشرتوب زمانه د
ر په ښار کي د ملي قاید حاجي میرویس خان نیکه رحمة الله علیه په لاس، د یوه ملي حکومت د
س له نېټې سره برابره ده[۳۱۵].

حاجي جمال خان نیکه رحمة الله علیه د حاجي یوسف خان (توپچي باشي) زوی، د محمد سرور خان
ي، د محمد یعقوب خان کړوسی او د اختیار خان کوسی، د هغه محمد نیکه له اولادې څخه
ي د محمدزو د قبیلې مورث اعلی بلل سوی دئ. د دغه محمد نیکه قبر د کندهار په ارغسان
ئ. د حاجي جمال خان نیکه رحمة الله علیه د زېږېدو کال مورخینو (۱۰۹۸ه. ق) (= ۱۶۸۶ع.) ګڼلی
ر مړینه ئې د ستر ټولواک، لوی فاتح، پښتون غازي اعلیحضرت احمدشاه بابا رحمة الله علیه
۱-۱۱۸۶ه. ق.) تر وفات دوه کاله وړاندي، یعني په (۱۱۸۴ه. ق.) (= ۱۷۷۰ع.) کال پېښه
مړیني پر وخت ئې عمر په قمري حساب (۸۶) کاله و، چي په میلادي محاسبه کي (۸۴) کاله
. د حاجي جمال خان نیکه رحمة الله علیه قبر د کندهار د احمدشاهي ښار جنوب ته، د ذاکر د کلي په
ب لویدیځ کي، د یوه کوچني غرګي په لمن کي واقع دئ.

حاجي جمال خان له هغو څورلسو تنو ابدالي مشرانو څخه و، چي افشار نادر ورته د مشرتوب
رګه کتلي وه. د پټهان نومي کتاب په ۳۵۱ مخ کي کښلي دي:

ابدالیو پښتنو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پلار محمد زمان سلطان رحمة الله علیه او حاجي جمال
بارکزي رحمة الله علیه په مشرۍ مشهد د ایرانیانو څخه ونیو. دا هغه وخت و، چي نادر افشار د ایران
وب کي، د غلجیو سره په جنګ اخته و.

د (۱۱۶۱ ه.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي پر پنځلسمه، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره
لو پښتني لښکرو د سرهند تر نیولو وروسته، د هندوستاني شهزاده احمدشاه مغل او وزیر
لک قمرالدین خان سره جنګ کاوه، په دغه جنګ کي ایسر سنګه سوایي له ډېرو راجپوتو
مغل پاچا محمدشاه په طرفداري ګډون کړی و.
وائي په دغه جنګ کي یوه ورځ ایسر سنګه سوایي له خپلو راجپوتو لښکرو سره ټولو

حاجي جمال خان په باب د دې لیکني ځیني برخي، درانه استاد محمد معصوم هوتک برابري کړي دي.
(علامه رشاد اکاډیمي)
شل مقالې، علامه حبیبي صاحب، ۵۳/۴ مخ.

زعفراني جامې اغوستي وې. جنګ ته راووتل او د راجپوتو د تاريخي دود له مخي د دې معنی دا ده. چي نن به موږ يا ځان وژنو يا به بری ګټو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه، چي پښتني لښکري د هندوستان د پوځونو په مقابل کي د صف جنګ له پاره ځای پر ځای کړې، د ايسر سنګه په مقابل کي ئې حاجي جمال خان بارکزي او د ده پوځ ته ځای ورکړ. ايسر سنګه او لښکرو ئې د حاجي جمال خان د پوځ په لومړی حمله داسي ميدان پرېښوو لکه بڼکه چي د تند باد په مخ کي ځغلي او په تېښته تر ډهلي تېر سو او جې پور ئې مخ را وګرزاوه.

دا پېښه حافظ مرغُزي په احمد شاهي شهنامه کي داسي بيان کړې دئ:

په يو لور حاجي جمال — چي مشهور وو په رجال
دی ولاړ په جنګ تيار — په ميدان د انتظار
که په فوج شم اندرون — درست ميدان شي سره خون
چه خسرو ته شه معلوم — تمام راز چه وو مکتوم
ښه ئې وکه دا بيان — مرغلري تري قربان
چه حاجي دي شي روان — و دې فوج ته په ميدان
په ميدان د جنګ جوی — ښه پيران دي که سرخروی
چه راجا د جينګر — زعفراني جامې په سر
تمام فوج ئې نمودار — په مصاف د جنګ تيار
په ميدان دي زير و زور که — له دې ځايه دی بدر که
چه حاجي په جنګ تيار — په ميدان د کارزار
چست چالاک شه په دا جنګ — تر سر تېر شه په دا ننګ
ښه ځوانان شو په دا خيز — مرګ په چا دندان که تيز
په کمان شمشير خدنګ شو — په نيزه خنجر تفنګ شو
په ميدان شه چقا چاق — د چا جفت شي د چا طاق
د چا لاس د چا ګريوان — کشت ګير شو په ميدان
په مصاف خون افشاني شوه — تمام مزکه زعفراني شوه
چه بهادر وو په دا جنګ — په چراده؟ د مرګ شو رنګ
د حاجي سپاهيان په شور شو — مست خوني فيلان په زور شو
په ميدان کي سراسر — دا ګوار د جينګر
و يو لور ته شو روان — په مخ راغله د طوفان
چه طوفان وو د بلا — د دوی ماته شوه پرې ملا
د جنګ ځای شه ګرد غبار — چه روان شو دا ګوار
و جينګر ته شو روان — خاورې لوستې په دا ځان
په دوی پروت وو ګرد غبار — جوړ ديوان وو نمودار
که ئې سلاح که اس شمشير — دا ئې شو له مرګه تېر

په دا هند کښې شو بد نام پرې لعنت که خاص و عام

(شاهنامه احمدشاه ابدالي، د پېښور چاپ، ۷۴-۷۵ مخونه)

کله چې په کندهار کې، د شير سرخ په جرګه کې د نوي افغانستان د زعامت پرسربانديخبرې کېدلې، حاجي جمال خان نيکه رحمة الله عليه لومړی شخص و، چې د احمد خان (وروسته احمدشاه بابا رحمة الله عليه) زعامت ئې ومانه او د بيعت لاس ئې ورکړ. د ده په پيروی، د جرګې نورو برخه والو هم احمد خان د خپل مشر په توګه ومانه. دی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پاچهی په وختو کې هم زيات معتبر، درونداو جنګيالی سردار و.

په دا ځنګ حاجي جمال چه دانا و پر قتال
شه دسته په جنګ تيار په دا لور د شاه لمار
چه هر يو د ميدان شير و په ميدان په جنګ دلير و

(شاهنامه احمدشاه ابدالي، د پېښور چاپ، ۵۴ مخ)

په حيات افغاني کې کښلي دي:

حاجي جمال خان بارکزی د داغستان په جنګ کې ګډون کړی و.

حاجي جمال خان نيکه رحمة الله عليه دوې ښځې کړې وې. يوه ئې بارکزۍ او بله ئې غلجۍ وه. له دې دوو ښځو څخه ئې څلور زامن او يوه لور پاته سول. زامن ئې هارون خان (چې پارسي ديوان هم لري)، پاينده خان، رحيمداد خان او بهادر خان نومېدل. بهادر خان فقير مشربه سړی و، له دنيايي چارو سره ئې جوړه نه وه. په دوی کې رحيمداد خان ته د پلار تر مړيني وروسته، د قوم مشري ورسېده، خو د دې ستر کار له پاره ئې وړتيا نه درلوده، ځکه نو د قوم د مشرتوب بګړۍ د ده بل سکه ورور پاينده خان ته ورسېدله.

پاينده خان ته د تيمورشاه سدوزي په پاچاهۍ کې لوی منصبونه ورکړه سوي وو. د آزاد خان او کشمير په آرامولو کې او د مهمند و لالپوري څخه د تيمور شاه سدوزي د زوی شهزاده عباس د تښتېدلو په مورد کې ئې زيات خدمتونه کړي دي. په (۱۱۸۶ ه.ق.) کې ئې د "سرفراز خان" لقب وګټی او په (۱۱۹۰ ه.ق.) کې د بنو، کويټې شال د حاکم په حيث مقرر سو، چې د هغه ځای د ماليا تو تر اخيستلو وروسته، بيرته کابل ته راغی او څه موده ئې په هرات او بلخ کې امن او آرامي جوړه کړه.

د نوای معارک په (۹ مخ) کې داسي راغلي دي:

"چون تيمورشاه روز يکشنبه ۷ شوال ۱۲۰۷ در کابل از جهان رفت و شاه زمان پسر او بجايش نشست. رحمت الله خان بن فتح الله خان کامران خيلی سدوزائی را به خطاب معتمد الدوله و لقب "وفادار خان" رتبه وزارت داد و پاينده خان از دربار شاهی دور شد و از مراتب اعتبار افتاد. در قلعهٔ ادی کنار هلمند متواری گرديد و خفيتاً در بر انداختن سلطنت زمان شاه کوشيد. چون شاه به قندهار آمد سردار پاينده خان امرای دربار مانند اسلام خان ضبط بيگی و حکمت خان سرکانی و محمد عظيم خان بن ميرهزار الکوزائی و امير اصلان خان و جعفر خان

جوان شیر و یوسف خان خواجه سرا و میرزا شریف منشی و نور محمد خان بابری را بخود ... ساخت تا وزیر رحمت الله خان را قتل نموده و شاه زمان را دستگیر و بجایش شهزاده ... الملک را به تخت شاهی نشانند. ولی میرزا شریف خان منشی این دسیسه را قبلاً بحضور ... شاه خبر داد. شاه تمام این اشخاص را خواسته و در ارگ قندهار بکشت. (۱۳ رمضان ۱۲... ه.ق.) (= ۱۷۹۹ ع.) نعش سردار پاینده خان در مقبره پدرش نزدیک ذاکر شریف ... قندهار دفن است".

د ده زوی سردار مهردل خان مشرقي د دغي حادثې تاريخ په دوه بيتو کي، چي د ... ليکل سوی دئ. داسي راوړی:

زپا فتاد چو بر خاک سر فراز جهان
بلند ناله و افغان شد از همه افغان
بجستم از خرد و عقل سال تاریخش
جواب داد که "قل هم شهادة الرحمن"
(۱۲۱۴)

د حاجي جمال خان نيکه رحمة الله عليه زامن په افغانيت او پښتونواله نازېدل، د علم او عرفان ... مينه درلوده، د دوی له جملې څخه بهادر خان يو متقي او متصوف سړی و. دی د سردار پاينده خ... له خوا د ګرش حکمران و.

هارون خان د افغانانو د کورني اختلافونو څخه ډېر تکليف ليدلی و او ځان په څلوېښت کل... سن کي زوړ بولي، لکه چي وايي:

پیر شد هارون ز جور روزگار
ورنه در چهل سالگی کس پیر نیست

بل ځای وايي:

دلم بگرفته هارون بس بملک قندهار از غم
نسیم نوبهار کابل و کشمیر می یابد

سردار هارون خان په پښتونواله زيات فخر کوي، لکه چي وايي:

بی فغانم چو بلبل تصویر
گر چه هارون ز نسل افغانیم
لب بسته ام ز افغان از بیم آن ستمگر
هارون اگر چه هستم از نسل خاص افغان
گر تو از هارون نشان و نسل میجوی بیا
آن گل بیخار از گلدسته افغان بود

حاجي جمال خان نيکه رحمة الله عليه يو ورور درلود، چي "زبير خان" نومېدئ.

شهزاده تیمور سدوزی

شهزاده تیمور سدوزی، چي تر پاچا کېدلو وروسته، په تیمورشاه سره شهرت لري، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مشر زوی دئ[۳۱۶]. د ده د زوکړي ځای د ایران مازندران بلل سوی دئ، ولي چي افشار نادر له (۱۱۵۰هـ. ق.) کال څخه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خپلي کورنۍ سره مازندران ته فراره کړی و. د زوکړي د کال په باب ئې اختلاف دئ، د پښتنو د تاریخ په ۱۳۷/۱ مخ کي (۱۷۴۶ع.) کال ښوول سوی دئ، چي له (۱۱۵۹هـ. ق.) کال سره برابرېږي.

عزیز الدین وکیلي پوپلزي د تیمورشاه دراني د کتاب په اوولسم مخ کي لیکلي دي، چي الفنستون هم د شهزاده تیمور سدوزي د زوکړي کال (۱۷۴۶ع.) ښوولی دئ، مگر مولف (عزیز الدین وکیلي) د ده خبره سهي (صحیحه) نه ده بللې او پخپله ئې د تیمورشاه د زوکړي کال (۱۱۵۵هـ. ق.) ښوولی دئ، اما حواله ئې نه ده ورکړې، چي ده دا تاریخ له کومه موندلی دئ. مگر ما (رشاد) چي د هراتي سید په جونګ کي د تیمورشاه سدوزي د زوکړي تاریخ ولید، هلته (۱۱۶۰هـ. ق.) کال ضبط و او د سند له پاره ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دربار د منشي باشي میرزا سید عبد الهادي خان موسوي "عشرت"، دا غزل راوړې وه:

جهان شهریاري ز کتم عدم — قدم زد بصحرای هستی ازان
که بخشد ضیا عالم از چهر خویش — چو تابنده خورشید بر آسمان
برای نثارش سپهر برین — فرو ریخت سیم و زر اختران
سزد گر شه بحر و بر برنهد — سر خویشتن را بر این استان
ز یمن قدومش شد آراسته — عذار جهان چون رخ گلرخان
ز انوار پیشانیش ظاهر است — که گردد چو خورشید گیتی ستان
بیک مصرع تام تاریخ او — ز پیر خرد جستجو شد نهان

---

[۳۱۶] د پښتنو د تاریخ په ۱۳۷/۱ مخ کي شهزاده سلیمان تر ده مشر ښوول سوی دئ او د "Ahmad Shah Durrani" په ۲۶۹ مخ کي هم شهزاده سلیمان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر ټولو مشر زوی بلل سوی دئ، مگر دا خبره ځکه سهي نه ښکاري، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د دربار منشي باشي سید عبد الهادي خان عشرت په هغه قصیده کي، چي د شهزاده سلیمان د واده په مناسبت ئې ویلې ده، شهزاده سلیمان د احمد شاه بابا رحمة الله علیه مِنځوی زوی بللی دئ:

ز بهر اوسطی فرزند دلبند
قمر سیما نگاری گشت خواهان

بگفت جهانگیریش ظهر ست "بگوييد تيمور صاحبقران"
۱۱۶۰

و دا هم رښتیا ده، چې د "بگوييد تيمور صاحبقران" له جملې څخه د جمل په حساب
(۱۱۶۰) راوزي. البته که "بگوييد" کلمه لکه څنګه چې معموله هم ده "بګو ئيد" ولوستل
سي. نو بيا (۱۱۵۱ هـ. ق.) کال څني جوړېږي[۳۱۷] او په (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال د هرات د نائب
الحکومه په حيث سره د شهزاده تيمور مقرري هم د دې وروستي نظريې ملاتړ کوي (؟).
د خراسان د مجلې په ۲۸ ګڼه (۲۶ مخ) کې د تیمورشاه سدوزي د زوکړې تاريخ د (۱۱۶۰
هـ. ق.) کال د محرمې مياشت ده، مګر حوالہ ئې نسته.

شهزاده تيمور په دغه وخت (۱۱۵۴–۱۱۶۰ هـ. ق.) کې، چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه
د فشرندر (۱۱۴۸–۱۱۶۰ هـ. ق.) سرېسا ول و، د خپلې مور او کورنۍ سره له مازندرانه څخه
د فشرندر وروستي پايتخت، مشهد ته راغی او يا احتمالاً دلته وزېږېد.

شهزاده تيمور تر (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال پوري چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه لومړی پلا
مشهد نيوئ، له خپلې مور او کورنۍ سره په مشهد کې و. لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چې له
مشهده څخه هرات ته راستون سو. خپله کورنۍ ئې ورسره راوستله او تيمورشاه ئې د هرات
نائب الحکومه وټاکه. تيمورشاه غالباً چې تر (۱۱۷۰ هـ. ق.) کاله پوري پر دغه وظيفه پاته و.
د (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال د رجب په ۱۲ مه د بارکزو د مشر خان حاجي جمال خان د زوی عبد الحبيب
خان زوم سو[۳۱۸].

په (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پنجاب ونيو او مير معين الملک (مير
منو) ئې له خپلې خوا د پنجاب حاکم مقرر کړ، وطن ته د راستنېدلو په وخت کې نوموړي معين
الملک خپله لور "عمده بيګمه" د شهزاده تيمور په نامه کړه، مګر دا ښځه د شهزاده تيمور پر
کور راتنه نه وتله[۳۱۹].

په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه څلرمه پلا هندوستان ته ولاړ،
تيمورشاه ئې هم له ځانه سره بوت او کوم سرلاړ پوځ چې ئې د سردار جانخان په مشرتوب، د
جالندهر دوآبې د حاکم، آدينه بيګ خان د ځپلو له پاره وګماره، شهزاده تيمور ئې هم ورسره کړ.
شهزاده تيمور د پنجاب په حسن ابدال کې واړول او سردار جان خان د شاوخوا سيمو د ياغيانو
په ځپلو بوخت سو.

د ډهلي تر فتحې وروسته د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د درېيمې خور په څلرويشتمه ورځ (=۱۴

---

[۳۱۷] (بګوييد = ۵۲) - (بګو ئيد = ۴۳) تفاوت = (۹)

[۳۱۸] د تاريخ احمدشاهي په ۱۱۷۷ مخ او د تيمورشاه دراني په ۱۹ مخ کې تيمورشاه د حاجي جمال خان زوم بلل سوی
دئ. مګر دا خبره سمه نه ده.

[۳۱۹] د "Ahmad Shah Durrani" ۱۲۴ مخ.

فبروري ۱۷۵۷ ع.) ئې [۳۲۰] د ډهلي د پاچا، دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هـ. ق.) د لور [۳۲۱] شهزادۍ ګوهر نسا بیګمې [۳۲۲] (۱۲۰۲ هـ. ق. مړه) سره واده وسو او د سرهند سیمه نوموړې شهزادۍ ته په پورني کي ورکړل سوه.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د رجب په میاشت کي له ډهلي څخه وطن ته ستنېدئ، د سرلاړ پوځ مشرتوب ئې بیا شهزاده تیمور او سردار جان خان ته وسپاره. له لاهوره

---

(۳۲۰) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۶۹ مخ.

(۳۲۱) د شاه عالم نامې په ۲۸ مخ، تاریخ عالمګیر ثاني [102 A – 102 B] مخونه، Ahmad Shah Durrani، ۱۶۹ مخ. د احمدشاه بابا د کتاب په ۲۳۱ مخ او د تیمورشاه دراني په ۲۰ مخ کي، چي د شهزاده تیمور دغه ماندینه د عالمګیر ورېره بلل سوې ده، داسي یوه اشتباه ده، چي د تیمورشاه دراني د کتاب د ۲۰ مخ دیارلسمه او یوویشتمه لیکه او د بابر په هدیره کي ئې د ګوهر نسا بیګمې د قبر شنخته تردید کوي.

ګوهرنسا بیګم د کابل په باغ بابر کي د بابر د قبر مغرب ته ښخه ده، پر قبر ئې کښلي دي:

"ګوهر نسا بیګمه چي د دوهم عالمګیر لور وه د (۱۲۰۲ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په ۲۷ مړه سوه".

(۳۲۲) د دې شهزادۍ نوم د "Ahmad Shah Durrani" په ۱۶۹ مخ کي "ګوهر افروز بانو بیګم" ضبط دئ او زیاته سوې ده، چي "محمدي بیګمه" او "زهرا بیګمه" هم بلله کېدله. د شاه عالم نامې په ۲۸ مخ کي ئې نوم "ګوهر آرا بیګمه" او د تیمورشاه دراني په ۲۰ مخ کي "نواب ګوهر نسا بیګم" ضبط دئ. پر شنخته ئې هم ګوهر نسا کښلی دئ.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مغلي ماینې نوم "صاحب زمان؟" دئ، چي د محمدشاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) لور وه. مور ئې "ملکه جهان" وه. (قاموس المشاهیر، ۳۵ مخ) محمد شاه مغل د خجسته اختر زوی د (۱۱۱۴ هـ.ق.) کال د ربیع الاول (لومړی خور) په درویشتمه د جمعې په ورځ، د غزني په شاوخوا کي زېږېدلی دئ، نیکه ئې شهزاده محمد معظم (چي وروسته بیا په شاه عالم بهادرشاه مشهور سو او د ۱۱۱۸ هـ. ق. کال د لوی اختر په ... پاچا او د ۱۱۲۴ هـ. ق. د محرمي په ۲۱ ومړ) په دغه وخت کي د خپل پلار اورنګزېب عالمګیر له خوا څخه د کابل او پېښور والي و. د محمد شاه مور "فخر النسا قدسیه بیګم" هم د دغو سیمو وه، (بیان واقع، ۲۳۶ مخ).

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ماینه د شهزاده میرزا احمد، چي د پلار تر مرګ وروسته احمدشاه سو، میرېزه خورده. د میرزا احمد (احمدشاه مغل) مور "اودهم بایي" ده، چي د "نواب قدسیه صاحبة الزماني" لقب ئې درلود.

د محمدشاه مغل بله ماینه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ماینې مور، د جلال الدین فرخسیر بن عظیم الشان بن بهادرشاه شاه عالم بن اورنګ زېب عالمګیر لور ده. "مهد علیا نواب ملکه الزمانیه" ئې لقب و، (بیان واقع، ۲۳۸ مخ).

د مآثر الامراء په ۸۴۶/۲ مخ کي د محمد شاه د ماینې لقب "ملکه زمانیه" ښوول سوی دئ، چي د فرخ سیر لور وه او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه خواښې سوله.

عزیز الدین وکیلي پوپلزي د "احمد شاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان" په ۵۴۳ مخ کي د محمد شاه د لور نوم "حضرت بیګمه" راوړی دئ او د دې مور ئې د فرخ سیر لور "صاحبه محل" بللې ده، چي د عظیم الشان لمسی، د بهادرشاه شاه عالم کوسی او د اورنګزېب کودی وه.

د عماد السعادت په ۸۲ مخ کي لیکلي دي:

"شاه والاجاه دختر حضرت فردوس آرام ګاه (محمد شاه) که حضرت بیګم از بطن "صاحبه محل" صاحبه بحبالهٔ نکاح خود درآورده و شاهزاده عالمیان "مهد علیا" بنت حضرت عالمګیر ثاني را به پسر خود تیمورشاه عقد بسته". مګر عماد السعادت دا دونه د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال په واقعاتو کي راوړي دي، چي سهي نه دي.

د تیمورشاه او عالمګیر ثاني د لور د واده موضوع، د زیب تاریخها د روسي ژباړې په ۱۵ مخ کي، تر دې عنوان لاندې راغلې ده:

"دختر عالمګیر را ازبرای تیمورشاه بزني خواستن و عهد و پیمان بستن".

ځکه چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه وطن ته ستون سو، د لاهور حکومت ئې شهزاده تیمور ته ورکړ او سردار جان خان ئې د مدار المهام په حیث ورسره پرېښو. شهزاده تیمور یو کال د پنجاب نائب الحکومګي وکړه، پای ته د مرهټو او سکهانو او آدینه بېګ مشترکو پوځو پسي واخیست او له سردار جان خان سره د امین آباد، پېښور او کابل له لاري، کندهار ته ولاړ.

په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پنځمه پلا هندوستان ته ولاړ، شهزاده تیمور ورسره و او د پاني پت په مشهور او تاریخي جنګ کي شامل و. تر دې فتحي وروسته بیرته خپل حکومت (هرات) ته ولاړ.

په (۱۱۸۳هـ. ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مشهد ته د هرات له لاري ولاړ، تیمورشاه ورسره و. د مشهد تر کلابندۍ او روغي وروسته، شاهرخ خپله لور "ګوهرشاد بېګمه" تیمور ته ورکړه او شهزاده له پلاره سره بیرته هرات ته راستون سو.

په (۱۱۸۶هـ. ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په کندهار کي ومړ او شهزاده سلیمان ئې ځو ورځي پر تخت کښېناست، شهزاده تیمور له هراته ځکه د پاچهۍ د نیولو په غرض، مخ پر کندهار راوخوځېد. ورور ئې بې جنګه ورته تسلیم سو او شهزاده تیمور، د تیمورشاه په نامه د کندهار پر تخت کښېناست. پخپل مهر کي ئې دا بیت وکینده:

علم شد از عنایت الهی
بعالم دولت تیمورشاهی

او پر سکه ئې دا بیت و:

چرخ می آرد طلا و نقره از خورشید و ماه
تا زند بر چهره نقش سکه تیمورشاه

د تیمورشاه سدوزي په باب د شهزادګۍ په وختو کي، حبیب الله خلیل شاعر، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر صفت وروسته ویلي دي:

بیا میرزا چي شهزاده دئ — نېک فرزنده نېک دیده دئ
دی له ځایه فهمیده دئ — آه ارمان دئ کندهاره!
دی له هر چا بې پروا دئ — چي د پلار هرګور نیکخواه دئ
د دښمن په سر بلا دئ — آه ارمان دئ کندهاره!
زه دعا ډېره کومه — په هر ځای ئې ښه ستایمه
چي رتبه ئې شي قایمه — آه ارمان دئ کندهاره!
یا اله العالمینه — و یا خیر الناصرینه
په فقراوو ئې کړې مینه — آه ارمان دئ کندهاره!

(د دیوان ۵۱ مخ)

د تیمورشاه سدوزي د پاچهۍ په وختو کي اسماعیل الحسیني الجامي بن محمود الحسیني ویلي دي:

بادشاه بحر و بر، لشکر کش ایران و هند
طالع و اقبال و دولت در جبینش آشکار
درة التاج خلافت، ظل حق تیمورشاه
معدن جود و سخاوت، صاحب علم و وقار
از سخا و بذل و جودش، میشود حاتم خجل
فتح شد از تیغ تیزش، کشور ایران دیار

فروغي د تیمورشاه سدوزي په ستاینه کي ویلي دي:

در روز رزم هر که فدای تو ساخت جان
دایم غریق رحمت آمرزگار باد
یا رب ممالک تو ز حسن سلوک تو
پیوسته چون محاسن تو بیشمار باد
یا رب بنای دولت تو در جهان مدام
همچون بنای همت تو استوار باد

د تیمورشاه سدوزي په باب د عبرتنامې په ۲۱۸/۱ مخ کي لیکلي دي:

"از آنجا که شهزاده تیمور خیلی نیک ذات بود بناً علیه غور پرداخت رعایای لاهور بسیار می نمود. چون هر یکی را از کافۀ انام بدربار شاهزاده دخل دست نمیداد و بی وساطت غیری عرض احوال دادخواه بسمع شاهزاده نمیرسید مشاراً الیه بر دروازه تدبیر جرس بندی فرمود. هر کسی که از دادخواهان می آمد جرس را می جنبانید فی الفور بداد و مطلب فائز میگردید".

د تیمورشاه سدوزي دېوان:

د تیمورشاه سدوزي څخه یو دېوان پاته دئ، په دغه دېوان کي درې غزلي پښتو دي او د پارسي غزلو شمېر ئې څلورو سوو ته رسېږي. د دېوان په پای کي رباعیات راغلي دي. دېوان له او و خطي نسخو څخه عزیز الدین وکیلي پوپلزي ترتیب کړی او په (۱۳۵۶ هـ. ش.) کال په کابل کي چاپ سوی دئ. د ده په وخت کي د شاعرۍ بازار تود و، ده پخپله ویلي دي:

میشود موزون شه تیمور حرف عام و خاص
شد رواج شعر از بس عام در ایام تو

تیمورشاه د خپل شعر په باب داسي وايي:

از شوق شعر تو شه تیمور بلبلان
ترکیب آشیان بسرای تو بسته اند

تیمورشاه از پی تحسین شعر تو
ورد زبان خلق جهان گفتگوی تست

د تیمورشاه سدوزي د دېوان یوه خطي نسخه د تاشکند د ختیځ پوهني د انستیتوت پ
کتابتون کي خوندي ده، دغه نسخه د اتالیق دانیال د زوی، سلطان مراد بی د امارت په وختو کي
په کابل کي لیکل سوې ده. کاتب ئې د میرزا محمد ناصر منشي زوی، میرزا حاجي محمد دئ،
چي د (۱۲۰۷ هـ. ق.) کال په لومړۍ خور کي ئې له کښلو فارغ سوی دئ. تر دغه استنساخ شپږ
میاشتي وروسته، تیمورشاه مړ سوی دئ. د ده د دېوان د دغه خطي نسخې پای ته په (۱۱) مخونو
کي پښتو اشعار راغلي دي، نور اشعار ئې پارسي دي. بله نسخه ئې، چي په (۱۳۰۵ هـ. ق.) کال
ابراهیم نومي لیکلې ده، د دوشنبې په کتابتون کي خوندي ده.

تیمورشاه سدوزي یوویشت (۲۱) کاله پاچهي وکړه او په (۱۲۰۷ هـ. ق.) کال د شوال په
میاشت کي مړ او د کابل په چهار باغ کي ښخ کړه سو. د ده د مرګ تاریخي ماده "تیمور شه
بمرد" (= ۱۲۰۷) ده. د دې پاچا په وختو کي د لوی افغانستان پایتخت له کندهاره څخه کابل
ته نقل سو.

د تیمورشاه ماینې:

۱. ...
۲. د تیمورشاه سدوزي دوهمه ماینه د عالمګیر ثاني لور وه.
۳. د تیمورشاه بله ماینه د نصیر خان بلوڅ وریره[۳۲۳] وه.
۴. یوه ماینه ئې د حاجي جمال خان نیکه لمسۍ[۳۲۴] وه (؟).
۵. بله ماندینه ئې "ګوهرشاده" د شاهرخ میرزا لوریا لمسۍ وه (؟).

---

[۳۲۳] تاریخ بلوچستان، ګل خان نصیر، ۱/۱۱۵ مخ.
[۳۲۴] د تاریخ احمد شاهي په ۲/۱۱۷۷ مخ کي کښلي دي، چي د (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال د رجب د میاشتي په دوولسمه، د
حاجي جمال خان بارکزي د زوی عبد الحبیب خان د لور سره د تیمورشاه واده وسو (؟).

حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیځ(۳۲۵)

مکرم الدوله، حافظ الملک، بهادر نصیر جنګ حافظ رحمت خان د ښالم خان (شاه عالم) زوی، د موتي بابا رحمة الله علیه (محمود خان) لمسی او د شیخ شهاب الدین (چي په کوټه(۳۲۶) بابا رحمة الله علیه شهرت لري) کړوسی و. د ده قرآن شریف په یاد و، ځکه نو حافظ باله کېده(۳۲۷).

حافظ رحمت خان د دوولسمي هجري سدۍ یو د روند، پټمن او ننګیالی پښتون تېر سوی دئ. د ده کارنامې له روهیلکهنډ سره اړیکی لري، روهیلکهنډ د ډهلي په شمال او د همالیې د غره په جنوب کي پروت دئ.

دا د روند پښتون د بړیڅو قبیلې ته منسوب دئ، په بړیڅو کي بدل زی او په بدل زو کي کوټه خېل دئ. د حافظ رحمت خان کورنۍ د یوسفزو او مندړو پیرخانه وه، ورنیکه (غور نیکه) ئې کوټه بابا (شیخ شهاب الدین رحمة الله علیه) او نیکه ئې موتي بابا رحمة الله علیه د کشف او کرامت تښتنان

---

(۳۲۵) ښاغلي الله بخش یوسفي د یوسفزایي پټهان په (۶۱۳ مخ) او عقاب خټک د تاریخ خټک په (۴۴ مخ) کي نواب حافظ رحمت خان یوسفزی بللی دئ، خو دا یوه څرګنده تېروتنه ده. د سلطان التواریخ په ۱۱۰ مخ، د عماد السعادت په ۴۰ مخ، د حیات حافظ رحمت خان په ۷ مخ، د دور اپرېدي د تاریخ روهیلکهنډ په ۲۳ مخ، د ډاکټر مصطفی نظامي د تاریخ روهیلکهنډ په ۱۷ مخ، د شوکت افغاني د ۲۵۱/۲ مخ، په ګلستان رحمت او نورو آثارو کي حافظ رحمت خان په ختټه بړیڅی ښوول سوی دئ. سربېره پر دغو ماخذونو پخپله حافظ رحمت خان هم د خپل تالیف "خلاصة الانساب" په سریزه کي ځان بدل زی بړیڅی ښوولی دئ، ده لیکلي دي:

"بعد از حمد احد، درود بر احمد میگوید، بندهٔ عاصي پر معاصي امیدوار مغفرت حافظ رحمت ابن شاه عالم خان کوټه خېل بدلزائي بړیڅی سړبنی غفر الله تعالی ذنوبه ...".

(۳۲۶) د رای مالک زوی زین سنګهـ (زخمي) لکهنوي بریلوي په خپل کتاب سلطان التواریخ کي، چي په (۱۲۵۸ هـ. ق.) کال ئې تالیف کړی دئ (په ۱۱۰ مخ کي) کښلي دي: شیخ شهاب الدین په شیخ "کټې" مشهور و، د "کټې" کلمې حرکات او سکنات په سلطان التواریخ کي داسي ضبط دي:

"کټې: بکاف تازی مفتوح و تای هندی مشدد و یای مجهول افغانی".

(۳۲۷) د حافظ رحمت خان د مرګ تاریخي ماده هم کوم اردو ژبي شاعر "حافظ کلام حق (= ۱۱۸۸)" موندلې او ویلي ئې دي:

حافظ که جو رحمت مین و مستغرق هے   اس کا غـم مرګ سے دل اپنا شـق هے
از بس که وه حـافظ کلام حــق تها   تاریـخ بهے "حـافظ کـلام حــق" هے

پیر معظم شاه هم د تواریخ حافظ رحمت خاني په پای کي کښلي دي:

نــور په حـــکم مـا د خــان
چــي حـــافظ و د قـــرآن

وه او په قادریه سلسله کي ئې کسب کړی و او د خپلو وختو د ارشاد او تلقین تښتنان وه، د سیمي خلک ئې زیارتو ته په ډېر ارادت ورتلل او د دوی په روی به ئې له لویه خدایه څخه مرادونه غوښتل.

کوټه بابا (شیخ شهاب الدین رحمة الله علیه) او کورنی ئې د کندهار په ښوراوک کي اوسېدل، له دغه ځایه څخه شیخ د پېښور سیمي ته ولاړ او هلته لومړی د اټک په شاوخوا او بیا په لنګرکوټ[۳۲۸] کي مېشت سو. یوسفزي او مندړ ئې وګروهېدل، وروسته له څه وخته د اباسین پوري خوا، په چچ هزاره کي ومړ او په "شاهي ډېر" کي ښخ کړه سو، هدیره ئې اوڅاره ده او خلک ئې زیارت ته ورځي[۳۲۹].

ما (رشاد) د هریپور او ایبټ آباد تر منځ په سفر کي له مولانا عبد القادر څخه واروېدل:

"دلته د کوټه بابا په نامه یو زیارت سته".

ده لاس د لاري لویدیځي خوا ته ونیو او هلته ئې د مشوانیو د غره لمني ته اشاره وکړله.

د شیخ شهاب الدین رحمة الله علیه درې زامن پاته سول، مشر ئې "پای خان"، منځوی ئې "موتي خان" (محمود خان) او کشر ئې "آدم خان" نومېد.

موتي بابا او آدم خان له یوې موره وو.

د شیخ شهاب الدین زامنو ته یوسفزو او مندړو په درنه سترګه کتل. په مندړو کي د کمالزو سردارانو خوینبۍ ورسره وکړې او هلته ئې په ډېر عزت او درناوي ژوند تېراوه[۳۳۰].

د پلار ځای منځوي زوی، موتي بابا رحمة الله علیه ته، چي یو عارف او سالک ستانه و، ورسېد. موتي بابا په "تورو شهامت پور" کي واوسېد او هلته ومړ. تورو او شهامت پور د پېښور په مردان سیمه کي دوه کلي دي، چي کلپانۍ خوړ ئې په منځ کي تېرېږي او له مردانه څخه څلور میله لیري پراته دي[۳۳۱].

د موتي بابا رحمة الله علیه یو وصلي او اووه صلبي زامن پاته سول. وصلي زوی (متبنّٰی) ئې

---

[۳۲۸] د دغه ځای نوم پخوا لنګر و، د اورنګزیب مغل (۱۰٦٨–۱۱۱٨ هـ. ق.) په وختو کي د یوسفزیو د ځبلو له پاره دلته یوه کلا ودانه کړه سوه او نوم ئې لنګرکوټ کېښېښووه سو.

په ګلستان رحمت کي لیکلي دي: زموږ نیکه ګان له ښوراوک او پښینه راغلي دي. شیخ شهاب الدین لنګرکوټ ته راغی، دلته نور بریځان لکه چوپان زي، ملېزي، ملاخېل او دولت خېل هم راغلي وو.

د شوکت افغاني په ۲۵۱/۱ مخ کي لیکلي دي؛ د شیخ شهاب الدین پلار دولت خان نومېد، چي بدلزی بریځی و. بدلزي د اوتغ یوه څانګه ده. د دغه کتاب په ۲۵۳ مخ کي لیکلي دي: شهاب الدین خان لنګرکوټ ته راغی، دلته ئې واده وکړ او دلته مېشت سو. د شهاب الدین خان تر مرګ وروسته، د ده دوهم زوی محمود خان، تورو شهامت پور ته کډه سو.

[۳۲۹] حیات حافظ رحمت خان، ۷ مخ.

[۳۳۰] خلاصة الانساب (قلمي).

[۳۳۱] پښتونستان، ٨۲ مخ.

کمکوټی داود خان بړیڅ[۳۳۲] دئ، چي د شمالي هندوستان په روهیلکهنډ کي ئې د روهیله پښتنو د حکومت زړی ایښی دئ.

په صلبي زامنو کي ئې آزاد خان او ښاداد خان، چي تر ټولو مشران وو، له یوې موره او حکیم خان، حسن خان او ښالم خان (شاه عالم) له بلي موره وو[۳۳۳].

محب الله خان او فتح الله خان له بلي موره وو[۳۳۴].

په دې ورونو کي ښالم خان د پلار او نیکه پر پله وخوت، د سیر او سلوک لور ته ئې هڅه وکړه او د خدای ﷻ په مینه په خلګو کي اوڅار سو.

د موتي بابا رحمة الله علیه تر مړیني وروسته کمکوټی داود خان، د ښالم خان تر سیوري لاندي لوی سو، ځکه نو د تذکرۀ فرح بخش او روهیله پښتانه مولفینو او نورو نومړي داود خان د ښالم خان متبنی بللی دئ او په صحیفۀ زرین کي د حافظ رحمت خان د اصلي ورور په صفت ضبط دئ[۳۳۵].

حافظ رحمت خان په (۱۱۲۰ هـ. ق.) کال د پېښور د مردان په تورو شهامت پور کي زېږېدلی دئ، پلار ئې ښالم خان د (۱۱۲۴ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي پر نهمه د جمعې په شپه، د روهیلکهنډ بدایون ته نژدې شهید کړه سو او حافظ رحمت خان څلور کلن یتیم سو. دی د پلار د شهادت په وخت کي، له خپلي مور او کورنۍ سره، په تورو او شهامت پور[۳۳۶] کي اوسېد او هلته لوی سوی دئ.

د ده د نیکه زوی نیو (متبنٰی)، وصلي اکا یا د ځینو په قول وصلي ورور، داود خان بړیڅ د اورنګزیب د زوی بهادرشاه (۱۱۱۸-۱۱۲۴ هـ. ق.) په پاچهي کي په (۱۱۱۹ هـ. ق.) (=۱۷۰۷ع.)[۳۳۷] کال کټهېر ته ولاړ[۳۳۸]، هلته ئې پښتانه پر ځال راغونډ کړل او د نامه تښتن سو.

---

(۳۳۲) د داود خان بړیڅ توب د اخبار الصنادید د لومړي ټوک په شپېتم مخ او د خورشید جهان په ۱۸۶ مخ کي وګورئ.

(۳۳۳) اظهر علي چي د سفرنامه اندرام په مقدمه کي د کوټه بابا د کورنۍ کومه شجره لیکلې ده، هلته ښالم خان د موتي بابا زوی، د آدم خان لمسی او د کوټه بابا کړوسی ښوول سوی دئ.

(۳۳۴) فتح الله خان او محب الله خان په شوکت افغاني (۲۵۱ مخ) کي د موتي بابا زامن بلل سوي دي.

(۳۳۵) چارلس هملټن هم په خپل اثر "The Rohilla Afghans" کي داود خان د حافظ رحمت خان ورور ګڼي. داود خان د ګورګانیانو په امر د مرهټو په یوه مقابله کي توره وکړه، په ګوالیار او نورو کي، داود خان پر هغو ناځاپه برید وکړ، ځو هاتیان او څه مال ئې په اُلجه کي ځني راوړل. د دغه خدمت په صله کي کورګاني حکومت د بدایون په سیمه کي یو وړوکی جاګیر ورکړ، پښتانه پر راټول سول، د کمایون راجا، چي د ده د غښتلتوب آوازه اورېدله، وروئې غوښت او خپل عسکري انتظام ئې ورو سپاره.

(۳۳۶) راورټي د پښتو ګرامر په ۴۳ مخ کي کښلي دي: تورو له نوښاره څخه ۱۱ میله د شمال خوا ته لیري پروت دئ او پنځه زره خلګ پکښي اوسي.

(۳۳۷) اخبار الصنادید، ۶۲/۱ مخ.

(۳۳۸) کټهېر د ډهلي لمرخاته خوا ته، د جمنا پوري خوا پروت دئ، وروسته دا سیمه روهیلکهنډ بللې سوې ده.

په (۱۱۳۹ هـ. ق.) کال نوموړی داود خان بړیڅ، په روهیلکهنډ کي د کمایون د راجا دیپ
چند په حکم په دروه، د کالي ندي پر غاړه شهید کړه سو[۳۳۹] او پر ځای ئې د شهید داود خ
ځوارلس کلن[۳۴۰] زوی نیو (متبنٰی) یا زوی[۳۴۱] "علي محمد خان" د روهیلکهنډ د پښت
سردارانو لکه، ملک ښادي خان بړیڅ، ځونډی خان (دوندی خان) بړیڅ، فتح خان او سردار خ
له خوا په (۱۱۳۹ هـ. ق.) کال د روهیلکهنډ اداري مشر (نواب) وټاکه سو.

حافظ رحمت خان د وخت مروج علمونه په کور کي ولوستل. شل کلنی ته چي نژدې سو
داود خان د زوی یا متبني د نوابۍ او عروج قصې ئې تر غوږو ور ورسېدلې. له توروشهام
پور ځخه کتهېر ته، چي په دغه وخت کي روهیلکهنډ باله کېده، ولاړ. نواب علي محمد خا
ډېر ونازاوه او په خورا درنه سترګه ئې ورته وکتل. حافظ رحمت خان دا پلا درې کاله له نوا
علي محمد خان سره په روهیلکهنډ کي تېر کړل. بیرته چي "تور و شهامت پور" ته ستون سو
د خپل توربره (ملک ښادي خان بړیڅ) د لور سره ئې واده وکړ. دا ملک ښادي خان د ښادا
خان (شهزاده خان) زوی، د موتي بابا رحمة الله علیه لمسی او د کوټه بابا رحمة الله علیه (شیخ شهاب الدین
کړوسی و، چي د حافظ رحمت خان د اکا زوی کېده.

حافظ رحمت خان چي ځو کاله پر کور تېر کړل، دوهمه پلا بیا د نواب علي محمد خان پ
بلنه روهیلکنډ ته ځړه ولاړ، ځه موده وروسته ئې کډه او کورنۍ هم روهیلکهنډ ته پسې
وروغوښتله او په آنوله (اوسني رامپور)[۳۴۲] کي پسي مېشت سو.

---

(۳۳۹) داود خان بړیڅ په پټهو راګړه کي ښخ دئ.

(۳۴۰) د علي محمد خان عمر په دغه وخت کي د حیات حافظ رحمت خان مولف ځوارلس کاله (وګ: حیات حافظ
رحمت خان، ۱۱ مخ) او د اخبار الصنادید مولف تر شلو (وګ: اخبار الصنادید، ۷۸ مخ) کالو زیات ښوولی دئ
د علي محمد خان د زوکړي کال په اخبار الصنادید کي د تاج فرخي او انتخاب یادګار په حواله (۱۱۱۸ هـ. ق.)
ښوول سوی دئ.

د علي محمد خان د سیادت شجره په شوکت افغان ۲۵۲/۲ مخ کي کښلې ده. د سیر المتاخرین مولف حسین
طباطبائي، دی د "اهیر" زوی بللی دئ (د شوکت افغان مولف وایي دا د حسین طباطبائي ذاتي دښمني ده. علي
محمد خان چي له سرهنده روهیلکهنډ ته ولاړ، د سیر المتاخرین د مولف پلار هدایت علي خان د بریلي مغلي
حاکم و، هغه ئې له بریلي وشاړه او بریلي ئې ځني ونیوله).

د تزک افغاني مولف غلام عباس بې کومي حوالې لیکلي دي، چي داود خان په کوم سفر کي د یوې مړې
ښځي له غېږي یو نیم کلن زوی واخیست، زوی نیو ئې کړ. مړه ښځه لچهو نومې جاټه وه، چي له خپل کلي
بانکولي ځخه بسولي ته (د بدایون) تلله او په لار کي جل وهلې او مړه سوې وه.

(۳۴۱) چارلس هملټن د "The Rohillah Afghans" مولف وایي، په هغه پاړسو مسوده کي چي د دوی کورنۍ
شرح حال لیکل سوی او زما لاس ته راغلې ده، د علي محمد خان د وصلي زوی والي هیڅ ذکر نسته، ځکه ئې نو
زه د داود خان صلبي زوی بولم.

(۳۴۲) آنوله په هغه وخت کي د روهیلکهنډ (کتهېر) دار الحکومت و. په اخبار الصنادید کي د الموړې د نیولو
کال (۱۷۴۳ یا ۱۷۴۴ ع.) لیکلی دئ، د (۱۷۴۴) کال د جنوري د میاشتي شپاړس ورځي په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال
کي راځي.

نواب علي محمد خان روهيله حافظ رحمت خان ته دوولس کلي په جاګير کي ورکړل او له دغه وخته څخه حافظ رحمت خان د روهيلکهند د نوابۍ په ارکانو کي شمار سو. د نيابت وظيفه هم د نواب علي محمد خان له خوا حافظ رحمت خان ته ورکړله سوه.

انندرام مخلص د خپلي سفرنامې د مقدمې په ۹۹ مخ کي ليکلي دي:

"حافظ رحمت خان چي په کټهېر کي له نواب علي محمد خان روهيله سره وليدل، هغه ته ئې وويل: ستا د نوکرۍ او مستأجرۍ طريقه چي زما نورو پښتنو ورونو قبوله کړيده، زما څخه به هغسي توقع نه کوې، له دغه لامله نو، نواب علي محمد خان د حافظ رحمت خان خاص مراعات کاوه او د خپل پوځ ټول مشرتوب ئې ده ته سپارلی و".

په (۱۱۵۵ هـ. ق.) (= ۱۷۴۲ ع.) کال چي د ډهلي د مغل پاچا محمد شاه کورګاني (۱۱۳۱–۱۱۶۱ هـ. ق.) په حکم راجه هرننند کهتري د پنځو زرو پلو او سپرو سره پر نواب علي محمد خان روهيله بريد وکړ، په دغه جنګ کي حافظ رحمت خان ښه توره وکړله. راجه هرننند وواژه سو او پاچاهي (د ډهلي) لښکرو تېښتي ته بدې وغښتلې. د دغي توري او مېړاني په صله کي، کله چي علي محمد خان پهيلي بهيت ونيو، حافظ رحمت خان ته ئې په جاګير کي ورکړ.

په (۱۱۵۷ هـ. ق.) (= ۱۷۴۴ ع.) کال چي نواب علي محمد خان د داود خان د خون اخيستلو په نيامت، پر رای کليان چند باندي د بريد له پاره کمايون ته لښکر ولېږه، د دغه لښکر مشر حافظ رحمت خان و. حافظ له لښکر سره د کمايون پر غره وروخوت، د کمايون پايتخت الموړه ئې، چي تر دغه وخته پوري هيڅ پاچا يا سپهسالار نه وه نيولې، قبضه کړه[۳۴۳] او پخپله کليان چند ګړهوال ته ځني وتښتېد.

د کمايون فتح نامه

چي دي کښېښوه د دين توره پر غاړه
جاسوسانو کليان چند راجا ته ووې:
له (بيم تاله) چي کفارو تېښته وکړه
روهيلي دا دي چي راغلل فوج فوج
هغه، ځيني غازيان راغلل الموړې ته
په راتله ئې کافران واړه خوشال شول
راجا تېښت له الموړې په وړاندي وکړ
په هر لور پسي غازيانو ملا بسته کړه

په لړزه شول کافران له بېري واړه
"چي نواب درلـه راځي په لکه غاړه
و راجا ته بې ويل: که ژاړې ژاړه
سرداران يې يو له بله ځي همغاړه
ځيني ځيني بيارته ولاړل له رام ګاړه[۳۴۴]
لور په لورېې په موړ وکړه غوره غاړه"
نه يې ناسته په آرام وه، نه ولاړه
د کفارو ټولـه[۳۴۵] وتښتېده ولاړه

---

[۳۴۳] په اخبار الصناديد کي د الموړې د نيولو کال (۱۷۴۳ يا ۱۷۴۴ ع.) ليکلی دئ، د (۱۷۴۴) کال د جنوري د مياشتی شپاړس ورځې په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال کي راځي.

[۳۴۴] له رام ګاړه څخه "رام ګړه" مراد دئ.

[۳۴۵] ټوله (Tola) = ټولی.

اوس و هر يوه طرف ته ملک زما دئ　　کمايون کتهن خبري کا له باره
خدايه! فضل چي هم ستا را سره مل وي　　دا رمه به هم زر وباسي له کاره
ستا لښکر لکه اسيا وربانديگرزي　　دا مېچن به دانه چيري پر پړدي لواړه
دوران خان، عظيم خان دواړه هلته نه وو　　فدايي غوندي تېرکش ځي په دا تراړه
عابد خان غوندي غازي ترسر جاروزي　　اندرکټ له سيمو څه دئ چي پرې وياړه
که حقداد غوندي ځلمي د بازو مله واى　　پرگنه د کمايون به وه لتاړه
د خداى فضل، برکت و د وليانو　　خوړ چي نه شه د غرور په لويه چاړه
نوراني جمال به کله راڅرگند کړي　　د زړگي تخته مي دړي وړي ولاړه

د الموړې بله فتحنامه چي محمود خان ويلې د ه، څو بيتهئې دا دي:

مبارک دي شه صاحبه!　　دا چي فتحه الموړه شوه
چي ستا وار وربانددي راغى　　د راجا پگړۍ خپره شوه
هغه روځ د دوشنبې وه　　خوا د واړو پرې سره شوه
د اسلام علم بلند شه　　د کفار جنډه زړه شوه
کفر پسه، اسلام کړ ذبحه　　وړه شرعه پرې مړه شوه

يوه بل پښتانه شاعر په هغه وخت کي د الموړې فتحنامه داسي ويلې ده:

دا رنگ فضل د اکبر شه　　چي اسلام په کفر بر شه
د کفارو رمې تښتي　　دين اسلام په غضنفر شه
چي نواب ورپسي مخ کړ　　هغه روځ مرگ د کافر شه
دا نواب تير د اسلام دئ　　چي په مات د کفر ور شه
کمايون راجا اسمان و　　نواب عرش غوندي پر زبر شه
کل بتان ئې نگونسار شول　　د غازيانو پرې محشر شه
پر هر ځاى چي بتخانې وې　　هغه ځاى مسجد، منبر شه
په دا کار رضا د خداى وه　　هم راضي پرې پيغمبر شه
افغانان وربانددي لوى شول　　چي دا فتحه ميسر شه
چي دا سوبې خداى روزي کړه　　کل عالم باندي خبر شه
پادشاهان چي ترې عاجز و　　دا مهم له دوى نه سر شه
پيل، پالکۍ خانانو پرې بنوې　　چي د غره مهم په سر شه
چي ئې فرش کيمخا، مخمل و　　بيچاونه ئې اوس حجر شه
دا محنت چي ئې اختيار کړ　　د خداى فضل ئې رهبر شه

چي ئې درې ورې يــوور کـفـر ورک، خـراب اکـثـر شـه
د هـغـه مـولا حـافـظ شـه چي په دې لـورې سـفـر شـه

دلته بايد وويل سي، چي په دغو فتحنامو کي د حافظ رحمت خان نوم صريحاً نه دئ راغلی، خو د نواب (علي محمد خان روهيله) يادونه سوېده. د شوکت افغاني د لومړي ټوک په ۲۶۴ مخ کي هم ليکلي دي:

نواب علي محمد خان الموړه ونيوله، ده د ديپي چند زوی کنور (شهزاده) کليان چند د ګړهوال تېښتي ته اړيوست، پسله سوبي نواب علي محمد خان روهيله د الموړې اداري واک، د نوموړي کليان چند يوه خپل ته وسپاره او پخپله انولې ته راستون سو.

تر دې سوبي وروسته حافظ رحمت خان د روهيلکهنډ لښکر د سري نګر لور ته وخوځاوه، د سري نګر راجا (سرمور بهټ) يو لک و شپېته زره روپۍ د کلنګ په نامه ورکړلې. حافظ رحمت خان د روهيلکهنډ له لښکره سره، تر ځلورو مياشتو سفر وروسته، بريالی انولې ته راستون سو.

د (۱۱۵۸ هـ. ق.) (= ۱۷۴۵ ع.) کال د محرمي د مياشتي په ځلېرويشتمه د ډهلي مغول پاچا کورګاني محمد شاه د اوده د نواب ايراني صفدر جنګ په لمسون، پر نواب علي محمد خان روهيله باندي د بريد په نيامت، د ډهلي لښکري د بدايون له لاري روهيلکهنډ ته وخوځولې او د بيان واقع د مولف حاجي عبد الکريم کشميري په وينا، دغه پوځونه د صفري په مياشت کي بن ګړه او انولې ته ورسېدل. د روهيلکهنډ پښتنو په ځان کي د پاچاهي لښکرو د مقابلې توان نه ليدئ، ځکه نو حافظ رحمت خان د روهيلکهنډ د پښتنو کډي، کوچنيان او خزانه قادر ګنج[۳۴۶] ته ورسول.

نواب علي محمد خان روهيله د قايم خان بنګښ په وسيله د پاچا له حضوره بخښنه وغوښتله او محمد شاه مغل، چي د ګنګا پر شرقي غاړه واړول، په دغه مزله کي د قايم خان وکيل کشن چند د علي محمد خان له يوه منصبداره سره، د وزير الممالک قمر الدين خان په واسطه، مغل پاچا ته وروستل سو، مګر پاچا ونه منل او جواب ئې ورکړ، چي:

"زه به تا د څو ورځو له پاره ډهلي ته بوزم بيا به دي بېرته ونازوم، په دې وسيله به نور اميران وبېرول سي".

نواب علي محمد خان روهيله چي دا جواب واروېد، له انولې څخه بن ګړه ته ولاړ. بن ګړه د بدايون په سيمه کي له خاص بدايون څخه لس ميله ليري واقع و.

د حديقة الاقاليم مولف مرتضی حسين الله يار عثماني بلګرامي د بن ګړه په جنګ کي حاضر و، دی وايي زه د راجه نول رای له نوکرانو څخه وم، چي د ابو المنصور خان صفدر جنګ له

---

[۳۴۶] قادر ګنج د ايټې په سيمه کي واقع دئ او په دغه وخت کي ئې حاکم شجاعت خان غلجي و. مګر د سفرنامه انندرام په ۴۰ مخ کي کښلي دي، چي علي محمد خان کډي او کوچنيان او خزانه د قايم جنګ قايم خان بنګښ له جماعدار شجاعت خان سره مئو ته استولي وه. مئو د فرخ آباد په قايم ګنج کي د يوه ځای نوم دئ.

منصبدارانو څخه و[۳۴۷].

د بیان واقع په ۱۶۹ مخ کي کښلي دي:

د ابو المنصور خان صفدر جنګ په لمسه د (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال د صفري په میاشت کي محمد شاه مغل د نواب علي محمد خان روهیله د ځبلو په نیامت، انولې[۳۴۸] او بن ګړه[۳۴۹] ته ولاړ. نواب علي محمد خان روهیله د کمایون د غره راجا مغلوب کړی و او له دغه درکه ئې ډېر غرور پیدا کړی و.

نواب علي محمد خان روهیله په بدایون کي له دوو مشرانو زامنو عبد الله خان او فیض الله خان سره د ډهلي مغول پاچا محمد شاه (رنګیلا) ته تسلیم سو او پاچا ډهلي ته بندي واستاوه. حافظ رحمت خان له بن ګړه څخه د روهیلکهنډ اداري مرکز انولې ته ستون سو. تیت و پرک پښتانه ئې سره راټول کړل. څو میاشتي چي تېري سوې او د ډهلي پوځونه کوم جنګ ته تللي وو، حافظ رحمت خان له اوو زرو پښتنو ځوانانو سره، ناڅاپه په ډهلي ورننووت، دمغولو د پاچهي ماڼۍ په مخ کي ئې خپل سرتېری پوځ ودراوه او د نواب علي محمد خان د خلاصون غوښتنه ئې مغول پاچا ته وړاندي کړله. مغل پاچا په دغسي حساس وخت کي دا مناسبه وګڼله، چي د نواب علي محمد خان د خلاصون وعده ورکړي. حافظ رحمت خان بریڅ هم د پاچاهي وعدې په داډ او باور، د ډهلي په چارباغ کي واړول. څو ورځي وروسته پاچا خپله وعده پوره کړله او د حافظ رحمت خان په مېړانه او د ډهلي د وزیر الممالک قمر الدین خان تورانی په سپارښتنه[۳۵۰]، نواب علي محمد خان له پاچهي حضوره څخه خپل منصب او خطاب بیاموند او د سرهند په حکومت ونمانځه سو. نواب علي محمد خان له حافظ رحمت خان او لښکر سره په ختیځ پنجاب کي د سرهند حکومت ته ولاړ او هلته د حافظ رحمت خان په مشرتابه، د روهیلو لښکرو د رای پور، جوت پور، کوټ و جګړاون رایان، چي یاغي سوي غونډي وو، ښه وځبل.

په (۱۱۶۱ هـ. ق.) (= ۱۷۴۷ ع.) کال چي د افغانستان ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه (۱۱۶۰–۱۱۸۶ هـ. ق.) لاهور ښار ونیوه او پر سرهند باندي ئې د برید اراده وه، د ډهلي مغولي دربار ته بېره پیدا سوله، هسي نه چي نواب علي محمد خان روهیله او حافظ رحمت خان بریڅی، د پښتنوالي په حکم د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه مله سي، ځکه ئې نو نواب علي محمد خان روهیله بیرته د روهیلکهنډ حکومت ته تبدیل کړ او حافظ رحمت خان هم له نواب علي محمد خان سره

---

[۳۴۷] حدیقة الاقالیم، ۱۳۵ مخ.

[۳۴۸] انوله د بدایون په شمال کي ۱۷ میله لیري واقع ده.

[۳۴۹] بن ګړه د بدایون په شمال کي ۱۰ میله لیري، د بدایون او انولې تر منځ واقع دئ. اوس هم د پښتنو ودان کړي یو ارهټ دلته سته.

[۳۵۰] د نواب علي محمد خان لور د وزیر الممالک قمر الدین خان له زوی صدر الدین خان څخه وه، ځکه نو قمر الدین خان وزیر نه غوښتل چي علي محمد خان خراب سي، ځکه نو د وزیر په سپارښت وباخښه سو او د سرهند حکومت ورکړه سو، چي په روهیلکهنډ کي نه وي. علي محمد خان احتیاطاً خپله خزانه قایم خان بنګښ ته لېږلې وه.

هیلکهنډ ته ولاړ.

په دغه کال د لومړۍ خور پر نهه ویشتمه د ډهلي مغول پاچا محمد شاه مړ سو. د ده زوی احمدشاه مغل د ډهلي پاچا او ابوالمنصور صفدرجنګ ایراني ترکمن د ده وزیر سو. د روهیلکهنډ نوابی له خوا حافظ رحمت خان د مبارکۍ له پاره د احمدشاه مغل دربار ته ورغی. د ډهلي نوي پاچا احمدشاه درانه خلاتونه، نغاره، توغ او "مکرم الدوله"، "حافظ الملک" "بهادر نصیر جنګ" خطابونه ورکړل او ډېر سرلوړی روهیلکهنډ ته ستون سو.

د (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال د کوچني اختر په درېیمه روځ (= ۱۴ سپټمبر ۱۷۴۹ ع.) نواب علي محمد خان روهیله د استسقاء په ناروغي په "آنوله" کي ومړ[۳۵۱].

کاظم خان شیدا د علي محمد خان مرثیه په پارسي ژبه داسي ویلې ده:

طبل رحلت زد سوی ملک بقا — تا علی محمد نواب نامدار
چرخ نیلی خود بروز از موج غم — کور شد با دید های صد هزار
صبح از خورشید بر دل گشته داغ — با لباس نیلگون شب سوگوار
ریخت شبنم از سرشک عندلیب — گل گریبان می درد بی اختیار
کرد زین غم کشور هندوستان — چشم خود گنگ و جمن لیل و نهار
از بلاد هند تا مسکون "روه" — نیست افغانرا ورای گریه کار
سال این ماتم بتو گردد جلی — "هی هی افغان" اگر گیری شمار
۱۱۶۲

(د کاظم خان شیدا دېوان، د کابل چاپ، ۲۱۷ مخ)

د شوکت افغان په ۲۷۱/۲ مخ کي لیکلي دي:

نواب علي محمد خان چي مړ کېدی، درې کروړه نغدي روپۍ ئې په خزانه کي وې او د ملک (کلنۍ) مالیه ئې یو کروړ و دوولس زره روپۍ وې.

د نواب علي محمد خان د مړیني په وخت کي، د ده مشران زامن[۳۵۲] عبدالله خان او فیض الله خان یو کال دمخه ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له ځانه سره، له سرهنده څخه کندهار ته بېولي وو او د کندهار په دربار کي وو. تر دوی کشر زوی ئې، چي سعدالله خان نومېد، د "حیات حافظ رحمت خان" نومي کتاب په روایت، اته کلن او د دور افرېدي د "تاریخ روهیلکهنډ" په وینا دوارلس کلن و. وایي د نواب علي محمد خان روهیله تر مړیني درې ورځي پخوا، په یوه ولسي جرګه کي، چي د روهیلکهنډ د پښتنو ټول سرداران او خانان پکښي راغونډ سوي وو، حافظ رحمت خان ئې خپل جانشین وټاکه او د نوابۍ بګړۍ ئې پخپل لاس ورپر سر کړه، خو باوفا او درانه

---

[۳۵۱] د نواب علي محمد خان د مرګ کال د سلطان التواریخ په ۱۱۵ مخ کي (۱۱۶۱ هـ. ق.) ښوول سوی دئ او چارلس هملټن په "The Rohillah Afghans" کي (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال ښوولی دئ او دا دواړه سهي نه دي.

[۳۵۲] له نواب علي محمد خان څخه شپږ نابالغه زامن پاته سول، چي نومونه ئې دا دي:
عبدالله خان، فیض الله خان، سعد الله خان، محمد یار خان، الله یار خان او مرتضی خان.

پښتانه، حافظ رحمت خان د نوابۍ پګړۍ له خپله سره واخیستله او د سعد الله خان پر سرئې ورکښېښووله او د خپلې ټینګې وفادارۍ او بشپړ مساعدت وعده ئې ورسره وکړله. د نواب علي محمد خان روهیله تر مرګ وروسته، حافظ رحمت خان د نواب سعد الله خان[۳۵۳] په نیابت، د روهیلکهنډ اداره پر خپله غاړه واخیستله.

د دغه (۱۱۶۲هـ. ق.) کال پای ته د ډهلي د شیعه وزیر صفدر جنګ په لمسون[۳۵۴]، د فرخ آباد پښتانه نواب قایم خان بنګښ د شاهي فرمان په تمسک، له پنځوسو زرو سپاهیانو[۳۵۵] او پنځو سوو توپونو سره، د روهیلکهنډ پر نوابۍ برید وکړ. حافظ رحمت خان ئې د مجبوریت له مخې دمدافعې په نیامت له پنځه ویشت زرو پښتنو سپاهیانو سره بدایون ته وروخوځېد[۳۵۶]، خو د روغې تلابښ ئې پرې نه ښوو. د پیر بابا (سید علي غواص رحمة الله علیه) لمسی سید احمد شاه رحمة الله علیه ئې د ننواتي په توګه د نواب قایم خان بنګښ دربار ته واستاوه. سرکښ او د دښمن په لمسون تېروتلي قایم خان دغه ننواتې ونه منله. دواړه لښکري د بدایون په رسول پوره کي سره مخامخ سولې. د (۱۱۶۲هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي پر دوولسمه روځ (= ۲۴ نومبر ۱۷۴۹ع) جنګ پېښ سو، په دغه جنګ کي قایم خان بنګښ ووژه سو او بنګښو پښتنو ماتې وکړله[۳۵۷].

د بیان واقع په ۲۴۵ مخ کي کښلي دي:

"از آنجا که منظور ارکان حضور، مغلوبی و استیصال افاغنه بود، لهذا قوم بنګښ و روهیله را به همدیگر منازع نموده، جناب بادشاه، قایم خان را که خانزاده و پدرش محمد خان بنګښ از امرای قدیم فرخ سیری بود، نوشتجات عنایات فرستاده، برین آوردند که از فرخ آباد برآمده و رفته آنها را مستأصل نماید، که بعد از سر انجام این مهم، ملک آنها هم ضمیمه فرخ آباد به قایم خان عنایت خواهد شد....

نواب قایم خان معه بیست و دو سردار نامی فیل نشین خود یک مرتبه بضرب تیرهای تفنګ و جزائر آمده و کشته شده، فتحی عجیب و غریبی بی جنګ بعد از شکست، نصیب قوم روهیله ګردید و افواج قایم خان از کشته شدن صحیح و سلامت راه وطن خود که فرخ آباد باشد و از قتل

---

[۳۵۳] د سعد الله خان د مرګ تاریخ معظم عباسي بریلوي داسي ویلی دئ:

این همه بی سر و بې پا ز وفاتش ګشتند

کرم و بخشش و جود و علم و تیغ و قلم

ر (۲۰۰) + خش (۹۰۰) + و (۶) + ل (۳۰) + ی (۱۰) + ل (۳۰) = ۱۱۷۶هـ. ق.

[۳۵۴] وګ: عماد السعادت، ۴۴ مخ او بیان واقع ۲۴۵ مخ.

[۳۵۵] د عماد السعادت په ۴۴ مخ او د سلطان التواریخ په ۱۱۵ مخ کي د قایم خان بنګښ د لښکر شمېر اتیا زره کښلی دئ. د قاموس المشاهیر په ۳۸/۲ مخ کي د قایم خان بنګښ د لښکر سپاره شپېته زره ښیي او وایي څه پلي او څلور سوه پیلان هم ورسره وو.

[۳۵۶] په سلطان التواریخ کي د روهیل کهنډ د لښکر شمېر څلوېښت زره پلي او اووه زره سپاره ښوول سوي دئ.

[۳۵۷] د دغه جنګ تفصیل زما (رشاد) په بل کتاب "غازي نواب احمد خان بنګښ او د هغه کورنۍ" کي وګورئ.

شاه سه منزل دور بود، پیش گرفته و در عبور گنگا عالمی غریق بحر فنا گردید.

بعد از استماع این اخبار، جناب بادشاه و وزیر که منتظر:

"زهر طرف که شود کشته سود اسلام است".

بودند، خواستند که خانسامان و غیره متصدیان حضور رابفرستند که اموال قایم خان و برادرش را ضبط نموده، بیارند".

حافظ رحمت خان برېښي د قايم خان ككرۍ او بدن سره وګنډل؛ دوشاله ئې پر واچوله، په خاصه پالكۍ كې ئې د قايم خان مړی په خورا درناوي فرخ آباد ته ولېږه او د قايم خان بوري مور ته ئې وليكل:

"تاسي ته به څرګنده وي، چي موږ جنګ نه غوښت، ملايان او ستانه مو نامراده قايم خان ته ورولېږل، خو ده د بخشي محمود خان اپرېدي په لمسون او نغوته زموږ ننواتې ونه منله، د خدای ﷻ له پېښو څخه تېښته نه سته، هغه و چي په جنګ كي قايم خان نيمه خوا سو، اوس بايد ته زموږ له خوا ډاډه اوسې، موږ د پښتنو الي دود ساتو، ته په فرخ آباد كي اوسه او موږ د ګنګا د پوري خوا ټول ملک ستا په پوړني كي تا ته درپرېږدو. ته بايد په هر كار كي زموږ قوت او طاقت خپل مرستيال وګڼې".

تر دې سوبې وروسته، حافظ رحمت خان د بدايون په مهر آباد (۳۵۸)، پرېم نګر او د ګنګا د سيند په ختيځو سيمو كي له خپلي خوا حاكمان وټاكل او بريالی انولې (اوسني رامپور) ته ستون سو (۳۵۹).

له بنګښو سره تر جنګ او سوبې وروسته حافظ رحمت خان د كمايون (۳۶۰) د غره په لمنو كي ډېري سيمي، لكه: كيرا ګړه، بهرتاپور، ورماپور، سنبهه، بجوليا، سنګليا، ملهواړه او .... ونيولې او د روهيلكهنډ په بريد ئې را كښېږ ايستلې (۳۶۱).

په (۱۱۶۴ هـ. ق.) كال چي نواب احمد خان بنګښ (د نوموړي نواب قايم خان بنګښ ورور او جانشين) له صفدر جنګ سره جنګېده، حافظ رحمت خان هم يو پوځ د بنګښو پښتنو د مرستي له پاره فرخ آباد ته ورلېږلی و. په (۱۱۶۵ هـ. ق.) كال چي نواب احمد خان بنګښ د صفدر جنګ او مرهټو كفارو له ګډو لښكرو څخه ماتې وكړله، حافظ رحمت خان ته ئې پناه وروړله او حافظ رحمت خان هم د پښتني ننګي په حكم، ده ته پناه وركړله او د صفدر جنګ او مرهټو كفارو بدی ته ئې ځګر سپر كړ، ډېري ستونزي ئې وګاللې او خورا ترخې ورځي ئې تېري كړلې، خو نواب احمد

---

(۳۵۸) د دغه ځای نوم د "ميرزا مظهر جانجانان كي خطوط" په ۲۴۷ مخ كي مراد آباد كښلی دئ او يو بل جغرافيايي نوم "اسهت(؟)" هم ورسره ياد سوی دئ.

(۳۵۹) د دغو سيمو اداره پخوا د فرخ آباد د بنګښو په نوابۍ پوري اړه درلوده.

(۳۶۰) د كمايون په باب د حديقة الاقاليم په ۱۴۲ مخ كي كښلي دي، چي كمايون د مداريه (هماليه) پر غره باندي د يوه ښار نوم دئ.

(۳۶۱) وګ: ميرزا مظهر جانجانان كي خطوط، ۲۴۸ مخ.

خان بنګښ ئې غلېمانو ته په لاس ورنه کړ. کاظم خان شيدا (۱۱۹۴ هـ. ق. مړ) د دغو مصائبو تاريخي ماده "عظيم فساد" موندلې ده، ده ويلي دي:

پښتانه د "کټهېر" متزلزل دي — که هر څو وو لکه غر قوي بنياد
چه برکي او ايراني په يوه ځای شول — منتشر ئې په ديار کښې شو بېداد
و تاريخ ته ئې حيران دواقعات وم — را ته وويل خپل رای "عظيم فساد"

۱۱۶۵

(د کاظم خان شيدا ديوان، کابل چاپ، ۲۱۵ مخ)

په دغه جنګ کي لس زره پښتانه شهيدان سول او پای ته پر دې روغه وسوله، چي حافظ رحمت خان او احمد خان بنګښ به پنځوس لکه روپۍ د جنګ تاوان، مرهټو کفارو او صفدر جنګ اېراني ته ورکوي او هم د کاله به پنځه لکه روپۍ پاچاهي کلنګ مني.

په (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال د نواب علي محمد خان مرحوم مشران زامن عبد الله خان او فيض الله خان له کندهاره څخه لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له ځانه سره پنجاب ته راوستل او روهيلکهنډ ته ئې د تللو اجازه ورکړله. دغو دوو ورونو، چي تر نواب سعد الله خان مشران وو او د کشر ورور نوابي ئې نسوای زغملای، د روهيلکهنډ د نوابۍ د وېش غوښتنه وړاندي کړله. حافظ رحمت خان که څه هم په لومړي سر کي د روهيلکهنډ وېش نه مانه، خو پای ته مجبور سو، چي د ورونو تر منځ د شخړي مخه ونيسي او په وېش راضي سي، نو ئې په (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د روهيلکهنډ سيمي د مړه نواب علي محمد خان روهيله پر زامنو او نورو پښتنو سردارانو باندي، د نظامي دستور (رسالو) د خرڅ په نامه ووېشلې. په دې وېش کي بريلي، شاه جهانپور، پهيلي بهيت او د کمايون د غره لمني حافظ رحمت خان ته ورسېدلې او دی هم د نواب په نامه ياد سو. د حافظ رحمت خان د نوابۍ اداري مرکز بريلي سو، چي د بانس بريلي په نامه هم يادېږي.

په (۱۱۶۶ هـ. ق.) کال د ډهلي د ښار په څو ميلي کي، د ډهلي د ناسياله وزير صفدر جنګ او عماد الملک غازي الدين سهروردي تر منځ جنګ جاري و. حافظ رحمت خان له څلرويشتو زرو پلو او سپرو سپاهيانو سره، له روهيلکهنډ څخه مخ پر ډهلي وروخوځېد، خو د ډهلي د مغول پاچا احمد شاه په غوښتنه ئې په جنګ کي له ګډون څخه صرف نظر وکړ او بيرته انولې ته ستون سو.

په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال چي ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له کندهاره څخه ډهلي ته ورغی، حافظ رحمت خان د روهيلکهنډيو پښتنو له خوا نواب سعد الله خان روهيله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ولېږه او ډېر درانه سوغاتونه ئې د اشرف الوزراء شاه وليخان د توربره (يعقوب علي خان) په لاس، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته وروا ستول، چي د پښتانه ستر تولواک له خوا ومنل سول.

په (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د پاني پت په مشهوره غزا کي د حافظ رحمت خان برېخي او نورو روهيلکهنډي پښتنو سردارانو ګډون، مرستي او مېړاني د ستايني وړ دي. نور الدين حسين خان د "احوال نجيب الدوله" نومي کتاب په ۲۲ مخ کي ليکلي دي:

"لوی احمد شاه بابا رحمه الله چې د پاني پت په مشهوره غزا کې د مرهټو کفارو د ځبلو له پاره ولاړ، د ډهلي په شاوخوا کې د روهیلکهنډ پښتانه سرداران، په غزا کې د ګډون له پاره د لوی احمدشاه بابا رحمه الله حضور ته ورغلل. په دغو پښتنو سردارانو کې نواب حافظ رحمت خان هم و. لوی احمدشاه بابا رحمه الله تر نورو روهیلکهنډیو سردارانو حافظ رحمت خان ته په درنه سترګه کتل، نور سرداران به د لوی احمد شاه بابا رحمه الله په دربار کې ولاړ وو، خو حافظ رحمت خان د کښېنستلو اجازه درلوده، دا ځکه چې دی د قرآن شریف حافظ و".

ویل کېږي؛ ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمه الله چې به هر جنګ ته ولاړ، تر جنګ د مخه به ئې دښمن ته د سولې پیغام او شرطونه وړاندې کول، که به دښمن هغه ونه منل، نو به ئې بیا جنګ پیل کاوه، د پاني پت د مشهورې غزا په پیل کې، چې د دکن د مرهټو لښکرې د بسواس رای په مشرتابه او د بهاو په سپهسالارې، د ډهلي شاوخوا ته راورسېدلې[۳۶۲]، د لوی احمدشاه بابا رحمه الله له حضوره، زموږ تر بحث لاندې نواب حافظ رحمت خان برېښې د ایلچي (استازي) په توګه، د بسواس رای او بهاو دربار ته ولېږل سو. د نواب حافظ رحمت خان د دغه استازیتوب بیان، حافظ مرغُزي په "پښتو احمد شاهي شهنامه" کې داسې کړی دئ:

چې پادشاه که چا خبر　　د باهو راغی لښکر[۳۶۴]
درست لښکر ئې په دا لار　　مسلح، جنګ ته تیار
تمام راغی په دا لور　　خوځوي ځمکه په زور
اراده لري د جنګ　　په نېزه، توره، تفنګ
په دربار کې دا ګفتار　　هله وسه مزه دار
اوس ایلچي دي شي تیار　　چې دانا وي په دا کار
د رموز په باب عیار وي　　ثمربخش د خپل افکار وي
مشهور په ظرافت وي　　مکمل په فراست وي
نکته دان، ګوهر آمېز وي　　په لبانو شکر رېز وي
په تقریر کې در افشان وي　　په زبان هزار داستان وي
په هر راز کې وي امین　　په تدبیر کې وي متین
شګفته وي په هر راز　　حقیقت وي که مجاز
تمام بحر وي د کرم　　د محتاج وُرکوي غم
چې ایلچي د شهریار وي　　خبردار په دې اسرار وي

---

[۳۶۲] بسواس راو (رای) د مرهټو د پېشوا (نانا) دوهم باجي راو (۱۱۵۴-۱۱۷۴ هـ. ق.) اتلس کلن زوی و، سدا شیو راو بهاو د نانا د اکا د زوی (جمنا جي اپا) زوی و. دوهم باجي راو نانا، چې خپل زوی بسواس راو د لوی احمدشاه بابا رحمه الله جنګ ته رالېږه، ویې ویل:

"مرهټې چې بری ومومي، بسواس راو به د ډهلي پر تخت کښېني او د هندوستان مها راجا به وي".

[۳۶۴] له باهو څخه د حافظ مرغزي مراد "سدا شیو راو بهاو" دئ.

د ایلچي شه جست و جوی
چې موصوف په دا اوصاف وي
وې دا نواب دئ رحمت خان
کله څوک شته په دا شان
پرې پادشاه وکه آمین
په دا باب دانا، هوښیار
وې: حافظ دي شي تیار
چې حافظ رحمت تیار شه
شه پخته، مزاج بلند
په تعدیل لري مزاج
ښه اسرار دي کا معلوم
له غازدین دي شي خبر(۳۶۳)
که دا ملک ئې دئ په کار
مشرف دي په دیدار شي
خپل دي پرېږدي کاروبار
که دی خیال لري د جنګ
چې تمام شه ګفت و ګوی
مرخص شه په تدبیر
چې دښمن ته شه نمود
د جنګو، باهو، ملهار

چې بلند وي په دا خوی
مصفا په سینه صاف وي
ګوی ئې وړی په میدان
چې مې وکه دا بیان
ترې قربان دُر ثمین
مجرب د هند په کار
چې دی دئ عالي تبار
د هر چا لیري بخار شه
په همت د شاه پسند
په زینت د تخت و تاج
چې دوی څه لري مکتوم؟
څه مذکور که د کشور؟
په دا لور دي که تلوار
د پادشاه په دا دربار شي
زر دي راشي په دې لار
سپاه دي جوړ که په دا درنګ
مفصل شه موی په موی
په تدبیر بې له تزویر
خدای دي ورکړي ورله سود
په خلوت کي شه ګفتار

(۱۳۷–۱۳۸مخونه)

د پاني پت په لویه او مشهوره غزا کي، چې د (۱۱۷۴ه. ق.) کال د ځلورمي خور پر شپږمه (=۱۴ جولای ۱۷۶۱ع) پېښه سوې ده، نواب حافظ رحمت خان بړېڅی له خپل لښکر سره، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د سرتېرو لښکرو ښي اړخ ته ولاړ و.

حافظ مرغزي په "پښتو احمدشاهي شهنامه" کي د حافظ رحمت خان بړېڅي د غزا په باب داسي کښلي دي:

چې حافظ و رحمت خان
ښه ځوانان ئې وو په لاس
په سلاح، شمشېر، خنجر

د اسلام و پهلوان
بهادر، په شا د آس
په کمان، غشي، تبر

---

(۳۶۳) له غازدین څخه مراد "غازی الدین عماد الملک" دئ، چې د مغول پاچا دوهم عالمګیر وزیر و او دوهم عالمګیر ئې وواژه.

نبه سپایان ئې وو تیار   په میدان وو شېر شکار
د کافرو ابابیل   که به راغی ورته فیل
په میدان بې که مسمار   که به و په جنګ تیار
بهادر د سره بند و   د اسلام په کارې ژوند و

(۱۶۷مخ)

په یمین شو، مقرر   هغه و د میدان سر

(۱۶۸مخ)

و باهو ته، هرکاره   وې: ما وکړه نندارہ
تمام فوج شه رامعلوم   چې دفتر کې وو مرقوم
په میدان کې چې دا فوج   هنګامه لري په موج
دا حافظ دئ سفید پوش   د غیرت دریاب په جوش
د سربند دئ فوج تیار   مسلح د جنګ په کار

(۱۷۰مخ)

هرکاره چې دا بیان   و باهو ته کړ عیان
ده هم فوج کړ خپل تیار   مناسب چې و د کار
تمام فوج ئې کړ تقسیم   په خواصو د تنجیم

....

باهو وویل "تمامي دي شي روان   و حافظ ته شي دوان"

(۱۷۱مخ)

هنګامه شوه پر میدان   جوړ قیامت شه پر جهان
په مصاف کې ځای په ځای   بهادر شول پولاد خای
په شمشېر، په تیر، خنجر   په میدان شه زبر زبر
د چا لاس و، د چا سر   څوک زخمي په مخ، کمر
نه و آس، نه سپور، نه پلی   له میدانه جاروتلی
په اقبال شاهانه   سربند شول مردانه
په یو لور شه دا فریاد   چې طالب شول د امداد
که پادشاه وکه فرمان   نبه دسته، په تیر کمان
آراسته په تیر تفنګ وي   بهادر، شیران د جنګ وي
په صف جنګ شي ور روان   چې ګوی یوسي په میدان
د سربند ځوانان حصار   په میدان د کارزار
تمام بند شول په میدان   دښمن راغی په دا شان
چې پادشاه خبر شه جانه   ته کلام واوره له ما نه
چې ځوانان وو شېر شکار   بهادر د جنګ په کار

مرخص شول په دا باب غلامان، حاجي نواب
جلد روان د جنګ په لور جوړ بخري وو د اور
د مردانو ګوره جنګ درست میدان شه سره رنګ
په شمشېر خنجر، تفنګ چې شېرانو وکه جنګ
چې ځوانان د سره بند د فوجونو په کمند
په میدان کي وو حصار ترې چاپېر وو، نابکار
تمام خلاص شول له بلا نه دغه حال واوره له ما نه

(۱۷۵ مخ)

د پاني پت په تاریخي غزا کي د نواب حافظ رحمت خان مشر زوی، عنایت خان بړیځي هم ګډون کړی و او د ستایلو وړ توره ئې کړې وه. وایي؛ د مرهټو کفارو د لښکرو سپهسالار بهاو (د شهنامې باهو) عنایت خان بړیځي وژلی دئ. د مرهټو کفارو تر ماتي وروسته، د دغي میړانې په صله کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره ده ته اووه زری منصب، د نوابی خطاب، خاص آس، نغاره او توغ ورکړل سوه او د اټاوې سیمه ئې د جاګیر په توګه وروبخښله[۳۶۵].

د سلطان التواریخ په ۱۷۰ مخ کي لیکلي دي:

"د پاني پت تر تاریخي سوبي وروسته، چي کومي سیمي د مرهټو څخه پاکي سولې، د پاني پت اتل لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دغو آزادو سوو سیمو یوه سیمه نواب حافظ رحمت خان ته ورکړله. حافظ صاحب ته وربخښل سوې سیمه د مرلي دهر له سرایه څخه تر تهتیا پوري پرته وه".

ستر ټولواک، د پاني پت قهرمان لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د پاني پت تر سوبي وروسته کندهار ته ستنېدئ، د ډهلي پاچهي ئې د دوهم عالمګیر (۱۱۶۷–۱۱۷۳ هـ. ق.) زوی، دوهم شاه عالم (۱۱۷۳–۱۲۲۱هـ. ق.) ته، د ډهلي د مغول دربار وزارت ئې د اوده نواب شجاع الدوله اېراني ته او د ډهلي د مغولي پاچهۍ امیر الامرائي (سپهسالاري) ئې نواب نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزي ته وسپارله، د روهیلکهنډ پښتنانه سرداران ئې ونازول او خپلو خپلو سیمو ته ئې رخصت کړل. نواب حافظ رحمت خان هم په دغو پښتنو سردارانو کي خپل جاګیر، بریلي ته ولاړ.

په (۱۱۷۸هـ. ق.) کال چي د ډهلي د مغولي دربار نام نهاده وزیر د اوده نواب شجاع الدوله د بنګال د نواب قاسم علي خان پر سیله، په پټنه کي له انګرېزانو (ایسټ انډیا کمپنۍ) سره جنګېده، د نواب حافظ رحمت خان مشر زوی نواب عنایت خان بړیځ ئې له پنځو زرو پښتنو سپاهیانو سره مرستي ته ورغلی و. شجاع الدوله چي په پټنه او بکسر کي د خپلو نمک حرامو سردارانو د ټګۍ او خیانت له لامله ماتې وخوړله، نواب عنایت خان بړیځی بریلي ته راستون سو. د (۱۱۷۹هـ. ق.) کال په پیل کي شجاع الدوله د پرنګیانو د حملو تاب رانه وړ، له کورنۍ سره

---

[۳۶۵] وګ: حیات حافظ رحمت خان، ۱۴۰ مخ. مګر مرتضی حسین بلګرامي د حدیقة الاقالیم په ۶۳۱ مخ کي د اټاوې ورکړې صله، د نواب حافظ رحمت خان بړیځ په نامه ضبط کړې ده.

ئې نواب حافظ رحمت خان ته پناه ورووړله او حافظ صاحب هم پناه ورکړله. د شجاع الدوله او روهيل کهنډ د سپاهيانو ترمنځ، چې يوه شخړه پيښه سوله، د نواب حافظ رحمت خان په سلا شجاع الدوله د بنګښو پښتنو د نوابۍ مرکز "فرخ آباد" ته ولېږدېد. په فرخ آباد کې نواب احمد خان بنګښ (۱۱۶۲-۱۱۸۵ه. ق.) هم شجاع الدوله ته پناه ورکړله.

پر روهيل کهنډ د مرهټو بريد:

مخکې تاسې ولوستل، د پاني پت د جنګ اتل لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چې له ډهلي څخه کندهار ته ستنېدئ، د ډهلي پاچهي ئې دوهم شاه عالم توراني مغول، وزارت ئې شجاع الدوله ايراني او امير الامرائي ئې نواب نجيب الدوله افغان ته ورکړله او په دې توګه ئې وغوښتله توراني، ايراني او افغاني مسلمانان په پاچهي کې شريک او د کفارو په مقابل کې دوی سره متحد کړي، خو تر څو چې د (۱۱۸۴ه. ق.) کال د رجب د مياشتي پر يوولسمه (= ۱۳ اکتوبر ۱۷۷۰ع) افغان امير الامراء په ميرټهـ کې مړ کېدئ، دوهم شاه عالم د ډهلي مخ ونه ليد او نه ايراني وزير شجاع الدوله، چې د (۱۱۷۴ه. ق.) کال د برات د مياشتي پر شپاړسمه له ډهلي ووت، بيا ئې تر مرګه (۱۱۸۸ه. ق.) پوري ډهلي ته سترګې ورښکاره نه کړلې. ناسياله دوهم شاه عالم د (۱۱۸۵ه. ق.) کال د کوچني اختر په لومړی روځ (= ۲۵ ډسمبر ۱۷۷۱ ع.) د مرهټه مادهوجي سيندهيا په مرسته، په ډهلي ننووت.

د تنقيح الاخبار د دوهم ټوک په ۵۵۸ مخ کې ليکلي دي:

د مرهټو لښکرو په (۱۱۸۶ه. ق.) کال (د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه تر مرګ وروسته) د ډهلي د مغول پاچا دوهم شاه عالم په اجازه، د روهيل کهنډ د پښتنو او اوده د لوټولو له پاره، له ډهلي څخه د روهيلکهنډ لور ته حرکت وکړ. د دغه کال د لوی اختر د مياشتي پر اووه ويشتمه د ګنګا تر سيند پوري وتل او پر مراد آباد ئې بريد وکړ. نواب حافظ رحمت خان غازي د شجاع الدوله په مرسته، د مرهټه لښکرو مخه ونيوله، خو د ډهلي د مغولي پاچهۍ د وزير امير الامراء نجف خان[۳۶۶] په زيار او منځګړيتوب، د مرهټو او روهيليو ترمنځ روغه وسوله او د مرهټو لښکري د (۱۱۸۷ه. ق.) کال په لومړی روځ د ګنګا تر سيند راپوري وتلې او کول (اوسني علي ګړه) ته ولاړلې.

د تاريخ هند عهد برطانيه په ۹۴ مخ کې ليکلي دي:

په (۱۷۷۲ع) کال مرهټو پر روهيل کهنډ بريد وکړ، د روهيل کهنډ سردارانو د اوده له نواب شجاع الدوله څخه مرسته وغوښتله، پای ته په دې شرط روغه وسوله، چې روهيلي سرداران به

---

[۳۶۶] نجف خان د اوده د نوابۍ له سردارانو څخه و، د بکسر په جنګ کې ئې د انګرېزانو په ګټه له خپل ولي نعمت شجاع الدوله سره دروه وکړله او انګرېزانو ته ئې بری وروګاټه. دوهم شاه عالم مغول چې د ډهلي ته راغی، انګرېزانو نجف خان ور وزير کړ. د امير الامراء نجيب خان نجيب الدوله زوی ضابط خان، چې د پلار تر مرګ وروسته ئې د ډهلي اداره په لاس کې وه، دغه نجف خان د ډهلي په اداري واک کې بې برخي کړ.

مرهټو ته څلوېښت لکه روپۍ څپلی ګنډ ورکوي، شجاع الدوله ئې ضمانت وکړ. نواب حافظ رحمت خان په دغو منلو روپو کي پنځه لکه روپۍ شجاع الدوله ته ورکړلې، خو مرهټو ته په لاس نه ورغلې. په دغه وخت کي مرهټه حاضر سول، سوی تړون په دې شرط مات کړې، چي روهیلي سرداران د نواب شجاع الدوله پر ضد د مرهټو ملا وتړي او پر اوده باندي ګډ برید وکړي، نیولي سوي سیمي به نیمي نیمي سره وېشي، خو روهیلي سردارانو دا خبره ونه منله او دشجاع الدوله پر سیله ودرېدل. له دغه سببه نو مرهټو کفارو پر روهیلکهنډ برید وکړ، خو د روهیلیو، اوده او انګرېزګډو پوځونو ئې مخه ونیوله.

له انګرېزانو سره غزا او د حافظ رحمت خان رحمة الله علیه شهادت:

د افغانستان ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د (۱۱۸٦ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په دوهمه روځ (= ۳ جون ۱۷۷۲ع) مړ سو. د ده مرګ په هندوستان کي د ایسټ انډیا کمپنۍ (انګرېزانو) د ملک نیولو هوس وپاراوه او تر ټولو دمخه ئې په روهیلکهنډ کي د پښتنو سردارانو د ځبلو او له منځه وړلو له پاره ملا وتړله او د اوده نواب شجاع الدوله ئې د ځان ملګری کړ.

د هندي مملکت برطانیه کا عروج و وسعت په ۲۰۲ مخ کي لیکلي دي:

"د اوده نواب شجاع الدوله او د ایسټ انډیا کمپنۍ د بنګال ګورنر وارن هیسټنګز[٣٦٧] د (۱۷۷۳ع) کال په اګسټ کي په بنارس کي سره ولیدل. ناسیاله شجاع الدوله له انګرېزي ګورنر څخه وغوښتل، چي د انګرېزانو پوځونه دي د روهیل کهنډ په نیولو کي د ده سره مرسته وکړي او پلمه ئې دا وه، چي د روهیلکهنډ پښتنو سردارانو له مرهټو سره د روغي منلی کلنګ، ده ته نه دئ ورکړی او پر خپل عهد نه دي درېدلي[٣٦٨]. شجاع الدوله د مرستي په بدله کي انګرېزانو ته د ډېرو روپو د ورکړي وعده ورکړله. انګرېزان داسي بلني ته غوږ غړي روغ وو، د انګرېزانو (ایسټ انډیا کمپنۍ) ګورنر وارن هیسټنګز د ناسیاله شجاع الدوله دا غوښتنه ومنله او دستي ئې د ایسټ انډیا کمپنۍ کونسل ته ولیکل:

---

[٣٦٧] "وارن هیسټنګز" په (۱۷۵۰ع) کال د ایسټ انډیا کمپنۍ نوکر سو او هندوستان ته راغی، اووه کاله ئې کار دا و، چي د وربښمینو ټوکرانو قیمتونه به ئې ټاکل او بیجکونه به ئې نقلول. د پلاسي تر جنګ وروسته، په (۱۷٦۰ع) کال د لارډ کلایتو له خوا د بنګال د مرشد آباد په دربار کي، د ایسټ انډیا کمپنۍ وکیل وټاکه سو. په (۱۷٦۳ع) کال د ایسټ انډیا کمپنۍ د کونسل (د مشورې مجلس) غړی سو. په (۱۷٦۵ع) کال انګلستان ته ستون سو، څو کاله چي ئې هلته تېر کړل، بیا د ایسټ انډیا کمپنۍ نوکر سو او په مدراس کي د ایسټ انډیا کمپنۍ د کونسل غړی وټاکه سو او په (۱۷۷۲ع) کال د بنګال ګورنر مقرر سو. (وګ: تاریخ هند، ۹۷ مخ)

[٣٦٨] د تاریخ هند په سلم مخ کي لیکلي دي، چي شجاع الدوله د روهیلکهنډ له پښتنو سردارانو څخه د کلنګ غوښتنه له څلوېښتو لکو روپو څخه تر دوو کرورو پوري ورسوله.

"که موږ شجاع الدوله ته روهيلکهنډ ور ونيسو، زموږ د پلوي په لاس به داسي يوه ټينګه او مضبوطه سيمه ورغلې وي، چي د ګنګا د سيند په واسطه به د لوېديځي خوا له حملو څخه خوندي وي او د هندوستان په شمال غربي برخه کي به د ګنګا تر سينده پوري زموږ سپايانو ته لار خلاصه وي، له دې تسخير څه به زموږ پلوي شجاع الدوله ته ډېر دولت په لاس ورسي او موږ ته به هم له هغه دولت څخه درنه ونډه راکړي، که څه هم په دې سوبه به د شجاع الدوله حيثيت جګ سي، خو دومره طاقت به نه مومي، چي بيا موږ ته خطر راپېښ کړي، دا ځکه چي د ده د قلمرو بريد (سرحد) به د مرهټو نيولو سيمو ته ورنژدې سي، دا نزدېکت دا ګټه لري، چي دی به تل د مرهټو د دفاع له پاره، زموږ مرستي ته اړ وي او زموږ سره به ئې اړېکي نوري هم ښې او ټينګې سي".

د ايسټ انډيا کمپنۍ کونسل (د مشورې مجلس) د وارن هيسټنګز له دغه وړانديز سره موافقه وکړله او د (۱۷۷۳ع) کال د اګسټ پر نولسمه (= ۱۱۸۷ هـ. ق. کال د درېيمي خور وروستۍ ورځ) د انګرېزانو ګورنر هيسټنګز په بنارس کي د ناسياله شجاع الدوله سره د روهيل کهنډ د نيولو تړون لاسليک کړ. د ناسياله شجاع الدوله او متجاوزو پرنګيانو ګډو لښکرو لومړی پر اټاوه بريد وکړ. اټاوه په دغه وخت کي د حافظ رحمت خان تر اداري لاندي وه. د اټاوې تر نيولو وروسته ئې پر فرخ آباد بريد وکړ. فرخ آباد په دغه وخت کي د نواب مظفر جنګ بنګښ اداري مرکز و. نوموړي نواب مظفر جنګ بنګښ د کاله څلور نيم لکه روپۍ کلنګ ومانه.

د يوسفزايي پټهان په ۶۱۸ مخ کي د ايسټ انډيا کمپنۍ د بورډ آف ډايرکټرز د صدر له خولې کښلي دي:

"ما له ډېري مودې راهيسي د روهيليو قوت، زموږ د هغه دوست (شجاع الدوله) له پاره خطرناک باله، چي د ايسټ انډيا کمپنۍ يوازينی ملګری دئ، ځکه نو زه د روهيليو د قوت له منځه وړل غواړم".

انګرېزانو او شجاع الدوله د اټاوې او فرخ آباد پر نيولو سکته (اکتفا) ونه کړله، د (۱۷۷۴ع) کال د اپريل پر ديرلسمه (= ۱ صفره ۱۱۸۸ هـ. ق.) ئې يو په درنو وسلو بار انګرېزی پوځ د کرنيل چمپين په مشرتابه، د روهيلکهنډ د نيولو په نيامت، د ناسياله شجاع الدوله ملاتړ سو[۳۶۹].

اې. مارسډن د تاريخ هندوستان د دوهمي برخي په ۲۸۰ مخ کي ليکلي دي:

"شجاع الدوله د دغي پوځي مرستي په عوض کي، ايسټ انډيا کمپنۍ ته څلوېښت لکه روپۍ ومنلې".

او د تاريخ هند په ۹۹ مخ کي ليکلي دي:

---

(۳۶۹) د سير المتاخرين د درېيم ټوک په ۹۳۷ مخ کي د انګرېزي پوځ د قوماندان نوم جرنيل بارکر کښلی دئ.

"شجاع الدوله د انګرېز پوځ د خرڅ له پاره، په دغه جنګ کې د میاشتې اووه لکه روپۍ ایسټ انډیا کمپنۍ ته ورکولې".

د انګرېزانو او شجاع الدوله ګډو لښکرو د روهیل کهنډ خوا ته مخه وکړله، نواب حافظ رحمت خان د روغې له پاره ډېرې لاس و پښې ووهلې، خو ځای ئې ونه نیوه. د روغې د زیار تر ناکامۍ وروسته، نواب حافظ رحمت خان په انوله (اوسنې رامپور) کې د غزا مقدس بیرغ اوچت کړ او د شلو زرو غازیانو له پوځ سره د پرنګیانو او شجاع د ګډو پوځونو د مخنیوي له پاره وخوځېد(۳۷۰)، د ګنګا تر سیند پورې ووت او په فریدپور کې ئې واړول. د ناسیاله شجاع الدوله اېراني، کرنیل چمپین انګرېز، ناسیاله ضابط خان یوسفزي او ناسیاله مظفر جنګ بنګښ ګډ پوځونه، چې شمېر ئې یو لکو پنځلسو زرو تنو ته رسېده، راوړاندې سول او په شاه جهانپور کې ئې واړول. د دښمن ګډ پوځونه له شاه جهانپور څخه تلهر ته ولېږدېدل. حافظ الملک حافظ رحمت خان هم له خپلو لښکرو سره ور وخوځېد، د بهګل تر سیند ورپورې ووت او د شاه جهانپور په میران پور کې ئې واړول(۳۷۱). د غلیم لښکرو له تلهره څخه د حافظ آباد (پهیلي بهیت) خوا ته مخه وکړله. غازي حافظ الملک هم له څلوېښتو زرو پښتنو غازیانو سره پسې ور وخوځېد او د موسلي په ډاک کې ئې د (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د صفري د میاشتې په لسمه ورځ (= ۲۲ اپریل ۱۷۷۴ع.) د غلیم د لښکرو مخه ونیوله. سبا ئې چې د صفري د میاشتې یوولسمه او د اپریل درویشتمه وه، غلیم د جنګ ډولونه وډنګول، صفونه ئې سره برابر کړل، کرنیل چمپین انګرېز د غلیمانو د ګډو پوځونو سرلاښ (مقدمة الجیش) سو. ناسیاله شجاع الدوله، ناسیاله ضابط خان او ناسیاله مظفر جنګ له خپلو پوځونو سره د غلیمانو د لښکرو په منځ کې ودرېدل. تر ټولو دمخه د انګرېزانو توپخانې د غازیانو پر لښکر باندې د ګولیو باړونه وچلول. پښتنانه اتل د شیخ کبیر زوی "مستقیم خان" له دریو زرو سپرو سره، له کیڼې خوا څخه د پرنګیانو پر توپخانه وروځغستل، څو توپونه ئې ځني ونیول او د ډېرو انګرېزانو میندې ئې بورې کړلې. نورو غازیانو چې د مستقیم خان دا توره ولیدله، د دوی وینې هم پر ایشناو راغلې، د اروابناد نواب علي محمد خان روهیله زوی، نواب فیض الله خان له پنځو زرو پلو او سپرو سره له ښۍ خوا څخه پر غلیم برید وکړ او د پرنګیانو پوځ ئې تر شا کېدلو ته اړ یوست، په دغه وخت کې د غازیانو سرغنه، نواب حافظ رحمت خان هم له خپلو لسو زرو ملګرو سره، د جنګ ډاک ته ور ودانګل، جنګ ښه تود سو، خو ناڅاپه یو خرڅ سوي روهیلکهنډي سردار (احمد خان)، د ناسیاله شجاع الدوله په پلوي توب، غدارانه ماتې وکړله، نور پښتنانه غازیان

---

(۳۷۰) د سیر المتاخرین په ۹۳۷ مخ کې لیکلي دي:

"د نواب دوندي خان بړېڅې زامنو (محب الله خان او فتح الله خان) د شجاع الدوله په لمسون، په دغه غزا کې د حافظ رحمت خان ملګرې پرې ایښې وه".

(۳۷۱) د فارسي اخبارات و مراسلات په ۹۸ مخ کې یو بل میران پور د بجنور د بشته (Bušta) په سیمه کې ښوول سوی دئ.

د غدار احمد خان په پیروي د ترشا کېدلو په هڅه کي سول، په دغه ترڅ کي د غلیمانو
خاني باروتو ته زور ورکړ او یوه ګولۍ د غازي نواب رحمت خان پر ټټر ولګېدله او
دستي ئې د اجل د ساقي له لاسه د شهادت کټوری نوش کړ.
انا لله و انا الیه راجعون!

د نواب حافظ رحمت خان له شهادته سره، په غازیانو ماتې ګډه سوله او د غیرتمن روهیل
ند واک د ناسیاله، انګرېز پاله شجاع الدوله د خودخواهیو او غداریو په سبب د پرنګیانو
س ته ورغی. د اتل حافظ رحمت خان شهید د شهادت تاریخي ماده، ما (رشاد) په دې جمله
ي موندلې ده:

"شـــهادت يې نصـيب شـــو"
۱۱۸۸

شهادت	=	۷۱۰
يې	=	۲۰
نصیب	=	۵۲
شو	=	۳۰۶
		۱۱۸۸

زما (رشاد) په دغه بیت کي هم د حافظ رحمت خان د شهادت تاریخي ماده ویلې سوېده:

چي شـجـاع د پـرنـګـیـانـو سـره مـل سـو
مرور له "دې دنیا" "د خدای رحمت ولاړ" (۳۷۲)

کاظم خان شیدا (۱۱۹۴ هـ. ق. مړ) د شهید حافظ رحمت خان برېڅي د شهادت تاریخي ماده
اسي موندلې ده:

په میدان چي حافظ جي پرېووت شـهید شـو
کشــنـده ئـې پـه رحـلـت کـي شــه عـجـول
اسـتـفسـار کـه د تـاریخ کاندي څوک، وایه:
چي "یـو کـال و د قـاتـل و د مـقـتـول" (۳۷۳)

نواب محبت خان برېڅي د خپل پلار د شهادت تاریخي ماده، په پښتو ژبه کي "خانا دلِ راشا"
موندلې او په یوه پارسي قطعه کي ئې داسي ځای کړېده:

(۳۷۲) حل ئې: د خدای رحمت = ۱۲۶۷ (د مرور په قرینه د تخرجې په عمل) - دې دنیا (۷۹) = ۱۱۸۸ هـ. ق.
(۳۷۳) وګ: د کاظم خان شیدا دېوان، د کابل چاپ، ۲۱۶ مخ. ناسیاله شجاع الدوله د حافظ صاحب رحمة الله علیه تر شهادت ۹
میاشتي ویوولس یا دوولس ورځي وروسته، د دغه (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د میانۍ د میاشتي پر ۲۲ یا ۲۳ مړ سو.

آن حافظ شرع نبوی بعد شهادت
چون رفت سوی خلد برین بهر تماشا
رضوان پی تعظیم رضا جست و همی گفت
در معنی تاریخ که "خانا دلِ راشا" معنٰی تاریخ
که (خانا دلِ راشا) [۳۷۴]
۱۱۸۸

دغه پښتو تاریخي ماده په یوه اردو بیت کي داسي راغلې ده:
حافظ کا گرا گھوڑے سے جس وقت که لاشا
ھاتف نے دي آواز که "خانا دلِ راشا" [۳۷۵]

د نواب حافظ رحمت خان نوري د شهادت تاریخي مادې:

چو شد حافظ الملک راهی به جنت
بشوق بهشت این جهانِ کرد پدرود
شدم طالب سال رحلت، چو او را
بگفتا خرد: "حافظ مومنان بود" [۳۷۶]

۞ ۞ ۞

حافظ که جو رحمت مین و مستغرق هے
اس کا غم مرگ سے دل اپنا شق هے
از بس که وه حافظ کلام حق تها
تاریخ بهی "حافظ کلام حق" هے
۱۱۸۸

۞ ۞ ۞

چو از لفظ "ظفر" تاریخ جستند
پی باقی سر حافظ بریدند [۳۷۷]

---

[۳۷۴] دغه پښتو تاریخي ماده اوس داسي لیکله کېږي: (خانه! دلې راشه)، په پارسي ژبه ئې معنا داسي ده: (ای خان این جا بیا).

[۳۷۵] وګ: صولت افغاني، د زردار خان ناغر تالیف، ۲۶۴ مخ.

[۳۷۶] وګ: ۱۸۵۷ع کے غدار شعراء، ۱۰۹ مخ، د ډهلي چاپ، د امداد صابري تالیف.

[۳۷۷] وګ: هفت قلزم. حل ئې: ظفر (۱۱۸۰) + سر حافظ (ح) = (۸) = ۱۱۸۸.

د اردو ژبي نامتو شاعر ميرزا محمد رفيع دهلوي سودا (۱۱۹۵ هـ. ق. مړ) د ناسياله شجاع الدوله او د هغه د زوی آصف الدوله د دربارونو شاعرو، ده د نواب حافظ رحمت خان شهيد رحمة الله عليه د شهادت تاريخ داسي ويلی دئ:

حافظ نے سر ديا نه ديا زر[۳۷۸]

نواب محبت خان د خپل پلار نواب حافظ رحمت خان د شهادت تاريخي ماده، په عربي ژبه داسي ويلې ده:

اذا مات شيخ النصير الكبير
سئلنا من الله تاريخه
على سنت المصطفىٰ عامل
فقد قال "فی جنتی داخل"

د تاريخ روهيلکهنډ په ۲۴۹ مخ کي کښلي دي:

د ناسياله شجاع الدوله او پرنګيانو تر سوبي وروسته، چي د روهيلکهنډ د پښتنو سردارانو ککرۍ شجاع الدوله ته وروړلي سوې، د شهيد حافظ رحمت خان ککرۍ تر ټولو دمخه شاه مدن رحمة الله عليه وپېژندله او په لوړ ږغ ئې وويله:

سر کشته بر نيزه ميزد نفس
که معراج مردان همين است و بس

د شاه مدن رحمة الله عليه دا خبره پر شجاع الدوله بده ولګېدله، خو هغه وخت ئې څه ونه ويل، کله چي بسولي ته د ښمنانو لښکر ورسېد، د شجاع الدوله په حکم شاه مدن رحمة الله عليه زندان ته واچول سو، شته چي ئې هر څه وو، ضبط سول او شاه مدن رحمة الله عليه په همدغه بند کي ومړ.

د ميران پور د سوبي په ماښام ناسياله شجاع الدوله د شهيد حافظ رحمت خان بې سره تن د جنګ له ډاګه وروغوښت، د ناسياله شجاع الدوله په حکم، د شهيد حافظ رحمت خان ککرۍ او تنه سره وګنډل سوه او په هغه شپه د رساله دار عزيز خان په لاس د شهيد حافظ الملک مړی بريلي ته واستول سو. د اپريل پر څلېرويشتمه (= د صفري پر دوولسمه) چي د يکشنبې روځ وه، د اتل شهيد حافظ الملک مړی بريلي ته ورسېد. د شهيد اتل په وير کي د اوښکو لښتي وبهېدل، د کريږو او ساندو ازانګو د بريلي فضا پر سر واخيستله، مازديګر د شهيد اتل مړی، د بريلي تر ښار دباندي، د ښار لويديځ پلو ته، د خان محمد خان په باغ کي خاورو ته وسپارل

---

[۳۷۸] حل ئې: حافظ (= ۹۸۹) + زر (= ۲۰۷) = ۱۱۹۶ – سر حافظ (ح) (= ۸) = ۱۱۸۸.

سو. هدیره ئې او ښاره (مشهوره) ده، تر اوسه ئې خلک زیارت ته ورځي او د ده په روی له لویه خدایه څخه خپل مرادونه غواړي.

د عماد السعادت په ۴۱ مخ کي لیکلي دي:

"د حافظ رحمت خان د نوابي مستوفي (دېوان) راو پهاړ سنګه کهتري و".

د حیات حافظ رحمت خان په ۲۵۶ مخ کي لیکلي دي:

"دغه راو پهاړ سنګه لومړی سړی دئ، چي په (۱۷۷۵ع.) (= ۱۱۸۹ هـ. ق.) کال ئې د شهید اتل حافظ رحمت خان بړیځي رحمة الله علیه د هدیرې په جوړولو لاس پوري کړ، خو دی لس میاشتي وروسته و مړ".

په تاریخ روهیلکهنډ (۲۴۹ مخ) کي لیکلي دي:

"د حافظ رحمت خان د هدیرې پاته کار د شهید حافظ رحمت خان اووم زوی، ذوالفقار خان بړیځي (۱۱۶۶-۱۲۱۲ هـ. ق.) په (۱۷۸۰ع) (= ۱۱۹۴ هـ. ق.) کال پسي بشپړ کړ او یوه ښه ګومبته ئې د پلار پر قبر جوړه کړله".

په (۱۸۱۹ع) (= ۱۲۳۵ هـ. ق.) کال د ایسټ انډیا کمپنۍ ګورنر جنرال "ارل آف مایرا" (۱۸۱۳-۱۸۲۳ع) د پښتانه اتل شهید حافظ رحمت خان بړیځي د زیارت ګومبته ترمیم کړله.

د حافظ صاحب رحمة الله علیه تر شهادت وروسته د ده د کورنۍ حال:

د اتل حافظ رحمت خان شهید تر شهادت وروسته، ناسیاله شجاع الدوله او پرنګیانو روهیل کهنډ تالا ترغه کړ، تر زر زیات کلي ئې وسوځول او په زرو ماڼۍ او ودانۍ ئې کنډوالې کړلې. د پرنګیانو د مهاجم لښکر سرغنه کرنیل چمپین لیکلي دي:

"یوازي په لوټ کي شجاع الدوله ته پنځوس لکه روپۍ، ډېر جواهرات او ګېڼې او په زرو آسان، اوښان او پیلان په لاس ورغلل".

په دغه لوټ کي د اتل حافظ رحمت خان شهید کور هم لوټ سو او د کورنۍ نر و ښځي او زاړه و واړه ئې بندیان سول.

سید غلام حسین طباطبائي د سیر المتاخرین (د ۱۱۹۵ هـ. ق. کال تالیف) په ۹۳۹ مخ کي د ناسیاله شجاع الدوله د مرګي د خوړ په باب لیکلي دي:

"په خلکو کي مشهوره ده، د اتل حافظ رحمت خان تر شهادت وروسته، چي ناسیاله شجاع الدوله بریلي ونیوله او د حافظ رحمت خان صاحب د کورنۍ ټول غړي ئې زندان ته واچول، په دغو بندیانو کي د حافظ صاحب رحمة الله علیه یوه مسته او ښکلې پېغله لور هم وه، (ناسیاله) شجاع الدوله چي یو شهوت پرست، عیاش او امرد دوسته سړی و، یوه شپه ئې د حافظ رحمت خان هغه توریالۍ لور خپلي خوابګاه ته وروغوښتله او د همبسترۍ ناپاکه غوښتنه ئې ځني وکړله. توریالۍ لېځي را ونغښتلې، څلور څلوېښت کلن شجاع الدوله ئې تر څټ ونیوه، رانسکور ئې کړ او په زهرو لړلې

اره ئې له بغل جيبه را وکښله، د کناټو تر منځ ئې هسي ګوزار ورکړ، چي زهر داره چاړه ئې تر موټي
ري د شجاع الدوله په مردارو غوښو کي ښخه سوله، سبا سهار شجاع الدوله، پلويانو ئې او د
يار طبيبانو د زهرداري چړې پر ټپ باندي د شنجکي نوم کښېښود. دې شنجکۍ ځلور مياشتي
شجاع الدوله په بدن کي ريښې ځغلولې او د (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د ميانۍ (ذوالقعدې) د مياشتي
دوه ويشتمه يا درويشتمه ئې د ناسياله شجاع الدوله ناپاکه ژوند پای ته ورساوه. توريالۍ
ښخي په ورين تندي شهادت ومانه، خو خپله پاکه لمن ئې، د بدلمنۍ له ټپلي ځخه خوندي
ساتله".

د توريالۍ برېښخي د اتلتوب، تر حماسې وروسته، د ناسياله شجاع د بري او د روهيلکهنډ د
هی قصې ته ستنېږو:

ناسياله شجاع الدوله چي له خپلو لښکرو او پرنګيانو سره د روهيلکهنډ د نيولو په لړ کي
سولي ته ورسېد، له بسولي ځخه ئې د روهيلکهنډ له نورو بنديانو سره د شهيد اتل حافظ
رحمت خان د درنې کورنۍ غړي اله آباد ته، د بنديانو په توګه ولېږل. د حافظ صاحب زوی نواب
حبت خان چي په دغو بنديانو کي و، د خپلي کورنۍ د بند او اله آباد ته د لېږلو کيفيت داسي
ن کړی دئ:

وطن کو چهوڑ کے جاتے ہیں اس طرح مجبور
چلے تھے اهل حــرم جس طرح مــــدینے سے

(طبقات الشعراء، ۴۵۳ مخ)

د شهيد حافظ رحمت خان او نورو روهيليو سردارانو کورنيو، يو نيم کال د اله آباد په زندان
ي تېر کړل. غلام حسين طباطبائي د سير المتاخرين په ۹۳۸ مخ کي ليکلي دي:

"د حافظ رحمت خان شهيد د کورنۍ غړي ډېره موده په اله آباد کي بنديان وو او په خورا
ختۍ ژوند پر تېرېده".

د شهيد حافظ رحمت خان او نورو روهيله سردارانو کورنيو، تر يو نيم کال بند وروسته، د
نګيانو په سپارښت، د اله آباد له زندانه ځخه خلاصون وموند.

زين سنګهه زخمي لکهنوي په سلطان التواريخ کي د شهيد حافظ رحمت خان د کورنۍ د
لاصون وخت د (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال د محرمي مياشت ښوولې ده، خو دا د تأمل وړ خبره ده، ځکه
ې دغه مظلوم بنديان، د اخبار الصناديد په وينا د (۱۱۸۹ هـ. ق.) کال د برات په مياشت کي
شي سوي دي.

په سلطان التواريخ کي د مظلومو روهيليو کورنيو د خلاصون بيان داسي ليکلی دئ:

"د (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال د محرمي په مياشت کي د ناسياله شجاع الدوله زوی، آصف الدوله،
ي د پلار تر مرګ وروسته د (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د ميانۍ په مياشت کي د اودهـ نواب سوی و، په
ندي ګهاټ کي له خپلو لښکرو سره اړولي وو، په دغه وخت کي د لکهنو انګرېز ريزيډنټ "جان
شتهو" د روهيليو سردارانو د کورنيو د خوشي کولو غوښتنه وکړله او آصف الدوله د انګرېز

ريزيډنټ خبره پر مڅکه وانه چوله، آصف الدوله د روهيليو سردارانو کورنۍ مهدي ګهاټ ته وروغوښتلې او خوشې ئې کړلې".

د سلطان التواريخ مولف دا هم زياته کړېده:

"د روهيله سردارانو کورنۍ چې خوشې سولې، پرنګيانو ورته وويل:

موږ انګرېزان په هيڅ کار نه لرو، هر څوک چې هري خوا ته ځي، تلای سي".

ځکه نو د شهيد اتل حافظ رحمت خان د کورنۍ بنديان غړي، تر خلاصون وروسته، ځيني بريلي ته ولاړل او ځيني په لکهنو کي مېشت سول. د لکهنو په مېشتو سوو غړو کي نواب محبت خان هم و. نجم الغني رامپوري د اخبار الصناديد د لومړي ټوک په ۵۶۷ مخ کي ليکلي دي:

"د شهيد حافظ رحمت خان درنه کورنۍ د (۱۱۸۹ هـ. ق.) کال د برات پر اووه لسمه د اله آباد له زندانه راوايستل سوه، د بنديانو دغه مظلوم کاروان، د دغه کال د برات پر نهه ويشتمه، لکهنو ته ورسېد".

د دې بحث په پای کي به بې ځايه نه وي، چي ووايو، ناسياله شجاع الدوله او پرنګيانو چي د روهيلکهنډ تر نيولو وروسته له روهيل کهنډه وتل، د کنډواله کړي روهيلکهنډ اداره ئې د ناسياله شجاع الدوله زوی، سعادت علي خان ته وسپارله او د بريلي حاکم ئې وټاکه، خو لس مياشتي لا نه وې تېري، چي د شجاع الدوله خوله پټه سوه. د شجاع الدوله جانشين آصف الدوله د مختار الدوله مرتضیٰ خان او د لکهنو دا نګرېز ريزيډنټ مېجر پولر په سلا خپل ورور، سعادت علي خان له روهيلکهنډه څخه د اوده مرکز فيض آباد ته وروغوښت.

د تاريخ هند په ۱۰۰ مخ کي ليکلي دي:

"د روهيل کهنډ په غزا کي د شهيد حافظ رحمت خان درې زامن هم شهيدان سول. پنځه لکه پښتانه بې کوره سول او روهيل کهنډ ويجاړ سو".

د روهيل کهنډ او روهيليو په باب د پرنګيانو او نورو نظريې:

د روهيل کهنډ په بريد کي د پرنګيانو د پوځ مشر کرنيل چمپين و، ده په دغه جنګ کي د پښتنو توره داسي ستايلې ده:

"د دښمنانو په باب دا ويل لازم ښکاري، چي زياتره ئې دومره زړه وروو، چي د مقابل لښکر په زړه کي ئې بيرغ نجته، دا د دې له پاره چي د ملګرو همت وپاروي او حوصله ئې زياته کړي"[۳۷۹].

مسټر وايټ ليکلي دي:

"په روهيل کهنډ کي چي کوم پښتانه اوسېدل، له دوی سره په روهيلکهنډ کي لس لکه هندوان مېشته وو".

مانسټوارټ الفنسټون زياته کړېده:

---

(۳۷۹) وګ: د الله بخش يوسفي "يوسفزايي پټهان"، ۶۱۹ مخ.

"په روهيلکهنډ کي له هندوانو سره د روهيليو مهرباني د هېرېدلو نه دي. روهيليو چي څنګه د روهيل کهنډ سيمه ودانه کړې وه، زموږ (پرنګيانو) درست لښکر د هغه اعتراف ته مجبور دئ".

سر جان ستړېچي په "Histings and the Rohilla War" کي ليکلي دي:

"دا يو حقيقت دئ، چي له هندوانو سره د روهيليو له خوا خورا فياضانه سلوک کېده او تر نورو ګاونډيو نوابيو په روهيلکهنډ کي د هندوانو ساتنه او هوسايي زياته وه".

د هندي مملکت برطانيه کا عروج اور وسعت په ۲۰۲ مخ کي کښلي دي[۳۸۰]:

"پر روهيلکهنډ باندي د ايسټ انډيا کمپنۍ د پوځ بريد د بريتانيا په پارلمان (اولسي جرګه) کي وغندل سو، پر وارن هيسټنګز ډېري نيوکي وسولې او دغه کار د ده د حکومت پر لمن يوه سياسي ټپله وبلله سوه".

نجم الغني رامپوري د جام جهان نما او تکملۀ ذکر ملوک په حواله ليکلي دي:

"رشتيا خبره دا ده، چي د روهيلکهنډ په پښتنو کي چي کومه ديندار ي سته، په نورو ځايو کي نه ليدله کېږي. روهيلي لمانځه، روژې، د قرآن شريف ويلو او د ديني علمونو زده کړې ته خاصه توجه لري".

مسټر بروک د انګلستان په دارالعلوم کي داسي ويلي وه:

"د روهيل کهنډ سيمه د ګلو د بڼ غوندي وه، د روهيل کهنډ پښتانه په ټوله نړۍ کي يو دروند او فياض قام دئ".

د حافظ رحمت خان شخصيت:

سيد الطاف علي د حافظ رحمت خان د شخصيت په باب ليکلي دي:

"نواب حافظ رحمت خان ډېر متقي، پرهېزګاره او پاک سړی و، له هر راز لهو و لعب څخه ئې کرکه کوله، نامشروع کالي ئې نه اغوستل، وېل او ناخوالي ئې کورټ نه ويلې، د خلکو عيبونه ئې پټول، د زړو د په لاس ته راوستلو له پاره ئې ډېره هڅه کوله، تواضع او حلم ئې زيات و، په لاس کي خلاص و، له هيچا ئې خپل وس نه سپماوه، رشتيا ويل ئې رشه وه، هوښياري، تدبير او فصيحه ژبه ئې درلوده[۳۸۱]".

د عماد السعادت په ۴۵ مخ کي د حافظ رحمت خان د هوښيارۍ په باب دا جمله ليکلې ده:

"سر آمد عقلاء قوم بود".

پير معظم شاه د تواريخ حافظ رحمت خاني په سريزه کي حافظ الملک حافظ رحمت خان برېڅی داسي ستايلی دئ:

---

[۳۸۰] د دغه کتاب انګرېزي متن سر الفريډ لايل ليکلی او سيد عبد السلام په اردو ژبه ژباړلی دئ. دا اردو ژباړه په (۱۳۴۰ هـ. ق.) کال په دکن کي چاپ سوېده.

[۳۸۱] وګ: حيات حافظ الملک، ۲۷۶ مخ.

"عمدة الامراء العظام، اسوة الكبراء الفخام، خان عالي شان، حافظ الملک و الفرقان، خان رحمت خان سلمه الله تعالیٰ؛

آنکـه از رایش عـروس مـلـک را
رونق و حسن و جمال و زیور اســـت
ظاهـــرش بر جادهٔ شــرح رســـــول
باطـــنش هر دم بیـــاد داور اســــت
هر چه در مدحش نویسد کلک فهـم
ذات عالی را سزا و در خور اســـت"

مسټر بروک انګلیس د حافظ رحمت خان د شخصیت په باب لیکلي دي:

"حافظ رحمت خان په ټولو روهیلیو سردارانو کي وتلی شخصیت و، د خپل وخت باتوره مېړه و، په علمي ذوق او شاعري کي ئې شهرت درلود".

د تاریخ اوده د لومړي ټوک په ۳۳۷ مخ کي لیکلي دي:

"په حافظ رحمت خان کي ډېر فضیلتونه وو، د قرآن حافظ و، د دیني علمونو عالم و، عفوه، تواضع او سخائې درلوده، متقي او متدین سړی و".

د حافظ صاحب د حلم او عدالت په باب سید الطاف علي د حیات حافظ رحمت خان په ۲۹۷ مخ کي لیکلي دي:

"حافظ رحمت خان تل د تهجد لمونځ کاوه، یوه شپه چي اوداسه ته تېر سو، د یو چا ښکالو ئې تر غوږ سوه، دا ښکالو د یوه تکړه او غښتلي ځلمي وه، چي د حافظ الملک وژلو ته لمسول سوی و. ځلمي پر حافظ صاحب باندي د چړې وار وکړ، حافظ صاحب ئې لاس ټینګ ونیوه، چي جنایت کار هر څومره زور وواهه خپل لاس ئې خلاص نه کړای سو. خلک په پېښه خبر سول، جنایت کار پهره دار ته وسپارل سو. سبا چي جنایت کار دربار ته وروستل سو، نکته دانه حافظ الملک له جنایت کار څخه د لمسونکي په باب هڅو پوښتنه ونه کړله او په دې کي ئې غرض دا و، نه چي جنایت کار د پښتنو د نفاق او بدبینۍ له پاره وسیله سوی وي او د روهیلکهنډ د پښتنو سردارانو زړونه په خپلو منځو کي سره بد کاندي. حافظ صاحب د جنایت کار د وژلو حکم ونه کړ، بندي وساته سو.

خو د حافظ صاحب په پټه، صندل خان کوتوال د جنایت کار سترګي وروکښلې. حافظ صاحب چي په خبر سو، کوتوال ئې وتراټه، هغه جنایت کار ته ئې پر دوا او درمل برسېره له خپل پخلنځي (مطبخ) څخه خواړه هم ورمقرره کړل او د روځي ئې یوه یوه روپۍ هم ورکوله، چي د کور مصرف ئې سي. تر هغو چي هغه جنایت کار ژوندی و دا اعانه او مرسته قضا نه سوله".

د حافظ الملک دا عادت و، هر ځای چي به ئې ونیوه، د ده په حکم به د هغه ځای د کونډو نومونه لیکل کېدل او هغو ته به له بیت المال څخه خرڅی ورمقرره کېدی. کله چي حافظ الملک

کھیرا گړه ونیوه، له رسمه سره سم د هغه ځای د کونډو نوموونه لیکل کېدل، د شاوخوا سیمو کونډو هم ځانونه کھیرا گړه ته ورسول او خپل نوموونه ئې د کھیرا گړه په کونډو کې ولیکل، ځکه نو له هغه وخته په روهیل کهنډ کې د اردو ژبې دا متل باب سو، چې وایي:

"کهین کے مرے، کھیرا گڑھ کی رانڈ".

ژباړه: گوره چې مېړه ئې چیرې مړ دئ، خو دا د کھیرا گړه کونډه ده.

د حافظ رحمت خان علم پالنه:

سید الطاف علي لیکلي دي:

"نواب حافظ رحمت خان پخپله عالم سړی و، ځکه ئې نو له علم او علماوو سره مینه درلوده، ده د خپل وخت متداول علمونه په تېره بیا فقه بشپړه لوستلې وه او په دوولس کلنۍ کې ئې قرآن شریف په یاد کړی و[۳۸۲]".

مولانا عبید الله سندهي د "شاه ولی الله اور ان کي سیاسي تحریک" په ۱۷۷ مخ کې لیکلي دي:

"د حافظ رحمت خان له خوا په ډهلي کې د حضرت شاه ولي الله دهلوي رحمة الله علیه د مدرسې په سوو شاگردانو ته تنخواوي مقرره سوي وې".

سید الطاف علي په حیات حافظ الملک کې دا هم لیکلي دي:

د حافظ الملک په وختو کې تقریباً پنځه زره تنه په روهیل کهنډ کې په اسلامي تعلیم او تعلم بوخت وو، دې ټولو ته د حافظ صاحب له خوا تنخواوي ورکولې کېدلې. د مدرسو ټول درسي کتابونه د حافظ صاحب له خوا ورتهیه کېدل. هر طالب چې به له درسونو څخه فراغت وموندہ، حافظ الملک به خپل دربار ته وروغوښت او په خپل لاس به ئې د ملايۍ پګړۍ وروتړله".

وایي: حافظ الملک چې د بحر العلوم مولوي عبد العلي لکهنوي (۱۱۴۴-۱۲۳۵ھ. ق.) په تبحر خبر سو، شاه جهانپور ته ئې وروغوښت او یوه خاصه مدرسه ئې ورته جوړه کړله، بحر العلوم شل کاله په دغه مدرسه کې تدریس وکړ. د حافظ صاحب تر شهادت وروسته نواب فیض الله خان روهیله، د روهیلکهنډ مرکز رامپور ته بوت[۳۸۳]".

ابو الحسنات عبد الشکور ندوي د "هندوستان کي قدیم درسگاهین" په ۳۸ مخ کې لیکلي دي:

"د روهیل کهنډ نواب حافظ رحمت خان د روهیلکهنډ په شاهجهانپور، بریلي او پهیلي بهیت (حافظ آباد) کې د اسلامي علومو مدرسې جوړې کړې وې او خرڅ ئې د روهیل کهنډ له

---

[۳۸۲] وګ: حیات حافظ الملک، ۱۳ مخ.

[۳۸۳] وګ: تذکره علمای اهل سنت، ۱۴۳ مخ، تذکره علمای هند، ۱۲۲ مخ.

خزانې څخه حافظ الملک ورکاوه".
د شهید حافظ رحمت خان لمسي سعادت یار خان (۱۲۴۸ هـ. ق. مړ) په "گل رحمت" کې
لیکلي دي:
"به استماع خبر قدرشناسی علما و دین پروری حافظ رحمت خان صد ها عالمان متبحر چو
(بحر العلوم) مولوی عبد العلی لکهنوی و غیره هم در شهر های کتهیر مجتمع شده، مواج
کثیره از سرکار می یافتند".
د تذکره علما اهل سنت په ۳۵۹ مخ کي لیکلي دي:
"مولانا شاه وصي احمد سورتي په (۱۸۶۷ ع.) (= ۱۲۸۴ هـ. ق.) کال د خپل پیر مولانا فض
الرحمان گنج مراد آبادي په حکم او د طریقې د ورور مولانا خلیل الرحمان پهیلي بهیتي په بلن
پهیلي بهیت ته ولاړ او هلته ئې د حافظ رحمت خان په ودانه کړې مدرسه کي تدریس پیل کړ او دغ
مدرسه ئې "حافظیه" مدرسه ونومله. په (۱۳۰۱ هـ. ق.) کال حافظیه مدرسې ته څرمه، یوه الحاق
ودانۍ جوړه او مدرسة الحدیث نوم ئې پر کښېښود".
ډیسایي لیکلي دي:
د افغاني تاریخ سره دومره مینه او علاقه په تېره بیا د دوی د ژبې په باره کي د اترپردېش ل
بریلي څخه د روهیلیو له مشر حافظ رحمت خان (۱۷۴۸–۱۷۷۴ ع.) (= ۱۱۶۱–۱۱۸۸ هـ. ق.) ل
وخته بیا راڅرګندې کېږي. د مثال په توګه محمد صدیق د حافظ رحمت خان له پاره، د ده په امر د
د پښتنو تاریخ، چي د ځینو قبایلو احوال پکښې لیکل سوی و، ترجمه او له سره ولیکه او تاری
رحمت خاني ئې نوم پر کښېښود.
دغه نومیالي پوه (حافظ رحمت خان) هم یو کتاب ولیکه، چي خلاصة الانساب نومېږي ا
دا د افغانانو یوه شجره او نسب نامه ګڼل کېدای سي. د ده زوی الله یار یوه هندي–پښتو ډکشنر
ولیکله، چي عجائب اللغات نومېږي. د ده مشر زوی محبت خان په دري او پښتو کي د دېوا
خاوند و او د ریاض المحبت په نامه ئې پښتو ګرامر او ډکشنري هم لیکلې ده.

د حافظ صاحب کتابتون:

په "Histings and Rohilla War" کي سر جان ستریچي لیکلي دي:
"حافظ الملک د روهیل کهنډ په بریلي کي یوه لویه کتب خانه درلوده، د حافظ صاحب تر
شهادت او د روهیلکهنډ تر نیولو وروسته، دغه کتب خانه د اوده نواب شجاع الدوله د (۱۱۸۸هـ
ق.) کال د برات د میاشتي پر پنځمه له ځانه سره لکهنو ته یووړله. د روژې میاشت شجاع الدول
په لکهنو کي تېره کړله او د حافظ الملک کتب خانه ئې د لکهنو په شاهي کتب خانه کي مدغم
کړله. د حافظ الملک د کتب خانې کتابونه د لکهنو د شاهي کتب خانې بنسټ او اساس سو".
جان ستریچي دا هم زیاتوي:

"ما په جبه خانه کي ځلوېښت سندوخه (صندوقه) کتابونه وموندل، دا ټول د حافظ الملک کتابتون کتابونه وو. په دغو کتابو کي څه پښتو کتابونه هم وو، چي په ډېر اهتمام خورا خوشخطه ښکلي ليکل سوي وو[۲۸۴]".

د يوسفزايي پټهان په ۶۱۹ مخ کي هم د جان ستړېچي دغه روايت رانقل سوی دئ او دا پر زياته سوېده:

"د (۱۸۵۷ع) کال د هندوستان د آزادۍ په جنګ کي دغه فرهنګي ذخيره تالا ترغه سوه او ځيني کتابونه ئې د لندن کتب خانو ته يوووړل سول".

اروابښاد عبد الحليم اثر د اولس مجلې د (۱۹۷۲ع.) کال په (۱۱-۱۲) ګڼو کي ليکلي دي:

"د حافظ رحمت خان او د هغه د کورنۍ څو سندوخه کتابونه، چي په هغو کي پښتو کتابونه هم وو، انګرېز سپاهيانو لوټ کړل. ځيني ئې انګرېز ختيځ پوه مېجر هانري جارج راورټي (۱۸۲۵-۱۹۰۶ع) ته په لاس ورغلل. د دغو کتابونو حال نوموړي جارج راورټي او نارويژي ختيځ پوه مارګن ستيرن دواړو بيان کړی دئ، مارګن ستيرن دا هم زياته کړېده:

دا ذخيره ځلوېښت سندوخه وه، زياتره ئې د لکهنو په اړودوړ کي ضايع سول، څه چي بچ سول هغه د جارج راورټي په لاس کښېوتل".

د الزبير په ۷۸ مخ کي ليکلي دي:

"شجاع الدوله د کتابو د ټولولو شوق درلود، د حافظ الملک حافظ رحمت خان تر شهادت وروسته، چي ئې روهيلکهنډ ونيو، د حافظ رحمت خان شهيد کتابخانه ئې هم خپله کړه".

د الزبير په ۸۳ مخ کي زياته سوېده:

"ډاکټر سپرنګر د اوده د شاهي کتابتون په فهرست کي څرګنده کړې ده، چي د حافظ رحمت خان ټوله کتابخانه د اوده په شاهي کتب خانه کي خوندي ده (؟)، د حافظ رحمت خان په کتابونو کي پښتو خطي نسخې، چي خورا خوشخطه دي هم سته[۲۸۵]".

تواريخ حافظ رحمت خاني:

نواب حافظ رحمت خان يوازي د کتابونو د راټولولو په هڅه کي نه و، بلکي په پوهانو ئې کتابونه هم تاليفول، يو له هغو څخه "تواريخ حافظ رحمت خاني" دئ، چي د پېښور د پير سباک د کلي اوسېدونکي پير معظم شاه د حافظ صاحب په غوښتنه، له "تاريخ افاغنه" نومي کتاب څخه خلاصه کړی دئ. تاريخ افاغنه (چي د خان کجو د تاريخ په نامه ياد سوی دئ) په (۱۰۳۱ه. ق.) کال (يا د تواريخ حافظ رحمت خاني د اردو ژباړي د سريزي په وينا د ۱۰۳۳ه. ق. په شاوخوا کي) تاليف سوی دئ.

---

[۲۸۴] وګ: حيات حافظ رحمت خان، ۲۹۸ مخ.

[۲۸۵] وګ: د "شاهان اوده کي کتابخانې، مقدمه، ۳ مخ.

د تاریخ افاغنه مولف په ډېرو ځایونو کي خواجو ملېزی ښوول سوی دئ، خو د تواریخ حافظ رحمت خاني په هغه خطي نسخه کي، چي د پیر معظم شاه پخپل قلم په (۱۱۸۲ ه. ق.) کال لیکل سوې او د ډهلي په ملي موزیم کي ساتله کېږي، د تاریخ افاغنه مولف قطب الزمان شیخ میر داد خلیل متي زی ښوول سوی دئ، چي د شیخ قاسم سلیماني رحمة الله علیه نیکه او د باجوړ په لاشوره کي ښخ دئ(؟).

وایي د ډهلي د موزیم د خطي نسخې په پای کي لیکنه داسي ثبت ده:

"باختتام رسید نسخه تواریخ افاغنه من تصنیف قطب الزمان شیخ میرداد خلیل متی زی حسب الفرمان والا شان حافظ الملک و الفرقان وحید العصر و الزمان خان رحمت خان به دستخط پیر معظم شاه ولد سر معظم شاه متوطن پیر سباک ۱۱۸۲ ه. ق. تحریر یافت".

د حافظ رحمت خان زوی الله یار خان هم د خلاصة الاعجاب په سریزه کي د تاریخ افاغنه مولف میرداد متی زی خلیل بللی دئ. د تاریخ افاغنه زموږ تر بحث لاندي لنډیز، چي "تواریخ حافظ رحمت خاني" نومېږي، په (۱۱۸۱ ه. ق.) کال بشپړ سوی دئ.

د تواریخ حافظ رحمت خاني کومه خطي نسخه، چي د لندن په برټش موزیم کي خوندي ده، محمد اسمٰعیل کندهاری ئې د (۱۸۶۴ ع.) کال د جولای پر ۲۶ مه (= ۲۱ صفره ۱۲۸۱ ه. ق.) له استنساخه وزګار سوی دئ. دغه نسخه ۲۵۲ پاڼي ده. د تواریخ حافظ رحمت خاني بله خطي نسخه، چي د هندوستان د علي ګړه پوهنتون په کتابتون کي خوندي ده، د رامپور د عالیه مدرسې مدرس غلام رسول په (۱۹۱۸ ع.) (=۱۳۳۶ ه. ق.) استنساخ کړېده. دغه نسخه د لیکو (کرښو) تر منځ (بین السطور) تحت اللفظه اردو ترجمه هم لري[۳۸۶].

د تواریخ حافظ رحمت خاني پښتو متن په (۱۹۷۱ ع.) (= ۱۳۹۰ ه. ق.) کال کي په پېښور کي، د پېښور پښتو اکاډیمۍ چاپ کړی دئ. اردو ژباړه ئې په (۱۹۷۶ ع.) کال په کراچي کي، د روشن خان له حاشیو او تعلیقاتو سره چاپ سوېده.

پیر معظم شاه د تواریخ حافظ رحمت خاني په پای کي د نواب حافظ رحمت خان یادونه داسي کړېده:

شکر چي مکتوب شه — دا کتاب په ښه اسلوب شه
د دې اصل چي اول و — ډېر هرګوره مطول و
نور په حکم ما د خان — چي حافظ و د قرآن
چي په هند کي لکه لمر دئ — تمام هند پرې منور دئ
شهامت پور دده وطن دئ — پیلي بهیت ئې اوس مسکن دئ
په ښه خوی خصلت موصوف دئ — په وګړي کي معروف دئ
په هر علم کي فهیم دئ — او په شرع مستقیم دئ

---

[۳۸۶] وګ: د هند په کتابخانو کي پښتو خطي نسخې، ۱۶۱ مخ.

شان شوکت يې د امير دئ — خوی خصلت يې د فقير دئ
دا کتاب يې منتخب کړ — په ښه شان مي مهذب کړ
مختصر مي دا کتاب که — سن د هجر مي حساب که
هجري سن زر و اتيا دئ — يو کال بل هم پرې بالا دئ
غره هم د محرم ده — دا رنګ ياد د معظم ده
نور که زيات له دې نه کښينه — فضولي به ښکاره شينه
خو بهتر يې اوس دعا ده — چې د هر زحمت دوا ده
پاک مولا د خان معين شه — د هر چا په دا آمين شه

حافظ رحمت خان تاليف خلاصة الانساب:

د حافظ رحمت خان په مولفاتو کي موږ ته يو خلاصة الانساب څرګند دئ، چي په پارسي ژبه په (۱۱۸۴ه. ق.) کال ليکلی دئ. د خلاصة الانساب يوه نيمګړې خطي نسخه زما (رشاد) په ابتون کي خوندي ده. د خلاصة الانساب په وړاندنۍ برخه کي له کوټه بابا (شيخ شهاب ين رحمة الله عليه) څخه رانيولې، د حافظ رحمت خان تر وخته پوري، د دوی د کورنۍ نسبي لړۍ يلې ده. د خلاصة الانساب يوه بله خطي نسخه د کابل په ملي آرشيف کي سته. د خلاصة نساب بله خطي نسخه د لندن د کيمبريج په کتابتون کي خوندي ده. د خلاصة الانساب څلورمه طي نسخه، چي په (۱۸۵۸ ع.) کال غلام نبي نومي کښلې ده، د مخطوطات شېراني د لومړي ک په ۳۷۵ ګڼه کي خوندي ده. خلاصة الانساب په پېښور کي چاپ سوی هم دئ.

ويل کېږي چي حافظ رحمت خان په طب کي هم يو اثر درلود، خو ما (رشاد) ته ئې څرک نه ئ څرګند.

حافظ رحمت خان پښتو شاعري:

حافظ الملک حافظ رحمت خان د پارسي او پښتو ژبو شاعر و، خلاصة الانساب چي ئې په رسي ژبه تاليف کړی دئ، د هغه د بشپړېدلو نېټه ئې په پارسي ژبه داسي ويلې ده:

بروز همايون و ماه رجب
بهنگام فرح و وقت طرب
بتاريخ ميمون که بر يک هزار
فزون بود يک صد و هشتاد و چار
به عون الهی و فضل رسول
شده ختم اين نسخهٔ دل قبول

سر جان ستریچي په خپل کتاب "Histings and the Rohilla War" کي داسي لیکلي دي:
"فرانسوي ختیځ پوه دار مستټر (۱۸۴۹-۱۸۹۴ ع.) ما ته وویل:
زه چي له رامپوره تلم، یوه پښتانه یو جونګ (د شعرونو مجموعه) راکړله، چي په هغه کي د حافظ رحمت خان او نورو روهیله سردارانو پښتو شعرونه لیکلي وو".
دغه مجموعه اوس د برټش موزیم په شرقي برخه کي خوندي ده، د پښتو ژبي د نامتو شاعر عبد القادر خان خټک د دېوان کومه خطي نسخه، چي په برټش موزیم کي سته، په هغې کي د حافظ رحمت هغه پښتو مخمس، چي په پنځه دېرش کلنۍ کي ئې، په خفیف بحر کي ویلی دئ، هم لیکلی دئ[۳۸۷]. په دغه مخمس کي په (۱۱۵۵ هـ. ق.) کال پر روهیل کهنډ باندي د راجا هرنند کهتري د بریدییان راغلی دئ، چي د ډهلي د دربار د ناسیاله وزیر ابو المنصور صفدر جنګ په لمسانه، د ډهلي مغول پاچا محمد شاه رنګیلا (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) نوموړي راجا هرنند کهتري ته د روهیل کهنډ د نیولو او د نواب علي محمد خان روهیله د ځبلو فرمان ورکړی و. هرنند په دغه جنګ کي وواژه سو او لښکرئې ماتې وکړله. د حافظ رحمت خان د دغه مخمس څو بنده دا دي:

کارونه په ازل شو پیدا پښتون، مغل شو
پښتون ځبله بَیل شو همېش په جنګ جدل شو
یو ئې نه شو د زړه سند

بد نیتي ئې ده له ځایه څوک به څه کا، راته وایه
کړیتون ئې دئ له خدایه مغل ډېر کرده ګمایه
احسان نه وي پر څرګند

که خدمت ئې تر حد تېر کړې ځان د دوی د وړاندي شېر کړې
غلیمان ئې واړه زېر کړې لا ئې ګډ په فکر ډېر کړې
تړي ستا د قتل بند

ډېر خدمت د شاه ضدي[۳۸۸] نواب[۳۸۹] کړ په خپل پردي
ګوندي خپل شي ابدي په ناحق ئې زړه بدي
ورته کښېښوو چند در چند

آخر راغله په اظهار وزیر کښېوت په ګفتار[۳۹۰]
پرې به نه ږدم په دیار دی د دوی په حق کي مار
شه په فکر د ګزند

---

[۳۸۷] وګ: د پښتو ادب تاریخ، ۸۱ مخ.
[۳۸۸] له شاه ضدي څخه مراد، محمد شاه مغول دئ، چي د ډهلي پاچا و.
[۳۸۹] له نواب څخه مراد، نواب علي محمد خان روهیله (د روهیلکهنډ نواب) دئ.
[۳۹۰] له وزیر څخه مراد، د اوده نواب ابو المنصور صفدر جنګ دئ.

وزیر شو په تلاش سر　　که پیدا سي هسي نر
بیا چي وتړي کمر　　بل یو زووي هسي سر
بېړه واخیسته، هرنند [۳۹۱]

ورسره اکثر راجګان　　مغل لوی لوی سرداران
هم چوتها زمینداران [۳۹۲]　　نور غلطه سپاهیان
ناست بد وو، له کبره برند

را روان شول له ډهلي　　چي به ورک کړم روهیلي
کتهه هېر به کړم خالي　　خوب ئې لید د شیخ ملي
قبایل ئې وه پیوند

چي داخل په مراد آباد سو　　د هندوانو زړه پرې ښاد سو
هر یوه ته په فریاد شو　　چي اوم اصل بې بنیاد سو
نریت سنګه، سنپت، کیم کرند

ده وې اوس خو دا هنر کړم　　چي یو ځل تري وصول زر کړم
دوی به واړه برابر کړم　　دا مطلب به ستاسو سر کړم
راغلم زه د دوی، جړکند [۳۹۳]

مراد آباد کي چي مقام شه　　په ارسال د دې پیغام شه
چي د میني وخت تمام شه　　بې باکه خلق لا کلام شه
ژر راولېږه، کشت بند

هر چي وو د میني زر　　نواب ورکړل مقرر
خاص و عام شه په خبر　　نواب ښه کړه سر و بر
..............................؟

کوچ ئې وکړ را روان شه　　ول زالنه په ګمان شه
ورسره شامل دېوان شه　　بیرته پاتي مهر رسان شه
چي ئې نوم و، سنتوک چند

---

[۳۹۱] هرنند هند و د کتهېر (روهیل کهند) د نیولو او د نواب علي محمد خان روهیله د ځبلو عهد وکړ.

[۳۹۲] چهوتها په هندي ژبه کوچني او واړه ته وایي.

[۳۹۳] جړکند = بېخ کښ، بن کښ، له رېښو کښونکی

کافران چي يو زنله شوه؟ نبي خان دلبر ئې مله شوه (۳۹۴)
دوی غلط د چا په خوله شوه له نواب په زړه غله شوه
د نواب و، هم سوګند

"نبي خان" ته ډېر منت نواب وکړ، څو کرت
کار پر نه کړ نصيحت (دليل) و، تر ده بې پت
داودزي وو، يا مومند

چې په ذات وو پښتانه ننګيالي وو هم درانه
چي منت ئې نه مانه څکه کيږي ترې مانه (۳۹۵)
دوی هم نه شوه بهره مند

و هرنند ته هم نواب ډېر کول سوال و جواب
.... هندو ډېر و په عتاب
دلايل نه کړه، پسند

کوچ ئې وکړ انولې ته ډېر غلط خپلې لولې ته
او نواب د ده کلې ته څوګير ناست و، و حملې ته
چي به چيوي، بند پر بند

نواب وړاندي خپل پوځونه لا پخوا ليږلي وونه
نګهبان وو سرحدونه و غليم ته وو، سېلونه
چي همه وو، مستمند

دونديا خان، حافظ يکدل وو ډېره دواړه په سنبل وو (۳۹۶)
پاينده، سردار شامل وو وړاندي تللي، هراول وو
"لچمي پوړ" ئې و سربند

---

(۳۹۴) نبي خان د مليح آباد اوسېدونکی پښتون د نواب علي محمد خان روهيله له خوا د بريلي او شاهجهانپور حاکم و. دلېر خان پښتون، چي په دلو خان مشهور و، د هرنند غټ منصبدار و. دوی دواړه د نواب علي محمد خان پر ضد وجنګېدل او په دغه جنګ کي ووژل سوه.

(وګ: اخبار الصناديد دوهم ټوک، ۱۳۳-۱۳۴ مخونه او تاريخ روهيلکهند، ۳۷-۳۸ مخونه)

(۳۹۵) مانه = مانه (ګله، شکايت)

(۳۹۶) د سنبل ښار د مراد آباد جنوب لوېديځ ته، د مراد آباد او ګنګا سيند تر منځ پروت دئ.

نواب هم پسي تيار شه　　کوچ ئې وکړ په تلوار شه
"لچمي پور" ته نږدې ولاړ شه　　ډېر پرې خوښ ملا سردار شه
کړی و، چي د موت اند

دونديا خان، حافظ نواب　　دواړه راغلل په شتاب
د سنبل د پای تر آب　　د نواب شول همرکاب
نواب ډېر شه په خورسند

دوندي خان ډېره په ډال شه　　اووه کروه ئې انفصال شه
نواب هم ورته سمبال شه　　په مدد ئې ذو الجلال شه
دښمنان ئې شول ريشخند

نواب بيا هم پيغامونه　　ورته کړل په انبارونه
چي چور مه کوه ملعونه!　　هرنند نه منل سوالونه
که نواب کول هرچند

نور ئې ټول کړل سرداران　　واړه وروڼه، عزيزان
دا احوال ئې که بيان　　نه قبليږي په هيڅ شان
تاسي راکاندئ يو پند

د دې مخمس پاته برخه ما (رشاد) ته په لاس نه ده راغلې، خو بايد ووايم:

دغه جنګ د نواب علي محمد خان روهيله او راجا هرنند کهتري تر منځ، د ارل رود پر غاړه پېښ سوی دئ. د ارل سيند د انولې او مراد آباد تر منځ واقع دئ. دا جنګ د (۱۱۵۴هـ. ق.) کال د محرمي په نولسمه (= ۶ اپريل ۱۷۴۱ ع.) پېښ سوی دئ. په دغه جنګ کي راجا هرنند، د راجا هرنند زوی موتي لال، نبي خان (عبد النبي) او ورور ئې دليل خان وژل سوي دي.

د حافظ رحمت خان عمراني آثار:

امداد صابري کښلي دي:

"حافظ رحمت خان د پهيلي بهيت ښار ودان کړ او حافظ آباد نوم ئې پر کښېښود او د حافظ رحمت خان په وختو کي ئې د روهيل کهنډ د مرکز حيثيت درلود".

پهيلي بهيت د رامپور ختيځ او د بريلي شمال ختيځ ته واقع و، د روهيل کهنډ په نورو ځايونو

کي د حافظ رحمت خان ودانۍ دا دي:

۱. په آنوله (اوسني رامپور) کي د نواب علي محمد خان روهيله هديره د پره شانداره ودا
ده. پخوا د نواب علي محمد خان د مرګ تلينه دلته نيوله کېدله او د کوچني اختر پر دو
روځ خيراتونه او ختمونه کېدل.

۲. په بريلي کي حافظ ګنج[۳۹۷].

۳. د پهيلي بهيت (حافظ آباد) مسجد جامع، چي په (۱۱۸۱ه. ق.) کال ئې د درو لکو او ثو
روپو په لګښت ودانه کړېده. حافظيه مدرسه په دغه جامع مسجد کي وه.

۴. په بدايون کي هغه مسجد، چي په غولي کي ئې د حافظ رحمت خان د شهيد پلار، بنالم
قبر دئ.

۵. په بدايون کي د حضرت نظام الدين دهلوي (۷۲۵ه. ق. مړ) د پلار هديره.

د حافظ رحمت خان او کورنۍ په باب ليکل سوي کتابونه:

۱. ګلستان رحمت:

د حافظ رحمت خان د وولسم زوی "مستجاب خان بړېڅي" تاليف دئ، چي په پارسي ژ
ئې ليکلی دئ. خطي نسخه ئې د لاهور په پبلک لايبريري (عامه کتابتون)، پنجاب يونيورسيټ
لايبريري، کيورتهله ستېټ لايبريري او د امرتسر په خالصه کالج لايبريري کي سته. د ګلستا
رحمت يوه خطي نسخه د رامپور په رضا لايبريري کي په (۱۸۰/۴۶ ف ۲) ګڼه خوندي ده.

د خلاصة الانساب د مقدمې په شلم مخ کي ليکلي دي:

"مفخر افغان د ګلستان رحمت پښتو ژباړه ده، چي د رزړو مولوي محمد امين اشنغر
کړېده".

خو د دغه کتاب (مفخر افغان) يوه قصيده، چي د پېښور د پښتو مجلې د (۱۹۷۰ع.) کال
جنورۍ په ګڼه کي خپره سوېده، دغه قصيده ئې د عبد الرشيد شاعر بللې ده (؟).

د ګلستان رحمت مولف مستجاب خان په (۱۱۷۵ه. ق.) کال زوکړی او په (۱۲۲۸ه. ق.
کال مړ دئ. د ګلستان رحمت انګرېزي ژباړه پروفيسور ايليټ او ډاوسن کړېده او نوم ئې "History
of India as told by its own Historians" پر ايښی دئ.

۲. ګل رحمت:

دا د ګلستان رحمت لنډيز دئ، چي د نواب حافظ رحمت خان شهيد رحمة الله عليه لمسي، د حافظ
محمد يار خان زوی، سعادت يار خان ترتيب کړی دئ. په (۱۹۸۶ع.) کال ډاکټر مصطفٰی حسين
نظامي د ګل رحمت په باب، په تاريخ روهيل کهنډ کي مفصل ږغېدلی دئ.

---

(۳۹۷) وګ: صحيفهٔ زرين، ۳۰ مخ، د لکهنو (۱۹۰۲ع.) چاپ.

پروفیسور ایلیټ او ډاوسن د ګل رحمت د انګرېزي ژباړي هڅه وکړله، خو تر پایه ئې ونه
رسوله.

۳. حیات حافظ رحمت خان:

دا کتاب په اردو ژبه سید الطاف علي بریلوي لیکلی او په (۱۹۳۳ع.) کال د بدایون په
نظامي چاپخانه کي چاپ سوی دئ. دوهمه پلا حیات حافظ رحمت خان په کراچي کي چاپ
سوی دئ. په دغه چاپ کي څه تعلیقات او تشریحات زیات سوي دي.

د حیات حافظ رحمت خان انګرېزي ژباړه د "The Life of Hafiz Rahmat Khan" په
نامه، حمید الله خان (د علي ګړه پوهنتون ایم. اې.) کړې او په پاکستان کي چاپ سوې ده.

۴. نقش سلیماني فی بیان حافظ رحمت خان:

مولف ئې د حافظ رحمت خان کړوسی، د نواب محبت خان لمسی، د موسیٰ خان زوی
سلیمان خان دئ، چي په شعر کي ئې "اسد" تخلص کاوه. نقش سلیماني د ټونګ په محمدي
مطبعه کي په (۱۳۲۳ ه. ق.) کال چاپ سوی دئ. ټونګ په منځني هندوستان کي د پښتنو
نوابي وه.

۵. Histings and the Rohilla War:

د سر جان سټرېچي تالیف دئ، په (۱۸۹۲ع.) کال د انګلستان په اکسفورډ کي چاپ
سوی دئ. دا کتاب عیسیٰ خان جاله وان په کابل کي په پښتو ژبه ژباړلی دئ. د دغي ژباړي
یوه خطي نسخه د افغانستان د علومو اکاډیمۍ په کتابتون کي خوندي ده.

۶. Historical Relation of the Origin Progress and Final Disselution of the Rohilla Afghans:

دا کتاب د چارلس هملټن تالیف دئ، په (۱۷۸۷ع.) کال په لندن کي چاپ سوی دئ.

۷. Pilibhit Gazetteer:

۸. تاریخ روهیل کهنډ:

په اردو ژبه د ډاکټر مصطفیٰ حسین نظامي تالیف دئ، په (۱۹۸۶ع.) کال په لکهنو کي
چاپ سوی دئ.

۹. تاریخ روهیل کهنډ:

په اردو ژبه د دور اپرېدي تالیف دئ، په (۱۹۸۶ع.) کال په رام پور کي چاپ سوی دئ.
په دغو وروستیو دریو کتابونو کي د حافظ رحمت خان او کورنۍ په باب ډېر معلومات
سته.

د برېڅو شجره

(د تاریخ خورشید جهان له ۱۸۴ مخه څخه)

- شرخبون
  - شیراني
  - ترین
  - میانه
  - برېڅ
    - اوتغ
      - داودزی
      - چوپانزی
      - ملېزی
      - بدلزی[۳۹۸]
      - شیخ ثابت
      - شکرزی
      - بسوکزی
    - حسین
      - مردانه
      - بارکزی
      - بسیازی
      - زکوزی
      - مندوزی
  - اورمړ

- اخوند کلان
  - ....
    - قدرت الله
      - خلیل الرحمن
      - مولوي شریف الله[۴۰۰]
  - مولوی احمد علي کابلي (اخوند کلان د تورو اوسپدونکی)[۳۹۹]
    - ....
      - میر عتیق الله
      - میر عبد الله

---

(۳۹۸) حضرت شهاب الدین (کوته بابا) رحمة الله علیه د ده له پښته دئ.

(۳۹۹) حاجي صاحب کلی د اخوند سوات مرید و، په ارغسان کي ئې مځکه درلوده. له لومړی شجرې سره د دوهمي شجرې ارتباط، په اصل کي هم نه دئ واضح سوی.

(علامه رشاد اکاډیمي)

(۴۰۰) د اندراب ؟ اوسېدونکی، د محمد امین خوګیاني خسر، د مولوي محمد اسرائیل شاګرد (۱۳۳۵ هـ. ق. مړ).

(۱۸۵۷ع.) کال په غزا کي د حافظ رحمت خان رحمة الله علیه د کورنۍ میالي شهیدان:

د ۱۸۵۷ع کال د می پر لسمه (= د روژې ۱۶ مه ۱۲۸۳ هـ. ق.) ډهلي ته نژدې په میرټهـ کي د پرنګیانو پرضد د غزا د پاڅون نخښتي څرګندي سولې، د مهاجمو انګرېزانو په وینو د هندوستاني سپاهیانو لاسونه سره سول، د ډهلي چونۍ ته هم د یاغي سپاهیانو څو تنه را ورسېدل. سبا ته د میرټهـ د یاغي لښکر یوه برخه هم ډهلي ته ورغله، پرنګیانو، چي دا حال ولیده د ډهلي د ښار دروازې ئې وتړلې او د کلابندۍ په تکل کي سول. غازیانو د ډهلي راج ګهاټ نومې دروازه ماتیستله او د ډهلي په ښار ورننوتل، څه انګرېزان، چي په لاس ورتلل هغه ئې وژل، د پرنګیانو پاتیو ته ئې اورونه اچول. د می پر یوولسمه (=۱۷ مه د روژې) د ماپښین پر دریېو بجو د ډهلي په دربارکي د مغول بهادر شاه ظفر د پاچهۍ او له مهاجمو پرنګیانو سره د غزا اعلان وسو او د شپې په نیمایي کي، چي نوموړی بهادرشاه ظفر لال کلا ته ورغی، د توپ ۲۱ ډزي ئې مخي ته د سلامۍ په توګه وسولې. بهادر شاه ظفر د لښکر د جوړولو تکل اعلان کړ، ډېر غازیان له پرنګیانو سره د جنګ له پاره په ډهلي کي راټول سول، سپاره ته دېرش او پلي ته دوولس روپۍ میاشتنۍ تنخا وټاکله سوه. د بهادرشاه ظفر دغي خپلواکي پاچهۍ څلور میاشتي او څلور ورځي پایښت وکړ. په دی کاره خو پرنګیان له ډهلي ووتل، خو د ډهلي د بیا نیولو هلي ځلي ئې رواني وې، بهادرشاه ظفر د ډهلي د خپلواک پاچا په توګه د هندوستان نوابانو او راجاګانو ته له پرنګیانو سره د غزا بلنه ورکړله او جهادنامې شاوخوا خپرې سولې. د دغي بلني په اغېزه د (۱۸۵۷ع) کال د جولای په دومړۍ روځ (= ۹ د میانۍ ۱۲۷۳ هـ. ق.) د غازي جنرال بخت خان بړېڅي په مشري د بریلي (روهیلکهنډ) د پښتنو غازیانو دېرش زره (۳۰۰۰۰) تنه له شپږو توپو او شپږو لکو روپیو سره د ډهلي د غازیانو په مرسته، ډهلي ته راورسېدل او جنرال بخت خان د بهادرشاه ظفر حضور ته ورغی، شپږ لکه روپۍ او د خپل لښکر د غازیانو خالصانه خدمتونه ئې د ډهلي د مغول پاچا حضور ته وړاندي کړل. بهادر شاه ظفر په روهیلکهنډ کي د نواب خان بهادر خان بړېڅي د حکمرانۍ فرمان له خلات او د نواب انتظام الدوله حافظ الملک رئیس اعظم روهیلکهنډ له خطابونو سره ورولېږه.

په دغه غزا کي د روهیلکهنډ د اتل حافظ رحمت خان د کورنۍ نومیالي شهیدان دا دي:

۱. غازي خان بهادر خان شهید:

خان بهادر خان د ذوالفقار خان زوی او د روهیلکهنډ د اتل حافظ رحمت خان لمسی وو، دی په (۱۲۰۵ هـ. ق.) (= ۹۰-۱۷۹۱ع) کال د روهیلکهنډ په بریلي کي زوکړی او هلته لوی سوی دئ. خان بهادر خان مروج علمونه ټول لوستي وو، په پښتو، پارسي او عربي ژبو پوهېده، پر روهیلکهنډ

چي د ایسټ انډیا کمپنۍ پاچهي وه، خان بهادر خان ئې د بریلي صدر الصدور وټاکلی و.

د (۱۸۵۷ع.) کال د مې په نیمايي کې، چې د هندوستان د خپلواکۍ له پاره د غزا او پاڅون زړی بریلي ته ورسېد، د بریلي انګرېز کمشنر الکزانډر، خان بهادر خان برېڅې خپل حضور ته وروغوښت او ورته وئې ویل:

"دا سیمه ستاسي د واکمنۍ سیمه ده، د دغې سیمې خلک ستا حکمراني مني، د بریلي اداره ته په لاس کې واخله، موږ به دې تر شا ولاړ یو".

توریالي خان بهادر خان د انګرېزانو له خوا د بریلي د حکمراني وړاندیز ونه مانه او د رد ځواب ئې ورکړ. د (۱۸۵۷ع) کال د مې پر نهه ویشتمه (= د کوچني اختر پنځمه ۱۲۷۳ه. ق.) د توپ د یوه ډز په واسطه په بریلي کې د غزا اعلان وسو، انګرېزي افسران مخ پر نیني تال[۴۰۱] وتښتېدل. د توپخانې افسر خان بخت خان برېڅې د لښکر اداره په لاس کې واخیستله، سپین بیرغ ئې ونجته، د مې پر ۳۱ (= د کوچني اختر د میاشتې اوومه) ئې خان بهادر خان برېڅی د روهیلکهنډ د حکمران په توګه ومانه. د خان بهادر خان د مسند نشینۍ دود د بریلي د زړې کوتوالۍ مخې ته، په خورا شان و شوکت پر ځای سو. خان بهادر خان د خپل مهر پر یوه خوا "الحکم الله، الملک الله" او پر بله خوا ئې "شدیم خان بهادر به ذوالفقار علی" ولیکل. په بریلي کې د خان بهادر خان حکم جاري سو. خان بهادر خان د سپاهیانو برتې پیل کړله او د غازیانو د لښکر په تقویه او تنظیم بوخت سو، د کارتوسو ډکولو ته ئې ماهران وګمارل، رامپور د نواب یوسفعلي خان روهیله تر واک لاندې و او یوسفعلي خان د پرنګیانو د ملګرۍ نغارې وهلې، ځکه نو د رامپور غازیان ډلې ډلې بریلي ته ورتلل او د جهاد په لیکو کې درېدل. خان بهادر خان یوه جنګي شورا جوړه کړله، سوبها رام د نوابۍ دېوان (مستوفي)، مدار علي خان سپهسالار، نیاز محمد خان جرنیل، مولوي خان د پلي پوځ مشر، منشي فرحت الله د پوځ بخشي (امین نظام)، اکبر علي خان د بریلي د ښار کوتوال وټاکه سو، د شاه جهانپور ناظم (حاکم) نظام علي خان، د بدایون ناظم (حاکم) عبد الرحمان خان وټاکه سو. په مراد آباد کې نواب مجو خان، په بجنور کې نواب محمود خان او په آنوله کې نواب کلمن (؟) خان حکمراني کوله.

پر خان بهادر خان پنځوس زره (۵۰۰۰۰) غازیان راټول سول، لس توپه ئې درلودل، د بریلي د ګزیټر د وینا له مخې د دغه پوځ تنخا د میاشتې دوه لکه او پنځه ویشت زره روپۍ وه. خان بهادر خان د توپو جوړول هم پیل کړل، په لازمو ځایونو کې ئې تانې او د ولسوالیو له پاره ودانۍ جوړې کړلې، د راجپوتو هندوانو بېله پلټنه ئې جوړه کړله. د بندهیل تهاکر رګهوناته سنګهه ته ئې د راجا خطاب ورکړ او د فریدپور ولسوال ئې وټاکه، خو د خواشینۍ خبره دا ده چې راجا رګهوناتهه سنګهه پای ته د پرنګیانو مل سو.

---

[۴۰۱] نیني تال د بریلي په شمال او د الموړې په جنوب کې د کمایون د غره لمنو ته نژدې پروت دئ.

نواب خان بهادر خان د ډهلي خپلواکه سوي پاچا بهادرشاه ظفر ته د پاچهۍ مبارکي، سل
وي نذرانه او يو آس د سپينو زرو له ځين (زين) سره ورولېږه. بهادر شاه ظفر خان بهادر
ته د رئيس اعظم روهيلکهنډ خطاب او د بريلي د حکمرانۍ فرمان ور واستاوه.
مصطفی حسين خان د جنګ آزادي په ۴۳۰ مخ کي ليکلي دي:
"د انګرېزانو پر ضد د آزادۍ له پاره د هندوستانيانو پاڅون، چي ناکامه سو، خان بهادر
د ترايي په ځنګله کي ځان پټ کړ او تر (۱۸۵۹ع) کال پوري ئې له پرنګيانو سره ګوريلايي
ونه کول، پای ته دغه هوډيالی برېڅی په يوه لاس په لاس جنګ کي ټپي سو، د نيپال راجا په
ي ونيوه او پرنګيانو ته ئې دغه ټپي زمری وسپاره، پرنګيانو خان بهادر خان بريلي ته بوت،
کمه ئې کړ. ده په محکمه کي يوه خورا پُرجوشه وينا وکړله. د هغې وينا يو بيت دا دئ:


بجرم کلمۀ حق می کشند، غوغائيست
ز مرگ زندگيم می شود، تماشائيست

پر دغه توريالي غازي د مرګ حکم وسو او په (۱۸۶۰ع) کال د بريلي د زړې ګوتوالۍ
ي ته پرنګيانو په دار کړ. وايي: خان بهادر خان په ډېر تمکين سولۍ (دار) ته پخپله
رخوت او په څېره کي ئې د بېري او حسرت هيڅ نښې نه وې.
د شهيد خان بهادر خان برېڅي دروند مړی پرنګيانو د بريلي ډسټرکټ جېل (زندان) په
ه نامعلوم ځای کي په پټه توګه ښخ کړ، دا ځکه چي پرنګيان بېرېدل که ئې ګور څرګند وي،
رت به ځني جوړ سي او د ارادتمندانو بهيرونه به ورته را مات وي. د شهيد خان بهادر خان
وسېدلو کور هم پرنګيانو له مځکي سره برابر کړ.
تر (۱۸۵۷ع) کال دمخه په بريلي کي يوه جريده خپرېدله، چي "عمدة الاخبار" نومېدله،
ي جريدې د غازي خان بهادر خان په جهادي پاڅون کي د غازيانو په ګټه خپروني کولې او
جريدې نوم ئې "فتح الاخبار" کړ. پرنګيانو چي بری وموند، د دغي جريدې چاپخانه ئې
بط کړله[۴۰۲].

۲. نواب ظفريار خان راسخ:

د فتح ياب خان زوی، د نواب ديدار خان (۱۱۶۴-۱۲۲۳ه. ق.) لمسی، د حافظ رحمت
ان کړوسی و. راسخ د (۱۸۵۷ع) کال د خپلواکۍ په پاڅون کي له لکهنو څخه بريلي ته ولاړ
ر هلته د اشرف خان په چونۍ کي له ورونو او کورنۍ سره اوسېد، د هندوستان د خپلواکۍ
څون چي ناکام سو او پرنګيانو بيا بريلي ونيوله، خان بهادر خان غازي راسخ ورغوښت او
رته وئې ويل:

[۴۰۲] وګ: روح صحافت، ۲۶۲ مخ.



آدم خان بړیڅی (د آدم کورله ده څخه شروع سوی دئ، دئ او محمود خان له یوې موره وو)
محمود خان بړیڅ
(په موتي خان مشهور وو، په توروا و شهامت پور کي اوسیلی د حیات افغاني په
۲۵۱/۱ مخ کي فتح الله خان او محب الله هم د موتي بابا زامن ښوول سوي دي)
پایي (پایي کور له دغه سړي څخه پیل سوی دئ)
میرک خان
پایند خان
بلند خان
گدایي خان
(دی او میرک خان له یوې موره دي)
جوهر خان
(د خلاصة الانساب په چاپي نسخه کي خوهار کښلی دئ)
ظاهر بیگ خان
حسن بیگ خان
لا ولد
الله داد خان
بنی خان
لا ولد
کنی خان
لا ولد
احمد خان
رضا خان
میر خان
(دی او سجاول له یوې موره ول)
سجاول
مهین
لا ولد
علي خان
لا ولد
مهر خان
روشن خان
رحم خان
کرم خان
خان بیگ
لا ولد
داود خان روهیله
(متبنٰی)
ښالم خان (۱۱۲۴هق مړ)
(حکیم خان، حسن خان او ښالم خان دري سره له یوې موره وو)
حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیڅ
(۱۱۲۰–۱۱۸۸هق شهید)
حسن خان
حکیم خان
لوند خان
ښاداد (شهزاد) خان
(دی او آزاد خان له یوې موره وو)
گوجر خان
ښادي خان
(د حافظ رحمت خان خسر)
امیر خان
آزاد خان
صلابت خان
دوندی خان
محب الله خان
صدر خان
(لا ولد)
عابد خان
(لا ولد)
خالد خان
نعمت خان
بُشارت خان
(لا ولد)
دارا خان
اکرار خان
(په چاپي نسخه کي اکر خان کښلی دئ)
دیندار خان
شهزاد خان

عنایت خان او همت خان ئې په ژوند ومړل)

بهاري پور په محله کي ئې یو مسجد ودان کړ، چي تر اوسه ئې د بي بي صاحبې مسجد بولي)

محبت خان

اکبر خان
(د ذی القعدي په ۶ د ۱۲۴۶ه. ق. کال ومړ. دري زامن ئې د عبد الحمید خان، محمد عطا خان او محمد رمضان خان په نومو پاته سول)

همت خان

محمد دیدار خان
(۱۱۶۶–۱۲۲۳ه ق په لکهنو کي ښخ)
- فتح یاب خان
  - نواب ظفر یار خان راسخ شهید فرنگ
- نصیر خان

عظمت خان
(عظمت خان د محبت خان سکه ورور دئ، په ۲۶ کلنی کي وفات سو، د عنایت خان په زیارت کي ښخ کړه سو. دوه زامن ئې د آزاد خان او شهزاد خان په نومو پاته سول)

ارادت خان
(۱۱۶۴–۱۲۲۳ه ق)
(تاریخ روهیلکهند، ۲۷۴ مخ)

ارادت خان د حافظ رحمت خان دریم زوی دئ، د پلار د مرگ په وختو کي د ۲۶ کالو وو، ۳۵ کاله او ۹ میاشتي ئې نور ژوند وکړ. د ۱۲۲۳ه ق کال د روژې پر لسمه (= ۳۱ اکتوبر ۱۸۰۸ع) ومړ، په شاه جهانپور کي ښخ سو. (تاریخ روهیلکهند، ۲۷۴ مخ). څوارلس زامن ئې درلوده، چي نومونه ئې دا دي: کرامت خان، سعادت الله خان، رعایت الله خان، هدایت الله خان (د پلار په ژوند ومړ اولاد ئې نسو پاته)، نبي یار خان، حسن علیخان، علي یار خان، اکبر حسین خان، امیر الدین خان، حسین علي خان، محمد تقي خان، عزیز محمد خان، عبد الحمید خان او امر الدین خان.

حافظ محمد یار خان
محمد یار خان نهه زامن درلودل، چي نومونه ئې دا دي: نصرت یار خان، نواب سعادت یار خان (صاحب ئې تخلص وو، د گل رحمت د ۱۲۴۹ه ق کال تالیف مولف دئ. نواب عبد العزیز خان عزیز د دم زوی دئ)، یار محمد خان، محمد زمان خان، محمد امان خان، محمد احسان خان، برخوردار خان، محمد سالار خان او احمد رضا خان)

محمد مستجاب خان
(دی په ۱۱۷۵ زوکړی په ۲ شوال ۱۲۲۸ه ق مړ دئ. د گلستان رحمت مولف دئ. مستجاب خان اووه زامن درلودل، چي نومونه ئې دا دي: محمد حسن خان، محمد اسحاق خان، کرامت خان، ولي خان، اکبر علي خان، علي اکبر خان او محمد احمد خان)

مصطفی خان مست
(مصطفی خان په ۱۱۷۳ ه ق. کال زوکړی او د جمعې په ورځ، ۲۷ ذی القعده ۱۲۰۳ ه. ق. د دېرشو کالو په عمر مړ او د حافظ الملک په زیارت کي ښخ دئ، اولاد ئې نه درلود. طبقات الشعراء، ۴۶۵ مخ، تاریخ روهیلکهند، د ډاکټر مصطفی حسین نظامي تالیف، ۲۷۸ مخ)

ذوالفقار خان دلاور جنگ
(۱۱۶۶–۴ رمضان ۱۲۱۲ه ق مړ)
(د شاه جمال الله قادري ښکته مرید و. لس زامن ئې پاته سول، چي نومونه ئې په دې ډول دي: احمد (یار) خان، حافظ یار خان، هادي یار خان، جمال الدین خان، کمال الدین خان، خان بهادر خان "مصروف"، قاسم خان، نصیر الزمان خان، امیر الزمان خان او ....
احمد یار خان راغب (په فرخ آباد کي د نواب تجمل حسین خان بنگښ نائب وو. د ۱۲۸۳ه ق کال د کوچني اختر په لومړی ورځ په فرخ آباد کي ومړ. د عهد بنگښ په ۳۴۵ مخ کي لیکلي دي، چي راغب د مصدر فیوض نومي پارسي گرامر د مولف مولوي نذیر حسین شایق له شاگردانو څخه وو. په پارسي او اردو ژبو ئې شعر وایه، په دواړو ژبو کي مولفات لري. پارسي مولود شریف ئې په ۱۲۳۰ه کال چاپ سوی دئ. ډېر فاضل سړی وو. نواب حیدر حسین خان حیدر، چي د عرفان او سلوک لاره ئې خپله کړې وه او ښه شاعر وو، د احمد یار خان زوی و.
خان بهادر خان مصروف شهید فرنگ مقاصد الصالحین د ده تالیف دئ. (په قاموس الشاهیر کي د ذوالفقار خان دوه زامن د خان بهادر خان په نامه ضبط دي، چي د تعجب وړ گرزي. یو خان بهادر د ۲۱۸/۱ مخ کي د خ په ردیف کي راغلی دئ د غه خان بهادر خان ته لیکلي دي، چي د بغاوت په الزام وواژه سو او بل د مصروف تر نامه لاندي په ۲۱۹/۲ مخ راغلی دئ. مصروف ته لیکلي دي، چي دیوان لري او د ۱۸۵۷ع په واقعه کي د بغاوت په الزام حجاز ته ولاړ. د خلاصة الانساب د مقدمې په ۲۲ مخ کي محمد نواز طائر د ذوالفقار خان زامن علي محمد خان (په گلن میا مشهور وو) او نواب احمد یار خان ښوولي دي او زیاته کړې ئې ده، چي دا دواړه ښه صاحب طرز ادیبان او شاعران وو)

نواب الله یار خان
(۱۱۷۶–۱۲۴۸ه ق مړ)
(د عجائب اللغات او خلاصة الاعجاب مولف)

حرمت خان

(حرمت خان چي د لکهنو له بنده خلاص سو، د انگریزانو پر ضد په تواتي د ډهلي پاچا دوهم شاه عالم، بیا د نجیب آباد عمر خپلو نوابانو، بیا مهاراجا سندهیا مرهټه، بیا تیمور شاه سدوزي ته ورغی، خو له هیڅ خوا ئې مرسته ونه لیده، چي بیا روهیلکهند آزاد کړي. پای ته ئې د ښځو کالي واغوستل، مراد آباد ته د خسرگنی کره ورغی او بیا ئې تر مرگه پوري د نارینه و کالي په ځان نه کړل. له ده څخه دري زامن پاته سول، چي نومونه ئې دا دي: یعقوب خان، فتح خان او ایوب خان)

- محمد ابراهیم خان
- کامگار خان
  - حسن رضا خان (د اخبار حسن او گلشن خلافت مولف دئ. الزبیر، ۳۲۲ مخ)

محمد عمر خان
(عمر خان پنځه زامن درلودل، چي نومونه ئې دا دي: محمد حسین خان، عبد الله خان، عبدالرحمن خن، محمد خان او سعد الله خان)

- مصطفی خان
- شمشاد خان
  (د پښتو شعر، ریحان الفصحا، ۲۴۱ مخ)
- محمد منصور خان مهر
- محمد موسی خان
  - محمد سلیمان اسد د تاریخ سلیماني مولف
    - عابد علي خان خورشید
- محمد مقیم خان مقیم
  - احمد حسن خان جوش
    - محمد حسن
      - محمد علي خان قمر
- محتشم خان
  (د تاریخ محتشم، د ۱۲۵۳ه ق تالیف، مولف. مخطوطات تاریخي، ۱۲ مخ)
- شمس الدین خان
  - قمر الدین خان
  - حکیم محمد حسین ضیاء شاه جهانپوري د ۱۸۵۷ع کال په انقلاب کي ئې د شاهجهانپور له ناظم سره مرسته وکړه او د انقلاب تر سقوط وروسته انگریزانو وواژه.

دیوسلاري پټهان (افغان) دریم چاپ په ۴۲۷ مخ کي کښلي دي، چي د حافظ رحمت خان لمسیان د هندوستان تر وېش وروسته پاکستان ته راکډه سوي دي، په دوی کي دغه دوه تنه د نامه تښنان دي:

۱. عبد الواجد خان، ډائرکټر ډیپارټمنټ آف ټریډ پروموشن (اوس په کراچي کي اوسي تقاعد ئې کړی دئ).
۲. عبد الحمید خان، کلکټر اکسائز (اوس ئې تقاعد کړی دئ، په لاهور کي اوسي).

یادابښت: د علامه رشاد رحمة الله علیه په لاسکښلې شجره کي د ذکاء الله خان ذکاء لکهنوي نوم، چي د حافظ رحمت خان د زوی محبت خان له اولادې څخه دئ، هم کښلی دئ، خو په دغه شجره کي ئې واضح ارتباط نه سو ځرگند، ځکه نو یوازي مو د یادابښت په توگه راوړ.

"اوس د ناموس د خوندي کولو وخت دئ، زه د ترايي په ځنګله کي چونې جوړوم، ته به کورنۍ د ښځو او وړو ساتنه او پالنه کوې".

راسخ د خان بهادر خان خبره ومنله او د کورنۍ په ساتنه کي ئې له هيڅ راز زيار ځخه ځان ونه سپماوه، پرنګيانو ئې نوم په تور جدول (تور لست) کي وليکه او کله چي په لاس ورغی په دار ئې کړ.

۳. حکيم محمد حسين خان ضياء:

د حافظ رحمت خان کړوسی و، په شاه جهانپور کي اوسېد، د (۱۸۵۷ع) کال په غزا کي ئې د شاه جهانپور د ناظم نظام علي خان ملا وتړله او په غزاوو کي ئې په ډېره مېړانه برخه واخيستله، پای ته د يوه ګوره په ګولۍ شهيد سو.

۴. جرنيل بخت خان بړېڅی:

اروابناد خان مير هلالي په ننګيالي پښتانه کي ليکلي دي:

"د حافظ رحمت خان شهيد د تباه سوي کورنۍ د حسن او اخلاق نمر عبد الله خان، چي د لکهنو سلطانپور ته ولاړ د (ناسياله) شجاع الدوله د کورنۍ يوه نواب زاده ګۍ پر مينه سوله. نواب زاده ګۍ په خپله مينه کي بريالۍ سوه او د نواب عبد الله خان بړېڅي سره ئې واده وکړ".

له دغي نواب زاده ګۍ ځخه د نواب عبد الله خان زوی وسو، چي د کورنۍ نوم ئې خدابخش و، خو په محيط کي ئې د بخت خان په نامه سره شهرت موندلی و، بخت خان بړېڅي له نورو علمونو سره د جنګ فنون هم زده کړل، د پرنګيانو په توپخانه کي نوکر سو او په لږه موده کي د اوچتو افسرانو په قطار کي شمار سو.

په (۱۸۵۷ع) (= ۱۲۷۳ هـ. ق.) کال چي له ميرټهـ ځخه تر کلکتې پوري د مهاجمو پرنګيانو پر خلاف د هندوستان د آزادۍ جنګ ونښت، بخت خان بړېڅي په بريلي کي د خپل پير سرفراز علي شاه ځخه د جهاد اجازه او فتوا واخيستله او د (۱۸۵۷ع) کال د مۍ پر نه ويشتمه (د کوچني اختر پنځمه ۱۲۷۳ هـ. ق.) ئې د توپ په يوه ډز سره په بريلي کي د مقدس جهاد اعلان وکړ، د مۍ پر يو دېرشمه ئې نواب خان بهادر خان بړېڅی د روهيل کهنډ د نوابۍ پر مسند کښېناوه.

جنرال بخت خان بدايون ونيو، بيا تر فرخ آباد تېر سو، پر بلب ګړهـ وروخوت، د جولای پر دوهمه (= ۱۰ د ميانۍ ۱۲۷۳هـ. ق.) د غازيانو له لښکر، توپو او وسلو سره په ډهلي ورننوت او د مغول خپلواکه سوي پاچا بهادر شاه ظفر (۱۲۷۳-۱۲۷۴ هـ. ق.) حضور ته ورغی. مغول پاچا يو ښکلی ډال او يوه توره وروبخښله، چي په موټي کي ئې جواهر کار سوي وو. د بهادر شاه ظفر په حکم په ډهلي کي اعلان وسو، چي د ټولو غازيانو مشر امير جرنيل بخت خان بړېڅی دئ.

جرنیل بخت خان له لسو زرو (۱۰۰۰۰) غازیانو سره د (۱۸۵۷ع.) کال د جولای د میاشتې
نهمه پر انګرېزانو برید وکړ، د تیس هزاري په ډاګ کې ئې انګرېزانو ته ماتې ورکړله. د
انګرېزانو ډېر آسان، توپونه او نوري وسلې د غازیانو په لاس کښېوتلې. تر دې سوبې وروسته
باغپت او علي پور په ډاګونو کې هم سوبه د غازیانو په برخه سوه، دوې میاشتې او اتلس
ورځې ډهلي د جرنیل بخت خان غازي په لاس کې و. د لښکر تنخا د ډهلي بنیاګانو د پور په ډول
ورکوله، د مغولي شهزاده "مغول میرزا" د خسر الهي بخش په لمسون د ډهلي بنیاګانو د
غازیانو په ګټه د تنخا ورکول بند کړل او پر غازیانو ئې روزي ودروله. له بلې خوا د بهادرشاه
ظفر باوري دوست او د انګرېزانو پټ نوکر "حکیم احسن الله" د ډهلي په حویلي بیګم شمرو
کې، چې پنځو سوو مسلمانانو کارګرو ګولۍ او باروت جوړول، هغه کور ته ئې اور واچاوه،
پنځوه سوه منه ګولۍ او باروت ئې د هغو له کارګرو سره لولپه کړل. تر دغې بخولي (مصیبت)
وروسته پرنګیانو د ډهلي ښار ونیو او مغول پاچا بهادرشاه ظفر د (۱۸۵۷ع) کال د سپتمبر پر
نولسمه (= ۲۹ محرم ۱۲۷۴ ه. ق.) لال کلا پرېښووله او په اوسني نوي ډهلي کې ئې د خپل
نیکه همایون هدیرې ته پناه یووړله. جنرال بخت خان غازي بهادر شاه ته ورغی او بلنه ئې
ورکړله، چې له ده سره غرو ته وخېژي او له پرنګیانو سره غزا جاري وساتي، خو په مغول پاچا
کې د غزا واک او همت پاته نه و، د جرنیل بخت خان له ملګرۍ او د غزا له دوام څخه ئې ټټه
وکړله.

جرنیل بخت خان غازي د دغه ستخ جواب ترا ورېدلو وروسته په ډېر حسرت ډهلي پرېښود
او له خپل پوځ سره لومړۍ لکهنو ته ولاړ، له لکهنو څخه بیا د هردویي جلال آباد ته وکوچېد.
نامېنده سوي جرنیل بخت خان غازي ولیدل، چې غدارانو هر ځای ځانونه څرګند کړل، دین
پلورونکي، وطن پلورونکي، قام پلورونکي په انګرېزپرستۍ کې یو تر بل په سیالي کې
وړاندي کېدل، په دغه بحران کې جرنیل بخت خان غازي داسې د ولس له منځه غیب سو، چې
تراوسه ئې بیا چا څرک ونه مونده [۴۰۳].

بعد از وفات تربت ما در زمـــین مجو
در سینه های مردم عارف مزار ماست

---

(۴۰۳) د حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیځ رحمة الله علیه په باب ارواښاد علامه رشاد بابا رحمة الله علیه د "حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیځی او د هغه کورنۍ" په نامه یو مستقل اثر کښلی، چې په ۱۳۸۵ ش (= ۲۰۰۷ع) کال د علامه رشاد اکاډیمۍ له خوا له کندهار څخه خپور سوی دئ.

(هوتک)

بیا چي حافظ رحمت خان برېښ په سرهند کي کومي سوبي لاس ته راوستلې، په هغو کي هم
دوندي خان درنه برخه درلوده.

په (۱۱۶۱هـ. ق.) کال چي د ناسیاله وزیر صفدر جنګ په لمسانه، د ډهلي د دربار له خوا
قطب الدین خان ته د روهیلکهنډ د حکومت فرمان ورکړه سو، قطب الدین خان له پنځو سوو تکړه
سپرو سره روهیلکهنډ ته مخه وکړله، د حافظ رحمت خان په حکم دوندي خان له څلورو سوو
پښتنو سپرو سره، د قطب الدین خان د مخنیوي له پاره، له آنولې څخه وخوځېد، په دغه جنګ
کي قطب الدین خان وواژه سو، لښکر ئې ماتې وکړله او دوندی خان سوبه وړی آنولې ته ستون
سو.

په (۱۱۶۲هـ. ق.) کال چي د صفدر جنګ وزیر په لمسانه، نواب قایم خان بنګښ د بدایون
رسول پورې ته نژدې، د روهیلکهنډ له لښکر سره جنګېده، نواب دوندي خان د روهیلکهنډ د
لښکر په ښي اړخ (میمنه) کي ولاړ و. د روهیلکهنډ د لښکر سرلاړ (مقدمة الجیش) چي تر شا
سو، د نواب قایم خان بنګښ پوځ د دوندي خان پر پوځ برید وکړ، که څه هم د دوندي خان پوځ ته
ئې درانه تلفات ور واړول، خو دوندي خان او پوځ ئې یوه لوېشت تر شا نه سو. حافظ رحمت خان
او وریسي بخشي سردار خان کمالزی ئې مرستي ته ور ورسېدل، په دغه حمله کي نواب قایم خان
بنګښ وواژه سو او د بنګښو لښکرو ماتې وکړله.

په (۱۱۶۵هـ. ق.) کال چي مرهټو کفارو او د ډهلي ناسیاله وزیر صفدر جنګ پر روهیلکهنډ
یرغل وکړ، نواب حافظ رحمت خان ئې مخنیوي ته لښکر راویوست، په دغه لښکر کي دوندي
خان برېښي د یوه با حوصله او توریالي منصبدار په توګه، د جنګ تر پایه پوري، په خورا متانت
او مېړانه وجنګېد.

د مرهټو کفارو تر ناتار وروسته، چي حافظ رحمت خان د روهیلکهنډ اداره او عایدات پر
پښتنو سردارانو وېشل، دوندی خان برېښي ته ئې مراد آباد، سنبل او کاشي پور په جاګیر کي
ورکړل[۴۰۸]. د دغه جاګیر په باب په ځینو کتابو کي اختلاف سته، د قاموس المشاهیر په ۲۴۳
مخ کي د دغه جاګیر د ځایو نومونه چیوتره، اسدپور، بسولي، ستاسي او اسلام نګر[۴۰۹] ثبت
دئ. امداد صابري د "۱۸۵۷ع کی غدار شعراء" او "۱۸۵۷ع کی مجاهد شعراء" مولف پر مراد
آباد، سنبل او کاشي پور سربېره، د امروهې او ټهاکر دوارې نومونه هم اخلي. په ځینو آثارو کي
د کاشي پور پر ځای چاندپور لیکلی دئ. د حیات حافظ رحمت خان د مولف په قول، دغه وخت
دوندي خان برېښي دوولس زره (۱۲۰۰۰) سپاره او څه پلي سپاهیان درلودل. د دغه پوځ تنخا
دوندي خان له خپله جاګیره ورکوله.

نواب دوندي خان د پاني پت په ستره او تاریخي غزا کي له خپل لښکر سره ګډون درلود، پ

---

[۴۰۸] حیات حافظ رحمت خان، ۶۵ مخ.

[۴۰۹] اسلام نګر د بدایون په سیمه کي واقع دئ.

ډېره مېړانه له مرهټو کفارو سره وجنګېد او د ستاینې وړ توره ئې وکړله. د افغانستان ستر تولواک لوی احمدشاه بابا رحمه الله د دغي توري په صله کي شکوه آباد په جاګیر ورکړ[۴۱۰]. د سرکشي ضلع بجنور په ۱۳۷ مخ کي دا هم لیکلي دي، چي لوی احمدشاه بابا رحمه الله دوندي خان بړېځي ته خلات، خاص آس، توغ او نغاره هم ورکړل.

زخمي لکهنوي په سلطان التواریخ کي لیکلي دي:

"لوی احمدشاه بابا رحمه الله چي نوی جاګیر نواب دوندي خان بړېځي ته ورکړ، د دوندي خان د الکي وېش (سرحد) له فېروز آباده څخه نهه فرسخه واټن درلود".

نواب دوندي خان د اخبار الصنادید د ۳۹۰/۱ مخ په قول د (۱۱۸۵ هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په درېیمه ورځ (= ۱۸ مارچ ۱۷۷۱ع) د اووه شپېته کالو په عمر په بسولي کي ومړ او هلته خاورو ته وسپارل سو[۴۱۱]. هدیره ئې تر اوسه پوري ښکنده ده. بسولي د روهیلکهنډ د بدایون په سیمه کي یو آباد ځای دئ. په بسولي کي د دوندي خان بړېځ له عمراني آثارو څخه یوه نړېدلې کلا، څو ماجته (مسجده)، یو حمام او دوې درې زړې ماڼۍ پاته دي.

د انند رام مخلص د سفرنامې په ۱۳۱ مخ کي لیکلي دي:

"د سوت پر سیند باندي دوندي خان نجرا ته نژدې یو پل جوړ کړی و، چي اوس سېلونو وړی دئ".

د قاموس المشاهیر په ۲۴۳/۱ مخ کي لیکلي دي:

"د دوندي خان کلا ته نژدې، چي کوم ماجت دوندي خان جوړ کړی و، تر اوسه لا ولاړ دئ".

د نواب دوندي خان بړېځي شخصیت:

د نواب دوندي خان د شخصیت په باب چارلس هملټن انګرېز داسي لیکلي دي:

"دوندي خان په روهیله سردارانو کي د ډېر اوچت شخصیت، ښو اخلاقو، توري او مېړاني تښتن سردار و، سخي زړه، هسکه حوصله او غښتلې موټ ئې درلود، د روهیلکهنډ په خپلواکۍ کي د ده زیار، هوښیاري او ګټورو سلاوو ستره ونډه لرله[۴۱۲]".

په یوه لیک کي د اوده نواب ناسیاله وزیر شجاع الدوله حافظ رحمت خان بړېځي ته لیکلي دي:

"دوندی خان برادر شما آدم خوب، شجاع و بی نظیر است".

سید الطاف علي د دوندي خان د شخصیت په باب داسي لیکلي دي:

"دوندي خان خورا دروند، د جلال (پرتم) تښتن، مستقل مزاجه او پر خپل عهد ټینګ

---

(۴۱۰) وګ: حیات حافظ رحمت خان، ۱۱۰ مخ.

(۴۱۱) په عماد السعادت او سلطان التواریخ کي د نواب دوندي خان د مرګ کال (۱۱۸۴ هـ. ق.) لیکلی دئ.

(۴۱۲) وګ: روهیله پښتانه، ۳۹۰ مخ.

پښتون و، په توره مېړانه او زړه ورتوب کي ئې ساری نه درلود، د توري ږغ ئې تر ليرو ليرو سيمو پوري تللی و، په کوم جنګ کي چي به ده برخه درلوده، بری او سوبه به ئې د ايثار او دلاورۍ قطعي نتيجه وه[۴۱۳]".

د ميرزا مظهر جان جانان کے خطوط د تعليقاتو په ۲۴۴ مخ کي ليکلي دي[۴۱۴]:

"دوندي خان بړيڅ په ايمانداری، توري، باتورۍ او انتظامي صلاحيت کي نوم وړی و".

نواب دوندي خان بړيڅ يوازي د وقار، متانت او نظامي صلاحيت تښتن نه و، روحي تزکيې ته ئې هم هڅه درلوده. د سرکشي ضلع بجنور د ۱۳۷ مخ په لمنليک کي ئې ليکلي دي:

"نواب دوندي خان د مراد آباد د نامتو پير عبد الهادي صابري رحمة الله عليه مريد و".

د نواب دوندي خان زامن:

وايي د دوندي خان درې زامن پاته سوي دي:

۱. محب الله خان: د پلار تر مرګ وروسته د بدايون خاني د ده سوله[۴۱۵].

۲. فتح الله خان: د حافظ رحمت خان بړيڅي زوم و.

۳. عظيم الله خان: د تواريخ حافظ رحمت خاني هغه خطي نسخه، چي په برټش موزيم کي خوندي ده، د عظيم الله خان له پاره ليکلې سوې ده.

خو د لوايح خانقاه مظهري په ۲۷۸ مخ کي يو خط درج دئ، چي استوونکی ئې په مهر کي دين محمد پسر دونديا خان نقش دئ، د مهر جوړولو سنه ئې (۱۱۹۸ هـ. ق.) ليکلې ده. دغه راز د آريانا مجلې د ۲۸۴ پله پسې ګڼې په اتيايم مخ کي "اشرف نامه" د دوندي خان د زوی اشرف خان تاليف بلل سوې ده.

د فهرست کتب خانۀ آصفيه د ۹۲/۳ مخ کي هم اشرف نامه د دوندي خان د زوی، اشرف خان تاليف ښوول سوی دئ، خو په دغه فهرست کي دا جمله هم زياته سوېده: "تاريخ بغاوت هند". دغي جملې زه (رشاد) په شک کي اچولی يم (؟). مولوي غلام قادر غمګين رامپوري د آپ بيتي په ۷۳/۱ مخ کي کښلي دي:

"د مراد آباد خانان د دوندي خان اولاده ده".

او د دغه اثر په ۷۱/۱ مخ کي ئې کښلي دي، چي د نواب فتح الله زوی نثار خان بړيڅی و.

---

[۴۱۳] حيات حافظ رحمت خان

[۴۱۴] ميرزا مظهر جان جانان رحمة الله عليه (۱۱۱۱-۱۱۹۵ هـ. ق.) په دوولسمه هجري سدۀ کي، د ډهلي لوی نقشبندي مجددي پير و، زيارت ئې په زاړه ډهلي کي د شاهي مسجد جامع ته نژدې واقع دئ.

[۴۱۵] قاموس المشاهير، ۲۴۳/۱ مخ.

حسن خان بړيڅ

نواب دوندی خان بړيڅ — **لور**

لور:
محمد خان — **نامدار خان**
(د دوندي خان خوريان دي، په بسولي کي اوسېدل. لوایح خانقاه مظهري، ۱۴۰ مخ)

نواب دوندی خان بړيڅ:
محب الله خان — **فتح الله خان** (د حافظ رحمت خان زوم) — **عظيم الله خان**[۴۱۶]

فتح الله خان:
نثار خان

عباس علي خان
(د ۱۸۵۷ع په غزا کي شامل و او د مراد آباد حکومت ئې کاوه. ۱۸۵۷ع کی غدار شعراء، ۱۲۳ مخ)

علي الدين خان — ....

....:
حاجي رفيع الدين خان[۴۱۷]
(د عطا حسين په چهار درويش کي د نثر برخه ترو له ده ليکلې ده. نقوش آپ بيتي، ۷۳ مخ)

---

(۴۱۶) د "Histings and The Rohilla War" په ۲۰۴ او ۲۱۰ مخ کي ليکلي دي، چي دا درې سره ورونه ناسياله وزير شجاع الدوله د مى په ۲۸ بنديان کړل.

(۴۱۷) د علامه بابا په خپله لاسي خطي نسخه کي، د عباس علي خان، علي الدين خان او حاجي رفيع الدين خان نومونو ته وضاحت نه دئ ورکول سوی، ځکه نو موږ هم يوازي د نومونو په راوړلو بسنه وکړل.

(علامه رشاد اکاډيمي)

خرڅلاو له پاره بازا ته یوړل، هغه هندو سپاهي پر پېښ سو، یوه میاشت پخوا رانیولي سپنسي ئې بیرته هغې پښتنې ته ورکړل او خپلي پیسې ئې ځني وغوښتلې. پښتنې مېرمني هغه سپنسي نه ځني اخیستل، ځکه چي خیار (۴۲۰) په سودا کي نه و او ورته ویل ئې چي څوک پسله میاشتي څخه بې خیاره سودا نه فسخه کوي او زما سره پیسې هم نسته.

په دې سوال او جواب کي د باداری په نشه بېهوښه هندو سپاهي ته درد ورغی موچنه ئې له پښې وکښله او هغه پښتنه ئې پر ککری ککری په ووهله. مظلومي پښتنې دا بې پتي ونه زغملای سوای، نور څه ئې له لاسه نه کېدله، په ساندو او کوکارو د نواب محمد خان کره ورغله او د خدای ﷻ کارونه دي تر ټولو دمخه پر احمد خان پېښه سوله، احمد خان ته ئې وویل:

"پخوانو پښتنو ښه ویلي دي، چي له نه زویه مېنه نه ورانېږي، له سپي زویه مېنه ورانېږي. که ستا پر ځای د نواب محمد خان پر مېنه یوه مړنی لور پاته وای، د فرخ آباد سپینو پښتنو به د چوړیو هندوانو له لاسه دغه سپکي نه لیدلای. تا هم پگړی تړلې ده، ځان ته نارینه وایې؟!".

د پښتنې مېرمني دې طعنې او پېغور د احمد خان د غیرت پر اور باندي د پټرولو اغېزه وکړله، درې ورځي ئې له خواشینی اتام په خوله نه کړ او له دغي ورځي ئې د فرخ آباد د آزادولو هوډه وکړه.

هوډیالي احمد خان د شمس آباد او مئو پښتانه مشران لکه رستم خان اپرېدی، او نور د ځان مله کړل، پټ پټ ئې د پښتنو سپاهیانو په راټولولو لاس پوري کړ، په لږو ورځو کي ئې څلور سوه تنه وسله وال پښتانه داسي نوکران کړل، چي له خپلو کورو به نه راوتل او له هغه ځایه به ئې د خپلو جمادارانو په واسطه له احمد خان سره پټ اړیکی ساته.

یوه ورځ احمد خان خبر سو، چي له مئو څخه شپاړس کروهه یا دېرش میله لیري، په یوه کلي کي د مهاراجه نول رای یو گماشته او خپل (دوست) د صرافی دوکان کوي او په دغو ورځو کي له لکهنو څخه ډېري روپی او طلاوي ورته رارسېدلي دي.

احمد خان د شپې له خپلو سپاهیانو سره هغه کلي ته ولاړ او د هغه هندو صراف د دکان ټولي روپی او طلاوي ئې خپلي کړلې.

په سلطان التواریخ کي کښلي دي:

په دغه حمله کي یو اویا زره (۷۱۰۰۰) طلاوي د نواب احمد خان په لاس ورغلې، مگر د سلطان التواریخ په ماخذ عماد السعادت کي اویا کڅوري روپی او یوه کڅوره طلاوي کښلي دي.

د سلطان التواریخ مولف کښلي دي:

احمد خان د طلاوو تر خپلولو وروسته مئو ته ولاړ او یوه هفته وروسته ئې پر فرخ آباد برید وکړ"(۴۲۱).

---

(۴۲۰) خیار: خیار د سودا د فسخي واک دئ، چي د سودا په وخت کي د کومي ټاکلي مودې له پاره، د خرڅوونکي له خوا څخه رانیوونکي ته ورکول کېږي.

(۴۲۱) وگ: سلطان التواریخ، ۱۱۸ مخ.

مګر د عماد السعادت په ۴۷ مخ کې کښلي دي:

احمد خان د صراف له کلي څخه پر یوه بل کوچني ښار، چې د نول رای د نوکرانو په لاس کې
ريد وکړ، د هغه ځای کوتوال ئې پر خره سپور په بازارو وګرزاوه.

تر دې سوبې وروسته د احمد خان بغاوت ښکاره سو او شپږ زره (۶۰۰۰) تنه پښتانه پر
وند سول، یوه هفته وروسته ئې پر فرخ آباد حمله وکړه، تر ټولو دمخه ئې د ښار کوتوال وواژه،
وسته نو چې هر ځای د نول رای هندو نوکران او ګماشتګان په لاس ورغلل، ژوندي ئې پرې نه
ول.

د نول رای له خوا مقررو کاردارانو ته چې د فرخ آباد د سیمې په هر ګوټ کې دا حال ورغی،
سته ئې خیر وبلله.

په دې ډول د فرخ آباد ټوله سیمه بیرته پښتنو ته ورخوشي سوه، او هوډیالي احمد خان خپله
ده تر سره کړله او د فرخ آباد علاقه ئې د ناسیاله وزیر صفدر جنګ له شپږ میاشتني غاصبانه
لط او د ده د ګماشته نول رای له ناوړه ظلمو څخه وژغورله. په ټولو ښارو کې ئې خپل کوتوالان
رر کړل او له دغي روځې احمد خان د نواب په نامه یاد سو.

نول رای وژل:

مها راجه نول رای هندو، چې د نواب احمد خان په پورته کېدلو او برې خبر سو، دستي ئې د
نګ په تیاریو لاس پورې کړ او خپل بادار وزیر صفدر جنګ ته ئې هم حال ولېږه. لږې ورځې
وروسته مها راجه نول رای له یوه تکړه پوځ او درنې توپخانې سره له لکهنو یا قنوجه څخه د فرخ
باد پر لور حرکت وکړ او د خزانه عامره په قول د بلګرام د سیدانو یوه لویه ډله هم ورسره ملګرې
وه. د عماد السعادت مولف په دغه لښکر کښې کې د نول رای د پوځ شمېر پنځوس زره (۵۰۰۰۰)
ته ښوولی دئ او زیاته کړې ئې ده، چې پخپله ناسیاله وزیر صفدر جنګ هم د (۱۱۶۳ هـ. ق.) کال
د برات په دېرلسمه ورځ په ډهلي کې د مغل پاچا احمد شاه له حضوره، د نواب احمد خان بنګښ د
ځپلو له پاره رخصت واخیست او د ډهلي لښکري ئې د فرخ آباد لور ته ورمولې. په لار کې ئې د
برات پر اووه ویشتمه یو تکړه او څره پوځ د نصیر الدین حیدر[۴۲۲] او محمد علي رساله دار په
مشرتابه د مهاراجه نول رای مرستې ته وګماره. په سبا (د برات د میاشتې پر اته ویشتمه) ئې
اسماعیل بیګ کابلي او د کول (علي ګړه) پوځدار راجه دیبي دت له یوې رسالې سره د نومړي
نول رای هندو مرستې ته ولېږل.

په حیات حافظ رحمت خان کې کښلي دي:

د ډهلي ناسیاله وزیر که له یوې خوا په جنګي تیاریو بوخت و، د نول رای مرستې ته ئې
پوځونه لېږل او پخپله هم د ډهلي له لښکرو سره د فرخ آباد لور ته نژدې کېدئ، له بلې خوا ئې سیاسي

---

[۴۲۲] د عماد السعادت په ۲۹ مخ کې نصیر الدین حیدر د صفدر جنګ باجه (ساندو) ښوول سوی دئ.

چلونه هم په کار اچولي وو. د مئو او شمس آباد د سيمو پښتانه مشرانئې د نواب احمد خان بنګښ له ملګرئ څخه راګرزول او هغو ته به ئې حالونه او خطونه ورلېږل، چې که خپل او خير او امان غواړئ، احمد خان او مورئې ما ته وسپارئ او تاسي ئې له مرستي لاس واخلئ، که نه نو ....

د مئو او شمس آباد پښتنو مشرانو جرګه وکړه او په سلا ئې دغه جواب ورکړ:

"پښتني ننګه او غيرت دا نسي منلای، چې د محمد خان سردار ځپلی زوی (احمد خان) او د نامراده قايم خان بوره مور تا غوندي د پښتنو دښمن وزير ته وسپارو.

پوه سه! تر څو چې مرګي مو له لاسه توري نه وي اچولي، دوی به تا ته يوازي درپرې نه ږدو".

تر دې جواب وروسته د مئو او فرخ آباد پښتنو سردارانو د مهاراجه نول رای هندو مقابلې ته په بېړه تياری شروع کړلې او د نواب احمد خان تر مشرتابه او ادارې لاندې ئې د هر راز فداکارۍ لوړه وکړله. نواب احمد خان د بخشي توب وظيفه رستم خان اپرېدي ته وسپارله او په ګډه د نول رای هندو سره د غزا له پاره مخ پر قنوج وخوځېدل.

په دې جنګ کې د نواب احمد خان د پوځ شمېر سيد الطاف علي (د حيات حافظ رحمت خان مولف) لس زره (۱۰۰۰۰) پلي او سپاره ښوولی دئ او زين سنګهه لکهنوي په سلطان التواريخ کې کښلي دي، چې د نواب احمد خان بنګښ لښکر پنځلس زرو (۱۵۰۰۰) تنو ته رسېدئ.

د پښتنو پوځ چې له مئو څخه شپږ کروهه ليري د قنوج خوا ته ورتېر سو، مهاراجه نول رای ئې هم د مخنيوي له پاره خپل پوځونه، چې شمېرئې شلو ښت پنځوس زرو تنو ته رسېدئ، راوړاندي کړل. د کالي ني (کالي ندي) پر غاړه ئې ورته واړول او د ډهلي د کومک لارئې څارله.

يو واقعه نګار کښلي دي:

نواب احمد خان نور ځنډ ونه باله، سبا ئې (چې د ۱۱۶۳ هـ. ق. کال د روژې لسمه ورځ وه) سهار وختي په شنه خړه خپل پوځونه د "کالي ني" تر رود وراپوري ايستل، څو نول رای د مخنيوي له پاره ځان چمتو کاوه، پښتانه پکښي توی سول، په دغه وخت کې مهاراجه نول رای، چې پر پيل سپور و، د پښتنو د مخنيولو هڅه وکړله، څو تنه توريالي پښتانه پالکۍ ته ورو ختل، هلته ئې ټوک ټوک کړ، د ده په وژل کېدلو ئې لښکر هم خپل خير په تېښته کې وليد او په هغسي منده ئې د قنوج او لکهنو خوا ته ځغستل، چې باد نسو پسي رسېدلای.

غلام علي نقوي د بخشي رستم خان اپرېدي د تربره محمد خان له خولې کښلي دي:

"زه په دغه جنګ کې پخپله شريک وم، مهاراجه نول رای له شلو زرو سپرو سره زموږ خوا ته د کالي ني تر رود راپوري ووت، دېرش زره سپاهيان ئې لا د رود پر هغه غاړه پاته وو، چې موږ بريد پر وکړ او د ده ژوند ته غرمو ورونغاړه"(۴۲۳).

کاظم خان شيدا د نول رای د وژلو کال (۱۱۶۴ هـ. ق.) ښوولی دئ او تاريخي ماده ئې "خبيث و پليد" را ايستلې ده، د ده خپل بيتونه دا دي:

---

(۴۲۳) وګ: عماد السعادت، ۴۷ مخ.

"خان احمد" بروز رزم و وغا — تیغ قطاع از نیام کشید
آن "نول" کافر لعین و شقي — نائب خاص رافضی شدید
زود بشتافت از جهان به جحیم — گشت تاریخ او "خبیث و پلید"

۱۱۶۴

د سلطان التواریخ مولف زین سنگهه لکهنوي لیکلي دي:

زما ور نیکه شیو لال په دغه جنګ کي د مهاراجه نول رای له نژدو ملګرو څخه و، ده نکل وه: کوم ځای چي مها راجه پیر پیل سپور ولاړ و، شپږ اووه نور پیلان او څلور پنځه سوه سپاره خپږدلي وو، په دغو سپرو کي یو پښتون هم و، دغه پښتانه سپاهي په شپیلۍ کي په پښتو ژبه د ب احمد خان مهاجم پوځ ته وویل:

"نول رای دلته ولاړ دئ، تاسي چیري ځغلئ!"[۴۲۴].

مهاجمو پښتنو چي دا واورېدله د نول رای خوا ته ئې مخه وکړه، په لومړۍ حمله کي نول رای اژه سوا او زه ټپي سوم، د مهاراجه په وژله زموږ لښکرو ماته وکړه.

د عماد السعادت مولف هم دغه قصه کټ مټ د نومړي محمد خان له خولې رانقل کړېده او لي ئې دي، چي:

محمد خان دا هم ویل، زه په دغه جنګ کي د بخشي رستم خان اپرېدي څنګ ته نژدې تلم، موږ د نول رای په پوځ ورکښې وتلو، نول رای مو ولید، چي په خوله ښکنځل کوي، پښتنو ته بد و وایي او په لاس کي ئې لیندۍ ده، زموږ خوا ته غشي ولي، لومړۍ غشی ئې پر ما وموښت، خو وست تېر نه سو، په دغه وخت کي موږ د ده پالکۍ ته ښه ورنژدې سوي وو او وامووربدل، چي محمد صلاح نومی بلګرامي سید ورته وایي؛ نه مي درته ویل، چي پښتانه د باور نه دي، هر مره چي دي د لاسه کېږي ځپه ئې، اوس دي ولیدل چي ...... نومړي سید لا خپله خبره نه وه بره کړې، چي زما د توپک یوه ګولۍ پر ونښتله او په پالکۍ کي غوزار سو، د ده له غوزارېدلو سمدستي یوه بل اپرېدي نول رای وویشت د هغه په وینو هم پالکۍ سرخرویي حاصله کړه او د رامي سید او مهاراجه نول رای ویني ګډي وډې د پالکۍ تر څنډو راڅڅېدلې[۴۲۵].

یو بل بلګرامي سید میر غلام علي آزاد هم په خزانهٔ عامره کي دا خبره تائید وي او لیکي، چي غه جنګ کي د بلګرام ډېر سیدان د پښتنو له لاسه ووژل سوه او مړي ئې د نول رای هندو تر ک پراته وو.

د عماد السعادت مولف د نومړي محمد خان اپرېدي له خولې دا هم کښلي دي:

د زین سنګهه زخمي لکهنوي خپل الفاظ دا دي:
"افغانی از آن سواران که همرکاب مهاراجه بودند، نی افغانی که به هندی الغوزه و به افغانی شپیلۍ ند بدین مضمون بلغت افغانی نواختن گرفت؛ که ای گمکرده راهیها! کجا می روید، سردار ما در همین ع است".

وګ: عماد السعادت، ۴۷ مخ.

نول رای چي وواڼه سو او لښکر ئې وتښتېد، زه د نول رای د پوځ د صرافانو په بازار ورکښې وتلم، له يوې خېمې څخه مي د خلکو ډېر تر خوږ سو، ښه چي مي غوږ ورته ونيو، ټولو اتلس اتلس ويل، چي په خېمه ورننوتلم که ګورم څو تنه خمار بازان (قمار بازان) ناست دي او د خمار (قمار) په شوق کي دومره غرق دي، چي له ځان او جهانه ناخبره دي، زه چي ئې وليدلم پوښتنه ئې راڅخه وکړه: "پښتانه لا جنګ کوي، که وتښتېدل؟".

ما ته ډېر درد راغی په خورا قهر مي ورته وويل:

"بيدو! پښتانه ښه وايي؛ ګوجر چي خوب کوي مېږي به ئې نر کښي زېږوي، ستاسي بادار نول رای د وخته ټوک سو او ټتلي لښکر ئې ماته وخوړه، تاسي په هيڅ خبر نه ياست!".

ما له دوی سره دغه خبری کولې، چي نور پښتانه هم راورسېدل او د دوی د وژلو هڅه ئې وکړه، خماربازان دلته په ځان پوه سول، رنګونه ئې والوتل، زاری او جګکې ئې شروع کړلې، ما دوی لاس ترلي رستم خان ته بوتلل. رستم خان چي په نکل خبر سو، درې سوه تنه پښتانه سپاهيان ئې د صرافانو بازار ته ولېږل او څو دانې د روپو ډک صندوخان (صندوقونه) ئې د صرافانو له بازاره راوړل. موږ ته په دغه جنګ کي خورا ډېري اُلجې او بنديان په لاس راغلل، له بنديانو څخه مو وسلې او ځوري واخيستل نور مو خوشي کړل.

د قايم ګنج د عطايي پور کلي اوسېدونکي "بهبوتي" نومي اولسي هندو شاعر د نواب احمد خان د دغي توري او سوبې په وياړ يوه هندي فتح نامه جوړه کړه[۴۲۶]، چي د هغې څو بيتونه دا دي:

عجب وه صاحب قدرت هے — جس نے جگ سنوارا هے
خدای پاک مولا هے — وهی پروردگارا هے
کهڑا باندها کمر کس کر — غليم اوپر ليی لشکر
لگی اس کی عجب چکر — غروری کا خمارا هے

....

"نول" کرسې مرد غازي هويي — نه پوچهيی بات پاجی کو
"نول" هو دېسې مکهـ موړا — پهنچ گولی سی مارا هے
قبايل بهی کهين چهوړا — کهين هاتهی کهين گهوړا
چلين تو پين دهړا دهړ سے — نه سر چيره سنبهارا هے
شتر نالين پراپړ سے — رهکلی بهی براپړ سے
چلين تيری سناسن سے — تهور کا پهاړا هے
کتهين بکتر جهنا جن سی — چلين گولی منا من سے
"بهبوتی" نام هے ميرا — پڑی تلوار دهارا هے
يهی هے مئو کا کهيرا — "عطايی پور" مين ڈيرا
تلی گنگا کنارا هے

---

[۴۲۶] وګ: تاريخ فرخ آباد، ۲/۲۳ مخ. دغه فتح نامه په هزج مثمن سالم بحر کي ويل ...

ويليام ارون دا هم زياته کړېده، چي نواب احمد خان د دې فتحنامې په صله کي د "نانکارې"
بهبوتي شاعر ته وروبا خښه.

صفدر جنګ ماته:

ناسياله وزير صفدر جنګ ترکمن، چي له ډهلي څخه تر درې مزله لا نه و لېري سوی، د نول
په وژله او د لکهنو د لښکرو په ماته خبر سو، حيرانی واخيست، په مارهره کي ئې واړول او د
پوځ د تيارۍ په تکل کي سو. يوه مياشت ئې دلته په مارهره کي تېره کړل، له شاوخوا ئې
ونه راوغوښتل او تر اويا زرو زيات سپاره ئې د سير المتاخرين په قول، چي پلار ئې هم په دغه
ک کي و، وزير صفدر جنګ له ملګرو سره برابر کړل. دستي ئې د نواب احمد خان څخه د کسات
لو په نيامت له ډهلي څخه يو اتيا زرۍ لښکر د فرخ آباد لورته وخوځاوه. پاچاهي توپخانه، چي
اد السعادت ئې د توپو شمېر تر زرو زيات کښلی دئ، هم د نجم الدوله اسحاق خان شوستري
شري ورسره وه[٤٢٧] او سربېره پر دې د بهرتپور راجا سورج مل جاټ ئې هم له دېرشو زرو سپرو
جپوتو هندوانو سره مرستي ته راغی.

ناسياله وزير صفدر جنګ له دغسي درنو لښکرو او توپخانې سره د نول رای د مرګ په
وښتمه ورځ (د ۱۱۶۳هـ. ق. کال د کوچني اختر د مياشتي په شلمه) ځان د فرخ آباد شاوخوا ته
رساوه. د عماد السعادت مولف د خپل کتاب په ۴۸ مخ کي د دې پوځ شمېر دوه نيم لکه سپاهيان
تر زرو زيات توپونه ښوولي دي[٤٢٨].

نواب احمد خان بنګښ ته چي دا حال ورسېد، که څه هم د دغونه لوی لښکر او درنې توپخانې
ابله ئې ظاهراً په وس نه وه پوره، خو د کورنۍ د بې پتۍ احساس او د انتقام جذبې دې ته
کماره، هر څه چي کېږي بايد د دغه درانه او مجهز لښکر مقابله وکړله سي.

د نواب احمد خان مور د مرستي د هغې وعدې په ډاډ، چي د نواب قايم خان نامراده تر مرګ
روسته د روهيلکهنډ د نوابۍ نائب حافظ الملک حافظ رحمت خان برېڅي ورسره کړې وه، د
وهيلکهنډ پښتنو سردارانو ته، د مرستي له پاره استاځی (قاصد) ولېږه او پيغام ئې دا و:

"لاس چي مات سي غاړې ته ځي".

حافظ رحمت خان ته چي استاځی ورسېد، دستي ئې خپلو پوځو ته د تيار سئ حکم وکړ او
ستاځي ته ئې وويل:

"که نواب احمد خان او مور ئې د نامراده نواب قايم خان بنګښ خون د روهيل کهنډ پښتنو ته

---

[٤٢٧] په دغه سفر کي د اردو ژبي مشهور شاعر مير تقي مير هم د اسحاق خان نجم الدوله ملګری و او د نجم الدوله
تر وژل کېدلو وروسته ئې د وزير صفدر جنګ د مات سوي لښکر سره په ډېر زحمت ځان ډهلي ته ورساوه.
(نقوش آپ بيتی، جون ۱۹۶۴ع، ۳۶ مخ)

[٤٢٨] وګ: سلطان التواريخ، ۱۲۱ مخ.

وربخښي، نو زه به د پښتني ننګي په حکم د روهيلکهنډ د پښتنو يو تکړه پوځ ډېر ژر فرخ آباد ته دروا ستوم، چي هلته د خپلو پښتنو ورونو سره څنګ پر څنګ وجنګېږي".

استاځي چي دغه پيغام فرخ آباد ته ورساوه نواب احمد خان او مور ئې دستي د بخښني ليک د روهيلکهنډ سردارانو ته ورولېږه(۴۲۹).

له دې خوا هم په هغه ورځ د حافظ رحمت خان په حکم د روهيلکهنډيو پښتنو يو تکړه پوځ د پرمل خان او دوړ خان په مشرتابه فرخ آباد ته وکوچېد او پخپله حافظ هم له پاته لښکر سره د فرخ آباد لور ته د تګ په هڅه کي سو.

د پرمل خان او دوړ خان تر مشرتابه لاندي پوځ تر جنګ دوې درې ورځي دمخه فرخ آباد ته ورسېد او د ناسياله وزير صفدر جنګ ترکمن پوځونه هم نور د فرخ آباد لور ته پر مخ راغلل.

نواب احمد خان ته چي د روهيلکهنډ پښتانه ورورسېدل نور ئې ځنډ ونه کړ او پوځونه له فرخ آباده راوايستل او د صفدر جنګ د پوځو مخي ته ئې واړول، په دې جنګ کي د نواب احمد خان پوځ شل زره (۲۰۰۰۰) پلي او سپاره وو، خو د دښمن د لښکرو شمېر تر يو لک تنه زياتېدی او توپخانه ئې هم ډېره مجهزه وه. سبا چي د (۱۱۶۳هـ. ق.) کال د کوچني اختر د مياشتي دوه ويشتمه ورځ وه، ناسياله وزير صفدر جنګ په "رام چټوني" نومي ځای کي خپل پوځونه د بريد له پاره برابر کړل(۴۳۰). سرلاې (قراول) ئې (د شوستري مؤتمن الدوله زوی) نجم الدوله اسحاق خان ته وسپاره(۴۳۱)، د سورج مل جاټ (د بهرتپور راجا) پوځونه ئې له يوې برخي توپخانې سره د نجم الدوله د پوځ شا ته په ښي غوړي کي ځای پر ځای کړل او کيڼ غوړی ئې اسماعيل بيګ کابلي ته وسپاره، پخپله ئې د پنځو زرو مغولو سره د لښکر په زړه کي ځای ونيو.

نواب احمد خان هم خپل پوځ پر دوو برخو ووېشه، يوه برخه ئې د بخشي رستم خان اپرېدي په مشري د سورج مل جاټ د پوځو مقابلې ته وګمارله او بله برخه ئې تر خپل مشرتابه لاندي د صفدر جنګ پر پوځ وروخوځوله. له روهيلکهنډه څخه راغلی پوځ هم له نواب احمد خان سره مل و.

رستم خان اپرېدي تلوار وکړ او ډېر ژر ئې د سورج مل جاټ پر پوځ حمله ورو ړه، په دې حمله کي د راجپوتو کفارو له لاسه د خزانهٔ عامره او سير المتاخرين په قول شپږ اووه زره تنه پښتانه شهيدان سول او پخپله رستم خان هم د شهادت جام پر سر واړاوه او پاته ملګري ئې تر شا سول.

نواب احمد خان ته چي دا حال ورغی، د خپل پوځ سردارانو ته ئې وويل:

"رستم خان توريالي خو سورج مل پسي واخيست، مګر موږ ته لا مقابل پوځ روغ رمی ولاړ

---

(۴۲۹) په سلطان التواريخ کي د قايم خان د خون بخښل او د روهيلکهنډ د پښتنو مرسته د (۱۱۶۴هـ. ق.) کال په واقعاتو کي کښلې ده.

(۴۳۰) رام چټوني له "سهاور" څخه اووه ميله شرقي لور ته او له "پټيالي" څخه پنځه ميله غربي خوا ته واقع دئ.

(۴۳۱) د نجم الدوله اسحاق خان خور د صفدر جنګ د زوی شجاع الدوله مايينه وه، آصف الدوله د دغي ښځي زوی دئ. (سير المتاخرين، ۸۷۲ مخ)

ئ او هيڅ مو په ونه کړل، دا څنګه پښتنو اله ده؟!".

په دې وخت کې لمر تر سرا او ښتی و او پښتانه د ماپښين له لمانځه فارغه سوي وو، د نواب حمد خان دا پيغور چې پښتنو سردارانو واروېد، په غيرت ئې اور ولګېد، د ماپښين لمونځ ئې کړ، د بري له پاره ئې په سلا لاسونه پورته کړل، تر دې وروسته ئې دعا وکړه او د دښمن لور ته د راندې تګ په هڅه کې سول.

نواب احمد خان هم د خپل پيل مخ د دښمن د توپخانې لور ته وګرزاوه او مخامخ پر ور رهي سو، پښتنو توريالیو هم آسان پسې پونده کړل، په لومړۍ حمله ئې د صفدر جنګ د زوی شجاع الدوله خسر نجم الدوله اسحاق خان وواژه او ورپسې ئې د صفدر جنګ ترکمن وراره يا د خاله زوی نصير الدين حيدر[432] پخپلو وينو اوبه کړ او د بلګرام د سيدانو څخه ئې مير غلام نبي "رسا" او مير عظيم الدين ووژل. د بلوڅانو د فرخ آباد فرخ نګر او سېدونکی کامګار خان بلوڅ، چې د صفدر جنګ د لښکرو په سرلاښ (قراول) کې ولاړ و، د دې حال په ليدلو سره، چې د مغولو په پوځ ماته ګډه سوه، په تېښته سو. د ده په تېښته مغولو هم پايڅې راپورته کړې[433].

د اردو ژبې نامتو شاعر مير تقي مير پخپل شرح حال کې ليکلي دي:

صفدر جنګ چې د فرخ آباد د نواب محمد خان بنګښ تر مرګ وروسته د فرخ آباد د استېلا له پاره تئ، اسحاق خان نجم الدوله ئې هم ورسره ملګری کړ، زه د نجم الدوله سره ملګری وم، د نواب حمد خان بنګښ سره سخت جنګ پېښ سو، د صفدر جنګ لښکر مات سو، نجم الدوله وواژه سو، ا د دغه تښتېدلي لښکر سره، په ډېره خواري ځان ډهلي ته را ورساوه[434].

په حديقة الاقاليم کې کښلي دي:

هغه پنځه زره مغول سپاهيان، چې له اسانو څخه پلي سوي د صفدر جنګ وزير شاوخوا ته د جنګ له پاره ولاړ وو، د پښتنو په لومړۍ حمله داسي وتښتېدل، چې تر شا ئې نه کتل او بې له څو کسو څخه د وزير صفدر جنګ د پيل شاوخوا ته څوک پاته نه سول.

توريالیو پښتنو په دغه حمله کې د صفدر جنګ توپخانه خپله کړه او د غليم د لښکر زړه قلب) ته پسي ورتېر سول، په دغه بريد کې د صفدر جنګ پيلوان مړ سو او يوه ګولۍ پخپله د وزير ر غاړه هم ونښتله، ناسياله وزير بې سده سو او په پالکۍ کې وغزېد، پښتنو ګمان وکړ چې دغه پالکۍ تشه ده، ځکه ئې نو نور غرض په ونکړ او دغه اشتباه د صفدر جنګ د ژوندي پاته کېدلو سبب سوه.

د صفدر جنګ نوي پيلوان "جګت نراين" د ده د پيل مخ وګرزاوه او په تېښته ئې د پښتنو له تورو خلاص کړ. مارهرې ته ئې ورساوه او د کوچني اختر د مياشتي په نه ويشتمه روځ د ډهلي پر برابرې د جمنا

---

[432] نصير الدين حيدر د صفدر جنګ باجه (ساندو) و. (عماد السعادت، ۲۹ مخ)

[433] وګ: حديقة الاقاليم، ۱۷۴ مخ او سير المتاخرين، ۸۷۸/۳ مخ.

[434] وګ: نقوش آپ بيتی (جون ۱۹۶۴ع.)، ۳۶/۱ مخ.

نغاړي ته ورسېد (۴۲۵). د بهرتپور راجا چي د صفدر جنګ او د هغه د لښکرو تېښتي ته وکتل، ده هم له خپلو پوځو سره تر شا تر پلل او سوبه د پښتنو په برخه سوه. د سوبي نغاړي ورغېدې او د پښتنو د خوشحالۍ نارو سورو فضا پر سر واخيستله.

په دې جنګ کي پر سوبي سربېره د ډېري اُلجې هم د پښتنو جنګياليو په لاس ورغلې او له وياړه جګ سرونه له خپل غښتلي مشر نواب احمد خان سره بريالي فرخ آباد ته ستانه سول. نواب احمد خان چي فرخ آباد ته ورسېد، تر ټولو د مخه ئې له روهيلکهنډ څخه راغلي مرستيال پوځ ته خلاتونه، اسان، پيلان او سوغاتونه ورکړل او د کورودانۍ له يوه ليک سره ئې روهيل کهنډ ته رخصت کړل.

د نواب احمد خان چي دا سوبه نصيب سوه، د خدای ﷻ شکر ئې وکيښ خيراتونه ئې وکړل، خلاتونه ئې وبخښل، منصبونه ئې جګ کړل، جاګيرونه ئې ووېشل او د احسان دروازې ئې د خلکو پر مخ خلاصي کړې.

د اله‌آباد او لکهنو بريد:

د نواب احمد خان پوځونه چي په فرخ آباد کي د مه سول، د جنګ تر تياريو وروسته په (۱۱۶۴ هـ.ق.) کي د نواب له خوا ښادي خان غلجی وګماره سو، چي له شلو زرو سپرو سره د اله‌آباد نيولو ته وخوځي، ځکه چي په دغه ښار کي د نواب احمد خان ورونه، دوستان او عزيزان بنديان وو او ده د هغو خلاصون تر هر څه د مخه خپله وظيفه ګڼله.

بل پوځ ئې خپل زوی محمود خان ته ورکړ او د لکهنو (۴۳۶) نيولو ته ئې وګماره، دا دواړه ښارونه د ناسياله وزير صفدر جنګ د جاګير او حکومت په ساحه کي داخل وو (۴۳۷). ګړندی محمود خان د (۱۱۶۴ هـ.ق.) کال د درېيمي خور د مياشتي په شپاړسمه روځ بلګرام ته ورسېد، د ښار غربي خوا ته ئې واړول. په دغه وخت کي د بلګرام اوسېدونکو د محمود خان د پوځ دوه سوه يابوګان په چپاو بوتلل. محمود خان ته درد ورغی لښکر ته ئې پر بلګرام باندي د حملې حکم ورکړ، د بلګرام سپين ږيري محمود خان ته په ننواتو راغلل او محمود خان ئې د بلګرام له تالا کولو څخه وګرزاوه او محمود خان د پهاوبهامو خوا ته پوځ وکوچاوه، په ګذر کې واړول، له دغه ځايه ئې شل زره (۲۰۰۰۰) سپاهيان د خپل يوه تربره په مشرتوب پر لکهنو باندي د بريد له پاره ولېږل. دغه پوځ د لکهنو تر ښار دباندي واړول او دا ښار (لکهنو) ئې ونيو، مګر ښادي خان کوره جهان آباد ته نژدې د اله‌آباد له پوځو سره په جنګ کي ماته وکړه او بيرته ناکام فرخ آباد ته ستون سو.

---

(۴۳۵) وګ: سير المتاخرين، ۳/ ۸۷۹ مخ.

(۴۳۶) لکهنو له ډهلي څخه د مراد آباد پر لار د رېل په وسيله (۳۰۲) ميله ليري دئ، په (۱۹۱۹ ع.) کال کي ئې درې لکه نفوس درلود.

(۴۳۷) د لکهنو او اوده حکومت په (۱۱۵۱ هـ.ق.) کال د برهان الملک تر مرګ وروسته صفدر جنګ ته ورکړه سوی و او د اله‌آباد اداره د نواب عمدة الملک اميرخان تر مرګ وروسته په (۱۱۵۹ هـ.ق.) کال ورسپارلې سوې وه.

احمد خان نواب چي د ښادي خان په ماتي خبر سو، پخپله د يوه تکړه پوځ سره اله آباد ته وخوځېد، په لار کي ئې د پرتاب ګړه راجا (راجا پرتهي پت[۴۳۸] د چترهاري سنګهه زوی د جي سنګهه لمسی) اطاعت ومانه، ملګری ئې سو او د اله آباد د فتحي ذمه ئې واخيستله، د احمد خان په ورتګ چي د اله آباد واکمنان رای پرتاب نراين، خانعالم نواب بقاء الله خان او علي قلي خان خبر سول، ښې دروازې ته ځرمه ئې پر جمنا سيند باندي د کښتيو پل وتاړه، پوځونه ئې د اله آباد د ښار جنوبي خوا ته پوري ايستل او کله چي د احمد خان پوځونه وررسېدل، پخپله کلابند سول.

د بنارس راجا راجه بلونت سنګهه بنارسي، چي پر اله آباد باندي د احمد خان په حمله خبر سو، له بنارسه ځخه، چي له اله آباده ځخه ۴۳ کروهه ليري دئ، جهونسي ته له خپلو لښکرو سره راغی، هلته ئې واړول او احمد خان ته ئې سوغاتونه راولېږل، څو ورځي وروسته پخپله هم د نواب احمد خان حضور ته راغی، څو ورځي ئې له نواب احمد خانه سره تېري کړلې بېرته بنارس ته رخصت سو.

په دغه وخت کي نواب احمد خان خپل زوی، محمود خان هم له لکهنو راوغوښت او د پلار په حکم ئې په جهونسي کي واړول.

د عماد السعادت په ۵۰ مخ کي کښلي دي، چي له اله آباده نوري تولي سيمي تر بنارسه پوري، چي ۴۳ کروهه ليري شرقي خوا ته پرتې دي، د نواب احمد خان تر لاس لاندي سوې، مګر پښتانه پوځونه په بنارس نه ورننوتل او د دې سبب دا و، نواب احمد خان چي جونپور ته ورسېد، د بنارس سوداګران خبر سول، له ډېرو روپو سره د احمد خان مخې ته راووتل او په پهولپور کي، چي له بنارسه اته، نه کروهه لويديځ لور ته واقع دئ، له نواب احمد خان سره وليدل، دوه کروړه روپۍ ئې نواب ته ورکړې او بنارس ته ئې د پښتنو سپاهيانو د ورننه وتلو مخه ونيوله او د اله آباد ښار ئې څلور پنځوس روځي او د سير المتاخرين په قول، څلور مياشتي کلابند کړ. د حديقة الاقاليم مولف وايي، چي زه په دغه کلابندۍ کي د ديوان پرتاب سنګهه سره، چي د منصور خان صفدر جنګ مستوفي و، نوکر وم او په اله آباد کي وم. د لکهنو د نيولو او د اله آباد د کلابندۍ حال چي ناسياله وزير صفدر جنګ ته په ډهلي کي ورسېد، دستي ئې د اله آباد حاکم نواب بقاء الله خان[۴۳۹] ته (چي د صفدر جنګ د ماما زوی کېدئ) وليکل:

"هر څونه بنګښ چي ستا په لاس کي بنديان دي، وئې وژنه!".

د اله آباد حاکم ته چي د ناسياله وزير دغه حکم ورسېد، د نواب احمد خان څو تنه ورونه، ډېر دوستان ئې ووژل او پر نورو پښتنو بنديانو ئې هم مندي بوري کړلې. نواب احمد خان کلابندي ټينګه کړه، مګر د اله آباد ساتونکو هم پښې وخرلې او د اله آباد فتحه د نواب احمد خان نصيب نه

---

[۴۳۸] دغه راجه پرتهي پت تر (۱۱۶۵ ه. ق.) کال وروسته منصور خان صفدر جنګ په چل او دروه د علي بېګ خان خارجي په وسيله وواژه او علي بېګ خان ته ئې د دغه خدمت په بدله کي د شتاب جنګ لقب ورکړ (حديقة الاقاليم، ۶۷۴ مخ). د دغه پرتهي پت زوی دينا پت د منصور خان د زوی شجاع الدوله له لاسه وواژه سو.

[۴۳۹] نواب بقاء الله خان د مرحمت خان زوی او د عمدة الملک اميرخان وراره و، د اکا په وختو کي د کوړې پوځدار و.

سوه، ځکه چي ناسياله وزير صفدر جنګ بيا پر فرخ آباد پوځونه راوبهول او نواب احمد خان مجبور سو، چي د اله آباد له کلابندۍ لاس واخلي او فرخ آباد ته ځان ورسوي.

د صفدر جنګ او مرهټو ګډه برید :

د عماد السعادت په ۵۰ مخ کي کښلي دي:

د صفدر جنګ د ماتي خبر چي ډهلي ته ورسېد د وزير الممالک قمر الدين خان زوی انتظام الدوله خان خانان د ډهلي پاچا (مغول احمد شاه) ته ورغی او ورته وئې ويل:

صفدر جنګ ته له خپله غروره دا بده روځ ورپېښه سوه، اوس د داسي يوه وزير، چي له يوه زميندار ه څخه تښتېدلی دئ، راتګ ئې و پاچا ته ښه نه دئ، کور دې ضبط او پخپله دې د ډهلي له راتګه منعه کړه سي. مګر پاچا دا خبره ونه منله.

صفدر جنګ چي د (۱۱۶۳ه. ق.) کال د کوچني اختر پر ۲۹ مه ډهلي ته ورسېد په کور ننووت ډېر لږ به له کوره راوتئ.

د صفدر جنګ د دغي حملې تفصيل په عماد السعادت (۵۷ مخ) او سلطان التواريخ کي داسي کښلی دئ:

د ډهلي ترکمن وزير صفدر جنګ منصور خان، چي د فرخ آباد له جنګه تېي، په تېښته ډهلي ته ستون سو او د لکهنو د نيولو او د اله آباد د کلابندۍ حال هم ورورسېد، خواشينۍ زور پر وکړ، دربار ته نه راوتئ او همېشه به په کور کي و.

يوه روځ ئې د خپل پوځ سرداران وروغوښتل او له نواب احمد خان سره د جنګ کولو په باب ئې سلا څني وغوښتله.

اسمعيل خان کابلي ورته وويل:

"له ولايته (ايران) څخه بايد يو تکړه پوځ خپلي مرستي ته راوبولو [۴۴۰]".

راجه ناګرمل [۴۴۱] وويل:

---

[۴۴۰] د اسماعيل خان پلار ايرانی و، دی په کابل کي زېږېدلی و، د صفدر جنګ سپهسالار و.

[۴۴۱] د محمد شاه په زمانه کي راجه بخت مل کهتري ديوان خالصه و، دی د سُتلج پر غاړه باندي راهون نومي ځای ته نژدې د نوشهرې اوسېدونکی و، د ده يو وطن دار چهج مل د ده په کور کي کاڼ کاوه، د دغه چهج مل څورلس کلن زوی چي له وطنه څخه ډهلي ته راغی، راجه بخت مل پر مين سو او د ده په روزنه ئې پيل وکړ، خط ئې ورزده کړ، چي تر شلو کلو ئې عمر زيات سو د ديوان خالصه څلورم پيشکار سو. چي بخت مل ومړ، زوی ئې ديوان خالصه سو، زوی چي ئې مړ سو د مير کاظم زوی عبد المجيد خان کشميری (د مجد الدوله عبد الاحد خان پلار) ديوان خالصه سو، او کله چي د کابل د رام کهتري مشر ورور شيخ سعد الله نو مسلم (چي ديوان تن و) مړ سو، د روشن اسا په سپارښت ناګرمل ديوان تن سو.

ديوان خالصه او ديوان تن: د هندوستان په پخوانيو دربارو کي وزير اعظم دوه نائبان درلودل، يوه ته ئې ديوان خالصه ويل او بل ته ئې ديوان تن. ديوان خالصه به د پاچا عين المال اداره کاوه او د اشپزخانې،

د روهیلکهنډ پښتانه به د ځان مله کړو، یو لک تنه پښتانه هلته سته، د نواب قایم خان د خون له سبب کومه دښمني، چي د روهیلکهنډ او فرخ آباد د پښتنو تر منځ پیښه ده، له هغه څخه باید ګټه واخلو او په پاچاهي فرمان ئې د ځان مرستي ته راوبولو.

راجه لچهمي نراین وویل:

چي اپا سیندهیا[۴۴۲] او صوبه دار ملهار راو هولکر له اویا، اتیا زرو مرهټو سره په کوټه نومي ځای کي اړولي دي، یو به له دوی څخه د ځان مرستیال کړو او د پښتنو نوغی به په وکاږو. د صفدر جنګ وزیر د راجه لچهمي نراین خبره خوښه سوله. ځکه ئې نو خپل یو وکیل د مرهټو کفارو مشرانو ته ورولېږه او د نواب احمد خان پر ضد ئې مرسته ځني وغوښتله. د دغه وکیل نوم په عماد السعادت او سلطان التواریخ کي راجه رام نراین[۴۴۳] او په حیات حافظ رحمت خان ۵۸ مخ کي راجه جګل کشور کښلی دئ. مګر په سیر المتاخرین کي د دواړو نومونه سته.

د صفدر جنګ وکیل مرهټو مشرانو ته یو کروړ روپۍ څپلی ګنډ ومانه او اپا جي سیندهیا او صوبه دار ملهار راو هولکر ئې د نواب احمد خان بنګښ پر ضد د وزیر صفدر جنګ په مرسته راضي کړل. پخپله صفدر جنګ سورج مل جاټ ته هم د روځي پنځلس زره روپۍ ومنلې. په اخبار الصنادید او حیات حافظ رحمت خان (۵۹ مخ) کي د مرهټو د لښکرو شمېر دوه لکه (۲۰۰۰۰۰) تنه او زر توپونه دي.

د سیر المتاخرین په ۸۸۱ مخ کي کښلي دي:

صفدرجنګ د ورځي سورج مل جاټ ته ۱۵ زره او مرهټه وو ته ۲۵ یا ۳۵ زره روپۍ ورکولې. د سورج مل په هغو خطو کي، چي له بهرتپور څخه پیدا سوي دي، د صفدر جنګ یو خط هم سته، چي سورج مل ئې د پښتنو او نواب احمد خان د ځپلو له پاره خپلي ملګرۍ ته رابللی دئ، د دغه لیک یوه برخه داسي ده:

"فرزند وفادار بهادر من قرار کرده بودند که از مهمات خود فراغ حاصل کرده بعد دو ماه در حضور میرسم، مدت به امتداد انجامید که ایفای وعده هنوز به بعمل نیامده و اینجانب بجان و دل مشتاق خصوص درین ولا .... مهم افاغنه منظور خاطر و اصلاح کارهای سرکار بر ذمه همت شما است، توقف در زود شتافتن آن وفادار موجب کمال نگرانی و انتظار است، مخالفان شقاوت بنیاد که حسب اتفاق بر دولت خداداد دست یافته بودند حالا نخوت و غرور در سر دارند و به اجتماع هم کِش دور و نزدیک مشغولند، بر ضد عزیمت بی درنګ منظور بود لاکن به انتظار رسیدن آن

طبیلې، غسلخانې او نورو شاهي ادارو مصارفو په ده اړه درلوده، دیوان تن به پاچاهي خلاتونه مستحقینو ته رسول، د خانانو او منصبدارانو حالات ئې پاچا ته لیکل، دغه هر دیوان به څلور څلور تنه پیشکاران درلودل.

[۴۴۲] جي اپا د جهنکو راو مرهټه پلار و.

(اخبار الصنادید، ۲۲۵/۱ مخ)

[۴۴۳] راجه رام نراین د نوموړي راجه لچهمي نراین اکا (تره) د صفدر جنګ وزیر په دربار کي دیوان (مستوفي) و، د دغه رام نراین زوی مهانراین و. مها نراین بیا یو وخت د صفدر جنګ د زوی شجاع الدوله دیوان و.

کامگار روزی چند دیگر هم توقف لازم بود، الحاصل زود بیایند و زیاده بر این متوقف نشوند.

اگر به سیر چمن میروی قدم بردار
که همچو رنگ حنا میرود بهار از دست

مرهټو مشرانو دا ورځ له خدایه پر آسمان غوښته، په خورا تلوار او شوق ئې د مرهټو کفارو لښکري له کوټې څخه د فرخ آباد د نوابۍ لورته وخوځولې او د (۱۱۶۴ه. ق.) کال د دوهمي خور (ربیع الثاني) په میاشت کي د فرخ آباد د نوابۍ سرحد ته ورسېدل. پر اټاوه[۴۴۴]، کول (علي ګړه) او جلیسر ئې برید وکړ، د دغو سیمو پښتنو حاکمانو لکه: اعظم خان بنګښ (د نواب احمد خان ورور) او ښادي خان غلجي[۴۴۵] بېله تېښتي بله چاره ونه لیدله، فرخ آباد ته ئې ځانونه ورسول او باروبنه ئې مرهټو کفارو ولوټل.

نواب احمد خان ته چي دا حال ورغی، دستي ئې د اله آباد کلابندي پرېښووله او په منډه ئې ځان فرخ آباد ته راورساوه، خپل زوی محمود خان ئې هم له جهونسي (جهانسي) څخه، له پوځو سره راوغوښت او په ګډه ئې ځانونه د مرهټو کفارو او ناسیاله وزیر صفدر جنګ مقابلې ته چمتو کړل.

ناسیاله وزیر صفدر جنګ ترکمن د (۱۱۶۴ه. ق.) کال د درېیمي خور په شروع کي (صفدر جنګ د ۱۱۶۴ه. ق. کال د درېیمي خور په اوله له ډهلي راووت، سیر المتاخرین ۸۸۱ مخ)، چي په ډهلي کي خبر سو چي د ده رابللي مرهټه پوځونه علي ګړه ته رارسېدلي او دغه سیمي ئې د فرخ آباد د حاکمانو له لاسه کښلي دي، ده هم خپل پوځونه له ډهلي راوخوځول او د خپلو مرستیالو مرهټو کفارو مل سو. په دې جنګ کي له ده سره د ډهلي یوه درنه توپخانه هم وه او د بهرتپور راجا سورج مل جاټ ئې هم د جاټانو یو پوځ په مرسته رالېږلی و.

وزیر صفدر جنګ چي له ډهلي څخه رهي کېدئ، د ډهلي د پاچا احمد شاه مغول (۱۱۶۱-۱۱۶۷ه. ق.) څخه ئې هم غوښتي و، چي د نواب احمد خان بنګښ د ځپلو له پاره د جنګ میدان ته ورسره ولاړ سي، خو پاچا ټټه کړې وه او د خپل وزیر دغه غوښتنه ئې نه وه منلې.

د ډهلي ترکمن وزیر د مرهټو او جاټانو کفارو او مغولو تقریباً دوه لکه سپاهیان له زرو توپو سره پر فرخ آباد وروبهول او پر پښتنو ئې د قیامت ورځ جوړه کړه.

نواب احمد خان چي دا ورځ په سترګو لیده، د یرغلګرو لښکرو تر هجوم دمخه ئې خزانې، کډې او کوچنیان روهیلکهنډ ته لېږلي وو، پخپله ئې ځکه چي په ځان کي د دغونه لوی پوځ د میداني مقابلې وس نه لید، نو په فرخ آباد کي ئې د کلابندۍ ترتیبات نیولي او د روهیلکهنډ له پښتنو څخه ئې مرسته غوښتې وه.

---

[۴۴۴] کېدای سي دغه نوم "ایټه" وي (؟).

[۴۴۵] دغه نوم په سیر المتاخرین، ۸۸۱ مخ، حیات حافظ رحمت خان ۵۸ مخ او خزانهٔ عامره کي شادل خان کښلی دئ.

مرهټو کفارو د ګنګا غربي غاړې ونیولې او د روهیلکهنډ څخه د رارسېدونکو مرستیالو پوځونو مخې ته ئې سنګرونه ووهل. د روهیلکهنډ پښتنو سردارانو نواب احمد خان ته ولیکل:

"د ګنګا د سیند پر غربي غاړه باندې د دغونه لوی پوځ مقابله ګرانه ده، ته له خپلو پوځو سره د ګنګا شرقي غاړې ته راپورې وزه، موږ هم له خپلو پوځو سره ځانونه در رسوو، په ګډه به د وزیر او مرهټو دفعه وکړو".

د عماد السعادت په ۵۸ مخ کې د احمد خان پوځ شپېته زره (۶۰۰۰۰) او د روهیلکهنډ پوځ نیوي زره (۹۰۰۰۰) پلي او سپاره کښلی دئ.

نواب احمد خان ته چې دغه خط وررورسېد، په یوه ترڅ کې له خپلو لښکرو سره د فرخ آباده څخه رااووت د ګنګا پر غاړه ئې حسین پور[۴۴۶] ته ځان ورساوه او سنګرئې ونیو. د سیر المتاخرین په ۸۸۱ مخ کې کښلي دي:

مرهټو چې د فرخ آباد شاوخوا چور کړه احمد خان له فرخ آباده حسین پور ته ولاړ.

د ځلرمي خور د میاشتې په دریمه ورځ د روهیلکهنډ دوولس زره پوځونه د نواب سعد الله خان تر مشرتابه لاندې د ګنګا شرقي غاړې ته راورسېدل[۴۴۷]. احمد خان چې د سعد الله خان په ورتګ خبر سو، محمود خان او منور خان ئې مخې ته راوایستل، دوولس زره سپارو ئې د جمادی الاخر پر ۳ مه د ګنګا د رود پر کینه غاړه خېمې ودرولې. احمد خان د نجابت خان اورکزي په لاس پخه ډوډۍ وروړه او ورته وئې ویل، چې راپورې وزه، مګر سعد الله خان د بهادر خان په خوله وکړه او تر جنګ دمخه ئې بر لورته د ورتګ خبره خوښه نه کړه. احمد خان حال ورته راولېږه:

هغه ستا خوښه ده مګر دا احتیاط کوه، چې د مرهټو تعقیب ونه کړې، دوی په دې چل دښمن لیرې بیایي او بیا پر راګرځي.

سبا سعد الله خان، محمود خان او منور خان د حملې له پاره صفونه وتړل، د وزیر په امر کهانډي راو، ملهار راو هولکر او تانیشا ګنګا دهر له پنځوسو زرو سپرو سره ورپورې وتل. د سورج مل زوی جواهر سنګهه او د ګوالیار رانا مهیم سنګهه له څلوېښتو زرو سپرو سره ورپورې وتل او پر روهیلیو ئې برید وکړ. پښتنو اول د توپو ګولۍ پر اورولې بیا ئې نو توري وکښلې او پر غلیم ئې راوځغستل. مرهټو تېښته وکړه، بهادر خان له دوو یا درو زرو ځوانانو سره د دښمن په پوځ پسې و، د دښمن پوځ د دوکې په ډول شا ته ولاړ او پسله څه مزله څخه د بهادر خان پر سپاهیانو راوګرځېدل او له څلورو خواوو څخه ئې راګیر کړل. په دغه وخت کې بهادر خان له پیله را تا سو او پر آس سپور سو، بهادر خان خورا توریالی ځوان و، توري ئې کش کړلې او پر غلیمانو ئې سخت برید وکړ، مګر مرهټیانو ګولۍ او غښي پر اورول. بهادر خان په ډېر شهامت ومړ او نور ځوانان هم

---

[۴۴۶] حسین پور له فرخ آباد څخه درې کروهه لیرې د ګنګا پر غاړه واقع و.

[۴۴۷] د نواب سعد الله خان سره دغه پښتانه سرداران؛ بهادر خان، فتح خان (خانه سامان) او د سعد الله خان ورونه؛ محمد یار خان، الله یار خان او مرتضی خان ملګري وو.

زیاتره شهیدان سول.

نواب احمد خان چي پر ګنګا باندي د کښتیو پل جوړ کړی و، د ګنګا شرقي غاړي ته پوري ووت، د وزیر صفدر جنګ او مرهټو پوځونه هم تر ګنګا پسي ورپوري وتل. که څه هم د نواب احمد خان زوی محمود خان تر ګنګا د مرهټو د دفع کولو له پاره ډېر زیار ویوست(۴۴۸)، مګر د ناسیاله وزیر او مرهټو د توپو تاب ئې رانه وړ. دښمنانو د ځلرمي خور په دوهمه ورځ، پر ګنګا باندي د کښتیو پل وتاړه.

د (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور په ۳ مه ورځ د سعد الله خان او دښمن د پوځو تر منځ یو سخت میداني جنګ پېښ سو او ماته د پښتنو نصیب سوله(۴۴۹). د سیر المتاخرین په قول لس دوولس زره پښتانه مړه، ټپیان او بندیان سول او ډېر مالونه ئې د مرهټو په لاس ورغلل. وروسته له دغه لوی جنګ څخه پښتانه ورو ورو په قراولي جنګو د روهیلکهنډ د مرکز انولې خوا ته ځکېدل او د ناسیاله وزیر صفدر جنګ او مرهټو او جاټانو کفارو پوځونه په پسې وو.

د سلطان التواریخ مولف کښلي دي:

له حسین پوره څخه تر انولې پوري، چي پښتانه تر شا کېدل په دغه کي دوې میاشتي تېري سوې(۴۵۰). د سیر المتاخرین په ۸۸۲/۳ مخ کي کښلي دي:

حسین پور له درو خواوو څخه مرهټو او صفدر جنګ کلابند کړی و، یوه د رود خوا ئې خلاصه وه، ازوغ له روهیلکهنډ څخه په کښتیو کي رارسېدئ، وزیر نور حسن بلګرامي ته امر وکړ، چي پر ګنګا باندي د کښتیو پل وتړه او د ځلرمي خور پر دوهمه پل وتاړه سو. له قنوجه څخه ۱۲ کروهه را لوړ، د سنګي رامپور په شاوخوا کي، نواب احمد خان تر ښار دباندي خیمه ووهل او د برسات تر تېرولو وروسته ئې پر رام ګنګا(۴۵۱) د کښتیو پل وتاړه او پر وزیر او مرهټو باندي د حملې په فکر کي سو. وزیر چي خبر سو، کهانډي راو ته ئې یو دروند پوځ ورکړ، له دې خوا احمد خان هم خپل لښکر ور رهي کړ، دوندي خان سرلاړ و، په داسي ځای کي د کهانډي راو لښکر ته مخامخ سو، چي له درو خواوو څخه د کهانډي راو پر پوځ باندي ګنګا رود راڅرخېدلی و او یوه خوا چي ئې وچي ته وه، هغه دوندي خان بنده کړه. کهانډي راو چي د تېښتي لار بنده ولیدله، احمد خان ته ئې د دوستۍ پیغام ولېږئ، احمد خان او حافظ رحمت خان ورغلل او کهانډي راو ئې د دوندي خان له ګېره خلاص کړ او پښتانه پسي ورتېر سول او د سنګي رام پور پله ته ورسېدل، دا پل څکه چي مرهټو وران کړی و، نو توپ جنګي شروع سوه او یوه هفته پښتنو دلته تېره کړه، تر ګنګا

---

(۴۴۸) وګ: سیر المتاخرین، ۸۸۲/۳ مخ.

(۴۴۹) وګ: حدیقة الاقالیم، ۱۷۵ مخ او سیر المتاخرین، ۸۸۱/۳ مخ.

(۴۵۰) وګ: سلطان التواریخ، ۱۳۸ مخ.

(۴۵۱) دا رود په روهیلکهنډ کي بهېږي او تر فرخ آباد ځلوښت میله کښته، قنوج ته نژدې له شرقي خوا څخه په جمنا ګډېږي.

د پوري وتلو وسايل برابر نه سول او ازوغ ئې هم خلاص سو[۴۵۲].

روهيله سردارانو نواب احمد خان ته وويل: اوس دا مناسبه ښکاري، چي سورجپور گدر[۴۵۳] ته ولاړ سو، هلته به کښېنې ومومو او پر ملهار راو هولکر باندي، چي پوځ ئې لږ دئ، بريد وکړو، د دغه پله پر جوړولو به وخت نه تېرو. نواب احمد خان هم دا خبره خوښه کړل او مخ پر سورج پور رهي سول.

وزير ته دا حال ورسېد او هغه د ميدهي گهاټ[۴۵۴] پر گدر تر گنگا پوري ووت. د (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال د محرمي په نهمه ورځ ئې ملهار راو هولکر ته ځان ورساوه او د ده په ورتگ د توپو شليک وسو، دې خبري پښتانه وارخطا کړل. له دغه ځايه څخه روهيلي او انولې پښتانه خاکي پور[۴۵۵] ته تر شا سوه. وزير گنگا دهر تانيشا له دېرش زرو سپرو سره د دوی تعاقب ته وگماره او دا حال چي اپا سيندهيا نواب احمد خان ته ورکړ او د وزير دا زيار شنډ سو.

د حيات حافظ رحمت خان په ۶۰ مخ کي کښلي دي:

صفدر جنگ چي فرخ آباد ونيو پر روهيلکهنډ باندي ئې د بريد له پاره د گنگا پر غاړه خېمې ووهلې، روهيلکهنډ ته چي راورسېدل، پښتنو خپل کوچنيان او کډي کاسي پور ته استول شروع کړل، مگر وروسته معلومه سوه، چي صفدر جنگ د برسات موسم په فرخ آباد کي تېروي، ځکه نو پښتانه بېر ته له کاسي پوره انولې ته راغلل.

چي برسات تېر سو، مرهټو او صفدر جنگ تر گنگا د پوري وتلو له پاره کښتۍ برابري کړې او دوه درې ځايه ئې پلان وتړل، نواب احمد خان او حافظ رحمت خان چي په خبر سول، له هغو ۲۵ زرو مرهټو سره ئې، چي تر گنگا راپوري وتلي وو، قراولي جنگ شروع کړ او د نورو مرهټه پوځونو مخه ئې ونيول، چي تر گنگا نه سوای راپوري وتلای. صفدر جنگ او مرهټو وغوښتل، چي درې څلور کروهه کښته تر گنگا پوري وزي او پر بريلي او انولې باندي بريد وکړي. نواب احمد خان او حافظ رحمت خان چي په خبر سول، د انولې و خوا ته وکوچېدل. صفدر جنگ او مرهټه چي په خبر سول، تر رود پسي راپوري وتل او شلو ښت زره تنه ورسره وو، د پښتنو تعقيب ئې وکړ، څو پلا جنگ پېښ سو.

د وزير او مرهټو پوځونه چي انولې ته ورسېدل، پښتنو تر څو ورځو مدافعې وروسته خپلې کډې، کوچنيان، خزانې او جبه خانې "کتيهل" او "چلکيا" ته وخېژولې. د چلکيا کلا د کمايون پر غره باندي پنځه کروهه له مځکي څخه لوړه په يوه گڼ ځنگله کي واقع وه او د کمايون غر د هماليې

---

[۴۵۲] وگ: اخبار الصناديد، ۱/۲۳۰ مخ.

[۴۵۳] سورجپور گدر د قايم گنج په سيمه کي واقع دئ، له فرخ آباده څخه شل ميله او له سنگي رام پور څخه شلو ښت ميله لېري دئ.

[۴۵۴] دا گدر تر فرخ آباد ۴۰ ميله کښته د قنوج په سيمه کي واقع دئ.

[۴۵۵] خاکي پور د مراد آباد په شمال کي، ۳۰ ميله لېري واقع دئ.

په لړ کې د رامپور شمال شرقي لور ته پروت دئ.[456]

د پښتنو پوځونه کرار کرار چلکيا ته تر شا کېدل، د مرهټو کفارو او ناسياله وزير صفدرجنګ پوځونه هم سم په پسې وو. مګر د اخبار الصناديد په ۱۴۹ مخ کې دوې مياشتې کښلې دي او د حيات حافظ رحمت خان په ۶۱ مخ کې کښلي دي، چې څلور مياشتې ئې پښتانه هلته محاصره کړل او له شا وخوا څخه ئې د ازوغ د ور رسولو لارې تړلې وې. د سلطان التواريخ په قول د پښتنو له پوځو څخه ډېر کسان له لوږې مړه کېدل او د عماد السعادت په قول د صفدر جنګ د لښکرو څخه به خلکو غوښې د پښتنو سنګر ته ور وړلې او يو سېر به ئې په يوه اشرفۍ پښتنو ځني رانيولې. ځکه نو پښتنو سردارانو له صوبه دار ملهار راو هولکر سره، چې د مرهټو مشر و، د روغې خبرې شروع کړلې.

په دغه وخت کې لاهور ته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د لښکرو د روانېدلو يا ورنژدې کېدلو ازانګې هم د پښتنو د غليمانو تر غوږ سولې. وزير ته له ډهلي څخه خپل وکيل وکښل، چې دلته حال راغلی دئ، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پښتنو په مرسته پنجاب ته روانېږي، د غرو پښتنو ته ئې هم خبر رالېږلی دئ، چې د اباسين پر غاړه زما انتظار وباسئ. د علي قلي خان (په لاس) د پاچا هم يو خط صفدر جنګ ته راغئ، چې احمد شاه راځي ته د احمد خان سره روغه وکړه. ځکه نو د ډهلي د دربار د ناسياله وزير له خوا هم د روغې پېشنهاد ومانه سو او په دې شرط روغه وسوه، چې پښتانه به پنځوس لکه روپۍ د جنګ تاوان مرهټو (ملهار راو هولکر) ته ورکوي او د کاله به پنځه لکه پاچاهي کلنګ مني[457].

وايي: د روغې د خبرو په وخت کې يوه روځ صوبه دار ملهار راو هولکر د نواب احمد خان خېمې ته ورغی او پښتانه نواب ته ئې وويل:

"زه به د برمتې (يرغمل) په توګه ستا په خېمه کې کښېنم، ته ولاړ سه د ډهلي له وزير صفدر جنګ سره وګوره".

نواب احمد خان جواب ورکړ:

"دا د کوچنيو هلکو خبرې دي، صفدر جنګ په دنيا کې دوه دښمنان لري، يو پښتانه او بل مرهټه، زه چې د ده په لاس کښېوتم، ما هرومرو وژني او زما لښکر تا بې مرګه نه پرېږدي، پښتانه او مرهټه به دواړه بې سره سي، پخپلو منځو کې به سره ولوېږي او دی به د هري خوا په کمواکه کېدلو خوشحالېږي.

دا کار د هوښيارۍ نه دئ، زه به خپل زوی محمود خان ستاسې لښکر ته درولېږم، چې هلته له

---

[456] د کمايون د غره په لمنو کې "نيني تال" او "الموړه" مشهور ښارونه دي، د بحر له سطحي څخه د لومړي ښار لوړوالی ۶۳۴۶ فوټه او د دوهم ښار لوړوالی ۵۵۰۰ فوټه دئ.

[457] زين سنګه زخمي لکهنوي کښلي دي: پښتنو د روپو په زور، د ملهار راو هولکر پېرزوينه خپلې خوا ته واړوله او دا روغه دده په ټينګار او اصرار وسوله.

صفدر جنګ سره ووېني او ته خپل زوی کهانډي راو د يرغمل په توګه زما خېمې ته راولېږه، هر وخت چې محمود خان خپل لښکر ته راستون سو، کهانډي راو[458] به درخوشي کړو. زه پوهېږم چې د صفدر جنګ د زړه خروښ د محمود خان په وژلو نه سړېږي او دې کار ته زړه نه ښه کوي".

صوبه دار ملهار راو هولکر د نواب احمد خان خبره ومنله، محمود خان بنګښ د دښمن پوځ ولاړ هلته ئې له صفدر جنګ سره وليدل او تر څو چې دی د دښمنانو له پوځه راستنېدئ، د ملهار راو هولکر زوی، کهانډي راو د پښتنو په پوځ کي د برمتې په توګه ناست و.

آزاد بلګرامي په خزانۀ عامره کي کښلي دي:

په دې جنګ کي د پښتنو د مړو، ټپيانو او بنديانو شمېر لسو زرو تنو ته رسېدئ، مګر په حيات حافظ رحمت خان کي کښلي دي، چي په دې جنګ کي لس زره (۱۰۰۰۰) تنه پښتانه شهيدان سول او په سير المتاخرين (۸۸۲/۳ مخ) کي ئې يوازي د څلرمي خور د درېيمي ورځي په جنګ کي مړو، ټپيانو او بنديانو شمېر لس دوولس زره تنه ښوولی او زياته کړې ئې ده، چي د وزير پوځو روهيلکهنډ ټولي سيمي تالا ترغه کړلې.

په عماد السعادت کي کښلي دي:

په دغو جنګو کي د پښتنو له لوټه څخه مرهټو ته دوه کروړه روپۍ په لاس ورغلې.

د اخبار الصناديد په ۲۵۲/۱ مخ کي ليکلي دي:

د دې جنګ په وخت کي يوه ورځ "اندر ګر اندر ګوشائين" له پنځلس زره سپرو سره د احمد خان پر توپخانه باندي بريد وکړ او د دې له پاره چي پښتانه خطا باسي، پخوا تر هغه مغولو د محبت خان پر مورچه بريد کړی و. پښتانه چي پر راوغورځېدل، د ايشو سردار ئې وواژه او لښکر ئې ماته وکړه، پښتانه د وزير تر لښکر په پسې وو او د وزير د توپ ګاډيو ته ئې اور واچاوه او د شپې په تياره کي له ډېرو اُلجو سره را ترشا سول. سورج مل چي دا خبر واورېد، پر پيل سپور سو او کاسي پور ته وتښتېد، جي اپا او ملهار راو هولکر پسي ولاړل له کاسي پوره ئې راوګرځاوه او خپل ځای ته ئې راوست. علي قلي خان ته ئې وويل: که زما له خوا د روغي پېشنهاد وسي دا به ټول عمر زما بدنامي وي، علي قلي خان ورته وويل زما او د احمد خان تر منځ له پخوا څخه دوستي ده، زه به د ده وليدلو ته ورسم او دی به روغي ته راوبولم. علي قلي خان يو خط نواب احمد خان ته ورولېږه او احمد خان هم وروغوښت. ملا سردار وويل دا روغه دې د علي قلي خان په واسطه نه، بلکي د مرهټو په واسطه دې وسي. علي قلي راغی دوی ته ئې د ملا سردار رأيه څرګنده کړه. کهانډي راو ئې د محمود خان او حافظ رحمت خان د بېولو له پاره ورسره کړ، چي د مرهټو لښکر ته ورسېدل، جي اپا، ملهار راو هولکر او تانيشا ئې مخي ته راووتل. خېمې ته ئې بوتلل او سوغاتونه ئې ورته کښېښوول، وزير سالار جنګ او علي قلي خان د دوی راوستلو ته ولېږل، د وزير سره ئې وليدل، خاصه خېمه ئې ورکړه، د .... ښي

---

[458] د قاموس المشاهير په ۱۱۶/۱ مخ کي کښلي دي: کهانډي راو په (۱۷۵۴ع.) (=۱۱۶۸هـ.ق.) کال په ډيګ کي، د سورج مل جاټ له لاسه وواژه سو.

اړخ ته او په نيمه شپه کي يو زر مغول پر خېمه راوګرځېدل. د حافظ رحمت خان او محمود خان ملګرو ژر دوی خبر کړل. کهاندي راو چي خبر سو، د پلار بې اجازې او اطلاع، د وزير لښکر ته ولاړ او هلته د ده په امر سره، مرهټو د خېمې پر شاوخوا مغلو بريد وکړ او هغه ټول مغول ئې تيت وپرک کړل. دننه چي ورغلل محمود خان او حافظ رحمت خان توري په لاس ولاړ وو، د شپې ئې دوی راوايستل او ترغره پوري ئې ورسول. بيا نو راغی پلار تې نکل وکړ.

مرهټه چي د لوی احمد شاه بابا رحمه الله په راتګ خبر سول، وزير ته ورغلل او هغه ته ئې سختي خبري وکړلې او وئې ويل: اوس نو توره په تيکي کي کړه او د روغي خبري شروع کړه، علي قلي خان پښتنو ته ورواستوه، چي د پاچا په امر وزير له جنګه لاس اخيستی دئ روغه غواړي، تاسي هم بايد روغه وکړئ، د احمد خان ټوله ملک بېرته درکول کېږي، په دې شرط چي ۳۰ لکه روپۍ به نذرانه منئ او تر څو چي ئې دغه نذرانه نه وي ادا کړې، نيم ملک به ئې په ضمانت کي وي. وزير دا شرايط ومنل.

علي قلي خان دوزير له خوا او "تانيشا ګنګا دهر" د مرهټو له خوا، نواب احمد خان بنګښ ته ولېږل سول. د مرهټو مشرانو ګنګا دهر ته پټ دا پيغام هم ورکړ، چي احمد خان ته ووايه روغه ومنه. نواب احمد خان د ملا سردار او نورو روهيله سردارانو په مشوره، د مرهټو په تضمين، د روغي شرايط ومنل.

دا روغه محمود خان او حافظ رحمت خان د پښتنو له خوا لاسليک کړه. حافظ رحمت خان او محمود خان له خپلو څلورو سوو ځوانانو سره د وزير دربار ته ورغلل او وزير چي لکهنو ته تئ، دوی تر مرهانه ورسره ملګري وو. وزير په مرهان کي محمود خان ته اووه پارچې خلات ورکړ او حافظ رحمت خان ته ئې هم خلات ورکړ او دواړه ئې رخصت کړل.

محمود خان او تانيشا د فرخ آباد لور ته او حافظ رحمت خان بريخ انولې ته ولاړ، مرهټه قنوج ته ولاړل او ګنګا دهر له لسو زرو مرهټو سره د محمود خان د ساتني له پاره د وزير له پوځه سره تئ.

په دغه وخت کي وزير د فرخ آباد د رياست د نيمي سيمي خط تانيشا ته ورکړ، چي د شاهي نذرانې تر ادا پوري دي د مرهټو په لاس کي وي.

پښتانه شاعر کاظم خان شيدا (۱۱۹۴ هـ. ق. مړ) چي په دغه وخت کي په روهيلکهنډ کي اوسېد، د پښتنو د دغو مصيبتونو تاريخ "عظيم فساد" موندلی دئ، چي د جمل (ابجد) په حساب ۱۱٦۵ څني راوزي، د ده دغه تاريخي قطعه دا ده:

پښتانه د "کتهـ هېر" متزلزل دي[۴۵۹]
که هر څو و لکه غر قوي بنياد

---

[۴۵۹] د روهيل کهنډ پخوانی نوم "کتهـ هېر" و.

چي برکي او اېراني په يوه ځاى سـول[460]
مـنتشـر ئې په ديار كي شـو بيـداد
و تـاريـخ تـه ئې حيـران د واقعـات وم
راتـه وويـل خپـل راى "عـظيم فسـاد"[461]
۱۱۶۵

تر دغي روغي وروسته چي د مرهټو کفارو او ناسياله وزير ګډ پوځونه د چلکيا له
اوخوا ځخه وخوځېدل، پښتانه هم سمي ته را شوه سول، انولې ته راغلل او د روهيلکهند
ښتانه هلته پاته سول او نواب احمد خان فرخ آباد ته ولاړ.
زين سنګه لکهنوي په سلطان التواريخ کي کښلي دي:
"د دغي روغي له مخي نواب احمد خان ته هغه شپاړس ځايه ورپاته سول، چي د جمنا او
نګا د سيندونو تر منځ واقع وو[462] او د حديقة الاقاليم په ۱۷۵ مخ کي کښلي دي:
تر روغي وروسته ناسياله وزير صفدر جنګ د نواب احمد خان تر لاس لاندي مځکي نيمی
واب احمد خان ته ورپرېښوولې او نيمی نوري ئې د دکن کفارو (مرهټو) ته ورکړلې.
په سير المتاخرين کي ليکلي دي:
هغه مځکي چي د دغه خدمت په بدله کي وزير مرهټو ته ورکړلې هغه جاليسر، کول او
ټو د فرخ آباد تر سرحده پوري وې، مګر په ۹۳۹ کي ئې کښلي دي، چي کاس ګنج، دريا ګنج
و هلديا ګنج د صفدر جنګ له خوا مرهټو ته ورکړل سوې او په ۸۸۲ مخ کي ئې کښلي دي،
ي د فرخ آباد او د هغه په شاوخوا کي د شپاړسو لکو روپو جايدادونه د محمد خان کورنۍ ته
رکړل سوه او څه برخه ئې د مالګزارۍ په شکل ورکړل سوه، د فرخ آباد د رياست ځيني ځايونه
زير ضبط کړه او ځيني ئې مرهټو ته ور وبخښل.

---

[460] برکي Barki مرهټو ته ويل کېده، عنايت خان اشنا په ملخص کي کښلي دي:
"جمعی از مردم خوش اسپه خود ژا بقزاقی که شيوهٔ دکنيان است و باصطلاح آن ملک برکی گری گويند
رستادند". دغه کلمه په تزک جهانګيري کي هم راغلې ده، هلته کښلي دي: "آن مقهوران بقزاقی و برکی گری
رداختند".

[461] د کاظم خان شيدا دېوان، ۲۱۵ مخ، د کابل چاپ. دا چي د تيمورشاه دراني د دوهم ټوک په ۴۴۸ مخ کي
عزيز الدين وکيلي پوپلزي کښلي دي: "ولايت فرخ آباد از سال فتح کشمير ۱۱۶۵ هـ. ق. بدست تصرف سلطنت
درانی آمد و اولين مسکوکات نقره ئی احمدشاه از سال ۱۱۶۶ هـ. ق. در ولايت مذکور در قلعه فرخ آباد توسط
عبد الله خان پوپلزی (؟) رائج گرديد"، د غور وړ خبره ده، ځکه چي د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال دمخه نه لوی احمدشاه
بابا رحمة الله عليه تر سرهند ورتېر سوی دئ او نه ئې پوځونه، نو څنګه کېدای سي چي فرخ آباد، چي د ډهلي شرق ته واقع
دئ، تر احمدشاهي سلطې لاندي راسي او د عزيز الدين نيکه هلته سکه جاري کړي.

[462] وګ: سلطان التواريخ، ۱۳۸ مخ.

د جهل د دربار دوستي:

د نواب محمد خان د کور ورانوونکی ناسیاله وزیر منصور خان صفدر جنګ ترکمن نور د نواب احمد ځان د لاځپلو فرصت ونه موند، ځکه چي په (۱۱۶۶ هـ. ق.) د ده او د ډهلي د پاچا احمدشاه مغول (۱۱۶۱-۱۱۶۷ هـ. ق.) تر منځ په ډهلي کي جنګونه پېښ سول. د توپخانې مشرتوب او وزارت ځني واخیستل سو او له ډهلي څخه د خپل جاګیر (اوده) سیمي ته په تللو مجبور کړه سو او په (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال ئې په اوده کي خوله پټه سوه او د نواب احمد خان بنګښ اړخ مځکي ته ورغی.

(۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د ډهلي د دربار په سیاسي او اداري وضعه کي ډېر تغیر راوست، پاچا (احمدشاه مغول) له پاچهي ایسته کړه سو او پر ځای ئې یو بل مغول شهزاده "عزیز الدین" د دوهم عالمګیر په نامه پر تخت کښېنول سو[۴۶۳]، معزول وزیر د نواب محمد خان د کورنۍ دښمن صفدر جنګ مړ سو، تر صفدر جنګ وروسته د ډهلي په دربار کي مقرره سوی انتظام الدوله[۴۶۴] معزول سو او ځای ئې غازي الدین عماد الملک ونیو.

دا تغیرات د نواب احمد خان بنګښ په سیاسي، اداري او اقتصادي وضعه کي بې اغېزې نه وو، د ډهلي د دربار نوي وزیر غازي الدین عماد الملک سهروردي (۱۲۱۵ هـ. ق. مړ) غوښتل چي د خپلو رقیبانو پر ضد ډېر قومونه د ځان مله کړي، ځکه ئې نو نواب احمد خان بنګښ ته، چي د صفدر جنګ له سرسختو دښمنانو څخه و، د دوستۍ لاس وروغزاوه. نواب احمد خان هم د دوستۍ دغه بلنه ومنله او په دې توګه ئې د ډهلي د دربار له دښمنۍ څخه ځان بېغمه کړ.

د اوده په حمله کي ګډون:

درې کاله وروسته د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د درېیمي خور په اوومه ورځ ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه (۱۱۶۰-۱۱۸۶ هـ. ق.) له خپلو لښکرو سره ډهلي ته ورسېد، د ډهلي مغول پاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۲-۱۱۷۳ هـ. ق.) ئې ښه راغلې ته له ښاره ورووت او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د ډهلي پاچهي بیرته ورکړه سوه، مګر د ده ناسیاله وزیر غازي الدین عماد الملک سهروردي، چي د کندهار د دربار د نائب الحکومه څخه د لاهور په نیولو کي ګنهګار و، لړوترا ته سو.

ډاکټر ګنډا سنګهه د "Ahmad Shah Durrani" په ۲۳۲ مخ کي د غلام حسین ثمین د "حالات احمدشاه درانی در هندوستان" په حواله لیکلي دي:

"د ۱۷۵۷ع (= ۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د فبروري پر ۲۵ مه شاه (لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه) له خضر

---

[۴۶۳] دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هـ. ق.) د معز الدین جهاندار شاه (۱۱۲۴-۱۱۲۴ هـ. ق.) زوی د شاه عالم بهادرشاه (۱۱۱۹-۱۱۲۴ هـ. ق.) لمسی او د لومړي عالمګیر اورنګزیب (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هـ. ق.) کړوسی و.

[۴۶۴] انتظام الدوله وزیر د وزیر الممالک قمر الدین خان (۱۱۶۱ هـ. ق. مړ) زوی و.

اد څخه وخوځېد او په بدرپور کې تم سو. بل سهار شاه فرید آباد ته حرکت وکړ، چې دا ځای د لابهګړ (بلب ګړه) په شمالي شپږ میلي کې پروت دئ. په لومړي سر کې شاه دا تصمیم نه درلود، ي بالابهګړ ونیسي، خو کله چې په هماغه ورځ محمدزی عبد الصمد خان د جټانو پر خلاف، د ملیاتو څخه راستون سو، نو ده ته خبر ورکړل سو، چې جواهر سنګهه له لومي څخه خلاص سوی بلابهګړ ته تښتېدلی دئ. په دې اساس شاه د دې چوني د ژر نیولو تصمیم ونیو".

کله چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د ډهلي د پاچا دوهم عالمګیر په غوښتنه خپلې لښکرې د رتپور د راجا سورج مل جاټ د ځپلو په نیامت د متهرا او اګرې (اکبر آباد) لور ته وخوځولې، ړلي عماد الملک غازي الدین د صفدر جنګ له زوی شجاع الدوله (۱۱۶۷-۱۱۸۸ه. ق.) څخه الیې د حاصلولو په پلمه له خپلو لښکرو سره له ډهلي څخه د اوده په نیامت روان سو او یو مغول هزاده (هدایت بخش) ئې هم د ځان مل کړ. کله چې فرخ آباد ته ورسېد نواب احمد خان ئې هم مل و، په ګډه د اوده لور ته وخوځېدل، خو د نواب احمد خان زړه په جنګ سوړ نه سو او د روهیلکهنډ شپاړس کلن نواب سعد الله خان روهیله په منځګړیتوب د ډهلي د ترټلي وزیر عماد الملک غازي دین او د اوده د نائب الحکومه شجاع الدوله تر منځ روغه وسوه.

عماد الملک او نواب احمد خان د (۱۱۷۰ه. ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي په اوومه ورځ رته فرخ آباد ته راستانه سول او عماد الملک تر څو چې پر ډهلي باندي د مرهټو په مرسته برید اوه، له نواب احمد خان سره په فرخ آباد کي پاته سو او د ډهلي په برید کي ئې نواب احمد خان هم ځان مل کړ.

غالب جنګ خطاب:

د دې برید تفصیل نور الدین حسین خان فخري، چې د عماد الملک له مقربو درباریانو څخه و، ه "حالات نواب نجیب الدوله" نومي کتاب کي داسي کښلی دئ:

د (۱۱۷۰ه. ق.) کال د رجب په میاشت کي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه خپل پوځونه د کندهار په یامت له ډهلي څخه وخوځول، د تګ په وخت کي ئې د ډهلي د دربار امیر الامرایي (سپهسالاري) یربخشي توب او مختاري، درانه پښتانه نجیب الدوله نواب نجیب خان عمرخېل یوسفزي ۱۱۸۴ه. ق. مړ) ته ورکړله. دا خبره دډهلي د دربار پر ترټلي وزیر عماد الملک غازي الدین هروردي درنه پرېوتله. د مرهټو کفارو سرداران صوبه دار ملهار راو هولکر، شمشېربهادر، روشینکر (د جهانسي حاکم) او بابو پټېل راو او رګهو ناتهه ئې د نجیب الدوله نجیب خان پر ضد، پلي مرستي ته راوبلل او د (۱۱۷۱ه. ق.) کال په اوایلو کي ئې د هغو په مرسته پر ډهلي برید وکړ.

عماد الملک چې کوم وخت له فرخ آباد څخه د ډهلي په نیامت روانېدئ، نواب احمد خان نګښ ئې هم د ځان ملګری کړ، تر پنځه ویشتو ورځو کلابندۍ وروسته، چې نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل له ډهلي څخه په روغه ووت، د دوهم عالمګیر له خوا د ډهلي د دربار، وزارت عماد

الملک غازي الدین سهروردي ته او د میر بخشي منصب او د غالب جنګ خطاب نواب احمد خان بنګښ ته ورکړ سو[۴۶۵].

مګر په تنقیح الاخبار کي ئې کښلي دي:

نواب احمد خان بنګښ ته د دوهم عالمګیر له خوا د شیر هند، امیر الامراء، بخشي الممالک، غضنفر الدوله احمد خان بهادر غالب جنګ خطابات ورکړه سول[۴۶۶].

د دغو خطابونو تر حاصلولو وروسته غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ بیرته فرخ آباد ته ولاړ او ډهلي یوائي عماد الملک غازي الدین سهروردي ته پاته سو.

د سیر المتاخرین په ۹۰۴/۳ مخ کي کښلي دي:

"عماد الملک و احمد بنګښ که امیر الامراء مقرر شده بود به اتفاق غنیم رائق و فائق مهمات سلطنت ګشتند".

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته د نواب احمد خان بنګښ ورتلل:

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د صفري په میاشت کي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خپلو لښکرو سره ځان لاهور ته ورساوه. د دغه کال د دربیمي خور د میاشتي په څلرمه ورځ د تراوړي[۴۶۷] په ډاګ کي، د څلرمي خور په شلمه د ریواړي[۴۶۸] په ډاګ کي او د رجب په میاشت کي په سکندره کي مرهټو کفارو سخت شکستونه وخوړل. دتا پټېل ومړ، ملهار راو هولکر، جګنو او تاتیا دکن ته وتښتېدل. غازي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي تر نیولو وروسته د علي ګړه[۴۶۹] کلا هم د سورج مل جاټ له حاکم "درجن سال" څخه ونیوله او د پشکال (برسات) د تېرولو له پاره ئې په انوپ شهر کي واړول.

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په څلرمه ورځ، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خپلو لښکرو سره په انوپ شهر[۴۷۰] کي اړولي و، غالب جنګ، بخشي الممالک نواب احمد خان

---

[۴۶۵] حالات نجیب الدوله، ۷ مخ. د مجموعهٔ نغز په مقدمه کي کښلي دي، چي د امیر الامرایي لقب غازي الدین له نجیب الدوله څخه واخیست او نواب احمد خان بنګښ ته ئې ورکړ.

[۴۶۶] د وقایع عالمشاهي د تعلیقاتو برخه، ۱۵۹ مخ. د تنقیح الاخبار د ۴۸۹/۲ مخ په حواله.

[۴۶۷] "تراوړي" د کرنال په شمال او د امبالې په جنوب کي د جمنا سیند غربي خوا ته واقعه ده.

[۴۶۸] "ریواړي" له ډهلي څخه شل کروهه لیري جنوب غربي خوا ته واقعه ده.

[۴۶۹] د علي ګړه پخواني نوم کول دئ، ثابت خان چي دغه پسې ودانه کړه ثابت ګړه ئې ونومه، سورج مل جاټ چي دغه سیمه ونیوله د رام ګړه نوم ئې پر کښېښود، او کله چي ذوالفقار الدوله نجف خان دغه کلا ونیوله علي ګړه نوم ئې پر کښېښود او اوس په دغه نامه جهاني شهرت لري، ځکه چي په دغه ښار کي د هندوستان یو مشهور پوهنتون واقع دئ.

[۴۷۰] انوپ شهر د روهیلکهند او فرخ آباد په منځ کي واقع و.

(ضمیمه عماد السعادت، ۱۷۹ مخ)

بنګښ له خپل پوځ سره ورغی، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم ډېر ونازاوه[۴۷۱].

د احمد شاه دراني په ۳۱۶ مخ او عهد بنګښ په ۱۳۰ مخ کي کښلي دي:

غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه لښکر ته ورغی، د وزیر شاه ولي خان او جنګباز خان ملک مېري په واسطه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. په دغه وخت کي جنګباز خان د بنګښو د لښکر مشر و. ډاکټر ګنډا سنګھ د " Ahmad Shah Durrani "په ۳۱۶ مخ کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دربارته د نواب احمد خان بنګښ د ورتګ پېښه په ډېر تفصیل راوړې ده. په دغه ورځ د صفدر جنګ زوی جلال الدین حیدر شجاع الدوله د اوده والي هم له خپلو لښکرو سره انوپ شهر ته ورغی او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو.

د پاني پت په غزا کي د نواب احمد خان بنګښ برخه:

په تاریخ فرخ آباد کي کښلي دي:

غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ چي د پاني پت د غزا له پاره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ملګری کېدئ، پنځه زره سپاره او یوه توپخانه ورسره وه.

سعادت یار خان بړېڅي په ګل رحمت کي د دغه پوځ شمېر شپږ زره تنه لیکلی دئ او نور الدین حسین خان فخري په احوال نواب نجیب الدوله کي کښلي دي، چي تر شپږو زرو زیات نه و.

غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کي د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د لومړي خور پر اتلسمه تر طغیاني جمنا پوري ووت او د لومړي خور په دوه ویشتمه ورځ د پاني پت مشهور ډاګ ته ورسېد. قراولي جنګونه، چي شروع سول په دغه لړ کي یوه شپه مرهټو د نواب احمد خان پر پوځ باندي د شبخون هڅه وکړله، د نواب په لښکر کي د توپخانې موظف پهره داران ویښ وو، څنګه چي ئې د مرهټو د آسو ښکالو تر غوږ سوه، دستي ئې توپونه ورچلول او د مرهټو پوځ ئې تر شا تګ ته مجبوره کړ.

د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د ثلرمي خور د میاشتي په شپږمه ورځ (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ع.) چي د پاني پت د تاریخي غزا تر ټولو مهمه او وروستۍ ورځ وه او د دوو مخاصمو لښکرو برنوشت پکښي ټاکل کېدئ، نواب احمد خان بنګښ د خپلو لښکرو سره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حکم د غازیانو د پوځونو په ښي غوړي (میمنه) کي ځای نیولی و. د عهد بنګښ په ۱۳۱ مخ کي کښلي دي:

---

[۴۷۱] په اخبار الصنادید کي کښلي دي: لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په "کول" کي اړولي و، نواب احمد خان بنګښ ورغی، مګر په سیر المتاخرین ۹۱۰/۳ مخ کي د احمد خان بنګښ ورتګ، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته، له نجیب الدوله سره یو ځای کښلی دئ، چي دا غلطي ده. دا واقعه تر جمادی الاخری (۱۱۷۳ هـ. ق.) مخه پېښه ده.

نواب احمد خان بنګښ په ساقه کي و او د روهیلکهنډ د پښتنو سردارانو لکه؛ نواب حافظ
رحمت خان بړېڅي، نواب دوندي خان بړېڅي او نواب فیض الله خان روهیله پوځونه هم، د
شاوخوا ته ولاړ وو(۴۷۲).

د احمدشاهي شهنامې ناظم حافظ مرغُزي(۴۷۳) ویلي دي:

که بنګښ و احمد خان	ښه مضبوط و په دا شان
که څه پوځ و د دوندیا	چي نامي و په دنیا
د پادشاه و دا فرمان:	"تاسي واړه په میدان
و دې لور ته شئ روان	چي نامي شئ پر جهان
په دا ځای شئ استوار	په دا جنګ اوسئ تیار"
په یمین شو مقرر	هغه و د میدان سر
تمام پوځ شو په میدان	د چاګوی شي په چوګان(۴۷۴)

د نواب احمد خان بنګښ او د روهیل کهنډ د سردارانو په مقابل کي د مرهټو د سپهسالا
"سدا شیو بهاو" په حکم د مرهټو مرستیال، د غازیانو وژونکی، مسلمان جرنیل ابراهیم خا
ګاردي له خپل خونخور لښکره سره ځای نیولی و. نوموړي حافظ مرغُزي په احمدشاهي شهنام
کي ویلي دي:

ده هم پوځ که خپل تیار	مناسب چي و د کار
تمام پوځ ئې کړ تقسیم	په خواصو د تنجیم
....	....
چي "بسواس" دئ عالي شان	بهادر دئ د میدان
قرابین ئې توپخانه	ده په لاس د مردانه
"ابراهیم" غوندي ځوانان	تصدق لري خپل ځان
د جنګ تل که اجاره	خپل دښمن که بېچاره
فرنګي ځوانان ئې ډېر	همېشه په جنګ دلېر
تمامي دي په سامان	و "حافظ" ته شي روان
له "فیض الله" دي وکا جنګ	چي مشهور سي په فرنګ
د "بنګښ" دي پوځ اسیر که	په دې جنګ دي ځان قجیر که
ښه دې جنګ که په میدان	چي پرې اورشي هندوستان(۴۷۵)

---

(۴۷۲) وګ: حالات نواب نجیب الدوله، ۲۶ مخ.

(۴۷۳) د احمدشاهي شهنامې ناظم د هغه مرغُز او سېدونکی و، چي د پېښور شمال شرقي لور ته واقع دئ.

(۴۷۴) وګ: احمدشاهي شهنامه، د (۱۱۷۶هـ. ق.) تالیف، د پېښور چاپ، ۱۶۸ مخ.

(۴۷۵) وګ: احمدشاهي شهنامه، د (۱۱۷۶هـ. ق.) تالیف، د پېښور چاپ، ۱۷۱ مخ.

د حالات نواب نجیب الدوله په ۲۶ مخ کي کښلي دي:

د نواب دوندي خان بړېڅي پوځ د نواب احمد خان بنګښ د پوځ مخ ته ولاړ و، د ابراهیم ګارډي لښکرو چي پر غازیانو لومړی حمله وکړله، په دې حمله کي د نواب دوندي خان بړېڅ د پوځ ډېر ځوانان شهیدان سول او د حملې له ډېره زوره، د دغه پوځ غازیان تر شا کېدلو ته مجبور سول او د نواب احمد خان بنګښ غالب جنګ په پوځ، چي تر شا ئې ولاړ و، ننوتل. غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ استقامت او ټینګار له لاسه ورنکړ او هر څونه زور چي پر راغی، له خپله ځایه ونه ښورېد. حالات نواب نجیب الدوله زیاته کړېده:

د دوندي خان بړېڅي پوځ چي تر شا سو، د نواب احمد خان په پوځ ننوت، نواب احمد خان غالب جنګ بد و رد ورته شروع کړل او دستي ئې مشرف خان د غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته د مرستي له پاره ولېږه.

خو لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته دا حال دمخه رسېدلی و او دا هم ورمعلومه سوې وه، چي د حافظ رحمت خان بړېڅي د زوی، توریالي عنایت خان بړېڅي (۱۱۵۵-۱۱۸۷ھ. ق.) پر پوځ باندي د ابراهیم ګارډي پوځو بده ورځ جوړه کړېده، ځکه ئې نو یو تکړه پوځ د حاجي عطایي خان بامېزي په مشري د نوموړي عنایت خان بړېڅي مرستي ته لېږلی و او غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ ئې هم وګماره، چي له خپله پوځه سره د توریالي عنایت خان بړېڅي په مرسته ورسي.

نواب احمد خان بنګښ ته چي دغه حکم ور ورسېد، د عنایت خان مرستي ته د میدان پر لور ورووځېد او په ګډه ئې د ابراهیم خان ګارډي پر پوځ باندي یوه سخته جوابي حمله وکړله. ابراهیم خان ګارډي په دغه حمله کي د غازیانو له لاسه ټپي سو، مګر مرهټې سپهسالار "سدا شیو راو بهاو" چي د ابراهیم خان ګارډي د پوځ پله سپکه ولیدله، دستي ئې د "بسواس راو" په مشري یو تکړه پوځ په مرسته ورته راولېږه او په دغه وخت کي پر دغه ځای خورا خونړی جنګ وسو.

حافظ مرغزي په احمد شاهي شهنامه کي د جنګ د دغه صحنې په باب داسي کښلي دي:

د "حافظ" سو پوځ روان	و دې جنګ ته په میدان
د "بنګښ" چي و لښکر	آراسته په تیر تبر
د فیض الله ، دوندیا خان	پوځ روان شو په دا شان
په مخ راغی براهیم خان	په میدان شو دست ګرېوان
د ژلۍ په دود تفنګ شه	د باران په دود خدنګ شه
... شمشېر خنجر په لاس	نه چا خر پرېښوو نه آس
نه چا سپور پرېښوو نه پلی	په میدان بې جوړ که څلی
طرفین شول په تفنګ	تمام ملک په دود شو زنګ
درست میدان شو یو آواز	په هیبت د غم ګداز
تمام ګرد شو نمودار	جوړ شحاب شو د بهار

پـکښـي تـوري درخشـان لـکـه بـرق وي د آسـمـان
خـوزېـدې بـه پـه مـيـدان پـرې عـالـم شـو خـون فـشـان
پـه بـل لـوري دا "بـسـبـاس" تـيـار و سـلاح پـه لاس
پـه دوی راغـی لـکـه شـېـر پـه دا جـنـګ لـه سـره تـېـر
عـجـب راغـی پـه دا زور درسـت مـيـدان شـو سـره تـور
پـه مـيـدان شـو جـنـګ آغـاز پـه آسـمـان ئې شـو آواز
پـه لـرزه زمـيـن زمـان شـو سـياه دود پـه دا جـهـان شـو
دې غـازيـانـو وکـه غـګ(٤٧٦) سـتـاسـي نـه شـي بـيـرتـه تـګ
جـنـګ د کـفـر د اسـلام پـه دا نـنـګ شـئ اوس تـمـام
سـر فـدا کـړئ پـه مـيـدان چـي نـبـي آخـر زمـان
ډېر خوشـحال شـي پـه دا جـنـګ د اسـلام پـه نـام او نـنـګ
کـه شـهـيـد شـئ پـه مـيـدان سـتـاسـي سـور کـفـن عـيـان

(احمد شاهي شهنامه، ۱۷۲-۱۷۳ مخونه)

د (۱۱۷۴ ه. ق.) کال د ثلورمي خور (جمادی الثاني) د میاشتي د شپږمي ورځي مازدیګر عادي مازدیګر نه و، دې مازدیګر د هغو غازیانو او مرهټو کفارو تقدیر ټرګند کړ، چي له درو میاشتو راهیسي، یو د بل د تباهی په نیامت مخامخ سره پراته وو.

د "نامهٔ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی" په قول، په دغه مازدیګر د مرهټو کفارو د ژوند او برم لمر پر لوېدو سو او د اسلام او غازیانو د بخت ستوری راوخوت(٤٧٧). مرهټو کفارو د زین سنګهه لکهنوي په قول داسي ماته وکړه، چي تر شپېتو کروهو پوري ئې مځکه په وینو لړلې وه، هري خوا ته چي به دې کتل، سترګي به دې د مړو پر غونډی لګېدې او هغو شلو زرو تنو چي له جنګه ئې ژوندي سرونه ایستلي وو، تر څو هفتو پوري په راجپوتانه کي لغ سر او لڅي پښې فقر کاوه(٤٧٨). په دغه مازدیګر د غازیانو هغه سوبه په نصیب سوه، چي تر پېړیو پېړیو پوري ئې قصې له خولو نه لوېږي او اوس لا هم کله چي دوه سوه او څو کاله وروسته په دې غزا کي د پښتنو د توري او مېړاني نکلونه یو پښتون اروي، د فخر غاړه ئې یوه لوېشت جګېږي.

د دې تاریخي سوبي په ثواب او افتخار کي د غازي نواب احمد خان غالب جنګ بنګښ برخه د یادوني وړ برخه ده او تر څو چي پښتانه د دغي لویي غزا نکلونه په ویاړ سره کوي، د دغه غازي بنګښ یاد ورسره ژوندی دئ.

(٤٧٦) غګ = غږ (بږغ)- په دغه بیت کي یو قافیوي عیب سته، چي "اجازه" بلل کېږي.
(٤٧٧) وګ: نامهٔ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی، ۷۴ مخ، د کابل چاپ. په سیر المتاخرین ۹۱۴/۳ مخ کي هم د ثلرمي خور شپږمه ورځ کښلې ده.
(٤٧٨) وګ: سلطان التواریخ، ۱۶۹ مخ.

غازي نواب احمد خان د پاني پت د میدان د ستر فاتح لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کي شمالي هندوستان پایتخت ډهلي ته ولاړ او هلته د غازي ستر تولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضوره د ډهلي د دربار بخشي توب، چي د هغه وخت یو لوړ منصب و، ورکړه سو او له مرهټو نخه چي کومي سیمي بېرته نیولي سوي وې، په هغو کي ئې له ډهلي څخه تر فرخ آباده پوري د لویي زي دواړو خواوو ته پرتې سیمي ور وبخښلي سوې[۴۷۹]. مګر د حدیقة الاقالیم په ۱۷۵ مخ کي ښلي دي، هغه مځکي چي د (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال تر جنګو وروسته له نواب احمد خان بنګښ څخه خیستل سوي وې او مرهټو ته ورکول سوي وې، هغه ټولي مځکي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه بیرته واب احمدخان بنګښ ته ورپرېښوولې. د عهد بنګښ په ۱۳۱ مخ کي لیکلي دي، چي لوی حمدشاه بابا رحمة الله علیه د قنوج، مګهن پور، بلهور، اکبرپور، شاه پور اداره نواب احمد خان بنګښ ته وسپارله.

تر څو چي غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ډهلي کي و، غازي نواب احمدخان بنګښ هم په ډهلي کي واوسېد. د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي پر شپاړسمه، چي غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي په شاوخوا او پنجاب کي تر یونیم کال تمېدلو وروسته، له ډهلي څخه د کندهار په نیامت وکوچېدئ، غازي نواب احمد خان هم فرخ آباد ته ولاړ[۴۸۰].

د نواب احمد خان بنګښ او ناسیاله شجاع الدوله تر منځ شخړه:

د غازي نواب احمد خان غالب جنګ بنګښ د ژوندانه په واقعاتو کي یوه هم هغه شخړه ده، چي د ده او د ده د دښمن (ابو المنصور علي خان صفدر جنګ ترکمن) د زوی ناسیاله شجاع الدوله ترکمن (۱۱۸۸ هـ. ق. مړ) تر منځ پېښه سوه. د دې شخړي تفصیل د سلطان التواریخ په ۱۳۳ مخ کي داسي کښلی دئ:

په (۱۱۶۳ هـ. ق.) کال چي د غازي نواب احمد خان بنګښ زوی محمود خان لکهنو ونیو او ده پخپله پر اله آباد باندي برید وکړ، په دغه وخت کي یو هندو ملنګ چي "اندرګر اندرګوشائین" نومېد له خپلو شپېتو تنو مریدانو سره، چي ټولو ئې ډېر ګرندي آسان درلودل، د پښتنو پر ضد د اله آباد د حاکم نواب بقاء الله خان مل سو. وروسته ئې د نواب بقاء الله خان په واسطه له صفدر جنګ منصور علي خان سره وپېژندل او د صفدر جنګ په پوځ کي شامل سو، مګر صفدر جنګ ته به ئې سلام نه کاوه او په لښکر کي به تر ټولو دمخه دمخه تئ او نغاره به هم ورته وهله کېدله. پای ته د (۱۱۶۶ هـ. ق.) کال د شعبان پر ۱۷ مه (= ۲۰ جون ۱۷۵۳ع) د اسماعیل خان کابلي په ټونګ وواژه سو.

د دغه اندرګر له مریدانو څخه دوو وروڼو، چي یو انوپ ګر (همت بهادر) او بل امراوګر

---

(۴۷۹) وګ: سلطان التواریخ، ۱۷۰ مخ.

(۴۸۰) وګ: حیات حافظ رحمت خان، ۱۱۱ مخ.

نومېد، د شجاع الدوله ترکمن په دربار کي ډېر قرب وموند، دغه دوه ورونه د شجاع الدوله عيش و نوش ملګري سول او د معاشقو او عياشيو اسرار به ئې سره شريک وو.

د نوموړي کتاب په ۱۷۷ مخ او ځينو نورو کتابو کي کښلي دي:

په (۱۱۷۶ هـ. ق.) کال[۴۸۱] د نوموړي امراوګر، د اوده په فيض آباد کي يوه رنډۍ خوښه سوله، له دې رنډۍ سره شجاع الدوله هم مينه درلوده، د دغې رنډۍ مشترکي ميني دوه خواړه اشنايان (شجاع الدوله او امراوګر) لومړی سره رقيبان او بيا دښمنان کړل. امراوګر چي د شجاع الدوله د دښمنۍ تاب نه درلود، له هغې رنډۍ سره فرخ آباد ته وتښتېد او د شجاع الدوله له قهره ئې د نواب احمد خان بنګښ غالب جنګ لمني ته پناه ورووړه. تښتېدلی امراوګر د فرخ آباد د بخشي په واسطه له نواب احمد خان غالب جنګ سره وليدل او هغه په خپل پوځ کي په نوکري ومانه.

د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن چي په دې خبر سو، غازي نواب احمد خان بنګښ غالب جنګ ته ئې وکښل:

"د دې خط له لوستلو سره به (زما د معاشقې رقيب) امراوګر له خپلي سيمي باسې، که نه بيدې بلاوي به ځان ته ويښي کړې".

نواب احمد خان ته چي دا خط ورسېد، د زړو دښمنيو پر اور ئې غوړي توی کړل او په ډېر قهر ئې شجاع الدوله ته وکښل:

"واوره! زه بې له خدايه له بل چا څخه نه بېرېږم، څه چي ستا زړه غواړي صرفه مه کوه! مګر په دې پوه سه، چي (ستا د معاشقې رقيب) امراوګر، ما نه دئ راغوښتی، ده ستا له دښمنۍ څخه ما ته پناه راوړې ده، اوس که ئې زه له خپلي پناه څخه نامېنده کوم دا د مړاني کار نه دئ، نور نو ته پوهېږې او کار دې".

شجاع الدوله چي دا تريخ جواب ولوست، دستي ئې د (۱۱۷۷ هـ. ق.) کال د صفري په مياشت (= اګست ۱۷۶۳ ع.) کي پېشخانې (سرلاښ پوځ) ته له فيض آباده څخه د وتلو حکم وکړ او د فرخ آباد لور ته د کوچ نغارې وډنګولي سوې. امراوګر چي په دې خبر سو، د فرخ آباد د ځينو سردارانو په سلا ئې له غازي نواب احمد خان بنګښ غالب جنګ څخه د تلو رخصت وغوښت. نواب په جواب کي ورته وويل:

"که ته زما سره په اوسېدلو او نوکري خوشحاله ئې، زه تا له ځانه نه بېلوم، زما کور ستا خپل کور دئ او که ته ځې، بندي مي نه ئې، خوښه دې خپله".

امراوګر چي له نواب احمد خان څخه دغه جواب واورېد، له خپلو ملګرو او معشوقې سره د اکبر آباد (اګرې) په نيامت له فرخ آباده ووت. دوه مزله لار ئې لا نه وه وهلې، چي نواب احمد خان د فرخ آباد لور ته د شجاع الدوله ترکمن په حرکت خبر سو، تر ټولو دمخه ئې په امراوګر پسي سړي

---

(۴۸۱) په سلطان التواريخ کي د دې واقعې کال (۱۱۷۰ هـ. ق.) کښلی دئ، خو دا صحيحه نېټه نه ده، ځکه چي دا شخړه د پاني پت تر لويي غزا وروسته پېښه سوې ده.

ولېږل او هغه ئې فرخ آباد ته راستون کړ، وروسته له دې ئې نو خپل پوځونه له شاوخوا راوغوښتل او د شجاع الدوله د مقابلې له پاره په ترتیباتو بوخت سو. د روهیلکهنډ پښتنو سردارانو ته ئې خطونه ولېږل او خپلې مرستې ته ئې راوبلل.

د روهیل کهنډ سرداران هم له اتیا زرو سپرو او پلو سره د نواب احمد خان په مرسته راغلل او په ګډه د قنوج خوا ته وکوچېدل او د شجاع الدوله د پوځ په مقابل کې ئې واړول.

د ډهلي د دربار امیر الامراء نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل چې خبر سو، دواړو خواوو ته ئې خطونه ولېږل، چې زما تر درتګه پورې هرو مرو د جنګ شروع کېدل وځنډوئ او پخپله ئې هم په ډېر تلوار ځان د جنګ میدان ته وررساوه او د دوو مخاصمو لښکرو په منځ کې ئې خېمه ووهله.

د سلطان التواریخ مولف لیکلي دي:

په دغه شپه نواب احمد خان غالب جنګ دوه نیم سوه خونچې پخه ډوډۍ د مستجاب خان اورکزي په لاس د نجیب الدوله نجیب خان خېمې ته ورولېږله.

سبا د نجیب الدوله په واسطه د نواب احمد خان بنګښ او شجاع الدوله تر منځ روغه وسوه، شجاع الدوله له بهلول ګنجه خپلې لښکرې لکهنو ته ستنې کړلې، امراوګر له خپلو ملګرو سره اکبر آباد (اګرې) ته ولاړ، نواب احمد خان او د روهیل کهنډ پښتانه سرداران فرخ آباد ته وخوځېدل او په دې توګه د هغې فتنې اور مړ سو، چې له یوې رنډۍ سره د شجاع الدوله د معاشقې په اغېزه لګېدلی و.

د دغې پېښې په باب نور الدین حسین خان فخري د حالات نواب نجیب الدوله په ۲۲ مخ کې کښلي دي:

په دې لښکر کښې کې د بهرتپور راجا سورج مل جاټ هم د نواب احمد خان بنګښ پر سیله ولاړ و او د کرپارام پروهت تر مشرتابه لاندې ئې یوه رساله سپاهیان، چې دوه زره سپاره وو، د نواب احمد خان بنګښ په مرسته فرخ آباد ته لېږلي وو، چې د ډهلي معزول وزیر ناسیاله غازي الدین عماد الملک (چې له ۱۱۷۳ هـ. ق. کال څخه د سورج مل جاټ په پناه کې اوسېدئ) هم ورسره و. د روهیل کهنډ سرداران هم د نواب احمد خان په مرسته راغلي وو.

شجاع الدوله چې د نواب احمد خان پله درنه ولیدله، سنګر ئې ونیو. نجیب الدوله نجیب خان چې په ډهلي کې خبر سو، په دوولسو ورځو کې ئې له پوځه سره ځان له ډهلي څخه د قنوج شاوخوا ته ورساوه. شجاع الدوله چې د نجیب الدوله نجیب خان په ورتګ خبر سو، له خپله لښکره څخه ئې پنځه کروهه څړه مخې ته راغی، شپه ئې له نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل سره تېره کړه، سبا ته ئې پوځونه د مشر زوی، یحیٰی خان آصف الدوله په مشرې پسې راغلل او د نجیب الدوله نجیب خان د لښکر څنګ ته ئې واړول.

سبا د روغې خبرې شروع سوې، نجیب الدوله نجیب خان په خپله هڅه کې بریالی سو، روغه ئې وروکړه او شجاع الدوله د ډهلي له نام نهاد مغولي پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳-۱۲۲۱ هـ. ق.)

سره بیرته د اوده لور ته پوځونه ستانه کړل[۴۸۲].

د توريالي نواب احمد خان بنګښ شخصيت:

د غالب جنګ بخشي الممالک نواب احمد خان بنګښ د فيض، سخا او مېلمه پالنې نکلونه په ډېرو کتابو کې کښلي دي. د ده يو معاصر مولف صمصام الدوله شهنواز خان (۱۱۷۱ هـ. ق. مړ) په مآثر الامراء کې ويلي دي:

"نواب احمد خان بنګښ په خير رسانۍ کې نوم ايستلی دئ، د ده د احسان او مروت خبرې هر ځای کېږي، بې عوضه احسان د ده له کارنامو څخه دئ، عمر په نېکنامۍ کې پر تېر سو"[۴۸۳].

غلام حسين طباطبائي په سير المتاخرين کې راوړي دي:

"نواب احمد خان د خپلې اوږدې نوابۍ په ټوله دوره کې د ملايانو، صوفيانو، بزرګانو، شاعرانو او نورو کمالدارو خلکو ډېر عزت کاوه او په درنه سترګه ئې ورته کتل".

د سير المتاخرين په ۹۳۱/۳ مخ کې کښلي دي:

د قايم خان بنګښ ورور، د فرخ آباد حاکم نواب احمد خان بنګښ په فياضۍ او سخا کې نوم ايستلیٰ و، د ډهلي ورتښتېدلو اميرانو او شهزاده ګانو ته ئې تنخواوې ورکولې او د خوارانو روزنه او پالنه ئې ډېره ښه کوله.

د فرامين سلطاني په ۱۶۱ مخ کې کښلي دي:

احمد شاه مغول د خپلې پاچهۍ په اووم کال (د څلرمې خور پر ۱۵ مه) د نواب احمد خان بنګښ په سپارښت د پالي پور د سيمې پوځداري بهادر خان بن فيروز لوهاني ته سپارلې ده.

کابلي ميرزا رفيع "سودا"[۴۸۴] د اردو ژبې مشهور شاعر (۱۱۲۵-۱۱۹۵ هـ. ق.) چې په ډهلي کې ئې ژوند تريخ سو، فرخ آباد ته ولاړ او د ده د مهربانۍ لمن ئې پناه ګاه سوه. کله چې نواب احمد خان بنګښ مړ سو، "سودا" د فرخ آباد د استوګې په سودا کې ګټه ونه ليدله او د اوده مرکز فيض آباد ته ولاړ[۴۸۵]. سودا ۱۷ کاله په فرخ آباد کې تېر کړل.

---

[۴۸۲] دوهم شاه عالم مغل د دوهم عالمګير (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هـ. ق.) مشر زوی و. په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال چې دوهم عالمګير په ډهلي کې وواژه سو، ده د بهار په سيمه کې خپله پاچهي اعلان کړه. د پاني پت تر سوبې وروسته لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه هم ده په غياب کې، د ده پاچهي بيرته ده ته ورکړه، مګر ده تر (۱۱۸۵ هـ. ق.) کاله پوري د خپل پايتخت (ډهلي) مخ ونه ليد، کله به ئې د شجاع الدوله ټينګا خوړله او کله به ئې د انګرېزانو لاس ته کتل. د امراو ګرو په شخړه کې دی د شجاع الدوله د لښکرو مل و.

[۴۸۳] وګ: مآثر الامراء، ۷۷۳/۳ مخ، د کلکتې چاپ.

[۴۸۴] سودا د ميرزا محمد شفيع کابلي زوي و، پلار ئې (ميرزا شفيع) له کابله ډهلي ته تللی و. په ګل رعنا کې تر ۱۳۶ مخ وروسته د ده د ژوند حالات سته.

[۴۸۵] د عهد بنګښ د ۳۸۷ مخ په لمنليک کې ليکلي دي، چې سودا د نواب احمد خان بنګښ تر مرګ دوه کاله دمخه فيض آباد ته ولاړ.

د ډهلي ترتلي او معزول وزير عماد الملک غازي الدين سهروردي په کلو کلو د ده مېلمه و. د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن، چي په (۱۱۷۸ ه. ق.) کال د پټنې او بکسر په ميدانو کي له انګرېزانو څخه ماتي وخوړلې، پسله روهيلکهنده ئې بله پناه ګاه نه درلوده، ځان ئې نواب احمد خان بنګښ ته ورورساوه. پښتون نواب ئې مخي ته وروووت مېلمستياوي ئې ورکړلې او ترڅو چي کوړه جهان آباد ته تئ، په ډېر عزت سره ئې وساته او دې ته ئې ونه کتل، چي يو کال دمخه دغه شجاع الدوله د ده پر نوابي بريد کړی و او پلار ئې صفدر جنګ ترکمن د نواب محمد خان بنګښ کور خراب کړی و او د نواب احمد خان د څو ورونو د خون پور پر پاته و[۴۸۶].

نواب ناصر خان هم پسله (۱۱۶۶ ه. ق.) د نواب احمد خان بنګښ تنخا خور و.

الله يار عثماني بلګرامي په حديقة الاقاليم (د ۱۱۹۵ ه. ق. تاليف) کي د نواب احمد خان د سخا او مروت ډېري قصې راوړي دي، په دغو کي ځيني واقعې داسي هم دي، چي مولف پخپلو سترګو ليدلي دي او د ده په مخ کي پېښي سوي دي، ده ويلي دي:

"نواب احمد خان ډېر عالي همته پښتون و، مروت، سخا او پاک زړه توب پر تمام و، ټول عمر ئې په خورا نېکنامۍ کي تېر کړ، د سخا ئې دغه حال و، هر څه چي به ورته راغلل، ترټولو دمخه به ئې يوه برخه ځني جلا کړه، ترڅو چي به ئې هغه برخه د خدای ﷻ په نامه محتاجانو او مستحقينو ته نه وه ورکړې، پاتي برخي ته ئې لاس نه وروړ".

ځکه چي د ده د سخا ږغ هر لور ته تللی و، نو د ډېرو ليرو سيمو محتاجان هم فرخ آباد ته راتلل او دلته هستېدل او د نواب له لطفه څخه ئې خپل نصيب موند. د حديقة الاقاليم مولف دا هم کښلي دي:

احمد خان چي به د فرخ آباد ښار د ليدلو له پاره د ښار کومي خوا ته تئ، د دې له پاره چي د ښار نوري برخي د ده له فيضه بې نصيبه نه وي، د خپل معتمدو منصبدارانو لکه فخر الدوله قهرمان خان رند او رحمت خان په لاس به ئې هغو نورو سيمو ته خيراتونه لېږل.

بل ځای ليکي:

زه يوه روځ د نواب احمد خان په دربار کي ناست وم، حال ورته راغی چي له جونپور څخه يو فقير ستا ليدنګ ته راغلی دئ، ده راوغوښت او خورا تود روغبړ ئې ورسره وکړ، په مينه ئې د حال پوښتنه ځني وکړله. پسله روغبړه جونپوري فقير د عطرو يوه ښيښه د سوغات په نامه نواب ته وړاندي کړله، مستخدمانو د نواب په حکم تر هر څه دمخه څه پنبه په عطرو ولړل، په يوه دبلي کي ئې کښېښوول تر دربار ئې وايستل، چي د خدای ﷻ پر نامه ئې کوم فقير ته ورکړي، وروسته تر دې نو پخپله نواب د عطرو ښيښه ورپورته کړله او بوی ئې کړله.

د حديقة الاقاليم مولف وايي:

د پنځلسي په شپه ټکان او د سور سورانکو نور سامانونه درباريانو تهيه کړي وو، دی چي

---

[۴۸۶] وګ: سير المتاخرين، د کلکتې (۱۲۴۸ ه. ق.) چاپ، ۸۵/۲ مخ، سلطان التواريخ (قلمي)، ۱۹۰ مخ.

خبر سو یوه برخه ئې ځني جلا کړه، مستخدمانو ته ئې وویل، اول دغه د فقیرانو او بېوزلو خلکو پر زامنو وویشئ، بیا نو راسئ خپله مېله جوړه کړئ.

د نواب احمد خان له سخا څخه سالکانو او ملنګانو هم برخه وړې وه. په عهد بنګش (۲۶۷ مخ) کي لیکلي دي:

د فرخ آباد د ودانۍ په لومړیو وختو کي د امانت شاه (۱۱۶۳ هـ. ق. مړ) په نامه یو مرتضی شاهي (۴۸۷) ملنګ فرخ آباد ته راغی، غضنفر جنګ محمد خان بنګښ تر ښار دباندي څه مځکه ده ته د تکیې له پاره ورکړله. امانت شاه هلته وني کښېنولې او سمسوره تکیه ئې ځني جوړه کړله. نواب احمدخان د ده جانشین مسکین شاه (۱۲۸۳ هـ. ق. ذی الحجه کي مړ) ته څه نوره مځکه د کښت له پاره ورکړله.

زاهد علي د جونپور د شاوخوا یو فقیر و، په قادریه او قلندریه طریقه کي ئې د جونپور له مشایخو (پیرانو) څخه لاسنیوی کړی و، د نواب احمد خان په وختو کي فرخ آباد ته راغی، نواب احمد خان ده ته د خپل باغ په یوه کنج (ګوټ) کي خانقاه جوړه کړله او زاهد علي په دغه خانقاه کي د مریدانو په روزنه بوخت سو.

د حدیقة الاقالیم مولف کښلي دي:

په (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال زه خورا تنګدسته سوم، زما بادار میر محمد قاسم خان د کوهد له حکومته معزول سو، بله خوا مي د امید ونه لیدله، له پنځو تنو سره، چي یو په هغو کي زما زوی (سبحان محمد) بل زما وراره (امام علي) او بل زما رضاعي ورور (حیدر بخش د سعد الله زوی) و، فرخ آباد ته ولاړم. په دغو نژدو ورځو کي د مظفر جنګ واده سوی و، ما پنځه داني قنده او پنځه روپۍ د مبارکۍ په نامه وروړلې.

مابنام ته ئې پنځه خونچې ډوډۍ راواستوله او ورپسې ئې پنځه سوه روپۍ راولېږلې. یو کال ما په فرخ آباد کي تېر کړ، هره میاشت ئې پنځه پنځه سوه روپۍ رالېږلې او چي ځني رخصتېدم، خلاتونه او سوغاتونه ئې هم راکړل.

بلګرامي دا هم زیاتوي:

ځکه چي په دغه کال په شمالي هندوستان کي مرهتو هر ځای بد حال جوړ کړی و، خورا ډېرو امیرانو د فرخ آباد دربار ته پناه راوړې وه او هر یوه ته د نواب احمد خان له خوا خرڅ ورکول کېده او چي رخصتېدل خلاتونه او سوغاتونه به ئې هم ورکول.

د حدیقة الاقالیم مولف د نواب احمد خان د سخا په لړ کي دا هم راوړېده، چي نواب احمد خان د خپل پوځ سپاره ته د میاشتي پنځه ویشت روپۍ تنخا ورکوله، په داسي حال کي چي شجاع

(۴۸۷) مرتضی شاهیه طریقه مرتضی شاه افندي ته منسوبه ده، مرتضی د شاه جهانپور د کانت نومي ځای اوسېدونکی و، دی په سهروردي طریقه کي د شاه رزاق مرید و، چي د طریقت سلسله ئې د شاه راجو قتال له لاري مخدوم جهانیان ته رسېږي. زیارت ئې په بنګال کي د سوهن یا سوتي ندي پر غاړه دئ.

له د پلټن هر سپاهي ته پنځلس روپۍ ورکولې او په دغه پلټن کې د ډهلي شریف او خانداني نوکران وو او شجاع الدوله د هغو خاطر تر نورو سپاهیانو زیات کوت[۴۸۸].

هیرا لال د نواب احمد خان بنګښ جنګونه په پارسي ژبه نظم کړي دي[۴۸۹].

نواب احمد خان بنګښ سیدال خان مارهروي (۱۱۱۱-۱۱۶۴ هـ. ق.) ته ارادت درلود. د ال محمد زوی سید حمزه (۱۱۳۱-۱۱۹۸ هـ. ق.) ته نواب احمد خان ډېرې مځکې او باغونه بخښل او تل به ئې سوغاتونه او تحفې ورلېږلې[۴۹۰].

غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ مړینه:

د نواب احمد خان د ژوند دوه وروستي کلونه په رنځتیاکي تېر سول، حکیم میرک خان کمال له ډهلي راوغوښت د سترګو علاج ئې کاوه. د حکیم شریف خان ډهلوي په علاج الامراض نومي کتاب کي د حکیم میرک نسخې د سترګو د علاج له پاره درج دي[۴۹۱].

پښتانه وایي:

"که سل کاله ژوندی ئې، عاقبت د ګور بندی ئې".

غالب جنګ، بخشي الممالک غازي نواب احمد خان بنګښ هم تر یو ویشتو کالو او څو میاشتو نوابۍ وروسته د (۱۱۸۵هـ. ق.) کال د لومړۍ خور (ربیع الاول) یا د برات په میاشت کي آخرت لور ته سفر وکړ، او د فرخ آباد د نوابۍ دغه روڼ څراغ، د ابد له پاره مړ سو[۴۹۲]. د ده د مرګ تاریخ یوه پښتانه شاعر داسي کښلی دئ:

د دنیا تر "یو ویشت" کالو نوابۍ وروسته

+۲۱

"احمد ولاړی جنتو ته" کامراني کړي[۴۹۳]

۱۱۶۴

---

(۴۸۸) وګ: سیر المتاخرین، ۹۴۴/۳ مخ.

(۴۸۹) وګ: د "هرمان اته" تاریخ ادبیات.

(۴۹۰) وګ: خانداني برکات، ۱۲-۱۳ مخونه او مآثر الکرام ۱۲۳-۱۲۴ مخونه.

(۴۹۱) وګ: عهد بنګښ، ۳۵۲ مخ.

(۴۹۲) د نواب احمد خان د مرګ نېټه د تاریخ فرخ آباد په ۵۳ مخ کي د (۱۱۸۵هـ. ق.) کال د ربیع الاول اته ویشتمه لیکلې ده او تاریخ محمدي هم دغه نېټه تائید کړې ده، مګر ویلیام بیل په مفتاح التواریخ کي د (۱۱۸۵هـ. ق.) کال د برات میاشت کښلې ده، خو د روهیلکهنډ مشهور معاصر پښتانه لیکوال د ویلیام بیل نظریه نه ده منلې، (وګ: د وقایع عالمشاهي تعلیقات، ۱۶۰ مخ). د قاموس المشاهیر د لومړي ټوک په ۶۶ مخ کي د ویلیام بیل د نظریې تائید سوی دئ.

(۴۹۳) "احمد ولاړی جنتو ته" جمله د ابجد په حساب (۱۱۶۴) کېږي، د نوابۍ د کلونو شمېر (یو ویشت) چي پر زیات سي (۱۱۸۵) ځني جوړېږي.

په هفت قلزم کي د اروابناد نواب احمد خان بنگښ د مرګ تاريخ داسي کښلی دئ:

کـــنند گـــريه خـــلايق بنـــاله و افغـــان
ملائک "آه" کشند از "وفات احمد خان"[۴۹۴]
۱۱۹۱ ـ۶

يوه بل شاعر بيا د ده د مرګ تاريخي ماده د "هی هی حاتم ثانی نماند =۱۱۸۵" له جملې څخه را ايستلې ده، دغه تاريخي ماده د نواب احمد خان د مرګ په ټولو تاريخي مادو کي غوره ده، ځکه چي اروابناد نواب رشتيا هم پخپل ژوند کي دوهم حاتم طايي و.

د نواب احمد خان کتابتون:

د الزبير په ۹۴ مخ کي کښلي دي:

د رامپور په رضا لايبرري کي داسي کتابونه سته، چي د نواب احمد خان بنگښ په کتابتون پوري اړه لري.

د (۱۸۵۷ع.) کال په جنګو کي د دې کورنۍ برخه:

(۱۲۷۳ه. ق.) او (۱۲۷۴ه. ق.) (= ۵۷-۱۸۵۸ع) کلونه د هندوستان په تاريخ کي زيات اهميت لري، د انګرېزانو تالی څټو (کاسه لېسانو) د دغو کلو واقعې "غدر" نوملي دي، مګر وطن خواهان ئې "د آزادۍ له پاره غزا" بولي او عجبه لا دا ده، چي له دغي جملې څخه د ابجد په حساب هم يو زر او دوه سوه درې اويا (۱۲۷۳) جوړېږي. د آزادۍ له پاره د غزا لنډيز داسي دئ:

د "انفلډ رايفل" د غوړو کارتوسو جبري استعمال د (۱۲۷۳ه. ق.) کال د ځلرمي خور په څلرويشتمه (= ۱۹ فبروري ۱۸۵۷ع) د بهرام پور او دمدمې هندوستاني سپاهيان، چي د انګرېزانو په پلټنو کي نوکران وو، نافرمانۍ ته اړ ايستل. د دغه کال د روژې په يوولسمه روځ (= ۵ می ۱۸۵۷ع) د ميرټهـ هندوستانيو سپاهيانو د دغو کارتوسو له اخيستلو څخه نټه وکړله. د انګرېزي منصبدارانو سخت عکس العمل د روژې په شپاړسمه روځ (= ۱۰ می) دوی بلوا ته وپاروله، چونی ته ئې اور واچاوه او له خپلو وسلو سره ډهلي ته وخوځېدل. سبا چي د ميرټهـ بلوايان او مجاهدين ډهلي ته ورسېدل، هلته هم د مذهبي سابقې په اغېزه د "دين" او "دهرم" نارې شروع سولې او د غاصبو انګرېزانو له منګولو څخه د خپل ملک د آزادولو له

---

(۴۹۴) په دې بيت کي د "وفات احمد خان" نيمګړې جمله د ابجد په حساب (۱۱۹۱) کېږي، له دغه عدده څخه د "آه" کلمه چي د ابجد په حساب شپږ ځني جوړېږي د تخرجې په ډول بايد ځني کم سي او (۱۱۸۵) پاته سي.

ه، د ډهلي وطن پرسته عناصر، که مسلمانان وو که هندوان، ور سره مله سوله.
د هندوستان د تېموري کورنۍ وروستی پاچا بهادر شاه ظفر (۱۲۵۳-۱۲۷۴ه. ق.) چي ...ل کلا کي د انګرېزانو د یوه تنخا خور په توګه ژوند کاوه، هم د دغو مسلحانه اقداماتو ...ندار سو[۴۹۵].

د کوچني اختر په لومړیو ورځو کي د روهیلکهنډ پښتانه هم پورته سول او په بریلي کي د شهید حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان بړېڅي (۱۱۸۸ه. ق. شهید) لمسی د نواب ...الفقار خان (۱۱۶۶-۱۲۱۲ه. ق.) زوی خان بهادر خان بړېڅی خپل سردار وټاکه.

د کوچني اختر د میاشتي پر یوولسمه د بنارس، پر دوولسمه د کانپور او پر دیرلسمه د ...آباد په چوڼیو کي اړودوړ جوړ سو، د دغي میاشتي پر پنځه ویشتمه د فرخ آباد په فتح ګړه ...ي هندوستاني سپاهیانو بلوا وکړله، مجاهدین ئې هم مله سول او د غزا بیرغونه ئې پورته ...ل. په دغو مجاهدینو کي د امداد صابري په قول د فرخ آباد د نوابانو د کورنۍ زیاتره غړي ...امل وو[۴۹۶]. د فتح ګړه مجاهدینو او بلوایانو د غضنفر جنګ نواب محمد خان بنګښ د ...ورنۍ یو دروند پښتون نواب تفضل حسین خان بنګښ خپل مشر وټاکه[۴۹۷]. د انقلاب تر ...کامۍ وروسته د دې کورنۍ ډېرو توریالیو ځوانانو د پرنګیانو له لاسه د شهادت جامونه ...چیښل او د وطن د آزادۍ په تاریخ کي ئې ابدي افتخار او په آخرت کي جنتونه په نصیب ...ول[۴۹۸].

...دغي کورنۍ او فرخ آباد په باب لیکل سوي کتابونه:

۱. وقایع خاندان نواب محمد خان، د منور علي خان بنګښ او ستوري تالیف، په (۱۲۵۳ ه. ق) کال تالیف سوی دئ.

---

[۴۹۵] بهادرشاه ظفر د دوهم اکبرشاه (۱۲۲۱-۱۲۵۳ه. ق.) زوی، د دوهم شاه عالم (۱۱۷۳-۱۲۲۱ه. ق.) لمسی ...و د دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ه. ق.) کړوسی دئ. د (۱۲۷۴ه. ق.) کال د محرمي د میاشتي په وروستیو ...ورځو کي انګرېزانو ونیوئ، رنګون ته ئې بندي واستاوه او هلته تر پنځو کلو بند وروسته د (۱۲۷۹ه. ق.) کال د ...دربیمي خور د میاشتي په څوارلسمه ورځ د ۸۹ کالو په عمر مړ سو.
[۴۹۶] وګ: ۱۸۵۷ع کي مجاهد شعراء، ۲۵۰ مخ، د ډهلي چاپ.
[۴۹۷] وګ: آئینه تاریخ نما، ۲/۱۲۴ مخ.
[۴۹۸] د غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ په باب اروابناد علامه رشاد بابا رحمة الله علیه د "غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ او د هغه کورنۍ" په نامه یو مستقل اثر کښلی، چي په (۱۳۸۵ه. ش.) (=۲۰۰۷ع.) کال د علامه رشاد ...اکاډیمۍ له خوا له کندهار څخه خپور سوی دئ، چي د دغي کورنۍ په اړه خورا مفصل معلومات پکښي راټول سوي دي.
(هوتک)

۲. عهد بنګښ، د مفتي ولي الله فرخ آبادي تاليف دئ.
۳. تاريخ محمد خاني، د شيخ حسام الدين ګوالياري تاليف دئ. د ده د سترګو ليدل
مستند حالات پکښي خوندي دي.
۴. خجسته کلام، د منشي صاحب راى تاليف دئ. دا د هغو خطو يوه مجموعه ده، چي
نواب محمد خان بنګښ له خوا او يا ده ته د واکمنو له خوا را رسېدلي دي.
۵. تاريخ ضلع فرخ آباد، د پنډت ديبي پرشاد تاليف دئ. په (۱۸۵۹ع.) کال چاپ سو
دئ.
٦. وارفتګان فرخ آباد، د رادها رمن تاليف دئ.
۷. ګزيټر فرخ آباد، د ايچ. آر. نيول تاليف دئ.
۸. سيرت فرخ آباد، د نواب ولايت حسين تاليف دئ.
۹. د هيرا لال کتاب په پارسي ژبه، منظوم اثر دئ، د نواب احمد خان بنګښ د جنګو قصې
پکښي راغلي دي.
۱۰. کاشف الاسنار، د شاه حمزه مارهروي تاليف دئ.
۱۱. تاريخ فرخ آباد، د مفتي ولي الله فرخ آبادي تاليف دئ.
۱۲. ګلستان رحمت، د نواب حافظ رحمت خان بړېڅي د زوی، مستجاب خان بړېڅي تاليف
دئ.
۱۳. افسانه رنګين، د نواب امير علي فرخ آبادي تاليف دئ. د اګرې د اسعد الاخبار په
مطبعه کي چاپ سوی دئ.
۱۴. ګل رحمت، د نواب حافظ رحمت خان بړېڅي د لمسي، د حافظ محمد يار خان د زوی
سعادت يار خان بړېڅي تاليف دئ.
۱۵. تذکره صبح ګلشن، د سيد علي حسن خان تاليف دئ.
۱٦. خلاصه بنګښ
۱۷. "The Political Relation" د ډي. کروز تاليف دئ.
۱۸. "The Rohilla Afghans" د چارلس هملټن تاليف دئ.

د غالب جنګ بخشي الممالک نواب احمد خان بنګښ شجره

- نواب احمد خان بنګښ
  - ب دلیر همت خان
    - واب امداد حسین خان
      - واب شوکت جنګ
        - خادم حسین خان
          - نواب تجمل حسین خان
          - نواب عنایت حسین خان
            - نواب تفضل حسین خان
            - نواب سخاوت حسین خان شهید
          - نواب علي حسین خان
            - نواب غضنفر حسین سعید
      - نصرت جنګ
    - رستم علي خان
    - نواب نجابت علي خان
  - نواب دل دلیر خان
    - نواب محمد علي خان
    - نواب احمد علي خان
    - امداد حسن خان
    - همت علي خان
  - محمود خان
  - همت بهادر خان

د (۱۱۵۹ هـ. ق.) په شاوخوا کي، چي نواب علي محمد خان روهيله د ډهلي له درباره څخه د سرهند په حکومت مقرر سو، نجيب خان هم هغې سيمي ته ورسره ولاړ او هلته ئې د ياغي راجا بهاومل سره په جنګ کي ښه توره وکړه، ځکه نو په دې صله کي په (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د علي محمد خان روهيله له خوا د روهيلکهنډ په شمال کي يوه وړه سيمه نجيب خان ته د جاګير په توګه ورکړله سوه[۵۰۶].

په (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال چي د ناسياله صفدر جنګ په لمسون او زيار د روهيلکهنډ د حکومت فرمان د ډهلي له درباره څخه قطب الدين خان ته ورکړه سو، قطب الدين خان له پنځو سوو سپرو سره روهيلکهنډ ته وخوځېد. د حافظ رحمت خان بړېڅي له خوا ئې څلور رسالې سپاره، د دلاور الملک دوندي خان بړېڅ په مشرتوب، مقابلې ته وګمارلې سوې. په دغه پوځ کي يوه رساله د نجيب خان تر مشرتابه لاندي وه. مراد آباد ته نژدې د رام ګنګا سيند پر غاړه جنګ ونښت، په دې جنګ کي، چي د قطب الدين خان په وژله او د ملګرو په تېښته ئې تمام سو، نجيب خان توريالي د ستايني وړ مېړانه وکړه[۵۰۷].

تر دې سوبي وروسته په (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال دلاور الملک دوندي خان بړېڅ خپله لور دُربېګمه" توريالي نجيب خان ته ور واده کړه[۵۰۸] او د "دارانګر[۵۰۹]" سيمه ئې، چي د "بسولي" وه آباده برخه وه، د لور په جهېز کي ورکړله[۵۱۰]. بسولي د دلاور الملک دوندي خان بړېڅ جاګير و. وس نو نجيب خان د روهيلکهنډ د بړېڅو اميرانو د کورنۍ غړی سو او د شاه ولی الله د مکتوباتو خه څرګندېږي، چي د چاندپور "نګينه" او "بجنور" سيمي هم نجيب خان ته پسله دې خوښنۍ خه، د بړېڅو سردارانو له خوا ورکړلي سوې، مګر د سرګذشت نواب نجيب الدوله په ۷ مخ کي ښلي دي:

په (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال چي نجيب الدوله د ضابط خان د مور تر مرګ وروسته، د دوندي ان بړېڅ زوم سو، د روهيلکهنډ د نواب له خوا د دوندي خان په وينا او سپارښت نجيب الدوله جيب خان ته د بجنور په سيمه کي ۱۴ کلي، چي بجنور، شيرکوټ او چاندپور په هغه کي شامل ، په جاګير کي ورکړه سول او نواب له خپلي خوا د جلال آباد سيمه ورکړه. نجيب خان په دغه ي جاګير کي د خپلي رسالې له پاره يوه او مه کلا ودانه کړه، چي بيا د هغې کلا په جنوب کي

روهيله پښتانه، ۲۸۶ مخ.

حيات حافظ رحمت خان، ۳۹ مخ.

روهيله پښتانه، ۲۸۷ مخ او قاموس المشاهير دوهم ټوک.

په دارانګر کي اوس هم د نجيب الدوله ودانه کړې مدرسه، څاه او مسجد ولاړ دي. دارانګر په ۲۹/۱۷ شمالي ض البلد او ۷۸/۷ شرقي طول البلد کي د ګنګا سيند پر چپه (شرقي) غاړه، له بجنور څخه جنوب ته شپږ ميله ليري، وه لوړه باندي واقع دئ. له دارانګر سره پر ګنګا باندي يو پل هم سته.
(سرکشی ضلع بجنور، د ۱۲۳ مخ حاشيه)

وګ: حيات حافظ رحمت خان

د نجیب آباد ښار ودان سو.

نور الدین حسین خان کښلي دي:

نجیب خان له بجنور او نګینې څخه دوه درې واري تر ګنګا پورې ووت او په سهارنپور او باره کې ئې، چې شاهي سیمه وه، مداخله وکړه، خو د شاهي فرمانونو په اغېزه به ئې بېرته هغه سیمې خوشې کړلې.

نجیب خان تر (۱۱۶۶هـ.ق.) کال پورې د حافظ رحمت خان او دوندي خان تر مشرتابه لاندې، د یوه غښتلي افسر په توګه کار وکړ او په هر جنګ کې ئې د مېړاني جوهر ښکاره کاوه. د سرګذشت نواب نجیب الدوله په ۷ مخ کې کښلي دي:

په (۱۱۶۵هـ.ق.) کال چې روهیله پښتانه د کمایون د غره په لمن کې له صفدر جنګ او مرهټو سره جنګېدل، یوه مورچه د نواب سعد الله خان روهیله له خوا نجیب خان ته سپارلې سوې وه او پنځه سوه پښتانه سپاهیان ورسره وو، ده د هغه محاذ ساتنه په خورا مېړانه، په ښه توګه وکړله او په نورو سنګرونو کې، چې به هم و مرستي ته اړې ولیدله سوه، نجیب خان به ئې په کومک ورتئ. نواب سعد الله خان چې د ده دغه مړانه ولیدله، وئې نمانځه او د زرو سپرو منصبدار ئې کړ[۵۱۱].

په (۱۱۶۶هـ.ق.) کال چې په ډهلي کې د ناسیاله وزیر صفدر جنګ او مغول پاچا کورګاني احمدشاه د طرفدارانو تر منځ جنګ شروع سو، حافظ رحمت خان بریښ، له روهیلکهنډه څخه له څلوېښتو زرو پلو او سپرو سره د ناسیاله صفدر جنګ په بلنه د نوموړي د مرستي په نیامت وخوځېد. هاپوړ[۵۱۲] ته چې ورسېد، د ډهلي مغول پاچا احمدشاه کورګاني د صفدر جنګ پر ضد د خپل طرفدار غازي الدین عماد الملک د مرستي هیله ځني وکړله، مګر ده چې د صفدر جنګ په مقابل کې د پاچا د طرفدارانو کامیابي ناممکنه بلله، د پاچا دا غوښتنه ئې رد کړه. بله پلا پاچا هیله ځني وکړه، چې نو د صفدر جنګ له مرستي لاس واخله او ځان بیطرفه وساته، د پاچا دا خوهش حافظ رحمت خان ومانه او روهیلکهنډ ته ئې د ستنېدلو اراده وکړله، مګر نجیب خان د پاچاهي قاصدانو میر مناقب (؟)، بسنت خان او میر مسلمان[۵۱۳] په لمسون د حافظ رحمت خان د دې ارادې مخالفت وکړ. دلته باید وویل سي، چې په دې لښکر کښي کې دوندي خان بریښ ګډون نه و کړی او د دوندي خان د پوځ مشرتوب هم د نجیب خان په غاړه و. نجیب خان له خپل پوځ سره، چې په یوه روایت ئې شمېر یو زر تنه ښوول سوی دئ، ډهلي ته روان سو او تر څو چې ډهلي ته رسېدئ، د ملګرو شمېر ئې لسو زرو تنو ته، چې اته زره پلي او دوه زره سپاره وو[۵۱۴]، ورسېد. په ډهلي کې

---

[۵۱۱] دغه مطلب د سرګذشت نواب نجیب الدوله مولف محمد عبد السلام خان، د نور الدین حسین خان له احوال نجیب الدوله نومي کتاب څخه اخیستی دئ، وګورئ د نوموړي کتاب لومړی مخ.

[۵۱۲] هاپوړ د میرټه په سیمه کې د یو ځای نوم دئ.

(اخبار الصنادید، ۱/۲۸۳مخ)

[۵۱۳] میر مسلمان د ډهلي له سیدانو څخه و، د میرزا مظهر جانجانان (۱۱۱۳–۱۱۹۵هـ.ق.) له ارادتمندانو څخه و، په فرخ آباد کې اوسېدئ.

[۵۱۴] احوال نجیب الدوله، د نور الدین حسین خان تالیف، ۳ مخ.

کورګاني پاچا احمد شاه مغول او عماد الملک غازي الدين دده ښه هرکلی وکړ او ډېرئې ونازاوه. د صفدر جنګ او سورج مل جاټ پر ضد ئې څو مهمې مورچلې ور وسپارلې. په څلور يا شپږ مياشتې جنګ کي، چي د ناسياله وزير صفدر جنګ او عماد الملک غازي الدين تر منځ جاري و، نجيب خان هغه توري ووهلې، چي د ډهلي دربار ئې پر ځان مين کړ.

نور الدين حسين خان چي په دغه جنګ کي حاضرو، د دې جنګ يوه واقعه داسي بيان کړېده:

نجيب خان چي ډهلي ته راورسېد، د جمنا د رود پر غاړه ئې د نواب عماد الملک د کور اړخ ته خېمې ووهلې او د جمنا سنګر ده ته وسپارل سو. سبا د صفدر جنګ يوه منصبدار اسماعيل خان هغه نقب (نغم) ته اور ورته کړ، چي په شل ورځې زيار او زحمت ئې تر نيله برج لاندې کښلى و. د دغې چاودني په اغېزه شل ګزه قدر پخه کلا ونړېدله او دوه سوه تنه پاچاهي سپاهيان په باروتو والوتل. د صفدر جنګ او سورجمل جاټ پوځو، چي د چاودني ږغ واروېد، په يوه پلا ئې پر ښار بريد وکړ او د صفدر جنګ سپاره سنګر ته رانژدې سول او اسماعيل خان هم د فيروزشاه له کلا (کوټلې) څخه راووت او د کلا دېوال ته ئې نژدې ځان راورساوه. عماد الملک پخپله پر توپ ولاړ و، بدخشي پلټن د مهاجمينو مخې ته ځان ور واچاوه او خورا سخت جنګ ونښت.

په دغه ترڅ کي د جمنا له غاړې څخه د سورج مل جاټ پنځو زرو ښتلو او وتلو سپرو بريد وکړ، د دوی له بريد سره د پاچاهي پوځ پښې له ځګې وختلې، توپونه ئې پرېښوول او کلا ته ئې تېښته تر پيغور غوره کړله.

په دغه سخت وخت کي نجيب الدوله نجيب خان د دوی مقابلې ته تر خپل سنګر راووت، پښتنو سپاهيانو به په خپلو چړو مورچې کيندلې او پر مخ به ورتلل، چي د سورج مل د سپرو رسالې ته رانژدې سول، د توپکو شليک ئې پر وکړ او د مخ خلک ئې په يوه شليک لکه توتان پر ځمکه توی کړل، نور ئې شاه وګرزوله او د تېښتي خوا ئې خوښه کړله.

نوموړی مولف ليکي:

په دغه جنګ کي نجيب الدوله زغره اغوستې وه، سپر ئې پر اوږه و او په لاس کي ئې يو لرګی و. پلی روان و او پښتانه سپاهيان ئې جنګ ته لمسول او پر مخ تئ. پښتانه سپاهيان په دې حمله کي د جاټانو په رساله ورننوتل او په توره، توپک او برچه ئې د غليم سپاره وژل. په دغه حال کي د نجيب الدوله پر موټ باندي د توپک يوه ګولۍ ونښتله، مګر لاس که ئې له کاره ووت، زړه ئې له کاره نه و وتلی او په هغه ډول ئې خپل کار ته دوام ورکړ.

د سورج مل رسالې چي مخه وګرزوله، بيا نو عماد الملک له خپله سنګره راووت او د صفدر جنګ پر لښکرو ئې بريد وکړ. اسماعيل خان هم وتښتېد، د فيروزشاه کوټله او زړه کلا، چي پخوا د صفدر جنګ د لښکرو په لاس کي وه، د پښتنو او شاهي پوځونو په لاس کښېوتله.

نوموړی مولف دا هم زياته کړېده:

د دغې شخړې په وروستي جنګ کي، چي د فريد آباد او بلم ګړه تر منځ پېښ سو، د نجيب الدوله نجيب خان توره خپلو او پردو ومنله.

ناسیاله وزیر صفدر جنګ چي د پاچاهي طرفدارانو په مقابل کي خپله پله سپکه ولیدله، روغي ته ئې غاړه کښېښووله. په یوه اثر کي کښلي دي، چي ناسیاله وزیر صفدر جنګ د نجیب خان په وسیله، له پاچاهي درباره څخه بخښنه وغوښتله او پاچا هم وباخښه، مګر نورو آثارو دا خبره نه ده تائید کړې.

شکر لله که جاټ و صفدر جنګ — صلح کردند با وزیر و شاه
هاتف غیب سال تاریخش — ګفت الصلح خیر قال الله
۱۱٦٦ هـ. ق.

د ناسیاله وزیر صفدر جنګ او کورګاني احمدشاه مغول د طرفدارانو تر منځ، چي روغه وسوه او ناسیاله وزیر خپل جاګیر (اوده) ته خپل پوځونه ولیږدول، د ډهلي د دربار له خوا نجیب خان ته د نواب نجیب الدوله، بهادر ثابت جنګ خطاب، پنځه زری یا !ووه زری منصب او د سهارنپور[515] پوځداري ورکړه سوه او په دې توګه دده د ایثار او مېړاني نمانځنه وسوه[516] او نجیب الدوله نجیب خان له ناسیاله وزیر سره د مرستي او وفادارۍ لوړه وکړه.

نجیب الدوله تر لوړي او نمانځني وروسته له ډهلي څخه خپل نوي جاګیر سهارنپور ته ولاړ او سلطان خان ورور ئې په ډهلي که له ناسیاله وزیر عماد الملک سره پاته سو. نجیب خان د سهارنپور انتظام وکړ او هلته د مظفر نګر له راجا اجیت سنګهه سره وجنګېد او مظفر نګر ئې څني ونیو. تر دې سوبې وروسته په دغه کال نجیب الدوله د "مالني" نومي سیند پر غاړه د نجیب آباد په نامه د یوه ښار تیږه کښېښووله او په ډېره بېړه سره ئې دا ښار ودان کړ. نجیب آباد د اوسني هندوستان د اترپردېش د ایالت په بجنور "Bijnor" نومې سیمه کي واقع دئ.

د سرکشي ضلع بجنور په ۱۳۷ مخ کي کښلي دي:

نجیب الدوله د نواب دوندي خان بړېڅ له خوا د دارانګر د سیمي جاګیردار و، اقتدار ئې زیات سو د بجنور زیاته سیمه ئې خپله کړله. د دوهم عالمګیر د پاچا کېدلو په (۱۷۵۳ع.) کال ئې جیت سنګهه ډکسیت په جنګ کي وواژه. د ګنګا پوري خوا سیمي ئې، چي اوس د سهارنپور په اولسوالي پوري تړلي دي، ونیولې.

د (۱۱۷۰ هـ. ق.) (= ۱۷۵۷ع.) کال په سر کي نجیب خان د پښتنو له یوه درانه لښکر سره پر "ډېره دون" برید وکړ، برې ئې وموند او دا نوې مفتوحه سیمه ئې هم پخپل ریاست کي شامله کړله[517].

ناسیاله وزیر عماد الملک چي د (۱۱٦۷ هـ. ق.) کال د برات په میاشت کي احمدشاه مغول بندي کړ او د هغه پر ځای ئې، د نامه له پاره، دوهم عالمګیر پاچا کړ، نجیب خان ئې له سهارنپوره

---

(۵۱۵) سهارنپور د جمنا سیند ختیزي خوا ته د ډهلي شمال شرقي لور ته، له ډهلي څخه ۳۴ کروهه لیري واقع دئ.

(۵۱٦) نور الدین حسین خان کښلي دي، چي نجیب خان ته د پاچا له خوا پنځه زری منصب او نجیب الدوله خطاب هغه وخت ورکړه سو، چي دی لومړی وار ډهلي ته راغی او د سهارنپور حکومت د جنګ تر خلاصېدلو وروسته ورکړ سو.

(۵۱۷) د انسایکلو پیډیا بریټانیکا، ۷ ټوک په حواله د پیام شاه جهانپوري مقاله.

ه ډهلي ته راوغوښت. نجيب خان هم له خپلو پوځو سره ډهلي ته ورغی. عماد الملک ورته ل:

"داسي خبرونه رارسېدلي دي، چي صفدر جنګ د جنګ له پاره تياري نيسي او پر ډهلي ي د بريد خيال لري، څه بايد وکړو؟!".

نجيب الدوله جواب ورکړ:

"د اوده د والي توب سند راکړه، زه ځم او د صفدر جنګ له غمه دي خلاصوم".

مګر عماد الملک چي د نجيب خان له ورځ په ورځ زياتېدونکي قوت څخه اندېښمن و، دې ر ته ئې زړه ښه نه کړ[518] او د (۱۱٦٧ ه. ق.) کال پای ته د صفدر جنګ مړيني د لښکرکښۍ رورت له منځه يووړ.

د احوال نواب نجيب الدوله مولف نور الدين حسين خان کښلي دي:

په سهارنپور کي چي نواب نجيب الدوله پوځدار سو، تر يوه کاله پوري دده او ناسياله وزير ماد الملک تر منځ مناسبات دوستانه وه، ورو ورو ناسياله وزير د نجيب الدوله له قوته اندېښمن و، سره اچوونکو درباريانو هم خپل کار وکړ او د دوی تر منځ ئې د بدبينۍ تخم وکاره، مګر بيا م د دوی مخالفت په زړو کي ساتل کېده او په ښکاره ئې د دوستۍ او موافقت دود سره پاله.

يوه ورځ نجيب الدوله چي د لاهور په سفر کي د عماد الملک د لښکرو ملګری و، د ښيخپوري په مزله کي د عماد الملک دفتر ته له څو تنو پښتنو منصبدارانو سره ورغی، مګر مريد خان د ديوان خانې داروغه پښتانه منصبداران راوګرزول او ديوانخانې ته ئې د ننوتلو اجازه ورنکړله. نجيب الدوله نجيب خان ته درد ورغی، مريد خان ئې وواهه او له پښتنو ملګرو سره په ګړه د عماد الملک ديوانخانې ته ورننووت. هلته هم د مجلس تر پايه پوري له قهره ډک ناست و. که څه هم عماد الملک په ښکاره د نجيب خان پر دغه کار سترګي پټي کړلې، مګر خلکو ته د دوی مخالفت ښکاره سو او سره اچوونکو درباريانو ته د دوی تر منځ د دښمنۍ د پيدا کولو او زياتولو له پاره ښه موقع په لاس ورغله.

د سلطان التواريخ په ۱۵۷ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱٦٧ ه. ق.) کال چي عماد الملک د لاهور د نيولو له پاره له ډهلي وخوځېد او مغل پاچا دوهم عالمګير ئې هم په دې سفر کي د ځان مل کړ، نجيب خان هم له خپله پوځ سره د عالمګير مل سو. په پاني پت کي د داغ سين پلټنې د خپل مشر عماد الملک په مقابل کي بغاوت وکړ او وزير عماد الملک له خپلي پلټنې څخه ډېری سپکي وليدلې. د پاچا په امر نجيب خان وګمارل سو، چي داغ سين پلټن وځپي، ځکه نو نجيب خان له خپلو پنځو زرو پښتنو سره پر نوموړي پلټن بريد وکړ او هغه ئې تار په تار کړله.

د سرګذشت نواب نجيب الدوله په قول د دغه خدمت په صله کي د دوهم عالمګير مغلي پاچا

---

(518) حالات نواب نجيب الدوله، ۵ مخ.

له خوا نجیب الدوله ته یو پیل له جالۍ داري پالکۍ سره او خلات د مرغلرو له امېل سره ورکړه سو او د نغارې ږغولو اجازه ئې هم وموندله[۵۱۹].

په دغه وخت کي د ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لښکري لاهور ته رسېدلي وې. د ډهلي پاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ه. ق.) ورته ولیکل:

"ډهلي ته راسه او ما د امیرانو له منګولو څخه وژغوره"[۵۲۰].

د دې خط په وررسېدلو سره لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي لور ته پوځونه وخوځول. د ډهلي د دربار تر ټولو واکمن امیر ناسیاله امیر الامراء عماد الملک غازي الدین چي خبر سو، غوښتل ئې چي نجیب الدوله نجیب خان له یوه درانه لښکر سره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مقابلې له پاره کرنال ته ولېږي او نجیب الدوله ته ئې وویل، لکه څنګه چي دې په بلم ګړه کی زما سره د مرستي عهد وکړ او هغه عهد دې سر ته هم ورساوه، اوس بیا زما سره د مرستي قسم وکړه، مګر نجیب الدوله دا عهد او قسم په نن او سبا ځنډاوه، تر څو چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سرلاښ پوځونه ډهلي ته نژدې راورسېدل او نجیب الدوله، چي د ناسیاله وزیر عماد الملک له غداریو او کفر پروریو څخه په عذاب سوی و، د سردار جان خان مل او د هغه په وسیله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. د ستر ټولواک له حضوره څخه ئې زیاته نمانځنه وسوه.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د (۱۱۷۰ه. ق.) کال د درېیمي خورد میاشتي په اوومه ورځ (=۲۸ جنوري ۱۷۵۷ع) ډهلي ته ورسېد. که څه هم د نجیب الدوله نجیب خان لښکر د جمنا پر ختیځه غاړه اړولي و، مګر دی یوائې د داراشکوه په کور کي اوسېدی او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه دربار ته به ډېر ورتئ[۵۲۱]. د ډهلي پاچا دوهم عالمګیر د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه کیمپ ته ورغی او له لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره ئې ولیدل. د عالمګیر په غوښتنه سره لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د جواهرنګهه او سورج مل جاټ د ځپلو په نیامت د متهرا لور ته پوځونه ولېږدول. نجیب الدوله نجیب خان هم د احمدشاهي سرلاښ پوځ ملګری سو او د متهرا په نیولو او د اګرې په کلابندۍ کي د احمدشاهي سپهسالار سردار جان خان پوپلزي تکړه ملګری و[۵۲۲].

---

[۵۱۹] دوژنامه، د پنډت شمبو ناتهه تالیف.

[۵۲۰] روهیله پښتانه، ۲۹۵ مخ او د "Ahmad Shah Durrani" ۱۵۰ مخ.

[۵۲۱] احوال نواب نجیب الدوله، ۶ مخ.

[۵۲۲] د احوال نواب نجیب الدوله په شپږم مخ کي کښلي دي:

له ډهلي څخه چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه متهرا ته وخوځېدل، د نجیب الدوله لښکر د جمنا پر بله غاړه، د دوی پر برابري مزلونه کول، د ډهلي شپاړس کروهۍ ته چي ورسېدل، د ناسیاله وزیر عماد الملک پر پیلخانه پېښ سول. د نجیب الدوله پوځو ټول پیلان چي د ډهلي د پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ه. ق.) د سپارلۍ پیل (کوه روان) هم پکښې و بوتلل او د سکندرې سیمه ئې ونیوله. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه چي د متهرا تر نیولو وروسته اګرې ته تېر سول، نجیب الدوله نجیب خان له خپلو لښکرو سره درې ورځې په متهرا کي پاته سو او ډېري اُلجې په لاس ورغلې.

څه وخت وروسته چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له اکبر آباد او متهرا څخه خپل پوځونه د کندهار په نیامت وخوځول، ډهلي ته چي راورسېد، تر ښار دباندي ئې پر "کهند" نومي ناور باندي واړول. د ډهلي پاچا دوهم عالمګیر ئې د لیدني او وداع له پاره مخي ته ورووت. په دې لیدنه کي دوهم عالمګیر د ناسیاله امیر الامراء عماد الملک غازي الدین سهروردي، چي په دغه وخت کي ئې د اوده د نواب شجاع الدوله د ځپلو په نامه له ډهلي پښې کښلي وې، د غداریو او کفرپروریو شکایت د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته وړاندي کړ، ځکه نو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره څخه د ډهلي د دربار د امیر الامرائی درونډ منصب او د پوځونو سپهسالاري نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزي ته ورکړه سوه[۵۲۳] او په دې توګه سره د (۱۱۷۰ھ. ق.) کال د رجب له میاشتي (= ۱ اپریل ۱۷۵۷ع) څخه د نجیب الدوله د امیر الامرائی دوره شروع سوه او د ډهلي د دربار ټول اهم کارونه په ده پوري وتړل سوه[۵۲۴].

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه چي له هندوستانه ووتل، د ډهلي د دربار معزول امیر الامراء (عماد الملک غازي الدین) چي د اوده له سفره راستون سوی او په فرخ آباد کي ئې اړولي و، د نوي امیر الامراء نجیب الدوله نجیب خان مخالفت ته ئې ملا وتړله او د مرهټه کفارو مشران، ملهار راو هولکر او رګهوناتهه ئې له دکنه څخه خپلي مرستي ته راوبلل. مرهټه پوځونه د (۱۱۷۱ھ. ق.) کال په لومړیو ورځو (= اګست ۱۷۵۷ع) کي د رګهوناتهه راو، ملهار راو هولکر صوبه دار، شمشیر بهادر، ناروشنکر (د جهانسي حاکم) او بابو پټېل راو په مشرتابه، ډهلي ته راورسېدل. ښار کلابند سو او پنځه ویشت[۵۲۵] ورځي د توپو جنګونه جاري وو. نجیب الدوله نجیب خان په ډېره مېړانه د ښار مدافعه کوله.

د احوال نواب نجیب الدوله په اووم مخ کي کښلي دي:

په دغه کلابندي کي که څه هم د نجیب الدوله پوځونه لږ وو، مګر بیا به هم کله کله د ښار تر دروازو ورووتل او له مرهټه کفارو سره به ئې غزا کوله. یوه ورځ پښتانه مړونه له ترکمان دروازې ورووتل او د جی سنګهه[۵۲۶] پر سنګر ئې برید وکړ او بیرغونه ئې ځني راوړل.

په دغه وخت کي د ډهلي بې زړه مغولي پاچا په پټه له عماد الملک او مرهټو سره مکاتبه او مراوده شروع کړل او پخه دوډۍ او مېوې به ئې ور لېږلې. یو مکتوب ئې د نجیب الدوله په لاس ورغی. د پاچا دغه سازش د نجیب الدوله ټولي نقشې بېکاره کړې، د مجبوریت له مخي ئې د ډهلي پرېښوولو ته اراده وکړله. د پرورو په ورکړه سره ئې د مرهټو کفارو سرداران د ملهار راو هولکر

---

[۵۲۳] سیر المتاخرین، ۳ ټوک، حیات حافظ رحمت خان، ۸۱ مخ او خزانهٔ عامره، ۵۳۵ مخ.

[۵۲۴] د هندوستان تاریخ، ۲۹۷/۹ مخ.

[۵۲۵] په سیر المتاخرین کي د دې کلابندۍ موده پنځه څلوېښت ورځي کښلې ده.

[۵۲۶] دغه جی سنګهه د راجه دلیر سنګهه ملګری و او دلیر سنګهه د وزیر الممالک عماد الملک غازي الدین خان مستوفي و.

په واسطه دې ته راضي کړل، چې د نجیب الدوله بار و بنه، کور او کهول او پوځونه به پرېږدي ...
بې جنګ او تالانه له ډهلي ووزي. د تاریخ هندوستان په شهادت توریالي نجیب الدوله، چې ...
مغولي پاچا بېغیرتي د ډهلي پرېښوولو ته اړ ایستلی و، په ډېره درناوي او شان و شوکت سره ...
ډهلي څخه ووت[۵۲۷]. د جمنا پوري خوا ته ئې مخه وکړه او په خپل جاګیر سهارنپور کې ئې واړه ...

د احوال نواب نجیب الدوله په اتم مخ کي کښلي دي:

نجیب الدوله چې له ډهلي څخه ووت د براري پر ګدر ئې، چې د ډهلي له ښاره څخه او ...
کروهه لیري د جمنا پر غاړه واقع دئ، واړول. دې ځای ته نژدې د مرهټې کفارو د سردار رګهناته ...
لښکري پرتې وې. مرهټه جنګیالیو خپل سردار ته شکایت وکړ، چې د نجیب الدوله په لښکر کي ...
غوایان حلالېږي. رګهناته صوبه دار ملهار راو هولکر ته، چې د مرهټو او نجیب الدوله تر منځ ...
سوال او جواب واسطه و، وویل: نجیب خان ته ووایه، چې خپل لښکر د غویو له حلالولو منع ...
کړي.

ملهار راو هولکر نجیب الدوله ته پیغام ورولېږه، چې څو ورځي د غویو حلالول منعه کړه ...
مګر نجیب الدوله دا خبره ونه منله او جواب ئې ورکړ، چې دا زموږ په دین کي حلال کار دئ او دا ...
نه منعه کوم.

رګهناته چې په دې جواب خبر سو، خورا وقهرېدئ او وئې ویل:

"که تر سبا پوري نجیب خان ګاو کشي منعه نه کړه، زه به ئې ایداد ورکړم".

ملهار راو هولکر په دې خبره ډېر وارخطا سو، څو معتبر سړي ئې نجیب الدوله ته ورولېږل، چې دا کار منعه کړه، رګهناته زموږ مشر دئ، زورور سړی دئ، نه چې تاوان درپېښ سي.

نجیب خان په جواب کي ورته وویل:

"رګهناته د ټول دکن واکمن او توریالی دئ، احمد خان بنګښ د محمد خان بنګښ باون ...
هزاري زوی دئ، چې د هندوستان د ټولو پښتنو مشر و، عماد الملک د هندوستان د ټولو مغولو ...
سردار او د هېوادوزیر دئ. زه یو سپاهي سړی یم او فقط پنځه زره پښتانه راسره دي، که زه د دوی ...
له لاسه مرم، دا زما عزت دئ او که زما له لاسه دوی شکست مومي، په دنیا کي به مي د توري ډېره ...
ولاړ سي. مرګ یوه ورځ دئ، سبا ئې نه، نن ئې. ته رګهناته له جنګه مه ګرزوه، څه چې د خدای ﷻ ...
رضا وي سبا به پېښېږي".

نجیب الدوله نجیب خان تر دې جواب وروسته، پښتنو ته وویل:

"ورونو مرګ یوه ورځ دئ، غزا ته ملا وتړئ او د اسلام پر ننګه وپاځئ، یا به شهادت ګټو یا غزا!".

د ده دې خبرو ټول پښتانه وپارول او د جنګ له پاره ئې ملاوي وتړلې. سهار د دواړو خواوو پوځونه جنګ ته سره ودرېدل. ملهار راو هولکر خپل مسلح لښکر د دواړو پوځو تر منځ د دېوال په ...

---

[۵۲۷] تاریخ هندوستان، د ذکاء الله خان تالیف، ۲۹۸/۹ مخ او تاریخ هندوستان (پښتو)، ۷۸۶/۱ مخ.

ل ودراوه او رګهناتهـ ئې په ډېرو زاريو د جنګ له ارادې څخه وګرزاوه. نجيب الدوله هم د هوناتهـ د لښکر تر مخ ګرزولو وروسته، خپلو پښتنو لښکرو ته امر وکړ، چي د نجيب آباد و لور مخه وکړئ.

د نجيب الدوله نجيب خان تر وتلو وروسته ډهلي د ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين مرهټو په لاس ورغی. د ډهلي پاچا دوهم عالمګير د دوی د لاس سړی سو، څه چي د دوی زړه وښتل هغه کېدل[٥٢٨].

د دوهم عالمګير زوی شهزاده عالي ګوهر، چي وروسته ئې په شاه عالم ثاني شهرت وموند، ډهلي په لويديځو سيمو کي لکه، هانسي، چجر او نور حکومت درلود، چي د پلار په حال خبر سو، د ډهلي لور ته ئې لښکري وخوځولې. ډهلي ته نژدې د (۱۱۷۱هـ. ق.) کال د روژې په يوولسمه ورځ د ناسياله عماد الملک غازي الدين سره وجنګېد. غازي الدين بری وموند او مغول شهزاده هانسي، حصار، کيتل او ګنجپورې له لاري ځان سهارنپور ته ورساوه او نجيب الدوله نجيب خان ته ئې پناه ور وړه. نجيب الدوله اته مياشتي مغول شهزاده له ځانه سره وساته. ناسياله عماد الملک غازي الدين چي دغسي هم نجيب الدوله ته له قهره خوړين و، د شهزاده پناه ورکولو ئې د بدبيني اور ته ښه پيک (ببوزئ) وواهه. د لکو روپو په رشوت ئې د مرهټه کفارو د هغه پوځ مشران پر نجيب الدوله باندي بريد کولو ته وپارول، چي د جنکو راو سيندهيا تر مشرتابه لاندي، نوي له دکنه ډهلي ته راغلي او د عماد الملک سره ئې مناسبات خړپړ سوي وو او هم ئې د پاچاهي پوځ پنځه زره سپاره د خپل مستوفي راجا دلير سنګهـ او بهادر خان بلوڅ په مشري د مرستي له پاره ورسره کړل.

نجيب الدوله چي د ناسياله عماد الملک په دې پروګرام خبر سو، مغول شهزاده ئې د بنګال لور ته رخصت کړ او پخپله ئې د مرهټو د مقابلې تياری شروع کړلې.

يو لکو پنځه ويشت زره تنه مرهټي سپاهيان د "جنکو راو" او "دتا سيندهيا" په مشرتابه او پنځه زره پاچاهي سپاره د راجا دلير سنګهـ او بهادر خان بلوڅ په مشری د سهارنپور خوا ته وخوځېدل.

نجيب الدوله ته چي په دوآبه کي د مرهټو يرغالګرو د پيشقدمی خبر ورسېد، زړه ور نجيب الدوله د روغي او مفاهمې په نيت مخي ته ورغی او څو واره ئې د مرهټو له مشرانو سره په روغه وليدل.

څو ورځي وروسته دتا پټېل وغوښتل، چي نجيب الدوله په چم ونيسي او بې له جنګه پر ده بری ومومي، ځکه ئې نو يوه ورځ دی يواځي خپلي خېمې ته وروغوښت او پهره دار ته ئې امر کړی وو، چي؛ "هيڅوک به نه ورسره پرېږدې!"، مګر پښتنو سردارانو د پهره دار خبره ونه منله، احمد خان اپرېدی (د لوهاري زميندار) له دوو وروڼو او لسو تنو نورو پښتنو مشرانو سره په نجيب

---

[٥٢٨] صولت افغاني، ۲۵٦ مخ، د مخزن التواريخ په حواله.

خان پسي خېمې ته ورننوتل. نجیب خان چي له قرائنو څخه د دتا پټېل په بد نیت پوه سو، ژ
مجلسه راپاڅېد او پټېل هم ټینګار لازم ونه باله. نجیب الدوله چي خپل لښکر ته ورسېد، د رو
او مفاهمې امېد ئې شلېدلی و. ده چي ټول پنځلس شپاړس زره سپاهیان درلودل، په میدان کي
د دې لوی لښکر مقابله او مدافعه ممکنه ونه لیدله، ځکه نو د مظفر نګر یوې خوندي سیمې ت
چي "سُکرتال"[529] نومېدله او د ګنګا پر ژۍ واقعه وه، ځان ورساوه او د ختهو یو سنګر ئې جوړ ک
پر کلا ئې توپونه سپاره کړل، د ازوغ د رسولو له پاره ئې د ګنګا پر سیند یو عارضي پل جوړ ک
دلته مرهټو کفارو د نجیب الدوله تر اداري لاندي ټولي سیمي تالاترغه[530] کړلې او سکرتال
پسي ورورسېدل او شاوخوا ئې ورته واړول.

نجیب الدوله نجیب خان په ډېره بهادرۍ او هوښیارۍ سره د مرهټو مدافعت کاوه او له ډېر
حوصلې او صبر څخه ئې کار اخیست. دا کلابندي په یوه روایت څلور نیمي میاشتي او په بل
روایت شپږ میاشتي اوږده سوه[531].

د دې جنګ په باب د احوال نجیب الدوله مولف نور الدین حسین خان کښلي دي:

جنکو راو سیندهیا او دتا پټېل، چي د نجیب الدوله ملک ټول ونیو او سکرتال ته نژدې ورسېدل، قراولي جنګ شروع سو، هره ورځ به دتا پټېل د مرهټو کفارو لښکري د سکرتال سنګر ته نژدې وروستلې او له سنګره څخه نیم کروه دې خوا ته ئې یوه د ختهو کلا جوړه کړه، په هغه کي به کښېنوست، د پښتنو سرتېري به هم تر سنګر راووتل او د مرهټو او مغولو له ګډ لښکر سره به جنګېدل. هره ورځ دغه حال و. نجیب الدوله به پښتانه سرتېري نه پرېښوول، چي له سنګره لیري ولاړ سي، خو یوه ورځ د پښتنو سرتېرو یوه دسته له سنګره لیري سوه، دتا پټېل چي دوی له سنګره لیري ولیدل، دوه زره مرهټې سپاره ئې مخامخ د هغو جنګ ته وګمارل، هغو ته ئې امر ورکړ، چي ورو ورو به په جنګ کي تر شا راځئ، چي د پښتنو سرتېري له سنګره نور هم پسي را لېري سي او پخپله د اړخ له خوا څخه ورو ورو له اتو زرو سپرو سره د برید په نیامت راو خوځېد.

نجیب الدوله چي د اړخ له خوا څخه دوړي ولیدلې، د مرهټو په جنګي دروه وپوهېد، دستي ئې د توپک والاوو یو ټکړه پوځ د دتا پټېل د مخنیوي له پاره په یوه شېله کي، د څو (کمین) په

---

(529) سُکَرتال د سین په پېښ د کاف په شد لوستل کېږي. یوه پښتانه شاعر د سکرتال او مرهټو څه بنه تشبیه کړېده:

لب ئې جام د میو نه دئ سکرتال دئ — نوی خط ئې د دکهن توري لښکري

(تحفة الامير)

(530) د سرکشي ضلع بجنور په ۲۹۸ مخ کي لیکلي دي، چي په (۱۷۵۸ع) کال جهنکو راو سیندهیا او ملهار راو هولکر چاندي ته نژدې، پر ګورمکهه ګهاټ (ګدر) تر ګنګا پوري وتل او نجیب آباد ئې ولوټئ.

د سیر المتاخرین په ۹۰۷/۳ مخ کي کښلي دي: د سکرتال د کلابندۍ په وخت کي دتا پټېل خپل یو منصبدار "ګوبند پنډت" له شلو زرو سپرو سره د روهیلکهنډ لوټلو ته وګماره. ګوبند پنډت د ټهاکردواړې تر ګدر له ګنګا پوري ووت، چاندپور، نګینه او نوري سیمي ئې تر امروهې پوري ولوټلې، درې سوه کلي ئې وسوځل او پر روهیلکهنډ یو سردارانو ئې برید وکړ. د روهیلکهنډ سرداران د کمایون غرو ته تر شا سول.

(531) د دې جنګ تاریخ یو چا "ببری را شکار آهو کرد (= ۱۱۷۲)" موندلې ده.

ه ځای پر ځای کړ.

ورو ورو مرهټو کفارو دوه زره سپاره د پښتنو سرتېرو له رسالې سره مخامخ سول، ورو ورو کله چې د مرهټو کفارو دوه زره سپاره د پښتنو سرتېري هم د برې په نشه کې له سنګره لا پسې لېرې کېدل. په جنګ کې تر شا کېدل او د پښتنو سرتېري هم د برې په نشه کې له سنګره لا پسې لېرې کېدل. په وخت کې د تا پټېل له اتو زرو په وسله پټو سپرو سره، د اړخ له خوا د پښتنو پر سنګر برید وکړ. سنګره ځخه د توپو باړ پر وچلېدئ. د تا پټېل له خپلو لښکرو سره د هغې شېلې خوا ته مخه وکړله، پښتنانه توپک والا په څو کې پټ ورته ناست وو. د مرهټو سپاره چې د شلو ګامو په اندازه ودې سول، لسو دوولسو زرو پښتنو توپک پر راواړول او دوو دوو زرو تنو به په یوه پلا کونه پر تشول. د کفارو د پوځ د مخ صفونه یو پر بل کوترم سول او نورو د تېښتې لار ځارله. په جنګ کې د مرهټو کفارو پنځه سوه ځوانان ومړل. پښتنانه پنځوس تنه شهیدان او سل کسه ټپیان سول او پسله دغې ورځې نجیب الدوله پښتانه سرتېري نه پرېښوول، چې تر سنګر

وزي.

وایي په دې حمله کې یوه توریالي پښتانه ځان جنکو راو سیندهیا ته ورساوه، په کینې لاس د جنکو د آس کیزه ټینګه کړله او په ښي لاس ئې د توري وار پر وکړ، جنکو پر لاس زخمي سو، تر توریالي پښتون د جنکو ساتندویو مرهټو شهید کړ.

نجیب الدوله نجیب خان د کلابندۍ په موده کې د روهیلکهنډ برېښو سردارانو، د اوده نواب شجاع الدوله او ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته لیکونه ولېږل او خپلې مرستې ته ئې وبلل. له ښه مرغه په درو سرو مرکزو کې د نجیب الدوله د مرستې له پاره تیاری شروع سوې. تر ټولو دمخه د روهیلکهنډ نواب سعد الله خان روهیله[۵۳۲]، حافظ الملک حافظ رحمت خان برېښي او دوندي خان برېښي له خپلو پوځو سره د نجیب الدوله د مرستې له پاره خپل ګډ پوځونه ولېږدول، مګر د مرهټو کفارو هغه شل زرې پوځ د دوی مخه ونیوله، چې د پنډت ګوبند رای او بهورتیا نومي مرهټه سردار په مشرۍ، تر ګنګا ورپورې وتلی و او له چاندپوره ځخه ئې تر امروهې پورې درې سوه (۳۰۰) کلي سوځلي او د سکرتال پر پښتنو ئې د ازوغ ټولې لارې تړلې وې.

د روهیلکهنډ دغو پښتنو سردارانو، چې غوښتل ځانونه "سکرتال" ته ورسوي، د کمایون د ځنګله لارې ئې خپل پوځونه "چاندپور" ته ورسول.

د اوده نواب شجاع الدوله هم د نجیب الدوله د مرستې په نیامت د (۱۱۷۲ هـ. ق.) کال د ژوچنې اختر په میاشت کې له لکهنو راووت، مګر د ګنګا د سیند طغیان په شاه آباد کې معطل کړ.

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې په لومړیو ورځو کې شجاع الدوله له خپلو لښکرو سره چاندپور ته ځان ورساوه او د روهیلکهنډ له پوځونو سره یو ځای سو.

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د صفرې په میاشت کې د غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه

---

(۵۳۲) نواب سعد الله خان روهیله د نجیب الدوله ساندو (باجه) و او بل د سعد الله خان روهیله لور نظام بیګمه د نجیب الدوله د زوی "کلو خان" ماندینه وه.

(اخبار الصنادید، ۳۵۸/۱مخ)

پوځونه هم لاهور ته ورسېدل او مرهټه ئې پسي واخيستل. دغي اوازې د مرهټو خپه مړه کړل او ل
نجيب الدوله سره ئې د روغي خبري شروع کړې.

که څه هم په دغه وخت کي د ډهلي د دربار د ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين له خوا د
سکرتال مهاجمو مرهټو ته مرسته ورسېدله، خو لاهور ته د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د پوځو د ور
رسېدلو اوازې د مرهټو وار و پار تر دې اندازې خطا کړی و، چي نه ئې د عماد الملک نوی ور
رسېدلی قوت الظهر ته وکتل او نه ئې له نجيب الدوله سره د صلحي د خبرو تمامېدلو ته.

مرهټه سپهسالار "دتا سندهيا پټېل" اجل نيولي، پخوا تر دې چي له نجيب الدوله سره د
روغي خبري خلاصي سي، خپل پوځونه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د لښکرو مخ نيوي لره مخ پر
ډهلي وخوځول او په دې توګه د سکرتال محاصره خوشي سوه(۵۳۳).

نور الدين حسين خان کښلي دي:

په دغه روځ چي مرهټو کفارو د سکرتال کلابندي خوشي کړله، د نجيب الدوله په امر د
سکرتال په سنګر کي د خوشالی نغارې وډنګېدلې. نجيب الدوله تر سنګر راووت او د ګنګا تر
غاړې پوري ولاړ.

نور الدين حسين خان دا هم زياته کړې ده:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه لښکري، چي د بوريه او مصطفٰی آباد شاوخوا ته راورسېدلې،
نجيب الدوله نجيب خان له خپل لښکر سره ور رهي سو. په يوه ورځ ئې پنځلس کروهه لار ووهله او
د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ئې وليکل:

د مرهټو کفارو لښکر د جمنا پر دې غاړه دئ، که ستاسي لښکر هم راپوري وزي، زه او د
روهيلکهنډ پښتانه سرداران به ملازمت ته ځان دروررسوو.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پوځونه، چي "بهورتيا" مرهټه ته تر شکست ورکولو وروسته تر
جمنا پوري وتل او سهارنپور(۵۳۴) ته ورسېدل، نجيب الدوله له خپلو پوځو سره ځان وررساوه او
د ستر تهولواک په حضور مشرف سو.

د ډتا پټېل سره ميداني جنګ:

نور الدين حسين خان کښلي دي:

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د درېيمي خور په مياشت(۵۳۵) کي، د چهارشنبې په ورځ لوی احمدشاه

(۵۳۳) وګ: خزانهٔ عامره، ۸۸–۸۹ مخونه.

(۵۳۴) احمدشاه بابا، ۲۵۴ مخ.

(۵۳۵) د ميرزا مظهر جان جانان په يوه مکتوب کي د دغه جنګ تاريخ د جمادي الاولی (درېيمي خور) اتمه د پنجشنبې
ورځ کښلې ده. دغه جنګ په وزير آباد ګدر باندي پېښ سو. دتا پټېل د جنګ په شروع کي په ګولی ومړ، جنکو راو
تپي وتښتېد او وزير هم وتښتېد.
(معارف مجله، مى ۱۹۶۸ع)

بابا رحمة الله عليه، له دتا پټېل سره د جنګ په نيامت، له لوني نومي ځای څخه سپور سو. د مرهټو کفارو لښکرو د جمنا پوري خوا ته په ريواړي کې، چي له ډهلي څخه شل کروهه ليري واقع دئ، اړولي و. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه نجيب الدوله ته د قراولی وظيفه وسپارله او نجيب الدوله د دتا پټېل لښکرو خوا ته روان سو. سابا جي مرهټه جرنيل د دتا پټېل له خوا ګمارل سوی و، چي د رود غاړه ساتي او پښتانه پوځونه پرې نه ږدي، چي تر سيند ور پوري وزي. د نجيب الدوله لښکري له لانو سره تر سيند ورپوري وتلې او د سابا له پوځ سره ئې جنګ ونښت. د جنګ له دغه ميدانه څخه يو نيم کروه د مرهټو لوی پوځ د دتا پټېل او جنکو جي په مشری پروت و او عماد الملک غازي الدين ئې هم له خپل مغولي پوځ سره مل و. دتا پټېل ته چي دا حال ورغی، دستي را سپور سو او د جنکو جي لښکر هم په پسې و.

دلته د جنګ په ډاګ کي روهيله پښتنو پر سابا جي ناورين جوړ کړ او تښتېدلي مرهټه کفار پې لکه ترخې مندکي وژل، چي دتا پټېل او جنکو را او سره له لښکرو، لکه سېل پر راغلل. روهيله پښتانه لږ تر شا سول، په دې وخت کي دتا د پښتنو غازيانو په ګولی ولګېد او جنکو را و پر لاس زخمي سو. روهيليو پر را وګرځستل، د دتا پټېل ککری ئې ځني پرې کړله او جنکو نورو مرهټو ساتونکو په تېښته ځني خلاص کړ. سابا جي مرهټه له خپلو اوو سوو سپاهيانو سره، ځای پر ځای رواژه سو.

نجيب الدوله ته چي د دتا سر ور وړ سو، وئې پېژاند او د دتا ککری ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته يو وړله او لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ډېر ځني خوشاله سو او پوښتنه ئې ځني وکړه:

"دغه د مرهټو د لښکرو سردار و؟".

ده عرض وکړ:

"که څه هم د لښکر سردار دده وراره دئ، خو خبره دده او خوله دده چلېدله".

نجيب الدوله او وروړ ئې سلطان محمد خان او اکا ئې "خليل الرحمان[٥٣٦]" د خپل پوځ سره، د پاني پت د تاريخي جنګ تر تماميدلو پوري د غازي سترټولواک احمد شاه بابا رحمة الله عليه يو توريالی ملاتړ و. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د جنګ په باب له ده سره سلا کوله او د ده خولې ته ئې ډېر کتل او د ده په وسيله ئې د هندوستان له مشرانو سره خبري کولې، چي تفصيل ئې د احمد شاهي شهنامې په متن کي درج دئ.

د (۱۱۷۳ھ. ق.) کال د ميانی په سرکي نجيب الدوله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د استاځي په حيث د اوده د نواب شجاع الدوله ترکمن بلني لره، اوده ته وخوځېد او د اټاوې له لاري قنوج ته

---

[٥٣٦] دغه خليل الرحمان خان د پاني پت په يوه فرعي جنګ کي د (۱۱۷۴ھ. ق.) کال د دربيمي خور په اتلسمه شهيد سو (عماد السعادت، ۱۹۱ مخ). د خليل الرحمان په نامه کوم سری د نجيب الدوله په سکه اکاګانو (د پلار په ورونو) کي نسته، (وګ: شجرة النسب) ښايي چي د پلار له تربرو څخه به ئې څوک و.

ولاړ. شجاع الدوله ئې د ګنګا تر ژۍ پورې مخې ته راووت. د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د لوی اختر د
میاشتې په څلرمه ئې شجاع الدوله، چې په یوه روایت لس زره سپاره هم ورسره وو، د غازي ستر
تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راوست.

د هندوستان کې حالت په ۲۶۷ مخ کې کښلي دي:

د ملهار راو هولکر تر حملې یوه ورځ وروسته، اشرف الوزراء شاه ولي خان مسجد ته تئ، د
بهاو دیوان (مستوفي) بلونت راو برید پر وکړ او د نجیب الدوله د پوځ درې زره تنه روهیله
سپاهیان ئې شهیدان کړل، دغه روهیله پوځ د اشرف الوزراء په مرسته راغلی و. بلونت راو هم په
دغه جنګ کې مړ سو.

د هندوستان کې حالت په ۲۷۰ مخ کې لیکلي دي:

نجیب خان پوهېدئ، چې د مرهټه رسالې مخې ته څوک نسي دربدلای، نو د نجیب الدوله
پوځونه چې به پر مخ تلل، ده به په پیلدارانو سنګر کیندئ او دا د دې له پاره، که مرهټه زور راوړي،
د ده پوځ به په دغو سنګرو کې ځان پټوي.

د سیر المتاخرین په ۹۱۳/۳ مخ کې کښلي دي:

د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د دوهمي خور (ربیع الاخر) په ۲۸ مه ورځ لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه
خپل پوځونه برابر کړل. سردار جانخان، شاه پسند خان او نجیب الدوله ئې په مقدمه کې ودرول،
د دوی شا ته شجاع الدوله، احمد خان بنګښ، حافظ رحمت خان بړېځ، دوندي خان بړېځ او فیض
الله خان روهیله د دوی تر شا ولاړ و. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له شاه ولي خان سره په منځ کې ولاړ
و. مرهټه هم د توپ د ګولۍ په اندازه، له لښکره راووتل. ماپښین جنګ شروع سو، یو ساعت د
ورځې لا پاته و، چې د نجیب الدوله د لښکرو لسو زرو پلو سپاهیانو د توپکو سره په لښکر
ورننوتل او په تورو جنګ شروع سو. بلونت راو د بهاو د ماینې ورور په ګولۍ ومړ. شپه راغله
تیاره سوه، د جنګ نتیجه معلومه نه سوه. روهیله د دښمن له سنګره راووتل او خپل لښکر ته ئې
ځانونه راورسول.

په عماد السعادت (۱۹۱ مخ) کې د درېیمي خور د میاشتې په ۱۸ د نجیب الدوله د پوځ او
بلونت راو جنګ راوړه سوی دئ.

هلالي د ننګیالي پښتانه په ۱۴۵ مخ کې د نجیب خان په ستاینه کې ویلي دي:

د بونیر ګل د نمیر جرنیل نجیب	د پښتنو غیرت ښکاره کړلو نجیب
و د صبا نه تر ماښامه جاري جنګ	و پښتون کړی مرهټو باندي غور ځنګ
شو بلونت رای جرنیل قتل په میدان	باقي لښکر شو خپل سنګر ته ګرېزان

د پاني پت تر تاریخي سوبې وروسته غازي ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د هغه وخت
د سیاست د یوې اهمي تقاضا په حکم، د ډهلي پاچهي د توراني حزب مشر د دوهم عالمګیر زوی
دوهم شاه عالم (۱۱۷۳–۱۲۲۱ هـ. ق.) ته، وزارت د ایراني عناصرو واکمن او منلي شخصیت

شجاع الدوله ته او سپهسالاري (امیر الامرائي) د افغاني جمعیت توریالي او مقتدر منصبدار نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزي ته وسپارله. په دې مقرریو کې د غازي ستر تولواک رحمة الله علیه سیاسي غرض دا و، چې د هندوستان د مسلمانانو درې غښتلي او تل سره ښکېدونکي او سره مخالفي ډلي، ځبله متحدي او په سلطنت کې شریکي کړي، ګوندي په دې وسیله سره به د شمالي هند مسلمانان د درو هغو قاهرو قوتونو له تهدیده څخه وژغورل سي، چې یو قوت د جنوبي هندوستان له خوا څخه د مرهټو کفارو او بل قوت د شرقي هندوستان له لوري په بنګال کې د متمرکزو انګرېزانو له خوا او درېیم د شمال له خوا د پنجاب د سکهانو له طرفه ورته متوجه و.

غازي ستر ټولواک چې کندهار ته ستنېدئ، نجیب الدوله نجیب خان ته ئې توصیه وکړه، چې ته به تل په ډهلي کې اوسې او مرکز به لاسه نه باسې[۵۳۷]. نجیب الدوله هم د غازي ستر ټولواک دا توصیه ومنله او تر پایه پوري ئې مرکز خوشي نه کړ.

دلته دا خبره د ذکر وړ ده، چې کوم مغول شاهزاده، چې غازي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ډهلي د پاچهۍ له پاره وټاکه او د دوهم شاه عالم خطاب ئې ورکړ، هغه د خپل انتصاب په وخت کې په ډهلي کې موجود نه و او د بنګال په سیمو کې د ډهلي د پاچهۍ د نیولو په تمه د انګرېزانو د مرستي په هیله ناست و[۵۳۸].

غازي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې په ډهلي کې ټول موجود مغولي شهزاده ګان، د ډهلي له تاج و تخت څخه محروم او یوازي یو غائب شهزاده یعني شاه عالم[۵۳۹] ئې د دې کار له پاره غوره کړ، یو سیاسي مقصد ئې دا و، چې دا د انګرېزانو د لاس آله، چې یو وخت په شمالي هندوستان کې د برطانوي استعمار د پیشرفت پلمه ده، د استعمارچیانو د مرستي له هیلي او نیاز څخه وژغوري او په دې وسیله سره پر شمالي هند باندي د انګرېزي قوت د حملې احتمال ضعیف کاندي. مګر له بده مرغه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه دا هیله تر سره نه سوه او دوهم شاه عالم، تر څو پوري چې نجیب الدوله نجیب خان ژوندی و، د انګرېزانو لمن خوشي نه کړه.

په ډهلي کې ئې د نامه له پاره زوی میرزا جوان بخت د نائب السلطنه په حیث ناست و. وزیر شجاع الدوله هم د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر ستنېدلو (د ۱۱۷۴ هـ. ق. کال د برات شپاړسمه[۵۴۰]) وروسته دستي خپل جاګیر اودهـ ته ولېږدېد. د ډهلي پایتخت او د سلطنت کار و بار یوائې امیر الامراء (سپهسالار) نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزي ته ورپاته سو او ده هم په ډېر مهارت او مېړانه سره دا کار چلاوه.

---

[۵۳۷] سیر المتاخرین، ۱۱۵ مخ.

[۵۳۸] تاریخ هندوستان، ۳۱۳/۹ مخ.

[۵۳۹] د شاه عالم سوانح د دغه کتاب په (۴۱۷) مخ کې وګورئ.

[۵۴۰] دلوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ستنېدلو تاریخ دئ: "مراجعت قندهار نمود".

په (۱۱۷۸ هـ. ق.) (= ۱۷۶۴ع) کال د بهرتپور راجا سورجمل جاټ[541] پر کول (علي ګړه) او اګره برید وکړ. نجیب الدوله له ډهلي څخه یو دروند پوځ، چې پر درو برخو وېشل سوی و، د سورج مل جاټ ترټنې لره وګماره. د دې درو پوځو مشران، یو د نجیب الدوله ورور "سلطان محمد خان"، تربور "افضل خان[542]" او بل د نجیب الدوله مشر زوی، "ضابط خان" و.

دې پوځونو ته سورج مل جاټ د فرانسوي توپخانې او څو سوو فرانسوي سپاهیانو په مرسته ماتې ورکړه، ځکه نو نجیب الدوله نجیب خان پخپله د سورج مل جاټ ایداد لره تیاري شروع کړه. میواتي سرداران ئې هم مله سول، څه موده وروسته ډهلي ته نژدې سورج مل د پښتنو غازیانو په تورو ټوک ټوک سو او لښکرو ئې د ماتې پېغور ومانه.

د دې سوبې به شپږ میاشتې تېرې سوې وې، چې په (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال د نوموړي سورج مل جاټ مشر او جانشین زوی، جواهر سنګه یا جواهر مل د پلار د خون اخیستلو په نیامت د نجیب الدوله د مقابلې له پاره تیاری شروع کړ او له بهرتپوره څخه مخ پر ډهلي باندې، له یو شل زرې پوځ سره راوخوځېد. شمرو نومی فرانسوي منصبدار ئې هم په مرسته راغی. جواهر سنګه د سکهانو دوه مشهور سرداران "بګهیل سنګه" او "چوساسنګه" هم د ځان مله کړل. نوموړو سکه سردارانو پنځه ویشت زره سپاره له ځانه سره راوستل، چې د هر سپاره پر سر د ورځې یوه روپۍ معاش د جواهر سنګه له خوا ورته منل سوی و.

د پاني پت له میدانه څخه تښتېدلی مرهټه سردار، ملهار راو هولکر ئې هم له پنځه ویشتو زرو سپرو سره په مرسته راورسېد. د اوده نواب ناسیاله شجاع الدوله هم لس زره ناګا پوځیان مرستې لره ورولېږل.

دا اتیا یا پنځه اتیا زره پوځ او یوه درنه توپخانه پر ډهلي ورغله، نجیب الدوله کلابند سو او د کندهار له دربار او روهیلکهنډ څخه ئې مرستې وغوښتلې. که څه هم د نجیب الدوله پوځ د جواهر سنګه د لښکرو په مقابل کې لږ و، خو بیا هم د ده پښتنې غیرت دا ونه منل، چې په کلا کې دننه کښېني. تر ښار دباندې ئې پوځونه راوایستل او مدافعانه جنګ ئې شروع کړ.

کله چې د روهیلکهنډ شپږ زره پښتانه سپاره، د ډهلي په حدودو ور داخل سول، د مرهټو او

---

[541] د سورج مل جاټ ورنیکه، چې "برج" نومېد د "سنسي" په سیمه کې د "ډیګ" نومي ځای زمیندار و. د مغولو په زوال کې دې کورنۍ ترقي وکړه، سورج مل جاټ ډېرې مځکې لاندې کړې او بهرتپور ئې خپل دارالحکومت وټاکه.

(صحیفهٔ زرین)

[542] په پښتو مجله (د ۱۹۵۹ع کال دوهمه ګڼه) کې سلطان خان او افضل خان هم د نجیب الدوله زامن ښوول سوي دي، مګر د شاه عالم نامې په ۶۱ مخ او حیات حافظ رحمت خان په ۱۷۴ مخ کې دا دواړه د نجیب الدوله وروڼه بلل سوي دي. د حافظ مرغزي په پښتو احمد شاهي شهنامه کې هم سلطان خان د نجیب الدوله ورور بلل سوی دئ او د احمد شاه دراني د کتاب په ۱۵۱ مخ کې هم د "New History of the Marhatas" د دوهم ټوک د ۳۸۷ مخ په حواله سلطان خان د نجیب الدوله د ورور په حیث معرفي سوی دئ.

غازیانو خپه مره غوندي سول او پر نجیب الدوله باندي د جنګ فشار لږ سو. روهیلیو پښتنو غازیانو دوه درې ځله خپلو مقابلو پوځو ته ماتې ورکړه، مګر د ډېرښت له امله به ئې بېرته نوک جنګ کړ.

غازي ستر تولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د نجیب الدوله په کلابندي خبر سوی و، سمستي ئې د هندوستان لورته د لښکر نغاره وهلې وه.

په دغو وختو کي چي روهیلکهنډي غازیان او د نجیب الدوله پوځ د جواهر سنګهـ له ګډو پوځو سره په جنګ اخته وو، له اباسین څخه د غازي احمدشاه بابا رحمة الله علیه د ورپوري وتلو آوازه خپره سوه. د ملهار راو هولکر غړي وتښتېدل او جواهر سنګهـ ئې دې ته اړ یوست، چي له نجیب الدوله سره روغه وکړي. د جواهر سنګهـ د روغي پېشنهاد چي نجیب الدوله ومانه، ملهار راو هولکر د کن په لور وغښتلې او جواهر سنګهـ خپل دارالحکومت "بهرتپور" ته په منډه ځان ورساوه[۵۴۳].

غازي ستر تولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د سکهانو تر ځبلو وروسته د امبالې او اسماعیل آباد ته ورسېد، نجیب الدوله ئې مخي ته راغی او په حضور ئې مشرف سو[۵۴۴].

په اسماعیل آباد کي نجیب الدوله ته حال ورغی، چي سکهانو پر نجیب آباد برید کړی دئ. نجیب الدوله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر د هغو ځبلو ته ولېږدېد او تر شا ئې سردار جان خان سپهسالار او ضابط خان (د نجیب الدوله زوی) په مرسته ورغلل او سکهانو بېرته غرو ته تړپلل.

د تاریخ هند عهد برطانیه په ۹۲ مخ کي کښلي دي:

په (۱۷۶۹ع.) کال د پاني پت تر جنګ اته کاله وروسته، د مرهټو پېشوا پنځوس زره سپاره، ډېر پلي پوځ او یوه زبردسته توپخانه پر شمالي هندوستان باندي د برید له پاره برابر کړله. تر ټولو ومړی ئې پر راجپوتانه برید وکړ. له راجپوتو سردارانو څخه ئې لس لکه روپۍ نذرانه بود کړله، بیا د جاټ پر سیمه ورتوی سول. له هغو څخه ئې وعده واخیستله، چي پنځه شپېته لکه (۶۵۰۰۰۰۰) روپۍ به د نذرانې په توګه مرهټو ته ورکوي. په (۱۱۷۰ ع.) کال د مرهټو پوځونه پر تربېد ورغلل او د ګنګا و جمنا تر منځ دوآبه ئې ښه لوټ او لتاړ کړله او د پشکال تر شروع د مخه ئې پر ډهلي برید وکړ.

په (۱۱۸۲ھ. ق.) (= ۱۷۶۹ع.) کال بیا مرهټه پوځونه له دکن څخه مخ پر شمالي هندوستان راوخوځېدل، پر اګره ئې برید وکړ. په دغه وخت کي سکهان هم پورته سول او له سهارنپوره څخه تیولې تر اټاوې پوري سیمي ئې په داړو او قزقي حملو پرېشاني کړې. نجیب الدوله په دې وخت کي، چي له جنوبه څخه د مرهټو او له شماله څخه د سکهانو تعرض ورته متوجه و، له یوې کامیابي

---

(۵۴۳) وګ: حیات حافظ رحمت خان، ۱۳۴ مخ.

(۵۴۴) د (۱۷۶۸ع.) کال د مارچ په اته ویشتمه (= ۱۱۸۱ ھ. ق.) چي یو پرنګی په ډهلي کي د نجیب الدوله دربار ته ورغلی و، د ده د صحت په باب ئې کښلي دي: "د نجیب الدوله عمر که څه هم د شپېتو کالو په حدودو کي دئ، مګرد ناروغۍ او تکلیف په اغېزه، پر ملا کروپ سوی دئ".

پالیسي څخه کار واخیست. مرهټه او جاټان ئې په جنګ سره اخته کړل او ده فرصت وموند، چې د سکهانو ځبلو له لښکر ولېږدوي. په لومړي برید کي سکهانو داسي ماتې وکړه، چي بیائې ترشا ونه کتل(۵۴۵).

د (۱۱۸۳هـ. ق.) کال په او اسطو (= ۱۷۷۰ع) کال کي مرهټه سرداران "تکوجي هولکر(۵۴۶)" او "سیندهیا" له دکن څخه د جاټانو پر علاقه باندي د برید په نیامت راوخوځېدل او له نجیب الدوله څخه ئې هیله وکړه، چي زموږ د یوه دوست په حیث د جاټانو هغه علاقې، چي تا ته درځرمد دي، ونیسه.

نجیب الدوله د مرهټو دا هیله ومنله. جاټان ئې له دوآبې وایستل، د هغو پر ټولو کلاوو ئې قبضه وکړه او په دې توګه ئې مرهټه پخپل برید کي بریالي او خپل منت بار کړل.

پر نجیب الدوله باندي په دغو ورځو کي د مرګي خوږ برید وکړ، دی وپوهېد چي له دې حملې سره مي مقابله له وسه پوره نه ده، ځکه ئې نو د (۱۷۷۰ع.) کال د سپټمبر د میاشتي په ۲۷ مه ورځ له جاټانو سره روغه وکړه او ورپسې ئې د اکتوبر په اتمه ورځ د جاټانو او مرهټو ترمنځ هم د دواړو خواوو د سفیرانو په ذریعه سوله وکړه.

تر دغو صلحو وروسته ئې د خپل مشر زوی، ضابط خان د دوستۍ لاس د مرهټو د یوه سردار "تکوجي هولکر" په لاس کي ورکړ او په دې توګه ئې د دوی دواړو ترمنځ د دوستۍ او یو وبل د مرستي ترون قایم کړ.

تر دې ترون وروسته مرهټه دکن ته ستانه سول او نجیب الدوله له خپل مشر زوی ضابط خان سره نجیب آباد ته وخوځېد(۵۴۷).

د (۱۷۷۰ع.) کال د اکتوبر په ۳۱ مه ورځ (= د چهارشنبې په ورځ، ۱۱ د رجب، ۱۱۸۴هـ. ق.)، چي نجیب الدوله نجیب آباد ته د سفر په لاره کي د ډهلي د میرټهـ په سیمه کي "هاپوړ" نومي ځای ته ورسېد، د آخرت په ابدي سفر روان سو(۵۴۸).

---

(۵۴۵) پښتو مجله، د (۱۹۵۹ع) کال ۲ ګڼه، ۱۳۰ مخ.

(۵۴۶) تکوجي هولکر د ملهار راو هولکر (۱۱۷۹ هـ. ق. مړ) زوی و، (اخبار الصنادید، ۴۴۶/۱ مخ). مګر د تاریخ هندوستان د ۹ ټوک په ۳۱۹ مخ کي توکاجي د ملهار راو هولکر د پوځ سردار بلل سوی دئ او د عماد السعادت په ۵۷ مخ کي د ملهار راو هولکر وراره بلل سوی دئ.

(۵۴۷) د "Fall of the Maghul Empire" دوهم ټوک، ۴۱۴ مخ.

(۵۴۸) نجیب الدوله (غالباً) د (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال په وروستیو کي د ناجوړۍ او زړتیا له امله د ډهلي د پاچهۍ امیر الامرائي خپل مشر زوی، ضابط خان ته ورپرېښووله او پخپله سکرتال ته ځني ولاړ، مګر په (۱۱۸۴ هـ. ق.) کال د مرهټو مشر د پاني پت د کسات کښلو له پاره "رام چندر ګڼېش" له پنځوس زره سپرو او شپږ سوه توپو سره پر ډهلي باندي د برید په غرض راولېږه. نجیب الدوله چي دا واورېدل، پوه سو چي د دې لښکرو مقابله د ضابط خان په وس نه ده پوره، په ناجوړه ځان له سکرتاله څخه ډهلي ته راغئ. په ډېر حکمت ئې د ډهلي پر ځای د مرهټو مخ اوده ته وګرزاوه. مګر مرهټه بېرېدل نه چي نجیب الدوله د شا له خوا برید پر وکړي، نو له ده څخه ئې قول واخیست، چي په دې لښکرکښي کي به د دوی مل کېږي. د نجیب الدوله که څه هم دا خوښه نه وه، خو مجبوراً ورسره مل سو. په لار کي ئې

د اخبار الصنادید مولف نجم الغني رامپوري د نجیب الدوله د مرګي رنځ لویه تبه (مرهکه
یللی دئ[۵۴۹]، مګر نجیب الدوله له ډېرو کلو راهیسي د استسقاء په ناروغي اخته و.
په هر صورت چي و، توریالی نجیب خان ومړ او مړی ئې د ضابط خان (مشر زوی) په وسیله
نجیب آباد ته ورساوه سو او هلته د دوندي خان برېخ د لور (چي د ده ماینه وه) څنګ ته، خاورو
سپارل سو او یوه عالیشانه ګنبده پر ودانه کړه سوه، چي تر اوسه پوري ئې آثار سته.
د سرکشي ضلع بجنور د ۱۰۴ مخ په حاشیه کي کښلي دي:
د نجیب آباد څخه یو نیم میل لیري د شرق خوا ته، د پتهر ګړ (نجف ګړ) په کلا کي د نجیب
وله او د ده د ورور جهانګیر خان[۵۵۰] زیارت سته.
د نجیب الدوله د مړیني نېټه په دې جمله کي ویلي سوې ده:
"ناظم ملک بقا".
۱۱۸۴هق
په پښتو ژبه کي کوم شاعر د ده د مرګ تاریخ داسي راوړی دئ:

د خـــانـــی د مـــلا تـیـر مات ســو
"هـی افســوس نـجـیـب خـان ولاړی"
۱۱۸۵ - ۱ = ۱۱۸۴هق

"سلې" ومره خو "سر" ئې مه مره دا متل دئ
یو ســفزی نجـیـب خان نه و د مـــرګي

"یوسفزی نجیب خان نه و د مرګي" (= ۱۲۲۴) - "سلې" (= ۱۰۰) + د سلې سر (س) (= ۶۰)
= ۱۱۸۴ ه. ق.) کال.
په دې رباعي کي ئې هم د مرګ تاریخ راوړل سوی دئ:

زمین را شـــیوهٔ شـیون بـــپا شـد   فلک را گــــریهٔ دندان نمــــا شد
بدان قدوســــیان دادند این رمـــز   "نجیب الدوله واصل با خدا شـد[۵۵۱]"

(حیات حافظ رحمت خان، ۱۵۰ مخ)

ناروغي زیاته سوه، ضابط خان ئې پر خپل ځای د مرهټو په لښکر کي پرېښوو او پخپله نجیب آباد ته وخوځېد او پر
لاري په هاپړ کي ومړ.
په حالات نواب نجیب الدوله (۷۲ مخ) کي د نجیب خان د مرګ ځای نجیب آباد او د مرګ کال (۱۱۸۵ ه. ق.) کښلی دئ.

[۵۴۹] وګ: اخبار الصنادید، ۱/ ۳۸۳ مخ.

[۵۵۰] جهانګیر خان د نجیب الدوله ورور نه دئ، د اکا لمسی ئې دئ، د منور خان زوی و، د بشارت خان لمسی، یا د
نجیب خان وراره و، د منیر خان زوی.

[۵۵۱] خو د "نجیب الدوله واصل با خدا شد" ابجدي ارزښت ۱۱۸۴ نه کېږي، بلکي ۱۱۸۰ څني جوړېږي، داسي:
نجیب (۶۵) + الدوله (۷۶) + واصل (۱۲۷) + با (۳) + خدا (۶۰۵) + شد (۳۰۴) = ۱۱۸۰

د ماثر الامراء د دریيم ټوک په ۸۶۷ مخ کې، چې د نجیب الدوله د مړګ کال (۱۱۸۵هـ.ق.)
ښوول سوی دئ، د تأمل وړ خبره ده.
حافظ رحمت خان بریخ د ده د پاتا له پاره نجیب آباد ته ورغی او ضابط خان ئې د نجیب الدوله
د جانشین په توګه، د ده پر ګدی کښېناوه.

د نجیب الدوله شخصیت:

د نجیب الدوله په باب د ده معاصر نور الدین حسین خان بهادر فخري کښلي دي:
"نجیب الدوله د ذاتي استعداد ښتن و، ډېر عقل او ښه بخت ئې درلود".
د سر جان سټرېچي په تاریخ کي، له ۲۸۸ څخه تر ۲۹۰ مخه پوري کښلي دي:
"مِل" پخپل تاریخ کي د نجیب الدوله په باب کښلي دي:
"نجیب الدوله د هندوستانیانو او پرنګیانو زړو ته دا اچولې وه، چې دی د یوه اعلی
شخصیت ښتن مېړه دئ".
"زما په خیال همدغه پښتون وزیر، چې پر وزارت سربېره ئې په دوآبه کي یوه لویه سیمه هم
خپله کړې وه، په دغه زمانه کي په درست شمالي هندوستان کي، تر ټولو د نامه ښتن پښتون و او
له واقعاتو څخه ثابتېږي، چې د ده شخصیت د قدر او احترام وړ دئ".
د مغلي پاچهی د زوال په تاریخ کي مسټر کین کښلي دي:
"د پاني پت تر جنګ وروسته، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه کندهار ته ستونېدئ، پاچهي ئې
د مغلي شهزاده جوان بخت پر نامه کړله او د ډهلي د پاچهی ټول انتظام او اداره ئې امیر الامراء
نجیب الدوله ته وسپارله او په دغه وخت کي تر دې ښه انتخاب ممکن نه و. جوان بخت هوښیار
سړی و او امیر الامراء داسي سړی و، چې په هوښیاري او ایمانداري کي ئې ساری نه درلود. ده د
پاچهی انتظام په ډېره ښه توګه وکړ، مرهټه ئې له دوآبې وایستل او ....
پر موږ فرض ده، چې د دغسي ایماندار او ښه سړي په باب خپله رأیه ولیکو: د ده لیاقت او
زړه ورتیا د ده له اجرأاتو څخه ښکاره ده. د مغلي پاچهی بخت به ویښ وای، که د ده پر مېنه د ده
په شان قابل اولاد پاته وای. د نجیب الدوله شخصیت د هندوستان تر ټولو امیرانو لوړ و. ټینګ
عزم، پاک زړه او دایمي استقلال ئې درلود".
د نجیب الدوله د عالي شخصیت په باب د هندوستان د تاریخ مولف، شمس العلماء مولانا
ذکاء الله خان (۱۸۳۰–۱۹۱۰ع) لیکلي دي:
"لازمه نه ده، چې موږ د دې شریف او نجیب وزیر د صفتو اشتهار د قلم په ژبه وکاندو، د ده
کارنامې پخپله دا شاهدي لي.
ده د پنځوسو سپرو له سرداری څخه د خپلي توري او مېړاني په برکت د دومره لویه رتبه وګټله،
د خپلي نیک نیتی او ښو اخلاقو په برکت ئې د خپلي بې علمی عیب پټ کړ، د پاچهی د ماشین

رزي، چي زنګ وهلي او ځای پر ځای ولاړي وي، ده د خپلي پوهي او مهرباني په زور سره بيرته په کار واچولې[552].

په (۱۷۶۵ع) کال نجيب الدوله امير الامراء ټاکلی سوی و، په دغه وخت کي د دې کار له پاره ر نجيب الدوله غوره سړی واقعاً نه و.

نجيب الدوله دومره هوښيار سړی و، چي ساری ئې لږ مونده کېږي. په دغه وخت کي امانت و ايمانداري پر ختمه وه"[553].

کپتان فرنکلن ليکلي دي:

"نجيب الدوله په سياست کي يو لايق سياستمدار، په جنګ کي يو زړه ور سپاهي او په مجلس کي يو خليق انسان و. د ډهلي خلکو (دی) تر هر چا خوښاوه".

په داستان ترکتازان هند (۳۲۵/۴ مخ) کي ليکلي دي:

"نجيب الدوله بپاکي نهاد و نيکی رفتار نامور بود".

د اوده نواب شجاع الدوله ترکمن په يوه خط کي، چي د (۱۷۷۰ع) کال د نومبر په څلېرويشتمه ئې د ايسټ انډيا کمپنۍ د انګرېزي ګورنر پر نامه ليکلی دئ، کښلي دي:

"نجيب الدوله چي يو هوښيار، دوراندېشه او مستقل مزاجه سردار و، مړ سو، او س د شاهي کورنۍ او د شاه عالم د پاچهۍ دښمن، غازي الدين هلته تيار ناست دئ، چي ......"[554].

د بنګال پريزيډنټ مسټر فانسي ټارټ د نجيب الدوله په ژوند، د نجيب الدوله په باب ويلي و:

"په ټول هندوستان کي نجيب الدوله يو داسي سړی دئ، چي د برم او اهليت مجموعه ئې بايد وبولو"[555].

اختر الاسلام د آجکل مجلې د (۱۹۷۱ع) کال د ډسمبر ګڼې په ۳۰ مخ کي د يوه پخواني بياض په حواله، چي د ميرټهـ په کومه کتابخانه کي ده ليدلی دئ، کښلي دي:

"په (۱۷۷۲ع) کال چي دوهم شاه عالم مغل د بنګال او اله آباد له دربدريو څخه خلاص سو او ډهلي ته راغی، د ده تر راتګ د مخه له ډېره وخته د ډهلي او د هغه د شاوخوا انتظام د بجنور د والي نجيب الدوله بهادر په لاس کي و او په خورا خوش اسلوبي او اهليت ئې دا کار تر سره کړی و".

د "Fall of the Maghul Empire" مولف جادو ناتهـ سرکار ليکلي دي:

"په نجيب الدوله کي د يوه ممتاز جرنيل، مدبر سياستمدار او ځيرک منتظم صلاحيتونه راغونډ سوي وو.

---

[552] تاريخ هندوستان، ۳۱۹/۹ مخ.

[553] تاريخ هندوستان، ۳۱۵/۹ مخ.

[554] فهرست مکتوبات فارسي، ۱۲۸/۳ مخ.

[555] مادهوجي سيندهيا، ۴۵ مخ.

د تاریخ لیکونکي په دې کي حیران دي، چي د ده د کوم کار ستاینه وکړي، د جنګ په میدان کي د هغه د توریالي توب او صحیح قیادت تعریف وکړي، که په تنګسو او مصیبتو کي د هغه د استقلال، پخه اراده، او صائبه رأیه وستایي او که د ده د هغه خدای ﷻ ورکړي صلاحیت نمائنه وکړي، چي زیاتره وران حالات به ئې پخپله ګټه تماموله سوای"(۵۵۶).

د نجیب الدوله د شخصیت په باب د سرکشي ضلع بجنور په تعلیقاتو (۳۲۸ مخ) کي لیکلي دي(۵۵۷):

"نجیب الدوله یقیناً چي رسمي تعلیم نه و کړی، خو په ده کي ټول هغه صفات او ښېګڼې موجودي وې، چي د ډېر زیار او زحمت، دیانتدارۍ او تجربې له برکته حاصلېږي، د هغه عسکري پوهه انتها ته رسېدلې وه. د دښمن په مکر و فریب او سازش او د هغو په دفع کولو کي ئې ډېر ښه مهارت درلود. په سختو او کړکېچنو حالاتو کي ئې تېز، دقیق او پاخه فکر ډېر ره ښه لار غوره کولای سوای. په مستقل مزاجۍ، پر ځان باور او سیاسي بصیرت کي ئې هیڅ کمی نه درلود. له خپل قوم سره ئې خواخوږي درلوده، پر مذهب ډېر ټینګ سړی و. ده د مغلي سلطنت او پاچهۍ د ژغورني، ساتني او پایښت له پاره هر هغه څه وکړل، چي سلجوقیانو د بني عباس د خلفاوو د اقتدار د ټینګولو له پاره کړي وو".

په سیر المتاخرین (۹۲۷/۳ مخ) کي کښلي دي:

"نجیب الدوله هوښیار سړی و، د مشرتوب لیاقت ئې درلود او د لاورۍ بیرغ ئې هم پورته کړی و".

جادوناتهـ سرکار د "Fall of Maghul Empire" د دوهم ټوک په ۴۱۵ مخ کي کښلي دي:

"بېله احمدشاه ابدالي څخه په نورو امیرانو او سیاسي شخصیتونو کي د نجیب الدوله ساری نه و".

مسټر واسلټ په یوه خط کي، چي د (۱۷۶۸ع.) کال د مارچ په ۲۸ مه ئې ډاکټر کټرول ته لیکلی دئ، کښلي دي:

"په ټول هندوستان کي نجیب الدوله هغه څوک دئ، چي لوړ او لوی سړی ئې باید وبولو، د پنځوسو سپرو له جماعدارۍ څخه ئې ځان دغي رتبې ته د خپل بې ساري شجاعت، ایمانداری، ذهانت او استقلال په برکت رارسولی دئ. ګرده خلک د ده عزت کوي، انتظامي اهلیت ئې خورا زیات دئ، پر انصاف مین دئ".

دغه مسټر واسلټ په یوه بل لیک کي، چي د (۱۷۶۹ع.) کال د ډسمبر په میاشت کي ئې ډاکټر کټرول ته کښلی دئ، لیکلي دي:

---

(۵۵۶) د "Fall of the Maghul Empire" دوهم ټوک، ۴۱۶ مخ.

(۵۵۷) د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه په خپله لاسکښلې نسخه کي یوازي دغه ماخذ ذکر سوی و او ځای سپین ورته پاته و: بشپړونه ئې د علامه رشاد اکاډیمۍ له خوا ترسره سوېده.

"نجیب الدوله اوس د خپل انتظام او فعالیت ثمره اخلي، د ملک کرهنې ته زیات متوجه دئ، د خپلو رعیتو امن او خوشالئ غواړي. نه پخپله د امن ورانئ کوي او نه نور دې ته نشویقوي....".

د نجیب الدوله علم پالنه:

په تذکرهٔ شاه ولي الله دهلوي کې لیکلي دي:

"نواب نجیب الدوله یوه مدرسه جوړه کړې وه، چې په هغه کې شاه ولي اللهي تعلیم کېدئ. د ډهلي د مدرسهٔ رحیمیه اصول او قواعد ئې اساس وو[۵۵۸]".

د حضرت شاه ولي الله ډهلوي رحمة الله علیه زوی شاه عبد العزیز رحمة الله علیه، چې په محدث دهلوي سره شهرت لري، د ده په باب لیکلي دي:

"د نجیب الدوله له خزانې څخه نهو سوو ملایانو تنخواوي خوړلې، د دغو تنخواوو لوړه درجه پنځه سوه روپئ او کښته درجه پنځه روپئ وې"[۵۵۹].

پیام شاهجهانپوري په خپله مقاله کې لیکلي دي:

"نجیب الدوله پر مذهبي رسومو ټینګ پښتون و، د عالمانو ئې ډېر قدر کاوه، په دربار کې به ئې تل علما او فضلا راغونډ وو. ده یوه مدرسه هم په نجیب آباد کې جوړه کړې وه. نجیب الدوله د خپل وخت له مشهور او رباني عالم حضرت شاه ولي الله محدث دهلوي رحمة الله علیه (۱۱۷۶ هـ. ق. مړ) سره زیاته مینه درلوده او هغه هم د "رئیس الغزاة" او "امیر المجاهدین" په نومونو یاداوه"[۵۶۰].

ابو الحسنات ندوي د "هندوستان کی اسلامی درسگاهین" په ۳۶ مخ کې لیکلي دي:

دارا نګر د امروهې په شاوخوا کې یو مشهور ښار دئ، دلته نجیب الدوله یوه مدرسه جوړه کړې وه.

نجیب خان په خپل جاګیر دارانګر کې یوه مدرسه جوړه کړله او د فرنګي محل علماء ئې د تدریس له پاره مقرر کړي وو[۵۶۱].

د سرکشی ضلع بجنور مقدمه لیکونکی، شرافت حسین میرزا هم د بجنور په دارانګر کې د نجیب الدوله د مدرسې څرک ښیي.

د مجموعهٔ نغز د مولف حکیم قدرت الله قاسم (۱۲۴۶ هـ. ق. مړ) د مور پلار د نجیب الدوله سره نوکر و. د طالب العلمئ په زمانه کې، چې میر قدرت الله په ډهلي کې ژوند کاوه، د ژوند

---

[۵۵۸] د شاه ولي الله سیاسي مکتوبات، ۲۰۷ مخ.

[۵۵۹] ملفوظات شاه عبد العزیز، ۸۱ مخ.

[۵۶۰] پښتو مجله، د (۱۹۵۹ ع.) کال څلرمه ګڼه، ۱۳۳ مخ.

[۵۶۱] سرکشی ضلع بجنور، ۳۲۵ مخ.

ضروریات ئې دغه نیکه وربرابرول. ده د نجیب الدوله په ستاینه کي ویلي دي:

نجیب زمان تھا و خان زمان — کہ تھی دولت و جاہ کی اس کی شان
وہ تھا دیندار اس قدر ای عزیز — کہ عہد اس کی ھیں با ہزاران تمیز
ہوے لاکھ حافظ جی با وقار — ہزاروں میں فاضل ہوے نامدار

یہ قاسم بھی میاں اسکے ھی جود سے
ھوا ھے کچھ آگاہ سُد بود سے

(مجموعۂ نغز، مقدمه، کط مخ)

د معارف مجلې د (۱۹۶۸ع.) کال د می د میاشتي په ګڼه (۳۳۲) مخ کي کښلي دي:
نواب نجیب الدوله نجیب خان د میرزا مظهر جان جانان خانقاه ته ورتلئ، یوه ورځ چي ورغی، د میرزا یو هندو عقیدتمند هلته ناست و، د نواب سړیو هغه ولاړ کړ او دا خبره پر میرزا بده پرېوتله، نجیب الدوله چي پوه سو، دستي ئې هغه هندو راوباله او بخښنه ئې ځني وغوښتله.

د نجیب الدوله په باب لیکل سوي کتابونه:

۱. سرګذشت نواب نجیب الدوله: د "نسب افاغنه" مولف محمد عبد السلام خان عمرخېل د نجیب الدوله په نامه یو مستقل کتاب کښلی دئ. دا کتاب "سرګذشت نواب نجیب الدوله" نومېږي او په اردو ژبه دئ. په دې کتاب کي د امیر الامراء نواب نجیب الدوله نجیب خان د ژوند او کورنۍ حالات بشپړ درج دي. دا کتاب په (۱۳۰۳ه. ق.) (= ۱۹۲۴ع.) کال په علي ګړه کي چاپ سوی دئ.

۲. احوال نجیب الدوله، علي محمد خان و دوندي خان: د نواب نجیب الدوله منشي "بهاري لال" د "بدري داس" زوی د نواب نجیب الدوله، علي محمد خان روهیله او دوندي خان برېښي په باب یو کتاب په پارسو ژبه لیکلی دئ، چي نوم ئې "احوال نجیب الدوله، علي محمد خان و دوندي خان" دئ. د دې کتاب صرف یوه قلمي نسخه د حیدر آباد دکن د نواب سالار جنګ په شخصي کتابتون کي سته. د دغه کتاب یو نقل د امرتسر د خالصه کالج په کتابتون کي هم خوندي دئ[۵۶۲].

۳. احوال نجیب الدوله: د نجیب الدوله معاصر لیکونکي سید نور الدین حسین خان فخري د "احوال نجیب الدوله" په نامه یو کتاب لیکلی دئ، چي یوه نسخه ئې په برټش موزیم کي سته. دا کتاب د عبد السلام خان عمرخېل له تعلیقاتو سره چاپ سوی دئ.

---

[۵۶۲] نوم ورکي مورخین، ۱۱۲ مخ.

انګرېزي ژباړه ئې بيا د "An Account of Najibuddawla" په نامه په (۱۹۵۲ع.) کال په علي ګړه کې چاپ سوې ده. ژباړونکی ئې عبد الرشيد (.M. A) دئ، چې د علي ګړه په پوهنتون کې د تاريخ د څانګې مشر و. دغه کتاب ۱۸۶ مخه دئ، په سر کې ئې د صاحبزاده عبد الوحيد خان رامپوري مقدمه هم پر سته. په پای کې اسماء الرجال هم لري. د "An Account of Najibuddawla" مقدمه "Grant Duff" ليکلې ده.

۴. داور نامه: "داور نامه" ميترا سين کايستهه ليکلې او د نجيب الدوله د کورنۍ حالات ئې پکښې څېړلي دي. د سرګذشت نواب نجيب الدوله په ۱۶ مخ کې د دغه کتاب نوم "دورنامه" کښلی دئ او مولف ئې پنډت شمبوناتهه کايستهه بريلوي بلل سوی دئ.

۵. تاريخ نجيب آباد: "تاريخ نجيب آباد" د نواب سعيد الله خان تاليف دئ. په (۱۳۲۳ه. ق.) کال کښل سوی دئ. په دغه کتاب کې د نجيب آباد پوره حالات بيان سوي دي. قلمي نسخه ئې د علي ګړه پوهنتون د کتابخانې په ۲۱۰/۷۶ لمبر خوندي ده.

۶. تاريخ نجيب آباد: د الزبير په ۳۲۹ مخ کې کښلي دي، چې تاريخ نجيب آباد د مولانا اکبرشاه يوسفزي د نجيب آباد د اوسېدونکي تاليف دئ. په (۱۹۱۶ع) کال د عبرت نومي مياشتنۍ مجلې په څلورو ګڼو کې (له فبروري څخه تر مي پوري) خپور سوی دئ.

۷. انشاء مهدي: "انشاء مهدي" د روهيلکهنډ د يوه مشهور عالم حاجی محمد مهدي خان اثر دئ. د نجيب الدوله په باب ئې ډېري مدحيه قصيدې ويلي دي[۵۶۳].

۸. نجيب الدوله: د "نجيب الدوله" تر عنوان لاندې پيام شاهجهانپوري يو مضمون ليکلی دئ او سيف الرحمان سيد پښتو کړی دئ او د پېښور په پښتو مجله کې د (۱۹۵۹ع.) کال په وروستۍ ګڼه کې خپور سوی دئ.

۹. د نجيب الدوله او شاه ولي الله محدث دهلويرحمة الله عليه مکاتبه: په شاه ولي الله کې سياسي مکتوبات کې د نجيب الدوله په نامه د شاه ولي الله (۷) خطونه درج دي، په دغو خطو کې شاه صاحبرحمة الله عليه نجيب الدوله ته د "رئيس الغزاة"، "امير المجاهدين"، "رئيس المجاهدين"، "امير الغزاة"، "منبع الحسنات" او "امير الامراء بهادر" القاب استعمال کړي دي.

۱۰. نجيب التواريخ: د الزبير په ۳۲۸ مخ کې کښلي دي، چې نجيب التواريخ د عبد الهادي خان د زوی ميرزا نصير الدين برلاس (۱۹۰۹ع. مړ) اثر دئ. يوه قلمي نسخه ئې، چې په (۱۳۱۳ه. ق.) کال کښلې ده، د کراچي د پروفيسر محمد ايوب قادري په کتابتون کې

---

(۵۶۳) سرکشي ضلع بجنور، ۳۲۸ مخ.

ستة. يوه قلمي نسخه ئې د حبيب گنج په کتابتون کي وه[٥٦٤]. بله نسخه ئې له سيد الطاف علي بريلوي څخه وه[٥٦٥]. يوه نسخه ئې د مولانا حبيب الرحمان خان شرواني په کتابخانه کي وه[٥٦٦].

۱۱. نجيب الدوله اور جنگ پاني پت:

۱۲. نظام العقايد: د قصر عارفان په ۲۱۱ مخ کي کښلي دي: مولوي محمد برکت الله نجيب آبادي (۱۱۲۵هـ. ق. زوکړی) (د حضرت قطب العالم اجودهني لمسی) د نجيب الدوله د لښکر مقتدا د وخت له نامتو فاضلانو او درنو صالحانو څخه و. ده د نجيب الدوله په غوښتنه، په پارسي ژبه "نظام العقايد" وکيښ.

۱۳. د نجيب الدوله په باب د صاحبزاده حميد الله مضمون د اولس مجلې د (۱۹۷۵ع.) کال په ... گڼه کي خپور سوی دئ.

۱۴. د نجيب الدوله د کورنۍ يوه لويه شجره، چي د ځينو عمرخېلو په باب لنډ معلومات هم پکښي سته، د (۱۹۴۸ع.) کال د جنوري په لومړۍ ورځ عزيز احمد خان نگينوي خپره کړېده.

د نجيب الدوله ودانۍ:

د نجيب الدوله په مشهورو ودانيو کي يو ښار دئ، چي په "نجيب آباد" مشهور او بجنور ته نژدې واقع دئ. سربېره پر دې "ذکاء الله خان" دوې نوري کلاوي هم د ودانولو له حيثه ده ته منسوبي کړي دي، چي يوه ئې پتهرگړه او بله ئې سکرتال ده. دی د تاريخ هندوستان د نهم ټوک په ۳۲۱ مخ کي دا هم زياتوي، چي دا کلاوي د گنگا سيند پر دواړو غاړو واقع دي.

د مغربي او شمالي سيمو په گزيټر کي د نجيب آباد د بنسټ ايښوولو او د پتهرگړه د ودانۍ کال د (۱۷۵۵ع.) کال ښاوخوا ښوول سوی دئ.

د نجيب آباد ښار د موقعيت په باب نور الدين حسين خان کښلي دي:

له سکرتاله څخه شل کروهه ليري، د گنگا پر هغه غاړه د پخوانو راجاگانو يو زوړ کلی و، چي شان پور نومېد او د غره له لمني څخه ئې لس کروهه فاصله درلوده. په دغه ځای کي نجيب الدوله کورونه، مسجد او مدرسه جوړه کړله، د لښکرو منصبدارانو او خپلوانو ئې هم هلته کورونه ودان کړل او دغه ځای ئې نجيب آباد ونومه[٥٦٧].

---

[٥٦٤] مکاتيب سياسي شاه ولی الله، ۲۳۱ مخ.
[٥٦٥] عهد بنگښ، ۴۴۷ مخ
[٥٦٦] نوم ورکي مورخين، ۱۱۲ مخ.
[٥٦٧] وگ: احوال نجيب الدوله، ۱۳ مخ.

د عماد السعادت په ۷۳ مخ کي د سکرتال په باب کښلي دي:

نجيب خان د خپل قدرت په وخت کي دوې کلاوي د بدی ورځي له پاره جوړي کړې وې، يوه پتهرګړه نوميدله، چي هردوار ته نژدې وه. دغي کلا ته نژدې ئې يو ښار هم د نجيب آباد په نامه ودان کړی و، چي پاخه دکانونه او پراخ باغونه ئې درلوده او د هندوستان هر راز خوندوري ميوې په دغه ښار کي په هغونه پېخر پيدا کېږي، چي د هندوستان په نورو ښارو کي ئې ساری نسته. ارزاني ئې هم دغسي ده، د يوه فلوس بېدانه توت غښتلی سړی نسي خوړلای. دوهم سکرتال (Sukkartāl) دئ، چي د ګنګا او جمنا تر منځ واقع دئ او د پښتنو د ساتني له پاره يوه اوسپنينه کلا وه.

نجيب آباد ښار په ځينو ځايو کي "نجيب ګړه" هم ضبط دئ. د نجيب آباد او ډهلي (شاهجهان آباد) تر منځ د پنځو ورځو لار وه[٥٦٨]. نجيب آباد له سهارنپور څخه ۵۹ ميله او له مراد آباده څخه ۶۱ ميله ليري دئ[٥٦٩]. نور الدين حسين خان کښلي دي:

په (۱۱۷۶ ه. ق.) کال چي نجيب الدوله د نواب احمد خان بنګښ او شجاع الدوله تر منځ له روغي جوړي څخه فارغ سو، نجيب آباد ته ولاړ او د نوو باغو، کورو او ودانيو په آبادۍ مشغول سو. دا ښار ده پخوا ودان کړی و.

د سرګذشت نواب نجيب الدوله په ۱۱ مخ کي ليکلي دي:

د نجيب آباد د آبادۍ تيره په (۱۱۶۷ ه. ق.) کال ايښوو سوې ده او پتهرګړه په (۱۱۶۸ ه. ق.) کال جوړه کړه سوه، مګر د بجنور په ګزيټر کي کښلي دي، چي د نجيب آباد اساس او پتهرګړه وداني په (۱۷۵۵ع) (= ۱۱۶۹ ه. ق.) کال کي سوې ده.

د نجيب آباد په باب د سرکشي ضلع بجنور د ۱۰۴ مخ په حاشيه کي کښلي دي:

نجيب آباد ۲۹/۳۷ شمالي عرض البلد او ۷۸/۲۱ شرقي طول البلد، د بحر له سطحي څخه ۸۷۵(؟) فوټه لوړ، له بجنوره څخه شمال مشرق خوا ته ۲۱ ميله ليري واقع دئ. نجيب الدوله په (۱۷۵۲ع) (= ۱۱۶۶ ه. ق.) کال د مالن ندي پر غاړه ودان کړ. دلته د نجيب الدوله او د ده دورور(؟) جهانګير شاه (خان) هديرې ځرګندي دي.

پتهرګړه کلا په (۱۷۵۵ع.) (= ۱۱۶۹ ه. ق.) کال نجيب الدوله د نجيب آباد ختيځ ته، يو نيم ميل ليري ودانه کړله.

نجيب آباد له مراد آباده څخه تقريباً ۸۵ ميله شمال غرب ته پروت دئ. په نجيب آباد کي د نجيب الدوله د نغاره خانې کنډوالې تر اوسه سته. د نواب معين الدين خان باغ او د ده د وراره جلال الدين خان ودان کړي ځايونه تر اوسه معلوم دي.

---

[٥٦٨] وګ: احوال نجيب الدوله، ۴۸ مخ.

[٥٦٩] وګ: واقعات دهلي، ۶۶۸/۱ مخ.

د نواب معین الدین خان په باغ کي یوه ماڼۍ هم سته، چي مبارک بنیاد نومېږي. د نواب ټولې د باره دري، ځني مسجدونه او عمارتونه د خپل وخت د معمارۍ ښې نمونې دي. په (۱۷۷۲ع.) کال دغه ښار مرهټو کفارو کنډواله کړ.

نواب معین الدین خان په (۱۸۰۱ع.) کال نجیب آباد د خپلې استوګې له پاره وټاکه. نواب محمود خان غازي د دغه معین الدین خان زوی و. انګرېزانو چي تر (۱۸۵۷ع.) کال وروسته دغه ښار ونیوه، د نواب محمود خان غازي کورنۍ له مځکي سره برابر کړ.

نجیب آباد چي انګرېزانو په (۱۸۵۸ع.) کال بیرته ونیوه، دغه ښار ئې لوټ کړ او ورئې وروا چاوه. په دغه ښار کي د توپو جوړولو کارخانه هم وه[۵۷۰].

نجیب آباد ښار اوس د بجنور په حکومتۍ پوري اړه لري.

د نجیب الدوله کورنۍ په ځلورو ځایو کي مېشته وه:

۱. افضل خان و امان خان د فاضل خان زامن، چي د نجیب الدوله د اکا زامن کېدل، په افضل ګړه کي اوسېدل او هلته ئې جاګیر درلود. د افضل خان د کورنۍ یو سړی، شفاعت خان و، چي د ګلشن همیشه بهار په ۲۰۷ مخ کی ئې سوانح سته[۵۷۱].

۲. سلطان خان او منیر خان د نجیب الدوله وروڼه په نجیب آباد کي اوسېدل.

۳. امیر خان د نجیب الدوله ورور، په بشارت نګر کي و.

۴. باز خان د الف خان زوی، چي د نجیب الدوله خوریی کېدئ، په بسي کوټله کی اوسېدل او هلته ئې جاګیر و. د غلام قادر خان په وختو کي دغه څانګه هم نجیب آباد ته راغله[۵۷۲].

---

[۵۷۰] وګ: سرکشي ضلع بجنور، ۲۹۷ مخ.

[۵۷۱] وګ: پښتانه شعراء په اردو ژبه کي (د علامه رشاد ناچاپه اثر)، ۳۸۵ مخ.

[۵۷۲] وګ: سرګذشت نواب نجیب الدوله، ۱۳ مخ.

د نجیب الدوله ورونه:

نجیب الدوله درې ورونه درلوده، چې یو ئې سلطان خان، بل ئې امیر خان او بل ئې منیر خان نومېد[۵۷۳]. مګر په حیات حافظ رحمت خان کې ئې د دوو ورونو نومونه نسته[۵۷۴] او د هغو پر ځای افضل خان د نجیب الدوله ورور ښوول سوی دئ. د حالات نجیب الدوله په ۳۸ او ۵۸ مخو کې هم د نجیب خان ورور بلل سوی دئ، خو نور الدین حسین خان فخري د احوال نجیب الدوله د کتاب مولف، افضل خان د نجیب الدوله د تره (اکا) زوی ښوولی دئ[۵۷۵] او د سرګذشت نواب نجیب الدوله د کتاب مولف، عبد السلام خان عمرخېل، چې د نجیب الدوله د کورنۍ غړی دئ هم په شجرة النسب کې افضل خان د فاضل خان زوی او د هغه ملک عنایت خان لمسی ښوولی دئ، چې د نجیب الدوله نیکه کېدئ[۵۷۶].

په (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال چې د ډهلي د پاچا زوی، شهزاده عالي ګوهر (چې بیا دوهم شاه عالم سو) سهارنپور ته نجیب الدوله لره پناه وروړه، سلطان خان او افضل خان ئې استقبال وکړ[۵۷۷]. سلطان خان په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د نجیب الدوله یو خط لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته وروړی و[۵۷۸] او په (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال ئې د پاني پت په جنګ کې هم ګډون درلود.

په (۱۱۷۸ هـ. ق.) سلطان خان او افضل خان د نجیب الدوله د مشر زوی، ضابط خان په ګډون د سورج مل جاټ مقابلې ته، له ډهلي څخه پوځ وخوځاوه. افضل خان د نجیب الدوله تر مرګ وروسته هم ژوندی و[۵۷۹] او افضل ګړه د ده له آبادیو څخه دئ[۵۸۰]. افضل خان د (۱۲۰۱ هـ.ق.) کال د شوال تر ۱۲ تاریخ پورې ژوندی و. په دغه تاریخ د فارسي اخبارات و مراسلات په ۷۶ لمبر اخبار کې کښلي سوي دي:

د افضل خان د لښکر دوه سوه تنه د راجا جی نګر خوا ته ور واوښتل او د هغه مله سول. د میانی په میاشت کې افضل خان او شجاعت خان روهیله، په ډهلي کې د دوهم شاه عالم دربار ته ورغلل.

---

(۵۷۳) وګ: په سرګذشت نواب نجیب الدوله کې د ۱۲ مخ شجرة النسب او تواریخ خورشید جهان، ۱۷۹ مخ.

(۵۷۴) وګ: د حیات حافظ رحمت خان ۱۷۴ مخ، خورشید جهان، ۱۸۸ مخ.

(۵۷۵) وګ: احوال نجیب الدوله، دوهمه برخه ۶۶ مخ.


(۵۷۶) وګ: په سرګذشت نواب نجیب الدوله کې د ۱۲ مخ شجرة النسب او تواریخ خورشید جهان، ۱۷۹ مخ.

(۵۷۷) وګ: شاه عالم نامه، ۶۱ مخ.

(۵۷۸) وګ: د "Ahmad Shah Durrani" ۱۵۱ مخ.

(۵۷۹) وګ: حیات حافظ رحمت خان

(۵۸۰) وګ: سرګذشت نواب نجیب الدوله، ۱۳ مخ. افضل ګړه د نجیب آباد په جنوب او د امروهې او چاندپور په شمال کې واقع دئ.



یادابنت: عجبه خو دا ده، چي الله بخش یوسفي چي د یوسفزي پټهان
په ۶۱۶ مخ کي د نجیب الدوله کومه شجرة النسب خپره کړېده، په هغه
کې ئې د نجیب الدوله د پلار نوم الله یار راوړی دئ او یو ورور ئې د

نواب ضابط خان
(د بشارت خان عمرخېل له لوره. په ۱۱۹۹ هـ کې مړ او په قطب صاحب کې ښخ)

مجيب خان
(ملو خان مجيب الدوله)

← (دغه دوه ورونه د نواب دوندي خان بړيڅ له لوره څخه دي.) →

عجيب خان
(كلو خان عجيب الدوله)

د مجيب خان اولاد:

- حيدر علي خان
- نواب شجاعت علي خان
  (دغه شجاعت علي خان ديوان بيګي د شاه فتح جنګ سدوزي ملګرى وو، بالاحصار كابل، دوهم ټوک. له دغه شجاعت علي خان څخه د نواب نصر الله خان بن نواب عبد الله خان بن نواب علي محمد خان روهيله لور وه، چي "ولي النسا بيګمه" نومېدله، سرګذشت نواب نجيب الدوله، ۱۲ مخ)
- نظام علي خان
  (ملو خان مجيب الدوله)
  - قاسم علي خان
    - جيوڼ علي خان
      (اولاد ئې نسو پاته)

د عجيب خان اولاد:

- غلام علي خان
  - فيض الله خان
    - عباسعلي خان
- حسن علي خان
  - ثابت علي خان
    - عنايت علي خان
    - مهدي علي خان
    - ....
- محمد خان
  - احمد عليخان
    - ولايت علي خان

د نواب ضابط خان اولاد:

- نواب غلام قادر خان روهيله
  (د مغلي پاچا شاه عالم ړندوونكى. د نواب علي محمد خان روهيله له لوره "معصومه بيګمي" څخه، د دغه لور ئې هم وه، اولاد ئې نسو پاته. د باز خان لور د الف خان عمرخېل لمسى "روشن آرا" ور څخه د دخېل اخښي وه، د خپل زوى، سعد الله خان ئې متبنّى وو او خپله وريره د معين الدين خان لور "فيض بيګمه" ئې ورکړې وه)
- نواب حسن خان
  (پښتانه مشاهير، ۱۴۸/۳ مخ)
  - نواب محمود علي خان
- نواب معين الدين خان
  (د باز خان يوسفزي له لوره څخه، چي په ۱۱۸۴ هـ ق كال ئې غوبښتي وه، حالات نجيب الدوله، ۶۶ مخ. نواب معين الدين خان په بهنبو خان مشهور وو. د قاموس المشاهير په ۴۲/۲ مخ كي كښلي دي، چي بمبو خان د انګرېزانو مرسته وکړله، ځکه نو هغو د مياشتي پنځه زره روپۍ تنخواه ورمقرره کړله او د يوسفزي افغان په ۶۱۴ مخ کي كښلي دي، چي د پنځه زره روپو د حاصل مځکه ئې ورکړه)

د نواب معين الدين خان اولاد:

- نواب جلال الدين خان
  (د د خطاب وو: رفيع الدوله، حافظ الملک، نواب محمد جلال الدين خان بهادر مظفر جنګ)
- نواب محمد محمود خان
  (د ۱۸۵۷ ع كال د اغتشاش په نسبت انګرېزانو په ميرټهـ جېل کي شهيد کړ. د نواب معين الدين خان تر مرګ وروسته ئې محمود خان او جلال الدين خان ته د كاله زر زر روپۍ ورکولې، يوسفزي افغان، دريم چاپ، ۴۲۳ مخ)
  - غضنفر علي خان
    (ګجن خان – په ۱۳۴۲ هـ ق كال مړ)
  - معظم علي خان
    (مجن خان)
  - لور
    (په ۱۳۴۲ هـ ق كال مړه ده)
- سيده بيګم
  (د عظمت خان بن محب الله خان بن سلطان خان عمرخېل، چي د نجيب الدوله ورور وو، ماينه وه)
- فيض بيګم
  (د نواب سعد الله خان ماينه وه، سعد الله خان د محمد عبد السلام خان عمرخېل نيكه وو)

- جنرال عظيم الدين خان بهادر
- ميجر حميد الظفر خان

د نجیب الدوله مایني:

۱. د بشارت خان عمرخېل لور، چي د ضابط خان مور وه. په (۱۱۶۱هـ. ق.) کال ومړله.

۲. د نواب دوندي خان برېښي لور "دُربېگمه"، چي د ضابط خان د مور تر مرگ وروسته ئې وغوښتله. د دغي دُربېگمي خورځه "رضیه"، چي د نواب سعد الله خان روهیله لور وه، د نجیب الدوله له زوی کلو خان (عجیب خان) ښځه وه، مگر هلته ئې نوم "نظام بېگمه" لیکلی دئ، نه رضیه. د نجیب الدوله دغه دوهمه ماینه په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال مړه سوه[۵۸۱].

د نجیب الدوله زامن:

د نجیب الدوله دري زامن پاته سول، مشر ئې ضابط خان و، چي سوانح ئې په ۲۸۷ مخ کي سته. دوه نور ئې کلو خان او ملو خان نومېدل، چي د مور له خوا د دوندي خان برېښي لمسیان کېدل. د پلار تر مرگ وروسته ضابط خان دواړه بندیان کړل. کله چي حافظ رحمت خان برېښی د نجیب الدوله پاتا لره، نجیب آباد ته ورغی، ضابط خان دوی خوشي کړل.

د اخبار الصنادید د لومړي ټوک په ۳۵۸ مخ کي لیکلي دي، چي د کلو خان اصلي نوم عجیب الدوله یا علیم الدوله و. د دغه عجیب الدوله ښځه نظام بیگمه د نواب سعد الله خان روهیله لور، د نواب علي محمد خان روهیله لمسۍ وه، چي د ده د خاله لور کېدله، ولي چي دا هم د مور له خوا د نواب دوندي خان برېښي لمسۍ وه[۵۸۲]. د کلو خان واده د سعد الله خان روهیله له لور نظام بیگمي سره په (۱۱۸۱هـ. ق.) کال پېښ سوی دئ[۵۸۳]. په (۱۱۷۸هـ. ق.) کال د عجیب الدوله یو زوی وسو، چي غلام غوث نومېد او په کوچنیوالي مړ سو.

د ملو خان نوم په تواریخ خورشید جهان (۱۸۸ مخ) کی مجیب خان مجیب الدوله ضبط دئ. د درة الزمان په ۳۷۸ مخ کي، چي نواب ضابط خان، عجیب خان او نجیب خان (چي صحیح نوم ئې مجیب خان دئ) د نجیب الدوله لمسیان ښوول سوي دي، اشتباه سوېده.

او دا چي عزیز الدین وکیلي پوپلزي د درة الزمان په نومړي مخ کي د شجاعت علي خان په نامه یو سړی، چي د ده په قول ئې د شاه شجاع په دوهمه پاچهي کي، د دېوان بېگي وظیفه پر غاړه وه، د نجیب الدوله زوی ښوولی دئ، بې حقیقته خبره ده[۵۸۴] او په دغه نامه د نجیب الدوله نجیب خان (۱۱۲۰-۱۱۸۴هـ. ق.) په زامنو کي څوک نسته، بلکي د نجیب الدوله د زوی ملو خان (مجیب

---

[۵۸۱] وگ: احوال نجیب الدوله، ۵۶ مخ.

[۵۸۲] د نواب دوندي خان برېښ دغه لور "دُربیگمه" نومېدله.

[۵۸۳] وگ: احوال نجیب الدوله، ۶۶ مخ.

[۵۸۴] په واقعات شاه شجاع (۱۴۹ مخ) کي لیکلي دي: "شجاعت علی خان که در سرکار شاهی بمنصب دیوان بیگی سربلند و از باعث اجداد خود یعنی نواب نجیب الدوله وغیره در حضور شاه غفران پناه (شاه شجاع) ارجمند بود".

نجيب الدوله) د يوه زوی نوم شجاعت علي خان و[۵۸۵]. د نجيب الدوله لمسي شجاعت علي خان مجيب الدوله) د يوه زوی نوم شجاعت علي خان و. د نجيب الدوله لمسي شجاعت علي خان لور خانه ښځه د نواب علي محمد خان روهيله کړوسۍ، د عبد الله خان لمسۍ او د نصر الله خان لور وه[۵۸۶].

نواب ضابط خان

شرف الدوله، امير الامراء، نواب ضابط خان د امير الامراء نواب نجيب الدوله نجيب خان عمرخېل سدوزي مشر زوی و. مور ئې د بشارت خان عمرخېل لور وه، چي د نجيب الدوله ترله کېدله. د ضابط خان مور په (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال ومړله، دا ئې له مانېرۍ ښځه ورسره بېولې وه. دی د نواب علي محمد خان روهيله د مايني خوريي او زوم و. نواب ضابط خان د پاني پت په غزا کي هم ګډون درلود.

نواب ضابط خان په (۱۱۷۸ هـ. ق.) (= ۱۷۶۴ ع.) کال د پلار په امر، له دوو اکاګانو سره د سورج مل جاټ مقابلې ته ووت، مګر سوبه ئې په برخه نه سوله.

په (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه تر امبالې تېر سو او په اسماعيل آباد کي ئې واړول، نجيب الدوله او ضابط خان زوی ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف سول. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ضابط خان ته د سرهند حکومت ورکړ، ځکه چي په دغو ورځو کي سکهانو د نجيب الدوله پر جاګير بريد کړی و، نجيب الدوله د هغود ځبلو له پاره ولاړ او لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه سردار جان خان او ضابط خان هم په مرسته ورولېږل[۵۸۷].

د سير المتاخرين په ۸۹۶ مخ کي مولف د خپل پلار له خولې کښلي دي:

عماد الملک غازي الدين سهروردي، چي د دوهم عالمګير سره د لاهور او ملتان د نيولو په نيامت له ډهلي ښځه راووت او په باولي کي ئې واړول، راجا ناګرمل د سين داغ رساله وپاروله. عماد الملک له نجيب الدوله، ناګرمل او سيف الدين محمد خان کشميري سره ناست و، چي د سين داغ رسالې د منصبدارانو وکيلان ورغلل او د خپلي تنخا غوښتنه ئې ځني وکړله. وزير وويل: هغه چي موجود دي، هغو ته دي تنخا ورکړه سي او نجيب خان ته ئې وويل، ته ئې حاضري وګوره. نجيب خان خپل زوی ضابط خان دې کار ته وګماره، هغه هم په ميدان کي خېمه ووهله.

د سين داغ منصبدارانو، چي به سل تنه سپاهيان درلوده او د زرو تنخا به ئې اخيستل اوس

---

[۵۸۵] وګ: د تواريخ خورشيد جهان، ۱۸۹ مخ.

[۵۸۶] وګ: سرګذشت نواب نجيب الدوله

[۵۸۷] وګ: د "Ahmad Shah Durrani" ۳۱۶–۳۱۷ مخونه.

پوه سول، چي دروه ئې ښکاره کېږي او پر ضابط خان هم فشار نه سي راوستلای، چي ددوی د
پته کړي، ځکه ئې نو د وزیر پر خېمه هجوم راوړ او بلوا جوړه سوه. وزیر چي وروت، هغو ون
خپلي چوڼۍ ته ئې بندي بوت.

په (۱۱۸۴هـ. ق.) (= ۱۷۷۰ع.) کال چي نواب نجیب الدوله د جاټانو د ځپلو له پاره ل
وخوځاوه، ضابط خان ورسره مل و. د ناجوړۍ په ورځو کي نجیب الدوله د ده او ټکوجي هول
منځ د دوستۍ او یو و بل د مرستي تړون وکړ. په (۱۱۸۴هـ. ق.) کال چي نجیب الدوله په هاپو
مړ کېدئ، دی ورته حاضر و، د پلار مړی ئې نجیب آباد ته ورساوه او هلته ئې ښخ کړ.

د پلار تر مړیني وروسته ضابط خان د پلار پر ځای کښېناست او جاګیر او نوابي ئې خپله
دوه میرېزي وروڼه ئې، چي د بهرام جنګ نواب دوندي خان برېښي د لور زامن وو، بندیان کړل،
کله چي حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان برېښي د نجیب الدوله د پاتا له پاره نجیب آب
ورغی، ده نوموړي دوه وروڼه، چي د مور له خوا د حافظ الملک لمسیان کېدل[۵۸۸]، خوشي کړل
د جاګیر تر انتظام وروسته ضابط خان ډهلي ته ولاړ او د پلار په ډول ئې د ډهلي د پاچه
وزارت چاري پر خپله غاړه واخیستلې.

د امیر الامراء نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل په شرح حال کي به تاسي لوستي وي، چ
پاني پت تر سوبي وروسته د غازي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د دوهم عالم
زوی دوهم شاه عالم د ډهلي د پاچهۍ له پاره وټاکه سو، مګر نوموړی شاه عالم د خپل انتصاب
وخت کي، په ډهلي کي حاضر نه و او د بنګال په خوا کي ئې د ډهلي د تاج و تخت د حاصلول
تمه، کله د انګرېزانو او کله د مرهټو مرستي ته سترګي ډمارلي وې. د ډهلي د سلطنت دا تش
نامه پاچا د نجیب الدوله امیر الامراء تر مرګه پوري ډهلي ته سترګي ورښکاره نه کړلې، یا ور
نه ښوو سو، مګر کله چي د نجیب الدوله تر خوله ساه وختله، ډهلي ته د ورتګ له پاره د ده زیا
شروع سو. له یوې خوا ئې له مرهټو سره، د عاقبت محمود کشمیري په وسیله، د ډهلي د تا
تخت د حاصلولو په باب خبري شروع کړې او مرهټه ئې راضي کړل، چي د لسو لکو روپو په ب
ډهلي پاچهي د دوهم شاه عالم پر نامه کړي[۵۸۹] او له بلي خوا ئې د نواب علي محمد خان روهی
زوی نواب فیض الله خان روهیله په لاس، چي د ضابط خان اخښی و[۵۹۰]، ضابط خان ته پیغا
ولېږه، چي د ډهلي له مستقلي کالخوایۍ لاس واخله او پاچاهي کلنګ و منه.

د دوهم شاه عالم دا غوښتنه د ضابط خان له خوا و نه منله سوه، ځکه نو دوهم شاه عالم د مر
مشر "مهادوجي سیندهیا[۵۹۱]" خپلي مرستي ته راوباله. نوموړی له شلو زرو سپاهیانو سره ق

---

[۵۸۸] د حافظ الملک د توربره دوندي خان لور د دغو دوو وروڼو مور وه.

[۵۸۹] تنقیح الاخبار، ۵۵۱/۲ مخ.

[۵۹۰] د نواب فیض الله خان روهیله سکه خور "معصومه بیګمه" د نواب ضابط خان ماینه وه. غلام قادر روهیله د
ښځي زوی و.

[۵۹۱] دا نوم "مهاجي سیندهیا" هم لیدل سوی دئ او د ماذهوجي سیندهیا په شکل هم کښلی دئ.
(اخبار الصنادید، ۱۹۷/۱ مخ، سلطان التواریخ، ۱۵۸ مخ او سرګذشت نواب نجیب الدوله، ۱۲

آباد ته د دوهم شاه عالم په مرسته ورغی او په ګډه مخ پر ډهلي رهي سول.

په تنقيح الاخبار کي د دغه پوځ شمېر يو لک سپاره او په عماد السعادت کي اتيا زره سپاره ښوول سوي دي. په حديقة الاقاليم کي کښلي دي، چي يوازي له رام چندر ګنيش [۵۹۲] سره پنځوس زره سپاره او شپږ سوه توپونه وو. د ټکوجي هولکر په پوځ کي ۲۵ زره سپاره وو او د مادهوجي سينده‌يا پټېل سره لس زره سپاره وو، له مرهټې جرنيل بيساجي سره هم يو تکړه پوځ و، چي د ټولو لښکرو مشرتوب د رام چندر ګنيش پر غاړه و او په ټول لښکر کي د پيشوا په نامه يادېده.

په دغه وخت کي ضابط خان پخپل جاګير، نجيب آباد کي و سپاهيانو ئې، چي د مقابلې ښېچ نه ليد، ډهلي ئې بې جنګه مغولي پاچا ته خوشي کړ. د (۱۷۷۱ع.) [۵۹۳] کال د ډسمبر د مياشتي په پنځه ويشتمه ورځ (= ۱۱۸۶ هـ. ق. ثلرمه خور) دوهم شاه عالم په ډهلي ننووت او پر تخت کښېناست [۵۹۴]. مګر مغول پاچا او مرهټه په دې پوهېدل، تر څو چي ضابط خان ځبلی سوی نه وي، په ډهلي کي د دوی واک او اختيار نيمګړی او بې دوامه دئ، ځکه مرهټو او د ډهلي د دربار نوي امير الامراء نجف خان د ضابط خان په ځبلو او ورکولو پسي بډي راوغښتلې او په ډهلي کي تر لسو ورځو اوسېدلو وروسته ئې نابېره پر نجيب آباد باندي بريد وکړ.

په دې حمله کي د بهرتپور د راجا له خوا د اګرې نائب الحکومه جنرال شمرو فرانسوی [۵۹۵]، د مرهټو مشران ټکوجي هولکر او مادهوجي سينده‌يا او د مغلو لښکرو مشر نجف خان و. پخپله مغل پاچا دوهم شاه عالم هم په دې لښکرکښۍ کي ورسره و او تر نورو لښکرو به لس ميله وروسته تلئ. د مرهټو او مغولو لښکرو د لوني، باغپت او غوث ګړه له لاري ځان چاندپور ته ډېر ژر ورساوه او د ګنګا پر غربي غاړه ئې ورته واړول [۵۹۶].

د مادهوجي سينده‌يا د کتاب په ۴۷ مخ کي کښلي دي:

(دوهم) شاه عالم د ډهلي د ورنيولو په عوض کي د پونې له مرهټه دربار سره د لسو لکو روپو د کلنګ ورکولو وعده کړې وه.

د ميرټه په يوه کتابخانه کي يو قلمي جونګ سته، په هغه کي اختر الاسلام لوستي دي:

---

[۵۹۲] رام چندر ګنيش د مرهټو يو خورا باتور او تجربه کار جرنيل و. په (۱۱۹۶ هـ. ق.) کال په بسين نومي ځای کي د جنرال ګوډرډ سره په جنګ کي وواژه سو.

[۵۹۳] د تاريخ هند عهد برطانيه په ۹۳ مخ کي دغه سنه (۱۷۷۰ع.) ليکلې ده.

[۵۹۴] شايق ويلي دي:

زينت ده تاج و تخت شاه عالم	با دولت و بخت و کاميابي آمد
تاريخ ورود او ز هاتف جستم	گفتا که "ز شرق آفتابي آمد"

۱۱۸۶

[۵۹۵] وګ: آجکل مجله، د ۱۹۷۱ ع کال د ډسمبر ګڼه، ۳۰ مخ.

[۵۹۶] وګ: ميرزا مظهر جان جانان کے خطوط، ۲۴۹ مخ.

"نجیب الدوله چي ومړ، ضابط خان د پلار په شان د ډهلي انتظام کاوه، دوهم شاه عالم چي ډهلي ته راغی، د ده دا خیال و، چي وزارت به ما ته وسپاري، مګر شاه عالم دغه منصب یو ایراني النسله امیر نجف خان ته وسپاره. دا خبره پر ضابط خان درنه پرېوتله، یاغي سو[۵۹۷]".

د ضابط خان په باب د واقعات ډهلي په ۶۶۸ مخ کي کښلي دي:

د نجیب خان تر مرګ وروسته مرهټو پر ډهلي برید وکړ، ضابط خان د هغو د مقابلې تاب رانه وړ، سکرتال ته ځني ولاړ، مرهټو ډهلي ونیو او په انترېېد (د ګنګا او جمنا تر منځ دوآبه) کي ئې هم د پښتنو روهیلیو ملکونه خپل کړله، پاچائې راوغوښت.

ضابط خان بې تجربې ځوان و، ده له یوې خوا له ټکوجي هولکر سره د دوستۍ په تړون ویسا وکړه او د مرهټو له حملو څخه ئې ځان خوندي وګاڼه او له بلي خوا دې غلط فکر، چي د ډهلي پاچهي پاچا ونیوله، زه ئې په امیر الامرائۍ کار نه لرم، دی نو په ما څه غرض لري، غافل کړ.

غافل ضابط خان د مرهټو او نجف خان[۵۹۸] ناڅاپي برید لاس و پښه کړ، کورنۍ، خزانه او جبه خانه ئې له لښکرو او عسکرو سره، په یوه روایت په نجیب آباد[۵۹۹] کي او په بل روایت په پتهر ګړه کي پرېښووله او پخپله ئې له موجوده سپاهیانو سره د سکرتال[۶۰۰] سنګر ته، چي پلار ئې په (۱۱۷۲ هـ. ق.) کال جوړ کړی و، ځان ورساوه او هلته ئې سنګر ونیو. د یخ موسم و، په ګنګا کي اوبه نه وې، د ګنګا پر غربي غاړه د مغولو او مرهټو لښکرو اړولي وو او پر شرقي غاړه ئې پښتانه په اتلس میله محاذ کي پراته وو.

د مرهټو لښکري د (۱۷۷۲ع) کال د فبروري د میاشتي په درویشتمه ورځ تر لمر ختو دوه ساعته پخوا، د چاند ګهاټ پر ګدر باندي، چي تر هردوار ډېر کښته واقع دئ، ورپوري وتلې او

---

(۵۹۷) وګ: آجکل مجله، د ۱۹۷۱ ع کال د ډسمبر ګڼه، ۳۰ مخ.

(۵۹۸) نجف خان د ایران په اصفهان کي زېږېدلی و، نیکه ئې اغا نجف د وروستي صفوي پاچا شاه حسین (۱۱۰۵-۱۱۳۵ هـ. ق.) وزیر و. د نجف خان خور د صفدر جنګ له مشر ورور محمد محسن مباینه وه، هغه چي هندوستان ته راتلله، نجف خان ورسره راغی، چي لږ څه غټ سو، د اله آباد د حاکم محمد قلي خان سره نوکر سو، په ... کال چي محمد قلي خان د صفدر جنګ د زوی شجاع الدوله (۱۱۶۷-۱۱۸۸هـ. ق.) له لاسه ووژه سو، نجف خان بنګال ته وتښتېد، د نواب قاسم علي نوکر سو. د بکسر په میدان کي چي د انګرېزانو او شجاع الدوله تر منځ جنګ وسو، نجف خان د انګرېزانو پر خوا و. د اله آباد کلا ئې انګرېزانو ته ور ونیوله. له دغي ورځي څخه نجف خان د انګرېزانو په پېرزوینه، د شاهي ... په توګه وپېژانده سو.

په ... کال چي دوهم شاه عالم له اوده او بهار څخه مخ پر ډهلي راوخوځېد، دی له پاچا سره ډهلي ته راغی او میر بخشي مقرر سو. په ... کال د پاچا وکیل مطلق سو. د (۱۱۹۶ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور د میاشتي پر اتمه ومړ. نجف خان ډېر متعصب شیعه و، پر سُني مذهبه ملایانو ئې ډېر ظلمونه وکړل، ځکه ئې نو د پښتنو سره کلکه دښمني لرله او تر میربخشي کېدلو وروسته ئې د پښتنو د ځبلو له پاره ډېر زیار ویوست.

(۵۹۹) وګ: میرزا مظهر جان جانان کے خطوط، ۲۴۸ مخ.

(۶۰۰) د سکرتال د جنګ تاریخ ۲۳ فبروري (۱۷۷۲ع) کال دئ.

ناڅاپه برید ئې وکړ. پښتانه چې ناخبره وو، په لومړۍ حمله کې سره تیت و پرک سول، مګر ډېر ژر ئې بېرته انتظام سم سو او پر مرهټو ئې داسې جوابي حمله وکړله، چې مرهټه ئې ترشا کړل.

په دغه وخت کې نجف خان له خپلو درنو توپو او په ټوپکو مسلحو لښکرو سره، پر پښتنو برید وکړ. په دې حمله کې د پښتنو ډېر سرداران، چې د جنګ په لومړي صف کې واقع وو، شهیدان سول او پښتانه پوځونه ترشا سول.

سعادت خان اپرېدي په دې جنګ کې د رستم کارنامې پرېولې او فقط دی د څلورو سوو سپاهیانو سره په میدان کې د مغولو مقابلې ته پاته سو او د ترشا تګ پېغور ئې ونه مانه. د مرهټو او مغولو لس زره سپاهیان پر را وڅرخېدل، خونړۍ جنګ روان و، په دې ترڅ کې د سعادت خان اپرېدي آس زخمي سو او له درېدلو ولوېد. پخپله سعادت خان هم پر ورنو باندې څو ځایه ټپي سوی وو، مګر بیا ئې هم میدان نه پرېښوو، پر بل آس سپور سو او بیا ئې پر دښمنانو برید وکړ، مګر د ډېرو زخمو له لاسه غوزار سو او د ده له غوزارېدلو سره پاتو پښتنو سپاهیانو میدان پرېښوو او ضابط خان هم سکرتال ته ترشا سو، مګر هلته ئې هم ټیکه ونسوه او له هغه ځایه هم روان سو. مرهټو پوځونو سکرتال ونیو او پر پتهرګړه ئې برید وکړ. د پتهرګړه په کلا کې سلطان خان، د ضابط خان اکا د لښکرو مشر و. پنځلس ورځې ئې کلا بندي ټینګه کړله، پای ته په دې شرط روغه وسوه، چې مرهټي پوځونه به چا ته د سرتاوان نه رسوي او سلطان خان به کلا ور سپاري. د کلا د دروازې له خلاصولو سره مرهټو چور او چپاو شروع کړ.

سبا ته مرهټه پوځونه هم د "کورم لس ګاټ" پر ګدر پسې ورپوري وتل او د ضابط خان داسې تعاقب ئې وکړ، چې نوموړی ئې په تېښته تېښته د لال ډانګ برو غروته وخېژاوه. د ده تر تېښتې وروسته مرهټو او نجف خان نجیب آباد ونیو، سرکاري ماڼۍ ئې ونړولې، د نجیب الدوله هدیره ئې، چې د فن او هنر یوه ښکلې او قیمتي نمونه وه، له خاورو سره برابره کړه[۶۰۱].

د ضابط خان مور، دوه وروڼه او څلور زامن (د پنځلس کلن[۶۰۲] غلام قادر په شمول) د نوري کورنۍ سره د مرهټو په لاس کې بندیان سول[۶۰۳] او د نجیب آباد او پتهرګړه خزانې او جبه خانې د مرهټو په لاس کښېوتلې.

د سیر المتاخرین په ۹۳۳ – ۹۳۴ مخو کې کښلي دي:

"چون صحبت میان نجف خان و مرهټه درگرفت و نفاق و شقاق بوفاق و اتفاق گرائید رای پادشاه و نجف خان بهادر و مرهټه بر مهم ضابطه خان و انتزاع ممالک از دست افغانان قرار گرفته باتفاق همدیگر عزم مذکور جزم نموده نهضت کردند. ضابطه خان با پادشاه و مرهټه در جنګ میدان صرفه ندیده سکرتال و قلعه غوث ګړه برای اقامت خود مع افواج بیاراست و برادران خود

---

(۶۰۱) وګ: روهیله پښتانه، ۲۷۹ مخ.

(۶۰۲) وګ: آجکل مجله، د ۱۹۷۱ع کال د ډسمبر ګڼه، ۳۱ مخ.

(۶۰۳) وګ: روهیله پښتانه، ۲۷۸ مخ او تاریخ هندوستان، ۳۲۱/۹ مخ.

را آن طرف گنگا در محالات چاندپور، ندینه(؟) و غیره پرگنجات مع بعضی افواج بنا بر ارسال رسد گذاشته ناموس و عیال خود و پدر را نیز در قلاع آن طرف گنگا نگهداشت و در سکرتال مستعد مدافعه نشست. مرهته و میرزا نجف خان پادشاه را بد و منزلی شاهجهان آباد گذاشته خود پیشتر خرامیدند و بمحاصره سکرتال پرداخته زمانی ممتد در جنگ گذرانیدند. چون عرصه بر ضابطه خان در قلعه تنگ گردید و خبر یافت که گنگا بر اکثر معابر پای آب گشته قابل عبور افواج است، بسرداران اقوام خود مثل حافظ و اولادش و اولاد دوندی خان و فیض الله خان پسر علی محمد خان و دیگران نوشته تاکید نمود که تا حال مرهته بر پای آبی گنگا اطلاع ندارد اگر قبل از آگهی او رسیده باستحفاظ معابر کوشند ممکن است که ما هم محفوظ مانیم و شما را هم صدمه از دست اینها نرسد و اگر درنگی نموده آید و مرهته را پای آبی گنگا معلوم شد ملک آن طرف گنگا محفوظ نمی تواند ماند و هرگاه کار من تمام شود بر شما هم ایقا نه خواهند نمود و پایان کار دیده زود باید رسید. سرداران مرقوم سخن ضابطه خان را درست دیده هر یکی مع فوج از جای خود جنبیده باعانت و حراست ضابطه خان در رسید. ضابطه خان زیر قلعه سکرتال پل کشتیها بسته راه آمد و شد آن طرف گنگا و وصول کاه و اجناس ماکولات گذاشته بود از راه پل مذکور عبور نموده با سردارانیکه رسیده بودند ملاقات نمود، با همدیگر مشوره نموده سرداران افواج خود را با اندک فاصله ها بر معابر گنگا از محاذی سکرتال سر بالا تا بیست و سی کروه که ملک خودش بود برای حراست و مزاحمت عبور مرهته نشانید و افواج سرداران باعانت آمده راه طرف مابین سکرتال همان قسم جابجا بر معابر نشانید. مرهته از مشاهده این حال قیاس پای آبی گنگا کرده در تفحص افتادند، بعد جست و جو معلوم نمودند که اکثر جاها پای آبست و بآسانی ازین معابر توان گذشت. دو سه روزی بدر تغافل زده روزی مع میرزا نجف خان سوار شدند و راه سربالا گرفته از مقابل چند معابر گذشتند، چون مستحفظان معابر عقب مانده را خاطر جمع شد که بالاتری رود بغفلت کارفرما گشته هریکی بکاری اشتغال نمود و اکثری بعساکر دیگر برای ملاقات احباب و اختلاط اصحاب رفته، جا های خود را خالی گذاشت و معدودی در محافظت بودند. مرهته مع میرزا نجف خان بیگ ناگهان عطف عنان نموده از محاذات معابری که گذشته بودند بریکی از آنها عنان ریز رسیده بدریا راند میرزا نجف خان بهادر هراول آنها بود ...... خلاصه میرزا نجف خان و مرهته در ملک ضابطه خان در آمده دود از نهاد رعایا و سکنه آنجا و از برادران و عیال نجیب الدوله و ضابطه خان برآورد و ضابطه خان گریخته پناه بشجاع الدوله برد و شجاع الدوله واسطه مصالحه میان مرهته و حافظ رحمت و غیره افاغنه گردید و همدرین ضمن سرداران مرهته را باهمدیگر منازعه روی داده حکم طلب برخی از آن روساء از دکن بتاکید رسید، مرهته مصالحه بواسطه شجاع الدوله مغتنم شمرده داعیه انصراف بطرف دکن مصمم نمود و عطف عنان فرموده بطرف شاهجهان آباد معاودت کردند".

د آجکل مجلې د (۱۹۷۱ع) کال د ډسمبر ګڼې په ۳۱ مخ کې کښلي دي، چې د دې سوبې په

ست د نجف خان په سپارښت، دوهم شاه عالم جنرال شمرو ته په "سردهنه" نومي ځای کي د شپږو
کو روپو جاګیر ورکړ.
ضابط خان رامپور ته ځان ورساوه او خپل اخښي فیض الله خان روهیله ته ئې پناه ور وړه او په
یده حافظ رحمت خان بړیڅي ته، چي په نانک متـه کي ئې اړولي و، ورغلل. روهیلیو سردارانو د
وده د نواب شجاع الدوله سره د مرهټو له لاسه د ضابط خان د کورنۍ د خلاصون په باب خبري
روع کړلې. د حافظ رحمت خان په ضمانت د څلوېښتو لکو روپو د ورکړي په منلو شجاع الدوله
ې کار ته اقدام وکړ[٦٠٤]. د ضابط خان کورنۍ ئې د مرهټو له بنده خلاصه کړه او حافظ رحمت خان
ئې بریلي ته ور ولېږله. ضابط خان چي ټولي لاري مخي ته تړلي ولیدلې، مجبوراً د (۱۷۷۲ع)
کال د اګسټ په میاشت (= ۱۱۸۷ هـ. ق. شروع) کي، د شجاع الدوله په تحریک، د مرهټو مل
و[٦٠٥] او د ټکوجي هولکر په سپارښت، شاه عالم ثاني (۱۱۷۳-۱۲۲۱ هـ. ق.) وباخښه او د
هارنپور جاګیر ئې بېرته ورکړ[٦٠٦].
د سلطان التواریخ په ۲۱۱ مخ کي کښلي دي:
ټکوجي هولکر مغلي پاچا دوهم شاه عالم ته سپارښت وکړ، چي بېرته ضابط خان ته امیر
لامرائي ورکړي، مګر شاه عالم چي امیر الامرائي ذو الفقار الدوله نجف خان ته ترزړه ایستلې وه،
ټکوجي دغه سپارښت ئې ونه مانه او ټکوجي له خپلو لښکرو سره، په خوابدي له ډهلي ووت.
ضابط خان په (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د حافظ رحمت خان بړیڅي پر ضد، د شجاع الدوله او
نګرېزانو ملا وتړله. په هغه جنګ کي چي د (۱۷۷۴ع.) کال د اپریل د میاشتي په ۲۳ مه د
"موسلي" په ډاګ کي وسو او حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیڅي شهادت ومونـد، دی د
ملیمانو د لښکر په منځ کي ولاړ و او پر خپلو روهیلیو پښتنو ئې توري اورولې او د روهیلکهنډ په
یولو کي ئې د انګرېزانو او شجاع الدوله د ملګرۍ او مرستي پېغور ومانه.
روهیلکهنډ چي انګرېزانو او شجاع الدوله ونیو او فیض الله خان ئې د روهیلکهنډ د یوې
وړې سیمي (رامپور) نواب ومانه، دا شرط ئې پر کښېښوو، چي له پنځه زره زیات عسکر به نه
ساتي، ځکه نو روهیلکهنډي سپاهیان شاوخوا خپاره سول. زیات شمېر ئې ضابط خان ته ورغلل.
د ډهلي د دربار امیر الامراء او وزیر نجف خان چي دا واورېدل، بیا ئې مرهټه د ځان مله کړل او پر
ضابط خان ئې په (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال برید وکړ، مګر ځکه چي جاټانو پر پاچاهي سیمو برید کړی
و، بېرته ډهلي ته ولاړ او له هغه ځایه ئې د جاټانو د ځپلو له پاره لښکر وخوځاوه.
د میرزا مظهر جان جانان کے خطوط د تعلیقاتو په ۲۴۶ مخ کي لیکلي دي:
نجف خان چي له جاټانو سره په جنګ اخته و، په دغه ترڅ کي د مجد الدوله عبد الاحد خان

---

[٦٠٤] دغه معاهده د (۱۷۷۲ع) کال د جون په پنځلسمه سوې ده. (سرکشی ضلع بجنور، ۳۶ مخ)

[٦٠٥] وګ: روهیله پښتانه، ۳۹۹ مخ او د هندوستان تاریخ، ۳۲۲/۹ مخ.

[٦٠٦] وګ: اخبار الصنادید، ۴۴۶/۱ مخ.

کشمیري[٦٠٧] په وسیله ضابط خان د مغل پاچا شاه عالم حضور ته ورغی، مګر لږي ورځي ورو
مجد الدوله د ضابط خان پر ضد سازشونه شروع کړل او پاچا ئې د ده جنګ ته وپاراوه. د
الدوله د کشر ورور عبد القاسم تر اداري لاندي یو لښکر له ډهلي څخه د ضابط خان د ځپلو له
د نجیب آباد لور ته واستول سو. په دغه جنګ کي عبد القاسم د پښتنو له لاسه وواژه سو.

په دې فرصت کي ضابط خان پخپله کلا "غوث ګړه" کي، چي د سهارنپور په شاوخو
واقع وه، پر پښتنو سرېېره د سکهانو برتی شروع کړې وه. نجف خان چي خبر سو، ډهلي ته راس
سو او د پاچا په ملګری ئې پر غوث ګړه برید وکړ. د ضابط خان پوځونه ئې یوه میاشت کلا
کړل. پای ته د ضابط خان او نجف خان د لښکرو تر منځ داسي یو سخت جنګ وسو، چي د پاني
تر مشهور او تاریخي جنګ وروسته، تر ټولو لوی جنګ و. په دې جنګ کي هیچا بری ونه موند
ماښام ته دواړه پوځونه خپلو خپلو چوڼیو ته ستانه سول. سبا ته ضابط خان د روغي پیغام ن
خان ته ور ولېږه او روغه وسوه.

پریم ناتهـ آرام د دې شاهانه سوبي تاریخ داسي کښلی دئ:

از پی تاریخ سال فتح هاتف زد رقم
ماه شعبان فتح گردید و سر دشمن بکاست
۱۱۹۵-۴ = ۱۱۹۱ هق

په تنقیح الاخبار کي د دې جنګ په باب کښلي دي:

د (۱۱۹۱ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په یو ولسمه مغل پاچا دوهم شاه عالم، پر غوث
باندي د حملې امر وکړ، ضابط خان ماته وکړه، کلا ئې پرېښووله، د برات په پنځلسمه ورځ مغ
پاچا د غوث ګړه له کلا څخه دوه کروهه لیري واړول. د برات په شپږویشتمه ورځ د ضابط خا
مالو ضبطي او وېش شروع سوه، د برات په نه ویشتمه ورځ پاچا د غوث ګړه کلا وکتله.

کابلي محمد رفیع سودا د مغل پاچا د دې فتحي تاریخ داسي ویلی دئ:

"غوث ګړه" سے گیا وه کهو کے "شرم"
۱۱۹۱ = ۵۴۰-۱۷۳۱

تر روغي وروسته ضابط خان خپله خور امیر الامراء نجف خان او لور سیف الدوله نج
قلي خان[٦٠٨] ته ورکړه. نجف خان دی د سهارنپور حاکم وټاکه او پخپله ډهلي ته ست

---

[٦٠٧] عبد الاحد خان ته دغه خطاب د محمد شاه مغول زوی احمدشاه (۱۱۶۱-۱۱۶۷ هـ. ق.) ورکړی و. د عبد الا
پلار عبد المجید خان (۱۱۶۵ هـ. ق. مړ) و، چي په (۱۱۵۷ هـ. ق.) کال دیوان تن (د تنخواه مستوفي) مقرر سو. ع
الاحد خان د (۱۱۹۳ هـ. ق.) کال دمیانۍ د میاشتي په شپږمه ورځ د نجف خان په امر په ډهلي کي بندي کړه سو
(۱۱۹۶ هـ. ق.) کال د نجف خان تر مرګ وروسته له بنده خوشي کړه سو او د مختارۍ لقب او عهده ئې وموندله.

[٦٠٨] نجف قلي خان اصلاً راجپوت هندو و، په بیکانیر کي اوسېد، بیا مسلمان سو. د نجف خان له ورتېرو ملګرو څ
و او د سیف الدوله لقب ئې درلود.

(۱۱۹۶ هـ. ق.) کال چي د ډهلي امیر الامراء او وزیر نجف خان مړ سو، ضابط خان د ډهلي
په معاملو کي د یوه مهم شخصیت حیثیت وموند، مگر کله چي مادهوجي سیندهیا پر
ی، د ده دغه اثر هم ختم سو(۶۱۰).
رید وکړ، د ده دغه ... کال د جون په میاشت کي یا د سرکشي ضلع بجنور (۳۳۰ مخ) په
ضابط خان په (۱۷۸۵ع) کال د جون په میاشت کي یا د سرکشي ضلع بجنور (۳۳۰ مخ) په
جنوري پر ۲۱ مه د (۱۷۸۵ع) (= ۱۱۹۹ هـ. ق.) کال مړ سو او په ډهلي کي د قطب صاحب په
کي ښخ کړه سو، څنگ ته ئې د ماینې قبر دئ(۶۱۱).
د فارسي اخبارات و مراسلات په ۳۶۷ - ۳۷۱ مخ کي د (۱۱۹۹ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور په
نشته کښلي دي:
خبر راغی، چي نواب ضابطه خان د هیضې په ناروغي ومړ. سکهانو چي د جسا سنگه،
وت سنگه او بگهیل سنگه په مشرۍ د جمنا پر غاړه راټول سوي وو، دا خبر واروېد، پر غوث
باندي د برید په هڅه کي سول. غلام قادر خان د حسین خان په لاس یو خط جسا سنگه او نورو
لېږه. ستاسي رکهي به هغسي در رسېږي، باید زموږ کلي ځورنگ نکړئ!

ضابط خان جنگنامه:

د ضابط خان د جنگو په باب یو منظوم اثر سته، دا اثر چي د "جنگنامه ضابط خان" په نامه
هرت لري، د مولوي محمد نورزوی مولوي محمد اکرم په اردو ژبه لیکلې ده، اشعار ئې مثنوي
ي(۶۱۲). د امیر مینایي په انتخاب یادگار (۳۰ مخ) کي د ضابطه خان د جنگنامې په باب لیکلي
ي:
مولوي محمد اکرم د (۱۲۴۰ هـ. ق.) کال د روژې په لومړۍ ورځ ومړ. دی د مولوي محمد
ور کوپاموي شاگرد و، گلشن افضال، انشای اکرم، خالق باري اکرم، مرآت الرحمان او جنگنامه
ضابط خان د ده مولفات دي. د جنگنامې دوه بیته ئې دا دي:

نه جانو اسی تم که وه فوج هے — وه دریای عمان کی اک موج هی
حواس اوسکی ایسی هوی باخته — که شاهین سی جیسی چهی فاخته

د اردو ژبې مشهور شاعر شاه حاتم هم د نواب ضابط خان په ستاینه کي اشعار او قصیدې
لري، چي یو بیت ئې د نمونې له پاره دا دئ:

---

(۶۰۹) تاریخ هندوستان، ۹/۳۲۳ مخ.
(۶۱۰) روهیله پښتانه، ۶۲۷ مخ.
(۶۱۱) واقعات ډهلي، ۱/۶۸۰ مخ.
(۶۱۲) اخبار الصنادید، ۱/۲۶ مخ.

"حاتـم" اس دور کی امیرون مین
حاتم اس وقت ضابط خان هے[٦١٣]

ضابط خان هم کتب خانه درلوده، صاحبزاده حمید الله د اولس مجلې د (۱۹۷۵ع) کال په ګڼه کي کښلي دي:
"زما سره یو قلمي کتاب سته، چي پر هغه باندي د "رستم الدوله، بهادر جنګ ضابط خان" مهر ۷۶ ځایه لګېدلی دئ".
واقعات غلام قادر د یوه کتاب نوم دئ، چي د علي ګړه پوهنتون په لائبریري کي په (۷/۲۰۸/۷۴ ګڼه) خوندي دئ. پاړسي ئې ښه نه ده.
د ضابط خان په حکم مکند رام فدوي یوسف زلیخا په اردو ژبه نظم کړله. یوه خطي نسخهٔ ئې د اسدعلي آنولوي (۱۹۵۶ع مړ) په کتب خانه کي خوندي ده، دا خطي نسخه په (۱۲۱۲ه.ق.) کال کښل سوې ده[٦١٤].

د ضابط خان خطاطي:

په صحیفهٔ خوشنویسان کي ۳۲ لمبر عکاسي سوې قطعه د ضابط خان په خط ده او په پای کي ئې دده نوم کښلی دئ. د نواب ضابط خان د خط په دغه نمونه کي، چي په نستعلیق لیکلې ده، دا قطعه ثبت ده:

یکروز بپرسید منوچهر ز سـالار　　کاندر همه عالم چه به ای سام نریمان!
او داد جوابش که درین عالم فانی　　گفتار حکـیمان به و کردار کریمـان

(کتبه عبد المذنب ضابطه خان غفرله)

د ضابط خان ودانۍ:

په (۱۱۷۸ه.ق.) کال چي نجیب الدوله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مخي ته له ډهلي ووت او اسماعیل ګنج ته ولاړ او بیا د هریانې په سیمه کي د بوانه (؟) په تسخیر بوخت و او بیا نجیب آباد ته ولاړ، د ده په غیاب کي د ډهلي د انتظام وظیفه د ضابط خان پر غاړه وه. په دغه وخت کي ده په ډهلي کي یو ګنج ودان کړ، چي د ضابط ګنج په نامه مشهور و. دغه ګنج ئې د محمدشاه د رضاعي ورور علي جبار خان د حوېلۍ په کنډوالو کي ودان کړ[٦١٥].

---

(٦١٣) شعر الهند، ۲/ ۴۴۸ مخ.
(٦١٤) عهد بنګښ، ۴۰۹ مخ.
(٦١٥) احوال نجیب الدوله، ۵۶ مخ.

د نواب ضابط خان زامن:

د نواب ضابط خان تر مړيني وروسته ئې مشر زوی، غلام قادر خان[۶۱۶]، چې د هندوستان په تاريخ کې د غلام قادر روهيله په نامه سره شهرت لري، پر ځای کښيناست. غلام قادر ته هم د ډهلي د دربار له خوا څخه د نجيب الدوله، هوشيار جنګ لقب ورکړه سو[۶۱۷] او دغه غلام قادر خان و، چې د ډهلي مغل پاچا دوهم شاه عالم د ده په باب ويلي دي:

کرد افغان بچهٔ شوکت شاهی برباد
کيست جز ذات منزه که کند ياری ما

د تاريخ هند په ۱۸۳ مخ کې ليکلي دي:

په (۱۷۸۷ع) کال مهاجي سيندهيا د ډهلي پاچهۍ د وزير په حيث پر راجپوتانه بريد وکړ او دليل ئې دا و، چې د راجپوتو پر راجاګانو باندي شپېته لکه روپۍ شاهي نذرانه پاته ده. سيندهيا په دغه بريد کې د جې پور تر دروازې ورسېد او د نذرانې زياته برخه ئې د جې پور له راجا او نورو څخه بود کړه، مګر د ده سختۍ او تشدد، راجپوت مشران د ده پر ضد سره متحد کړل او سخت جنګ پېښ سو. په دغه جنګ کې محمدي بيګ شاهي منصبدار له ټول شاهي پوځ سره د راجپوتو خوا ته ورواووښت او اتيا شاهي توپونه ئې هم له ځانه سره يووړه. د دې پېښې په اغېزه، که څه هم محمدي بيګ په جنګ کې وواژه سو. سيندهيا وارخطا سو ميدان ئې پرېښوو او د مرهټو له پېشوا "نانا فرنويس" څخه ئې مرسته وغوښتله. هغه هولکر په مرسته ورته راولېږه. د محمدي بيګ وراره اسماعيل بيګ، چې د خپل اکا پر ځای ناست و، د راجپوتو له خوا د اګرې نيولو ته وګماره سو. اګره ئې کلابنده کړله، په دغه وخت کې غلام قادر خان روهيله هم له خپل پوځ سره، د ده په مرسته راغی او د اګرې په کلابندولو کې ئې برخه واخيستله.

د هولکر پوځونه چې سيندهيا ته راورسېدل، د اګرې د خلاصون هڅه ئې وکړه، جنګ پېښ سو، مګر ماته ئې په پېڅه سوله. په دغه وخت کې له بده مرغه سکهانو پر نجيب آباد بريد وکړ او غلام قادر خان روهيله د خپل جاګير د ساتني له پاره، له خپل پوځ سره نجيب آباد ته ځني ولاړ. سيندهيا چې د غلام قادر خان په تګ خبر سو، بيا ئې پر اسماعيل بيګ بريد وکړ او سخت شکست ئې ورکړ. د اسماعيل بيګ پښې، چې د جنګ له ميدانه خطا سوې، د غلام قادر خان روهيله لور ته ئې ترپلل او د ده پناه ته ئې ځان ورساوه. لږه موده وروسته دی او غلام قادر خان روهيله له خپلو پوځو سره پر ډهلي راغلل[۶۱۸]، ډهلي ئې ونيو. ډهلي دوې مياشتې د غلام قادر خان روهيله په لاس

---

[۶۱۶] غلام قادر خان د نواب فيض الله خان خوريی و، بې اولاده مړ سو.

[۶۱۷] روهيله پښتانه، ۶۲۸ مخ.

[۶۱۸] د پاچا له خوا د (۱۲۰۱ هـ ق.) کال د ميانۍ د مياشتې په اتمه ورځ "ميا تمکين" او "تاماس خان" د ايلچيانو په توګه غلام قادر خان روهيله ته ور ولېږل سول. غلام قادر خان ميا تمکين ته يو آس او پنځه سوه روپۍ وروبخښلې. (فارسي اخبارات و مراسلات، ۱۹۹ مخ)

کي و. د پاچا سترګي چي ئې وکښلې، اسماعیل بیګ ځني ولاړ او مهاجي سینډهیا ته ئې ځا
ورساوه. د اسماعیل بیګ په ورتګ سینډهیا زړه ور سو، پر ډهلي ئې برید وکړ او غلام قادر خا
روهیله ئې ونیوئ او وئې واژه. اسماعیل بیګ له سینډهیا سره هم ټیک نه سو او راجپوتو ته ئې
پناه وروړله.

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۳۲۴، ۳۲۵ او ۳۲۸ اخبار کي لیکلي دي:

غلام قادر خان چي ډهلي ونیوی، د مرهټو پوځ د (۱۷۸۸ع) کال د ډسمبر د میاشتي په
دېرشمه ورځ ډهلي ته ورسېدئ. د غلام قادر خان ملګری، میرزا اسماعیل بیګ د مرهټو ملګری
سو. جنګ چي ونښت، غلام قادر خان کلا ته ننووت.

د (۱۲۰۳هـ. ق.) کال د محرمي په لومړۍ ورځ (= ۲ اکتوبر ۱۷۸۸ع) د شپې په نیمایي کي
غلام قادر خان له ډېره ماله سره تر جمنا پوري ووت او خپل لښکر ته ئې ځان ورساوه. د غلام قادر
خان ورور لا په کلا کي د جنګ په نیامت ناست و.

د (۱۲۰۳هـ. ق.) کال د محرمي په اتمه ورځ رانا خان او د مرهټو پوځ او اسماعیل بیګ پر کلا
برید وکړ، مینار سنګهـ چي د غلام قادر خان له خوا د کلا ساتندوی و، د مرهټو په لاس کښېوت.
ډېر خلک ومړل، کلا د مرهټو په لاس ورغله. دوهم شاه عالم چي د غلام قادر خان په امر په یوه کوټه
کي بندي و، رانا خان راویوست.

غلام قادر خان د ډسمبر په ۱۸ له ۳۰۰ تنو پښتنو سره له خپله لښکره ووت، وتښتېد. مرهټه
چي په خبر سول، رای جي پټېل ئې پسي ولېږه. په لار کي د شپې جنګ پېښ سو، د غلام قادر خان
له ملګرو څخه تقریباً ۲۰۰ تنه مړه سول. له مرهټو څخه هم ډېر ووژل سول. شهزاده ګان د مرهټو
لاس ته ورغلل. مرهټو میرټهـ ته اور واچاوه. د غلام قادر خان مالونه هم د مرهټو لاس ته ورغلل.

د آجکل مجلي د (۱۹۷۱ع.) کال د ډسمبر ګڼي په ۳۱ مخ کي کښلي دي:

غلام قادر خان چي ډهلي ونیو او دوهم شاه عالم ئې ړوند کړ، بیګم شمرو په پاني پت کي له
سکهانو سره په جنګ اخته وه، لاهوري دروازې ته ئې ځان راورساوه. غلام قادر خان په دې نیت،
چي ځان خپلي سیمي ته ورسوي، له ښاره ووت او د میرټهـ په سیمه کي د مرهټو په لاس ورغی.

د قاموس المشاهیر په ۲/ ۱۱۲ مخ کي کښلي دي:

د غلام قادر خان روهیله له لاسه، چي دوهم شاه عالم ړوند سو، تاریخ د (۱۲۰۲هـ. ق.) کال د
ذی القعدې د میاشتي اوومه (= ۱۰ آګسټ ۱۷۸۸ع) و. غلام قادر خان روهیله د مهاجي سینډهیا
له لاسه د (۱۷۸۸ع) کال د ډسمبر په میاشت (= ۱۲۰۳هـ. ق.) کي وواژه سو. قبر ئې د اګرې د
سیمي په اول کي واقع دئ.

علامه اقبال (۱۳۵۷هـ. ق. مړ) د غلام قادر خان روهیله تر عنوان لاندي یو اردو شعر لري، په
دې ډول:

روهیله کس قدر ظالم، جفا جو، کینه پرور تها
نکالیں شاه تیموری کے آنکهیں نوک خنجر سے
دیا اهل حرم کو رقص کا فرمان ستمگر نے
یه انداز ستم کچهـ کم نه تها آثار محشر سے

بھلا تعمیل اس فرمان غیرت کش کی ممکن تھی
شہنشاھی حرم کی نازنینان سمن بر سے

بنایا آہ! سامان طرب بیدرد نے ان کو
نہان تھا حسن جن کا چشم مھر و ماہ و اختر سے

لرزتے تھے دل نازک، قدم مجبور جنبش سے
روان دریاے خون شہزادیون کے دیدۂ تر سے

یونہین کچھ دیر تک محو نظر آنکھین رہین اس کی
کیا گھبرا کے پھر آزاد سر کو بار مغفر سے

کمر سے اٹھ کی تیغ جانستان آتش فشان کھولی
سبق آموز تابانی ہون انجم جس کے جوھر سے

رکھا خنجر کو آگے، اور پھر کچھ سوچ کرلیتا
تقاضا کر رھی تھی نیند گویا چشم احمر سے

بجھائے خواب کی پانی نے اخگر اس کی آنکھون کے
نظر شرما گئی ظالم کے درد انگیز منظر سے

پھر اٹھا اور تیموری حرم سے یون لگا کھنے
شکایت چاھئے تم کو نہ کچھ اپنے مقدر سے

مرا مسند په سوجانا، بناوٹ تھی تکلف تھا
کہ غفلت دور ھے شان صف آرایان لشکر سے

یه مقصد تھا مرا اس سے کویی تیمور کی بیتی
مجھے غافل سمجھ کر مار ڈالے میرے خنجر سے

مگر یہ راز آخر کھل گیا سارے زمانے پر
حمّیت نام ھے جس کا گئی تیمور کے گھر سے (٦١٩)

(کلیات اقبال، ۱۷۹ مخ)

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۱۱۰-۱۱۱ اخبار کي، چي د (۱۲۰۳ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په شلمه (= ۱۹ ډسمبر ۱۷۸۸ع) کښل سوی دئ، راغلي دي:

"پرون د Jani زمیندار، چي له لښکره څخه پنځه شپږ کروهه لیري دئ، نواب علي بهادر ته راغی او وئې ویل، چي غلام قادر خان روهیله له آسه لوېدلی دئ، زما کره ناست دئ. علي بهادر سړي ورسره کړل، غلام قادر روهیله ئې بندي راوست. نواب علي بهادر له خوشالۍ د توپو شلیک وکړ، شاه عالم چي خبر سو، حکم ئې وکړ د غلام قادر غوږونه، سترګي او پزه وکاږئ او په یوه صندوقچه کي ئې راولېږئ، دی له متهرا څخه ۷ یا ۸ کروهه لیري ووژنئ. دوی هم هغسي وکړل".

د سرکشي ضلع بجنور په مقدمه کي کښلي دي:

غلام قادر چي مرهټو ونیوه، متهرا ته ئې بندي بوت او هلته ئې د مهادهوجي سیندهیا په حکم وواژه.

د نقوش آپ بیتي (جون ۱۹۶۴ع.) په ۸۲ مخ کي کښلي دي:

وایي د دوهم اکبر مغل په پاچهي کي د ډهلي په مغلي دربار کي غلام قادر خان روهیله د دوهم نمک حرام په نامه یادېږي او د ده نوم اخیستل د درباري آدابو مخالف کار دئ.

د غلام قادر خان روهیله په باب د عماد السعادت په ۱۴۷ مخ کي کښلي دي:

غلام قادر خان روهیله په (۱۱۹۶ هـ. ق.) کال له پلاره څخه خوابدی سو، لکهنو ته ولاړ، آصف الدوله خلات، دوې جالۍ داره پالکۍ ور وبخښلې او غلام قادر خان یو آس وروباخښه، چي بیا دغه آس د ایسټ انډیا کمپنۍ ګورنر جنرال هیسټینګز خوښ کړ او آصف الدوله

---

(٦١٩) د اقبال د (دوهم) شاه عالم د سترګو پر کښلو ارمان درېږي، خو شاه عالم چي د غلام قادر خوتې کښلې، هغه بیا نه ورپیادېږي.

ورو باخښه[٦٢٠].

د سرکشی ضلع بجنور په ۱۳۸ مخ کي ليکلي دي:

په (۱۷۷۴ع.) کال شجاع الدوله په زور سره ضابط خان له نجيب آباده ويوست. په (۱۷۷۶ع.) کال ئې د نواب عبد الاحد خان په سپارښت، له مغلي پاچا څخه په سهارنپور کي د باوني سيمي سند تر لاسه کړ او په غوث ګړه کي مېشت سو. د ده تر مرګ وروسته ئې زوی، غلام قادر خان پر ځای کښېناست، د ډهلي پاچا دوهم شاه عالم چي ئې ړوند کړ، مرهټو د ده د نيولو هڅه وکړه. دی وتښتېد، خو پای ته د مرهټو په لاس ورغی. مهاراجا پټېل په قفس کي واچاوه، بند پر بند ئې جلا کړ. معين الدين خان ورور ئې، چي په بهنبو خان مشهور و، پنجاب ته وتښتېد.

انګرېزانو چي ډهلي او د هغه شاوخوا سيمي ونيولې، معين الدين خان ته ئې د مياشتي پنځه زره روپۍ د تقاعد په توګه ورکولې او په بريلي کي ئې واوساوه. په (۱۸۱۲ع.) کال د مستر کولبرک په سپارښت د نجيب آباد د استوګي اجازه ورکړله سوه. معين الدين خان چي ومړ، انګرېزانو ئې زامنو، محمود خان (غازي) او جلال الدين خان ته د مياشتي يو يو زر روپۍ، د پلار د تقاعد په نامه ورکولې او پر لويو عهدو ئې مقرر کړل.

د نواب ضابط خان بل زوی ته، چي په بمبو يا بهنبو خان ئې شهرت درلود او اصلي نوم ئې معين الدين و[٦٢١]، د انګرېزانو له خوا يو جاګير ورکړ سو، چي له کاله ئې (؟) پنځه زره روپۍ عايد درلود. د دغه بمبو خان يو زوی، چي محمود خان نومېد. د هندوستان د آزادۍ په جنګ کي، چي په (۱۸۵۷ع.) (=۱۲۷۳هـ. ق.) کال واقع سوی دئ، ګډون درلود او د دغي آزادي خواهۍ په ګناه د ميرټهـ په زندان کي انګرېزانو شهيد کړ.

د نذر عرشي په ۳۸۹ مخ کي کښلي دي:

د رضا لائبرېري د کتابخانې په بډايولو کي د رامپور د انتظامي کونسل د صدر جرنيل عظيم الدين خان لوی لاس و. د ده د صدارت په درې څلور کلنه دوره کي د رامپور په رياست کي ډېر اصلاحات وسول او د ترقۍ دوره وه. د ده په امر د کتابتون له پاره عمله مقرره سوه او بخشي عبد الرحيم خان د کتابخانې منتظم مقرره سو. دوه فهرست جوړوونکي، نهه خوشنويسان او د نسخ خوشنويسان او طلا جوړوونکي (مذهبين)، څلور صحافان، څلور ورق ګردانه او يو تحويلدار ورمقرره سول او کتابخانه د يوې خاصي ادارې په توګه منځ ته راغله. د جرنيل صاحب په امر دکتابخانې له پاره د نوي ودانۍ شروع هم وسوه، خو پخوا تر هغه چي دکتابتون دا نوې ودانۍ جوړه سي، دی شهيد کړه سو. د دغه عمارت افتتاح د نواب حامد علي خان په وختو کي په (۱۸۹۲ع) کال وسوه.

---

[٦٢٠] د غلام قادر خان روهيله په باب د "مادهوجي سينډهيا" د کتاب په ۱۰۶ مخ او "واقعات ډهلي" په ۶۷۵/۱ مخ کي بحثونه سته.

[٦٢١] د درة الزمان په ۳۷۸ مخ کي دغه نوم اشتباهاً نواب محی الدين خان کښلی دئ.

د کابل مجلې د ۵۶۱ گڼې په ۴۳ مخ کې کښلي دي:

اعظم الدين خان (؟) د رامپور د رياست يو لايق وزير و، په قام عمرخېل يوسفزی او د نواب نجيب الدوله لمسی دئ. د رامپور رياست د ده د وزيری په وختو کې ښه رونق موندلی و. ده يو تاريخ کښلی دئ، چې د علي گړه پوهنتون په کتابخانه کې په (۲۰۹/۷۵) لمبر خوندي دئ.

د الزبير په ۹۱ مخ کې ليکلي دي:

کلب علي خان چې مړ سو، پر ځای ئې مشتاق علي خان (۱۸۸۷–۱۸۸۸ع) کښېناست، مگر دی معذور و، ټول انتظام د انتظامي کونسل د صدر جرنيل اعظم الدين (عظيم الدين خان) په لاس کې و....

قاضي ادريس دولتښی (دولتشاهي)

قاضي ادريس د احمدشاهي دورې له لويو ملايانو څخه و[٦٢٢]. ميا فقير الله صاحب جلال آبادي ثم شکارپوري (۱۱۹۵ هـ. ق. مړ)، چې يو لوی مصنف او د خپل وخت منلی پير او عالم و، ده ته په يوه خط کې ليکي:

"من الفقير الى الله الغنى فقير الله عفى عنه الى زبدة محبى اهل الله و عمدة مخلصى عاكفى باب الله، السائج القماس فى البحر القلاس فرناس القضاة و سند هم الفقيه الفصيح المحب الانيس قاضى ادريس دامت رياض جمعية الصوريه و المعنويه..."[٦٢٣].

د ميا فقير الله له دې طرز خطابه څخه هم دا معلومېږي، چې قاضي ادريس د خپل وخت په فقهاوو او قضاتو کې د لوی نامه ښتن و. د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۲۲۶ مخ کې قاضي ادريس د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د دوهم وزير په نامه ضبط دئ.

د تاريخ احمدشاهي په (a ۳۶) پاڼه کې کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چې پاچا سو، قاضي ادريس ئې د عسکرو شيخ الاسلام و. احمدشاه بابا رحمة الله عليه چې د پاچهۍ په لومړي کال قلات ته ولاړ، اشرف خان توخی کلابند سو، ده د اشرف خان د لارښوونې او پند و نصيحت له پاره قاضي ادريس ورواستاوه، خو اشرف خان د ده په لارښوونې خپله بې لارې پرې نه ښوولـه او تر جنگ وروسته ئې د صابر شاه په واسطه امان وغوښت.

د دولت شاهي تر عنوان لاندې په حيات افغاني (۴۷۲ مخ) کې ليکلي دي:

دولت شاهي په افغانستان کې تيت او پرک اوسي، د افغانستان زياتره قاضيان او مفتيان له

---

[٦٢٢] درة الزمان، ۲۸۴ مخ.

[٦٢٣] مکتوبات ميا فقير الله شکارپوري، د لاهور چاپ، ۱۹ لمبر مکتوب، ۱۰۵ مخ.

دولت شاهیو شخه دي. په افغانستان کي د دولت شاهیو شمېر دوو سوو کورو ته رسېږي. سوداګر او زمینداره هم پکښي سته. دوی ځانونه قریش بولي.

د دولت شاهیو په نامه یوه کوڅه د هرات په زاړه ښار کي سته. محمد عمر خان دولت شاهي د هرات مشهور خطاط، د دغي کوڅې اوسېدونکی و. د دولت شاهي په نامه یو کلی په چاریکار کي هم سته. په کندهار کي د برو د بازار په چوک کي، یو ماجت (مسجد) د دولت ښیو د مسجد په نامه سته او د دغه مسجد جنوب طرف ته د دولت ښیو یوه درنه کورنۍ تر اوسه پوري سته. زموږ (رشاد) په کوچنیوالي کي د دغي کورنۍ مشر مخمود اخوندزاده و، چي په طب کي ئې حذاقت منلی و.

د تیمورشاه دراني په ۱۲۲ مخ کي دَی په احمدشاهي دوره کي د پایتخت (کندهار) قاضي ښوول سوی دئ، چي غالباً به ئې د قاضي القضاة او وزیر عدلیه رتبه درلوده او د دغه کتاب په ۱۸۲ مخ کي زیاته سوې ده، چي د احمدشاهي عصر قاضي (محمد ادریس) د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر "کامل الصناعتین[۶۲۴]" نومی عربي کتاب په پارسو ترجمه کړی دئ. دا ترجمه "فرس نامه" نومېږي، ۹ مقالي لري او په هره مقاله کي ئې بیا څو څو فصلونه سته. په دې کتاب کي د اسانو تصویرونه هم کښلي دي او شروع ئې داسي سوې ده:

"حسب الحکم جهان مطاع عالم مطیع شاه سلیمان جاه دین پناه سلطان المجاهدین فی سبیل الله، ظل الله، حق آگاه، منظور نظر خاص حضرت رحمان ملجاء و مأوای عالم و عالمیان، معز اسلام و حامی مسلمانان، همنام سرور دوجهان احمدشاه پادشاه دردران لازل مؤیداً بتائید السبحان، اعلم العلماء، افضل الفضلاء، علامی فهامی مقرب الخاقان قاضی محمد ادریس خان مدظله الی یوم القیام امر کرد که کتاب کامل الصناعتین را که بزبان عربی است بجهة فایده مند شدن ...".

زما (رشاد) په خیال په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال کي، چي د نجف په کنفرانس[۶۲۵] کي د پښتنو علماوو په لړ کي اووم سړی ملا ادریس افغاني ابدالي حنفي ضبط دئ، هغه هم دغه قاضي ادریس خان دئ، چي د نادر افشار په زمانه کي ئې هم د کندهار په علماوو کي شخصیت مسلم و.

په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال چي شاه ولي خان اشرف الوزراء له وزارته معزول کړه سو، پر ځای ئې قاضي ادریس وزیر مقرر سو او د دیوان اعلی چاري ده ته وسپارلي سوې[۶۲۶].

---

[۶۲۴] د کامل الصناعتین مولف ابی بکر ابن البدر البیطار دئ. دا کتاب شل بابه لري او د آسانو د تربیې او علاج په باب لیکل سوی دئ.

(کشف الظنون، ۱۳۸۰-۱۳۸۱ مخونه)

[۶۲۵] دا کنفرانس د افشار نادر په امر د (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال د شوال په ۲۶ مه ورځ د علامه عبد الله سویدي عباسي تر مشرتابه لاندي د توراني، افغاني او ایراني علماوو په ګډون د سني او شیعه اختلاف د رفعي له پاره جوړ سوی و.

[۶۲۶] تاریخ احمدشاهي، دوهم ټوک، د مسکو (۱۹۷۴ ع.) چاپ.

د قاضي ادریس له نامه سره په پښتو احمد شاهي شهنامه کي ليکلي دي، چي "برادر قاضی فیض الله است". قاضي فيض الله دولت شاهي[٦٢٧] د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د دوري مشهور عالم دئ، چي د تیمورشاه سدوزي د استاذی حیثیت لري او د شهزاده ګی په وختو کي د هرات د قاضي په حیث ورسره و.

د قاضي ادریس ژوند تر (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال پوري یقیني دئ او په (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اوومه پلا د هندوستان پنجاب ته د سکهانو د ځپلو له پاره ولاړ، دی ورسره و او د لاهور احمد شاهي نائب الحکومه، کابلي مل د سردار جان خان علي الرغم، بیرته د ده په سپارښت، د لاهور نائب الحکومه سو[٦٢٨].

دی د (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال د روژې د میاشتي په ۲۵ مه ورځ (= ۶ مارچ ۱۷۶۶ ع.) د هندوستان په انباله کي و مړ[٦٢٩].

د قاضي ادریس په باب دا بیتونه ویلي سوي دي:

از آن جمله خان معلّی جناب   شریعت شعار و فضیلت مآب
که ادریس علم است و تقوی شعار   بود قاضی عسکر شهریار

یا دا:

ستودند اهل بلاغت تمام   که بودند با شاه دین همکلام
چه خان علوم و چه ادریس خان   چه ملا شریف و چه دیگر کسان
که هر یک نهنگ اند در بحر علم   خصوصاً که آخوند ادریس حلم
بفضل و بدانش ندارد نظیر   بود طفل در مکتبش چرخ پیر

(تاریخ احمد شاهي، د مسکو چاپ، ۲۵/۱-۲۶ مخونه)

د قاضي ادریس زوی ملا نعمت الله په (۱۱۹۴ هـ. ق.) کال د کابل خانعلوم او اقضی القضاة مقرر سو.

---

(٦٢٧) قاضي فيض الله د تیمورشاه خاص امام (پیش نماز) او قاضي عسکر و. تر (۱۱۹۶ هـ. ق.) کال پوري ئې ژوند یقیني دئ. په (۱۲۰۸ هـ. ق.) کال د کابل په بالاحصار کي و مړ، د زمان شاه سدوزي په زندان کي.
(آشنایي با میا فقیر الله، ۴۲ مخ)

(٦٢٨) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۹۷ مخ.

(٦٢٩) تاریخ احمد شاهي، د مسکو (۱۹۷۴ ع.) چاپ، (۵۷۶-ب) پاڼه.

د ثمکنو میا عمر صاحب رحمة الله علیه

حضرت میا محمد عمر رحمة الله علیه په دوولسمه هجري سدۍ کي یو لوی ولي او ستر ملا (عالم) تېر سوی دئ، د ده د زمانې شاعر حافظ مرغُزي (۱۱۲۶ هـ. ق. زوکړی) په احمد شاهي شهنامه کي، چي نظمول ئې په (۱۱۷۶ هـ. ق.) کال پای ته رسېدلي دي، د ده عرفاني مقام داسي ستایلی دئ:

په هر ملک په هر دیار ... تري عالم کوي گفتار
مشهور په خاص و عام دئ ... د فیضان ئې په لاس جام دئ
چي حضرت میا عمر دئ ... پرې روشن تمام کشور دئ
چي و چا ته که نظر ... درست وجود ئې مس که زر[630]

د میا صاحب رحمة الله علیه مرید قریش نور محمد[631] د ده په ستاینه کي ویلي دي:

چي یو غوث د زمانې قطب الافاق دئ ... پیدا شوی په زمین شمس الاطباق دئ
سمه، سوات څه هند و سند، عجم عرب ... په دربار کي ئې پراته دي په ادب
تتمه د خواجگانو، نقشبندیانو ... خاتمه د چشتیانو، قادریانو
څورلس واړه طریقې ئې په کمال دي ... باطني کارونه ټول ئې په اکمال دي
په ظاهر علم کي هم بحر مواج دئ ... فی الواقع د عالمانو د سر تاج دئ[632]

حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه په پښتنو کي د څوکنو (ثمکنو) په میا صاحب سره شهرت لري. د اشنغر د تنگي اوسېدونکي فضل حق اخوند زاده، د میا صاحب رحمة الله علیه د پښتو خلاصه کیداني په پای کي کښلي دي:

مبارک شه پښتنو! چي دا کتاب ... میا صاحب د څوکنو عالیجناب
په پښتو ژبه ساز که ټوله پخپله ... مسایل ئې زیات واضح کړه یو تر بله
د ده مثل ولي نه و په غه عصر[633] ... هم کامل، هم مکمل و، د خپل دهر

---

(۶۳۰) وگ: شاهنامه احمدشاه ابدالي، د پېښور (۱۹۶۵ ع.) چاپ، ۲۴ مخ.

(۶۳۱) د ده ژوند تر (۱۲۰۰ هـ. ق.) کاله پوري یقیني دئ، په دغه کال ده د شرف الدین ابو عبد الله محمد بن سعید بن حماد البوصیري (۶۰۸–۶۹۵ هـ. ق.) قصیده بُرده په پښتو ژبه نظم کړې ده.

(۶۳۲) وگ: تېرهېر شاعران، د پېښور (۱۹۶۳ ع.) چاپ، ۱۰۵ مخ.

(۶۳۳) غه = هغه.

کرامات ئې دي بیشمار، کتاب کي کَسَه   تا به حد، چي ترې باقي و، بعض ترا وسه
(خلاصه کیداني افغاني، د دهلي (۱۲۹۸ه. ق.) چاپ، ۶۳مخ)

د حضرت میا محمد عمر صاحب رحمة الله علیه د زمانې متصوف شاعر د الپورې حافظ هم دی د څوکنو په میا یاد کړی دئ، د ده خپل الفاظ دا دي:

چي هند و سند ئې اېلول، ایران توران احمدشاه
د سلطنت له باغه لاړ، برخوردار پاتي نه شه
د څوکنو میا غروب وکه، لکه نمر، د عصر
چي شاه گدا ترې خوشبویي وړه عطار پاتي نه شه[۶۳۴]

زموږ د زمانې لیکوال ښاغلي عبد الحلیم اثر په روحاني تړون کي د میا محمد عمر صاحب رحمة الله علیه په باب د بحث لاندي عنوان داسي کښلی دئ:

"حضرت غوث العالم میا محمد عمر د څمکنو علیه الرحمه"[۶۳۵].

میا صاحب رحمة الله علیه په ځینو کتابو کي د میا عمر څمکني په نامه هم یاد سوی دئ[۶۳۶]. په هغو ژبو کي چي د "څ" ږغ نسته، "څمکنی" کلمه "چمکنی" سوې ده، ځکه نو په ځینو پارسي او اردو کتابو یا رسالو کي نوموړی میا صاحب رحمة الله علیه د میا عمر صاحب چمکني یا شیخ عمر چمکني یا محمد عمر چمکني په نومونو یاد سوی دئ[۶۳۷]، مګر د خزینة الاصفیا په ۱/۶۴۷ او برټش کتلاک په ۳/۷۱۳ مخ کي د شیخ محمد عمر پشاوري او د میا فقیر الله د مکتوبات په ۲۴۹ مخ کي د شیخ میا محمد عمر پشاوري په نامه معرفي سوی دئ او د چمکني نسبت ورسره نسته.

څمکني (چمکني):

په سړبنیو پښتنو کي د "کند" قبیله پر دوو لویو څانګو "غوري" او خښي" وېشله کېږي، ځکه نو حمید مومند، چي په غوري څانګه پوري نسبي اړه لري، ویلي دي:

چي دا ستا د نافې بوی اخلي حمیده!
څه به نه وي خوش د ماغ غوری، خښی
(د حمید دیوان، د لاهور [۱۳۳۱ه. ق.] چاپ، ۱۲۸مخ)

---

[۶۳۴] وګ: د الپورې د حافظ دیوان، د پېښور (۱۳۶۶ه. ق.) چاپ، ۱۷۰–۱۷۱ مخونه.

[۶۳۵] روحاني تړون، ۷۵۵ مخ.

[۶۳۶] تېرهېر شاعران، ۹۰–۱۰۵ مخونه.

[۶۳۷] د حدیقة الاولیاء د ۲۰۱ مخ په حاشیه کي "محمد چمکنی"، د تاشکند د خطي کتابو کتلاک ۳۰۳/۴ مخ کي "محمد عمر الچمکني ...."، د خلاصه کیداني افغاني پر وقایه "شیخ میا محمد عمر صاحب چمکني"، د بحر الانوار په ۲۱۱ مخ کي د میا صاحب د زیارت تر عکس لاندي "میا عمر صاحب چمکني" او د تیمورشاه دراني په ۲۱۱/۱ مخ کي "آخند صاحب چمکنی" کښلی دئ.

د ثمکنو میا صاحب رحمة الله علیه د پلار له خوا په خښي او د مور له خوا په غوري ځانګه پوري نښلي. پلار ئې په خښي کي "ترکلاڼی" او مور ئې په غوري (غوریاخېلو) کي ثمکنی ده[۶۳۸]. ثمکني پښتانه د افغانستان د پکتیا په شرقي شمالي څنده کي ژوند کوي او د دغه ولایت په اداري تشکیلاتو کي یوه اولسوالي د ثمکني په نامه سته، د ثمکنو دره د پیواړ د غاښي (کوتل) جنوب غربي خوا ته پرته ده[۶۳۹]. د دغي درې شمال ته د منډهیر او غرب ته د بکیار په نامه غرونه راګرځېدلي دي. د ثمکنو په نامه یوه کلا هم دلته سته[۶۴۰]. مګر زموږ ګران لوستونکي باید دې ته ځیر وي، چي د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه نسبت نه ثمکني قبیلې ته دئ او نه د پکتیا د ثمکنو درې او کلا ته، بلکي د میا صاحب رحمة الله علیه نسبت د ثمکنو هغه کلي ته دئ، چي د پېښور له ښاره څخه لږ شمال ته مایل، شرقي خوا ته درې کروهه لیري پروت دئ او د پېښور او اټک ترمنځ لویه لار نژدې ورته تېرېږي[۶۴۱]. د میا صاحب رحمة الله علیه مورګنی د دغه کلي دي. دی هم پخپله په دغه کلي کي لوی سوی او ښخ دئ. د ثمکنو د کلي ختیځ ته تقریباً اته کروهه لیري د ازي خېلو کلی پروت دئ، ازي خېل د ثمکنو یوه پښه ده.

ترکلاڼي او باجوړ:

میا صاحب رحمة الله علیه د پلار له خوا ترکلاڼی پښتون دئ[۶۴۲]. ترکلاڼي، ګګیاڼي، منډړ او یوسفزي خښي دي. د داستان دیر په ۲۱ مخ کي محمدزي (محمودزي) هم خښي بلل سوي دي.

اخوند درویزه ننګرهاري (۱۰۲۸ هـ. ق. مړ) په تذکرة الابرار والاشرار کي راوړي دي:

"وایي: دوې خوندي د خښي په نکاح وې، مشره ئې مرجانه او کشره ئې بسو نومېدله، له بسو څخه د ترکلاڼو پلار (ترک) زېږېدلی دئ"[۶۴۳].

---

[۶۳۸] مومند، داودزي او ثمکني وزیراني غوري خېل (غوري) دي. زما (رشاد) په خیال (غوري) یا (غوري خېل) هغو پښتنو ته ویل کېږي، چي د چنګېز او چنګېزیانو د تاړاکونو له امله ئې د غور وطن پرې ایښی دئ او د غور ختیځ لورته راکوچېدلي دي. په نورو پښتني قبیلو کي هم غوریاخېل سته او دا زما د دغه ګمان ملاتړ کوي. حافظ الملک حافظ رحمت خان بړیڅی هم په خلاصة الانساب کي د دغه ګمان پر خوا دئ، ده هلته (په ۱۰۶ مخ کي) کښلي دي: "غوری که اسم محضه وی ابراهیم بود، اما به سبب تیول (یا – تولد) غورستان به غوری مشهور شد". د تواریخ حافظ رحمت خاني د اردو ژباړې په ۶۷۷ مخ کي هم "ابراهیم معروف غوری" کښلی دئ.

[۶۳۹] وګ: د هانري جارج راورټي د "Notes on Afghanistan and Baluchistan" د (۱۸۷۸ ع.) کال چاپ ۳۵ مخ.

[۶۴۰] قاموس جغرافیایي افغانستان، ۲/ ۷۷ مخ.

[۶۴۱] د دولت درانیه په ۵۷ مخ او واقعات دراني په ۶۵ مخ کي چي د دغه کلي نوم "چمکنا" لیکل سوی دئ، سمي ضبط نه دئ.

[۶۴۲] د تواریخ حافظ رحمت خاني د تعلیقاتو په ۲۳۲ مخ کي لیکلي دي، چي میا صاحب رحمة الله علیه په ترکلاڼیو کي سید خېل و.

[۶۴۳] وګ: تذکرة الابرار والاشرار، د پېښور د نیو ایکل ستار پریس چاپ، ۸۷ مخ.

حضرت میا محمد عمر صاحب رحمة الله علیه د خلاصه کیداني افغاني په مقدمه کي د اخوند درویزه غي خبري جواب په دري د وله ویلی دئ، له هغو جوابو څخه ئې یو جواب دا دئ:

وې دا دواړه خویندي، هسي خویندو باندي یادي
نه چي دواړه خویندي ما دري پدري زادي
نوم د مور ئې زده کړه د مرجاني وه سلطانه
دا نوم ئې څرګند دي، هسي نه چي دي پنهانه
پلار نوم ئې ته زده کړه، درته وایمه جلال
پلار د دې جلال دئ، باور وکړه چي جمال
پلار د دې جمال په نوم باله شي چي کمال
پلار د دې کمال بیا خالو نومی دا رنګ حال
پلار د خالو نومي درته وایم زکریا
وکړه پرې نظر که ته په سترګو ئې بینا
دا قوم شه ته پوه، زکریازي سره مشهور
هر قوم کي دوه نامي چي شته دي اوس مذکور
نوم چي د بسو د مور دئ، زده کړه ته مهرانه
دا لفظ مي صحیح دي، ځکه وایم دا عیانه
نوم د پلار ئې وایم خالقداد سره مشهور
دئ اوس په عالم کي په خالو سره مذکور
پلار د خالقداد ته نظر وکړه دئ جلال
زویه د برهان دئ درته وایمه کمال
ته که ما پوښتې برهان د چا و نور العین
پلار د برهان واوره په نامه و د حسین
اوس په پښتنو کي په میزان انساب تاله شي
ګوره چي اولاد ئې حسین زي سره باله شي
دا وروستی بیان د دې نسب ګوره صحیح دئ
ځکه ما ویلی په پښتو ژبه فصیح دئ
بده افترا ده چي ئې څوک په نسب وایي
بده افترا ده چي ئې څوک په حسب وایي
څوک چي مقتدا وي هغه نه وایي دروغ
دا دروغ ته پوه شه په عالم کي دي ناروغ

(خلاصه کیداني افغاني، د دهلي (۱۲۹۸هـ.ق.) چاپ، ۱۰مخ)

میا صاحب رحمة الله علیه په ترکلانیو کي ایسوزی دئ(۶۴۴). ایسوزي د باجوړ په جندول کي اوسي(۶۴۵). د جندول لویدیځه څنده په اسمار او بر کونړ پوري نښتې ده، جنوب ته ئې کوز باجوړ، ختیځ ته ئې دیر او شمال ته ئې د چترال جنوب غربي سیمي پرتې دي.

میا صاحب رحمة الله علیه په ایسوزیو کي موسی زی، په موسیزو کي اېمل خېل دئ. اېمل خېل په شال کنډی کي مېشته دي. شال کنډی د جندول په جنوب کي واقع ده(۶۴۶).

د میا صاحب رحمة الله علیه په مولفاتو کي د شال کنډی او جندول خاص ذکر نسته، ده خپل وطن په عام ډول سره د باجوړ په نامه داسي یاد کړی دئ:

باجـــوړ د پلار نیـــکه زما وطـــن دئ
څمکني په پېښاور کي مي مســـکن دئ(۶۴۷)

د میا صاحب پلار او نیکه:

حضرت میا محمد عمر صاحب رحمة الله علیه د ابراهیم زوی، د کلا خان لمسی، د فقیر خان کړوسی، د آدم خان کوسی، د احمد خان کودی او د یوسف خان پردی دئ. یوسف خان د هغه اېمل نیکه زوی دئ، چي اېمل خېل ئې په نامه یادېږي.

د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه نیکه کلا خان د شاه جهان مغول په پاچهي (۱۰۳۷-۱۰۶۸ ه.ق.) کي له وطنه پر ډېس سو، د لویدیځ پنجاب په فرید آباد(۶۴۸) نومي ځای کي ئې له یوې ښځي سره واده وکړ(۶۴۹) او هلته پسي مېشت سو. د روحاني ترون مولف لیکلي دي:

---

(۶۴۴) ښاغلي عبد الحلیم اثر ایسوزي د عینسوزي او عیسی زي په شکلونو هم کښلی دئ، (روحاني ترون، ۷۵۷ مخ). د ایسوزی پښې خانان مست خېل دي، غازي عمرا خان باجوړی (۱۳۲۴ ه. ق. مړ)، چي پرنګیانو "افغان ناپولیون" باله، هم مست خېل و.

(۶۴۵) پښتانه، ۵۵/۱ مخ.

(۶۴۶) روحاني ترون، ۷۵۷ مخ.

(۶۴۷) خلاصه کیداني افغاني، ۷ مخ.

(۶۴۸) د حدیقة الاقالیم په ۱۵۰ مخ کي کښلي دي:

د راوي رود چي تر لاهور تېرسي، له سرای سندهون نومي ځای سره په چناب رود ګډېږي. سرای سندهون له ملتانه څخه ۸ کروهه واټن لري. د سرای سندهون او لاهور تر منځ د راوي رود پر غاړه فرید آباد واقع دئ. د روحاني ترون په ۷۵۸ مخ کي د مخزن پنجاب د ۲۴۶/۲ مخ په حواله کښلي دي، "فرید آباد د راوي رود پر لویدیزه غاړه باندي د یوه ځای نوم دئ، له فرید آباده څخه د جنوب خوا ته یو نیم کروه لیري د سیدان والا کلي پروت دئ".

ډاکټر محمد باقر د پنجابي افسانو په ۵۵/۱ مخ کي لیکلي دي: فرید آباد د راوي رود پر غاړه یو ښارو، اوس ئې موقعیت موږ ته نه دئ څرګند. د میرزا صاحبان د قصې عاشق د فرید آباد اوسېدونکی و.

(۶۴۹) د روحاني ترون مولف لیکلي دي: کالو خان د سیدان والا کلي د مشواني ساداتو په خاندان کي یوه سیده په نکاح کړه. مګر میا صـاحب رحمة الله علیه پخپله لیکلي دي، چي زما د نیکه (کالو خان) مور سـیده وه، د ده خپل الفاظ دا دي:

کلا خان په (۱۰۶۶ هـ. ق.) کال له فريد آباده څخه باجوړ ته روان و، تر اباسين چي راپوري ت، په کالو خان نومي ځای کي چا شهيد کړ(۶۵۰).

د حضرت ميا محمد عمر صاحب رحمة الله عليه پلار ابراهيم په فريد آباد کي اوسېدئ، هلته ومړ او د وي سيند پر غاړه خاورو ته وسپاره سو. حافظ مرغُزي په احمد شاهي شهنامه کي ليکلي دي، ي ميا محمد عمر صاحب رحمة الله عليه د دوولسمي هجري سدی په شپږمه لسيزه کي خوب وليدئ، چي راوي اوبه ئې د پلار قبر ته ور رسېدلي دي او نژدې دئ، چي وئې نړوي. د دغي پېښي په باب د فظ مرغزي الفاظ دا دي:

چي حضرت ميا عمر دئ — پرې روښن تمام کشور دئ
چي مزار د قبله ګاه دئ — فريد آباد کي ئې بارګاه دئ(۶۵۱)
فريد آباد کې و، مزار — کشکي وای زه هلته ځار
اما، سيند په قدمبوس — په شورش راغلی اوس
چي نژدې راغی مزار ته — څه انتظار دئ و بهار ته
چي ئې روح د قبله ګاه و — نوراني تر مهر و ماه و
و صاحب ته شه حضور — هغه راز چي و مستور
نمودار شه مو بموی — په اسرار شه ګفتګوی
چي نژدې راغی درياب — په شورش را درومي آب
اوس مي يوسه له دې ځايه — که خوشبو دي عطر سايه
چي معلوم شه تمام راز — د سفر صورت شه ساز
له څوکنو صاحب روان شه — په دا لار د هندوستان شه
په لاهور کي شو داخل — تمام طی شو منازل
دا آواز شه په هر لور — چي داخل شه په لاهور

(احمد شاهي شهنامه، ۲۴ مخ)

د ميا صاحب رحمة الله عليه مشران هم د طريقت او سلوک تنبتنان وو، او په قادريه او چشتيه طريقو کي ئې کسب کړی و، ميا صاحب رحمة الله عليه پخپله ويلي دي:

اصلاً جد مي و پيدا له سيدې
زه سيد يم په نسبت د دې جدې

(خلاصه کيداني افغاني، ۷ مخ)

کېدای سي، چي د خلاصه کيداني افغاني په ځينو خطي نسخو کي د "جد" د کلمې پر ځای "پلار" ليکلی وي(؟).

(۶۵۰) د يوسفزي افغان په ۱۷۴ مخ کي ليکلي دي، چي کالو خان د عليخان مانيزي زوی د اکبر مغول (۹۶۳-۱۰۱۴ هـ. ق.) د زمانې سړی و. کالو خان ډله ده ته منسوب دئ، دغه ډله ته نژدې کلی، چي کالو خان نومېږي هم د ده په نامه دئ. د کالو خان ډنډ په خدو خېلو کي دئ.

(۶۵۱) فريد آباد دلته په دريو هجاوو ويل کېږي.

پلار نيکه زما تېر شوي بزرګان وو څوک په ذيل د قادري، څوک چشتيان وو(۶۵۲)

له دغه امله نو د ميا صاحب رحمة الله عليه کورنۍ په ابمل خېلو کي په "مياخېلو" مشهوره وه او د روحاني تړون مولف په باجوړ کي د ميا صاحب رحمة الله عليه د نيکه ګانو کلي د "ميا کلي" په نامه ياد کړی دئ. ميا کلي اوس هم د جندول په جنوبي برخه کي سته.

د ميا صاحب رحمة الله عليه د ژوندانه ابتدايي حالات:

د حضرت ميا صاحب رحمة الله عليه د زوکړي کال د روحاني تړون په ۷۵۵ مخ کي (۱۰۸۴ه. ق.) کال او په ۷۶۰ مخ کي تخميناً (۱۰۸۲ه. ق.) کال کښلی دئ. د تذکره علماء و مشايخ سرحد په ۹۲/۱ مخ کي د ميا صاحب رحمة الله عليه د زوکړي کال (۱۰۸۴ه. ق.) راغلی دئ او په يوه بل ځای کي (۱۰۸۰ه. ق.) کال هم زما (رشاد) تر سترګو سوی دئ. زه (رشاد) ګمان کوم دا ټول تاريخونه حدسي دي، که زما دا ګمان سهي وي، نو زه (۱۰۸۰ه. ق.) کال تر ټولو غوره ګنم او تر (۱۰۹۹ه. ق.) کال د مخه په علم پسي کابل ته د ميا صاحب رحمة الله عليه راتلل زما د دغه انتخاب ملاتړ کوي(۶۵۳).

د ميا صاحب رحمة الله عليه د زوکړي د ځای په باب د روحاني تړون مولف کښلي دي:

"په پښنور باندي قحط سالي (کاختي) راغله، خلق د هغي د لاسه پنجاب ته کډه خواره سول، په دغو خلقو کي د (پښنور) د څمکني نومي کلي ملک سعيد خان، چي په قام هم څمکنی و، په کډه فريد آباد ته ولاړ... څه موده پس دغه ملک سعيد خان د ابراهيم خان عليه الرحمه سره خپلوي وکړه او خپله لور ئې ورله په نکاح کړه، د هغې بي بي نه د حضرت ابراهيم خان درې زامن پيدا شول محمد عمر، محمد موسی، محمد عيسی. په دوی کي دغه مشر فرزند په غوث العالم ميا محمد عمر د څمکنو سره مشهور شه.

قحط سالۍ (کاختۍ) دوران چي ختم شه.... نو سعيد خان څمکنی بيرته څمکنو ته په کډه راغی.... څه موده پس هلته په فريد آباد کي ابراهيم خان په حق ورسېده، سعيد خان چي ترې خبر شه.... فريد آباد ته ورغی خپله لور بي بي او يتيمان نمسي محمد عمر، محمد موسی او محمد عيسی ټول ئې د ځان سره څمکنو ته په کډه راوستل.... د فريد آباد پنجاب نه چي ميا محمد عمر صاحب رحمة الله عليه له خپل نيکه سره څمکنو ته راتلو، د دوی عمر به زيات نه زيات دوولس يا څورلس کاله و"(۶۵۴).

د ښاغلي عبد الحليم اثر له دغه بيانه دا راوزي، چي حضرت ميا محمد عمر صاحب رحمة الله عليه د

---

(۶۵۲) توضيح المعاني، ۱۱ مخ.

(۶۵۳) وګ: د ميا عمر صاحب رحمة الله عليه خزينة الاسرار، د افغانستان د علومو د اکاډيمۍ خطي نسخه، ۲۵۲ مخ.

(۶۵۴) روحاني تړون، ۷۵۹–۷۶۰ مخونه.

پنجاب په فريد آباد کي زېږېدلی او د ۱۲ يا ۱۴ کالو په عمر د پېښور ځمکنو (مورني کلي) ته تللی دئ، او په تذکره علماء سرحد او بحر الانوار کي هم دغه مطلب ځني اخيست سوی دئ[۶۵۵]. زه (رشاد) د دې خبري پلوي ځکه نه کوم، چي د حضرت ميا عمر صاحب رحمة الله عليه خپله ليکنه دا خبره ماتوي، ميا صاحب رحمة الله عليه په خزينة الاسرار کي کښلي دي:

"..... فقير که راقم اين حروفم نيز در آن محل بخدمت حضرت ايشان (سعدي لاهوري رحمة الله عليه) بودم و آنحضرت بدست مبارک خود قدری از آن طعام بفقير دادند و چون از آنجا روان شدند ياران همه پيش و پس بودند و جز فقير کسی همراه پالکی[۶۵۶] در فتراک آنحضرت نبود و پاره جو بريان بجهة حضرت خواجه محمد عارف (فرزند کهتر شيخ سعدی رحمة الله عليه) گرفتند و خواجه (محمد عارف) در پالکی در پيش آنحضرت نشسته بودند ....

پس آنحضرت از فقير پرسيدند که پيش ازين هم اين راه را ديده ای؟

گفتم: آری .... پرسيدند که مولد تو کدام است، و نشو و نما کجا يافته ای؟

گفتم: مولد پشاور است و نشو نما هم آنجا يافته ام ..."[۶۵۷].

ميا صاحب رحمة الله عليه ابتدايي تحصيل د پېښور په شاو خوا کي کړی دئ او تر (۱۰۹۹ ه. ق.) کال دمخه د علم په حاصلولو پسي کابل ته راغلی دئ. ده په خزينة الاسرار کي کښلي دي:

"حضرت ايشان (شيخ سعدي لاهوري رحمة الله عليه) در شهور سنه تسع و تسعين و الف بحسب التماس رسول خان نبيره بهادر خان از لاهور به پشاور تشريف برده بودند و آن کرت اولی بود و سيد يوسف اکبر پوري اين سه کلمات "شيخ سعدی آمد (= ۱۰۹۹)" را متضمن تاريخ آمدن آنحضرت به پشاور يافته بود ....

فقير راقم اين حروف بحسب صورت هنوز در مسلک بندگان آنحضرت منسلک نشده بودم و در آن ايام بکابل بودم"[۶۵۸].

ميا صاحب رحمة الله عليه تر (۱۱۰۳ ه. ق.) کال دمخه له کابله څخه پېښور ته ستون سوی دئ او په (۱۱۰۳ ه. ق.) کال له پېښوره څخه د کوهاټ، بهيرې، خوشاب، ډېره اسماعيل خان، ډېره غازي خان او ملتان له لاري لاهور ته تللی دئ. په دې لاره کي ده اووه مياشتي تېري کړي دي او په (۱۱۰۴ ه. ق.) کال په لاهور کي د حضرت شيخ سعدي لاهوري نقشبندي رحمة الله عليه (۱۰۳۳-۱۱۰۸ ه. ق.) په حضور مشرف سوی دئ[۶۵۹]. خو د مريدېدلو کوم ذکر ئې په دغه پلا ليدلو کي زما تر سترګو سوی نه دئ.

---

[۶۵۵] وګ: تذکره "علماء و مشايخ سرحد"، ۹۳/۱ مخ او بحر الانوار، ۲۱۲ مخ.

[۶۵۶] پالکی يا امبالی هغه کجاوه نما شی دئ، چي د پيل پر شا ئې باروي او پاچهان او اميران پکښي کښېني.

[۶۵۷] د خزينة الاسرار د خطي نسخې ۵۷۷ مخ.

[۶۵۸] د خزينة الاسرار د خطي نسخې ۲۴۰ او ۲۴۲ مخونه.

[۶۵۹] د خزينة الاسرار د خطي نسخې، ۴۳۹ او ۵۷۸ مخونه.

حضرت شیخ سعدي لاهوري رحمه الله د (۱۱۰۵ هـ. ق.) کال په وروستیو میاشتو کي د پېښور په نیامت دوهمه پلا تر اټک پوري ووت او د یوسفزیو سیمي ته ولاړ. حافظ عبد الرحیم د پېښور سیمو ته د حضرت شیخ سعدي لاهوري د دوهم پلا ورتګ تاریخي ماده "محمدی مشرب است (= ۱۱۰۵)" موندلې ده. د کوچني اختر د میاشتي وروستۍ یا د میانۍ لومړۍ ورځ وه، حضرت شیخ سعدي لاهوري رحمه الله د دوآبې په مټه مغل خېلو کي د مولانا فاضل پاپیني مېلمه و، چي میا صاحب رحمه الله ئې په حضور مشرف سو. شیخ سعدي لاهوري رحمه الله په دغه سفر کي د خیبر د سیمي تر لیدلو وروسته د (۱۱۰۶ هـ. ق.) د صفري د میاشتي په یوولسمه پېښور ښار ته داخل سو او میا صاحب رحمه الله دغه غرا پارسي قصیده ورته وړاندي کړله:

دیده این دیدهٔ دلم یکسر … منزل عشق از همه بر تر
عشق مسند نشین ملک دلت … رایتش بر همه فراخته سر
هر چه بینی میان کون و مکان … همه از بهر عشق بسته کمر
سرفرازی چرخ از عشق است … شده روشن ز عشق شمس و قمر
بسوی گلستان و دشت خرام … شاد و غمگین عشق را بنگر
لاله را زوست داغ مادر زاد … زرد شد از غمش گل جعفر
نازم این عشق راکه رعنا زوست … دل پر خون و عارض اصفر
از غم عشق جامهٔ نیلی … شده پشتش دو تا بنفشه نگر
هست ز انعام عشق نرگس را … مژه از نقره ناب و دیده ز زر
سرو آزاد کردهٔ عشق است … زو است این تازگیش پا تا سر
دارد از جوش عشق و گرمی او … ارغوان زار جامهٔ احمر
گنج عشق است و کان مخزن عشق … سعد دنیا و دین سعید اختر
شاه عشاق حضرت سعدی … نام او عشق را بود افسر
چه غلط عشق خود کمینه اوست … داده او فقر را طراز دگر
فقر باشد کمال حاصل او … تاج "الفقر فخری" اش بر سر
بهر تعلیم فقر بر در او … حلقه زد عالمی چو انگشتر
بر درش عالمی ز اهل نیاز … اسمان بر درش بساید سر
واقف راز عالم لاهوت … محرم سر واحد اکبر
تافت از التماس مخلص خویش … از تلطف عنان به پیشاور
این عنان تابی است بار دوم … بوده روز دوازدهم ز صفر
بود آن چار شنبهٔ نیکو … وقت سعد و زمان نیک اختر
که بیفگند سایه بر عالم … فیض ازو یافت کهتر و مهتر
تا پشاور جبین به پایش سود … شده لبریز نور خانه و در
بسکه روشن ز نور او شده است … خنده دارد بحال شمس و قمر

گفت روزی عزیز نادر دهر | کین زمان را تو یاد دار عمر!
گفتم از بهر این کنم موزون | مصرعی همچو ابروی دلبر
بهر تاریخ این نکو ایام | چون بماندم بفرق زانو سر
داد بر من سروش غیب ندا | "داده او روشنی پیشاور"[٦٦٠]
سایه فضل او همیشه دوام | داردم ایزد جهان بر سر

میا صاحب رحمة الله علیه په دغو وختو کي له چا سره میرزا و، او له دغه لاري ئې روزي ګټله[٦٦١]، کله چي ور معلومه سوه، چي دغه سړی سود خور دئ، بیا ئې نو د هغه نوکري پرېښووله او د یوه بل چا د زامنو استاد سو. میا صاحب رحمة الله علیه لیکلي دي:

د (۱۱۰۸ هـ. ق.) کال[٦٦٢] (د دوهمي خور په وروستیو ورځو کي) چي حضرت سید محمد قطب مشوانی رحمة الله علیه پېښور ته راغی، زه د ده سره وم، د استادۍ وظیفي ته حاضر نه سوم، کله چي زه خپلي وظیفې ته ورغلم، زما پر ځای ئې بل سړی مقرر کړی و.

د میا صاحب رحمة الله علیه د نورو دنیاوي مشغلو په باب تر اوسه پوري نور معلومات نسته.

سلوک:

میا عمر صاحب رحمة الله علیه په (۱۱۰۵ هـ. ق.) کال د شیخ سعدي[٦٦٣] لاهوري بلخاري یا بلغاري رحمة الله علیه (۱۰۳۳–۱۱۰۸ هـ. ق.) لاس نیوی وکړ او د نقشبندي مجددي طریقې تلقین ئې وموند. شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د پښتانه ستانه شیخ آدم مشواني رحمة الله علیه (۱۰۵۳ هـ. ق. مړ،

---

[٦٦٠] "داده او روشنی پیشاور" = ۱۱۰۶

[٦٦١] د خزینة الاسرار د خطي نسخې ۴۰۳ مخ.

[٦٦٢] دغه سنه د روحاني تړون په ۷٦۷ مخ کي (۱۱۰۷ هـ. ق.) کښلې ده، باید سهې سي.

[٦٦٣] شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د ابدال زوی په (۱۰۳۳ هـ. ق.) کال د غربي پنجاب ایمن آباد ته نژدې په اُدي Uddi نومي کلي کي زېږېدلی دئ، (وګ: د میا عمر صاحب خزینة الاسرار، ۱۵۸ مخ). شیخ سعدي اته کلن و، چي د غربي پنجاب یو لوی بزرګ شیخ سعد الله وزیر آبادي (۱۱۰۲ هـ. ق. مړ) د خپل پیر شیخ آدم بانوري رحمة الله علیه د لیدلو له پاره بانور (سرهند ته نژدې یو کلی دئ) روان و، شیخ سعدي په پسې سو، بانور ته چي ورسېدل، د شیخ آدم رحمة الله علیه خاصي توجه د برخي تښتن کړ. شل کلن سوی لا نه و، چي د ارشاد اذن ئې وموند. شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د (۱۱۰۸ هـ. ق.) کال د دوهمي خور په درېیمه ورځ په لاهور کي ومړ او په مزنګ کي خاورو ته وسپارل سو.

د ننګرهار مولوي قاضي ابراهیم کاموي ما ته ویلي و، چي موږ د دغه شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه لمسیان یو.

مولوي نور احمد چشتي چي د تحقیقات چشتي په ۳۱۲/۱ مخ کي د ده د مرګ کال (۱۰۸۷ هـ. ق.) لیکلی دئ او د نوښاري عبد الروف د کتاب بحر الانوار په ۲۰۸ مخ کي چي د (۱۱۰۸ هـ. ق.) پر ځای (۱۱۸۰ هـ. ق.) لیکل سوي دي، ګران لوستونکي باید دغو دواړو تېروتنو ته ځیر وي.

په مدينه منوره کي ښخ) له لويو خليفه ګانو څخه و (۶۶۴). شيخ آدم مشوانی رحمة الله عليه د حضرت مجدد الف ثاني شيخ احمد الکابلي السرهندي رحمة الله عليه (۹۷۱-۱۰۳۴ هـ. ق.- په سرهند کي ښخ) لوی خليفه و.

په (۱۱۰۸ هـ. ق.) کال چي حضرت شيخ سعدي لاهوري رحمة الله عليه ومړ، ميا صاحب رحمة الله عليه د نوموړي شيخ سعدي لاهوري رحمة الله عليه د يوه لوی خليفه سر اعظم شيخ يحيی اټکي رحمة الله عليه (۱۰۴۱-۱۱۳۱ هـ. ق.) لمن ټينګه کړله (۶۶۵)، د ده د روزني له فيضه ئې درنه برخه وموندله، د سلوک لوړو مقاماتو ته ورسېد او د ارشاد اذن ئې وموند.

ميا صاحب رحمة الله عليه خپله نقشبندي شجره په نظم ليکلې ده، د هغې څو بيتونه دا دي:

دا بيان کرسي نامه د نقشبند ده — له حضرت صديق تر ما پوري پيوند ده
شيخ احمد فاروقي او سرهندي — په کمال شه د ده راز ارجمندي
د بنور حضرت آدم عالي نسب — سرفراز شه په عالم له دې حسب
شيخ سعدي چي د لاهور ولي ممتاز شه — دا په دا چي دی امين د هغه راز شه
حضرت جي چي د اټک قطب الاقطاب دئ — هغه راز د پاک حضرت سره کامياب دئ
له حضرت جي دې فقير ته بيا ارشاد شه — خراب زړه په دا اسرار سره آباد شه

ميا صاحب رحمة الله عليه پر شيخ سعدي لاهوري رحمة الله عليه او شيخ يحيی اټکي (د اټک حضرت جي) سربېره د شيخ سعدي له تربيت يافته ګانو مولانا محمد قطب مشواني رحمة الله عليه (۶۶۶) (۱۱۰۸ هـ. ق. مړ)،

---

(۶۶۴) شيخ آدم مشوانی رحمة الله عليه لومړی د حاجي خضر روغاني پښتانه (۱۰۳۵ يا ۱۰۵۲ هـ. ق. مړ) مريد و، بيا په (۱۰۳۱ هـ. ق.) کال د حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله عليه مريد سو او په همدغه کال ئې د خلافت خرقه او د ارشاد اذن وموند، (وګ: سيرت امام رباني، ۱۳۸ مخ). په (۱۰۵۰ هـ. ق.) کال مغل شاه جهان (۱۰۳۷-۱۰۶۸ هـ. ق.) حکم وکړ، چي شيخ آدم دي د ده له قلمرو ووزي. شيخ آدم له خپلي کورنۍ او څو تنو مريدانو سره حجاز ته هجرت وکړ. د (۱۰۵۳ هـ. ق.) کال د کوچني اختر د مياشتي په ديرلسمه په مدينه منوره کي ومړ او په جنت البقيع کي خاورو ته وسپارل سو.

حاجي محمد امين بدخشي "نتايج الحرمين" نومی کتاب د ده د ژوندانه د حالاتو او مناقبو په باب کښلی دئ. "تذکره آدميه" هم د ده په مناقبو کي کښل سوې ده.

(۶۶۵) شيخ يحيی په ذاته چغتی مغول و، پلار ئې پير داد، نيکه ئې الياس او ورنيکه ئې شيخ هويا نومېده. د اباسين پر غاړه په اټک کي اوسېدئ، په اټک کي مړ او هلته د اباسين پر غاړه باندي ښخ دئ، (وګ: د مياعمر صاحب خزينة الاسرار، ۵۰۴ مخ). د بزرګان لاهور په ۱۱۵ مخ کي چي د شيخ محمد يحيی سره د اټکي پر ځای "زنګي"، د سر اعظم پر ځای "سير اعظم" ليکلی دئ، چاپي تېروتنه به ئې وبولو، مګر دا چي شيخ محمد يحيی اټکي رحمة الله عليه ئې د شيخ آدم بنوري رحمة الله عليه خليفه بنوولی دئ، د اصلاح وړ تېروتنه ده.

(۶۶۶) مولانا محمد قطب مشوانی رحمة الله عليه د حضرت خواجه محمد مشوانی رحمة الله عليه (۱۰۶۳ هـ. ق. مړ) زوی او د حضرت شيخ آدم مشوانی رحمة الله عليه (۱۰۵۳ هـ. ق. مړ) لمسی و، د پېښور د دوآبې په مغول خېلو کي ومړ، د پېښور ښار د شيخ حبيب (۱۰۹۳ هـ. ق. مړ) په هديره کي امانت خاورو ته وسپارل سو. لس يا يوولس مياشتي وروسته ئې بنور ته يووړ او د پلار څنګ ته ئې ښخ کړ، (خزينة الاسرار، ۴۴۳ مخ).

حضرت سید عبد الشکور اټکي رحمة الله علیه (٦٦٧) (۱۱۱۳ هـ. ق. مړ) او حضرت شیخ عبد الغفور پېښوري رحمة الله علیه (٦٦٨) (۱۱۱۶هـ. ق. مړ) له خدمتونو او صحبتونو څخه هم فیض او برکت تر لاسه کړی دئ.

میا صاحب رحمة الله علیه پر دغه معنعن تربیت سربېره اویسي روزنه هم موندلې ده، ده پخپله ویلي دي:

طریقه ده اویسي زما له ځایه | په ما فضل ګوره شوی و له خدایه
باري وم په دا مامور چي امانت | وساتم چي د ښه خدای په ما منت
له اوله تر آخره هغه راز | پاک رسول سره چي کړی و بې نیاز
هغه راز دئ ما ساتلی امانت | زیاتي مه غواړه له ما ډېر حکایت

(توضیح المعاني، ۱۲مخ)

په (۱۱۳۱هـ. ق.) کال چي اټکي حضرت جي صاحب رحمة الله علیه ومړ، د روحي روزني له پاره ډېر خلک میا صاحب رحمة الله علیه ته رامات سول او د بزرګۍ او ولایت ږغ ئې تر لېرو ولاړ. حافظ مرغزي لیکلي دي: د دوولسمي هجري سدۍ په شپږمه لسیزه کي، چي د افشار نادر د فتور دوره وه، میا صاحب رحمة الله علیه لاهور ته ولاړ، د لاهور نیکان او ملایان ده ته راغلل او له نادري وحشته څخه ئې د خلاصون دعا ورڅخه وغوښتله. د حافظ مرغزي خپل بیان دا دئ:

له څوکنو صاحب روان شه | په دا لار د هندوستان شه
.... | ....
دا آواز شه په هر لور | چي داخل شه په لاهور
د لاهور چي علما وو | د فنونو فضلا وو
په خدمت واړه تیار | د مشکل په استفسار

---

(٦٦٧) د سید اسحاق زوی سید عبد الشکور رحمة الله علیه اټک ته نژدې په ابابکر کلي کي اوسېدی. ابابکر کلی له اټک څخه درې فرسخه لیري واقع و. د عبد الشکور پلار په ټټه (سندهـ) کي زېږېدلی او په چشتیه طریقه کي د شیخ نظام بلخي تهانیسري رحمة الله علیه (۱۰۳۶ هـ. ق. مړ– په بلخ کي ښخ) مرید و. په چچ هزاره کي اوسېدئ. سید عبد الشکور لومړی د حاجي محمد اسماعیل غوري نقشبندي رحمة الله علیه (۱۱۱۱هـ. ق. مړ– په پېښور کي ښخ) مرید و، بیا ئې د شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه لاس نیوی وکړ. په دغه وخت کي له ابابکر کلي څخه د تیرایانو کلي ته راکډه سو، (تیراهي له څمکنو څخه درې کروهه لیري د شرق خوا ته پرته ده). دلته په (۱۱۱۳هـ. ق.) کال شهید سو زیارت ئې په ابابکر کلي کي دئ. (خزینة الاسرار، ۴۶۰ مخ).

(٦٦٨) حافظ عبد الغفور پېښوری رحمة الله علیه د شیخ صالح کشمیري رحمة الله علیه زوی و. لومړی ئې په پېښور کي له حاجي محمد اسماعیل غوري رحمة الله علیه څخه په نقشبندیه مجددیه طریقه کي د ارشاد اذن وموند، بیا ئې د پیر په اجازه له شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه څخه استفاضه وکړله او د خلافت خرقه ئې وموندله. د کراماتو تښتن بزرګ و. د (۱۱۱۶هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په څورلسمه په پېښور کي ومړ. زیارت ئې د پېښور ښار په صدر کي شرقي تاڼې ته نژدې واقع دئ. حاجي محمد اسماعیل غوري رحمة الله علیه هم دلته ښخ دئ. د کندهار نامتو نقشبندي مرشد میا عبد الحکیم کاکړ رحمة الله علیه (۱۱۵۳هـ. ق. مړ) له دغه شیخ عبد الغفور رحمة الله علیه څخه فیض موندلی دئ او د ده خلیفه و.

څوک په عرض د خپل حاجات .... څوک په حل د مشکلات
اما وخت د نادرشاه وه .... د هر چا تر حلقه ساه وه
په دنیا د ظلم اور و .... لګېدلی په هر کور و
درست عالم، و پرې ګداز .... چې د جور ئې و آغاز
په مجلس د ذو الکرم .... چا بیان که تمام غم
چه عالم شه ګرفتار .... د نادر په ظلم خوار
ته صاحب زبان اثر ئې .... مهربان غریب پرور ئې
په درګاه د خدای قبول ئې .... په مجلس د پاک رسول ئې
چې ته غوث ئې د جهان .... درست عالم په تا ودان
د دنیا چې دئ نظام .... په تا ختم دئ تمام
په نظر دئ دا جهان .... صغیر نوک دئ نمایان
مهربان ئې په مظلوم .... دغه حال دئ را معلوم
ستا دعا ده مستجابه .... په درګاه عالیجنابه
ستا دعا لري اثر .... ماتوي د غرونو سر
اوس دعا کړه په دا باب .... چې نادر کړې خدای خراب
درست عالم شي څیني پاک .... په هوا شي لکه خاک
چې میا صاحب نظر که .... تامل ئې په دفتر که
یو ساعت ګوره خاموش و .... که مظلوم وهلی جوش و
نور ئې لاس که په دعا .... چې روښن و تر شعا
خدایه خاوري کړې نادر .... ته په هر څیز ئې قادر
ته صاحب یتیم نواز ئې .... ته خبر زموږ په راز ئې
ته قبله ئې د حاجاتو .... ته مجیب ئې د دعواتو
په تجدید د شهریار .... منور کړې دا دیار
چې رونق شي د اسلام .... پرې عروج راشي تمام

دا آرزو که بندګان .... خدایه ته ئې مهربان

مقاصد ورته عیان کړې .... مسخر ئې هندوستان کړې
د سکندر په دود تاجور وي .... بهادر فتح کشور وي
بنسه پادشاه کړې ارجمند .... په زمین زمان بلند

(احمدشاهي شهنامه، ۲۵-۲۶مخونه)

حافظ مرغزي وایي، چي تر دې دعا وروسته د څوکنو میا صاحب رحمة الله علیه د مجلس خلکو ته ...ي ورکړ، چي د کندهار په سیمه کي به یو صوفي او عادل پاچا پر تخت کښېني او د افشار نادر ظلمه به مو خدای جل جلاله خلاص کړي. د حافظ مرغزي خپل الفاظ دا دي:

"دا دعا چي شوه تمامه — په دا باب د خاص و عامه
په تقرير ګوهر فشان شه — په فصیح ژبه ګویان شه
ښه کلام ئې کړ بیانه — په لاهور کي زما جانانه!
په دا لور د قندهار — بل به راشي شهریار
مصفا، صوفي مذهب — په مذاق بلند مشرب"

د میا صاحب رحمة الله علیه پیشګویي رښتیا سوه، د افشار نادر تر وژل کېدلو وروسته د (۱۱۶۰ ق.) کال د رجب په میاشت، په کندهار کي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ پر تخت ...ښیناست.

میا صاحب رحمة الله علیه او لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه روابط:

د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه د ملایۍ او بزرګۍ ږغ کندهار ته هم رسېدلی و. د کندهار ...متو عالم ملا شاهو اخوند ساګزی هوتک رحمة الله علیه چي په ارادت سره مشهور و، د ده خلیفه و[۶۶۹]. ...ه (رشاد) باور لرم، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه (۱۱۶۰–۱۱۸۶ ه. ق.) ته به هم تر پاچا کېدلو ...مخه د ده د ښه سړیتوب آوازه رسېدلې وه او لیري نه ده، چي د لاهور د دعا او پېشګویۍ قصې ...ي هم ورته سوي وي.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه که له یوې خوا بزرګانو ته ارادت او ملایانو ته احترام درلود، له بلي ...خوائې د خپلي پاچهۍ ستني هم په دوی ټینګولې. د (۱۱۶۰ ه. ق.) کال د میانۍ په میاشت کي ...چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خپله لښکره سره تر خیبر وا وښت او پېښور ئې له ناصر خان زیک ...(د ډهلي د دربار والي) څخه ونیو، له میا صاحب رحمة الله علیه څخه د دعا اخیستلو له پاره څمکنو ته ...ورغی، د ځینو په قول مرید ئې سو او د لنګر له پاره ئې په وارو وارو ډېري سرکاري مځکي ...وروبخښلې. د ننګیالي پښتانه په ۱۲۴ مخ کي لیکلي دي:

"د غازي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د څمکنو میا صاحب رحمة الله علیه ته وربخښلي سوي مځکي په مردان، ګړی کپوره، ګړی دولت زی، اسماعیل زی او د پېښور په کچوری میره کي وې.

---

(۶۶۹) وګ: مکتوبات حاجي دوست محمد قندهاري ۵۷ مخ. په کندهار کي یوه تکیه تر اوسه پوري د ده په نامه یادېږي. د ملا شاهو اخوند تکیه د کندهار د احمدشاهي ښار لویدیځي خوا ته، د چوڼۍ او میرزا احمدخان کلاچې ترمنځ واقع ده. د ده زوی ملا شېر محمد هوتک، چي تر لسو زیات مولفات لري، په دغه تکیه کي ښخ دئ. د هوتکو ساګزی پښه په حسین زیو او حسین زي په ملکیارو ګډېږي. ښالم خېل (پاچاخېل) د ساګزیو هوتکو یو ښاخ دئ.

پهلاس کي دي".

اوس دغه محکمې د اوقافو د محکمې (اداري) په لاس کي دي".

حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه د غوري او خښني لوی پیر و، د روحي به ئې پنځو سوو تنو ته، په لنگر کي دوډۍ پخېدله. له باجوړ څخه نیولې تر چچ و هزاره پوري د ده مریدان وو. د ده له دعا او رضا سره د پېښور د مضافاتو ټول پښتانه د زړه له کومي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ملاتړ سول.

منشي محمود الحسیني په تاریخ احمدشاهي کي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي لومړی وار د سرهند (منوپور) له جنگه څخه کندهار ته ستنېدی، تر خیبر چي واوښت، حال ورته راغی چي د پېښور د پخواني والي ناصرخان زیگ زوی خان بهادر په پېښور کي پورته سوی او پېښور ئې نیولی دئ. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره سردار جان خان سپهسالار د نوموړي خان بهادر خان ځبلو ته وگماره سو.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لا په کابل کي و حال ورته راغی، چي سردار جان خان د حضرت میا محمد عمر صاحب رحمة الله علیه او د ده د مریدانو په مرسته، بهادرخان بندي کړ او پېښور ئې ونیو. د منشي محمود الحسیني خپل الفاظ دا دي:

"خان جانخان سردار که مامور برفتن الکای پیشاور بجهة تنبیه خان بهادر پسر ناصر خان شده بود در آنجا رسیده بهمدستی حامی شرع اطهر حضرت میا محمد عمر و اتفاق دیگر مریدان و معتقدان آن مقرب درگاه حضرت خالق اکبر اورا دستگیر و رفقای شرارت پیشه آن را تنبیه وتعذیر نموده شهر پشاور را بتصرف درآورد"[۶۷۰].

عبد الحلیم اثر د روحاني تړون په ۱۷۵۵ او ۷۷۷ مخونو کي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د مرېټي غزا ته تئ، د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه اووه لس نیم زره مریدان او درې خلیفه گان (اخوند محمد یوسف، لوی اخوند جان محمد او اخوند محمد اکرم) ورسره مله سول. د میا صاحب رحمة الله علیه کشر زوی عبید الله میا گل هم ورسره و.

منشي محمود الحسیني د (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال په پېښو (واقعاتو) کي لیکلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د ډیرو له سفر څخه راورسېدی، حال ورته راغی چي چړهت سنگه[۶۷۱] او گوجر سنگه بیا له خپلو لښکرو سره له ځنگلو راووتل او سربلندخان سدوزی[۶۷۲] ئې په رهتاس (روتاس)[۶۷۳] کي کلابند کړی دئ. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پېښور حاکم دانش

---

[۶۷۰] تاریخ احمدشاهي، د مسکو (۱۹۷۴ع) چاپ، ۱/۱۳۳ مخ.

[۶۷۱] چړهت سنگه د رنجیت سنگه پلار و، رنجیت سنگه هغه څوک دئ، چي له (۱۲۱۵ هـ. ق.) کال څخه تر (۱۲۵۶ هـ. ق.) کال پوري ئې د لاهور واک په لاس کي و او د سکهانو پاچهي ئې جوړه کړله.

[۶۷۲] سربلند خان سدوزی په (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره د روتاس پوځدار مقرره سوی و.

[۶۷۳] په سنده ساگر کي د جهیلم د رود پر غاړه یو غر د روتاس په نامه سته، د دغه غره په لمن کي شیرشاه سوري (۹۴۷-۹۵۲ هـ. ق.) په (۹۴۷ هـ. ق.) کال د رهتاس په نامه د یوې پوځي کلا د ودانۍ تیږه کښېښووله، چي د هغه وخت د سنجش له مخي پنځوس زره سپاهیان پکښي ځایېدل. د روتاس د کلا پر دروازه لیکلي دي: "دا کلا شیرشاه

خان وګماره، چي د يوسفزيو او غلجيو له لښکرو سره د زبدة العارفين او قدوة السالکين حضرت ميا محمد عمر رحمة الله عليه د شاګرد ملا محمد اکرم په ملګري د سربلند خان د مرستي له پاره رهتاس ته ځان ورسوي [۶۷۴]. دغه ملا محمد اکرم اخوند د مريتي (پاني پت) په غزا کي هم د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د لښکرو ملګری و.

د (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال د محرمي په دوه ويشتمه، چي شهزاده سکندر له شلو زرو سپرو سره د پېښور د حاکم په توګه هغې سيمي ته ولېږل سو، سردار جان خان پوپلزی د مدار المهام (سرپرست) په توګه ورسره و.

د تېرهېر شاعران مولف ليکلي دي:

په دغه وخت کي د باجوړ خان مير عالم خان ابراهيم خېل سالارزی و [۶۷۵]. د مير عالم خان د خودسری له امله د ده او سردار جان خان تر منځ څه اختلاف پېښ سو، مګر ډېر ژر د څوکنو ميا صاحب رحمة الله عليه سره پخلا کړل. د ميا صاحب رحمة الله عليه يوه مريد "دادين" په دغه باب ويلي دي:

دا و تعظيم ته د صاحب سردار جان خان راغلی	که په فرياد ورته مزری د نيستان راغلی
دا څه سردار دئ، چي راځي دده د وره په تعظيم	خود قدمبوس تې احمد شاه دردران راغلی
راغی سردار سرداران خود په تکريم د حضور	ورسره هم د باجوړ مير علم خان راغلی
صاحب د کشف ورته ووې: شدت نه دئ په کار	الصلح خير، بنه آيت دئ په قرآن راغلی [۶۷۶]

د روحاني تړون د مولف په قول د احمدشاهي دربار ډېر اراکين د حضرت ميا عمر صاحب رحمة الله عليه مريدان وو، لکه:

- اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزی (۱۱۸۶ هـ. ق. مړ)
- غازي سردار جان خان پوپلزی احمدشاهي سپهسالار (۱۱۹۱ هـ. ق. مړ)
- مصلح الدوله نور الدين خان بامېزی د کشمير حاکم (۱۱۸۴ هـ. ق. مړ)
- شجاع الملک حاجي کريمداد خان بامېزی عرض بيګي او بيا په (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال

سوري په شپاړس کروړه اووه لس لکه دامه جوړه کړې ده". د پښتو تاريخ هندوستان په ۶۱۷ مخ کي دغه دامونه د څلوېښتو لکو پنځه ويشتو زرو کلدارو برابر بلل سوي دي.

(فوايد فقير الله، تعليقات، ۷۶ مخ)

[۶۷۴] تاريخ احمدشاهي، ۲/ ۱۲۱۷ مخ.

[۶۷۵] د ترکلانيو په سالارزو کي خان خېل براهيم خېل دي، مير عالم خان براهيم خېل د باجوړ لوی خان و، توپخانه او هاتيان ئې لرل. د باجوړ په ښار نومي ځای کي اوسېدی. د باجوړ دغي کورنۍ تر (۱۳۰۲ هـ. ق.) (= ۱۸۸۵ ع) کال پوري د سيمي خاني وساتله، په دغه کال د دغه کورنۍ وروستي خان دلارام خان، د غازي عمراخان له لاسه ماتي وخوړله، پېښور ته په کډه ولاړ.

د کرهالي باغ، په کونړ کي د سرکانيو زړه کلا او د شيګل امان کوټ دغه مير عالم خان ودان کړي دي.

(پښتانه، ۱/۵۶ مخ)

[۶۷۶] وګ: تېرهېر شاعران، د پېښور (۱۹۶۳ ع.) چاپ، ۱۵۴-۱۵۵ مخونه.

د کشمیر حاکم (۱۱۹۷هـ. ق. مړ)

- وکیل الدوله عبد الله خان پوپلزی (دیوان بیگي) (۱۲۰۱هـ. ق. مړ)
- نور محمد خان خوګیانی د پېښور حاکم(۶۷۷)

د میا صاحب رحمة الله علیه مړینه:

د میا صاحب رحمة الله علیه عمر تر سلو کالو اوښتی و. د ده مړینه د (۱۱۹۰هـ. ق.) کال د بزر... میاشت (رجب) په لومړۍ یا د څلورمي خور په وروستۍ (نه ویشتمه) ورځ پېښه ده، د پېښور... څمکنو نومي کلي کي خاورو ته سپارل سوی دئ. زیارت ئې مشهور دئ او تر اوسه پوري خلک... استفاضې په نیامت ورځي.

د میا صاحب رحمة الله علیه د مړیني تاریخي ماده، د پښتو ژبي نامتو شاعر کاظم خان خټک (۱۱... هـ. ق. مړ) داسي ویلې ده:

میا صاحب په خپل دوران کي	چي کشاده ئې، د فیض باب وه
شاه و ګدا ئې په در حاضر وو	مرجع د خلقو، عالم ماب وه
تاریخ ئې دا دئ، د رحلت واوره!	"شیخ اجل وه، قطب اقطاب وه"
	۱۱۹۰

په تاریخي ماده کي چي دوه ځایه "وه" کلمه راغلې ده، د کاظم خان "شیدا" د دیوان په ک... چاپ (۲۱۵ مخ) کي د اوسني لیک دود سره سم "و" کښل سوېده او تر تاریخي مادې لاندي په ع... سره مطلوب کال هم نه دئ لیکلی، له دغه امله نو ښاغلي پوهاند صدیق الله رشتین د پېښور... جمهوریت په اخبار کي له دغي تاریخي مادې څخه د میا عمر صاحب رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۱۸۰... ایستلی دئ. د دوو هاء ګانو ابجدي ارزښت ئې نه دئ شمېرلی، لس کاله ئې د میا صاحب... عمر لږ کړی دئ(۶۷۸).

د میا صاحب رحمة الله علیه د مړیني بله تاریخي ماده، چي نوموړي کاظم خان شیدا موندلې ده... عمر ولي رحمت الله علیه (=۱۱۹۰)" ده. په کومه قطعه کي چي دغه تاریخي ماده راغلې ده،... دا ده:

---

(۶۷۷) لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۸هـ. ق.) کال مشهد ونیو، د افشار نادر لمسی شاهرخ ئې د... سیمي واکمن مقرر کړ. نورمحمد خان خوګیانی ئې له دریو زرو افغانانو سره د خپل نماینده په توګه، په م... کي پرېښود. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د پاني پت په غزا بوخت و، مشهدیان یاغي سول، نور محمد خا... پسي راواخیست.

(۶۷۸) وګ: د جمهوریت د اخبار د (۱۹۵۷ع.) کال د جولای په ګڼه کي د پوهاند رشتین مقاله او د هغه په ج... کي د عبد الحلیم اثر مقاله، چي د پېښور په رهبر مجله کي د (۱۹۵۹ع.) کال د اکتوبر د شپاړسمي نېټې په... کي خپره سوې ده.

د میا په درد و غم کې نالـه ډېره شـوه هـم آه
وایـه "دا عـمـر ولـي ورسـره، رحمـت الله
علـیـه" ورسره ضم کړه پـه تـاریـخ بـه شـې آګـاه

(د کابل چاپ دیوان، ۲۱۴مخ)

ښاغلي پوهاند صدیق الله خان رشتین په نوموړې مقاله کې، چې د پېښور په جمهوریت اخبار کې خپره سوې ده، له دغې تاریخي مادې څخه د میا صاحب رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۱۸۲) را ایستلی دئ او غالباً د "رحمت" کلمې "حاء" ئې له نظره لوېدلې ده (؟).

د میا صاحب رحمة الله علیه مرید دادین شاعر د میا صاحب رحمة الله علیه د مرګ تاریخي ماده "غصق" کښلې ده، چې (۱۱۹۰) ځني راوزي. دادین چې د میا صاحب رحمة الله علیه د مرګ بخوله (فاجعه) په یوه اوږده مثنوي کې بیان کړې ده، د هغې څو بیتونه دا دي:

صـاحب یوور امانت، امانت خدای ته — تحقیق ورغی آشنا و خپل اشنای تـه
چې په زړه کی ئې مدام حب د وطن وه — وطن هغه چې اصـلي د ده مسـکن وه
په سپارل د امانت چې ئې غم زور شـه — په آهونو د اسـمان چت څړه تور شـه
رڼا ورځ ده، ولي شـپه شـوه لـه ماتمه — مرثیې ته ئې ځان جوړ کړه، دا به کښمه
چې قلم مي اخیسـتو، ګوره قلم و — په مخ تور، هم په سـینه چولی غم و
قلمدان کي رانه پرېووت په غم سـتړی — په لـحد د قـلـمـدان کـي لـکـه مـړی
ګویـا وې ئې: څه خو وار وکړه دادینه! — اې په غم د میا صاحب په زړګي خوږینه!

....

سن "غصق" د پنجشنبې په ورځ اې جانه — د رجب پـه غـری لاړ شـه لـه جهـانـه

(رهبر مجله، د پېښور د ۱۹۵۹ع کال د اکتوبر د شپارسمي ګڼه)

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه (۱۱۶۰–۱۱۸۶ه. ق.) او تیمورشاه سدوزي (۱۱۸۶–۱۲۰۷ه. ق.) د درباروند منشي میرزا هادي خان "عشرت" لاري[۶۷۹] د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه د مرګ تاریخي ماده "بیست نهم شهر جمادی دویم" موندلې ده او دا ئې هم زیاته کړې ده، چې لمر د اسد په برج کي و. رشتیا هم د (۱۱۹۰ه. ق.) کال د څلورمي خور (جمادی دویم) نه ویشتمه ورځ د (۱۱۵۵ه. ش.) کال د اسد د میاشتي له څلیرویشتمي سره برابرېږي[۶۸۰]. د "عشرت" خپله قطعه دا ده:

شیخ آفاق محمد عمر آن عارف حق — بود چون مردمک دیده عزیز مردم
بیست و نه روز که از ماه جمادی دویم — منقضی گشت ز نوروز بماه پنجم

---

[۶۷۹] د میرزا هادي خان عشرت د مرګ تاکلی کال ما ته نه دئ معلوم، دومره را معلومېږي، چې د (۱۱۹۷–۱۲۰۷ه. ق.) کلونو تر منځ مړ دئ.

[۶۸۰] "دادین" شاعر د میا عمر صاحب رحمة الله علیه د مرګ ورځ د رجب د میاشتي لومړۍ ورځ ګڼلې ده، مګر "عشرت" ئې د څلورمي خور د میاشتي وروستۍ ورځ بولي (؟).

او بفردوس روان شد از سرای فانی — گشت از چشم جهان بین، بهآسانی گم
سال و تاریخ وفات سر اقطاب زمان — رهنمون شد خرد از لطف بمن گفتا قم
آر بیرون بحساب جملش تا دانی — عدد "بیست نهم شهر جمادی دویم"
۱۱۹۰

د تیمورشاه دراني د کتاب په ۲۱۱/۱ مخ کي د دغي تاریخي مادې "دویم" کلمه "دوم" لیکل سوې ده او ښاغلي عزیز الدین خان پوپلزي د میا صاحب رحمة الله علیه د مړګ کال (۱۱۸۰ هـ. ق.) را ایستلی دئ. زما (رشاد) هیله دا ده، چي د تیمورشاه دراني د کتاب لوستونکي د "دویم" کلمې د "ی" ابجدي ارزښت، چي (لس) دئ، پر (۱۱۸۰ هـ. ق.) زیات کړي او د میا عمر صاحب رحمة الله علیه د مړیني کال د (۱۱۸۰ هـ. ق.) پر ځای (۱۱۹۰ هـ. ق.) ومني.

د میا صاحب رحمة الله علیه شاعري او لیکوالي:

میا صاحب رحمة الله علیه د شعر یوه ښه قریحه او روانه طبعه درلوده. له ده څخه په پښتو، پارسي او عربي ژبو کي اشعار پاته دي. د پارسي ژبي څو قصیدې چي ئې ما لوستي دي، د ستاینې وړ سلاست او انسجام لري. میا صاحب رحمة الله علیه د پارسي قصیدو په پایونو کي د خپل نامه وروستی جزء "عمر" د تخلص پر ځای راوړی دئ، لکه:

قبله گاها چو تو یی پیشرو روز جزا — هست آخر سگ کوی تو "عمر" را مگذار
(خزینة الاسرار (خطي)، ۶۸۱ مخ)

چه شد که نام من آمد "عمر"، خرابم و زار — خدای را، نظری بر گمار و کن عمرم
(خزینة الاسرار (خطي)، ۶۵۵ مخ)

او د پښتو قصیدو په پای کي ئې څو ځایه "فقیر" راوړی دئ، لکه:

وکړه پرې عمل "فقیره" وخت پر تېرېده دئ — بیا ارمان عبث دئ، چي شې بند په ګورستان
(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۶۲ مخ)

وګوره "فقیره" د نیکی څومره جزا ده — وکړه پرې عمل چي ستا په مخ کي دئ سفر
څوک چي که خیرات "فقیره" واوره په دنیا کي — خوړ به په عقبی شي، د هغه سړي ځګر
(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۶۰ مخ)

کله کله په مثنویاتو کي چي کوم مطلب پای ته رسېږي، هلته هم فقیر راوړي، لکه:
که په لوستو د کتاب مي خاطر ښاد کړې — امید دا چي ما "فقیر" په دعا یاد کړې
(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۶ مخ)

الهي په برکت د خپل حبیب — "فقیر" مه کړې له ایمانه بې نصیب
(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۵۲ مخ)

میا صاحب رحمة الله علیه په پښتو نظم څو کتابه کښلي دي (چي تفصیل به ئې د مولفاتو په برخه کي

راسي) او له دغه امله د پښتانه شعرا په ۶۷۷/۴ مخ کې د پښتو ژبې د یوه شاعر په توګه د ده پېژند ګلوي راغلې ده. هلته د ده د پښتو نظمونو څو نمونې سته، دلته به ئې هم زه تبرکاً دوې نمونې راوړم:

(۱)

دا رنګ نقل په کتاب کې ما لیدلی ... عربي مې په پښتو کې دا ځای ښکلی
په نمانځه باندي ولاړ حضرت یعقوب وه ... په هغه شاني چي نمونځ په ده مکتوب وه[۶۸۱]
چي حضرت یوسف ښکاره زیبا بشر شه ... د حضرت یعقوب په ده باندي نظر شه
چي فارغ له عبادت شه د مولی ... نور ئې کښېناوه یوسف په مصلی
خطاب وشه په حضرت یعقوب د قهر ... جبرائیل ورته بیان وکه په جهر
چي قسم خورم په عزت او په جلال خپل ... بیا قسم خورم په کمال او جمال خپل
چي اتیا کاله یوسف به ته نه وینې ... دواړه سترګي په ژړا به دي شي سپیني
محبت چي تا له ما د راز و نیاز که ... تا یوسف څله د ما سره همراز که؟
محبت په یوه زړه نه شي دوه ځایه ... یو زړه دوه ځایه په میني که مه ستایه

(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۴۲ مخ)

(۲)

یوه ورځ دراهم وو د بي بي زهرا په لاس کي[۶۸۲]
راغی پرې د پاسه نور حضرت علي حیدر
ده وکړه پوښتنه اې بي بي لاس کي دي څه دي؟
دې وې: شپږ درهمه رب راکړي دي په شمر
دا دئ خدای راکړی ما د لاسو محنت کړی
نشته د شبهې په دې کي واوره څه اثر
نیت دئ په خاطر کي ما اوس دا مقرر کړی
اخلم حسنینو ته طعام چي دي نهر
ده وې: ما له راکړه چي زه ولاړ شم تر بازاره
ژر به ورته راوړم تازه تر وایم ثمر
یا به بل څه راوړم چي پسند مي په خاطر شي
ښه لذیذ طعام چي وي په خوند شهد و شکر
واخیستل دراهم، نور د بازار په لور روان شه
پېښ پر یو فقیر شه چي له لوږي وه ابتر

---

(۶۸۱) دلته "مکتوب" د فرض سوي معنی لري.
(۶۸۲) په دغه نیم بیتي کې ...

سـوال ئـې ورتـه وکـړ: اې د رب پـه در قـبـولـه!
دا درېـيـمـه ورځ ده، لـه فـاقـې يـم کـور و کـر
دا فـکـر پـه زړه کـي شـېـر عـلـي وکـړ يـارانـو!
دا مـبـلـغ بـايـد ورکـړم پـه نـامـه د رب اکـبـر
ور ئـې دراهـم کـړه، د سـايـل پـرې زړه خـوشـال شـه
راغـی نـور پـه بـېـرتـه شـېـر عـلـي پـه زړه خـوشـتـر
وکـړه تـرې بـي بـي زهـرا پـوښـتـنـه: تـا څـه راوړه؟
ده وې: مـا اوس ورکـړه يـو ګـدا تـه کـړه بـاور
تـلـمـه، يـو ګـدا وړی د درو ورځـو ولاړ وه
سـوال ئـې لـه مـا وکـړ، نـور مـي ورکـړه هـغـه زر
واورېـده بـي بـي زهـرا، بـې حـده شـوه خـوشـحـالـه
ګـونـدي ثـمـره شـي دا زمـونـږه پـه مـحـشـر (٦٨٣)

ميا صاحب رحمة الله عليه په خزينة الاسرار کي کښلي دي:

د (۱۱۰۶هـ. ق.) کال د صفري په پنځلسمه ورځ چي شيخ سعدي لاهوري رحمة الله عليه له کوهاټه څخه پېښور ته راتئ، مو ړئ مخې ته ور ووتلو، شيخ ما ته پخپل لاس يو نارنج راکړ او ما دا قطعه وويله:

خوش است مبداء حالم که اين خليفه دهر
قبول کرد مرا ريخت بر سرم گنجي
بمحض لطف بدستش که مبداء فيض است
بداد با من نارنج ديده نارنجی (٦٨٤)

د ميا صاحب رحمة الله عليه پارسي شاعري د خپلو پيرانو ستاينې ته وقف ده، تر او سه پوري چي ما د ده کومي قطعې، قصيدې او مثنويات ليدلي دي، له څېلمي د نقشبندي بزرګانو مناقب دي. د مثال له پاره ئې دا مثنوي ولولئ:

خـواهـدم دل کـه نـغـمـه آغـازد
از سـر نـو تـرانـه ای سـازد
دهـد از گـوشـمـال چـنـگ سـخـن
در فـضـای قـبـول رنـگ سـخـن
نـکـتـه پـيـرائـيـی کـنـد تـازه
عـارض نـکـتـه را دهـد غـازه
بـزبـانـی ز بـی زبـانـي خـويـش
مـدح گـويـد دل نـکـو انـديـش
مـدح آن پـيـشـوای مـقـبـولان
نـعـت آن خـواجـهٔ خـدا طـلـبـان
کـه بـرنـد از کـلام او مـلـکـوت
از پـی جـان خـويـش بـهـره و قـوت
مـن کـه بـاشـم کـه مـدح او گـويـم؟
يـا بـوصـفـش ره سـخـن پـويـم

---

(٦٨٣) وګ: چاپي خلاصه کيداني افغاني، ۵۸–۵۹ مخونه.

(٦٨٤) په دغه نيم بيتي کي مذيل تجنيس ستته.

از پی مدح او زبانم کو؟ ور زبان باشدم بیانم کو؟
از پی مدح او چو او باید تا سراید ز مدح او شاید
لیک اندر جهان بی بنیاد نیست در راه حق چو او استاد
ور من از شوق خود سخن گویم سرخرویی ز وصف او جویم

❁ ❁ ❁

میرسیدم ندا بگوشم دی قبله مقبلان حق سعدی
عاشقان بهر حج نهند چو گام بسر کوی او کنند احرام
پی او، رو که آن بزرگ خدا منزل فقر راست راه نما
فقر را پایه شد بلند از او دل فقر است ارجمند از او
پی امر نبی شتابنده دلش از نور ایزدی زنده

❁ ❁ ❁

گر نگفتی که لا نبی بعدی بودی این جامه بر قد سعدی
بفقیری فقیر مطلق اوست بحقیقت خلیفهٔ حق اوست

❁ ❁ ❁

سخن غیر گر کند ناگاه لیس مشهوده بغیر الله (۶۸۵)
هر که با او دمی حریف شود گر وضیع است، خود شریف شود
هر که در صحبت اش دمی بنشست خود ز قید منی و مایی رست
فیض عامش رسیده بر که ومه تا توانی سری بپایش نه
دیدنش را نتیجه یاد خدا قل لمن دق بابه طوبی
ای ترا گر سر خدا طلبی است هوس رفتن ات براه نبی است
خویش را، خیز و بر در این زن چنگ در ذیل خواجه دین زن

❁ ❁ ❁

کیست این خواجه نکو در عهد فلک فقر راست اختر سعد
کیست این خواجه گوش با من کن مایه داری ز گنج علم لدن
مادر دهر تا شد آبستن خون دل خورد در پسر زادن
عمر ها برده رنج زادن و درد تا چو سعدی پسر سعید آورد

(خزینة الاسرار (خطي)، ۴۰۶ تر ۴۱۰ مخه پوري)

دا مثنوي چي د شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه په ستاینه کي تر (۱۱۱۲ هـ. ق.) کال پخوا ویل

---

(۶۸۵) دا بیتونه ذولسانین دي.

سوې ده، ۸۲ بیته لري، ما ئې څو بیتونه د نمونې له پاره راوړل.

حضرت میا صاحب رحمة الله علیه په یوه ذو مطلعین قصیده کې، چې ۴۵ بیته ده، د نقشبندي بزرگانو په باب داسې ویلي دي:

نقشبندان همه در عالم معنی شاه اند
نقش شان گیر که نقش دگرت نیست بکار
نقش بستند، چه خوش نقش، ببین از سر فکر
آخر منتهیان نقش زدند اول کار
سر فرو برده بجیب اند همه غنچه صفت
چون گل از خنده ربایند دل صد عیار
خلوت و انجمن آورده بهم ایشانند
روی در خلق و دل شان بخدا کار گذار
بجز از همدمی هوش قدم را ننهند
هوش دردم بود این قافله را همدم و یار

❁ ❁ ❁

چه سلوک است بهر جا که نظر اندازند — همعنان خود قدم شان بنظر کرده گذار
بهر ارشاد ره راست نجومند ایشان — کرده انعمت علیهم همه را برخوردار

❁ ❁ ❁

بهر فرعون نهادان ید بیضا دارند — دوست را زنده کنند از لب خود عیسی وار
خود شفا اند، ولی بهر مخالف رنجند — روح محض اند، شر ارند ز بهر اشرار

(خزینة الاسرار (خطي)، له ۶۷۸ تر ۶۸۱ مخه پورې)

د حضرت میا صاحب رحمة الله علیه د عربي نظم فقط یوه قطعه راسره سته، دا قطعه د حضرت سید محمد قطب مشواڼي رحمة الله علیه د مړینې تاریخي ماده ده:

بلغ القطب فی جوار الله — حین رب القدیم، قال: تعال!
ملهم الغیب امس فی التاریخ — "و الف القطب رویت الرّب" قال

۱۱۰۸

حضرت سید محمد قطب مشواڼي رحمة الله علیه د (۱۱۰۸ هـ. ق.) کال د بزرگې میاشت (رجب) په اووه لسمه د پېښور په دوآبه کې مړ دئ. میا عمر صاحب رحمة الله علیه کښلي دي:

د ده مړی ئې امانت د شیخ حبیب پېښوري رحمة الله علیه (۱۰۹۳ هـ. ق. مړ) په هدیره کې ښخ کړ، لس یوولس میاشتې وروسته ئې بنور ته یووړ او د پلار (خواجه محمد مشواڼي رحمة الله علیه ۱۰۶۳ هـ. ق. مړ) په گمبته کې ئې ورسره ښخ کړ. دا چې ښاغلي عبد الحلیم اثر د روحاني تړون په ۶۴۷ مخ کې کښلي دي: "د دوی (سید محمد قطب) جنازه کوهاټ ته یووړلی شوه او د حضرت حاجي بهادر کوهاټي

قدس سره له قبره سره جخت یو ځای قبلې غاړې ته د دوی مزار مبارک جوړ شه"، بې اساسه خبره ده، ښاغلي لوستونکي باید دغې تېروتنې ته ځیر وي. په دې باب د میا عمر صاحب رحمة الله علیه خپل الفاظ دا دي:

"نعش مبارک ایشان (سید محمد قطب) را برداشتند و پاسی از شب گذشته داخل شهر پشاور شدند و بمنزل حضرت شیخ حبیب پشاوری علیه الرحمه نزول کرده آنشب نعش مبارک شانرا در آنجا گذاشتند، روز دیگر بطریق امانت و ودیعت در محوطه شیخ (حبیب مذکور) مولانا سید (قطب) را دفن کردند و بعد از ده یا یازده ماه ایشانرا به بنور بردند و در آنجا در قبه والد ایشان حضرت سید خواجه محمد علیهما الرحمه دفن کردند ...."[٦٨٦].

میا صاحب رحمة الله علیه د تاریخي مادو په استخراج کي ډېر ماهر و او د حضرت شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د زوی خواجه محمد عیسی له یوه خطه څخه داسي معلومېږي، چي د دغه مهارت آوازه ئې تر لاهوره هم رسېدلې وه. نوموړي خواجه محمد عیسی ورته لیکلي دي:

"محبت و خصوصیت دستگاه محب الفقراء برادر دینی محمد عمر سلمه الله همواره دریاد آلهی بوده سلامت باشند بعد از سلام فقیرانه و غریبانه مطلع باشند که حضرت والده مغفوره مشفقه بتاریخ پانزدهم ماه جمادی الثانی (۱۱۱۳ هـ. ق.) روز چهارشنبه یکپاس روز برآمده با یاد آلهی از دار فنا بدار بقا رحلت فرمودند ....

آن محب را می باید که تاریخ وصال حضرت والده مغفوره با چند ابیات فکر بکنند و در کتاب خود (خزینة الاسرار) داخل کنند".

میا صاحب رحمة الله علیه د خپل پیر د زوی په غوښتنه د مورا[٦٨٧] د مرګ دا دوې تاریخي قطعې ویلې دي:

(۱)

رفت آن مریم زمان ز جهان — مانده اهل جهان ز غم در بار
بهر تاریخ رحلتش ملهم — پس از افسوس گفت آخر کار
خواه ملفوظ وادخلي، نه کتیب — "وادخلی جنتی" بیا بشمار[٦٨٨]
۱۱۱۳

(۲)

خاتون که ولیه زمان بود — بر داشت قدم بجنت اکنون
بشنید ندا ز عالم قدس — صد رحمت حق به جان خاتون

---

[٦٨٦] خزینة الاسرار (خطي)، ۴۴۶ مخ.

[٦٨٧] مورا: د استاذ یا پیر ماندینه، (پښتو قاموس، ۹۵۱/۲ مخ).

[٦٨٨] په دغه تاریخي ماده کي الف وصل خپل ابجدي ارزښت له لاسه ورکوي، یعني په حساب کي نه راځي.

تــاريــخ وفــات آن ولــيــه دل گفت، بگو "بجان خاتون"(۶۸۹)

ميا صاحب رحمة الله عليه د شيخ (سيد) محمد قطب مشواني رحمة الله عليه د مړيني پارسي قطعه داسې ويلې ده:

قطب زمان غوث حق، قدوه آفاق شد بود خود او مرهمی، بر دل افگار ما
فيض رسـانـنده بود، طالب اين راه را ثانی احرار بود، خواجه ابرار ما(۶۹۰)
سال وفاتش ز دل جستم و از سوز و درد رفت و بگفتا: "بلی خواجه احرار ما"
۱۱۰۸

د حضرت ميا صاحب رحمة الله عليه جوړې کړې تاريخي قطعې او مادې ډېرې دي، څېړنه ئې جلا بحث غواړي.

د ميا صاحب رحمة الله عليه مولفات:

ميا صاحب رحمة الله عليه په عربي، پارسي او پښتو ژبو کې کتابونه کښلي دي، په دې باب د ده خپل بيان دا دئ:

تصـانيف لـه دې فقيره چې عيان دي په فـارسـي پـه عربي کې نمايان دي
په پښـتـو ژبـه هم مـا کړې بسـيـار دي ځيني ځيني ئې مشـهور په هر ديار دي
(خلاصه کيداني افغاني، ۵مخ)

خو اوس ئې د عربي کتابونو څرک نسته، کومه عربي رساله، چې د "نصيحت عباد الله و امت محمد رسول الله" په نامه په (۱۳۸۴ه. ق.) کال محمد گل رحيم اسماري په پېښور کې چاپ کړې او پر وقايه ئې ورليکلي دي:

"من افادات سلطان العلماء و مقدام الفضلاء، قدوة العارفين، زبدة الکاملين ميا شيخ عمر صاحب عرف ميان صاحب چمکني رحمة الله عليه". ما ته د تامل وړ ښکاري، ځکه چې په مقدمه، متن او تکمله کې ئې د مولف نوم نسته، په مقدمه کې ئې د بهروچ د ښار ذکر(۶۹۱)، په متن کې ئې د معاصرو گجراتي طبيبانو (حکيم روح الله البروجي او حکيم حميد الدين احمدآبادي) يادونه، مولانا وجيه الدين علوي گجراتي (۹۱۱-۹۹۸ه. ق.) ته د مولف له خوا د (استاذنا) لقب کارول او په تکمله

---

(۶۸۹) "بجان" کلمه (د ب په زير) د هندوستان په مسلمانانو کې د "بي بي جان" د مخفف په ډول باب ده. کېداى سي چې د دغې مرحومې لقب به "بجان" و.

(۶۹۰) په دغه نيم بيتي کې د احرار له کلمې څخه مراد خواجه ناصر الدين عبيد الله احرار رحمة الله عليه (۸۹۵ه. ق. مړ، په سمرقند کې ښخ) دئ، چې د نقشبنديه طريقې له لويو پيرانو څخه و.

(۶۹۱) بهروچ په گجرات کې د يوه ښار نوم دئ، دا ښار د کمبې خليج پر غاړه د سورت او بړودهې ترمنځ واقع دئ. له احمدآباده څخه د جنوب خوا ته سل ميله فاصله لري.

کي د "ثم وصل الينا سنة الف و سبع و اربعين فتاوٰی علماء الحرمين ...." هغه وجوهات دي، چي
د ځمکنو د میا صاحب رحمة الله علیه ته د دغي رسالې د تالیف نسبت مشکوکوي.
د میا عمر صاحب رحمة الله علیه په پارسي او پښتو مولفاتو کي، چي کوم کتابتونه او رسالې تر اوسه
پوري پیدا سوي دي، دا دي:

۱. خزينة الاسرار:

د میا صاحب رحمة الله علیه په پیدا سوو مولفاتو کي د تالیف د نېټې له مخي تر ټولو پخوانی او
مخنی کتاب "خزينة الاسرار" دئ، چي د خزينة الاصفياء (د ۱۲۸۱ هـ. ق. تالیف) مولف مولوي
مفتي غلام سرور لاهوري (۱۲۴۴–۱۳۰۷ هـ. ق.) پخپلو ماخذونو کي د جواهر الاسرار په نامه یاد
کړی دئ. ده د شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه د حالاتو د ځرګندوني په ترڅ کي کښلي دي:
"شیخ محمد عمر پشاوری که از جمله اصحاب و احباب شیخ سعدی است کتاب جواهر الاسرار در احوال و اقوال شیخ از روز تولد تا یوم وفات تالیف نموده است و خوارق و کرامات بیشمار از آنحضرت در آن مندرج فرموده"[۶۹۲]. مګر پخپله مولف د کتاب په دیباچه کي د خزينة الاسرار په نامه یاد کړی دئ، په دې ډول:

"الحمد لله حق حمده و الصلوة و السلام علی خير رُسُلهِ و آله اجمعين.
بعد از تحمید و درود بر رسول مقبول (اینکه) بعض حکایات صالحین را فقیر حقیر گوشه نشین از هر (کسی) نکته نکته آموخته .... و این کتاب را نام نهادم خزينة الاسرار.

قطعه

ما خازنان مخزن اسرار وحدتیم — نبود عجب که سر حق از ما کند ظهور
ما همچو صبح پرده ظلمت دریده ایم — اینک علم ز سینه ما شعله های نور"

د قطعې په لومړي نیم بیتي کي د خازنان او مخزن له کلمو څخه هم دا ځرګندېږي، چي باید د کتاب نوم خزينة الاسرار وي، خو په ځینو ځایو کي د "سر الاسرار" په نامه هم یاد سوی دئ[۶۹۳].
تاریخي نوم ئې "ظواهر" دئ، له دغه نامه څخه د ابجد په حساب د کتاب د تالیف کال (۱۱۱۲ هـ. ق.) راوزي. ځیني پېښي چي تر (۱۱۱۲ هـ. ق.) کال وروسته پېښي سوي او په کتاب کي داخلي سوي دي، دا وروستنی زیاتوني دي، لکه په (۱۱۱۳ هـ. ق.) کال د بجان خاتون د مرګ واقعه او د هغې له پاره د تاریخي مادې استخراج او تنظیم .....
په خزينة الاسرار کي د شیخ آدم مشواني رحمة الله علیه (۱۰۵۳ هـ. ق. مړ) شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه (۱۰۳۳–۱۱۰۸ هـ. ق.) او شیخ یحیی اتکي رحمة الله علیه (۱۰۴۱– ۱۱۳۱ هـ. ق.) حالات او کرامات په

---

(۶۹۲) وګ: خزينة الاصفياء، ۶۴۷ مخ.
(۶۹۳) وګ: د روحاني ترون ۷۷۲ مخ.

تفصیل سره لیکلي دي او د دغو بزرگانو د خلیفه ګانو او مقربانو ذکر هم سته. مولف د شیخ آدم له پاره د (حضرت بزرگ خود) د شیخ سعدي له پاره د (حضرت ایشان) او د شیخ یحیی اټکي له پاره (سر الاعظم) لقبونه کاروي.

په خزینة الاسرار کي له شیخ آدم مشواني رحمة الله علیه څخه لوړ تر حضرت خواجه بهاو الدین محمد نقشبند بخاري رحمة الله علیه (۷۹۱ هـ. ق. مړ) پوري د نقشبندي سلسلې د مرشدانو بیان هم په اجمالي (لنډ) ډول راغلی دئ[۶۹۴].

مولف عادت لري لومړی د بزرگ د ژوندانه حالات څېړي، بیا د (من نفایس انفاسه الشریفه) تر عنوان لاندي د هغه ملفوظات لیکي او ورپسې د (من خوارق عادته) تر عنوان لاندي د هغه کرامات بیانوي. که د چا د خلیفه ګانو او مقربانو بیان کوي، نو تر کراماتو وروسته د هغو په باب رغیږي. میا صاحب رحمة الله علیه د ملفوظاتو هره وجیزه یا هر بحث د (ظاهره) تر عنوان لاندي راوړي او (ظواهر) کلمه، چي د کتاب تاریخي نوم دئ، د (ظاهره) جمعه ده.

د خزینة الاسرار ژبه پاړسي ده، د بیان اسلوب ئې سلیس او روان دئ. ځیني لغتونه پکښي سته، چي اوس په پاړسي کي په دغه معنا نه دي رواج، لکه: ملتق (توپک)، معمري (نوکري)، معاملت (فتوح) ....[۶۹۵].

د خزینة الاسرار د نثر څو نمونې دا دي:

ظاهره- (سر الاعظم) میفرمودند در دلی که برابر ذره محبت دنیا باشد آن، محبت خدا را عز شانه نشاید و اثری از محبت او جل و علا و پرتوی از التفات محمد مصطفی نیابد صلی الله علیه و آله و اصحابه وسلم[۶۹۶].

۞ ۞ ۞

ظاهره- (سر الاعظم) می فرمودند اگر کسی بر آسمان ها رود، هنوز بکمال نرسیده باشد، گرد دل خود گشتن و در دل خود کشودن بکمال رسیدنست[۶۹۷].

۞ ۞ ۞

حضرت مولانا را از آن شداید و صواعب بسی فتوحات میسر و محصل آمد، اهل الله را

---

(۶۹۴) په دغو مرشدانو کي د حضرت مجدد الف ثاني رحمة الله علیه (۹۷۱-۱۰۳۴ هـ. ق.) خواجه باقي بالله رحمة الله علیه (۹۷۰-۱۰۱۲ هـ. ق.) مولانا خواجګي امکنګي رحمة الله علیه (۱۰۰۸ یا ۱۰۰۹ یا ۱۰۱۰ هـ. ق. مړ) خواجه محمد درویش امکنګي رحمة الله علیه (۹۷۰ هـ. ق. مړ) خواجه محمد زاهد وخشي رحمة الله علیه (۹۳۶ هـ. ق. مړ) حضرت خواجه ناصر الدین عبید الله احرار رحمة الله علیه (۸۰۶-۸۹۵ هـ. ق.) حضرت مولانا یعقوب چرخي رحمة الله علیه (۸۳۸ یا ۸۵۱ هـ. ق. مړ) خواجه محمد پارسا رحمة الله علیه (۸۲۲ هـ. ق. مړ) او خواجه علا و الدین عطار رحمة الله علیه (۲ ۸ هـ. ق. مړ) حالات او کرامات بیان سوي دي.

(۶۹۵) وګ: د خزینة الاسرار ۳۱۸-۳۴۳-۵۷۵ مخونه.

(۶۹۶) خزینة الاسرار (خطي)، ۵۹۷ مخ.

(۶۹۷) خزینة الاسرار (خطي)، ۵۹۷ مخ.

بعض کمالات که به اندک تصدیع و محنت حاصل میشود، اگر ریاضات و مجاهدات سنین اختیار نماید، نصیبی از آن فرا نگیرند و حصول آن منوط و مربوط بهمان تصدیع اندک می باشد[۶۹۸].

خزینة الاسرار تر اوسه پوري چاپ سوی نه دئ، یوه خطي نسخه ئې د "ظواهر" په نامه د لاهور د اوسېدونکي پروفیسر محمود شیراني د مخطوطاتو په فهرست کې معرفي سوې ده. دغه نسخه د تالیف د اختتام تر وخت شپږ ویشت کاله وروسته د هندوستان د پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) د پاچا کېدلو په اتم کال (۱۱۳۸ هـ. ق.) کښل سوې ده. د کتابتون د ضبط شمېرئې ۳۳۹۲/۳۸۸ دئ[۶۹۹]. بله نسخه ئې د افغانستان د علومو د اکاډیمۍ په کتابتون کې سته. دغه نسخه د پای له خوا نیمګړې ده. پاته او خوندي مخونه ئې ۶۹۳ دي. د مخونو قطعه ئې (۲۱ X ۱۴) سانتي ده. په هر مخ کې اوولس لیکي (کرښې) لري. خط ئې نسخ دئ، لومړی پاڼه ئې نستعلیق ده او وروسته وراچول سوې ده. متن ئې په توره سیاهي کښلی دئ. عنوانونه ئې په سره رنګ دي. د کتب خانې خصوصي ګڼه ئې (۲۸/۳۹۹/۴۵۹) ده.

۲. خلاصه کیداني افغاني:

خلاصه کیداني په عربي ژبه د لمانځه په باب، د حنفي فقه یوه رساله ده، لطف الله نسفي الکیداني (۷۵۰ هـ. ق. مړ) کښلې ده. یوه مقدمه او اته بابه لري. د دغي رسالې څلور پښتو ژباړې ما (رشاد) ته معلومې دي، یوه پکښې د څوکنو د میا صاحب رحمة الله علیه ده[۷۰۰].

د میا صاحب رحمة الله علیه پښتو کړې خلاصه په نظم ده، لومړی باب ئې قصیده غوندې دئ، د نورو بابونو شکل ئې مثنوي دئ. هر نیم بیتی ئې دوولس څپې لري، کله کله یوولس هم وي. فشار ئې پر درپیمه، اوومه او یوولسمه څپه وي، څو بیته ئې دا دي:

دویم باب د واجباتو بیانېږي
د طالب زړه په لوستلو ئې خوښېږي

واجبات د نمانځه یو ویشت چې تمام دي
بعضي خاص دي که پوهېږې بعضي عام دي

عام ته زده کړه درته وایم ای طالبه!
غوږ پر کښېږده، درتې نمایم ای طالبه!

(چاپي خلاصه کیداني افغاني، ۱۶ مخ)

د میا صاحب رحمة الله علیه پښتو کړې خلاصه له ډېرو زوایدو سره په (۱۲۹۸ هـ. ق.) کال د ډهلي په فیض عام مطبعه کې د حاجي محمد امیر پېښوري کتاب خرڅوونکي په فرمایښت چاپ سوېده.

---

(۶۹۸) خزینة الاسرار (خطي)، ۵۳۱ مخ.

(۶۹۹) فهرست مخطوطات شیراني، ۱/۷۶ مخ.

(۷۰۰) د خلاصه کیداني نوري پښتو ترجمې د اخوند درویزه ننګرهاري، ملا عبد الحمید الکوزي کندهاري او د باجوړ تره استاد دي. اردو ژباړه ئې چي په (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال حافظ شجاع الدین کړېده "کشف الخلاصه" نومېږي. په پنجابي ژبه ئې هم منظومه ترجمه سته، (وګ: مخطوطات متفرقه پنجاب لائبریري، ۷-۷۲ مخونه).

خطاط ئې د ملا فضل احمد زوی میر احمد کاکړ دئ. رساله ۶۴ مخه ده او په هر مخ کي ۲۳ ليکي (کرښي) راغلي دي. د رسالې پر وقايه باندي د رسالې نوم "خلاصه کيداني افغاني مع ديگر مسايل مفيده" ليکلی دئ. د روحاني تړون مولف دغه رساله د "توضيح المعاني" په نامه ياده کړې ده، خو په چاپي متن کي ئې زما (رشاد) دغه نوم په سترګه نه سو. نوموړي مولف دا هم زياته کړېده، "چاپي نسخه" ناقصه ده، البته مولانا فضل حق د تنګي هشنغر چي پکښي کومي اضافي کړي دي، هغه قابل قدر دي. مکمله قلمي نسخه ئې په مدرسه رفيع الاسلام بهانه ماړي پشاور کي موجوده ده"[۷۰۱].

د چاپي خلاصه کيداني افغاني ټول بيتونه (۱۲۷۱) دي، په دغو کي د مقدمې درې پنځوس (په ۱۳-۱۴-۱۵ مخونو کي) او د خاتمة الطبع تر عنوان لاندي پنځه ويشت بيته (په ۶۳-۶۴ مخونو کي) چي ټول ۷۸ بيته کېږي، د فضل حق اخوندزاده اشنغري دي، پاته ۱۱۹۳ بيتونه ئې د څمکنو د ميا صاحب رحمة الله عليه دي.

فضل حق اخوندزاده اشنغری د ميا صاحب رحمة الله عليه تر مرګ يو سل و اته کاله وروسته دغه بيتونه پر زيات کړي دي. ده د خاتمة الطبع تر عنوان لاندي د مقدمې د زياتولو اړي داسي بيان کړېده:

مبارک شه پښتنو، چي دا کتاب — ميا صاحب د څوکنو عاليجناب
په پښتو ژبه ئې ساز که ټول پخپله — مسايل ئې زيات واضح کړه يو له بله

❁ ❁ ❁

څه عجبي مرغلري دي پېيلي — بيا دئ شکر چي حاجي صاحب موندلي

❁ ❁ ❁

نيت ئې کړی و چي دا زه چاپومه — دا د ميا صاحب تحفه زه ډېرومه

❁ ❁ ❁

مګر ميا صاحب له بابه وه نيولې — وړاندي سر ته ئې خلاصه وه پرېښودلې
د حاجي صاحب وه خوښه چي پوره شي — دغه سر ته هم بيتونه ورسره شي
ماتې ووې چي دا پاته کار ته وکړه — چي پوره شي خلاصه، زما زړه ښه کړه
وامي خيست ترينه قلم مشواني. دواړه — ومي کښل زر دا ابيات ډېوې په غاړه
درې پنځوس دي دا بيتونه له حسابه — له "الحمد" نه ئې شماره تر اول بابه
باقي ټول د ميا صاحب مغفور مرحوم دي — چي امثال ئې په ابياتو کي معدوم دي

ميا صاحب رحمة الله عليه د خلاصې اته بابه چي د لمانځه د فرضو، واجبو، سنتو، مستحباتو،

---

[۷۰۱] روحاني تړون، ۷۷۰ مخ.

مباحاتو، مکروهاتو، محرماتو او مفسداتو عنوانه لري، په ۳۴۳ بیتونو کي پښتو کړي دي او په دې بیت ئې له نورو زاید و. بحثونو څخه د خلاصې د ترجمې ختم او بېلتون اعلان کړی دی:

ترجمه د خلاصې شوله تمامه
په پښتو ژبه له ما اې نیک فرجامه!

(چاپي خلاصه افغاني، ۳۱ مخ)

په دغه چاپي خلاصه کي د میا صاحب رحمة الله علیه اته نیم سوه داسي بیتونه هم راغلي دي، چي له خلاصه کیداني سره نېغ (مستقیم) اړیکی نه لري. ۲۰۸۰ بیته ئې چي تر خلاصه کیداني افغاني دمخه چاپ سوي دي، تر دغو عنوانونو لاندي دي:

او ۶۴۲ بیتونه چي ئې تر خلاصه کیداني افغاني وروسته چاپ سوي دي، تر دغو عنوانونو لاندي دي:

په دغو زوایدو کي وروستي دوه عنوانه د نظم د شکلي سکښت له مخي قصيدې دي، لومړۍ قصيده ئې ۴۴ او دوهمه ئې ۴۲ بيته ده، نور ټول مثنوي دي.

ميا صاحب رحمة الله عليه خلاصه کيداني د خپل کشر زوی (عبيد الله ميا ګل) (۱۲۳۳ هـ. ق. مړ) په غوښتنه پښتو کړې ده. ده په "بيان موجب تصنيف اين کتاب" کي ويلي دي:

خلاصه په عربي کي ښه کتاب دئ — د نمانځه د مسايلو انتخاب دئ
په خاطر مي راغله دا چي ئې پښتو کړم — په پښتو ژبې آسان پر پښتنو کړم
باري زه و دې تصنيف ته وزګار نه وم — زه مشغول وم په بل کار وزګار به څه وم
يوه ورځ قرة العين مي فرزندان — تل دي وي فضل په دوی د پاک سبحان
نور العين "محمدي" مشر فرزند — وروسته "عبيد الله" دئ ارجمند
په ميا ګل سره مشهور په هر ديار — راغی کښيناست ونيوه ده زما کنار
راته کاندي مسايل چي د صلواة دي — خلاصه کي عجايب په درجات دي
باري دا کتاب په ژبه عربي دئ — کله پوه پرې هر طالب غبي صبي دئ
مسايل د خلاصې که په پښتو شي — ډېر په کار به دا کتاب د پښتنو شي
په بار بار چي د مياګل وه دا الحاح — په پښتو ژبه زما وشوه صلاح
کتابونه په پښتو که پخوا ساز وو — ځيني ګران په عبارت ځيني دراز وو

ما ساده انشا پښتو کړه مختصره مختصر کتاب د هر طالب دئ غوره
که په لوستو د کتاب مي خاطر ښاد کړي امید دا چي ما فقیر په دعا یاد کړي

(خلاصه کیداني افغاني، ۶مخ)

د خلاصه کیداني افغاني د نظم کولو کال نه دئ معلوم، خو د میا صاحب رحمة الله علیه له پورتني
نه دومره څرګندېږي، په کوم وخت کي چي "میا ګل عبید الله" له ده څخه د خلاصې د پښتو کولو
ښتنه کوله، میاګل پخپله خلاصه لوستله یا ئې نژدې له لوستلو فارغ سوی او پخپله ئې د هغې
باړي وس نه درلود. د هغه وخت د درسي نصاب له مخي به غالباً د ملایانو زامنو ته د اته کلنۍ
س کلنۍ تر منځ د خلاصې د لوستلو وار ور رسېدی او د میا ګل عبید الله اته کلني او لس کلني
۱۱۴۶-۱۱۴۸ هـ. ق.) کلونو له شاوخوا سره برابرېږي، دا ځکه چي د تېر هېر شاعران مولف د
ګل عبید الله د زېږېدلو کال د (۱۱۳۸ هـ. ق.) په شاوخوا کي اټکلوي(۷۰۲).

شمایلنامه:

"شمیله" د خوی و خصلت په معنا عربي کلمه ده، جمعه ئې شمایل راځي. شمایل کلمه مجازاً
کل او قیافې معنا هم لري.

په عربي ژبه کي د حضرت محمد مصطفیٰ ﷺ د شمایلو په باب قدیم او مشهور کتاب د امام
ذي رحمة الله علیه "شمایل النبوي" ﷺ دئ(۷۰۳). په لسو شرحي پر لیکلي سوي دي(۷۰۴). په پارسي کي

تېر هېر شاعران، ۱۳۷ مخ.

د کتاب الشمایل (نبوي) راټولوونکی امام ابو عیسی محمد بن عیسی بن سوره الترمذي رحمة الله علیه دئ، چي
ک کال ئې حافظ شمس الدین ذهبي رحمة الله علیه (۶۷۳-۷۴۸ هـ. ق.) په میزان الاعتدال او ملا علي قاري
وي رحمة الله علیه (۱۰۱۴ یا ۱۰۱۶ هـ. ق. مړ) په الوسایل فی شرح الشمایل کي (۲۷۹ هـ. ق.) ښوولی دئ، خو په
نورو کتابو کي (۲۷۰ هـ. ق.) او (۲۷۵ هـ. ق.) هم لیکلی دئ. کتاب الشمایل د هغو احادیثو مجموعه ده،
حضرت پیغمبر ﷺ د ذات او خوی و خصلت په باب دئ. د امام ترمذي رحمة الله علیه بل کتاب سنن الترمذي دئ،
څینو جامع الترمذي هم بللی دئ. د حضرت امام ترمذي رحمة الله علیه د غه کتاب د حدیثو په صحاح سته وو کي شمار
د شمایل النبوي پیل داسي سوی دئ:
"الحمد لله و سلام علی عباده الذین اصطفیٰ – قال الشیخ الحافظ ابو عیسی محمد ....".
د شمایل ترمذي اردو ژباړه مولوي کفایت علي کړې او د "بهار خلد" په نامه چاپ سوې ده.

لکه: د حضرت حافظ ابن حجر رحمة الله علیه شرحه، د عبد الروف مناوي رحمة الله علیه شرحه، د ملا علي قاري
وي رحمة الله علیه شرحه، د بخشي حسن بن عبد الله الحلبي رحمة الله علیه شرحه، د عبد الرحمان بن احمد الدمشقي رحمة الله علیه
۱۱۶ هـ. ق. مړ) شرحه، مواهب الدنیه علی شمایل المحمدیه د ابراهیم محمد بن احمد الباجوري رحمة الله علیه (۱۲۷۶
. مړ) شرحه، د حسام الدین نقشبندي رحمة الله علیه (۱۲۸۲ هـ. ق. مړ) شرحه، د حمدوني عبید الله الازهري رحمة الله علیه شرحه
وري......

هم په دغه باب ډېر کتابونه او رسالې سته. په پښتو کي ما (رشاد) ته لس شمایلنامې را معلومې دي[۷۰۵]، چي یوه په هغو کي د ثمکنو د میا صاحب رحمة الله علیه لیکنه ده.

میا صاحب رحمة الله علیه د دغي شمایلنامې په پای کي کښلي دي:

شمایل راوړ "عمر" په پښتو ژبه
طالبان به ئې په لوستو شي خوشال

د میا صاحب رحمة الله علیه مرید "دادین" د دغي شمایلنامې په باب ویلي دي:

تا دئ جوړ کړی شمایل د حضرت هسي رنګه
چي په لوستل ئې هره خوا لاچي لونګ پرېوزي

د دغي شمایلنامې کومه خطي نسخه چي د کابل پوهنتون (افغانستان) په کتابتون کي خوندي ده، د هغې په پای کي دا عبارت کښلی دئ:

"شمایل نبوي صلی الله تعالی علیه و علی آله و اصحابه و اتباعه و سلم تصنیف حضرت غوث زمان میا صاحب چي مشهور او معروف په ثمکنو (میا) سره دئ ....".

او پیل ئې په دې عبارت سوی دئ:

"اللهم صل وسلم و بارک و انعم و ارحم و اکرم علی سیدنا و مولانا محمد سید العالمین و سید الانبیاء و المرسلین وسید الملائکة المقربین و علی آله و اهل بیته اجمعین ...".

دغه شمایلنامه میا صاحب رحمة الله علیه په (۱۱۶۳ه. ق.) کال په ثمکنو کي نظم کړې ده، دا مطلب د میا صاحب رحمة الله علیه پخپلو الفاظو کي داسي بیان سوی دئ:

شمایل شه د طالب د زړګي نهال
په مقام د پېښور په ثمکنو کي
چي راوخوت دا مذکور لکه هلال
زر و سل او درې شپېته د هجرت سن و

د شمایلنامې د نظم شکلي سکښت د غزلي او قصیدې په شان دئ، په سر کي ئې د مقدمې په ډول دوه غزل نمایه نظمونه راغلي دي، چي هر یو ئې پنځه پنځه بیته دئ. د لومړي نظم مطلع ئې دا ده:

تل ثنا د هغه پاک پروردګار
چي ممکن ئې له نابوده کړه اظهار

د دوهم نظم مطلع ئې دا ده:

---

(۷۰۵) لکه: د اخوند درویزه رحمة الله علیه شمایلنامه، چي عبدل محمد ترین رحمة الله علیه په اردو نظم کړېده، د سکندر خان ختک رحمة الله علیه شمایلنامه، د فوائد الشریعت شمایلنامه، د ملا شیرمحمد هوتک رحمة الله علیه شمایلنامه، د سید حسین رحمة الله علیه شمایلنامه، د امیرشاه رحمة الله علیه شمایلنامه، د عبید الله میاګل رحمة الله علیه شمایلنامه، د غلام نبي رحمة الله علیه شمایلنامه....

د الله ثـنـا بـې حـده
بـنـده وايـه بـې عـدده

وروستي څلور قصيدې راغلي دي، لومړۍ قصيده ئې چي ۲۱ بيته ده، په دې مطلع پيل سوې ده:

د الله ثـنـا تـل وايـه اې امـتـه!
چي پيدا کړه رسـولان آدم صـورتـه(۷۰۶)

دوهمه قصيده ئې چي شل بيته ده، په دې مطلع پيل سوې ده:

د رسـول نـوري بشـر
خـدای پـيـدا کـړ مـنـور

دريمه قصيده ئې چي ۲۴ بيته ده، په دې مطلع پيل سوې ده:

پـاک رسـول نـوري جـمـال و
پـيـدا کـړی ذوالـجـلال و

څلورمه قصيده چي ۵۱ بيته ده، په دې مطلع پيل سوې ده:

خـدای پـيـدا کـړ بـا کـمـال
د حضـرت رسـول جـمـال

په کابل پوهنتون کي خوندي شمايلنامه، چي ۱۲۶ بيته ده، پنځه فصلونه لري او د پښتو نظم
[...]ه دوه عروضي شکله پکښې کار سوي دي:

۱. U – UU | U – UU
۲. U – UU | U – UU | U – UU

د کابل پوهنتون په خطي نسخه کي ځای ځای دغه دوه وزنه سره ګډ سوي هم دي. معلومه نه
[...]، چي د پېښور د بهانه ماړي(۷۰۷) د رفيع الاسلام او د قاضي عبد الحليم اثر په خطي نسخو کي به
[...]م دغه عروضي ګډوډي وي که نه؟

د ميا صاحب رحمة الله عليه د شمايلنامې څو بيته دا دي:

و مقبول په دواړو کونو کي طالبه! نيکبختان ئې بيرون نه وه له خدمته
کافران چي له خدمته ئې بيرون شوه شرمنده شوه په دوه کونه هزيمته
چي پيرو د پاک رسول نه شې طالبه! غه کسان واړه محروم له شفاعته

---

(۷۰۶) چي = چي ئې
(۷۰۷) د شمايلنامې کومه نسخه چي د پېښور په بالا ماڼۍ کي د فضل صمداني (؟) بنوري په کتابون کي خوندي ده،
[...]ه (۱۱۷۲ هـ. ق.) کال نقل سوې ده.

په اول ئې پیروي په خاص توحید ده — مشرک ځکه بې نصیب شـه له رحمته
"من رغب عن سنتي" ظاهر دلیل دئ[۷۰۸] — دا حدیث صـحیح راغلی له حضرته
له سـنته مراد تمام دا شـریعت دئ — دا معنا کړه ښـه معلومه له لغته

۴. شرح فقه الاکبر:

فقه الاکبر په عربي ژبه کي یوه رساله ده، چي په علم کلام او عقاید پوري اړه لري، د تالیف نسبت ئې حضرت امام الاعظم ابو حنیفه نعمان بن ثابت الکابلي الکوفي رحمة الله علیه (۸۰–۱۵۰هـ. ق.) ته کېږي او راوي ئې د ځینو په قول د بلخ قاضي ابو مطیع الحکم بن عبد الله بن سلمه بن عبد الرحمان رحمة الله علیه (۱۷۷هـ. ق. مړ) دئ[۷۰۹] او ځیني ئې راوي حسن بن زیاد اللولوي الکوفي الانصاري رحمة الله علیه (۲۰۴هـ. ق. مړ) بولي[۷۱۰]. دا دواړه د حضرت امام اعظم رحمة الله علیه ملګري او شاګردان وو.

ځیني وایي: فقه الاکبر د ابوحنیفه محمد بن یوسف البخاري رحمة الله علیه تالیف دئ، مګر د "مناقب ابوحنیفه النعمان (الکوفي)" مولف علامه حافظ الدین محمد بن محمد الکردري مشهور په ابن البزازي رحمة الله علیه (۸۱۷هـ. ق. مړ) کښلي دي:

ما د "الرد والانتصار لابی حنیفه امام فقهاء الامصار" او "الفواید المنیفه فی الذب عن ابی حنیفه" د کتابونو د مولف علامه شمس الائمه محمد بن محمد بن عبد الستار الکردري الپراتګیني العمادي رحمة الله علیه (۵۹۹–۶۴۲هـ. ق.) په خط، د "فقه الاکبر" یوه نسخه ولیدله، چي مولف ئې امام اعظم ابو حنیفه الکوفي رحمة الله علیه ښوولی و.

سربېره پر دې فخر الاسلام علي بن محمد البزدوي الحنفي رحمة الله علیه (۴۸۲هـ. ق. مړ- په سمرقند کي ښخ) پخپل کتاب "کنز الوصول الی معرفة الاصول" کي، چي په "اصول فخر الاسلام" سره شهرت لري، هم فقه الاکبر د حضرت امام اعظم ابوحنیفه الکوفي رحمة الله علیه بللی دئ او د "اصول فخر الاسلام" شارح "عبد العزیز بن احمد بن محمد البخاري رحمة الله علیه" (۷۳۰هـ. ق. مړ) هم دغه خبره رانقل کړېده[۷۱۱].

د "بغیة الطالب الایمان ابي طالب" او "سداد الدین" مولف علامه سید محمد البرزنجي المدني بن سید رسول الحسني الشهرزوري رحمة الله علیه د یوولسمي هجري سدۍ په اواخرو کي لیکلي دي:

---

[۷۰۸] د دغه حدیث نبوي بشپړ عبارت د میا صاحب رحمة الله علیه په شمایلنامه کي داسي راغلی دئ: "من رغب عن سنتي لم ینل شفاعتي" خو د امام عبد الروف مناوي په "کنوز الحقایق فی حدیث خیر الخلایق" کي ئې عبارت داسي دئ: "من رغب عن سنتي فلیس مني" او دا ئې هم ښوولې ده، چي دا حدیث له صحیح مسلم څخه رانقل سوی دئ.

[۷۰۹] د میا فقیر الله مکتوبات، ۲۵۱ مخ.

[۷۱۰] وګ: د رضا کحاله د معجم المولفین، د دمشق (۱۳۸۰هـ. ق.) چاپ، ۱۰۴/۱۳ مخ.

[۷۱۱] د اصول فخر الاسلام دغه شرحه کشف الاسرار نومېږي.

"ما د فقه الاکبر یوه نسخه وموندله، چي د حضرت (امام اعظم) ابوحنیفه الکوفي د
لګري قاضي ابو المطیع بلخي څخه روایت سوې وه او د ډېرو علماوو هغه لوستلې او کتلې وه.
ا دغي رسالې روایت او سند تر ابو حنیفه الکوفي پوري پیدا کړ، خو کله چي مي دغه نسخه د
قه الاکبر له هغي نسخې سره، چي په خلکو کي مشهوره ده مقابله کړه، توپیر ئې درلود"[712].

علامه برزنجيؒ دا هم زیاته کړېده، چي د فقه الاکبر په نامه دوه کتابه دي. ملا علي
اري الهرويؒ (۱۰۱۴ یا ۱۰۱۶ هـ. ق. مړ) ئې دغه دوهم کتاب د امام اعظم ابوحنیفه
وفيؒ بللی دئ او پر هغه ئې شرحه لیکلې ده.

پر فقه الاکبر باندي له ملا علي قاري الهرويؒ څخه پرته نورو خلکو هم په لسو شرحي
کلي دي[713] یوه په هغو کي د څمکنو د میا صاحبؒ شرحه ده، چي په پارسي ژبه ئې
کلې ده(؟).

د میا صاحبؒ د شرح فقه الاکبر یوه خطي نسخه د کتاب شرح فقه اکبر په نامه د
وروي ازبکستان د مرکز (تاشکند) په کتب خانه کي خوندي ده[714]. په کتلاک کي ئې د مولف
م "محمد عمر الچمکنی الاویسی النقشبندی" لیکلی دئ. هلته دا هم کښلي دي، چي خط ئې
خ و نستعلیق دئ، لیکونکی ئې محمد شفیق ختهک[715] دئ. په (۱۲۳۰ هـ. ق.) کال ئې دغه
خه (د مولف تر مرګ څلوېښت کاله وروسته) لیکلې ده. کاغذ ئې خانبالغ دئ، د هر مخ قطعه
ي (۲۳ X ۱۴ ۱/۲) سانتي ده، د مخونو شمېر ئې ۱۲۶ دئ.

د خواشیني خبره ده، چي د کتلاک د ترتیبوونکي هېره سوې ده دا وښیي، چي کتاب نظم
ئ که نثر؟

ښاغلي عبد الحلیم اثر په روحاني تړون کي د حضرت میا صاحبؒ د دغه کتاب یادونه
ده کړې او داسي معلومېږي، چي د روحاني تړون د تالیف تر وخته (۱۹۶۳ع) پوري ئې څرک
و ور معلوم.

د میا صاحبؒ دغه کتاب ما (رشاد) نه دئ لیدلی، خو د حضرت میا فقیر اللهؒ له یوه
کتوبه څخه داسي معلومېږي، چي د څمکنو میا صاحبؒ د "ماتا علی الکفر" په تشریح کي

---

[712] د میا فقیر الله مکتوبات، ۲۵۱ مخ.

[713] لکه: د حضرت امام ابوحنیفهؒ د زوی ابو اسماعیل حمادؒ شرحه چي نور الظلم نومېږي، د ابو المنتهی
صمت الله بن محمد المغنیساويؒ عربي شرحه، چي په (۹۳۹ هـ. ق.) کال ئې لیکلې ده، د علاء الدین علي
خاريؒ (۸۵۰ هـ. ق.) شرحه، د الیاس بن ابراهیم السینابيؒ (تر ۸۹۱ هـ. ق. پوري ژوندی) شرحه او نوري
رحي.....

[714] وګ: د کتلاک څلورم ټوک، ۱۷۰ مخ. ۲۹۶۴/۳۰۳۰ ګڼه، کتب خانه اکادیمی علوم ازبکستان.

[715] په کتلاک کي ختهک کلمه "ختمک" لیکلې ده.

(۹۱۱ ه. ق. مړ)، علامه مصطفی بن فتح الله [۷۱۶]
د علامه جلال الدین سیوطي رحمة الله علیه، امام قرطبي رحمة الله علیه او قاضي ابوبکر ابن
حموي رحمة الله علیه [۷۱۷]، علامه سید محمد البرزنجي رحمة الله علیه
العربی المالکی رحمة الله علیه پر لار تللی دئ او د تاویل خوائې خوښه کړېده [۷۱۸].

۵. المعالی شرح الامالی:

امالي په عربي ژبه کي یوه قصیده ده، چي ټول بیتونه ئې ۷۳ دي. په ځینو نسخو کي ئې دوه
درې بیته زیات و کم هم سته. د موضوع له مخي په علم کلام او عقاید و پوري اړه لري. ناظم ئې امام
سراج الدین ابو محمد عبد الله علي بن عثمان الاوشی الفرغانوی رحمة الله علیه (۵۷۵ ه. ق. مړ) دئ [۷۱۹].
په (۵۶۹ ه. ق.) کال (تر مرګ شپږ کاله د مخه) ئې دغه لامیه قصیده نظم کړېده، د سر بیتونه ئې دا
دي:

یقول العبد فی بدء الامالی	لتوحید بنظم کا للالی
ملیک، مالک، مولی الموالی	له وصف التکبر و التعالی

د دغي قصیدې یوه پارسي شرحه د ځمکنو میا صاحب رحمة الله علیه لیکلې ده. د بحر الانوار مولف
عبد الروف نوشهري، چي د دغي شرحي کومه نسخه لیدلې ده، د هغې مخونه ئې ۹۳۸ ښوولي
دي (؟)، په دغه باب د ده خپل الفاظ دا دي:
"د ځوکنو میا صاحب رحمة الله علیه لوی عالم، شاعر او ادیب و. په پارسي کي د محمد عثمان اوشي
د عربي په ۶۳ شعرونو ئې ۹۳۸ صفحې شرحه لیکلې ده" [۷۲۰].
د قاضي عبد الرحمن پېښوري زوی مسعود ګل، چي په عجائب الاخبار (د ۱۲۲۶ه. ق.
تالیف) کي شیخ محمد عمر رحمة الله علیه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پیر او استاد بولي، هلته د ده د امالي
شرحه داسي ستایي:
"و از کتابهای عقاید خصوصاً از شرح امالی که از مصنفات قطب اظهر و غوث اکبر حامی

---

[۷۱۶] په دغه باب امام سیوطي رحمة الله علیه څلور رسالې لیکلي دي: مسالک الحنفاء فی والدی المصطفی، الدرجة المنیفه فی الاباء الشریفه، الدرر الکامنه فی اسلام الامنه، اثبات الاسلام لوالدی النبی علیه السلام.

[۷۱۷] په دغه باب د حموي کتاب "فواید الرحلة" نومېږي.

[۷۱۸] د میا فقیر الله مکتوبات، ۵۴ مکتوب.

[۷۱۹] اخوند درویزه ننګرهاری رحمة الله علیه (۱۰۲۸ ه. ق. مړ) قصیده امالي په پښتو ژبه ژباړلې ده او د مخزن الاسلام لومړۍ رساله ده. د مخزن په درېو چاپي نسخو (د ۱۲۹۳ ه. ق. د ۱۳۰۰ ه. ق. د ۱۹۶۹ع چاپ) کي د قصیده امالي ناظم محمد اویسي ښوول سوی دئ. اخوند درویزه قصیده امالي په پارسي ژبه هم ترجمه او شرحه کړې ده، خو د دغي پارسي رسالې په مقدمه کي بیا د قصیده امالي ناظم محمد نجم الدین عمر نسفی رحمة الله علیه (۴۷۱-۵۳۷ ه. ق.) ښوول سوی دئ. ګران لوستونکي باید دغو تېروتنو ته ځیر وي.

[۷۲۰] وګ: د بحر الانوار، د پېښور (۱۳۸۴ ه. ق.) چاپ، ۲۱۳ مخ.

الملة والدین، زینت افزای شرع حضرت رسول اکرم ﷺ میا صاحب موضع چمکنی که اسم مبارک ایشان حضرت شیخ محمد عمر الاویسی النقشبندی قدس سره العزیز است این رساله را جمع کردم".

عبد الحلیم اثر د "المعالی شرح امالی" د تالیف کال (۱۱۵۸ هـ. ق.) ښوولی دئ[۷۲۱]. دا ئې هم زیاته کړېده، چي د دغي شرحي دوې خطي نسخې ما ته معلومي دي، یوه ئې د پېښور د بهانه ماړي په رفیع الاسلام دار العلوم کي خوندي ده او بله ئې د پېښور د مردان په سیمه کي د "جلاله" نومي کلي له قاضي عبد الحق سره سته.

٦. نسب نامه:

د "واه" اوسېدونکي ډپټي حیات خان بن محمد کرم خان پخپل کتاب "حیات افغاني" کي (چي له ۱۲۸۱ څخه تر ۱۲۸۳ هـ. ق. کاله پوري ئې تالیف کړی دئ) د اورمړو منظومه پښتو شجره (نسب نامه) د څوکنو د میا صاحب رحمة الله علیه بللې ده[۷۲۲]. د "راج کرولي" جاګیر دار حاجي زردار خان ناغر[۷۲۳] هم پخپل کتاب "صولت افغاني" (د ۱۲۹۸ هـ. ق. تالیف) کي دغه خبره راوړې ده[۷۲۴].

د برټش موزیم په کتلاک کي، چي په (۱۹۰۵ع) کال ترتیب سوی دئ، د میا صاحب رحمة الله علیه دغه رساله د پښتنو د نسب نامې په نامه ضبط ده او په آریانا دائرة المعارف کي هم د میا صاحب رحمة الله علیه څمکني په مولفاتو کي دغه رساله د پښتنو نسب نامه بلل سوې ده(؟)[۷۲۵].

د دغي رسالې یوه خطي نسخه په برټش موزیم کي خوندي ده. د بلي نسخې په باب ئې عبد الحلیم اثر لیکلي دي، چي له نوموړي زردار خان ناغر څخه وه او په صولت افغاني کي ئې له هغې څخه اقتباسات کړي دي.

زه (رشاد) باور لرم، چي د میا صاحب رحمة الله علیه نور مولفات هم سته، خو موږ ته نه دي معلوم. هیله ده چي د پښتنو ځوانانو هڅه او تلاښ به دغه له سترګو نهام جواهرات له ورکېدلو وژغوري.

له میا صاحب رحمة الله علیه سره د شیخ سعد الدین کابلي مکاتبه:

نامتو کتاب پېژندونکي "Charles Riev" په برټش موزیم کي د یوه کتاب څرک موندلی

---

[۷۲۱] وګ: روحاني تړون، ۷۷۱ مخ.

[۷۲۲] وګ: د حیات افغاني، "حال قوم اورمړ"، د لاهور (۱۸۶۷ع) چاپ، ۱۵۴ مخ.

[۷۲۳] ناغر د غورغښتیو پښتنو یوه پښه ده، (صولت افغاني، ۳۹۰ مخ). دا چي د روحاني تړون په ۱۷۷ مخ کي ناغر خویشکي بلل سوي دي، د تامل وړ خبره ده، ځکه چي پر صولت افغاني سربېره د تواریخ خورشید جهان په ۲۰۰ مخ کي هم ناغر د داني پر لار غورغښت ته رسول سوي دي.

[۷۲۴] صولت افغاني، د کانپور (لکهنو) چاپ، ۲۴۹ مخ.

[۷۲۵] افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷ هـ. ش) چاپ، ۲۰۹ مخ.

دئ، چي حقايق المعارف نوميږي او د حضرت شيخ سعد الدين احمد البرکي الانصاري الکابلي رحمة الله عليه (۱۱۴۰-۱۲۲۵هـ.ق.) تاليف دئ[۷۲۶]. د دغه کتاب په (۳۲۸ب) پاڼه کي په پارسي ژبه يو منظوم مکتوب سته، چي د حضرت شيخ محمد عمر پشاوري (څمکني) رحمة الله عليه په نامه ئې ليکلی دئ[۷۲۷].

د ميا صاحب رحمة الله عليه زامن:

د ميا صاحب رحمة الله عليه دوه زامن وو، مشر ئې محمدي نوميدئ، چي په ميا محمدي او محمدي صاحبزاده سره مشهور و[۷۲۸]. جارج راورټي ليکلي دي چي دی د ملا محمدي عزيز په نامه هم يادېده[۷۲۹]. کشر ئې عبيد الله نوميدئ، چي په مياګل سره مشهور و او د احمدي صاحبزاده په نامه هم يادېده. د بحر الانوار په ۲۱۴ مخ کي چي ئې مياګل او عبيد الله دوه تنه بللي دي، سمه خبره نه ده. پخپله ميا صاحب رحمة الله عليه ويلي دي:

نور العين محمدي مشر فرزند ورپسې عبيد الله دئ ارجمند
په مياګل سره مشهور په هر ديار راغی کښېناست ونيوه ده زما کنار

(د خلاصه کيداني افغاني، ۶مخ)

د مصري خان ګګياني د چاپي ديوان په مقدمه (ب مخ) کي چي مولانا عبد القادر مرحوم، احمدي صاحبزاده د ميا عمر صاحب رحمة الله عليه منځمی (منځوی) زوی بللی دئ، دا خبره هم د بيا غور وړ ده.

د ميا صاحب رحمة الله عليه مشر زوی محمدي صاحبزاده په پښتو ژبه کي نازکخياله شاعر تېر سوی دئ. د دغي زمانې يو بل شاعر چي "بيدل" ئې تخلص دئ، محمدي صاحبزاده په نازکخيالي او موشګافي کي تر حميد مومند لوړ بنيي. د ده خپل الفاظ دا دي:

خصوصاً عبد الحميد پکښي حميد دئ
چي وېښته چوي په فکر هسي ځوان دئ

❁ ❁ ❁

---

[۷۲۶] شيخ سعد الدين احمد البره کي الانصاري رحمة الله عليه د مولانا عبد الغفار زوی، د مولانا عبد العزيز لمسی او د مولانا عبد الکريم کړوسی دئ. زيارت ته ئې د کابل خلک ډېر ورځي. زيارت ئې په ده يحيی کي دئ او د کابل له زاړه ښاره څخه د شمال خوا ته تقريباً يو فرسخ واټن لري. شيخ سعد الدين رحمة الله عليه په پارسي ژبه کي د ستاينې وړ شاعر و، په زياترو اشعارو کي ئې قدوسي تخلص راوړی دئ. څلور ډېرش کتابه ئې تاليف کړي دي.
(وګ: يک مرد بزرگ، د محمد ابراهيم خليل تاليف)

[۷۲۷] وګ: "Cataloge of the Persian Manuscipt in the British Museum"، د لندن (۱۸۷۹ع) چاپ، ۷۱۳/۲ مخ.

[۷۲۸] په پښتانه شعراء ۲۷۱/۱ مخ کي، چي محمدي صاحبزاده په قام څمکنی بنوول سوی دئ، بايد په ترکاڼي (ترکلاڼي) سره تصحيح سي.

[۷۲۹] وګ: د "Notes on Afghanistan and Baluchistan"، د ۱۸۷۸ع کال چاپ، ۳۵ مخ.

دغه واړه زيرکي د بصيرت ده
چي ئې فکر شکر ریز کړی بيان دئ

۞ ۞ ۞

هر چي دي زما د عصر هغه دا دي
چي هر يو پکښي خوش فکره سخندان دئ
صاحبزاده محمدي، عليخان ګوره
هم سعيد له ميا اکبر سره عيان دئ
محمدي تر حميد زيات وينم، کم نه دئ
هر چي زړونه پرې غوڅېږي عليخان دئ
(د بيدل چاپي ديوان، ۲۱۲-۲۱۳مخ)

د محمدي د زمانې يو بل شاعر کاظم خان "شيدا" (۱۱۹۴هـ. ق. مړ) (چي په ۱۱۸۱هـ. ق. کال ئې خپل ديوان د محمدي صاحبزاده په غوښتنه ترتيب کړی دئ) د ديوان په مقدمه کي د محمدي صاحبزاده د ادبي فهم او هنري ذوق ستاينه په دغو الفاظو کړېده:

"مخدوم زاده ولايت نژاد، نتيجه هدايت و ارشاد ميا محمدي سلمه الله تعالی خلف الصدق د شيخ الاجل، ولی الاکمل ميا محمد عمر دامت برکاته طبع جيده لري او سليقه د سخن شناسی کامله، په دبدبه د سخن آرايی قصب السبق له همسرانو وړي، او په کوکبه د خوش سرايی مقدمة الجيش د همکارانو دئ"[۷۳۰].

د يوه شاعر په توګه د ميا محمدي صاحبزاده رحمة الله عليه پېژند ګلوي د پښتانه شعراء په ۲۷۱/۱ مخ کي راغلې ده او د ده د پښتو ديوان ذکر هم هلته سته، خو دا ئې زياته کړېده، چي افسوس تر اوسه پوري د دغه ګرانبها ديوان څرک نه دئ لګېدلی. د خوشالۍ خبره ده، چي دغه ګرانبها ديوان پيدا سوا و په پېښور کي قلندر مومند چاپ ته تيار کړی دئ. هيله ده چي ژر به له چاپه راووزي. محمدی صاحبزاده په پارسي شاعري کي هم خپله طبعه ازمايلې ده او د درود محمدي تر عنوان لاندې يو پارسي نعت څني پاته دئ. د نظم شکلي سکښت ئې مخمس دئ او بحر ئې مضارع مربع اخرب، د هرنيم بيتي ميزان ئې يو وار "مفعول فاعلاتن" دئ. د ښاغلي عبد الحليم اثر د بيان له مخي دغه مخمس بايد ۱۱۸ بنده وي. ښاغلی اثر وايي: په دغه نعت کي ۷۸۶ واره د "محمد ﷺ" نوم تکرار سوی دئ، چي د بسم الله الرحمن الرحيم له ابجدي ارزښت سره برابرېږي[۷۳۱].

د محمدي صاحبزاده رحمة الله عليه بل پارسي اثر د محمودنامې مخمس دئ، چي په (۱۱۸۵هـ. ق.) کال ئې نظم کړی دئ او په دې بيت کي ئې تاريخي ماده راغلې ده:

سال ترتيب اوست "نظم القدس"
۱۱۸۵
بسکه از فيض قدس يافت نظام

---

[۷۳۰] د کاظم خان شيدا ديوان، د کابل چاپ، ۷ مخ.
[۷۳۱] روحاني تړون، ۸۱۹ مخ.

د دغه مخمس یو بند دا دئ:

این جا تپیدن دل بسمل توان شنید　　لیک از زبان خنجر قاتل توان شنید

اخبار من ز ساقی محفل توان شنید　　اوصاف گل ز بلبل بیدل توان شنید

چون مثل او نخواند کسی این رساله را

د میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه څلور پښتو غزلي په کلید افغاني کي خوندي دي[۷۳۲]. دغه څلور غزلي د پښتانه شعراء په لومړي ټوک کي هم رانقل سوي دي. نور پښتو اشعار ئې تر اوسه پوري نه دي چاپ سوي.

د دغو څلورو غزلو مطالع دا دي:

لومړی مطلع:

هیڅ په عقل په تدبیر نه دئ نصیب
چا ترلی په ځنځیر نه دئ نصیب

❁ ❁ ❁

دوهمه مطلع:

زما نه لګي په غوږو د چا وعظ
چي لاړ ورک مي شه په شور د ژړا وعظ

❁ ❁ ❁

درییمه مطلع:

شرموي هر یو سړی د دنیا طمعه
د سپي توب نامه حاصل که په دا طمعه

دا غزل د حمید مومند دهغي غزلي په استقبال ویلې سوې ده، چي مطلع ئې دا ده:

چي سړی له سړي کړي د دنیا طمعه
سړیتوب به ئې سپیتوب شي په دا طمعه

عبد الرحمان بابا رحمة الله علیه هم په دغه وزن او قافیه کي یوه غزله لري، چي مطلع ئې دا ده:

که دي پرې کړه له وګړیو رښتیا طمعه
نور پادشاه ئې هرګز مه کړه له چا طمعه

---

(۷۳۲) کلید افغاني، ۳۶۵-۳۸۴-۳۸۵-۳۹۸ مخونه.

د نورمه مطلع:

دا سور اور دئ که څه نور دئ او که تاو د بیلتون هسې
لکه وړې چې مې وریت کړ په تنهاکو لړمون هسې

دا غزله د عبد القادر خان خټک رحمة الله علیه د هغې غزلې په استقبال ویلې سوې ده، چې مطلع ئې دا ده:

لکه زه په یار مفتون یم، بل به نه وي مفتون هسې
لکه زه پسې محزون یم، بل به نه وي محزون هسې

په دغه مشاعره کې پر میا محمدي صاحبزاده سربېره، صدرخان خټک، اشرف، معاذ الدین خټک، معزالله مومند، پیر محمد کاکړ، عثمان، غفور، اودل (عبدل)، قنبر علي خان عبد العزیزخېل ورکزی، مسافر مروت، میرزا حنان بارکزی، عبد العلي اخوندزاده کاکړ، مولوي صالح محمد خان هوتک، سید رسول رسا او بهایي جان کیشاني هم برخه اخیستې ده، خو پیر محمد کاکړ، میرزا حنان بارکزي، مولوي صالح محمد خان هوتک او بهایي جان ئې وزن اړولی دئ.

قنبر علي خان ورکزی (۱۲۰۷ هـ. ق. مړ) چې د میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د زمانې شاعر دئ، د میا صاحب رحمة الله علیه په جواب (استقبال) کې یوه غزله لري، په دې مطلع او مقطع:

ساقي راکړه خدای دپاره، نور باده د عشق خماره
ژوندون کله شي بې یاره، فکر ته وکړه هوښیاره!
محمدي غزل جواب دئ، دا جواب مې با صواب دئ
د قنبر دا انتخاب دئ، ګویایي کړه له اسراره[۷۳۳]

میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه پر پښتو دیوان او پارسي درود محمدي سربېره نور مولفات هم لري. تر اوسه پورې ئې موندلي سوي کتابونه دا دي:

۱. برهان الاصول: دا کتاب په عربي ژبه د فقه د اصولو په باب لیکل سوی دئ. د لباب المعارف العلمیه فی مکتبه دار العلوم الاسلامیه په ۱۰۳ مخ کې (چې د پېښور د اسلامي کالج د مخطوطات فهرست دئ) د دې کتاب ذکر سته. د تذکره علما و مشایخ سرحد په ۹۹/۱ مخ کې ئې هم دغه کتاب د میا محمدي صاحبزاده په مولفاتو کې راوړی دئ. د دغه کتاب یوه خطي نسخه اوس د پېښور پوهنتون په کتابتون کې خوندي ده.
۲. المستغاث: یو پښتو مسدس دئ، خطي نسخه ئې په بنو کې له طاهر کلاچوي سره سته. دغه نسخه چې په (۱۳۳۷ هـ. ق.) کال استنساخ سوې ده، یو سل او لس مخه ده[۷۳۴].

---

[۷۳۳] د قنبر علي خان چاپي دیوان، ۶۷ مخ.
[۷۳۴] د زلمي هېواد مل یادابښت.

۳. مقاصد الفقه: دا کتاب هم په عربي ژبه دئ او د حنفي فقه په باب ليکل سوی دئ. د خطي نسخې مخونه ئې ۱۴۰ دي. دغه خطي نسخه په (۱۲۰۲ هـ. ق.) کال فتح خان څمکني نقل کړې ده. د تاليف کال ئې (۱۱۹۷ هـ. ق.) دئ. ميا محمدي صاحبزاده رحمة الله عليه سربېره پر دې، چې عالم، عارف او شاعر او سخندان و، د نادرو کتابو د راټولولو شوق ئې هم درلود. کاظم خان شيدا د ميا محمدي د دغي کتاب دوستۍ په باب داسي ليکلي دي: "اکثر دواوين د اسلاف او مضامين د حال رنګين وصاف ئې فراهم کړي دي او په مطالعه ئې تفريح د قلب او تشريح د صدر نقد وقت د مخدوم زاده دئ" (۷۳۵).

۴. د ميا محمدي صاحبزاده رحمة الله عليه بل تاليف "شرح لغات فارسی" دئ، چي يوه خطي نسخه ئې د افغانستان په ملي آرشيف کي خوندي ده. دغه نسخه ۱۴۲ مخه لري. په هر مخ کي ۱۴ ليکي ځای سوي دي. په شکسته خط ليکل سوی دئ. ملا هدايت الله ئې د (۱۲۰۵ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي اوه ويشتمه له ليکني فارغ سوی دئ.

د اروپا او آسيا ځيني کتب خانې اوس هم شاهدي دي، چي رښتيا هم ميا محمدي صاحبزاده رحمة الله عليه د نوادرو د راټولولو او نقلولو (استنساخ) سره زياته مينه درلوده. د ده په فرمايش به د وخت وتلو خطاطانو ديوانونه او کتابونه نقلول او د ده په کتب خانه کي به خوندي کېدل. ګل محمد پېښوری خطاط، چي په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال د نجيب ديوان د ميا محمدي له پاره ليکلی دئ، د کتاب په پای کي ئې د ميا محمدي صاحبزاده د دغه نفيس ذوق يادونه داسي کړې ده:

"تمت تمام شد ديوان نجيب بحسب ارشاد قبله کونين، مربی دارين، مبدع قوانين نکات بديع، مخترع آيين آيات ترصيع، فردوسی فصاحت، سحبان بلاغت، صاحبزاده محمدی سلمه الله تعالی - از دست فقير پر تقصير ګل محمد پشاوري سلخ ماه صفر سنه ۱۱۷۸ هـ. ق. ....".

د نجيب د ديوان دغه نسخه اوس په برټش موزيم کي په ۴۴۹۸ ګڼه خوندي ده (۷۳٦).

د پېښور د پښتو اکاډيمۍ په کتابتون کي هم د ميا محمدي رحمة الله عليه په فرمايش ليکلي خطي نسخې سته، لکه:

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ديوان، په (۱۱٦۸ هـ. ق.) کال ګل محمد پېښوري ليکلی دئ.
د خوشال خان خټک کليات، په (۱۱۷۵ هـ. ق.) کال ګل محمد پېښوري ليکلی دئ.
د سکندر خان خټک ديوان، په (۱۱۷٦ هـ. ق.) کال زين الدين پېښوري ليکلی دئ.
د مصري خان ګګيانې ديوان، په (۱۱۷٦ هـ. ق.) کال ګل محمد خان پېښوري ليکلی دئ.
او داسي نور ...

د المستغاث په نامه يو مشهور درود هم سته، ما (رشاد) ته نه ده معلومه، چي دغه المستغاث به د محمدي صاحبزاده له تاليف کړي المستغاث سره څه اړيکې لري که نه؟

(۷۳۵) وګ: د کاظم خان شيدا د ديوان مقدمه.

(۷۳٦) وګ: د برټش په جزيرو کي د پښتو خوندي کتابونه، ۷۲ مخ.

ښاغلي عبد الحليم خان اثر دا هم لیکلي دي، چي میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه په (۱۲۱۱ هـ. ق.) کال د پلار د زیارت و څنګ ته یوه مسجد جامع جوړه کړله، دغي مسجد جامع د مدرسې شکل درلود او د اسلامي علومو درسګاه وه.

د میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د مرګ کال (۱۲۲۰ هـ. ق.) دئ، د مرګ نېټه ئې له "محمدی دخل الجنت" څخه راوزي. د ځمکنو په کلي کي، د پلار د قبر لوېديزي خوا ته ښخ دئ.

د میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د ژوند یوه پېښه، چي د افغانستان له سیاسي تاریخ سره نیغ اړیکي لري، هغه تیمورشاه سدوزي (۱۱۸۶-۱۲۰۷ هـ. ق.) ته د فیض الله خان خلیل پورته کېدل او په دغه بغاوت کي د محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د لاس لرلو ګمان دئ. دا پېښه په تاریخونو کي داسي لیکلې ده:

تیمورشاه سدوزي به ژمی په پېښور او دوبی په کابل کي تېراوه، د ژمي موسم و، تیمورشاه یوه غرمه د پېښور په بالاحصار کي استراحت کاوه، فیض الله خان خلیل، چي د خلیلو خان و او د پېښور په هزارخاني کي اوسېد، د شاهي حرم د خواجه سرا په ملګري او لاربښوونه نابوبره (ناڅاپه) څو زره تنه ایله جاري پښتانه بالاحصار ته وروخېژول او د تیمورشاه د وژلو په هڅه کي و، د بالاحصار ساتونکي ئې مخي ته ودرېدل جنګ پېښ سو. د فیض الله خان بهیر ماته وکړه، فیض الله خان او زوی ئې بندیان او تر دریو ورځو وروسته ووژل سوه[۷۳۷]. ځینو کسانو د تیمورشاه غوږ ته دا ورسوله، چي میا محمدي هم په دغه بغاوت کي د فیض الله خان پلوی و، ځکه نو تیمورشاه د ځمکنو د کلي د چور او تالا حکم وکړ، خو ډېر ژر د درباري مخورو په شفاعت دا حکم منسوخ سو.

د دغي پېښي کال د پښتنو په تاریخ کي قاضي عطاء الله خان (۱۷۷۹ع) (= ۱۱۹۳ هـ. ق.)، ملا فیض محمد په سراج التواریخ کي (۱۱۸۶ هـ. ق.) او عزیز الدین وکیلي پوپلزي د تیمورشاه دراني په لومړي چاپ کي په اغلب ګمان د تیمورشاه د پاچهۍ دوهم یا دریم (۱۱۸۷-۱۱۸۸ هـ. ق.) کال ښوولی دئ[۷۳۸]. مګر دا پېښه د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه تر مرګ څو میاشتي وروسته پېښه سوې ده. میا عمر صاحب رحمة الله علیه د (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال د اسد په شلېرویشتمه یا پنځویشتمه مړ دئ او د فیض الله خان پېښه د دغه کال په ژمي کي پېښه ده.

ښاغلي عزیز الدین خان پوپلزي د تیمورشاه دراني په دوهم چاپ کي دغه تېروتنه سهي کړې ده، د پېښي کال ئې (۱۱۹۰ هـ. ق.) ښوولی دئ[۷۳۹] او د دغي واقعې په باب ئې دا قطعه، چي د تیمورشاه د دربار منشي عبد الهادي خان عشرت ویلې ده، هم راوړې ده:

---

[۷۳۷] د الپوري حافظ په دغه باب ویلي دي:

هر زیردست چي زبردست ته ملا بسته کا — سر په سنګ وهي، تحقیق دښمن د ځان دئ
فیض الله په تیمور، ځان نیست و نابود کړ — د نهنګ جنګ ته د کرړي کله توان دئ

(چاپي دیوان، ۱۵۴ مخ)

[۷۳۸] د پښتنو تاریخ، ۱۴۲/۱ مخ، سراج التواریخ، تیمورشاه درانی، لومړی چاپ، ۸۶ مخ.

[۷۳۹] تیمورشاه درانی، دوهم چاپ، ۲۱۲/۱-۲۸۰ مخونه.

در زمان شه عالیمقدار — شاه بیدار دل حق آگاه
شاه تیمور که ادنی خدمش — بر سلاطین جهان بندد راه
ابلهی پر ز جهالت ز خلیل — سرکش و تند تر از شعله آه
ریخت ناگه به سرای دولت — که گزندی برساند بر شاه

۞ ۞ ۞

گشت دستگیر سپاه منصور — از شرارت خود آن فیض الله
دو سه روزی پس از این در ته فیل — گشت پامال باحوال تباه
سال تاریخ وقوعش جستم — از خرد آنکه بود کار آگاه
گفت با من ز فراست که بگو: — "شاه دشمن شکن عالی جاه"

۱۱۹۰

د میا محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه په باب بحث د میا نور محمد قریشي په دغو بیتونو ختموم:

جانشین ئې اوس پسر دئ — په آیین د خپل پدر دئ
متابع د پیغمبر دئ — پسند کړی جن بشر دئ
هم زما عاجز، غریب سر و چشمان دئ
چي له بدو آزاده دئ — چي نیکمرد و نیک زاده دئ
هم په شرع ایستاده دئ — محمدي صاحبزاده دئ
چي په فضل محبوب شوی د رحمان دئ(۷۴۰)

اوس به راسو د میا صاحب رحمة الله علیه د دوهم زوی احمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د حال څیړني ته.
دحضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه کشر زوی، احمدي صاحبزاده دئ، چي نوم ئې عبید الله او خطاب ئې میا ګل و.

ده په سلوک او عرفان کي له پلار او وروره څخه روزني او فیضونه موندلي وو. محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه چي په (۱۲۲۰ هـ. ق.) کال ومړ، د څمکنو د ارشاد پر مسله دی کښیناست، ده د عرفان او سلوک په څنګ کي له ادب سره هم ټینګه علاقه درلوده. د هفت پیکر (یا هفت کشور) په یوه ځای کي ده کښلي دي، ما چي دا لیکل درویشت پښتو دیوانونه مي مخي ته پراته وو. په کومو بیتونو کي چي احمدي صاحبزاده رحمة الله علیه دغه مطلب بیان کړی دئ، د هغو یو څو بیته دا دي:

د عبد الرحمان دیوان د خوشحال خان و — د اشرف، د خلیفه، د بابو جان و
د سکندر، دولت، میرزا دارزاني و — د صدر، د کاظم خان چي لا ثاني و
د عبد الحمید دیوان هم پروت حاضر و — چي مشتاق ورته په هر ساعت ناظر و
همدا رنګ د مصري خان د علي خان و — د صدیق دیوان څرګند چي په بیان و
(تبرهږ شاعران، ۱۴۲ مخ)

---

(۷۴۰) میا نور محمد قریشي د حضرت میا عمر صاحب رحمة الله علیه له خلیفه ګانو څخه و، دغه نظم ئې د خپل پیر په ستاینه کي د پیر تر مرګ وروسته ویلی دئ.

احمدي صاحبزاده رحمة الله علیه د پښتو ژبي قادر الکلامه شاعر و، ده پخپلو کتابو او رسالو کي
...مدي"، "غریب" او "میا ګل" د تخلص په توګه راوړی دئ، خو د غزلو او مناجاتونو په پایونو
"غریب" ډېر لیدل کېږي، لکه:

هر زمان وایم په تورو سترګو ستا ړو — هیڅ دروغ په دا کښي نشته په رشتیا ړو
څمکني په بیلتانه ستا په ما اورشي — پکښي سوځم راته و ګوره په تا ړو
بې له تا نه د "غریب" بل غمخوار نشته — سل خبري سری یو، پخپل مولا ړو

(ورکه خزانه، ۱۸۳/۲مخ)

۞ ۞ ۞

چي په وصل د مین د چا زړه ښاد شي
نور د هغه دي اختر مبارکباد شي

۞ ۞ ۞

دوه یاران چي لاس تر غاړه شي په مینه
په دا وخت کي د رویبار راتله فساد شي

۞ ۞ ۞

چي د څښو ځنځیر پروت وي د زړه پښو ته
غه به څرنګه له دې قیده آزاد شي

۞ ۞ ۞

هسي نه چي زه مین یم، نور څوک نه دئ
د غماز له ما سره په څه عناد شي

۞ ۞ ۞

ولي دا رنګه سرتور، واهه، تاړه شم
یو ګناه خو دي په ما "غریب" نن زباد شي

(د جهاندارشهزاده قصه، ۹۲-۹۳مخونه)

۞ ۞ ۞

په زاري ولاړ حیران یم، عرض مي واوره پیغمبره!
په ژړا څیري ګرېوان یم، عرض مي واوره پیغمبره!
په انعام مي خاطر ښه کړه، ما محتاج و بل ته مه کړه
په یقین ستا ثنا خوان یم، عرض مي واوره پیغمبره!
شفاعت نصیب زما کړې، دا د رنځ زما دوا کړې
همیشه په غم د ځان یم، عرض مي واوره پیغمبره!

"غریب" وایي ستا غلام یم، مشهور په خاص و عام یم
کښلی زه دا ستا په نام یم، عرض مي واوره پیغمبره!

•

د احمدي صاحبزاده رحمه الله په مولفاتو کي تر اوسه پوري مور ته دغه رسالې او کتابونه معلوم دي:

۱. شمائل نبوي ﷺ: دا یو ترجیع بند غوندي مسدس دئ، ذو السنه ملمع ئې ځکه بولو، چي بندونه ئې پښتو او د تکرارېدونکي بیت لومړی نیم بیتی ئې پارسي او دوهم نیم بیتی ئې عربي دئ، عروضي میزان ئې "فاعلاتن، فعلاتن، فعلاتن، فعلن" دئ، چي بحر ئې رمل مثمن مخبون محذوف بلل کېږي. د رسالې ټول بندونه ؟ دي او د بیتونو شمېر ئې ؟ ته رسېږي.

په دغه رساله (ترجیع بند) کي د حضرت پیغمبر ﷺ کره وړه بیان سوي دي. دغه رساله د پېښور په فرنټیر ایډوکیټ پریس کي چاپ سوې ده، مخونه ئې ۲۴ دي[۷۴۱]. حاشیې د ترنګزو مولوي عبد الحق پر لیکلي او د متن مطالب ئې د احادیثو له معتبرو کتابو سره پرتله کړي دي. د رسالې خپرونکي (چي د پېښور د بهانه مارۍ اوسېدونکی محمد ایوب مشوانی بنوري دئ) د رسالې په سریزه کي لیکلي دي:

"دا یو څو پاڼي قلمي کتاب د رسول الله ﷺ د حلیې مبارکي متعلق تصنیف د حضرت میا ګل صاحب" ابن شمس العارفین، قدوة السالکین، زبدة الکاملین، صفوة العارفین حضرت میا محمد عمر صاحب چمکني قدس الله سره العزیز وه، سوا د یو څو ځایونه باقي ټول له احادیثو سره موافق ده، چنانچه په حاشیه باندي حواله د احادیثو د معتبرو کتابونو لیکلې شوېده ....".

د شمائل نبوي یوه خطي نسخه د ملکنډ ایجنسۍ د ګنډیرو نومي کلي اوسېدونکي مولوي محمد ایوب سره سته، بله خطي نسخه ئې د پېښور په سنټرل ریکارډ آفیس کي خوندي ده[۷۴۲].

د چاپي شمایل نبوي د سر څو بندونه دا دي:

وایي هر دم چي ملائک د سماوات په خوشي
صلات الله سلام هم په صبا هم په عشي
ما که یو ځل په غلامي سره کړې یاد څه به شي؟
کوم هر دم زه صفت ستا لکه غلام حبشي

لاف عشقش چه زنم، او قرشی من حبشي
لی حبیب عربی، مدنی قرشی

---

(۷۴۱) وګ: پښتو پانګه، د حبیب الله رفیع تالیف، د کابل (۱۳۵۶ هش) چاپ، ۶۴۱/۲ مخ.
(۷۴۲) وګ: د جهاندار شاه د قصې سریزه (س مخ) او ورکه خزانه، ۱۶۷/۲ مخ.

...ه خواهش وي شمائل د هغه شاه مدني
...ه نهايت کي زيات له شمس و سهيل يمني
...ف ئې د بر شوی په قرآن، که ئې منکر نه مني
...ه خواني ئې که جبريل لکه بلبل چمني
لاف عشقش چه زنم، او قرشي من حبشي
لی حبيب عربی، مدنی قرشي

...خدمت له د جاروب، د شام و روم پاچهان
...ا په خدمت کي ملائک دي تمامي د جهان
...ک و تاجک او حبش واړه په ظاهر په پنهان
...ن غلامان شهان د هند و د ايران د توران
لاف عشقش چه زنم، او قرشي من حبشي
لی حبيب عربی، مدنی قرشي

د احمدي صاحبزاده رحمة الله عليه د شمائل نبوي په پيدا کېدلو، د هغو پښتنو شاعرانو په لړ کي يو ...ن بل زيات سو، چي د خليل بن احمد فراهيدي ازدي (۱۰۰–۱۷۰ يا ۱۷۵ هـ. ق.) پر مستخرجو ...روضو برابر ئې پښتو نظم ويلی دئ(۷۴۳).

۲. هفت پيکر: د دغه کتاب د نامه په باب اختلاف دئ، په (۱۹۵۹ع) کال خيال بخاري د مصري خان د ديوان په ديباچه کي د دغه کتاب ذکر کړی دئ، خو د هغه نوم ئې نه دئ ليکلی، خيال بخاري هلته کښلي دي:

"احمدي صاحبزاده چي د څمکنيو د ميا عمر صاحب رحمة الله عليه زوی او د محمدي صاحبزاده کشر ...ورور دئ، يو قلمي کتاب .... (لري)، په دغه کتاب کي څه خو غزلي وغيره دي او د ګل و صنوبر ...نه علاوه شپږ نوري قصې دي، دا کتاب د احمدي صاحبزاده د خپل لاس ليک دئ"(۷۴۴).

په (۱۹۶۰ع) کال هميش خليل د ورکي خزانې په دوهم ټوک کي پر دغه کتاب باندي د "اووه شپې" نوم ايښی دئ، ده په ۱۷۵ مخ کي کښلي دي:

"دغه وخت زما د وړاندي د احمدي صاحبزاده رحمة الله عليه د منظوم کلام يوه قلمي نسخه پرته ده، دا قلمي نسخه په اووه مختلفو عشقيه قصو مشتمله ده او د موقع په لحاظ ځای په ځای غزلونه او

(۷۴۳) چا چي پښتو نظم د خليل بن احمد پر مستخرجو عروضو برابر ويلی دئ د هغوی نومونه دا دي: دولت لواڼی (تر ۱۰۶۸ هـ. ق. پوري ژوندی)، ميا شرف الکوزی (د احمد شاه بابا رحمة الله عليه معاصر)، ميا نعيم متي زی (تر ۱۲۳۲ هـ. ق. پوري ژوندی)، عبد العلي اخوندزاده کاکړ (۱۳۶۴ هـ. ق. مړ)، بهايي جان صاحبزاده کيشانی (۱۳۹۲ هـ. ق. مړ)، سمندر خان سمندر د بدربنو (۱۴۰۱ هـ. ق. مړ)، سردار عبد الرسول خان "رسول" محمدزی (۱۳۵۳ هـ. ق. مړ)، مردان دڅوکی سيد غلام جان.......

(۷۴۴) وګ: د مصري خان د ديوان ديباچه، ۶ مخ، د پېښور د پښتو اکاډيمی خپرونه.

مناجات کښلي دي، د بده مرغه د دغي نسخې د سر او پای پاڼي شلېدلي دي او همدغه وجه ده، چي د کتاب د نوم هيڅ پته نه لګي، ليکن د لوستلو نه ئې دا قدري اندازه ضرور لګي، چي دا کتاب د الف ليلې په طرز ليکلی شوی دئ......

د الف ليلې په ډول د دغه قلمي کتاب په مختلفو قصو کي بهرام پادشاه ته د حرم سرای ښځي وار په وار هره شپه يوه يوه قصه کوي، د شپو په مناسبت که د کتاب نوم "اووه شپې" وي نو ډېر امکان لري".

په (۱۹۶۱ع) کال نصر الله خان نصر الکوزي (۱۳۸۵ هـ. ق. مړ) دغه کتاب د جهاندار شهزاده د قصې په سريزه کي هفت کشور بللی دئ او د دغي سريزي په (ر) مخ کي ئې کښلي دي:

"احمدي صاحبزاده ... د خپل پلار او مشر ورور محمدي صاحبزاده غوندي په پښتو ادب کي خاطر خواه اضافه وکړه، د ده په منظوم قلمي آثارو کي تر اوسه پوري صرف دوه قلمي نسخې موندلي شوي دي، يوه نسخه شمائل نبوي نومېږي او بله هفت کشور نوم باندي بللې کېږي".

په (۱۹۶۳ع) کال عبد الحليم اثر په "تېر هېر شاعران" کي د دغه کتاب نوم "هفت پيکر" ښوولی دئ، ده په ۱۳۷–۱۴۱ مخونو کي ليکلي دي:

"د عبيد الله ميا ګل يو اهم تاليف د اوو قصو مجموعه ده، چي تقريباً په اووه نيم زره شعرونو باندي مشتمله ده"[۷۴۵].

نوموړي عبد الحليم اثر د روحاني تړون په ۸۳۹ مخ کي هم د احمدي صاحبزاده دغه کتاب د هفت پيکر په نامه ياد کړی دئ او زه (رشاد) هم تر څو پوري چي د کتاب خپل اصلي نوم معلوم مېږي، دغه کتاب د هفت پيکر په نامه يادوم[۷۴۶].

د "هفت پيکر" يوه خطي نسخه معلومه ده، دغه نسخه د اروا ښاد رحيم ګل څمکني کره خوندي وه، د نصر الله خان "نصر" ګوتو ته ورغله او "نصر" د دې معرفي داسي کړېده:

"دغه نسخه په لوی تقطيع کښلې شوې ده، سايز ئې (۲۰ X ۳۰) سانتي دئ، په اووه قصو او ۳۴۲ مخونو باندي مشتمله ده"[۷۴۷].

د "هفت پيکر" د بيتونو شمېر د مصري خان د ديوان په ديباچه کي تقريباً اووه زره[۷۴۸] او د تېر هېر شاعران په ۱۳۷ مخ کي تقريباً اووه نيم زره ښوول سوی دئ.

د هفت پيکر په اوو قصو کي يوه د جهاندار شهزاده قصه ده، چي په (۱۹۶۱ع) (=۱۳۸۰هـ.ق.)

---

(۷۴۵) له شعرونو څخه د ښاغلي اثر مراد بيتونه دي.

(۷۴۶) نظامي ګنجوي (۶۰۲هـ. ق. مړ) هم د هفت پيکر په نامه يو کتاب لري او د ابو الفيض فيضي دکني (۱۰۰۴هـ.ق. مړ) په خمسه کي يو کتاب هفت کشور نومېږي.

(۷۴۷) وګ: د جهاندار شهزاده د قصې سريزه (ر) مخ.

(۷۴۸) وګ: د ديباچې ۷ مخ.

ال ارو ابناد نصر الله خان نصر الکوزي د پېښور په شاهين برقي پريس کي چاپ او د پېښور د دار تصنيف له خوا خپره کړېده. دغه چاپي نسخه په کوچنۍ قطعه ۱۱۵ مخه ده، د بيتونو شمېر ئې ۱۱۴ دئ، هر نيم بيتی ئې دوولس څپه ايز (هجايي) دئ. فشار ئې پر درېيمه، اوومه او يوولسمه ځا راځي، ځيني بيتونه ئې يوولس څپه ايز هم دي. د نظم شکلي سکښت ئې مثنوي دئ، د پيل بيتونه ئې دا دي:

کوي بيا توتي د باغ رنګ رنګ خبري
چي خوږې دي و بلبل ته تر شکري

په قهقه شوه، په خندا شوه پري زاده(۷۴۹)
د چا هېره به وه دا، زما ښه ياده

دې په ناز، نخره تعظيم کړلو ادا
او شروع ئې په قصې وکړه اوس دا:

اې پادشاه! چي و په ملک کي د قبچاق(۷۵۰)
يو پادشاه په صورت زوړ، په زړه ناچاق

د دغي چاپي قصې د پای بيتونه دا دي:

پادشه پاڅېده له تخت، روان شه کور ته
لکه مست مزری چي ځي، د ځنګله لور ته

آخر راغی په پالنګ خوشحال، خندان
هلته کښېناست سهيلو سره شادان

پادشاه مخ که په طرف د عقيق لب
د قصې ويلو وار دئ ستا نن شب

پرون شپه قصه د عشق پريزادي
وويله چي خبري وې ښې يادي

نن شپه وار د قصې ستا دئ مقرر
ښه د عشق قصه بيان کړه، نه د يګر

عجائب او غرائب پکي ښکاره کړه
له زړه خلاصه د ويلو فواره کړه

چي قصه د عقيق لبې يادوې
ای "غريبه" زړه پرې خپل بربادوې(۷۵۱)

(۱۱۵ مخ)

د احمدي صاحبزاده د هفت پيکر بله قصه د ګل و صنوبر قصه ده، هميش خليل د ورکي خزانې په دوهم ټوک (۱۷۶ مخ) کي د دغي قصې په باب ليکلي دي:

"د امان اخون يعني امان ګجراتي(۷۵۲) د "ګل وصنوبر" او د احمدي صاحبزاده د ګل و صنوبر په ځينو واقعاتو او کردارو کي ډېر زيات فرق دئ لکه د احمدي صاحبزاده په قصه کي ګل

---

(۷۴۹) د دغي قصې نکل چي (راويه) پريزاده نومېږي، د نظامي په هفت پيکر کي په دغه نامه راويه (نکل چي) نسته.

(۷۵۰) د پريزادي مخاطب بهرام شاه دئ، د نظامي په هفت پيکر کي هم نکلچيانې بهرام ته نکل کوي.

(۷۵۱) د جهاندار شاه قصه ملا احمد جان مرداني هم په پښتو نظم کړې او حاجي محمد او عبد الرحمن په پرمايښت د لاهور په دين محمدي مطبعه کي چاپ سوېده، دغه چاپي نسخه يو اويا مخه ده، (پښتو پانګه، ۶۹۳/۲ مخ). ملا احمد جان د څورلسمي هجري سدی شاعر دئ، (پښتانه شعراء، ۶۲۸/۲ مخ).

(۷۵۲) ګجرات د پېښور په مردان کي يو کلی دئ، اخون امان د دغه کلي اوسېدونکی و، د اخون امان ګل و صنوبر قصه د لاهور په دين محمدي مطبعه کي چاپ سوېده، د چاپي نسخې مخونه ئې ۴۸ دي. اخون امان ګجراتي "د مقتول جفا" په نامه اردو افسانه هم پښتو کړېده او د هزار حيف يا افسانه غم آلود په نامه د لاهور په کريمي پريس کي چاپ سوېده. په فرهنګ زبان و ادبيات پښتو (۵۳ مخ) کي ليکلي دي، چي د بهرام ګور او ګل اندامي قصه ئې هم پښتو کړې ده.

عاشق او صنوبر معشوقه ده، لیکن د امان گجراتي په قصه کي صنوبر عاشق او گل معشوقه ده"[۷۵۳].

د احمدي صاحبزاده د هفت پیکر نوري پنځه قصې ما ته نه دي معلومې.

۳. عبرتنامه: د دغه کتاب په باب عبد الحلیم اثر په روحاني تړون کي فقط دومره لیکلي دي:

"د احمدي صاحبزاده په تالیفاتو کي یو اهم تالیف عبرتنامه ده، چي اخلاقي او تصوفي کتاب دئ"[۷۵۴]. مگر د تېر هېر شاعران په ۱۴۳ مخ کي ئې د دغه کتاب پېژندگلوي مفصله کړېده، ده هلته کښلي دي:

"د عبید الله میا گل یو بل تالیف دئ، چي عبرتنامه نوم ئې دئ، دا کتاب تر دې وخته پوري نه دئ چاپ شوی، یوه قلمي نسخه ئې د پېښور ښهر په مرکزي ریکارډ آفیس کي موجوده ده، چي هغه هم ناقصه ده، موجوده نسخه صرف ۴۰۲ مخونه لري، په اول سر کي ئې څلور مخونه نشته دي او آخر ئې هم ناقص دئ، لیکن داسي معلومېږي چي په آخر کي ئې هم فقط دوه یا څلور مخونه کم دي.....

د دې کتاب ترتیب داسي دئ، چي په اول سر کي حمد دئ، بیا نعت دئ، بیا مناجات دئ، بیا د څلورو یارانو مناقب، بیا سبب د تالیف د کتاب بیا ورپسې د کتاب مضمون دئ".

ښاغلي عبد الحلیم اثر د عبرتنامې د تالیف نېټه په اټکلي ډول سره تر (۱۱۹۰ هـ. ق.) کال دمخه بولي او د موجودي نسخې په باب ئې رایه دا ده، چي کوم کاتب لیکلې ده، خو ځای ځای د میا گل احمدي صاحبزاده په قلم تصحیحات او اضافې پکښې لیدل کېږي.

د تذکره علما و مشایخ سرحد په ۹۹/۱ مخ کي هم د عبید الله میا گل په مولفاتو کي پښتو عبرتنامه راغلې ده[۷۵۵].

---

[۷۵۳] د گل و صنوبر درییمه پښتو منظومه ترجمه د رشید طالب ده، چي د پېښور پښتو اکاډیمۍ چاپ کړېده، د چاپ کال ئې ما پیدا نه کړای سو. میر شرف خان وزیر مقدمه پر لیکلې ده. د متن مخونه ۹۵ دي او مقدمه په ۳۶ مخونو کي ده. د گل و صنوبر قصه په پارسي ژبه محمد ماه صداقت کنجاهي (۱۱۴۸ هـ. ق. مړ) لیکلې ده. په اردو ژبه کي د گل و صنوبر قصه د بهیم چند ژباړه ده.

[۷۵۴] وگ: روحاني تړون، ۸۳۹ مخ.

[۷۵۵] د عبرتنامې په نامه په پارسي ژبه کي ما ته دغه ۴ کتابه معلوم دي:

۱. د محمد قاسم عبرت لاهوري تالیف.

۲. د مفتي علی الدین لاهوري تالیف، چي په (۱۹۶۱ع) کال په لاهور کي چاپ سوېده، د تالیف د ختم کال ئې (۱۲۷۰ هـ. ق.) دئ.

۳. د کامراج تالیف، د اورنگزیب له مرگه (۱۱۱۸ هـ. ق.) څخه د فرخ سیر تر مرگه (۱۱۳۱ هـ. ق.) پوري د شمالي هندوستان سیاسي پېښي پکښې بیان سوي دي.

۴. د پند نامې مسدس(؟): پند نامه یو پارسي مثنوي دئ، چي په دې بیت شروع کېږي:

حمد بی حد مر خدای پاک را
آنکه ایمان داد مشت خاک را

دغه کتاب په پښتنو کي په "حمد بې حد" مشهوره دئ. د تالیف نسبت ئې مشهور عارف شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه (۶۱۸ یا ۶۲۷ ه. ق. مړ) ته کېږي. د بیتونو شمېر ئې تقریباً ۹۰۰ بیته دئ.

عبد الحلیم اثر د تېر هېر شاعران په ۱۴۳ مخ کي لیکلي دي:

"احمدي صاحبزاده د باجوړ د قیام په دوران کي د شیخ فرید الدین عطار رحمة الله علیه د مشهور مثنوي پندنامه عطار تضمین ئې د مسدس په طور سره کړی دئ، چي په مجموعي طور سره تقریباً درې زره (؟) شعرونه دي"[756].

مګر د ښاغلي اثر په بل کتاب (روحاني تړون) کي چي تر تېر هېر شاعران وروسته چاپ سوی دئ، د دغه مسدس ذکر نسته.

احمدي صاحبزاده رحمة الله علیه په (۱۲۳۳ ه. ق.) کال مړ او د پلار په زیارت کي خاوروته سپارل سوی دئ. قبر ئې د محمدي صاحبزاده رحمة الله علیه څنګ ته واقع دئ. د مرګ تاریخي ماده ئې "غربال" ده.

د میا عمر صاحب رحمة الله علیه وراره:

د میا عمر صاحب رحمة الله علیه یو وراره محمد سعید دئ، چي په بازګل سره مشهور و، پلار ئې د میا عمر صاحب رحمة الله علیه کشر ورور محمد موسی و. محمد سعید بازګل هم عالم سړی و، ښاغلي عبد الحلیم اثر دده په مولفاتو کي د "ریاحین الصلوة" نوم راوړی دئ. د ریاحین الصلوة ژبه عربي ده[757]. د دغه کتاب په باب نور تفصیل راسره نسته.

---

۴. د خیر الدین محمد الهٔ آبادي تالیف، له (۱۱۷۳ ه. ق.) څخه تر (۱۲۰۶ ه. ق.) پوري ئې د شمالي هندوستان سیاسي واقعات لیکلي دي.

په ترکي ژبه کي هم یوه عبرتنامه سته، چي ابراهیم له لاتیني ژبي ژباړلې ده. لاتیني متن ئې د شاه حسین صفوي (۱۱۰۶–۱۱۳۴ ه. ق.) په دربار کي د فرانسې د سفارت طبیب لیکلی دئ، دغه طبیب د شاه محمود هوتک (۱۱۲۸–۱۱۳۶ ه. ق.) د پاچهۍ په زمانه کي په اصفهان کي و، د شاه اشرف هوتک (۱۱۳۶–۱۱۴۲ ه. ق.) له ایلچي، محمد خان بلوڅ سره استانبول ته ولاړ. په دغه کتاب کي د شاه محمود هوتک او د شاه اشرف هوتک د پاچهیو سترګو لیدلي حالات کښلي دي. دغه طبیب د پښتنو د نظم او انضباط ډېره ستاینه کړې ده.

[756] له شعرونو څخه د ښاغلي اثر مراد بیتونه دي. د ۹۰۰ بیتونو په تسدیس کي باید ۱۸۰۰ بیته د مسدس جوړ ونکي شاعر وي، چي مجموعي شمېر ئې ۲۷۰۰ بیته سي (؟).

[757] وګ: د روحاني تړون، ۷۵۷–۷۷۴ مخونه او د رهبر د (۱۹۵۹ع) کال د اکتوبر د شپاړسمي په ګڼه کي د ښاغلي اثر مقاله د یوه تاریخي او ادبي جایزې تر عنوان لاندي، ۱۱ مخ.

محمد سعید باز ګل د (۱۲۰۰ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په شپاړسمه ورځ مړاو د څمکنو په زیارت کي ښخ دئ. محمد بیاض جدون (ګدون) د ده دوې مرثیې ویلي دي[۷۵۸]. د یوې مرثیې په پای کي ئې د ده د مرګ تاریخ داسي ښوولی دئ:

په سینه د زړاو دوه سوه دا غم وه   یکشنبه او د شبقدر شپاړسم وه
بیلتانه چي راپیښ کړی د اور هم وه   ځای په زړه کي مي د غم کله د زغم وه
باز ګل جي، د جنازې په آس نن سپور ځي

د څمکنو د میا صاحب رحمة الله علیه په باب لیکلي آثار:

هسي خو د څوکنو د میا عمر صاحب رحمة الله علیه ذکر په ډېرو کتابو کي سته، خو هغه آثار چي په ځانګړي توګه د میا صاحب رحمة الله علیه په باب لیکلي دي، دا دي:

۱. مناقب میا عمر صاحب: دا کتاب د میا صاحب مرید "دادین" د میا صاحب رحمة الله علیه تر مرګ وروسته په پښتو نظم لیکلی دئ[۷۵۹]. د دې کتاب یوه خطي نسخه په کندهار کي د ښاغلي محمد حلیم سلیمي په کتابتون کي خوندي ده، چاپي نسخه ئې تر (۱۳۰۰ هـ. ق.) کال د مخه چاپ سوې ده[۷۶۰].

۲. مناقب میا عمر: دا کتاب مسعود ګل پاسني په پښتو نظم لیکلی دئ[۷۶۱]. د "تېر هېر شاعران" مولف اقتباسات ځني کړیدي. د پښتانه شعراء په لومړي ټوک کي د شکرستان افغاني د ۳۸ مخ په حواله لیکلي دي، چي د دغه کتاب یوه نسخه په برټش موزیم کي سته[۷۶۲]. عبد الحلیم اثر ئې په تېر هېر شاعران (۱۲۴ مخ) کي د نظمولو کال (۱۲۱۲ هـ. ق.) ښوولی دئ.

۳. د څوکنو میا عمر: دا رساله نصر الله خان نصر الکوزي (۱۳۸۵ هـ. ق. مړ) په پښتو نثر

---

(۷۵۸) بیاض د څمکنو د میا صاحب رحمة الله علیه مرید و، ده ویلي دي:

هر چي نوم د میا عمر صاحب څوک واخلي
هغه لورته زه بیاض لاس په سلام یم

د بیاض د ژوندانه حالات او د شعر نمونې په تېر هېر شاعران کي له ۷۷ مخه څخه تر ۸۵ مخه پوري کښلي دي، د دیوان بیاض په نامه په (۱۹۵۸ع) کال د شعرونو یوه مجموعه هم د پېښور په جهانزیب پریس کي چاپ سوې ده.

(پښتو پانګه، ۲/۵۲۴ مخ)

(۷۵۹) د دادین د ژوند حالات او د شعر نمونې د پښتانه شعراء په ۴/۹۸۵ مخ کي راغلي دي.

(۷۶۰) وګ: د ګلزار پښتو وروستی پانه.

(۷۶۱) وګ: تېر هېر شاعران، ۱۰۵ مخ او پښتانه شعراء، ۱/ ۳۸۳ مخ، د مسعود ګل پاسني بحث.

(۷۶۲) شکرستان افغاني د میر احمد شاه رضواني تالیف په (۱۹۰۵ع) کال په لاهور کي چاپ سوی دئ.

لیکلې او په (۱۹۵۱ع) (= ۱۳۷۰ ه. ق.) کال په پېښور کې چاپ سوېده. خپرونکی ئې د صوبه سرحد ادبي ټولی وه. په دې رساله کې د میا عمر صاحب رحمة الله علیه د ژوند حالات څېړل سوي دي او د ده د مولفاتو په باب هم معلومات پکښې سته(۷۶۳).

۴. ښاغلي څېړندوی عبد الله بختاني د پښتانه شعراء په ۷۰/۴ مخ کې د څوکنو د میا صاحب رحمة الله علیه په باب د زیاتو معلوماتو له پاره د غه مقالې هم د مراجعو په ډول معرفي کړې دي:

- د عبد الحلیم اثر، "روحاني تړون" (روحاني رابطه)، د پېښور (۱۹۶۵ع) چاپ، ۷۵۵-۷۸۳ مخونه.
- قیام الدین خادم، د "میا عمر صاحب" تر عنوان لاندې مضمون، د ننګرهار مجلې د (۱۳۴۸ هش) کال د دلو او حوت ګڼې، (افغانستان).
- پوهاند صدیق الله رشتین، د څمکنو د میا عمر تر عنوان لاندې د ادب مجلې د (۱۳۳۵ ه. ق.) کال څلورمه ګڼه، د کابل پوهنتون خپرونه، (افغانستان).
- سعد الله جان برق، د "حضرت میا عمر صاحب د څمکنو" تر عنوان لاندې د پېښور د جمهور اسلام د مجلې د (۱۹۶۸ع) کال شپږمه ګڼه.
- د فرهنګ زبان و ادبیات پښتو په ۴۹۶ مخ کې هم د څمکنو د میا صاحب رحمة الله علیه په باب موجز معلومات سته، (کابل چاپ).
- د محمد امین "مناقب میا عمر" په (۱۲۹۹ه. ق.) (= ۱۸۸۱ع.) کال چاپ سوي دي(۷۶۴).

---

(۷۶۳) پښتو پانګه، ۴۹۲/۲ مخ.

(۷۶۴) وګ: د تقویم الحق مقاله.

صابر شاه رحمة الله علیه

محمد صابر شاه یو لېونی سید و، چي په لاهور کي زوکړی او غالباً هلته لوی سوی و. د (۱۱۵۱ هـ. ق.) کال پای ته، چي افشار نادر پر هندوستان یرغل وکړ، دی د هغه له پوځونو سره مل سو. هر ځای چي به نادري لښکرو واړول، ده به هم ځانته یوه څپړۍ جوړه کړله او په هغه کي به اوسېد. ویل کېږي چي لیوني صابرشاه به د کوچنیانو او وړو په څېر د څپړۍ مخي ته، له خاورو څخه کوټنۍ جوړولې او ډېر ډوکي او خاشې به ئې پکښي نجتلې، چا چي به وپوښتېد:

"دا څه کوې!".

ده به جواب ورکړ:

"د احمدشاه د پاچهۍ ترتیبات نیسم، دا ئې رساله ده، هغه ئې توپخانه ده او هوغه ئې لښکري دي او ......".

د نادر افشار تر مرګ درې ورځي دمخه[۷۶۵]، چي د نوموړي نادر پوځونو په "خبوشان" نومي ځای کي واړول، دغه صابرشاه لېوني چي یوه کراسته ئې پر ځان اچولې وه، پر لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه، چي هغه وخت احمدخان باله کېده او د افشار نادر په پوځ کي منصبدار و، پېښ سو او بېله دې چي د نادر د قوت، هیبت او سفاکۍ څه پروا وکړي، احمد خان ته ئې وویل:

"زه ستا په تندي کي د پاچهۍ نخښي وینم، ته ما ته یو کنډکین ټوکر راکړه، چي له هغه څخه ستا د لښکرو خېمې او ستا د دربار لویه پاچاهي خېمه او تجیر روغ کړم، زه به دعا درته وکړم، چي ته پاچا سې او ډېر ژر به په تا د پاچهۍ تخت ښکلی سي".

احمد خان د لېوني صابرشاه خبري اپلاتي وبللې، خو سره له هغه ئې هم د لېوني سایل نامینده کول وړ نه وبلل او یو څه کنډکین ټوکر ئې لېوني ته ورکړ.

سبا ته لېوني د هلکو په څېر ډېري وړې وړې خېمې، چي له هغه ټوکره څخه ئې جوړي کړي وې، د احمدخان د خېمې څنګ ته ودرولې او د قرآن عظیم الشان آیتونه به ئې لوستل او پر پو کل به ئې.

تر دې واقعې دوې ورځي وروسته د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د څلرمي خور په دوولسمه شپه نادرشاه وواژه سو. هاله احمدخان د لېوني خبري ته ځیر سو او دا ئې یو الهامي زېری وباله. کله

---

(۷۶۵) د "دولت درانیه" نومي کتاب په ۱۰ مخ کي لیکلي دي، چي دا واقعه د نادر افشار تر مرګ درې کاله پخوا پېښه سوې وه. د صولت افغاني په ۲۴۳ مخ کي لیکلي دي، چي دا واقعه د امام ابو الحسن علي ابن حضرت امام موسی رضا رحمة الله علیه په زیارت کي پېښه سوې ده(؟).

چي د پښتنو پوځونه د افشار نادر تر وژلي وروسته د کندهار لور ته راوخوځېدل، لېوني صابر شاه ئې مل سو او کندهار ته ورسره راغی.

سید حسین شیرازي په تاریخ احمدشاهي کي لیکلي دي:

صابرشاه د لاهور له خلکو څخه یو فقیر و، د ګلو یو تخت ئې جوړ کړئ، احمدخان ئې پر کښیناوه، ویل دا دي تخت دئ او د واښو یوه ګېډۍ ئې د تاج په ډول پر سر ورکښېښووله.

د صابر شاه په باب د بیان واقع په ۱۸۸ مخ کي د محمد یار خان ضراب باشي له خولې، چي د فقیر صابر شاه له ملګرو څخه و، لیکلي دي:

"..... بابا صابر نام نعلبند پسری وجیه که خالی از ولولهٔ عشق و جذبهٔ جنونی نبود از وطن خود لاهور بر آمده، بسمت کابل و قندهار و هرات تشریف برد و در آن ایام که نادرشاه کشته شد، بابا صابر خیمهٔ کوچکی استاده نموده، بطور اطفال بازی می کرد، از وی سوال کردند که درویش! چکار می کنی؟ جواب داد که ایام سلطنت نادر شاه منقضی شده و این خیمهٔ بادشاهی احمدشاه است که بر پا میکنم، بحسب اتفاق در همان ایام واقعهٔ کشته شدن نادرشاه رویداده، تسلط احمدشاه صورت پذیر شد. بنا بر آن در جمیع امور فرمودهٔ درویش مذکور را مسلم می داشت و کالنقش فی الحجر می پنداشت و بر طبق اشاره ایشان ابدالی بدرانی و بادشاه بدر دران موسوم شدند"(۷۶۶).

د تاریخ سلطاني په ۱۲۳ مخ کي هم صابر شاه د لاهور بلل سوی دئ، خو اغا غبار ئې کابلی بولي او لیکي، چي "صابرشاه کابلی پسر متصوف استاد لای خوار از اهل کابل بود"(۷۶۷).

د صابرشاه په باب د عبرتنامې په ۲۰۲ مخ کي لیکلي دي:

"... (احمدشاه) صابرشاه پیرزاده را که از بس معتقد آن بود من مقام قلعهٔ روتاس برای دریافت احوال، مزاج اشتمالت و فهمایش بعضی مراتب سمت شهنواز خان روانه فرمود ..... وقتی که صابرشاه وارد لاهور شد استحصال ملاقات نمود، شهنواز خان بطریق ظرافت پرسید که برادر احمد خان بخریت است؟ پیر زاده جواب داد که او بادشاه ولایت و خراسان است و نیز داعیهٔ تسخیر هندوستان پیش نهاد خاطر خطیر دارد، تو که صوبه دار یک مکان و ملازم و تابعدار دیگر باشی باز همچو حرف از زبان میگویی؟ شهنواز خان بمجرد اصغای این سخن در غضب آمده میرزا یادگار میر غضب را طلب داشته حکم داد که در دهن این فضول پیرزاده سکه (سرب گداخته) بریزد. وی همچو بعمل آورد. بمجرد وقوع این معنی نقد حیات بصراف اجل سپرد. چنانچه در پس مسجد بادشاهی عالم گیری در کنج خاک مدفون است ....".

---

(۷۶۶) شیر محمد خان په انساب رؤسای دیره اسماعیل خان (۳۱ ب مخ) کي کښلي دي، چي د څمکنو میا عمر صاحب رحمة الله علیه د دردرانی خطاب احمدشاه ته کړی دئ او د ابدال نسبت ئې په دران اړولی دئ.

(۷۶۷) وګ: افغانستان در مسیر تاریخ، د کابل چاپ، ۳۵۵ مخ.

د (۱۱٦۰هـ. ق.) کال د رجب د میاشتي تر اتلسمي پخوا، چي د کندهار په شیر سرخ(۷٦۸) کي پښتانه مشران سره جرګه سول او د ټولو پښتنو له پاره ئې د پاچا د انتخاب په باب خبري شروع کړلې، په نهمه جرګه کي دغه لېوني صابرشاه د جرګې غړو ته وویل:

"تاسي ولي خوشي دغېږئ، لوی خدای ﷻ احمد خان تر تاسي ټولو لوی رازلی دئ، د ده کورنۍ ډېره شریفه او پتمنه کورنۍ ده، د خدای ﷻ په مرسته د ده ملاتړ کوئ. که تاسي د ده په ورانۍ پسې سئ، د خدای ﷻ قهر به در باندي نازل سي".

د جرګې غړو د لېوني صابرشاه پیشنهاد ومانه او پر خودخواهیو ئې پښې کښېښوولې. لېوني صابرشاه د غنمو وږی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په بګړۍ کي وتومبه او له هري خوا څخه د پاچهۍ مبارکۍ ورکړلي سوې. د دولت درانیه په ۱۰ مخ کي دا هم زیاته سوېده، چي په دغه وخت کي ئې د "در دران" لقب هم ورکړ او له دغي ورځي څخه ابدالي نوم په دراني بدل سو(۷٦۹).

صابر شاه پر لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ډېر ګران و او هر ناز ئې پر چلېدئ. د تاریخ حسین شاهي مولف کښلي دي، چي:

"د کابل او پېښور حاکم ناصر خان "زیګ" له ملګرو څخه چا ویل، چي زه (په ۱۱٦۰هـ ق کال) د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه دربار ته ورغلم، احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر تخت ناست و، ما یو لڅ لغړ په خاورو لړلی فقیر ولید، چي په غېږه کي ئې غزېدلی و، دغه فقیر به کله د احمدشاه بابا رحمة الله علیه غوږ ته لاس وروړ او کله به ئې پزي ته.

احمدشاه بابا رحمة الله علیه په ډېر احترام او کاږه مغزي ورسره ګډ و. ما چي دباندي له خلکو څخه د نوموړي فقیر نوم وپوښتېد، هغو را ته وویل دا صابر شاه دئ".

د (۱۱٦۰هـ. ق.) پای ته چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د هندوستان په نیامت له کندهاره څخه پوځونه وخوځول، صابر شاه هم په یوه روایت تر رهتاسه پوري او په بل روایت د لاهور تر شاه درې پوري د دغو پښتني پوځونو مل و. د لومړي روایت لیکونکي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي خپل پوځونه د (۱۱٦۰هـ. ق.) کال تر لوی اختر وروسته له پېښوره څخه رهتاس ته ولېږدول او هغه کلا ئې بې جنګه ونیوله، له دغه ځایه څخه ئې صابر شاه لېونی او محمد یار خان ضراب باشي لاهور ته ولېږل، په ښکاره دا ویل کېدل، چي لاهور د صابرشاه وطن دئ او محمدیار خان د خپلي مور (؟) لیدني ته چي په لاهور کي اوسي، ورسره ځي او هم د هغه ښار زیارتونه کوي، مګر په بیان واقع (۱۸۸ مخ) کي لیکلي دي، چي "صابر درویش با وصف منع شاه و سپاه، محمدیار خان ضراب باشی را همراه گرفته بزیارت مقابر لاهور و ملاقات والدهٔ ماجدهٔ خود مشرف شدند".

---

(۷٦۸) د شیر سرخ زیارت د احمدشاهي کندهار جنوب ته دوه میله لیري واقع دئ. "فرېر" د خپل تاریخ په ٦۹ مخ کي لیکلي دي، چي صابرشاه د دغه زیارت منجور و.

(۷٦۹) غلام محمد غبار هم د افغانستان در مسیر تاریخ په ۳۵۹ مخ کي د دولت درانیه دغه وینا راوړې ده.

صابر شاه چې لاهور ته ورسېد، د مفتي عبد الله کره واوسېد. د لاهور په اولس کې دا آوازه خپره سوه، چې صابر شاه ځکه لاهور ته راغلی دئ، چې په خپل دم او چو د مغلو د توپونو خولې وتړي، چې د پښتنو پر پوځ باندي ګولۍ ونه اورولای سي. د لاهور مغلي نائب الحکومه چې خبر سو، خپل دوه تنه نوميالي افسران، آدینه بیګ او کوړا مل ئې ورولېږل، چې د صابر شاه خوله وپلټي.

صابر شاه هغو ته وویل:

"زه له يوې خوا سره هم اړيکی نه لرم، مګر لاهور زما د زوکړې وطن دئ او د دغه ښار له ډېرو خلکو سره ما يو ځای ژوند تېر کړی دئ، ځکه نو پر ما دغه ښار او ښاروال ګران دي، زړه مي پر سوځي او دا ورته وايم، چې ستاسي توره او د احمد شاه توره سره برابره نه ده".

يوه ورته وویل:

"آيا زموږ توره له لرګيو او د هغه توره له اوسپني جوړه ده؟".

صابر شاه ځواب ورکړ:

"يه، د دواړو توري له اوسپني څخه جوړي سوي دي، مګر ستاسي ستوری او اقبال د هغه د ستوري او بخته سره سيالي نسي کولای".

آدینه بیګ دوی چې دا حال شهنواز خان ته ورساوه، هغه حکم وکړ چې ګوريځ صابرشاه او محمد يار خان ضراب باشي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځ ته درڅخه ولاړ نسي".

د عبرتنامې مولف مفتي علي الدين ليکلي دي، چې:

شهنواز خان صابر شاه خپل حضور ته وروغوښت او تر روغبړ وروسته ئې پوښتنه ځني وکړله، چې:

"زما ورور احمد شاه ځنګه دئ؟".

صابرشاه ځواب ورکړ:

"احمدشاه د ولايت (افغانستان) او خراسان خپلواک پاچا دئ، د هندوستان د نيولو اراده لري او ته د بل چا نوکر او د يوې سيمي حاکم ئې، ته د داسي وينا جرأت ځنګه کوې؟".

دې جواب شهنواز خان ډېر ودرداوه او صابر شاه ئې خپل بخشي خواجه عصمت الله يا ميرزا يادګار مير غضب ته وسپاره او هغه ئې د شهنواز له امره سره سم په خوله کي ويلي کړي سرپ ورتوی کړل او په دې توګه ئې وواژه.

د بيان واقع په ۱۸۹ مخ کي کښلي دي:

درويش او ضراب باشي ئې دواړه بنديان کړل، سبا ئې صابر شاه راويوست د پاچاهي مسجد جامع مخي ته ئې بوت او هلته ئې په خورا بده توګه وواژه.

د پیر صابر شاه تر وژلي وروسته مخمد یار خان ضراب باشي خوشي کړه سو.

د عمدة التواریخ په ۱۲۳ مخ کي دا هم زیاته سوېده، چي تر وژلي وروسته د صابرشاه نس څیري کړه سو، پر اوبښ ئې واچاوه او د لاهور په بازارو کي ئې وګرزاوه.

په بل روایت کي راغلي دي، چي:

"د (۱۱٦۱ هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په اتلسمه ورځ، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونو په شاهدره کي واړول، صابرشاه پخپله خوښه له شاهدرې[۷۷۰] څخه یواځي لاهور ته ولاړ، نه څوک ورسره مل و او نه احمدشاه بابا رحمة الله علیه لېږلی و".

د تاریخ سلطاني مولف دا هم زیاته کړېده، چي:

"صابر شاه د لاهور په بازار کي خپلي وړې خېمې ودرولې او ویل ئې چي زه د احمدشاه د پاچهی بیرغونه نجتم، پر شهنواز خان دا خبره درنه پرېوتله او نوموړی صابرشاه ئې وواژه".

د صابرشاه قبر د لاهور د شاهي مسجد شا ته پر یوه لوړه تنګاچه باندي، ټیکسلا دروازې ته نژدې واقع دئ[۷۷۱].

د سروش مجلې د لومړي کال په پنځه دېرشمه (؟) ګڼه کي لیکلي دي، چي په پېښور کي یوه کوڅه د باقرشاه په نامه مشهوره ده، دغه باقر شاه د صابرشاه ورور و. د پېښور معاصر شاعر سید جګر کاظمي، چي خلک ئې خاقاني سرحد بولي، د دغه باقر شاه له اولادې څخه دي. د دولت درانیه په ۱۲ مخ کي لیکلي دي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د صابر شاه رحمة الله علیه تر شهادت وروسته د ده وروڼه او دوستان ډېر ونازول او په خورا درنه سترګه ئې ورته وکتل.

د تاریخ حسین شاهي مولف لیکلي دي، چي :

"د صابر شاه ورور باقر شاه په پېښور کي اوسي او د کاله پنځه زره روپۍ تنخا لري، ډېر هوښیار، خوشخُلقه او لطیفه ګویه سړی دئ. ما په (۱۲۱۲ هـ. ق.) کال په پېښور کي ورسره ولیدل".

---

[۷۷۰] په تاریخ احمدشاهي که هم د صابر شاه تګ لاهور ته له شاهدرې څخه بلل سوی دئ.

[۷۷۱] عبرتنامه، ۲۰۲/۱ مخ، عمدة التواریخ ۱۲۲/۱ مخ، "Old Lahore" ۷۳ مخ او د سید محمد لطیف د تالیف کړي "لاهور"، ۷۵-۱۱۷ مخونه.

عبد الصمد خان محمدزی

عبد الصمد خان د صدیق خان زوی[۷۷۲]، په خټه محمدزی[۷۷۳] پښتون و. د پېښور شمال ته شپاړس کروهه لیري په اشنغر کي اوسېد او د اشنغر دوآبې د سیمو لوی خان و[۷۷۴].

د حدیقة الاقالیم په ۶۸۱ مخ کي کښلي دي:

زما پلار (الله یار بلګرامي) د هشتنګر (اشنغر) له عبد الصمد خانه سره د وروری بګړی الیشه کړې وه. مبارز الملک سربلند خان د فرخ سیر د پاچهی په وروستي کال (۱۱۳۰ هـ. ق.) کي د کابل نائب الحکومه مقرر سو[۷۷۵]. دی چي پېښور ته ورسېد، هلته مېشت سو او خپل مشرزوی ئې، چي خانزاد خان نومېد، له یوه تکړه پوځ سره کابل ته ولېږه، خانزاد خان له خپلو پوځونو سره کابل او غزني ته ولاړ، پېښور ته چي د راستنېدلو په نیامت جګدلک ته ورسېد، پښتنو مخه ورته ونیوله، سخت جنګ وسو. د خانزاد خان پوځ ماته وکړه، پخپله خانزاد خان له پڼخه سوو تنو منصبدارانو سره د پښتنو په لاس کښېووت او د بندي په توګه ئې ورسره وساته.

سربلند خان ته چي دا حال ور ورسېد زما پلار (اله یار بلګرامي) ئې د جګدلک د پښتنو مقابلې او د خانزاد خان خلاصولو ته وګماره. زما پلار د هشتنګر (اشنغر) خان عبد الصمد خان، ابوسعید خان، بزرګ رنبي (؟) او نور پښتانه خانان د ځان مله کړل.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د کابل ښار د پېښور د مغلي حاکم ناصر خان زیک له نائبه څخه ونیو او د کابل د شا وخوا پښتانه قومونه ئې ټول مله سول، په پېښور کي ناصرخان زیک ته دا بېره پیدا سوه، چي نه چي د پېښور د شا وخوا سیمو پښتانه هم د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ملګري سي او د مغلي حکومت پر ضد ودرېږي، ځکه نو کله چي د لوی احمدشاه

---

[۷۷۲] صدیق خان تر (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال پوري، چي ناصر خان زیک پر اشنغر برید کاوه او د ده زوی شفیق خان ئې واژه، ژوندی و. د احمدشاهي شهنامې په (۲۱–A مخ) کي لیکلي دي:

که په مرګ ؤ د عقـیق　　زړه پاره د خانصـدیق

افضل خان خټک په تاریخ مرصع کي د خان صدیق ذکر د اشنغر په خانانو کي په (۱۱۲۶ هـ. ق.) کال کړی دئ.

[۷۷۳] دا محمدزي په خښبي پښتنو کي یوه پښه ده او د کندهار ابدالي محمدزي له دې څخه بېل دي.

[۷۷۴] دولت درانیه، ۱۳ مخ او صولت افغاني.

[۷۷۵] د مآثر الامراء د دریم ټوک په ۸۰۳ مخ کي کښلي دي، چي سربلند خان د رفیع الدرجات په پاچهي کي د کابل صوبه دار (والي) مقرر سو. د محمدشاه مغول (۱۱۳۱–۱۱۶۱ هـ. ق.) په پاچهي کي له کابله ډهلي ته راوغوښت سو او په (۱۱۳۸ هـ. ق.) کال د ګجرات په صوبه داري مقرر سو.

بابا رحمة الله علیه سرلاښکر له کابله مخ پر پېښور وروخوځېد، ناصر خان د پښتنو د بېرولو او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له مرستي او ملګری څخه د هغو د راګرزولو په امید، د شپې له مخي ناڅاپه اشنغر پر سیمه برید وکړ (۷۷٦). تر یوه سپک جنګ وروسته ئې عبد الصمد خان له لاسه ووت، مګر نوره کورنۍ ئې د ناصر خان زیګ په لاس کښېوتله او یو ورور ئې شفیق خان وواژه سو.

عبد الصمد خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پوځونو لور ته مخ ونیو او په لالپوره کي ئې سردار جان خان ته، چي د سرلاښ پوځ مشر و، ځان ورساوه. له هغه سره مخ پر پېښور رهي سو او د ناصر خان زیګ پر ضد ئې له سردار جان خان سره ښه مرسته وکړه.

د (۱۱٦۴ هـ. ق.) کال د میانۍ په میاشت کي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه درېیمه پلا پر هندوستان باندي د یرغل په نیامت پېښور ته ورسېد، له دغه ځایه ئې یو سرلاښ پوځ د سردارجان خان او عبد الصمد خان په مشرتابه مخ پر لاهور وخوځاوه. دې پوځ لومړی رهتاس ونیو او لاهور ته پسي ورتېر سو.

د (۱۱٦۵هـ. ق.) کال د درېیمي خورد میاشتي د لومړۍ ورځي تر جنګ وروسته، چي د لاهور مغلي نائب الحکومه "میر معین الملک" د روغي او عفو غوښتلو په نیامت، احمدشاهي لښکر ته راغی، تر ټولو لومړی د عبد الصمد خان او شاه پسند خان ساګزي خېمې ته ورغی او له دغه ځایه د شاه ولي خان په وسیله د پاچا حضور ته بوتله سو.

د تاریخ احمدشاهي په ۵۴۱ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱٦۸هـ. ق.) کال عبد الصمد خان محمودزی (محمدزی) د پېښور د مالیاتو اختیاردار وټاکه سو.

څلرمه پلا چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د هندوستان د نیولو په نیامت پېښور ته ورسېد، عبد الصمد خان ئې له خپل پوځه سره، د هغه سرلاښ پوځ په مرسته ولېږه، چي د جنګباز خان په مشرۍ ئې له کابله څخه مخ پر لاهور خوځولی و. عبد الصمد خان له جنګباز خانه سره بې مدافعې د لاهور په ښار ننه ووت او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پوځو په ملګري، ډهلي ته ولاړ.

د ډهلي تر نیولو وروسته، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه غوښتله په جاټانو پسي پوځ ولېږي، د هغو د خوراکي له پاره د سیورسات د راټولولو له پاره ئې یوه ټولۍ سپاره د فرید آباد لور ته ولېږل. د متهرا واکمن جواهر سنګه جاټ (۷۷۷)، چي دا واورېدل له پنځو شپږو زرو سپرو سره پسي راووت او یو نیم سل آسونه ئې په اُلجه ځني بوتلل. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته چي دا حال وروروسېد، په هغه شپه ئې عبد الصمد خان پسي ویوست. عبد الصمد خان نومړی جواهر سنګه پسي واخیست او د بلب ګړه په کلا ځني ننه ووت عبد الصمد خان له پنځو سوو ککریو سره د لوی

---

(۷۷٦) دولت درانیه، ۱۱ مخ.

(۷۷۷) جواهر سنګه په دغو وختو کي په بلب ګړه کي اړولي وه.

احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغی.

د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د رجب په میاشت کې چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له ډهلي څخه مخ پر وطن وخوځېد، د سرهند حکومت ئې عبد الصمد خان محمدزي ته وسپاره. عبد الصمد خان څه موده وروسته د الاسنگهه جاټ د ځبلو په نیامت سُنام ته ولاړ، کله چې دی سرهند ته ستون سو، د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د څلرمي خور په میاشت کې رگهو ناتهه راو مرهټه د ناسیاله آدینه بیگ په بلنه، خپل پوځونه له ډهلي څخه مخ پر سرهند وخوځول. عبد الصمد خان چې خبر سو، د کلابندۍ ترتیبات ئې ونیول او د مرستي له پاره ئې سردار جان خان ته، چې په لاهور کې و، حال ولېږه. د مرهټو پوځ د امبالې، مغل سرای، راجپور او سرای بنجاره له لارې، د څلرمي خور پای ته سرهند ته ورسېد. عبد الصمد خان کلابند سو، مگر دې کلابندۍ ډېر دوام ونه کړ او د رجب پنځلسمي ته مرهټو سرهند ونیو. عبد الصمد خان او جنگباز خان ئې په جنگ کې ژوندي په لاس کښېوتل[۷۷۸].

مرهټو د دوی تر نیولو وروسته سرهند داسي ولوټه، چې یوه ستن ئې هم پکښې پرې نه ښووله. مرهټه لاهور ته پسي تېر سول، پنجاب ئې ټول ونیو. عبد الصمد خان په یوه ترځ کې ځني خوشي سو او په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پنځمه پلا پر هندوستان برید وکړ، دی ئې مل سو او بیا ئې د سرهند نائب الحکومه مقرر کړ. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې ډهلي ونیو، د انتربېد او پنجاب له علاقو څخه ئې د خوراکي موادو د تحصیل او تهیې له پاره عبد الصمد خان له څه پوځ سره په گنج پوره کې پرېښود. گنج پورې په دغه وخت کې د یوه لوی احمدشاهي گدام حیثیت درلود او ټول خوراکي مواد له دغه ځایه تهیه کېدله.

د احوال نجیب الدوله د کتاب په ۱۸ مخ کې نور الدین حسین خان گنجپورې ته د عبد الصمد خان د رسېدلو په باب کښلي دي:

عبد الصمد خان چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له سترو ملگرو څخه و، په لکهي جنگل کې له پنځو سوو تنو سره پرېشان گرزېد او پر گنجپوره باندي تر حملې لږ د مخه ئې گنجپورې ته ځان ورساوه. د گنجپورې زمیندار نجابت خان غرغښتي ورته وویل، چې په کلا کې د نننه ځای ونیسئ، غله سته، د مرهټو په مقابل کې د وو میاشتي کلابندي ساتلای سو، مگر ده له ډېره غروره ونه منل او جواب ئې ورکړ: که موږ د مرهټو له مقابلې سترې سوو، بیا به ستا کلا ته پناه دروړو.

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په نولسمه، چې مرهټو ډهلي ښار له احمدشاهي نائب الحکومه نواب محسن الملک یعقوبعلي خان بامېزي څخه ونیو، د گنجپورې د گدام څرک چا مرهټه سپهسالار، سدا شیو رُاو بهاو ته په لاس ورکړ او د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په لومړۍ[۷۷۹] ورځ ئې خپل پوځونه، چې د احوال نجیب

---

[۷۷۸] د تاریخ هندوستان د نهم ټوک په ۲۰۰ مخ کې وایي، چې عبد الصمد خان په دغه جنگ کې ووژه سو، مگر دا یوه اشتباه ده.

[۷۷۹] د سیر المتاخرین په ۹۱۲ مخ کې او ومه لیکلې ده.

الدوله په قول تر يو لکو سپرو زيات وو، له يوې درنې توپخانې سره ګنجپورې ته، چي د دهلي شمالي لور ته ۵۳ ميله ليري واقع ده، وخوځول او شپږمه ورځ ګنجپورې ته ورسېدل. د مرهټو کفارو د سرلاني (قراول) پوځ مشر ابراهيم خان ګاردي و، چي دوولس زره ګارديان ورسره وو. په ګنجپوره کي لس زره تنه ساتونکي اوسېدل، دوه زره تنه ئې د عبد الصمد خان په مشري تر کلا دباندي مېشته وو. ميا قطب شاه مالېړی پښتون هم له ده سره و. د مرهټو سرلاني پوځ سهار وختي پر دوی بريد وکړ او عبد الصمد خان او قطب شاه هم جنګ ورسره شروع کړ. د ابراهيم ګاردي درنو توپو دوی مجبوراً دې ته اړ کړل، چي کلا ته ننوزي خو کله چي دوی وغوښتل کلا ته ننوزي، د ګنجپورې زميندار نجابت خان غرغښتي د کلا دروازې ورته تړلي وې. عبد الصمد خان او ملګرو ئې بېرته ميدان ته مخ راوګرزاوه، سخت جنګ ئې وکړ. په دغه جنګ کي، چي ابراهيم خان ګاردي له خپلو درنو توپو او د بهاو له ټول لښکر د پيلانو له رسالې سره برخه واخيستله، عبد الصمد خان شهيد سو[۷۸۰].

د شهيد عبد الصمد خان توريالي سر د مرهټو په ټول لښکر وګرزاوه سو.

د شهيد عبد الصمد خان زوی، فيض طلب خان د پلار تر شهادت وروسته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور کي ښه منزلت وموند او د پاني پت په جنګ کي ئې ښې توري ووهلې. د خزانه عامره په ۱۰۷ مخ کي ليکلي دي:

حاجي عطايي خان چي پر ګوبند پنډت باندي بريد وکړ، فيض طلب خان ورسره و. او د حديقة الاقاليم مولف په .... کال هم د ده راتګ له احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره ليکلی دئ.

لمسی ئې بهادر خان (د فيض طلب خان زوی) د زمانشاه سدوزي (۱۲۰۷-۱۲۱٦ه. ق.) له اميرانو څخه و، د هندوستان په سفرو کي به له پنځو سوو سپرو سره د شاه زمان په رکاب کي حاضرېدی[۷۸۱].

د بهادر خان په باب په تاريخ حسين شاهي کي زياته سوې ده، چي خورا سخي امير و، د ده د سخاوت قصې د پېښور د شاوخوا په خواصو او عوامو کي کېږي. دی د اشنغر د دوآبې لوی زميندار دئ، د اشنغر دوآبه له پېښوره څخه شمال ته واقع ده او غرب ته لږ ميلان لري. اشنغر له پېښوره څخه تقريباً شپاړس کروهه واټن لري.

---

[۷۸۰] د مادهوجي سينڌهيا د کتاب په ۲۹ مخ کي د دې واقعې تاريخ د (۱۷٦۰ع) کال د اکتوبر د مياشتي شلمه ښوول سوې ده.

مرهټو ته په ګنجپوره کي دوه لکه منه غنم، شپږنيم لکه نغدي روپۍ او د لسو لکو روپو نور مالونه په لاس ورغلل.

(د "Ahmad Shah Durrani" ۲۴۷مخ)

[۷۸۱] حسين شاهي تاريخ (قلمي).

د عبد الصمد خان په باب د قاموس المشاهير په ۶۳/۲ مخ کي کښلي دي، چي د سرهند پوځدارو، د مرهټو سره په جنګ کي ئې ښې توري ووهلې، په (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال بهاو شهید کړ.

د تیمورشاه دراني (لومړی چاپ) په ۱۱۳ مخ کي کښلي دي:

سیف الدوله عبد الله خان د نواب عبد الصمد خان محمدزي (؟) زوی د کشمیر نائب الحکومه او سکجیون مل ئې مستوفي مقرر کړ او زین خان مومند د سرهند واکمن وټاکه سو. مګر د نګارستان کشمیر په ۲۲۰ مخ کي دغه سړی د خواجه عبد الله خان کابلي په نامه معرفي سوی دئ او لیکلي ئې دي، په (۱۷۵۳ع) (= ۱۱۶۶هـ. ق.) کال عبد الله خان شاغاسي کشمیر له ابو القاسمه ونیو. پنځه میاشتي و ځلور ویشت ورځي په کشمیر کي په انتظام بوخت و. پای ته پخپله ولاړ خواجه عبد الله خان کابلی صوبه دار او سکجیون مل ئې مستوفي مقرر کړ. تر ځلور میاشتو او اوو ورځو حکومت وروسته د سکجیون مل په سازش دی او زوی ئې ووژل سول.

صدیق خان

عبد الصمد خان — شفیق خان

فیض طلب خان

بهادر خان

(د شاه زمان سدوزي معاصر

(۱۲۰۷–۱۲۱۶هـ. ق.)

په (۱۲۱۱هـ. ق.) کال د رجب په میاشت کي چي زمان شاه په لاهور کي و، د لاهور صوبه داري ئې بهادر خان ته ورکړله[۷۸۲].

---

(۷۸۲) د فارسي اخبارات و مراسلات، ۴۳۷ مخ.

فيض طلب خان

په تاريخ احمد شاهي ۱۱۱۲/۲ مخ کي ليکلي دي:

د جلوس په اووه لسم کال، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خوا له کابله څخه سردار جان خان د پنجاب د ياغي سکهانو د ځبلو له پاره وليږل سو، په پېښور کي فيض طلب خان هم له خپله لښکر سره د ده ملګری سو. سردار جان خان چي له خپلو لښکرو سره سيالکوټ ته ورسېد، د ياغي سکهانو اتو زرو سپرو نابېره بريد پر وکړ، د سردار جان خان له خوا فيض طلب خان د سکانو د مخنيوي له پاره وګمارل سو او پخپله سردار جان خان د نور پوځ په راټولولو او تنظيمولو بوخت سو، (د دې پېښي تفصيل د سردار جان خان د ژوندانه په حالاتو کي کتلای سئ).

د تاريخ احمد شاهي په ۱۲۱۳/۲ مخ کي کښلي دي:

په دوه ويشتم جلوسي کال، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له پېښوره پر پنجاب بريد کاوه، سردار جان خان ئې د پکلي او مترا د ياغيانو ځبلو ته وګماره، پخپله لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خپلو لښکرو سره ځان د جهيلم غاړي ته ورساوه. هلته يوه مياشت تم سو، په دغه وخت کي ئې د پېښور والي شهزاده سکندر د روهتاس د کلا پوځدار وټاکه، د ده وکالت ئې سربلند خان سدوزي ته وسپاره. د عبد الصمد خان زوی فيض طلب خان او د اټک حاکم سرفراز خان خټک ئې هم له خپلو خپلو لښکرو سره د شهزاده د مرستي له پاره پرېښوول او دواړو ته ئې د سرداری لقبونه هم ورکړل. نواز جنګ قلي خان ئې هم د شهزاده د وکيل په حيث، د ده د مرستي له پاره په رهتاس کي پرېښود. پخپله شهزاده د پېښور حاکم و.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي له خپلو لښکرو سره (وطن ته) ستون سو، د پنجاب ياغي سکهانو د چرت سنګه او ګوجر سنګه په مشرتابه، پر روهتاس بريد وکړ. سربلند خان ئې ونيو، فيض طلب خان محمودزی، سرفراز خان خټک او نواز جنګ قلي خان خپلو سيمو ته له خپلو خپلو لښکرو سره ولاړل[۷۸۳].

ډاکټر ګنډا سنګه د "Ahmad Shah Durrani" په ۳۱۳ مخ (پښتو ژباړه، ۴۱۹ مخ) کي ليکلي دي:

احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي اتمه پلا په (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال پر هندوستان بريد وکړ، فيض طلب خان ئې ملګری او په هغه شورا کي شامل و، چي له سکهانو سره ئې د روغي خبري اتري تائيدولې.

د تيمور شاه دراني په ۲۵۷/۱ مخ کي کښلي دي:

---

(۷۸۳) تاريخ احمد شاهي، ۱۲۱۷/۲ مخ.

تیمورشاه له خوا چي د آزاد خان بامېزي د ځبلو له پاره کشمیر ته د آزاد خان میریزي ورونه خان او زمان خان په (۱۱۹۹هـ. ق.) کال ولېږل سول، فیض طلب خان اشنغری هم د تیمورشاه په حکم ورسره ملګری سو.

د آزاد خان تر ځبلو وروسته هم د فیض طلب خان اشنغري نوم د تیمورشاه د وختو په واقعاتو کي وینو. وایي فتح خان اتمان خېل یوسفزی د مظفرآباد یاغي حاکم د فیض طلب خان په واسطه د تیمورشاه دربار ته راوستل سو او د تیمورشاه په امر وواژه سو[۷۸۴].

د فیض طلب خان په غوښتنه چي زین الدین پېښوري د یونس پښتو دیوان په (۱۱۷۶هـ. ق.) کال لیکلی دئ، هلته د فیض طلب خان اشنغري تر نامه وړاندي "..... مرشد کونین، مربی دارین، پیشوای سالکان طریقت، رهنمای گمراهان شریعت خانصاحب بلند اقبال فیض طلب خان ساکن هشتنگر طال الله عمره..." لیکلي دي. له دې څخه معلومېږي، چي فیض طلب خان د علم و عرفان او شریعت و طریقت برخه هم درلوده.

محمد تقي شيرازي

محمد تقي د شیراز اوسېدونکی و. یوه سترګه ئې ړنده وه، ځکه به نو د سپکاوي په صورت سره "تقی کور" باله کېده[۷۸۵]. د ГОСУДАРСТВО НАДИР - ШАХА АФШАРА [۷۸۶] په ۱۱۹ مخ کي لیکلي دي:

تقي خان نادر ته ډېر مقرب و، تقي خان له (۱۷۳۰ع.) (= ۱۱۴۲هـ. ق.) څخه تر (۱۷۴۴ع.) کال پوري د فارس والي و. نادر چي له کابله ستنېدئ، د کابل او هندوستان د ټولو هغو سیمو، چي د محمدشاه مغل د تړون (۱۱۵۷ هـ. ق.) له مخي په ایران پوري نښتي وې، حکومت ئې تقي خان شیرازي ته ورکړ او د نادر تر مرګه پوري ئې دغه وظیفه وه.

ویل کېږي چي دی د افشار نادر په وختو کي د شیراز نائب الحکومه و، بیا یاغي سو. کله چي

---

(۷۸۴) تیمورشاه درانی، ۲۸۲/۱ مخ، سراج التواریخ، ۴۳/۱-۴۴ مخونه، دولت درانیه، ۸۶ مخ او واقعات دراني، ۹۵ مخ.

(۷۸۵) احمدشاه درانی، ۲۹ مخ د تذکرۀ انندرام د ۲۳۵ مخ په حواله. د صولت افغاني په ۲۴۳ او ۲۴۵ مخونو کي د دې سړي نوم "محمد تقی خان اختر" ضبط دئ او په ۳۴۱ مخ کي "اختر بیگی" کښل سوی دئ او داسي معلومېږي، چي دا به طباعتي غلطي وي.

(۷۸۶) "ГОСУДАРСТВО НАДИР ШАХА АФШАРА" د "م. ر. هارونوا" او "ک. ز. اشرافیان" ګډ تالیف دئ، چي په روسي ژبه ئې لیکلی دئ او په (۱۹۵۸ع.) په مسکو کي چاپ سوی دئ. دغه اثر د "محمد مومني" له خوا په پارسي ژبه ژباړل سوی او په (۱۳۵۲هـ. ش.) کال د تهران پوهنتون له خوا چاپ سوی دئ.

افشار نادر ونیو، خصي ئې کړ، ځکه نو په "تقي خان اخته" سره مشهور سو[۷۸۷].

ده د افشار نادر په پوځ کې د اخته بیګي خطاب درلود. په (۱۱۵۰ه. ق.) کال چې افشار نادر پر هندوستان باندې یرغل وکړ، دی د یوه عالي رتبه منصبدار په حیث ورسره و. افشار نادر چې له هندوستان څخه ستنېدئ، پنجاب او سنده ئې د سیاسي تشکیل له مخې په مرکزپوري وتړل او له خپلي خوا څخه ئې نوموړی تقي شیرازي د سنده د نوو مفتوحه سیمو "بیګلر بیګي" یعني امیرالامراء وټاکه[۷۸۸].

د تقي خان شیرازي په باب په تاریخ جهانکشای نادري (۴۳۵ مخ) کې میرزا مهدي خان استرآبادي د "در بیان طغیان و عصیان تقی خان شیرازی و خاتمهٔ کار او" تر عنوان لاندي کښلي دي:

د افشار نادر له خوا په (۱۱۵۶ه. ق.) کال تقي خان شیرازي دوهمه پلا د فارس والي وټاکه سو، هلته اداره ځني ورانه سوه. د ده پر ځای محمد حسین خان قرقلو میر آخورباشي وټاکه سو او دی دربار ته راوغوښت سو، مګر محمد حسین خان چې شیراز ته ورغی، تقي خان پورته سو. محمد حسین خان نادر ته حال ورکړ، نادر لښکر د محمد حسین خان مرستي ته وګماره. تقي خان شیرازي څو ورځي په شیراز کې کلابند سو، وس ئې ونه رسېد، ځان ئې تسلیم کړ او په شیراز کې نادري لښکرو قتل عام وکړ. نادر حکم وکړ، چې د تقي خان شیرازي خوټې وکاږي او په یوه سترګه ئې ړوند کړي. د حکم تر عملي کېدلو وروسته ئې د نادر دربار ته راوست. آل و عیال چې ئې په اصفهان کې اوسېدل، ووژل سول.

د نامهٔ عالم آرای نادری په ۶۰/۳ مخ کې لیکلي دي:

په (۱۱۵۷ه. ق.) کال چې نادر په موصل کې و، جاسوسانو حال ورته راوړ، چې د فارس حاکم تقي خان شیرازي د بغاوت خیال لري، نادر دا خبره ونه منله، ځکه تقي خان ده دې درجې ته رارسولی و او ډېر باور ئې پر درلود. تقي خان پخوا د فارس مستوفي و. په دغه وخت کې د محمد حسین خان افشار خط هم راورسېد او د تقي خان د بغاوت خبره ئې لیکلې وه. حسین خان په دغه وختو کې په قزوین کې د نادر په امر د مالیې په ټولولو بوخت و. نادر چې دا واورېدل، وخښمېدئ او اله ویردي خان افشار ئې د تقي خان ځبلو ته وګماره.

په (۱۱۶۰ه. ق.) کال نوموړي تقي خان شیرازي د کابل او پېښور له نادري حاکم ناصرخان زیګ او د لاهور د نائب الحکومه (نواب زکریا خان) د نماینده محمد سعید سره د سنده، پنجاب، پېښور او کابل څو کلنه مالیه، چې دوه کروړه روپۍ، څه جواهرات او څه شالونه وو[۷۸۹]، د افشار

---

[۷۸۷] عماد السعادت، ۳۸ مخ.

[۷۸۸] د (۱۱۵۳ه. ق.) کال ... چې افشار نادر بخارا ته ورسېد، تقي شیرازي ورسره و، (وګ: بیان واقع، ۷۰ مخ). افشار نادر په بخارا کې د کابل، غزني، پېښور، سنده او هندوستان (پنجاب چارمحال) حکومت "طهماسب خان جلایر" ته وسپاره او ورته وئې ویل: بدخشان به نیسې، بیا به نو کابل ته ځې، (بیان واقع، ۷۶ مخ).

[۷۸۹] د بیان واقع په ۱۳۰ مخ کې دا مبلغ دېرش لکه روپۍ او په عماد السعادت کې لس لکه اشرفۍ ضبط دي. بیان

در له پاره، د ایران پایتخت اصفهان ته وړله. دا خزانه او اجناس په درو سوو اوښانو بار کړه سوې
یوه ټکړه ډله پښتانه سپاهیان د ساتني له پاره ورسره وو.

دا قافله چې کندهار ښار ته ورسېدله، هلته ئې د څو ورځو استراحت او د مخکې سفر له پاره
پنځو سوو بوده ګانو د تهیې په نیامت واړول. په سبا ورځ ئې احمد خان (چې بیا احمدشاه بابا
سو) او نور پښتانه مشران له خپلو خپلو پوځو سره کندهار ته راورسېدل. دوی د افشار نادر تر
وژلي وروسته له ایرانه څخه وطن ته راستانه سوي وو.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر انتخاب وروسته دستي جارچي د افشار نادر د وژل کېدلو او د
پښتنو د خپلواکي پاچهي له پاره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د غوره کېدلو جار وواهه او د دې
اعلان سره سم، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه، ملګرو او پوځونو ئې خزانه، د خزانې ساتونکي او بوده
ګان پخپله قبضه کې راوستل. محمد تقي خان شیرازي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه رحم، شفقت او
ښېګڼې او احسان اېل کړ او له احمدشاهي پاچهي سره ئې همکاري ته غاړه کښېښووله. د لوی
احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره څخه د قزلباشو په مشرتوب ونمانځه سو[۷۹۰] او څه ملکي او مالي
چاري وروسپارلي سوې[۷۹۱].

د بیان واقع په ۱۳۰ مخ کې لیکلي دي، چې:

د محمد تقي شیرازي په ترغیب یو لوی شمېر هغه قزلباش، چې د نادرشاه له لښکره څخه په
کابل او پنجاب کې پاته وو، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پوځ او خدمت کې شامل سول.

د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال پای ته، چې لوی احمدشا ه بابا رحمة الله علیه پر هندوستان باندې یرغل وکړ،
تقي خان شیرازي د درو زرو قزلباشو سپاهیانو په مشرتوب، ورسره مل و.

د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې په دوه ویشتمه ورځ، چې د سرهند څخه لس
میله لیري، په "منوپور" نومي ځای کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه او د هند د پوځونو ترمنځ جنګ
ونښت، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه تقي خان وګماره سو، چې له خپلو درو زرو قزلباشو
سپاهیانو سره د هندوستان د پوځ پر سرلاړ (مقدمة الجیش) باندې برید وکاندي.

تقي خان د هندوستان پر سرلاړ پوځ باندې، چې میرمنو یعني میر معین الملک ته منسوب
و، ورغی او دوې پرله پسې حملې ئې پر وکړلې. میر منو چې په دغه وخت کې ئې پلار (وزیر
الممالک قمر الدین خان) وژل سوی او د ټولو هندوستاني پوځونو اداره د ده په لاس کې وه، د خپل
سرلاړ پوځ د زړه ورکولو له پاره په مرسته ورته راورسېد.

واقع دا هم زیاته کړېده، چې دا خزانه نور محمد خان او کدو خان کندهار ته نژدې تالا کړله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه
دغه دوه تنه بندیان کړل، چې دغه لوټلې خزانه ورځني بود کړي.

د بیان واقع په ۱۸۶ مخ کې لیکلي دي، چې تقي خان شیرازي د نادر له خوا د کابل او پېښور حاکم و، د ناصر
خان، نور محمد خان او کدو خان په ملګري ئې خزانه د نادرشاه دربار ته وړله.

[۷۹۰] وګ: احمدشاه درانی، ۳۰ مخ.

[۷۹۱] عماد السعادت، ۳۸ مخ.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه هم يو هوسا او تکړه پوځ په مرسته ورولېږه[792]. څلور ورځي وروسته يعني د لومړۍ خور په شپږويشتمه ورځ (= ۱۵ مارچ ۱۷۴۸ع) تقي خان شيرازي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه د هندوستان شهزاده احمدشاه کورګاني ته د روغي له پاره، د استاځي په حيث ولېږل سو. شهزاده احمدشاه کورګاني د ټولو هغو هندوستانيو پوځونو، چي د پښتنو په مقابل کي جنګېدل، مشر افسر و. تقي خان نوموړي ته د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه دا پيغام وروړ:

"په کومو شرطونو چي د (۱۱۵۲ هـ. ق.) کال د صفري په درېيمه ورځ د افشار نادر او د هندوستان د پاچا محمد شاه مغل تر منځ، په ډهلي کي روغه سوې ده، که د هندوستان مغلي پاچهي ټول هغه حقوق اوس د کندهار پښتني خپلواکي پاچهۍ ته ورمني، نو زه به خپل پوځونه بېله جنګه وطن ته ستانه کړم".

تقي خان د يوه پاچاهي استاځي په حيث د مغل شهزاده احمدشاه کورګاني کيمپ ته ورغی او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د روغي پيغام ئې ورورساندي کړ، مګر و نه مانه سو[793] او تقي خان ناکام د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راستون سو[794].

تر دې وروسته بيا د احمدشاهي دولت په کارګذارانو کي د تقی خان نوم نه دئ ليدل سوی، صرف د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د واقعاتو په لړ کي د ميرزا تقي په نامه د احمدشاهي دولت د يوه کارګذار فعاليت وينو. ډاکټر ګنډا سنګه ليکلي دي: د پاني پت تر مشهوري سوبي وروسته، چي د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د برات د مياشتي په ۲۰ مه (= ۲۷ مارچ ۱۷۶۱ع) لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه وطن ته د ستنېدلو په لاره کي له ډهلي څخه امبالې ته ورسېد، دوې ورځي وروسته ئې الا سنګهه د پټيالې حاکم وټاکه او ميرزا تقي ئې د هغو پنځو لکو روپو د راوړلو له پاره پټيالې ته ولېږه، چي الاسنګهه ئې د جزيې په توګه احمدشاهي خزاني ته تحويلول منلي وه[795].

عزيزالدين وکيلي پوپلزي د احمد شاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان په ۴۸۷/۱ مخ کي د تاريخ احمدشاهي په حواله ليکلي دي:

"تقي خان په (ذی الحجه ۱۱۶۸ هـ. ق.) کال د دفتر حضور سربښته دار مقرر سو. د (۱۱۶۹ هـ. ق.)

---

(792) احمدشاه درانی، ۶۴ مخ.

(793) احمدشاه درانی، ۶۸ مخ. د عماد السعادت په ۳۸ مخ کي ليکلي دي، چي تقي خان منصور خان صفدر جنګ ته لېږل سوی و.

(794) تقي خان شيرازي ته په (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د شعبان په ۲۹ مه د صاحب اختيار ماليات مملکت ايران لقب ورکړه سو. تر دغه دمخه ده اووه کاله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په دربار کي د واقفی (؟) خدمت پر ځای کړی و (وګ: تاريخ احمدشاهي، ۴۳۶/۱ مخ).

محمود الحسيني المنشي په تاريخ احمدشاهي (۲۲/۱ مخ) کي ليکلي دي، چي زه په (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د تقي خان شيرازي په واسطه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سوم او د ده په وساطت ما ته د دربار د منشي توب وظيفه راکړل سوه.

(795) "Ahmad Shah Durrani"، ۲۶۵ مخ، پښتو ژباړه "درانی احمدشاه"، د کابل چاپ، ۳۵۳ مخ.

کال د میانۍ په میاشت کي، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په کابل کي و، تقي خان په کابل کي ومړ". د دې لیکني له مخي د ګنډا سنګه خبره ماتېږي.

د تاریخ احمد شاهي په ۵۹۶/۱ مخ کي کښلي دي:

تقي خان شیرازي په کابل کي په (ذی الحجه ۱۱۶۹ هـ. ق.) کال ومړ. پر ده باندي د ملتان د اجارې ډېري روپۍ پاته وې، هغه ټولي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ور وبخښلې او اولادې ته ئې هم اجازه ور کړله، هر ځای ته چي ئې زړه غواړي، تللای سي.

بدان خان مشهور شوکت پناه	که در فارس بد صاحب دستگاه
تقی خان نظر کردهٔ لطف خاص	کز اخلاص بودش بسی اختصاص
بسرداری فارس بد سرفراز	که تا مسقطش بود دستی دراز
امور بنادر منسق باو	پذیرفته آن ملک رونق باو

(نادرنامه نواسهٔ قاسمي)

محبت خان بلوڅ

محبت خان د میر عبد الله (۱۱۲۸–۱۱۴۳ هـ. ق.) زوی، د محراب خان (۱۱۰۷–۱۱۰۹ هـ. ق.) لمسی او د میر احمد خان(۷۹۶) (۱۰۷۷–۱۱۰۷ هـ. ق.) کړوسی دئ، چي په بلوڅو کي بروهي قبیلې ته منسوبېږي. میر عبد الله خان په (۱۱۴۳ هـ. ق.) کال د سنده د والي نور محمد کلهوړه سره په جنګ کي ".....(۷۹۷)" ته نژدې په "جاندري هړ" نومي ځای کي ومړ. پر ځای ئې په کلات کي محبت خان، مشر زوی کښېناست او "مستنګ" ئې خپلو میړېزیو ورونو التاز خان او نصیر خان او د هغو مور "بي بي مریمي(۷۹۸)" ته په جاګیر کي ورکړ.

دوه کاله وروسته په (۱۱۴۵ هـ. ق.) (= ۱۷۳۲ع) کال د امراوو له خوا محبت خان بندي کړه سو او ځای ئې التاز خان ونیو. څه وخت وروسته محبت خان له بنده وتښتېد او ځان ئې د بلوڅستان یوې بلې سیمي "جهاله وان(۷۹۹)" ته ورساوه، مګر په پای کي خپل کشر ورور التاز خان ته اېل سو.

---

(۷۹۶) د بلوڅو احمدزي پښته دغه میر احمد خان ته منسوبه ده. په قلات کي د بلوڅو د احمدزیٔ قبیلې د حکومت تېره دا اېښي ده.

(۷۹۷) د دغه ځای نوم د علامه رشاد بابا رحمة الله علیه په خپله لاسي (قلمي) نسخه کي ډېر مغشوش دئ او سم نه ویل کېږي، چي "سني"، "سیبي" او که "هني" دئ؟

(علامه رشاد اکاډیمي)

(۷۹۸) بلوچستان، ۹۱ مخ.

(۷۹۹) د "جهاله وان" شمال ته "سراوان"، ختیځ ته "سنده"، لویدیځ ته مکران و خاران او جنوب ته "لس بیله" پرته ده.

د نامه عالم آرای نادري په ۲/۹۴، ۴۹۵، ۵۰۰ او ۵۲۵ مخونو کي ليکلي دي:

نادر د (۱۱۴۹ هـ. ق.) کال د شعبان د مياشتي په لومړيو ورځو کي د هرات بيګلر بيګي پير محمد خان او اسلمش خان مشهور په خان جان له دوولسو زرو سپاهيانو سره د بلوڅستان نيولو ته وګماره. دا پوځونه د فارس او بندر عباس له لاري ولاړل. په دغه وخت کي محبت خان بلوڅ د دريو زرو سپاهيانو سره، په ايراني بلوڅستان کي په فتوحاتو اخته و. پير محمد خان او دی چي سره مخامخ سول، په دې جنګ کي بلوڅو ماته وکړل. پير محمد خان له اته نيم زره پوځ سره د محبت خان د نيولو په هڅه کي سو، لښکري چي مخامخ سولې، دا پلا بيا محبت خان مات سو. پير محمد خان د شمبله ميناب کلا کلابنده کړله او محبت خان کلات ته وتښتېد. پير محمد خان کلات ته پسي ورغی، محبت خان او التاز خان وتښتېدل، کلات پير محمد خان ته تسليم سو. پير محمد خان د شال مستونګ او جالق[۸۰۰] د نيولو په هڅه کي سو. په دغه وخت کي محبت خان او التاز خان کندهار ته ولاړل او نادر ته ئې ځانونه وسپارل. نادر وبخښل او د بلوڅستان حکومت ئې دوی ته ورپرېښود.

"لارنس لکهارت" په نادرشاه نومي کتاب (۱۵۷ مخ) کي او "م. ر. هارونوا" او "ک. ز. اشرافيان" په دولت نادرشاه افشار (۱۶۷ مخ) کي ليکلي دي:

نادر پخوا تر دې، چي پر کندهار بريد وکړي، د هرات بيګلر بيګي پير محمد خان ئې ګمارلی و، چي محبت خان او التاز خان د بلوڅو مشران په بلوڅستان کي وځپي او بيا له خپل پوځه سره په کندهار کي د نادر لښکرو ته ځان راورسوي.

د نامه عالم آرای نادري په ۳/۲۴۶ مخ کي کښلي دي:

د افشار نادر له خوا د کابل او پېښور والي طهماسب خان جلاير او مير اصلان خان افشار آذربايجاني، چي له خپلو لښکرو سره په (۱۱۵۵هـ. ق.)[۸۰۱] کال ډېره اسماعيل خان او ډېره غازي خان ته ورسېدل، د بلوڅو د خانانو مير محبت خان او مير التاز خان (په اصلي کي التان خان) له خوا يو خط ورته راورسېد، چي کاکړان د ځبلو وړ دي. نادري اميران د بلوڅو د خانانو په بلنه شال و مستنګ ته راغلل. دروند بار ئې دلته پرېښود، څړه تازه ئې پر کاکړو بريد وکړ. د کاکړو سرداران چي خبر سول، مخي ته ئې راووتل او د محبت خان له ظلمونو څخه ئې دوی خبر کړل او ورته وئې ويل: د دوی د کورني څو تنه زموږ د پلرو او نيکه ګانو له لاسه وژل سوي دي. دوی دهغو مړو د بدل اخيستلو په تکل کي دي او موږ د ځانونو د ساتني له پاره مجبور يو، د دوی له بريده څخه د ژغورني له پاره څه ترتيبات او تدارکات ونيسو. نادري اميران د کاکړو په کلاوو کي د کاکړو

---

[۸۰۰] په اصل کي "جلق" ليکلی دئ.

[۸۰۱] د علامه رشاد رحمه‌الله په لاسکښلې نسخه کي دغه سنې ته ځای سپين پاته و. په خپله ماخذ کي هم دغي واقعې ته سنه نه وه ليکل سوې، خو تر څه کتني وروسته معلومه سوه، چي څو پرله پسې پېښې د (۱۱۵۵هـ. ق.) کال، يو ځای راوړل سوي دي، مګر سنه يوازې يو ځای ورته ليکلې ده. (علامه رشاد اکاډيمي)

مېلمانه سول. محبت خان ته ئې ولیکل، چي التاز خان ورور دي راولېږه. التاز خان چي ورور سېد، په جرګه کي د کاکړو او بلوڅو روغه وسوه، ښځې ئې سره ورکړلې.

د (۱۱۵۰هـ. ق.) په وروستیو ورځو کي، چي افشار نادر کندهار ونیو، د کلات خان او د بلوڅو نور سرداران ئې کندهار ته ور وغوښتل، ځکه نو التاز خان، محبت خان او د "سراوان" او "جهاله وان" بلوڅ سرداران کندهار ته د افشار نادر د لیدلو له پاره ورغلل. د (۱۱۵۰هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په درېیمه ورځ کندهار ته ورسېدل[۸۰۲] او د التاز خان کشر ورور نصیر خان د ورکیني له امله په کلات کي پاته سو.

خوني نادر د ځینو بلوڅو سردارانو په لمسون التاز خان په کندهار کي بندي کړ او د کلات خاني ئې بیا محبت خان ته ورکړه. محبت خان د پنځو سوو ایراني سپرو سره، چي د لطف علي ایراني تر مشرتابه لاندي وو، سرلوړی کلات ته ستون سو. هلته چي څرنګه ورسېد، سمدستي ئې د التاز خان زوی (مراد)، کشر ورور ئې (نصیر خان) او مور ئې (بي بي مریمه) د برمتې (یرغمل) په توګه افشار نادر لره کندهار ته ورولېږل. التاز خان د خوني نادر په بند کي وواژه سو او محبت خان ته د کلات خاني بې رقیبه ورپاته سوه[۸۰۳].

د نادرنامې د (۱۱۵۳هـ. ق.) کال په واقعو کي کښلي دي:

نادر چي له سنده څخه د خوارزم او ماوراء النهر د نیولو په نیت راوخوځېد، د بلوڅانو خاني ئې محبت خان بلوڅ ته وسپارله. په دې اړه د نادرنامې خپل بیتونه دا دي:

یکی سمت هم، شاه صاحب خروج	که از سند بر سرزمین بلوچ
بخان بلوچ آن ارادت مآب	کز اخلاص بودش محبت خطاب
سپرد و ازان سرحد بی وجود	دل و دست اقبال فارغ نمود

محمود الحسیني المنشي د تاریخ احمد شاهي په ۱۳۸/۱ مخ کي کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د پنجاب له سفره څخه په (۱۱۶۲هـ. ق.) کال کابل ته راستون سو له کابله څخه چي کندهار ته رهي سو، په لار کي محبت خان بلوڅ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغی او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له حضوره خلاتونه ورکړه سوه او ونازاوه سو.

مګر په ۱۴۳/۱ مخ کي بیا کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي له خپلو پوځو سره له پنجاب څخه کندهار ته روان و، شال (کوټې) ته چي ورسېد، محبت خان بلوڅ راغی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو او د احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د بلوڅستان واکمن وټاکه سو، کلات ته رخصت سو. هلته چي

---

[۸۰۲] تاریخ جهانکشای نادري، ۳۱۶ مخ او نامه عالم آرای نادري، ۱۰۴/۲ مخ.
[۸۰۳] وګ: یادګار تاجپوشي خان قلات، ۲۰ مخ.

ورسېد، وروسته له څه مودې ياغي سو.

د دغه کتاب په ۲۱۳/۱ مخ کي کښلي دي:

محبت خان چي ياغي سو، لومړی ئې د کاکړانو خانان وروغوښتل، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پر ضد ئې د ځان ملګري کړي، خو هغو د ده دا خبره ونه منل، ځکه ئې نو ځيني ووژل او ځيني ئې له ملکه وشړل. لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي خبر سو، له يوه درانه لښکر سره مخ پر بلوڅستان وخوځېد. د محبت خان ملګري قائم خان بلوڅ او ملا حيات ئې د مستنګ په کلا کي کلابند کړل. تر يوه سپک جنګ وروسته د بلوڅو مشران و نارين کلا ته وتښتېدل او مستنګ پښتنو ته په لاس ورغی. هلته هم د ياغيانو مشرانو د پښتنو په مقابل کي توره او سپر کښېښوول. قائم خان بلوڅ او ملا حيات د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له حضوره امان وغوښت او احمدشاه بابا رحمة الله عليه حکم وکړ، چي دوی دي له کډو سره کندهار ته وکوچېږي.

محبت خان چي په کلات کي د قائم خان او ملا حيات په تسليمېدلو خبر سو، غړي ئې وتښتېدل، څو تنه سپين ږيري ئې په ننواتي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ته راولېږل. لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د بلوڅو ننواتې ومنله، د مستنګ بنديان ئې خوشي کړل او ده ته ئې په دې شرط امان ورکړ، چي له کډو سره به کندهار ته ځي. محبت خان بلوڅ چي د امان زېری واورېد، لاس تړلی د يوه مجرم په توګه د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ورغی او هغه له کډو سره کندهار ته واستاوه.

د بلوچستان نومي کتاب په ۹۲ مخ کي ليکلي دي، چي:

"په (۱۱۶۰ هـ. ق.) (= ۱۷۴۷ع) کال د بلوڅو سردارانو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته د محبت خان بلوڅ له ناوړه ګذارۍ څخه شکايت وکړ، ځکه نو د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له حضوره څخه محبت خان د کلات له خانۍ معزول کړه سو او پر ځای ئې د ده کشر ورور نصير خان، چي د افشار نادر له وختو څخه په کندهار کي و، مقرر سو".

که څه هم د محبت خان له خوا څخه د دې پاچاهي امر د نه منلو کوم صريح ذکر هيچيري نه دئ ليدل سوی، مګر له دې واقعيته څخه، چي تر (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال پوري د کلات خان پاته سوی او بيا د احمدشاهي لښکرو له خوا مغلوب کړ سوی دئ، دا نتيجه په لاس راځي، چي محبت خان به د پورتني شاهي امر له منلو څخه تېه کړې وي او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له خوا څخه پر مستنګ د لښکر کښنی سبب به همدغه و.

په هر صورت د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه لښکرو په (۱۱۶۲ هـ. ق.) (= ۱۷۴۹ع) کال د محبت خان د ځبلو په نيامت پر مستنګ بريد وکړ، د محبت خان طرفدارانو ماتې وکړه. د محمدشي قبيلې سردار له ډېرو نورو معتبرو بلوڅو سره د پښتنو په لاس کښېووت[۸۰۴]، د لوی

---

[۸۰۴] ګل خان نصير د تاريخ بلوچستان په ۸۹/۱ مخ کي کښلي دي:

احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا محبت خان کندهار ته بندي ولېږه سو او هلته ومړ[۸۰۵].

د تاريخ احمد شاهي په ۱/۳۴۸-۳۵۲ مخونو کي کښلي دي:

په (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له پېښوره کابل ته راروان و، په خيبر کي خبر سو، چي د کندهار احمد شاهي حاکم، خانخانان لقمان خان سدوزی پورته سوی دئ. شاه پسند خان ئې د ده د ځبلو له پاره کندهار ته راولېږه. شاه پسند خان چي کندهار ته راورسېد، تر ښار دباندي د شاه پسند خان او خانخانان لښکري سره مخامخ سوې. په جنګ کي خانخانان ماته وکړه، کلابند سو. شاه پسند خان له خپلو لښکرو سره پر کلا وروخوت. د ښار په کوڅو او بازارو کي کلک جنګ وسو. په دغه جنګ کي محبت خان هم د خانخانان په طرفداري وجنګېد او ومړ.

د مير محبت خان په وختو کي د کندهار پاچهی ته د کاله شل زره روپۍ د خراج په توګه ورکولي کېدلې. د جنګ په وخت کي به د بلوڅو دوولس زره جنګيالي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د رکاب مله وو او يو زر سپاره به د خان قلات د وروريا زوی تر سرکرده ګۍ لاندي، هر وخت په احمد شاهي پايتخت کي حاضر وو[۸۰۶].

محبت خان د مشهور عارف حضرت ميا فقير الله جلال آبادي رحمة الله علیه سره، چي په ښکارپور کي اوسېد، مکاتبه درلوده[۸۰۷] او په يوه ليک کي ئې له ميا صاحب رحمة الله علیه څخه غوښتي دي، چي "کلات ته ورسي"[۸۰۸].

"مير محبت خان کلات ته وتښتېدئ. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خپلو لښکرو سره پسي رهي سو. حاجي رحيم بابي په "منګوچه" کي قرآن کريم ورته ونيو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له آسه را کښته سو، قرآن کريم ئې مچ کړ او له منګوچه څخه کندهار ته ستون سو او بلوڅ سرداران ئې هم د يرغمال په توګه ورسره بوتلل. مير محبت خان خپله لور بي بي جانه له اخوند محمد حيات سره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ور ولېږله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه کابل ته روان و. په غزني کي اخوند محمد حيات وررسېد او د مير محبت خان لور ئې وروستله او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه نکاح پر وتړله.

(۸۰۵) يادګار تاجپوشي خان قلات. د پښتنو تاريخ د لومړي ټوک په ۱۱۶ مخ کي ليکلي دي، چي محبت خان ومړ، پر ځای ئې حاجي خان وررور مقرر کړه سو. حاجي خان ډېر ظالم و او رعيت ورځني په عذاب و. برسېره پر دې ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له وراره خان خانان لقمان خان سدوزي سره په هغه وخت کي، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته پورته سوی و، مرسته کړې وه، ځکه نو معزول کړه سو او پر ځای ئې بل وررور نصير خان مقرر کړ سو. مګر دا خبره د بلوچستان تاريخ هم نه ده تصديق کړې او د حافظ مرغزي احمد شاهي شهنامه ئې هم ترديدوي.

(۸۰۶) تاريخ بلوچستان، ۱/۹۲ مخ.

(۸۰۷) لوی احمدشاه بابا، ۱۱۰ مخ.

(۸۰۸) مکتوبات ميا فقير الله، ۱۱۲ مخ.

نصیر خان بلوڅ

نصير خان احمدزی بروهي بلوڅ د محبت خان کشر ورور او د میر عبد الله خان (۱۱۲۸-۱۱۴۳ ه. ق.) زوی و. په (۱۱۴۳ ه. ق.) کال چې ئې پلار ومړ، دی یتیم ځني پاته سو. روزنه ئې د مور "بي بي مریمي" او مشر سکني ورور التاز خان پر غاړه سوه او له دوی سره په مستنګ کې اوسېد. په (۱۱۴۵ ه. ق.) کال چې التاز خان ته د کلات خاني ورسېدله، دی ئې هم کلات ته ورسره بوت.

په (۱۱۵۰ ه. ق.) کال د محبت خان له خوا د برمتې (یرغمل) په توګه سره خوني افشار نادر لره کندهار ته ولېږه سو او تر (۱۱۶۰ ه. ق.) کال پوري په کندهار کې پاته سو.

قاضي عطاء الله خان د پښتنو تاریخ په ۱۱۶/۱ مخ کې لیکلي دي:

په هغه جرګه کې، چې د احمد شاه بابا رحمة الله علیه د انتخاب له پاره، په شیر سرخ کې وسوه، نصیر خان هم شامل و او بیا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پوځ کې د یوه منصبدار په حیث وټاکل سو.

په (۱۱۶۲ ه. ق.) کال چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پر محبت خان بلوڅ باندي په مستنګ کې بری وموند، ده ته ئې د کلات خاني په دې شرط ورکړه، چې په هر جنګ کې به د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کې له شپږو زرو بلوڅو جګړنو سره حاضر وي.

نصیر خان به تل د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کې هر جنګ ته حاضرېدئ، مګر پیلا په (۱۱۷۱ ه. ق.) (=۱۷۵۸ ه. ق.) کال جنګ ته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کې نه ولاړ، ځکه نو مستنګ ته نژدې، د بلوڅو او پښتنو جنګ وسو. بلوڅو ماتې وکړه، په کلات کې کلابند سول، مګر ډېر ژر دوراندیشه نصیر خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته د خپل اطاعت عریضه وړاندي کړه او د زړه سواندي ستر ټولواک له خوا ځخه بیرته د کلات خان وټاکه سو[۸۰۹].

ګل خان نصیر د تاریخ بلوچستان په ۱۲۹/۱ مخ کې کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې د مرهټو غزا ته تئ، په پنډۍ کې ئې اړولي و، چې د بلوڅو لس زره لښکر د میر عبد الکریم خان رئیساني په مشرۍ ور ورسېدئ.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په انوپ شهر کې اړولي و، نصیر خان بلوڅ له پنځلسو زرو بلوڅو جنګیالیو سره په مرسته ورغی[۸۱۰].

نصیر خان بلوڅ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له حضوره د بیګلر بیګي (امیر الامراء) خطاب

---

[۸۰۹] د یادګار تاجپوشي خان قلات مولف دا پېښه په (۱۱۷۱ ه. ق.) کال کښي او د "لوی احمد شاه بابا" مولف علامه حبیبي صاحب رحمة الله علیه او د "Ahmad Shah Durrani" مولف ډاکټر ګنډا سنګه ئې په (۱۱۷۳ ه. ق.) کې بولي.

[۸۱۰] وګ: تاریخ بلوچستان، ۱۳۰/۱ مخ.

مونډلی و[۸۱۱] او وايي چي د نصير خان ورېره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مېرمن (نږور) وه[۸۱۲] او د نصير خان نرله پخپله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په نکاح کي وه[۸۱۳].

نصير خان نه پلا پر مکران برید وکړ او پای ته ئې ټول مکران ونیو. "لس بېلې" ته ئې هم لاس پسي وراوږد کړ او وایي چي د سنده له حکمرانانو څخه ئې کراچي هم نیولی و.

هتورام په تاریخ بلوچستان کي کښلي دي:

نصير خان پخپل ژوند کي پنځه ویشت (۲۵) جنګونه کړي دي. د ده دغه جنګونه پر دوو برخو وېشلای سو؛ لومړۍ برخه هغه جنګونه دي، چي ده پخپله سیمه کي کړي دي او دوهمه برخه هغه جنګونه دي، چي ده د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه او تیمورشاه سدوزي په رکاب کي کړي دي. دغه دوهم ډول جنګونه د بلوڅو تر سیمي او د هغو د نژدې شاوخواوو دباندي وو. په دغو جنګو کي د پاني پت غزا او د سکانو سره په پنجاب کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه شپږ جنګونه، چي په (۱۱۷۹ ه.ق.) کال پېښ سوي دي، ډېر مهم دي.

د میر نصير خان د جنګو او مېړاني په باب قاضي نور محمد ګنجابي یو پارسي مثنوي کښلې دئ، چي "تحفة النصير" نومېږي. د دې اثر شروع داسي سوې ده:

بنام خدای جهان آفرین
زمین و زمان انس و جان آفرین

د سکهانو د طغیان په باب ئې داسي ویلي دي:

شده شهر از جور سکها خراب	همه مردمانش برنج و عذاب
همه شهر ویران درون و برون	همه قصر و کاخش شده سرنگون
مساجد همه بُد ویران درو	معابد خراب آخور اسپان درو
ز علما و شرفا و سادات شهر	بجای شکر خورد شان بود زهر
همه ملک سرهند و لاهور را	ز پنجاب و ملتان همه جابجا
ز جهنگ و خوشاب و زمین چُناب	بکردند قسمت بخود بی حساب

د سکهانو سره د یوه جنګ په باب ئې داسي کښلي دي:

چو روز دگر چشمهٔ آفتاب	بدر زد سر از قعر دریای آب
همه نامداران بدستور پیش	بر شه ستادند بر جای خویش

---

(۸۱۱) ګل خان نصير د تاریخ بلوچستان په ۱۳۱/۱ مخ کي کښلي دي، چي میر نصير خان بلوڅ ته اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي، زوی ویلی و.

(۸۱۲) وګ: یادګار تاجپوشي خان قلات، ۲۳ مخ(؟).

(۸۱۳) وګ: د پښتنو تاریخ، ۱۱۸/۱ مخ(؟).

قنبر خان

دوهم میر احمد خان (۱۱۲۶–۱۱۲۸ هق) (دوه کاله د کلات خان و، پای د خپل ورور له لاسه وواژه سو)

میر عبد الله خان (۱۱۲۸–۱۱۴۳ هق)

سخي سمندر خان (۱۱۰۹–۱۱۲۶ هق)
(تر مهراب خان وروسته د کلات خان سو. د مهراب خان زامن کوچنیان وو)

محبت خان
محبت خان تر بي بي جانه د لوی احمد شاه بابا رحمه الله مایینه وه. (تاریخ ... ۸۸). محبت خان مور جاټه وه. ده لومړی وار دوه کاله له (۱۱۴۳ هق) ... تر (۱۱۴۵ هق) (= ۱۷۳۳ ع) پوري او دوهم پلا له (۱۱۵۰ هق) ... (۱۱۶۰ هق) کال پوري تو له پنځلس کاله د کلات خاني وکړله. محبت خان ... خان لقمان خان په بغاوت کي د لاس لرلو په جرم، په غلطي ... تر مړینې د کلات ته لوی احمد شاه بابا رحمه الله راو استاوه او دلته بنځ کړه سو، (تاریخ بلوچستان، ۹۱ مخ).

التـــــازخان
(۱۱۴۵–۱۱۵۰ هق)
نادر افشار په (۱۱۴۹ هق) کال پر کندهار برید وکړ، یو کال کلابندي وه، په دغه موده کي نادر افشار التازخان کندهار ته وروغوښت او هلته ئې بندي کړ. د کلات خاني ئې محبت خان ته ورکړله. التازخان په (۱۱۵۲ هق) کال د خپل کشر ورور نصیر خان له لاسه وواژه سو، (تاریخ بلوچستان، د گل خان نصیر، ۷۹ مخ). نادر شاه غوښته چي نصیر خان قصاص کړي، مگر پښتنو د نصیر خان پلو ونیو او نادر ته ئې وویل: التازخان په گرم و، ځکه نو نادر د ده تر مرگ تېر سو.
د التازخان او نصیر خان مور بي بي مریمه، التازی بلوڅه وه.

مـــــراد
(د نادر په لاس کي یرغمل وو)

لومړی نصیر خان
میر نصیر خان بلوڅ پنځه څلوېښت کاله (۱۱۶۲–۱۲۰۸ هق) د کلات خان و. د نادر افشار له پوخو سره د یرغمال په توگه و. مور او کورنۍ ئې په کندهار کي وه.
اشرف الوزراء، شاه ولي خان خپل زوی بللی و، (تاریخ بلوچستان، ۸۶ مخ).
نصیر خان په ۱۱۶۲ هق کال د لوی احمد شاه بابا رحمه الله له خوا د کلات خان مقرر سو او په ۱۲۰۸ هق کال په گنجابه کي ومړ. په دغه وخت کي شهزاده همایون هم په گنجابه کي و.

لومړی محمود خان
د اوو کالو و، چي خان سو. له ۱۲۰۸ څخه تر ۱۲۳۲ هق کال پوري د کلات خان و. اخوند فتح محمد ئې اتالیق و. د میا روح الله مرید و. میا روح الله په ۱۲۲۴ هق کال د مصطفی خان له لاسه وواژه سو. محمود خان، مصطفی خان او بي بي زینبه له یوې موره وو.

بي بي زینبه
د سید خان التازي مایینه وه. کرم خان او شکر خان ئې زامن وو. بي بي زینبه له سرفراز خان او احمدیار خان سره د کابل دربار ته د محمود خان له لاسه فریادي ولاړله، (تاریخ بلوچستان، ۱۹۴ مخ).

مصطفی خان
د رحیم خان له لاسه، تر ۱۲۳۱ هق کال د مخه وواژه سو.

سرفراز خان
له پلاره یتیم پاته سو. د دوهم مهراب خان په امر، له احمدیار خان سره په یوه شپه وواژه سو.

بي بي مراد

محمد رحیم

بي بي جان
د لوی احمد شاه بابا رحمه الله مایینه بي بي جان د میر گوهر خان کونده وه.

بیر دجي
بیر دجي نصیر خان ته پوره ته سو. ... (تاریخ بلوچستان، ۱۱۰۱ مخ).

بهرام خان
په ۱۲۱۴ هق (= ۱۸۰۰ ع) کال مړ سو)
... نصیر خان تر مرگ وروسته د کلات د خاني مدعي و. له ... سره ئې څو جنگونه وکړله. د شاه زمان له خوا شیر ... محمود خان په مرسته ورغی. بهرام خان تر جنگ ... وروسته وتښتېد. (تاریخ بلوچستان، ۱۷۸/۱ مخ).

احمدیار خان

دوهم مهراب خان شهید
په (۱۲۳۲–۶ رمضان ۱۲۵۵ هق) (= ۱۳ نومبر ۱۸۳۹ ع) له انگرېزانو سره په جنگ کي شهید سو.

اعظم خان
د نصیر خان د خاني پر گدۍ کېناستل سو، خو د انگرېزانو او شاه شجاع له خوا لانو منل سوی.

شیرو خان

شهباز خان

بدل خان

دوهم نصیر خان
لومړی وار په ۱۲۵۶ هق (= ۱۸۴۰ ع) کال د کلات پر خاني کېناست. د ۱۸۴۰ ع کال د اگست په لومړۍ ورځ (= ۲ جمادی الاخری ۱۲۵۶ هق) ئې پر کلات برید وکړ. دوهم نصیر خان دوهم پلا د کویټي د پولیټکل ایجنټ مستر اوټرم په واسطه د ۱۸۴۱ ع کال د اکتوبر پر ۶ په کلات کي د خاني پر مسند کېښناوه سو. دوهم نصیر خان چي پاچا کېدی، ۱۴ کلن و. دی د ۱۸۵۷ ع په ژمي کي مړ سو.

بي بي الدیني

خدایداد خان (۱۸۵۷–۱۸۹۳ ع)
د دوهم نصیر خان میرېزی وررو. د ۱۶ کالو وو، چي خان سو. په ۱۸۹۳ ع کال کي انگرېزانو استعفا په وکړله. په لورلایي کی تر ۱۹۰۳ ع کال پوري لس کاله واو سېدئ. د ۱۹۰۳ ع کال د اپریل په ۲۸ پښین ته راو ستل سو، تر څو د ۱۹۰۹ ع کال د مي په شلمه مړ کېدئ، نظربند و په پښین کي.

فتح خان
شهنواز خان د ۱۴ کالو و، چي خان سو. په ۱۲۵۵ هق (= ۱۳ نوامبر ۱۸۳۹ ع) ... د کلات خان مقرر کړ. لفټننټ لوري (؟) ئې سرپرست و، (د صالح محمد ... تاریخ بلوچستان، ۱۰۷ مخ).

شهنواز خان

شهنواز خان | بهرام خان | سلطان سکندر خان | سلطان ابراهیم خان | میر حسن خان | میر محمد خان | دوران خان | محمد دوست خان | دوهم محمود خان

دوهم محمود خان (۱۰ نومبر ۱۸۹۳–۳ نومبر ۱۹۳۱ ع)
د خدایداد خان دوهم زوی. په ۱۹۲۴ ع کال روند سو. قاضي جلال الدین کاکړ، د قاضي عیسی پلار، د محمود خان ایډوایزر مقرر سو، (صالح محمد لهړي تاریخ بلوچستان).

الحاج اعظم خان

ز فوج قراول سواری دوان | بیامد بر شاه گیتی ستان
که آمد ز سک لشکری بیشمار | به پیوست با غازیان کارزار
ما بداد ناید اگر شهریار | بغازی قراول تباه است کار
بفرمود شه کاندران گیر و دار | روان شد همه لشکر از بر کنار
شهنشه بر اسپ روان بر نشست | همی راند بر سوار مقرع بدست
همه سروران امیر و وزیر | خوانین افغان ز برنا و پیر
همی تاختند از پس شهریار | بر آمد بعالم یکی گیر و دار
غبار زمین بر فلک سر کشید | چو خورشید شد اندران ناپدید
ازان گرد کان در هوا شد سحاب | نهان شد در آن تیره ابر آفتاب
بیک سوی دریا دگر سوی دشت | ز گرد سپه بحر و بر تیره گشت

❁ ❁ ❁

خدا آفریدست شمشیر را | هم از بهر افغان شیر دغا
دگر از برای بلوچ آفرید | دگر کس به ایشان نخواهد رسید

(بلوچستان مین فارسي شاعري، ۶۰مخ)

نصیر خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر مړيني وروسته د سنده په جنګو کي د تیمورشاه سدوزي (۱۱۸۶–۱۲۰۷ه. ق.) په رکاب کي هم له خپلو پوځو سره حاضرېدئ. نصیر خان، چي د بلوڅو په تاریخ کي د "نصیر خان اعظم" په نامه سره اوڅار دئ، تر ۴۵ کاله زیاته د کلات خاني وکړه او د (۱۲۰۸ه. ق.) (= ۱۷۹۴ع) کال په پسرلي کي په "ګنجابه" کي ومړ.

میر نصیر خان پوه، دوراندیش، رښتیني او د جاه و جلال تبنتن مېړه و. د ده تر مرګ وروسته ئې مشر زوی اووه کلن محمود خان (۱۲۰۸–۱۲۳۱ه. ق.) د ملا فتح محمد په مدار المهامی سره د کلات خان وټاکه سو[۸۱۴] او اعلیحضرت شاه زمان سدوزي (۱۲۰۷–۱۲۱۷ه. ق.) ته ئې پوځي مرسته د اشرف الوزراء شاه ولیخان د زوی، مختار الدوله شیر محمد خان په مشرتوب ور ولېږله[۸۱۵].

په (۱۲۱۵ه. ق.) (= ۱۸۰۰ع) کال ئې د محبت خان پر زوی، بهرام خان باندي بری وموند. بهرام خان د نصیر خان تر مړيني وروسته، په کچهي کي د استقلال نغاره ډنګولې وه[۸۱۶].

تر دې بري وروسته، نوموړی محمود خان د اعلیحضرت شاه زمان سدوزي له خوا رسماً د بلوڅستان خان وټاکه سو او له احمدشاهي مقرراتو سره سم، له شپږو زرو بلوڅو سپرو سره د کابل دربار ته راغی او تر شاهي سلامۍ وروسته بېرته کلات ته رخصت سو[۸۱۷].

---

[۸۱۴] وګ: یادګار تاجپوشي خان قلات، ۲۳مخ (؟).

[۸۱۵] وګ: احمدشاه بابا، ۲۵۱مخ.

[۸۱۶] وګ: یادګار تاجپوشي خان قلات.

[۸۱۷] وګ: احمدشاه بابا، ۲۵۱مخ.

نواب محسن الملک یعقوب علي خان بامېزی

یعقوب علي خان بامېزی[۸۱۸] په خزانه عامره (۱۰۴ مخ)، صولت افغاني (۲۴۹ مخ)، سراج التواریخ (۲۲ مخ)، تاریخ هندوستان (۳۱۷/۹ مخ) او احوال نجیب الدوله (۱۷ مخ) کي د احمدشاهي دورې د اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي ورور بلل سوی دئ او زما (رشاد) په خیال د درو وروستیو مولفاتو ماخذ، د آزاد بلګرامي خزانه عامره ده، چي په (۱۱۷۶ هـ. ق.) کال بشپړه سوې ده. ښاغلی عزیز الدین وکیلي پوپلزی هم په تیمورشاه دراني (۲۵۰ مخ) او درة الزمان (۲۲۹ مخ) کي د دوی پر پله تللی دئ.

مګر په قلمي تاریخ حسین شاهي (د ۱۲۱۳ هق کال تالیف)، دولت درانیه (۳۱ مخ)، ګلستان رحمت (۱۰۴ مخ)، حیات حافظ رحمت خان (۷۹ مخ)، تاریخ سلطاني (۱۳۷ مخ) او "Ahmad Shah Durrani" (۱۵۵ مخ) کي د اشرف الوزراء تربور او همقومه بلل سوی دئ.

د شاه عالم نامې مولف غلام علي خان، چي د یعقوب علي خان معاصر دئ، د شاه عالم نامې په ۱۷۰ مخ کي لیکلي دي، چي د شاه ولي خان او یعقوب علي خان تر منځ د دوستۍ او قرابت رګي و. د اشرف الوزراء او یعقوب علي خان تر منځ د صرف همقومۍ نور موئیدات هم سته، مثلاً: په احمدشاه دراني (۱۵۵ او ۲۳۲ مخونو) کي زیاته سوېده، چي یعقوب علي خان په هندوستان کي له ډېره وخته مېشت و او د یوه اعزازي شپږزري منصبدار حیثیت ئې درلود. په حیات حافظ رحمت خان (۸۹ مخ) کي ئې د استوګي ځای "روهیلکهنډ" ضبط دئ او په تاریخ حسین شاهي کي، چي مولف ئې د یعقوب علي خان معاصر او د روهیلکهنډ د شاوخوا اوسېدونکی دئ، واضحه سوېده، چي:

"یعقوب علي خان له شو پښتو ځخه په شاه جهان پور کي اوسېد. شاه جهانپور د ډهلي ختیز لورته یو نیم سله میله لیري، د ګنګا د رود پر غاړه واقع دئ".

د دولت درانیه په ۳۱ مخ کي کټ مټ د دغو کلماتو ترجمه په اردو ژبه لیکلې ده او په تاریخ سلطاني (۱۳۷ مخ) کي هم کټ مټ دغه ذکر سته، یعني سلطان محمد خان بارکزي هم یعقوب علي خان د شاه جهان پور اوسېدونکی بللی دئ. د یعقوب علي خان بامیزي لقب په دولت درانیه (۳۱ مخ) او تاریخ حسین شاهي کي "نواب محسن الملک[۸۱۹]" او په شاه عالم نامه (۱۷۰ مخ) کي

---

[۸۱۸] په خزانه عامره او د هندوستان په نهم ټوک کي "بهمن زی" کښلی دئ، چي د تأمل وړ خبره ده.

[۸۱۹] د احمدشاه بابا په ۲۶۰ مخ کي، چي "محسن الملک" او "یعقوب علي خان" دوه بېل سړي بلل سوي دي، د تأمل وړ خبره ده.

"معتمد الدوله" ضبط دئ.

د يعقوب علي خان نوم د لومړۍ پلا له پاره د (۱۱۷۰هـ. ق.) کال په واقعاتو کې ليدل کېږي. گندا سنگهـ د "Ahmad Shah Durrani" په ۱۵۵ مخ کې ليکلي دي:

د (۱۱۷۰هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په پای کې، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پو ځونه له لاهوره ځخه مخ پر ډهلي ووتل، ناسياله غازي الدين سهروردي د ډهلي وزير، چي په ځان کي د جنگ وس نه ليدئ، وارخطا سو او نجيب الدوله چي ئې هم له مرستي ځخه تېته وکړله، نوئې مجبوراً له لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه سره په سياسي مفاهمه لاس پوري کړ او د دې غرض له پاره ئې د دوهمي خور د مياشتي په شپږمه ورځ (= ۲۹ دسمبر ۱۷۵۶ ع.) يعقوب علي خان د ډهلي پاچا دوهم عالمگير مغل (۱۱۶۷–۱۱۷۳هـ. ق.) ته ورووست. په دې باريابي کې يو مشهور فقير (شاه فنا) هم ورسره مل کړه سوی و. د دغو دوو کسانو په خوله، لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ته د دوهم عالمگير له خوا[۸۲۰] دا پيغام ورواستول سو:

"که ته د ډهلي له راتگه ځخه صرفنظر وکړې او بيرته خپل وطن ته ستون سې، ستا د لښکر د مصارفو له پاره به يوه اندازه روپۍ او زوی ته به دي د دوهم عالمگير پاچا لور درکړله سي[۸۲۱]".

يعقوبعلي خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته د ډهلي دربار د وزير په امر د دوهم عالمگير جعلي پيغام ورساوه. د دوهمي خور د مياشتي په شپږويشتمه ورځ (= ۱۸ جنوري ۱۷۵۷ع) چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پخپله ځو ميله ليري د "باولي" شمال ته د "سوني پت[۸۲۲]" نومي ځای په شاوخوا کي اړولي و، له دغه ځايه ځخه ئې د ډهلي د وزير غازي الدين استاځی يعقوب علي خان او اغا رضا[۸۲۳] د ډهلي لور ته رخصت کړل او د دوی په لاس ئې دا پيغام ورولېږه:

"زه د ډهلي د پاچا دوهم عالمگير او وزير غازي الدين د ليدلو له پاره شخصاً ډهلي ته درتلونکی يم او هلته به د صلحي د شرطونو په باب سره وړغېږو[۸۲۴]".

د (۱۱۷۰هـ. ق.) کال د درېيمي خور د مياشتي په اوومه ورځ (= ۲۸ جنوري ۱۷۵۷ع.) لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ډهلي ښار ته ورننوت. هلته د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د اوسېدلو په موده کي يعقوبعلي خان د روهيلکهنډ د نائب واکمن نواب حافظ رحمت خان بړيځ رحمة الله عليه له خوا د سفير په توگه، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته واستاوه سو. د شاه وليخان اشرف الوزراء په ذريعه

---

(۸۲۰) دوهم عالمگير لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه ته خطونه لېږلي وو، چي ما له هندو پرورو وزير غازي الدين له لاسه خلاص کړه، زه د ده په لاس کي بندي يم، (وگ: د احمدشاه دراني ۱۵۰ مخ او د روهيله پښتانه ۲۹۵ مخ). دلته ئې فقط د خپل وزير د تېر ايستلو له پاره مجبوراً د دغه پيغام لېږل منلي دي.

(۸۲۱) وگ: تاريخ عالمگير ثاني، (۳۶ B-A) مخونه.

(۸۲۲) سوني پت له ډهلي ځخه شل کروهه ليري دئ.

(۸۲۳) اغا رضا يېلا تر يعقوبعلي خان دمخه د ډهلي د وزير له خوا د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه حضور ته د استاځي په حيث لېږل سوی و، دا ئې دوهم پلا ورتگ او رخصتېدل وه.

(۸۲۴) احمدشاه درانی، ۱۵۹ مخ، د تاريخ عالمگير ثاني د ۹۲ مخ په حواله.

ومورې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف او د نواب حافظ رحمت خان رحمة الله عليه د اطاعت پيغام او سوغاتونه ئې د پاچا حضور ته وړاندي کړل[۸۲۵].

تر څو چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په هندوستان کي و، يعقوب علي خان د حافظ رحمت خان رحمة الله عليه د سفير او وکيل په حيث، په احمد شاهي کيمپ کي حاضر و. د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د رجب مياشتي په شپاړسمه ورځ (= ۶ اپريل ۱۷۵۷ع)، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له ډهلي څخه مخ پر کندهار لېږديده، څو ورځي پخوا ئې يعقوب علي خان حضور ته ور وغوښت، د ده په لاس ئې حافظ رحمت خان بړېښي ته د خپل رضائيت پيغام ور ولېږه او روهيلکهنډ ته ئې رخصت کړ[۸۲۶].

د حافظ رحمت خان رحمة الله عليه زوی، مستجاب خان پخپل اثر "گلستان رحمت" کي دا هم زياته کړېده، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حافظ رحمت خان ته دا هم ليکلي و، چي د جنگباز خان مرسته وکړي[۸۲۷]. جنگباز خان د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور په اووه ويشتمه ورځ (= ۱۹ مارچ ۱۷۵۷ع) د دروزرو سپرو سره د نواب احمد خان بنگښ په ملگری او ملاتړ، د بنگال د نيولو له پاره گمارل سوی و[۸۲۸].

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په دوهمه يا درېيمه ورځ (= ۲۱ جنوري ۱۷۶۰ع)، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دوهمه پلا ډهلي له مرهټو کفارو څخه ونيو او څو ورځي وروسته ئې د سورج مل جاټ د ځبلو په نيامت د بهرتپور او ډيگ لور ته لښکر وخوځاوه، له ډهلي څخه تر وتلو پخوا ئې د ډهلي د ښار حکومت او ساتنه يعقوب علي خان ته وسپارل[۸۲۹] او دوه زره عسکر ئې ورسره پرېښوول[۸۳۰].

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځونه چي په کول (اوسني علي گړه) او جاليسر کي د جاټانو په ځبلو اخته وو، په دغه وخت کي د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د مياني ذ مياشتي په وروستي ورځ (= ۱۴ جولای ۱۷۶۰ع) د مرهټو هغه دروند لښکر، چي د پېشوا د زوی "بسواس راو" او "سدا شيو بهاو" په مشرتوب، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه مقابلې ته، له دکنه رالېږل سوی و، له چمبل سيند څخه شل ميله شمالي لور ته راورسېد. سورج مل جاټ او ملهار راو هولکر ئې هم له خپلو پوځو سره مله سوي وو. له دغه ځايه څخه د سدا شيو بهاو په حکم، چي د ټولو مرهټه پوځونو سپهسالار و، يو تکړه پوځ د ملهار راو هولکر، جنکو جي او بلونت گنيش مهندلال تر مشرتابه لاندي، د ډهلي د نيولو له پاره مخ پر ډهلي وخوځېد.

ناسياله غازي الدين او سورج مل جاټ د دې تکړه پوځ سره د لاربنوونکو په حيث ملگري کړه

---

[۸۲۵] حيات حافظ رحمت خان، ۷۹ مخ، دولت درانيه، ۳۱ مخ او حسين شاهي تاريخ.

[۸۲۶] حيات حافظ رحمت خان، ۷۹ مخ.

[۸۲۷] گلستان رحمت، ۱۰۴-۱۰۵ مخونه.

[۸۲۸] دولت درانيه، ۳ مخ، احمد شاه دراني، ۲۳۲ مخ او احمد شاه بابا ۲۶۰ مخ.

[۸۲۹] احمد شاه دراني، ۲۳۲ مخ، دولت درانيه، ۳۱ مخ.

[۸۳۰] احمد شاه بابا، ۲۶۰ مخ.

سوي وو(۸۳۱). دا پوځ د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په اتمه(۸۳۲) یا نهمه(۸۳۳) ورځ ډهلي ته ورسېد او په حویلي سعد الله خان کي ئې واړول. د ډهلي د احمدشاهي نائب الحکومه نواب محسن الملک یعقوب علي خان بامیزي سره د نور الدین حسین خان په قول، په ډهلي کي فقط دري سوه پښتانه سپاره او دري سوه پلي هندوستاني سپاهیان مله وو، خو سره له دې چي نه ئې جنګي مېړونه د دغه مهاجم پوځ شلمه برخه کېدله او نه ئې جنګي اسبابو د مرهټو له جنګي اسبابو سره سیالي کولای سوای، خو بیا ئې هم د پښتني غیرت په حکم، مقابله وکړه او تېښته ئې نه منله(۸۳۴)، مګر څه ګټوره نتیجه ئې ور نه کړه او د ډهلي ښار ئې تر ډېره وخته پوري، د مرهټو کفارو له هجومه څخه ونه ساتلای سو او د دغې ورځي غرمې ته (۲۲ جولای) د ډهلي ښار د مرهټو په لاس کښېووت. پخپله یعقوب علي خان په لال کلا کي، چي د ډهلي د ښار حکومتي کلا وه، کلابند سو(۸۳۵). دري ورځي وروسته یعني د لوی اختر د میاشتي په یوولسمه ورځ بهاو هم سره له خپلو درنو لښکرو پسي راورسېد.

د احمدشاه دراني د کتاب(۸۳۶) له مخي ئې لس ورځي او د شاه عالم نامې(۸۳۷) له مخي ئې شل ورځي او د احوال نجیب الدوله په قول دیرلس ورځي کلابندي وګالله او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ئې خپل حال ور ولېږه(۸۳۸).

غلام علي خان د شاه عالم نامې مولف لیکلي دي، چي د دغي کلابندۍ په موده کي یوه ورځ دري سوه مرهټه سپاهیان، د جمنا د سیند له خوا څخه، د کمندونو په وسیله، برج اسد ته وربورته سول او په لال کلا ورننوتل. د یعقوب علي خان سپاهیانو هغه دري سوه تنه مرهټه سپاهیان، چي د انتهیل راو په مشرۍ ورختلي وو، ټول ووژل او نور مرهټه سپاهیان، چي برج اسد ته د ورختلو په هیله تر کلا لاندي ولاړ وو، وتښتېدل(۸۳۹).

د جنکو راو او هولکر پوځو د خضري دروازې د ماتولو زیار ویوست، مګر له کلا څخه د پښتنو د ګولیو له لاسه کامیاب نه سول. بیا ابراهیم ګارډي د وه دري توپونه ورته کښېښوول او د ژلیو په څېر ګولۍ ئې پر لال کلا واورولې، رنګ محل، موتي محل او دیوان خاص ته ئې ډېر

---

(۸۳۱) شاه عالم نامه، ۷۱ مخ.

(۸۳۲) د احمدشاه دراني ۲۵۴ مخ.

(۸۳۳) تاریخ هندوستان، د علي ګړه چاپ، ۹-۱۰/ ۳۰۵ مخ.

(۸۳۴) دولت درانیه، ۳۱ مخ.

(۸۳۵) احمدشاه درانی، ۲۴۵ مخ.

(۸۳۶) احمدشاه درانی، ۲۴۵ مخ.

(۸۳۷) شاه عالم نامه، ۱۷۱ مخ.

(۸۳۸) لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په دغه وخت کي په انوپ شهر کي اړولي و او هلته ئې د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د میانۍ د میاشتي څخه د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د صفري د میاشتي تر شلمي پوري د برسات موسم تېر کړ.

(۸۳۹) شاه عالم نامه، ۱۷۱ مخ، صولت افغاني، ۲۴۹ مخ.

...نونه ورسول. هره ورځ به په دې توګه جنګ تود و(٨٤٠).

د دولت درانیه په ٣١ مخ کې لیکلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته چې د یعقوب علي خان د کلابندۍ حال ورسېد، ده ډېر زیار ...وست چې په مرسته ئې پوځ ورولېږي، مګر د جمنا رود طغیاني حالت او د برسات بارانو لار نه ...کول، ځکه ئې نو یعقوب علي خان ته ولیکل، چې:

"که مرهټه په سمه توګه د راوتلو لار درکړي، د دغه وخت د مصلحت دا تقاضا ده، چې روغه ...ړې او د ډهلي کلا مرهټو ته وسپارې(٨٤١)".

یعقوب علي خان هم په دغه شرط روغه وکړه، له کلا راووت، د علي مردان خان په سرای ...ئې واړول او له هغه ځایه د جمنا د سیند له لارې شخه ئې په بېړیو کې خپل ټول ملګري او ...کي سامانونه روغ رمټ راوایستل او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د کیمپ خوا ته راروان ...(٨٤٢) او په دې ډول د ډهلي لال کلا د (١١٧٣ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتې په ١٩ مه ورځ ...١٢ اګسټ ١٧٦٠ع) مرهټو ته ورخوشې سوله(٨٤٣).

په کوم وخت کې چې د سدا شیو بهاو پوځونه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابلې ته د پاني ...په ډاګ کې د لوی جنګ له پاره پراته وو، د مرهټو پېشوا "نانا بالاجي راو" د نربدا د سیند پر ...ه د یو لوی لښکر سره د قوت الظهر په حیث ورته پروت و. په پاني پت کې د مرهټه پوځونو د ...بندۍ بده ورځ، چې پېشوا واورېده، د نربدا له سیند شخه مخ پر ډهلي راوخوځېد. د (١١٧٤ ...ق.) کال د ځلرمي خور د میاشتې په شپږمه ورځ (=١٤ جنوري ١٧٦١ع)، چې په پاني پت کې ...هټو ماتې وکړه او پر اته ویشتو زرو تنو باندې ئې مېندې بورې سولې او لوی احمد شاه ...ا رحمة الله علیه چې ترسوبې څو ورځې وروسته ډهلي ته راورسېد، په دغو وختو کې پېشوا نانا بالاجي ...له خپلو پوځونو سره د ګوالیار په شاوخوا کې اړولي و او د پاني پت له میدان یا ډهلي شخه ...تښتېدلي مرهټه سرداران، لکه ملهار راو هولکر او د ډهلي مرهټه حاکم پنډت نارو شنکر او ...ر پر راټول سوي وو.

څو ورځې وروسته د مرهټو یو نماینده، چې "بابوجي مهادیو هِنګني" نومېد، د پېشوا او ...ی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر منځ د مفاهمې له پاره زیار شروع کړ. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له ...ضوره شخه یعقوب علي خان وګمارل سو، چې د یوه پاچاهي استاځي په حیث ګوالیار ته ولاړ ...ې او د پېشوا سره د روغې نقشه جوړه کاندي.

یعقوب علي خان ګوالیار ته ولاړ، مګر ځکه چې پېشوا پخپله نا روغه پروت و او نورو مرهټه

(٨...) صولت افغاني، ٢٤٩ مخ.

(٨...) دولت درانیه، ٣١ مخ، شاه عالم نامه، ١٧٢ مخ، احمد شاه درانی، ٢٤٥ مخ.

(٨...) شاه عالم نامه، ١٧٢ مخ.

(٨٤...) احمد شاه درانی، ٢٤٦ مخ، سراج التواریخ، ٢٢ مخ او سیر المتاخرین، ٩١٢ مخ.

سردارانو له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره د لیدلو جرأت نسو کولای، نو دغه روغه وځنډېدله[۸۴۴] او یعقوب علي خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راستون سو.

د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د برات د میاشتي په دیرلسمه ورځ (= ۲۰ مارچ ۱۷۶۱ع) چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له ډهلي څخه کندهار ته ستنېدئ، یعقوب علي خان ئې وګماره، چي د مرهټو د نماینده "بابوجي مهادیو هِنګني" سره د پاچاهي سفیر په حیث د پېشوا پایتخت "پونې" ته ولاړ سي او هلته له پېشوا سره د روغي په باب وږغېږي[۸۴۵].

د احمدشاه دراني د پښتو ژباړي "درانی احمدشاه" په ۳۷۶ مخ کي لیکلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د (۱۷۶۱ع) کال د مارچ په میاشت، افغانستان ته د تګ په وخت کي خپل استازی یعقوب علي خان د مرهټو له استازي "هِنګني" سره، په پونه کي پېشوا ته ولېږه، چي له هغه سره د سولي یو تړون ترتیب کړي، خو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له تګ وروسته، یعقوب علي خان د تش په نامه وزیر عماد الملک غازي الدین له خوا بې وسه او بې قدرته سو.

په (۱۱۷۵ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه شپږمه پلا هندوستان ته ولاړ او په لاهور کي مېشت سو، تر خپل تګ پخوا ئې نجیب الدوله او د ډهلي د دربار نور لوی افسران خپل حضور ته وروغوښتل. نواب یعقوب علي خان هم په دغه ډله کي د (۱۱۷۵ هـ. ق.) کال د صفري په میاشت کي له ډهلي څخه لاهور ته ورغی او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو[۸۴۶] او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د ډهلي امیران رخصت کړل، دی هم ډهلي ته ولاړ او له نجیب الدوله سره ئې کار کاوه.

په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال چي د بهرتپور راجا سورج مل جاټ د میوات د بلوڅو څخه څو کلاوي ونیولې او چاڅه ورته ونه ویل، نو ئې د ډهلي دربار ته لاس پسي را اوږد کړ او له نجیب الدوله یوسفزي څخه ئې، چي له (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال راهیسي ئې د ډهلي د پاچهۍ ټول کارونه اجرا کول، د پوځداری غوښتنه وکړله. نجیب الدوله د مفاهمې له پاره یعقوب علي خان د ډهلي د دربار د استاځي په حیث ورولېږه او څه سوغاتونه ئې هم د سورج مل له پاره ورکړه، چي په هغو کي یو تان چیټ هم و.

د تاریخ هندوستان د نهم ټوک په ۳۱۷ مخ کي لیکلي دي:

یعقوب علي خان چي له سورج مل جاټ سره لومړی وار ولیدل او د نجیب الدوله سوغاتونه ئې ورته کښېښودل، د ده چي سترګي د چیټ پر تان باندي ولګېدې، خوښ ئې سو، دستي ئې خیاط راوغوښت او د ځان له پاره ئې له هغه چیټه څخه د کالو جوړولو فرمایش ورکړ او په دې

---

(۸۴۴) د "Ahmad Shah Durrani"، ۲۶۱–۲۶۲ مخونه.

(۸۴۵) د "Ahmad Shah Durrani"، ۲۶۳ مخ.

(۸۴۶) د "Ahmad Shah Durrani"، ۲۸۷ مخ.

خبرو ئې ځان دومره مشغول کړ، چې یعقوب علي خان سفیر ته ئې نوره توجه ونه کړه. یعقوب علي خان راولاړ سو او سورج مل ته ئې وویل:

"ته اوس په دغه فرمایش بوخت ئې، زه به بیا ستا د فراغت په وخت کي راسم".

سورج مل جواب ورکړ:

"نواب صاحب! که د روغي له پاره راځې خو مه راځه".

یعقوب علي خان تر دې جواب وروسته ډهلي ته راستون سو. د دغه کال پای ته، یعني څه موده وروسته، چې ډهلي ته نژدې سورجمل جاټ د سید محمد خان بلوڅ له لاسه وواژه سو او لاس ئې نجیب الدوله ته ښکاره کړه سو، یعقوب علي خان هم حاضر و. د سورجمل جاټ د لاس ناسور او د هغه د چیټ لستوڼی ئې وپېژاند او نجیب الدوله ته ئې د سورج مل د مرګ ډاډ ورکړ[۸۴۷].

په (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه اتمه پلا هندوستان ته ورغی او په اسماعیل آباد کي ئې، چې د انبالې جنوبي لورته شل میله لیري واقع دئ، واړول، نواب یعقوب علي خان د نجیب الدوله د وکیل په حیث د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو[۸۴۸].

تر (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال وروسته د نواب محسن الملک معتمد الدوله یعقوب علي خان بامیزي ذکر کوم ځای نه دئ لیدل سوی. البته په (۱۲۰۲ هـ. ق.) کال د ډهلي د پاچا شاه عالم مغول (۱۱۷۳-۱۲۲۱ هـ. ق.) د رندولو په واقعه کي د یوه یعقوب علي خان ذکر سته، چې د نجیب الدوله د لمسي او ضابط خان یوسفزي د زوی غلام قادر روهیله له خوا وژل سوی دئ[۸۴۹]، مګر دا محققه نه ده، چې دغه یعقوب علي خان دې نواب محسن الملک معتمد الدوله یعقوب علي خان بامیزی وي(؟) او هم د رامپور د نواب غلام محمد خان ماینه، چې د یعقوب علي خان لور ښوول سوې ده[۸۵۰]، معلومه نه ده چې د دغه نواب محسن الملک یعقوب علي خان لور وه او که د نواب غلام محمد خان د اکا یعقوب علي خان لور ده(؟).

د نواب محسن الملک یعقوب علي خان بامیزي په باب په حسین شاهي تاریخ کي کښلي دي، چې یعقوب علي خان یو پاک زړی سخي سړی دئ.

نواب ذوالفقار علي خان "آذر" د یعقوب علي خان کړوسی دئ[۸۵۱].

---

(۸۴۷) صولت افغاني، ۲۵۷ مخ د مخزن التواریخ په حواله، تاریخ هندوستان، ۳۷۱/۹ مخ.

(۸۴۸) د احمدشاه دراني ۳۱۶ مخ.

(۸۴۹) تاریخ هندوستان، ۳۴۱/۹ مخ.

(۸۵۰) اخبار الصنادید، دوهم ټوک.

(۸۵۱) وګ: پښتانه شعراء په اردو ژبه کي (د علامه بابا قلمي نسخه)، ۴۵۵ مخ.

نواب فیض الله خان روهیله

(د رامپور د نوابانو نیکه)

داود خان بړیڅ چي د موتي بابا رحمة الله علیه زوی یا زوی کړی (متبنّٰی) و، په (۱۱۱۹هـ. ق.) (= ۱۷۰۷ع.) کال له "تورو شهامت پور" څخه، چي د پېښور د مردان په سیمه کي واقع دئ، د شمالي هندوستان "کټهیر" نومي سیمي ته، چي وروسته په روهیلکهنډ مشهور سو، ولاړ[۸۵۲]. هلته ئې پښتانه ځلمي پر ځان راغونډ کړل او د نامه تښتن سو. د "الموړې" د غرهٔ په لمن کي چي کوم ځنګل واقع دئ، هلته ئې یوه کلا د "بن ګړه" په نامه ودانه کړه او هلته پسي مېشت سو[۸۵۳].

کټهیر که څه هم د ډهلي د پاچهۍ یوه ورڅرمه او نژدې سیمه وه، خو د مغلي پاچهۍ د کمزورۍ له امله ئې د هر کلي خان او ملک د خپلواکۍ نغارې وهلې، ځکه نو په (۱۱۲۵هـ. ق.) کال د "بدایون" سیمي د "مدکر" کلي زمیندارانو، چي "مداراسهای" او "لچهن چند" نومېدل، له توریالي داود خان بړیڅ څخه هیله وکړه، چي د "راچپور" کلي د مظلوم زمیندار "کنچن سنګهه" پر سیله ودرېږي او د غاصبو غلیمانو په ځبلو کي ئې مرستیال سي. توریالي داود خان د دوی دا غوښتنه ومنله او د مظلوم کنچن سنګهه په طرفداري ئې د بریلي سیمي پر "کابر" او "بانکولي[۸۵۴]" کلیو، چي د کنچن سنګهه د دښمن "کهیم کرن" په لاس کي وو، برید وکړ. کهیم کرن او ملو ئې ماتې وکړه. نوموړي کلي ولوټل سوه سول، د دغي سوبې په بندیانو کي یو اووه کلن هلک "علي محمد" هم د برید کوونکو په لاس کښېوتلی و[۸۵۵]. بې زویه داود خان بړیڅ دغه هلک له ځانه سره کور ته بوت او خپل زوی ئې کړ.

که څه هم تر دې پېښي وروسته داود خان ته لوی خدای جَلّ جَلالُهُ خپل صلبي زوی (محمد خان) ورکړ، خو د علي محمد پر ګرانښت ئې څه اغېزه ونه کړه او ناز و روزنه ئې هغسي وه، چي وه. وایي داود خان به تل ویل:

---

(۸۵۲) اخبار الصنادید، ۶۲/۱ مخ د روهیلکهنډ ګزیټیر په حواله.

(۸۵۳) دا کلا د آنولې او بدایون ترمنځ واقعه ده او وروسته ئې نوم "یوسف نګر" سو. له آنولې څخه پنځه کوسه مسافه لري.

(۸۵۴) بانکولي د کابیر په سیمه کي واقع ده، چي د سنبهل په حکومت پوري ئې اړه درلوده.

(۸۵۵) د عماد السعادت مولف د "علي محمد" عمر په دغه وخت کي یو نیم کال لیکلی دئ او وایي، چي د مړې سوې مور له غېږې څخه داود خان راواخیست او وئې پاله.

"زما مشر زوی علي محمد دئ".

ځکه نو په (۱۱۳۹ هـ. ق.) (= ۱۷۲۶ع) [۸۵۶] یا (۱۱۳۵ هـ. ق.) [۸۵۷] کال چي توریالی داود خان بړیڅ د کمایون د راجا "دیبي چند [۸۵۸]" له خوا په ټګي وواژه سو [۸۵۹]، پښتانه مشران لکه دوندي خان بړیڅ، ملک ښادي خان بړیڅ، پاینده خان بړیڅ، سردار خان کمالزی، صدر خان کمالزی او نور سره کښېنستل او د شهید داود خان وصلي مشر ځورلس کلن زوی (علي محمد خان) ئې مشر وټاکه. ورو ورو ئې ترقي وکړه، د روهیلکهنډ نواب سو. په (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال مغلي پاچا محمد شاه لښکري ور وایستلې، روهیلکهنډ ئې ځني ونیو [۸۶۰]. درې کاله روهیلکهنډ تر پاچاهي اداري لاندي و او نواب علي محمد خان د سرهند حاکم و. د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال په پای کي

---

[۸۵۶] اخبار الصنادید، ۷۸/۱ مخ.

[۸۵۷] وګ: حیات حافظ رحمت خان

[۸۵۸] په حدیقة الاقالیم (۱۴۳ مخ) کي د شیخ یار محمد د انشاء قلندر په حواله کښلي دي، چي راجا دیبي چند باز بهادر د راجه جګت چند باز بهادر زوی د کمایون د کوهستان واکمن و. په (۱۱۳۱ هـ. ق.) کال ئې محمدشاه ته یو خط راولېږه، زه د محمد شاه له خوا د سوغاتو سره ورولېږل سوم. په دغه وخت کي راجا ځوارلس کلن و.

[۸۵۹] د قاموس المشاهیر په ۹۸/۲ مخ کي کښلي دي: داود خان بړیڅ د کمایون د راجا منصبدار و، د مراد آباد د نواب عظمت الله خان (د عصمت الله خان زوی، چي د لکهنو په قاضي زاده مشهور و) او د کمایون د راجا تر منځ چي کوم جنګ پېښ سو، داود خان د راجا په لښکرو کي و. په دې جنګ کي راجا شکست وخوړ. د راجا داګمان سو، چي داود خان د مراد آباد د نواب عظمت الله خان سره سازش کړی و، ځکه راترشا سو. د دغي بدګمانی په اغېزه ئې داود خان په یوه چم خپل دربار ته وروغوښت او هلته ئې له ملګرو سره وواژه. علي محمد خان چي په دې وخت کي ځوارلس کلن ځلمی و، د خپل پوځ سره د مراد آباد نواب عظمت الله خان ته راغی او هغه په ډېره درنه سترګه ورته وکتل. د آنولې حاکم ئې مقرر کړ.

د حدیقة الاقالیم په ۱۳۹ مخ کي لیکلي دي، چي داود خان د کمایون د راجا سپهسالار و، پای ته راجا خپله د ده له قدرته وبېرېدئ او په چم ئې وواژه. علي محمد خان د پلار تر وژلي وروسته د عظمت الله خان رساله دار سو، ځو کلي ئې د جاګیر په توګه وموندل، ځیني سیمي ئې په اجاره واخیستلې او په بسولي کي مېشت سو. په دغو وختو کي عظمت الله خان د مراد آباد له حکومته تبدیل سو. کټه هېر علي محمد خان ته پاته سو. د اجارې روپۍ او سوغاتونه به ئې د ډهلي دربار ته لېږل ...

[۸۶۰] د بن ګړه روغه چي وسوه، د (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال د درېیمي خور د میاشتي په درېیمه ورځ علي محمد خان له دروخلورو زرو سپرو او دغونه پلیو سره له بن ګړه څخه شاهي پوځ ته راغی او د قایم جنګ (نواب قایم خان بنګښ) خېمې ته لړتم سو، دوه زامن (چي برېتونه ئې لا نه وو راغلي)، یو متبنی (چي د راجا کمایون له قبیلې و)، پاینده خان، دوندي خان او فتح خان ورسره وو، پر پیل سپور و او د پیل پالکی ئې د سپینو زرو وه. خپل پوځ ئې دلته پرېښوو او له دوو درو سوو سپرو سره د وزیر الممالک لیدني ته ورغی. په لار کي ئې د انتظام الدوله سره ولیدل، چي د وزیر د پوځ سرلان و او ۲۱ طلاوي ئې سوغات ور وړاندي کړ، بیا د وزیر الممالک خېمې ته ورغی او ۱۰۱ طلاوي ئې پېشکش وړاندي کړ. مازدیګر د وزیر الممالک په واسطه پاچا ته وړاندي سو. پاچا وباخښه او علي محمد خان یو زر ۱۰۰۰ طلاوي پېشکش وړاندي کړ او د پاچا له حضوره رخصت سو او د درېیمي خور د میاشتي پر پنځمه، چي پاچا مخ پر ډهلي وکوچېدئ، علي محمد خان ته ئې امر ورکړ، چي له سلو سپرو او سلو پلیو سره به د عمدة الملک په پوځ کي وي.

بیرته روهیلکهند ته ولاړ او د (۱۱۶۲هـ. ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي په درېیمه ورځ په انوله کي ومړ.(۸۶۱)

د نواب علي محمد خان روهیله په باب مغل سردار ارادت خان په مبارک نامه کي کښلي دي:

"تر رشتیا به نه تېرېږو نواب علي محمد خان ډېر زړه ور سړی و، سره د دې چي مغل پاچا محمد شاه (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ. ق.) په (۱۱۵۸هـ. ق.) کال پر بن ګرهـ برید وکړ او د ده لښکري خوري وري سولې، بیا هم ده خپله ثابتقدمي له لاسه ورنه کړله. وزیر الممالک قمر الدین خان چي دی په روغه او نرمۍ سره پاچاهي اطاعت ته حاضر کړ، تجربه کارو او هوښیارو خلکو د وزیر پر هوښیارۍ آفرین وایه او زیاتول به ئې، چي که دغه پښتون نواب په نرمۍ سره نه وای دلاسا کړه سوی، خدای ﷻ خبر چي څه بېدې بلاوي به راویښي سوي وای".

نوموړي ارادت خان د علي محمد خان د کاردانۍ په باب کښلي دي:

"د نواب علي محمد خان اداره ښه او غښتلې وه، هغه سیمي چي د ده تر اداري لاندي وې ډېري ودانې وې. کښتونه ئې سمسور او خلک ئې خوشالوو. بزرګرو ته ئې نقدي مرسته ورکوله. د ده په سیمه کي غلا نه وه، پېښي دئ که به چیري غلا وسوه، د غلا مال به ئې په سر سره پیدا کاوه. لنډه ئې دا چي نواب علي محمد خان د لوړ همت، ټینګ عزم او پراخي حوصلې تښتن و، د فکر اصابت او هوښیاري ئې زیاته وه. بخت هم ملګري ورسره کړېده، چي دغه دولت ته رسېدلی دئ".

د سیر المتاخرین په ۴۷۷/۲ او ۴۸۱ مخونو کي کښلي دي:

د وزیر الممالک له خوا حشمت خان د سهارنپور حاکم مقرر سو، مګر حشمت خان چي سهارنپور ته ولاړ د بارهه ساداتو له لاسه، چي سیف الدین علي خان(۸۶۲) ئې مشر و، وواژه سو. وزیر چي خبر سو، عظیم الله خان خپل اخښی (دخور مېړه) ئې له یوه پوځ سره د سیدانو ځبلو ته وګماره، نواب علي محمد خان روهیله ئې هم د وزیر په حکم مل سو. سیف الدین علي خان جنګ ته لېځي راوغښتلې د عظیم الله خان پوځ ئې پسي واخیستی، په دې وخت کي د پښتنو پوځ له اړخه برید پر وکړ او سیف الدین علي خان او ډېر ملګري ئې د پښتنو په ګولیو ولګېدل.

په ۴۸۰ مخ کي ئې کښلي دي:

علي محمد خان د وزیر الممالک په پېرزوینه، ډېري مځکي خپلي کړلې. له افغانستانه څخه د نادر افشار د حملې په نسبت ډېر پښتانه ورته راغلل او مله ئې سول. آنوله، سنبهل، مرادآباد، بدایون او بریلي ئې ونیول.

---

(۸۶۱) د پښتو ژبي مشهور شاعر کاظم خان شیدا د ده د مرګ تاریخ داسي ویلی دئ:

سال این ماتـم بتو گردد جـلـی
"هـی هـی افغان" اگر گیری شمار
۱۱۶۲

(۸۶۲) سیف الدین علي خان د حسین علي امیر الملک ورور و. (سیر المتاخرین، ۸۵۴/۳مخ)

نواب فیض الله خان روهیله د دغه علي محمد خان دوهم زوی دئ، مور ئې "مرغلره" نومېدله او پښتنه وه (۸۶۳).
د زوکړې کال ئې (۱۱۴۶ هـ. ق.) کال دئ (۸۶۴). په دولت درانیه (۱۵ مخ) کي لیکلي دي، چي فیض الله خان د غشي په ویشتلو کي ساری نه درلود. فیض الله خان په (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) له پلار (علي محمد خان) او مشر ورور (عبد الله خان) سره، له روهیلکهنډ څخه بندي ډهلي ته بوت او په (۱۱۵۹ هـ. ق.) کال چي ئې د سرهند حکومت علي محمد خان روهیله ته ورکړ، فیض الله خان او عبد الله خان ئې د برمتې په توګه د ډهلي په دربار کي وګرزول.

د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي پر اتلسمه، چي وزیر قمر الدین خان او شهزاده احمد شاه مغل د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابلې لره، له ډهلي څخه مخ پر سرهند روانېدل، فیض الله خان او عبد الله خان ئې هم سرهند ته ورسره بوتلل او کله چي وزیر قمر الدین خان له سرهنده څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د مخنیوي له پاره د "ماچي واړې" ګدر ته روان سو، فیض الله خان او عبد الله خان ئې په سرهند کي پرېښوول. د دغه کال د لومړۍ خورد میاشتي پر دیرلسمه، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونو سرهند ونیو، فیض الله خان او عبد الله خان هم د پښتنو پوځو په لاس ورغلل او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه کندهار ته ورسره بوتلل. دوی د (۱۱۶۴ هـ. ق.) کال تر پایه پوري په کندهار کي له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره وو (۸۶۵).

د (۱۱۶۵ هـ. ق.) کال په شروع کي چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دریمه پلا پنجاب ته راغی دوی ئې له ځانه سره راوستلي وو او د میر معین الملک سره تر روغي وروسته ئې په ډېر عزت روهیلکهنډ ته رخصت کړل (۸۶۶).

دوی چي روهیلکهنډ ته ورسېدل، هلته د علي محمد خان دریم زوی سعد الله خان (۱۱۴۸ هـ. ق. زوکړی) چي تر دوی کشر و، نواب کړه سوی و. دوی د هغه په نوابۍ خوښ نه وو، ځکه نو حافظ الملک حافظ رحمت خان بړېڅي رحمة الله علیه، چي د روهیلکهنډ مختار کل و، د پښتنو سردارانو په سلا د روهیلکهنډ سیمي د علي محمد خان پر زامنو او پښتنو سردارانو ووېشلې او هر یوه ته ئې بېل بېل جاګیر وټاکه. د رامپور سیمي فیض الله خان ته په برخه کي ورغلې. یو کشر ورور ئې چي محمدیار خان نومېد، هم د ده په برخه ور شریک و او ده هم د یوه لوی جاګیر دار په حیث هلته ژوند کاوه.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال انتربېد ته ورسېد، دئ ئې له نورو روهیله

---

(۸۶۳) اخبار الصنادید، ۱/۱۹۶ مخ. مګر په سرګذشت نواب نجیب الدوله کي د فیض الله خان او عبد الله خان مور د بشارت خان عمرخېل لور ښوول سوېده.

(۸۶۴) اخبار الصنادید، ۱/۵۹۹ مخ.

(۸۶۵) دوراپرېدي په تاریخ روهیلکهنډ (۵۳ مخ) کي د دوي د استوګني موده په کندهار کي ۵ کاله لیکلې ده.

(۸۶۶) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۱۸ مخ او د سفرنامه انندرام مقدمه، ۸۳ مخ. د غدار شعراء په ۱۰۷ مخ کي د فیض الله خان او عبد الله خان هندوستان ته د راستنېدلو کال (۱۱۶۴ هـ. ق.) (= ۱۷۵۱ ع) ښوول سوی دئ.

سردارانو سره مخي ته ورغی او تر څو چي د پاني پت لويه سوبه پښتنو ګټله، دی د لوی احمد شاه بابا رحمه الله مل و. د پاني پت تر سوبي وروسته، چي خپل وطن (روهيلکهند) ته راستون سو، هلته ئې په بريلي کي د حافظ رحمت خان د مشرزوی عنايت خان برېښي (۸۶۷) سره څه خوا بده سوله، ځکه نو حافظ رحمت خان دی رامپور ته واستاوه او هلته مېشت سو.

په (۱۱۸۸ه. ق.) کال چي شجاع الدوله او انګرېزانو پر روهيلکهند بريد وکړ او د ميران پور په داګ کي لوی جنګ وسو، په دغه جنګ کي فيض الله خان د پښتنو په طرفداري شامل و. د پښتنو تر ماتي او د حافظ رحمت خان تر شهادت وروسته، چي روهيلکهند د يرغلرو په لاس کښېووت، پښتانه سپاهيان پر نواب فيض الله خان روهيله راټول سول او په لال ډانګ (۸۶۸) کي د شجاع الدوله او انګرېزانو له خوا کلابند سو او څلور مياشتي دا کلابندي اوږده سوه. پای ته چي شجاع الدوله ته د مرهټو د يرغل آوازې ورسېدلې، روغه ئې وکړه. د فيض الله خان او شجاع الدوله و انګرېزانو د روغي شرطونه دا دي:

۱. د رامپور او شاوخوا سيمه (۸۶۹) به، چي پنځه ويشت لکه روپۍ کالنی عايد ولري فيض الله خان ته ورپرېښوول کېږي.
۲. فيض الله خان به تر پنځو زرو زيات عسکر نه ساتي.
۳. د ضرورت په وخت کي به درې زره تنه د شجاع الدوله مرستي ته لېږي.
۴. دا تر شل زره تنه زيات لښکر چي اوس پر راغونډ دئ، دا به له ملکه شړي.
۵. نواب فيض الله خان به پنځلس لکه روپۍ نقدي شجاع الدوله ته ورکوي.

د دې عهدنامې له مخي د (۱۷۷۴ع) کال د اکتوبر په اوومه (= ۱۱۸۸ ه. ق.) د رامپور رياست جوړ سو. فيض الله خان نور عسکر خوشي کړل او فقط له پنځو زرو عسکرو سره د اکتوبر په ديرلسمه، له لال ډانګ څخه رامپور ته رهي سو او هلته ئې د رامپور د رياست واکي په لاس کي واخيستلې. نواب فيض الله خان شل کاله د رامپور نوابي وکړه او د (۱۲۰۸ه. ق.) کال د لوی اختر د مياشتي په اوولسمه يا نولسمه ورځ (= ۱۸ جولای ۱۷۹۴ع) د ۶۳ کالو په عمر مړ سو. مړی ئې په رامپور ښار کي عيدګاه ته نژدې ښخ کړه سو (۸۷۰).

د ده د مرګ تاريخ کوم شاعر داسي ويلی دئ:

بمغرب فرورفت شمس انام
"غروب" است سال وفاتش بجا
۱۲۰۸

---

(۸۶۷) له عنايت خان برېښي څخه د فيض الله خان سکه خور "شاه بيګمه" وه. (اخبار الصناديد، ۱/۱۹۷مخ)

(۸۶۸) لال ډانګ له نجيب آباده څخه اته کروهه ليري، تر ګډهوال کښته په ځنګل کي د يوه خوندي ځای نوم دئ.

(۸۶۹) لکه: بلاسپور، راجاوڼ، ټهاکردواره، تهسرا، سرکړا، شاه آباد، چو محله، سرساوان...

(۸۷۰) اخبار الصناديد، ۱/۵۹۹مخ.

نواب فیض الله خان عالم سړی و، معقول ئې د قطبي تر میره پوري ویلي وه او په منقولو کي ئې هم لاس درلود. له علم او علماوو سره ئې زیاته علاقه لرله او د هغو ئې ډېر عزت کاوه. ویل کېږي، بحر العلوم مولانا عبد العلي فرنګي محل او شاه عبد ... (۸۷۱) بغدادي چي رامپور ته راغلل، فیض الله خان ئې مخي ته ورووت او له ډېره احترامه ئې د هغه پالکی ته اوږه ورکړې وه.

د مکاتیب غالب په ضمیمه کي پښتانه لیکوال ... عرشي کنبلي دي:

نواب فیض الله خان په رامپور کي یوه مدرسه جوړه کړله، چي لومړی استاد ئې ملا حسن فرنګي محلي و او تر ده وروسته مشر ئې بحر العلوم مولانا عبد العلي لکهنوي و.

ملا لتاړ شېراني د فیض الله خان د توابی په باب ویلي دي:

اور و پښـتـون تـه ټـول هـنـدوسـتـان　　　　پـه رامـپـور جـمـعـه واړه افـغـان و

لـه لـویـو وړکـو واورئ یـارانـو!　　　　سـردار نـواب ئې فـیـض الله خـان و

منو لال دهلوي په مساکن فلسفي کي لیکلي دي، چي د نواب فیض الله خان له خزانې څخه د پنځو سوو مدرسو ملایانو تنخواه درلوده او په دغه وخت کي رامپور د هندوستان په بخارا سره مشهور و. د قاضي سید معصوم زوی قاضي سید نور الحق چي تخلص ئې "منعم" و او له دغه امله په قاضي منعم مشهور دئ، یو تفسیر د نواب فیض الله خان په امر لیکلی دئ. دغه راز د ملا فقیر اخوند کشر ورور حکیم بایزید خان په (۱۲۰۲ هـ. ق.) کال په پاړسو ژبه یو طبي کتاب د ده په نامه لیکلی دئ، چي "فصول فیض الله خاني" نومېږي او په "اقتباس العلاج" هم شهرت لري. د رامپور په کتابتون کي "فتاوای فیض الله خاني" هم سته، چي "محمد" نومي په درو ټوکونو کي تالیف کړېده. قائم چاندپوري، غلام علي عشرت بریلوي او میر ضیاء الدین عبرت دهلوي د ده په زمانه کي رامپور ته راغلي دي.

د نواب فیض الله خان اولادونه:

د نواب فیض الله خان اته زامن او نه لوڼي پاته سوي دي. د زامنو نومونه ئې دا دي:

۱. محمد علي خان چي د پلار تر مرګ وروسته (یو څو ورځي) نواب سو. غلام محمد خان (ورور ئې) د (۱۲۰۹ هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي پر دوولسمه حمله پر وکړله، زخمي ئې کړ او له هغه ټپه ومړ.
۲. حسن علي خان
۳. فتح علي خان

---

(۸۷۱) د علامه رشاد رحمة الله علیه په خپله لاسکښلې (قلمي) نسخه کي، پر دغه ځای باندي رنګ توی سوی دئ او سم نه لوستل کېږي، چي "عبد الغني" دئ او که دا نوم هم "عبد العلي" دئ؟ (علامه رشاد اکاډیمي)

۴. غلام محمد خان
۵. نظام علي خان
۶. یعقوب علي خان
۷. قاسم علي خان
۸. کریم الله خان

د نواب فیض الله خان په زامنو کي یو نواب غلام محمد خان و، چي په (۱۲۱۲ه.ق.) کا
ئې د انګرېزانو له لاسه د افغانستان پاچا "شاه زمان سدوزي" (۱۲۰۷-۱۲۱۶ه.ق.) ته پنا
راوړې وه او څو میاشتي په کابل کي و.
د نواب غلام محمد خان جنګنامه په اردو ژبه "تسلیم" نظم کړېده.

د نواب فیض الله خان شخصیت:

میرزا مظهر جان جانان دهلوي نقشبندي رحمة الله علیه (۱۱۱۳-۱۱۹۵ه.ق.) په یوه خط کي مې
مسلمان ته، چي په رامپور کي د مظهري خانقاه سرپرست و، کښلي دي:
"د دغه ځوان (فیض الله خان) په وجود کي د عالم ټولي ښېګڼي راټولي سوي دي
خدای جل جلاله دي دی په دین او دنیا کي لوړو درجو ته ورسوي، زما سلام ور ورسوه"[۸۷۲].

د نواب فیض الله خان په باب کښل سوي آثار:

۱. تاریخ فیض بخش[۸۷۳]: دا کتاب شیو پرشاد کښلی دئ. د روهیلکهنډ د پښتنو مشرانو
تاریخ دئ، چي پر روهیلکهنډ باندي د پښتنو د قبضې له ابتدا څخه را شروع او د لال
ډانګ پر معاهده باندي، چي په (۱۱۸۸ه. ق.) کال سوې ده، ختمېږي. شیو پرشاد د
نواب فیض الله خان د دربار له منسوبینو څخه و. په (۱۱۹۰ه. ق.) کال ئې دا کتاب د
کپتان کرپاترک په فرمایش وکیښ او د نواب فیض الله خان د نامه په نسبت ئې فیض
بخش نوم پر کښېښود. د دغه اثر پارسي متن په برټش موزیم کي په (۶۵۹۴) لمبر
خوندي دئ او انګرېزي ژباړه ئې "Charles Hamelton" په (۱۷۸۷ع) کال په لندن کي
خپره کړه. د دغي ژباړي نوم دا دئ:
"Historical Relation of the Origin Progress and Final Dissolution of the Rohilla Afghans"

---

[۸۷۲] میرزا مظهر جان جانان کے خطوط، ۱۲۵مخ.
[۸۷۳] د تاریخ فیض بخش په نامه یو بل کتاب هم سته، چي فیض آبادي کښلی دئ.

داود خان بړيڅ

نواب علي محمد خان روهيله
(د داود خان متبنی – ۳ شوال ۱۱۶۱ هـ. ق. مړ)

- عبدالله خان (۱۱۷۱هـ. ق. مړ)
  - غازی الدين
  - نصر الله خان (۸۷۴)
- فيض الله خان
  - محمد علي خان (۸۷۵)
  - حسن علي خان
  - فتح علي خان
  - نظام علي خان
  - يعقوب علي خان
  - قاسم علي خان
  - کريم الله خان
  - غلام محمد خان
- سعد الله خان (په ۱۱۴۸هـ. ق. کال زوکړی او په ۱۱۷۵هـ. ق. کال مړ) (حديقة الاقاليم، ۱۴۲ مخ او د دور اپړېدي تاريخ روهيلکهند ۴۴ مخ)
- مرتضی خان
- محمد يار خان "اسير"
  - احمد يار خان
- الٰه يار خان
  - مصطفٰی خان

---

(۸۷۴) نصر الله خان په (۱۲۱۴ هـ. ق.) کال و مړ. د نصر الله خان زوی نصرت الله خان نومېد.

(۸۷۵) د پلار تر مرګ فقط ۱۸ ورځي وروسته د (۱۲۰۹ هـ. ق.) کال د محرمي د مياشتي پر ۱۶ د خپل کشر ورور، غلام محمد خان په وسيله وواژه سو. د محمد علي خان لور د دلير خان له زويه څخه وه.

شاه پسند خان ساګزی

عبد الله خان ساګزی[۸۷٦] د افشار نادر په پښتني لښکر کي منصبدار و[۸۷۷]. په (۱۱٦۰ هـ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پښتنو د پاچهي له پاره انتخاب سو او کابینه ئې جوړوله، دی ئې "امیر لشکر[۸۷۸]" وټاکه او د شاه پسند خان[۸۷۹] په لقب ئې ونمانځه. د احمد شاه بابا د کتاب په ۱۷۹ مخ کي د امیر لشکر د عهدې په باب کښلي دي، چي د پایتخت د قواوو قوماندان "امیر لشکر" باله کېده.

نور الدین حسین خان چي د پاني پت د یوه مقدماتي جنګ په بیان کي د شاه پسند خان نوم ذکر کړی دئ، هلته ئې د ده رتبه قراول باشي کښلې ده[۸۸۰].

شاه پسند خان یو قوی الجثه او حسین الوجه ځوان و[۸۸۱] او د ده توریالي توب هر چا مانه. د "منوپور" په جنګ کي چي د (۱۱٦۱ هـ. ق.) کال د لومړي خور د میاشتي په دوه ویشتمه ورځ واقع سوی دئ، شاه پسند خان د کیڼ لاس د پوځ امیر و[۸۸۲].

په (۱۱٦۲ هـ. ق.) چي لومړی وار لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مشهد ونیو او د نیشاپور نیولو ته روان و، په دغه وخت کي ئې یو پوځ د شاه پسند خان په مشرۍ د مازندران د نیولو له پاره ولېږه، مګر دې پوځ د محمد حسن قاچار[۸۸۳] له پوځو څخه، چي د افشار نادر تر مرګ وروسته ئې پر مازندران قبضه کړې وه، ماتې وکړه او شاه پسند خان بیرته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه

---

[۸۷٦] د "Ahmad Shah Durrani" ۲٦۹ مخ.

[۸۷۷] تاریخ حسین شاهي (قلمي).

[۸۷۸] په هغه تاریخ احمد شاهي کي، چي د کابل په موزیم کي خوندي او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په عصر کي کښل سوی دئ، د شاه پسند خان لقب "میر آخورباشي" کښلی دئ. (آریانا مجله، ۱٦۸/۲٦۴ مخ)

[۸۷۹] شاه پسند خان د احمدشاهي دورې یو لقب و، (احمد شاه بابا، ۱۷۳ مخ).

[۸۸۰] احوال نجیب الدوله، ۱۵ مخ.

[۸۸۱] دولت درانیه، ۳۴ مخ.

[۸۸۲] په (۱۱٦۴ هـ. ق.) کال چي لقمان خان په کندهار کي یاغي سو او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ده په بغاوت خبر سو، له جلال آباده څخه ئې شاه پسند خان د ده ځبلو لره وګماره او شاه پسند خان دا کار په خورا جدیت اجرا کړ. (تاریخ احمد شاهي، ۱/۱۸٦-۱۹۱ مخونه، آریانا مجله، ۱۷۰/۲٦۴ مخ)

[۸۸۳] محمد حسن قاچار د قاچار قبیله، چي له نادر څخه د فتحعلي خان قاچار د وژلو په سبب خوابدې وه، د نادر تر مرګ وروسته پر ځان راټوله کړه او استرآباد ئې ونیو. محمد حسن قاچار د آقا محمد قاچار (۱۱۹۳-۱۲۱۱هـ.ق.) پلار و. آقا محمد خان قاچار د ایران د قاچاریه کورنۍ لومړی پاچا دئ(؟).

حضور ته راغی.

په ناسخ التواريخ کي د شاه پسند خان او محمد حسن خان جنګ په (۱۱۶۸هـ.ق.) کال ښوول سوی دئ او د شاه پسند خان د پوځ شمېر ئې پنځلس زره سپاره بللی دئ. زياته کړې ئې ده، چي محمد حسن خان له استرآباده څخه يو لښکر د محمد ولي خان قجر (قاچار) او د خپل ورور حسين خان په مشرۍ مقابلې ته وګماره. په سبزوار کي جنګ پېښ سو، پښتانه مشهد ته ستانه سول.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي په (۱۱۶۵هـ.ق.) کال دريمه پلا هندوستان ته ولاړ، دی ورسره او مير معين الملک، چي د (۱۱۶۵هـ.ق.) کال د دريمي خور د مياشتي د لومړۍ ورځي تر جنګ وروسته د عفوي غوښتلو له پاره احمدشاهي لښکر ته راغی، تر ټولو لومړی د شاه پسند خان خېمې ته ورغی او له دغه ځايه څخه د شاه ولي خان اشرف الوزراء په وسيله د پاچا په حضور ته بوتله سو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د خپل سلطنت په شپږم کال ژمی په پېښور کي تېر کړ او د هندوکش د شمالي سيمو د اېلولو په نيت چي له پېښوره راوخوځېد، په خيبر کي د لقمان خان خانخانان سدوزي په تمرد خبر سو، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وکيل و په کندهار کي، شاه پسند خان ئې له يوه تکړه پوځه سره د لقمان خان ځبلو او نيولو ته وګماره. پخپله هم کندهار ته پسی ورغی او د ترکستان اراده ئې پرېښووله.

پنځمه پلا چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه هندوستان ته په (۱۱۷۳هـ.ق.) کال ولاړ او ترسرهند ورتېر سو، حال ورته راغی چي د "تراوړي" په ډاګ کي د پښتنو او مرهټو سرلاري پوځونه سره مخامخ سوي دي. په دغه ورځ (د ۱۱۷۳هـ ق کال د دريمي خور ځلرمه) لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د شاه پسند خان تر مشرتوب لاندي څلور زره سپاره د سردار جان خان (د سرلاري پوځ مشر) په مرسته ورولېږل. د شاه پسند خان په ور رسېدلو سره د مرهټو سرلاري پوځ تر شا سو.

نورالدين حسين خان د دې جنګ تفصيل داسي کښلی دئ:

د مرهټې پوځونو مشر د تا پټېل له ګنجپورې څخه د بهورتيا نومي مرهټه جرنيل تر مشرتابه لاندي پنځه زره وتلي سپاره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د لښکرو د قراول پوځ مخنيوي لره وګماره. عمادالملک يو زر مغل سپاره د محمد سعيد خان قبچاق په مشرۍ ورسره کړل.

دغو شپږو زرو سپرو چي د پښتنو پر سرلاري پوځ بريد وکړ، پښتانه ورو ورو په جنګ جنګ کي لړ تر شا کېدل، په دې وخت کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خوا شاه پسند خان قراول باشي له څلورو زرو سپرو سره، د قراول پوځ په مرسته راورسېدئ. د شاه پسند خان د لښکرو بيرغونه چي ښکاره سول، مغولو سپاهيانو چي څو پلا د درانيو پښتنو جنګونه ليدلي وو، ميدان پرېښوو.

د شاه پسند خان پوځ په يوه پلا د مرهټو پر پوځ ورتوی سو او د توپک باړئې پر وچلاوه. په دې پسې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له حضوره يو بل پوځ دستي راورسېد. دې پوځ هم له بل اړخه پر مرهټو کفارو بريد وکړ. مرهټه جرنيل "بهورتيا" له مرهټه لښکرو سره په ډېر بد حال وتښتېد او څلورسوه مړي ئې پر ميدان پاته سول. ټپيان هم ډېر وو، درنې وسلې او مالونه ئې هم پښتنو ألجه

کړل. شاه پسند خان د مرهټو په سوو سرونه ورسره یوووړل او د پښتنو لښکرو په شاهي بازار کي ئې کوته کړل[۸۸۴].

د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال د رجب په میاشت کي، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته د "گنگادهر ایشونت تاتیه" مرهټه د پوځونو څرک ولگېد، چي غواړي له سکندر آباد څخه د هغې خزانې د لوټلو له پاره تر گنگا پوري وزي، چي د نجیب الدوله له علاقې څخه احمد شاهي خزانې ته راوړه کېدله، دستي ئې یو پوځ د شاه پسند خان، سردار جهانخان او قلندر خان په مشرۍ پسي ولېږه. دې پوځ د "گنگادهر" پوځونه مات کړه او د ملهار راو هولکر لوی پوځ هم په داسي حال کي ځني وتښتېد، چي فقط درې سوه سپاره ئې د آس پر لڅو شاوو باندي په تېښته ژوندي ځني خلاص سول.

د احوال نجیب الدوله په کتاب کي کښلي دي:

جنکو راو مرهټه جرنیل چي د براري له جنگه څخه ژوندی، مگر ټپي وتښتېد، د مرهټو یو بل پوځ ئې د مالوې د صوبه دار ملهار راو هولکر تر مشرتابه لاندي په مرسته راغی او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو مقابله به ئې په قراولي شکل کوله او چي نکر ته نژدې د دات په غرو کي ئې ځای و. د نجیب الدوله په لارښوونه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه په پسې وو. پای ته د مرهټو لښکرو د ډهلي (شاه جهان آباد) خوا ته مخه وکړله. تر جمنا سیند پوري وتل او ملکونه ئې لوټل. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځ هم په پسې و. په سکندره کي د مرهټو هراول پوځ، چي د "سیتها جي کهریړه" تر مشرۍ لاندي و، د پښتنو له لښکرو سره مخامخ سو. په دې جنگ کي سیتها جي له اتو زرو سپرو سره وواژه سو او زوی ئې ژوندی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو په لاس ورغی.

د سیر المتاخرین په ۹۱۰ مخ کي کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له نارنول څخه شاه پسند خان او قلندر خان له پنځلس زرو سپرو سره د هولکر ځبلو ته وگمارل. دوی له نارنوله څخه شاه جهان آباد (ډهلي) ته چي اویا کروهه لار ده، په یوه شبانه روز کي ځان ورساوه. د ورځي ئې په ډهلي کي آرام وکړ، په دغه شپه کي تر جمنا پوري وتل، سپېده چاود (صبح صادق) سکندرې ته ورسېدل او پر هولکر ئې برید وکړ. سکندره له ډهلي څخه شل کروهه لیري په انترېد کي، د جمنا سیند شرقي خوا ته واقع ده.

په گنجپوره کي د عبد الصمد خان محمدزي تر شهادت (د ۱۱۷۴ هـ ق کال د لومړۍ خور لومړۍ ورځ) وروسته، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر جمنا ورپوري ووت، نجیب الدوله ئې وپوښتېد:

"د لځ کونو مرهټو پوځ چي د جمنا غاړه ئې ساتله، چیري دئ؟".

نجیب الدوله جواب ورکړ، چي شپږ کروهه له دغه ځایه څخه لیري دئ. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له دغه ځایه څخه په هغه آن یو څلور زری سرلاړ پوځ د شاه پسند خان قراول باشي په

(۸۸۴) احوال نجیب الدوله، ۱۵ مخ.

مشري ولېږه او ورته وئې ویل:

"ګوره په دغو مره احتیاط به ورځې، چي یو تن هم در څخه ژوندی ولاړ نه سي!".

شاه پسند خان چي د رهنمايي له پاره د نجيب الدوله څه سپاهيان هم ورسره وو، په دوو ساعتو کي ځان د غليم سرلاړ پوځ ته ورساوه او په سوني پت کي، چي له ډهلي څخه شل کروهه ليري دئ، د لومړۍ خور په اووه لسمه ورځ، ناڅاپه د مرهټو پر هغو زرو تنو سپرو بريد وکړ، چي سدا شيوراو بهاو د پښتنو سرلاړ د مخنيوي او د جمنا د غاړي ساتني لره اچولي وو. نور الدين حسين خان کښلي دي، چي د شاه پسند خان د پوځ په ليدلو د مرهټو وار و پار خطا سو، چي دوی تېښتي ته ځانونه جوړول، شاه پسند سره د لښکر ور ورسېد او په لومړۍ حمله ئې د توپکو باړ پر وچلاوه، بيائې توري پسي راواېستلې له څلورو خواوو پر راتوی سول. په دې حمله کي ئې ټول مرهټه ووژل او هيڅوک ځني خلاص نسول(۸۸۵). شپږ ساعته وروسته ئې د مرهټو زر سره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته کوټه کړل.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې پسي ور ورسېد، د "سمبالک" رباط ته نژدې ئې په يوه ارت ډاګ کښي واړول. سپاهيانو لا خپلي خېمې نه وې درولي، خبر راغی چي د غليم پنځه زره سپاره د سمبالک رباط په شا وخوا کي راغونډ سوي دي او ژر به پر احمدشاهي پوځو بريد وکړي، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه بيرته پوځ ته د تيارسئ حکم ورکړ او شاه پسند خان ئې له څلورو زرو سپرو سره د دغو مرهټو د ځبلو له پاره وګماره. شاه پسند خان د سمبالک پر ځنګله باندي، چي د مرهټو مأمن و، بريد وکړ او ځنګل ئې د کفارو په وينو ورنګاوه. مرهټو ماتې وکړه او د شاه پسند خان هر سپاره دوې دوې ککرۍ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته له ځانه سره راوړې(۸۸۶).

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د لومړۍ خور د مياشتي په درويشتمه ورځ د پاني پت په ميدان کي د مرهټو پوځونو په مقابل کي واړول، درې پنځه زري پوځونه ئې وګمارل، چي د شپې له خوا به د مرهټو پوځ ته ځانونه له درو خواوو(۸۸۷) څخه، تر ممکنه حده ورنژدې کوئ، هم به د شبخون مخه نيسئ او هم به له دباندي سره د مرهټو د پوځ ارتباط قطعه کوئ. له دغو پنځه زريو پوځو څخه يو پوځ د شاه پسند خان تر مشري لاندي و(۸۸۸).

د پاني پت په لوی جنګ کي، چي د څلرمي خور د مياشتي په شپږمه ورځ پېښ سوی دئ، شاه پسند خان له پنځو زرو سپرو سره په کيڼ غوړي کي ولاړ وو او د نجيب الدوله او شجاع

---

(۸۸۵) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۴۹ – ۲۵۰ مخونه.

(۸۸۶) دولت درانيه، ۳۴ مخ او تاريخ حسين شاهي. د ماد هوجي سيندهيا په ۲۹ مخ کي ددې واقعې تاريخ (۲۶ اکتوبر ۱۷۶۰ع) کښلی دئ.

(۸۸۷) يوې خوا ته ئې د جمنا سيند و.

(۸۸۸) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۲ مخ.

الدوله پوځونه، چي ګډ شمېر ئې اتلس نيم زرو ته رسېدئ او هغو هم په کينې غوړي کي د شاه پسند خان او شاه وليخان، چي د لښکر په منځ کي ولاړ وو، د پوځونو تر منځ ځای درلود، هم دده تر اداري لاندي وو. ده او نجيب الدوله د ملهار راو هولکر او جنکو راو پر پوځو بريد وکړ او په هغو ئې کوټي وايستلې. ملهار ځني وتښتېد او جنکو ټپي سو.

د پاني پت تر سوبي څو ورځي وروسته، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دهلي ته ولاړ، هلته ئې وا اورېدل چي عبد الخالق خان سدوزي(۸۸۹) په ګرشک کي د خپلواکۍ نغارې وهلي دي، سردار دلاور خان ساګزی او ذله بيګ خان پوپلزی(۸۹۰) ئې هم ملګري سوي دي. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دستي شاه پسند خان د دې بغاوت د ځبلو له پاره افغانستان ته ولېږه، مګر تر څو چي ده کندهار ته ځان رساوه، عبد الخالق خان کندهار ونيو او شهزاده سليمان ئې، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په غياب کي نائب السلطنه و، پسي واخيست. مګر شاه پسند خان چي کندهار ته ورسېد، د کندهار مشران حتی چي دياغيانو سرکرده ګان ذله بيګ خان(۸۹۱) او سردار دلاور خان ئې هم مخي ته راووتل او شاه پسند خان بې جنګه کندهار بيرته ونيو. د کندهار د نيولو خبر شاه پسند خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته ولېږه او دا زېری هغه وخت لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته ورسېد، چي په پېښور کي ئې اړولي و(۸۹۲).

د شاه پسند خان ژوند تر (۱۱۸۱ هـ. ق.) کال پوري يقيني دئ او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره د هندوستان په اتمه پلا سفر کي ملګری و. د حيات حافظ رحمت خان په ۱۰۴ مخ او د دولت درانيه په ۳۴ مخ کي، چي شاه پسند خان د پاني پت په لوی جنګ (۱۱۷۴ هـ. ق.) کي شهيد ښوول سوی دئ، غالباً اشتباه معلومېږي.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د زماني شاعر حبيب الله د شاه پسند خان ساګزي په ستاينه کي ويلي دي:

---

(۸۸۹) عبد الخالق خان سدوزی د "Ahmad Shah Durrani" په ۲۶۸ مخ کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وراره يا خوريی ښوول سوی دئ او د تيمورشاه دراني په ۶۹ مخ کي ليکلي دي، چي عبد الخالق سدوزي اکا ويل. دغه عبد الخالق خان د تيمورشاه د پاچهی په دوهم کال ياغي سو، کندهار ئې ونيو او مخ پر کابل ئې پوځونه وخوځول، شش ګاو ته نژدې جنګ وسو، عبد الخالق ونيوه سو او سترګي ئې ځني وکښلي سوې.

(۸۹۰) دا دوه سرداران تر هغو چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په پاني پت کي اړولي و، ورسره وو. د پاني پت له ميدانه څخه تر جنګ پخوا کندهار ته وتښتېدل او د عبد الخالق خان مله سول. د "Ahmad Shah Durrani" په ۲۶۸ مخ کي ليکلي دي: د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په شپاړسمه چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځونو ته د باګپت (باغپت) پر ګدر باندي امر ورکړ، چي تر جمنا پوري ووزي. دغو دوو سردارانو ته وکړه لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي د دوی تېه وليدله، خپل آس ئې په اوبو ورګډ کړ او روغ رمې پوري ووت. تر دې واقعې وروسته لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه دوی ته په ښه سترګه نه کتل. دوی هم له شرمه افغانستان ته وتښتېدل او هلته ئې عبد الخالق پورته کړ.

(۸۹۱) ذله بيګ خان د کندهار تر فتحي وروسته د شهزاده سليمان په حکم وواژه سو.

(۸۹۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۳۱۰-۳۱۱ مخونه.

شاه پسند خان څه عجب خان دئ، هر غليم ورنه لړزان دئ
باعزت بلند مکان دئ، آه ارمان دئ کندهاره!
شه بری ئې دئ له مخه، يخوي په هر چا سخه
خپله خوا ئې کړه په يخه، آه ارمان دئ کندهاره!
خدای دي ورکا ډېر نعمت، مستقيم شه په راحت
با غيرت با عزت، آه ارمان دئ کندهاره!

(د ديوان ٥٣ مخ)

نواب حاجي عطايي خان بامېزی

عطايي خان بامېزی، چي د احمد شاهي درانۍ پاچهۍ لوی منصبدار و، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د لومړي وزير اشرف الوزراء شاه وليخان وراره کېدئ. دا نوم د دولت درانيه په ٣٦ او د حيات حافظ رحمت خان په ٩٥ مخ کي "حاجي عطايي خان" او د "Ahmad Shah Durrani" په ١٩١ مخ کي "سردار حاجي عطايي خان" ضبط دئ. د پښتو احمد شاهي شهنامې په ١٦٣ مخ کي د "نواب" لقب هم ورسره ستله. د شهنامې ناظم وايي:

چي نواب عطايي خان
اوس روان شه په ميدان

د سراج التواريخ د لومړي ټوک په ٢٤ مخ کي دا نوم "عطاکي خان" کښل سوی دئ. نواب حاجي عطايي خان پخپل وخت کي د کندهار له نامتو غښتلو څخه شمېرل کېدئ. د حيات حافظ رحمت خان په ١٩٥ او ١٠٤ مخونو کي د ده شخصيت داسي ستايل سوی دئ:
"حاجي عطايي خان ډېر رښتين او سرتېر ځوان و او پخپل وخت کي د ده زړه ورتوب او مېړانه منلې وه".

له بده مرغه هغه ماخذونه چي زموږ په لاس کي ستله، ددې توريالي پښتانه سردار په باب زيات معلومات نسي راکولای او د ژوند لومړني حالات ئې ډېر پټ پاته دي. په موجودو ماخذونو کي د دغه توريالي سردار نوم تر ټولو دمخه د امرتسر په جنګ کي وينو.

د امرتسر جنګ:

د ډهلي او متهرا تر نيولو وروسته، چي غازي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د (١١٧٠ ه.ق.) کال د برات په مياشت کي له لاهوره څخه کندهار ته ستنېدئ، د لاهور حکومت ئې خپل

زوی شهزاده تیمور ته وسپاره او نامتو سپهسالار سردار جهان خان ئې د مدار المهام او وکیل په توګه ورسره پرېښود.

حاجي عطايي خان هم په دغه وخت کي د یوه پښتانه منصبدار په حیث په پنجاب کي لیدل کېږي. ګنډا سنګه د احمدشاه دراني په ۱۹۲ مخ کي لیکلي دي:

د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال په شروع کي حاجي عطايي خان د پښتانه سپهسالار سردار جان خان په امر په امرتسر کي پر سکهانو برید وکړ. په دې جنګ کي پخپله سردار جان خان هم ګډون کړی و. د توريالي عطايي خان توري په دغه جنګ کي پر ډېرو سکهانو میندي بوري کړلې او سکهان په خورا بده ورځ وتښتېدل. تر دې سوبي وروسته د حاجي عطايي خان پوځ څو ورځي نور هم په امرتسر کي پاته سو.

د سنده جنګ:

د (۱۱۷۱هـ. ق.) کال د برات په میاشت کي چي مرهټو له پښتنو څخه پنجاب ونیوئ، په دغه وخت کي یا تر دغه څه موده دمخه، حاجي عطايي خان کندهار ته تللی و. د (۱۱۷۰هـ. ق.) کال پای ته د سنده ځیني امیران د سنده محلي حاکم محمد مراد یاب ته پورته سول او دده پر ځای ئې د (۱۱۷۰هـ. ق.) کال د ذی الحجې د میاشتي په دیرلسمه د ده ورور غلام شاه د سنده حکمران وټاکه. محمد مراد یاب خان، ځکه چي د کندهار دربار ته اطاعت درلود او بل د ده ورور عطر خان[۸۹۳]، چي په احمدشاهي دربار کي د برمتې په توګه اوسېدئ، هم د غلام شاه پر ضد له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه څخه مرسته وغوښتله[۸۹۴]، نو لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یو ګړندی پوځ د عطر خان په مرسته سنده ته ولېږه. ددغه پوځ مشرتوب د حاجي عطايي خان پر غاړه و.

د بهاولپور محلي حاکم بهادر خان داودپوتره هم د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا وګماره سو، چي د عطر خان په مرسته خپل پوځونه سنده ته وخوځوي.

د حاجي عطايي خان او داودپوتره پوځونه چي سنده ته ورسېدل، د (۱۱۷۲هـ. ق.) کال تر دوهمي خور وروسته، د سنده په "کاکچیکان" نومي ځای کي سخت جنګ وسو[۸۹۵] او غلام شاه ئې دې ته اړ یوست، چي د صلحي او روغي غوښتنه وړاندي کړي. په روغه کي د سنده یوه دریمه

---

[۸۹۳] عطر خان د خدايار خان دریم زوی و. مراد یاب خان او غلام شاه تر ده مشران وو. افشار نادر چي د (۱۱۵۳ هـ. ق.) کال د محرمي په یوولسمه له لاړکانې (سنده) څخه د ایران په نیت وخوځېدئ او له خدايار خان څخه ئې یو کروړ روپۍ واخیستلې او شاه قلي خان خطاب ئې ورکړ، نو ئې د ده دوه زامن مراد یاب خان او غلام شاه خان هم ورسره برمته بوتلل. د خدايار خان زامن د نادر تر مرګ وروسته بیرته راخوشي سول.

[۸۹۴] محمد مراد یاب، غلام شاه او عطر خان د سنده د حکمران خدايار نور محمد خان زامن وو، نور محمد خان د (۱۱۶۷هـ. ق.) کال د صفري د میاشتي په دوولسمه ومړ او محمد مراد یاب ئې پر ځای کښېناست.
(د تازه نوای معارک تعلیقات، ۷۸۲-۷۸۶ مخونه)

[۸۹۵] د تحفة الکرام په ۱۱۴/۳ مخ کي لیکلي دي: عطر خان بکمک عطایی خان نام امیری متوجه سند گردید. بندگان عالی غلام شاه بمصلحت وقت در ماه ربیع الثانی ۱۱۷۲ هـ ق بدیره ..... و تا رمضان بدین و تیره گذشت.

مخکه غلام شاه ته پرېښوو له سوه او دوې درېیمي ملک د احمدشاهي پېرزویني له برکته، د عطر خان تر اداري لاندې سو. تر روغي وروسته حاجي عطایي خان کندهار ستون سو. دغه قصه عظیم الدین تتهوي (۱۱۶۳-۱۲۲۹ هـ. ق.) داسي نظم کړېده:

خدایار چون جان بجان بخش داد — قدم در گلستان جنت نهاد
محمد مراد آن مهین پور او — بجایش نشسته بدستور او

.... — ....

نه کار آزمایان برش باریاب — نه حاجت وران بر درش کاریاب
همان راه رفتند عمال ملک — زبون گشت از دست شان حال ملک
برین وضع چون خلق آزرده حال — بنالید از غفلت او دو سال
اخش آنکه مهر از برادر نداشت — ز بی قدریش قدر چاکر نداشت
نشاندند بر مسند سروری — فزودش خدا پایه برتری
غلام شاه آن سرور خوش خطاب — که از مسکنت بود حالش خراب
چو بنشست بر مسند خسروی — شد از قوت بخت حکمش قوی

.... — ....

اخ دیگرش عطر خان نام بود — که سودای ملکش بسر خام بود
بیاری و مقصودهٔ چند سر — بجنگ برادر ببسته کمر
بشد بر در شاه یاری طلب — شه ملک احمد شه افغان نسب
معزز شد آنجا بانعام ملک — بهین خلافتش داد ارقام ملک
خوانین چند از سران سپاه — مقرر شد از حضرت پادشاه
که باشند تا سند همراه او — نشانند تا نقش دلخواه او
رقم گشت صادر بداوریان — که باشند بر حکم شه جانفشان
باین میهمان میزبانی کنند — بفرمان شه جانفشانی کنند
"بهادر" بنام آنکه یک گوش داشت — دلش از تهور بسی جوش داشت
بفوج گران همرهش شد سوار — سپاهش چو او عاشق کارزار
ازین جا غلام شاه آن نامور — بیاری میر و دیگر چند سر
بسان پیشوا تا آباره شتافت — سوی خرمن برق پاره شتافت
چو افواج با هم مقابل شدند — یلان از دو جانب مجادل شدند
بیامد بهادر به تیغ و سنان — بلاف و بژاوه کشاده زبان

.... — ....

درین عرصه فوج عدو یافت دست — درین فوج گل کرد رنگ شکست
بماند این طرف یکصد و بیست کس — دگر جمله جستند ره پیش و پس

(د فتحنامه عظیم تتوی ۲۹-۳۰-۳۱ مخونه)

د جلال آباد جنګ:

د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال دلومړۍ خور د میاشتي په درویشتمه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خپلو پوځونو سره د پاني پت په ډاګ کي واړول او له مرهټو سره ئې، چي په مقابل کي ورته پراته وو، د وروستي او فیصله کن جنګ ترتیبات نیول. په دغه وخت کي حاجي عطايي خان له کندهاره څخه له خپل سپاره پوځه سره، د غزا په نیت، د پاني پت لور ته وخوځېدئ. په لاره کي ئې دلاهور پښتون حاکم کریمداد خان، چي د (۱۱۷۳ هـ. ق.) کال دلومړۍ خور په میاشت کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د لاهور حاکم مقرر سوی و، هم مل سو او د (۱۱۷۴هـ. ق.) کال د درېیمي خور د میاشتي په شروع کي، له پنځو زرو سپرو سره د پاني پت میدان ته ورسېدل او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سول.

په سبا ئې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته خبر ورسېد، چي د مرهټو یو شل زري یا دېرش زري[۸۹۶] پوځ، د مرهټو د پیشوا له خوا څخه د اټاوې د حاکم "ګوبند پنډت[۸۹۷]" په مشرتوب ګمارل سوی دئ، چي پر روهیلکهنډ[۸۹۸] یرغل وکړي او د روهیلیو پښتنو کورونه ور ولوټي او اولادونه ئې بندیان کړي[۸۹۹]. دې آوازې هغه روهیلي پښتانه غازیان، چي له روهیلکهنډ څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په مرسته، د غزا په نیت، د پاني پت میدان ته راغلي وو، ډېر پرېشان کړل او لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم سمدستي هغه تازه دمه څلور زري[۹۰۰] سپور پوځ، چي نوی له کندهاره رارسېدلی و، د حاجي عطايي خان او کریمداد خان په مشرتوب، د ګوبند پنډت[۹۰۱] د ځبلو له پاره وګماره. د روهیلکهنډ د مشر، درانه پښتانه حافظ رحمت خان بړېڅي د زوی عنایت خان له پوځه څخه پنځه سوه[۹۰۲] سپاره د لاربښووني له پاره ورسره مله سول او د نجیب الدوله یوسفزي د پوځ یو افسر، چي کریم خان روهیله نومېد، هم ورسره مل سو. د اشنغر د سیمي د لوی زمیندار عبد الصمد خان محمدزي زوی هم ورسره سو[۹۰۳].

حاجي عطايي خان خپل پوځ د درېیمي خور په شپږمه ورځ د باګپت پر ګدر باندي تر جمنا

---

(۸۹۶) سلطان التواریخ، ۱۶۹ مخ.

(۸۹۷) په سلطان التواریخ کي لیکلي دي، چي ګوبند راو د کالپي او ساګر مرهټي حاکم و.

(۸۹۸) د ډهلي ختیز لور ته یوه پراخه سیمه د ګنګا او جمنا رودونو تر منځ پرته ده، چي پخوا انتربید نومېدله. کله چي هند ته تللي پښتانه هلته په خورا ډېربنت سره مېشت سول روهیلکهنډ ونومه سو. دا ځکه چي د مغلو د پاچهۍ په منځنۍ دوره کي هندیانو پښتانه روهیله بلل.

(۸۹۹) مګر په تاریخ اوده (۲۰۷/۱ مخ) کي لیکلي دي، چي ګوبند پنډت د بهاو لښکرو ته رسد او خزانه رسوله.

(۹۰۰) د سلطان التواریخ په ۱۶۹ مخ کي د پښتنو د دغه پوځ شمېر یو زرو اته سوه سپاره ښوول سوی دئ.

(۹۰۱) د حدیقة الاقالیم په ۱۶۹ مخ کي کښلي دي، چي: "اوس چي (۱۱۹۵هـ. ق.) کال دئ، ګنګادهر مرهټه د جالون او کالپي واکمن دئ، دی د هغه ګوبند پنډت زوی دئ، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پوځونو له لاسه وواژه سو.

(۹۰۲) وګ: تاریخ اوده، ۲۰۷/۱ مخ.

(۹۰۳) خزانه عامره، ۱۰۷ مخ.

پوري پوست. ماښام ئې ځان شاهدرې ته، چي د ډهلي ښار شرقي لور ته دوه کروهه ليري پرته ده، ورساوه او د دغي سيمي مرهټه ساتونکي ئې د هغه ځای له حاکم سره ووژل. سبا سهار وختي (د دريمي خور د مياشتي په اوومه ورځ) ئې په غازي آباد کي، چي د ډهلي په شپږ کروهي کي واقع دی، څه مرهټه په تېر کړل او سمدستي ئې جلال آباد نومي ځای ته، چي د ډهلي په دوولس کروهي کي واقع دئ او ګوبند پنډت مرهټه له خپلو لښکرو سره هلته اړولي و، ځان ورساوه او ناڅاپه د مرهټو پر لښکر ورتوی سول. په دې جنګ کي ګوبند پنډت او نور ډېر مرهټه سرداران ووژل سول. مرهټو ماتې وکړه او اتلس زره (۱۸۰۰۰) مړي ئې پر ميدان پرېښوول[۹۰۴].

تر دغي سوبي وروسته سبا مازديګر (د دريمي خور د مياشتي اتمه ورځ) حاجي عطايي خان بيرته ځان پاني پت ته ورساوه او اتلس زره ککرۍ ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور کي کوټه کړلې او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خوا ونازاوه سو.

يو مشاهد وايي:

"د حاجي عطايي خان پوځ چي د ګوبند پنډت تر وژلو او د جلال آباد تر سوبي وروسته، پاني پت ته د ستنېدلو په لاره کي تر جمنا پوري ووت، زه ئې ننداري ته ولاړ وم. ما وليدل، چي د هر ښتانه سپاره په فتراک پوري، دوه درې سرونه ځوړند وو".

د عماد السعادت په ۸۲ مخ کي کښلي دي:

"حاجي عطايي خان چي له جلال آباده پاني پت ته ستنېدئ، د هر ښتانه سپاهي په فتراک ثلور ثلور سرونه ځړېدل، دوه يوې خوا ته او دوه بلي خوا ته او ځينو لا يو يو سر په نيزه هم پېيلی و".

حافظ مرغُزي د احمد شاهي شهنامې په ۱۶۲ او ۱۶۳ مخونو کي د دغي سوبي بيان داسي کړی دئ:

چه پادشاه که چا خبر	د "ګوبند" راغی لښکر
په دا لوري را ښکاره	د ګنګا که ننداره
د پادشاه شه فوج تيار	ثلور زره وو په شمار
هزاري آسونه تېز	چست چالاک په وخت د خيز
چه نواب عطايي خان	اوس روان شه په ميدان
بهادر په ميدان ډېر	په دا جنګ تر حده تېر
عجب جوړ سو په دا جنګ	د اسلام په نام و ننګ
فوج روان شه په دا لار	د دښمن د سترګو خار

[۹۰۴] د سير المتاخرين په ۹۱۳ مخ کي کښلي دي: "ګوبند پنډت له لسو زرو سپرو، خزانې او ازوغ سره له اټاوې څخه راروان و، د شاه جهان آباد (ډهلي) پر برابري د شاهدرې او روهيلکهنډ د لوټ له پاره وګرزېد. انتربيد چي ئې ولوټه د ګنجپورې تر ګدر پوري ووت او ځان ئې د بهاو پوځونو ته ورسوی".

تـرې ګـوبـنـد نـه و خـبـر
چـه پـرې ورځ شـوه د مـحشـر
پـرې د پـاسـه نـاګـهـانـه
د بـلا وه لـه آسـمـانـه
بـلا نـه و دا قـضـا وه
پـرې راغـلـې لـه سـمـا وه
پـه میدان کښې شوه حصار
د ګـوبـنـد تـمـام کـفـار
وقـت ئې نـه وو د مـقـال
تـمـام بـنـد د مـرګ پـه جـال
پـه شـمـشـیر پـولاد خـنـجـر
د ګـوبـنـد تـمـام لښـکـر
پـه مـیـدان زیـر و زبـر شـه
ابـدي ځـای ئې سـقـر شـه
کـه صـغـیر و کـه کـبـیـر
تـمـامي پـه مـرګ اسـیـر

د سیر المتاخرین په ۹۱۳ مخ کي د دغي سوبي تاریخ د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د درېیمي خورد میاشتي ۲۹ ورځ کښلې ده.

د پاني پت لوی جنګ:

د پاني پت لوی او تاریخي جنګ، چي د پښتنو توریالیو د سرتېرۍ او اسلام دوستۍ یو ستر یادګار او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یوه تر ټولو لویه او د قدر وړ کارنامه ده، د (۱۱۷۴ هـ. ق.) کال د څلرمي خورد میاشتي په اوومه ورځ پېښ سوی دئ.

په دې جنګ کي د حافظ رحمت خان برېڅي توریالي زوی، عنایت الله خان له خپل پوځ سره د غلیم پر لښکر مخامخ ورو ځغستل او په ډېره مېړانه سره د غلیم د لښکر په منځ ورننه ووت. مرهټه پوځونه له هري خوا پر راوڅرخېدل او د بیرته راستنېدلو ټولي لاري، چي ئې پر وتړلې، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د غازیانو د ټولو پوځونو اداره ئې په لاس کي وه، د دې خبر په اورېدلو سره ئې سمدستي توریالی حاجي عطایي خان وګماره، چي له خپلي رسالې سره د ننګیالي عنایت خان مرستي ته ځان ورسوي او د مرهټو پوځونو په ناپایه دریاب کي، د عنایت خان غوندي بې بها مرغلري په موندلو پسي غوټې ووهي. توریالي حاجي عطایي خان د امر په اورېدلو سره، په ډېره بېړه او اشتیاق پر مرهټو کفارو برید وکړ او د غلیم په پوځ زغرد ورننه ووت.

توریالي عطایي خان د اسلام د ننګي او عنایت خان برېڅي د مرستي او خلاصون له پاره هغه توري ووهلې، چي د هغه وخت د مورخینو په شهادت، د رستم او افراسیاب کارنامې د هلکو بازۍ ورته ایسېدلې. پای ته یوه ګولۍ پر ونښتله او د شهادت کټوری ئې پر سر واړاوه[۹۰۵].

په احمد شاهي شهنامه کي د حاجي عطایي خان د توري او مېړاني ستاینه او د شهادت ذکر داسي سوی دئ:

---

[۹۰۵] دولت درانیه، ۴۰ مخ.

عطايي په يوه لور نمودار شه په آس سور
د اسلام راغى په ننگ پروا نه سته په دا جنگ
چه حاجي وهلې توري په گواره[۹۰۶] شوې ميندي بوري
و دى جنگ ته ديوانه تصدق شو شهانه

(احمدشاهي شهنامه، ۱۷۶مخ)

امام الدين په حسين شاهي نومي تاريخ کي زياته کړېده، چي پښتنو غازيانو د حاجي عطايي خان مړی پر آس واچاوه او خپل لښکر ته ئې ورساوه.

دې ننگيالي شهيد له وطنه ډېر ليري، د پاني پت دشهيدانو په لويه هديره کي د ځان له پاره ځاي کور غوره کړ. دى پخپله وطن ته راستون نه سو، مگر د غيرت، توري او مېړاني قصې ئې وطن ته راورسېدلې او ترا وسه پوري ئې قام په توره او مېړانه فخر کوي او وايي:

تل تر تله په ښه نوم پايي ښاغلي

مراد خان پوپلزی

مراد خان د انزله خان زوی په خټه قلندرزی پوپلزی د احمدشاهي دورې له اميرانو څخه و[۹۰۷]. د احمدشاه دراني په ۱۹۶ مخ کي کښلي دي، چي مراد خان (؟) د (۱۱۷۰ه.ق.) کال په حدودو کي د ملتان نائب الحکومه و. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي د (۱۱۷۰ه.ق.) کال د برات په مياشت کي له لاهوره څخه کندهار ته ستنېدئ، ده ته ئې وويل چي د سکهانو د ځبلو او په پنجاب کي د امنيت د تأمين له پاره به په لسو زرو سپرو سره د پنجاب د مدار المهام سپهسالار سردار جان خان مرسته کوې. آدينه بيگ چي په جالندهر کي ياغي سو، سپهسالار دی راوغوښت او دی هم له لسو زرو سپرو سره د هغه په مرسته راغی. سردار جان خان د لاهور پوځ هم ورسره مل کړ او د ټول پوځ مشرتوب او د جالندهر دوآبې حکومت ئې ده ته ورکړ او سربلند خان و سرفرازخان د معاونينو په حيث ورسره کړل سول. آدينه بيگ له پنځه ويشتو زرو سکهانو او مسلمانانو سپاهيانو سره، د ده د مخنيوي له پاره راووت او د شرقي پنجاب "مهيلپور" ته نژدې ورسره مخامخ سو. سخت جنگ وسو، سربلند خان سدوزی په دې جنگ

---

[۹۰۶] گوار = صحرايان: دلته کنايه ده له مرهټو څخه.

[۹۰۷] وک: د تيمورشاه دراني، ۲۲ مخ.

کي شهيد سو. پښتنو ماتې وکړه او مراد خان او سرفراز خان لاهور ته مخ ونيو.

سردار جان خان چي دا واورېدل، د ټينګولو په نيامت ئې مخي ته راووت او په تالاب شمشير خان کي ورسره مخامخ سو او د ده د ماتي په اثر دومره ورته دردېدلی و، چي د خلکو په مخ کي ئې په شلاخه وواهه[٩٠٨].

احمدشاه بټاله نومي سړي په تاريخ هندوستان کي، د مراد خان ددې ماتي په نسبت کښلي دي، چي مراد خان د شاه ولي خان طرفدار و او شاه وليخان و سردار جان خان په خپلو منځو کي اختلاف درلود، ځکه چي آدينه بيګ د شاه ولي خان په تحريک ياغی سوی و، نو مراد خان د ده ځبلو ته زړه ښه نه کړ. مګر نظام الدين عشرت بيا په پاړسو احمدشاهي شهنامه کي د دې ماتي سبب د مراد خان او سرفراز خان مخالفت ښوولی دئ.

مراد خان د پاني پت په ستر او تاريخي جنګ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه مل و.

له يوه احمدشاهي فرمانه معلومېږي، چي په (١١٨٠ هـ. ق.) کال ئې د کندهار د احمدشاهي ښار د رئيس تعميرات حيثيت درلود او د کلا د جوړولو ټول اختيارات ده ته سپارل سوي وو. د تيمورشاه په زمانه کي ئې هم ښه اعتبار په نصيب و.

د زيب تاريخها په اووم باب کي کښلي دي:

په (١١٨٦هـ. ق.) کال چي تيمورشاه په کندهار کي پر تخت کښېنوست، سبائې د کندهار حاکم مراد خان ته امر وکړ، چي شهزاده سکندر، شهزاده پروېز او سردار جان خان ته (چي په کابل کي وو) خطونه وليکئ او دربار ته ئې راوغواړئ. د خطو د رسولو کار هم مراد خان ته وسپاره سو او مراد خان مخ پر کابل وخوځېد.

د تيمورشاهي دورې په مهر کي ئې ليکلي و:

صد شکر کانچه بود مرا مطلب و مراد
دولت تيمورشاه کامم داد[٩٠٩]

د کابل مرادخاني چي د کابل د سيند شرقي لور ته واقع ده، دغه مراد خان ته منسوبه ده او اوس ئې لا هم د لمسيو کورونه هلته سته.

---

[٩٠٨] د "Ahmad Shah Durrani" ١٩٨ مخ.

[٩٠٩] د درة الزمان په ٣٦ مخ کي دا بيت دغسی ليکل سوی دئ، مګر وروستی مصرع ئې د پر نقص لري.

برخوردار خان اڅکزی

د زیب تاریخها په دوهم فصل کي، په هغو پښتنو سردارانو کي، چي د پاني پت په جنګ کي ئې ګډون درلود، د برخوردار خان اڅکزي نوم هم راغلی دئ او د ده رتبه او خطاب ئې (قول لق بېګی) کښلی دئ[۹۱۰].

مګر د احوال نجیب الدوله په ۲۲ مخ کي ئې د هغو پښتنو لویو سردارانو په لړ کي، چي د پاني پت په لویه او تاریخي غزا کي حاضر وو، یو هم برخوردار خان اڅکزی[۹۱۱] راوړی دئ او د ده مرتبه ئې داروغهٔ کهي (؟) کښلې ده.

د کهي کلمې، چي د مغلو په دوره کي ئې استعمالېدېږ و، د هغه پوځ معنا درلوده، چي خپل لښکر ته به ئې اړوغ رارساوه[۹۱۲].

د تاریخ احمد شاهي په (۳۸۵/۲-ب) مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه له نصیر خان بلوڅه سره په قلات کي جنګېدل، برخوردار خان پر ورانه ټپي سو، تر څو ورځو معالجې وروسته ښه سو.

د پاني پت په جنګ کي جنکو جي سیندهیا د برخوردار خان اڅکزي د خلکو په لاس بندي سوی دئ. د دې تفصیل کاشي راو دکني د عماد السعادت د ضمیمې په ۱۹۹–۲۰۰ مخو کي داسي کښلی دئ[۹۱۳]:

---

(۹۱۰) عزیز الدین وکیلي پوپلزي د درة الزمان په (۲۹۹ مخ) کي کښلي دي، چي د غلامانو یوه فرقه به، چي دوولس زره (۱۲۰۰۰) سپاره پکښې وو، همېشه د سدوزو پاچهانو په حضور کي وه. د دغي فرقې مشرتوب، په اول کي د درانو مشرانو په لاس کي و او د "قللر آقاسي" په نامه یادېدله.

(۹۱۱) په دغه کتاب کي د "اڅکزي" پر ځای "الچک زي" کښلی دئ، چي د کاتب سهوه ده.

(۹۱۲) عنایت خان اشنا په ملخص کي راوړي دي: "خانخانان برای آوردن کهی سوار شده... مردم لشکر شروع در کهی نمودند... خانخانان به خانزمان پیغام کرد که دو تیر پرتاب بیرون کهی جانب چپ کهی را نگهدارد تا مقهورین داخل کهی نتوانند شد، چون مردم از برداشتن کاه و هیمه فارغ شدندن".

مرهټه نمی گذاشتند که پر کاهی از کهی برسد، (حدیقة العالم ۱۰۲/۲ مخ).

و بمردم کهی پادشاهی نیز چیره دستی ها نمودند، (سیر المتاخرین ۳۵۵/۱ مخ).

مردم لشکر بتخصیص قزلباشان ملازم میر آتش بتقریب کهی رفته، بتاخت و تاراج دیهات و گرفت و گیر بندی و مواشی می پرداختند، (سفرنامهٔ انندرام، ۳۴ مخ).

(۹۱۳) د علامه رشاد رحمة الله علیه په خپله لاسکښلې نسخه کي دغه ځای سپین پاته و، یوازي د ماخذ ذکر سوی و، له ماخذ څخه را اخیستنه او بشپړونه ئې زموږ له خوا تر سره سوه.

"....بار دیگر تنها بنده را نزد برخوردار خان فرستادند، بنده که رفتم دیوان موتی لال بمن میگوید که برای همین کار آمده اید یا گفتگوی دیگر هم نیز دارید، بنده گفتم هر چه باشد حاضریم، دست مرا گرفته بخیمه برد دیدم که باسوجی پنډت وکیل مجروح نشسته بود با مشار الیه کلماتی چند بمیان آمد باز بخیمه دیگر برد آنجا راو جنکو جی سیندهیه زخمدار بیک زخم گولی و زخم نیزه در دست و از چیره نافرمانی برهانپور که بر سر داشت حمائل واری آورده دست بران گذاشته جوان بود وجیه بعمر بست ساله...."

د پاني پت په جنګ کي، چي د مرهټو د شهزاده بسواس راو مړی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راوړه سو، دغه مړی د برخوردار خان اڅکزي پوځ واخیست. درانیو ویل دا موږ وچوو او ولایت ته ئې له ځانه سره وړو. د برخوردار خان په پوځ کي ئې وساته، بیا د شجاع الدوله په غوښتنه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حکم وکړ، د بسواس راو مړی شجاع الدوله ته وسپارئ، چي د هندوانو له رسم سره ئې سم وسوځوي[۹۱۴].

د برخوردار خان دېوان (مستوفي) موتي لال روړه و[۹۱۵].

اشرف الوزراء له برخوردار خان سره ښه نه و[۹۱۶].

د احمدشاه بابا رحمة الله علیه د وختو شاعر حبیب الله د برخوردار خان په ستاینه کي ویلي دي:

برخوردار څه عجب ځوان دي	چي و شاه ته تېر تر ځان دئ
هر غلیم له ده پرېشان دئ	آه ارمان دئ کندهاره!
و غلیم و ته تیار دئ	بې تعطیله ئې ګوزار دئ
همېشه د شاه په کار دئ	آه ارمان دئ کندهاره!
چي پادشاه وایي هغه کا	تېر و بېر کارونه نه کا
هر زمان و شاه ته تله کا	آه ارمان دئ کندهاره!
مېلمه ښه نمانځي په مینه	لکه ښه مین چي وینه
په مجلس ئې خوښوینه	آه ارمان دئ کندهاره!
خدای دي لوی تر دا لا ډېر کا	هر دښمن دي تر ده زېر کا
چیري نه وي، چي ما هېر کا	آه ارمان دئ کندهاره!

(د خطي دېوان ۵۲ مخ)

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه تر مرګ وروسته، چي شهزاده سلیمان پاچا سو، برخوردار خان اڅکزی د کندهار د احمدشاهي ښار قلعه دار وټاکه سو.

د فارسي اخبارات و مراسلات د سرېو په فهرست کي برخوردار خان اڅکزی د شاه سلیمان

---

[۹۱۴] عماد السعادت، ۱۹۸ مخ.
[۹۱۵] عماد السعادت، ۱۹۸ مخ.
[۹۱۶] عماد السعادت، ۲۰۰ مخ.

سدوزي محافظ ښوول سوی دئ.

تېمورشاه سدوزی چي په (۱۱۸٦ هـ.ق.) کال کندهار ته راورسېد او شاه سليمان سدوزي ئې اطاعت و مانه، برخوردارخان د خرقې شريفي بست ته پناه يووړله او کله چي تېمورشاه د پلار هديرې ته ورغی، دی ئې وليد، چي هلته ناست دئ او د ننواتي په ډول ئې پړی، چي د تسليم نخښه ده، په غاړه دئ. تېمورشاه چي د احمدشاهي زمانې يو لوی منصبدار په دې ډول وليد، وئې باخښه(۹۱۷).

د کوټې د اولس مجلې په نومبر (۱۹۴٦ ع.) ګڼه کي چي ليکلي دي:

"برخوردار خان اڅکزی د نادر افشار له خوا د بغلان، غور او کندوز حاکم سو". بې حقيقته خبره ده. برخوردار خان اڅکزی په (... هـ.ق.) کال د تېمورشاه دراني له خوا څخه، د بلخ حاکم سو او د هغه تفصيل د ده يوه معاصر مورخ حسن علي راوړی دئ.

د زيب تاريخها په لسم فصل کي کښلي دي:

د تيمورشاه سدوزي د پاچهی په لومړيو کلو کي، د بلخ حاکم قباد خان ازبک پورته سو. سردار جان خان ئې د تيمورشاه سدوزي له خوا ځبلو لره وګماره سو، په جنګ کي پښتنو ماتې وکړله او سردار جان خان د ازبکو په لاس کي بندي سو(۹۱۸).

تېمورشاه سدوزی چي خبر سو، برخوردار خان اڅکزی د بلخ لور ته، د ازبکانو ځبلو لره وګماره سو. چي بلخ ته نژدې ورسېد، ازبکانو ئې مخه ونيوله او په لومړي جنګ کي خداينظر خان ازبک، چي قباد خان ئې وژلی او د هغه پر ځای د بلخ مستقل حاکم و، بندي سو. ازبکانو ماتې وکړه، برخوردار خان اڅکزي بلخ ونيو، سردار جان خان او نور پښتانه منصبداران ئې له بندي توبه خلاص کړل او د بلخ اداره د برخودرار خان اڅکزي پر غاړه سوه.

د تېمورشاه دراني د (٦۴ مخ) په قول د مجمل التواريخ په حواله، برخوردار خان ژمی په بلخ کي تېر کړ. تر نوروز وروسته، چي په کندهار کي عبدالخالق خان سدوزی تېمورشاه دراني ته پورته سو، برخوردار خان اڅکزی له خپلو پوځو سره کابل ته راوغوښت سو، چي د عبدالخالق په ځبلو کي برخه واخلي او د غزني په شش ګاو کي، چي تېمورشاه دراني د عبدالخالق د پوځو په مقابل کي اړولي و، برخوردار خان د پاچا په حضور مشرف سو.

مګر په زيب تاريخها کي کښلي دي، چي برخوردار خان اڅکزي، چي څه موده د بلخ حکومت وکړ، هلته مړ سو. د ده جنازه د تيمورشاه سدوزي په امر، کابل ته راوړله سوه.

---

(۹۱۷) تېمورشاه درانی ۱/۱۴۵ مخ.

(۹۱۸) د مجمل التواريخ د (۱۱۸ مخ) په حواله. د تېمورشاه دراني په (٦۴ مخ) کي کښلي دي، چي برخوردار خان په دغه لومړي جنګ کي هم حاضر و او په ماتې کابل ته ولاړ.

د برخوردار خان اڅکزي ورونه:

د تاريخ احمدشاهي په ۳۴۸/۱ مخ کي کښلي دي:

د برخوردار خان يو ورور روشن دل خان نوميد، په (۱۱۶۴ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له پېښوره ښخه کابل ته رهي و، په خيبر کي واورېدل سوه، چي خانخانان (لقمان خان سدوزی) په کندهار کي پورته سوی دئ او د برخوردار خان اڅکزي ورور ئې وژلی دئ او د اشرف الوزراء شاولي خان يو خپل ئې، چي حاجي حسين خان بامېزی و، هم وژلی دئ.

د برخوردار خان اڅکزي بل ورور بدال (ابدال؟) خان دئ. د تاريخ احمدشاهي په ۵۵۱/۱ مخ کي کښلي دي، چي په (۱۱۶۸هـ. ق.) کال د کندهار د احمدشاهي ښار د ودانۍ کارده (بدال خان) ته وسپارل سو.

د تاريخ احمدشاهي د کتاب په فهرست کي ابدال خان نوم نسته، بدال خان سته. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه د معاصر حبيب الله شاعر په دېوان کي، د برخوردار خان اڅکزي تر ستاينې وروسته، د ابدال خان ستاينه سوې ده. زما (رشاد) خيال دا دئ، چي دغه بدال خان ستايي، ده ويلي دي:

بيا چي نوم ئې ابدال خان دئ ... ډېر نيکخويه نيک زبان دئ
په خدمت د ميرزا خان دئ ... آه ارمان دئ کندهاره!
د ده خوی دئ ډېر عجيب ... دی د ګلو عندليب
څه به وايم زه غريب ... آه ارمان دئ کندهاره!
پيدا شوی فهميده دئ ... نيک سرشته نيک ديده دئ
با حيا دندان ژاله دئ ... آه ارمان دئ کندهاره!

(دېوان ۵۳ مخ)

د برخوردار خان اڅکزي زامن:

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۳۷۷ مخ کي کښلي دي:

په کندهار کي چي شهزاده همايون سدوزي د شاه زمان سدوزي پاچهي ونه منله، نو شاه زمان سدوزي د برخوردار خان اڅکزي زوی بوستان خان، حضرت نشان خان او داود خان نسقچي له ډېرش زري لښکر سره، د همايون ايداد ته وليږئ او پخپله ئې هم، خيمه مخ پر کندهار ونجتله.

د فارسي اخبارات و مراسلات د سړيو د نومونو په لست (اسماء الرجال) کي کښلي دي، چي داود خان نسقچي د امير محمد خان زوی و او حضرت نشان خان ئې هم د برخوردار خان اڅکزي زوی بللی دئ.

بوستان خان په (۱۲۱۱هـ. ق.) کال له زرو سپرو سره د شاه زمان سدوزي له خوا وګماره سو،

چې په پنجاب کې د نور الله خان ختک او محمد خان محمدزي سره پاته سي[۹۱۹].
د برخوردار خان د زامنو، بوستان خان او تاج محمد خان قبرونه په کندهار کې د شاه ولي ځنډي ته، د ملا علم اخوند د کلي غربي خواته، د اڅکزو کلاچې شمال ته واقع دي.
د بوستان خان د قبر پر شنختهکښلي و:
"فاتح ترکستان".
د تاج محمد خان د قبر پر شنخته کښلي و:
"فاتح غلجی ها".

....

- برخوردار خان اڅکزی
  - بوستان خان اڅکزی
  - تاج محمد خان اڅکزی
  - حضرت نشان خان اڅکزی
- روشندل خان اڅکزی (په ۱۱۶۴ه. ق. کال خانخانان لقمان خان په کندهار کې وواژه)
- بدال خان اڅکزی

محمد شاه (روشن اختر بهادر) کورګاني
(د ډهلي مغل پاچا)

محمد شاه کورګاني په (۱۷ اګست ۱۷۰۲ع.) کال زېږېدلی دئ. روشن اختر بهادر د محمد شاه کورګاني د کوچنيوالي نوم دئ. دی په (۲۷ سپټمبر ۱۷۱۹ع.) کال د ډهلي پاچا سو او تر اته ويشت کاله او ۲۱۲ ورځو پاچهي وروسته، په (۲۶ اپريل ۱۷۴۸ع.) کال د پنځه څلوېښتو کلو په عمر ومړ.

محمد شاه مغل د خپلي پاچهۍ په دوره کې د بارهه ساداتو فساد او فتنه له منځه يووړه او پر هغو بريالی سو. د مرهټو سره ئې اوږده جنګونه وکړل، چې په نتيجه کې ئې "دکن" او "مالوه" له لاسه ورکړه، سربېره پر دې محمد شاه کورګاني په هندوستان کې د مغولي امپراتورۍ وروستی پاچا دئ، چې د نوموړي امپراتورۍ د حدودو او د ملي کتو ساتنه ئې په ښه توګه سره وکړله او تر

---

[۹۱۹] وګ: درة الزمان، د عزيز الدين وکيلي پوپلزي تاليف، د کابل چاپ، ۸۷ مخ.

ډېره حده پورې ئې د خپلې پاچهۍ په دوره کې د مغولي واک او قدرت له پاره بریالي اقدامات تر سره کړل.

پر هندوستان باندې د افشار نادر بلا د محمد شاه کورګاني د واک او پاچهۍ په وختو (۱۷۳۹ع. کال) کې راغله، چې دی ئې مجبور کړ خپل تاج د هغه و مخ ته کښېږدي او په دې توګه خپله تسلیمي اعلان کړي[۹۲۰].

احمد شاه بهادر کورګاني
(د ډهلي مغل پاچا)

احمد شاه بهادر کورګاني د محمد شاه (روشن اختر بهادر) کورګاني زوی دئ. دی د (۱۷۲۵ع.) کال د ډسمبر د میاشتي پر ۲۳ مه زېږېدلی دئ. احمد شاه بهادر د خپل پلار د مړیني په ورځ (۲۶ اپریل ۱۷۴۸ع.) د ډهلي پر تخت کښېناست او شپږ کاله و ۳۷ ورځې ئې د هندوستان د مغولي امپراتورۍ پاچهي وکړه. دی د مغلو د دورې وروستی خپلواک پاچا و، چې پای ته په (۲ جون ۱۷۵۴ع.) د خپل وزیر ناسیاله عماد الملک غازي الدین له لاسه ړوند کړه سو او په زندان کې ئې بندي کړ.

احمد شاه بهادر کورګاني په (۱ جنوري ۱۷۷۵ع.) کال، د نه څلوېښتو کلو په عمر له دې دنیا څخه سترګې پټې کړې.

د احمد شاه بهادر کورګاني د پاچهۍ په وختو کې، د سکندرآباد په برید کې، مرهټو کفارو مغلي پوځو ته سخته ماتې ورکړې وه.

---

[۹۲۰] د علامه رشاد رحمة الله علیه د خپلي قلمي نسخې د لومړي ټوک په فهرست کي د محمد شاه کورګاني، احمد شاه کورګاني، دوهم عالمګیر مغل او درېیم شاه جهان مغل نوم ونه لیکل سوي دي، خو په متن کي د دوی په باب څه نه وه کښلي، ښایي چې د علامه رشاد رحمة الله علیه به دا ورته په نیت کي وه، چې د دوی په اړه هم څه ولیکي، خو ژوند وفا ورسره ونه کړه او دا معلومات نیمګړي پاته سول. موږ دا مناسبه وبلل، چې د نوموړو مغلي پاچهانو په باب ډېر لنډ او مجمل معلومات د ویکیپیډیا له ویب پاڼې څخه راټول او دغه خلا تر یوې اندازې ډکه کړو، نو که څه کمی او ورانی په دې متن کي وي، موږ ته ئې مسئولیت راجع کېږي، نه لیکوال ته.

(علامه رشاد اکاډیمي)

دوهم عالمګير (عزيزالدين)
(د ډهلي مغل پاچا)

دوهم عالمګير مغل، چي د کوچنيوالي نوم ئې "عزيزالدين" دئ، په (۶ جون ۱۶۹۹ع.) زېږېدلى دئ. دوهم عالمګير په (۲ جون ۱۷۵۴ع.) کال د ډهلي پر تخت کښېناست، پنځه کاله او ۱۸۰ ورځي ئې پاچهي وکړه او پاى ته په (۲۹ نومبر ۱۷۵۹ع.) کال، د شپېتو کلو په عمر، د ډهلي د دربار د ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين له خوا ووژل سو.

د دوهم عالمګير مغل د پاچهۍ په وختو کي، د هندوستان (د ډهلي د دربار) ټول واک او اختيارات په حقيقت کي د ده د ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين په لاس کي وو او دي په حقيقت کي د هغه د لاس يوه آله وه، ځه چي به د دې ناسياله وزير (عماد الملک) زړه غوښته هغه به ئې کول، چي له همدې امله د هندوستان د دغي دورې په انګرېزي تاريخونو کي، دى (ناسياله وزير غازي الدين عماد الملک) د "King Maker" په نامه بلل سوى دئ.

درېيم شاه جهان (محى الملة)
(د ډهلي مغل پاچا)

د محى السنة زوى، د ميرزا کام بخش لمسى او د محى الدين محمد اورنګزېب عالمګير مغل کړوسى، "محى الملة" د درېيم شاه جهان په نامه په ډهلي کي، د ډهلي د دربار د ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين له خوا په (۱۰ ډيسمبر ۱۷۵۹ع.) (= ۱۹ دوهمه خور ۱۱۷۳ه. ق.) کال د ډهلي پر تخت، د پاچا په نامه کښېناوه سو او تر لس مياشتي پاچهۍ وروسته، بيرته د نوموړي وزير له خوا ايسته کړه سو.

د هندوستان د مغلي امپراتورۍ دغه بېواکه او نتلى پاچا (محى الملة يا درېيم شاه جهان مغل) په (۱۷۷۲ع.) کال مړ سو.

دوهم شاه عالم (عالي ګوهر)
(د ډهلي مغل پاچا)

شهزاده عالي ګوهر، چې د عزيزالدين[٩٢١] دوهم عالمګير (١١٦٧–١١٧٣هـ.ق. ٨ ربيع الاخر مړ) مشر زوی، د محمد معزالدين جهاندار شاه (٨ محرم ١١٢٤–١١٢٥هـ.ق.) لمسی، د لومړي شاه عالم بهادرشاه (١١١٨–١١٢٤هـ.ق. ٢١ محرم مړ) کړوسی او د اورنګزيب لومړي عالمګير (١٠٦٨– ٢٨ ذی القعده ١١١٨هـ.ق.) کوسی و. دی په (١١٤٠هـ.ق.) کال زيږيدلی دئ. شهزاده عالي ګوهر د (١١٧٠هـ.ق.) کال د رجب د مياشتي په دوولسمه ورځ (= ٢ اپريل ١٧٥٧ ع.) د خپل پلار او نجيب الدوله په ملګري، له ډهلي څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه کيمپ ته، چې د مقصود آباد پر ناور باندي ئې اړولي و، د وداع له پاره ورغئ. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف سو او له خپل اخښي شهزاده تيمور سدوزي سره ئې وليدل[٩٢٢].

دی د پلار له خوا په (١١٧٠هـ.ق.) کال، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه تر تګ وروسته، د هانسي او حصار د سيمو نائب الحکومه سو[٩٢٣]. د (١١٧١هـ.ق.) کال د روژې د مياشتي په يوولسمه ئې، ډهلي ته نژدې په حويلي عليمردان خان کي د خپل پلار له وزير ناسياله غازي الدين سره جنګ وکړ[٩٢٤]، ماته ئې په نصيب سوه. د هانسي، حصار او ګنجپورې له لاري ئې ځان سهارنپور ته ورساوه او نجيب الدوله ته ئې پناه وروړه. د نجيب الدوله ورونو سلطان خان، افضل خان او زوی ئې ضابط خان د شهزاده استقبال وکړ[٩٢٥].

شهزاده اته مياشتي نجيب الدوله وساته. په دغو وختو کي د ډهلي د دربار ناسياله وزير

---

[٩٢١] د دوهم عالمګير نوم په تاريخ ظفره کی اعزالدين ليکلی دئ، مګر په آثار الصناديد (٦٢ مخ)، تاريخ ګنجپوره (٢٣ مخ)، واقعات دراني (٣٣ مخ)، تيمورشاه درانی، (٣٢ مخ)، افغانستان در مسير تاريخ (٣٦٤ مخ) او تاريخ سلطاني (١٣٢ مخ) کي عزيزالدين ليکلی دئ.

علامه حبيبي صاحب رحمة الله عليه عزيزالدين د عالمګير ثاني وررور بللی دئ، (تاريخ مختصر افغانستان، ٩١/٢ مخ). د شوکت افغاني په ٣٩/٢ مخ کي هم عزيزالدين د عالمګير ثاني سکه وررور بلل سوی دئ.

[٩٢٢] د "Ahmad Shah Durrani" ١٨٥ مخ. د دغه کتاب په ١٦٩ مخ کي د دوهم عالمګير لور د تيمور سدوزي ماينه ده. دا مطلب په دغو نورو ماخذونو لکه "تاريخ سلطاني" ١٣٢ مخ، "شاه عالم نامه" او د ګوهر نساء بيګمي د قبر په کتيبه (د کابل په بابر باغ کي) کي هم تائيد سوی دئ.

[٩٢٣] خزانه عامره، ٩١ مخ.

[٩٢٤] شاه عالم نامه، ٤٤ مخ.

[٩٢٥] شاه عالم نامه، ٦١ مخ.

غازي الدين د مرهټه کفارو مشران پر نجيب الدوله باندي بريد کولو ته وپارول. نجيب الدوله چي خبر سو، شهزاده ئې د ګنګا پوري خوا ته واستاوه. شهزاده د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال د جمادی الاول د مياشتي په نهمه د لکهنو په مرهان(؟) کي د اوده له نواب شجاع الدوله سره وکتل. بيا نو اله آباد ته ولاړ او هلته د اله آباد د نائب الحکومه محمد قلي خان سره، چي د شجاع الدوله تربور و، مېشت سو. محمد قلي خان ته ئې د خپلي خوا د بنګال، بهار او اوړيسې د نائب الحکومه توب فرمان ورکړ او د سراج الدوله او انګرېزانو جنګ ته ئې وګماره.

د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د دوهمي خور د مياشتي په اتمه ئې پلار (دوهم عالمګير) په ډهلي کي، د خپل وزير ناسياله غازي الدين په لمسون وواژه سو. دا خبر چي ده ته ورسېد، د درېيمي خور د مياشتي په څلرمه ورځ ئې په بهار کي د سوهن سيند پر غاړه، په "ګهتولي" نومي ځای کي ځان پاچا کړ او د "شاه عالم" لقب ئې ځان ته غوره کړ[٩٢٦] او يو قاصد ئې، چي منير الدوله ئې لقب و، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته، چي په دغو وختو کي د ډهلي په شاوخوا کي، له ډېرا سيندهيا پټېل سره په جنګو اخته و، ولېږه او د ده په وسيله ئې د خپلي مرستي او حمايت هيله احمد شاهي حضور ته وړاندي کړه. دا قاصد د درېيمي خور د مياشتي په يوولسمه (= ۳۱ ډسمبر ۱۷۶۰ع) د ډهلي په شاوخوا کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځ ته ورسېد او د پاني پت تر فتحي پوري له لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره پاته سو[٩٢٧].

د دوهم شاه عالم (عالي ګوهر) د پاچهۍ د اعلان په وختو کي، انګرېزانو مير جعفر نومی غدار، د هندوستان د شرقي سيمو نواب مقرر کړ او په بهار کي د مير جعفر له خوا نائب الحکومه رام نراين د دوهم شاه عالم له پوځو څخه ماتې وکړه. انګرېزانو چي دا واورېدله، د شاه عالم حوصله شکني ئې لازمه وبلله، ځکه ئې نو درانه پوځونه ور وايستل او د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د څلرمي خور د مياشتي په اته ويشتمه ورځ (= ۱۸ فبروري ۱۷۶۰ع.) ئې د جعفر په نامه دوهم شاه عالم ته کلکه ماتې ورکړه. په بل جنګ کي چي د برات د مياشتي پر اووه ويشتمه (= ۱۷ اپريل) پېښ سو، بيا دوهم شاه عالم ماتې وکړه. پټنې ته ولاړ او هلته بيا د انګرېزانو له لاسه مات سو.

د (۱۱۷۴هـ.ق.) کال د څلرمي خور په مياشت کي بيا انګرېزانو مات کړ. د دغي مياشتي پر شپږمه يا اوومه د پاني پت لوی او تاريخي بری د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په نصيب سو او لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي ډهلي ته د څلرمي خور د مياشتي په يوويشتمه ورځ ورسېد، شاه عالم ئې د ډهلي د پاچا په حيث اعلان کړ او د پاچهۍ نيابت ئې د ده مشر زوی شهزاده جوان بخت ته، د پلار په غياب کي ورکړ. د شاه عالم استازی منير الدوله ئې په شاه عالم پسي د بهار سيمو ته ولېږه[٩٢٨].

---

[٩٢٦] په ډهلي کي ناسياله وزير غازي الدين د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د دوهمي خور د مياشتي په نولسمه ورځ، يو مغلي شهزاده، چي محی الملت نومېد او د محی السنت زوی، د ميرزا کام بخش لمسی او د عالمګير کړوسی و، د درېيم شاه جهان په نامه پر تخت کښېناوه.

[٩٢٧] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۶۱ مخ.

[٩٢٨] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۶۱ مخ.

په دغه وخت کي د شاه عالم مور زينت محل هم خپل زوى ته وليکل، چي ډهلي ته راسي او د لوى احمد شاه بابا رحمة الله عليه په همت، پر خپل پلارني تخت کښېني، مګر دا عاقبت نا انديشه او بې حوصلې پاچا، چي له دغو پرله پسې ماتو څخه ډېر په عذاب سوى و، له انګرېزانو سره ئې روغه وکړه. انګرېزانو ۳۴ لکه روپۍ د شاهي خرڅ په نامه پر ځان کښېښوولې او د بنګال د نائب الحکومه په حيث ئې د خپل نماينده مير قاسم له پاره، له ده څخه فرمان حاصل کړ.

د تاريخ هندوستان مولف ليکي، چي شاه عالم غوښتله د انګرېزانو په مرسته د ډهلي تخت ته ځان ورسوي، مګر د پاني پت تر سوبې وروسته، چي د شجاع الدوله له ډهلي څخه اوده ته ولاړ، شاه عالم ئې تر خپلي اداري لاندي کړ او د يوه بندي په حيث به ئې کله بنارس ته له ځانه سره بوت او کله اله آباد ته. په دې توګه شاه عالم د شجاع الدوله په لاس کي دوه کاله پاته سو. د (۱۷۶۴ع.) کال د اکتوبر په ۲۳ (= ۱۱۷۸ه.ق.) چي د انګرېزانو او شجاع الدوله تر منځ په بکسر نومي ځاى کي جنګ وسو، شاه عالم د (۱۷۶۵ع.) [۹۲۹] کال د اګست پر ۱۲ د ۲۴ يا ۲۶ لکو روپو د تنخوا په بدل کي [۹۳۰] د بنګال، بهار او اوړيسې د استقلال فرمان ايسټ انډيا کمپنۍ ته ورکړ او سربېره پر دې ئې د بنارس او غازي پور سيمي هم انګرېزانو ته د جاګير په نامه ور وبخښلې [۹۳۱].

په دغه ورځو کي چي شاه عالم په اله آباد کي د انګرېزانو د يوه تنخواه خور په حيث ژوند تېراوه، نجف خان نومى، چي انګرېزانو په کوړه جهان آباد کي د کاله د يو لکو روپو جاګير، د هغه خيانت په بدل کي چي د انګرېزانو په ګټه ئې په جنګ کي له شجاع الدوله سره کړى و، ورکړى و، د شاه عالم ملګرى کړ سو. نجف خان ته چي د دوهم شاه عالم له خوا د امير الدوله لقب او د نامه له پاره د مدار المهامۍ رتبه ورکړه سوې وه، لږې ورځي وروسته د شاه عالم واکدار سو او څه چي به ده او انګرېزانو ويل، ده به هغه کول، مګر په پټه ئې د مرهټو د مشر مادهوجي سينديا سره د ډهلي د نيولو له پاره تعلقات ښلولي وو [۹۳۲].

---

[۹۲۹] تاريخ هند، د هاشمي تاليف، ۲۲۷ مخ.

[۹۳۰] تاريخ روهيلکهند، ۳۷۳/۱ مخ.

[۹۳۱] د قاموس المشاهير په ۸/۲ مخ کي کښلي دي، چي شاه عالم د (۱۷۶۵ع) کال د اګست پر ۱۲ انګرېزانو ته د بنګال د ديوانۍ سند ورکړ او هغو د بهار، بنګال او اوړيسې له مالياتو څخه ۲۴ لکه روپۍ د کاله ورکولې. مګر د هندوستان د تاريخ په ۲۷۱/۲ مخ کي "اې. مارسډن" دغه مبلغ ۲۵ لکه کښلى دئ. د تاريخ هند په ۲۲۷ مخ کي هاشمي ليکلي دي: "وارن هيسټنګز" له (۱۷۷۲ع) (= ۱۱۸۶ه. ق.) څخه تر (۱۷۸۵ع) (= ۱۲۰۰ه. ق.) کال پوري د ايسټ انډيا کمپنۍ ګورنر و، د ده په وختو کي د دې کمپنۍ مالي حالت ډېر وران و، ځکه نو دغه نوي ګورنر د بنګال د نواب تنخواه، چي د کاله ۳۲ لکه روپۍ وه، شپاړس لکه ته راکښته کړه او شپږويشت لکه روپۍ، چي ئې د کاله دوهم شاه عالم ته تنخوه ورکوله، هغه ئې پر مخ بنده کړله او د کړې او اله آباد سيمي، چي د شاه عالم تر واک لاندي وې، د اوده پر نواب خرڅي کړلې.

[۹۳۲] د فارسي اخبارات و مراسلات په اووم اخبار کي، چي د (۱۱۹۲ه. ق.) کال د ميانۍ د مياشتي له ۹ څخه تر ۱۷ (= ۲۹ نومبر تر ۷ ډسمبر ۱۷۷۸ع) پوري له پونې څخه (؟) ته لېږل سوى دئ، په هغه کي کښلي دي: دلته د حضرت ظل سبحاني (شاه عالم پاچا)، عبد الاحد خان او نجف خان له خوا د راجه همت بهادر د وکيل په واسطه د

دوهم شاه عالم مغل په (۱۱۸۵هـ.ق.) کال د مرهټو د مرستي په ويسا، مخ پر ډهلي وخوځېد او نجف خان ئې خپل سپهسالار وټاکه. انګرېزان چي په خبر سول، د کاله پنځه ويشت لکه روپۍ، چي ئې ورکولې هغه ئې پر وشلولې او د ګنګا او جمنا د سيندونو منځ، د اله‌آباد سيمه ئې، چي شاه عالم د خرڅ په نامه پرې ايښې وه، څني واخيستله او شجاع الدوله ته ئې وسپارله او هغه دغه سيمه د کاله په پنځوس لکه روپۍ په اجاره واخيستله(۹۳۳). په دغه وخت کي چي شاه عالم فرخ آباد ته ورسېد، مادهوجي سيندهيا مرهټه ئې استقبال ته راغی او شاه عالم ئې د (۱۷۷۱ع) کال د ډسمبر په ۲۵ مه ورځ (= ۱۱۸۵هـ.ق. کال د کوچني اختر د مياشتي لومړۍ ورځ) په ډهلي ننه يوست(۹۳۴) او د نامه له پاره پاچا کړه سو. نجف خان ئې په وزارت وټاکه او ټول اختيارات د هغه په لاس کي وو. د (۱۱۹۶هـ.ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په اتمه، چي نجف خان مړ سو(۹۳۵) د امير الامرائۍ پر منصب باندي جنګونه شروع سول. پاچا محمد شفيع نومی امير الامراء کړ. محمد شفيع په (۱۱۹۷هـ.ق.) کال د نجف خان د متبنّٰی افراسياب له لاسه وواژه سو. پاچا امير الامرائي افراسياب ته ورکړه. محمدبيګ نومی يو بل امير پر را وغورځېد او د امير الامرائۍ د نيولو له پاره ئې کوښښونه شروع کړل. افراسياب د محمدبيګ د مقابلې له پاره د مالوې د مرهټه امير مادهوجي سيندهيا پټېل(۹۳۶) څخه مرسته وغوښتله او هغه ئې هم په مرسته مرهټه پوځونه ډهلي ته راوستل، مګر درېيمه ورځ افراسياب وواژه سو.

تش په نامه پاچا د خپلي ساتني له پاره د امير الامرائۍ منصب د مرهټو پېشوا ته ورکړ او مادهوجي سيندهيا ئې د پېشوا د نائب په حيث د ډهلي په دربار کي ومانه. د اګرې او ډهلي ولايتونه ئې مادهوجي سيندهيا ته وروسپارل او د ټول پوځ د سپهسالار، مدار المهام او مختار السلطنه په حيث مادهوجي د ډهلي په دربار کي خپل کار شروع کړ. د مادهوجي سيندهيا پټېل منشي سدا شنکر ناګر په دغه نسبت، په يوه تهنيت نامه کي ويلي دي:

مختار مهام شاه عالم	عادل نوشيروان ثاني
مادهو راو سيندهيا بهادر	در خلق و صفا چو مهر انور

پټېل صاحب (مادهوجي سيندهيا) او ټوکوجي هولکر په نامه خطونه راځي، چي هندوستان (ډهلي) ته دوی له لښکرو سره بولي، خو دوی ورځ په ښه دئ او در به سو، تېروي.

(فارسي اخبارات و مراسلات، ۲۴ مخ)

(۹۳۳) تاريخ هندوستان، لومړی ټوک، د "اې. مارسډن" تاليف.

(۹۳۴) تاريخ هندوستان، نهم ټوک له ۳۱۰ مخه څخه تر ۳۲۰ مخه پوري، مګر نرسنګهداس خوشدل ئې ډهلي ته د ورتګ ورځ د روژې نه ويشتمه کښلې ده. ده ويلي دي:

بر سر اهل شاه جهان آباد	سايه گسترد ظل سبحاني
روز تشريف بيست و نه رمضان	سال تاريخ عيد رمضاني

۱۱۸۵هـق

(۹۳۵) مفتاح التواريخ، ۳۵۹ مخ.

(۹۳۶) دا نوم په آئينه تاريخ نما کي "مهاجي سيندهيا" ضبط دئ.

پـروردۀ نـمـک دعـای دولـت | بر نظم نظام سـلـطـنـت بسـت
گـویـد بـزبـان عـجـز "نـاگـر" | مـردانـه مـهـان سـر سـپـهـدر .

د مادهوجي په مقابل کي د مغل پاچا بې وسي او احتیاج د پاچا له دې هندي بیته څخه، چي ده د خپل امیر الامراء مادهوجي سیندهیا پټېل په ستاینه کي ویلی دئ، ښه ترا معلومېږي:

ملک و مال سب کھوبے کرپڑے تمھارے بس
مادھو ایسی کیجیو سب کو تجـھ کو لاج

وایي دغه هندی دوهره پاچا پخپل قلم لیکلې وه او د مادهوجي پټېل په بګړی کي ئې وروټومبله. سبحان الله یو وخت داسي و، چي د ډهلي د پاچهانو په دربارو کي به په سوو شاعران وو، چي د پاچا له پاره به ئې د ستاینې قصیدې، فتحنامې، تهنیت نامې او ښادنامې ویلې، یو وخت داسي راغی، چي د ډهلي پاچا د دکن د یوه منصبدار له پاره دوهرې وایي.

پریم کشور فراقي په وقایع عالم شاهي کي کښلي دي:

د ډهلي مغل پاچا د مرهټو او خپلو درباریانو په مقابل کي تر دې اندازې بې وسه و، چي د (۱۱۹۹هـ.ق.) د محرمي د میاشتي په یوویشتمه د ده په دربار کي آنندراو نرسي چند نومي مرهټه سردار د پاچا بې اجازې پر مادهوجي پټېل باندي څو موټه د سپینو زرو ګلان وپاشل. د دربار فراشانو او خادمانو د ګلانو د ټولولو له پاره لټه پیر جوړ کړ او پاچا ورته ناست و، ګړي ګړي ئې کتل[٩٣٧].

د شاه عالم د بې وسۍ یوه بله قصه فراقي داسي راوړې ده:

د (۱۱۹۹هـ.ق.) کال د محرمي په ۲۸ ورځ په رام ګړه کي د مادهوجي پټېل د لښکر یوه منصبدار، چي مینډها سنګه نومېد، په شاهي لښکر کي قصابان د غویو له حلالولو څخه منعه کړل او د څو تنو قصابانو لاسونه او پښې ئې ورپرې کړلې. پر پاچا دا خبره درنه پرېوتله او مادهوجي سیندهیا پټېل ته ئې د شاه نظام الدین په وسیله شکایت وکړ. مادهوجي مینډها سنګه ته څه ښکنځل وکړل او پاچا ته ئې جواب ورکړ:

"خو نوم ئې مینده دئ، ځکه نو د ځان له بېړي له قصابانو سره ونښت"[٩٣٨].

فراقي وایي په دغه ورځ د پټېل په لښکرو کي مرهټو کفارو د خوشالۍ سندري ویلې او د مینډها سنګه په دغه کار ډېر خوشاله وو. دی د دوی دغه مطلب داسي بیانوي:

صـد شـکـر کـه دین هند یان تازه شـده | نـاقـوس شـوی بـلـنـد آوازه شـده
سـر هـای ملیچـهـ تـاج دروازه شـده | دربـارگـه پـتـیـل عـالـم پـرور

[٩٣٧] وقایع عالم شاهي، ۴۴ مخ.
[٩٣٨] وقایع عالمشاهي، ۵۷ مخ.

فراقي په دغه لړ کي د خپل کتاب په ۱۳۱ مخ کي کښلي دي:

د (۱۱۹۹ه.ق.) کال د لومړی خور د میاشتي په څلرمه ورځ په ډیګ کي سید محمد خان پاچا ته عرض وکړ، چي په سولوتهه کي زما جایدادونه د راجه نراین داس، د پاچا د عین المال مستوفي، په امر د مادهوجي پټېل سپاهیانو را څخه قبضه کړي دي. پاچا ورته وویل، څکه چي ته زما په دربار کي ئې نو راجه نراین داس ستا سره بغض لري، مادهوجي پټېل چي راغی، زه به ورته ووایم، چي ستا جایدادونه درخوشي کړي. د دغي ورځي مازدیګر ته چي پټېل مادهوجي د پاچا دربار ته راغی او د ډیګ کیلي ئې، چي د کلا د نیولو نخښه ده، له یو سلو یوې اشرفۍ سره د پاچا حضور ته وړاندي کړل. پاچا طلاوي واخیستلې او کیلي ئې له خاصو خلاتو سره پټېل ته ورکړه او د سید محمد خان د جایدادو د خوشي کولو له پاره ئې ورته وویل، چي یو مکتوب ولیکي. پټېل په جواب کي ورته وویل:

"بیا به ئې ورخوشي کړو".

مولف دا زیاتوي، چي د پاچا وینا منفي اغېزه وکړه او د سید محمد خان په کار کي ئې غوټې زیاتي کړې.

فراقي د مغل پاچا (شاه عالم) د بې وسۍ په ترڅ کي زیاتوي، چي حتی پاچاهي فرمانونه به تر څو چي د مادهوجي سیندهیا پټېل د منشي سدا شنکر ناګر تر نظر نه وه تېر سوي، نسوای صادرېدلای[939] او شاهي خانساماني له مولوي عطاء الله څخه واخیستله سوه او اپا جي کهنډو راو مرهټه ته وسپارله سوه[940].

د شاه عالم پاچا د پاچاهۍ حال د ده له دغي رباعي څخه ډېر ښه معلومېږي:

صبح تو جام سے گذرتی ہے — شب دلارام سے گذرتی ہے
عاقبت کی خبر خدا جانے — اب تو آرام سے گذرتی ہے

خو د وقایع عالمشاهي دا بیت، چي د ده په باب ئې ویلی دئ هم د ده د حال ښکارندوی دئ:

همه شب تا بگاه بانگ خروس
گردن شاه بود و پای عروس

مادهوجي سیندهیا د (۱۱۹۹ه.ق.) کال د محرمي په میاشت کي د وهم شاه عالم له څانه سره د راجپوتانې خوا ته بوت او پر ډیګ ئې برید وکړ. دا سفر (؟) میاشتي اوږد سو، په دې سفر کي "برټ" نومی انګرېز په هندوستان کي د ایسټ انډیا کمپنۍ د ګورنر جنرال وارن هیسټنګز له خوا، د سفیر په حیث ورسره و او مېجر براون او اندرسن د مادهوجي سیندهیا پټېل

---

[939] وقایع عالمشاهي، ۶۸ مخ.

[940] وقایع عالمشاهي، ۱۱۵ مخ.

په دربار کي و.

د (۱۱۹۹هـ.ق.) کال د صفري په اته ويشتمه ورځ (= ۱۷ اپريل ۱۷۷۵ع) چي پاچاهي لښکرو د ډيگ په شاوخوا کي اړولي و، پاچا اووه خونچې شيريني مېجر براون، پنځه خونچې شيريني مستر برټ او پنځه خونچې شيريني اندرسن ته ور ولېږلې[۹۴۱].

د ضابط خان تر مرګ دوه کاله وروسته په (۱۲۰۱هـ.ق.) کال ئې زوی غلام قادر روهيله له نجيب آباده څخه د ډهلي خوا ته خپل پوځ راوخوځاوه. ډهلي ته نژدې ئې په شاهدره کي واړول، تر سپک جنګ وروسته، د ډهلي پوځونه ځني وتښتېدل او غلام قادر په لال کلا، چي پاچاهي ماڼۍ وه، ورننووت. له شاه عالم څخه ئې د مرحوم ضابط خان منصب يعني د ډهلي د دربار امير الامرائي وغوښتله. که څه هم د ده دا مطالبه دستي ونه منله سوه، مګر وروسته بې واکه او بې قدرته پاچا، چي پوځونو ئې ځو پلا له غلام قادر خان څخه ماتي وليدلې، مجبور سو چي غلام قادر خان روهيله د خپل امير الامراء (سپهسالار) په حيث ومني.

غلام قادر خان چي امير الامرائي وموندله، له هر څه دمخه ئې علي ګړه د مرهټو له لاسه وکيښ او اګره ئې کلابنده کړه. په دغه وخت کي سکهانو پر نجيب آباد يرغل وکړ او غلام قادر کلابندي پرېښووله، خپل جاګير ته ولاړ[۹۴۲]. شاه عالم چي د خپلي ساتني له پاره تل د مرهټو او انګرېزانو له سيوري څخه استفاده کړې وه، بيا ئې د غلام قادر خان پر ضد، له مرهټو کفارو څخه مرسته وغوښتله. غلام قادر خان روهيله چي خبر سو[۹۴۳]، په (۱۲۰۲هـ.ق.) کال ئې له نجيب آباده څخه پوځونه ور وخوځول، ډهلي ئې ونيو، شاه عالم ئې په غبرګو سترګو ړوند کړ او د ډهلي د پاچهۍ ټول واک ئې پخپل لاس کي واخيست. شاه عالم دا واقعه پخپله داسي نظم کړېده:

صرصر حادثه برخاست پی خواری ما — داد برباد سر و برگ جهان داری ما
آفتاب فلک رفعت شاهی بودیم — برد در شام زوال آه سیه کاری ما
چشم ما کنده شد از دست فلک تیره شد — تا نه بینیم که کند غیر جهانداری ما
داد افغان بچهٔ شوکت شاهي برباد — کیست جز ذات مبرا که کند یاری ما[۹۴۴]

غلام قادر خان روهيله د احمد شاه مغل (۱۱۶۱–۱۱۶۷هـ.ق.) زوی، چي بيدار شاه نومېد، د ډهلي پر تخت کښېناوه، مګر ځکه چي دوې مياشتي وروسته بيدار شاه مړ سو، نو غلام قادر خان

---

(۹۴۱) وقايع عالمشاهي، ۱۱۳ مخ.

(۹۴۲) تاريخ هندوستان، ۳۳۴/۹ مخ.

(۹۴۳) د فارسي اخبارات و مراسلات په ۳۶ اخبار (۷۱ مخ) کي د (۱۲۰۲هـ. ق.) کال د دربيمي خورد مياشتي په اووه ويشتمه کښلي دي:

غلام قادر خان له پاچا څخه ګرزېدلی دئ، پاچا هم له ده څخه خوابدی دئ. د ميرزا اسماعيل بيګ بهادر او غلام قادر خان تر منځ هم بدنيتي پيدا سوېده، ګمان کېږي چي د دوی تر منځ به جنګ پېښ سي.

(۹۴۴) د دغي قصيدې اردو ژباړه هم د ګلشن هند په ۸ مخ کي سته.

بیرته د پاچهۍ نوم پر شاه عالم کښېښود (۹۴۵).

مادهوجي سیندهیا پټېل مرهټه چې په دې نکلو خبر سو، هغه دستي له مالوې څخه مرهټه پوځونه راولېږدول. غلام قادر خان چې د مرهټو لښکرو د مقابلې توان په ځان کي نه لید، د میرټه کلا ته وتښتېد. تر یوې نیمې میاشتي کلابندۍ وروسته د شمشیر بهادر مرهټه د زوی علي بهادر په لاس کښېوت او په ډهلي کي د (۱۷۸۹ع) کال د مارچ په څلرمه ورځ (= ۱۲۰۳هـ.ق.) په ډېر عذاب وواژه سو (۹۴۶).

د مرهټو له لاري چې دا خنډ ایسته سو، ړوند شاه عالم پاچا ئې په لال کلا کي بندي کړ او د ډهلي د پاچهۍ پر ټول واک ئې قبضه وکړله. په دغو ورځو کي به پاچا شپې او ورځې په لوږه تېرولې او ټول منسوبین ئې خورا پرېشانه وو (۹۴۷).

په (۱۸۰۳ع) (= ۱۲۱۸هـ.ق.) کال چې د ایسټ انډیا کمپنۍ نماینده جنرال لارډ لیک له خپلو لښکرو سره پر ډهلي برید وکړ، ډهلي او ړوند پاچا ئې د مرهټو له لاسه خلاص کړل. ړانده پاچا ته ئې څه مستمري معاش وروټاکه (۹۴۸).

شاه عالم پاچا د مرهټو او انګرېزانو په سیوري کي تر ۴۸ کالو ۴ میاشتو او شپږو ورځو پاچهۍ وروسته، د (۱۲۲۱هـ.ق.) کال د روژې د میاشتي پر شپږمه (= ۱۹ نومبر ۱۸۰۶ع) (۹۴۹) ومړ او د قطب صاحب رحمة الله علیه (خواجه قطب الدین) په زیارت کي ښخ کړه سو.

تر مرګ وروسته ئې د ډهلي د انګرېز ریزیډنټ په سلا، پر دوهم زوی محمد اکبر (۱۲۲۱-۱۲۵۳هـ.ق.) کال باندي د پاچهۍ نوم کښېښووه سو او تر هغه وروسته د دې کورنۍ وروستی سړی، ابو الظفر سراج الدین بهادرشاه (۱۲۵۳-۱۲۷۳هـ.ق.) و، چې په رنګون کي د انګرېزانو په بند کي ومړ.

د شاه عالم د شخصیت په باب د تاریخ هندوستان مولف شمس العلماء محمد ذکاء الله دهلوي لیکي:

---

(۹۴۵) وګ: مرآت الاشباه


(۹۴۶) د فارسي اخبارات و مراسلات په اووه څلوېښتم اخبار کي د (۱۲۰۳هـ. ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په شلمه د حیدر آباد دکن هرکاره، انګرېز ګورنر جنرال ته کښلي دي:

خبر رارسېدلی دئ، چې د رانا خان او غلام قادر خان روهیله تر منځ جنګ پېښ سو. غلام قادر خان ماته وکړه. د رانا خان پوځونه د شاه جهان آباد (ډهلي) تر پنځوسو کروهو پوري په پسې وو، بندي ئې ډهلي ته راوست. د ډهلي چور کړي مالونه، چې څه له غلام قادر خان څخه وو، هغه ټول له مرهټو ځني واخیستل. دوه ویشت تنه شهزاده ګان، چې په هغو کي شهزاده میرزا محمد اکبرشاه هم و، خلاص سول او مرهټو ته ورسېدل. د روهیلیو اووه ویشت تنه سرداران بندیان سول.

(۹۴۷) آئینه تاریخ نما، ۱۲۰/۱ مخ.

(۹۴۸) په مرآت الاشباه کي لیکلي دي، چې پاچا ته د میاشتي یو لک روپۍ د تقاعد (Pension) په توګه ورکول کېدلې.

(۹۴۹) نقوش آپ بیتي، ۸۰/۱ مخ.


محمد سلطان
(د پلار په ژوند ومړ)
معظم لومړی شاه عالم بهادر شاه
(۱۱۱۸-۱۱۲۴ هق)
محمد اعظم
محمد اکبر
(د پلار په ژوند ومړ)
محمد کامبخش
محمد عظیم
(ملقب په عظیم الشان)
فرخ سیر
(۱۱۲۵-۱۱۳۱ هق)
رفیع القدر
(ملقب په رفیع الشان)
رفیع الدوله
(څلور میاشتي وروسته له رفیع الدرجات څخه پاچا سو)
رفیع الدرجات
(څلور میاشتي وروسته له فرخ سیر څخه پاچا سو)
محمد معز الدین جهاندار شاه
(۱۱۲۴-۱۱۲۵ هق)
عزیز الدین عالمگیر ثاني
(۱۱۶۷-۱۱۷۳ هق)
(... محل ني مېرمن وه)
خجسته اختر
(ملقب په جهانشاه، د پلار تر مرګ وروسته په ۱۱۲۴ هق کال ۱۱ میاشتي پاچا و. د دې مسره وروسته ني په جنګ کي مړه کړی دی چې نه ده د فرخسیر له لاسه ووژل سو)
عالي ګوهر شاه عالم ثاني
.....
.....
لور
(د تیمورشاه دراني مېرمن)
شهزاده جوانبخت
(د دوهم شاه عالم مشر زوی و. پلار چي ني په اله آباد کي و، د پاچاهی نیابت د ده په نامه و)
اکبر ثاني
(۱۲۲۱-۱۲۵۲ هق)
میرزا مغل
جهاندار شاه
سلیمان شکوه
فرخنده بخت

"شاه عالم یو پست فطرته او کم عقله سړی و، په هر وخت کي چي پر ده باندي د پاچهی نوم یاد سوی دئ، دی به د خپل یوه ملازم محکوم و".

دې پست فطرته پاچا په څلورو ټوکو کي خپله منظومه قصه لیکلې ده، چي په "قصه شاه عالم" سره شهرت لري. تخلص ئې "آفتاب" و، د مهر سجعه ئې دا وه:

حامی دین محمد شاه عالم پادشـــاه
سکه زد بر هفت کشور سایهٔ فضل الله

د دوهم شاه عالم رنډی بازي:

شاه عالم په زړتیا کي د ډهلي پر یوې معمولي رنډۍ باندي، چي عزیزن نومېدله، مین سو، ماینه ئې کړله او د ملکهٔ عالم خطاب ئې ورکړ. شاه عالم د عزیزن د خوشالۍ له پاره د دې د خپلوانو ډېر خوشامند کاوه.

د وقایع عالمشاهي مولف فراقي کښلي دي:

د سلطان التواریخ مولف په ۲۷۶ مخ کي لیکلي دي، چي د شاه عالم رنډۍ بازي د ده په اولاد کي هم وه. شهزاده جوان بخت جهاندارشاه چي له ډهلي څخه لکهنو ته وتښتېد، هلته ئې یوه رنډۍ، چي جهان آبادۍ نومېدله، ماینه کړله او دومره ئې په مینه کي ډوب سو، چي ځان و جهان ئې تر پوري هېر و او څه موده وروسته، چي ئې د جهان آبادۍ د مور یوه خپله کرم بخش ماینه کړله، د شهزاده او د لکهنو د واکمن آصف الدوله تر منځ د کرم بخش پر سر خوابدي پېښه سوه او آصف الدوله تنخواه پر بنده کړله او شهزاده مجبور سو، بنارس ته ولاړ.

د دوهم شاه عالم توزنه هیله:

فراقي په وقایع عالمشاهي کي کښلي دي:

پټېل مادهوجي سیندهیا د شاه نظام الدین په لاس څو خونچې د اغوستلو ټوکران پاچا ته راولېږل. په دغو ټوکرانو کي د پاچا د ګراني لور (میان صاحب) د خوښي ټوکر نه و. پاچا دستي شاه نظام الدین ته وویل:

"پټېل پوهېږي، چي میان صاحب پر ما تر ټولو شهزاده ګانو ګرانه ده، بنایي چي د هغې له پاره نور ټوکران راولېږي".

پټېل چي دا واورېدل، یوه خونچه نور نفیس ټوکران ئې د میاصاحب په نامه پاچا ته راولېږل.

فراقي د دې پېښي تر لیکلو وروسته کښلي دي:

وګوره د پاچا عقل، چي په یوه خبره ئې د دکن له مشره څخه یوه خونچه ټوکران حصول کړل او تر دې تبصرې وروسته ئې د شاه عالم په غندنه کي دا بیتونه لیکلي دي:

چنان شاه خود غرض و خود مطلبی است | که در عصر ما سایه ایزدی است
ز روی یقین گر بداند درست | که خر مهرها از تن کس درست
بدست آید از عجز و زاری بچنگ | نسازد در آن لمحه درنگ
شکوه شهی را نهد بر کنار | ستاند درم از گدای نزار
چنین حکمت از ستاندن بدست | نزاید بگیتی دگر زر پرست[٩٥٠]

د دوهم شاه عالم کنجوسي:

فراقي په وقايع عالمشاهي کي کښلي دي:

يوه روځ نغاره چيانو د پاچا په امر د شاهانه کوچ نغارې ووهلې، مګر پاچا د پټېل مادهوجي سيندهيا په امر بيرته پاته سو او هغه ورځ ئې کوچ ونه کړ. نغاره چيانو د پخواني دود سره سم، له پاچاهي دفتره څخه يو سل و پنځه ويشت روپۍ تاواني انعام وغوښت. مغل پاچا (شاه عالم) نغاره چيانو ته فقط يوه روپۍ او څلور انې ورکړلې[٩٥١].

فراقي دا هم راوړي دي:

پاچا ناجوړه و، مادهوجي پټېل ئې پوښتني ته راغی او څو د سپينو زرو تنګې او څو د مسو سکې ئې د خيرات په نامه پاچا ته وړاندي کړلې. پاچا امر وکړ، چي روپۍ زما خزانې ته تحويل کړئ او توري پيسې ووېشئ[٩٥٢].

ناسياله وزير صفدر جنګ ترکمن

(١١٥١-١١٦٧هـ. ق.)

د سيد نصير زوی سيد محمد امين نامی د ډهلي د پاچهانو فرخ سير مغل (١١٢٥-١١٢٩هـ) او محمد شاه مغول (١١٣١-١١٦١هـ. ق.) په پاچهيو کي له اميرانو څخه شمېرل کېده. لومړی د "هندون" بيا د "بيانې" پوځدار و.

په (١١٣٢هـ. ق.) کال چي ئې د بارهه د سيدانو په مقابل کي د ډهلي د پاچا محمد شاه مغل ملا وتړله د "سعادت خان بهادر" خطاب ئې وموند. بيا چي د ډهلي د دربار له خوا د "اودهـ" نائب

---

(٩٥٠) وقايع عالمشاهي، ١٢٢-١٢٣ مخونه.
(٩٥١) وقايع عالمشاهي، ٩٧ مخ.
(٩٥٢) وقايع عالمشاهي، ٦٦ مخ.

الحکومه وټاکه سو د "برهان الملک" خطاب ئې ورکړ(٩٥٣).

په (١١٥١هـ. ق.) (= ١٧٢٩ع.) کال چي د پارس ترکمن پاچا افشار نادر پر هندوستان برید وکړ، یوه ورځ پخوا تر دې چي د هندوستان پوځونه د آصف جاه تر مشرتابه لاندي، د خوني نادر مخه ونیسي، برهان الملک په تصنعي ډول، په پاني پت کي د خوني نادر له لښکرو سره وجنګېد او ځان ئې په نادر بندي کړ. په دې ډول ئې د خوني نادر پوځونه ډهلي ته راوستل او د ډهلي والو ویني ئې د اوبو په څېر په وبهولې(٩٥٤). مګر عمر هم د دې ایران پرسته ناسیاله امیر سره وفا ونه کړه او ډېر ژر ئې د دغه کال د لوی اختر په شپه (د عرفات ورځ) خوله پټه سوه.

د خوني نادر بلا چي له هندوستانه ستنه سوه، محمد شاه مغل د اوده نائب الحکومه ګي د مړه برهان الملک خوریي او زوم "منصور علي خان(٩٥٥)" ته ورکړه. منصور علي د جعفر نومي کاسه ساز زوی و(٩٥٦) او قراقویونلوي ترکمن قبیلې ته ئې نسبت کېده.

محمد شاه مغول په (١١٥٥هـ. ق.) کال د عمدة الملک امیر خان په سپارښت نوموړی منصور علي خان د اوده له پایتخت "فیض آباد" څخه پایتخت (ډهلي) ته وروغوښت او د اوده پر نیابت سربېره ئې د توپخانې مشرتوب هم وروسپاره.

د (١١٥٩هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي پر ٢٣ مه چي د اله آباد نائب الحکومه عمدة الملک امیر خان وواژه سو، د محمد شاه مغل له خوا څخه د توپخانې پر مشرتوب او د اوده پر نیابت سربېره د اله آباد سیمه هم منصور علي خان ته وروسپارله سوه.

د (١١٦١هـ. ق.) کال د لومړي خور په میاشت کي چي د ډهلي پوځونه د سرهند په شاوخوا کي له ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره جنګېدل، منصور علي خان هم په دغو مدافعو پوځونو کي لوی رکن و.

د (١١٦١هـ. ق.) کال د دریمي خور د میاشتي په لومړي ورځ، چي احمد شاه مغل(٩٥٧) د ډهلي پر تخت کښېناست، په شمالي هندوستان کي د ایراني عناصرو تر ټولو مشر رکن، منصور علي خان د وزارت د چوکۍ، چي د وزیر الممالک قمر الدین خان تر مرګ وروسته تشه سوې وه، په هیله و، مګر د نوي پاچا له خوا نوموړې چوکۍ د توراني عناصرو د مشر، د دکن نائب الحکومه آصف جاه، په ملاحظه صفدر جنګ ته ور نکړه سوه، مګر د صفدر جنګ له ښې طالع، پر آصف جاه مرګ

---

(٩٥٣) داستان تاریخ اردو، ١٧٠–١٧١ مخونه.

(٩٥٤) تذکره حضرت شاه ولی الله دهلوی، ١٧٤ مخ.

(٩٥٥) ځیني کسان ئې اصلي نوم "مقیم" ښیي او دا ئې لقب بولي، (عماد السعادت، ٨ مخ). د برهان الملک لور چي له صفدر جنګه څخه وه، "نواب بیګم" نومېدله.

(٩٥٦) وګ: اخبار الصنادید، ١/٨٨ مخ.

(٩٥٧) محمد شاه مغل د (١١٦١هـ. ق.) کال د دوهمي خور په اووه ویشتمه مړ سو. احمد شاه مغل د اودهم بایي هندوانۍ زوی و. محمد شاه دې ته د قدسیه بیګم، زماني بیګم او نواب بایي خطابونه ورکړي وو.
(قاموس المشاهیر، ١/١١٥ مخ)

ډېر ژر را هله کړه او د دغه کال د وروستي خور په څلرمه ورځ ومړ او د وزارت چوکۍ يې رقيبه منصور علي خان ته پاته سوه.

دې ناسياله وزير د ځان او نورو ايراني عناصرو برم او بقا، د پښتنو او توراني عناصرو په ضعف او اختلاف کې ګڼله، ځکه ئې نو په منافقانه ډول، تر ټولو لومړی د پښتنو تر منځ د اختلاف پيدا کولو ته لېڅې راوغښتلې او د مرحوم محمد خان بنګښ کورنۍ ئې، چې د "فرخ آباد" مشرتوب او حکومت ئې په لاس کې و، د مرحوم علي محمد خان روهيله کورنۍ ته، چې د "آنولې" حکومت ئې درلود، وپاروله او يو په بل چې ئې ښه سره وځبل، وروسته تر هغه ئې نو په (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال پخپله له ډهلي څخه پوځونه پسي راوايستل او د فرخ آباد درست رياست ئې د بنګښو پښتنو له لاسه ويوست او پخپله ئې قبضه پر وکړه. تش فرخ آباد ښار او نور دوولس کلي ئې، چې د فرخ سير مغل پاچا (۱۱۲۵-۱۱۳۱ هـ. ق.) په فرمان مرحوم محمد خان بنګښ[958] ته په جاګير کی ورکړه سوي وو، د مرحوم محمد خان بنګښ کونډې ته، د شپېتو لکو روپو په بدل کې ورپرېښوول. قنوج ئې چې له فرخ آباده څخه شلو ښت ميله ليرې پروت و، د روهيلکهنډ او اوده د مشترک حکومت مرکز وټاکه او "نول راى" نومى کايستهه هندو ئې، چې پخوا د ده له لوري د اوده نائب و، له خپلي خوا څخه د دې جديد التشکيله مشترک حکومت په نيابت پرېښود.

ښه وايي، چې:

"د بيدو مېښي سپېرې دي".

د روهيلکهنډ يو ښډو پښتنو هاله د ناسياله وزير تباه کوونکو چالونو ته پام سو، چې د ادبار، ذلت او اسارت ځنځيرونه له هري خوا پر رانغښتل سوي وو، مګر دې التفات هم ډېره اغېزه وکړه، د روهيلکهنډ ننګيالي پښتانه ئې يو له بله سره متحد کړل. ډېر ژر له ناسياله وزير څخه د کسات کښنلو له پاره په ګډه کوښښونه شروع سول.

د (۱۱۶۳ هـ. ق.) کال د روژې د مياشتي پر لسمه د پښتنو ګډو لښکرو، د ناسياله وزير پر نائب "نول راى هندو" باندي بريد وکړ. په دغه جنګ کې نول راى پخپله ووژه سو او نورو لښکرو ئې، چې شمېر ئې شلو ښت زرو ته رسېد، داسي ماتې وکړه، چې نوک ئې بيا په درست اوده کې ټينګ نه سو.

ناسياله وزير چې دا واورېدل، د پښتنو پر ضد ئې د سورج مل جاټ څخه مرسته وغوښتله او هغه ئې هم له ډېرشو زرو سپرو سره په مرسته راورسېد. ناسياله وزير د سورج مل جاټ او شاهي توپخانې په مرسته د روهيلکهنډ پر پښتنو بريد وکړ. په دې جنګ کې چې د "بيتالي" او "سهاور"[959] د کليو تر منځ پېښ سو، پخپله ناسياله وزير د پښتنو له لاسه ټپي او لښکر ئې داسي مات سو، چې بيا ئې تر شا ونه کتل.

---

[958] مآثر الامراء، ۷۷۲/۳ مخ.

[959] سرو آزاد، ۳۱۳ مخ.

دا جنګ د (۱۱۶۳هـ. ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي په دوه ویشتمه پېښ سوی دئ[۹۶۰].
په دغه جنګ کي د بلګرام له سیدانو څخه دوه تنه، چي د صفدر جنګ ملګري وو، ووژل سوه. د دغه وژل سوي سیدانو نومونه دا دي:

۱. میر غلام نبي بن سید محمد باقر بن سید عبد الحمید، چي د سید محمود اکبر بلګرامي له اولادې څخه و. میر غلام علي آزاد ئې د مرګ تاریخ داسي ویلی دئ:

وحید زمان سید خوش سخن — به فردوس می زد ز جام نبی
قلم گریه سر کرد تاریخ او — رقم کرد "هی هی غلام نبی"
۱۱۶۳

۲. سید عظیم الدین بن سید نجابت. آزاد ئې د مرګ تاریخ داسي ویلی دئ:

میر عظیم الدین والا گهر — زادهٔ طبعش همه دُر یتیم
بر سر میدان ز سر گذشت — در چمن خلد برین شد مقیم
خامه این راه گذارش نمود — سال وفاتش: "همه فوز عظیم"
۱۱۶۳

ناسیاله وزیر د (۱۱۶۳هـ. ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي په نهه ویشتمه ورځ د پښتنو له لاسه په تېښته ځان ډهلي ته ورساوه. اوده او فرخ آباد بیرته پښتنو ته پاته سول او لکهنو هم د پښتنو تر واک لاندي سو. د ناسیاله وزیر تې چي جوړ سو، د روهیلکهنډیو پښتنو د ځبلو له پاره ئې د مرهټو سردارانو لمني ته لاس واچاوه او د لومړي ځل له پاره ئې د مرهټي طاقت بلا ته، د شمالي هندوستان د استېلا بلنه ورکړه[۹۶۱]. مرهټو سردرانو ملهار راو هولکر او جي آپا، چي داسي ورځ له خدایه په دعاوو غوښته، په ډېر بېړه سره د ناسیاله وزیر مرستي ته خپل پوځونه راورسول.

د سورج مل جاټ له خوا ئې هم یو پوځ په مرسته راغی. د (۱۱۶۴هـ. ق.) کال د دریمي خور په میاشت کي ناسیاله وزیر د ډهلي، جاټانو او مرهټو کفارو ګډ پوځونه د روهیلکهنډ پر پښتنو وروبهول. په دې جنګ کي لس زره تنه پښتانه د کفارو له لاسه شهیدان سول او پاته پښتانه له خپلو کډو او پاته خزانو او جبه خانو سره د "کمایون" غره ته وختل. اوده او درست روهیلکهنډ بیا د کفارو په مرسته د ناسیاله وزیر په لاس ورغی او د ډهلي د جاټانو او مرهټو ګډو لښکرو پښتانه په نوموړي غره کي کلابند کړل. په دغه وخت کي (۱۱۶۵هـ. ق. کال اوایل) د پښتنو پوځونه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په مشرۍ تر اباسین ورپوري وتل او مخ پر لاهور روان وو، ناسیاله وزیر جاټان او مرهټه

---

[۹۶۰] وګ: سرو آزاد، ۳۱۳ مخ.

[۹۶۱] ناسیاله وزیر دغه بلنلیک د راجا رام نراین په لاس مرهټو سردارانو ته ورلېږلی و.
(عماد السعادت، ۵۷مخ)

كفار د روهيلکهنډيو پښتنو د تباه کولو له پاره، په ډېر شدت سره د کمايون پر غره ورختلو ته لمسول او غوښتل ئې، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ترور رسېدلو دمخه دا تتلي پښتانه پوپناه کړي.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځونه څلور مياشتي په لاهور کي د "مير منو" (مير معين الملک) په مقابله اخته سول. په دغه وخت کي ناسياله وزير له محصورو پښتنو سره د پنځوسو لکو روپو تاوان جنګ په ورکړه او د کاله پنځه لکه روپۍ پاچاهي کلنګ منلو روغه وکړه.

ناسياله وزير چي د روهيلکهنډيو پښتنو له ځبلو وزګار سو، دی خپل جاګير اودهٔ ته ولاړ، اله آباد او بنارس ئې هم وليدل. په دغه سفر کي ئې د پرتاب ګړه زميندار پرتهي ...[٩٦٢]، چي د اله آباد په کلابندۍ کي ئې د نواب احمد خان بنګښ ملګري کړې وه، وواژه، مګر ملهار راو هولکر مرهټه ئې د ډېرو روپو دورکړې په وعده، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه مقابلې ته ولمساوه او د (١١۶۵ ه. ق.) کال د رجب په مياشت کي ئې ډهلي ته ځان ورساوه، خو د ده تر رسېدلو پخوا، لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته د لاهور او ملتان په پرېښوولو سره، د کندهار د دربار نماينده قلندر خان او د ډهلي د دربار نماينده جاويد خان خواجه سرا تر منځ روغه سوې او دواړو پاچهانو تائيد کړې هم وه. ناسياله وزير په دې روغه ډېر خوابدی سو. د هولکر مرهټي لښکري فيروز جنګ د رجب د مياشتي په ٣ مه ورځ جنوبي هندوستان ته ورسره بوتللې او پخپله د روژې په اوله د ډهلي په ښار ننووت.

څه موده وروسته دې ناسياله وزير د (١١۶۵ ه. ق.) کال د کوچني اختر د مياشتي په اته ويشتمه ورځ[٩٦٣]، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه سره د روغي په ګناه، هغه نواب بهادر جاويد خان خواجه سرا د مېلمستيا په نامه وغوښت او په دروه ئې وواژه، چي د ډهلي پاچا (احمدشاه کورګاني) او مور ئې (قدسيه بيګمي) ډېره پېرزوينه پر درلوده. کورګاني پاچا په دې ناوړه کار ډېر ځني خوابدی سو او په (١١۶۶ ه. ق.) کال ئې په يوه ضعيف روايت وزارت[٩٦٤] او په قوي روايت ئې د توپخانې مشرتوب[٩٦٥] ځني واخيست.

ناسياله وزير بغاوت ته لېځي راوغښتلې د ډهلي له ښاره، له خپلو ورسره لښکرو او تابعينو سره ووت، دوه کروهه ليري ئې د ډهلي د ښار ختيځي خوا ته واړول. د احمدشاه کورګاني د ايسته کولو په نيامت ئې يو جعلي شهزاده وتوړه او د هغه د پاچا کولو له پاره ئې په زيار لاس پوري کړ. ايراني عناصرو ئې په دې کار کي مرستې ته ملا وتړله. کډې او کوچنيان ئې د سورج مل جاټ کلاوو ته ولېږل.

---

[٩٦٢] دعلامه رشاد رحمة الله عليه په قلمي نسخه کي، د دغه نامه دوهم جز سم نه ويل کېږي. (علامه رشاد اکاډيمي)

[٩٦٣] وګ: قاموس المشاهير، ١/١۶٧ مخ.

[٩٦٤] وګ: حيات حافظ رحمت خان، ٧۴ مخ او سير المتاخرين، ٨٩١ مخ.

[٩٦٥] وګ: خزانه عامره، ٧۶ مخ.

د ډهلي پاچا (کورګاني احمدشاه) چي د ناسياله وزير په بغاوت خبر سو، وزارت ئې د مرحوم وزير الممالک قمر الدين خان توراني زوی، انتظام الدوله خان خانان ته، چي نظام الدين خان نومېد، وسپاره. ناسياله عماد الملک غازي الدين امير الامراء او نورو تورانۍ اميرانو د توراني وزير طرفداري وکړه. په پښتنو کي توريالي نجيب الدوله نجيب خان يوسفزی هم د نوي وزير پر سيله ودرېد.

د (۱۱۶۶ هـ. ق.) کال د رجب په مياشت کي د ناسياله صفدر جنګ منصور علي خان او د احمدشاه کورګاني د طرفدارانو تر منځ، د ډهلي په شاوخوا کي د (۱۱۶۶ هـ. ق.) کال د رجب د مياشتي په شروع کي جنګ ونښت او د ناسياله وزير په بلنه سورج مل جاټ هم په دې اړودوړ کي د ناسياله وزير په طرفداري ګډون وکړ. دا جنګ شپږ مياشتي اوږد سو. پای ته د نوي وزير انتظام الدوله په منځګړيتوب روغه سره وسوه. ناسياله وزير صفدر جنګ خپل پوځونه د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د محرمي په مياشت "اوده" ته ولېږدول.

ناسياله صفدر جنګ نور د ډېر عمر ژوندی پاته نه سو او د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال په پای کي د لوی اختر د مياشتي پر اووه لسمه (= ۵ اکتوبر ۱۷۵۴ع) په اوده[۹۶۶] يا پاپړ ګهاټ[۹۶۷] کي ومړ او لومړی په فيض آباد[۹۶۸] او بيا په نوي ډهلي کي د لودهي هديرې تر څنګ ښخ کړه سو. اوس ئې هديره د ولينګټن هوايي ميدان اړخ ته په صفدر جنګ مشهوره ده. د هديرې وداني ئې د آګرې د تاج محل په ډول جوړه سوې ده. د آثار الصناديد په ۹۳/۴ مخ او سلطان التواريخ ۱۵۲ مخ کي ليکلي دي، چي د منصور علي خان هديره د شجاع الدوله ترکمن په امر او د بلال محمد خان په اهتمام، په دېرشو لکو روپو جوړه سوې ده.

د فتح نامهٔ صفدري په نامه يوه هندي شاعر د ده جنګي کارنامې په پارسي ژبه نظم کړي دي.

شجاع الدوله ترکمن

(۱۱۶۷–۱۱۸۸ هـ. ق.)

ميرزا جلال الدين حيدر د ناسياله وزير صفدر علي (صفدر جنګ) زوی، د پلار تر مړيني وروسته د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال په پای کي د پلار پر ځای، د ۲۳ کلو[۹۶۹] په عمر د اوده نواب سو.

---

[۹۶۶] داستان تاريخ اردو، ۷۱ مخ.

[۹۶۷] پاپړ ګهاټ له لکهنو څخه درې مزله لېرې واقع دئ.

(عماد السعادت، ۶۵ مخ)

[۹۶۸] سلطان التواريخ، ۱۳۶ مخ، حيات حافظ رحمت خان ۷۸ مخ د "Rohillah War" په حواله.

[۹۶۹] "بر آمد آفتاب از مطلع نور (= ۱۱۴۴ هـ. ق.)" ئې د زوکړې تاريخي ماده ده، (عماد السعادت، ۱۰ مخ). د

شجاع الدوله لقب ئې ځان ته غوره کړ او د حکومت مدار المهام ئې اسماعیل خان کابلی (۱۱۶۹ ه. ق. محرمه مړ) و. په دغه وخت کي د اوده مرکز فیض آباد و (۹۷۰).

د (۱۱۷۰ه. ق.) کال د روژې په میاشت کي د ډهلي د دربار ناسیاله وزیر عماد الملک غازي الدین پر اوده باندي برید وکړ، پای ته د روهیلکهنډ د نواب سعد الله خان روهیله په وسیله روغه وسوه او شجاع الدوله پنځه لکه روپۍ ناسیاله وزیر غازي الدین ته ومنلې.

په (۱۱۷۲ ه. ق.) کال چي مرهټو پر روهیلکهنډ یرغل وکړ، شجاع الدوله د نجیب الدوله یوسفزي په مرسته، چي په دغه وخت کي په سکرتال کي کلابند و، د (۱۱۷۳ ه. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په لومړیو ورځو کي، چاندپور ته ورغی. په پنجاب کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو د داخلېدلو په اغېزه، چي مرهټو کلابندي پرېښووله، دی هم اوده ته ستون سو او د (۱۱۷۳ه. ق.) کال د درېیمي خور د میاشتي په اوومه لکهنو ته ورسېد (۹۷۱).

د (۱۱۷۳ ه. ق.) کال د میانۍ دمیاشتي په سر کي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه نجیب الدوله یوسفزی د ده بلني لره ور ولېږه. شجاع الدوله چي خبر سو، چي نجیب الدوله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د استاځي په حیث، د اټاوې له لاري قنوج ته رارسېدلی دئ، مخي ته ئې ور ووت او د ګنګا پر غاړه "مهدي ګدر" باندي ئې ورسره ولیدل او د لوی اختر د میاشتي په څلرمه ئې د نجیب الدوله او لسو زرو (۹۷۲) سپرو سره ځان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه کیمپ ته، چي په "انوپ شهر" کي ئې اړولي و، ورساوه. د اوده نیابت ئې خپل یوولس کلن زوی میرزا اماني ته پرېښود.

دی چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځ ته نژدې سو، د احمدشاهي دربار لوی وزیر اشرف الوزراء شاه ولي خان ئې مخي ته راووت او د ده په وسیله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. یو لک نقدي روپۍ او ډېر نور سوغاتونه ئې د پښتانه پاچا حضور ته وړاندي کړل (۹۷۳). لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د فرزند خانۍ لقب او ډېر درانه خلاتونه ورکړه (۹۷۴).

شجاع الدوله د پاني پت د لوی جنګ تر ختمېدلو پوري له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره و. د پاني پت د غزا په ورځ (د ۱۱۷۴ ه ق کال د څلرمي خور د میاشتي شپږمه) د احمدشاهي پوځ په کیڼ غوړي کي ولاړ و او درې نیم زره پلي توپک والائې تر امر لاندي وو (۹۷۵). د پاني پت تر غزا وروسته له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره ډهلي ته ولاړ او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د ډهلي د دربار

جمل (ابجد) په حساب بر آمد (۲۴۷) + آفتاب (۴۸۴) + از (۸) + مطلع (۱۴۹) + نور (۲۵۶) = ۱۱۴۴ کېږي.

(۹۷۰) د شجاع الدوله زوی آصف الدوله (۱۱۸۸–۱۲۱۲ ه. ق.) د اوده مرکز له فیض آباده څخه لکهنو ته رانقل کړ.

(۹۷۱) وګ: سیر المتاخرین، ۹۰۷ مخ.

(۹۷۲) د مادهوجي سیندهیا د کتاب په ۳۰ مخ کي دوه زره سپاره کښلي دي.

(۹۷۳) وګ: سلطان التواریخ، ۱۶۸ مخ.

(۹۷۴) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۴۱ مخ.

(۹۷۵) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۷ مخ.

په وزارت ونمانځه سو، درانه خلاتونه، مرصعه جوغه، د مرغلرو امېل، توره، سپر او يو قبچاق آس ئې له جواهرنګاره زين سره ورکړل(٩٧٦). مګر دې ته لو نازولو دی د مرهټو له پالني او پېرزويني څخه راونه ګرزولای سوای او د سلطان التواريخ په ١٦٩ مخ کي کښلي دي:

شجاع الدوله د مرهټو شکستيانو، لسو يا دوولسو زرو تنو ته، د لاري د خرڅ په نامه سري سر دوې دوې روپۍ ورکړلې، چي په هغه ئې تر کالپي پوري ځانونه ورسول.

د حديقة الاقاليم مولف د حديقې په ٦٢٣ مخ کي کښلي دي:

د پاني پت تر فتحي وروسته، چي مرهټه له دوآبې وايستل سوه، لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه کوړه جهان آباد شجاع الدوله ته ورکړ.

په حيات حافظ رحمت خان کي ليکلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه داد نه درلود، چي شجاع الدوله به تل د کندهار دربار او روهيلکهنډيو پښتنو ته وفادار اوسي، ځکه ئې نو غوښته چي کندهار ته ئې ورسره بوزي او حافظ رحمت خان بړېڅي ته ئې وويل:

"دی به زه د کندهار په دربار کي د يوه امير په حيث راسره وساتم، شمالي هندوستان به ټول پښتنو ته پاته سي او پردی ځوک به مو په منځ کي نه وي، زه بېرېږم چي نه چي د دې سړي له لاسه پر تاسي کوم آفت نازل نسي".

مګر حافظ رحمت خان عرض وکړ، چي شجاع الدوله که په هندوستان کي پرېښوول سي، ښه به وي، ولي بيا به خلک وايي، چي د روهيلکهنډيو پښتنو دا يو پردی شيعه د ستر ګو اغزی و او هغه ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په وسيله له منځه ويوست. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه اصرارونه کړ، صرف دومره ئې وويل، چي "پښېماني به وکړئ!".

دا خبره په دولت درانيه (٤٢ مخ) کي هم سته او د سراج التواريخ د لومړي ټوک په ٢٥ مخ او د تاريخ سلطاني په ١٤٢ مخ کي هم اشاره ورته سوې ده. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه خبره وختله او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه تر مرګ وروسته، دغه شجاع الدوله د پښتنو په وينو په روهيلکهنډ کي ژرندې وګرزولې او سپارښت ګر حافظ رحمت خان بړېڅی رحمة الله عليه د ده په وسيله ووژل سو(٩٧٧).

د عماد السعادت په ٨٤ مخ کي ليکلي دي:

شجاع الدوله چي په پاني پت کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور کي و، د اله آباد والي محمد قلي خان يو خط د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه خوا ته را ليږلی و. په دغه جرم باندي شجاع الدوله هغه وواژه.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي له ډهلي څخه کندهار ته وخوځېد، وزير شجاع الدوله هم د برات د مياشتي په شپاړسمه ډهلي پرېښوو او د روژې په مياشت کي اوده ته ورسېد. د (١١٧٧هـ.ق.)

---

(٩٧٦) سلطان التواريخ، ١٧٠ مخ.

(٩٧٧) دا قصه د حافظ رحمت خان بړېڅي د شهادت په برخه کي وګورئ.

(=۱۷۶۳ع) کال د اګست په میاشت کي شجاع الدوله د لکهنو د یوې رندۍ په مینه کي، چي امراوګر ګوشائین ځني تښتولې او نواب احمد خان بنګښ ته ئې پناه وروړې وه، دومره ډوب سو، چي د پښتنو ښېګڼي ئې ټولي هېري کړلې او د شاه عالم پاچا په ګډه ئې، چي د بنګال له خوا وو راغلی او د شجاع الدوله په لاس کي د یوه معزز بندي په حیث ګیر و، پر فرخ آباد لښکري راوبهولې. پای ته د نجیب الدوله په منځګړیتوب روغه وسوه او شجاع الدوله له بهلول ګنجه څخه اودهـ ته ستون سو[۹۷۸].

شجاع الدوله په (۱۱۷۸ هـ. ق.) کال، چي نواب عنایت خان برېښی ئې د پنځو زرو پښتنو سره په مرسته ورغلی و، د مرشد آباد د نواب (قاسم علیخان[۹۷۹]) پر سیله، په پټنه کي له انګرېزانو سره وجنګېد، مګر د خپل دربار د غدارو مامورینو، لکه: راجه بیني بهادر، د سیر المتاخرین مولف غلام حسین طباطبایي او زین العابدین طهراني او نورو مخالفت او منافقت ئې ملا ماته کړه او بکسر نومي ځای ته را ترشا سو. په بکسر کی بیا د (۱۷۶۴ع) کال د اکتوبر په درویشتمه ورځ (= ۱۱۷۸ هـ ق د دوهمي خور (ربیع الثانی) په شپږویشتمه) جنګ وسو او شجاع الدوله ماتې وکړه. په دې جنګ کي شاه عالم (د ډهلي پاچا) هم انګرېزانو ته ځني وتښتېد.

شجاع الدوله په پای کي انګرېزانو ته د مرشد آباد د نواب (قاسم علي خان) د ورسپارلو په وعده له انګرېزانو سره روغه وکړه. نواب قاسم علي خان چي خبر سو، روهیلکهنډ ته ځني وتښتېد او حافظ رحمت خان ته ئې پناه وروړه.

د (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال په سر کي شجاع الدوله د انګرېزانو د حملو له لاسه اودهـ پرېښوو او روهیلکهنډ ته ئې له کورنۍ سره پناه وروړه. حافظ رحمت خان برېښي ډېر ونازاوه او د مرستي وعده ئې ورسره وکړه. مګر ډېر ژر د شجاع الدوله د پوځ او د پښتنو تر منځ یوه شخړه پېښه سوه او د هغه په اغېزه د حافظ رحمت خان په سلا شجاع الدوله له روهیلکهنډه څخه فرخ آباد ته ولاړ. نواب احمد خان بنګښ ئې د پښتني ننګي په حکم مخي ته راووت، د شجاع الدوله پر ټولو بدیو ئې سترګي پټي کړلې، ډېر ئې ونازاوه او په خورا درنه سترګه ئې ورته وکتل[۹۸۰].

شجاع الدوله چي په فرخ آباد کي پر آرامه سو، د نواب عماد الملک غازي الدین په سلا ئې، چي په فرخ آباد کي د نواب احمد خان بنګښ مېلمه و، مرهټه کفار خپلي مرستي ته په دې شرط راوبلل، چي مرهټو ته به د کوچ په ورځ څلوېښت زره روپۍ او د مېني په ورځ شل زره روپۍ ملهار راو هولکر ته ورکوي، دوی به د زره جنګ کوي. د (۱۱۷۹ هـ. ق.) کال پای ته (= ۳ می

---

[۹۷۸] حیات حافظ رحمت خان، ۱۱۱ مخ.

[۹۷۹] د ګل رعنا په ۲۵۹ مخ کي لیکلي دي: قاسم علي خان چي له انګرېزانو شکست وخوړ، شجاع الدوله ته ورغی، شجاع الدوله ئې ټول زر او جواهرات ځني واخیستل.

[۹۸۰] سلطان التواریخ، ۱۹۰ مخ.

۱۷۶۵ع) شجاع الدوله د مرهټو او روهیلیو په مرسته د عماد الملک نواب غازي الدین په ملګري، کوړه جهان آباد ته نژدې پر انګرېزانو برید وکړ. مرهټو میدان پرېښوو او شجاع الدوله بیا فرخ آباد ته پناه یووړه.

د (۱۱۸۰ هـ. ق.) کال په شروع (= ۱۶ اګست ۱۷۶۵ع) کې شجاع الدوله له انګرېزانو سره روغه وکړه او د اله آباد، کوړه جهان آباد او پنځوس لکو روپو په ورکړه ئې اودهـ بیرته خپل کړ. د انګرېزانو سفیر ئې په اودهـ کې ومانه او د اړې په وخت کې ئې د یو و بل د مرستې تړون لاس لیک کړ[۹۸۱].

دې تړون او روغې شجاع الدوله د وطن پرستو له ډلې ویوست، خپلوا کې ئې ولاړه او په هره خبره کې ئې د انګرېزانو تندي ته کتل. په (۱۱۸۶ هـ. ق.) کال چې مرهټو شاه عالم ډهلي ته بوت او د نامه له پاره ئې پاچا کړ او پوځونه ئې په ضابط خان (د نجیب الدوله زوی) پسې سکرتال ته ولېږدول، سکرتال ئې ونیو، انګرېزانو د (۱۷۷۲ع) کال د فبروري په میاشت کې خپل پوځونه اودهـ ته راوستل او د شجاع الدوله پوځونه د سر رابرټ بارکر انګرېز ..... ، چې د بنګالي قواوو سپهسالار و، له پوځو سره د مرهټو د مخنیوي له پاره د روهیلکهنډ او اودهـ سرحد شاه آباد ته راغلل. ضابط خان هم شجاع الدوله ته ورغی او د مرهټو له لاسه ئې د خپلې کورنۍ د خلاصون له پاره مرسته څني وغوښتله. شجاع الدوله د څلوېښتو لکو روپو د ورکړې وعده له روهیلو مشرانو څخه واخیستله او د ضابط خان کورنۍ ئې د مرهټو له لاسه څخه خلاصه کړله.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر مړینې وروسته، د (۱۷۷۳ع) کال د اګست په نونسمه (۱۱۸۷ هـ. ق.) د بنګال انګرېز ګورنر "وارن هیستېنګز" د اودهـ له ناسیاله نواب شجاع الدوله سره په بنارس کې د روهیلکهنډ د نیولو تړون لاس لیک کړ. د شجاع الدوله د مرستې په نامه انګرېزانو د ګنګا دې خوا ته خپل پوځونه راپوري ایستل. شجاع الدوله او انګرېزانو لومړی پر اټاوه برید وکړ، اټاوه چې ئې ونیوله، فرخ آباد ته پسې تېر سول. د فرخ آباد نواب مظفر جنګ بنګښ څلور نیم لکه روپۍ کلنګ ومانه. تر دې سوبې وروسته د انګرېزانو یو بل مجهز پوځ د "کرنیل چمپین" په مشرۍ د (۱۷۷۴ ع.) کال د اپریل په ۱۳ د شجاع الدوله د مرستې په نامه راغی او د روهیلکهنډ د نیولو له پاره پر مخ راتېر سول. حافظ رحمت خان چې له روغې نامینده سو، د موسلي په ډاګ کې ئې د (۱۷۷۴ع) کال د اپریل په دوه ویشتمه د شجاع الدوله او انګرېزانو د پوځو مخه ونیوله. سبا ته ئې چې جنګ وسو، حافظ رحمت خان بریځ شهید سو او روهیلیو ماته وکړه.

د عماد السعادت په ۱۱۷ مخ کې کښلي دي:

په کومه ورځ چې شجاع الدوله پر پښتنو بری وموند او حافظ رحمت خان بریځ شهید سو، شرفو نومې رنډۍ، چې ډېره ښکلې ډمه او وتلې سندرغاړې وه، شجاع الدوله ته د مبارکۍ له

---

[۹۸۱] د عماد السعادت په ۱۰۱ مخ کې د دې تړون کال (۱۱۷۹ هـ. ق.) ښوول سوی دئ.

پاره راغله. شجاع الدوله اووه زره روپۍ ورو بخښلې. شرفو ورته وویل:
زه چې اوس چکلې (رنډۍ خانې) ته ولاړه سم، دغه روپۍ ټولې پر رنډیانو وېشم.
شجاع الدوله ورته وویل:
دا یوازې ستا دي.
شرفو جواب ورکړ:
د سوبې ښادي یوازې زما نه ده.
شجاع الدوله ورته وویل:
دا ته واخله د هغو غم به زه وخورم.
شجاع الدوله د ارباب طرب داروغه "دنیا" ته امر وکړ، چې څلور لکه روپۍ یو سه او ټولې پر رنډیانو وویشه.

د اخبار الصنادید د لومړي ټوک په ۵۱۲ مخ کې کښلي دي:
"د موسلي د میدان فاتح کرنیل چمپین انګرېز به ویل، چې زه حیران وم، چې شجاع الدوله ته ددې سوبې مبارکي ورکړم او که ئې پر بېوفایۍ او نامردۍ باندي لعنت ووایم. دا بې اعتباره ملګری، چې ما د موسلي د جنګ په ورځ سهار پر کومه غونډۍ باندي ولاړ لیدلی و، د جنګ تر تامېدلو پوري هلته ولاړ و او تر څو ئې د سوبې بېرغ وانه روېد، په میدان کې ئې ګام کښېنښوو".

د حافظ رحمت خان تر شهادت وروسته شجاع الدوله او انګرېزانو روهیلکهنډ تالاترغه کړ. د یوه انګرېز په قول یوازې د پهیلي بهیت (حافظ آباد) په لوټ کې شجاع الدوله ته پنځوس لکه روپۍ په لاس ورغلې. د حافظ رحمت خان کورئې ولوټه، د حافظ کورنۍ ټول د شجاع الدوله په امر بندیان سول او اله آباد ته ولېږل سول او تر څو چې ئې انګرېزانو شفاعت ونه کړ، شجاع خوشي نه کړه. فیض الله خان روهیله او نور پاته پښتانه ئې په لال ډانګ کې کلابند کړل. پای ته ئې یوازې د رامپور نوابي فیض الله خان ته ورپرېښووله او نور روهیلکهنډ ئې په خپله قبضه کې راوست. په بریلي کې ئې د اداري له پاره محمد بشیر، نواب اعتماد الدوله بهادر، مرتضی خان برېڅ، محبوب علي خان او الطاف علي خان پرېښوول.

شجاع الدوله چې فیض آباد (د اودهـ مرکز) ته ستون سو، عزرائیل نور مهلت ورنه کړ او د عماد السعادت د ۱۱۹ مخ په قول یوه میاشت و دیرلس ورځي په فیض آباد کې واوسېد او بس. د (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د میانۍ د میاشتي په دوه ویشتمه یا درویشتمه ورځ د څلور څلوېښتو کالو په عمرئې خوله پټه سوه او د فیض آباد په ګلاب باړي کې ښخ سو. تر شجاع الدوله وروسته د ده زوی آصف الدوله آصف جاه د ۲۷ کالو په عمر د اودهـ واکمن سو او د (۱۲۱۲ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي تر ۲۸ پوري چې مړ کېدئ د اودهـ نواب و.

د شجاع الدوله شخصيت:

د شجاع الدوله د اخلاقو په باب د سير المتاخرين مولف په ۸۹۵/۳ مخ کي کښلي دي:
شجاع الدوله که څه هم لا ابالي (بې پروا) ځوان و، مګر ځکه چي دلاوري ئې درلوده، د اوده نظم و نسق ئې وکړلای سو، ډېر عياش و، د ښځو سره ئې مينه زياته وه او ډېر وخت ئې په لهو لعب تېراوه.

د شجاع الدوله په باب د عماد السعادت په ۶۶ مخ کي کښلي دي:
"حسن پرست و امرود دوست هم بود با امراو گر و همت بهادر بسيار صحبت مى داشت اگر چه در سن همت بهادر بيشتر بود".

سيد غلام حسين طباطبايي د سير المتاخرين (د ۱۱۹۵ ه ق کال تاليف) په ۹۳۹ مخ کي دناسياله شجاع الدوله د مرګي د خوړ په باب ليکلي دي:
"په خلکو کي مشهوره ده، د اتل حافظ رحمت خان تر شهادت وروسته، چي ناسياله شجاع الدوله بريلي ونيوله او د حافظ رحمت خان صاحب د کورنۍ ټول غړي ئې زندان ته واچول، په دغو بنديانو کي د حافظ صاحب رحمة الله عليه يوه مسته او ښکلې پېغله لور هم وه، (ناسياله) شجاع الدوله چي يو شهوت پرست، عياش او امرد دوسته سړی و، يوه شپه ئې د حافظ رحمت خان هغه توريالۍ لور خپلي خوابګاه ته ور وغوښتله او د همبسترۍ ناپاکه غوښتنه ئې ځني وکړله. توريالۍ لېځي راونغښتلې، ځلور ځلو پښت کلن شجاع الدوله ئې تر څټ ونيوه، رانسکور ئې کړ او په زهرو لړلې چاړه ئې له بغل جيبه راوکښله، د کناټو تر منځ ئې هسي ګوزار ورکړ، چي زهر داره چاړه ئې تر موټې پوري د شجاع الدوله په مردارو غوښو کي ښخه سوله، سبا سهار شجاع الدوله، پلويانو او د دربار طبيبانو ئې د زهرداري چړې پر ټپ باندي د شنجکۍ نوم کښېښود. دې شنجکۍ ځلور مياشتي د شجاع الدوله په بدن کي ريښې ځغلولې او د (۱۱۸۸ ه. ق.) کال د ميانۍ (ذوالقعدې) د مياشتي پر دوه ويشتمه يا درويشتمه ئې د ناسياله شجاع الدوله ناپاکه ژوند پای ته ورساوه. توريالۍ برېخې په ورين تندي شهادت ومانه، خو خپله پاکه لمن ئې، د بدلمنۍ له تېلي څخه خوندي وساتله".

نوموړی مولف د شجاع الدوله په ځواني مرګۍ باندي د افسوس په ترڅ کي دا هم ليکلي دي، چي دا د هغو بدعهديو نتيجه وه، چي له ده څخه وسول. مير قاسم علي خان ده ته پناه وروړه، ده د قرآن شريف پر پاڼو د هغه د سر، مال او ناموس د ساتني ضمانت وکړ، مګر کله چي ئې هغه له خپلي خوا ډاډه کړ، هر څه چي ئې له جواهراتو او هست و نيسته درلوده، هغه ئې ځني واخيستل او فقر ته ئې اړ کړ. د خپلو منصبدارانو جاګيرونه ئې ضبط کړل او دوو نغريو ته ئې کښېنول. د خلکو کورونه به ئې د خپلو ماهيو له پاره نړول او هغه به ئې بې کوره کول.

د کهترۍ ښځي شخړه:

په سلطان التواریخ، عماد السعادت (۶۶مخ) او تاریخ اوده کي کښلي دي:

ځلېرويشت کلن شجاع الدوله چي د اوده نواب سو، یوه روځ پر پیل سپور و، په یوه کوڅه کي تېرېدئ، د یوه کهتري هندو اتلس کلنه پېغله لور ئې، چي ډېره ښایسته وه، په سترګه سوه او تر واک ئې ورته ووتله. د شپې د راجه همت بهادر د سړو په وسیله د هغې پېغلي کټ له پېغلي سره د شجاع الدوله د خوب کوټې ته راوړل سو او د رسته شپه ئې په عیش ورسره تېره کړه.

د عماد السعادت مولف په دې ترڅ کي د میرزا صائب دا شعر هم لیکلی دئ:

گه سبو زنم بر سنگ گه بپای خم افتم
ساقیا مرنج از من عالم جوانیهاست

سبا چي کهترۍ پېغله د پلار کور ته د مرغلرو له امېلو سره ستنه سوه، پلار و مور ته ئې په ژړا سوه او د شجاع الدوله له لاسه ځخه ئې د خپل عفت د لوټلو بشپړه قصه ورته وکړه. د مظلومي پېغلي پلار، دېوان رام نراین نومي سردار ته په کوکارو ورغی او بګړۍ ئې له مځکي وویشتله. رام نراین له دوو لسو زرو کهتري هندوانو سره اسماعیل خان کابلي[982] ته په داد ورغی. د اسماعیل خان کابلي چي دا قصه تر غوږ سوله، د راجه همت بهادر د وژلو په هڅه کي سو، مګر شجاع الدوله د خپل رازدار همت بهادر له ورسپارلو ځخه نټه وکړله. خبره دې ته ورسېدله، چي محمد قلي خان د اله آباد حاکم، چي د شجاع الدوله تربور کېدئ، د نوابۍ له پاره راوغوښت سو. په دې وخت کي د شجاع الدوله مور، اسماعیل خان کابلی، رام نراین او نور مشران یو یو حرم سرای ته ور غوښت او پوړنی بې ورته نیو. د شجاع الدوله د مور په زیار او ننواتو، د محمد قلي خان تر وژلو وروسته دا فتنه کراره سوه.

د شجاع الدوله او انګرېزۍ کمپنۍ مناسبات:

د سلطان التواریخ په ۲۳۱ مخ کي کښلي دي:

شجاع الدوله چي مړ کېدئ، د ایسټ انډیا کمپنۍ دغه لوی منصبداران په فیض آباد کي وظیفتاً حاضر وو:

۱. امتیاز الدوله افتخار الملک میجر پولر صاحب د لکهنو ریزیډنټ.
۲. کرنیل کلسن صاحب.
۳. کپتان کلاد مارس صاحب، چي د ریزیډنټ صاحب مصاحب و او بیا جنرال سو.

آصف الدوله آصف جاه چي د اوده واکمن او مرتضی خان میر سامان مختار الدوله سو، د دغو انګرېزانو په سلا ئې د آصف الدوله ورور سعادتعلي له بریلي ځخه راوغوښت.

---

[982] په ډهلي کي موري دروازې ته نژدې، په کلا پوري د حویلي اسماعیل بیګ په نامه یو ځای و.

افشار نادر
(۱۱۴۸-۱۱۶۰ه. ق.)

په (۱۱۳۴ه. ق.) کال چي پښتنو توریالیو د شاه محمود هوتک (۱۱۲۹-۱۱۳۷ه. ق.) پ
مشرۍ اصفهان کلابند کړی و، د صفویانو وروستي پاچا حسین (۱۱۰۵-۱۱۳۵ه. ق.) خپل
ځلمی زوی "طهماسب" د آذربایجان خوا ته ولېږه، چي څه مېړني له هغې سیمي څخه جنګ لر
راولي. طهماسب چي قزوین ته ورسېد، د پلار د پاچهۍ پر ځای ئې خپله پاچهي د (۱۱۳۴ه.ق.)
کال د رجب د میاشتي پر اووه ویشتمه اعلان کړه[983].

حسین صفوي تر اتو میاشتو کلابندۍ وروسته د (۱۱۳۵ه. ق.) کال د محرمي د میاشتي پر
یوولسمه (=۲۳ اکتوبر ۱۷۲۲ع) له اصفهانه څخه راووت، خپل تاج ئې هوتک ځلمي پاچ
اعلیحضرت شاه محمود (۱۱۲۹-۱۱۳۷ه. ق.) ته پخپل لاس وړاندي کړ او د ایران د پاچهۍ
مبارکي ئې ورته وویله. مګر طهماسب زوی ئې له خپل زیاره څخه لاس وانه خیست او د اصفهان
د خلاصون لاري و چاري ئې سنجولې، په دغه وخت کي یو د غلو مشر، چي نادر غلي نومېد، پر
پېښ سو او د طهماسب د جدوجهد په مړاوي سرت کي ئې نوې ساه پو کړه.

دا د غلو مشر څوک و؟

دا د غلو مشر هغه "نادر غلي" و، چي بیا ئې د ایران په تاریخ کي د "افشار نادرشاه" لقب
وموند. پلار ئې امام غلي او نیکه ئې نذرغلي یا نادرغلي نومېد، په ختېه قره قلو (قرخلو) افشار
ترکمن و. زوکړه ئې د (۱۱۰۰ه. ق.) کال د محرمي د میاشتي پر اته ویشتمه، د خراسان په
"دستجرد" نومي ځای کي ښوولې سوېده. پلار ئې څوک شپون بولي او ځیني وای پوستینان ئې
ګنډل. پخپله "نادرغلي" تر څو چي مېړاني واهه، شپني ئې کوله بیا ئې غلا او داړو ته ملا وتړله.
د زړه ورتوب نوم ئې ولاړ[984]. د شاوخوا غله وغدوی پر راټول سول، یوه ډله ئې وموندله او لویي
لاري به ئې نیولې. د ده له ښه مرغه په دغه وخت کي د پارس صفوي پاچهۍ د زکندن وروستي
سلګۍ وهلې، ځکه نو د ده ځبلو ته هیچا توجه ونکړله.

دې د غلو مشر ورو ورو دونه قوت وموند، چي د پارس د پاچهۍ مدعی (صفوي طهماسب)

---

[983] تاریخ هندوستان (پښتو)، لومړی ټوک.

[984] هوتکیها، ۱۲۵مخ.

د مرستي هيله ورو‌ړه او خپل سپهسالار ئې وټاکه. د صفوي طهماسب نوي سپهسالار په (۱۱۳۹ ه.ق.) (=۱۷۲۷ع) ملک محمود سيستاني، چي په مشهد کي ئې د پاچهۍ اعلان کړی و، ووژه او د "طهماسب غلي" لقب ئې وګاټه.

تر دې سوبي وروسته ئې د هرات ابداليو ته مخه سوه او هغه ئې ډېر په عذاب کړل. څو جنګونه چي وسول، نادرغلي د اصفهان لورته څني راوخوځېد او د فرانسوی توپخانې په مرسته ئې د (۱۱۴۲ه. ق.) کال په منځ کي د پارس پايتخت (اصفهان) د طهماسب صفوي له پاره، له شاه اشرف هوتک (۱۱۳۷-۱۱۴۲ه. ق.) څخه ونيو[۹۸۵].

نادر د (۱۱۴۳ ه. ق.) کال پای ته پر هرات بريد وکړ، ذوالفقار خان سدوزی[۹۸۶] پنځه مياشتي کلابند سو. الله يار خان ته چي د ابداليو مشري ورکړه سوه، هغه مغلوب سو او هرات افشار نادر ونيو[۹۸۷].

د (۱۱۴۴ه. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په څلرمه ورځ ئې طهماسب صفوي بندي کړ او د پاچهۍ نوم ئې د ده پر څلور مياشتني زوی "عباس" باندي کښېښود. نادر چي د پارس د دولت واګي پخپل لاس کي ونيولې، ترکانو ته ئې څو ماتي ورکړې او د روس له دولته څخه ئې هم د خزر بحيرې شاوخوا سيمي، بيرته حاصلي کړلې.

په (۱۱۴۸ه. ق.) (= ۱۷۳۶ع.) کال چي عباس مړ سو، ده د پاچهۍ نوم پر ځان کښېښود. د (۱۱۴۸ ه. ق.) کال د کوچني اختر د مياشتي په څليرويشتمه ورځ (= ۱۹ حوت ۱۱۱۴ ه. ش.) (= ۸ مارچ ۱۷۳۶ع) ئې رسماً د پارس د پاچهۍ تاج پر سر کړ او له دغي ورځي څخه ئې لقب "نادرشاه" سو.

د خزانه عامره په ۳۷۱ مخ کي ليکلي دي، چي د جلوس تاريخ ئې چا "لا خير فی ما وقع (=۱۱۴۸)" را ايستلی دئ[۹۸۸] او يوه شاعر ويلي دي:

بريـديم از مـال و از جـان طمـع
بتـاريخ لا خيـر فـی مـا وقـع

افشار نادرشاه په (۱۷ رجب ۱۱۴۹ه. ق.) (=۱۷۳۷ع) له يو لکو يا اتيا زرو سپاهيانو سره، چي زياتره ئې سپاره وو، له اصفهانه څخه د سيستان له لاري، مخ پر کندهار راوخوځېد او د هرات بيګلربيګي (پير محمد خان) ته ئې هم امر کړی و، چي د محبت خان بلوڅ او التاز خان بلوڅ تر ځبلو وروسته کندهار ته خپل لښکر ورسوي. د کوچني اختر د مياشتي په اتلسمه (= ۷ فبروري

---

[۹۸۵] هوتکيها، ۱۳۳ مخ.

[۹۸۶] ذوالفقار خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه مشر ورور و.

[۹۸۷] احمد شاه بابا، ۶۹ مخ او افغانستان، ۴۰۷ مخ.

[۹۸۸] نادر د خپلي سکې پر يوه مخ "الخير فيما وقع" ضرب کړی و.

۱۷۳۷ع) ئې د ګرشک کلا ونیوله. شلو زرو پښتنو ځلمو د اعلیحضرت شاه حسین هوتک (۱۱۳۵-۱۱۵۰هـ. ق.) په مشري د هلمند غاړه ورته ټینګه کړه، مګر تر درو ورځو جنګ وروسته کندهار ښار ته راترشا سول.

د نادر افشار پوځونه د (۱۱۴۹هـ. ق.) کال د لوی اختر په میاشت (= اپریل ۱۷۳۷ع) د کندهار ښار ته راورسېدل او د ښار په ختیزه خوا کي ئې واړول. تر یوه کال کلابندۍ وروسته د (۱۱۵۰هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په دوهمه ورځ (= ۲۳ مارچ ۱۷۳۸ع)[۹۸۹] کندهار ښار ونیوه سو. د دره نادره (د ۱۲۸۰هـ ق چاپ) په ۱۶۳ مخ کي لیکلي دي، چي د (۱۱۵۰هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په دوهمه چي کندهار ونیول سو، د "ئیلان ئیل" د کال له نوروزه څخه درې ورځي تېري وې[۹۹۰].

پاچاهي درنه کورنۍ له ناکام اعلیحضرت شاه حسین هوتک سره د مازندران غرو ته فراره کړل سوه. نور ښاروال د نادري بربریت طعمه سول. د ښار برجونه ونړول سول، مانۍ ړنګي سوې، د ښار اوسېدونکي نادر آباد ته، چي افشار نادر د کندهار د کلا شرقي لور ته، د کلابندۍ په یوه کال کي ودان کړی و، راوکوچول سول[۹۹۱].

دوې میاشتي وروسته نادر خپل پوځونه د کابل لور ته وخوځول او د کندهار حکومت ئې میر افغان غني خان الکوزي ته ورکړ[۹۹۲]. د شیبار په برخه کي، چي د مقر او شاه جوی تر منځ واقع دئ، پښتنو قبیلو مخه ورته ونیوله، کلک جنګ وسو، نادر بری وموند او د پښتنو له ککریو ئې کله منارونه ودرول، چي اوس هم دغه برخه د شیبار د زړې هدیرې په نامه شهرت لري.

نادر د (۱۱۵۱هـ. ق.) کال د صفري د میاشتي په پای (= ۱ جون ۱۷۳۸ع)[۹۹۳] کي غزني ته ورسېد او د لومړۍ خور د میاشتي په اواسطو کي (= د جون پای) کابل ته ورسېد[۹۹۴]. تر پنځو ورځو کلابندۍ وروسته د لومړۍ خور د میاشتي په ۲۲ مه کابل د نادر په لاس کښېووت[۹۹۵].

---

[۹۸۹] د "Ahmad Shah Durrani" په ۱۷ مخ کي (۲ ذی الحجه ۱۱۵۰هـ. ق.) (= ۱۲ مارچ ۱۷۳۸ع) لیکلي دي.

[۹۹۰] سید غلام حسین طباطبائي د سیر المتاخرین په ۴۷۹/۲ مخ کي لیکلي دي:
افشار نادر چي پاچا سو، علیمردان خان شاملو ئې د هندوستان پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ. ق.) ته ولېږه او د افغانستان د پاچهۍ، چي له کندهاره څخه تر ملتانه رسېدله، د پښتنو پر ضد ئې د ده همکاري وغوښتله.

[۹۹۱] نادر چي کندهار ونیو، محمد خان ترکمن ئې ذ اېلچي په توګه د محمدشاه مغل دربار ته ولېږه او په هندوستان کي د پناه غوښتونکو پښتنو، نه منلو او تهدیُد ته ئې ولمساوه.

[۹۹۲] دولت درانیه، ۵ مخ.

[۹۹۳] د جون د میاشتي لومړۍ ورځ د صفري له دوولسمي سره برابرېږي.

[۹۹۴] د "Ahmad Shah Durrani" ۳۹۷ مخ. مګر د نامه عالم آرای نادري په ۱۹۹/۳ مخ کي نادرشاه ته د کابل د والي تسلیمېدل د (۱۱۵۰هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په اوایلو کي ښوول سوي دي. خپل عبارت ئې دا دئ:
"اوائل شهر ربیع الاول سنه خمس و مأته بعد الالف بود شاه روخ خان(؟) و شاهنواز خان با رؤسا و سرکردگان کابلی از ارګ آن حصار شمشیر ها در ګردن آویخته زنهارګویان وارد آستان معدلت بنیان صاحبقران ګشتند".

[۹۹۵] وګ: بالاحصار کابل، ۳۱۶/۱ مخ.

نادر څو میاشتي په کابل کي واوسېدئ. یو اېلچي ئې له لسو تنو وسله والو سره، له کابله د ډهلي دربار ته ولېږه[٩٩٦]. د ده دغه اېلچي له نهو تنو سپاهیانو سره، جلال آباد (ننګرهار) کي میر عباس خان پښتانه د زوی له لاسه وواژه سو. خوني نادر چي خبر سو، یو پوځ ئې د جلال آباد د قتل عام له پاره ولېږه. دې پوځ د جلال آباد نر و ښځي، کوچني و لوی تر تېغ وایستل او هیڅ څوک ئې په جلال آباد کي ژوندي پرې نه ښوو[٩٩٧]. "بې بدله قتل و خون" ئې تاریخي ماده ده[٩٩٨]. نادر تر دې قتل عام وروسته، د ډهلي په نیامت وخوځېد. پښتنو توریالیو د ناصر خان زیک (د پېښور حاکم) تر اداره لاندي، خیبر ورته ونیو. نادر یوه میاشت و څو ورځي د خیبر راپه دې خوا تم سو. پای ته "سرور" نومي اورکزي د څڅوبي او بازار د درې له لاري څخه د نادر دوولس زره خونخوار پوځ د پېښور لور ته تېر کړ او له دوو خواوو څخه ئې د خیبر پر پښتنو برید شروع کړ.

د جنګ په شروع کي د نادر لښکرو تر شا ترپلل، نادر چي دا ولیدل، د پښتنو پر پوځ ئې پخپله برید وکړ. دوه ساعته خورا سخت جنګ وسو، ناصر خان زیک تېښي سو او پښتنو ماتې وکړه. په دې جنګ کي یوازي د یوسفزیو مړي دوولس زره تنه وو[٩٩٩]. "په وینو سُر خیبر" ئې تاریخي ماده ده[١٠٠٠].

خوني نادر په دې جنګ کي ډېر پښتانه بندیان کړل، چي بیا محمد خان بنګښ د درو لکو روپو په ورکړه ځني خوشي کړل.

د سیر المتاخرین په ٣١٣/٢ مخ کي کښلي دي:

نادر له کابله څخه د (١١٥١ ه. ق.) کال د درېیمي خور د میاشتي په شلمه د جلال آباد خوا ته وخوځېد. د دغي میاشتي په ٢٦ مه ورځ ګندمک ته ورسېد.

نادر د جلال آباد تر قتل عام وروسته په کوز بیار کي، چي د جلال آباد په جنوب غربي ډډه کي پروت دئ، واړول. نادر چي خپل مشر زوی رضا قلي د بلخ نیولو ته لېږلی و، د بلخ او بامیان تر نیولو او اېلولو وروسته ئې کوز بیار ته ځان راورساوه. نادر لوی دربار وکړ، هغو خلکو ته ئې چي د بلخ او بامیان په جنګو کي ئې توره کړې وه، انعامونه ورکړل، رضا قلي ئې د نائب السلطنه او خپل کشر زوی نصر الله میرزا ئې د سپهسالار په توګه اعلان کړل. د (١١٥١ه.ق.) کال د برات د میاشتي په درېیمه ئې رضا قلي د ایران خوا ته رخصت کړ او پخپله د خیبر خوا ته وخوځېد.

افشار نادر د (١١٥١ ه. ق.) کال د روژې د میاشتي په ٢٥ مه ورځ (= ٢٦ دسمبر ١٧٣٨ع)

---

[٩٩٦] په تحفة العالم کي لیکلي دي، چي برهان الملک (د اوده ترکمن نواب) ته دا اېلچي لېږل سوی و.

[٩٩٧] تحفة العالم، ٣٨٥ مخ.

[٩٩٨] د ابجد په حساب: قتل (٥٣٠) + و خون (٦٦٢) = ١١٩٢ – بدله (٤١) = ١١٥١.

[٩٩٩] دولت درانیه، ٦ مخ او تاریخ حسین شاهي (قلمي).

[١٠٠٠] په دغه تاریخي ماده کي "سور" کلمه بې واوه ده، لکه دُر، پُر...

له پېښوره څخه د ډهلي په نيامت وخوځېد. د کوچني اختر د مياشتي په شپږويشتمه ورځ ئې لودهيانه ونيوله، چي په ختيځ پنجاب کي د پښتنو مرکز و. په دې ښار کي ئې هم قتل عام کړ او يو زر او دوه سوه تنه خلک ئې بېګناه ووژل[۱۰۰۱]. د دغه قتل عام ابجدي تاريخي ماده "غم عام" ده[۱۰۰۲].

د ميانۍ د مياشتي په پنځلسمه د پاني پت په شاوخوا کي يو سپک جنګ وسو. د ميانۍ په اووه لسمه د پنجشنبې په ورځ د محمد شاه مغل له خوا نظام الملک د نادر دربار ته ولاړ، چي د محمد شاه د تسليمېدلو خبر ور ورسوي، ورپسې محمد شاه هم له خپلو درباريانو سره د نادر پوځ ته ورغی او د پاچهۍ مهر ئې د نادر مخې ته کښېښود.

نادر د لوی اختر د مياشتي په يوولسمه[۱۰۰۳] په ډهلي ننووت. په سبا (۱۲ ذی الحجه ۱۱۵۱ه ق[۱۰۰۴]) ئې په ډهلي کي قتل عام وکړ[۱۰۰۵]. د ډهلي د پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ ه. ق.) څخه ئې کوه نور الماس، تخت طاوس او اويا کروړه روپۍ واخيستلې[۱۰۰۶]. د سند صوبه او د پنجاب څه برخي ئې د ايران په حکومت پوري ونښلولې او د (۱۱۵۲ه. ق.) کال د صفري د مياشتي په اوومه[۱۰۰۷] يا د محرمي ۱۶ ورځ نادر له ډهلي څخه مخ پر افغانستان راوخوځېد او د روژې لومړۍ[۱۰۰۸] ورځي ته ئې کابل ته ځان ورساوه[۱۰۰۹]. د آمو دا خوا ئې زوی رضا غلي پخوا د ماوراء النهر له ازبکانو څخه نيولې وه. دا پلا نادر له کابله څخه د سند او هرات له لاري، مخ پر ماوراء النهر روان سو. تر آمو پوري ووت، د ماوراء النهر اميرانو ئې اطاعت ومانه او په دې توګه افشار نادر په څو کلو کي د افغانستان، ماوراء النهر، فارس او هندوستان له يوې برخي څخه يو ستر

[۱۰۰۱] عبرتنامه، ۱/۱۸۵مخ.

[۱۰۰۲] کيګوهرنامه، ۲۰۰مخ.

[۱۰۰۳] د بيان واقع په ۳۵ مخ کي د ذی الحجې اتمه د جمعې ورځ ليکلې ده، خو په تقويم کي د جمعې ورځ د ذی الحجې نهمه ده.

[۱۰۰۴] "دلی خراب شد (=۱۱۵۱)" ئې تاريخي ماده. د شاه جهان کوسۍ، د مراد بخش کړوسۍ، د داوربخش لمسۍ، د يزدان بخش لور ئې د نادر دوهم زوی نصر الله ميرزا ته ورکړله، (بيان واقع، ۴۰ مخ). دغه واده د (۱۱۵۱ه. ق.) کال د لوی اختر د مياشتي په شپږويشتمه (=۶ اپريل ۱۷۳۹ع) وسو، (انسايکلوپېډيا اسلام، ۳/قسم ۲/۸۱۱مخ).

په مجمع الانشا (۴۰ مخ) کي ليکلي دي:

د سه شنبې په شپه (۱۵ د ميانۍ د مياشتي) نادر خبر سو، چي سعادت خان له ډېرشو زرو سپاهيانو، توپخانې او پيلانو سره بابی بڼ ته راورسېد او د محمد شاه لښکر ته ځان رسوي. سهار ته دوه ساعته پاته وه، چي نادر د سعادت خان د مخنيوي له پاره د کرنال او بابی بڼ تر منځ د محمد شاه د پوځ شرقي خوا ته خپل لښکر وخوځاوه.

[۱۰۰۵] د دې قتل عام تفصيل په وروستيو مخو کي وګورئ.

[۱۰۰۶] آئينه تاريخ نما، ۱/۱۱۰مخ.

[۱۰۰۷] بيان واقع، ۴۵مخ، شاه ولی الله اور ان کې سياسی تحريک، ۲۰۶مخ، د سير المتاخرين په حواله.

[۱۰۰۸] بيان واقع، ۵۲مخ.

[۱۰۰۹] بيان واقع، ۵۲مخ او احمد شاه درانی.

دولت تشکیل کړ او په (۱۱۵۴ هـ. ق.) کال ئې مشهد خپل پایتخت وټاکه.

د بیان واقع په ۵۱ مخ کي کښلي دي:

له ډهلي څخه چي نادر پر افغانستان راوخوځېد، د نادر خېمه چي د اباسین د رود پر غاړه ولاړه وه، د شپې درې تنه یوسفزي د اباسین تر اوبو ورته راپوري وتل، نادر چي د دوی د پښو کښکي واروېد، خپل ځای ئې بدل کړ، پټ سو. یوسفزیو چي نادر ونه موند، د زرو لوښي ئې ورسره یووړل او تر رود پوري وتل.

سبا نادر د رود د خوا کشکچیان ټول ووژل.

د بیان واقع په ۹۳ مخ کي کښلي دي:

نادر افشار چي له خېوې څخه د (۱۱۵۳ هـ. ق.) کال په ژمي کي چارجوی ته راغی، له چارجویه څخه چي مروي ته تئ، په لار کي ئې د یوسفزیو د لښکر ډېر خلک ومړل.

په (۱۱۵۴ هـ ق.) کال چي نادر له استرآباده څخه قزوین ته تئ، د مازندران په ځنګلو کي ټک پر وسو، یوه ګولۍ ئې پر .... لاس ونښتله. ده ته ئې دوه پښتانه راوستل، چي دغو ته ویشتلې ئې. نادر ویل زه خپل دښمن پېژنم. خپل مشر زوی رضا قلي او د هغه خانسامان عبد الله بیک ئې ړانده کړل[۱۰۱۰].

نادر په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال عراق ته ولاړ او هلته ئې په نجف اشرف کي د افغانستان، ایران او ماوراء النهر د ملایانو یوه ګڼه غونډه، د سید عبد الله عباسي سویدي تر مشرتوب لاندي، د سُنّي او شیعه د اختلاف د رفعي له پاره تشکیل کړله. د غونډي په پای کي شیعه علماوو د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه له ښکنځلو څخه توبه وکښله او یوه عهدنامه ئې نادرشاه ته وړاندي کړه. دا عهدنامه او فیصله د (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي په شپږویشتمه ورځ په کوفه کي، د جمعې د لمانځه په خطبه کي د نادرشاه او زرهاوو سنیانو او شیعه ګانو په حضور کي د ایران د مجتهدینو له خوا اعلان سوه[۱۰۱۱].

د ده دې حرکاتو قزلباش ورته وپارول، پنځه تنه لوی منصبداران ئې، لکه: صالح خان قرقلوی ابیوردي، محمدغلي خان افشار (سر کشک باشي)، موسی خان طارمي سپهسالار، محمد خان غجر (قاچار) او سعادت علیخان د ده د مرګ له پاره سره ملګه سول او د نادر ماینه ئې، چي د قوچه خان ګرد لور وه، هم د ځان ملګه کړه. د نادر وراره علي غلي هم لاس ورسره یو کړ. افشار نادر چي له اصفهانه څخه د یزد او کرمان له لاري مشهد ته راروان و، د مشهد په درې میلي "خبوشان" کي چي ئې د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور د میاشتي په یوولسمه (۸ یا ۹ یا ۱۹[۱۰۱۲]

[۱۰۱۰] بیان واقع، ۱۰۹ مخ.

[۱۰۱۱] د کنفرانس نجف مقدمه، د هراتي سیدّ جونګ (قلمي) کي، چي د ښاغلي ګویا اعتمادي ملک دئ، د دې عهدنامې سواد سته.

[۱۰۱۲] وګ: نامه عالم آرای نادری، مقدمه.

د جون ۱۷۴۷ع) وارول، د شپې نوموړي منصبداران د نادرشاه په خېمه ورننوتل، ماینې ئې توره ځني وځغلوله او منصبدارانو پرده راواچول، سرئې ځني پرې کړ او لومړی ئې د پښتنو لښکرو په تاتوبي کي وغورځاوه، بیا ئې د نادر ورارہ (علي غلي) ته ور ولېږه. لاښ ئې محمد حسن فراشباشي پر اوښ بار کړ او د مرگ په نهمه ورځ ئې مشهد ته ورساوه، شپږ ورځي هلته پروت و، پای ته د مرگ په پنځلسمه ورځ، د مشهد په خیابان بلا کي خاورو ته وسپاره سو[۱۰۱۳].

په (۱۲۱۰ هـ. ق.) کال چي آغا محمد قاچار مشهد ونیو، د نادر قبر ئې لوټې لوټې کړ او د ده هډوکي ئې طهران ته ولېږل[۱۰۱۴].

د نادر ځوانه ایرانۍ ماینه په شیرازۍ مشهوره وه، د نادرغلي (نادرشاه) د وزیر علي اکبر خور وه. په هغه شپه چي نادر وژل کېده، صالح خان قره قویلو افشار او موسی بیگ د دې خېمې ته توره په لاس ورغلل، نادر هلته نه و. شیرازۍ ورته وویل:

نادر د هندوستانۍ ماینې ستارې په خېمه کي دئ. د خېمې لارئې وروښووله. صالح بیگ په نورو یاغي سردارانو پسي ولاړ. شیرازۍ او د هغې یار ئې چي یو فراش و، موسی بیگ ته وروسپارل. صالح بیگ چي هغه ځای ته ورغی، چي یاغي سرداران هلته ولاړ وو، له اویا تنو څخه فقط ۱۲ تنه پاته وو، نور تښتېدلي وو. صالح بیگ او موسي بیگ له دغو ۱۲ تنو سره د نادر په خېمه ورننوتل، دی او هندوستانۍ ماینه ئې ووژل. شیرازۍ (ایرانۍ ځوانه ماینه ئې) له خپل یار فراش سره په هغه شپه وتښتېدل. ډېر جواهرات ئې ورسره یووړل، هغه فراش ئې پسي مېړه کړ.

اخوند عبد القادر تهتهوي د نادر د مرگ تاریخ داسي ویلی دئ:

فتنهٔ نادر چون برون شد ز میان — راحت آمد به همه عالمیان
خوشخبر هاتف فرمود ز غیب — "محو شد آفت نادر ز جهان"[۱۰۱۵]

۱۱۶۰

میرزا ذکي د نادر افشار د وژل کېدلو تاریخي ماده داسي ویلې ده:
"نادر بدرک رفت (= ۱۱۶۱)".

د نادر د مرگ تاریخ د آئینه تاریخ نما د لومړي ټوک په ۱۱۰ مخ کي "فی النار و السقر مع الجد والپدر (= ۱۱۶۰)" لیکلی دئ.

مخدوم روح الله سندهي ویلي دي:
"الخیر فی ما هو واقع (= ۱۱۶۰)".

د ده د ظلمونو په باب د خزانه عامره په ۳۷۱ مخ کي لیکلي دي:
"په کرمان کي نادر یو منصبدار وگماره، چي له وژلو سوو ککریو څخه څلی جوړ کړي. یو

[۱۰۱۳] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۳ مخ.

[۱۰۱۴] د پښتنو تاریخ، ۵۳/۱ مخ.

[۱۰۱۵] د جمل (ابجد) په حساب: محو (۵۴) + شد (۳۰۴) + آفت (۴۸۱) + نادر (۲۵۵) + ز جهان (۶۶) = ۱۱۶۰.

ګړي وروسته ګمارل سوی منصبدار راغی او عرض ئې وکړ، چي نور کله منار جوړ سو، صرف د یو سر کمبود دئ. نادر امر وکړ، چي پخپله دي ووژنئ او په ککری ئې کله منار بشپړ کړئ".

شیخ علي حزین د افشار نادر په باب ویلي دي:

تا چند زمانه فتنه اندوز شود — هر گوشه کمان کین سیه توز شود
زیبد که جهانیان به پشمی نخرند — ملکی که نصیب پوستین دوز شود

(بیان واقع، ۱۷۷ مخ)

د ډهلي قتل عام:

نادر په پاني پت کي داسي یو قتل عام وکړ[۱۰۱۶]، چي هلته بې له شرمښانو او چغالانو بل څه نه لیدل کېدل[۱۰۱۷]. د دې قتل عام په باب مولوي محمد حسین آزاد (۱۲۵۰–۱۳۲۸ هـ. ق.) د قصص هند په دوهمه برخه کي لیکلي دي:

د (۱۱۵۱ هـ. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په دوولسمه[۱۰۱۸] ورځ سهار نادر په ډهلي کي د قتل عام حکم وکړ او د روشن الدوله په سنهري ماجت (مسجد) کي ئې توره له تېکي راوایستله کښېناست[۱۰۱۹]. په کوڅو کي د وینو ولې وبهېدلې، په کورو داسي اورونه ولګول سول، چي لمبې اولړګي ئې آسمان ته ورسېدل، د نادر قهر د خدای ﷻ قهر و.

د ډهلي پاچا (محمد شاه مغل) او امیرانو ئې ګړېي ګړېي کتل او هیڅ ئې نسو ویلای. یو بوډا خواجه‌سرا محمد شاه پاچا ته په ژړا ورغی او ورته وئې ویل:

"ستا د پلار او نیکه ګانو رعیت تېول تر تېغ وکښه سول".

د محمد شاه په لېمو کي هم اوښکي ورغړېدلې او دا بیت ئې ورته وو ایه:

دیدهٔ عبرت کشا، قدرت حق را ببین
شامت اعمال ما، صورت نادر گرفت

(۱۰۱۶) په تذکره حضرت شاه ولی الله (۱۸۸ مخ) کي افشار نادر د "خوني نادر" په نامه یاد سوی دئ.

(۱۰۱۷) شاه ولی الله کی سیاسی مکتوبات، ۲۴ مخ.

(۱۰۱۸) د تعلیقات شاه ولی الله اور ان کی سیاسی تحریک په ۲۰۶ مخ کي د دغه قتل عام روځ د (۱۱۵۱ هـ. ق.) کال د ذی الحجې د میاشتي دوولسمه ښوول سوې ده، یعني د لوی اختر دریېمه ورځ.

(۱۰۱۹) د بیان واقع په ۳۶ مخ کي کښلي دي: نادر چي د روشن الدوله په مسجد کي کښېنوست، جزائرچیان ئې له درو زرو کسو سره وګمارل، چي د توپچي باشي یارعلي سلطان او د هندوستان د میر آتش سعد الدین خان سره د ډهلي په بازارو او کوڅو کي وګرځئ، هر څوک چي مو په هندي جامه کي وموند وئې وژنئ او د قساوت و بې رحمی سره چي ښاپي تر هغه زیات ظلمونه، چور و چپاو او خونونه وکړئ.

فتادند در شهر خیل مغل — بر افتاد بنیاد هندی بکل
بقتل و بغارت کشادند دست — سرا و سران جمله کردند پست
بغارت ببردند چیزی که بود — بر آورد از خشک و تر جمله دود

ماپښين ته چي د وينو او اوښکو ولې ګډي ودي بهېدلې او له ډهلي څخه د کرېږو او غلبلو يو زوږ پورته کېده، د ډهلي د دربار تر ټولو سپين ږيري امير نظام الملک آصف جاه[1020] لڅ سر، توره په غاړه نادر ته ورغی، څوړند سر او پټه خوله ورته ودرېد او وئې ژړل:

نادر وپوښتېد:

"څه غواړې؟!".

آصف جاه دا بيت په ځواب کي ورته ووايه:

کسی نماند که ديگر به تيغ ناز کشی
مگر که زنده کنی خلق را و باز کشی

نادر توره په تېکي کي کړه او وئې ويل:

"ستا د سپيني ږيري په لحاظ مي وبخښل".

ايراني ډنډورچيانو شاوخوا سره وځغستل او د الامان ناري پورته سوې. په ښار کي کراره کراري سوه[1021].

په راجپوت اور مغل زن و شو کي معاشره (۳۳۶ مخ) کي د دکن کی سياسي تاريخ د ۲۷۴ مخ په حواله کښلي دي:

د نادر په قتل عام کي د ډهلي دوه لکه تنه ووژل سوه.

په تاريخ کامل ايران (۴۴۳ مخ) کي دغه شمېر يو لک و لس زره تنه ښوول سوی دئ.

علامه اقبال د محراب ګل افغان په نظم کي ويلي دي:

نادر نے لوٹی دِلّی کی دولت
اِک ضرب شمشیر افسانہ کوتاہ

(کليات اقبال، ۳۰۴ مخ)

د ډهلي په هر کور کي دا بيت د خلکو په خولو کي و:

يا رب کرا گذر شد در شهر ما که باشد
هر خانه بزم ماتم هر کوچه کربلايی

د ډهلي په قتل عام کي (د فولاد خان کوتوال له خولې) وژلي کسان د بيان واقع مولف (په ۳۷ مخ کي) شل زره ښوولي دي، مګر ميرزا محمد مهدي دېرش زره تنه او مير محمد بن مير عبدالجليل بلګرامي په تبصرة الناظرين او د منشور الوصيت په ۱۴۷ مخ کي تقريباً اتيا زره مړي ښوول سوي دي.

[1020] آصف جاه په دغه وخت کي څلور نيوي کلن و.

[1021] سير المصنفين، ۲۰۳/۲ مخ او مرقع دهلي، ۳۰ مخ.

د قتل عام ساحه د بیان واقع په ۳۸ مخ کي داسي ښوول سوې ده:

"غرباً از دروازه قلعه شاهی تا عیدگاه کهنه و بسوی شمال تا منډوی چوب و بجانب جنوب بیرون دهلی دروازه و از پهاړګنج که اصل فساد از آنجا برپا شد".

په بیان واقع (۳۹ مخ) کي کښلي دي:

د ډهلي د قتل عام په سبا د نادر افشار په امر د نواب قمر الدین خان زوم (سید نیاز خان)، د توراني سردار قرا خان زوم (شهنواز خان)، رای مان، چي د پاچا خدمتي و، او راو تهیکا سنګهه هزاري د توپخانې افسر د خپلو شالونو په زندی، په دربار کي ووژل سوه. دوی د قتل عام په ورځ د قزلباشو لښکر له خپلو کورو څخه منعه کړی و.

د تذکره حضرت شاه ولی الله ډهلوي په ۳۲ مخ کي لیکلي دي:

"دخوني نادر توري د چاندني چوک[۱۰۲۲] په ویالو کی د اوبو پر ځای ویني وبهولې. فتحپوري ماجت (مسجد) له مځکي څخه تر چته پوري له مړو ډک و. قاضي حوض او د ډهلي ټولي ځاګاني له لاښو څخه سیخلي وې. د ورستو سوو مړو له پاره پر هر چوک اورونه بل کړه سول او د مسلمانانو او هندوانو مړي ګډوډ وراچول کېدل".

د آئینه تاریخ نما د لومړي ټوک په ۱۰۹ مخ کي کښلي دي، چي:

"په دې قتل عام کي تر یو لکو تنو زیات ووژل سول او په سوو کورونه ډاګونه سول، ځکه نو د دې پېښي نېټه "دلی خراب شد" یا "غم عام" یا "کل مغل بی حیا" جملې غوره کړه سوي دي[۱۰۲۳]. د جمل په حساب د "دلی خراب شد" مجموعه (۱۱۵۱) کیږي.

د ډهلي د چور او تالان په باب د سنده یوه شاعر، چي د افشار نادر د زمانې سړی دئ، ویلي دي:

کـرد غــارت دهلــی دل آن شــه مــه پیکــران
شـوخ مـن انـدر ستم کمتـر ز نادرشـاه نیسـت

د شاه ولي الله کی سیاسي مکتوبات په مقدمه (۲۲ مخ) کي خلیق احمد نظامي ویلي دي:

"د ډهلي په قتل عام کي د نادر د پوځ د پرشو زرو سپرو ګډون درلود".

او د دغې مقدمې په ۲۵ مخ کي زیاته سوېده:

"د خوني نادر په قتل عام کي په زرو او سپدونکي له لوږي و مړله. د مړیو له بدبویی څخه وبا په ښار ګډه سوله. نادر ټولي خزانې او زر و جوهر له ځانه سره یووړل".

د شاه ولی الله کی سیاسی مکتوبات د تعلیقاتو په ۱۸۲ مخ کي کښلي دي:

"دغه قتل عام د (۱۷۳۹ع) کال د مارچ پر یوولسمه د سهار له نهو بجو څخه د ماپښین تر دوو

[۱۰۲۲] چاندني چوک د شاه جهان آباد (ډهلي) مشهور بازار دئ، چي د فتحپوري مسجد څخه شروع او پر لال کلا باندي ختمیږي.

[۱۰۲۳] واقعات دار الحکومت دهلي، ۲۱۵/۲ مخ. نجم الغني خان په تاریخ اوده (۵۱ مخ) کي راوړي دي، چي کاظم خان شیدا د ډهلي د قتل عام تاریخ "غم عام" لیکلی دئ.

بجو پوري دوام وکړ".

د قول الجلي په ۹۳ مخ کي ليکلي دي:

"...هر جانداری که یافتند از انسان و حیوان همه را به تیغ کشیدند تا سگ و گربه را همدران میان نگذاشتند و شهر را آتش داده بازارها و کوشکها را بسوختند تا که از کشتگان پشته ها برپا شد و در بازارها خصوصاً در سوق سلطانی که بچاندنی چوک مشهور است جوهای خون روان گردید".

د جهانکشای نادري په ۳۵۸ مخ کي، چي د افشار نادر په نامه او د ده له پاره ليکلې سوې ده، دا قتل عام داسي کښلی دئ:

"خسرو بی همای با هیبت خشمگین و صورت سهمگین به یکران گردون توان سوار و خنجر گذاران نیزه دار و بهرام صولتان کیوان آثار که بر رکاب هلال آشا بسته مسجد میان بازار را بقدوم اقدس مسجود خواص و عوام ساختند و دران مکان بعد از تحقیق اینکه حرکات دوشنبه از کدام محله و چه جماعت صادر شده دلیران را فوج فوج به تنبیه آن جماعت تعین و امر قتل عام آن محله فرمودند. شور محشر و آشوب فزع اکبر در میان شهر پدید آمد فی الفور در و دیوار عمارات رفیعه نقش عالیها سافلها گرفت و مساکن اصحابشان صفت خانه زنبور پذیرفت، بناهای دلکش بزور نشه شراب نادانی عوام مست خراب افتاده ذکور و اناث سلسله ها مانند نر و مادهٔ زنجیر شیون در گرفتند سرا های که طعنه بر قصور جنت میزد بصدمه کنجکاوی یلان قصور یافت، حوضهای که از چشمه سار کوثر لطافت آب میخورد فوارهٔ جوش خون شد، بازار جوهریان و صرافان در رستهٔ بازار و دکاکین کار و ارباب مکنت و تمامی اسواق شهر دربسته بحیطهٔ یغما درآمد.

عاقبت آن گروه یاغی راساً بآتش خود سوختند و ازین دیوانگی مانند شاخ بید مجنون آویخته و از سیاست کشتن شرارهٔ این شرارت دور از دور آنها برآمد و سوز دلهای افروخته چون شعله و دود خشک و ترسر به فلک کشید الحاصل از دروازهٔ اجمیر الی درب مسجد جامع و چند محله دیگر صغیر و کبیر عرضهٔ شمشیر شدند از هنگام طلوع نیّر اعظم تا زمان غروب زبانهٔ این شعلهٔ پرشور و شر به ثریا میرسید و در هدم و ردم و خرق و جرق و کند و کوب و رفت و روب و قتل و نهیب و اسر تقصیر نشد هنگام شام که نصف آن معموره لگد کوب جور قهر و آتش نادانی عوام برق خرمن زندگانی سی هزار نفس از خورد و بزرگ شهر شده بود اهالی آنجا در مقام استیمان و پادشاه والا جاه بوساطت نظام الملک و قمر الدین در صدد شفاعت درآمده ....".

د تواریخ خورشید جهان په ۱۶۶ مخ کي ليکلي دي:

له اجميري دروازې څخه تر جامع مسجده پوري او په يو شو نورو محلو کي سړی غزی ژوندی پاته نه سو، واړه، زاړه، ځوانان ټول ووژل سول، کورونه ئې ورونړول. په دې قتل عام کي تر دېرش زره کسه زيات ووژل سوه.

ډاکټر عبد الغني د احوال و آثار عبد القادر بيدل د ۲۴۹ مخ په حاشيه کي د ډهلي د دربار

رسوايي داسي ليکلي دي:

"راجع به طرق خوش گذرانی و شهوت رانی آن زمان از کتاب "مرقع دهلی" که بقلم نواب درگاه قلی خان در زمان امپراتوری محمدشاه نوشته شده است معلومات زیاد بدست می آید. در کتاب مذکور ذکر است که زمانی وزیر الممالک اعتماد الدوله به یک دوشیزه رقاصه مسمی به بهینای فلزوار (صفحه ۷۵) لوازم باده نوشی بخشید که قیمت آن به ۷۰۰۰۰ روپیه بالغ میگردید. میگویند که درباریان اشخاص لواطت کار بودند و روزها را جز به عیش و عشرت و شهوت رانی به چیز دیگری سپری نمی ساختند، (صفحه ۳۳). برای این مقصد محله های مخصوص وجود داشت که از مراقبت آزاد بودند یکی ازین محله ها کزلپوره نام داشت و راجع به آن نواب درگاه قلی خان چنین اظهار میکند (صفحه ۳۸): هوایش شهوت آمیز است و فضایش باه انگیز، زنها نیز چنین محله های مخصوص داشتند و در آنجا باعشاق خویش ملاقات میکردند. ناگل از جمله محله های مذکور بود و در آنها در روز هفتم هر ماه زن ها به تعداد زیاد با فیشن تمام میرفتند (صفحه ۳۹). مولف می نویسد: اگر غریب وارد آن نزهتکده گردد فوراً بجفت میرسد.

هنگامیکه نادرشاه افشار در سال (۱۱۵۱ه. ق.) بدهلی آمد این کتاب نوشته شده بود و نواب درگاه قلی خان در آنجا در خدمت نظام الملک آصف جاه داخل بود، (مرقع، مقدمه، صفحه ۱۵-۱۷-۲۰ و خزانه عامره صفحه ۲۲۳).

اگر چنین یک جامعه مقابل خصم مقاومت نتوانسته و مغلوب گردید، امری بود طبیعی".

ناسیاله آدینه بیګ

آدینه بیګ یو دوه مخی سړی و، ده عادت درلود، چي غله ته به ئې ویل غلا کوه او د کور تښتن ته به ئې ویل، بیداره اوسه. ځکه نو د تاریخ هندوستان مولف، شمس العلماء محمد ذکاءالله خان ډهلوي ده ته د "لوی شیطان" لقب ورکړی دئ[(۱۰۲۴)].

دې لوی شیطان خپله ډبله پالیسي د ژوند تر پایه وپالله مګر د ښې برخي تښتن نه سو او په هر ځای کي ئې د دروهي او درغل بدرغ پورته سو.

د دې دوه مخي سړي د ابتدایي ژوند په باب محمد باقر مالک ایم. اې. لیکلي دي، چي آدینه بیګ په قام "ارائین" (ARĀĪN) و[(۱۰۲۵)]. پلار ئې "چنّو" (CHANNŪ) نومېد، چي د لاهور د

(۱۰۲۴) وګ: تاریخ هندوستان، ۲۸۳/۹ مخ او تاریخ سلطان التواریخ، ۱۵۵ مخ. د آدینه بیګ په باب د سیر المتاخرین په ۸۶۱/۳ مخ کي کښلي دي: "آدینه بیګ خان شیطان بود در صورت و نشان".

(۱۰۲۵) د مناقب المحبوبین په ۱۵۰ مخ کي کښلي دي: په پنجابي ژبه باغوان ته "ارائین" وایي او په دغه نامه یو قوم هم سته.

سیمي په "شرقپور" نومي ځای کي اوسېد[(١٠٢٦)]. آدینه بیگ لاهور ته نژدې په "پټي" (PATTI) کي زوکړی او په یوه مغله کورنۍ کي لوی سوی و.

د عماد السعادت په ۶۹ مخ کي لیکلي دي، چي آدینه بیگ تورانی مغل و او د لاهور، د ملتان د نائب الحکومه خان بهادر زکریا خان نوکر و. د ده د ژوند لومړي کلونه په جلال آباد[(١٠٢٧)]، خانپور او بجواړه کي تېر سول. لومړی سپاهي و، بیا سلطانپور ته نژدې په "کنگ"[(١٠٢٨)] (KANG) نومي علاقه کي د مالیې مامور سو. د کنگ علاقې په سلطانپور پوري سیاسي تعلق درلود او مالیه چي به ئې ټوله کړه سوه، د سلطانپور له مالیې سره به یو ځای لاهور ته لېږله کېدله. کله چي د سلطانپور[(١٠٢٩)] حاکم ومړ، آدینه بیگ د پنجاب د نائب الحکومه خان بهادر هژبر جنگ زکریاخان له خوا د سلطانپور حاکم وټاکه سو.

پر هندوستان باندي د افشار نادر د حملې په وخت (١١٥١هـ. ق.) کي آدینه بیگ د سلطانپور حاکم و. د نادر تر تګ وروسته لاهور ته وغوښته سو، چي د خپلي سیمي د مالیې پاته برخه تحویل کړي، ځکه چي ده د مالیې زیاتي روپۍ غبن کړي وې. په شلاخو وواهه سو[(١٠٣٠)] او بندي کړه سو. یو کال وروسته د سلطانپور د مدار المهام لاله بهواني داس په ضمانت خوشي کړه سو.

د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۱۹۴ مخ کي د آدینه بیگ د بندي کېدلو سبب داسي بیان سوی دئ:

کله چي نادر پر سنده باندي حمله وکړه او حیات الله خان (شهنواز خان) ئې په مرسته تر عمرکوټه ولاړ، زکریا خان هم د لاهوره څخه لاړکانې ته د نادر سلام ته ورغی او په لاهور کي ئې خپل نیابت مومن خان ته وسپاره او آدینه بیگ ئې پوځدار وټاکه. کله چي خان بهادر زکریا خان لاهور ته راستون سو، مومن خان نائب، چي د ده او آدینه بیگ تر منځ د زکریاخان په غیاب کي مخالفت پیدا سوی و، آدینه بیگ ورته وغانده او نواب هم تر تحقیق وروسته بندي کړ او جرم ئې کړ، مګر پای ته د نومړي مومن خان په سپارښت بیرته خوشي سو او دغه پېښه د میر مومن او

(١٠٢٦) شرقپور د لاهوره څخه ۱۸ میله جنوب مغرب خوا ته، د راوي سیند پر ښۍ غنډه پروت دئ.

(١٠٢٧) د "احوال آدینه بیگ خان" د قلمي نسخې په (۶۰-B) مخ کي لیکلي دي: جلال آباد یو کوچنی کلی دئ، چي (په پنجاب) کي د بیاس د سیند پر غاړه واقع دئ او د تاریخ هندوستان د نهم ټوک په ۶۰ مخ کي لیکلي دي، چي د جلال آباد ټینګه کلا جلال خان پښتانه په مظفر نګر کي جوړه کړې وه، هلته ډېر پښتانه اوسېدل. جلال خان په (۱۱۲۰هـ. ق.) کال له سکهانو سره کلک جنګونه وکړل او د توري نوم ئې ولاړ. سکهان ئې د سلطانپور خوا ته په ستنېدلو مجبور کړل.

(١٠٢٨) لطیف سید محمد په History of the Panjab کي دا نوم KANAK ضبط کړی دئ، مګر غلط دئ. د جالندهر ډسترکټ ګزیټر د (۱۹۰۴ع) کال په ۳۵ مخ کي لیکلي دي، چي کنګ نومی کلی په نکودار NAKODAR حکومت پوري سیاسي تعلق لري. دا کلی د لوهیان LOHIAN جنوبي خوا ته دوه درې میله لیري واقع دئ.

(١٠٢٩) سلطانپور د جالندهر شمال شرقي لور ته واقع دئ.

(١٠٣٠) عماد السعادت، ۶۹ مخ.

آدینه بیگ تر منځ د عمري دښمنۍ زړی سو.

آدینه بیگ خان د نواب زکریا خان په نائب الحکومه گۍ کي ورو ورو ترقي وکړه، لومړی د "گورداسپور" سیمي په بهرامپور کي حاکم سو او بیا د جالندهر لوی حاکم وټاکه سو.

په (۱۱۵۶هـ. ق.) (= ۱۷۴۳ع) کال چي سکهانو د نواب زکریا خان مدار المهام "دیوان لکهپت رای" ووواژه او سرکاري خزانه ئې چور کړله، د نواب له خوا څخه د جالندهر لوی حاکم (آدینه بیگ) د سکهانو ترټني لره وگماره سو. د سکهانو مشر جسا سنگهـ غرو ته ځني وخوت، مگر نور ډېر سکهان د آدینه بیگ پوځونو ووژل او ډېرئې بندیان راوستل. د زکریا خان تر مرگ وروسته، چي د (۱۱۵۹هـ. ق.) کال د میانۍ په میاشت کي د زکریا خان د زامنو، میرزا پهیلوري شهنواز خان او یحیی خان تر منځ، په لاهور کي جنگ ونښت، دی د شهنواز خان تر ټولو معتمد سردار او کلک ملگری و او د شهنواز خان تر بري وروسته، بیرته د شهنواز خان له خوا د جالندهر او دوآبې حکومت ته ولاړ او د خپل ولي نعمت (شهنواز خان) د رهښو په کښلو پسې سو[۱۰۳۱].

د (۱۱۶۰هـ. ق.) کال په پای کي، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له کابله څخه د هندوستان په نیامت لښکري وخوځولې، شهنواز خان د دغه آدینه بیگ په سلا له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره پټه مکاتبه شروع کړله او لاهور ته ئې په خپله مرسته وروغوښت. آدینه بیگ غدار که له یوې خوا شهنواز خان ته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره د پټي مکاتبې سلا ورکړه، له بلې خوائې د ډهلي وزیر قمر الدین خان ته د دغي پټي مکاتبې ټول حال ور ولېږه او ورته وئې لیکل، چي شهنواز خان د خپلو نوکرانو او همکارانو خولې ته نه گوري او پر خپل سر دا کارونه کوي[۱۰۳۲]. کله چي شهنواز خان د خپل ماما وزیر قمر الدین خان له هدایته سره سم، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابلې ته ملا وتړله، آدینه بیگ له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره مکاتبه او معاهده شروع کړله[۱۰۳۳].

د (۱۱۶۱هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په ۲۱ مه ورځ، چي د لاهور ښار په شاوخوا کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه یوه پوځ د شهنواز خان د بخشي (خواجه عصمت الله خان[۱۰۳۴]) پر پوځ باندي، چي لس زره سپاره او پنځه زره توپک والا پکښې وو، برید وکړ. د شهنواز خان له خوا څخه آدینه بیگ وگماره سو، چي له خپل لښکر سره د خواجه عصمت الله خان په مرسته ورسي. آدینه بیگ له خپل لښکر سره د خواجه عصمت الله خان د پوځ په مرسته راغی، مگر د یوه سیلاني او تماشه بین په حیث ئې د جنگ د میدان ننداره کوله. که څه هم بیا بیا د شهنواز خان له خوا څخه

[۱۰۳۱] د "History of the Panjab" ۲۱۵ مخ.

[۱۰۳۲] "Ahmad Shah Durrani" ۴۲-۴۳ مخونه، سیر المتاخرین، ۸۶۱ مخ، تاریخ هندوستان، ۲۸۳/۹ مخ او "A History of the Marhattas" ۲۸/۲ مخ.

[۱۰۳۳] هغه آثار هغه مخونه.

[۱۰۳۴] خواجه عصمت الله خان د وزیر الممالک قمر الدین خان د ماما زوی و.

د عصمت الله خان د مرستي امر ورته راورسېد، مګر د ه ورځ په تشو ځغاستو مابنام کړه او ترپايه پورې د ده د لښکر يوه سپاهي هم توره له تيکي راونه ايستله. مابنام ته ئې ځان له خپل پوځ سره لاهور ښار ته ورساوه[1035].

پښتنو توريالیو د شپې هم بريد ونه بس نه کړل او پرله پسې حملو ئې بخشي عصمت الله خان تر شا کېدلو ته اړ يوست. په دغه شپه بيا آدينه بيګ له خپل لښکر سره د لاهور له ښاره ځخه د عصمت الله خان د مرستي په نامه راووت او په حويلي زبردست خان کي ئې له عصمت الله خان سره واړول او د توپو په وسيله ئې د پښتنو د پرمختګ مخه ونيوله. مګر ځکه چي د پښتنو پله ئې درنه بلله، له ميدانه ئې ځان ګوښه کړ. د شپې پای ته شهنواز خان هم ميدان پرېښوو او ډهلي ته وتښتېد او آدينه بيګ له خپل پوځ سره جمو او راجپور ته مخ ونيو. هلته ئې له ګنډا سنګه بنګي، هنډا سنګه بنګي، جساسنګه، حقيقت سنګه کينا، جی سنګه کينا او امر سنګه کانګرا سره جنګونه وکړل او پرهغو ئې بري وموند[1036]. آدينه بيګ د سرهند جنګ ته بيا ځان راورساوه او د (۱۱۶۱هـ. ق.) کال د لومړی خور د مياشتي په دوه ويشتمه، چي د منورپور په ميدان کي د پښتنو او مغلو ترمنځ جنګ ونښت، آدينه بيګ د مغلو د پوځ په سرلاړ کي، چي مير منو (مير معين الملک) اداره کاوه، شامل و او دوه ځايه په ګولي ټپي سو[1037]. تر جنګ وروسته د لاهور د نوي نائب الحکومه مير معين الملک له خوا بيرته د جالندهر او دوآبې حاکم وټاکه سو او د خپل حکومت سيمي ته ولاړ.

د (۱۱۶۲هـ. ق.) کال په شروع کي، چي د لاهور مغلي حاکم مير منو (مير معين الملک) د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مقابلې له پاره له لاهوره ځخه سوهدرې ته، چي له لاهوره ځخه پنځوس ميله ليري واقعه ده، راووت. آدينه بيګ له خپل پوځ سره له جالندهره ځخه د ده په مرسته را ورسېد، تر روغي وروسته آدينه بيګ جالندهر او دوآبې ته ستون سو.

په (۱۱۶۴هـ. ق.) کال چي مير منو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه استاځی "راجه سکه جيون" ناکام کندهار ته ستون کړ او د چار محال له ماليې ځخه ئې هيڅ ورنکړله، مير منو پوه سو، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه راتګ ليري نه دئ، ځکه ئې نو د جنګ په ترتيباتو لاس پورې کړ او د دغه کال پای ته چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له کابله ځخه پوځونه مخ پر لاهور ور وخوځول، آدينه بيګ هم له خپل پوځ سره لاهور ته، د مير منو د مرستي له پاره ځان ورساوه او د پښتني پوځ يوې دستې، چي د لاهور د نائب الحکومه د آزوغ رسولو پر ټولی باندي بريد وکړ، آدينه بيګ سره د ځو تنو نورو سردارانو مقابلې ته ورووت.

د (۱۱۶۵هـ. ق.) کال د درېيمي خور د مياشتي په لومړی ورځ (= ۶ مارچ ۱۷۵۲ع) چي د

[1035] سير المتاخرين، ۳/۸۶۲-۸۶۳ مخونه.

[1036] احوال آدينه بيګ خان (قلمي نسخه د برټش موزيم)، ۵۲-۵۳ مخونه.

[1037] "Ahmad Shah Durrani" ۶۱ مخ.

لاهور شالمار باغ ته نژدې، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پوځو او میر منو (میر معین الملک) د لښکرو تر منځ جنګ ونښت، آدینه بیګ په دغه جنګ کې شامل و او د کوړا مل تر وژل کېدلو وروسته، په تېښته د لاهور په ښار ننووت.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې کندهار ته ستنېدئ، میر معین الملک ئې د پنجاب نائب الحکومه مقرر کړ. د نوموړي نائب الحکومه له خوا آدینه بیګ بیرته د جالندهر دوآبې حاکم وټاکه سو. په دغه وخت کې سکهانو د امرتسر او غرو تر منځ پر یوه لویه سیمه باندې غېږ را وګرزوله. میر معین الملک آدینه بیګ د دوی ځبلو لره وګماره. آدینه بیګ په داسې وخت کې، چې سکهان په ماکهوال نومي ځای کې د یوه مذهبي مېلې له پاره راغونډ سوي وو، برید پر وکړ او دوی ئې ښه وځبل[1038].

د (۱۱۶۷ هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په اوومه ورځ میر معین الملک ومړ. د ډهلي پاچا احمد شاه مغل د محرمي د میاشتي په شلمه ورځ له خپلي خوا څخه د مرحوم میر معین الملک ورور (د ډهلي د دربار وزیر نظام الدین انتظام الدوله خان خانان) د نامه له پاره د لاهور نائب الحکومه وټاکه او ده بیا له خپلي خوا آدینه بیګ د جالندهر دوآبې حاکم مقرر کړ[1039].

د (۱۱۶۹ هـ. ق.) کال په شروع کې د ډهلي د دربار وزیر ناسیاله غازي الدین سهروردي د آدینه بیګ په غوښتنه او سلا، د لاهور د نیولو په نیامت لودهیانې ته لښکري وروستلې او له هغه ځایه څخه ئې یو تکړه پوځ د سید جمیل الدین او عباد الله خان کشمیري په مشرتابه پر لاهور برید وکړ. د میر معین الملک مایینه، چې د مېړه تر مرګ وروسته د میر معین الملک د زوی په نیابت د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د لاهور حاکمه مقرره سوې وه، وارخطا سوه او د آدینه بیګ په سلا ئې خپله لور غازي الدین ته ورکړه او په دې توګه ئې د دې هجوم مخه ونیوله.

غازي الدین چې له ماچهي واړې څخه ډهلي ته ستنېدئ، د لاهور حکومت ئې د دېرشو لکو روپو کالني کلنګ په بدل کې آدینه بیګ ته وسپاره. آدینه بیګ له خپلي خوا سید جمیل الدین د لاهور نائب وټاکه او پخپله جالندهر ته ولاړ.

د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال په شروع کې چې د پښتني لښکرو سرلاڼ پوځ د جنګباز خان بنګښ په مشرتابه، له کابله څخه د لاهور د نیولو په نیامت را وخوځېد او په پېښور کې ئې عبد الصمد خان محمدزی هم مل سو، د دې خبري په اورېدلو سره سید جمیل له آدینه بیګ څخه مرسته وغوښتله. ده جواب ورکړ، چې ته لاهور پرېږده او جالندهر ته ځان را ورسوه. د ده د دغه نصیحت په اثر د پښتنو سرلاڼ پوځ بې ټک او پو څخه لاهور ونیو. آدینه بیګ چې خبر سو، خپله خزانه او د کار سامانونه ئې لکهي جنګل ته ولېږل[1040] او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه چې له لاهوره مخ پر ډهلي

[1038] رویداد معارف اسلامیه، ۲۶۶ مخ.

[1039] د "Ahmad Shah Durrani" ۱۳۸ مخ.

[1040] د "Ahmad Shah Durrani" ۱۵۰ مخ.

وخوځېدل، ده د حصار او هانسي خوا ته ځان ګوښه کړ.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د ډهلي تر فتحي وروسته له لاهوره څخه د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د برات په میاشت کي، کندهار ته روانېدئ، د پنجاب حکومت ئې خپل مشر زوی شهزاده تیمور سدوزي ته ورکړ او سردار جان خان ئې د هغه د نائب (مدار المهام) په حیث ورسره پرېښود. آدینه بیګ له یوې خوا څخه په پنجاب کي د پښتنو مخالفت ته ملا وتړله، د بل پر سکهان ئې د ځان مله کړل او د سردار جان خان له پاره د تخرک اغزی سو او له بلي خوا څخه ئې شهزاده تیمور ته د خپل وکیل "دیلارام" په وسیله، د کار او خدمت هیله وړاندي کړله. دا هیله ئې د بېر زر و منله سوه. د جالندهر دوآبې حاکم وټاکه سو، فرمان او خلات ور واستول سوه او وکیل ئې شپږ د پرش لکه روپۍ و منلې، چي د کاله به ئې احمد شاهي خزانې ته تحویلوي. دیلارام د آدینه بیګ د وکیل په حیث په لاهور کي پاته سو. د فرمان په وررسېدلو سره آدینه بیګ جالندهر ته ولاړ په حکومت ئې پیل وکړ او خپل میاشتني قسطونه به ئې منظم لاهور ته لېږل. د آدینه بیګ په آرامېدلو په پنجاب کي کراره کراري سوه او لاري خلاصي سولې[۱۰۴۱].

څه موده وروسته چي آدینه بیګ لاهور ته وغوښته سو، ده ټته وکړله او شهاب خان بیګوالیه، چودهري شهاب خان نوشهریه، دهرم داس، رای ابراهیم کیورتله، چودهري جادو نګري ئې د خپلو نماینده ګانو په حیث، له درنو تحفو سره د شهزاده تیمور دربار ته ولېږل. د سردار جان خان له خوا دوهمه پلا سرهندي غلام حسین پیرزاده، چي آدینه بیګ ئې له معتقدینو څخه و پسي ولېږل سو، مګر ده بیا ټته وکړل. د ده دا خودسري بده وګڼله سوه، ځکه نو د ده پر ځای مراد خان د دوآبې حاکم وټاکه، سو بلند خان او سرفراز خان ئې په مرسته وګمارل سوه. آدینه بیګ چي دا واورېدل، د مخه ئې لا خپل ترتیبات نیولي وو، دستي د سوالک غرو ته وخوت او سکهان ئې د ځان مله کړل. راجا بهوپ سنګهه ئې له پنځه ویشتو زرو سپرو سره مل سو او ناڅاپه ئې پر جالندهر دوآبه باندي، چي مراد خان ئې حاکم و او بلند خان سدوزی او سرفراز خان ئې په مرسته تعین سوي وو، برید وکړ[۱۰۴۲]. بلند خان له سکهانو سره په جنګ کي شهید سو او مراد خان و سرفراز خان په ماتې لاهور ته ستانه سول. د مراد خان ټول مالونه او د جنګ تجهیزات د غلیم په لاس کښېوتل او په دې توګه سکهان د آدینه بیګ په نامه د جالندهر دوآبې مالکان سول[۱۰۴۳]. سکهانو د شرقي پنجاب ډېري سیمي ولوټلې او ملک ئې سور اور کړ.

د مراد خان تر ماتې وروسته سردار جان خان پخپله یو پوځ د آدینه بیګ او سکهانو مقابلې لره راویوست او سرفراز خان ئې د سرلاڼ په توګه مقرر کړ. آدینه بیګ او سکهانو له غرو څخه نابېره په جالندهر کي د پښتنو پر سرلاڼ پوځ برید وکړ او سرفراز خان ته ئې کلکه ماته ورکړه. سردار جان

[۱۰۴۱] روئداد معارف اسلامیه، ۲۶۵ مخ او د "Ahmad Shah Durrani" ۱۹۱ مخ.

[۱۰۴۲] شاه عالم نامه، ۵۶ مخ.

[۱۰۴۳] شاه عالم نامه، ۳۴ مخ او دولت درانیه، ۲۴ مخ.

خان چي د سرفراز خان په ماته خبر سو، بيرته لاهور ته ستون سو[۱۰۴۴]. آدينه بيګ پر دې هم سکته ونه کړه او رګهوناتهه، شمشير بهادر او ملهار راو هولکر مرهټه سرداران ئې هم له خپلو پوځو سره له ډهلي څخه پنجاب ته راوبلل او يو لک روپۍ ئې ور و منلې[۱۰۴۵].

په سلطان التواريخ کي زين سنګهه زخمي لکهنوي راوړي دي:

آدينه بيګ د مرهټو لښکرو مشر راګهوجي ته وليکل:

"د سُتلج څخه تر آټک پوري سيمه تشه پرته ده، له شهزاده تيمور سدوزي او سردار جان خان سره په لاهور کي لږ اجل نيولي سپاهيان سته، لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پخپله مشهد ته د لښکرکښۍ نيت لري، ګوره چي څه ورپېښ سي. سکهان چي د مرهټو نوم واروي له بېري ئې رېږد اخلي، په ټول پنجاب کي داسي څوک نسته، چي د مرهټو توري ته دي ودرېږي، که تاسي راسئ، دا ملک بې جنګه ستاسي دئ. کرم نما و فرود آکه خانه خانهٔ تست".

مرهټو له خدايه دا غوښتله، دستي ئې د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د څلرمي خور په مياشت (= ۹ جنوري ۱۷۵۸ع) کي پوځونه له ډهلي څخه مخ پر لاهور وخوځول. مرهټه پوځونه چي سرهند ته ورسېدل، آدينه بيګ له غرو ورته راکښته سو[۱۰۴۶] او د پښتنو په مقابل کي ئې د مرهټو پوځونو رهنمايي او مرستي ته ملا وتړله. د غرو زميندارانو او سکهانو خوئې د مخه لا مله وو. دا بېشماره پوځ ئې مخ پر لاهور وخوځاوه او سردار جان خان ته ئې وليکل:

"که د مرهټو د مقابلې توان لرې، راووزه او که نو شهزاده او حرم ولايت ته ورسوه، زه به څو ورځي مرهټه دلته وځنډوم"[۱۰۴۷].

سردار جان خان د پښتني پوځونو د لږوالي له امله په ځان کي د مرهټو د مقابلې توان نه ليد، له لاهوره څخه آمين آباد ته ولاړ، مرهټو او سکهانو لاهور ونيو. د آدينه بيګ، مرهټو او سکهانو پوځونه په شهزاده تيمور سدوزي او سردار جان خان پسي آمين آباد ته وخوځېدل. د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د برات په مياشت کي سردار جان خان تر اباسين پوري ووت او پېښور ته ئې ځان ورساوه. آدينه بيګ تر اټکه پوري په پښتني لښکرو پسې و[۱۰۴۸].

له دې سوبې څخه چي لاهور ته راستون سو، د (۱۱۷۱ هـ. ق.) کال د روژې په مياشت کي مرهټو د لاهور حکومت له خپلې خوا څخه آدينه بيګ ته ورکړ او ده د کاله ۷۵ لکه روپۍ کلنګ ومانه[۱۰۴۹].

[۱۰۴۴] د زيب تاريخها په درېيم فصل کي کښلي دي، چي "د شهزاده تيمور له خوا د آدينه بيګ مقابلې ته حاجي کريم داد خان باميزی وګماره سو"، مګر دا خبره ما بل ځای نه ده ليدلې.

[۱۰۴۵] وګ: رويداد معارف اسلاميه

[۱۰۴۶] وګ: شاه عالم نامه، ۵۴ مخ.

[۱۰۴۷] وګ: عبرتنامه، ۱/۲۲۰ مخ.

[۱۰۴۸] وګ: دولت درانيه، ۲۵ مخ.

[۱۰۴۹] وګ: خزانه عامره، ۱۰۱ مخ.

آدينه بيګ له خپلې خوا څخه خواجه ميرزا جان بهادر، چې د مغلي اولس مشر و[۱۰۵۰]، په لاهور کې نائب مقرر کړ. مرهټو هم خپل څه سرداران په لاهور کې ورسره پرېښوول. د عبرتنامې مولف ليکي:

خواجه ميرزا جان دومره ظالم سړی و، چې د ده په حکومت کې يوه ورځ داسې نه راغله، چې دوه درې تنه به ئې نه وه په دار کړي او د رعيتو د مالونو لوټلو ته ئې کلکه ملا تړلې وه.

آدينه بيګ د لاهور تر انتظام وروسته جالندهر دوآبې ته ولاړ او د سرهند حکومت ئې خپل يوه تکړه ملګري صديق بيګ خان ته ورکړ[۱۰۵۱].

اوس نو آدينه بيګ د مرهټو په مرسته او پېرزوينه د درست پنجاب نائب الحکومه سو او د کلو کلو د زړه ارمان ئې وخوت. د عبرتنامې مولف ليکي، چې په دغه وخت کې د سکهانو ظلمونه د پنجاب پر محلي زميندارانو خورا زيات سول او د دينانګر خلکو آدينه بيګ ته عرضونه وکړل. آدينه بيګ خپل دفتردار هيرامل، جساسنګه، ګورو عاقل داس د ياغي سکهانو ځبلو ته وګمارل. قاويان ته نژدې جنګ وسو. ديوان هيرا مل وواژه سو او د ده په وژله د آدينه بيګ پوځونه مات سول. بار و بنه ئې د ياغي سکهانو په لاس کښېوتله. آدينه بيګ ته چې دا خبر ورسېد، لاهور ته ولاړ او له هغه ځايه څخه ئې يو دروند پوځ د سکهانو ځبلو ته ولېږداوه. سکهانو چې د ميداني جنګ وس په ځان کې نه ليد، تيت و پرک سول او غرو ته وختل. آدينه بيګ خان چې له سکهانو سره جنګ ته راوتلی و، د هغه پر ځای ئې د کوټلې پر پښتنو بريد وکړ. هغو هم کلکه مقابله وکړه. نژدې و، چې آدينه بيګ ماته وکړي، مګر د پښتنو د بدبختۍ په وخت کې، د کوټلې د پښتنو مشر جمال خان وواژه سو، سمندر خان سرهندی هم وتښتېد. ميدان د آدينه بيګ په ګټه سو، مګر تر دې سوبې وروسته آدينه بيګ ډېر ژوندی پاته نه سو. دا د کامروايۍ موده ئې ډېره لنډه وه او مرګ ژر پر راهله کړه.

دلېوه مځي ابليس مشربه انسان د مرهټو تر ټګ څلور مياشتې وروسته د (۱۱۷۲هـ.ق.) کال د محرم د مياشتې په يوولسمه (= ۱۵ سپټمبر ۱۷۵۸ع) د شاه عالم نامې په قول، د جالندهر په جلال آباد نومي ځای کې په تېر سو[۱۰۵۲]. مګر د عبرتنامې مولف ليکي، چې په بټاله کې ومړ. لاښ ئې د ده د وصيت سره سم په "خانپور" نومي ځای کې، چې له هوشيارپوره څخه يو نيم ميل ليرې شمالي لور ته پروت دئ، خاورو ته وسپاره سو[۱۰۵۳].

د ده تر مړيني وروسته د ډهلي مرهټه حاکم جنکو راو د سرهند پوځداري صديق بيګ ته

[۱۰۵۰] دغه ميرزا جان يو وخت د امان خان په وسيله، کندهار ته بندي بېول سوی و، هلته بيا لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ونازاوه. په (۱۱۷۰هـ.ق.) کال د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پوځونو په سرلاښ کی و، چې لاهور ونيوه سو، دی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خوا د لاهور د نائب وکيل مقرر سو. وروسته آدينه بيګ ته وروتښتېد او د هغه مل سو.

[۱۰۵۱] دولت درانيه، ۲۵مخ.

[۱۰۵۲] شاه عالم نامه، ۵۷مخ.

[۱۰۵۳] رويداد معارف اسلاميه، ۲۷۴مخ.

وسپارله، چي د آدينه بيګ ملګري و. د دوآبې حکومت ئې د آدينه بيګ ماينې ته ورکړ او د لاهور حکومت ئې سابا مرهټه ته ورکړ.

د تاريخ کا ايک روشن پهلو په ۱۷۲ مخ کي د آدينه بيګ د زوی نوم جعفربيګ کنبلی دئ، مګر دا چي د ده تر مرګ وروسته مرهټو د دوآبې حکومت د آدينه بيګ ماينې ته ورکاوه، معلومېږي چي د آدينه بيګ زوی نه و.

د عبرتنامې په ۴۷۲/۱ مخ کي د آدينه بيګ مرګ په (۱۸۱۸) بکرمي (= ۱۱۷۶ هـ. ق.) (=۱۷۶۰ع) کال کي پېښ دئ، خو د دې تاريخونو تطابق د بيا غور وړ دئ. آدينه بيګ چي ئې په بټاله کي خاورو ته سپاره، سکهان چي په خبر سول، له ګوره ئې راوکيښ وئې سوځاوه.

آدينه نګر چي اوس په دينا نګر (Dinanagar) شهرت لري او له راوي سينده څخه اته کروهه ليري، د شرقي پنجاب په ګرداسپور نومې سيمه کي واقع دئ، دده له يادګارو څخه دئ. دا ښار ده په (۱۱۶۵ هـ. ق.) (= ۱۷۵۲ع) کال ودان کړی دئ[۱۰۵۴].

مفتي علي الدين د عبرتنامې په ۸۸/۱ مخ کي په (۱۲۷۰ هـ. ق.) کال ليکي، چي دا ښار د سکهانو په حکومت کي بې رونقه غوندي سو او ودانۍ ئې ونړېدلې.

شاهرخ افشار

شاه رخ د رانده رضاغُلي زوی[۱۰۵۵]، د افشار نادر لمسی دئ. مورئې د ايران د صفوي پاچا حسين (۱۱۰۵–۱۱۳۵ هـ. ق.) لور او د شاه محمود هوتک کونده وه.

د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د ثلرمي خور د مياشتي په يوولسمه د يکشنبې په شپه (؟)، چي نادر افشار وواژه سو، مورنی ورور[۱۰۵۶] يا وراره[۱۰۵۷] ئې (علي غلي) د عليشاه په نامه د ايران پر تخت کښېنوست او خپل کشر ورور (؟) ابراهيم ميرزا ئې هم په پاچهۍ کي ورسره شريک کړ. د ايران لويديزه خوائې، چي عراق، آذربايجان او فارس پکښې شامل وو، ابراهيم ميرزا ته وربښوول او

[۱۰۵۴] رويداد معارف اسلاميه، ۲۷۸ مخ.

[۱۰۵۵] رضاغلي په (۱۱۵۵ هـ. ق.) کال خپل پلار روند کړ. په (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال خپل توربره علي شاه وواژه. د مرګ په وخت کي ۲۹ کلن و. د رضا قلي د مهر سجعه دا ده:

سزد که چرخ شود جبهه سا بدرګاهم

رضـــا قلی ولد نـــادر شهـــنشاهم

[۱۰۵۶] خزانه عامره، ۳۷۳ مخ او خورشيد جهان، ۱۴۸ مخ.

[۱۰۵۷] احمدشاه بابا، ۲۱۰ مخ، "Ahmad Shah Durrani"، ۸۲ مخ او عماد السعادت، ۳۷ مخ.

اصفهان ئې پایتخت سو. د ایران ختیزه خوا د نومورړي علیشاه سوله او مشهد ئې پایتخت کړ. علیشاه خپل مریی سهراب کلات نادري ته ولېږه او هلته ئې د نادر افشار ټوله کورنۍ، بېله شاهرخه څخه یا ووژل او یا ئې رانده کړل(١٠٥٨).

په ځینو تاریخونو کي کښلي دي، چي د نادر شاه افشار د کورنۍ د پرلس تنه شهزادگان، چي د نادر زوی رضاقلي هم په هغو کي و، ووژه سول. ځیني کسان د وژل سوو شهزاده گانو شمېر شپاړس ښیي. شهزاده نصر الله، شاهرخ میرزا (چي په دغه وخت کي څوارلس کلن و) او شهزاده امام قلي میرزا له کلاته څخه مشهد ته وتښتېدل، خو دوی هم په لار کي ونیول سوه. شهزاده امام قلي او شهزاده نصر الله ئې په مشهد کي ووژل او شاهرخ ئې پرېښود(١٠٥٩).

علي شاه د نادر پنځه زامن او د پرلس تنه لمسیان ووژل. یو لمسی ئې چي شاهرخ و، ژوندی پرېښوو. د نادر د وژل سوو زامنو نومونه دا دي:

١. رضا قلي — نه ویشت کلن
٢. نصر الله میرزا — درویشت کلن
٣. امام قلي میرزا — ١٨ کلن
٤. چنگیز میرزا — ٣ کلن
٥. عبد الله میرزا — اووه میاشتنی

په نامه عالم آرای نادري کي علي قلي د ابراهیم میرزا زوی او د نادر وراره ښوول سوی دئ او دا سهي خبره هم ده.

د (١١٦١هـ. ق.) کال په نیمایي کي ابراهیم میرزا د ابراهیم شاه په نامه د الله یار خان توخي او نورو پښتنو سردارانو په مرسته(١٠٦٠)، په اصفهان کي ډ خپلواکۍ نغاره وډنگوله. علیشاه پوځونه پسي ور وایستل. په قزوین کي د دوو ورونو پوځونه سره مخامخ سول. ابراهیم شاه بری ومونداو عادلشاه یا علیشاه طهران ته وتښتېد. طهرانیانو ونیو او ابراهیم شاه ته ئې په لاس ورکړ او هغه ړوند کړ. تر دې پېښې وروسته د خراسان مشرانو د افشار نادر لمسی، شاهرخ چي په نادري کلات کي بندي و، له زندانه راویوست او د شپاړسو کلو په عمر ئې په مشهد کي پاچا کړ. د ده د تخت نشینۍ تاریخ د درة الزمان په ١٠٠ مخ کي د (١١٦١هـ. ق.) کال د کوچني اختر میاشت ضبط ده او د مهر سجعه ئې داسي لیکلې ده:

شاهرخ کلب امیر المؤمنین
شد در اقلیم رضا صاحب نگین

د شاهرخ تر تخت نشینۍ وروسته د اصفهان پاچا ابراهیم شاه ته ځیني قزلباش امیران پورته

(١٠٥٨) عماد السعادت، ٣٧ مخ احمد شاه بابا، ٢١٠ مخ، او "Ahmad Shah Durrani"، ٨٢ مخ.

(١٠٥٩) تاریخ سیاسي ایران، مهدي فرخ، ٣٨ مخ.

(١٠٦٠) احمد شاه بابا، ٢١٠ مخ.

سول. ابراهیم شاه د قزوین په سیمه کي قراغان نومي کلا ته ځان ورساوه او هلته کلابند سو. شاهرخ چي په خبر سو، یو تکړه پوځ ئې ورولېږه، ابراهیم شاه ئې ونیو او سترګي ئې ځني وکښلې(۱۰۶۱).

څه موده وروسته د سید داود زوی سید محمد، چي په مشهد کي د امام رضا د هدیرې متولي او د وروستي صفوي پاچا حسین (۱۱۰۵-۱۱۳۵ھ. ق.) خوریی و، پر شاهرخ راوغورځېد. شاهرخ ئې په (۱۱۶۲ھ. ق.) کال ونیو او ړوند ئې کړ. پخپله د شاه سلیمان په نامه د مشهد پر تخت کښېناست. په دغه کال د شاهرخ د لښکرو سپهسالار یوسفعلي جلایر(۱۰۶۲) پر شاه سلیمان برید وکړ. شاه سلیمان ئې له دوو زامنو سره وواژه. ړوند شاهرخ ئې له زندانه څخه راویوست، تش د نامه له پاره ئې د مشهد پر تخت کښېناوه او پخپله ئې د پاچهۍ واګي په لاس کي واخیستلې. څو ورځي وروسته میر عالم خراساني عرب او جعفر خان ګرد سره مله سول، نوموړی یوسفعلي خان ئې وواژه(۱۰۶۳). میر عالم خان عرب او جعفر خان کرد هم سره ونه چلېدل او جنګ ته ئې لښکري سره راوغښتلې. په جنګ کي میر عالم بری وموند او جعفر خان ئې ړوند کړ.

د دغه میر عالم خزیمه عرب په باب د تاریخ احمد شاهي په ۲۱۹/۱ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۶۲ھ. ق.) کال میر علم خان په خراسان کي د یوسفعلي خان د رقابت له بېري په قائن کي خپل ژوند ګران ولید او له قائنه څخه چي د یوسف علي خان په امر د خراسان عربو هلته دی کلابند کړی و، کندهار ته وتښتېد او د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه دربار ته ئې پناه وروړه. لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه ونازاوه، د خراسان د سرداری لقب ئې ورکړ او څه بر دراني (چي په رکاب کي وو) ئې د ده د مرستي له پاره ورسره کړل او خراسان ته ئې ولېږه(۱۰۶۴).

او د دغه کتاب په ۲۳۲/۱ مخ کي لیکلي دي:

د شاهرخ له خوا د هرات نائب الحکومه امیر خان میش مست ښوول سوی دئ، چي د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه پر مخ ئې د هرات دروازې وتړلې. د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه پوځ چي پل مالان ته ورسېد، د افشار حسن علي خان بیګلربیګي په مشري د امیر خان له خوا د ده د مخ نیوي له پاره یو پوځ ولېږه سو، حسن علي خان له خپل لښکر سره ماته وکړه. د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه پوځونو

(۱۰۶۱) خزانه عامره، ۳۷۳ مخ. د "Ahmad Shah Durrani" په ۸۲ مخ کي لیکلي دي، چي ابراهیم شاه خپلو افسرانو وواژه او د هغه تر مرګ وروسته شاهرخ پاچا کړه سو.

(۱۰۶۲) یوسفعلي د شاهرخ د نیولو او ړندولو په وخت کي د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه د لښکرو د مخ نیوي له پاره هرات ته تللی و، چي دا واقعه ئې واورېدله، په تلوار مشهد ته ستون سو.

(احمد شاه دراني، ۸۱-۸۲ مخونه)

(۱۰۶۳) د "Ahmad Shah Durrani" په ۸۳ مخ کي لیکلي دي، چي یوسفعلي ړوند کړه سو او د سراج التواریخ د لومړي ټوک په ۱۴ مخ کي زیاته سوېده، چي شاهرخ ئې بندي کړ.

(۱۰۶۴) د دغه میر علم خان خزیمه لمسیان په ایران کي د څورلسم هجري شمسي قرن په شروع کي شوکت الملک سرکار میر محمد ابراهیم خان او امیر اسد الله خان علم و، چي د قائناتو په امیرانو کي شمېرل کېدل.

د کلا پر چارپېر واړول. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حال ورولېږه، که د هرات والي اوس هم امان وغواړي، امان به ورکړه سي، مګر امیر خان دا ونه منله. څوارلسمه ورځ لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه خپلو لښکرو ته د هرات د نیولو امر ورکړ. نقبونه وکیندل سول او تر څلورو میاشتو کلابندۍ وروسته پښتانه پوځونه پر کلا ور وختل. په دغه وخت کي امیر خان عفوه او پناه وغوښتله. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه وباخښه او ده د هرات د ښار کیلۍ پخپل لاس لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته وړاندي کړې (١٠٦٥).

د (١١٦٢ هـ. ق.) کال پای ته چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه لښکر له کندهاره څخه مخ پر هرات وخوځېد، میر عالم عرب د هرات د ساتني په نیامت هرات ته راغی (١٠٦٦) او څلور میاشتي (١٠٦٧) ئې د هرات کلابندي وساتله. پای ته چي هرات ونیوه سو، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د هرات حکومت درویشعلي هزاره ته وسپاره او مشهد ئې پسي کلابند کړ. څه موده وروسته د مشهد روند او بېوا که څلمی پاچا تر ښار راووت او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په ښه سترګه ورته وکتل او بیرته ئې د مشهد پر تخت باندي د افغانستان د یوه تحت الحمایه پاچا په حیث کښېناوه. شاهرخ د دې پېرزوینې په مقابل کي ډېري روپۍ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته تقدیم کړې (١٠٦٨).

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه شهزاده تیمور او خپله کورنۍ، چي تر دې وخته پوري په مشهد کي د شاهرخ په لاس کي وه، له ځانه سره بوتله او نیشاپور ئې کلابند کړ. کلابندي اوږده سوه، ژمی پر راغی او احمدشاهي لښکر په ډېره بده ورځ کندهار ته ستون سو. چي لښکرو دمه وکړه او تجهیزات ئې بشپړ سول، بیا په (١١٦٤ هـ. ق.) کال لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د نیشاپور د نیولو په نیامت خپل پوځونه له کندهاره څخه وخوځول. دا پلا احمد شاهي پوځونه بېله دې، چي مشهد ته ولاړ سي، نیشاپور ته تېر سول او نیشاپور ئې کلابند کړ. هغه لوی احمدشاهي توپ، چي ٤٧٢

(١٠٦٥) ښاغلي غبار د احمدشاه بابا په ٢١٠ مخ کي کښلي دي، چي امیر خان د احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر اعدام کړه سو. د سراج التواریخ په ١٤/١ مخ او د پښتنو د تاریخ په ١٠٧/١ مخ کي کښلي دي، چي امیر خان په جنګ کي وواژه سو، مګر د تاریخ احمدشاهي په ٢٩٨/١–٢٩٩–٣٠٠ مخو کي لیکلي دي:

"... درین اوان شاه ولیخان درانی بامیزائی کشکچی باشی دیوان اعلی را باتفاق امیر خان میش مست که سابقاً بسرداری دار السلطنت هرات سرافرازی داشت و بعد از آن برتبه سپهسالاری ممالک خراسان رایت امتیاز افراشته بود روانه جانب سبزوار مامور بگرفتن آن شهر و حصار فرمودند ....".

(١٠٦٦) سراج التواریخ، ١٤/١ مخ.

(١٠٦٧) په مجمل التواریخ کي د هرات د کلابندۍ موده نه میاشتي، د "History of the Afghans" په ٧٤ مخ کي څورلس میاشتي، په تاریخ سلطاني (١٢٨ مخ) کي څلور میاشتي او د " An Account of the Kingdom of Cabool" په ٢٨٧ مخ کي څورلس ورځي ښوول سوېده.

(١٠٦٨) مهدي فرخ د تاریخ سیاسي افغانستان په ٤٥ مخ کي کښلي دي: د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه او شاهرخ په عهدنامه کي خواف، باخرز، ترشیز، تربت جام، تربت حیدری د هرات په ایالت پوري تړلي وه او د هرات د والي له طرفه اداره کېدل.

انګرېزي [۱۰۶۹] پوندړه ګولۍ ئې ویشتله، په یوه میاشت کې جوړ کړه سو او د توپ په برکت ډېر ژر نیشاپوریانو امان وغوښت. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم امان ورکړ. د نیشاپور او سبزوار تر نیولو وروسته احمدشاهي پوځونه مشهد ته راستانه سول. رانده شاهرخ او مشهدیانو د ښار دروازې ورته وتړلې او د مشهد ښار شپږ میاشتې کلابند سو [۱۰۷۰]. پای ته شاهرخ په تنواتو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه کیمپ ته راغی، ډېر ملایان او سیدان هم ورسره وو [۱۰۷۱]. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه وباخښه او پرخپل مسند ئې ورسره کښېناوه. روغه پر دې وسوه چې د مشهد د پاچهي سکه و خطبه به د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په نامه وي او جام، باخرز، تربت حیدریه، خواف او ترشیز به په هرات پوري تړل کېږي، ځکه نو شاهرخ پخپل مهر کې دا بیت وکینه:

یافت از الطاف احمد پادشاه
شاهرخ بر تخت شاهی تکیه گاه

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې له مشهده راروانېدئ، نور محمد خان خوګاڼی پښتون ئې د شاهرخ د نائب په حیث له شاهرخ سره پرېښوو [۱۰۷۲]. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په دې توګه سره د خراسان تحت الحمایه پاچهي د ایران او افغانستان تر منځ، د یوه Buffer State په حیث جوړه کړه او پخپله کندهار ته وخوځېد. نور محمد خان ډېر ژر د مشهد له نیابته څخه راوغوښت سو او پر ځای ئې د دولت آباد او سېدونکی امیر محمد خان قرایي د شاهرخ نائب وټاکه سو. په دغه وخت کې شاهرخ د ځان له پاره یو بل نائب هم وټاکه، چې فریدون نومېد. د دغه دوو نائبانو مناسبات سره وران سول، خبره جنګ ته ورسېدله، مشهدیانو د فریدون ملا وتړله او د امیر محمد خان څو پښتانه سپاهیان ئې ووژل. امیر محمد خان دولت آباد ته ولاړ. په دغه وخت کې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پنجاب کې د میر معین الملک سره په جنګ بوخت و، ځکه نو د کندهار د دربار له خوا د فریدون د ترټنې له پاره څه اقدام ونه سو. مګر فریدون خپله سزا وموندله او د شاهرخ د مشر زوی نصرالله میرزا په لاس وواژه سو [۱۰۷۳].

ورو ورو نصرالله میرزا دومره قدرت وموند، چې پلار ئې د ده د خولې سرې سو او د استقلال خبرې ځني کېدلې. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په خبر سو، په (۱۱۸۳ هـ. ق.) کال ئې د مشهد په نیامت له کندهاره پوځونه ولېږدول. نصرالله میرزا په مشهد کې کلابند سو. که څه هم ده د ګردانو یو ښه لښکر جوړ کړی و، خو بیا ئې هم د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابله آسانه کار نه ګاڼه او د پلار په

[۱۰۶۹] د "Ahmad Shah Durrani" ۹۳ مخ.

[۱۰۷۰] سراج التواریخ، ۱۵/۱ مخ.

[۱۰۷۱] د تاریخ سلطاني په ۱۳۱ مخ کې لیکلي دي، چې شاهرخ خپل زامن او ملایان و سیدان ورته راولېږل.

[۱۰۷۲] ښاغلی میر غلام محمد غبار دا سوبه په (۶۷-۱۱۶۸ هـ. ق.) کال ګڼي.

[۱۰۷۳] د "Ahmad Shah Durrani" ۱۳۵ مخ.

سلا ئې خپل کشر ورور نادر میرزا د ایران پاچا کریم خان زند ته د مرستي له پاره ولېږه. په لار کې د طبس خان (علیمردان) خان ورسره مل سو او یو درونډ پوځ ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د مقابلې له پاره مخ پر مشهد راوخوځاوه. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په خبر سو، د رسول خان قوللر آقاسي په مشرتوب ئې یو څلور زری لښکر د دوی د مخنیوي له پاره ولېږه. ګناباد ته نژدې جنګ وسو، پښتنو ماتې وکړه او نه نیم سوه سپاهیان ئې ووژل سول. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په خبر سو، د سردار جان خان او نصیر خان بلوڅ په مشرتوب ئې اته زره سپاره او شپږ زره پلي ورواستول. په دې جنګ کې علیمردان خان وواژه سو او نادر میرزا مشهد ته وتښتېد. څو ورځې وروسته بیا شاهرخ په پخوانیو شرطونو روغه وغوښتله. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم ومنله. دا پلا شاهرخ خپله لور ګوهرشاده شهزاده تیمور ته ورکړه او نصر الله میرزا خپل مشهور او نامي آس، چې "غریب" نومېد، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ورلېږ.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په (۱۱۸۴ هـ. ق.) کال د صفري د میاشتي په اتمه ورځ له مشهده راروانېدئ، د شاهرخ زوی یزدان بخش ئې د یرغمل په توګه کندهار ته راوستی [۱۰۷۴]. شاهرخ بیا د خراسان تحت الحمایه پاچا سو او تر (۱۲۱۰ هـ. ق.) کال پوري په دغه حیث پاتې و.

په (۱۲۱۰ هـ. ق.) کال د طهران پاچا آقا محمد قاچار د موسی رضا رحمة الله علیه د زیارت په پلمه، له طهرانه څخه د مشهد په نیامت راوخوځېد. په دغه وخت کې د آقا محمد قاچار په امر سره صادق خان شقاقي له پنځو زرو سپرو سره پر مشهد برید وکړ. د مشهد لوی مجتهد محمد مهدي چې د آقا محمد خان قاچار سره ئې جوړه وه، شاهرخ مجبور کړ چې د آقا محمد خان قاچار هرکلی وکړي. شاهرخ له خپل زوی قهار غلي سره استقبال ته ورووت. د آقا محمد خان قاچار په لاس چې شاهرخ ورغی، بندي ئې کړ او د افشار نادر جواهرات ئې ځني وغوښتل او یو پوځ ئې د اعتضاد الدوله سلیمان په مشرتوب د مشهد نیولو له وګماره. د شاهرخ زوی نادر میرزا چې دا واورېدل، له خپل زوی عباس میرزا سره مخ پر هرات راوتښتېد او له هغه ځایه څخه کابل ته د دادخواهۍ په غرض راغی.

شاهرخ د آقا محمد غجر په بند کې ډېر ځورونه وګالل او رازراز شکنجې ئې ولیدلې، د نیکه تول جواهرات ئې ښیله یوه غټ یاقوت څخه، چې یو وخت د هندوستان د پاچا اورنګزیب تاج په ښکلی سوی و، ور وښوول. آقا محمد غجر د دغه یاقوت د حاصولو له پاره د ړانده شاهرخ پر څړی باندې ویلې کړې سرپ ورتوی کړل.

په ناسخ التواریخ کې کښلي دي:

اورېدل سوي دي، آقا محمد غجر چې د نادر افشار جواهرات خپل کړل، دسترخوانونه ئې آوار کړل، جواهرات ئې پر وغوړول او څو پلا پر ورغښتې.

د جواهراتو تر بوډولو ; روسته شاهرخ له خپلي کورنۍ سره بندي مازندران ته واستول سو او پر لارې د ۶۳ کالو په عمر ومړ [۱۰۷۵].

[۱۰۷۴] د "Ahmad Shah Durrani" ۳۲۰-۳۲۱-۳۲۲ مخونه.

[۱۰۷۵] درة الزمان، ۶۵-۶۶-۶۷ مخونه.

آغا محمد خان د مشهد تر نيولو وروسته محمد حسن خان قراکوزلو په کابل کي شاه زمان ته او مکري اسماعيل آغا په هرات کي شاه محمود ته د اېلچي په توګه ولېږل. د کابل له درباره ځخه کلهو خان په سفارت طهران ته ولاړ.
دمخه موږ ويلي و، چي د آقا محمد خان غجر د مشهد په يرغل کي د شاهرخ زوی نادر ميرزا د دادخواهي په غرض د افغانستان پايتخت کابل ته راغئ. د اعليحضرت زمانشاه سدوزي په امر مختار الدوله حافظ شير محمد خان باميزی په (۱۲۱۱ ه. ق.) [۱۰۷۶] يا (۱۲۱۲ ه. ق.) [۱۰۷۷] کال د يوه تکړه پوځ سره نوموړی نادر ميرزا افشار مشهد ته بوت او د پلار (شاهرخ) په ډول ئې د افغانستان د يوه تحت الحمايه پاچا په حيث د مشهد پر تخت کښېناوه. نادر ميرزا چي تر تخت نشيني وروسته [۱۰۷۸] په نادر سلطان سره مشهور سو، تر (۱۲۱۷ ه. ق.) کاله پوري په مشهد کي د افغانستان تحت الحمايه پاچا و [۱۰۷۹].

شهنواز خان

د مشهور عارف خواجه عبيد الله احرار نقشبندي سمرقندي رحمة الله عليه (۸۹۵ ه. ق. مړ) په اولاده کي د خواجه عبد الرحيم احراري رحمة الله عليه زوی، د خواجه عبد الكريم احراري سمرقندي رحمة الله عليه لمسی سيف الدوله بهادر دلير جنګ عبد الصمد خان توراني، چي د اعتماد الدوله وزير الممالک محمد امين خان ساندو [۱۰۸۰] و، په (۱۱۲۶ ه. ق.) کال د فرخ سير مغل له خوا د پنجاب نائب الحکومه وټاکه سو.

[۱۰۷۶] درة الزمان، ۱۰۱ مخ.

[۱۰۷۷] حسين شاهي تاريخ (قلمي)، د روابط سياسي ايران و افغانستان په ۴۲ مخ کي ليکلي دي، چي د آقا محمد خان قاچار تر مرګ وروسته، نادر ميرزا د شاه زمان د پوځ په مرسته بيرته مشهد ونيو. آقا محمد خان قاچار د (۱۲۱۲ ه. ق.) کال د مياني د مياشتي په يوويشتمه ورځ وژل سوی دئ.

[۱۰۷۸] درة الزمان، ۱۰۱ او ۱۸۵ مخونه.

[۱۰۷۹] په ناسخ التواريخ کي کښلي دي: فتحعلي شاه په (۱۲۱۳ ه. ق.) کال پر مشهد بريد وکړ، نادر ميرزا د مشهد سيدان او ملايان په ننواتي ورته راولېږل او غوښتنه ئې وکړه، چي د ده يوه لور د يوه شهزاده له پاره په نکاح قبوله کړي او زه به ځو ورځي وروسته خدمت ته درسم. فتحعلي شاه ئې غوښتنه ومنله او د لومړي خوړ په پنځلسمه ئې د طهران خوا ته کوچ وکړ او ميرزا محمد شفيع صدر اعظم ئې وګماره، چي د نادر ميرزا لور د شاهزاده حسن علي خان له پاره و طهران ته راولي.
په ناسخ التواريخ کي ليکلي دي، چي نادر ميرزا د فتحعلي شاه خان غجر په امر، په خپه وواژه سو.

[۱۰۸۰] ساندو = باجه، همزلف

په (۱۱۳۹هـ. ق.) (= ۱۷۲۶ع) د ډهلي د دربار له خوا د پنجاب له حکومته څخه د ملتان حکومت ته تبدیل او د پنجاب حکومت ئې زوی (خان بهادر هژبر جنګ زکریا خان[۱۰۸۱]) ته ورکړ سو. په (۱۱۵۰هـ. ق.) (= ۳۷ یا ۱۷۳۸ ع.) کال چي عبد الصمد خان په لاهور کي ومړ[۱۰۸۲]، د ملتان حکومت هم زکریا خان ته ورپاته سو او دواړه سیمي ئې اداره کولې.

د (۱۱۵۱هـ. ق.) کال د روژې په میاشت کي چي نادر افشار تر اباسین ورپوري ووت، زکریا خان ورته سلامي سو او خپل دوهم زوی ئې حیات الله خان، چي خلکو میرزا پهیلوري Philouri هم باله، ډهلي ته ورسره ولېږه.

افشار نادر چي د ډهلي تر قتل عام وروسته، د (۱۱۵۲هـ. ق.) کال د صفري د میاشتي په اوومه ورځ پارس ته ستنېده، د ډهلي (شاه جهان آباد) بندیان ئې د زکریا خان په شفاعت خوشي کړل[۱۰۸۳] او حیات الله خان (میرزا پهیلوري) ته ئې شهنواز خان[۱۰۸۴] لقب او د ملتان حکومت ورکړ[۱۰۸۵]. په "Historyo of the Panjab" کي لیکلي دي، چي حیات الله خان ته د نادر له خوا د شهنواز خان لقب د هغه فعالیت په بدله کي ورکړه سو، چي نوموړي د نور محمد خان لیلي پر ضد کړی و[۱۰۸۶]، مګر د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۱۹۴ مخ او بدایع الوقایع کي لیکلي دي:

کله چي افشار نادر د سنده د نیولو له پاره لاړکانې ته ورسېد، د ملتان حاکم حیات الله خان هم ځان ور ورساوه او د سنده د یاغي نواب نور محمد خان، چي په خدایار خان عباسي مشهور دئ، پر ضد ئې د عمر کوټ په لښکرکښۍ کي د نادر ملا وتړله او د دغه خدمت په بدله کي ئې د نادر له خوا د (۱۱۵۳هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په دوولسمه ورځ د شهنواز خان لقب وموند. د منشور الوصیت په درېیمه ضمیمه کي د نادر افشار د یوه فرمان نقل، چي د (۱۱۵۲هـ. ق.)

(۱۰۸۱) له زکریا خان څخه د وزیر الممالک اعتماد الدوله وزیر قمر الدین خان خور فخر النساء بیګم وه. (سراج التواریخ، ۱۲مخ)

(۱۰۸۲) مآثر الامراء، ۵۲۰/۲ مخ. د عبد الصمد خان قبر په لاهور کي دئ. زاهد خان سدوزي ئې د مرګ تاریخ ویلی دئ:

یکی مـــاند فقط دوی آن نمـــاند
صـمد ماند عبد الصمد خان نماند

د بیان واقع په ۱۷۹ مخ کي راغلي دي، چي نواب عبد الصمد خان د خواجه عبید الله احرار له اولادې څخه و. زکریا خان د نواب قمر الدین خان د خاله زوی او د خور مېړه و. د خواجه عبد الصمد خان زوی میر یحیی د قمر الدین خان زوم و. شهنواز خان (حیات الله) د قمر الدین خان خوریی و. نادر افشار د شهنواز خان لقب ورکړی و. مور ئې فنخر النساء بیګم وه. د نواب عبد الصمد خان لور له نواب جان خان څخه وه. خواجه شمس الدین د نواب جان خان زوم و. میر یحیی د کشمیري رندی "اصیلي" په مرسته، له زندانه وتښتېد.

(۱۰۸۳) مآثر الامراء، ۱۰۷/۲ مخ.

(۱۰۸۴) شهنواز خان پر یوې سکي مین سو، د هغې له پاره ئې ځان سکه کړ، واګرود واګرود ناري به ئې وهلې. سُني توب ئې هم پرېښاوه او شیعه سو، (بیان واقع، ۱۸۴ مخ).

(۱۰۸۵) د "Ahmad Shah Durrani" ۴۰ مخ.

(۱۰۸۶) د "History of the Panjab" ۲۱۳ مخ.

کال د ... میاشتي په لسمه په ډهلي کي لاسليک سوی دئ، سته، هلته کښلي دي:

"د خدايار خان عباسي تر تسلط لاندي د سنده سيمه مي هم د زکريا خان تر اداري لاندي ورکړې ده، چي د لاهور او ملتان ضميمه ئې کړي".

د (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په دوولسمه (= ۱ جولای ۱۷۴۵ع.) کال چي زکريا خان په لاهور کي ومړ او هلته د ايشان خواجه خاوند محمود رحمة الله عليه (۹۶۱ هـ ق مړ) په هديره کي ښخ سو، يحيى خان مشر او شهنواز خان ورپسې زوی ئې دواړه په ډهلي کي وو. د پلار په مړينه چي خبر سول، پنجاب ته وخوځېدل.

د ډهلي پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) په دې خوښ نه و، چي د لاهور او ملتان حکومتونه د زکريا خان زامنو ته ورکړي، خو د وزير الممالک قمر الدين خان په غوښتنه او ټينګار ئې د دغه کال د برات د مياشتي په نهمه ورځ (= ۲۶ اګسټ ۱۷۴۵ع) د لاهور حکومت يحيى خان ته، چي د وزير خوريی او زوم و، او د ملتان حکومت شهنواز خان[(۱۰۸۷)] ته ورکړ او دواړو ورونو پخپلو خپلو سيمو کي په حکومت پيل وکړ.

د (۱۱۵۹ هـ. ق.) کال د ميانی د مياشتي په اتلسمه (= ۲۱ نومبر ۱۷۴۶ع) شهنواز خان د دې له پاره لاهور ته ولاړ، چي له خپل مشر وروره څخه د پلار په پاته مړو (ميراث) کي خپله برخه واخلي، ملتان ئې خپل نائب خواجه اسحاق ته پرېښوو.

په لاهور کي د ميراث ويش جنګ ته ورسېد، څلور مياشتي د ښار په کوڅو کي د دواړو ورونو پوځونه سره وجنګېدل. پای ته د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په شپاړسمه (=۱۷مارچ۱۷۴۷ع) د يحيى خان خوا والو ماته وکړه او د لومړۍ خور د مياشتي په شلمه شهنواز خان د لاهور د حکومت واګي پخپل لاس کي واخيستلې. يحيى خان[(۱۰۸۸)] ئې د خپلي ترور "دردانه بيګم" په سرای کي بندي کړ.

شهنواز خان که څه هم بری ومونډ، خو د ډهلي د دربار له احتمالي عکس العمل څخه ډېر په وېره کي و، ځکه ئې نو پنځه مياشتي وروسته محمد نعيم خان خانه سامان د ډهلي دربار ته د استاځي په حيث ولېږه او د خپل تېري بخښنه او د لاهور کفالت ئې وغوښت.

محمد نعيم خان استاځی د (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د روژې د مياشتي په نهمه (=۳سپټمبر۱۷۴۷ع) ډهلي ته ورسېد او د دربار له غټانو سره ئې خبري شروع کړې. په دغه وخت کي شهنواز خان وغوږېدئ، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه کابل ونيو او د پېښور لور ته ئې لښکري راخوځي، ځکه چي ده د ډهلي په دربار کي د خپلي بخښني امکان لږ ليد او د يحيى خان د خسر

(۱۰۸۷) شهنواز خان هم د وزير الممالک (قمر الدين خان) خوريی و.

(Ahmad Shah Durrani، ۴۳مخ)

(۱۰۸۸) دغه يحيى خان د ژوند په پای کي فقر او سلوک ته ملا وتړله او د يحيى خان درويش په نامه مشهور سو.

(مآثر الامراء، ۲/۱۰۷مخ)

(وزير الممالک قمر الدين خان) له قهر او قوته څخه ډېر په وېره کي و، نو ئې د آدينه بيګ[۱۰۸۹] په سلا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته وليکل، چي:

"ژر راځئ، پنجاب ونيسئ او ما په خپل وزارت ونمانځئ!".

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د بغرا خان پوپلزي په لاس د وزارت زېری ورولېږه او د خپل ژرورتګ ډاډ ئې ورکړ. د ډهلي دربار ته چي دا حال ورسېد، سمدستي ئې د شاهي فرمان په وسيله، شهنواز خان د پنجاب د نائب الحکومه په حيث ومانه. د ده د استائي محمد نعيم خان په لاس ئې د ژرمرستي ډاډ ورولېږه او د پښتنو مقابلې لره ئې ولمساوه. ماما ئې (وزير قمر الدين خان) ورته وليکل:

"دلته دي ټوله کورنۍ د مغلو په لاس کي ده، له دراني احمد شاه سره به ستا مرسته د دوی پر غاړه چاره ړدي او بس".

دې تطميع او تهديد خپله اغېزه وکړه او شهنواز خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه مقابلې ته په ټينګه لېځي راوغښتلې. د (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال د محرمي د مياشتي په ۲۱ (= ۱۱ جنوري ۱۷۴۸ع) لاهور ته نژدې، د شاه بلاول په ډاګ کي جنګ ونښت. د پښتنو توريالیو له توربرېښنه لاهوريو ماتې وکړه او په کلا ننوتل[۱۰۹۰].

شهنواز خان چي پر وعده خلافي سربېره ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه استائی او پير (صابرشاه) هم وژلی و، ځکه ئې نو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له حضوره څخه د بخښني اميد نه درلود. په نيمه شپه کي له لاهوره ووت، د ډهلي لور ته ئې ترپلل[۱۰۹۱] او هلته واوسېد[۱۰۹۲].

د وزير الممالک قمر الدين خان تر مرګ وروسته صفدر جنګ د ډهلي د دربار وزير سو. صفدر جنګ غوښتله، چي د پنجاب او ملتان د نائب الحکومه مير معين الملک (د قمر الدين خان زوی) قوت لږ کړي، ځکه ئې نو شهنواز خان ته په (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال د ملتان د حکومت فرمان حاصل کړ او نوموړي شهنواز خان د وزير صفدر جنګ په لمسون او مرسته پر ملتان بريد وکړ[۱۰۹۳]. ملتان ئې د عبد العزيز خان سدوزي څخه ونيو. د پنجاب او ملتان د نائب الحکومه مير منو (مير معين الملک) له خوا څخه راجه کوړا مل له يوه تکړه پوځ سره ملتان ته ولېږل سو. شهنواز خان ئې په جنګ کي وواژه او ملتان ئې د مير منو له پاره ونيو[۱۰۹۴]. تر سوبي وروسته کوړامل د شهنواز خان مړی په اميرانه آدابو سره د شمس رحمة الله عليه په هديره کي خاورو ته وسپاره[۱۰۹۵].

[۱۰۸۹] آدينه بيګ د جالندهر دوآبې حاکم و.

[۱۰۹۰] د دې جنګ تفصيل د سير المتاخرين په ۸۶۲ مخ کي سته.

[۱۰۹۱] د "Ahmad Shah Durrani" ۵۱ مخ. مغل شهزاده او قمر الدين خان د پاني پت او کرنال تر منځ په کهرونده کي اړولي وو، چي دی ور ورسېد. ډهلي ته قمر الدين خان بندي واستاوه. هلته د پاچا په امر د ابو المنصور صفدر جنګ سره بندي و.

[۱۰۹۲] د "Ahmad Shah Durrani" ۹۲ مخ.

[۱۰۹۳] د "Ahmad Shah Durrani" ۹۲ مخ.

[۱۰۹۴] مآثر الامراء، ۱۰۷/۲ مخ.

[۱۰۹۵] عبرتنامه، ۲۰۶/۱ مخ.

وزیر الممالک قمر الدین خان

د لومړي "غازي الدين بهادر فيروزجنگ" تربور، اعتماد الدوله محمد امين خان چين بهادر چي د سمرقند د قاضي (مير بهاو الدين) زوی[۱۰۹۶] او د شيخ عالم عزيزان توراني (۹۷۲-۱۰۴۴ هـ.ق.) لمسی و. په (۱۰۹۹ هـ. ق.) کال له ماوراء النهر څخه هندوستان ته ولاړ[۱۰۹۷]. د اورنگزيب عالمگير (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هـ. ق.) له خوا ونمانځه سو او منصب ئې وموند.

په (۱۱۳۲ هـ. ق.) کال چي د ډهلي پاچا محمد شاه مغل د ده په تدبير، پر بارهه سيدانو بری وموند. ده ته ئې اته زری منصب او وزير الممالک خطاب ورکړ. وزير الممالک اعتماد الدوله محمد امين خان د سير المتاخرين په قول درې مياشتي و دوه ويشت ورځي وزارت وکړ او په (۱۱۳۳ هـ. ق.) کال ومړ. محمد فاضل خان زوی ته ئې اورنگزيب عالمگير د خپلي پاچهۍ په پای (۱۱۱۴ هـ ق کال) کي "قمر الدين خان" خطاب ورکړی و او د محمد شاه مغل د پاچهۍ په لومړي کال (۱۱۳۱ هـ. ق.) کال ئې منصب شپږ زری سوی و، چي پلار ئې د (۱۱۳۴ هـ. ق.) کال د ربيع الاول د مياشتي په ۲۹ مه ومړ. که څه هم وزارت ورنه کړه سو، مگر اعتماد الدوله خطاب او د منصب زياتوب ئې وموند. په (۱۱۳۶ هـ. ق.) کال چي د ډهلي د دربار وزير نظام الملک آصف جاه فتح جنگ خپل ايالت (دکن) ته ماښجن ستون سو، وزارت اعتماد الدوله قمر الدين خان ته ورپاته سو او وزير الممالک خطاب ئې وموند.

نوموړي وزير په (۱۱۴۷ هـ. ق.) کال په مالوه کي له مرهټو سره څلور جنگونه وکړل او په ټولو کي بريالی سو، خو پای ته ئې له مرهټو سره روغه وکړه او ډهلي ته ځني راغئ.

دې توراني وزير ځکه د هندوستان پر پښتنو پېرزوينه درلوده، چي دا لوی قوت ئې د سُني توب په اشتراک د ايراني عناصرو پر ضد پر خپله سيله دراوه. ځکه ئې نو په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال د روهيلکهنډيو پښتنو د مشر علي محمد خان روهيله لور خپل زوی (صدر الدين خان) ته وغوښتله[۱۰۹۸] او په (۱۱۵۸ هـ. ق.) کال چي مغل محمد شاه د ايراني عناصرو د مشر صفدر جنگ

[۱۰۹۶] د عماد السعادت په ۲۱ مخ کي ليکلي دي، چي مير بهاو الدين په (۱۰۶۰ هـ. ق.) کال د حج په اراده له تورانه څخه هندوستان ته ولاړ. شاه جهان ډېر ونازاوه او له هندوستان څخه چي حجاز ته ولاړ هلته مړ سو. عابد خان او خواجه بهاو الدين سره ورونه وو، (سرو آزاد، ۱۷۶).

[۱۰۹۷] په عماد السعادت کي ليکلي دي، چي محمد امين خان په (۱۱۰۵ هـ. ق.) کال هندوستان ته راغی.

[۱۰۹۸] روهيله پښتانه، ۱۲۴ مخ، احمدشاه بابا، ۲۵۵ مخ. د مير صدر الدين نجلۍ تر ودېدلو پخوا د پلار په ژوند ومړله.

(اخبار الصناديد، ۱/۱۹۷ مخ)

ترکمن په لمسون، د روهیلکهنډ د پښتنو پر مشر نواب علي محمد خان روهیله برید وکړ. د دغه توراني وزیر پېرزوینې نواب علي محمد خان روهیله له وژلي او سپکاوي وژغوره. د (۱۱۶۱هـ. ق.) کال د محرمې د میاشتې پر اتلسمه (= ۸ جنوري ۱۷۴۸ع) چې د لوی احمد شاه بابا لښکر د لاهور ښار ته ورسېد، مخ نیوي لره ئې په دغه ورځ له ډهلي څخه یو لوی لښکر د وزیر قمر الدین خان تر مشرتابه لاندې راولېږد سو.

د پښتونخوا او ډهلي لښکرې د (۱۱۶۱هـ. ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې پر پنځلسمه د سرهند په منوپور کې سره مخامخ سولې. د جنګ په اتمه ورځ (د ۱۱۶۱هـ. ق. د لومړۍ خور د میاشتې دوه ویشتمه) (=۱۱ مارچ ۱۷۴۸ع) د پښتنو د توپ یوه ګولۍ د وزیر الممالک قمر الدین خان په خېمه کې ونښتله او وزیر په ومړ. دا جنګ نور هم شپږ ورځې د دغې میاشتې تر ۲۸ پورې ادامه درلوده.

د ده د مرګ تاریخ آزاد بلګرامي داسې ویلی دئ:

گشت تاریخ چون کشیدم آه
"موت شاه و وزیر و آصف جاه"

د وزیر الممالک شرابخوري او عیاشي:

ډاکټر اظهر علي د سفرنامه انندرام د مقدمې په ۱۹ مخ کې کښلي دي:

"د انندرام مخلص له یوې رباعۍ څخه داسې معلومېږي، چې ده له شرابخورۍ څخه ځان ژغوره، خو د تعجب خبره دا ده، چې د ده (مسلمان) مخدوم (وزیر الممالک قمر الدین خان) د پاچا (محمد شاه مغول) هم پیالهٔ (او دی که څه هم هندو و، له شرابو څخه ئې پرهېز کاوه)".

یادګار قلي خان د مرقع دهلي په ۷۵ مخ کې کښلي دي:

"د دوولسم هجري قرن په اواسطو کې "بهینه" د ډهلي یوه مشهوره رنډۍ وه، کله کله به وزیر الممالک قمر الدین خان د دې کره ورتئ".

د سیر المتاخرین په ۸۵۸/۳ کې کښلي دي:

په (۱۱۵۹هـ. ق.) کال وزیر الممالک قمر الدین خان د شرابو په نشه کې یوه ورځ له بامه راولوېد، مړ نه سو، مګر پښه ئې ډېره خوږ سوه. اووه اته میاشتې پر ځای پروت و، بیا هم چې جوړ سو، د پاچا په حضور کې ئې د ولاړې طاقت نه درلود، ډېر لږ به د پاچا دربار ته ورتئ.

د وزیر الممالک زامن:

د دې توراني وزیر یو زوی میر معین الملک (میر منو) و، چې حال به ئې بېل راسي. بل زوی ئې نظام الدین خان نظام الدوله یا انتظام الدوله خان خانان و. دی په (۱۱۵۳هـ. ق.) کال د اجمیر صوبه دار مقرر سو. نظام الدوله خان خانان د پلار او آصف جاه تر مرګ وروسته د ډهلي په

دربار کې دوزارت هیله درلوده[۱۰۹۹]، خو ایراني عناصر بریالي سول او وزارت ترکمن صفدر جنګ ځني ومونډ[۱۱۰۰] او دی دوهم بخشي مقرر سو.

انتظام الدوله خان خانان د صفدر جنګ تر یاغي کېدلو وروسته په (۱۱۶۶هـ. ق.) کال د ډهلي په دربار کې د احمدشاه مغل (۱۱۶۱–۱۱۶۷هـ. ق.) وزیر سو[۱۱۰۱]، مګر تر پنځلسو میاشتو ئې زیات وزارت ونه کړ او ناسیاله غازي الدین د وزارت واک ځني واخیست.

نوموړی انتظام الدوله خان خانان د (۱۱۷۳هـ. ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي پر پنځمه، د عالمګیر ثاني تر مرګ درې ورځې دمخه، د خپل خوریي ناسیاله غازي الدین له خوا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره د ارتباط په تور او له مرهټو سره د ښمنۍ په ګناه، شهید کړ سو.

د وزیر الممالک قمر الدین خان درې نور زامن فتح الدین خان، علي الدین خان او سعد الدین خان نومېدله، چې د منوپور په جنګ کې حاضر وو[۱۱۰۲]. مفتي خیر الدین د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۲۰۴ مخ کې لیکلي دي، چې فخر الدین خان د وزیر الممالک قمر الدین خان تر ټولو کشر زوی و.

شیخ شهاب الدین
|
اعلم العلماء شیخ اسماعیل
|
- شیخ بهاوالدین
- قلیچ خان شیخ میر عابد

شیخ بهاوالدین
|
وزیر الممالک اعتماد الدوله محمد امین خان
|
وزیر الممالک قمر الدین (محمد فاضل) خان
|
- میر معین الملک (مشهور په میر منو)
- نظام الدین خان (انتظام الدوله خان خانان)
- فتح الدین خان
- سعد الدین خان
- فخرالدین خان

نظام الدین خان (انتظام الدوله خان خانان)
|
- امام الدین خان (په ۱۱۸۱هق کال له ډهلي څخه لکهنو ته کډه سو
- شمس النساء بیګمه (د میرزا اماني ماینه وه، واده ئې په ۱۱۸۳هق کال په لکهنو کې وسو[۱۱۰۳])

[۱۰۹۹] حیات حافظ رحمت خان، ۹ مخ.

[۱۱۰۰] د معین الملک او نظام الدوله خان خانان مور شولاپوري بیګمه وه، چې د نواب جان نثار خان بهادرشاهي لور وه، (سلطان التواریخ، ۷۸ مخ).

[۱۱۰۱] خزانه عامره، ۵۱ مخ.

[۱۱۰۲] د "Ahmad Shah Durrani" ۶۱ مخ.

[۱۱۰۳] عماد السعادت، ۱۰۴ مخ.

میر منو (میر معین الملک)

میر معین الدین د وزیر الممالک قمر الدین خان مشر زوی دئ، چي په "میر منو" مشهور و(۱۱۰۴). په (۱۱۵۶ هـ. ق.) کال چي نواب علي محمد خان روهیله د روهیلکهند په مراد آباد کي د وزیر قمر الدین خان په لمسون، د ډهلي د دربار له خوا نوی مقرره سوی حاکم "هیرانند" وواژه، د ډهلي لښکر د میرمنو په مشری پسي ورووت. د ګنګا سین پر لویدیزه غاړه ئې ورته واړول. نواب علي محمد خان روهیله د ګنګا پوري خوا اړولي و. پای ته روغه وسوه او میر منو خپل پوځ بې جنګه ډهلي ته راستون کړ(۱۱۰۵).

په (۱۱۶۱ هـ. ق.) کال چي میرمنو د پلار تر مړیني وروسته په سرهند کي د پښتنو په مقابل کي ښه توره وکړه، ځکه نو د ډهلي د دربار له خوا د دغه کال د دوهمي خور په دوه ویشتمه (= ۱۱ اپریل ۱۷۴۸ع) په سرهند کي د "معین الملک رستم هند" خطاب او د پنجاب و ملتان حکومت ورکړ سو. معین الملک چي لاهور ته رخصتېدئ، د ډهلي دربار ته ئې د کابل او پېښور د بیا نیولو داډ ورکړ او د روشن الدوله تورباز خان زوی، بهکاري خان رستم جنګ(۱۱۰۶) ئې د مدار المهام په حیث ورسره بوت(۱۱۰۷).

د (۱۱۶۲ هـ. ق.) کال په شروع کي چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پښتني پوځونه تر اباسین ورپوري ایستل، ده هم له لاهوره څخه پوځونه راوایستل او غوښته ئې د چُناب پر سیند باندي د پښتنو پوځونو مخه ونیسي، مګر د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه تر چناب ورپوري وتل او په کوپره نومي ځای کي ئې ورته واړول. د معین الملک پوځونه هم ور ورسېدل. یوه میاشت په وړو جنګو تېره سوه، پای ته د شیخ عبد القادر او مولوي عبد الله په وسیله روغه وسوه او په پنجاب کي د څلورو سیمو مالیه، چي د کاله ۱۴ لکه روپۍ کېدلې، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته ومنلې سوه، چي هر کال به کندهار ته ورلېږل کېږي. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره له پوځونو بیرته کندهار ته ستون سو(۱۱۰۸).

(۱۱۰۴) د "Ahmad Shah Durrani" ۶۱ مخ، مګر د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۲۰۴ مخ کي میر معین الملک د وزیر دوهم زوی ښوول سوی دئ. د قاموس المشاهیر په ۲/۲۲۵ مخ کي کښلي دي، چي میر معین الدین په میر منو مشهور و.

(۱۱۰۵) روهیله پښتانه، ۱۲۳-۱۲۴ مخونه.

(۱۱۰۶) د شاه عالم نامې مولف غلام علي خان د دغه بهکاري خان رستم جنګ زوی دئ.

(۱۱۰۷) خزانه عامره، ۹۸ مخ.

(۱۱۰۸) د "Ahmad Shah Durrani" ۷۷ مخ.

ميرمنو د احمدشاهي څلورو سيمو د انتظام له پاره ناصر خان زيګ مقرر کړ، مګر ډېر ژر ددوی دوو سره ورانه سوه او ناصر خان ډهلي ته ځني ولاړ. په (۱۱۶۳ھ. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له هرات او خراسانه څخه کندهار ته راستون سو، وئې ليدل چي ميرمنو د پنجاب د څلورو سيمو د دوهم کال ماليه نه ده رالېږلې، ځکه ئې نو سکجيون هندو د ماليې د حصول له پاره، لاهور ته ولېږه. مګر ميرمنو چي په خراسان کي د احمدشاهي لښکرو په تباهۍ خبر سوی و، د ماليې له ورکړي څخه ئې نټه وکړله. سُکهه جيون چي کندهار ته ورسېد، لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د (۱۱۶۴ھ. ق.) کال په منځ کي له کندهاره څخه مخ پر لاهور پوځونه وخوځول. کابل ته چي ورسېد، له هغه ځايه څخه ئې هارون خان د استاځي په حيث، د ماليې د حصول له پاره لاهور ته ولېږه. هارون خان د (۱۱۶۴ھ. ق.) کال د لوی اختر د مياشتي په لومړۍ ورځ، په لاهور کي د مير معين الملک سره وليدل او تر څو چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه لاهور ته راتئ، دی هلته پاته سو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د (۱۱۶۵ھ. ق.) کال د محرمي د مياشتي په يوولسمه ورځ پېښور ته راورسېد. دا خبر چي معين الملک واورېد، اته لکه روپۍ ئې ورولېږلې او لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه تر اباسين نه و راپوري وتلی، چي دا روپۍ ور ورسېدلې. مګر دا روپۍ د يوه کال بشپړه ماليه هم نه وه، يعني د يوه کال له ماليې څخه شپږ لکه روپۍ کمي وې، ځکه نو لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پوځونه د رهتاس، ګجرات، سوهدرې، وزير آباد او هنجاروال کلي له لاري شالمار ته، چي د لاهور نژدې شمال شرق ته واقع دئ، ورسول.

ميرمنو (معين الملک) خپله مور شولاپوري بيګم، ماينه مغلاني بيګم او لور عمده بيګمه جمون ته ولېږل. لاهوري ئې عوض خان ته وسپاره او پخپله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د جنګ په نيامت تر لاهور راووت. د (۱۱۶۵ھ. ق.) کال د ربيعي خور د مياشتي په لومړۍ ورځ د ميرمنو او لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پوځونو تر منځ يو جنګ وسو. په دې جنګ کي لاهوريو ماتې وکړه او د ميرمنو مدارالمهام کوړامل ووژه سو.

ميرمنو تر دغي ماتي وروسته د خپلو څو افسرانو سره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه لښکر ته په ننواتي ورغئ او د اشرف الوزراء شاه ولي خان په وسيله ميرمنو، په داسي حال کي، چي خپل لاسونه ئې په شال تړلي وو، له خپلو درو تنو معتمدينو سره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور مشرف سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وباخښه او په ليدلو ئې ډېر خوشاله سو.

د دولت درانيه په ۱۷ مخ، تايخ حسين شاهي (قلمي) او د احمدشاه دراني په ۱۱۷ مخ کي ليکلي دي:

کله چي ميرمنو لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ته وړاندي سو، لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وپوښتېد:

"اې تورياليه! که زه ستا په لاس کښېوتلی وای څه به دي راسره کړي وای؟".

ميرمنو په خورا زړه ورتيا ورته وويل:

"ککرۍ به مي دي پرې کړې وای او د خپل پاچا حضور ته به مي استولې وای".

د حلم کان لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه ومسل او ورته وئې فرمايل:

"اوس زه څه درسره وکړم؟".

معین الملک (میر منو) جواب ورکړ:

"که دا رښتیا وي، چي د پاچا له رحم او پېرزویني څخه مجرمان د بخښني هیله لري، نو مي وبخښه او که ظلم کوي دا مي سر دئ، پرې ئې کړه".

پاچا ته د ده د لهجې دا صراحت خوند ورکړ، ډېر ئې ونازاوه او د فرزند خان بهادر رستم هند لقب ئې ورکړ. خلاتونه، خاص آس او یوه توره ئې وروبخښل او له خپلي خوا ئې د لاهور په حکومت ونمانځه.

تر دې عفوې او نوازش وروسته، میر منو درې ورځي شاهي مېلمه و، بیا نو لاهور ته رخصت سو او د دوهمي خور د میاشتي په پنځمه ورځ په لاهور ښار ننووت. په څلرمه ورځ ئې پنځه لکه روپۍ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته وروړلې او چي خزانه ئې له کرپور څخه راورسېدله، شپږدېرش لکه روپۍ ئې نوري احمدشاهي خزانې ته تحویل کړلې او وعده ئې وکړله، څو چي شهنشاه تر اباسین نه وي پوري وتلی، پاته څلور لکه روپۍ به هم احمدشاهي خزانې ته تحویلي کړم. وروسته تر دې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه او معین الملک تر منځ داسي یو تړون وسو، چي د پنجاب او ملتان سیمي د کندهار په پاچهۍ پوري اړه لري او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا میر معین الملک د دغو سیمو نائب الحکومه دئ او څه مالیه چي ددغو دوو ولایتو تر اداري خرڅ زیاتېږي، هغه به د کندهار پاچاهي خزانې ته لېږي. تر دې تړون وروسته لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د (١١٦٥هـ. ق.) کال د څلرمي خور د میاشتي په څورلسمه (= ٢٢ اپریل ١٧٥٢ع.) له لاهوره څخه د افغانستان لور ته خپلي لښکري ولېږدولې او معین الملک د یوه افغاني نائب الحکومه په توګه د ملتان او پنجاب اداره کوله.

د (١١٦٧هـ. ق.) کال د محرمي د میاشتي په پنځمه ورځ (= ٢ نومبر ١٧٥٣ع) معین الملک د ښکار په نامه د سکهانو د ځبلو له پاره له ملک پور څخه، چي له لاهوره څخه اووه اته کروهه لیري دئ، وخوځېد. په لاره کي له آسه ولوېد او یوه پښه ئې ماته سوه. لاهور ته راوړه سو او درېیمه ورځ یعني د محرمي په اوومه مړ سو. مړی ئې په لاهور کي د حضرت ایشان رحمة الله علیه په هدیره کي د خان بهادر زکریا خان څنګ ته ښخ کړه سو.

د لاهور کي اولیای سهروردي په ١٧٥ مخ کي کښلي دي:

سکهانو چي لاهور ونیو، د معین الملک مړی ئې له ګوره راوکیښ او په یوه غار کي ئې وغورځاوه.

د ده تر مړیني وروسته ئې مایني مغلاني بیګمي د لاهور واک پخپل لاس کي راوست او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا ئې کوچنی زوی "مومن خان" والي و. میر مومن ژر مړ سو. خواجه موسی احراري د معین الملک زوم، ئې پر ځای مقرر سو. څه وخت وروسته د سیف الدوله عبد الصمد خان زوی خواجه عبد الله خان لاهور ونیو او د نیابت فرمان ئې له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه څخه وغوښت. په دغه وخت کي امان خان پوپلزی (د سردار جان خان ورور) ډهلي (؟) ته راغی، مګر عبد الله خان ډېر ژر وتښتېدئ او د لاهور حکومت بیا مغلاني بیګم ته پاته سو.

ناسياله دريم غازي الدين سهروردي

(۱۱۳۹-۱۲۱۵هـ.ق.)

عابد خان چي قليچ خان خطاب ئې درلود، د شيخ عالم عزيزان توراني زوی (چي ځان ئې د شيخ شهاب الدين سهروردي رحمة الله عليه له اولادې باله) د شاه جهان مغل (۱۰۳۷-۱۰۶۸هـ.ق.) په پاچهي کي له ماوراء النهر څخه هندوستان ته ولاړ. هلته ئې پنځه زري منصب او د عابد خان لقب او صدر الصدوری رتبه ئې ومونده او په (۱۰۹۸هـ. ق.) کال د ربيع الاول په ۲۴ مه د ګولکندې په جنګ کي وواژه سو[۱۱۰۹].

مير شهاب الدين زوی ته ئې، چي د شاه جهان د وزير "سعد الله خان" زوم و، عالمګير اورنګزېب (۱۰۶۸-۱۱۱۸هـ.ق.) اووه زري منصب او "غازي الدين بهادر فيروزجنګ" خطاب ورکړ او د بهادرشاه په پاچهۍ کي د ګجرات صوبه دار سو او په (۱۱۲۸هـ. ق.) کال مړ سو[۱۱۱۰].

د دغه غازي الدين بهادر فيروزجنګ زوی، چي آصف ئې تخلص و، په برنده ځواني (؟) کي د نواب نظام الملک لقب موندلی و. د فرخ سير مغل (۱۱۲۴-۱۱۳۱هـ.ق.) د پاچهۍ په لومړي کال (۱۱۲۴هـ.ق.) ئې بهادر فتح جنګ خطاب، اووه زری منصب او د دکن حکومت وموند. د رفيع الدرجات په پاچهي کي د مالوې نائب الحکومه سو.

د (۱۱۳۴هـ.ق.) کال د ربيع الاول د مياشتي په ۲۹ چي د ډهلي د دربار وزير الممالک محمد امين خان مړ سو، محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ.ق.) دی خپل وزير وټاکه، مګر په (۱۱۳۶هـ.ق.) بيرته دکن ته په خوابدۍ ستون سو.

د نظام الملک بهادر آصف جاه فتح جنګ زوی (مير محمد) ته د ډهلي له درباره څخه د پلار په ژوند فيروز جنګ غازي الدين خان بهادر لقب ورکړ سو، چي پلار ئې په (۱۷۴۸ع) (= ۱۱۶۱هـ.ق.) کال د څلرمي خور د مياشتي په څلورمه ورځ) په برهان پور کي، د يو سل او څلورو کالو په عمر ومړ، د احمدشاه مغل (۱۱۶۱-۱۱۶۷هـ.ق.) له خوا د امير الامرائۍ خطاب هم ورکړ سو[۱۱۱۱].

[۱۱۰۹] خزانه عامره، ۳۵ مخ، سرو آزاد، ۱۷۳/۲ مخ او عماد السعادت. عابد خان دشاه جهان د زامنو په جنګو کي د اورنګزېب ملګری و. د عابد خان قبر د دکن د حيدر آباد په سيمه کي، حمايت ساګر ته نژدې د عطاپور په لته کي واقع دئ او د چين قليچ خان د هديرې په نامه شهرت لري.

[۱۱۱۰] د واقعات دهلي په ۶۵۳/۲ مخ کي ئې د مړيني کال (۱۱۲۲هـ. ق.) (= ۱۷۱۰ع.) کښل شوی دئ.

[۱۱۱۱] خزانه عامره، ۵۰ مخ.

امیر الامراء غازي الدين بهادر فيروزجنگ مير محمد په (۱۱۶۵هـ.ق.) کال د دکن حاکم وټاکه سو او د مرهټو د سردار "ملهار راو هولکر" سره، له ډهلي څخه دکن ته وخوځېد[۱۱۱۲]. د دغه کال د میانۍ د میاشتي پر شلمه، چي د دکن اورنگ آباد ته ورسېد د خپل ورور امیر الممالک، چي د پلار تر مړيني وروسته د دکن حاکم و، ځبلو لره ئې له مرهټو څخه د مرستي اخیستلو په هیله، د خاندیس ټوله سیمه او د اورنگ آباد یوه برخه (جالنه) پخپل مهر او لاسلیک، مرهټو کفارو ته ورکړه. د امیر الامراء غازي الدين دا سوبه تر سره نه سوه، ډېر ژر مرگ پر راهله کړه او د دغه کال د لوی اختر د میاشتي په اوومه ورځ په اورنگ آباد کي، ناڅاپه ومړ.

ددغه امیر الامراء غازي الدين زوی (شهاب الدين) د پلار تر مړيني وروسته د ډهلي د پاچا احمد شاه مغل له خوا عماد الملک غازي الدين لقب وموند، چي اوس ئې د ناسياله (درېیم) غازي الدين په نامه درپېژنو:

ناسياله غازي الدين د وزير الممالک قمر الدين خان اعتماد الدوله د لور زوی او د میر منو (میر معین الملک) او وزیر انتظام الدوله خوریی و[۱۱۱۳]. د میر منو لور (عمده بیگم) ورڅخه وه او د میر منو مایینه ثریا بیگم (مغلاني بیگ) ئې خوابنې کېدله[۱۱۱۴].

د دې ناسياله شخصیت منحوس ستوری لکه څنگه چي تاسي ولوستل د پلار تر مرگ (۱۱۶۵هـ.ق. د لوی اختر د میاشتي اوومه) وروسته وځرکېد او د ډهلي له مغل پاچا (احمدشاه کورگاني) څخه ئې "عماد الملک غازي الدين" خطاب وموند او د امیر الامرائۍ عهده وروسپارله سوه[۱۱۱۵].

په دغه وخت کي د ډهلي د دربار واک ټول د ناسياله وزير صفدر جنگ ترکمن په لاس کي و، څه چي ئې زړه غوښته هغه ئې کول. مغل پاچا (احمد شاه کورگاني) هیڅ نه سو ورته ویلای. تر دې چي پر مغلي پاچا او مور ئې خورا ډېر گران خواجه سرا "جاوید خان" وواژه[۱۱۱۶] او د پاچا د خوابدۍ هیڅ پروا ئې ونه کړه. دا پېښه پر کورگاني پاچا ډېره درنه پرېوتله[۱۱۱۷] او د (۱۱۶۶هـ.ق.) کال په نیمايي کي ئې د توپخانې مشرتوب، چي پر وزارت سربېره ناسياله وزير صفدر جنگ ته له (۱۱۵۵هـ.ق.) کال څخه ورسپارلې سوی و، ځني واخیست. پر دې خبره صفدر جنگ خوابدی سو، د ډهلي تر ښار ووت او دوه کروهه لیري ئې واړول[۱۱۱۸].

(۱۱۱۲) په تاریخ ظفره کي کښلي دي، چي له ملهار راو هولکر سره دېرش زري لښکر هم و.

(۱۱۱۳) خزانه عامره، ۵۰ مخ او تذکره شعراء اردو، د میر حسن دهلوي تالیف، ۶۲ مخ.

(۱۱۱۴) حیات حافظ رحمت خان، ۷۹ مخ.

(۱۱۱۵) خزانه عامره، ۵۰ مخ. په سیر المتاخرين کي کښلي دي: امیر الامراء بهادر ذوالفقار جنگ چي د (۱۱۶۳هـ.ق.) کال پای ته د امیر الامرائۍ له رتبې موقوف سو، دا رتبه غازي الدين ته ورکړله سوه، چي د آصف جاه زوی کېدئ.

(۱۱۱۶) د جاوید خان گناه دا وه، چي د وزير په غیاب کي ئې د پاچا په امر له ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره، چي لښکري ئې تر لاهور پوري وررسېدلي وې، روغه کړې وه.

(۱۱۱۷) حیات حافظ رحمت خان، ۷۴ مخ.

(۱۱۱۸) خزانه عامره، ۷۶ مخ.

د پاچا او وزیر تر منځ جنګ ونښت. توراني امیران او نجیب الدوله یوسفزی د پاچا پر خوا سول او سورج مل جاټ او ایراني عناصرو د وزیر ملا وتړله. دا جنګ شپږ میاشتي اوږد سو. ناسیاله غازي الدین، چي په دې جنګ کي د پاچا غښتلی ملاتړ و، د ناسیاله صفدر جنګ پر ضد ئې "ملهار راو هولکر" مرهټه له مالوې او "جي آپا" له ناګوره څخه د پاچا مرستي ته راوغوښتل، مګر د مرهټو پوځونه لا نه وو را رسېدلي، چي د ډهلي د دربار دنوي توراني وزیر انتظام الدوله خان خانان نظام الدین خان په منځګړیتوب د کورګاني پاچا او ایراني معزول وزیر تر منځ، روغه وسوه او ناسیاله صفدر جنګ خپلي لښکري خپل جاګیر اوده ته ولېږدولې(۱۱۱۹).

د (۱۱۶۷هـ.ق.) کال په سر کي د مرهټو پوځونه پر تش میدان راورسېدل، ځکه نو ناسیاله عماد الملک غازي الدین دا مرستیال مرهټي پوځونه د سورج مل جاټ(۱۱۲۰) ځبلو لره، چي د صفدر جنګ ملګری و، د بهرتپور او ډیګ خوا ته ورسره ولېږدول. سورج مل جاټ چي په ځان کي د امیر الامراء ناسیاله غازي الدین او مرهټو د مقابلې بیچ نه لید او دا هم ورڅرګند و، چي د ډهلي پاچا د غازي الدین امیر الامراء په دومره اقتدار خوښ نه دئ، ځکه ئې نو د ډهلي له پاچا کورګاني احمدشاه څخه مرسته وغوښتله(۱۱۲۱). پاچا هم د سورج مل جاټ دا غوښتنه ومنله او د ښکار په نامه ئې د سورج مل جاټ د مرستي په نیامت، ځان سکندرې ته ورساوه. ملهار راو هولکر مرهټه د شپې له مخي، ناڅاپه پر پاچاهي لښکرو برید وکړ، پخپله پاچا ډهلي ته ځني وتښتېد، ډېر پاچاهي سامانونه د مرهټو کفارو په لاس کښېوتل او د پاچا مور هم د غازي الدین د مرستیالو مرهټو په لاس کي بندي سوه(۱۱۲۲).

ناسیاله غازي الدین چي خبر سو، د ډیګ کلابندي ئې پرېښووله، ډهلي ته ئې ځان راورساوه، انتظام الدوله ئې له وزارته معزول کړ، صمصام الدوله ئې امیر الامیراء مقرر کړ او د (۱۱۶۷هـ.ق.) کال د برات د میاشتي پر لسمه د یکشنبې په ورځ ئې پاچا (احمدشاه کورګاني) او مور ئې (قدسیه بیګم) له صفدرجنګ سره د مکاتبې په ګناه بندي او پسله یوې هفتې ئې ړانده کړل(۱۱۲۳).

ناسیاله غازي الدین د ډهلي د پاچهۍ اختیار داره سو. د برات د میاشتي په شلمه ورځ ئې د اورنګزیب لومړي عالمګیر (۱۰۶۸-۱۱۱۸هـ.ق.) کړوسی، د شاه عالم بهادر شاه (۱۱۱۸-۱۱۲۴هـ.ق.) لمسی، د ابو الفتح محمد معز الدین جهاندارشاه (۱۱۲۴-۱۱۲۴هـ.ق.) دوهم زوی

(۱۱۱۹) خزانه عامره، له ۷۶ مخه څخه تر ۸۶ مخه پوري.

(۱۱۲۰) سورج مل جاټ د پاچا او وزیر په جنګ کي د ایراني عناصرو یعني ناسیاله وزیر ملا تړلې وه.

(۱۱۲۱) د سیر المتاخرین په ۸۹۳/۳ مخ کي کښلي دي: سورج مل جاټ چي کلابند سو، عماد الملک د کلابندۍ د ماتولو له پاره د عاقبت محمود کشمیري په لاس د ډهلي پاچا احمدشاه کورګاني او وزیر انتظام الدوله ته خطونه ولېږل او توپونه ئې ځني وغوښتل. مګر احمدشاه او انتظام الدوله د توپو له وراستولو څخه ډډه وکړله.

(۱۱۲۲) خزانه عامره، ۵۰ مخ او سیر المتاخرین، ۳/ ۸۹۴ مخ.

(۱۱۲۳) احمدشاه کورګاني شل کاله نور هم ژوندی و. په (۱۱۸۸هـ. ق.) کال د برات پر دوهمه مړ سو.

عزیز الدین[۱۱۲۴] ئې له بندي خانې راویوست، د نامه له پاره ئې د ډهلي پاچا کړ. د "دوهم عالمګیر" لقب ئې ورته وټاکه[۱۱۲۵] او پخپله وزیر سو. د دغه کال (۱۱۶۷ه.ق.) په پای کي دامیر الامراء ناسیاله غازي الدین رقیب ناسیاله صفدر جنګ هم ومړ او دا اغزی ئې هم له لاري ایسته سو. اوس نو د ډهلي د دربار بشپړ واکداره ناسیاله غازي الدین و، هر څه چي ئې زړه غوښته هغه ئې کول. خپل استاد عاقبت محمود کشمیري ئې د ملکي او مالي چارو مدار المهام وټاکه او د پاچا په دربار کي ئې د خپلي نماینده ګۍ حیثیت هم ورکړ. د عاقبت محمود کشمیري ورور سیف الدین محمد خان (۱۱۹۱ه.ق. مړ) ته ئې د سیف الملک خطاب وباخښه[۱۱۲۶].

ناسیاله غازي الدین چي یو شرانګېزه او بد اندیشه طبیعت درلود، ډېر ژر ئې له عاقبت محمود کشمیري سره ورانه سوه او د شادل خان اپریدي په واسطه ئې وواژه[۱۱۲۷].

د ناسیاله غازي الدین ماما میر معین الملک، چي په (۱۱۶۵ ه.ق.) کال د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه له خوا د لاهور نائب الحکومه مقرره سوی و، د (۱۱۶۷ه.ق.) په شروع کي ومړ. لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه ئې کوچنی زوی میر مومن ته د لاهور او ملتان حکومت ورکړ، چي د میر معین الملک مایني (مغلاني بیګم) به، چي د ناسیاله غازي الدین خوابنې کېدله، نیابتاً حکومت کاوه. د ناسیاله غازي الدین د لاهور نیولو ته زړه وسو او د لاهور د نیولو په نیامت ئې یو پوځ له ډهلي څخه وخوځاوه. په دې سفر کي ئې پاچا (عالمګیر ثاني) او لوی امیر نجیب الدوله نجیب خان یوسفزی هم له ځانه سره بوتلل. پاني پت ته چي ورسېدل، بدخشي یا داغ سین پلټني د تنخا د ځنډېدلو له امله بغاوت وکړ. ناسیاله غازي الدین ئې ډېر بې عزته کړ او شو ورځي ئې بندي هم کړ. پای ته د پاچا په امر نجیب الدوله نجیب خان یوسفزی ورغی او د بدخشي یا داغ سین پلټني له بنده ئې خلاص کړ. د دې بغاوت په سبب ناسیاله غازي الدین بیرته ډهلي ته پوځونه ستانه کړل[۱۱۲۸].

دوهمه پلا د (۱۱۶۹ه.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په دوولسمه ورځ (= ۱۵ جنوري ۱۷۵۶ع) ناسیاله غازي الدین بیا پوځونه د لاهور د نیولو په نیامت له ډهلي څخه وخوځول. د دوآبې حاکم آدینه بیګ ئې هم مل سو. په لاهور کي ئې د میر معین الملک کونډه بندي کړله او د لاهور حکومت ئې د درو لکو روپو پیشکش په بدله کي آدینه بیګ[۱۱۲۹] ته ورکړ، چي د هغه له خوا بیا سید جمیل الدین کشمیري[۱۱۳۰] ته نیابتاً ورکړه سو. پخپله ناسیاله غازي الدین د برات په

(۱۱۲۴) د معز الدین جهاندارشاه مشر زوی اعز الدین نومېدئ او د (۱۱۵۷ ه. ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په شپږمه یا اوومه مړ سو، (سیر المتاخرین، ۸۵۳/۳ مخ). عزیز الدین په (۱۰۹۹ ه. ق.) کال زوکړی و، د فرخ سیر له وختو بندي و، د ۶۷ کلو په عمر د (۱۱۶۷ ه. ق.) کال د برات د میاشتي پر لسمه پاچا سو.

(۱۱۲۵) تاریخ هندوستان (پښتو)، ۷۸۳/۱ مخ.

(۱۱۲۶) شاه عالم نامه، ۲۳ مخ.

(۱۱۲۷) سلطان التواریخ (قلمي)، ۱۶۳ مخ.

(۱۱۲۸) شاه عالم نامه، ۲۵ مخ.

(۱۱۲۹) خزانه عامره، ۵۲ مخ.

(۱۱۳۰) شاه عالم نامه، ۲۷ مخ.

میاشت کې ډهلي ته راستون سو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په نکل خبر سو، ډېر ژر ئې خپل پوځونه له کندهاره څخه راوخوځول. په غزني کې د ناسیاله غازي الدین قاصد ایلچ خان، چې له سرهنده ئې رالېږلی و، د باچا په حضور مشرف سو او خلاتونه ورکړه سوه. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا قلندر خان د استاځي په حیث وټاکه سو، چې له ایلچ خان سره به د ډهلي دربار ته ځي. قلندر خان چې د (۱۱۷۰هـ.ق.) کال د صفري د میاشتي په لومړۍ ورځ ډهلي ته ورسېد. د صفري د میاشتي په څلرمه ورځ ئې له وزیر ناسیاله غازي الدین او د صفري د میاشتي په شپږمه ورځ ئې د ډهلي د پاچا عالمګیر ثاني سره ولیدل. نه آسونه ئې شاه ته او څلور آسونه ئې ناسیاله غازي الدین ته د سوغات په توګه وړاندي کړل. قلندر خان د ډهلي له درباره څخه یو قانع کوونکی جواب ونه موند او له ډهلي وخوځېد[1131].

سرېره پر دې د میر معین الملک د کونډې "مغلاني بیګم" د ډهلي د پاچا (دوهم عالمګیر) د محمدشاه (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ.ق.) د مایني "ملکه زماني بیګم" او د مغل حرم د نورو ښځو له خوا څخه لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته خطونه ورغلل، چې موږ د ناسیاله غازي الدین ظالم له منګولو څخه وژغوره[1132].

ځکه نو لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه خپل پوځونه له پېښوره څخه د ډهلي په نیامت راوخوځول. ناسیاله غازي الدین وارخطا سو او نه پوهېد، چې څه وکړي؟ له هیڅ خوا ئې د مرستي هیله نه درلوده، ځکه ئې نو د آغا رضا خان په لاس د دوو لکو روپو سوغاتونه پاچا (لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه) ته ورولېږل او ځني وئې غوښتل، چې ډهلي ته ورنه سي. دلته په ډهلي کي نجیب الدوله ته ورغی او له هغه څخه ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د مقابلې هیله وکړه، مګر مطلوب جواب ئې ونه موند.

اشرف الوزراء شاه ولي خان له خپلو لښکرو سره د ډهلي شاوخوا ته ورسېد او د (۱۱۷۰هـ.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په دوه ویشتمه ورځ (= ۱۵ جنوري ۱۷۵۷ع) ئې په "باولي" نومي ځای کي واړول. د دوهمي خور د میاشتي په شپږویشتمه ورځ[1133] لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه، چې په سوني پت کي ئې اړولي و، د ډهلي د پاچا او ناسیاله غازي الدین ایلچیانو ته پیغام ورکړ، چې د ډهلي پاچا او وزیر چې له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره وګوري، د روغي خبري به ورسره وسي. په سبا ورځ ئې ناسیاله غازي الدین د شاه ولیخان کیمپ ته ورغی او د هغه په وسیله د لوی احمد

(۱۱۳۱) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۴۹ مخ.

(۱۱۳۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۵۰-۱۵۱ مخونه.

(۱۱۳۳) د سیر المتاخرین په ۸۹۸/۳ مخ کي لیکلي دي: لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د جمادی الاول د میاشتي په اوومه هندوستان(؟) ته راورسېد. په دراني احمدشاه کي کښلي دي، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په دغه پلا د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د دریمي خور د میاشتي په اوومه (= ۲۸ جنوري ۱۷۵۷ع) د ډهلي په ښار ننووت.

شاه بابا رحمة الله عليه حضور ته وروستل سو (۱۱۳۴). که څه هم لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پرورته دردېدلی و، خو د میرمنو د کونډي او اشرف الوزراء شاه ولیخان په شفاعت وباخښه سو او بیرته ئې وزارت ورکړ (۱۱۳۵).

په ډهلي کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د اقامت په وخت کي د اشرف الوزراء شاه ولیخان په وسیله سره له ناسیاله غازي الدین څخه د یو کروړ روپو جواهرات او تر درو لکو دانو زیاتي اشرفی احمد شاهي خزانې ته تحویل کړه سولې. د څلرمي خور د میاشتي په لومړۍ شپه، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په حضور کي د ناسیاله غازي الدین او د میرمنو د لور "عمده بیگمي" واده وسو، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له حضوره پنځه زره روپۍ او یو خاص شال د پوړني په توگه ناوي ته ورکړه سو او زوم (ناسیاله غازي الدین) ته دوه لکه نقدي روپۍ، دوه پیلان، څلور اسان او د "فرزند خانی" لقب وباخښه سو.

ناسیاله غازي الدین د واده په ورځ خپله بله ماینه "گناه بیگمه"، چي د شپږگوتي علیقلي خان (۱۱۳۶) لور وه، طلاقه کړه.

ناسیاله غازي الدین چي مرهټو او سورج مل جاټ ته، د پښتنو مخصوصاً د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه پر ضد د مرستي خطونه لېږلي وو، د هغو په اثر سورج مل جاټ "تلپت" او "فرید آباد" ته پوځونه را ورسول او مرهټه پوځونه هم و ډهلي ته، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د رارسېدلو په ورځو کي، د "انتاجي" په مشرتوب، د ډهلي شاوخوا ته رارسېدلي وو.

د دولت درانیه په شلم مخ کي لیکلي دي، چي د خپلو دغو عمالو له بېري، ناسیاله غازي الدین فرخ آباد ته ولاړ او له شجاع الدوله څخه د ماليې حاصلول ئې پلمه کړه. په دې سفر کي ئې شهزاده هدایت بخش د دوهم عالمگیر زوی او میرزا بابر، د دوهم عالمگیر زوم، چي د اعز الدین زوی و، هم ملگري کړي وو (۱۱۳۷). په فرخ آباد کي ئې احمد خان بنگښ هم مل سو او په گډه د اوده لور ته وخوځېدل. د روهیلکهنډ د نواب سعد الله خان روهیله په منځگړیتوب د اوده د نواب شجاع الدوله او ناسیاله غازي الدین تر منځ روغه وسوه او د (۱۱۷۰ه.ق.) کال د شوال د میاشتي په اوومه ورځ فرخ آباد ته بیرته راستون سو او تر هغو هلته واوسېد، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه وطن ته رسېدئ (۱۱۳۸).

(۱۱۳۴) د "Ahmad Shah Durrani" ۱۵۹ مخ.

(۱۱۳۵) خزانه عامره، ۹۳ مخ او سیر المتاخرین، ۸۹۸/۳ مخ.

(۱۱۳۶) علیقلي خان د اوده د نواب شجاع الدوله تربور و.

(۱۱۳۷) وگ: سیر المتاخرین، ۸۹۹ مخ.

(۱۱۳۸) د سیر المتاخرین په ۸۹۵/۳ او ۸۹۸ مخو کي کښلي دي: ناسیاله غازي الدین عماد الملک په (۱۱۷۰ه. ق.) کال د خپل دښمن صفدر جنگ د کورنۍ او شجاع الدوله د خرابۍ له پاره د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پوځ (یوه رساله) د جانباز (جنگباز) خان بنگښ پښتانه په مرسته او نور، چي د شجاع الدوله او د ده د پلار پخواني دښمنان وو، د ځان مله کړل او پر اوده ئې برید وکړ. مگر په ۸۹۹/۳ مخ کي بیا کښلي دي، کله چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي له ډهلي څخه د (۱۱۷۰هـ.ق.) کال د رجب په میاشت کي وطن ته رهي سو، ده ملهار راو هولکر او رګهوناتهه مرهټه سرداران د نجیب الدوله پر ضد، چي د ده په غیاب کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا د ډهلي امیر الامراء مقرر سوی و، خپلي مرستي ته راوبلل.

ناسیاله غازي الدین د نوموړو مرهټو سردارانو او نواب احمد خان بنګښ په مرسته د (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال په لومړیو ورځو (=آګسټ ۱۷۵۷ع) پر ډهلي برید وکړ او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا مقرره سوی امیر الامراء نجیب الدوله نجیب خان یوسفزی ئې کلابند کړ. تر پنځه ویشتو ورځو کلابندۍ وروسته نجیب الدوله له ښاره ووت او ناسیاله غازي الدین بیا د مرهټو په مرسته، پخپل سر د ډهلي د دربار وزیر سو. مرهټي لښکري د سدوزي شهزاده تیمور او سردار جان خان له لاسه څخه د پنجاب د ایستلو له پاره، د ډهلي شمالي لور ته ځني وخوځېدلې. د پنجاب تر نیولو وروسته، چي رګهوناتهه ډهلي ته ورغی، "دتا سیندهیا" ئې د مرهټو له خوا د نائب او وکیل په حیث، د ناسیاله غازي الدین په دربار کي پرېښوو او د (۱۱۷۲هـ.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په پای کي پخپله دکن ته وخوځېد.

څو میاشتي وروسته له دکنه څخه د مرهټو کفارو نوی پوځ، د دتا سیندهیا پټېل او جنکو راو سیندهیا تر مشرتابه لاندي ډهلي ته راغی او له عماد الملک سره ئې مناسبات وران سول. خبره جنګ ته ورسېدله، په روغه کي ناسیاله غازي الدین "اټک" نومی توپ، چي په ټوله هندوستان کي تر هغه لوی توپ نه و، مرهټو ته ورکړ او د نجیب الدوله نجیب خان یوسفزي د ځبلو له پاره ئې د پنځو زرو سپرو یو پوځ، د خپل مستوفي راجه دلیر سنګهه او بهادر خان بلوڅ تر مشرتابه لاندي، د مرهټو مرستیال کړ.

ناسیاله غازي الدین دتا سیندهیا پټېل وګماره، چي د پښتنانه امیر الامراء نجیب الدوله پر جاګیر برید وکړي. دتا سیندهیا هم خپل مرهټه پوځونه، چي یو لک او پنځه ویشت زره تنه وو، مخ پر سهارنپور ور وخوځول او د (۱۱۷۲هـ.ق.) کال د روژې د میاشتي په لومړۍ ورځ تر جمنا سیند ورپوري وتل. شپږ میاشتي ئې نجیب الدوله په سکرتال کي کلابند کړ. ناسیاله غازي الدین هم خپلي لښکري په مرسته ورولېږلې، مګر ځکه چي د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په درېیمه ورځ (= ۲۵ اکتوبر ۱۷۵۹ع) لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه تر اباسین ورپوري ووت او دتا سیندهیا د سکرتال له کلابندۍ څخه لاس واخیست او د جمنا د سیند خوا ته ئې مرهټه پوځونه

د پیشکش غوښتنه ځني وکړله، ده ورته وویل، چي زه به له انتربید څخه ډېره مالیه راټوله کړم.

په فرخ آباد کي نواب احمد خان بنګښ د جنګ سامان وربرابر کړ، خپل سپاهیان ئې هم ورسره کړل. عماد الملک چي تر ګنګا پوري ووت، شجاع الدوله هم خپل لښکر خپل سرحد ساندي پالي؟ ته را ورساوه. دوه پلا قراولي جنګونه وسول. پای ته نواب سعد الله خان روهیله په پنځو لکو روپو روغه وروکړله، چي څه به اوس ورکوي او څه به وروسته.

راوکوچول. ډټا سیندهیا پټېل مظفر نګر ته نژدې اړولي و، چې ناسیاله وزیر عماد الملک غازي الدین له ډهلي څخه ځان ورورساوه او په ګډه د سهارنپور لور ته وکوچېدل.

د احوال نجیب الدوله په ۱۴ مخ کې کښلي دي:

پخوا تر دې چې عماد الملک ناسیاله غازي الدین له ډهلي څخه د ډټا سیندهیا پټېل د ملګرې له پاره مظفر نګر ته ولاړ سي، خپلې کډې او بارونه ئې د سورج مل جاټ کلاوو ته ولېږلې، چې هلته خوندي وي.

د واقعات دهلي د لومړي ټوک په ۶۶۲ مخ کې کښلي دي، چې ناسیاله غازي الدین عماد الملک د ډټا سیندهیا پټېل مرستې ته د عالمګیر ثاني تر وژلو وروسته ولاړ.

ناسیاله غازي الدین په ډهلي کې د (۱۱۷۳ه.ق.) کال د دوهمې خور د میاشتې په اتمه[1139] یا اوومه[1140] ورځ (= ۲۹ نومبر ۱۷۵۹ع) دوهم عالمګیر وواژه. په سبا[1141] ئې خپل ماما خانَ خانان انتظام الدوله مړ کړ او د دوهمې خور د میاشتې په نونسمه ورځ ئې یو مغلي شهزاده، چې "محی الملة" نومېد او د کام بخش زوی و، د نامه له پاره د ډهلي پر تخت کښېناوه او د درېیم شاه جهان "شاه جهان ثالث" نوم ئې پر کښېښوو[1142]. خپل مغلي پوځونه ئې له جنکو راو سیندهیا سره د ډټا سیندهیا پټېل مرستې ته واستول، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د سرلانې پوځ د مخنیوي له پاره مخ پر سرهند روان و.

ډټا سیندهیا پټېل چې د (۱۱۷۳ه.ق.) کال د درېیمې خور د میاشتې په شلمه د براړي په ډاګ کې، چې ډهلي ته شپږ میله نژدې واقع دئ، د پښتنو توریالیو له لاسه وواژه سو او مرهټو لښکرو ماتې وکړه، دی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له بېرې، له ډهلي څخه ووت او سورج مل جاټ ته ئې، چې د بهرتپور راجا و، پناه ور وړه[1143]. بیا ئې متهرا ته نژدې د مرهټو د لوی لښکر د مشر "سدا شیو راو بهاو" سره ولیدل او له احمد شاهي نائب یعقوب علي خان څخه د ډهلي د نیولو له پاره د مرهټو کفارو مل سو. مګر ځکه چې د ډهلي تر نیولو وروسته، مرهټو بیا د وزارت چوکۍ ورنه کړه او د مرهټو د بري هیله ئې هم نه وه، بیرته د سورج مل جاټ سره بهرتپور ته وتښتېد.

د پاني پت تر لویې سوبې وروسته، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ډهلي ته راغی، غدار او بېشرمه ناسیاله غازي الدین یو استاځی ورته راولېږه، چې "ناګرمل" نومېد او د خپلې بخښنې

(1139) خزانه عامره، ۹۰ مخ، د "Ahmad Shah Durrani" ۴۰۶ مخ او د تنقیح الاخبار، ۵۰۹/۲ مخ.

(1140) شاه عالم نامه، ۹۳ مخ. د (۱۷۵۹ع.) کال د نومبر ۲۹ د (= ۱۱۷۳ه.ق.) کال د دوهمې خور د میاشتې له اتمې سره برابره ده.

(1141) یعني درې ورځې دمخه د ربیع الثاني په پنځمه، (قاموس المشاهیر، ۱/۱۱۰ مخ).

(1142) محی الملة د محی السنة (۱۱۰۵-۱۱۶۰ه.ق.) زوی، د کام بخش لمسی او د عالمګیر اورنګزېب (۱۰۶۸-۱۱۱۸ ه.ق.) کړوسی و.

(1143) خزانه عامره، ۵۴ مخ.

او بيا وزارت هيله ئې وکړه. لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د ده دا غوښتنه، چې د اسلام په ضرر او د ډهلي په زيانه تباهۍ تمامېدونکې وه، ونه منله او "راجا ناګرمل" نامېنده ستون سو[1144].

آزاد بلګرامي په خزانه عامره کي ليکي، چي تر اوسه (۱۱۷۶ه.ق.) کال پوري ناسياله غازي الدين په بهرتپور کي دئ او د سورج مل جاټ د دسترخوان خښوزو ته ئې سترګي ډ مارلي دي[1145].

قيام الدين حسرت هم په مقالات الشعراء کي د آزاد بلګرامي د وينا تائيد کړی دئ[1146].

په تاريخ فرخ آباد (۹۲ مخ) کي ليکلي دي، چي په (۱۱۷۶ه.ق.) کال ناسياله غازي الدين فرخ آباد ته ولاړ، نواب احمد خان بنګښ د خرخ او ګذارې له پاره جاګير وروباخښه. ناسياله غازي الدين تر (۱۱۸۵ه.ق.) کال يعني فرخ آباد ته د شاه عالم تر ورتګ پوري، په فرخ آباد کي و، چي شاه عالم ورغی، دی له بېري وتښتېد د اوده نواب شجاع الدوله ته ئې پناه ورووړه. له هغه ځايه څه لږ وخت وروسته بيرته د سورج مل جاټ زوی ته ولاړ.

له بهرتپوره څخه په (۱۱۸۷ه.ق.) کال دکن ته ولاړ او د مرهټو کاسې ئې څټلې. څو کاله ئې هلته په ګمنامۍ او آواره ګۍ کي تېر کړل. پای ته مرهټو په کالپي کي ۵۲ کلي د جاګير په توګه ورکړل. په (۱۲۰۵ه.ق.) (=۱۷۹۰ع) کال د انګرېزانو په لاس کښېوت او د انګرېزي ګورنر جنرال په حکم، مکې معظمې ته ولېږه سو. د عمر په پای کي بيرته هندوستان ته راستون سو او د ملتان پښتانه نائب الحکومه (د نواب شجاع خان زوی) نواب مظفر خان سدوزي (۱۲۳۵ه.ق. شهيد) ته ئې جعلي پناه ورووړه او غوښته ئې، چي د ده په وسيله ځان د پښتنو پايتخت کابل ته ورسوي[1147]، خو عزرائيل نور شيطانت ته پرې نه ښوو او د دغه ابليس مشربه انسان خوله ئې ورپټه کړه[1148].

د مرګ کال ئې په تاريخ فرخ آباد[1149] کي، په يقيني او په قاموس المشاهير[1150] کي، په

(۱۱۴۴) شاه عالم نامه، ۱۷۸ مخ.

(۱۱۴۵) خزانه عامره، ۵۴ مخ.

(۱۱۴۶) مقالات الشعراء، (B-۱۰) مخ.

(۱۱۴۷) د فارسي اخبارات و مراسلات په ۴۱۷ مخ کي کښلي دي: په (۱۲۱۱ ه. ق.) کال چي زمان شاه پنجاب ته ولاړ، د ډهلي شهزاده ګانو يو محضر جوړ کړ او له زمان شاه څخه ئې د ناسياله غازي الدين بخښنه وغوښتله، د دوهم شاه عالم (د ډهلي د پاچا) لاسليک ئې هم پر وکړ. د مير محمود او قاضي بهاء الدين په لاس ئې د زمان شاه حضور ته ولېږه. د دوهم شاه عالم يو خاص خط هم د ناسياله غازي الدين د عفوې په باب، له دغه محضره سره مل و. په دغه خط کي کښلي و: "دلته له سردارانو څخه څوک نه دي پاته، وزير الممالک آصف الدوله پخپل کار لګيا دئ، په پاچهي کارو کي ری نه وهي، انګرېزان پخپل ډول کار کوي (د ځان له پاره کار کوي)، ځکه نو زه غازي الدين ته د خپل پلار تر خون ورتېر سوم. هيله ده تاسي ئې هم وبخښئ، د روئې غواړئ، خلعت ورکړئ، دلاسائې کړئ او ډهلي ته تر خپل راتګ د مخه ئې له يوه پوځه سره د بند وبست له پاره راولېږئ. زه له کافرانو څخه په عذاب يم.

(۱۱۴۸) تاريخ هندوستان، ۲۱۰/۹ مخ، حيات حافظ رحمت خان، ۱۰۹ مخ.

(۱۱۴۹) تاريخ فرخ آباد، (B-۱۲۷) مخ.

(۱۱۵۰) قاموس المشاهير، ۱۰۸/۲ مخ.

شیخ بهاو الدین

قلیچ خان شیخ میر عابد (۱۰۹۸ هق مړ)

میر شهاب الدین غازي الدین (اول) [۱]

نظام الملک آصف جاه (اول)

(د ۱۱۶۱ هق کال د جمادی الاخر په ۴ مه د یکشنبه په ورځ مړ او په برهان پور کي ښخ. شپږ زامن او یوولور ئې پاته سوه)

امیر الامراء، (دوهم) غازي الدین بهادر فیروز جنګ میر محمد پناه
د پلار تر مرګ وروسته په ډهلي کي د امیر الامرائی پر رتبه پاته سو. د ورور (ناصر جنګ) تر مرګ وروسته په (۱۱۶۵ هق) کال د رجب په ۳ نېټه پاچا څخه د دکن په نائب الحکومه ګي مقرر او رخصت سو. هولکر ئې د ځان مل کړ. اورنګ آباد ته چي ورسېد، د (۱۱۶۵ هق) کال د ذی الحجې په ۷ مه ناڅاپه (د وبا په ناروغي) مړ سو.
د تزک آصفیه په ۶۳ مخ کي کښلي دي، چي د (۱۱۶۶ هق) کال د رجب په ۲۰ مه د مغل پاچا له خوا د دکن والي مقرر سو. د دغه کال د لوی اختر د میاشتي په اوومه په حیدر آباد کي د هیضه په ناروغي مړ سو.

نامیاله وزیر (دریم) غازي الدین، عماد الملک، امیر الامراء، میر شهاب الدین محمد صدیق

نواب شهید نظام الدوله میر احمد خان ناصر جنګ
د پلار تر مرګ وروسته ئې د نواب ناظم الدوله ناصر جنګ خطاب او د دکن حکومت وموند. د (۱۱۶۴ ه ق) کال د محرمي په ۱۷ مه د بهادر خان پني له لاسه وواژه سو. ناصر خان په (۱۱۵۴ هق) کال له پلار سره په اورنګ آباد کي جنګېدلی و. د ناصر جنګ تر وژل کېدلو وروسته د بهادر خان پني له خوا د ناصر جنګ خوریی هدایت محی الدین خان د دکن نواب یا ناظم اعلان سو. هدایت محی الدین خان هم دوې میاشتي وروسته د (۱۷۵۰ ع) کال په ډسمبر کي د بهادر خان پني له لاسه مړ سو.
(تزک آصفیه، ۵۷ مخ)
د تاریخ ظفره په ۱۱۳ مخ کي لیکلي دي:
"سعد الله خان بهادر مظفر جنګ یعني هدایت محی الدین خان پسر متوسل خان نواسه دختري نظام الملک آصف جاه اول بود".

آصف الدوله صلابت جنګ میر سید محمد خان
پسله ناصر جنګ او هدایت محی الدین خان څخه د حیدر آباد والي سو. په (۱۱۷۵ ه ق) کال خپل ورور دوهم آصف جاه په بیدر کي بندي کړ. د (۱۱۷۷ هق) کال په د لومړی خور د میاشتي په شلمه هلته ومړ. دی اولس پروره والي و.

(دوهم) آصف جاه نظام علي خان اسد جنګ (۱۱۷۵–۱۲۱۸ هق)

اکبر علي خان سکندر جاه (۱۲۱۸–۱۲۴۵ هق)

میر فرخنده علیخان ناصر الدوله (۱۲۴۵–۱۲۷۳ هق)

میر تهنیت علي خان افضل الدوله (۱۲۷۳–۱۲۸۵ هق)

سید محبوب علي خان فتح جنګ نظام الدوله نظام الملک (۱۲۸۵–... هق)

عثمان علي خان
(وروستی نظام)

شجاع الملک بسالت جنګ میر محمد شریف

میر مغل علي خان
په وایي کي نظام علي خان بندي کړی و. د ټیپو سلطان او نواب نظام علي خان په جنګ کي، ټیپو سلطان ته ورو تښتېد.

لور
(د هدایت میر محی الدین خان مور)

تخمیني ډول (۱۲۱۵ه.ق.) (= ۱۸۰۰ع.) کال ښوول سوی دئ. د مرګ ځای ئې خپل جاګیر (کالپي) ده[1151] او د نقوش آپ بیتی په قول په کالپي کي ښخ هم دئ[1152]. د مخطوطات تاریخي په ۱۹ مخ کي د مخزن الغرائب (د میر احمد علي هاشمي تالیف) په حواله کښلي دي، چي غازي الدین خان د (۱۲۱۵ه.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په لسمه ومړ. د کالپي په محمد آباد کي ښخ کړه سو. عمر ئې ۷۶ کاله و.

د غازي الدین تالیفات:

"اسماء الابرار" د غازي الدین له مولفاتو څخه دئ، چي په (۱۲۰۵ه.ق.) کال ئې تالیف کړی دئ. د قاموس المشاهیر د دوهم ټوک په ۱۰۸ مخ کي لیکلي دي، چي غازي الدین په عربي، پاړسو، ترکي او اردو ژبو کي شعر وایه. "نظام" ئې تخلص و. یو ضخیم پاړسو دیوان څني پاته دئ.

د عماد السعادت په ۶۲ مخ کي لیکلي دي، چي غازي الدین په ډېرو ژبو پوهېد او اووه رازه خط ئې کښلای سو. د خزینة الاصفیا په قول "مناقب فخریه" د ده تالیف دئ.

په تذکرة الخواتین کي (۹۷ مخ) کي لیکلي دي، چي ماینې ئې "ګناه بیګم" هم شعر وایه، تخلص ئې "شوخ" و. دا یو فطري شاعره وه او فی البدیهه غزلي ئې ویلې. میر قمر الدین منت به ئې شعرونه ور اصلاح کول.

د غازي الدین د پاړسو کلام نمونه:

مهر و مه جلوه بیا بیا، بحریم دل همه جای تو
که نگنجد این دل اشنا، بمیان خانه سوای تو
گل گلشن مه روشنی بکرشمه برزده دامنی
تو عزیز جان و دل منی، دل و جان بفدای تو
هر همه چوذره فتاده ام، برخ تو دیده کشاده ام
ز دل ستم زده داده ام، هوس جهان بهوای تو
تو "نظام" شاه شاهان شدی، چو ازان بفخر جهان شدی
چو غلام خوش نگهان شدی، نگهی بس است بهای تو

د غازي الدین شخصیت:

میرزا مظهر جان جانان رحمة الله علیه (۱۱۱۳–۱۱۹۵ه.ق.) د ډهلي مشهور نقشبندي پیر په یوه خط کي، چي غلام عسکري محمدي ته ئې کښلی دئ، د نواب غازي الدین په باب لیکلي دي:

[1151] تاریخ فرخ آباد، (B-۱۲۷) مخ او قاموس المشاهیر، ۱۰۸/۲ مخ.

[1152] نقوش آپ بیتی، د (۱۹۶۴ع) کال د جون د میاشتي ګڼه، ۸۲ مخ.

"پر نواب باندي، د ده د بدمعاملګۍ په سبب خلک اعتماد نسي کولای او بله خبره، چي خلک د ده له ملګرۍ څخه کرکجن کوي، هغه دا ده، چي دی خپل غرض تر هر څه وړاندي کوي".

د غازي الدین زامن:

۱. د مآثر الامراء د دوهم ټوک په ۸۵۶ مخ کي لیکلي دي، چي د ناسیاله غازي الدین یو زوی له آصف جاه ثاني سره، په دکن کي و، د آصف جاه له خوا پنځه زری منصب او حمید الدوله خطاب ورکړه سوی و.

۲. د صحیفهٔ زرین په ۱۰۸ مخ کي لیکلي دي: انګرېزانو چي بندهیلکهنډ نیوئ، د ناسیاله غازي الدین زوی نصیر الدوله[۱۱۵۳] ته د کالپي له پلارني جاګیره څخه ۴۹ کلي ورپاته وو. په (۱۲۲۱هـ.ق.) (= ۱۸۰۶ع) کال نصیر الدوله له انګرېزانو سره لار جوړه کړله او د انګرېزانو د پېرزویني په اغېزه ئې جاګیر دومره ارت سو، چي د باوني په نامه د یوې نوابۍ نوم پر کېښېښووه سو. نصیر الدوله په (۱۲۳۰هـ.ق.) کال ومړ او د باوني نوابي ئې اولادې ته پاته سوه. د باوني ریاست چي ۱۱۲ میله مربع مساحت، ۱۹ زره نفوس او یو لک روپۍ کالنی عایدات لري، تر (۱۳۲۰هـ.ق.) (= ۱۹۰۲ع) کال پوري لا د نصیر الدوله د اولادې په لاس کي و.

۳. د طبقات الشعراء په ۶۵۹ مخ کي د غازي الدین یو زوی نواب بخش الله خان ښوول سوی دئ، چي "ثروت" ئې تخلص و او شعر ئې وایه دیوان ئې درلود.

۴. د عماد السعادت په ۱۷۱ مخ کي کښلي دي: د عماد الملک غازي الدین بل زوی نواب ناظر الدوله، چي په (۱۲۱۳هـ.ق.) کال انګرېزانو په برمپور کي بندي کړ او هلته مړ سو.

د نقوش آپ بیتي د (۱۹۶۴ع) کال د جون ګڼې په ۸۲ مخ کي د غمګین رامپوري له خولې کښلي دي:

"د ډهلي د لال کلا په دربار کي د غازي الدین عماد الملک نوم اخیستل روا کار نه و، ځکه چي د دوهم شاه عالم پلار ئې وژلی دئ. د ډهلي په دربار کي دی د لومړي نمک حرام په نامه سره یادېږي.

د ډهلي د اجمیري دروازې دباندي د غازي الدین عماد الملک ودانه کړې مدرسه وه[۱۱۵۴].

[۱۱۵۳] نصیر الدوله د ګناه بیګمي زوی و، (عماد السعادت، ۹۹ مخ). په سلطان التواریخ کي د غازي الدین د یو زوی نوم ناصر الدوله کښلی دئ، امکان لري چي تحریف به وي؟

[۱۱۵۴] تاریخ حیات دهلي، ۳۳ مخ.

ناصر خان زیګ

(د پېښور او کابل حاکم)

د پارس صفوي پاچا لومړی عباس (۹۹۶-۱۰۲۸ه.ق.) چي په (۱۰۳۱ه.ق.) (= ۱۶۲۳ع) کال کندهار ونیو، ګنجعلي زیګ[۱۱۵۵] ئې د محکوم کندهار حاکم وټاکه. نوموړي په (۱۰۳۴ه.ق.) کال د نارنج[۱۱۵۶] له ماڼۍ راولوېد او ومړ. د ده پر ځای ئې زوی، علیمردان خان[۱۱۵۷] (۱۰۶۷ه.ق. مړ، په لاهور کي ښخ) د کندهار حاکم سو.

د شاه عباس تر مرګ وروسته، چي شاه صفي د ایران پاچا سو، علي مردان خان ته ئې د شک په سترګه کتل. سیاوش ئې له یوه پوځه سره د علیمردان خان د وژلو یا نیولو له پاره، کندهار ته راولېږه. سیاوش چي له خپلو لښکرو سره کندهار ته رانژدې سو، علي مردان خان ښار ته د ننوتلو اجازه ورنه کړله. د علیمردان خان په غوښتنه، د کابل مغلي پوځ په مرسته ورغی، جنګ وسو. په جنګ کي ایراني لښکرو ماتې وکړه. علیمردان خان لاهور ته ورغی او د شاه جهان مغل په حضور مشرف سو او په (۱۰۴۷ه.ق.) کال ئې د کندهار الحاق، د ډهلي په پاچهۍ پوري اعلان کړ. د پارس د لښکرو تر ماتي وروسته په (۱۰۴۸ه.ق.) کال علیمردان خان له خپل خوریي "حسین بیګ زیګ[۱۱۵۸]" سره د شاه جهان مغل (۱۰۳۷-۱۰۶۸ه.ق.) دربار ته ورغی.

حسین بیګ زیګ د شاه جهان مغل په پاچهۍ کي د "کشمیر" او بیا د "دوآب" پوځدار سو. په (۱۰۶۸ه.ق.) کال چي عالمګیر اورنګزیب (۱۰۶۸-۱۱۱۸ه.ق.) پر تخت کښېناست، د بنګښو حاکم ئې وټاکه. په (۱۰۸۵ه.ق.) کال د جونپور حاکم سو او په (۱۰۸۶ه.ق.) کال ومړ. د حسین بیګ زوی محمد امان[۱۱۵۹]، چي د عالمګیر اورنګزیب له خوا په کابل کي منصبدار و، د "ناصر خان" خطاب ئې وموند. د شاه عالم بهادرشاه (۱۱۱۸-۱۱۲۴ه.ق.) د پاچهۍ په اوایلو کي د ډهلي د دربار له خوا د کابل نائب الحکومه وټاکه سو.

(۱۱۵۵) زیګ: په کردانو کي یوه قبیله ده. داکلمه ډاکټر چغتای "ازبک" لیکلې ده او صریحاً اشتباه ده. ګنجعلي خان دېرش کاله د کرمان حاکم و، شاه عباس ده ته "ارجمند بابا" وایه.

(۱۱۵۶) نارنج: د کندهار په زاړه ښار کي، د پاچاهي ټاټوبي ماڼۍ نارنج نومېدله.

(۱۱۵۷) دغه علیمردان خان د ډهلي د دربار له خوا د (۱۰۵۰ه. ق.) څخه تر (۱۰۵۹ه. ق.) کال پوري د کابل نائب الحکومه و. باغ علیمردان ده ته منسوب دئ.

(۱۱۵۸) د عماد السعادت په ۲۳ او د سلطان التواریخ په ۸۱ مخو کي د دې سړي نوم "حسین یار" ضبط دئ.

(۱۱۵۹) په عماد السعادت او سلطان التواریخ کي دا نوم عبد المؤمن ضبط دئ. د تاریخ مرصع په تعلیقاتو (۱۲۵۴ مخ) کي هم محمد امان دئ.

په (۱۱۳۰هـ.ق.) (= ۱۷۱۷ع) کال چي محمد امان خان[1160] "ناصر خان" ومړ، زوی ئې "نصیر خان" پر ځای د کابل د نائب الحکومه کفیل سو. په (۱۱۳۲هـ.ق.)(= ۱۷۳۰ع.) کال د ډهلي د پاچا محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ.ق.) له خوا اصالتاً د کابل او پېښور نائب الحکومه وټاکه سو او د "ناصر خان" خطاب ئې ورکړ.

د دغه دوهم ناصر خان مور پښتنه وه، ځکه ئې نو د کابل انتظام ښه وکړ او ۳۳ کاله د کابل او پېښور نائب الحکومه پاته سو.

د (۱۱۵۰هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په دوهمه، چي افشار نادر کندهار، تر یوه کال کلابندۍ وروسته ونیو او د کابل لور ته ئې مخه وکړه، ناصر خان کابل پرېښوو او پېښور ته ولاړ.

په (۱۱۵۱هـ.ق.) کال چي افشار نادر د ننګرهار په جلال آباد کي قتل عام وکړ او مخ پر پېښور ورتېر سو، ناصر خان د خیبر وت[1161] ورته ټینګ کړ. نادر د څڅوبي له لاري پر ناصر خان، په علي مسجد کي برید وکړ، سخت جنګ وسو. ډېر پښتانه او د ناصر خان سپاهیان په دې جنګ کي ومړل او پخپله ناصر خان د قزلباشو په لاس بندي سو.

افشار نادر چي لاهور ته ورسېد، ناصر خان ئې خوشي کړ. خلاتونه ئې ورکړه او بیرته ئې له خپلي خوا د کابل او پېښور حاکم وټاکه او کله چي نادر له هندوستانه تئ، تهماسب خان جلایر ئې د پوځدار په حیث له ناصر خان سره پرېښود.

په (۱۱۶۰هـ.ق.) کال چي د افشار نادر تر وژلو وروسته د کندهار په تاریخي جرګه کي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پښتنو پاچا وټاکه سو، په دغو ورځو کي ناصر خان، چي د کابل او پېښور څو کلن مالیات ئې، چي د سلطان التواریخ مولف لس لکه طلاوي بللي دي، خراسان ته وړل، کندهار ته ورسېد او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په لاس کښېووت. څو ورځي وروسته نوموړی خوشي کړه سو او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا ئې بیا د کابل او پېښور حکومت وموند. له کلاته څخه ئې کابل ته رخصت کړ. پنځه سوه دراني سپاره ورسره کړه سول، چي د ده منلی مبلغ (پنځه لکه روپۍ) کندهار ته ورسوي، خو ناصر خان چي کابل ته ورسېد، وعده ئې تر سره نه کړه او د ډهلي د دربار په هیله ئې، د کندهار له پښتني دربار سره تعلقات وشلول. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي خبر سو، له کندهاره څخه ئې پښتانه ځلمي پسي ور ولېږدول. د ټولي پښتنخوا مشرانو ته ئې لیکونه ولېږل او ټول ئې د ځان مله کړل. کابل ئې ونیو. په چڇ و هزاره کي د ناصر خان ماینه، چي د زبردست خان لور او د علیمردان خان لمسۍ وه، د پښتنو په لاس کښېوتله. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پښتني دود سره سم، په ډېر عزت وساتله او په خورا درنه سترګه ئې ورته

[1160] د مآثر الامراء په ۶۸۵/۳ مخ کي لیکلي دي: ناصر خان محمد امان په (۱۱۲۹هـ.ق.) (= ۱۷۱۷ع) کال ومړ. د ناصر خان مرګ په تاریخ عالمګیري کي مصنف محمد بن معتمد خان د (۱۱۳۱هـ.ق.) کال په واقعاتو کي راوړی دئ او د تاریخ مرصع په ۴۱۸ مخ کي ئې د مرګ تاریخ (۱۱۳۱هـ.ق.) کال د محرمي د میاشتي ۸ کښلی دئ.

[1161] وت = دره

وکتل(١١٦٢).

د (١١٦٠هـ.ق.) کال د میانی په میاشت کې، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پر پېښور برید وکړ، ناصر خان له اتو زرو قزلباشو سره چچ و هزاره ته وتښتېد. د سردار جان خان پوپلزي لښکري، پسي ورغلې، تر یوه سپک جنګ وروسته نو موړی وتښتېد. کور، کهول، جبه خانه او خزانه ئې د پښتنو بریالیو په لاس کښېوتله. زوی ئې خان بهادر او ماینه ئې، چې د علیمردان خان لمسی وه، د پښتنو په لاس کښېوتل او په حسن ابدال کي ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راوستل(١١٦٣).

نتلی ناصر خان د (١١٦٠هـ.ق.) کال د میانی پر درویشتمه (= ١٥ نومبر ١٧٤٧ع) لاهور ته ورسېد، هلته ئې په یوه مسجد کي واړول. شهنواز خان چې په خبر سو، لیدلو ته ئې ورغی او غوښتل ئې چې دربار ته ئې ورسره بوزي، مګر ناصر خان دا و نه منل، بیا ئې نو د سفر لوازم ورتهیه کړل، څلور لکه نغدي روپۍ ئې ورکړې او رخصت ئې کړ.

د ناصر خان په لاهور کي تېکه ونه سوه د (١١٦٠هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتي پر اووه ویشتمه (= ١٩ دسمبر ١٧٤٧ع) ئې ځان د ډهلي دربار ته ورساوه. مغل پاچا (محمد شاه) ونمانځه یو لک روپۍ، یو پیل، یوه توره او یوه شپږتوکه یزه دریشي ئې په خلات کي ورکړه(١١٦٤).

د ډهلي د دربار وزیر قمر الدین خان چې د (١١٦١هـ.ق.) کال په لومړۍ خور د میاشتي د سرهند په منورپور(١١٦٥) کي له لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره جنګېد، دی هم ورسره و. د لومړۍ خور د میاشتي په دوه ویشتمه ورځ، چې لوی جنګ ونښت، ناصر خان د شاه د پوځ

(١١٦٢) سیر المتاخرین، ٨٦٢ مخ، Ahmad Shah Durrani، ٣٨ مخ، تاریخ احمد شاهي، ٩٧/١ مخ، احمد شاه بابا، ١٩٥ مخ. د ریاض السلاطین په ٢٢٣ او ٢٢٨ مخ او د عماد السعادت په ٢٤ مخ کي زبردست خان د ابراهیم خان زوی او د علیمردان خان لمسی ښوول سوی دئ.

(١١٦٣) د تاریخ احمد شاهي په ٩٦/١ مخ کي کښلي دي: لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې له خپلو لښکرو سره د (١١٦٠هـ.ق.) کال پای ته د اټک تر رود پوري ووت، مخلص خان او بستان خان پوپلزی ئې د ناصر خان د نیولو له پاره چچ و هزاره ته ولېږل او پخپله هم په دغه سرلام (سرلاښ) پوځ پسي رهي سو. مخلص خان او بستان خان د "خربزه" په رباط کي په ناصر خان پسي ور ورسېدل، جنګ پېښ سو. ناصر خان ماته وکړه، په ځنګلو ننوت. خان بهادر زوی ئې او ماینه و کوچنیان ئې د پښتنو د لښکرو په لاس کښېوتل. حسن ابدال ته ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راوستل. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له ځانه سره پېښور ته راوستل او د پېښور په استوګه ئې مامور کړل.

د دغه کتاب په ١٣٢/١ مخ کي کښلي دي: لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې په سرهند کي د منوپور د جنګ له میدانه پېښور ته راورسېد او بیا له پېښوره کابل ته ستنېدئ، په دغه وخت کي خان بهادر د ناصر خان زوی په پېښور کي د بغاوت نغاره ډنګولې وه. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سردار جان خان د ده د نیولو او ځبلو له پاره ګمارلی و. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چې له خپلو لښکرو سره په کابل کي اړولي و، حال ورته راغئ، چې سردار جان خان د حضرت میا عمر د څمکنو د مریدانو په مرسته، خان بهادر ونیو. د ده ملګري ئې وځبل او پېښور ئې بېرته لاس ته راوست.

(١١٦٤) د "Ahmad Shah Durrani" ٣٩ مخ.

(١١٦٥) منورپور له سرهنده څخه لس میله لیري پروت دئ، (Ahmad Shah Durrani، ٥٩ مخ).

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي کندهار ته ستون سو، د دغه کال د دوهمي خور د مشرو[۱۱۶۶]. (= ۱۲ اپریل ۱۷۴۸ع.) د ډهلي د دربار له خوا ناصر خان بیا د کابل میاشتي پر څلېرویشتمه (تش په نامه) حاکم وټاکه سو او د کابل او پېښور د بیا نیولو په لار کي ئې د مرستي او پېښور (تش په نامه) حاکم وټاکه سو او د کابل او پېښور د بیا نیولو په لار کي ئې د مرستي او ملاتړ چاره، د لاهور نوي حاکم میر معین الملک، چي تر ده یوه ورځ د مخه مقرر سوی و، پر غاړه واخیستله. خو په (۱۱۶۲هـ.ق.) کال د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دوهمي لښکرکښۍ، د دوی دا هیلي په خاورو ور ولړلې. میرمنو (میر معین الملک) د سیالکوټ، ګجرات، اورنګ آباد او برسر[۱۱۶۷] مالیه د کاله څورلس لکه روپۍ ومنلې، چي د کندهار دربار ته به ئې ورکوي.

ناصر خان د دغو څلورو سیمو د منتظم په حیث، د میر منو له خوا وټاکه سو، مګر کال لا نه و بشپړ سوی، چي د نوي مغرض وزیر صفدر جنګ په لمسون ئې له خپل مرستیال میر منو سره خوابدی کړ او ډهلي ته ولاړ.

په (۱۱۶۶هـ.ق.) کال چي د میر منو (میر معین الملک) ورور، انتظام الدوله خان خانان د ډهلي ددربار وزیر سو، ناصر خان فرخ آباد ته مخ ونیو، نواب احمد خان بنګښ ته ئې پناه وروړه او د نواب احمد خان بنګښ په سیوري کي ئې ځان تر مرګه پوري ورساوه[۱۱۶۸].

د ناصر خان زیګ په باب عزیز الدین وکیلي پوپلزي د احمدشاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان په ۷۶–۷۷ مخ کي کښلي دي:

"طوریکه قبلاً مذکور شد، اعلیحضرت احمد شاه در دران در ایام جلوس خود، نواب ناصر خان صوبه دار سابق کابل را مورد لطف و نوازش قرار داده و ازین لحاظ که از مدت ها واقف راه و رسم ملک کابل و به اعیان و ارکان آنجا محشور بود، به عنایات خسروی نواخته برای استمالت خواص و عوام پیشتر روانه ساخت. مذکور در کابل رسیده بقراری که بیان شد تمهیدی سنجیده بیکبارگی حقوق و الطاف و اعطاف احمد شاه دردران را فراموش کرده باز رجوع به محمد شاه گورگانی پادشاه هندوستان نمود و راه مخالفت بدولت درانی پیش گرفت. اعلیحضرت احمد شاه در دران وقتی خبر یافت که ناصر خان بعوض وجوه ذمت خود او اهالی کابل را بدروغ بپرداخت مبلغ پنج لک رپیه زجراً بجهة افروختن آتش اغتشاش وادار ساخته است، سخت آزرده شد و امر حرکت عساکر از غزنه بطرف کابل نمود. اهالی کابل چون تاب مقابله با نیروی احمد شاهی نداشتند و هم اینکه از فکر منافقانه ناصر خان خبرشدند از وی کنار گرفته به قواء احمد شاهی تسلیم شدند. ناصر خان مقارن این حال چون خبر ورود موکب که قوت و قدرت مردم درانی را در قندهار و کابل ملاحظه کرده بود، گفت

[۱۱۶۶] د "Ahmad Shah Durrani" ۶۱ مخ.

[۱۱۶۷] مآثر الامراء، ۸۳۵/۳ مخ.

[۱۱۶۸] مآثر الامراء، ۸۳۵/۳ مخ.

مقابله کردن کار آسانی نیست و اجازه بدهید که من در دهلی بخدمت پادشاه محمد شاه برسم. شاه نواز خان خانه سامان ناصر خان را از مسجد با خود همراه برد و از آنطرف سامان و لوازم زیاد با مبالغ چهار لک رپیه نقد برای ناصر خان فرستاد".

گنجعلي خان

(د صفويانو له خوا د کندهار نائب الحکومه، په ۱۰۳۴هـ.ق. کال مړ - په کندهار کي ښخ)

علي مردان خان

(امير الامراء و، پسله پلاره د کندهار نائب الحکومه سو)

اسماعيل بيګ(۱۱۶۹) — اسحاق بيګ(۱۱۷۰)

سيد جميل الدين کشميري

سيد جميل الدين د فرخ سير د زمانې د ميرجمله خان خانان نواب معظم خان زوم و. په (۱۱۵۸ هـ.ق.) کال چي محمد شاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱هـ.ق.) پر بن ګړ باندي د بريد په نيامت، له ډهلي ځخه لښکري وخوځولې، سيد جميل الدين ورسره و.

ناسياله غازي الدين چي د (۱۱۶۹هـ. ق.) کال د دوهمي خور د مياشتي په دوولسمه ورځ (= ۱۵ جنوري ۱۷۵۶ع.) د ښکار په نامه شهزاده عالي ګوهر (دوهم شاه عالم) له ځانه سره د لاهور خواته بوت، د مفسد آدينه بيګ په سلا ئې له لودهياني ځخه يو پوځ د سيد جميل الدين په مشري لاهور ته ولېږه. سيد جميل الدين دغه لار په يوه شپه او ورځ کي ووهله او ناڅاپه ئې پر لاهور بريد وکړ. د معين الملک کونډه ئې، چي د ناسياله غازي الدين خواښې کېدله، ګرفتاره کړله. ناسياله غازي الدين د لاهور حکومت د درو لکو روپو پېشکش په بدله کي آدينه بيګ(۱۱۷۱) ته ورکړ، چي د

(۱۱۶۹) د سموګړه په جنګ کي ووا‌ژه سو. د پلار تر مرګ وروسته يو نيم زری منصب ورکړه سو، چي په هغه کي اته سوه سپاره وو، (عمل صالح، ۲۴۶/۳ مخ).

(۱۱۷۰) مغلو چي په (۱۰۵۹هـ.ق.) کال پر کندهار بريد کاوه، دوولس سپری توپ ده غزني ته راورساوه. د تخت نشيني په جنګو کي دی د داراشکوه ملګری و. د سموګړه په جنګ کي په (۱۰۶۸هـ.ق.) کال ووا‌ژه سو. د پلار تر مرګ وروسته ده ته يو نيم زری منصب ورکړ سو، چي په هغه کي اته سوه سپاره وو، (عمل صالح، ۲۴۶/۳ مخ).

(۱۱۷۱) خزانه عامره، ۵۲ مخ.

ته نیابتاً ورکړه سو. هغه له خوا بیا سید جمیل الدین کشمیري[۱۱۷۲]

د سید جمیل الدین په باب د احمد شاهي شهنامه کي حافظ مرغزي لیکلي دي:

په یو لور سید جمیل چي و سپور په شا د فیل
په دا جنګ شه ګرفتار په میدان د کارزار
پرې ګذار شه د تفنګ شه زخمي په وینو رنګ

د سلطان التواریخ په (۲۰۱ مخ) کي، چي د (۱۱۹۰ هـ.ق.) کال واقعې څېړل سوي دي، یو سړی د رفیع الدوله سید جمیل الدین په نامه د شجاع الدوله په مصاحبانو کي راوړل سوی دئ او زیاته کړې ئې ده، چي د یوې رسالې مشر و[۱۱۷۳].

راجا ایسري سنګه سوائي کچهواهه[۱۱۷۴]

د ایسري سنګه پلار دهراج جي سنګه نومېد، چي د جي نګر[۱۱۷۵] راجا و. جي سنګه په نجوم او فلکیاتو کي زیات مهارت درلود او د ډېرو روپو په مصرف ئې په ډهلي کي یوه رصد خانه د میرزا خیرالله او شیخ محمد عابد مهندس په زیار جوړه کړله، چي اوس ئې جنتر منتر بولي او پخوائې جي سنګه پوره بلله.

د ادب جي پور کا ماضي و حال د مقدمې په ۲ مخ کي کښلي دي:

قاآنی د جی سنګه د رصد خانې په باب ویلي دي:

تقویم مه رویی و آویخته مویت
چون خط جدا ول به رصد خانهٔ جی سنګه

د آثار الصنادید په ۳۰۹ مخ کي کښلي دي:

[۱۱۷۲] شاه عالم نامه، ۲۷ مخ.

[۱۱۷۳] د علامه رشاد رحمه الله په لاسکښلې نسخه کي دغه پراګراف ته په سره قلم غټه سوالیه کښل سوېده. دا د دې احتمال زیاتوي، چي ممکن علامه رشاد رحمه الله به متیقین نه و، چي دا دوه بېل بېل خلک دي او که دواړه یو سړی دئ. (علامه رشاد اکاډیمي)

[۱۱۷۴] کچهواهه ځانونه سورج بنسي بولي.

[۱۱۷۵] جي نګر اوس جي پور بولي. د اکبر په زمانه کي د جي پور راجا د بهګوان داس زوی کنور مان سنګه و، چي د محمد حکیم میرزا (۹۹۴ هـ.ق.) تر مرګ وروسته د کابل نائب الحکومه و.

جنتر منتر د محمدشاه مغلي په امر د محمدشاهي پاچهۍ په اووم کال (۱۱۳۷ ه.ق.) (=۱۷۲۴ع.) شروع سو. د محمدشاهي پاچهۍ په څورلسم کال ئې د دغي رصدخانې کارکوونکي (منجمين) لندن ته ولېږل، له هغه ځايه ئې نوي آلات راوړل او دغه رصد خانه ئې امتحان کړله....

د ادب جي پور کا ماضي و حال د مقدمې په ۳ مخ کي کښلي دي:

له لومړي مهاراجا جي سنګه څخه تر درېيم جي سنګه پوري، شپږ راجاګان د جي پور تېر سوي دي. ايسري سنګه يو په دغه شپږو کي دئ (؟).

د ماثر عالمګيري په ۳۹۴ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۱۱ ه.ق.) کال جي سنګه د آنبير او سيدونکی، د خپل پلار تر مرګ وروسته د هغه پر ځای کښېنوست او د راجه جي سنګه نوم ئې پر ځان کښېښوو.

جي سنګه د (۱۱۵٦ ه.ق.) کال د برات د مياشتي په نهمه يا دوولسمه ومړ[۱۱۷٦].

د وقايع عالمشاهي په ۱۰۸ مخ کي کښلي دي:

سوائي جي سنګه ډيري روپۍ پاچاهي خزانې ته تحويل کړې. د ټکسال (دار الضرب) او پيلانو د جنګولو اجازه ئې له فردوس آرامګاه (محمد شاه مغل) څخه حاصله کړه.

راجا ايسري سنګه د (۱۱۵۸ ه.ق.) کال په حدودو کي، د انبير د زميندار په نامه، د انندرام په سفرنامه کي معرفي سوی دئ، چي د وزير الممالک زوی انتظام الدوله ئې په مرسته ګمارل سوی و[۱۱۷۷].

د دوهم راجا جي سنګه سوائي په باب د قاموس المشاهير په ۱۸۷/۱ مخ کي کښلي دي:

دوهم راجه جي سنګه کچهواهه راچپوت و، پلار ئې بشن سنګه (۱٦۹۳ ع. مړ) نومېد، چي د لومړي ميرزا راجه جي سنګه د زوی رام سنګه کړوسي کېدئ[۱۱۷۸].

دوهم راجا جي سنګه د اجمير په سيمه کي يو لوی جاګير درلود، هغه وخت ئې دغه سيمه امبير[۱۱۷۹] بلله. دغه راجا د جي پور ښار د خپل جاګير په سيمه کي ودان کړ.

[۱۱۷٦] وګ: سير المتاخرين ۵۰۴/۲ مخ او مرآت آفتاب نما.

[۱۱۷۷] وګ: سفرنامه انندارم، ۲۴ مخ.

[۱۱۷۸] لومړي جي سنګه د راجا بهاو سنګه زوی د پرتاب سنګه لمسی او د راجا مان سنګه کړوسی و. لومړی جي سنګه د شاه جهان او عالمګير په دربارونو کي لوی امير و. په (محرمه ۱۰۷۸ ه.ق.) په برهانپوٚر کي مړ سو. د ده تر مرګ وروسته ئې مشر زوی رام سنګه راجا سو. راجا مان سنګه د راجا بهاري مل د زوی راجا بهګوان داس متبنی و. د راجا بهاري مل لور د مغل اکبر ماينه وه. د راجپوت اور مغل زن و شو کي معاشرت په ۲۴۳ مخ کي کښلي دي:

د بهګوان داس لور له جهانګير څخه وه. د بهاري مل والي امبير لور له اکبره څخه وه. ملکه مريم الزماني ئې لقب و. جهانګير د دې زوی و. د مان سنګه عمه کېدله، دا لومړی راجپوته وه، چي د مغلو حرام سرای ته ورننوتله.

[۱۱۷۹] امبير د جي پور په شمال کي د يوه ښار نوم و. د جي پور تر آبادولو د مخه امبير د جي پور دار الرياست و. امبير له جي پوره څخه شلور ميله شمال ته، د يوه جوهړ (تالاب) پر غاړه واقع دئ، شاوخوا ته ئې غرونه پر راګرځېدلي دي. د جي پور د تاداو ډبره په (۱۷۴۲ ع.) کال دوهم جي سنګه کښېښوو له ګلابي ښار ئې هم باله.

پلار چې ئې مړ سو، عالمګیر د راجا خطاب ده ته ورکړ.
د فرخسیر په وخت کې د "دهراج" لقب ورکړ سو او د محمد شاه مغل په وختو کې د "سوائي" لقب ورکړ سو.
په (۱۱۴۵ هـ.ق.) د مالوې ګورنر سو.
په (۹ شعبان ۱۱۵۶ هـ.ق.) کال (= سپتمبر ۱۷۴۳ ع.) ومړ او پر ځای ئې زوی ایسري سنګه راجا سو او په (۱۷۶۸ ع.) کال چې ایسري سنګه مړ، سو پر ځای ئې مادهو سنګه کښیناست. د راجا جي سنګه مړی چې ئې سوځاوه، د ده درو رانیانو ځانونه ورسره وسول او د ستي رسم ئې پر ځای کړ.
دوهم راجا جي سنګه د زیج محمد شاهي مولف دئ.
د صحیفهٔ زرین په ۴۰ مخ کې کښلي دي:
په (۱۷۲۸ ع.) کال جي سنګه سوايي د یوه ښار تادا و کښېښوو، چې پخپل نامه ئې "جي پور"[۱۱۸۰] ونومه. تر دې پخوا امبر (یا انبیر) د جي پور د ریاست مرکز و.
د عماد السعادت په ۳۷ مخ کې کښلي دي:
د (۱۱۶۱ هـ.ق.) کال د لومړي خور د میاشتي پر پنځلسمه، چې لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره له خپلو پښتني لښکرو د سرهند تر نیولو وروسته د ماچهي واړې پر ګدر باندي اړولي و او پوځونو ئې په .... کې د هندوستاني شهزاده احمد شاه مغل او وزیر الممالک قمرالدین خان سره جنګ کاوه، په دغه جنګ کې راجه ایسري سنګه سوائي له ډیرو راجپوتو سره، چې شمېر ئې دوه دیرش زره (۳۲۰۰۰) سپاره وو، د مغل پاچا محمد شاه په طرفداري ګډون کړی و.
وائي په دغه جنګ کې یوه ورځ ایسر سنګه سوايي له خپلو راجپوتو لښکرو سره، چې ټولو ئې زعفراني جامې اغوستي وې، جنګ ته راووتل او د راجپوتو د تاریخي دود له مخي د دې معنی دا ده، چې نن به مو ړ یا ځان وژنو یا به بری ګټو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه، چې پښتني لښکري د هندوستان د پوځونو په مقابل کې د صف جنګ له پاره ځای پر ځای کړې، د ایسر سنګه په مقابل کې ئې حاجي جمال خان بارکزی او د ده پوځ ته ځای ورکړ. ایسر سنګه او لښکرو ئې د حاجي جمال خان د پوځ په لومړي حمله داسي میدان پرېښوو لکه ښکه چې د تند باد په مخ کې ځغلي او په تېښته تر ډهلي تېر سو او جي پور ئې مخ را وګرزاوه.
د ایسري سنګه په باب د سیر المتاخرین په ۸۸۴ مخ کې کښلي دي:
"..... از آن طرف راجه رام سنګه پسر راجه ابهی سنګه معروف بدهوکل سنګه باتفاق راجه

[۱۱۸۰] د جي پور په باب د واقعات دار الحکومه ډهلي د ۵۰۵/۱ مخ په حاشیه کې کښلي دي:
جي پور د راجپوتانې په راجواړو کې یوه عظیم الشانه راجواړه ده. ۱۵۵۷۹ مربع میله رقبه او ۲۶۳۶۶۴۷ نفره نفوس لري، وچه سیمه ده. د جي پور ښار شا وخوا ته غرونه دي.

ایسری سنگھ پسر راجه دهیراج سنگھ سوائی با لشکر گران و توپخانه فراوان که اغلب کمتراز سی هزار سوار نبود از جودهپور جنبیده بمقابل امیر الامراء رهگرا شد....".

د قاموس المشاهیر په ۱۱٦/۱ مخ کي کښلي دي:

"ایسري سنګه په (۱۷۴۳ ع.) کال د خپل پلار راجه جي سنګه سوائي پر ځای د جي پور راجا سو. په (۱۷٦۰ ع.) کال ومړ او مادهو سنګه زوی ئې پر ځای کښېناست".

د سیر المتاخرین په ۸۸۸ مخ کي کښلي دي:

ایسري سنګه په (۱۱٦۴ ه.ق.) کال د محرمي یا صفري په میاشت کي مړ سو.

تر ایسري سنګه وروسته ئې زوی مادهو سنګه سوایي د جي پور والي سو. تر مادهو سنګه وروسته چي پرتاب سنګه د جي پور والي سو، شاهي کلنګ ئې بند کړ. مغل پاچا دوهم شاه عالم د (۱۱۹۲ ه.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په شپږ ویشتمه له ډهلي څخه، د پرتاب سنګه د ایداد په نیت، له خپلو لښکرو سره ووت. د راجه پرتاب سنګه منشي دولت رام په تال کټوره نومي باغ کي د پاچا په حضور مشرف سو او د پرتاب سنګه د بخښني هیله ئې وکړه. پاچا هم له خدایه د اوړو پزه غوښتله، بیرته ډهلي ته ستون سو. د دغه کال د کوچني اختر د میاشتي په ۲۹ ورځ پاچا بیا د راجه پرتاب سنګه د ځبلو له پاره، د ډهلي له کلا راووت. نجف خان پخوا لا د پرتاب سنګه ځبلو لره تللی و. پاچا د نارنول سیمه ونیوله. د جي پور د سیمي په امین پور نومي ځای کي ئې اړولي و، چي د راجه پرتاب سنګه سوایي مستوفي خوشال رام بوهرا ورته راغی او د پاچا حضور ته ئې د راجا د نه ورتګ عذر بیان کړ.

څو موده وروسته د (۱۱۹۳ ه.ق.) کال د صفري د میاشتي په دوهمه راجا پرتاب سنګه د امیرالامراء نجف خان او مجد الدوله عبدالاحد خان کشمیري په واسطه د پاچا حضور ته راغی، زر اشرفۍ ئې نذر وړاندي کړې. پاچا ټیکه ور ووهله، توره او خلات ئې ورکړ. راجا د څلوېښتو لکو جواهرات ورکړل، چي زیاته برخه ئې امیرالامراء هضم کړه.

د جي پور مهاراجه رام سنګه و، هغه چي ومړ پر ځای ئې مادهو سنګه کښېنوست. د مادهو سنګه د راجا کېدلو کال (۱۸۸۰ ع.) دئ.

د ادب جي پور کا ماضي و حال د مقدمې په ۳ مخ کي کښلي دي:

مهاراجه سوایي رام سنګه د یونیم کال و چي یتیم سو. پلار ئې په (۱۸۳۵ ع.) کال ومړ. پنډت شیو دین ئې د انګرېزانو له خوا د اتالیق په توګه مقرر سو. دغه اتالیق په (۱۸٦۴ ع.) کال د جي پور د ریاست وزیر اعلی مقرر سو. مهاراجه رام سنګه سوایي د اردو ژبي شاعرو، پخپله به ئې په مشاعرو کي ګډون کاوه.

په ۲۱ مخ کي زیاتوي:

د (۱۹۳۵ ع.) کال په شاوخوا کي مهاراجه سوائي مان سنګه د جي پور والي و.

(لومړی) راجا جی سنګه کچهواهه

(په ۲ محرم ۱۰۷۸هـ ق. = ۱۶۶۷ع. کال مړ دئ. لومړی جی سنګه د دوهم جی سنګه ورنیکه و[1181])

|

رام سنګه کچهواهه

|

.....

|

(دوهم) راجا جی سنګه کچهواهه سوائي

(دی د ډهلي د رصد خانې جوړونکی دئ، چې پلار ئې مړ سو عالمګیر د "راجا" لقب ورکړ، فرخسیر د "دهراج" لقب ورکړاو محمدشاه مغل د "سوائي" لقب ورکړ. دی د رام سنګه لمسی دئ. په ۱۱۵۶هـ ق. کال مړ دئ)

|

ایسري سنګه کچهواهه سوائي

(د دوهم راجا جی سنګه زوی دئ)

|

مادهو سنګه کچهواهه

(د ایسري سنګه زوی دئ)

|

پرتاب سنګه کچهواهه

(د ۱۱۹۳هـ ق. کال په شاوخوا کي د دوهم شاه عالم پاچا حضور ته ورغی)

|

درېیم مهاراج جی سنګه کچهواهه

|

رام سنګه کچهواهه

(په ۱۸۳۵ع. زوکړی او په ۱۸ سپتمبر ۱۸۸۰ع. کال مړ دئ. د درېیم جی سنګه زوی دئ. له پلاره یو نیم کلن یتیم پاته سو او د پلار پر ځای راجا سو)

|

مهاراج مادهو سنګه کچهواهه

(په ۱۸۶۱ع. کال زوکړی او تر ۱۹۰۲ع. کال پوري ژوندی و. د خپل سلف خپل او متبنٰی و. په ۱۸۸۰ع. کال راجا سو)

|

مان سنګه کچهواهه

(د ۱۹۳۵ع. کال په حدودو کي)

تر مان سنګه وروسته د کچهواهه کورنۍ نامتو سړی لومړی راجا جی سنګه دئ. جی سنګه د مهان سنګه زوی د جګت سنګه لمسی د مان سنګه کړوسی د بګهوان داس کوسی او د بهارا مل کودی دئ. دا هغه کورنۍ ده، چې له مغلو پاچهانو سره ئې خپلوي وکړله. د جهانګیر زوی خسرو د مان سنګه خوریی و. د مان سنګه مشر زوی جګت سنګه د پلار په ژوند مړ سوی و. مان سنګه چې مړ سو، جهانګیر د هغه ځای د مان سنګه کوچني زوی بهاو سنګه ته ورکړ.

[1181] راجپوت اور مغل زن و شو، ۲۴۸ مخ.

بهاو سنګه بې زويه مړ سو. تر بهاو سنګه وروسته په (۱۶۲۲ع.) کال د جې پور راج لومړي جی سنګه ته ورسېد او ميرزا راجا باله کېده. جهآنګير درې زری منصب ورکړ، چې يو نيم زرئې سپاره وو. شاهجهان چې پاچا سو، ځلور زری منصب ئې ورکړ، چې درې زره ئې سپاره وو.

سورج مل جاټ (جَت)

د سلطان التواريخ په ۱۳۰ مخ کې کښلي دي:

د برج او راجپوتانې تر منځ "برسانه" د يوه کلي نوم دئ، د دغه کلي د خان زوی چورامن (۱۶۹۵-۱۷۲۱ع.) غلا ته ملا وتړله، ډله ئې جوړه کړله، لارې به ئې نيولې او کاروانونه به ئې شکول، څه موده وروسته ئې ډله لويه سوله، د قافلو په وهلو ئې ګذاره نه کېدله، د کليو او کورو چور ته ئې ملا وتړله. له اکبر آباده څخه ۱۴ ميله ليرې ئې يوه سمڅه وکيندله او په هغه کې به ئې د غلا مالونه پټول. ورو ورو ئې سرمايه او قوت زيات سو، يوه کلا ئې جوړه کړه، چې وروسته د بهرتپور[1182] په نامه ياده سوله.

د ملګرو شمېر ئې ورځ په ورځ زياتېدئ، ځلورو زرو (۴۰۰۰) تنو ته ورسېد، حوصله ئې زياته سوه، څو پلا ئې د اورنګزيب عالمګير د پوځونو پر وروستيو ټولګيو بريد وکړ او د هغو وسلې او مالونه ئې په اولجه يووړل. عالمګير ځکه چې د دکن په شخړو بوخت و، د "چورامن" ايداد ته ئې توجه ونکړه، بلکې د بهرتپور په شاوخوا کې ئې د شلو لکو روپو جاګير، په دې شرط ورکړ، چې دی به نور له داړو او غديو څخه لاس اخلي او لارې به نه وهي. "چورامن" هم سست سو او تر (۱۱۲۱هـ.ق.) کال پورې چې مړ کېدئ، د بهرتپور په کلا کې ئې ارام ژوند تېر کړ.

د چورامن تر مرګ وروسته ئې زوی[1183] مدن (بدن[1184]) سنګه (۱۷۲۲-جون ۷، ۱۷۵۶ع.) د پلار پر ځای کښېنوست او د "ډيګ" په نامه ئې يوه بله کلا هم جوړه کړه. مدن (بدن) سنګه د جې نګر د راجا په سيمه کې په داړو او غديو لاس پورې کړ. د جې نګر راجا ځنې په عذاب سو او د کاله ئې اتلس روپۍ کلنګ ور ومانه او په دغه کلنګ کې ئې دغومره جاګير ورکړ، چې د کاله ئې اتلس

[1182] د بهرتپور کلا له اګرې څخه ۱۴ کروهه ليرې واقع ده. (علامه رشاد اکاډيمي)

[1183] په ويکيپيډيا دائرة المعارف کې بدن سنګه د چورامن وراره بلل سوی دئ.

[1184] په ويکيپيډيا دائرة المعارف کې د چورامن ځای ناستی زوی "بدن سنګه" ښوول سوی دئ. (علامه رشاد اکاډيمي)

لکه روپۍ حاصل درلود.

مدن (بدن) سنګه چي په (۱۱۴۶ هـ.ق.) کال ومړ، پر ځای ئې مشر زوی سورج مل (فبروري ۱۷۰۷ زوکړی -۲۵ دسمبر ۱۷۶۳ع. مړ) کښېناست. سورج مل خپل کشر ورور پرتاب سنګه ته د پنځو لکو روپو جاګیر ورکړ او پرتاب سنګه د ده کامل اطاعت ومانه.

سورج مل د بهرتپور کلا پخه جوړه کړله او یوه بله کلا ئې هم جوړه کړله، چي د "کمهیر" په نامه مشهوره ده.

د میرزا مظهر جان جانان کي خطوط په ۲۵۶ مخ کي کښلي دي:

سورج مل د راجه مدن سنګه زوی نه و، بلکي زوی نیو (متبنّٰی) ئې و او د سورج مل خاله د راجه مدن سنګه ماینه وه.

سورج مل چي ځوان سو د مدن سنګه د حکومت په وروستي نیمایي کي ئې زیات اختیارات خپل کړل او پر راجه مدن سنګه فقط د راجاتوب نوم پروت و.

شاولي الله دهلوي پخپل یوه لیک کي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته لیکلي دي:

"د فرخ سیر په پاچهۍ کي د راجپوتانې د جاټانو مشر، چورامن پورته سو، خپل وزیر قطب الملک ئې د هغه د ځبلو له پاره وټاکه. قطب الملک له لښکره سره پر ورغی. سوله ئې ورسره وکړله او چورامن ئې د پاچا حضور ته راوستی او په پاچا ئې وباخښه[1185]. د محمدشاه په پاچهۍ کي بیا جاټان پورته سول، په دغه وخت کي د جاټانو مشر د چورامن تربور سورج مل و. سورج مل د بیانې ښارونیو او مسلمانان ئې له دغه ښاره وایستل.

د محمد شاه د زوی احمد شاه کورګاني په وختو کي، د ده وزیر صفدر جنګ ایراني، سورج مل جاټ ملګری کړ او پر ډهلي (شاه جهان آباد) ئې برید وکړ. احمد شاه کلابند سو، دوې درې میاشتي د توپونو ډزي سره کېدلې. پای ته صفدر جنګ او سورج مل د کلا په نیولو بریالي نه سول، د پاچا او وزیر تر منځ روغه وسول.

له دغه وخته د سورج مل د بخت ستوري په ځلېدلو پیل وکړ، د ډهلي له دوو کروهۍ څخه د اګرې د ولایت تر پایه پوري (سیمه)، شمالاً او جنوباً د ده تر اختیار لاندي وه. د میوات له حدودو څخه تر شکوه آباده پوري ئې د تر واک لاندي سیمي پسورو. یو کال کېږي، چي د "الور" سیمه ئې هم نیولې ده[1186]".

شاه ولي الله په یوه مکتوب (۴۰ مکتوب) کي حافظ جار الله پنجابي ته لیکلي دي:

"په ډهلي کي خورا لویه حادثه پېښه سوه، جاټانو پر زاړه ډهلي بریدوکړ، ښار ئې تالا کړ. حکومت ئې دفعه ونه کړای سوای. دې حادثې د (۱۱۶۱ هـ.ق.) کال د رجب د میاشتي له لومړیو ورځو

[1185] ویلیام ارون د "Later Mughals" په ۳۲۶/۱ مخ کي کښلي دي:
"چورامن قطب الملک ته شل لکه روپۍ رشوت ورکړ او قطب الملک فرخسیر روغي ته حاضر کړ".

[1186] وګ: شاه ولي الله کی سیاسی مکتوبات، ۹-۱۰ مخونه.

څخه د برات د میاشتي تر پایه پوري، څه کم دوې میاشتي دوام وکړ".

خلیق احمد نظامي د شاه ولي الله کی سیاسي مکتوبات مرتب وایي:

"د دغه تالان تفصیلي حالات د تاریخ په کتابو کي نه دي راغلي".

سورج مل د (۱۷۵۲ ع.) کال د می د میاشتي په نهمه زوړ ډهلي ولوټه. دغه حادثه په ډهلي کي جاټ گردي بولي.

په (۱۱۵۸ هـ. ق.) (= ۱۷۴۵ ع.) کال چي محمدشاه مغل (۱۱۳۱-۱۱۶۱ هـ. ق.) پر نواب علي محمد خان روهیله باندي برید وکړ، سورج مل جت د پاچا په مرسته ورغی.

د (۱۷۴۵ ع.) کال د نومبر په میاشت کي د علي گړه صوبه دار فتح علي خان د سورج مل په مرسته، پر خپل دښمن اسد خان خانه‌زاد بریالی سو.

په (۱۱۶۳ هـ.ق.) کال چي صفدر جنگ د فرخ آباد پر بنگښنو برید وکړ، سورج مل جت ورسره مل و.

په (.... هـ. ق.) کال د ډهلي د مغل پاچا له خوا د متهرا صوبه داري ورکړه سوه.

سدا شیو راو بهاو چي له دکنه څخه لښکري د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه جنگ ته راوخوځولې، کله چي د جاټانو سیمي متهرا ته راورسېد، سورج مل ئې هم مل سو او تر پاني پته پوري ئې مل و، مگر کله چي ئې د پاني پت د لوی جنگ تر شروع (جنوري ۱۷۶۱ ع.) د مخه د مسلمانانو بری او د کنیانو ماتي زړه ته ولوېدله، له بهاو سره ئې د منافقت لوبه را واخیستله او ورته وئې ویل:

"د هندوستان ټول مسلمانان د احمدشاه بابا ابدالي رحمة الله علیه ملگري سول او د جنگ نقشه واوښتله، زه به خپلي سیمي ته ولاړ سم، چي ستاسي د لوی لښکر له پاره د ازوغ چاره وکړم".

بهاو هم تېرووت اجازه ئې ورکړه. سورج مل چي د ازوغ په پلمه له پاني پته پښې وایستلې، د بهگوان شکر ئې وکیښ، د ډیگ کلا ته ئې ځان ورساوه او تر څو چي د پاني پت جنگ خلاصېدئ، هلته کرار ناست و[1187].

د پاني پت تر جنگ وروسته، چي د مرهټو شکستیان د سورج مل د واکمنۍ سیمي ته ورسېدل، د ده زړه پر وسوځېد، هر یوه ته ئې یوه یوه یا دوې دوې روپۍ د لاري خرڅ ورکړ او دکن ته ئې ورسول[1188].

د سورج مل جاټ په باب د قاموس المشاهیر په ۳۱۲/۱ مخ کښلي دي:

د پاني پت تر غزا وروسته، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه کندهار ته ستون سو، سورج مل جاټ اکبرآباد (اگره) او د هغه ټول توابع ونیول.

په سیر المتاخرین دریم ټوک کي کښلي دي:

سورج مل جَت د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د میانۍ په میاشت کي اگره ونیوله او ډېري اُلجې په لاس ورغلې.

[1187] سلطان التواریخ، ۱٦۸ مخ.

[1188] سلطان التواریخ، ۱٦۹ مخ.

د قاموس المشاهیر په ۲۲۷/۲ مخ کې کښلي دي:
سورج مل جاټ (جَت) له فضل خانه څخه اګره ونیوله او ښه ئې ولوټله.
سورج مل په (۱۷۶۳ ع.) کال د ډهلي په شاوخوا کې، د نجیب الدوله یوسفزي سره په جنګ کې ووژل شو.
د حالات نجیب الدوله په ۴۰ مخ کې کښلي دي، چې سورج مل جاټ له نجیب الدوله سره په جنګ کې، د سیدو خان (سید محمد خان) بلوڅ له لاسه په (۱۱۷۷ هـ.ق.) کال ووژل شو.
د سورج مل جاټ په باب د سیر المتاخرین په ۹۲۷/۳-۹۲۸ مخو کې داسې کښلي دي[۱۱۸۹]:
"... سورج مل از فرط غرور جواب داد که اگر پیغام مصالحه منظور باشد هرگز نباید آمد. یعقوب علی خان مع کرم الله خدمتگار که نجیب الدوله اورا معتمد دانسته همراه فرستاده بود، برگشته آمد. یعقوب علی خان احوال باآهستگی نوعی که بهیچ فساد نباشد گفتن آغاز نهاد، کرم الله عرض کرد که اصل آنست اگر غیرت باشد چاره غیر جنگ نیست، نجیب الدوله متنبه گشته گفت انشاءالله تعالی با این کافر جهاد می کنم و پسران خود افضل خان و سلطان خان و ضابط خان را گفت که فردا تیار شده از راج گهاټ عبور دریای جمنا نمائید و دیگر روسای افواج خود مثل سعادت خان آفریدی و صادق محمد خان و مان خان و محمد خان بنگش و غیرهم را تاکید نمود که فردا عبور جمنا نموده باین کافر مغرور باید جنگید و صبح تا فوج عبور نمود سورجمل جاټ هم افواج خود را بعبور دریای مذکور مامور نموده بر دریاچه هینڈن مورچال جنگ بست. نجیب الدوله کنج شاهدره را بر پشت گذاشته مهیای جنگ شد و افضل خان را مقدمة الجیش گردانید. چون جنگ شروع شد سورجمل بضابطه دیرینه خود ده هزار سوار تربیت کرده خود را که اسپان شان از سرکار او بود همراه برده در جای مناسب استاده ساخت و خود برای اندیشه آنکه از کدام طرف آنها را بر سر نجیب الدوله گمارد با معدودی از مقربان که از ان جمله کلیم الله خان پسر یحیٰی خان میر منشی هم بود آمده مابین فوج هراول و نجیب الدوله استاد همان وخت افضل خان هراول نجیب الدوله از دست هنسا (؟) رام وغیره سرداران سورجمل جاټ که هراول بودند شکست خورده رو بفرار نهاد چون فراریان از پیش روی سورجمل می گذشتند، کلیم الله خان و میرزا سیف الله عرض نمودند که ټهاکر صاحب درینجا با معدودی از رفقا استادن مناسب نیست التفاتی نکرد، بعد ساعتی مکرر عرض نمودند باز جوابی نداده فرمود که اسپ خاصه سواری دیگر بیارند چون آوردند سوار شده استاد. سید محمد خان بلوچ معروف به سیدو با چهل پنجاه سوار از فوج هراول نجیب الدوله گریزان شده بطرف نجیب الدوله میرفت شخصی از همراهیان او سورجمل را شناخته گفت خان صاحب کجا میروید ټهاکر سورجمل تنها در میدان استاده است چنین وقت باز بدست نخواهد آمد، سیدو مع رفقا بر سورجمل تاخت، یکی از همراهیان او شمشیری بر سورجمل زد و دست راست او که دران زخم ناسور هم بود مقطوع گشته در میدان افتاد، دیگران هجوم آورده اورا مع میرزا سیف الله و راجه امر سنگها از تیغ گذرانیده،

[۱۱۸۹] د علامه رشاد رحمه‌الله په لاسکښلې نسخه کې د ماخذ ذکر سوی و، خو ځای سپین ورته پاته و. له ماخذ څخه را اخیستنه او بشپړونه ئې د علامه رشاد اکاډیمی له خوا سوېده.

دست مقطوع اورا بنشان برداشته نزد نجیب الدوله آوردند و دیگر همراهیان سورجمل گریختند بلشکرش پیوستند ....".

د سورج مل جاټ زامن:

د سورج مل په زامنو کي مشر [۱۱۹۰] جواهر سنګه دئ. د پلار تر مرګ وروسته دی د پلار پر ځای کښېناست.

جواهر سنګه په (۱۱۸۲ هـ.ق.) کال مړ سو [۱۱۹۱].

تر جواهر سنګه وروسته ئې سکني ورور، رتن سنګه پر ځای کښېناست، چي تر لسو میاشتو او دیرلسو ورځو حکومت وروسته وواژه سو.

تر رتن سنګه وروسته د بهرتپور د جاټانو حکومت، د سورج مل بل زوی نول سنګه ته ورسېد او د (۱۱۸۲ هـ.ق.) کال د محرمي په میاشت کي د بهرتپور واکمن سو او ډیري سیمي ئې ونیولې. په (۱۱۸۳ هـ.ق.) کال چي د مرهټو لوی لښکر د ډهلي لور ته راتئ، په لار کي ئې نول سنګه ښه وځپه.

نول سنګه په (۱۱۸۹ هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په ۱۹ مه، چي د ډهلي د دربار امیر الامراء ذوالفقار الدوله نجف خان برید پر وکړ، د "ډیګ" په کلابندي کي د (۱۱۸۹ هـ.ق.) کال د ځلرمي خور د میاشتي په ځورلسمه ومړ. تر نول سنګه وروسته (د دغه کلابندۍ په جریان کي) د سورج مل بل زوی، رنجیت سنګه د بهرتپور حاکم سو. دغه کلابندي تقریباً یوولس میاشتي اوږده سوه او د (۱۱۹۰ هـ.ق.) کال د صفري د میاشتي په لسمه شپه، رنجیت سنګه د ډیګ ټولو کارخانو ته اور واچاوه او پخپله له کلا وتښتېد او کلا د نجف خان د سپاهیانو په لاس ورغله.

د آئینهٔ تاریخ نما په ۴۶/۲ مخ کي لیکلي دي:

کانډي راو هولکر چي د فرخ آباد په جنګ کي د لارډ لیک انګرېز د پوځو له لاسه مات سو، رنجیت سنګه جاټ ته ئې پناه وروړه. لارډ لیک پسي ورغی، د بهرتپور کلا ئې کلابنده کړه. ډېر زیار ئې ویوست کلا فتحه نه سوه. لارډ لیک چي د کلا له فتحي ناهېنده سو، کلابندي ئې پرېښووله. رنجیت سنګه خپل زوی رندېر سنګه ور ولېږه، په شل لکه روپۍ ځپلۍ ګنډ ئې له لارډ لیک سره روغه وکړله.

د آئینهٔ تاریخ نما په ۶۶/۲ مخ کي لیکلي دي:

په (۱۸۲۳ ع.) کال رنجیت سنګه (د بهرتپور والي) ومړ، زوی ئې پاته نه سو، ورور ئې بلدیو سنګه پر ځای کښېناست، مګر د رنجیت سنګه وراره درجن سال ځان د بهرت پور والي باله، ځکه نو بلدیو سنګه خپل زوی بلونت سنګه، د راجپوتانې د ریزیډنټ اکټر لوني انګرېز حضور ته

[۱۱۹۰] ځیني کسان دی د سورج مل زوی نه بولي، بلکي وایي د جواهر سنګه مور، چي سورج مل راودوله، جواهر سنګه د اوو میاشتو و، ځیني بیا وایي، چي د مور په نس و.

(سلطان التواریخ، ۱۳۲ مخ)

[۱۱۹۱] وګ: حدیقة الاقالیم

ورووست او د هغه په غېږ کي ئې ور واچاوه او له هغه څخه ئې وغوښتله، چي د انګرېزي سرکار له خوا د بلديو سنګهه تر مرګ وروسته، د ده ولايت عهد ومني. اکټرلوني هم دا خبره ورسره ومنله.

بلديو سنګهه په (۱۸۲۵ ع.) کال مړ سو، درجن سال پر را وغورځېد بلونت سنګهه ئې بندي کړ او د ده ماما ئې وواژه. اکټرلوني غوښتل، چي پر بهرتپور حمله وکړي، خو ايسټ انډيا کمپنی. دا خبره ورسره ونه منله، دی خوابدی سو او استعفا ئې وکړله. پر لاري چي ميرټهه ته ورسېد ومړ، مګر د (۱۸۲۸ ع.) کال د جنوري پر اتلسمه انګرېزانو بهرتپور ونيو، درجن سال ئې ونيوه او بلونت سنګهه ئې د بهرت پور والي مقرر کړ.

چورامن
(۱۶۹۵-۱۷۲۱ع.)

|

مدن (بدن) سنګهه
(۱۷۲۲-جون ۷، ۱۷۵۶ع.)

|

سورج مل جاټ (جَټ)
(فبروري ۱۷۰۷ زوکړی-۲۵ دسمبر ۱۷۶۳ع. د نجيب الدوله سره په جنګ کي مړ)

جواهر سنګهه
(په ۱۱۸۲ه.ق. کال مړ)

رتن سنګهه
(ترلس مياشتو او ۱۳ ورځو حکومت وروسته وواژه سو)

نول سنګهه

رنجيت سنګهه
(د نول سنګهه په حکومت کي ياغي سو. نجف خان د ده په بلنه پر بهرتپور حمله وکړله. هولکر دغه رنجيت سنګهه ته پناه وروړې وه. آئينه تاريخ نما دوهم ټوک او صحيفه زرين، ۴۰۹ مخ)

|

....

|

بلونت سنګهه
(۱۸۳۵-۱۸۵۳ع. نابالغه هلک و، چي راجا سو. په ۱۸۳۵ ع. کال ده ته ټول اختيارات ورکړه سوه. صحيفه زرين. ۵۰ مخ)

|

راجا جسونت سنګهه
(په ۱۸۳۵ع کال چي راجا کېدئ، نابالغ هلک و. په ۱۸۷۲ع کال چي بالغ سو، اختيارات ور وسپارل سوه، خو په ۱۹۰۰ ع کال انګرېزانو معزوله کړ او د نامه له پاره ئې د ده زوی، سوايي کشن سنګهه په ۲۷ اګسټ ۱۹۰۰ع کال راجا کړ، چي د ۱۸۹۹ع کال د اکتوبر پر څلرمه زوکړی و)

د مرهټو عروج

څو دي لاس رسېږي هومره ځني تښته
دنيا توره مرېږي ده آدم خواره [1192]

آزاد بلګرامي کښلي دي:
په جنوبي هندوستان کي "دولت آباد" يو مشهور ښار دئ. د دې ښار پخواني نوم "ديوګير" و، دغه ښار او شاوخوا ته ئې "مرهټ" وايي او هغه اولس چي په دغه مځکه کي مېشته دي، "مرهټه" بلل کېږي. ژبي ته ئې "مرهټي" وايي، چي د هندوستان له آريايي ژبو څخه ګڼله کېږي[1193].
زين سنګه زخمي لکهنوي په سلطان التواريخ کي کښلي دي:
مرهټ په دکن کي يوه صوبه ده او د دغي صوبې اوسېدونکي مرهټه بلل کېږي[1194].
د مرهټه مشتق منه مهارشټر دئ، چي د هندوستان تر آزادۍ وروسته بيا دغه بشپړ نوم د بمبئي پر صوبې ايښووه سوی دئ. د پخوانيو مرهټو جنوب ته د ست پوړې غرونه واقع وو او د اوسني بمبئي د شرق خوا ته سيمي د مرهټو ټاټوبی و[1195].
آزاد بلګرامي دا هم ليکلي دي، چي له قديمه څخه د مرهټ قام سياسي مشرتوب د "بهونسله" کورنۍ په لاس کي و او ويل کېږي، چي دا کورنۍ د اودي پور په راناګانو (پاچهانو) پوري نښلي. په لسمه هجري پېړۍ کي د بهونسله کورنۍ مشر "داداجي" نومېد. له هکني، بوډهي او ديول ګاون څخه نيولې تر پونې پوري دا ټوله سيمه د ده په لاس کي وه. دوه زامن ئې، چي يوئې مالوجي او بل ئې پتهوجي نومېد له خپلي سيمي ولاړل او دولت آباد ته نژدې مېشته سول، څو موده وروسته د سندکهير د جاګير دار "لکهي جادو" نوکران سول. لکهي جادو د نظام شاهي پاچهۍ له خوا د دغي سيمي ديس مکهـ و، چي په پښتو ئې "مَلَک" بولي. د مالوجي دوه زامن پاته سول، چي مشر ئې ساهوجي او کشر ئې شرف جي نومېد. ساهوجي (چي د لکهي جادو زوم و) په

[1192] قلندر، ادبي ستوري، ۱/۲۵۹ مخ.
[1193] خزانه عامره، ۳۵۲ مخ.
[1194] سلطان التواريخ (قلمي)، ۶۰ مخ.
[1195] د مرهټه حکومت بقايا په دې توګه دي: سيندهيا په ګواليار کي، هولکر په اندور کي، بهونسلا په ناګپور کي او ګي کوار په مړوده کي.

بهونسله قبیله کي ډېر مشهور سړی تېر سوی دئ. ده د بیجاپور د پاچا ابراهیم عادل شاه په پاچهي کي لوړ منصب وموند او پونه چي له بمبئي څخه جنوب شرقي خوا ته ۱۱۹ میله لیري پرته ده، په جاګیر کي ورکړه سوه. ساهوجي بهونسله د شمالي هندوستان د مغلي پاچا شاه جهان (۱۰۳۷-۱۰۶۸ﻫ.ق.) په دربار کي هم څو کاله پاته او د "پونې" حکومت ئې مشر زوی شیواجي کاوه. ساهوجي درې زامن درلوده: شیوا او سنبها[۱۱۹۶] نومي دوه زامن ئې د لکهي جادو د لور "جهجاوا" له نسه څخه وو او بل زوی ئې ایکوجي و، چي مور ئې "توکابايي" نومېدله.

ساهوجي چي ومړ، مشر زوی شیواجي (۱۶۲۷-۱۶۸۰ع) (=۱۰۳۷-۱۰۹۱ﻫ.ق.) ئې پر ځای کېناست. شیواجي د بیجاپور د حکومت له کمواکۍ څخه استفاده وکړه او د کوکن سیمه ئې، چي د بمبئي په جنوب کي د بحیرهٔ عرب پر ژۍ واقع ده، ونیوله. د بیجاپور لښکرو ته ئې څو کلکي ماتي ورکړې او د ... پر سر ئې یوه کلا د ستارې په نامه ودانه کړه.

د شیواجي په باب د قاموس المشاهیر په ۳۲۰/۱ مخ کي کښلي دي:

شیوا د مرهټو د ریاست باني دئ. شیوا د (۱۶۲۷ع) کال د می په میاشت کي په شیو پري نومې کلا کي زېږېدلی دئ. دی د هغه شاه جي زوی و، چي د بیجاپور د پاچا ابراهیم عادل شاه نوکر و. ابراهیم عادل شاه په کرناټک کي جاګیر او لس زری منصب ورکړ. مور ئې د جادو راو مرهټه لور وه، چي له مېړه څخه جلا، له خپل زوی شیوا جي سره په پونا (پونه) کي اوسېدله. بې سواده و، نوم ئې نسوای لیکلای .....

د مآثر عالمګیري په ۶۷ مخ کي کښلي دي:

که څه هم راجه جسونت سنګهه د سیواجي (شیوا جي) په ځبلو کي څه کمی نه و کړی، خو بیا هم د پاچا (عالمګیر) زړه غوښتل، چي تر دې هم ښه وځبل سي، نو ئې د (۱۰۷۵ﻫ.ق.) کال په شروع کي راجه جی سنګهه له یوه درانه پوځ او ډېرو امراوو سره، د شیوا جي ځبلو ته وګماره. دلیر خان داودزی پښتون د سپهسالار په توګه ورسره و.

[۱۱۹۶] په مآثر عالمګیري (۷۰ مخ) کي سنبها جي د شیواجي زوی ښوول سوی دئ. د شیواجي په باب د هندوستان کي حالت په ۶۷۰ مخ کي کښل سوي دي ....

د قاموس المشاهیر په ۳۰۶/۱ مخ کي کښلي دي: سمبها جي د شیوا جي زوی و. پلار چي ئې مړ سو، دی په پونه کي نه و، ځکه نو درباریانو د ده ورور راجه رام راجا کړ، اما جنګونه پېښ سول. په (۱۶۸۰ع) کال سمبها جي بری وموند، ورور ئې بندي کړ او دی د پونې راجا سو. نه کاله ئې حکومت وکړ او ټول اختیارات ئې یو برهمن ته، چي کسب کالاش نومېد، سپارلي وو. دی په عیاشۍ اخته و.

مقرب خان په (۱۱۰۰ﻫ. ق.) کال دی، زوی او وزیر ئې (کسب کالاش) ونیول او عالمګیر ته ئې ورواستل. د عالمګیر په حکم د کسب کالاش او سمبها جي اول ژبي پرې کړل سوې، بیا ئې سترګي وروایستلې او بیا ئې ووژل. په پوستو کي ئې پروړ ور واچول او ډډې ئې د دکن په کوڅو کي وګرزول. د وژلي تاریخ ئې دا دئ: "کافر بچه جهنمي رفت". (کافر ۳۰۱ + بچه ۱۰ + جهنمي ۱۰۸ + رفت ۶۸۰ = ۱۰۹۹).

سنبها جي په (۱۰۹۰ﻫ. ق.) کال له پلاره څخه خوابدی سو او دلیر خان سپهسالار ته ئې ځان تسلیم کړ او هغه بندي کړ.

د اورنګزېب عالمګير (۱۰۶۸-۱۱۱۸هـ.ق.) له پوځو سره ئې هم څو ځلي جنګونه وکړل، مګر پای ته مغلوب او په (۱۰۷۵هـ.ق.) کال د لوی اختر د مياشتې په اتمه ئې ځان د اورنګزېب د پوځ مشر "راجه جی سنګه" ته وسپاره او له پنځه د پرشو کلاوو څخه ئې درويشت نيولي کلاوي اولس لکه هونه[1197] ئې د جنګ د تاوان په نامه عالمګير مغل ته وړاندي کړل.

د راجه جی سنګه په شفاعت ئې عالمګير تر ګناه ورتېر سو او دده زوی "سنبا" ته ئې پنځه زری منصب ورکړ. تر بخښني وروسته شيوا له خپل زوی سنبا[1198] سره د (۱۰۷۶هـ.ق.) کال د مياني د مياشتې پر اتلسمه په اکبر آباد کي د اورنګزېب عالمګير په حضور مشرف سو. مغل پاچا ښه ونازاوه، مګر شيوا تر ډېره وخته پوري په مغل دربار کي ټيک نسو او د (۱۰۷۷هـ.ق.) کال د صفري د مياشتې پر ۲۷ مه د ملنګانو په جامه کي، له خپله زويه سره د کن ته وتښتېد. تل به ئې د دکن په سيمه کي اړودوړ جوړاوه، څو د (۱۰۹۱هـ.ق.) کال د لومړي خور د مياشتې پر پنځمه (= ۱۵ اپريل ۱۶۸۰ع.) يا د لومړي خور د مياشتې پر ځلرمه ئې خوله پټه سوه. سنبا زوی ئې پر ځای کښېناست. ده هم له اغتشاش او اړودوړه څخه لاس وانه خيست، بلکي د چور او چپاو لاس ئې بنګالې، ارکاټ، اوډيسې او ناګپور پوري اوږد سو، خو په (۱۰۹۳هـ.ق.) کال عالمګير پخپله پسي ورووت، په اورنګ آباد کي ئې ورته واړول. که څه هم سنبا پخپله په (۱۱۰۰هـ.ق.) کال وواژه سو[1199]، مګر پر ځای ئې مشر زوی ساهو[1200] راجه کښېناست، چي ترپلار ئې زيات د مغلو په مقابل کي مقاومت وکړای سو. که څه هم اورنګزېب د مرګ تر کال (۱۱۱۸هـ.ق.) پوري له مرهټو سره په جنګ بوخت و، خو د مرهټو ځبل او مغلوبيت ئې له وسه پوره نه سو. روغه ئې ورسره وکړله او د دکن د مالیې په سل کي نه روپۍ (٪ ۹) ئې مرهټو ته ومنلې[1201].

د اورنګزېب غوندي هوډيالي پاچا له خوا په ماليه کي د مرهټو شريکولو، د مرهټو حوصله يو په دوه کړله او له دغه ځايه څخه دوی ته د پاچهۍ فکرونه پيدا سول. دوی وپوهېدل چي د هندوستان تر ټولو لويي او غښتلي پاچهۍ، د دوی د قوت په مقابل کي ګونډه ووهله. مرهټو ته د هندوستان په سلطنت کي د يوې برخي او حق منلو، په دوی کي د خپلي خپلواکي پاچهۍ د قيام جذبه وپاروله.

[1197] هون د يوې طلايي سکې نوم دئ، (خزانه عامره، ۳۵۳ مخ).

[1198] دا نوم په عماد السعادت او صولت افغاني کي "سنبها" ضبط دئ، (وګ: ۱۳ او ۲۲۴ مخونه) او په صحيفه زرين کي سمبوجي ضبط دئ، (وګ: رياست هاى مغربي هند، حصه اول، ۱۲۲ مخ).

[1199] صولت افغاني، ۲۲۴ مخ.

[1200] دا نوم د عماد السعادت په ۱۳ مخ کي ساو ضبط دئ.

[1201] خزانه عامره، ۳۵۴ مخ. د عماد السعادت په ۱۳ او سلطان التواريخ په ۶۴ مخ کي ليکلي دي، چي عالمګير د ماليې څلرمه ورومنله، مګر د تاريخ هندوستان د نهم ټوک په ۳۶ او ۱۳۵ مخونو کي ليکلي دي، چي د راجه رام مرهټه زامنو عالمګير ته د روغي درخواست په دې شرط وړاندي کړ، چي په سل کي ۹ سرديس مکي ورته ومني، مګر عالمګير تېه وکړله.

په (۱۱۱۸هـ.ق.) کال د اورنگزیب مرګ او د پاچهۍ له پاره د ډهلي د مغلي شهزاده ګانو جنګونو په مرهټو کي د خپلي پاچهۍ د جوړولو امیدونه لاپسي غښتلي کړل او د آزادۍ له پاره ئې جد و جهد نور هم پسي زیات سو، بلکي د عماد السعادت په قول مستقل سول[۱۲۰۲].

د عالمګیر جانشین شاه عالم (۱۱۱۸-۱۱۲۴هـ.ق.) د پلار سیاسي غلطي تقویه کړه او د ۹ پر ځای ئې ۱۰ په سلو کي د دکن مالیه او محصول د مرهټو حق و مانه، مګر کله چي د ډهلي د دربار له خوا څخه د دکن نائب الحکومه ګي امیر الامراء سید حسین علي بارهه ته ورکړه سوه او نوموړي ناسیاله امیر الامراء د ډهلي مغل پاچا فرخسیر (۱۱۲۴-۱۱۳۱هـ.ق.) ته په (۱۱۲۹هـ.ق.) کال په دکن کي د بغاوت نغاره وډنګوله، د مرهټو دا حق په یوه ځلي له ۱۰ پر سلو څخه ۳۵ پر سلو ته ورساوه سو او د محصول او مالیې د ټولولو له پاره ئې نماینده ګان، د دکن په شپږو سیمو کي ومنل سول. دې ناسیاله امیر الامراء د محمد انور برهانپوري او شنکر جي ملهار په وسیله، د مرهټو د سردار ساهو راجه سره په دې ډول تړون وکړ، چي:

مرهټه به نور لوټ او برید نه کوي او پنځلس زره په وسله پټ سپاره به ئې تل د ډهلي د پاچا فرخسیر پر ضد د جنګېدلو له پاره د امیر الامراء سید حسین علي بارهه په رکاب کي حاضر وي. د دې په مقابل کي به امیر الامراء د مرهټو مشر ساهو راجه ته د دکن د شپږو سیمو په محصول او مالیه کي یوه څلرمه (٪ ۲۵) د "چوهنۍ" په نامه او یوه لسمه به د "سر دیسمکۍ" په نامه ورکوي او هم به د کوکن د سیمي اداره، حکومت، مالیه او محصول ټول مرهټو ته ورپرېږدي.

د دې تړون له مخي د ویشواناته زوی بالاجي، چي د کوکن له بمبنو (برهمنو؟) څخه و، د دکن د نائب الحکومه ګۍ په دربار کي، د ساهو راجه د وکیل په حیث "پېشوا" وټاکه سو[۱۲۰۳] او هم د دکن په هره هره سیمه کي دوه دوه نور مرهټه سرداران یو د "چوهنۍ" د ټولولو له پاره د "مکاسدار" په نامه او بل د "سر دیس مکۍ" د ټولولو له پاره د نائب په نامه مقرر سول.

ناسیاله امیر الامراء سید حسین علي بارهه په (۱۱۳۰هـ.ق.) کال د دکن نائب الحکومه ګي خپل وراره سید عالم علي ته پرېښووله او پخپله له پنځوسو زرو عسکرو سره د فرخسیر د جنګ په نیامت مخ پر ډهلي وخوځېد. په دې لښکر کي له تړون سره سم، د مرهټو یو دیرلس زري یا پنځلس زري سپور پوځ د "کهنډو دهپاویه" یا د ساهو راجه دوکیل نوموړي بالاجي پیشوا په مشرۍ هم شامل و.

ناسیاله امیر الامراء سید حسین علي بارهه د مرهټو په مرسته د (۱۱۳۱هـ.ق.) کال د لومړۍ خور په میاشت کي، تر مقابلې وروسته د ډهلي پر مغل پاچا فرخسیر بری وموند او یو مغل شهزاده رفیع الدرجات ئې د نامه له پاره د ډهلي پر تخت کښېناوه.

[۱۲۰۲] عماد السعادت. ۱۴ مخ.

[۱۲۰۳] آئینه تاریخ نما، ۱۰۷/۱ مخ. د شیوا جي اخلاف په دوهم نسل کي تش په نامه پاچهان وو. د مرهټو ټول واک د دوی د برهمنو وزیرانو په لاس کي و، چي د پېشوا په نامه یادېدل.

(لومړی) بالاجي (لومړی پېشوا)

(په ۱۱۳۰ هق کال د دکن د مغلي نائب الحکومه په دربار کي د مرهټو د راجا وکیل وټاکه سو او د پېشوا لقب ئې وګاټه. په ۱۷۲۰ ع (= ۱۱۳۳ هق) کال مړ سو)

(لومړی) باجي راو (دوهم پېشوا) (۱۷۲۰–۱۷۴۰ ع) (= ۱۱۳۳–۱۱۵۴ هق)

(د ۱۹ کالو وو، چي پېشوا سو. شل کاله پېشوا و)

جمنا جي آپا

سدا شیو راو بهاو

(د پلار د مرګ په وخت کي لس کلن و. په ۱۱۷۴ هق کال په پاني پت کي ومړ. دی په دغه جنګ کي د ټول مرهټه پوځ سپهسالار و)

دوهم بالاجي باجي راو (درېیم پېشوا)

(په صاحب مشهور و. په ۱۱۵۴ هق کال پېشوا سو. په سه شنبه ۱۹ د میانی ۱۱۷۴ هق کال ومړ، (تزک آصفیه، ۱۲۶ مخ). په تزک آصفیه ۱۲۴ مخ کي راو بالاجي لیکلی دئ. په سیر المتاخرین کي لیکلي دي، چي د پاني پت تر سوبې پنځه میاشتي و دیرلس ورځي وروسته د بالاجي راو خوله پټه سوله او د زوی او ترېره سره په دوږخ کي یو ځای سو)

شمشیر بهادر

رګهوناته (راګهوجي)

(تر ۱۲۲۴ هق کال پوري ژوندی و)

امرت راو

باجي راو (څلورم پېشوا)

(تاریخ هند، ۲۳۹ مخ، تاریخ ګنجپوره، ۳۰ مخ)

جمنا جي آپا

(د دوهم مادهو راو تر مرګ وروسته په ۱۲۱۰ هق کال پېشوا سو)

بسواس راو

(په پاني پت کي د اتلسو کالو په عمر ومړ)

لومړی مادهو راو

(په ۱۱۷۴ هق کال پېشوا سو. کارئې ټول اکا رګهناته کاوه. په ۱۷۶۸ ع کال چي د رګهناته او مادهو راو تر منځ جنګ پېښ سو، رګهناته ماتې وکړه، بندي سو. مادهو راو په ۱۷۷۲ ع کال ومړ او پر ځای ئې ورور نراین راو پېشوا سو)

نرائن راو

(په ۱۱۸۴ هق کال پېشوا سو. پنځلس کلن وو، چي په ۱۱۸۶ هق کال رګهناته وواژه (تزک آصفیه، ۲۱۹ مخ) او پخپله پېشوا سو، خو څو میاشتي وروسته معزول سو)

دوهم مادهو راو (۱۱۸۶–۱۲۱۰ هق)

(پس مرګي وزوو او دستي د پېشوایی نوم پر کښېښوو سو. د ۱۷۹۵ ع کال د اکتوبر په میاشت کي ومړ. نائب السلطنه ئې نانا فرنویس (فدنویس) و. د دوهم مادهو راو په وختو کي مرهټو پر دکن برید وکړ. نظام د معاهدې سره سم له انګرېزانو مرسته وغوښتله. انګرېزانو تېه وکړله، نو نظام مجبور سو، مرهټو ته یو کروړ روپۍ او ځه سیمي ورکړي او مرهټه په سوله راضي کړي (تاریخ هند، ۲۳۹ مخ). په ... کال مادهو راو ځان وواژه. پر پېشوایی د رګهوناته د زامنو باجي راو او جمنا جي شخړې سوې. په ۱۷۹۹ ع کال [illegible] او سیندهیا په مرسته دوهم باجي راو پېشوا کړ. نانا فرنویس په ۱۸۰۰ ع کال ومړ. د نانا فرنویس تر مرګ وروسته د پوني پر ملک باندي د جسونت راو هولکر او سیندهیا جنګونه سول. هولکر بریالی سو. باجي راو پېشوا انګرېزانو ته پناه ورووړله. په ۱۸۰۲ ع کال د پېشوا او انګرېزانو تر منځ یو ت[illegible] [illegible] ځه پوځ په پونه کي مېشت سو او پېشوا ۲۹ لکه روپۍ د کاله د دغه پوځ د خرڅ له پاره ورکولې. د انګرېزانو پوځ باجي راو پېشوا بیرته پونې ته راوست. په ۱۸۱۸ ع کال انګرېزانو د مرهټو ملک ونیو. باجي راو ئې کانپور ته، نظربند ولېږه. د دوهم باجي راو تر معزولولو وروسته پر نګیا[illegible] [illegible] د ناګپور رقبه اتیا زره مربع میله او نفوس ئې څلوېښت لکه تنه و.)

درېیم باجي راو (د رګهناته له اولادې ځخه دئ)

(له ۱۷۹۶ ځخه تر ۱۸۱۸ ع کال پوري پېشوا و. دغه پېشوا د مرهټو تر ټولو وروستی پېشوا و. انګرېزانو کانپور ته نژدې په بتهور نومي [illegible] [illegible] شت کړ. په ۱۸۱۸ ع (= ۱۲۳۴ هق) کال انګرېزانو معزول کړ. په غدر کي چند علما او هندوستانیون کي مختصر تاریخ ۳۹۳ مخ کي د ده ته دوهم [illegible] [illegible] لی دئ)

چمنا جي رګهوناته

(دی اول سری و [illegible] [illegible] درېیم باجي راو ملګري ئې په ۱۸۱۸ ع کال پر بېنوله. په ۱۸۷۱ ع کال مړ سو)

دهوندو پنت نانا راو (نانا صاحب)

[illegible] جمنا جي پنت

تر دې سوبې وروسته ناسیاله امیر الامراء شنکرجي ملهار یعني هغه څوک، چې د ده او ساهو راجه تر منځ ئې د مرستي تړون کړی و، زیات ونمانځه او د دکن مدار المهام ئې وټاکه. نوموړی شنکر جي ملهار (نوی مدار المهام) او پیشوا بالاجي، د دکن په دربار کې د ساهو راجه وکیل، د امیر الامراء په امر، د دکن دربار ته ستانه سول. دوی چې د ډهلي د پاچهی ضعف پخپلو سترګو لیدلی و، دا ئې یقین سو چې اوس د ډهلي په پاچهی کې د مرهټو د موټ د پیچلو توان نه دئ پاته، ځکه ئې نو د دکن دربار ته تر ور رسېدلو وروسته، د دکن ټول سیاسي واک او اختیار پخپل لاس کې واخیست او د ناسیاله امیر الامراء وراره سید عالم علي بارهه ته ئې د نیابت تش نوم ورپرېښود او بس[۱۲۰۴].

پر منځني هند باندې د مرهټو یرغل:

په (۱۱۳۲هـ.ق.) (= اپریل ۱۷۲۰ع.)[۱۲۰۵] بالاجي پیشوا چې د دکن د نیابت په دربار کې د مرهټي راجا ساهو وکیل و، ومړ او پر ځای ئې ۱۹ کلن زوی باجي راو کښېناست. باجي راو ته د نربدا[۱۲۰۶] د سین د شمالي سیمو د نیولو فکر پیدا سو.

په (۱۱۳۹هـ.ق.) کال باجي راو پیشوا له یوه تکړه مرهټي پوځ سره له دکن څخه پر مالوه باندې، چې د ډهلي پاچاهي سیمه وه، برید وکړ. د مالوې حاکم "ګروهر بهادر ناګري"[۱۲۰۷] ئې، چې په (۱۱۳۷هـ.ق.) کال د ډهلي د پاچا محمد شاه مغل له خوا مقرر سوی و، وواژه او مالوه ئې ولوټله.

که څه هم د مرهټو تر برید وروسته مالوې ته د ډهلي له درباره څخه نوی حاکم ولاړ، مګر مالوه ئې د مرهټو له تالا او ناتارونو څخه خوندي نه کړای سوه. په (۱۱۴۳هـ.ق.) د ډهلي له درباره څخه نواب محمد خان بنګښ، چې یو تکړه او جنګیالی منصبدار و، د مالوې حاکم وټاکه سو. ده د مرهټو تر ځبلو زیات د بندهیلکهند د راجا چهتر سال ځبلو ته توجه وکړه. که څه هم له چهتر سال څخه ئې د یو کال پرله پسې جنګ په اغېزه ټولې پاچاهي سیمې قبضه کړلې، مګر دا کار بښه نتیجه ورنکړله، ځکه چې چهترسال او مرهټو لاس سره یو کړ. مرهټو له جنوب او چهترسال له ختیځ څخه

(۱۲۰۴) خزانه عامره، ۴۲ مخ.

(۱۲۰۵) آجکل مجله، د (۱۹۵۸ع) کال د فبروري ګڼه، ۳۳ مخ.

(۱۲۰۶) د نربدا سین د هندوستان منځنی او جنوبي برخه سره وېشي. د نربدا سین جنوبي لور ته پرته سیمه دکن بلل کېږي.

(۱۲۰۷) د قاموس المشاهیر په ۱۶۲/۲ مخ کې کښلي دي: ګروهر سنګهه یو راجپوت سردار و. د محمد شاه مغل په وختو کې د مالوې حاکم و. په (۱۷۲۹ع) (= ۱۱۴۲هـ. ق.) کال چې مرهټو پر مالوه برید وکړ، دی په جنګ کې ومړ. دیا رام وراره ئې پر ځای کښېنوست او څه موده ئې مالوه له مرهټو څخه راوګرزوله، مګر په (۱۷۳۲ع) (= ۱۱۴۵ هـ. ق.) کال چې جمنا جي (د پیشوا ورور) پر مالوه باندې برید وکړ، دیا رام شکست وخوړ او وواژه سو. ګروهر سنګهه په (۱۱۳۷هـ. ق.) کال د مالوې حاکم مقرر سوی دئ، (هندوستان کې حالت، ۱۳۲ مخ).

پر مالوه باندي برید وکړ او محمد خان بنګښ ئې تر څلورو میاشتو کلابندۍ وروسته، روغي ته اړیوست[۱۲۰۸].

د بندهیلکهنډ راجا د دې مرستي په صله کي د جمنا پر غاړه باندي د جهانسي علاقه د مرهټو پیشوا "باجي راو" ته ورکړه او په دې توګه مرهټه شمالي هند ته متوجه سول[۱۲۰۹].

پر شمالي هند باندي د مرهټو یرغل:

په (۱۱۴۵هـ.ق.) کال د ډهلي پاچا محمد شاه مغل د مالوې حکومت له محمد خان بنګښ څخه واخیست او راجه جی سنګه ته ئې ورکړ. د ډهلي د دربار دا بله سیاسي غلطي وه. راجه جی سنګه د مرهټو له نهضت او عروج سره زیاته دلچسپي درلوده. ده له مرهټو سره په پټه لاس یو کړ او په دې توګه د مرهټو قوت یو په دوه سو. د راجه جی سنګه په برکت د مالوې سیمه هم په حقیقت کي د دوی په لاس کي سوه او د شمالي هند د استېلاء هڅه ورپیدا سوله[۱۲۱۰].

د سفرنامه انندرام په مقدمه کي کښلي دي:

له (۱۱۴۵هـ.ق.) څخه تر (۱۱۵۰هـ.ق.) کال پوري د مرهټو بریدونه د موسمي تبو په څېر هر کال تر برسات وروسته، پر منځني هندوستان باندي جاري و.

په (۱۱۴۶هـ.ق.) کال د مرهټو یو تکړه لښکر د باجي راو په مشري شمالي هندوستان ته هڅه وکړه. که څه هم له ډهلي څخه د خان دوران صمصام الدوله د ورور مظفر خان تر مشرتوب لاندي یو لښکر پسي راووت، مګر جنګ پېښ نه سو او د دوی تر رسېدلو پخوا باجي راو دکن ته مرهټه پوځونه ستانه کړل.

په (۱۱۴۷هـ.ق.) کال بیا باجي راو د شمالي هندوستان په نیامت مرهټه پوځونه مالوې ته وخوځول. دا پلا د ډهلي پاچهي مجبوره سوه، چي وزیر اعظم او سپهسالار دواړه د بېلو بېلو پوځو سره د مرهټو جنګ ته راوباسي او خپل نهایي طاقت وآزمویي.

باجي راو هم خپل پوځونه پر دوو برخو ووېشل، یو پوځ ئې د "بیلا جادو" په مشرتوب د وزیر الممالک اعتماد الدوله قمر الدین خان مقابلې ته وګماره او بل پوځ ئې د "ملهار راو هولکر" په قیادت، د امیر الامراء صمصام الدوله خان دوران مخنیوي لره وټاکه.

مرهټو دا پلا د ډهلي د پاچهۍ له نهایي طاقته سره خپل زور وآزمویه او د ډهلي د پاچهۍ وزیر او سپهسالار ئې دواړه روغي ته اړ ایستل. محمد شاه مغل پاچا ئې مجبور کړ، چي په (۱۱۴۸هـ.ق.) کال د راجه جی سنګه د سپارښتني په پلمه د مالوې حکومت د نائب الحکومه جی سنګه د نائب په حیث باجي راو ته وسپاري او په منځني هندوستان کي هم د مرهټو سیاسي قدرت

[۱۲۰۸] مآثر الامراء، ۷۷۲/۳ مخ.

[۱۲۰۹] تاریخ هندوستان، ۲۳۵/۹ مخ.

[۱۲۱۰] تاریخ هندوستان، ۲۳۳/۹ مخ.

ته تسلیم سي.

البته ظاهراً باجي راو د ډهلي د پاچهۍ له خوا د مالوې حاکم و، مګر ورسره نظامي قوت ټول مرهټه وو او دا په حقیقت کي د شمالي هندوستان لور ته یوه بله پیشقدمي وه. باجي راو د مالوې نوي مرهټه حاکم په (۱۱۴۸هـ.ق.) کال د مرهټو یو لوی او درووند لښکر مالوې ته راوست او سمدستي ئې له تکړه ځلمیو څخه یو چوڼ کړی پوځ پخپل امر سره د بیلاجادو په مشري د انتربید نیولو لره وګماره. انتربید په شمالي هندوستان کي د هغې سیمي نوم دئ، چي د ګنګا او جمنا سیندونو تر منځ پرته ده او دوآبه هم بلله کېږي.

د بیلاجادو پوځ د جمنا تر پوري وتلو وروسته د (۱۱۴۹هـ.ق.) کال د میانۍ د میاشتي په دوه ویشتمه ورځ د اوده د نواب برهان الملک له لښکرو څخه ماتې وکړه او مالوې ته ئې تر پلل.

باجي راو چي غوښتله ئې په شمالي هندوستان کي هم د مرهټو د توري نوم ولاړ سي، دا ماتې ډېره درنه پر پرېوتله او د تلافۍ له پاره ئې د (۱۱۴۹هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په نهمه ورځ سیده پر ډهلي باندي، چي د مغلي پاچهۍ پایتخت و برید وکړ، مګر بری ئې ونه موند.

د ډهلي مغل پاچا محمد شاه (۱۱۳۱–۱۱۶۱هـ.ق.) د باجي راو په دې جرأت او ګستاخي خوابدی سو. په (۱۱۵۰هـ.ق.) کال ئې د مالوې حکومت څني واخیست او آصف جاه ته ئې وسپاره. آصف جاه د مالوې نوی حاکم د بهوپال په شاوخوا کي څو پلا له باجي راو سره وجنګېد، پای ته روغي ته مجبور سو.

کوم وخت چي د ډهلي پاچهي د نادر افشار په مصیبت سهلو اخته وه، باجي راو ته د ملک نیولو ښه موقع په لاس ورغله. د دکن پر ډېرو سیمو ئې غېږ راوګرزوله او د ډهلي د پاچهۍ حاکمان ئې پسي واخیستل. پر دې ئې هم سکته ونه کړه، له پنځوسو زرو مرهټه لښکرو سره ئې د آصف جاه پر زوی نواب نظام الدوله باندي، چي د پلار په نیابت د دکن نائب الحکومه و، برید وکړ. د (۱۱۵۲هـ.ق.) کال د کوچني اختر د میاشتي پر ۲۸ مه د اورنګ آباد په شاوخوا کي جنګ ونښت او یوه میاشت وڅو ورځي ئې دوام وکړ. پای ته نظام الدوله مجبور سو، چي کرکون او هندیه نومي سیمي د جاګیر په نامه باجي راو ته ورپرېږدي او د روغي په پلمه ځان څني وژغوري.

باجي راو د کرکون او هندیه تر استیلاء وروسته بیا د مالوې لور ته پوځونه وخوځول او د نربدا سیند پر غاړه باندي ئې د (۱۱۵۳هـ.ق.) کال د صفري د میاشتي پر دوولسمه (= ۲۸ اپریل ۱۷۴۰ع) خوله پټه سوه.

د باجي راو تر مرګ وروسته ئې زوی "دوهم بالاجي" پر ځای کښېناست. په (۱۱۵۴هـ.ق.) کال د مرهټو د یوه بل منصبدار رګهو بهونسله، چي د برار مکاسه دار و، پوځونه د اوړیسې په ولایت چي د هند په منځنۍ شرقي خوا کي واقع دئ، ننوتل او په (۱۱۵۵هـ.ق.) کال د دغه پوځ یوې برخي د رګهو بهونسله د دفتردار باسکر پنډت په مشري، د میر حبیب د مرستي په پلمه، پر بنګال باندي برید وکړ. که څه هم د دغه پوځ منصبداران د بنګال د نائب الحکومه مهابت خان له خوا په دروهه سره په یوه مېلمستیا کي ووژل سول، مګر بیا هم د بنګال نائب الحکومه ګۍ د برار مکاسه

"رګهو بهونسله" مرهټه ته هر کال کلنګ ورکاوه او په دې توګه د مرهټو سیاسي نفوذ د هندوستان تر شمال شرقي سیمو پورې اوږد سو او لا ئې د نفوذ ساحه او قدرت ورځ په ورځ پراخه کېدله. ځیني زیاتېدونکي و. تر دې چې د ډهلي د دربار خپل چاروکي او ناسیاله امیران د یو و بل پر ضد باندې د دوی مرستي لره اړ سول او په دې توګه ئې د مرهټو په سرونو کي د ټول هندوستان د پاچهۍ فکرونه پیدا کړل.

په (۱۱۶۳ه.ق.) کال چي د ډهلي د دربار ناسیاله وزیر صفدر جنګ د نواب احمد خان بنګښ له جنګه په ماتې تېپي ډهلي ته ستون سو، تر جوړېدلو وروسته ئې په (۱۱۶۴ه.ق.) کال د مرهټو څخه د نواب احمد خان بنګښ پر ضد مرسته وغوښتله او د مرهټو یو د روند لښکر ئې د ملهار راو هولکر او جي آپا سیندهیا په مشرۍ، مرستي ته را ورسېد. دې مرهټي پوځ د فرخ اباد او روهیلکهنډ سیمي، چي د پښتنو مېنه وه ولوټلې او د پښتنو ځلمو په وینو ئې ملکونه رنګول. تر سوبي وروسته د صفدر جنګ له خوا پر نغدو روپو سربېره د جلیسر، قنوج او کړې سیمي مرهټو ته ورکړلي سوې او په دې ډول د پاني پت تر تاریخي جنګه پورې، لس کاله په شمالي هندوستان کي د انتربېد پر یوه سیمه باندې، د مرهټو دوامداره سلطه راغله.

په (۱۱۶۵ه.ق.) کال چي د ډهلي د دربار له خوا امیر الامراء غازي الدین فیروز جنګ (د ناسیاله غازي الدین پلار) د دکن په نائب الحکومه ګۍ وټاکه سو، ده د خپل ورور امیر الممالک پر ضد، چي د پلار تر مرګ وروسته یعني د (۱۱۶۱ه.ق.) کال راهیسي د دکن حاکم و، له مرهټو څخه مرسته وغوښتله او د مرستي د تړون په بدله کي ئې په دکن کي د خاندیس ټوله سیمه او د اورنګ آباد یوه برخه (جالنه) پخپل مهر او لاسلیک مرهټو ته ورکړله.

په دغه وخت کي د ډهلي پاچهي د داسي ملوک الطوایفیو مجموعه وه، چي د هري طایفي او سیمي حاکم صرف د نامه له پاره ځان د مرکزي حکومت تابع باله. کله چي به د مرکزي حکومت له خوا له خپل حکومت څخه معزول کړه سو، تر څو چي نوي حاکم به د توري په زور هغه سیمه نه وه ځني نیولې، زوړ حاکم له هغې سیمي څخه د پاچاهي فرمان په اثر نه راووت او هغه سیمه ئې نه خوشي کوله. تړونونه هم ایالتي حکومتو کولای سوای او سیمي او مالیې هم نورو حکومتو ته د دوی په مهر او موافقت ورتسلیمېدلای سوای. د مرکزي حکومت فرمان د ادارې او نفوذ په شکل واقعاً یوازي د ډهلي په شاوخوا کي نافذ و او د مرکزي حکومت د دغومره بې نظمۍ او کمواکۍ قطعي نتیجه دا وه، چي باید هر متجاوز په هندوستان کي بریالی سي، لکه چي بریالي هم سول[۱۲۱۱].

[۱۲۱۱] د هند د تاریخ یوه لنډه سروې په ۲۱۳ مخ کي کښلي دي:
باجي راو د راجا ساهو په مخ کي اعلان وکړ:
"اوس د دې وار رارسېدلی دئ، چي پردي اولسونه د هندوستان له خاوري وباسو او بې زواله شهرت تر لاسه کړو".

په مرکزي حکومت کي چي هم کومو اميرانو موقعيتونه نيولي وو، دوی يو د بل وينو ته تږي وو. ايرانيانو، تورانيان له پښو اچول او تورانيانو د ايرانيانو د کمواکۍ نقشې سنجولې. د پښتنو له پاره به کله ايرانيان بلا سول او کله به د تورانيانو خوا ورته بده سوه. د يو او بل د تباهۍ له پاره د شمالي هند د مسلمانو اميرانو کوښښونه جاري وو او مرهټو د دوی له دغه غفلته څخه ګټه اخيستله. کله به د يوې ډلي پر خوا سول او کله به ئې د بلي ډلي ملا ورتړله. هغه مرهټه چي په (۱۱۶۵ه.ق.) کال ئې د ناسياله وزير صفدر جنګ پر سيله د پښتنو په وينو مځکي اوبه کړي وې، د (۱۱۶۶ه.ق.) کال پای ته ئې د ډهلي د دربار د نوي امير الامراء ناسياله غازي الدين په بلنه، د نوموړي ناسياله وزير صفدر جنګ پر ضد، ډهلي ته پوځونه ولېږدول.

په (۱۱۷۱ه.ق.) کال دغه خپلسری طاقت د آدينه بيګ په بلنه، شهزاده تيمور سدوزی او سردار جان خان له لاهوره پسي واخيستل او د اباسين تر شرقي غاړي، اټک پوري ئې ځانونه ورسول او د لاهور جنوبي خوا ته ئې ملتان ونيو. د لاهور حکومت ئې له خپلي خوا آدينه بيګ ناسياله ته او د ملتان حکومت ئې رام جي او شام جي ته وسپاره. څه پوځ ئې د سابا مرهټه تر مشرتوب لاندي په اټک کلا کي پرېښو و. د (۱۱۷۲ه.ق.) کال د لومړۍ خور په مياشت (= نومبر ۱۷۵۸ع.) کي مرهټه پوځونه د ټکوجي هولکر په مشرتابه تر اباسين هم پوري وتل او د پېښور په سيمه کي ئې خپل ناپاک قدمونه کښېښوول[۱۲۱۲] او د (۱۱۷۲ه.ق.) کال پای ته ئې د ډهلي د دربار پښتون امير الامراء نجيب الدوله يوسفزی په سکرتال کي کلابند کړ او ټول روهيلکهند ئې ولوټه.

د تاريخ هندوستان مولف ذکاء الله خان د مرهټه د دغو پرمختګو په باب ليکي:
په (۱۱۷۱ه.ق.) کال د مرهټو پاچهۍ هومره وسعت وموند، چي پخوا ئې هيڅکله هم نه و په نصيب سوی. شمالي سرحد ئې له هماليې څخه شروع سوی او جنوبي سرحدئې د دکن د جزيره نما پای ته رسېدئ او شرقي سرحد ئې د بنګال له کټکه څخه تر اټکه پوري رسېدلی و[۱۲۱۳]. په دغه منځ کي که کوم ملکونه د دوی تر مستقيمي سلطې لاندي نه وو، باج او کلنګ ئې مرهټو ته ورکاوه. په دغه وخت کي مرهټو يو شاهانه شان و شوکت درلود، تجربه کاره سپهسالاران او يو لوی تکړه پوځ ئې درلود. لس زره تنه سپاهيان ئې په فرنګي عسکري قواعدو پوه وو[۱۲۱۴]. مرهټو پر خپلو دغو پيشرفتو هم سکته ونه کړه، په (۱۱۷۳ه.ق.) کال ئې د دوهم بالاجي پيشوا زوی بسواس د ډهلي د تاج و تخت له پاره، د يوه درانه لښکر سره له دکن څخه را وخوځاوه. دې پوځ ډهلي ونيو، مګر د بسواس تاجپوشي ئې د پاني پت د جنګ فتحي ته پرېښوول. هاشمي فريد آبادي په

(۱۲۱۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۳۱۹ مخ.

(۱۲۱۳) آئينه تاريخ نما، ۱۱۴/۱ مخ.

(۱۲۱۴) تاريخ هندوستان، ۳۰۴/۹ مخ.

تاریخ هندوستان کي لیکلي دي:

بهاو چي ډهلي ونیو، وئې غوښتل چي بسواس د پاچهی پر تخت کښېنوي او دا اعلان کړي، چي د هندوستان پاچهي اوس د مرهټو برهمنو ده، خو دا کار ئې د جنګ فیصلې ته پرېښود.

د الزبیر په ۴۶۴ مخ کي کښلي دي:

"بساط الغنایم" د مرهټه وو تاریخ دئ، د مرهټو له عروجه پیل کېږي او د پاني پت پر ماتي پای ته رسېږي. مولف ئې د "چمنستان الشعراء" مولف "لچهمي نراین شفیق اورنګ آبادي" (۱۱۵۸ه.ق. زوکړی) دئ. ۷۴ پاڼي ئې دي. د (۱۲۱۴ه.ق.) کال د څلورمي خور د میاشتي په نولسمه (= ۱۸ نومبر ۱۷۹۹ع.) ئې تالیف پای ته رسېدلی دئ. یوه خطي نسخه ئې د خان بهادر مولوي ظفر حسن خان په کتابتون کي خوندي ده.

لومړی باجي راو

(د مرهټو دوهم پېشوا)

د قاموس المشاهیر په ۱/۱۹۹ مخ کي کښلي دي:

"د لومړي بالاجي ویشواناتهـ (لومړي پېشوا) زوی او د ویشوا ناتهـ (د کوکن برهمن) لمسی، لومړی باجي راو د (۱۷۲۰ ع.) کال د اکتوبر په میاشت کي، په ۱۹ کلنۍ کي د مرهټو واکمن سو. شل کاله ئې د مرهټو پېشوائي وکړله او پای ته په (۱۲ صفره ۱۱۵۳ ه.ق.) (= ۲۸ اپریل ۱۷۴۰ ع.) کال ومړ.

باجي راو دمرهټو د پوځي او سیاسي پرمختګ او اقتدار ډېر غوښتونکی و، چي دغه مرام ته د رسېدلو له پاره ئې، په وارو وارو منځني او شمالي هندوستان ته درنې لښکرکښۍ وکړلې او تر ډېره ځایه بریالی هم سو.

د هند د تاریخ یوه لنډه سروې نومي اثر په ۲۱۳ مخ کي کښلي دي:

باجي راو (دوهم پېشوا) د "راجا ساهو" په مخ کي اعلان وکړ:

"اوس د دې وار را رسېدلی دئ، چي پردي اولسونه د هندوستان له خاوري څخه وباسو او بې زواله شهرت تر لاسه کړو. که موږ (منځني او شمالي) هندوستان ته مخ واړو، نو د مرهټو بیرغ به له کرشنا څخه تر اباسین پوري، په ټولو سیمو کي ورپېږي. راځئ چي دغه وچه ونه (کورګاني پاچهي) له بېخه وکاږو، چي څانګې ئې په هره خوا کي پخپله وچي او توی سي".

راجا ورته وویل:

"دا ونه باید د همالیا د غره شا ته وغورځوي، ته د ریښتیني پلار ریښتینی زوی ئې".

د باجي راو تر مړيني وروسته ئې مشر زوی بالاجي باجي راو کښېناست، چې د (۱۷۶۱ ع.) کال د جون په مياشت کي ومړ. بسواس د ده زوی و، بل زوی ئې مادهو راو او بل زوی نراين راو و.

د باجي راو دوه زامن نور هم وو، چې يو رګهو ناتهـ[۱۲۱۵] نومېد او په رګهويا مشهور و او له انګرېزانو سره ئې څه تعلق هم درلود، بل ئې شمشېر بهادر و.

په سير المتاخرين کي کښلي دي:

د پاني پت تر سوبي پنځه مياشتي و ديرلس ورځي وروسته د بالاجي باجي راو خوله پټه سوله او د زوی و تربره سره په دوږخ کي يو ځای سو.

د دغي کورني تر ټولو وروستی پېشوا دوهم باجي راو و، چې د رګهو ناتهـ زوی کېدئ". مادهو راو (چي شيرخوره هلک و) په اکتوبر (۱۷۹۵ ع.) کال دفعتاً مړ سو او دی ئې جانشين سو.

د مادهو راو په وختو کي، دغه باجي راو او ورور ئې چمپاجي، د جونير په کلا کي (چي پونې ته نژدې واقع ده) بنديان وو.

جمپاجي د مادهو راو تر مرګ وروسته پټ په (۱۷۹۶ ع.) کال په پونا کي پېشوا سو، مګر وروسته معزوله کړه سو او مشر ورور ئې د (۱۷۹۶ ع.) کال د سپتمبر د مياشتي په ځلرمه، د پونې راجا سو.

دتا سيندهيا پټېل

سيندهيا په مرهټو کي يوه مشهوره کورنۍ وه، چې د "پونې" په شاوخوا کي اوسېدله. د دې کورنۍ يو ځوان چي "رانو جي سيندهيا" نومېد، د مرهټو د مشر پېشوا د سراوسو مشر و او د مادهوجي سيندهيا د کتاب په ۳۷ مخ کي کښلي دي، چي د پېشوا کفش بردار و. بالاجي ويشواناتهـ چي به راجا ته ورتئ، ده به ئې موچڼي ساتلې او چي راولاړ به سو، ده به ئې موچڼي ورته ايښوولې. د اتلسمي عيسوي پېړۍ په منځ، يعني د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د تخت نشيني د وختو په شاوخوا کي، د پېشوا په امر شمالي مالوې ته ولاړ او د مالوې پر يوه سيمه ئې قبضه

[۱۲۱۵] د رګهو ناتهـ په باب د قاموس المشاهير په ۲۶۶/۱ مخ کي کښلي دي، چي رګهو ناتهـ تر نراين را وروسته پېشوا سو. مګر وروسته، چي دا معلومه سوه، چي د نراين راو زوی پاته دئ، دی ئې له پېشوائي ويوست او ده سورت ته تېښته وکړه.

وکړله او "اوجین" ئې خپل دار الحکومه وټاکه[۱۲۱۶]. په دغو وختو کي د دغي کورنۍ یو بل ځوان، چي "ډټا" نومېد او سیندهیا کلمه ئې د کورنۍ نامه په حیث ورسره ویله کېدله، هم د مرهټو په پاچهي کي د نامه تښتن سو.

ډټا د مرهټو د مشهور جرنیل "جي آپا سیندهیا" کشر ورور و. د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال د محرمي په میاشت کي د بالاجي پېشوا له ورور، رګهوناتهه سره له دکنه ډهلي ته راغی او د امام الدین په قول، تر اټکه پوري ولاړ[۱۲۱۷]. مرهټي لښکر چي بیرته دکن ته ستنېدئ، دی د شمالي هندوستان د انتظام له پاره په ډهلي کي، د ناسیاله غازي الدین سره پاته سو او تقریباً یو کال د ډهلي او پنجاب په انتظام بوخت و. په (۱۱۷۲هـ.ق.) کال ئې خپلي لښکري تر جمنا پوري ایستلې او نجیب الدوله یوسفزی ئې په سکرتال نومې کلا کي، چي د ګنګا سیند پر ژۍ واقع ده، ثلور یا شپږ میاشتي کلابند کړ، روهیلکهنډئې ولوټه او د روهیلکهنډ پښتانه ئې مجبور کړل، چي غرو ته ځني وخېژي.

په دغو وختو کي یعني د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي په نونسمه ورځ (= ۱۰ ډسمبر ۱۷۵۹ع.) د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه، د شرقي پنجاب د روپړ سیمي خضر آباد نومي ځای ته راورسېدل. "ډټا" چي دا واورېدل، د سکرتال کلابندي ئې د روغي په پلمه پرېښووله او مخ پر ډهلي وخوځېد او د دوهمي خور د میاشتي په نه ویشتمه ورځ (= ۲۰ ډسمبر) پاني پت ته نژدې، پر رام ګهاټ ګدر باندي، تر جمنا سیند پوري ووت. درونډ بار اُو کډي ئې د ډهلي لور ته واستولې او پخپله ئې له ګنجپورې څخه د احمدشاهي سرلاړ پوځ د مخنیوي له پاره، چي د سردار جان خان بوپلزي په مشرتوب ور روان و، مرهټه پوځ وخوځاوه او د خپل سرلاړ پوځ مشر ئې بهویټې (Bhoite) وټاکه. د درېیمي خور د میاشتي په ثلرمه ورځ سرلاړ پوځونه. په تراوړي نومي ډاک کي سره مخامخ سول. "ډټا" هم ژر ځان ور ورساوه او جنګ ونښت. په لومړي برید کي د پښتنو سرلاړ لږ تر شا سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته چي دا خبر ور ورسېد، دستي ئې ثلور زره سپاره د شاه پسند خان ساګزي او اخلاص قلي هوتک (نور الله خان) په مشرتابه د دوی مرستي لره وګمارل.

د ډهلي د دربار مغل پوځونه چي د مرهټو په طرفداري د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د سرلاړ پوځ سره جنګېدل، د شاه پسند خان ساګزي په ور رسېدلو ئې خپه مړه سول او بې جنګه ئې له میدانه ځانونه وکښل. د شاه پسند خان پوځ پر مرهټو ورتوی سو. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د

(۱۲۱۶) صحیفه زرین، د اوجین صحبت. د قاموس المشاهیر په ۱۷۰/۲ مخ کي کښلي دي: د ګوالیار ریاست مرکز پخوا اوجین و. د مادهوجي راو په وختو کي د دې ریاست حدود پراخ سول، مالوه او د هندوستان ځیني نوري سیمي پکښې شاملي سوې.

(۱۲۱۷) وګ: حسین شاهي تاریخ

(اصلي نوم ئې مانا جي وو)

- **شمبهو جي**
  (د غازي الدين او صفدر جنګ په جنګو کي ورغی دهلي ته)
- **پټېل رانو جي سيندهيا**
  (په ۱۷۵۰ ع کال مړ)
  - **جي اپا سيندهيا**
    (په ناګپور کي وواژه سو)
    - **جنکو راو سيندهيا**
      (په پاني پت کي وواژه سو)
  - **تکو جي**
    (په پاني پت کي وواژه سو. ناجائزه زوی و)
    - **انند راو**
      - **دولت راو سيندهيا**
        (۱۷۹۴-۱۸۲۷ع)
        (د مادهوجي سيندهيا پټېل متبنی و)
        - **جنکو راو** (۱۸۲۷-۱۸۴۳ع.)
          (مکټ راو ئې اصلي نوم و. د دولت رای متبنی و)
          - **جاجي راو**
            (۱۸۴۳-۱۸۸۶
  - **دتا سيندهيا پټېل**
    (په براري کي وواژه سو)
  - **جوتي با**
    (ناجائزه زوی و)
  - **مادهوجي سيندهيا پټېل**
    (تر ټولو کشر و. تر جنکو جي وروسته په ۱۷۵۹ع کال د رياست حکمران سو. په ۱۷۹۴ع کال د جنوري د مياشتي په ۱۲ مړ سو. زوی ئې نه سو پاته او متبنّٰی ئې "دولت راو" د ده پر ځای کېنېناست. دولت رای د رانو جي ناجائزه زوی و، دی په ۱۷۳۰ع کال پيدا سوی و)

> د مادهوجي سيندهيا د کتاب په ۲۵ مخ کي کښلي دي:
>
> تر رانو جي سيندهيا (۱۷۵۰ع مړ) وروسته، د ده لمسی جنکو راو د ده پر ځای کښېنوست.

سپرو غازیانو یوه بله فرقه هم وګمارله، چي د سرلاړ په مرسته ولاړ سي. پښتنو له دروخواوو څخه مرهټه راګیر کړل. په دغه لومړی حمله کي د مرهټو شلورسوه تنه ووژل سول او "بهویټي" سرلاړ مشر ماتې وکړه. دتا سیندهیا خپل پوځونه رامخ ته کړل، مګر د ماښام تیارې دواړه پوځونه سره بېل کړل. د شپې دتا خپل پوځونه، د ډهلي خوا ته تر شا کړل او لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه د روهیلکهند دوآبې لور ته خپل پوځونه، تر جمنا پوري ایستل. دتا د جمنا پر غربي غاړه باندي خپل پوځونه ګنجپورې ته، چي له ډهلي څخه شمالي لورته ۵۳ میله لیري واقع ده، ورسول او د درېیمي خور د میاشتي په اوومه ورځ مخ پر ډهلي ولېږدېد او د کرنال او پاني پت له لاري ئې د درېیمي خور د میاشتي په نهمه ورځ، سوني پت ته چي له ډهلي څخه ۲۰ کروهه لیري واقع دئ، ځان ورساوه او خبر سو، چي لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه د ډهلي شپږ میلی ته ځان رسولی دئ او په لوني (Loni) کي ئې، چي د جمنا پر ختیزه غاړه باندي د ډهلي شمال شرقي لورته واقعه ده، اړولي دي. ده په ډېر تلوار د درېیمي خور دمیاشتي په پنځلسمه ورځ خپل پوځونه د براري ګدر ته، چي د لوني پر برابري باندي، د جمنا سیند غربي لور ته واقع و، ورسول. مورچې ئې جوړي کړې او د ګدر شاوخوا ته ئې پوځونه واچول، چي د پښتنو د پوري وتلو مخه ونیسي. دتا سیندهیا درېیمه ورځ بیپلا ډهلي ته ولاړ، د مرهټو امیرانو کډې او کوچنیان، چي ئې ریواړي (Rewari) نومي ځای ته ولېږل، دی بیرته خپلي چاونی ته راستون سو.

د درېیمي خور د میاشتي په شلمه ورځ (= ۹ جنوري ۱۷۶۰ع) سهار وختي د نجیب الدوله لښکرو تر جمنا په پوري وتلو پیل وکړ[۱۲۱۸] او "سابا" مرهټه، چي د ګدر ساتندی و، د احمدشاهي پوځ د باړ (Fire) په اثر تر شا سو. ډېر مړي او ټپیان ئې پر میدان پرېښوول. دتا سیندهیا چي د خپل سرلاړ پوځ ماته ولیدله، خپل پوځ ئې راتر مخ کړ، د باولي یا باوني یا براري په ډاګ کي سخت جنګ ونښت.

په دې حمله کي یوه ګولی د "دتا" پر سترګه ونښتله، څو لاآسه مځکي ته رسېدئ، بیا مړ و. د "دتا" ککرۍ قطب خان پښتانه پرې کړله او نجیب الدوله ته ئې وروړله، چي نجیب الدوله بیا د لوی احمد شاه بابا رحمه الله علیه حضور ته واستوله[۱۲۱۹].

حسان الهند غلام علي آزاد د دغي سوبې تاریخ داسي ویلی دئ:

کرد سلطان عصر، درانی	قتل دتا به تیغ دشمن کاه
گفت تاریخ این ظفر آزاد	نصرت پادشاه عالی جاه

[۱۲۱۸] تاریخ احمدشاهي، ۸۴۹/۲ مخ.

[۱۲۱۹] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۳۰-۲۳۱ مخونه. دولت درانیه، ۲۸ مخ.

مادهو جي (مهاداجي) سيندهيا[1220]

(د ګواليار د راجاګانو نيکه)

مادهو راو چې په پارسي تاريخو کې ئې نوم مادهوجي يا مهاجي ضبط دئ. د رانوجي سيندهيا زوی و. په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال د خپل ورور جي آپا پر ځای کښېنوست او پخپل زيار ئې د مالوې ډېره برخه ونيوله.

په (۱۷۷۱ع.) (= ۱۱۸۵هـ. ق.) کال ئې د شمالي هندوستان لورته مخه وکړله او په (۱۱۹۹ هـ.ق.) (= ۱۷۸۴ع.) کال ئې د ډهلي مغل پاچا دوهم شاه عالم د لاس چوغکه سوه. د پونې پېشوا د تبرک له پاره د هندوستان د پاچهۍ وکيل مطلق سو او ده ئې په شمالي هندوستان کې د نائب په توګه کار کاوه.

د پاني پت تر واقعې وروسته، د رانوجي سيندهيا پر مېنه يوائې مادهوجي سيندهيا پاته سو..[1221]

په (۱۱۸۴ هـ.ق.) کال چې د نجيب الدوله تر مرګ وروسته، د مرهټو يو لکو سپرو پر ډهلي بريد وکړ، مادهوجي سيندهيا ورسره و او لس زره (۱۰۰۰۰) سپاره ئې تر قوماندې لاندې وو.

د پاني پت له ميدانه څخه د مادهوجي سيندهيا د تېښتي او ګوډېدلو قصه، مسټر ايچ. جي. کېن د مهادوجي سيندهيا د کتاب په ۳۸ مخ کې داسې دلچسپه کښلې ده:

مادهوجي سيندهيا چې د پاني پت د غازيانو له تعاقبه خلاص سو، زخمي بېهوښه پروت و. يو سقاو چې رانا خان نومېد، پر پېښ سو. دی ئې پر خپل غوايي واچاوه او يو د خوندي ځای ته ئې ورساوه، ځکه نو مادهوجي د ژوند تر پايه دغه رانا خان ورور باله او سپهسالاري ته ئې ورساوه.

د سلطان التواريخ په ۲۸۰ مخ کې کښلي دي:

په (۱۲۰۲ هـ.ق.) کال چې مارکويس کرنوالس نوی ګورنر جنرال تر جهانګير نګر پورې، چې له ډهلي څخه څو ميله د شرق خواته واقع دئ، د انګرېزي عسکرو د ليدلو له پاره ولاړ، په دغو ورځو کې مهاجي سيندهيا د جي نګر د راجا له لاسه شکست خوړلی و. دې خوا هغې خواته ګرزېد او د ده تر اداري لاندې سيمه، څه غلام قادر خان روهيله او څه اسمعيل بيګ خان (د محمد بيګ خان همداني وراره) نيولې وه.

[1220] مهاداجي سيندهيا د ډيا سيندهيا پټېل کشر ورور و.

[1221] وګ: مادهوجي سيندهيا، ۳۸ مخ.

مادهوجي سيندهيا اګرې ته نژدې يوه کلا د مادهو ګړ په نامه آباده کړې وه، چې تر (۱۸۳۰ع.) کال پورې ئې لاکنډوالې ولاړې وې.

د قاموس المشاهير په ۱۸۵/۱ مخ کې کښلي دي:

جي آپا سيندهيا د رانوجي سيندهيا زوی دئ. رانوجي سيندهيا د سيندهيا کورنۍ د واکمنۍ خښته ايښې ده. جي آپا جي سيندهيا په (۱۱۶۳هـ.ق.) (=۱۷۵۰ع.) کال مړ سو، پر ځای ئې ورور مادهوجي سيندهيا واکمن سو.

مادهوجي د (۱۷۹۴ع.) کال د فبرورۍ په دوولسمه (۱۲۰۸هـ.ق.) په پونا (پونه) کې مړ سو. مسټر ايچ. جي. کين په انګرېزي ژبه، د "مادهوجي سيندهيا پټېل" په نامه يو کتاب کښلی دئ. د دغه کتاب اردو ژباړه، چې عبدالسلام کړې ده، په حيدرآباد دکن کې چاپ سوې ده.

د "Wonderful India" په ۳۰۰ مخ کې کښلي دي:

اوس د ګواليار د راجواړې رقبه (۲۶۱۳۶۷) مربع ميله ده او نفوس ئې (۳۵۲۳۰۷۰) تنه دئ.

د سلطان التواريخ په ۳۲۵ مخ کې کښلي دي:

د (۱۲۱۷هـ.ق.) کال پای ته دولت راو سيندهيا[1222] د مهاجي پټېل سيندهيا لمسي د خپل نيکه له يوې ځوانې ماينې سره، چې د ده انا کېدله، واده وکړ. دې کار د ده پر ضد خلک وقهرول او د مهاجي سيندهيا پټېل د نورو مايېنو په لمسون، يو اړو دوړ پېښ سو.

د (۱۲۱۸هـ.ق.) کال د روژې په پنځلسمه ورځ دولت راو له انګرېزانو سره يو تړون لاسليک کړ او د هغه له مخې د اکبرآباد، شاه جهان آباد، علي ګړه او سهارنپور سيمې، د انګرېزانو په لاس کې سوې.

دولت راو د (۱۲۴۲هـ.ق.) کال د برات په مياشت په ګواليار کې ومړ او پر ځای ئې جنکو راو کښېنوست.

د قاموس المشاهير په ۲۴۲/۱ مخ کې کښلي دي:

دولت راو سيندهيا د مادهوجي سيندهيا وراره و، له انګرېزانو څخه ئې شکست وخوړ او په (۱۸۲۷ع.) کې مړ سو، جنکو راو ئې پر ځای کښېنوست.

په ۱۸۵/۱ مخ کې زياته سوې ده:

دولت راو سيندهيا چې مړ سو، پر ځای ئې جهنکو راو سيندهيا د (۱۸۳۷ع.) کال د جنورۍ په ۱۸ د ګواليار راجا سو، مګر ځکه چې جهنکو راو نهه کلن و، نو حکومت د دولت راو مايېنې باجي بائي کاوه.

د آئينه تاريخ نما په ۸۵/۲ مخ کې کښلي دي:

جنکوجي سيندهيا په (۱۸۴۳ع.) کال مړ سو. زوی ئې نه سو پاته، د ده مايېنه تارا بايي، چې ديرلس کلنه ښځه وه، يو اته کلن هلک متبنی کړ. دا هلک جياجي نومېدئ. جياجي د تارا بايي له

[1222] جنرال پيرو فرانسوی، د دولت راو له امراوو څخه و.

خواد ګواليار راجا کړه سو. د جهنکوجي ماما د راج کارونه کول.

اې. مارسډن د هندوستان د تاريخ په ۲۷۱/۲ مخ کي کښلي دي:

د پاني پت تر جنګ لس کاله وروسته، مرهټو بيرته هغه قوت وموند، چي د پاني پت تر جنګ پخوائې درلود. د پيشواګانو پر ځاى ئې مشرتوب مهاداجي سيندهيا ته ورسېد او د مهاراجه لقب ئې ځان ته غوره کړ او د راجپوتانې له ټولو راجاګانو څخه ئې کلنګ اخيستى. دوهم شاه عالم مغل ئې له آله آباده څخه ډهلي ته ور وغوښت او د ډهلي پر تخت ئې (د نامه له پاره) کښېناوه.

مهاداجي سيندهيا چي د خپلي راجوارې مرکز ګواليار ته ولاړ، غلام قادر خان روهيله پر دوهم شاه عالم مغل را وغورځېد، ړوند ئې کړ. مهاداجي سيندهيا چي په خبر سو، ډهلي ته ئې لښکري راوکوچولې او د ډهلي په شاوخوا کي ئې غلام قادر خان روهيله ونيوئ او وئې واژه.

جنکو راو سيندهيا

(د ډټا سيندهيا پټېل وراره)

سيندهيا (Shindhia, Shinde, Scindia) په مرهټه کي يوه مشهوره کورنۍ ده، چي د پونې په شاوخوا کي مېشته وه[۱۲۲۳].

جنکو دغي کورنۍ ته منسوب دئ، پلار ئې "جي آپا سيندهيا" نومېد[۱۲۲۴]. اکا ئې د مرهټو مشهور سردار "ډټا سيند هيا" و[۱۲۲۵]، چي په ډټا پټېل مشهور و. جي آپا په (۱۱۶۴ هـ.ق.) کال د ناسياله صفدر جنګ په بلنه او مرسته، د روهيلکهنډ پښتانه ښه وځپل او روهيلکهنډ ئې پر مخ ولوټه، ناسياله صفدر جنګ د دغه خدمت په صله کي "جي آپا" او "هولکر" ته کول (علي ګړه)، جليسر، کوړه جهان آباد او قنوج د جاګير په توګه ورکړل او تر څو چي د پاني پت مشهوري غزا د مرهټو کمبله ټولوله، دا سيمي د مرهټو په لاس کښي وې.

"جي آپا" چي ومړ، منصب ئې زوى جنکو راو ته پاته سو. جنکو راو مرهټه يو تکړه ځلمى جرنيل و. په (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال، چي د بالاجي سکه ورور رګهو ناتهـ پر پنجاب لښکر ور وبهاوه او شهزاده تيمور سدوزى او سردار جانخان ئې پسي واخيستل، دى د يوه افسر په حيث

[۱۲۲۳] صحيفۀ زرين (د ملک متوسط بحث).

[۱۲۲۴] شاه عالم نامه، ۱۲۱ مخ.

[۱۲۲۵] ماثر الامراء ۳۵۶/۲ مخ.

په مرهټه پوځ کي شامل و. رګهوناتهـ جنکو راو ته د اباسین د غاړي ساتنه ور وسپارله او رګهو ناتهـ خپلي درنې لښکري ډهلي ته ځني راستنې کړې. جنکو راو هم ژر پسي راغی[۱۲۲۶] او د دکن لور ته ولاړ.

د (۱۱۷۲ هـ.ق.) کال د دوهمي خور د میاشتي پای ته، چي رګوناتهـ او ملهار راو هولکر له ډهلي څخه مرهټه لښکر د کن ته وخوځاوه او جنکو ئې د اجمیر نیولو ته وګماره، په دغه وخت کي جنکو راو له یوه ټکړه پوځه سره، د مارواړ، اجمیر او جي پور له لاري، ډهلي ته ځان را ورساوه. د ډهلي د دربار ناسیاله وزیر غازی الدین ورته وویل، چي که ته په لاهور کي امن قایم کړې، زه به اووه اته لکه روپۍ در کړم. جنکو راو په براري Barari نومي ځای کي یوه میاشت واړول. د ده او غازی الدین وزیر تر منځ د څلرمي خور د میاشتي پر دوهمه (= ۳۱ جنوري ۱۷۵۸ ع.) یو تړون لاسلیک سو او سبا ئې جنکو راو خپلي لښکري د لاهور لور ته وخوځولې او د سُتلج پر شمالي غاړه ئې په "ماچهیواړه" نومي ځای کي واړول. درې میاشتي وروسته، چي ئې اکا (ډتا سیندهیا) د نجیب الدوله پر سیمه برید وکړ، دی ورسره مل سو او څلوریا شپږ میاشتي ئې نجیب الدوله په سکرتال کي کلابند کړ. تر کلابندۍ وروسته، چي ډتا سیندهیا د (۱۱۷۳ هـ.ق.) د دوهمي خور د میاشتي په منځ کي، د ډهلي لور ته ستون سو، دی هم ورسره ولاړ. په ګنجپوره کي "ډتا" د مرهټو بښځي، کوچنیان او دروند بار د ده او ګوبند پنډت په وسیله ډهلي ته ولېږي. جنکو راو تر دې کار وروسته د براري Barari جنګ ته ځان ورساوه او د "ډتا سیندهیا" مل سو. د (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال د څلرمي خور د میاشتي په شلمه ورځ (= ۹ جنوري ۱۷۶۰ ع.) چي د براري په جنګ کي "ډتا سیندهیا" وواژه سو، دی هم ټپي سو او په تېښته نارنول ته ولاړ. هلته چي د ملهار راو هولکر پوځونه را ورسېدل، دی ئې مل سو او د سدا شیو راو بهاو د لښکرو سره پاني پت ته ولاړ.

د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د څلرمي خور د میاشتي په شپږمه ورځ (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ ع.)، چي د پاني پت مشهور جنګ پېښ سو، دی د مرهټو د لښکر په ښي غوړي کي ولاړ و او دوه زره سپاره ئې تر فرمان لاندي وو[۱۲۲۷]. مرهټو چي ماته وکړه، جنکو (چي دوه ځایه ټپي سوی و) یوه پښتانه افسر، برخوردار خان اڅکزي ته پناه ور وړه یا بندي سو او هغه هم د یوه ملتجي یا بندي په حیث وساته. مګر دا خبره پټه پاته نه سوه، کله چي "جنکو" د هغه افسر له پناه څخه را ایستل کېدئ و واژه سو[۱۲۲۸].

[۱۲۲۶] د "Ahmad Shah Durrani" ۳۱۸ مخ.

[۱۲۲۷] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۷ مخ.

[۱۲۲۸] وګ: تاریخ هندوستان ۹/۳۰۹ مخ او عمادالسعادت ۲۰۰-۲۰۱ مخونه.

صوبه‌دار ملهار راو هولکر[۱۲۲۹]

(د اندور د راجاګانو نیکه)

ملهار راو هولکر د یوه شپانه زوی و او ده پخپله هم په کوچنیوالي کي شپني کوله[۱۲۳۰]. د ده زوکړه د صحیفه زرین مولف په (۱۱۰۵هـ.ق.) (=۱۶۹۳ع.) کال بللې او دا ئې هم زیاته کړېده، چي ملهار راو هولکر د دکن په سیمه کي په "هول" نومي ځای کي زوکړی دئ. چي ځلمی سو د دکن د مرهټو په پوځ کي ئې نوکري وموندله. څو کاله وروسته د پنځو سوو سپرو مشر سو. بیا ئې د مرهټو له‌خوا د اندور په‌شاوخوا کي څو کلي د جاګیر په‌توګه وموندل[۱۲۳۱] او ورو ورو د لوی قوت څښتن سو، تر دې چي د باجي راو په هغو درو تنو افسرانو کي وشمېرل سو، چي په ټولو مرهټو کي تر دوی لوړ څوک نه‌وو.

په (۱۱۴۵هـ.ق.) (= ۱۷۳۲ع) کال چي د مرهټو یوه پوځ د ده په مشرتوب د مالوې پښتون حاکم (محمد خان بنګښ) روغي ته اړ یوست، د مرهټي حکومت له خوا ونمانځه سو او په مالوه کي ډېري سیمي، د لښکرو د مصارفو له‌پاره، د جاګیر په‌نامه ورکړلي سوې.

په (۱۱۴۷هـ.ق.) کال چي د ډهلي وزیر اعظم او سپهسالار (امیر الامراء) دواړه د بېلو بېلو پوځو سره د مرهټو جنګ ته راووتل، ملهار راو هولکر د هغه مرهټي پوځ مشر و، چي د امیر الامراء صمصام الدوله په مقابل کي جنګېد. تر روغي وروسته په (۱۱۴۸هـ.ق.) (= ۱۷۳۵ع.) کال د ټولو هغو مرهټي لښکرو مشر وټاکه سو، چي د نربدا د سین شمالي خوا ته پراته‌وو.

ملهار راو هولکر په (۱۱۶۴-۱۱۶۵هـ.ق.) کال د "جي اپا سیندهیا" په ملګري د ډهلي د دربار د ناسیاله وزیر صفدر جنګ په بلنه، پر انتربید (روهیلکهنډ-فرخ آباد) مرهټه پوځونه ور وبهول او هغه سیمي ئې د پښتنو په وینو ښه ورنګولې. په دې جنګو کي د ملهار راو هولکر زوی، کهانډې راو هم ورسره و. بیا ئې په (۱۱۶۶هـ.ق.) کال د ډهلي د دربار (امیر الامراء ناسیاله غازي الدین) په بلنه، د ناسیاله وزیر صفدر جنګ پر ضد ډهلي ته لښکر وخوځاوه او تر روغي وروسته ئې د ناسیاله غازي الدین په غوښتنه او ملګري، پر سورج مل جاټ برید وکړ. په دې جنګ کي د ده یو زوی (کهانډې راو) وواژه سو[۱۲۳۲].

[۱۲۲۹] د قاموس المشاهیر په ۲۳۲/۲ مخ کي د "هل کر" معنی ته "یوې کوونکی" (قلبه‌ران) لیکلی دئ.

[۱۲۳۰] آئینه‌تاریخ نما، ۱۰۷/۱ مخ، تاریخ هندوستان، ۲۳۱/۹.

[۱۲۳۱] صحیفه زرین، د ملک متوسط بحث.

[۱۲۳۲] تاریخ هندوستان، ۲۹۱/۹ مخ.

د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال په لومړيو ورځو کي ملهار راو هولکر د ناسياله غازي الدين په بلنه او ملګري خپل مرهټه پوځونه د بالاجي راو پېشوا د ورور (رګهو ناتهه) تر اداري لاندي، ډهلي ته ورسول او پنځه ويشت ورځي ئې د ډهلي نوی پښتون امير الامراء نجيب الدوله يوسفزی کلابند کړ. په دې کلابندي کي د نجيب الدوله او مرهټو تر منځ د ملهار راو هولکر په زيار سوله وسوه.

د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال په منځ کي چي د مرهټو پوځونه د رګهوناتهه په مشرتابه، پنجاب ته وخوځېدل، ملهار راو هولکر هم ورسره مل و او د پنجاب تر نيولو وروسته، بېرته مالوې ته ستون سو.

د ناسياله آدينه بيګ تر مړيني وروسته، چي په (۱۱۷۲هـ.ق.) کال رګهوناتهه ډهلي ته پوځونه راوخوځول، دی هم له خپل پوځه سره د ده مل و. د پنجاب تر انتظام وروسته بېرته مالوې ته ستون سو.

د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په شلمه ورځ (= ۹ جنوري ۱۷۶۰ع.) چي د براړي په جنګ کي "ډتا سيندهيا پټېل" وواژه سو، او "جنکو" په تېښته ځان خلاص کړ، ملهار راو له مالوې څخه خپل پوځونه، د مرهټو په مرسته راوخوځول او په "نارنول" کي د جنکو راو مل سو.

د (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د رجب په مياشت کي ئې په سکندر آباد کي، چي له ډهلي څخه شرقي لور ته شل کروهه ليري واقع دئ[۱۲۳۳]، د پښتنو له پوځه داسي ماتې وکړه، چي له ټول پوځ څخه ئې فقط درې سوه تنه د اسانو پر لڅو شاوو باندي، په تېښته خلاص سول[۱۲۳۴].

ډاکټر ګنډا سنګهه ليکي، چي ملهار راو هولکر په دغه تېښته کي دو مره ګړندی و، چي اتيا ميله لار ئې په يوه شبانه روز کي ووهله او ځان ئې د اګرې شاوخوا ته ورساوه[۱۲۳۵].

نور الدين حسين خان په دې جنګ کي د ملهار راو هولکر خلاصون د نجيب الدوله د وفا مرهون بولي، ځکه چي ملهار راو د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال په جنګو کي د نجيب الدوله او مرهټو تر منځ د سولي زيار ايستلی و. نجيب الدوله د هغې ښېګڼې په بدله کي د ملهار راو سره دغه ښه وکړل.

د هندوستان کي حالت په ۲۶۷ مخ کي کښلي دي:

مرهټه چي وډې سول، ملهار راو هولکر يوه روغ ناڅاپه له پنځلسو زرو سپرو سره د پښتنو د پوځ پر يوه ګوښه بريد وکړ او تر څو چي کومک رارسېدئ، د غازيانو څخه دوه زره تنه شهيدان سول او د هولکر د پوځ هم زر تنه ومړل او راتر شا سو.

(۱۲۳۳) دا نوم د سراج التواريخ د لومړي ټوک په ۲۲ مخ کي مکندره او سکندره کښلی سوی دئ او د احوال نجيب الدوله په ۱۷ مخ کي هم سکندره ضبط ده.

(۱۲۳۴) سراج التواريخ ۱/۲۲ مخ.

(۱۲۳۵) د "Ahmad Shah Durrani" ۲۳۵ مخ.

د (۱۱۷۴ه.ق.) کال د ځلرمي خور د میاشتي په شپږمه ورځ (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ع) یعني د پاني پت په لوی او مشهور جنګ کي ۶۹ کلن منصبدار (ملهار راو هولکر) د درو زرو سپرو په مشرتوب، د مرهټه پوځ په ښي غوړي کي ولاړ و[1236].

د آئینه تاریخ نما مولف "بابو شیو پرشاد" وایي، چي ملهار راو هولکر په دغه ورځ د جنګ په شروع کي وتښتېد او ځان ئې روغ رمی ویوست[1237]. خپل جاګیر (مالوې) ته ولاړ او هلته ئې د "اندور" د راجوارۍ سیاسي اداره کوله[1238]، څو مرګ پر راهله کړه او په (۱۱۸۰ه.ق.) (= ۱۷۶۵ع) کال ئې خوله پټه سوه. د ده تر مرګ لږ وروسته ئې وراره تکوجي هولکر پر ځای کښېناست او تر (۱۲۱۲ه.ق.) کال پوري ئې، چي مړ کېدئ حکومت وکړ. د اندور د راجاګانو کورنۍ د ده له پرګي ده.

د ملهار راو هولکر په باب سر جان مالکم لیکلي دي:

ملهار راو چي مړ کېدئ، د ۷۶ کالو و. څلوېښت کاله دی پوځي منصبدار و.

د تاریخ ظفره په ۱۲۵ مخ کي لیکلي دي:

د نظام الملک آصف جاه زوی غازي الدین خان بهادر فیروزجنګ چي په (۱۱۶۵ه.ق.) کال دکن ته ولاړ، ملهار راو هولکر ورسره و. دېرش زره تنه د ملهار راو هولکر په لښکر کي وو.

زین سنګه زخمي لکهنوي د سلطان التواریخ په ۱۹۰ مخ کي کښلي دي:

شجاع الدوله چي د (۱۱۷۹ه.ق.) کال په شروع کي، د بکسر په میدان کي له انګرېزانو څخه ماتې وکړله او لومړی روهیلکهنډ بیا فرخ آباد ته ولاړ، هلته ئې د ناسیاله وزیر غازي الدین عماد الملک په سلا له ملهار راو هولکر څخه د انګرېزانو پر ضد مرسته وغوښتله. ملهار راو له پنځه څلوېښتو زرو تنو سره په دې شرط د شجاع الدوله مرستي ته ورغی، چي د کوچ په هره ورځ به څلوېښت زره او د دمي په ورځ به شل زره روپۍ ملهار راو هولکر ته ورکوي. په کوړه جهان آباد کي د شجاع الدوله او انګرېزانو تر منځ جنګ ونښت. د ملهار راو چي د انګرېزي توپو غړمبهار تر غوږ سو، د همت پښه ئې وښوئېدله د منافق طبیعت په حکم ئې د شجاع الدوله ملګري پرېښووله او له خپلو لښکرو سره ئې د دکن لور ته مخه وکړه.

د عماد السعادت په ۹۷ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۷۰ه.ق.) کال چي شجاع الدوله په کوړه جهان آباد کي له انګرېزانو سره جنګېدئ، ملهار راو هولکر ئې هم خپل د پوځو سره په مرسته ولاړ و. د انګرېزانو له پوځو څخه مرهټو ماته

[1236] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۷ مخ.

[1237] مګر د لوی احمد شاه بابا رحمه الله په هغه خط کي چي د ترکیې سلطان دریم مصطفی عثماني ته ئې استولی دئ، کښلي دي چي د پاني پت په لوی جنګ کي ملهار دوه ځایه په توره ټپي سو او په تېښته ئې د جنګ له میدانه سر ویوست.

(نامهٔ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثماني، ۷۵ مخ)

[1238] آئینه تاریخ نما، ۲۱۹/۱ مخ او تاریخ هندوستان، ۳۰۹/۹ مخ.

وکړه، مګر ملهار راو هولکر له میدانه نه تئ، عماد الملک او شجاع الدوله ورته راغلل او د جنګ له میدانه ئې ویوست. په دې جنګ کې د عماد الملک هر څه وسله او بار و بنه چې ورپاته وو، د انګرېزانو په لاس کښېوتله.

د الزبیر په ۴۶۴ مخ کې لیکلي دي:

"وقایع هولکر" د هغه کتاب نوم دئ، چې د ملهار راو هولکر د ژوندانه له حالاتو راپیل کېږي د مهاراجه جسونت راو هولکر تر تفصیلي حالاتو پوري. جسونت راو هولکر د ملهار راو هولکر وراره و. د "وقایع هولکر" مولف "موهن سنګهـ" دئ. په (۱۲۲۳هـ.ق.) (= ۱۸۰۸ع.) کال ئې دا کتاب په پارسي ژبه لیکلی دئ. ۱۷۲ پاڼي لري. پیل ئې داسي سوی دئ:
"خداوندا ! ادای مراتب ثنایی که انبیا و اولیاء ....".

د دې کتاب یوه خطي نسخه د مولوي ظفر حسن خان په کتب خانه کي خوندي ده.

د قاموس المشاهیر په ۱۱۶/۱ مخ کي کښلي دي:


د ملهار راو هولکر زوی کهانډي راو په (۱۱۶۸هـ.ق.) (= ۱۷۵۴ع.) کال په ډیګ کي د سورج مل جاټ له لاسه وواژه سو او مایینه ئې "اهلیا بایي" کونډه سوه. ملهار راو هولکر چې مړ سو، په (۱۷۶۶ع) (= ۱۱۸۰هـ.ق.) کال ئې لمسی (د اهلیا بایي زوی) "مالي راو" پر ځای کښېناست. مالي راو چي نه میاشتي حکومت وکړ، مړ سو. د مالي راو تر مرګ وروسته، د اهلیابایي په سلا په (۱۷۶۸ع) کال تکوجي هولکر (د ملهار راو هولکر وراره) راجا سو او د (۱۷۹۵ع.) کال د اګست پر پنځلسمه (= ۲۹ صفر ۱۲۱۰ هـ.ق.) تر ۲۷ کالو حکومت وروسته مړ سو[۱۲۳۹]. تر ده وروسته ئې مشر زوی، کاشي راو پر ځای کښېناست، مګر دولت رای سینډهیا اندور ځني ونیو. په (۱۸۰۲ع.) (= ۱۲۱۶ هـ.ق.) کال جسونت راو هولکر د اندور حکمران سو. په (۱۸۰۳ع) کال ئې پر دوآبې (د جمنا او ګنګا تر منځ سیمه) باندي برید وکړ، مګر د انګرېزانو له پوځه ئې شکست وخوړ او خپل ملک (اندور) ئې هم له لاسه ورکړ. په ... کال ئې له انګرېزانو سره روغه وکړه او بیرته د اندور واکمن سو او په (۱۸۰۶ع.) کال لېونی سو. د (۱۸۱۱ع.) کال په اکتوبر کي ومړ. تر ده وروسته ئې زوی (درېیم ملهار راو) پر ځای کښېناست. د قاموس المشاهیر په ۱۴۸/۲ مخ کي کښلي دي، چي په (۱۷۹۷ع) کال د کاشي راو او ملهار راو تر منځ جنګ پېښ سو. دولت راو سینډهیا د کاشي راو پر خوا سو او حکومت ئې ورونیو، مګر اختیارات ټول د سینډهیا په لاس کي وو. د کاشي راو ورور بیا هم دا جنګونه پسي اوږده کړل، خو په وژله ئې ختم سول.

د قاموس المشاهیر په ۲۳۲/۲ مخ کي کښلي دي، چي د تکوجي هولکر څلور زامن پاته سول؛ کاشي راو، ملهار راو، جسونت راو هولکر او اټیوجي.

اندور د ملهار راو هولکر تر مرګ وروسته اهلیا بایي د خپل مرکز په حیث وټاکه. د تاریخ هندوستان په ۳ برخه کي هاشمي فرید آبادي کښلي دي، چي د ملهار راو هولکر تر مرګ وروسته

[۱۲۳۹] قاموس المشاهیر، ۱۵۹/۱ مخ.

اهلیا بایي ۳۰ کاله حکومت وکړ او اندور چي یو کلی و، د دې په توجه سره لوی ښار سو او تر اوسه پوري د اندور د راجاګانو مرکز دئ.



شمشیر بهادر

د مرهټو د پېشوا (نانا) دوهم بالاجي راو میرېزی ورور و. پلارئي (باجي راو)، چي د خپل پلار (بالاجي) تر مرګ وروسته، د (۱۷۲۰ ع.) کال د اپریل په میاشت (۱۱۳۲ ه.ق.) کي د مرهټو د سیاسي مشر (لومړي ساهو) پېشوا سو، د مرهټو لښکري ئې تر نربدا سیند وسطي هندوستان ته ورپوري ایستلې.

په (۱۱۴۴ ه.ق.) (= ۱۷۳۱ ع.) کال ئې د بندهیلکهنډ د راجا چترسال په طرفداري، پر نواب محمدخان بنګښ برید وکړ او چترسال ئې د محمدخان بنګښ له چمبې وژغوره، د دې خدمت په صله کي چترسال نوموړي باجي راو ته د خپل دربار یوه ښکلې مسلمانه رقاصه، چي "مستانه" نومېدله ورکړله او سربېره پر دې ئې په بندهیلکهنډ کي یو څه سیمه، د جاګیر په توګه هم ور وبخښله. د باجي راو له دغي لولۍ څخه په (۱۱۴۷ ه.ق.) (= ۱۷۳۴ ع.) یو زوی وسو، چي هغه

[1240] د ګنجپورې د تاریخ (تاریخ ګنجپوره) د ۲۴ مخ په حاشیه کي د "T. W. Beale" د کتاب په حواله د ملهار راو مرګ په (۱۷۶۸ ع.) کال ښوول سوی دئ. د دغه کال سل ورځي له (۱۱۸۱ ه. ق.) او نوري له (۱۱۸۲ ه. ق.) کال سره برابري دي؟.

دغه شمشير بهادر دئ(۱۲۴۱). پلار ئې په (۱۱۵۳ هـ.ق.) (= ۱۷۴۰ ع.) مړ سو، ځکه نو د شمشير بهادر روزنه د مور له امله پر اسلامي اصولو وسوه او امام الدين په تاريخ حسين شاهي کي ليکلي دي، چي مسلمان و. دی د مور له خوا مسلمان او د پلار له خوا هندو مرهټه و، د پلار هغه جاګير، چي په بندهيلکهنډ او باندہ کي و، په ميراث ور ورسېد. د دې جاګير عائدات د کاله دېرش لکه روپۍ وې(۱۲۴۲).

د (۱۱۷۱ هـ.ق.) په شروع کي، چي د مرهټو پوځونو د ناسياله وزير غازي الدين په بلنه، پر ډهلي بريد وکړ او نجيب الدوله ئې کلا بند کړ. په دغه لښکر کيځ هم شمشير بهادر د مرهټو مهاجمينو مل و(۱۲۴۳).

په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال چي د مرهټو يو لوی پوځ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د مقابلې له پاره د "سدا شيو راو بهاو" تر مشرتابه لاندي، له دکنه را روان سو، دی هم د يوه لوی افسر په حيث ورسره و، د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په شپږمه، چي د پاني پت په ډاګ کي مرهټه او پښتانه پوځونه سره مخامخ سول، دغه اووه ويشت کلن ځلمی د مرهټه لښکر په ښي غوړي کي ولاړ و او يو زرو پنځه سوه سپاره ئې امر ته منتظر وو(۱۲۴۴).

د احمد شاهي شهنامې ناظم په ۱۱۱ مخ کي وايي، چي دی د پاني پت په جنګ کي مړ سو او د سلطان التواريخ مولف زين سنګهه لکهنوي هم د ده د خبري ملاتړ کړی دئ او کښلي ئې دي: د شمشير بهادر مړی د شجاع الدوله نوکرانو ډهلي ته ورساوه او هلته ئې ښخ کړ(۱۲۴۵).

مګر د آجکل په مجله کي ليکلي دي، چي شمشير بهادر د پاني پت په جنګ کي داسي ټپي سو، چي له هغه ټپه ځخه ومړ او د خزانهٔ عامره په ۱۰۹ مخ کي بيا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه معاصر مؤلف آزاد بلګرامي وايي، چي شمشير بهادر د پاني پت له جنګه وتښتېد، دکن ته لا نه ورسېدلی، چي خوله ئې پټه سوه. د عماد السعادت د ضميمې په ۲۰۴ مخ او د قاموس المشاهير په (۲۴ مخ) کي ليکلي دي، چي شمشير بهادر د پاني پت په جنګ کي د زنبورک په ګولۍ ټپي سو، په تېښته "ډيګ" ته ولاړ او سورج مل جاټ ته ئې پناه ور وړه. سورج مل جاټ ئې د علاج زيار ويوست، مګر فايده ئې ونه کړه ژر ومړ او په ډيګ کي ښخ کړه سو. علي بهادر زوی ئې هديرې ته نژدې مسجد ودان کړ. د شمشير بهادر تر مرګ وروسته ئې زوی علي بهادر له بندهيلکهنډ باندې "جاګير دار سو" د باندې د نوابانو مسلمانه کورنۍ، د دغه علي بهادر له پرګي (نسل) ځخه ده.

په (۱۸۰۲ ع.) چي علي بهادر مړ سو، پر ځای ئې زوی کښېنوست او د دوهم شمشير بهادر په نامه مشهور سو...

(۱۲۴۱) خزانه عامره، ۱۰۹ مخ، آجکل مجله د (۱۹۵۸ ع.) کال د فبروری ګڼه، ۳۳ مخ او سلطان التواريخ، ۱۶۲ مخ.

(۱۲۴۲) آجکل مجله د (۱۹۵۸ ع.) کال د فبروری ګڼه ۳۴ مخ.

(۱۲۴۳) احوال نجيب الدوله، ۷ مخ.

(۱۲۴۴) د "Ahmad Shah Durani" ۲۵۷ مخ.

(۱۲۴۵) سلطان التواريخ، ۱۶۹ مخ.

په نامه مشهور سو. انګرېزانو ئې نوابي ځني واخیستله او د کاله څلور لکه روپۍ ئې تنخواه ور وټاکله. په (۲۴ ذی القعده ۱۲۳۸هـ. ق.) (=۳۰ اګسټ ۱۸۲۴ع.) کال مړ سو او پر ځای ئې ورور ذوالفقار علي کښېناست[۱۲۴۶].

باجي راو
(۱۱۵۴هـ.ق. مړ)

دوهم بالاجي پېشوا

شمشیر بهادر
(۱۱۷۴هـ.ق. مړ)

علي بهادر
(۲۸ اګسټ ۱۸۰۲ع. مړ)

دوهم شمشیر بهادر
(۲۴ ذی الحجه ۱۲۳۸هـ. ق. مړ)
(زوی ئې پاته نه سو)

ذوالفقار بهادر
(۱۲۴۹هـ.ق. مړ) (=۱۸۵۰ع.[۱۲۴۷])

(دوهم) علي بهادر
(نواب تخلص و جلوس سنه ۱۲۶۵هـ. ق.)
(۴ اګسټ ۱۸۷۳ع. په بنارس کي مړ)

(دوهم) ذوالفقار بهادر

(درېیم) شمشیر بهادر

سردار بهادر

[۱۲۴۶] قاموس المشاهیر ۲/۲۵.
[۱۲۴۷] وګ: غدر کي چند علما، ۶۷ مخ.

سدا شیو راو بهاو

(مرهټه سپهسالار)

سدا شیو راو بهادر د مرهټو د پیشوا دوهم بالاجي (۱۱۶۲-۱۱۷۴ه.ق.) د اکا زوی و[۱۲۴۸]. پلار ئې جمنا جي يا چمنا جي آپا "Chamnaji Appa" نومېد، چي د خپل ورور باجي راو په پیشوایي کي د مرهټو يو تکړه جرنيل و. جمنا جي آپا په (۱۱۵۵ه.ق.) کال مړ سو. سدا شيو راو په دغه وخت کي لس کلن و[۱۲۴۹]. بهادر سدا شيو راو، چي په "بهاوا" مشهور و[۱۲۵۰]، اووه کاله د خپل اکا باجي راو تر روزني لاندي و. په (۱۱۶۲ه.ق.) کال چي ئې اکا ومړ او پر ځای ئې زوی دوهم بالا جي کښېنوست، ده د هغه حکم ته غاړه نه ايښووله، د دغو دوو تربرو تر منځ ډېر جنګونه وسول، مګر ټول د بالاجي په ګټه تمامېدل[۱۲۵۱]. پای ته رو غه وسوه او سدا شيو راو په (۱۱۷۱ه.ق.) کال د يوه تکړه جرنيل په حيث د مرهټو پوځونه د آصف جاه د زامنو جنګ ته، چي په دکن کي ئې يوه لويه سيمه په لاس کي وه، وخوځول. ډېر جنګونه ئې ورسره وکړل، احمدنګر ئې ځني ونيو او د اودهه ګر په جنګ کي ئې کلکه ماته ورکړه. پای ته ئې د آصف جاه زامن د (۱۱۷۳ه.ق.) کال په شروع کي دې ته اړ ايستل، چي له مرهټو سره د روغي تړون لاس ليک کړي. د دې تړون له مخي، چي د (۱۱۷۳ه.ق.) کال د ځلرمي خور د مياشتي په شپاړسمه ورځ لاس ليک سو، د آصف جاه زامنو د شپېتو لکو روپو جاګير مرهټو کفارو ته ور پرېښود. د هرسول، ستاره، بيجاپور، دولت آباد او آسير سيمي، د سدا شيو راو بهاو په توره، د مرهټو په لاس کښېوتلې او په دغو سيمو کي ئې د مسلمانانو قتل عام وکړ. د آصف جاه زامنو ته، چي په درست دکن کي د "براري" څه سيمه د "بيجاپور" څه سيمه او د "بيدر" لږ سيمه پاته سوله، په دغو کي هم د محصول او ماليې ځلرمه برخه مرهټو ته ورکړه کېدله[۱۲۵۲].

د مرهټو دغه فاتح ځلمي جرنيل، چي د "براري" په جنګ کي د "ډټا سيندهيا" وژله او د مرهټو ماته واورېدله، د ډټا د خون اخيستلو له پاره ئې د بالا جي پيشوا په امر، د مرهټو او دنيا

[۱۲۴۸] په سلطان التواريخ کي د بالاجي ورور بلل سوی دئ.

[۱۲۴۹] وګ: تاريخ هندوستان ۲۷۳/۹ مخ.

[۱۲۵۰] وګ: روهيله پښتانه، ۳۱۳ مخ.

[۱۲۵۱] وګ: تاريخ هندوستان ۳۷۵/۹ مخ.

[۱۲۵۲] خزانهٔ عامره، ٦٦ مخ، تاريخ هندوستان نهم ټوک.

پر سته مسلمانانو یو دروند پوځ، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مقابلې ته مخ پر ډهلي را وخوځاوه.

د سلطان التواریخ په (۱۶۲ مخ) کې کښلي دي:

د مرهټو پېشوا بالاجي راو، چې د ډټا پټېل په وژلو خبر سو، خپل تربور سدا شیو راو بهاو ئې ور وغوښت، د خپل مشر زوی بسواس راو لاس ئې د ده په لاس کې ورکړ او ورته وئې ویل:

"دغه وراره (شمالي) هندوستان ته درسره بوزه، د ډهلي پر تخت ئې کښېنوه او د مسلمانانو بوټی هرځای، چې مومې وې کاږه! د مسلمانی تخم د مځکې له مخه ورک کړه او هر ځای بیا د هندوانو د قدرت نغارې وږغوه!".

بهاو امر ومانه او له یو لکو نوي زرو سپرو او شلویښتو زرو پلو سره، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه جنګ ته، له دکنه را وخوځېد[۱۲۵۳].

د (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتې په نولسمه ورځ ئې ډهلی د یعقوب علي خان بامېزي څخه ونیو او د ډهلي پاچا دریم شاهجهان[۱۲۵۴] (۱۱۷۳-۱۱۷۴ هـ.ق.) ئې د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د صفري د میاشتې په نه ویشتمه ورځ د تش په نامه پاچهۍ څخه معزول کړ. د ده پر ځای ئې د محمد معز الدین عالمګیر ثاني (۱۱۶۷-۱۱۷۳ هـ.ق.) پر لمسي، میرزا جوان بخت باندې، چې د دوهم شا عالم زوی و، د پاچهۍ نوم کښېښوو.

سدا شیو راو بهاو په ډهلي کې سپین زر او سره زر پرې نه ښوول تر دې، چې د لال کلا او د خواجه نظام الدین اولیاء د هدیرې په ودانۍ کې کار سوي سپین زر ئې راونړول او اوولس لکه د سپینو زرو سکې ئې خپله ضرب کړې[۱۲۵۵]. نارو شنکر ئې د ډهلي حاکم وټاکه او د برښات د ټاپې تر تېرېدلو وروسته د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې په لومړۍ ورځ (= ۱۰ اکتوبر ۱۷۶۰ ع.) ئې خپل پوځونه د ګنجپوري لور ته، چې د ډهلي شمالي لور ته (۵۳) میله لیرې واقع دہ، وخوځول. د لومړۍ خور د میاشتې په اوومه ئې پوځونه ګنجپورې ته ورسول، عبدالصمد خان محمدزی اشنغری، قطب خان پښتون او نجابت خان غرغښتی ئې له ډېرو نورو پښتنو غازیانو سره شهیدان کړل. له دغه ځایه څخه سدا شیو راو بهاو د لومړۍ خور د میاشتې په لسمه ورځ مخ پر شمال وکوچېد. په کروکشیتر نومي ځای کې، چې د هندوانو په نزد تقدس لري، ولمبېدئ او بیرته مخ پر پاني پت روان سو. د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتې په شلمه (= ۲۹ اکتوبر ۱۷۶۰ ع.) ئې د پاني پت او کرنال تر منځ واړول او د پوځو پر شاوخوا ئې د توپو کلا را وګرزوله. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه هم دریمه ورځ پسې ور ورسېدل او

[۱۲۵۳] د هندوستان کی حالت په ۲۷۰ مخ لیکلي دي: تر (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال لږ د مخه پر سدا شیو راو بهاو باندې، په پونا کې د ابراهیم ګارډي د یوه خپل مظفر خان په ټونګ چا حمله وکړه، بهاو لږ زخمي سو، مګر مظفر خان او د هغه ملګري ته ئې بیا د مرګ سزا ورکړله.

[۱۲۵۴] د دغه پاچا نوم محی الملة و. پلار ئې محی السنة، نیکه ئې کام بخش او ورنیکه ئې عالمګیر اورنګزیب (۱۰۶۸-۱۱۱۸ هـ.ق.) نومېد.

[۱۲۵۵] عماد السعادت، ۱۸۱ مخ.

ورو ورو ئې د مرهټو د پوځو کلابندي شروع کړله.

د ځلرمي خور د میاشتي په اوومه ورځ (= ۴ جنوري ۱۷۶۱ ع.) د پاني پت لوی جنګ شروع سو. سدا شیو راو بهاو د ټول مرهټه لښکر د سپهسالار په حیث، د لښکرو په منځ کي له ۱۳۵۰۰ سپاهیانو سره ولاړ و او په دغه جنګ کي مور پر بوره سوه.

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په هغه خط کي، چي د ترکیې سلطان دریم مصطفی عثماني رحمة الله علیه ته ئې استولی دئ، لیکلي دي؛ چي "بهاو" د پاني پت په غزا کي د اشرف الوزراء شاولي خان بامیزي د لښکرو په لاس کښیوت، بندي ئې ماته راوست او زما په حکم وواژه سو[۱۲۵۶].

د سلطان التواریخ په (۱۶۲ مخ) کي د بهاو په باب رای مالک رام زوی، زین سنګه زخمي لکهنوي کښلي دي:

سدا شیو راو بهاو یو مغرور او متعصب هندو و. په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال چي ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره جنګ ته، له دکنه لښکري راوبهولې، کله چي د متهرا مقدس ښار ته راغی، د ښار په منځ کي ئې د عبدالنبي خان پر مسجد سترګي ولګېدلې[۱۲۵۷]. سورج مل جاټ ته ئې مخ ور وګرزاوه او ورته وئې ویل:

"ته څنګه ځان هندو بولې، چي تر اوسه دي لا په متهرا کي دغه مسجد ودان پرې ایښی دئ".

سورج مل، چي یو جهان دیده سلطان و، جواب ورکړ:

"د هندوستان ښارونه رنډۍ غوندي دي، نن د یوه سبا د بل په غېږ کي شپه تېروي، که زما دا زړه ته لوېدلای، چي دا ښار ژما تر مرګه زما له لاسه نه وزي، ما به د وخته دا او داسي نور مسجدونه له مځکي سره برابر کړي وای. اوس چي ته راغلی ئې ستا اختیار دئ، هر څه چي (په) کوې".

بهاو تر لږ فکر وروسته جواب ورکړ:

"چي پښتانه وځبم ټول مسجدونه به بیا خراب کړم".

د مادهو جي سیندهیا د کتاب په ۲۴ مخ کي کښلي دي:

"سدا شیو راو بهاو دلاور و، مګر ډېر متکبر او بې احتیاطه".

[۱۲۵۶] نامهٔ احمدشاه بابا بنام سلطان مصطفی ثالث عثمانی. ۷۵ مخ.

[۱۲۵۷] د حدیقة الاقالیم په ۱۷۰ مخ کي کښلي دي:

د متهرا د ښار په منځ کي عبدالنبي خان د متهرا حاکم (د عالمګیر په زمانه کي؟) یو داسي مسجد جوړ کړی دئ، چي د هغو منارو ته ورختل، ځوانان ستړي کوي. عبدالنبي ډېر زړسواندی سړی و له هنودانو سره ئې خورا ښه سلوک کاوه، ځکه نو د متهرا په هندوانو کي متل دئ:

نبی جی! تم بن متهرا سونی.

ژباړه: ای عبدالنبي، چي ته نه ئې متهرا ورانه ده.

کوړا مل کهتري

کوړامل کهتري په ذات کهتري هندو و(۱۲۵۸). خان بهادر هژبر جنګ زکریا خان توراني، چي لومړی د ډهلي د دربار او د افشار نادر له خوا څخه له (۱۱۳۹هـ.ق.) کال څخه تر (۱۱۵۸هـ.ق.) کال پوري د پنجاب نائب الحکومه و، کوړامل ورسره نوکر سو او د منصبداری رتبې ته ورسېد. کله چي جنګ پناه بهټ له حسن ابداله څخه تر راوي سیند پوري ټوله سیمه قبضه کړله، نوموړي زکریا خان یو پوځ د کوړامل په مشرتوب، د جنګ پناه بهټ ځبلو لره وګماره. کوړامل ورسره وجنګېد او په جنګ کي ئې جنګ پناه ونیو او وئې واژه(۱۲۵۹).

د (۱۱۶۰هـ.ق.) کال د لومړی خور د میاشتي په شلمه ورځ، چي د زکریا خان دوهم زوی شهنواز خان پر خپل مشر ورور یحیی خان بری وموند او پر خپل سر د لاهور واکمن سو، کوړامل ئې خپل لومړی وزیر (مدار المهام) وټاکه(۱۲۶۰). کله چي د قصور د پښتنو مشر احمدیار خان له بندیخانې څخه یحیی خان وتښتاوه او ډهلي ته ئې بوت، شهنواز خان کوړامل په یحیی خان پسي قصور ته ولېږه، مګر کوړامل یحیی خان ونه موند او کوړامل د قصور دوه ویشت تنه پښتانه مشران لکه رکن الدین خان، مراد خان او غلام محی الدین خان ئې لاهور ته بندیان راوستل او شهنواز خان په تهه خانو کي بندیان کړل(۱۲۶۱).

په (۱۱۶۱هـ.ق.) کال چي د محمد شاه مغل له خوا د لاهور او ملتان حکومت میر معین الملک ته ورکړه سو، کوړامل د سپهسالار یا وزیر(۱۲۶۲) یا دیوان خاص(۱۲۶۳) او یا اداري معاون(۱۲۶۴) په حیث کار ورسره کاوه. معین الملک یو تکړه پوځ د کوړامل په مشرتوب سره په

(۱۲۵۸) دولت درانیه، ۱۸ مخ.

(۱۲۵۹) مآثر الامراء، ۱۰۶/۲ مخ.

(۱۲۶۰) د "History of The Panjab" ۲۱۵ مخ او د کننګهم د "A History of Sikhs" ۹۴ مخ.

(۱۲۶۱) د عبرتنامې په ۲۰۳/۱ مخ کي کښلي دي، چي دا بندیان هغه وخت لوی احمد شاه بابا رحمه الله خوشي کړل، چي لاهور ئې ونیو.

(۱۲۶۲) د "Ahmad Shah Durrani" ۹۳ او ۲۱۶ مخونه.

(۱۲۶۳) دولت درانیه، ۱۸ مخ.

(۱۲۶۴) احوال آدینه بیګ خان، ۵۳ مخ.

(۱۱۶۱هـ.ق.) کال کي ملتان ته ولېږه، چي د ملتان حکومت له زاهد خان سدوزي[۱۲۶۵] څخه ونیسي.

زاهد خان ته د ملتان حکومت د یوه شاهي فرمان په اثر په (۱۱۶۰هـ.ق.) کال ورکړه سوی او وروسته تر هغه زاهد خان د شهنواز خان میرزا پهیلوري نائب خواجه اسحاق د توري په زور له ملتانه ایستلی و. کوړامل چي له ورسره پوځ سره د ملتان شاوخوا ته ورسېد، زاهد خان سدوزي ئې "ماتي تال" نومي کلي ته نژدې مخه ونیوله. په جنګ کي زاهد خان ماتې وکړه او کوړامل ملتان ونیو.

د (۱۱۶۴هـ.ق.) کال د میانۍ په میاشت کي، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونه، له کابله مخ پر لاهور ولېږدېدل، کوړامل د میر منو له خوا، لاهور ته وغوښته سو. نوموړي د ملتان حکومت عبد العزیز خان سدوزي ته پرېښوو او پخپله لاهور ته وخوځېد او د (۱۱۶۵هـ.ق.) کال د محرمي په میاشت (= نومبر ۱۷۵۱ع.) لاهور ته ورسېد[۱۲۶۶].

د (۱۱۶۵هـ.ق.) کال د درېیمي خور د میاشتي په لومړۍ ورځ (= ۶ مارچ ۱۷۵۲ع)[۱۲۶۷]، چي د لاهور شالمار ته نژدې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پوځو او د میر منو د لښکرو تر منځ جنګ ونښت، کوړامل په دغه جنګ کي د میر منو له خوا د سپهسالار حیثیت درلود. کوړامل په جنګ کي وواژه سو او لاهوریو ماتې وکړه[۱۲۶۸].

د اولیاء ملتان په ۵۹ مخ کي کښلي دي:

"کوړامل" له خپلي خوا زاهد خان سدوزی د ملتان نائب مقرر کړ. زاهد خان د کوړامل امر نه مانه. کوړامل برید پر وکړ، تل ته نژدې جنګ پېښ سو. زاهد خان او لښکر ئې ماته وکړله. زاهد خان چي له پالکۍ څخه راکښته کېدئ، ونیول سو او د ملتان نیابت د کوړامل له خوا خواجه اسحاق ته ورکړه سو. دا پلا چي کوړامل لاهور ته ولاړ بیا ملتان ته راستون نه سو او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پوځو له خوا وواژه سو.

(۱۲۶۵) زاهد خان سدوزی د عابد خان زوی او د شاحسین سدوزي لمسی او د مودود خان کړوسی و. شاه حسین خان د ګنډا سنګهـ (Ahmad Shah Durrani، ۷۸ مخ) په قول د سلطان العادل شیرشاه سوري (۹۴۶-۹۵۲هـ.ق.) په پاچهۍ کي ملتان ته تللی او هلته مېشت سوی و، مګر دا د پښتني تاریخو له مخي صحیح نه ښکاري، ولي چي پښتني تاریخونه شاه حسین د اورنګزېب عالمګیر معاصر ګڼي.

(۱۲۶۶) احـ شاه درانی، ۱۰۲ مخ.

(۱۲۶۷) د دې جنګ تاریخ په "History of the Panjab" کي د اپریل دوولسمه، په احمدشاه دراني کي د مارچ شپږمه او د درېیمي خور دمیاشتي لومړۍ ورځ ضبط ده.

(۱۲۶۸) احمدشاه درانی، ۴۰۰ مخ، د پښتنو تاریخ، ۱/۱۱۲ مخ.

ابراهیم ګارډي

د ابراهیم له نامه سره دا وروستی نسبت کله "ګاردي"، کله "کاردي" او کله "کردي" لیدل سوی دئ، خو سهي شکل ئې "ګارډي" دئ. د مادهوجي سیندهیا د کتاب په ۲۶ مخ کي کښلي دي:

ځکه چي دی په حیدر آباد دکن کي د فرانسوي سپهسالار "موسیو بوسي" د سراوسي (همرکاب) پوځ منصبدار و او دغه سراوسي پوځ ته په انګرېزي ژبه "باډي ګارډ" وایي، نو دی په ګارډي مشهور سو.

په انګرېزي ژبه "Guard" حفاظت او "Guardian" محافظ ته وایي او په فرانسوي ژبه "Gardien" محافظ او "Garde" حفاظت ته وایي.

د فارسي اخبارات و مراسلات په لغتنامه (۳۲ مخ) کي کښلي دي:

"Gardi" کلمه په دکن کي د پلي پوځ (پیاده لښکر) له پاره کارېدله. دا پوځ به د شمالي هندوستان له خلکو (پټهان، راجپوت، پوربي یا حبشیو او عربو) څخه جوړ و. هر سپاهي ته د میاشتي له ۸ روپو څخه تر ۱۵ روپو پوري تنخواه ورکوله کېدله. دوی د خپل مزدورۍ له پاره سپاهي توب کاوه، نور ئې نو د خپل بادار سره هیڅ اړېکی نه درلود. د نراین راو په وختو کي له ګارډي پوځ څخه د شاهي دربار، حرمسرای او ښار د ساتني کار اخیستل کېدئ.

په تاریخ ظفره کي لیکلي دي:

د دکن د حکمران نظام الملک آصف جاه اول زوی نواب صلابت جنګ په (۱۱۶۵هـ.ق.) کال له مالي اړخه ډېر کمواکه سو. د سپاهیانو تنخواوي ئې نسوای ورکولای، د سیکاکل، راجی بندري، مصطفی نګر او مرتضی نګر سیمي ئې په جاګیر کي "موسیو بوسي–Monsiu Bussy" فرانسوي ته په جاګیر کي ورکړلې. د موسیو بوسي تر مشرتابه لاندي د فرانسویانو یو پوځ د صلابت جنګ په لښکر کي و او د صلابت جنګ له خوا ده ته "عمدة الملک" لقب ورکړ سوی و. د موسیو بوسي له خوا ابراهیم ګارډي د دغو سیمو نائب مقرره کړه سو[۱۲۶۹]. په (۱۱۶۹هـ.ق.) کال چي موسیو بوسي د خپل جاګیر خوا ته د تګ اراده وکړله، ابراهیم ګارډي په خبر سو. په لکو روپۍ ئې له ځانه سره واخیستلې او ایلچپور ته وتښتېد او د نواب نظام الدوله نوکر سو[۱۲۷۰]. په (۱۱۷۱هـ.ق.) کال چي نظام الدوله حیدر آباد ته ولاړ، ابراهیم ګارډي هم ورسره و. حیدر جنګ د

[۱۲۶۹] تاریخ ظفره. ۱۲۵ مخ.

[۱۲۷۰] تاریخ ظفره. ۱۳۱ مخ.

عمدة الملک موسیو بوسي او ابراهیم تر منځ روغه وکړله او ابراهیم خان بیرته د موسیو بوسي نوکر سو. ابراهیم ګارډي په هغه جنګ کي، چي د جانوجي بهونسله سره پېښ سو، ډېره مړانه ښکاره کړله او "ببرجنګ" لقب ورکړه سو. په (۱۱۷۲هـ.ق.) کال له نظامه خوابدی سو، پونې ته ولاړ. څه سپاره ګارډي پوځ او توپخانه هم ورسره وه. د پېشوا بالاجي راو نوکر سو. مرهټو په (۱۱۷۳هـ.ق.) کال د نظام الملک پر سیمه برید وکړ. ابراهیم ګارډي هم ورسره و. په اودهګیر کي دواړه پوځونه سره مخامخ سول. په دغه جنګ کي هم د ابراهیم خان ګارډي توپخانې ډېر فعالیت وکړ[۱۲۷۱].

په سیر المتاخرین (۹۰۱مخ) کي لیکلي دي:

"ابراهیم له اراذلو څخه و. د فرانسویانو سره نوکر سو، له هغو څخه ئې د توپخانې تعلیم حاصل کړ او یو د توپخانې پوځ ئې جوړ کړ. د آصف جاه ثاني نوکر سو، بیا له هغه څخه ولاړ د مرهټو نوکر سو".

ابراهیم ګارډي یو زړه ور او هوډیالی سړی و، په دکن کي ئې د توري ډېغ تللی و[۱۲۷۲]. دی لومړی د فرانسوي جرنیل موسیو بوسي تر لاس لاندي روزل سوی او د هغه تکړه شاګرد و. د فرانسویانو په هغو لښکرو کي ئې، چي د هندوستان په استیلاء بوخت وو، نوکري کړې وه او د توپخانې په فن کي ئې لوی لاس درلود. د پرنګیانو په ډول ئې جنګ کاوه او د جنګ عصري تجهیزات او یوه مکمله توپخانه ئې برابره کړې وه[۱۲۷۳]. لومړی دی په دکن کي د آصف جاه (۱۱۶۱هـ.ق. مړ) د زوی میر نظام علي په لښکر کي د یوه منصبدار په حیث شامل سو او میر نظام علي، چي په دوهم آصف جاه مشهور و، ده ته په ښه سترګه کتل او دی هم د هغه یو تکړه منصبدار و.

پرنګیانو غوښتله چي دی له دوهم آصف جاه څخه بېل کړي، ځکه ئې نو خپل پټ نماینده حیدر جنګ، چي د آصف جاه په دربار کي ئې د پرنګیانو له پاره کار کاوه، په ده پسي واچاوه. هغه هم پخپل دې مقصد کي بریالی سو او آخرئې ابراهیم خان ګارډي له دوهم آصف جاه څخه بېل کړ. د دوهم نواب آصف جاه او حیدر جنګ په مخالفت کي ابراهیم خان ګارډي د حیدر جنګ پر سیله ولاړ و.

د (۱۱۷۱هـ.ق.) کال د روژې په میاشت کي چي دوهم آصف جاه په اورنګ آباد کي د حیدرجنګ په وژله بریالی سو او برهان پور ته روان و، ابراهیم خان ګارډي بیرته د آصف جاه مل سو او بیا ئې هغه قدر او منزلت وموند. مګر دا پلا د ابراهیم خان او دوهم آصف جاه ملګري ډېره ونه پائېدله او څه وخت وروسته ابراهیم خان د دوهم آصف جاه پر ضد د مرهټو کفارو مل سو. د ده

(۱۲۷۱) تاریخ ظفره، ۱۳۹ مخ.

(۱۲۷۲) حسین شاهي تاریخ (قلمي)

(۱۲۷۳) خزانه عامره، ۶۴ مخ.

عصري توپخانې او دوولس[1274] یا نهو زرو[1275] توپک لرونکو سپاهیانو د مرهټو حربي طاقت ډېر چمتو کړ او د لویو لویو فتحو خوبونه ئې په ولیدل.

د تزک آصفیه په ۶۸ مخ کي لیکلي دي:

ابراهیم خان ګارډي د موسیو بوسي فرانسوي له خوا د سیکاګل حاکم و. د اوډیسې ډېر یاغیان ئې اېل کړل. د موسیو بوسي نوکري ئې پرېښووله، د دکن د شمالي غرونو له لاري دکن ته راغی او د دکن د والي صلابت جنګ ملګری سو. توپخانه او کور و کهول تهول ورسره و. په (...ه.ق.) کال چي د مرهټو او آصف جاه نظام علي خان اسد جنګ تر منځ جنګ پېښ سو او ورور ئې صلابت جنګ په مرسته ورغی، خپل کشر ورور بسالت جنګ میر محمد شریف ئې له ابراهیم خان ګارډي ببر جنګ سره په سرلام (سرلاړ) کي مقرر کړ (۷۸ مخ). په دغه جنګ کي د ابراهیم خان ګارډي خوریی آدم خان هم د صلابت جنګ په لښکر کي و. د جنګ تر خلاصون او له مرهټو (بالاجي راو) سره تر روغي وروسته، چي له سیکاګل ځخه موسیو بوسي د صلابت جنګ لیدلو ته راغی، ابراهیم خان ګارډي له موسیو بوسي سره پخلا سو (۸۲ مخ).

ابراهیم خان ګارډي د (۱۱۷۲ه.ق.) کال د کوچني اختر په میاشت کي له صلابت جنګ ځخه جلا او د بالاجي راو مرهټه ملګری سو (۱۰۱ مخ). د (۱۱۷۳ه.ق.) کال د رجب تر میاشتي پوري ابراهیم خان په دکن کي و. د دغه کال د دریمي خور د میاشتي په پنځه ویشتمه ورځ، چي صلابت جنګ اوده ګیر ته ورسېد، ابراهیم خان ګارډي خپله توپخانه د مسلمانانو لښکرو ته سمه کړله، ځکه نو د مسلمانانو لښکرو د کلا بلي خوا ته واړول، خو سهراب جنګ چي د صلابت جنګ سرلام و، د مرهټو پر پوځ خپل لښکر ور وبهاوه او د کفارو سرلام ئې تېښتي ته اړیوست. په دغه برید کي د ابراهیم خان ګارډي د لښکرو لس بیرغه د مسلمانانو په لاس کنښوتل. په دغو جنګو کي د ابراهیم خان ورور، چي د کفارو په پلوي جنګېدئ، وواژه سو (۱۰۳ مخ).

په (۱۱۷۳ه.ق.) کال چي د مرهټو درانه پوځونه د سدا شیو راو بهاو په مشرتابه، د پښتنو غازیانو د ځبلو په نیامت، له دکنه ځخه راروانېده، دی هم د یوه لوی او تکړه منصبدار په حیث ورسره و او د مسلمانانو د تباهی له پاره ئې په ټینګه سره ملا تړلې وه. فتح الله خان ورور ئې هم ورسره و. مرهټو چي د ډهلي په کلا کي یعقوب علي خان بامیزی کلابند کړ، د دغه ابراهیم خان ګارډي توپخانې نوموړی پښتون نائب الحکومه له مرهټو سره روغي ته اړیوست او د ډهلي حکومتي کلا ئې کفارو ته خوشي کړه.

د پاني پت په ډاګ کي چي مرهټو کفارو واړول، د ابراهیم خان ګارډي توپخانه شاو خوا پر راځرخېدلې وه او د یوې ټینګي کلا په توګه ئې د پښتنو غازیانو په مقابل کي د مرهټو کفارو دفاع کوله.

[1274] حسین شاهي تاریخ (قلمي)

[1275] تاریخ هندوستان، ۹/۳۰۶ مخ.

د سیر المتاخرین په ۹۱۳ مخ کي کښلي دي:

د ابراهیم خان ګارډي سره د پاني پت په تاریخي جنګ کي دوولس زره چقماقي توپک او پرنګي توپونه وو.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه څو پلا سړي ورولېږل، چي د اسلام په نامه د کفارو له مرستي څخه لاس واخلي، مګر ابراهیم خان د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هیله ونه منله او تر پایه ئې د کفارو په مرسته لېښي راغښتي وې.

د (۱۱۷۴ه.ق.) کال د څلرمي خور د میاشتي په شپږمه ورځ (= ۱۴ جنوري ۱۷۶۱ع) یعني د پاني پت په لوی جنګ کي ابراهیم خان ګارډي له اتو زرو توپک والو سپاهیانو سره د کفارو د لښکر په کیڼ غوړي کي ولاړ و[1276] او تر ټولو دمخه چي چا جنګ شروع کړ، هغه دغه ابراهیم خان ګارډي و.

ډاکټر ګنډا سنګهه د "Ahmad Shah Durrani" د کتاب مولف لیکي، چي د ابراهیم خان ګارډي په یوه لاس کي بیرغ او په بل لاس کي توپک و او خپلي دوې پلټني سپاهیان ئې د برخوردار خان اڅکزي پر پوځ او روهیلیو باندي، چي د پښتنو د لښکر په ښي څنګ کي ولاړ وو، ورو بهول.

په دغه جنګ کي ابراهیم خان ګارډي ژوندی د غازیانو په لاس کښېوت[1277]. د خزانه عامره په ۱۰۸ مخ کي آزاد بلګرامي لیکلي دي، چي ابراهیم خان غازیانو په قفس کي واچاوه او څو ورځي ئې وساته، پای ته چي مړژواندی سو، غازیانو د دې له پاره چي ژر ئې ساه دوږخ ته ورسېږي، وواژه. مګر د دولت درانیه په ۴۱ مخ کي لیکلي دي، چي ابراهیم خان ګارډي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته بندي ور وستل سو او غازي ستر ټولواک د وژلو حکم پر وکړ. د اوده نواب شجاع الدوله ئې شفاعت وکړ، مګر ونه مانه سو، دا ځکه چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ده ته څو پلا پیغامونه ورلېږلي وو، چي د کفارو ملګري پرېږده او د اسلام ملا وتړه، مګر ده نهه کړې وه او تر پایه پوري ئې د کفارو د بري له پاره هغه کوښښونه وکړل، چي پخپله کفارو نه وو کړي.

په حسین شاهي تاریخ کي زیاته سوېده، چي پسله مرګه د ابراهیم خان په پښو کي واښکی ور واچول سو او په ټول لښکر کي ئې د ده ناپاک لاش وګرزاوه. د عماد السعادت په ۲۰۲ مخ کي لیکلي دي، چي ابراهیم خان د شجاع الدوله د سپاهیانو په لاس بندي سو، شجاع الدوله ئې علاج ته ملا وتړله او پټ ئې ساته. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په خبر سو، ځني وئې غوښت او اشرف الوزراء ته ئې وسپاره. او ومه ورځ وواژه سو.

[1276] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۶ مخ.

[1277] د "Ahmad Shah Durrani" ۲۵۶ مخ، شاه عالم نامه، ۱۷۶ مخ، حیات حافظ رحمت خان، ۱۰۹ مخ، دولت درانیه، ۴۱ مخ او عماد السعادت.

د سلطان التواریخ په ۱۶۹ مخ کي کښلي دي:
د ابراهیم خان ګارډي او ملګرو مړو ته ئې شجاع الدوله کفنونه ورکړل.
سید الطاف علي د حیات حافظ رحمت خان په ۱۰۹ مخ کي کښلي دي، چي زوی ئې هم ورسره ګرفتاره سوی و، مګر خوشي کړه سو.

اخوند محمد حیات

په تاریخ بلوچستان ۸۹/۱ مخ کي ګل خان نصیر لیکلي دي:
په (۱۱۶۲ هـ.ق.) کال میر محبت خان خپله لور بي بي جان، چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه نجل (چنغوله[۱۲۷۸]) وه، د اخوند محمد حیات په لاس کندهار ته ولېږله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په غزني کي و، اخوند محمد حیات پسي ور ورسېد او په غزني کي ئې د بي بي جاني نکاح له لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره وتړله.
د نصیر خان په وختو کي، چي میر بوهیر موسیاني له پنجګور څخه په تېښته قلات ته ولاړ، د نصیرخان له خوا اخوند محمد حیات، د جاله وان له لښکرو سره د پنجګور د نیوونکي، میر یعقوب ګچکي ځبلو ته وګماره سو. اخوند محمد حیات پنجګور ته ولاړ. تر یوه سپک جنګ وروسته، میر یعقوب ګیچ ته وتښتېد او لښکر ئې وسلې کښېښولې. میران شاه چي پنجګور ته د نصیرخان په امر ورغی، اخوند محمد حیات قلات ته راغی[۱۲۷۹].
په (۱۷۵۸ ع.) کال چي نصیر خان بلوڅ لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته پورته سو او لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خپلو لښکرو سره د ده ځبلو ته ورغی، تر دوو جنګونو وروسته نصیرخان په قلات کي کلابند سو. پای ته د اشرف الوزراء شاه ولي خان او اخوند محمدحیات پر لاس روغه وسوه[۱۲۸۰].

محمود المنشي په تاریخ احمد شاهي ۷۸۷/۲ مخ کي لیکلي دي:
نصیرخان بلوڅ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته، خپله مور او ملا محمدحیات، د ننواتو په ډول ولېږله.

[۱۲۷۸] چنغوله هغې نجلۍ یا ښځي ته وایي، چي د چا په نامه سوې وي، خو واده کړې ئې لا نه وي. په پارسي ژبه "نامزاد" ورته وایي.
[۱۲۷۹] تاریخ بلوچستان ۱۰۵/۱ مخ.
[۱۲۸۰] تاریخ بلوچستان ۱۱۴/۱ مخ.

اخوند محمدصالح

د تاریخ بلوچستان په ۱۶۴/۱ مخ کي لیکلي دي:
اخوند محمدصالح د بلوڅو د مشر (لومړي) میر نصیر خان بلوڅ وزیر و.

اخوند فتح محمد

په کیچ مکران کي د ذکري مذهب پیروان زیات وو، [۱۲۸۱] یو وخت د دوی مشر میر بلال بلیدي و، چي زیاتره به په ګوادر بندر کي اوسېدئ. یو وخت یو حاجي ګوادر ته راغی، ده ته ئې تبلیغ وکړ او بیرته ئې د اسلام دین ته راواړاوه. ملک دینار ګچکي، چي د ذکري مذهب مبلغ او خلیفه و، د میربلال دښمن سو. د کیچ ذکري ئې پر را پورته کړل، پر کیچ ئې برید وکړ، د میر بلال وراره ګوادر ته وتښتېد او کیچ د ملک دینار په لاس ورغی.

د میر بلال او ملک دینار تر منځ څو نښتي وسوې او میر بلال شهید سو. د میر بلال درې زامن (میر نورمحمد، میر ولي محمد، میر محمد شفیع) هم مسلمانان وو. نورمحمد له ګوادر څخه قلات ته په عرض راغی. نصیر خان د اسلام ننګه وکړه او پر کیچ ئې لښکري ور وبهولې، ملک دینار د "ټمپ" په کلا کي کلا بند سو. پای ته ئې وسله کښېښووله او ځان ئې نصیر خان ته تسلیم کړ. نصیرخان لمانځه ته راوباله ده نټه وکړله. د ملایانو په سلا ئې هم لمانځه ته غاړه نه کښېښووله. پای ته د نصیر خان په امر، د میر نور محمد بلیدي له لاسه وواژه سو او په دې توګه ئې د خپل پلار کسات واخیست.

د تاریخ بلوچستان په ۲۰۲/۱ مخ کي لیکلي دي:
اخوند فتح محمد د افغانستان اوسېدونکی و، د لومړي نصیر خان په وختو کي قلات ته

[۱۲۸۱] دغه مذهب د تاریخ بلوچستان په ۱۱۸/۱–۱۲۱ مخو کي د "ذاهي مذهب" په نامه یاد سوی دئ.

راغی.
پر کیچ باندي د میر نصیر خان د حملې په شروع کي د ملک دینار ورور شاه بیگ کندهار ته تللی و او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ئې د میرنصیر خان د ظلمو او حملې له لاسه عرض کړی و. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا یو چپر کیچ ته ولاړ او د آس پر شائې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هغه فرمان میر نصیر خان ته ولوست، چي:

"که ولاړ ئې بیرته قلات ته را روان سه او که ناست ئې را ولاړ سه، نور مهلت نه لرې".

د میر نصیر خان لښکرو باندي کټوي پر نغریو پرېښولې او په هغه دم له کیچه مخ پر قلات وکوچېدل او د کیچ او مکران حکومت د ملک دینار زوی میر عمر ته ورپاته سو(۱۲۸۲).

تر (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال وروسته میر نصیر خان بیا د پنجگور له لاري، پر کیچ برید وکړ. میر عمر په جنگ کي ماته وکړله او د ناصر آباد کلا ته ئې ځان ورساوه. نصیرخان چي څو ورځي په کیچ کي تیري کړلې، پر ناصر آباد ورغی او میر عمر ئې هلته کلا بند کړ. څو ورځي وروسته میر عمر د جنگ په نیامت له کلا راووت، په جنگ کي ئې ماته په نصیب سوه او دی له میرقاسم گچکي سره بندي سو. په دې جنگ کي د نصیر خان له خوا د ذکر مینگلو خان میرپردل خان، له اتو سوو مېړو سره ومړل.

میر نصیرخان چي له کیچه څخه قلات ته ستنېدئ، د میر فقیر محمد میرواړي زوی "میر دوستین" ئې د کیچ او مکران حاکم وټاکه او زهري سردار میر زرک ئې له اوو سوو مېړو سره، د ده د مرستیال په توگه ور سره پرېښوو(۱۲۸۳).

د نصیرخان پر حاکم باندي څه وخت وروسته گچکي راوغورځېدل، په تربت نومي کلا کي ئې وواژه. میر زرک قلات ته ځني وتښتېدئ او په کیچ و مکران کي بیرته د ذکریو (داهي مذهبو) حکومت سو.

په دغه وخت کي میر عمر، چي په قلات کي بندي و، له ذکري مذهبه توبه وکښله. میر نصیر خان د کیچ حکومت ورکړ او له حاجي محمد خان شاهواني سره ئې کیچ ته ولېږه. په کیچ کي خلکو د ده حکومت ته غاړه کښېښوله، مگر کله چي ئې ولیدل میر عمر ذکري مذهب نه پالي او سني مذهبه مسلمان سوی دئ، د ده کشر ورور میر شکر الله ئې پر را پورته کړ. میر عمر گنداوې ته وتښتېدئ او نصیرخان ته ئې پناه وروړه. نصیرخان سمدستي له گنداوې څخه پر کیچ برید وکړ، میر شکر الله وتښتېدئ بلیدیو ته ئې پناه وروړه. د نصیرخان په امر د کیچ ذکري قتل عام سول او له بلیدیو سره په جنگ کي، میر شکر الله هم د نصیر خان په لاس کښېووت. دا پلا بیا د نصیر خان له خوا میر عمر د کیچ حاکم مقرر سو. نصیرخان چي قلات ته ستون سو، د

(۱۲۸۲) وگ: تاریخ بلوچستان، د گل خان نصیر تالیف، ۱/۱۰۶–۱۰۷–۱۰۸ مخونه.

(۱۲۸۳) وگ: تاریخ بلوچستان ۱/۱۱۷–۱۱۸ مخونه.

ګیچ پاته ذکري د میر قاسم په مشرتوب، پر میر عمر را وغورځېدل، دی ئې وواژه او د ګیچ حکومت ئې خپل کړ. د میر عمر زوی شه محمد میر نصیر ته پناه یووړله[۱۲۸۴].

دا پلا میر نصیر خان بلوڅ د اخوند فتح محمد په مشرتابه، یو لښکر د شه محمد مرستي او د ګیچ نیولو ته وګماره. میر قاسم بلیدي ئې د مقابلې توان نه درلود، د مېړو مرکه (جرګه) ئې ورته راولېږله، اخوند فتح محمد د ده تر ګنهونو ور تېر سو، میرقاسم اطاعت ومانه.

اخوند فتح محمد وغوښتل، چي شه محمد په ګیچ کي د حاکم په توګه پرېږدي، مګر ګچکیو او بلیدیو شه محمد د خپل حکومت په مشرتوب نه ومانه او شه بائیان Baiyan ئې د خپل حاکم په توګه معرفي کړ[۱۲۸۵]. اخوند فتح محمد له شه محمده سره شه قاسم (میرقاسم) او شه بائیان قلات ته راوستل. د نصیر خان له خوا شه بائیان د ګیچ حاکم مقرر سو. نصیرخان غوښتل، چي شه قاسم د میر عمر په قصاص کي ووژني. اخوند فتح محمد ورته وویل ما له ده سره وعده کړې ده، چي تا به څوک نه وژني. نصیرخان د اخوند فتح محمد د وعدې له امله د شه قاسم تر وژلو تېر سو.

د تاریخ بلوچستان په ۱۵۸ مخ کي لیکلي دي:

په (۱۷۸۸ ع.) (= ۱۲۰۳ هـ.ق.) کال تالپور بلوڅو میر عبد النبي کلهوړه، د سند والي له سندهه پسي واخیست. عبد النبي لومړی نصیرخان ته پناه یووړه. نصیرخان د زهري بلوڅو یو پوځ د زرک زهري تر مشرۍ لاندي ورسره کړ. په جنګ کي زرک وواژه سو او لښکرو ئې ماته وکړه. میر عبد النبي د جنګ له میدانه څخه، د تېمورشاه سدوزي دربار ته په عرض ورغی. تېمورشاه په (۱۷۹۰ ع.) (= ۱۲۰۵ هـ.ق.) کال مدد خان ساګزی لهٔ شپږو زرو سپرو سره، د میر عبد النبي په مرسته سندهه ته ولېږ او نصیرخان ته ئې وکښل، چي ته هم خپل پوځ ورسره ملګری کړه. میر نصیرخان په دغه وخت کي اِبلِج (اِفلِج) وهلی و، پخپله د بلوڅو له لښکره سره نه سوای تلای، څو تنه سرداران ئې له پوځه سره د مدد خان ساګزي په مرسته ولېږل، چي یو په هغو کي اخوند فتح محمد و.

په جنګ کي تالپور بلوڅو ماته وکړله، د عمر کوټ په کلا ننوتله. پښتنو او بلوڅو پوځو اووه میاشتي کلابندي ټینګه کړله. تالپوران تسلیم ته مجبور سول. اخوند فتح محمد ته ئې پیغام ور ولېږه، ته زموږ ننګه وکړه او د خلاصون لاره مو وسنجوه، آخر ته خو هم بلوڅ ئې(؟).

اخوند فتح محمد د ټولو بلوڅو سردارانو له خوا، سردار مدد خان ته راغی په هغه ئې له تالپورانو سره روغه منظور کړله. د صلحنامې له مخي تالپوران له عمرکوټه ووتل. مددخان

[۱۲۸۴] وګ: تاریخ بلوچستان، ۱۲۱/۱-۱۲۲-۱۲۳ مخونه.

[۱۲۸۵] شه بائیان د شه محمد ورور و. نصیرخان د تمپ حاکم مقرر کړ. تمپ په ګیچ کي یوه سیمه ده. (تاریخ بلوچستان، ۱۶۴/۱ مخ)

ساگزي هلته واړول، څو ورځي وروسته ئې عمرکوټ، میر عبد النبي کلهوړه ته وسپاره، پخپله افغانستان ته ولاړ.

اخوند فتح محمد د نصیر خان په وختو کي د وکیل عهده درلوده. مالیه، خراج او د جزیې کارونه ده ته سپارل سوي وو. دی تقریباً د مالي چارو سرپرست و[۱۲۸۶].

په (۱۷۹۴ ع.) کال چي میر نصیرخان بلوڅ مړ سو، پر ځای ئې مشر زوی اووه کلن میر محمود کښېنوست، ځکه چي دی کوچنی و، نو د بلوڅو سردارانو په سلا، اخوند فتح محمد د ده وزیر وټاکل سو[۱۲۸۷].

(د لومړي ټوک پای)

[۱۲۸۶] تاریخ بلوچستان، ۱/۱۶۴ مخ.
[۱۲۸۷] تاریخ بلوچستان، ۱/۱۷۵ مخ.

حاجي کريمداد خان بامېزی
(شجاع الملک)

حاجي کريمداد خان د کنديل خان زوی، د کشمير خان لمسی. په خته بامېزي پښتون دئ. دا چي د عبرتنامې د لومړي ټوک په ۲۲۳ مخ کي حاجي کريمداد خان د شاولي خان اشرف الوزراء وراره ښوول سوی دئ، سهي (صحيحه) خبره نه ده.

د تېمورشاه دراني په ۱۰۰ مخ کي کښلي دي، چي حاجي کريمداد خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه په دربار کي د عرض بيګي وظيفه درلوده.

د لاهور حکومت:

د (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال د لومړي خور په مياشت کي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پنځمه پلا هندوستان ته ولاړ او مرهټه ئې له لاهوره وايستل، د لاهور حکومت ئې حاجي کريمداد خان ته وسپاره او ده خپلي لښکري د مرهټو جنګ ته پر مخ تيري کړلې (۱۲۸۸).

د تاريخ لاهور مولف کنهيا لال کښلي دي:

"لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي له مرهټو سره په جنګو اختهو، د ټولو سيمو اميران او حاکمان له خپلو خپلو پوځو سره د ده په رکاب کي حاضر وو. په لاهور کي پوځونه لږ وو، سکانو دغه وخت غنيمت وګاڼه، له غرو راکښته سول، له ځنګلو راووتل او دا هلو واليه جسا سنګهه، ګوجر سنګهه بهنګي او جيت سنګهه کنهيا تر مشرتابه لاندي، په امرتسر کي راټول سول او پر لاهور باندي د بريد تجويز ئې وکړ او د سکانو دغه مشران له لس زره (۱۰۰۰۰) پوځه سره پر لاهور راتوی سول. کريمداد خان د ښار دروازې ورته وتړلې، شاوخوا کلي سکانو داسي لوټ کړل، چي چا ته ئې د اغوستلو کالي هم ور پرې نه ښوول. له خونو ښځه به ئې د کار دروازې او کړکۍ کښلې او نورو ته به ئې اور وراچاوه. د لاهور د شاوخوا کلو ډېرو ښځو ځانونه څهانو ته واچول او په دې ډول مرګ ئې د وحشي سکانو ښځه خپل عفت وساته. نارينه يا مړه سول او يا شاوخوا ته سره وتښتېدل.

د سکانو لښکر چي له دغه لوټ مار او وژلي و ژوبلي ښځه وزګار سول، د ښار خواته ئې مخه وکړله. حاجي کريمداد خان په دغه وخت کي، چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له مرهټو سره په جنګو اختهو، نه غوښتل د جنګ د وه محاذه پښتنو ته خلاص کړي، ځکه ئې نو د سکانو مشرانو ته د پرش

(۱۲۸۸) عبرتنامه ۱/۲۲۳ مخ.

زره (۳۰۰۰۰) روپۍ ورکړې او په دې توګه ئې د دوی شر د لاهور له ښاره دفعه کړ او سکان بېرته غرو ته وختل[۱۲۸۹].

کریمداد خان د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د دریمې خور د میاشتې په شروع کې، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه لښکرو په پاني پت کې د جنګ په نیامت، د مرهټو په مقابل کې اړولې وو، له خپل لښکر سره ورغی.

د احوال نجیب الدوله مولف نورالدین حسین خان فخري، چې د پاني پت د جنګ معاصر سړی دئ، ده په هغو سردارانو کې چې سهار سهار به د پاني پت په میدان کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور کې حاضرېدل، یو هم کریمداد خان راوړی دئ او د ده رتبه ئې عرض بېګي کښلې ده[۱۲۹۰].

نوموړي نور الدین حسین خان فخري کښلي دي:

په پاني پت کې چې غازیانو د مرهټو لښکرو مخ ته اړولي وو، په دغه وخت کې نجیب الدوله د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور کې عرض وکړ:

"په دو آبه کې، یعني د ګنګا او جمنا تر منځ، هر ځای زما تهانه داران ناست دي او د مرهټو لښکرو ته غله او ازوغ نه ور پرېږدي، مګر د ډهلي په شاوخوا کې لس دوولس کروهه زما څوک نسته، که تاسې یو لښکر وګمارئ، چې زما له تهانه دارانو سره ولاړ سي، د ډهلي له شاوخوا څخه به غله راټوله کړي او د مرهټو له لاسه به ئې وباسي".

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه دا خبره ومنله او د حاجي کریمداد خان له پوځه څخه ئې یو زر غښتلي سپاره ورکړل، دغي رسالې د نجیب الدوله له تهانه دارانو سره، د ډهلي پر شاوخوا برید وکړ او تر شاهدرې پورې ئې له ټولې سیمې څخه غله ټوله کړه.

د مرهټو له خوا د ډهلي نائب الحکومه نارو شنکر چې په خبر سو، د مرهټو یو پوځ ئې د جیوا جي بخشي او میر خان تهو په مشرۍ، د دوی مقابلې ته له ښاره را وایستئ، مګر هغو هم څه ونه کړای سوه. څو مړي ئې پر میدان پرېښوول او په تېښته بېرته په ښار ننوتل. پسله دې حملې له دغي لارې څخه د مرهټو لوی لښکر ته د ازوغ رسول بند سول[۱۲۹۱].

د درویش علي خان د زامنو ځبل:

د تاریخ احمدشاهي په ۱۲۴۸ مخ کې کښلي دي:

"د (۱۱۸۵هـ.ق.) کال د لوی اختر په میاشت کې د درویش علي خان هزاره زامن اسماعیل خان او انزله خان پورته سول، جمشیدي ئې هم ملګری سو. شهزاده تیمور سدوزي د هرات والي چې

[۱۲۸۹] لاهور سکهون کی عهد مین ۱۲ مخ، د تاریخ لاهور د ۲۳ مخ په حواله.

[۱۲۹۰] احوال نجیب الدوله ۲۲ مخ.

[۱۲۹۱] هغه اثر هغه مخ.

واروېدل، حاجي کریمداد خان ئې د هغو ځبلو ته وګماره".

قاضي ظهور الحسن "ناظم" د نګارستان کشمیر په ۲۲۴ مخ کي کښلي دي:

"لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په (۱۱۸۴ هـ. ق.) (= ۱۷۷۱ ع.) خرم خان د کشمیر له والي توبه موقوف کړ او پر ځای ئې امیرخان جوانشیر مقرر کړ. امیر خان چي کشمیر ته ولاړ، په عیش او عشرت اخته سو. میر فاضل کنت ئې خپل مدار المهام وټاکه. د میر مقیم په قصاص کي ئې پنډت کیلاش در وواژه. د سونه لنک په جزیره کي ئې ډېر عمارتونه ودان کړل. د امیر آباد باغ او شېرګرهي کلا او امیر اکدل د ده له بناوو ځخه دي".

په (۱۱۸۶ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ومړ، تېمور شاه سدوزي هم امیر خان جوانشیر موقوف نه کړ، دلیر جنګ خطاب ئې ورکړ. پای ته امیرخان خپلسري شروع کړه، د کشمیر سني مذهبه خلک ئې ځورول، په زور ئې شیعه کول. پاچا چي خبر سو، یو کوچنی پوځ ئې د علي اکبر په مشري، د ده ځبلو ته وګماره او علي اکبر (ورکزی) ئې د کشمیر صوبه دار مقرر کړ.

علي اکبر چي مظفر آباد ته ورسېدی، د بمبو قوم خلکو چي د امیر خان پلویان وو، لار ورنه کړله او دی بیر ته کابل ته ستون سو. پاچا د امیرخان ځبلو ته حاجي کریمداد خان وګماره. امیرخان چي دا واروېدله، وبېرېدئ. د حاجي کریمداد خان د زوی زمان خان[۱۲۹۲] په واسطه ئې د تېمورشاه حضور ته سوغاتونه ور ولېږل او د دربار له اراکینو سره ئې مکاتبې وکړلې، ټوله ئې له ځانه راضي کړل او تېمورشاه ئې دې ته تحریک کړ، چي حاجي کریمداد خان بیرته ور وغواړي.

حاجي کریمداد خان چي کابل ته وغوښت سو، امیرخان بیا پر سني مذهبو رعیتو ظلمونه پیل کړل. رعیت ورته پورته سول، که ځه هم دا بغاوت ئې ژر ارام کړ، خو ملا مجید او عبدالغني ځانونه د پاچا حضور ته ورسول او د امیر خان له لاسه ئې خاوري پر سر باد کړلې. پاچا دا پلاییا حاجي کریمداد خان د امیر خان ځبلو ته وګماره. محمود خان بمبو لار ورته ونیوله، مګر ماته ئې وکړله او حاجي کریمداد خان باره مولا ته پسي تېر سو. امیرخان ځان جنګ ته مجبور ولید، خو د ده د لښکر زیاتره افسران د حاجي کریمداد خان پر خوا سول او دی شاه آباد ته وتښتېدئ، مګر د حاجي کریمداد خان د لښکرو په لاس کښېووت او بندي ئې حاجي کریمداد خان ته راوست او هغه لاس تړلی کابل ته ولېږه. ځو موده بندي و بیرته خوشي کړه سو.

حاجي کریمداد خان په (۱۱۹۰ هـ.ق.) (= ۱۷۷۶ ع.) بریالی سو، چي امیرخان جوانشیر ونیسي، له دغه وخته ځخه دی د کشمیر والي مقرر سو. دلارام ئې خپل صاحب کار وټاکه. په (۱۱۹۳ هـ.ق.) (= ۱۷۷۹ ع.) ئې خپل زوی مرتضی خان د اسکروړ نیولو ته وګماره او د دغه ځای والي راجه مراد خان ئې مغلوب کړ. حاجي کریمداد خان چي د دغي سوبې زېرۍ تېمورشاه سدوزي ته ولېږه، د تېمورشاه له خوا ئې د شجاع الملک خطاب وموند.

د جمون حکمران راجه رنجیت در دبمبه او کهکه قومونو په مرسته پر کشمیر برید وکړ، مګر بری ئې په برخه نه سو او حاجي کریمداد خان د بمبه او کهکه قومونو د ځبلو له پاره یو پوځ وګماره،

[۱۲۹۲] په نګارستان کي زمان خان د حاجي کریمداد خان ورور ښوول سوی دئ.

د دې پوځ، د ګهتائي د راجه فتح خان د چالبازيو په اغېزه، لرې په برخه سوه او ناکامه کشمیر ته راستون سو.

د زیب تاریخها د روسي ترجمې په ۴۴-۴۵ مخو کي کښلي دي:

امیر خان جوانشیر (۱۲۹۳) د کشمیر حاکم، چي تېمورشاه سدوزي ته پورته سو، د تېمورشاه له خوائې حاجي کریمداد خان عرض بېګي ځبلو لره وګماره سو. امیر خان ته چي دغه خبر ورسېد، د مقابلې په نیامت ئې د لښکرو په تربیه او د وسلو په تهیه لاس پوري کړ.

د حاجي کریمداد خان لښکري چي کشمیر ته ورسېدلې، میداني جنګ پېښ سو، د امیر خان لښکرو ماتې وکړه او پخپله امیرخان د حاجي کریمداد خان د لښکرو په لاس کښېووت او بندي کړه سو. حاجي کریمداد خان تر بري وروسته امیر خان کابل ته بندي واستاوه او پخپله ئې د کشمیر اداره او انتظام شروع کړ او تر مرګه پوري د کشمیر والي و.

د زیب تاریخها له دغه لیکني څخه ښکاره ده، چي حاجي کریمداد خان د تیمورشاه سدوزي په پاچهۍ کي د کشمیر والي مقرره سوی دئ او د "تیمورشاه دراني" په ۱۰۰ مخ کي، چي حاجي کریمداد خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په وختو کي د کشمیر والي ښوول سوی دئ، د زیب تاریخها له دغي لیکني سره تناقض لري او د "درة الزمان" په ۲۵۶ مخ کي هم د تیمورشاهي فرمان پر شا باندي، چي په (۲۹ رجب ۱۱۸۶ ه.ق.) کال صادر سوی دئ، د ده امضاء دا تناقض تائیدوي.

د تاریخ کا ایک روشن پهلو په ٦٥ مخ کي هم کشمیر ته د حاجي کریمداد خان د مقرري کال (۱۷۷٦ ع.) ښوول سوی دئ، چي د (۱۱۹۱ ه.ق.) د محرمي د میاشتي اوله ورځ ئې د فبروري له نهمي ورځي سره برابره ده او (۱۱۹۱ ه.ق.) کال د تېمورشاه د پاچهۍ پنځم کال دئ.

د حاجي کریمداد خان په وختو کي دلارام قلي د کشمیر مستوفي او پنډت ګوبندرام د مستوفي نائب و.

اکبرخان ورکزي کښلي دي:

د کشمیر حاکم "امیر" و	منافق شو له سلطان
له وطنه را روان شوم	د لښکرو په سامان
بل د وروستو مي غږ راغی	چي "حاجي کریمداد خان"
شو سردار کشمیر ئې واخیست	له درباره د خاقان

اکبرخان ورکزي دا هم کښلي دي:

"حاجي کریمداد خان قوم درانی افغان با حقیر عناد ذاتی داشت".

(۱۲۹۳) د تاریخ کا ایک روشن پهلو په ٦٥ مخ کي تر کریمداد خان دمخه د کشمیر افغان حاکم خرم خان ښوول سوی دئ، چي په (۱۷٦٦ ع.) (= ۱۱۸۰ ه.ق.) کال مقرر سوی و.

لوی استاد اروابناد حبیبي صاحب رحمة الله علیه د امیرخان بغاوت او کشمیر ته د حاجي کریمداد خان مقرري، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په زمانه کي بللې ده[۱۲۹۴].

په (۱۷۸۱ ع.) کال ئې د مظفرآباد پر والي راجه محمود خان لښکري ور وستلې او هغه ته ئې ښه ایداد ورکړ. په (۱۷۸۳ ع.) کال چي د تېمورشاه سدوزي ورور سکندرشاه په کامراج کي خپل ورور ته پورته سو، حاجي کریمداد خان د خپل زوی آزاد خان په مشري، یو لښکر د سکندر شاه د فتنې دفعې ته وګماره. آزاد خان چي کامراج ته ورغی، سکندرشاه ماته وکړه او وتښتېدئ.

په (۱۱۹۷ هـ.ق.) (= ۱۷۸۳ ع.) کال حاجي کریمداد خان شجاع الملک ومړ او د کشمیر والي توب ئې آزاد خان زوی ته پاته سو.

حاجي کریمداد خان د جامع مسجد او علي مسجد ترمیم کړی دئ. د ده په وختو کي کشمیر ډېر آرام و.

د حاجي کریمداد خان زامن:

د حاجي کریمداد خان بامېزي شپږ زامن پاته سول:

۱-زمان خان:

د (۱۲۱۶ هـ.ق.) کال د لومړی خورد میاشتي په اولو ورځو کي، چي زمانشاه سدوزی له کابله څخه مخ پر پېښور وتښتېد، زمان خان او سردار رحمت الله خان سدوزی ورسره و[۱۲۹۵]. د عاشق شینوار په کلا کي د نواب اسد خان بارکزي په وسیله ونیول سو او د لومړی خورد میاشتي په نیمایي کي دواړه ووژل سوه او امین الملک د خواجه صفار په احاطه کي ښخ کړل.

۲-مرتضی خان:

د دغه مرتضی خان یو زوی محمد اکرم خان و، چي د شاه زمان د پاچهی په وروستیو کلو کي د امین الملک نورمحمد خان بابړ تر مرګ وروسته او د شاه شجاع په پاچهي کي امین الملک و[۱۲۹۶].

۳-رحمت الله خان

۴-آزاد خان:

تیمورشاه سدوزي هم آزاد خان د کشمیر د والي په توګه ومانه. آزاد خان د پلار د زمانې صاحبکار دلارام پر هغه صاحبکاري پرېښوو او دېوان سنګه ئې مدار المهام وټاکه. ده د کشتوار

[۱۲۹۴] وړمه مجله، د (۱۳۴۸ هـ.ش.) کال ۴۹ ګڼه.

[۱۲۹۵] بالاحصار کابل... مخ.

[۱۲۹۶] د تېمورشاه دراني په ۱۰۰ مخ کي، چي امین الملک اکرم خان د حاجي کریمداد خان زوی ښوول سوی دئ، اشتباه ده.

او پونجهـ د راجوارو مسلمانان راجگان اېل کړل، بيا ئې د کهتائي د سلطان لور ته مخه سوه، هلته ئې هم سوبه په برخه سوه، د کشمير نوري سيمي ئې هم اېل کړلې.

آزاد خان تېمورشاه سدوزي پاچا ته پورته سو او د قسطنطنيې د پاچا په نامه ئې خطبه وويله او خپل لقب ئې "نادرشاه ثاني" کړ. پاچا د ده د پند او پوهولو له پاره ميرزا محمد علي، چي "کفايت خان" ئې خطاب و، ور ولېږه. د کفايت خان په نصيحت آزاد خان لاري ته راغی، د پاچا حضور ته ئې نذراني او د کشمير ماليه ور ولېږله.

کفايت خان لا کابل ته نه و رسېدلی، چي تېمورشاه سدوزي د پرش زره (۳۰۰۰۰) سپاره د آزاد خان د ورونو زمان خان او مرتضی خان په مشري، د آزاد خان ځبلو ته وگمارل. دې لښکر د آزاد خان له لاسه شکست وموند. مرتضی خان وتښتېدئ، مگر زمان خان بيرته تيت و پرک لښکر سره راغوند کړ بيا ئې بريد وکړ، دا پلا زمان خان بيا ماته وکړه او پېښور ته ئې ځان ورساوه.

تر دې پېښي وروسته آزاد خان د فيض الله خان په لاس قرآن شريف د خپل شفاعت او بخښني له پاره، د تېمورشاه سدوزي دربار ته ولېږه، مگر تېمورشاه و نه باخښنه. تر دې وروسته د بمبه راجا محمود خان له آزاد خان څخه معافي وغوښتله، آزاد خان هم وباخښنه. د آزاد خان د دربار ځينو اميرانو لکه عظمت خان او نور آزاد خان ته پورته سول، مگر شکست ئې وموند. تر دې واقعې وروسته سري نگر اور واخيست او په (۱۱۹۹ هـ.ق.) کال په کشمير کي زلزله پېښه سوه، چي تر څلورو مياشتو پوري ئې مځکه رېږدوله.

مدد خان ساگزی له پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) سپرو سره، د پاچا (تيمورشاه سدوزي) له خوا د آزاد خان ځبلو ته وگماره سو. له مدد خان څخه آزاد خان مات سو، پونجهـ ته ولاړ او هلته د پونجهـ راجه رستم خان کلا بند کړ. اسلام خان د مدد خان له خوا د آزاد خان د نيولو له پاره پونجهـ ته ورغی. آزاد خان چي ځان کلابند وليد، ځان ئې وواژه. اسلام خان مدد خان ته د آزاد خان سر ولېږه او هغه کابل ته واستاوه. د دې ويرجني پېښي تاريخ يوه شاعر داسي ويلی دئ:

در تواريخ يکهزار و دو صد
ظلم آزاد رسيد مدد

د تېمورشاه دراني په ۱۴۷ مخ کي کښلي دي، چي د آزاد خان تر ځان وژلو وروسته، د کشمير ولايت د سردار جانخان وروز زمان خان ته وسپاره سو. د نقوش آپ بيتی په ۶۷۰ مخ کي کښلي دي، چي آزاد خان ځان نادرشاه ثاني باله (؟).

۵- عبدالشکور خان.

۶- عبدالرحيم خان.

د حاجي کريمداد خان د يوه وراره نوم په عمدة التورايخ کي يعقوب خان ضبط دئ. په هغه وخت کي، چي د کندهار له درباره اميرخان د لاهور نائب الحکومه و، دغه يعقوب خان د

يوه منصبدار په حيث په لاهور كي و او نواب سربلند خان، د عظمت خان دراني او نائب گل محمدخان خزانه دار ته وكښل، چي اميرخان بندي كړي او د لاهور انتظام او اداره پخپله وكړي. دوى هم د نواب سربلند خان په امر دغه كار وكړ[١٢٩٧].

خواجه عبيدالله خان

په (١١٧۴ ه.ق.) كال چي لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه له ډهلي څخه د پاني پت تر سوبي وروسته لاهور ته راورسېد، سر بلند خان ئې د لاهور له حكومته څخه ملتان ته تبديل كړ. د لاهور حكومت ئې خواجه عبيدخان ته وسپاره او د "دوآبه بِست جالندهر" حاكم ئې گهمند چند كتچ وټاكه. سعادت خان او صديق خان اپريدى ئې د ده مرستيالان كړل[١٢٩٨].

كنهيا لال د تاريخ لاهور په ٣۴ مخ كي دخواجه عبيد الله خان په باب داسي كښلي دي:

لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه چي كابل ته ستنېدئ، خواجه عبيد خان ئې له خپلي خوا د لاهور والي مقرر كړ. د لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه پوځونه، چي وطن ته ستانه سول، په لاهور كي لږ پوځ پاته سو، سكان بيا له ځنگلو راووتل او له غرو راكښته سول، لوټ ئې شروع كړ. خواجه عبيد خان د دې حالاتو په اړه د پاچا حضور ته وليكل او مرسته ئې ځني وغوښتل. د لوى احمدشاه بابا رحمة الله عليه له خوا څخه نورالدين خان وگماره سو، چي پنجاب ته ولاړ سي او د سكانو شر دفعه كړي. د پښتنو دغه پوځ چي تر چناب پوري ووت، د سكانو يوه لوى لښكر ئې د چړت سنگه سكرچكيه تر مشرتوب لاندي مخه ونيوله.

خواجه عبيد خان له خپل پوځ سره، له لاهوره څخه د نورالدين خان مرستي ته وخوځېد. په جنگ كي خواجه عبيد خان شهيد سو. د پښتنو پوځونو ماتې وكړله او نورالدين خان جمو ته ولاړ. د خواجه عبيد الله خان تر شهادت وروسته، كابلي مل چي د لاهور د والي مرستيال و، د لاهور والي سو[١٢٩٩].

(١٢٩٧) وگ: لاهور سكهون كى عهد مين، ١۵ مخ، د سوهن لال د عمدة التواريخ په حواله.

(١٢٩٨) وگ: "Ahmad Shah Durrani"، د گهندا سنگه تاليف، ٢٦٧ مخ.

(١٢٩٩) وگ: لاهور سكهون كي عهد مين، ١٣ مخ.

کابلي مل

د تاریخ لاهور مولف کنهیا لال کښلي دي:

د خواجه عبید الله خان تر شهادت وروسته، کابلي مل د لاهور د والي په توګه، د لاهو
سیمي اداره په لاس کي واخیستله.

د ده په وختو کي بیا سکهانو پر لاهور برید وکړ او کابلي مل ته ئې حال راولیږه:

"هغه قصابان چي غوایي حلالوي، ټول ووژنه که نه موږ ښار لوټوو".

کابلي مل دا خبره ونه منله. سکانو د هلي دروازه ماته کړه او په لاهور ښار ورننوتل، د ښار
لوټ ئې شروع وکړله.

کابلي مل په دغه وخت کي د څو قصابانو غوږونه او پزي ورپرې کړلې، تر ښار ئې (دباند
سکانو ته ور وایستل، څه روپۍ ئې هم سکانو ته ورکړلې او په دې ډول ئې د سکانو شر د لاهور
ښاره دفعه کړ.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په دې پیښه خبر سو، له پوځونو سره لاهور ته راغی. سکانو چ
د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د راتګ بڼغ واروید، لکه چوغکي والوتلې، په غارو او ځنګلو ننوتل ا
غرو ته وختل او بیا په سمه کي د سکه رنګ چا ونه لید.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په لاهور کي تر پنځلسو ورځو اوسېدلو وروسته، بیرته وطن ت
ستون سو او کابلي مل هم تر چنابه ورسره ولاړ، مګر لاهور ته د ستنېدلو په وختو کي، د سکهانو
پوځونه تر ده پخوا لا پر لاهور راتوی سوي وو.

نواب نجابت خان غرغښتی

نواب نجابت خان غرغښتی د ګنجپوري زمیندار و، د (۱۱۷۴ ه.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په لومړۍ ورځ، چي سدا شیو راو بهاو د ګنجپورې د نیولو له پاره، د مرهټو کفارو لښکري هغه لور ته وخوځولې، ده د ګنجپوري د ساتني له پاره ترتیبات ونیول. عبد الصمد خان محمدزی او قطب شاه مالیری هم له خپلو پوځونو سره په مرسته ور ورسېدل، مګر نجابت خان ورته وویل، چي کلا ته دننه راسئ، دوې میاشتي کلابندي ساتلای سو، تر هغو به لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم تر جمنا راپوري وزي او په ګډه به دښمن وهو. عبد الصمد خان د ده خبره ونه منله او تر کلا د باندي ئې واړول.

یو لکو (۱۰۰۰۰۰) مرهټو چي برید پر وکړ، عبد الصمد خان په جنګ کي شهید سو او قطب شاه ټپي سو. د عبد الصمد خان او قطب شاه مله، له میدان څخه کلا ته تر شا سول. نجابت خان د کلا دروازې د مرهټو له بېري نه خلاصولې، پښتنو سپاهیانو ورته وویل:

"ته د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه عسکرو ته دروازه نه خلاصوې، معلومه دا ده چي د مرهټو کفارو مل ئې، احمد شاه ژوندی دئ، ګوري به در سره...".


نجابت خان چي دا واورېدل، دروازه ئې پښتنو شکستیانو ته خلاصه کړه، په دې ترځ کي د مرهټو پوځ کلا ته ننوت، ټوله کلا ئې چور کړله، نجابت خان ئې له دوو زامنو سره بندي خپل لښکر ته راووست او په خورا عذاب ئې دی او زامن شهیدان کړل.

مرهټو د کلا هر ځای چي د دوی ګمان پر راتئ، وکیندله او ډیري ألجې په لاس ورغلې.

د نجابت خان یو زوی، چي دلېر خان نومېد، ژوندی پاته سو (۱۳۰۰).

(۱۳۰۰) احوال نجیب الدوله، ۱۹ مخ.

۴۰. جیرد مرسلات په ۱۵۹ خبر (۳۶۲ مخ) کې کښلي دي: د ۱۲۱۳ هق کال د رجب د ۲۷ په اخبار کې کښلي دي، چې عالم نومي نجیب آبادي، چې پر چېه موټ باندي تپې سوی دئ وايي. د کاتهي ني د رود پر غاړه د سلطان خان او بیګم شمرو د پوځونو تر منځ جنګ ونښت. تر ماپښینه پورې د پښتنو باروت او توپونه ندرلودل. یو واري ئې ورو خغستل د بیګم شمرو یو بټالین پوځ ئې تر تېغ تېر کړ. پای ته ئې د مردکې تاب رانه ورمات سول. مرهټه پوځونه، د رای سنګه او شیر سنګه پوځونه او د راجا رام دیال ګوجر پوځ، چې مسلح ولاړ وو، د پښتنو پر لښکر برید وکړ. تقریباً اووه زره پښتانه شهیدان سول)



د ایسټ انډیا کمپنی اور باغي علما په ۱۱۶ مخ کې کښلي دي:
جنرال محمود خان د نواب معین الدین خان زوی. د نواب نجیب الدوله لمسی (؟) د ۱۸۵۷ ع کال د جون په میاشت کې خپله پاچهي اعلان کړه. د دهلي پاچا امیر الامراء ضیاء الملک محمد محمود خان بهادر ظفر جنګ لقب ور کړ. روهیله غازیان ده پر پر راټول سول. د انقلاب تر ځنډ وروسته انګرېزانو شهید کړ.

په ۱۸۵۷ ع کال د محمود خان خوریی نواب احمد الله خان، چې د نجیب آباد تحصیلدار و، یاغي سو.

شفیع الله خان هم د محمود خان خوریی و، په ۱۸۵۷ ع کال یاغي سو.

کریم الله خان د محمود خان خپل و، په دغه کال د دهامپور پیشکار و، دی هم یاغي سو.

(سرکشی ضلع بجنور. ۹۳–۱۰۵ مخونه)

......

- **ضابطه خان** (د نجابت خان مشر ورور)
- **نواب نجابت خان غُر غښتی** (په ۱۰۹۹هـ. ق. کال زېږېدلی و او په ۱۱۷۴هـ. ق. کال شهید سو. لومړی په پاني پت کي خاورو ته امانت وسپارل سو، بیا ئې د پاني پت تر سوبې وروسته، مړی گنجپورې ته راوړل سو)
- **د نجابت خان خور**
  - بنادي خان
  - داراب خان
  - سردار خان
  - میرباز خان
  - گښت باز خان

د نواب نجابت خان اولاد:

- **جمال خان** (په ۱۱۸۷هـ. ق. کال ومړ)
  - **عزیز خان** (د نواب دلېر خان زوم و)
- **نواب دلېر خان "دلېر جنگ"** (په ۱۱۳۸ هـ. ق. کال زوکړی او په ۱۱۹۸هـ. ق. =۱۷۸۳ع. کال مړ دئ. د پاني پت په جنگ کي د لوی احمدشاه بابا له خوا کرنال ته ولېږه سو، چي پر مرهټو باندي رسد او ازوغه بنده کړي)
- **کمال خان** (په ۱۱۹۶هـ.ق. کال ومړ)
  - **علي محمد خان** (څورلس کلن له پلاره پاته سو)
- **جلال خان** (جلال خان په ۱۲۰۴هـ. ق. کال ومړ. یوه شپږ کلنه لور ئې پاته سوه، چي بیا ئې کرم شیر خان ته واده کړه. د جلا خان ماینه په ۱۲۲۵هـ. ق. کال ومړله.)
- **خوشال خان** (زوی ئې نه سو پاته)
- **امان خان**
- **اختیار خان**

د نواب دلېر خان اولاد:

- **شمشیر خان** (د کمال خان زوم و. د پلار په ژوند ومړ)
- **گلشیر خان** (په ۱۱۹۸هـ.ق. د پلار پر ځای کښېناست. په ۱۲۲۰هـ.ق. د ۵۲ کالو په عمر مړ سو. دی او کرم شیر خان له یوې موره وو، مور ئې پښتنه وه. د کمال خان زوم و. په ۱۲۱۵هـ.ق. کال ئې د حسن خان بابړ لور وکړه. حسن خان د فیض الله خان روهیله په پوځ کي رساله دار و)
- **کرم شیر خان** (د جلال خان زوم و، بیا ئې د کمال خان لور وکړه. د کمال خان له لور څخه ئې دوه زامن وسوه، غلام نبي خان او نظام علي خان او د جلال خان له لور څخه ئې دوې لوڼې وسوې، چي نواب رحمت خان او نواب غلام محی الدین خان وکړې)
- **رحیم خان**
- **ناصر خان** (مور ئې راجپوته وه. دوی دواړه تر گلشېر خان مشران وو)
- **کامی خان**
- **نصیر خان**
- **فتح خان**
- **سعد الله خان**

د گلشیر خان اولاد:

- **نواب رحمت خان** (۱۲۳۸هـ.ق. کال د لوی اختر په میاشت، د ۵۰ کالو په عمر ومړ. د کرم شیر خان زوم و. ۱۸ کاله حکمران و. د لاړه منتهویو فرمان، چي ۱۸ جنوري ۱۸۰۸ع. تاریخ لري، د نواب رحمت خان په نامه دئ، اوگ: فرامین سلطاني، ۲۷۸ مخ!)
  - **بهادر جنگ خان** (په ۱۲۳۸هـ.ق. کال د پلار جانشین سو)
  - **غلام علي خان**
  - **شاهباز خان**
  - **جانباز خان**
- **نواب غلام محی الدین خان** (د کرم شیر خان زوم و)
- **غلام رسول خان**
- **غلام محمد خان** (دغه دري ورونه د حسن خان د لور زامن وو)
- **شیر علي خان**

سلطان خان عمرخیل

سلطان خان د نجیب الدوله کشر ورور و. په (۱۱۶۶ه.ق.) کال چې د ډهلي د دربار له خوا د سهارنپور پوځداري نجیب الدوله ته ورکړه سوه او نجیب الدوله سهارنپور ته ولاړ، سلطان خان له ناسیاله وزیر عمادالملک غازي الدین سره په ډهلي کي پاته سو[۱۳۰۱].

په (۱۱۷۰ ه.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ... ته ورسېد، سلطان خان یو خط د نجیب الدوله له خوا ده ته ورساوه.

په (۱۱۷۱ ه.ق.) کال چي د ډهلي دپاچا دوهم عالمګیر (۱۱۶۷-۱۱۷۳ه. ق.) زوی شهزاده علي ګوهر (دوهم شاه عالم) د ډهلي د ناسیاله وزیر له ظلمونو څخه نجیب الدوله ته پناه وروړه او سهارنپور ته ورغی، د نجیب الدوله له خوا ئې سلطان خان د خپل یوه تربور افضل خان سره مخي ته راووت.

په (۱۱۷۳ ه.ق.) کال چي نجیب الدوله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له لښکرو سره یو ځای، د مرهټو په جنګو اخته و، سلطان خان هم ورسره و. په (۱۱۷۴ ه.ق.) کال چي د مرهټو پوځونه او پښتانه غازیان په پاني پت کي سره مخامخ سول، سلطان خان د نجیب الدوله په پوځ کي د یوه غښتلي افسر په توګه حاضر و. نورالدین حسین خان فخري د احوال نجیب الدوله په ۲۳ مخ کي د دغه جنګ یوه واقعه داسي راوړې ده:

مرهټو او غازیانو چي په پاني پت کي یو د بل د جنګ له پاره اړولي وو، مرهټو کفارو به هره ورځ خپل توپونه د پښتنو غازیانو د لښکرو شاوخوا ته راوړل او مازدیګر به ئې بیر ته خپلي چهاوڼۍ ته وړل او غازیان به هم کله کله ورسره نښتل.

یوه ورځ د سلطان خان په مشرۍ، د روهیله پښتنو له مرهټو کفارو سره نښته وسوه، سلطان خان دغه پښتنو غازیانو ته وویل:

"که تاسي همت وکړئ، نن موږ پر مرهټو کفارو میندي بوري کوو".

غازیانو ورته وویل:

"بسم الله!"

سلطان خان چي د روهیله غازیانو موافقه حاصله کړه، مازدیګر چي مرهټو کفارو توپونه خپلو چوڼیو ته وړل، ده برید پر وکړ. د مرهټو رسالې د تېښتي په نیامت آسونه پونده کړل، روهیله غازیان سم په پسې وو او د کفارو چوڼۍ او سنګر ته ورننژدې سول. په کفارو یو وار،

(۱۳۰۱) سرګذشت نواب نجیب الدوله، ۵ مخ.

وارخطائي ګډه سوله. ټوله پوځ ئې که سپاره وو که پلي، په روهیله غازیانو پسي راووتل او مابنام ته نژدې یو عجب قیامت جوړ سو. د مرهټو د ټول پوځ حملې، د روهیله سپرو انتظام وشلاوه او د خپل لښکر خواته ئې آسونه را ایله کړل، مګر پلو روهیله غازیانو خپل بیرغونه د کفارو سنګر ته ورسول او نژدې و، چي د کفارو پر سنګر ور توی سي. په دې وخت کي د مرهټو کفارو رسالې د توپکو باړونه پر وچلول او ابراهیم ګاردي او بلونت راو، چي د بهاو د توپخانې مشران وو، له خپل پلي پوځ سره پسي را ورسېدل. روهیلیو پښتنو په دې جنګ کي رستمانه توره وکړه، بلونت رای (راو) دوه ځایه ولګېد غوزار سو، د ابراهیم ګاردي د توپخانې پوځ پر غازیانو مځکه سره کړه. یو نیم زر تنه (۱۵۰۰) پښتانه غازیان شهیدان سول. پاته غازیان په جنګ جنګ خپل لښکر ته رانژدې کېدل، مرهټه کفار تر یو ځایه په پسې وو، د شپې په تیاره کي خپلي چوڼۍ ته را ورسېدل.

د مادهوجي سیندهیا د کتاب په ۲۹ مخ کي کښلي دي:

"په دې حمله کي د نجیب خان د پوځ درې زره تنه (۳۰۰۰) پښتانه شهیدان سول".

سعادت خان اپرېدی

سعادت خان اپرېدی د نواب ضابط خان په پوځ کي منصبدار و. په (۱۷۷۲ع.) کال کي چي د ډهلي د دربار وزیر او مرهټو کفارو پر نواب ضابط خان باندي، د برید په نیامت لښکري ور وخوځولې، سعادت خان اپرېدي له خپلو څلورو سوو سپاهیانو سره، په دغه جنګ کي د نواب ضابط خان سره ګډون کړی و.

د دې برید په جریان کي چي د مرهټو لښکري، د (۱۷۷۲ع.) کال د فبروري د میاشتي په درویشتمه ورځ تر لمر ختو دوه ساعته پخوا، د چاند ګهاټ پر ګدر باندي، چي تر هردوار ډېر کښته واقع دئ، ورپوري وتلې او ناڅاپه برید ئې وکړ. د ضابط خان د پوځ پښتانه سپاهیان، چي ناخبره وو، په لومړۍ حمله کي سره تیت و پرک سول، مګر ډېر ژر ئې بېرته انتظام سم سو او پر مرهټو ئې داسي جوابي حمله وکړله، چي مرهټه ئې تر شا کړل.

په دغه وخت کي نجف خان له خپلو درنو توپو او په ټوپکو مسلحو لښکرو سره، پر پښتنو برید وکړ. په دې حمله کي د پښتنو ډېر سرداران، چي د جنګ په لومړي صف کي واقع وو، شهیدان سول او پښتانه پوځونه تر شا سول.

سعادت خان اپرېدي په دې جنګ کي د رستم کارنامې پرېولې او فقط دی د څلورو سوو سپاهیانو سره، په میدان کي د مغولو او مرهټو کفارو مقابلې ته پاته سو او د ترشا تګ پېغور ئې ونه مانه. د مرهټو او مغولو لس زره سپاهیان پر را وڅرخېدل، خونړۍ جنګ روان و، په دې ترڅ کي

د سعادت خان اپرېدي آس زخمي سو او له درېدلو ولوېد. پخپله سعادت خان هم پر ورنو باندي څو ځایه ټپي سوی و، مګر بیا ئې هم میدان نه پرېښوو، پر بل آس سپور سو او بیا ئې پر دښمنانو برید وکړ، مګر د ډېرو زخمو له لاسه غوزار سو.

سلیمان کیاني

ګولډ سمت کښلي دي:

سلیمان خان کیاني د سیستان د کیاني کورنۍ څخه و. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د سیستان حاکم و، مالیات ئې د کندهار دربار ته ورکول او په جنګو کي ئې هم څه پوځ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په مرسته لېږه.

سلیمان خان کیاني له (۱۱۶۰ هـ. ق.) څخه تر (۱۱۸۷ هـ.ق.) کال پوري د سیستان واکمن و[۱۳۰۲]. دې سړي خپله لور لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته ورکړې وه. محمود الحسیني د تاریخ احمدشاهي په لومړي ټوک کي په دې اړه داسي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه، چي په نهم جلوسي کال طوس او نیشاپور ته ولاړ، له هغه ځایه ئې محمود خان خواجه سرا سیستان ته ولېږه، چي د سلیمان خان کیاني لور راولي. نوموړی له ډېرو سوغاتو سره سیستان ته ولاړ.

علامه حبیبي صاحب رحمة الله علیه وایي:

"دغه کیاني کورنۍ د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د زوی تېمورشاه په امر له سیستانه کوهاټ ته فرار کړه سول او اوس د کیانیانو په نامه د دغي کورنۍ پاته شوني په کوهاټ کي سته.

رضا قلي خان جامي
(منیر الدوله)

د تاریخ احمدشاهي په ۴۳۱/۱ مخ کي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۸ هـ.ق.) کال د سنده له ولایته څخه مخ پر کندهار

[۱۳۰۲] آریانا مجله، پنځمه ګڼه، ۴۷ مخ.

روان و، کله چي بهاک نومي ځای ته ورسېد، عبدالله خان شاغاسي باشي او سردار جان خان د هندوستان د نویو نیولو سویو ځایو حاکم له ډېرو سوغاتو سره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغلل.

په دغه مزله کي د هندوستان د نوي پاچا دوهم عالمګیر له خورا رضا قلي خان جامي، د دوستۍ او ټینګار له خواهش او د دوهم عالمګیر د تخت نشینۍ له خبره سره، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغی او د خپل راوړي مکتوب جواب ئې، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره واخیست او ډهلي ته ولاړ.

د تاریخ احمدشاهي په ۶۲۵/۱ مخ کي کښلي دي:

"په (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سرهند ته ورسېد، غازي الدین وزیر د هندوستان د پاچا له خوا نوی سفیر رضا قلي خان، چي د جام له اوسېدونکو څخه و، د قلندر خان پوپلزي سره، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته، د دوهم عالمګیر له لیک سره را واستول. پخپله ئې هم یو لیک د اشرف الوزراء شاه ولي خان په نامه، د دوی په لاس را واستاوه".

د احوال نجیب الدوله په ۳۱ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لاهور ته ورسېد، د شمالي هندوستان د ټولو نوابانو وکیلان ډهلي ته ولاړل. د مغل پاچا دوهم شاه عالم له خوا، چي په دې ورځو کي ئې د بهار په عظیم آباد کي ژوند تېراوه، رضا قلي خان د شاهي وکیل په حیث، ډهلي ته ولاړ او له ډهلي څخه، له نجیب الدوله سره یو ځای مخ پر لاهور وخوځېدل او په امرتسر کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سول او د نجیب الدوله په واسطه ئې د لوی احمدشاه بابا رضي الله عنه له حضوره، د دوهم شاه عالم له پاره، د پاچهۍ خلات او د شجاع الدوله له پاره، د وزارت خلات حاصل کړل.

زین سنګهه لکهنوي په سلطان التواریخ کي کښلي دي، چي منیرالدوله (رضا قلي خان جامي) په (۱۱۸۷ هـ.ق.) کال ومړ.

ملا سردار خان کمالزی

(بخشي)

ملا سردار خان د نواب علي محمد خان روهیله د نوابۍ په زمانه (۱۱۳۵-۱۱۶۲ هـ.ق.) کي، د روهیلکند په دربار کي د بخشي ګرۍ وظیفه درلوده،[۱۳۰۳] ځکه په سردار خان بخشي سره مشهور دئ.

[۱۳۰۳] د سفرنامه اننددرام د مقدمې ۹۹ مخ.

د یوسفزي پټان د ٦١٦ مخ په حاشیه کي کښلي دي:
د نواب علي محمد خان روهیله د لښکر زیاتره برخه، د سردار خان (بن؟) مولم خان بن احمد خان بن شریف خان کمالزي تر مشرتوب لاندي ده.
په (١١٦٧ هـ.ق.) کال چي د روهیلکهنډ د سردارانو په سلا، حافظ رحمت خان برېخي د روهیلکنډ سیمي د نواب علي محمد خان روهیله پر زامنو او پښتنو سردارانو ووېشلې، کوټ او د هغه شاوخوا سیمي، ده ته په برخه کي ورغلې. د انتخاب یادګار د لومړۍ برخي په ٢٣ مخ کي له کوټ سره اهرات او سنهیا هم لیکلي دي.
د احوال نجیب الدوله په ١۵ مخ کي کښلي دي:
په (١١٧٣ هـ.ق.) کال چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پوځونو د تراوړي په ډاګ کي، بهورتیا مرهټه جرنیل ته ماتې ورکړه او د جمنا تر سیند، دوآبې ته راپوري وتل، ملا سردار خان د روهیلکهنډ له نورو پښتنو سردارانو سره، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو.
د میرزا مظهر جان جانان رحمة الله علیه (١١١٣-١١٩۵ هـ.ق.) له یوه خطه څخه، چي د میر محمد مبین خان په نامه ئې کښلی دئ معلومېږي، چي د سردار خان بخشي له خوا په رامپور کي، د میرزا جان جانان د خانقاه صوفیانو ته، د خرڅ له پاره مقرره وظیفه ورکوله کېدله. د میر مسلمان په مرګ سره دغه وظیفه لږ وخت بنده سوې وه. میرزا صاحب رحمة الله علیه کښلي دي، اوس چي بیرته دغه وظیفه جاري سوې ده، خوشاله یم[١٣٠۴].
د سردار خان یو زوی احمد خان و. په (١١٨٦ هـ.ق.) کال چي تکوجي هولکر له ډهلي څخه مرهټه لښکري مخ پر روهیلکهنډ ور وبهولې، د مراد آباد تر چور او د حسن پور تر سوځولو وروسته ئې، پر احمد خان برید وکړ او د هغه بار و بنه ئې چور کړه[١٣٠۵].
د سردار خان کمالزي یو لمسی نواب کلن خان و، چي د خان بهادر خان برېخي له خوا څخه په (١٢٧٣ هـ.ق.) کال د انولې حاکم مقرر سو[١٣٠٦].

د سردار خان کمالزي زامن:

د سردار خان کمالزي اته زامن پاته سول، چي نومونه ئې دا دي:

١- سعادت خان (د نواب دوندي خان برېښ زوم و)

٢- احمد خان

٣- شهامت خان

۴- محمد نور خان

[١٣٠۴] وګ: د میرزا مظهر جان جانان کی خطوط، ٦٧ مخ.
[١٣٠۵] وګ: سلطان التواریخ، ٢١۴ مخ.
[١٣٠٦] وګ: ١٨۵٧ع. کي مجاهد شعراء، ٣٢١ مخ.

۵-عبدالرحمٰن خان

٦-حبيب خان

٧-فقير خان

٨-محمد خان

مستقيم خان روهيله
(د شيخ كبير روهيله زوی)

د شيخ كبير يو زوی مستقيم خان و. په هغه جنګ کي چي د غازي حافظ الملک حافظ رحمت خان بړيڅي او انګرېز پرسته شجاع الدوله او انګرېزانو تر منځ، د موسلي په ډاګ کي پېښ سوی دئ، مستقيم خان داسي توره وکړه، چي تاريخ به ئې هيڅ کله هم هېره نه کړي.

کله چي حافظ رحمت خان بړيڅی، د غزا په نيت له څلوېښتو زرو پښتنو غازيانو سره، د شجاع الدوله او انګرېزي لښکرو د مخنيوي له پاره ور وخوځېد او د موسلي په ډاګ کي ئې د (۱۱۸۸ هـ. ق.) کال د صفري د مياشتي په لسمه ورځ (= ۲۲ اپريل ۱۷۷۴ع.) د غليم د لښکرو مخه ونيوله، سبا ئې چي د صفري د مياشتي يوولسمه او د اپريل د مياشتي درويشتمه وه، غليم د جنګ ډولونه وډنګول او صفونه ئې سره برابر کړل. کرنيل چمپين انګرېز د غليمانو د ګډو پوځونو سرلاړ (مقدمة الجيش) سو. ناسياله شجاع الدوله، ناسياله ضابط خان او ناسياله مظفر جنګ بنګښ له خپلو پوځونو سره د غليمانو د لښکرو په منځ کي ودرېدل. تر ټولو دمخه د انګرېزانو توپخانې د غازيانو پر لښکر باندي د ګوليو باړونه وچلول. پښتانه اتل د شيخ كبير روهيله زوی "مستقيم خان روهيله" له دريو زرو سپرو سره، له کيڼي خوا څخه د پرنګيانو پر توپخانه مخامخ ور وځغستل، څو توپونه ئې څني ونيول او د ډېرو انګرېزانو ميندي ئې بوري کړلې.

د مستقيم خان روهيله زامن:

د مستقيم خان زوی نجو خان و. نجو خان د حافظ رحمت خان بړيڅي له خوا د اټاوې د سيمي حاکم و. د نواب غلام محمد خان روهيله او پرنګيانو تر منځ، چي په دوجوړه[۱۳۰۷] کي جنګ پېښ سو، نجو خان په دغه جنګ کي شهيد سو.

تر مرګ لې موده دمخه ئې د رامپور د واکمن، نواب فيض الله خان بړيڅي لور راود کړې وه.

[۱۳۰۷] "دوجوړه" د يوه رود نوم دئ، چي له بريلي څخه تقريباً څلور کروهه ليري واقع دئ. (عماد السعادت، ۱۵۲مخ)

قاضي ملا فيض الله دولتشاهي (دولتبنی)

قاضي ملا فيض الله خان د دولتبنی د قاضي ملا ادريس دولتبني كشر ورور و. ملا فيض الله د تيمورشاه سدوزي معلم، خاص امام (پيش نماز) او قاضي عسكر و. د تيمورشاه سدوزي د هرات د نائب الحكومگۍ په دوران كي، دی ورسره و. ملا فيض الله دولتبنی په (١١٩٦ ه.ق.) كال د تيمورشاه سدوزي له حضوره، د "اقضی القضاة" يا "قاضی القضاة" په رتبه مقرر سو.

د خواجه معين الدين د سيرت نبوي يوه نسخه، چي د (١٢٣٠ ه.ق.) كال د ذی القعدې د مياشتي په دريمه ئې ليكونكی (مستنسخ) له ليكني فارغ سوی دئ، ما (رشاد) وليدله. د هغې نسخې په سر كي پر يوه ټوټه پاڼه باندي، دغه مضمون ليكلی دئ:

"سير شريف خواجه معين الدين نقشبندي اتبعت هذا الكتاب المستطاب من بعض الدلالين فی بلدة الكشمير صينت عن الغلاء والتدمير بمبلغ خمسه بيض بعلاوة اربعة سود امعاء لمرضات الله الكريم و طليا لمثوباته الجزيل يوم السبت سابع و عشرين خلت من شهر جمادی الاولی سنه الف و ماتين و ثلث و ثلثين (١٢٣٣ ه.ق.) من الهجرة النبويه علی صاحبها الآف الصلوة والتسليمات والتحيات.

و انا الفقير الحقير الراجی عفو الله الكريم الكبير ملا ...[١٣٠٨] الدولتشاهی نسباً و الحنفی مذهباً والقادری مشرباً ابن مولانا المغفور المرحوم المبرور قاضی فيض الله خان عامله الله الملك المغفور المنان بالمغفرة والعفو والاحسان بحرمة النبی المبعوث اخر الزمان صلی الله عليه و اله و اصحابه فی كل حين و آن كلما ذكره الذاكرون و كلما غفل عن ذكره الغافلون".

د دغي ليكني په اړخ كي يو مهر هم سته، چي پر هغه كښلي دي "قاسم نقشبندی"[١٣٠٩] تر مهر لاندي كښلي دي مالكه خاتمه.

د يوه (بل) كتاب پر پښتۍ ليكلي دي:

"فياض الدوران .... استاد سلطان ابن سلطان تيمورشاه دردران قاضی القضات اخوند ملا فيض الله خان .... دولت شاهی نسباً و حنفی مذهباً و قادری مشرباً و زبيری مسلكاً".

د قاضي فيض الله په ستاينه كي محمود الحسيني المنشي د تاريخ احمدشاهي په

[١٣٠٨] د دغه نوم پر ځای په بل قلم ملا سيد حبيب ابن ملا سعد الدين كښلی دئ او اصل نوم پاک كړه سوی دئ.

[١٣٠٩] د كتاب په پای كي كښلي دي: "سير شريف تصنيف حضرت خواجه معين الدين هادی نقشبندی علوی الحسينی نورالله مرقده بعض بدستخط عاصی پر معاصی خواجه قاسم و بعض بدستخط نور چشم سعادت آئين خواجه سيف الدين نقشبندی فرزند فقير...

۷۱۳/۲ - ۷۱۴ مخو کي ليکلي دي:

"چون در این اوقات خجسته ساعات آن مقدمات مفصلاً و مشروحاً معروض ایستادگان بارگاه شاهنشاهی گشت، حکم همایون و امر بشارت مقرون، به شرف نفاذ پیوست که افضل فضلای عالی مقدار و اعلم علمای روزگار، اشرف صلحای خداشناس حق آگاه، اعظم عظمای بارگاه ظل الله، مقرب پایهٔ سریر خلافت، مبصر کار فرمایی قلم و شمشیر، منبع الجود و الامتنان، لایق مرحمت والاحسان، ملا فیض الله خان، برادر ملا ادریس خان که در علم فقه و حدیث بی مثل و بدل و در شیوهٔ زهد و تقوی مشهور جمهور و ضرب المثل به حسن خلق و لطف طبع و علو همت و وفور سخاوت و کمال شجاعت و حسن صورت و سیرت موصوف و به عظم شأن و سمو دودمان و صفت فضل و احسان معروف می باشد و فروغ خاطر افادات مآثرش شبستان امید و انوار کمالات را نور و ضیا می بخشد، از ولایت کابل به دار السلطنه لاهور رفته به تعلیم و تدریس پادشاه خورشید دیهیم قیام و اقدام نماید.

عطا کرد خاقان مالک رقاب — به او خلعت خاص چون آفتاب
ز تفویض درس شه ارجمند — نمودش مباهی و هم سربلند
به او داد جیقه شه لطف کیش — فرستاد در نزد فرزند خویش
به فرمان فرمان ده روزگار — شه دُرّ دُرّان والاتبار
روان گشت آخوند عالی جناب — ز کابل به لاهور با صد شتاب
سزاوار تعلیم آن شهریار — نبودی کسی غیر آن نامدار
کسی غیر او این لیاقت نداشت — برای همین شاه او را گماشت

الحق آن جناب، فاضلی است بی مثال و عدیم النظیر و سخن سنجیست صاحب کمال و روشن ضمیر. سعادت مندیست که از جبین مبینش انوار خداشناسی و پرهیزکاری باهر و ارجمندیست که از اسم فیض طلسمش فیض نامتناهی الهی ظاهر است:

از آن روی فیض اللهش نام شد — که فیضش برای جهان عام شد
چو او هست ینبوع فیض اله — برای همین گشت استاد شاه
چو بود او خداترس و پرهیزگار — مقرّب نمودش شه کامگار
مقرب نباشد چرا پیش شاه؟ — که دریای علم است و فیض اله

د ملا ګندم علي هراتي په کرامت نامه کي ملا عزيز الله کښلي دي:

"د قاضي فيض الله او نورو احمد شاهي اميرانو زړونه سره ښه نه وو، ځکه نو د هغو په لمسون لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له هراته څخه قاضي فيض الله خان کندهار ته ور وغوښت. قاضي فيض الله خان په دغه وخت کي، په هرات کي له شهزاده تيمور سدوزي سره اوسېد، مګر کله چي کندهار

ته ورسېد او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو، ونه څوړول سو[۱۳۱۰].

د ملا فیض الله دولتبني په باب، د آریانا مجلې د ۲۷۶ پرله پسې ګڼې په ۴۵ مخ کي ځیني غلط معلومات کښلي دي، لکه:

د شاه زمان سدوزي په زمانه کي د قاضي فیض الله دولت شاهي رسوخ زیات و، ځکه چي دی د شیخ احمد سرهندي رحمة الله علیه شاګرد ګڼل کېدئ، دا شیخ باجوړ ته نژدې په "ایواشته" نومي ځای کي اوسېد.

عزیز الدین وکیلي پوپلزي د تیمورشاه دراني په ۸۰ مخ کي د مجمل التواریخ د ۱۲۲ مخ په حواله کښلي دي:

د شاه زمان سدوزي په پاچهی کي ئې د قاضي القضاة ملا فیض الله خان دولتبني ټول جایدادونه ضبط کړه او دی ئې په بالاحصار کي بندي کړ او تر مرګه پوري ئې له بنده راونه ایست.

د ملا فیض الله دولتبني یو زوی ... نومېد. بل زوی ئې سعد الدین او لمسی ئې سید حسین نومېدئ (؟)[۱۳۱۱].

د کابل د زاړه ښار په ... برخه کي یوه کوڅه د قاضي فیض الله په نامه مشهوره ده او یو د قاضي باغ هم سته.

قاضي فیض الله خان او ارسلا خان مهمند[۱۳۱۲]:

عزیز الدین وکیلي پوپلزي د تیمورشاه دراني په ۲۸۰/۱ مخ کي د فیض الله خان دولتبني او ارسلا خان مهمند په باب داسي کښلي دي:

"ارسلا خان مهمند که گاهی اورا اسد الله خان یاد کنند، در عهد سلطنت اعلیحضرت احمدشاه غازی رحمة الله علیه وقتی به صوبه داری سهرند (سرهند) مقرر گشته و لقب سرداری قوم مهمند نیز باو عنایت شده بود.

مذکور باعزاز مراتب خود و احسان شاهنشاه درانی اعتنا نکرده در سال ۱۱۹۰هـ. ق. که اعلیحضرت تیمورشاه برای گذشتاندن ایام زمستان در پشاور نزول اجلال داشت، بهمدستی فیض الله خان خلیل خیل مهمند و یاقوت خان خواجه سرا و میا محمدی بن شیخ عمر چمکنی رحمة الله علیه به خیال سوء قصد علیه تیمورشاه و انقراض سلطنت درانی کمر بست. در اثناء گیر

(۱۳۱۰) آریانا مجله، ۲۹۱ ګڼه، ۵۴ مخ.

(۱۳۱۱) د عزیز الدین وکیلي پوپلزي لیکنه.

(۱۳۱۲) د علامه رشاد رحمة الله علیه په لاسکښلې نسخه کي د دې عنوان ذکر سوی و، خو نور څه نه و ورته کښلي، د عنوان اړوند موضوع مو پر له نوموړي ماخذ څخه ورته رانقل کړه.

(علامه رشاد اکاډیمي)

و دار که فیض الله خان و دیگر سرکردگان با شش هزار نفر لشکر قومی او مقتول و مستاصل شدند و تمامی سرکشان و محرکان بکیفر کردار خود رسیدند، ارسلا خان از هیبت و عظمت تیمورشاه در میان قوم خود پناه برد. و اینکه دانست اعلیحضرت تیمورشاه قطعاً دست از انتقام آن عمل باطل آنها بر نمی دارد و جرم آن را به هیچ وجه بخشیدنی نیست، در میان قوم مهمند قیام نتوانسته، کوه گردی را اختیار نمود.

و اینکه طریق امرار حیات بروی او مسدود گردید، شیوه قطاع الطریقی در پیش گرفت و در موضع دکه[۱۳۱۳] واقع دهنه خیبر در قلعه خود مستعد فساد نشسته و از اقوام افریدی و مهمند جمعی را باخود متفق و شریک ساخته، مانع عبور و مرور قافله داران و بازرگانان و بعض دسته های مختصر قشون شاهنشاهی میگردید. و از تاجران و قافله داران، کسانیکه یک اندازه پول بوی میدادند، از جانب خود نفر محافظ همراه کرده از دره خیبر به سلامت میگذرانید و با آنکه چند بار قشون شاهنشاهی جهة بدست آوردن او همت گماشت، ولی از صعوبت راه در ان جبال شامخ بر استواری قلعه او بر فراز کوه ظفر نیافتند. و چون این وضعیت ادامه پیدا کرد، در اوقاتی که اعلیحضرت تیمورشاه درانی از واقعات کشمیر و دیار پشاور فراغت حاصل نمود، در بالاحصار پشاور روزی اعضاء دربار را که بعض وزیران و حکام و صاحبمنصبان حاضر بودند، از باعث بدست نیاوردن ارسلا خان در ظرف شانزده سال مورد عتاب قرار داده و فرمود که دلیل بدست نیاوردن یک نفر دزد با همه وسائل دولتی شاهنشاهی چه است؟ قاضی فیض الله خان دولتشاهی که دانست خاطر خطیر شاهنشاهی بر سر این مسئله سخت آزرده است و احدی انجام تعهد این خدمت نمی نماید و نمی تواند، از حیث تسکین نائره غضب شاهنشاه، عارض شد و بدست آوردن ارسلا خان را بر ذمت خود گرفت، قاضی فیض الله خان چون چاره دیگر بجز شرائط صلح و رابطه دوستانه نداشت، در حاشیه قرآن مجید مهر و امضاء کرده به ارسلا خان فرستاد که من از خطایای گذشته ارسلا خان شفاعت می کنم و هم تضمین مینمایم که در صورت تسلیم نمودن از جانب خلق و تیمورشاه کمترین آسیبی عائد حال آن مرد آواره نگردد. و چون من تضمین این شفاعت و تعهد این خدمت بحضور شاهنشاه کرده و وسیله آشتی طرفین شده ام خود را بمن تسلیم کن تا بحضور اعلیحضرت تیمورشاه مشرف ساخته بنائره غضب شاهنشاه و روزگار پر مشقت و عسرت ارسلا خان خاتمه بدهم.

ارسلا خان از روی ایمان و هم آنکه مدت شانزده سال را با منتهای عسرت و کوه گردی و محصوریت در قلل جبال گذرانده و تا اینوقت از بیم جان و نظر به آن اعمال شنیع که بارها ارتکاب کرده و وسیله عفو جرائم و رابطه آشتی در این مدت نیافته بود ناچار خود را نزد فیض الله خان دولتشاهی قاضی القضات و پیش امام عسکری، بنا بر طلب موکد به سوگند او

(۱۳۱۳) منشی عبد الکریم علوی در رساله حالات افاغنه "دهکا" یاد میکند و به یقین منظور او "دکه" است.

رسانید. قاضی فیض الله خان ارسلا خان را بحضور اعلیحضرت تیمورشاه رسانید و عرض کرد تا اورا بقتل رساند. تیمورشاه فرمود؛ بعد امان دادن کشتن خلاف قانون است قاضی فیض الله خان چون در فکر خود ناکام شد بالاخر اهالی ستمدیدگان و مدعیان ارسلا خان را که از دست او در سالیان دراز زجر و زحمت دیده بودند، تحریک کرد تا عرائض گوناگون نگاشته گاه و بیگاه بحضور شاهنشاه به تقدیم رسانند.

تیمورشاه از روی کثرت عرائض مردم اورا در پای پیل بسته در شهر پشاور بگردانید[۱۳۱۴] چون این معامله بپای رسید، کسانیکه ازین ماجرا اطلاع داشتند سخت متاثر و هم دچار حیرت شدند و قاضی فیض الله خان از سوگند و عهدی که با او بسته و با آنکه در حاشیه قرآن مجید مهر کرده بود بدون آنکه جزئی معاونتی نماید به تحریک مردمانی که با ارسلا خان مدعی بودند میکوشید و بدینگونه باعث قتل او شد. و این بدعهدی بزرگ در نزد مردمانی که پوره خبر داشتند به قاضی فیض الله خان نسبت شد و کسان بی خبر به تیمورشاه نسبت میدادند و اگرچه منشی احمد جان مولف (مترجم) تاریخ افغانستان این عهد و سوگند ناحق را به اعلیحضرت تیمورشاه نسبت میکند، مگر هیچ حقیقت ندارد، چه دو مورخ معاصر آنوقت پشاور امام الدین حسینی و منشی عبد الکریم علوی در فصل چهارم و دوم مولفات خویش این قول را رد می کنند و مسئول این کردار قاضی را می شمارند و دلیل قوی تر از همه آنست که اعلیحضرت زمانشاه در آغاز سلطنت خویش قاضی فیض الله خان را بدو گناهی که مخاطب داشت و محکوم به حبس زندان و مصادره پول نقد چندین ساله و تمام جایداد فرمود این بود که:

اول: قاضی فیض الله خان بنا بر فرمانی که او از حضور اعلیحضرت تیمورشاه حاصل کرده و در سال شش هزار رُپیه بنام صرف نسوار دماغ از خزینه دولت می ستاند و بفحوای (ان المبذرین کانوا اخوان الشیاطین) او را مقهور و مغضوب گردانید.

دوهم: همین عهد سوگند ناحق او بود که در مورد ارسلا خان مهمند بجا نکرده و تیمورشاه را در نزد مردمان دور دست که ازین راز آگاه نبودند بدنام ساخت و تیمورشاه را بروزهای اخیر زندگانی چنان متأثر ساخت که از فرط غصه و تشویش تا حالت نزع بخود قرار نداشت و اظهار تأثر در این باره مینمود، و پس از این گفت و شنود که زمانشاه حقائق ایام توقف تیمورشاه را در پشاور بعد از ارتحال پدرش، از زبان خوانین و روشناسان اقوام مهمند، یوسف زائی، اشنغری وغیره شنید، قاضی را به زندان بالاحصار کابل محبوس و بهمانجا جان اورا بجان آفرین سپرد. مال و جایدادش را ضبط و مصادره نمود ......".

[۱۳۱۴] فصل ۴۲ تاریخ حسین شاهی و فصل ۴۲ تاریخ احمد و تاریخ افاغنه اثر سید ظهور الحسن خان در ذکر وقایع پشاور در عهد تیمورشاه.

قاضي عبدالرسول پوپلزی

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په وختو کي قاضي عسکر و، په (۱۱۷۹ ھ.ق.) کال په دغه رتبه مقرر سو او په هغه فرمان کي، چي په (جمعه ۳ ربیع الاول ۱۱۸۶ ھ.ق.) لیکل سوی دئ، لا د ده دغه رتبه لیکلې ده.

د قاضي عبدالرسول خان پوپلزي زوی قاضي عبدالرحیم په (۱۱۸٦ ھ.ق.) کال د تیمورشاه سدوزي په فرمان، د کندهار قاضي القضاة مقرر سوی دئ.

د دوی دواړو په مهر کي "قاضی اسلام" لیکلی و.

سردار فتح خان
(خانسامان)

د سفرنامه انندرام په مقدمه کي کښلي دي:

"فتح خان په سخا، دلاوري، امانت او دینداری کي ساری نه درلود. دی د نواب علي محمد خان روهیله په وختو کي خانسامان و[۱۳۱۵]".

انندرام مخلص په مرآت الاصلاح کي راوړي دي:

"خانسامان یا میر سامان د هندوستان د پاچهانو په اصطلاح د خرڅ وزیر ته وایي".

د خانسامان رتبه لویه رتبه ده، ټولو (شاهي) مصارفاتو په ده اړه درلوده.

قدرت الله شوق د طبقات الشعراء په ۵٦۳ مخ کي کښلي دي:

د سخا او دلاوری د کان فتح خان خانسامان، د نیکنامی آثار د ده تر مرګ وروسته هم پاته دي.

په (۱۱٦۷ ھ.ق.) کال چي د پښتنو سردارانو په سلا، حافظ رحمت خان بړیڅي د روهیلکهنډ سیمي، د نواب علي محمد خان روهیله پر زامنو او د روهیلکهنډ پر نورو پښتنو سردارانو وویشلې، ده ته بدایون او اسهت او د هغه شاوخوا سیمي په برخه کي ورسېدلې.

محمد معظم عباسي د ده د مرګ تاریخ د سعدي شیرازی رحمة الله علیه په دې بیت کي، د یوه توري په تغییر، داسي موندلی دئ:

[۱۳۱۵] وګ: د دغه کتاب (سفرنامه انندرام) ۹۹ مخ.

نمرد آنکه ماند پس از وی بنایی
پل و مسجد و چاه و مهمانسرایی

د فتح خان زامن:

۱-ذوالفقار خان: کشر زوی ئې دئ، شاعر هم و. د اردو بیتونو نمونه ئې د طبقات الشعراء په دریمه مقاله کې سته.

د فتح خان ودانۍ:

۱-فتح خان د سوت[۱۳۱٦] پر رود باندې بدایون ته نژدې یو پل ودان کړی و، څه موده وروسته دغه پل سېل یوړ[۱۳۱۷].

۲-فتح خان د آنولې د ښار په شاوخوا کې یو ناور (تالاب) جوړ کړی دئ، محمد معظم عباسي بریلوي د هغه د جوړېدلو تاریخ داسې ویلی دئ:

"آئینه رونمائی چرخ".

۳-فتح خان په آنوله کې یو مسجد هم جوړ کړی دئ، چې د فتح خان په مسجد مشهور و. محمد معظم عباسي ئې تاریخ د سعدي شیرازي رحمة الله علیه په دې نیم بیتي کې، داسې پیدا کړی دئ:

"فطوبی لباب کبیت العتیق"

سردار احمد خان نورزی

تر (۱۲۰۰ ه.ق.) کال پخوا چې پښتنو پوځونو د تیمورشاه سدوزي په امر نیشاپور ونیو او په مشهد کې بیا نظم جوړ سو، د دغه پوځونو یو مشر احمد خان نورزی و[۱۳۱۸].

شاه زمان سدوزي چې د شاه محمود سدوزي جنګ ته په (۱۲۱٦ ه.ق.) کال له کابل څخه

[۱۳۱٦] دغه رود د مراد آباد د حکومت د پیلا کهنډ له سیمې څخه راوزي، د اسلام نګر، اسهت او مراد آباد په سیمو کې تیرېږي او د ډهایي ګهاټ په حصه کې ګنګا ته توئیږي. پر ختیزه غاړه ئې د بسولي، ستاسي او بدایون سیمې واقع دي او پر لوېدیزه غاړه ئې د کوټ او اجانې سیمې پرتې دي.

[۱۳۱۷] د سفرنامه انندرام مخلص مقدمه، ۱۳۱ مخ.

[۱۳۱۸] آریانا مجله، ۲٦۳ پرله پسې ګڼه، ۷۲ مخ.

لښکر یوست، مشر ئې سردار احمد خان نورزی و. سر اسپ (کلات) ته چي احمد خان ورسېد، د
شاه محمود ملګری سو. احمد خان ډېر خودرأیه او متکبر سړی و.
احمد خان ډېر پر خوره و، یو پسه ئې پر یوه ځای خوړ(۱۳۱۹).

د بالاحصار په دوهم ټوک کي کښلي دي:
په (۱۲۱۸هـ.ق.) کال چي غلجي او عبدالرحیم هوتک، شاه محمود سدوزي ته پورته سول،
ده مختار الدوله شیر محمد خان بامېزی، احمد خان نورزی او اکرم خان غلزی (غلجی) له
بندیخانې را وایستل او د دښمن مقابلې ته ئې ولېږل. د (۱۸۰۱ع.) کال د نومبر په ۱۲ د غه لښکر
له کابله را ووت.

مانسټوارټ الفنسټون د کابل د پاچهي (سلطنت) په ۲۹۳/۱ مخ کي، په (۱۸۰۹ع.) کال د
احمد خان نورزي په باب کښلي دي:
"د هغه وخت تر ټولو غوره مشر احمد خان نورزی و، د نورزیو دستري قبیلې سرکرده او د لوی
احمد شاه بابا رحمة الله علیه له څو پاتو عسکرو څخه یو عسکر و. دی د زیات قوت او جسامت خاوند و.
که څه هم عمر ئې تر اویا کلو څه اوښتی و او یو څه چاغ و، خو د پخوانی قوت یو څه نښې
پکښې ښکاره وې او تر اوسه هم یو ښه ښکلی شخص و. رنګ ئې سپین او پزه ئې هسکه او
جګه وه، قواره ئې ښه جګ وه. ښه لویه ږیره ئې لرله او غمبوری ئې له وېښتو ډک و.
په سلوک کي ښه ساده و، چي د صمیمیت او تند توب مینه ورسره ملګرې وه، دا هغه
خواص وو، چي ده د هغو په ساتلو سره افتخار کاوه......".
احمد خان نورزی د کابل په سیاه سنګ کي، د حضرت جي صاحب رحمة الله علیه (شاه عزت الله
مجددي بن غلام محمد معصوم مجددي رحمة الله علیه ۱۲۰٦هـ.ق. مړ) پښنو ته ښخ دئ(۱۳۲۰).

نواب عنایت خان بړیڅی

عنایت خان بړیڅی د نواب حافظ رحمت خان بړیڅي مشر زوی دئ. توریالي عنایت خان
بړیڅي د پاني پت په تاریخي غزا کي ئې هم برخه اخیستې ده او د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه او
پښتني پوځونو سره په ګډه ئې، د مرهټي کفارو په وړاندي د غزا بیرغ اوچت کړی و.
وایي په دې لوی جنګ کي عنایت الله خان بړیڅي له خپل پوځ سره د غلیم پر لښکر مخامخ
ورو ځغستل او په ډېره مېړانه سره، د غلیم د لښکر په منځ ورننه ووت. مرهټه پوځونه له هري خوا

(۱۳۱۹) بالاحصار کابل، د کابل چاپ، دوهم ټوک.
(۱۳۲۰) مزارات شهر کابل، ۷۵ مخ.

پر راوګرځېدل او د بيرته ستنېدلو ټولي لاري ئې پر وتړلې. لوی احمد شاه بابارحمه الله چې د غازيانو د ټولو پوځونو اداره ئې په لاس کي وه، د دې خبر په اورېدلو سره ئې سمدستي توريالی حاجي عطايي خان وګماره، چي له خپلي رسالې سره د ننګيالي عنايت خان مرستي ته ځان ورسوي او د مرهټو پوځونو په ناپايه درياب کي، د عنايت خان غوندي بې بها مرغلري په مونډلو پسي غوټې ووهي. توريالي حاجي عطايي خان د امر په اورېدلو سره، په ډېره بېړه او اشتياق، پر مرهټو کفارو بريد وکړ او د غليم په پوځ زغرد ورننه ووت.

توريالي عطايي خان د اسلام د ننګي او عنايت خان بړېڅي د مرستي او خلاصون له پاره هغه توري ووهلې، چي د هغه وخت د مورخينو په شهادت، د رستم او افراسياب کارنامې د هلکو بازۍ ورته ايسېدلې. پای ته يوه ګولۍ پر ونښتله او د شهادت کټوری ئې پر سر واړاوه.

وايي؛ د مرهټو کفارو د لښکرو سپهسالار بهاو، عنايت خان بړېڅي وژلی دئ. د مرهټو کفارو تر ماتي وروسته، د دغي مېړاني په صله کي د لوی احمد شاه بابارحمه الله عليه له حضوره څخه ده ته، اووه زري منصب، د نوابۍ خطاب، خاص آس، نغاره او توغ ورکړل سوه او د اټاوې سيمه ئې د جاګير په توګه ور وبخښله[١٣٢١].

په (١١٧٨ هـ.ق.) کال چي شجاع الدوله د مرشد آباد د نواب "قاسم علي خان" پر سيله، له انګرېزانو (ايسټ انډيا کمپنۍ) سره جنګېدئ، د روهيلکهنډ له سردارانو څخه ئې مرسته وغوښتله. نواب حافظ رحمت خان بړېڅي پنځه زره (٥٠٠٠) سپاره، د خپل زوی عنايت خان بړېڅي تر مشرتابه لاندي ورواستول. شجاع الدوله چي په پټنه او بکسر کي د خپلو نمک حرامو سردارانو د ټګي او خيانت له لامله ماتې وخوړله، نواب عنايت خان بړېڅی بريلي ته راستون سو.

له نواب عنايت خان بړېڅي څخه د رامپور د نواب فيض الله خان روهيله سکه خور "شاه بيګمه" وه[١٣٢٢].

سردار مدد خان ساګزی

سردار مدد خان ساګزی د احمدشاهي دورې د تر ټولو جنګيالي سردار شاه پسند خان ساګزي زوی دئ. تر نوميالي او جنګيالي سپهسالار سردار جان خان پوپلزي وروسته، سردار مدد خان ساګزی د تيمورشاه سدوزي تکړه او بريالی سپهسالار و.

[١٣٢١] وګ: حيات حافظ رحمت خان، ١٤٠ مخ. مګر مرتضی حسين بلګرامي د حديقة الاقاليم په ٦٣١ مخ کي د اټاوې ورکړې صله، د نواب حافظ رحمت خان بړېڅ په نامه ضبط کړې ده.

[١٣٢٢] وګ: اخبار الصناديد، ١/١٩٧ مخ.

تر (۱۲۰۰ هـ.ق.) کال پخوا د تیمورشاه سدوزي په امر، سردار مدد خان ساگزي پر نیشاپور برید وکړ او هغه ځای ئې ونیو[(۱۳۲۳)].

کله چي تیمورشاه سدوزی (۱۱۸۶-۱۲۰۷ هـ. ق.) د بهاولپور د یاغي نواب "بهاول خان" د ځبلو له پاره ملتان ته روان سو، سردار جان خان او د هغه مشر زوی کریم خان ئې ورسره بوتلل. بهاول خان چي د تیمور شاه په ورتګ خبر سو، په "دیه راول" ښار کي، چي د ملتان جنوب شرق ته پنځه دېرش کروهه لیري واقع دئ، وتښتېد. د تیمورشاه سرلاړ پوځ چي بهاولپور ته روان و، په لار کي ئې دغه ښار ولوټه، مګر بهاولخان یوه بل ښار ته، چي په چول کي واقع و، وتښتېد. تیمورشاه یو تکړه پوځ د سردار مدد خان ساګزي او سردار جان خان په مشري پسي ولېږه، دې پوځ هغه ښار ونیو او بهاول خان و زوی ئې بندیان تیمورشاه ته راوستل.

د تاریخ بلوچستان په ۱۵۸ مخ کي لیکلي دي:

په (۱۷۸۸ ع.) (= ۱۲۰۳ هـ.ق.) کال تالپور بلوڅو میر عبد النبي کلهوړه، د سند والي له سنده هسي واخیست. عبد النبي لومړی نصیرخان ته پناه یووړه. نصیرخان د زهري بلوڅو یو پوځ د زرک زهري تر مشرۍ لاندي ورسره کړ. په جنګ کي زرک وواژه سو او لښکرو ئې ماته وکړه. میر عبد النبي د جنګ له میدانه څخه، د تېمورشاه سدوزي دربار ته په عرض ورغی. تېمورشاه په (۱۷۹۰ ع.) (= ۱۲۰۵ هـ.ق.) مدد خان ساګزی له شپږو زرو سپرو سره، د میر عبد النبي په مرسته سنده ته ولېږ او نصیرخان ته ئې وکښل، چي ته هم خپل پوځ ورسره ملګری کړه.

په جنګ کي تالپور بلوڅو ماته وکړله، د عمر کوټ په کلا ننوتله. پښتنو او بلوڅو پوڅو اووه میاشتي کلابندي ټېنګه کړله، پای ته تالپوران تسلیم ته مجبور سول او سوله (صلحه) ئې وکړه. د صلحنامې له مخي تالپوران له عمرکوټه ووتل. سردار مدد خان ساګزي هلته واړول، څو ورځي وروسته ئې عمرکوټ، میر عبد النبي کلهوړه ته وسپاره، پخپله افغانستان ته ولاړ.

کله چي د حاجي کریمداد خان بامېزي زوی آزاد خان (د کشمیر حاکم) یاغي سو او د قسطنطنیې د پاچا په نامه ئې خطبه وویله، د تیمورشاه سدوزي له خوا سردار مدد خان ساګزی له پنځوسو زرو (۵۰۰۰۰) سپرو سره، د آزاد خان ځبلو ته وګماره سو. له سردار مدد خان څخه آزاد خان مات سو، پونجهـ ته ولاړ او هلته د پونجهـ راجه رستم خان کلا بند کړ. اسلام خان د مدد خان له خوا د آزاد خان د نیولو له پاره پونجهـ ته ورغی. آزاد خان چي ځان کلابند ولید، ځان ئې وواژه. اسلام خان سردار مدد خان ته د آزاد خان سر ولېږه او هغه کابل ته واستاوه. د دې ویرجني پېښې تاریخ یوه شاعر داسي ویلی دئ:

در تواریخ یکهزار و دو صد
ظلم آزاد رسید مدد

(۱۳۲۳) آریانا مجله، ۲۶۳ ګڼه، ۷۲ مخ.

مانسټوارټ الفنسټون (۱۸۵۹ع. مړ) د کابل سلطنت بیان په ۲۹۲/۱ مخ کي کښلي دي:

"(سردار) مدد خان د ساګزیو سرکرده و، چي د هغه نیکه د پارس په جنګونو کي ښه نوم ګټلی وا و ویل کېږي، چي په یوه جنګ کي ئې نادرشاه افشار زخمي کړی و. په درانیو سردارانو کي د ده پلار تر ټولو ستر او تر ټولو جنګیالی و. پخپله (سردار) مدد خان ډېر شته لرل او د ښه عزت خاوند و. که څه هم ده په ډېر شان او شوکت سره ژوند نه کاوه، خو په دې یاد و، چي په سلوک، کړو او لباس کي د اعتدال خاوند و. ویل کېده، چي دی د ښې تربیې او استعدادونو څښتن و، خو دا د ده د استعداد په باب کوم لوی فکر نه ورکوي، چي د ده تحصیلات په خاص ډول په داروګري او طالع لیدلو (استرولوجي) کي وو. ده د داروګرۍ فن د دې له پاره غوره کړی و، چي خپل ځان ئې ضعیف و او هغه بل مسلک ئې د دې له پاره اختیار کړی و، چي هغه وختونه ډېر نا ارام وو، چي ده پکښي ژوند کاوه، سره له دې هم دی ډېر محبوب و او د حاکمیت په باب ئې د معلوماتو لرلو په وجه، په جنګ کي د تجربې او زړه ورتیا لرلو په سبب او په حقیقت کي له سخاوت غیر بل هر شي که ښه نوم لاره.

د قول او عهد په باب د ده کرکتر دومره ښه و، چي حتی په ژوندانه کي، چي ډېري سختی هم پرې راغلي وې، له ده څخه دا نه و غوښتل سوي، چي لوړه وکړي. که څه هم دا حقیقت پټ پدلی نه سي، چي ده هرات، چي د شاه زمان له خوا ده ته سپارل سوی و، د دغه پاچا رقیب ته تسلیم کړ، خو له هغو خبرو څخه چي ده پخپله د دغي موضوع په باب کړي دي، داسي ښکاري، چي دی دغه کار ته د شاه زمان د زوی د بدګمانیو او طرح په وجه، چي دی د هرات په نامه حکمران و، مجبور سوی و".

د ژوندون د مجلې د (۱۳۵۹ هـ. ش.) کال په لومړۍ ګڼه کي کښلي دي:

د حافظ نور محمد کهګدای له خولې د میر آخور مدد خان کلا، په کابل کي د بي بي ماهرو په شاوخوا کي ده.

نور الدین خان بامېزی

(مصلح الدوله)

نور الدین خان بامېزی مصلح الدوله په (۱۱۷۵ هـ.ق.) د احمدشاهي دربار له خوا د کشمیر ناظم مقرر سو او هغه ځای ئې فتح کړ، خو وروسته د (۱۱۸۶ هـ.ق.) کال په حدودو کي حاجي کریمداد خان بامېزی مقرر سو [۱۳۲۴].

[۱۳۲۴] وګ: تېمورشاه درانی ۲۵۴/۱ مخ.

اکبرخان ورکزي د ده په باب ویلي دي:

پـه کشـمیـر کي وم څو کـالـه ؤ حـاکـم نـور الـدیـن خـان

پـه زیـارت د پـیـر مـرشـد مـي خـدای عـطـا کـړه دیـن ایـمـان

له سُکهـ جیون مل سره د نور الدین خان بامېزي د جنګ په باب، د سیر المتاخرین په ۹۲۰/۳ مخ کي داسي کښلي دي:

"... احمدشاه ابدالی انور الدین خان مذکور را با فوجی از خیل ابدالیان و قزلباش و ایلات خراسان و جمعی را از راجه جمو بدلالت راه و اعانت خواسته بتسخیر کشمیر تعین نمود مخفی نماند که راجه جمو هنگام ورود لشکرکشان در جاهای دوردست صعب المسالک رفته می نشست و بفرستادن مبلغ پیشکش خود را از صدمات و آفات آنها محفوظ میداشت، چون ورود بکشمیر بدون رهبری و دلالت کشمیریان از ممتنعات است و سکهـ جیون راه عبور و مرور افواج باتفاق کشامره مسدود نمود، احمدشاه را تدارک او ضرور شده بود بنابرین استعانت درین خصوص براجه جمو برده بوساطت شاه ولی خان وزیر او را طلب داشت، راجه که اندیشهای بسیار از چنین کسان می نمود راضی بآمدن نبود شاه ولی خان در اطمینان او مبالغه را از حد بدر برده پسر خود را پیش او فرستاد که تا معاودت راجه مذکور بطور ضمان نزد مردمان او باشد چون باین صورت اطمینان خاطرش میسر آمد حاضر گشته جمعی را بره نمائی افواج ابدالی بطور بدرقه تعین نمود تا بر دریای چنهار که مابین کوهستان راه کشمیر میگذرد و نهایت عمق دارد و عبور اسپ و شتر ازان راه متعذر است از درختهای طولانی پل بسته انور الدین خان را مع فوج بگذراند بعد این اعانت از ابدالی رخصت یافته بجای خود شتافت و انور الدین خان از راه مذکور دریا را عبور نموده بحدود کشمیر درآمد، سکهـ جیون بر مضائق گذرهای صعب المسالک مردم را بمدافعه و مزاحمه نشانیده بود انور الدین خان بعد حرب و کرب بسیار غالب آمده کشامره را از شعاب جبال برداشت و اکثری را آوارهٔ صحرای عدم ساخت و خود متعاقب گریخته گان تاخته بشهر کشمیر رسید سکهـ جیون با جمعی که همراه بود صف آرا گردید بقدر طاقت دست و پا زده مغلوب گشت همراهیان گریختند و او با بعضی از خواص و جمیع اهل و عیال اسیر آمد. احمدشاه ابدالی بعد استماع خبر فتح انور الدین خان را بنیابت کشمیر مامور نمود ....".

د نورالدین خان بامېزي په باب د کی ګوهرنامې په ۱۸۰ مخ کي کښلي دي:

"هغه فرمان چي د (۱۱۷۱ ه.ق.) کال د ذی القعدی په میاشت کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره، د خان عالم خان ګهګر په نامه استول سوی دئ، په هغه کي کښلي دي:

"عالیجاه رفیع جایگاه امیر الامراء العظام اسوة الکبراء الکرام نور الدین خان بامیزائی

سردار مامورین دار السلطنة لاهور و چهار محال ها را با افواج قاهره مامور آن حدودات فرموديم".

د تاریخ احمدشاهي مولف محمود الحسيني نور الدين خان بامېزی د اشرف الوزراء شاه ولي خان د اکا زوی بللی دئ:

"....خاقان ممالک ستان به صواب دید شاه ولی خان نور الدين خان بامیزیی بنی عم او را نزد آن جاهل هرزه درا فرستادند تا با نصایح ارجمند و مواعظ خردپسند او را سالک مسالک عقیدت و اخلاص گرداند....".

قطب خان غُـرغښتی

د سرګذشت نواب نجیب الدوله په ۱۴ مخ کي کښلي دي:

"په (۱۱۷۳ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له مرهټو سره د غزا له پاره، هندوستان ته ولاړ، هلته د ازوغ رسولو وظیفه د ګنجپورې د (لوی زمیندار) قطب خان غرغښتي پښتانه پر غاړه وه، چي دی مرهټو وواژه بیا دغه کار نجیب الدوله پر غاړه واخیست".

په (۱۱۷۰ هـ.ق.) (= ۱۷۹۱ع.) کال چي عماد الملک پر ډهلي برید وکړ او نجیب الدوله ئې کلابند کړ، په دغه جنګ کي میا قطب شاه د نجیب الدوله له ملګرو څخه و. د میا قطب شاه یو.... بختور خان ته نجیب الدوله د ډهلي زړه کلا ورسپارلې وه، د مرهټو کفارو په یوه حمله کي دغه بختور خان شهید سو. د میا قطب شاه په لمسون د دغه غچ کښلو له پاره نجیب الدوله د عماد الملک کور ولوټه[۱۳۲۵].

د (۱۱۷۴ هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په لومړۍ هفته کي، چي مرهټو کفارو پر ګنجپوره برید وکړ، دی په دغه جنګ کي د عبدالصمد خان محمدزي سره اوږه پر اوږه جنګېدئ. په دغه جنګ کي عبدالصمد خان شهید سو او قطب شاه د مرهټو په لاس کي بندي سو او دوې ورځي وروسته ئې سر څني پرې کړ[۱۳۲۶].

[۱۳۲۵] احوال نجیب الدوله، ۷ مخ.

[۱۳۲۶] احوال نجیب الدوله، ۱۹ مخ.

زین خان مومند

د میرزا مظهر جان جانان کے خطوط د تعلیقاتو د برخي په ۲۴۰ مخ کي کښلي دي:
د (۱۷۶۲ع.) کال د ډسمبر د میاشتي په دوولسمه، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له لاهوره د کندهار په نیت وخوځېد، سکهانو بیا په پنجاب کي اړو دوړ شروع کړ او په دې اړو دوړ کي د سرهند د پښتانه حاکم زین خان مومند، د حرص او بد معاملګۍ برخه زیاته وه.
په (۱۷۶۳ع.) کال لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د خراسان په چارو بوخت سو او هندوستان ته ئې د راتلو فرصت ونه موند. د (۱۷۶۳ع.) کال د نومبر د میاشتي په څلرمه ورځ سکان په امرتسر کي سره راټول سول او له مسلمانانو څخه ئې د خپلو مقدسو ځایونو د خلاصون لوړه سره وکړله.
د دغه کال د ډسمبر په میاشت کي څلوېښت زرو (۴۰۰۰۰) سکانو پر سرهند برید وکړ. زین خان له یو معمولي پوځ سره، د هغوی مقابله وکړله. په دغه جنګ کي زین خان مومند شهید سو، پښتنو پوځونو ماتې وکړه او سرهند د سکانو په لاس کښېووت او د جادو ناتهه سرکار په قول، سکانو له دغه ښاره ځنګل جوړ کړ.

احمد خان بارکزی

د تیمورشاه سدوزي په زمانه کي احمد خان بارکزی شهنګچي باشي، چي د پنجاب افغان حاکم و، د یوه فرمان په وسیله راغوښت سوی دئ (۱۳۲۷).
د شاه زمان سدوزي په حکومت کي احمد خان بارکزی د لاهور حاکم و (۱۳۲۸).
په (۱۲۱۱ه.ق.) کال چي زمان شاه سدوزي پر پنجاب برید وکړ، احمد خان شاهین چي باشي ئې قراول و. زمان شاه سدوزی چي کابل ته راستون ستو، د پنجاب حکومت ئې احمد خان بارکزي ته وسپاره.
احمد خان د رام نګر نیولو او د سکانو ځبلو ته ولاړ، له ده سره دوولس زره (۱۲۰۰۰) پښتانه

(۱۳۲۷) وګ: تاریخ حسین شاهي (قلمي)
(۱۳۲۸) وګ: بالاحصار کابل، ۲ټوک

سپاهیان وو. سکان دپر سول ده د رام نگر کلا بندي پرېښوو له، گجرات ته را تر شا سو. سکان په پسې وو، د گجرات له ښاره صاحب سنگه بهنگي له پنځو سوو (٥٠٠) سرو سره مخ نیوي ته ور ووت. د شاله خوا سکان را ورسېدل جنگ ونښت، په دغه جنگ کي احمد خان بارکزی شهید سو او د گجرات ښار ختيزي خوا ته، څلور میله له ښار څخه لیري، خاورو ته وسپارل سو[١٣٢٩].

شاه زمان سدوزی چي د احمد خان بارکزي په شهادت خبر سو، دېر خواشیني سو، د شاهین چي باشي زوی ئې ور وغوښت او د ماتم پرسۍ خلات ئې ور کړ[١٣٣٠].

ښادي خان اڅکزی
(عرض بیگي)

ښادي خان عرض بیگي په اڅکزو کي حمیدزی گودین زی اڅکزی دئ.

د بالاحصار کابل په دوهم ټوک کي کښلي دي:

په (١٢١٨ ه.ق.) کال شاه شجاع سدوزی د شاه محمود سدوزي د مقابلې له پاره، د پکتیا په زرمله کي و. شهزاده قیصر (د زمان شاه سدوزي زوی) سردار مدد خان میر آخور باشي او ښادي خان اڅکزی ئې قندهار ته واستول.

د خورشید جهان په ٢١٨ مخ کي کښلي دي:

"شاه زمان سدوزی چي ړوند کړه سو او پاچاهي ځني ولاړه، توخو او هوتکو د عبد الرحیم خان هوتک او شهاب الدین خان توخي په مشري بغاوت وکړ. عبد الرحیم خان پاچا او شهاب الدین خان ئې وزیر سو. د دغه لړ په درېیم جنگ کي د پاچاهي پوځ په سردارانو کي یو ښادي خان اڅکزی عرض بیگي و، نور دراني سرداران مجید خان بارکزی، سیدال خان الکوزی، آدم خان پوپلزی او سمند خان بامېزی و. په دې جنگ کي هم توخو او هوتکو ماتې وکړه".

د حیات افغاني په ٢٦٦ مخ کي د دغه جنگ کال (١٨٠٢ ع.) کښلی دئ، چي له (١٢١٧ ه.ق.) کال سره برابرېږي او د آدم خان پر ځای ئې اعظم خان پوپلزی او د سمند خان بامېزي پر ځای سمندر خان بامېزی کښلی دئ.

[١٣٢٩] درة الزمان ١١٠ مخ.

[١٣٣٠] فارسي اخبارات و مراسلات ٤٦٩-٤٧١ مخونه.

د ښادي خان زامن:

۱.غازي عبدالله خان اڅکزی
۲.يارمحمد خان
۳.سالوخان

ګلستان خان اڅکزی

په (۱۸۰۸ع.) کال چي مانسټوراټ الفنسټون په پېښور کي د شاه شجاع سدوزي دربار ته، د انګرېزانو د ايلچي په توګه راغلی دئ، د کابل د پاچهۍ (سلطنت) بيان نومي کتاب په ۲۹۲/۱ مخ کي د ګلستان خان اڅکزي په باب داسي ليکي:

"ګلستان خان د اڅکزو مشر دئ، خورا ښه سړی دئ، د هغه پر ښېګڼو ټول ملک شاهدي ورکوي. ګلستان خان صميمي، زړه ور، په تحقيق کي جسور او د عدالت په اجراء کي نه ستړی کېدونکی شخصيت لري. دی هيڅکله د سوغات په اخيستلو تورن سوی نه دئ. زه چي په پېښور کي وم، دی په دغه وخت کي د کابل حکمران و".

د خورشيد جهان په ۲۱۹ مخ کي کښلي دي:

"شاه شجاع سدوزي ته چي دا خبر ورسېد، چي شهاب الدين خان توخي په ناوه کي يوه کلا ودانه کړې ده، خوابدی سو. ګلستان خان اڅکزی ئې د هغې کلا د ورانولو له پاره وګماره او فتح خان ابابکزی (توخی) ئې هم ورسره مل کړ. پاچاهي لښکر چي کلا ته ورسېد، شهاب الدين خان کلابند سو، مګر د شپې ئې پر درانيو پوځو بريد وکړ، سپاره ئې وتښتېدل او توپونه ئې د شهاب الدين خان په لاس کښېوتل.

د شاه محمود سدوزي د پاچهۍ د لومړيو ورځو په يوه فرمان کي، چي تاريخ ئې (۲۱ ربيع الاول ۱۲۱۶ه.ق.) دئ، د ګلستان خان مهر په دې ډول سته:

العبد المذنب

ګلستان

۱۱۹۰

مانسټوراټ الفنسټون د کابل پاچهۍ (سلطنت) بيان په ۱۱۵/۲ مخ کي ليکلي دي:

"د اروا ښاد ګلستان خان اڅکزي استعداد، زړه ورتيا او صداقت د زيات وخت له پاره د شاه شجاع سدوزي قومي ملاتړ و، تر څو ئې د هغه له پاره خپل ژوند قربان کړ. د ګلستان خان عدالت او تواضع تر اوسه هم د کابل او پېښور د هغو خلکو په ياد دي، چي دی په بېلو بېلو وختو کي د دوی

حاکم و.
شاه شجاع سدوزي چي په نمله کي د وزير فتح خان څخه ماتې وکړله، کندهار ته ئې ځان د کندهار والي شهزاده ايوب خان او د ده نائب نواب اسد خان او شهزاده محمد يونس ورساوه. د کندهار والي شهزاده ايوب خان او د ده نائب نواب اسد خان او شهزاده محمد يونس ئې د مقابلې له پاره راووتل. په دغه وخت کي شهزاده يونس د شاه شجاع سدوزي خواته ور واوښت. شاه پسند خان ساګزی او ګلستان خان اڅکزی، چي د شاه محمود سدوزي او وزير فتح خان په امر د ميرعلم خان په وژلو له شاه محمود سدوزي څخه خفه سوي وو، هم د شاه شجاع و خواته ور واوښتل. شهزاده ايوب او اسد خان کابل ته وتښتېدل. شاه محمود او وزير فتح خان له کابله راغلل او د شاه محمود سدوزي او شاه شجاع سدوزي تر منځ، چي په جکان کي و، جنګ وسو. په دغه جنګ کي ګلستان خان وواژه سو[۱۳۳۱].

پاینده خان کمالزی

د يوسفزي پټهان په ۷۱۶ مخ کي کښلي دي:
د روهيل کهنډ د نواب علي محمد خان روهيله په لويو منصبدارانو کي و، دوه زامن ئې پاته سول:

۱. محمد حسن خان
۲. محمد علي خان

سعادت خان اڅکزی
(منشي باشي)

په احمدشاهنامه کي کښلي دي:
د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دار التحرير مشر سعادت خان اڅکزی و، چي منشي باشي ئې باله. د احمدشاهنامې مؤلف د ده ځيني ليکلي فرمانونه رانقل کړي دي.

[۱۳۳۱] واقعات شاه شجاع، ۳۶ مخ.

د احمدشاهي دربار منشي محمود الحسيني الجامي په تاريخ احمدشاهي (لومړي توک) کي د منشي باشي سعادت خان اڅکزي په باب داسي کښلي دي:

"... سعادت خان منشی باشی به اتفاق منجمان دقیقه شناس، ساعتی سعد جهت بنای قلعهٔ فلک اساس استخراج و اقتباس نموده، به عرض اشرف اقدس رسانیده بود ...".

بل ځای داسي ليکي:

"..... و نامهٔ فیض ختامه که حسب الحکم تقدس مواد، به قلم بدیع رقم عالی جاه مقرب الخاقان سعادت خان منشی باشی سرکار جهاندار، زیب تحریر و زینت تسطیر یافته و لمعان مهر منیر مهر خورشید نظیر که کران تا کران روی زمین در زیر نگین اوست، بر صفحهٔ آن تافته، به مشار الیه محوّل و مومی الیه به اتفاق ایلچی هندوستان، حسب الحکم قضا توان، به جاده پیمایی مستعجل گردید ...".

ايلچ خان د لازاک پښتون

ايلچ خان دلازاک د باري[۱۳۳۲] له پښتنو څخه و[۱۳۳۳]. د عمادالسعادات په ۱۰۱ مخ کي دا هم زياته سوې ده، چي ايلچ خان د لازاک سني مذهبه پښتون و.

خوشال خان ختک د دستارنامې په ۱۷۷ مخ کي کښلي دي:

"دلازاک او ورکزي له يوه پلاره دي".

ايلچ خان د اټاوې د پوځدار لال چند کهتري نوکر سو، بيا ډهلي ته راغی او د مسعود خان شاهي خواجه سرا سره ئې کار کاوه، بيا د شجاع الدوله مل سو او د خپل استعداد په اغېزه د شجاع الدوله له خاصانو څخه سو.

د سلطان التواريخ په ۲۱۱ مخ کي زين سنګه زخمي لکهنوي کښلي دي:

په (۱۱۸۷ هـ.ق.) کال دپشکال په موسم کي شجاع الدوله د ايسټ انډيا د ګورنر جنرال وارن هيستنګز د ليدلو له پاره بنارس ته ولاړ. ګورنر جنرال هم له کلکتې څخه بنارس ته راغی او د ګنګا د سيند پوري خوا ته ئې، رام نګر ته نژدې واړول. شجاع الدوله د ايلچ خان دلازاک په لاس يو خط ګورنر جنرال ته ولېږه او په هغه خط کي ئې ليکلي وه:

"ځيني کسان غواړي زما او ايسټ انډيا کمپنۍ د صاحبانو تر منځ مناسبات وران کړي.

[۱۳۳۲] د جغرافيه هند، په ۸ مخ کي کښلي دي، چي باري د دهولپور په شا او خوا کي د يوه ځای نوم دئ. د دهولپور بنار په هندوستان کي د اګرې جنوب پلو ته، د چمبل د سيند پر غاړه واقع دئ.

[۱۳۳۳] سلطان التواريخ، ۱۹۸ مخ.

تاسي بايد په هغه تېر نه وزئ. زما په نيت کي که د روه واى، بې لښکره به له اولادو سره، بنارس ته نه راتلم".

ايلچ خان چي دا خط گورنر جنرل ته ور وړ، گورنر جنرال د خپل سکرټري په لاس هغه خط، شجاع الدوله ته را ولېږه، چي ده حافظ رحمت خان بړېڅي او دوندي خان بړېڅي ته لېږلی او په هغه کي ئې کښلي وه، چي:

"بايد د پرنگيانو پر ضد سره يو سو. نن که د دوی حمله پر ما ده، سبا پر تاسي ده. راځئ چي ددې کفارو د محو کولو له پاره سره يو سو".

دا خط شجاع الدوله د بکسر تر جنگ پخوا نواب حافظ رحمت خان بړېڅي ته لېږلی و او نواب حافظ رحمت خان خپل زوی عنايت خان له يوه پوځ سره د دغه خط په اثر، د شجاع الدوله د مرستي له پاره، د بکسر جنگ ته ور لېږلی و. منير الدوله ته چي دا خط په لاس ورغلی و، د هغه تاريخ ئې اړولی و او د (۱۱۷۸ هـ.ق.) پر ځای ئې سنه (۱۱۸۶ هـ. ق.) کښلې وه.

شجاع الدوله چي دا خط وليد، وار و پار ئې خطا سو، سکرټري ته ئې وويل:

"يا دا خط تر سبا پوري را پرېږده، يا ئې نقل را کړه، سبا به ئې جواب در واستوم".

سکرټري د نقل په ورکولو راضي سو. د سکرټري تر تگ وروسته شجاع الدوله د غم په ټال زنګېدئ او پټه خوله ناست و. ايلچ خان ورته وويل:

"څه پېښه ده؟ موږ هم خبر کړه".

شجاع الدوله خط ورته ولوست. ايلچ خان ورته وويل:

"د دې جواب آسانه دئ".

شجاع الدوله چي دا خبره د ايلچ خان له خولې واروېدل، لمر پر را وخوت، ولړز ئې وايه.

ايلچ خان ورته وويل:

"ورته وليکه، دا خط د بکسر تر جنگ پخوا ما ليکلی دئ او دا مهر زما دئ، هغه وخت موږ سره دښمنان وو او ما حق درلود، چي داسي خط نواب حافظ رحمت ته وليکم، دا چي د دې تاريخ کوم شرانگېزه سړي اړولی دئ، جواب ئې دا دئ، چي په دې خط کي د دوندي خان بړېڅي نوم سته او دوندي خان په (۱۱۸۴ هـ.ق.) مړ دئ، که دا خط د (۱۱۸۶ هـ. ق.) وای، د دوندي خان نوم به ولي پکښې راتی".

شجاع الدوله چي دا جواب واروېد، د ايلچ خان پر هوښياری ئې افرينونه وويل او دغسي جواب ئې د ايلچ خان په لاس گورنر جنرل ته ولېږه او گورنر جنرل چي د دوندي خان د مرگ تاريخ ولوست، پړ سو او د معذرت يو ليک ئې د ايلچ خان په لاس شجاع الدوله ته ولېږه.

په تفضيح الغافلين يا تاريخ آصفي (۴۹ مخ) کي ابو طالب اصفهاني ليکلي دي:

"ايرج خان (ايلچ خان) د شجاع الدوله د رېيم زوی ميرزا جنگلي نائب و، دی پخوا د لښکري بازار مهتمم و، ورو ورو ئې ترقي کوله څو نيابت ته ورسېد".

د سلطان التواريخ په ۲۳۱ او د عماد السعادت په ۱۲۱-۱۲۲ مخونو کي راغلي دي:

د (۱۱۸۸هـ.ق.) کال د میانۍ د میاشتي په پنځه ویشتمه، چي آصف الدوله یحیٰی خان د پلار تر مرګ وروسته د اوده واکمن سو، د مختارۍ او نیابت منصب ئې د مختار الدوله له خطاب سره مرتضی خان ته، چي په میرزا جاني مشهور و او د شجاع الدوله په ژوند د آصف الدوله یحیٰی خان میر سامان و، ورکړاو جهاو لال ئې، چي طبیله باشي و میر بخشي مقرر کړاو د تلنګه پوځ جنرالي ئې هم ورکړه[۱۳۳۴].

په تاریخ آصفي کي لیکلي دي:

"په (۱۱۸۸هـ. ق.) کال د شجاع الدوله مرحوم امیرانو، چي د آصف الدوله دغه بدعملي ولیدله، له درباره څخه د لیري کېدلو په هڅه کي سوله، تر ټولو د مخه محمد ایرج خان (ایلچ خان) د ډهلي د پاچا څخه د سندونو د حاصلولو په پلمه، له اوده څخه ووت، د ذوالفقار الدوله سره ئې ارتباط قائم کړاو ډېر ژر د اکبر آباد د سیمي نائب مقرر سو. آصف الدوله هم څه سرپه ونه ګرزاوه".

د سیر المتاخرین په ۹۵۲ مخ کي کښلي دي:

"آصف الدوله د ارزیلاتو صحبت ته ډېر میلان درلود"[۱۳۳۵].

د (۱۱۸۹هـ.ق.) کال د لوی اختر د میاشتي په لومړیو ورځو کي، آصف الدوله لکهنو ته ولاړ، هلته څو ورځي وروسته، ایلچ خان ورته وویل:

"د شجاع الدوله د مرګ یو کال تېر سوی دئ، د ډهلي له شاهي درباره څخه لا د وزارت خلات ستا په نامه نه دئ را استول سوی او دا ښه خبره نه ده، که ستا سلا وي زه به ډهلي ته ولاړ سم، چي د وزارت خلات درته راوړم".

مختار الدوله مرتضی خان، چي د آصف الدوله له درباره څخه د ایلچ خان ورکاوی له خدایه په دعاوو غوښت، ډېر ژر ئې دی له ګوپال پنډت او دوو پلټنو سره ډهلي ته ولېږه.

ایلچ خان چي ډهلي ته ولاړ، مختار الدوله ته میدان خوشي سو، د نورو سرداړانو د خرابۍ له پاره ئې ملا وتړله او هم ئې په ډهلي کي، مجد الدوله عبد الاحد خان کشمیري ته ولیکل، چي:

"ایلچ خان د وزارت د خلات له پاره درځي، په کار کي ئې خنډونه ور اچوه، چي دی سپک سي".

عبد الاحد خان کشمیري دا کار وکړاو د وزارت خلات ئې وځنډاوه. مختار الدوله چي د عبد الاحد خان په دې بري خبر سو، ګوپال پنډت او د اوده د دوو پلټنو منصبدارانو ته ئې ولیکل، چي:

"له ایلچ خانه څخه خپله تنخواه وغواړئ".

[۱۳۳۴] د سیر المتاخرین په ۹۴۱ مخ کي کښلي دي: د پلار ملګري ئې لکه ایرج خان (ایلچ خان) او محمد بشیر خان ځني نامینده سول او هر څوک د ځان په فکر کي سو، ایرج خان د اسنادو حصول بانه کړ، رخصت ئې واخیست او ډهلي ته ولاړ.

[۱۳۳۵] د سیر المتاخرین په ۹۴۳ مخ کي کښلي دي، چي د آصف الدوله امیر الامراء او منصبداران ټول جاهلان او بېعقلان وو، چي که ووایو د انسانانو په جامه کي خره وو، بې ځایه خبره به نه وي.

دا خطونه لا ډهلي ته نه وو رسېدلي، چي د راجه رام ناتهـ شخړه پېښه سوه.

د راجه رام ناتهـ شخړه:

د سلطان التواریخ مؤلف زین سنگهـ زخمي لکهنوي کښلي دي:

"ډهلي د مغل پاچا دوهم شاه عالم (۱۱۷۳-۱۲۲۰ هـ.ق.) یو مسخره مصاحب رام ناتهـ غله خرڅوونکی و، چي هر وخت به د پاچا پر څنگ ناست و او شاه عالم به میرزا راجه باله. مجد الدوله عبد الاحد خان کشمیري، په شاهي دربار کي د ایلچ خان د سپکولو له پاره، دغه میرزا راجه رام ناتهـ ولمساوه. یوه ورځ د پاچا په دربار کي دغه غله فروش پر ایلچ خان ملنډي شروع کړې او د ده پر لهجې او جامو ئې، چي پښتني رنگ ئې درلود، وخندل. ایلچ خان چي د خپلي زمانې له هوښیارانو څخه و، هغه وخت ئې هیڅ ورته ونه ویل او په پټه خوله له درباره راووت.

دوې ورځي وروسته ئې د اودهـ د پلټنو منصبداران وروغوښتل او هغو ته ئې وویل:

"له شاهي درباره څخه د آصف الدوله له پاره، د وزارت د خلات ورکړه، د راجه رام ناتهـ د دښمنۍ په سبب ځنډېدلې ده، که دی نه وای پاچا په دوو ورځو کي د وزارت خلات راسپاره".

منصبداران په دې خبرو رام ناتهـ ته ولمسېدل او دوه (تنه) تلنگه سپاهیان ئې و هغه غله خرڅوونکي ته د جنگ له پاره ولېږل، چي د رام ناتهـ کور ته نژدې ئې دکان و. تلنگه سپاهیانو چي غله خرڅوونکی وواههـ، د رام ناتهـ مزدوران د غله خرڅوونکي په مرسته پر راووتل او تلنگه سپاهیان ئې په مرگ ووهل. د اودهـ د پلټنو سپاهیان چي په دې واقعه خبر سول، په ځغاسته ئې ځانونه ور ورسول. د رام ناتهـ مزدورانو چي ډېر سپاهیان ولیدل، په کور ننوتل. سپاهیان پسې ورغلل د رام ناتهـ مزدوران او محافظان وتښتېدل. دوی د رام ناتهـ کور ته اور واچاوه، ښځي ئې په یوه پوړني کي په ژړا له کوره ووتلې او پخپله راجه رام ناتهـ له دوو زامنو سره، پر بله دروازه شاهي دربار ته وتښتېدئ. هلته ئې خولې له مځکي وویشتله، مگر پاچا جواب ورکړ، چي دا هنگامه لږ سړه سي، بازخواست به دي وکړم.

دلته د رام ناتهـ کور له غرمې تر مازدیگره پوري د لوټ او لمبو په حال کي و. سبا د ډهلي مغل پاچا (دوهم شاه عالم) راجه رام ناتهـ ته لس زره روپۍ، له پاچاهي خزانې څخه را واستولې او پنځه زره روپۍ هم مجد الدوله ورکړلې.

تر دې واقعې وروسته ایلچ خان د پاچا حضور ته، د رام ناتهـ د کور له اُلجې څخه څو زاړه کالي او یو دوه برنجي لوښي، له یوې عریضې سره وړاندي کړل او له دې واقعې څخه ئې، له تاسف سره خپله بې خبري ښکاره کړله.

ایلچ خان له دوو پلټنو سره له لکهنو څخه ډهلي ته ولېږه سو. مختار الدوله چي ولیدل د ایلچ خان سره د نجف خان مناسبات خورا ښه دي، نو ئې هغه پلټني چي د شجاع الدوله له ختو د دوهم شاه عالم په حضور کي وې، وروغوښتلې او د ایلچ خان پر ځای ئې لطافت علي خان، له بریلي څخه

راتبدیل کړ.

میرزا نجف خان امیر الامراء د ایلچ خان حامي و. په (۱۱۹۶ ه.ق.) کال چي د امیر الامراء نجف خان تر مړیني وروسته، افراسیاب خان د ډهلي د پاچهی امیر الامراء سو، د ایلچ خان پر ضد ئې د هغه پوځ سرداري اعتقاد الدوله لطافت علي خواجه سرا ته ورکړله، چي د دوهم شاه عالم په حضور کي به د شجاع الدوله له وخته حاضر و.

د مختار الدوله مرتضی خان لمسون:

د رام ناتهـ تر واقعې وروسته د مختار الدوله هغه خطونه، چي پخوا ئې د اوده د پلټنو منصبدارانو ته لېږلي وو، ورسېدل. له یوې خوا د ګوپال راو پنډت رسالې او له بلي خوا د نجیب او تلنګه پیاده پلټني، د ایلچ خان پر کور راوګرځېدلې او د تنخواه غوښتنه ئې ځني وکړله، ایلچ خان جواب ورکړ:

"زما سره دغونه روپۍ نسته، چي ستاسي د تنخواه پوراینه وکړي او له لکهنو څخه هم یوه روپۍ مختار الدوله نه ده را استولې، زه څه وکړم؟ که مو زما سپکاوی غرض وي، زه به در ووزم، مګر د تنخواه غوښتنه زما په سپکاوي نه تر سره کیږي".

مګر د اوده د پلټنو په منصبدارانو باندي، مختار الدوله او مجد الدوله عبدالاحد خان کشمیري هغه منترنه و ویلی، چي په دې خبرو ئې تاثیر له منځه تللی وای، هغو لا محاصره پسي ټینګه کړله.

دوهم شاه عالم پاچا چي خبر سو، هغه دستي مجد الدوله ور وغوښت او ورته ئې وویل:

"د اوده د پلټنو منصبداران پوه کړه، چي د ایلچ خان د کور له محاصرې لاس واخلي، زه په پایتخت کي د داسي پیښنو تحمل نه سم کولای، کنه نو پاچاهي پوځونه ئې باید د ایداد او ترټني له پاره وخوځي".

مجد الدوله چي پاچهي پوځونو ته د تیارسئ امر ورکړ، نو ئې ګوپال راو مرهټه او د اوده د پلټنو نورو منصبدارانو ته، د پاچا پیغام ورورساوه. هغو هم چي له پاچاهي پوځ سره د مقابلې بېچ په ځان کي نه لیدئ، له محاصرې څخه ئې د لاري د خرڅ په نامه، له مجد الدوله څخه د دوپنځوس زرو (۵۲۰۰۰) روپو د اخیستلو په اسانه شرط، لاس واخیست او دغه روپۍ د اوده منصبدارانو په خپلو منځو کي ووېشلې او د لکهنو خوا ته وخوځېدل.

د اکبر آباد حکومت:

ایلچ خان چي د اوده د پلټنو له شخړي خلاص سو، د ډهلي امیر الامراء مختار کل ذوالفقار الدوله نجف خان ته ئې ولیکل:

"ته چي د ډیګ نیولو ته روان ئې، مجد الدوله عبدالاحد خان، د مختار الدوله مرتضی خان

په لمسون ملا تړلې ده، چې زما کور چور کړي، زما پر هغو نه پېرزو کېږي، که ئې چوروې هم ئې ته چور کړه او که ئې ساتې هم ئې ته و ساته او ما ته یوه سیمه د مستأجرۍ په صورت راکړه، چې هلته د ژوند وروستۍ شپې، له دې جنجالو څخه ګوښه تېرې کړم. که ستا دغه سلا خوښه وي، نو یوه رساله سپاره را ولېږه، چې ما فرید آباد ته در ورسوي".

نجف خان ته چې دا خط ورسېد، دستي ئې څلور زره (۴۰۰۰) سپاره او پلي سپاهیان، له فرید آباده څخه ډهلي ته را ولېږل او ایلچ خان ئې په ډېر حفاظت او عزت له ډهلي څخه فرید آباد ته ورساوه او ایلچ خان نقدي روپۍ او د کور زیاتره ګران او د ډېرې بیې شیان هم پر آسانو، اوښانو او ګاډیو ورسره بار کړه. یو څو ډنګر آسان او کلـچې و کچولي ګاډۍ ئې په کور کې، له څو پلو سپاهیانو سره پرېښوولې.

ایلچ خان چې فرید آباد ته ورسېد، هفته لا نه وه تېره سوې، چې د مختار الدوله د تخریبکارۍ په اغېز، ډهلي ته د محمد بشیر خان د راتګ اوازه هم ور ورسېدله. ایلچ خان چې دا واورېدل، خپل معتمدان ئې له پیلانو او آسانو سره مخي ته ور ولېږل او محمد بشیر خان ئې، چې په خورا پرېشانۍ سره، په تېښته ډهلي ته راتئ، د پیل په پالکۍ کې سپور کړ.

پخپله ایلچ خان دوه درې کروهه مخي ته وړاندي ورغی او هغه خاصه خېمه، چې ئې محمد بشیر خان ته درولې وه، په هغه کې ئې محمد بشیر خان و اوساوه.

سبا دواړه ذوالفقار الدوله نجف خان ته ورغلل او له هغه سره ئې ولیدل. څو ورځې وروسته ایلچ خان درې لکه روپۍ ذوالفقار الدوله ته ورکړلې او د اکبر آباد (اګره)، سعید آباد او فیروز آباد حکومت ئې، د کاله د څلورو لکو روپو په مستأجرۍ ځني واخیست او د هانسي او حصار فیروزه حکومت ئې د محمد بشیر خان له پاره، پخپل ضمانت ځني واخیست او یو نیم لک روپۍ ئې له ځانه د بشیر خان له درکه هم نجف خان ته ورکړلې[۱۳۳۶].

ایلچ خان چې اګرې ته ولاړ، د ده له حسن انتظام څخه پر خلکو اختر سو او د هر چا پر مخ د روزۍ دروازه خلاصه سوه.

د ایلچ خان په باب د عماد السعادت په ۱۱۳ او ۱۲۴ مخو کې کښلي دي:

"سر آمد عقلا است".

د اودهه نیابت:

په (۱۱۹۰ هـ.ق.) کال چې سید مرتضی خان د اودهه د آصف الدوله مختار الدوله، د آصف الدوله د ورور سعادت علي خان په ټونګ، د یوسف خان پښتانه په ملګري او د اجاني خان اپرېدي د ملګرو، میر فضل علي او میر طالب علي په لاس وواژه سو، سعادت علي خان له خپلو ملګرو سره اکبر آباد ته ولاړ او هلته ئې ایلچ خان ته ډېري نقدي روپۍ او ضروري مالونه ورکړل او د آصف

[۱۳۳۶] دغه روپۍ بیا بشیر خان له خپله حکومته ورته را ولېږلې.

الدوله له خوا د نيابت او مختارۍ له پاره خطونه، په ايلچ خان پسي واستول سوه. ايلچ خان ته چي دغه خطونه ورسېدل، په تلوار ئې له اكبر آباده څخه ځان لكهنو ته ورساوه او په هغه ورځ چي لكهنو ته ورسېد، د نيابت منصب د آصف الدوله له خوا وركړ سو او د اوده مختار كل او مدار المهام سو، مګر ژوند وفا ورسره ونه كړه او ډېر ژر ومړ[1337].

د تاريخ آصفي په ٦٤ مخ كي د (١١٩٠هـ. ق.) كال د واقعاتو په سلسله كي، د ايلچ خان د نائب السلطنة كېدلو او د ده د مړيني په باب داسي ليكلي دي:

"مختار الدوله چي له منځه ولاړ، آصف الدوله محمد ايرج خان (ايلچ خان) د نيابت له پاره راوباله. ايرج خان د آصف الدوله په خوله اطمينان نه كاوه، مستر برستهو چي ئې تضمين وكړ، له اكبر آباده څخه لكهنو ته راغى. ايرج خان د خپل رقيب مختار الدوله كورنۍ له برمه واچول. مستر برستهو چي د هغوى پلوي وكړله، ايرج خان برستهو ته وويل:

زموږ او ستاسي تړون داسي دئ، چي د ملك په داخلي چارو كي به لاس نه وهئ او كه ته د دوى پلوي كوې، زه به ګورنر جنرال ته ستا له لاسه شكايت وكړم. تر دې خبري وروسته برستهو غلى سو. په دغه ورځو كي ايرج خان د استسقا په ناروغي اخته سو او ومړ".

ايلچ خان چي لكهنو ته تئ، پنځوس لكه (٥٠٠٠٠٠٠) روپۍ ئې درلودې.

د سير المتاخرين په ٩٥٢ مخ كي كښلي دي:

جان برستهو د لكهنو ريزيډنټ هم په ايرج خان (ايلچ خان) پسي خط ولېږه او ايرج خان لكهنو ته راغى او مدار المهام سو. خورا دروند خلات، پيل و جالۍ داره پالكۍ او نغاره ئې وروبخښله. د مختار الدوله مرتضى خان تربرونه سيد محمد خان او سيد معزز خان ئې بنديان كړل.

د سير المتاخرين په ٩٥٣ مخ كي زياته سوېده:

ايرج خان دوې درې مياشتي نيابت وكړ او كارونه ئې څه منظم كړل او جان برستهو ته ئې وليكل:

"ته بايد د لكهنو په مالي او ملكي كارو غرض ونه لرې، څه روپۍ چي مو پر آصف الدوله باندي دي، د هغه قسطونه وتاكئ او د ملك له تصرفه لاس واخلئ او زه حاضريم، چي د سوال او جواب له پاره ستاسي قونسلر ته درسم او هغه هم قانع كړم".

جان برستهو د ايرج خان پر راغوښتلو پښېمانه سو، مګر پر ايرج خان د مرګي خوږو حمله وكړه، استسقا ورپېښه سول، يوه مياشت و شو ورځي پروت و، مړ سو.

د عماد السعادت په ١٣٤ مخ كي كښلي دي:

ايلچ خان چي له اكبر آباده څخه لكهنو ته روانېدئ، ناجوړه و پر لكړه ولاړېدئ. د آصف الدوله په امر زين العابدين د انتربېد حاكم، كله چي ايلچ خان شكوه آباد ته ورسېد، مخي ته ورغى او په هر مزله كي ئې درنه ښه راغلې ورته ويله كېدله.

راجه ننډارم كشميري پنډت د ايلچ خان د سركار مختار و. دا سړى بيا له كپتان مارتين

[1337] سلطان التواريخ، ٢٥٩ مخ.

فرانسوي سره سو، بیا د لکهنو د ریزیډنټ میجر پولر سره سو او د ایسټ انډیا کمپنۍ له خوا ئې تنخواه ورکوله کېدله[۱۳۳۸].

په (۱۱۶۹ هـ.ق.) کال چې د ډهلي د دربار وزیر غازي الدین لاهور ونیو، نو ئې ایلچ خان د ایلچي په توګه، له سر هنده څخه د کندهار احمدشاهي دربار ته ولېږه، چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور کې...

ایلچ خان د پېښور له لاري کندهار ته رهي سو، کابل ته چې ورسېد، د کابل له حاکم سردار جان خان پوپلزي سره ئې ولیدل، سردار جان خان دی په کابل کې تم کړ او د کندهار له درباره ئې اجازت او هدایت وغوښت.

کله چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خپلو پوځو سره، له کندهار څخه غزني ته ورسېد، ایلچ خان ئې حضور ته ورو غوښت او ایلچ خان په غزني کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا خلات ورکړ سو او قلندر خان وګماره سو، چې له ایلچ خان سره به د ایلچي په توګه، د ډهلي دربار ته ځي. دوی د (۱۱۷۰ هـ.ق.) کال دصفري د میاشتي په لومړۍ ورځ ډهلي ته ورسېدل.

د تاریخ احمدشاهي په ۵۶۷/۱ مخ کې کښلي دي:

"د دوهم عالمګیر او غازی الدین ایلچي ایرج خان (ایلچ خان)، چې په کابل کې منتظر و، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر غزني ته راغی او په دېوان عام کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو. دوه پیلان او نور ډېر نفیس شیان ئې د هندوستان د پاچا له خوا، د سوغات په توګه راوړل. له ایرج خانه سره زوی هم ملګری و. د هندوستان د پاچا خط له ایرج خانه څخه و او قرآن شریف ئې د زوی په لاس کې و. خط ئې دپاچا په امر اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي ته ورکړ او قرآن شریف ئې له زویه واخیست او وې ویل:

"دا قرآن شریف مو په شفاعت راوړی دئ".

له کابله ئې دی له قلندر خان پوپلزي سره د (۱۱۶۹ هـ.ق.) د میانۍ د میاشتي په پای کې ډهلي ته واستاوه.

د محمود الحسیني المنشی د تاریخ احمدشاهي کومه نسخه، چې په لندن کې په (۱۹۶ ګڼه) خوندي ده، یو سل او دودېرش بابه لري او دوه ویشت بابه ئې در بیان آمدن ایلچي از طرف هندوستان او شپږویشتم باب ئې در بیان مرخص شدن ایرج خان ایلچي دئ[۱۳۳۹].

د فارسي اخبارات و مراسلات د نومونو په فهرست کې ابومحمد د محمد ایرج خان زوی ښوول سوی دئ. د دغه کتاب په ۴۶۵ مخ کې کښلي دي:

د (۱۲۱۱ هـ.ق.) کال د رجب د میاشتي په نولسمه د چارشنبې په ورځ دوهم شاه عالم تسبیح

[۱۳۳۸] عماد السعادت، ۱۳۸ مخ.

[۱۳۳۹] د ورمې مجلې د (۱۳۴۲ هـ. ش.) کال، د لومړۍ ګڼې ۲۷ مخ.

خاني ته راووت، ابو محمد خان ورته وويل:
نن په ښار کي يوه ګډوډي ليدله کيږي، خبر را رسېدلی دئ، چي سکهانو امرتسر خالي کړ،
غرو ته وختل او د زمان شاه سدوزي پوځونه دې خوا ته را روان دي.
د عماد السعادت په ۱۳۵ مخ کي کښلي دي:
محمد ايلچ خان چي و مړ، د لکهنو نيابت ميرزا حسن رضا خان ته ورسېد.
د عماد السعادت په ۱۰۸ مخ کي کښلي دي:
ايلچ خان په (۱۱۸۵ هـ.ق.) کال کي د شجاع الدوله له خوا څخه، د ايلچي په توګه د مرهټو مشر
مهاجي پټېل ته ورغی او د شجاع الدوله پګړی او خط ئې ور وړ. شجاع الدوله په دغه خط کي د
ضابط خان عمرخېل د کورنۍ په باب غوښتنه کړې وه، چي د مرهټو له بنده خوشي کړه سي. مهاجي
هم د ده غوښتنه ومنله او د ضابط خان کورنۍ ئې، له ايلچ خان سره شجاع الدوله ته ورولېږله.

عبد الرحمان خان دلازاک

د احوال نجيب الدوله په ۷ مخ کي کښلي دي:
د (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال په لومړيو ورځو کي، چي ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين پر
ډهلي باندي بريد وکړ او نجيب الدوله کلابند سو، په دغه جنګ کي د عماد الملک د توپخانې
مشر، عبدالرحمان خان د لازاک و او د زړې عيدګاه سره ئې اړولي و. يوه ورځ ماپښين د نجيب
الدوله د پوځونو يوه ډله، تر لاهوري دروازې راووتل او د عبدالرحمان خان دلازاک پر پوځ او
توپخانه ئې بريد وکړ او ښه ئې وځبل.

شاه دل خان (شجادل خان)

اپريدی پښتون

د احوال نجيب الدوله په ٦ مخ کي کښلي دي:
په (۱۱۷۰ هـ.ق.) کال چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه پوځونه، د ډهلي شاو خوا ته ورسېدل او
د ډهلي د دربار ناسياله وزير عماد الملک غازي الدين ئې نظر بند کړ، د ډهلي د پاچاهي پوځ درې

تنه پښتانه منصبداران د پښتنو خواته ورواوښتل، یو په دغو کي شاه دل خان و.

د سلطان التواریخ په ۱۶۳ مخ کي کښلي دي، چي عاقبت محمود کشمیري د ناسیاله غازي الدین په تهونگ، د شادل خان اپریدي له لاسه وواژه سو.

د وقایع عالم شاهي په ۱۱۷ مخ کي کښلي دي:

د (۱۱۹۹ ه.ق.) کال د لومړۍ خور د میاشتي په اوله ورځ د دوهم شاه عالم مغل حضور ته، چي په "ډیک" کي ئې اړولي و، د شجادل خان پښتون او رستم خان پښتون عریضه را ورسېدله، دوی کښلي وو:

زموږ جایدادونه چي په هاپړ کي دي، جسا سنگهـ او د دهلي برید پر وکړ، ټول کښتونه ئې وران کړل او د ساداتو په کوټله (کلاچه) کي ئې موږ کلابند کړو. موږ چي بې جنگه بله لار ونه لیدله، د تورو او چړو سره پر راووتلو او جنگ مو ورسره وکړ. د خدای ﷻ په مرسته مو سوبه په نصیب سوه او ځکه چي زموږ خلک لږ وو، نو په شکستیانو پسي نه ولاړو.

تعاقب نمودن نه از راه بود
که مرد اندک و روز بیگاه بود

په دې جنگ کي زموږ پنځه ویشت تنه شهیدان سول او د دوی دوه سوه تنه ومړل او س ئې له هاپړ څخه درې کروهه ها خواته اړولي دي.

د دغه کتاب په ۱۲۶ مخ کي کښلي دي:

د لومړۍ خور د میاشتي په درېیمه حال راغی، د سکانو پوځ چي د هاپړ په شپږ کروهي کي ئې اړولي و، پر هاپړ برید وکړ. شادل خان ئې مقابلې ته راووت، درې سوه کسه ئې له سکانو ووژل، مگر سوبه ئې په نصیب نه سوه، گړه مکتیسر ته ځني وتښتېد او سکانو هاپړ ولوټه. فراقي د دغه لوټ په باب ویلي دي:

در افتاد در قلب افغان شکست
مخالف بتاراج بکشاد دست
به بنگاه سکان کران تاکران
زمین شد ز بار غنیمت گران
ز بسیاری رخت و اسپ و شتر
دل و دیدهٔ مفلسان گشت پر

پاچا چي دا خبره واورېدله دا بیت ئې ووایه:

بر اسلام شد لشکر کفر چیر
ز روباه بگریخت غرنده شیر

سبا ته دا حال راغی. چې سکانو د هاپړ له اوسېدونکو څخه، چې د شادل خان په تعلقه کې دي، خراج (چې سکانو راکهي بلله) واخيست او د ګړه مکتيسر پر ګودر، تر ګنګا پورې وتل ولاړل او هاپړ ئې خوشې کړ [۱۳۴۰].

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۱۸۲ مخ کې کښلي دي:

نواب غلام قادر خان عمرخيل ته د شجادل (شادل) خان د وروور رستم خان خط راغلی دئ او کښلي ئې دي:

په هاپوړ کې د مرهټو تهانه ناسته وه، پس له جنګو څخه مجبوره سوه تانه ئې پرېښووله. دېرش (۳۰) آسان او پنځه توپونه موږ ځني ونيول.

غلام قادر خان روهيله په جواب کې ورته وکښل:

آسونه مې تاسي ته دربخښلي دي، دوه زره سپاره نوکران کړئ او تر هر ځايه، چې مولاس رسېږي خپل ئې کړئ.

د حديقة الاقاليم مولف په ۴۴ مخ کې کښلي دي:

زه يوه ورځ قدسيه باغ ته ورغلم او د دوهم عالمګير دربار مي وليد، د لوی تخت لاندي څلو ښنت پنځوس کسه اميران دواړو خواوو ته ولاړ وو لکه: نجيب الدوله، شادل خان پښتون او علي قلي خان شپږ ګوتی.

مخلص خان دراني پوپلزی

لومړی وار چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه هندوستان ته تئ، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه له حضوره څخه مخلص خان او بوستان خان پوپلزی، د سرلام په ډول د ناصر خان زيګ مقابلې ته وګمارل سول، ناصر خان ئې مات کړ [۱۳۴۱].

مخلص خان د هرات په نيولو کې ډېره توره کړې وه، ځکه نو له هراته څخه د بلخ او شبرغان لوري ته ولېږه سو.

د تاريخ احمدشاهي په ۲۶۰ مخ کې کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله عليه چې د (۱۱۶۳ هـ.ق.) کال په لومړيو مياشتو کې د هرات د نيولو له پاره، د هرات په شاوخوا کې اړولي و، د ميمنې مشر "حاجي بی" او د بلخ او د هغه د شاوخوا

(۱۳۴۰) ذکر وقایع عالمشاهي. ۱۲۹ مخ.

(۱۳۴۱) تاريخ احمد شاهي. ۹۶/۱ مخ.

آق سقالان او نور اعیان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغلل او وئې ویل:
د بخارا والي رحیم خان اتالیق، چې د بخارا د پاچهانو سردار و، د بخارا حاکم ابوالفیض خان ئې وواژه، څو وخته ئې د ده زوی په نامه پاچا کړ، اوس ئې هغه وواژه، پخپله پاچا سو او په ماوراء النهر او ترکستان کې د ظلم بازار تود دئ، ته زموږ په داد ورسېږه.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د دوی عرض د هرات تر فتحې پورې وځنډاوه. د هرات تر فتحې وروسته ئې حاجي بی د بلخ د حکمران او عطاء الله ترکمان، د ده د سپهسالار په توګه وټاکه، مخلص خان درانی ئې له څه پوځه سره ورسره کړ.

د تاریخ احمدشاهي په ۳۰۲ مخ کې کښلي دي:

د (۱۱۶۳ هـ.ق.) کال په ژمي کې، چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه له خراسانه کندهار ته ستنېدل، په دغه وخت کې د ترکستان د سردار مخلص خان دراني خط راغی. په خط کې کښلي و:

زه ترکستان ته ولاړم، د هغه ځای اشرار مي رعیت کړل. بلخ، اندخوی، شبرغان، قندوز، چچکتو او د آمو جنوبي غاړه مي ونیول.

د تاریخ احمدشاهي په ۳۴۱/۱ مخ کې کښلي دي:

مخلص خان چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره څخه، له هراته ترکستان ته واستول سو، یو څه رکابي پوځ هم ورسره ولېږه سو. په دغه رکابي پوځ کې پښتانه، څه کاسیان او څه قزلباش وو. یو کال وروسته دغو قزلباشو په ترکستان کې د دارګنج د والي (د ایلبارس زوی) په لمسون، د مخلص خان له ملګرو څخه مخ وګرزاوه او پر احمدشاهي لښکر وئې حمله وکړه. پښتنو هم توري راوکښلې او د توري په زور ئې هغه له منځه یوړل، څه وتښتېدل.

د تاریخ احمدشاهي په ۴۱۷ مخ کې کښلي دي:

په (۱۱۶۵ هـ.ق.) کال د قندوز خلک پورته سول، مخلص خان برید پر وکړ، ایل ئې کړل. مخلص خان چې په دغه کال له قندوزه څخه بلخ ته راتئ، په لار کې ناروغه سو او ومړ.

د تاریخ احمدشاهي په ۱۲۰۱/۲ مخ کې کښلي دي:

په (۱۱۶۵هـ. ق.؟) کال د پسرلي وخت و، اعلیحضرت احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر هغه سپارلی استالف ته ولاړ، چې مخلص خان له بلخه ورته رالېږلی و. پر لاري آس بدرګه وخوړله، لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ځني ولوېده، پزه ئې پر ډبره ونښته خوږ سوله، دغه خوږ وروسته خوراړه سو او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د مرګ سبب سو.

میر هزار خان الکوزی او زوی ئې

محمد عظیم خان

په (۱۱۶۵ هـ.ق.) کال چې د بلخ، شبرغان او قندوز افغاني والي مخلص خان پوپلزی ومړ، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا میرهزار خان الکوزی د بلخ او شاوخوا سیمو په حکومت وټاکل سو او له کندهاره څخه بلخ ته ولاړ[۱۳۴۲].

د (۱۱۶۷ هـ.ق.) کال د رجب په میاشت کې، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په امر، له فراه څخه نواب خان الکوزی جزایر چي باشي او میرهزار خان الکوزی وګمارل سول، چې د سرلام په شکل قائن ته ولاړ سي، هغه خلک آرام کړي او د مشهد په لار کې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پوځونو مله سي. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د برات د میاشتي په نهمه له فراه څخه رهي سو[۱۳۴۳].

په (۱۱۷۰ هـ.ق.) کال چې شهزاده تیمور سدوزي او سردار جان خان په لاهور کې، لومړي د نائب الحکومه او دوهم د مدار المهام په توګه کار کاوه، میرهزار خان الکوزی ورسره و. د (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال د برات د میاشتي په لومړۍ ورځ، چې شهزاده تیمور سدوزی او سردار جان خان له لاهوره پېښور ته وخوځېدل، د مرهټو په مقابل کې میرهزار خان له لږو پوځونو سره، په لاهور کې پاته سو.

تېمورشاه سدوزی چې د مرهټو له لاسه پېښور ته رهي سو، د لښکر د چنداول پوځ مشر میرهزار خان و. د وزیر آباد په سیمه کې د ښمنان پر راغلل. تېمورشاه چې له خپلو لښکرو سره تر رود پرپوتلی و، څه پوځ ئې د میرهزار خان مرستي ته وګماره، چې تر رود پوري وزي. د مرهټو او سکانو ګڼو پوځو پر میر هزار خان باندې، په داسي وخت کې برید وکړ، چې د چُناب تر سیند ئې لښکر پوري وتئ. د میرهزار خان د پوځ وروستنۍ برخه غلیمانو ښه وځبله، څو زره بندیان ئې څني ونیول. میر هزار خان او یاسین خان غلجی د ښمنانو په لاس کښېوتل او د صندوق خانې داروغه الله یار خان، امیر خان قابوچي باشي او حاتم خان شاه سیون ووژل سول.

سکانو پښتانه بندیان امرتسر ته بوتلل او هلته ئې د امرتسر د تالاب په پاکولو کې کار څني واخیست او شپه و ورځ به ئې ختې په کولې.

تېمورشاه سدوزی له سردار جان خان سره پېښور ته ورسېد او راګهو او ملهار راو هولکر

[۱۳۴۲] تاریخ احمدشاهي ۴۱۸/۱ مخ.

[۱۳۴۳] تاریخ احمدشاهي ۴۳۳/۱ مخ.

لاهور ولوته[۱۳۴۴].

قاضي ظهور الحسن خان "ناظم" په نګارستان کشمیر ۲۲۹ مخ کي کښلي دي:

زمان شاه سدوزي په (۱۲۰۸ هـ.ق.) (= ۱۷۹۴ ع.) کال د میرزا خان پر ځای، میر هزار خان الکوزی د کشمیر حاکم مقرر کړ. په (۱۲۰۹ هـ.ق.) کال چي زمان شاه سدوزی پېښور ته ولاړ، له میر هزار خانه ئې خراج وغوښت، میر هزار خان تښته وکړله. د زمان شاه سدوزي له خوا د میر هزار خان پلار، د ده د پوهولو له پاره ولېږه سو. ده خپل پلار هم بندي کړ، ځکه نو د زمان شاه له خوا رحمت الله خان الکوزی د ده ځبلو ته وګماره سو. خورا خونړی جنګ پېښ سو، په دغه جنګ کي میر هزار خان الکوزی د بندي په توګه، د حریف لښکر په لاس ورغی او د کشمیر حکومت، رحمت الله خان الکوزي ته پاته سو.

د تاریخ سلطاني په ۱۵۲ مخ کي کښلي دي:

تېمورشاه سدوزی چي پاچا سو، د الکوزو مشرتوب ئې میر هزار خان الکوزي ته وسپاره.

د تاریخ سلطاني په ۱۵۷ مخ کي کښلي دي:

تېمورشاه سدوزي په (۱۲۰۵ هـ.ق.) کال د بخارا له پاچا شاه مراد بېګ سره د بلخ په شاوخوا کي وجنګېد، پای ته روغه وسوه، تېمورشاه سدوزی چي کابل ته راستون سو، بلخیانو بیا د بغاوت نغاره ووهله. تېمورشاه سدوزي دا وار میر هزار خان الکوزی ور ولېږه. میر هزار خان چي بلخ او تاشقرغان ته ورسېد، ومړ.

د تاریخ سلطاني مولف زین سنګه لکهنوي د میرهزار خان مرګ، د حاجي کریمداد خان بامېزي تر مرګ د مخه راوړی دئ.

په کشمیر کي د سري نګر مسجد سنګین (پتهر مسجد) میر هزار خان الکوزي مرمت کړئ دئ.

ګفت هاتف: بعهد میر هزار
نو شد آباد مسجد سنګین[۱۳۴۵]
۱۲۰۹

په کندهار ښار کي د میر هزار جامع مسجد د ده له بناوو څخه دئ او د الکوزو کوڅه، چي دغه جامع په هغه کي واقع ده، د ده د اوسېدلو ځای و.

د میرهزار خان الکوزي زوی:

د میر هزار خان یو زوی محمد عظیم خان الکوزی و، چي له سردار پاینده خان بارکزي سره یوځای په (۱۲۱۳ هـ.ق.) کال زمان شاه سدوزي ووژل.

[۱۳۴۴] تاریخ احمد شاهي، ۷۳۷/۲ مخ.
[۱۳۴۵] نګارستان کشمیر، ۳۲۴ مخ.

د تاریخ سلطاني په ۱٦٥ مخ کي کښلي دي:
په (۱۲۱۰ھ.ق.) کال د خاک چوپان (د ګرشک او کشکنخود ترمنځ) په جنګ کي، چي د زمان شاه سدوزي او شاه محمود سدوزي تر منځ پېښ سو، محمد عظیم خان الکوزی د شاه محمود سدوزي د سرلام پوځ مشر و. په جنګ کي مات سو، د هرات پر ځای د کندهار ښار و خوا ته وتښتېد. په ذاکر کي ئې د میا عبد الحمید هوتک رحمة الله علیه خانقا ته پناه وروړه او د ده په شفاعت شاه زمان سدوزي وباخښه.

میا عبد الحمید هوتک رحمة الله علیه خپل زوی میا جان محمد، د زمان شاه سدوزي حضور ته ورسره واستاوه[۱۳۴٦]

نواب سعد الله خان بړېځی
(روهیله)

نواب سعد الله خان بړېځی د نواب علي محمد خان روهیله دریېم زوی دئ. په (۱۱۴۸ھ.ق.) کال زوکړی دئ. د نواب علي محمد خان روهیله د مړیني په وخت کي، د ده مشران زامن عبد الله خان او فیض الله خان یو کال د مخه ستر تولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له ځانه سره، له سرهنده څخه کندهار ته بېولي وو او د کندهار په دربار کي وو. تر دوی کشر زوی ئې سعد الله خان، د "حیات حافظ رحمت خان" نومي کتاب په روایت، اته کلن او د دوراپرېدي د "تاریخ روهیلکهنډ" په وینا څوارلس کلن و، چي د روهیلکهنډ د پښتنو سردارانو له خوا، د روهیلکهنډ په نوابی وټاکه سو او حافظ رحمت خان بړېځي د نواب سعد الله خان[۱۳۴۷] په نیابت، د روهیلکهنډ اداره پر خپله غاړه واخیستله.

[۱۳۴٦] درة الزمان، ۷۷ مخ.

[۱۳۴۷] د نواب سعد الله خان روهیله د مرګ تاریخ معظم عباسي بریلوي داسي ویلی دئ:

این همه بی سر و بې پا ز وفاتش گشتند
کرم و بخشش و جود و علم و تیغ و قلم

ر (۲۰۰) + خش (۹۰۰) + و (٦) + ل (۳۰) + ی (۱۰) + ل (۳۰) = ۱۱۷٦ھ.ق.

د حدیقة الاقالیم په ۱۴۲ مخ او د دوراپرېدي د تاریخ روهیلکهنډ په ۴۴ مخ کي لیکلي دي، چي نواب سعد الله خان بړېځی په (۱۱۴۸ھ.ق.) کال زوکړی او په (۱۱۷۵ھ.ق.) مړ دئ.

دا چي د درة الزمان په ۴۱۸ مخ کي د نواب علي محمد خان روهیله زوی، نواب سعد الله خان روهیله، د شاه زمان سدوزي (۱۲۰۷–۱۲۱٦ھ.ق.) د پاچهی له اراکینو څخه بلل سوی دئ، حقیقت نه لري.

په (۱۱۶۷ هـ.ق.) کال چي د نواب علي محمد خان د مشرانو زامنو (عبدالله خان او فیض الله خان) په تېنګار، حافظ رحمت خان بړېڅي د پښتنو سردارانو په سلا، د روهیلکهنډ سیمي د نواب علي محمد خان روهیله پر زامنو او د روهیلکهنډ پر پښتنو سردارانو ووېشلې، نواب سعدالله خان بړېڅي ته د انولې سیمه په برخه کي ورغله.

د (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال د روژې په میاشت کي، د ډهلي د دربار ناسیاله وزیر عماد الملک غازي الدین پر اوده باندي برید وکړ، پای ته د روهیلکهنډ د نواب سعد الله خان روهیله په وسیله روغه وسوه او شجاع الدوله پنځه لکه روپۍ ناسیاله وزیر غازي الدین ته ومنلې.

په (۱۱۷۰ هـ. ق.) کال چي ستر ټولواک لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له کندهاره څخه ډهلي ته ورغی، حافظ رحمت خان د روهیلکهنډیو پښتنو له خوا، نواب سعد الله خان روهیله د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ولېږه او ډېر درانه سوغاتونه ئې د اشرف الوزراء شاه ولیخان د توربره (یعقوب علي خان) په لاس، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ورواستول، چي د پښتانه ستر ټولواک له خوا ومنل سول.

د احوال نجیب الدوله په ۱۵ مخ کي کښلي دي:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لښکرو، چي په تراوړي کي بهورتیا مرهټه ته ماتې ورکړه او تر جمنا سیند دوآبي ته پوري ووت، نواب سعدالله خان بړېڅی، د روهیلکهنډ له نورو روهیله سردارانو سره د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو.

د نواب سعدالله خان روهیله یوه لور پاته سوه.

نواب سعد الله خان روهیله د نواب دوندي خان بړېڅي زوم و او د نجیب الدوله نجیب خان عمرخېل یوسفزي ساندو (باجه) و او بل د سعد الله خان روهیله لور "نظام بیګمه" د نجیب الدوله د زوی "کلو خان" ماندینه وه[۱۳۴۸].

نواب فتح الله خان سدوزی

د احوال نجیب الدوله په ۲۲ مخ کي کښلي دي:

"فتح الله خان سدوزی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د خاله زوی و. دی په پښه ګوډ و، ځکه په ګوډ نواب مشهور و".

فتح الله خان د پاني پت په تاریخي جنګ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه مل و[۱۳۴۹].

[۱۳۴۸] وګ: اخبار الصنادید، ۳۵۸/۱ مخ.

[۱۳۴۹] وګ: احوال نجیب الدوله، ۲۲ مخ.

وايي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د مهمو پیښنو په اړه د مشورې یو انجمن جوړ کړی و، چې د دغه انجمن مشرتوب د فتح الله خان سدوزي پر غاړه و. په دې اړه د تاریخ احمدشاهي مولف محمود الحسینی الجامي په لومړي ټوک کې داسې کښلي دي:

"…. بعد اجتماع عساکر ظفر نمون و فراهم آمدن افواج نصرت مشحون، سان لشکر دیده و هر فردی را از افراد سپاه فیروزی دستگاه، به قدر تفاوت درجات و تناسب طبقات، مشمول اعطاف خاقانی و محفوف الطاف سلطانی گردانیده، به مراعات مراسم به تیقّظ و دوراندیشی و مراقبت ضوابط خبرت و خردکیشی مصدقه [و شاورهم فی الامر] را کاربند گردیده و قول اکابر سلف را که؛

در همه کار مشورت باید
کار بی مشورت نکو ناید

رتبهٔ قبول و اقبال بخشیده، انجمن مشاوره و محفل مطارحه آراسته، از عقلای دوربین و خردمندان صواب گزین، در اختیار این مهم اهم مشورت خواسته، اعاظم خوانین و امرای عالی جاه و افاخم سرکرده های والا دستگاه را که اعظم و اقدم آن گروه والا شکوه فتح الله خان سدوزایی و ملا ادریس خان قاضی عساکر ظفر توأمان می باشند، در مجلس انس و محفل قدس بار داده، زبان گوهرفشان وحی ترجمان به اظهار ما فی الضمیر گشاده که همگی ارکان سلطنت و اعیان خلافت به امعان نظر در اطراف و جوانب قصد والا و عزیمت جهان پیرا درنگرند و تأمل وافی و تفکر کافی به کار برند و آنچه من کل الوجوه مختار مصلحت بین و مقبول دانش صواب گزین باشد، به پایهٔ سریر خلافت مصیر معروض گردانند …..".

بل ځای (په دوهم ټوک) کې لیکي:

"… همان شب که صبح آن حرکت از آن فرقهٔ بی عاقبت به ظهور رسید، به فتح الله خان سدوزیی که انیس اوقات بزم و مونس هنگامهٔ حرب و رزم است، و ملا ادریس خان قاضی عسکر نصرت نشان که درجه تقرب و محرمیت خاص در خدمت سلطان سلاطین جهان و در علو فطرت و کمال فهم و دانش، رتبه تفوق بر دانشوران زمان دارد اعلام بخشیده، فرمودند…".

بل ځای فتح الله خان سدوزی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ندیم بولي او داسې لیکي:

"دیگر بود خان شجاعت پناه
نشینندهٔ مجلس پادشاه
ندیم جهاندار والانژاد
امیر وفاکیش صاف اعتقاد
که دارد قرابت به این شهریار
بود خان فتح الله نام دار
شه کامگار سعادت قرین
برازندهٔ تاج و تخت و نگین
نگردد به دشمن چرا فتحیاب
که فتح اللهش هست اندر رکاب"

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د ناروغۍ د شدت په وخت کې، چې کوم سرداران د ده د پوښتنې

ورتلل، په هغو کي هم چي کوم تقرب فتح الله خان سدوزي ته حاصل و، بل چا ته ن و په
پاره ورتلل، په دې اړه د تاریخ احمد شاهي مولف محمود الحسینی الجامي (په دوهم ټوک کي) داسي
لیکي:

"..... در آن حال نظر مرحمت گستر بر صلاح امور جهان و جهانیان افگنده، با وجود تشدد
آلام و وفور رنج و اسقام، ابواب استلام کعبۀ مقصود و مرام بر روی فدویان ذوی الاحترام می
گشادند و گاه گاه به جهت حفظ سلسلۀ امن و امان، سایر امرا و رئیسان و جمیع خوانین سرداران
را در خلوتکدۀ سعادت بنیان کامیاب مقاصد صوری و معنوی ساخته، رخصت زمین بوس می
دادند؛ لیکن سوای مبانی اخلاص و وفا و سالک مسالک عقیدت و صفا، سرحلقۀ امرای
بارگاه و قدوۀ خوانین حشمت دستگاه، جلیس مجلس خاص و انیس نهان خانۀ یک جهتی و
اخلاص، محرم اسرار سلطنت و شاهنشاهی، منظور انظار عاطفت ظل اللهی، فتح الله خان
سدوزیی که نقد اعتقاد و اخلاصش بر محک امتحان کامل عیار است، احد دیگر را سعادت
ملازمت هر روزه ممکن و میسر نمی شد...".

د فتح الله خان د مرګ کال د صحیفۀ زرین د پنجاب د برخي په ۱۲ مخ کي (۱۷۴۱ ع.) کال
کښلی دئ، چي له (۱۱۵۴ هـ.ق.) کال سره مصادف کېږي او دا تاریخ څکه غلط دئ، چي تر
(۱۱۷۴ هـ.ق.) کال پوري د ده ژوند یقیني دئ او په دغه کال ئې د پاني پت په جنګ کي ګډون
کړی و.

په صحیفۀ زرین کي کښلي دي:

د ده (فتح الله خان سدوزي) زوی رحمت الله خان دئ، چي د شاه زمان سدوزي وزیر و.

په تاریخ حسین شاهي کي کښلي دي:

رحمت الله خان کامران خیل سدوزی، د شاه شجاع سدوزي خسر، د شاه زمان سدوزي
معتمد الدوله و. په (۱۲۱۲ هـ.ق.) کال چي شاه زمان سدوزی لاهور ته ولاړ، دی ورسره و. د
پنځوسو کالو په اندازه عمرئې و. ډېر چمباز، عیاش، هوښیار، کین کښه، خوږژبی او په ښکاره
خوشخلقه سړی دئ. خوشامدګران ئې خوښېږي.

د صحیفۀ زرین په ۱۲ مخ کي کښلي دي، چي په (۱۸۰۵ ع.) (= ۱۲۱۹ هـ.ق.) کال په کابل
کي وواژه سو.

د رحمت الله خان د وژلي په وخت کي، د ده زوی عثمان خان کوچنی و.

په (۱۲۵۵ هـ.ق.) کال چي شاه شجاع سدوزی د انګرېزانو په مرسته د افغانستان پاچا سو،
دغه عثمان خان ئې خپل وزیر وټاکه او "وزیر الدوله" خطاب ئې وموند.

د عثمان خان څو زامن پاته سول، چي یو په هغو کي اکرم خان نومېد.

اسلم خان د یوولس کالو و، چي پېښور ته ولاړ. په (۱۸۵۷ ع.) کال د بنګال کیولري په پوځ
کي رساله دار سو. په رساله داري کي ئې په ډېر شجاعت د انګرېزانو خدمت وکړ. په (۱۸۷۹ ع.)
کال له انګرېزانو سره، د افغانستان د نیولو له پاره ولاړ او هلته د جلال آباد د پولیټکل افسر نائب

مقرر سو او تر څو، چي د انګرېزانو لښکر له افغانستانه ووت، دی په خيبر کي د يوه افسر په حيث، د سرحد دار وظيفه اجاره کوله. په (١٨٨٤ع.) کال چي د روسيې او افغانستان سرحدونه ټاکل کېدل، دی د سرويسټ رجوې صاحب سره په دغه هيأت کي و. له دغه هيأته چي راستون سو، په خيبر کي د انګرېزانو له خوا وټاکل سو. د افغانستان او برطانوي هندوستان د سرحدونو د ټاکلو په هيأت کي هم دی غړی و.

په افغانستان کي د برطانيا د خدمت په صله کي، د "سردار بهادر" خطاب په (١٨٨١ع.) کال ورکړه سو او په (١٨٩٩ع.) کال ئې د نوابۍ خطاب وموند.

د ده زوی محمد اکرم خان په پېښور کي اوسېد او اکټر اسسټنټ کمشنر و.

يعقوب خان موسی خېل کامران خېل سدوزی

يوسف خان

هارون خان

نواب فتح الله خان سدوزی

محمد صديق خان
(شاه شجاع په ١٢١۶ هـ. ق. کال خپله ماينه له ده سره راولپنډۍ ته ولېږله، واقعات شاه شجاع، ۴ مخ)

نائب محمد خان
(په ١٢١۶ هـ.ق. کال چي شاه محمود کندهار نيوئ، نائب محمد خان د کندهار نائب و. يارمحمد خان شاه محمود او فتح خان ته دروازې ور خلاصي کړې او شاه محمود سدوزي نائب محمد خان له ټولي کورنۍ سره بندي کړ)

سردار سمندر خان[١٣٥٠]

رحمت الله خان
(معتمد الدوله، وفادار خان رحمت الله خان کامران خېل سدوزی (١١٥٨-١٢١۶هـ. ق. مقتول) د شاه زمان سدوزي وزير و. وفادار خان احمدشاهي لقب و، دولت درانيه، ١٣٠ مخ)

عثمان خان وزير
(له ١٢٥٥ څخه تر ١٢٥٧هـ. ق. پوري د شاه شجاع وزير)

عباس خان
(عباس خان يو وخت پلار کندهار ته د نائب الحکومه د معاون په توګه رالېږلی و. د سردار عباس خان يو قلمي اثر د يادابنتو په نامه ستة. عباس خان د انګرېزانو پنشن خور و. يو څه وخت د مير شير علي خان په دربار کي هم و)

لور
(د شاه شجاع ماينه)

[١٣٥٠] د بالا حصار کابل په دوهم ټوک کي کښلي دي: د (١٢١۶هـ.ق.) کال د لومړۍ خور د مياشتي په نيمائي کي، چي ئې دوه ورونه سردار سمندر خان او رحمت الله خان د عاشق شينواري له کلا څخه له زمان شاه سدوزي سره بنديان راوستل، دغه درې ورونه د شاه محمود سدوزي په امر د کابل په بالا حصار کي ووژل سول او مړي ئې امين الملک ښخ کړل.

سید رحمت خان توخی

د تواریخ خورشید جهان په ۲۱۸ مخ کي کښلي دي:

سید رحمت خان د سورخي خان زوی، په ختهٔ بابکرزی توخی و. پلار ئې د لوی احمدشاه رحمة الله علیه له خوا د قلات حاکم و، محمدزي توخي پر را وغورځېدل او دی ئې وواژه. د
ي خان دوه زامن پاته سول:

۱-سید رحمت خان چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره په سفرونو کي ملګری و.

۲-لښکرخان چي په قلات کي و.

د احوال نجیب الدوله په ۲۲ مخ کي کښلي دي:

د هغو پښتنو سردارانو په لړ کي، چي د پاني پت په جنګ کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ضور کي حاضر وو، یو هم سید رحمت خان توخی و.

د تاریخ احمدشاهي په (۵۴۱ الف او ۵۴۸ الف) پاڼو کي کښلي دي:


په (۱۱۷۵ هـ.ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په لاهور کي اړولي و، سید رحمت ئې، چي د توخو مشر و، د چرت سنګه ځبلو ته وګماره. چرت سنګه په چک ګرو کي و، خبر سو احمدشاهي پوځ د ده ځبلو ته ورځي، د بابري په کلا (چي په رباط مشهوره ده) ئې، د غره په لمن کي استحکامات جوړ کړل. جنګ چي پیل سو، په دغه جنګ کي چرت ګه ماتې وکړه.

ثو ورځي وروسته، چي رحمت خان د رباط تر کلا دباندي اړولي و، سکانو د شپې برید وکړ، رحمت خان په مېړانه وجنګېد، خو په دغه جنګ کي شهید سو. ولک خان هم له ده ره په دغه جنګ کي ملګری و، هغه هم شهید سو. په دغه جنګ کي یو سل تنه توخي غازیان هیدان سول. نور د سنګر خوا ته تر شا سول. عبدالله خان دیوان بیګي، حاضر خان علي زی حسن خان الکوزی له خپلو پوځو سره په مرسته ور ورسېدل.

اشرف خان توخی

د تاریخ احمدشاهي په (۳۷ الف) پاڼه کي کښلي دي:

د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ په لومړي کال اشرف خان توخی د قلات واکمن
لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي له خپلو پوځو سره قلات ته راغی، دی کلا بند سو. قاض
ادریس ئې د ده د لاربښووني له پاره ور ولیږه، مګر اشرف خان د ده خبره ونه منله، جنګ پېښ
سو. اشرف خان د صابر شاه په واسطه امان ومونډ. زوی ئې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه
خوا د قلات حاکم وټاکه سو، دی (اشرف خان) د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په پوځ کي کاب
ته ورسره رهي سو. ده زوی ته وکښل، چي پورته سي. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي خبر سو
د ده زوی ئې د قلات له حکومته ایسته کړ. دی ئې په بند کي وواژه.



جنګباز خان ملک میری بنګښ

مګر نور الدین حسین خان له لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره د پاني پت په جنګ کې د حاضرو
...نو سردارانو په لړ کې، د ده نوم "بازجنګ خان بنګښ" ضبط کړی دئ[1351].

د تاریخ احمدشاهي مولف محمود الحسیني الجامي (په ۵۴۱/۱ مخ کې) د لوی احمد شاه
بابا رحمة الله علیه د نهم جلوسي کال په واقعاتو کې د ده نوم "باز جنګ خان" لیکلی دئ:

په (۱۱۶۸ ه.ق.) کال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له حضوره د بنګښباتو حاکم باز جنګ خان
(جنګباز خان) د ګجرات، سیالکوټ، اورنګ آباد او پرسرور (چار محال پنجاب) حاکم وټاکه سو.
...ده د مخه میر صفت الله خان کابلی د چهار محال سرپرست و.

د ده خپل متن دا دئ:

".... و درین سال حکومت ګجرات و سیالکوت و اورنګ آباد و پُرسرور، محالات متعلقهٔ
لاهور، از عزل میر صفت الله خان کابلی، به بازجنګ خان حاکم بنګشات عنایت شد...".

په سیر المتاخرین کې "جان باز خان" راغلی دئ.

د تاریخ احمدشاهي په ۵۶۱/۱ مخ کې کښلي دي:

په (۱۱۶۹ ه.ق.) کال د بازجنګ خان یو خط لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته را ورسېد. په دې خط
کې داسي لیکل سوي و:

"د (۱۱۶۹ ه.ق.) کال په شروع کې غازي الدین، چې د ډهلي د دربار ټول واک پخپل لاس کې
اخیستی دئ، له یوه لوی لښکر سره مخ پر سرهند را روان دئ. سید جمیل الدین خان ئې د لاهور
حاکم او صدیق بیګ خان ئې (د باز جنګ خان پر ځای) د چار محال حاکم ټاکلی دئ. د کشمیر د
احمدشاهي حاکم سکهـ جیون مل سره ئې لاس یو کړی او هغه ئې له کشمیره ورغوښتی دئ او هغه
هم پر پنجاب یرغل کړی او بازجنګ خان ئې د سیالکوټ په کلا کې کلابند کړی دئ ...".

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ته چې دا لیک را ورسېد، د برات د میاشتي په دوه ویشتمه ئې له
کندهاره د پنجاب پر خوا لښکر و خوځاوه.

د آریانا مجلې د ۲۷۶ پرله پسې ګڼې په ۳۴ مخ کې کښلي دي:

په (۱۷۵۷ ع.) کال چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر هندوستان حمله کوله، د بنګښو له خان
سره پنځه زره تنه جنګیالي وو.

د عهد بنګښ په ۱۳۰ مخ کې کښلي دي:

[1351] احوال نجیب الدوله، ۲۲ مخ.

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه، چي د پاني پت جنګ ته، د مرهټو د ځبلو په نیامت هندوستان ته راغی، غالب جنګ نواب احمد خان بنګښ هم احمدشاهي لښکرګاه ته ځان ور رساوه. د وزیر شاه ولي خان او جنګ باز خان ملک میري بنګښ په واسطه، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په حضور مشرف سو او د پاني پت په جنګ کي ئې د جنګباز خان بنګښ تر مشرتابه لاندي، د بنګښو په پوځ کي ګډون درلود.

محمود خان (خواجه سرا)

نور الدین حسین خان له لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره د پاني پت په جنګ کي، د حاضرو پښتنو سردارانو په لړ کي، د ده نوم هم راوړی دئ او د ده رتبه ئې "غولار اغاشي" کښلې ده،(۱۳۵۲) چي ښائي صحیح شکل به ئې "غول لر اغاسي" وي، چي د قول اردو د مشر معنی لري.

محمود الحسیني د تاریخ احمدشاهي د دوهم ټوک په ۵۳۸ مخ کي، محمود خان خواجه سرا ته د قوللر آقاسي د رتبې د ورکړي او د ده د قوم په باب داسي کښلي دي:

"... و درین وخت فرخنده و زمان خجسته، عالی جاه معلی جایګاه، فدوی یکرنګ آستان خلافت بنیان، مقرب الخاقان محمود خان خواجه سرا، از کمال تفضلات شاهنشاهی به رتبهٔ ارجمند قوللر آقاسی ګری سرکار خاصه شریفه ممتاز و سربلند ګردید.

مشار الیه در اصل و نژاد از تخمهٔ اکابر و امرازادهٔ جماعه های اکراد بلیارس است".

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د خپل سلطنت په نهم کال محمود خان خواجه سرا سیستان ته واستاوه، چي د سیستان د حاکم سلیمان کیاني لور، چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته ئې ورکړې وه، له سیستانه څخه راولي(۱۳۵۳).

محمود خان خواجه سرا (قوللر آقاسي) د پاني پت په تاریخي جنګ کي، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره ملګری و. د تاریخ احمدشاهي په ۹۹۷/۲ مخ کي کښلي دي:

".... آفتاب سپهر عظمت و داوري، محمود خان قوللر آقاسی سرکار خاصهٔ شریفه را که به سبب انقطاع اعضای تناسل از سلسلهٔ انتساب بنی نوع بیګانه و به اختصاص قرب و منزلت و عواطف شاهانه ممتاز از اهل زمانه و بالفعل بوستان دولت و کامګاری را به منزلهٔ انګور بیدانه است، با غلامان پادشاهی تعیین نموده، خود هم عنان یکران عزیمت را از سمت میسره به جانب میمنه معطوف فرمودند. مشار الیه با فوج غلامان کینه ور عاجل تر از باد صرصر، به میدان

(۱۳۵۲) احوال نجیب الدوله، ۲۲ مخ.

(۱۳۵۳) وګ: تاریخ احمدشاهي، د محمود الحسیني تالیف، د ماسکو (۱۹۷۴ع.) چاپ، ۵۴۰/۲ مخ.

کارزار رسیده، غلامان قادر انداز دشمن شکار را از اسپان پیاده ساخته، نوعی به جنگ انداخت که گویا برق خاطف از آسمان بر سر ارباب عصیان فرود آمده، یا ریح عاصفی بود که خس و خاشاک وجود ناپاک آن طایفهٔ ظلمت آمود را عرضهٔ تلف و هلاک ساخت.

در آن عرصه محمود خان دلیر — به میدان هیجا در آمد چو شیر
فرود آمد از اسپ در کارزار — کند در فرود آمدن تیغ کار
غلامان شه را پیاده نمود — به آئین و رسمی که در کار بود
.... — ....

ملا خدا بخش خان ساګزی
(ملا باشي)

د تیمور شاه سدوزي د (۱۲ ربیع الاول ۱۱۹۸ هـ.ق.) په فرمان کي د ده ذکر سته.

د ملا خدا بخش پلار ملا ولي محمد حوازی ساګزی و، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په فرمان، د کندهار ملاباشي مقرر سوی دئ. تر ده وروسته ئې زوی، ملا خدابخش خان پر ځای ملا باشي سو.

ملا دوست محمد ترین

دی هم د تیمور شاه سدوزي د یوه فرمان (۱۲ ربیع الاول ۱۱۹۸ هـ.ق.) له مخي د کندهار په علماوو کي و، چي له دولته ئې وظیفه (تنخواه) درلوده.

یو ملا دوست محمد د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په زمانه کي د ښکاپر (شکارپور) ولایت ته لیږل سوی دئ او میا فقیر الله جلال آبادي رحمة الله علیه په خپل مکتوبات کي د ده ستاینه کړې ده.

قاضي فتح الله خان

قاضي فتح الله خان په (۱۱٦٠ ه.ق.) کال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په فرمان، د کابل خانعلوم او قاضي القضاة مقرر سو. د ده په مهر کي (۱۱۴۵ ه.ق.) سنه لیکلې ده. دی تر (۱۱۷۳ ه.ق.) کال پوري د کابل قاضي و. د کابل په شور بازار کي "مسجد سفید" د دغه قاضي فتح الله خان مسجد و.

په (۱۱۷۳ ه.ق.) کي د کابل خانعلوم او قاضي القضاة مولوي عبدالله دئ، چي غالباً به نوموړي قاضي فتح الله خان وروریا زوی وي.

عبدالله خان دیوان بیګي

نور الدین حسین خان فخري چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه سره د پاني پت په جنګ کي، حاضرو پښتنو سردارانو په لړ کي د ده نوم راوړی دئ، د ده رتبه ئې دیوان بیګي او ضبط بیګي کښلې ده(۱۳۵۴).

د تحفة السلام په ۳۸ مخ کي د عبدالله خان رتبه "شاغاسي" کښلې ده او زیاته کړې ئې ده: عبدالله خان شاه غاسي چي دوهمه پلا پر کشمیر برید وکړ، په مظفر آباد کي ئې له خواجه ابو الحسن خانه شخه ماته وکړه او بیرته ولاړ.

د کشمیر حاکمان:

۱–خواجه ابو الحسن خان
۲–عنایت الله خان شهید صوبه دار کشمیر(۱۳۵۵).
۳–نواب افراسیاب بیګ زوی ئې علي رضا بیګ(۱۳۵٦).

(۱۳۵۴) وګ: أحوال نجیب الدوله، ۲۲ مخ.
(۱۳۵۵) تحفة السلام، ۴۱ مخ.
(۱۳۵٦) تحفة السلام، ۴۰ مخ.

نور محمد خان علي زی

د حیات افغاني په ۱۲۷ مخ کي کښلي دي:

پسله هغه چي ذوالفقار خان پر مشهد برید وکړ، نادر افشار چي هرات ونیو، نور محمد خان علي زی ئې له خپلي قبیلې سره ایران ته فراره کړ. نور محمد خان د داغستان په جنګ کي سه توره وکړله، غني خان الکوزی، حاجي جمال خان بارکزی، خانو خان او مانو خان نورزی هم رسره وو.

په ۱۲۸ مخ کي ئې دا هم زیاته کړې ده:

په (۱۱۵۰ هـ.ق.) کال چي افشار نادر کندهار له شاه حسین هوتکه څخه ونیو، نور محمد خان علي زي او د ده قبیلې ته ئې زمینداور ورکړ.

د تاریخ احمد شاهي په (۲۱/۱ ب پاڼه) کي کښلي دي:

نور محمد خان د افشار نادر له خوا د ابدالیو مشر او د کندهار سرکرده و. افشار نادر چي وژل کېدئ، نور محمد خان علیزی په کندهار کي و، ځکه چي نادر د درانیو د پوځ د جوړولو له پاره کندهار ته لېږلی و. نور محمد خان علیزی د درانو له لښکر سره په سنزري کي و، چي د احمد خان (لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه) له خوا هغه دراني سرداران، چي له ګرشه ئې کندهار ته لېږلي وو، ور ورسېدل. تقي خان شیرازي او د کابل والي ناصر خان زیګ هم له خزانې او فیل خانې سره، د درانو له پوځه سره په سنزري کي اړولي و.

نواب نظام علي خان

(دوهم آصف جاه)

نواب نظام علي خان (دوهم آصف جاه) د د ډهلي د دربار د وزیر نظام الملک (لومړی) آصف جاه (د ۱۱۶۱ هـ. ق. کال د جمادی الاخر په ۴ مه، د یکشنبه په ورځ مړ او په برهان پور کي ښخ) زوی دئ.

د سلطان التواریخ په ۱۷۱ مخ کي کښلي دي:

په پاني پت کي د مرهټو د ماتي او د بسواس او بهاو په وژلو، چي بالاجي راو د مرهټو پېشوا

خبر سو، د مارواړ، جې نګر، بوندي او کوټه او نورو سیمو هندو راجه ګانو ته ئې د مسلمانانو پر ضد، د مرستي خطونه ولېږل او پخپله ئې دوه لکه تنه سپاهیان پر ځان را غونډ کړل او د شاه جهان آباد (ډهلي) لور ته، له پونې څخه وخوځېد.

نظام علي خان چي خبر سو، له حیدر آباده څخه ئې پر پونا برید وکړ، پونا ته ئې اور واچاوه او شاوخوا سیمي ئې ولوټلې. د مرهټو پېشوا چي دا واورېدل، بیرته پونا ته راستون سو.

زمان خان پوپلزی

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي مړ سو، تېمورشاه سدوزي د سیستان حکومت زمان خان پوپلزي ته وسپاره او کله چي په (۱۲۰۷ ه.ق.) کال تېمورشاه سدوزی مړ سو، د سیستان پوپلزي حاکم (زمان خان)، چي ۲۱ کاله ئې دلته تېر کړي وه، یاغي سو او په جنګ کي مغلوب سو[۱۳۵۷].

نواب عبدالله خان الکوزی
(مخلص الدوله)

د تاریخ کا ایک روشن پهلو په ۶۵ مخ کي کښلي دي:

عبدالله خان الکوزی له (۱۷۹۶ ع.) (= ۱۲۱۱ ه.ق.) څخه تر (۱۸۰۸ ع.) (= ۱۲۲۴ ه.ق.) کاله پوري د کشمیر والي و. سهج رام ئې پېشکار و. د شاه زمان سدوزي له حضوره "دیوان هرداس تکو" د سهج رام پر ځای مقرره سو، ځکه چي د هرداس ورور "دیوان نندرام" د شاه زمان سدوزي په دربار کي مقرر و او د ده په سپارښت ئې ورور د کشمیر د دربار پېشکار مقرر سو. عبدالله خان د هرداس له پېشکارۍ څخه راضي نه و.

سردار عبدالله خان الکوزی د سردار جمعه خان الکوزي زوی و، سردار جمعه خان له (۱۲۰۲ ه. ق.) څخه تر (۱۲۰۷ ه.ق.) کاله پوري د کشمیر والي و، د ولایت دوره ئې څلور کاله او پنځه میاشتي وه[۱۳۵۸].

[۱۳۵۷] وګ: آریانا مجله، ۵ ګنه، ۳۷ مخ.

[۱۳۵۸] نګارستان کشمیر، ۲۲۸ مخ.

مکر د بالاحصار کابل په دوهم ټوک کي کښلي دي:

زمان شاه سدوزی د (۱۲۱۲ ه.ق.) کال د برات په میاشت کي، له کابله مخ پر پېښور وکوچېد. پنجاب ته چي ورسېد، عبدالله خان الکوزی ئې د کشمیر په حکومت وګماره[۱۳۵۹].

عبدالله خان الکوزی خورا سخي او خیر اندېښنه سړی و او د کشمیر انتظام ئې خورا ښه وکړ. په (۱۲۱۳ ه.ق.) کال چي زمان شاه سدوزي دوولس تنه خانان مړه کړل، پر مخلص الدوله عبد الله خان الکوزي بدګمانه سو، کابل ته ئې راوغوښت او په بالاحصار کي ئې بندي کړ.

شاه محمود سدوزی چي پاچا سو، عبدالله خان الکوزی ئې بیرته د کشمیر حاکم (والي) مقرر کړ. شاه شجاع سدوزی چي پاچا سو، عبدالله خان الکوزی د کشمیر حاکم پاته سو.

په (۱۲۲۴ ه.ق.) کال کي ئې د بغاوت آوازې راورسېدلې، په دغه کال شاه شجاع سدوزي خپلي لښکري، له کابله د کشمیر په نیت پېښور ته ورسولې، مګر عبدالله خان الکوزي چي دا واورېدله، بیرته اېل سو او مالیه ئې ومنله.

د بالاحصار کابل په لومړي ټوک کي کښلي دي:

د (۱۲۱۶ ه.ق.) کال د ربیع الاول په نیمایي کي، چي شاه محمود سدوزی د کابل په بالاحصار کي پر تخت کښېنوست، عبدالله خان الکوزی ئې، چي په مخلص الدوله مخاطب او ملقب و، له زندانه راویوست او بیرته ئې د کشمیر والي کړ.

د عروج بارکزائي ها په ۲۵ مخ کي کښلي دي:

عبدالله خان الکوزی د کشمیر حاکم ئې، د زمان شاه سدوزي په امر زندان ته واچاوه. ورور ئې سیدال خان، چي دا واورېدل په کندهار کي د شاه محمود سدوزي ملګری سو.

د تاریخ سیاسي افغانستان په ۷۸ مخ کي کښلي دي:

په (۱۲۲۲ ه.ق.) کال عبدالله خان الکوزی شاه شجاع سدوزي ته پورته سو، مختار الدوله شیر محمد خان بامېزی ئې ځبلو ته وګماره سو، تر کلک جنګ وروسته عبدالله خان په کشمیر کي کلابند سو. په دغه کلابندي کي، د ستوني په ناروغي ومړ او د ده تر مرګ وروسته ښار مختارالدوله ونیو او د شاه شجاع سدوزي له خوا د کشمیر حکومت مختار الدوله شیر محمد خان بامېزي ته وسپاره سو.

په تازه نوای معارک ۸۲۴ مخ کي کښلي دي:

این عبد الله خان ملقب به مخلص الدوله ولد جمعه خان درانی الکوزئی از سرداران

(۱۳۵۹) د تاریخ سلطاني په ۱۶۷ مخ کي کښلي دي: شاه زمان سدوزي د (۱۲۱۲ه. ق.) کال د برات د میاشتي په وروستیو کي، عبد الله خان الکوزی په لاهور کي د کشمیر حاکم وټاکه.

معتبر و رجال دربار شاه زمان بود. امام الدین حسیني در تاریخ خویش جائیکه ارکان دولت شاه زمان را شرح میدهد، راجع به او مینویسد:
احوال صوبداران و حکام آن پادشاه گیتی ستان (شاه زمان) آنچه باین مولف معلوم شده مینگارد: مخلص الدوله عبد الله خان پسر جمعه خان درانی صوبدار جنت نظیر کشمیر است، بیست و چهار لک روپیه تمام کشمیر از مال و سایر از حضور انور اجاره گرفته، تنخواه ملازمان متعینه و .... نیز در همین مبلغ مذکوره از حضور انور مجراست. قریب شش هفت لک روپیه از کشمیر وصول میکند. مردیست خوش همت، بلکه به نسبت دیگر درانیان، رحیم و منصف است. با وفادار خان بهادر (وزیر رحمت الله خان سدوزئی) ارادت دارد، و مبلغ بسیار نذرانه هر سال میفرستد ....." (۱۳٦۰).

د "سره غره ګلونه" نومي کتاب په ۵۵ مخ کي کښلي دي:
"د رحمت (داوي) د یادوني له مخي، ده هم د جمعه خان د سرداری په وخت کي او هم د عبد الله خان د حاکمی په وخت کي، په کشمیر کي استوګنه درلوده. جمعه خان الکوزی درانی و، چي له ده سره ئې ښه رویه نه درلوده او سرئې ترې ټکولی دئ، خو عبد الله خان چي د جمعه خان زوی و، د رحمت داوي قدر ئې کړی، نو دی ئې په ښه خوله یادوي".

استاذ خلیل الله خان خلیلي د لوی پیر غوث الاعظم په نامه یوه رساله لیکلې او په (۱۳۵۵ هـ. ش.) کال په کابل کي د اطلاعات او کلتور وزارت له خوا خپره سوې ده، د دې رسالې په ۱۹ مخ کي لیکلي دي:
"هغه وخت چي کشمیر په افغاني قلمرو کي داخل و، د کشمیر والي عبد الله خان په (۱۲۱۱ هـ.ق.) کال د قرآن کریم یوه خطي نسخه، د قادریه زیارت کتابخانې ته رالېږلې ده. دا مبارکه هدیه په دوو مجلدو کي راغلې. د قرآن کریم تر متن لاندي دري تحت اللفظ معنا په ډېره ښکلا او استادی سره لیکلې سوې ده. په حاشیه کي په مأربه توګه درې تفسیرونه جلا جلا قلمي سوي دي، دا تفسیرونه نسفي تفسیر، بیضاوي تفسیر او حسیني تفسیرونه دي. داسي څرګندېږي، چي د دغه با ذوقه سردار په کرم او توجه سره، ډېرو ښو خطاطانو، نقاشانو او مذهبانو، د دغي نسخې په لیکلو کي یو عمر مصرف کړی دئ. د پاڼو پراخوالي او د طلاوو درنښت، چي په هره پاڼه کي لګول سوي دي، د پاڼو د اړولو په وخت کي، د دوو تنو ګډه مرسته غواړي، ځکه چي د دوو تنو له ګډي مرستي څخه (ماسیوا) دا پاڼي نه سي اوښتای. دغه مبارک مصحف د قادریه کتابتون په سر کي په یوه خاص مېز کي ساتل کیږي.

(۱۳٦۰) وګ: د تاریخ حسیني (د ۱۲۱۲هـ. ق. کال تالیف) قلمي نسخه.

(د نواب عبد الله خان الکوزي مخلص الدوله شجره)

جمعه خان الکوزی

(له ۱۲۰۲هـ. ق. څخه تر ۱۲۰۷هـ. ق. پوري د کشمیر حاکم [والي] و)

رحمت الله خان

(د پلار تر مرګ وروسته ۳ میاشتي او ۱۲ ورځي د کشمیر والي و)

عبد الله خان

(لومړی پلا له ۱۲۱۰ څخه تر ۱۲۱۵هـ. ق. پوري او دوهمه پلا له ۱۲۱۸ څخه تر ۱۲۲۳هـ. ق. پوري د کشمیر والي و. په دغه وروستي کال په کشمیر کي مړ سو. تر ده وروسته د مختار الدوله شیر محمد خان زوی د اشرف الوزراء شاه ولي خان لمسی عطا محمد خان مقرر سو)

وزیر یار محمد خان الکوزی

ګلستان خان

(یو کال له ۱۲۱۱ څخه تر ۱۲۱۲هـ. ق. پوري، د عبد الله خان په وکالت د کشمیر والي و)

عطا محمد خان

دین محمد خان

ادراک خان

د (۱۲۰۰هـ.ق.) کال په حدودو کي، چي شهزاده همایون سدوزی د کندهار نائب الحکومه و، ادراک خان د ده د دفترخانې داروغه و[۱۳۶۱].

جمعه خان الکوزی

د (۱۲۰۰هـ. ق.) کال په شاوخوا کي، چي شهزاده همایون سدوزی د کندهار نائب الحکومه و، جمعه خان الکوزی ئې نائب[۱۳۶۲] او د کندهار د مالیاتو وکیل و[۱۳۶۳].

[۱۳۶۱] آریانا مجله، ۲٦۳ پرله پسې (دلو او حوت ۱۳۴۴هـ. ش.) ګڼه، ۷۳ مخ.

[۱۳٦۲] د تیمورشاه سدوزي یو فرمان د (۱۲۰۰هـ. ق.) کال د ذی الحجې په څورلسمه، د خرقې شریفې د متولي ملا عبد الحق الکوزي په نامه صادر سوی دئ، (هلته داسي لیکلي دي):

"...... وجه را از عالیجاه جمعه خان درانی الکوزائی نائب فرزند عزیز و وکیل مالیات احمد شاهي بګیرد و حجت بدهد....".

[۱۳٦۳] آریانا مجله، ۲٦۳ پرله پسې (دلو او حوت ۱۳۴۴هـ. ش.) ګڼه، ۷۴ مخ.

په (۱۲۰۲ هـ.ق.) کال د کشمیر والي سو، تر (۱۲۰۷ هـ.ق.) کاله پوري ئې څلور کاله او پنځه میاشتي د کشمیر حکومت وکړ او هلته و مړ. په زامنو کي ئې عبدالله خان د کشمیر والي، چي بحث ئې تېر سو، مشهور دئ. د هرات وزیر یار محمد خان الکوزی ئې لمسی دئ، چي د عبدالله خان زوی و.

د "سره غره ګلونه" په ۵۳ مخ کي کښلي دي:

"(رحمت داودی) د کشمیر د دې وخت له حاکم (والي) سردار جمعه خان الکوزي څخه داسي سر ټکوي:

ډېر بې قدر تیمورشاه مي غور نه کا	زه رحمت د جمعه خان په سرداري کي
....	....
د غریب و د بډایو مجلس نسي	د رحمت له جمعه خانه سره څه؟
....	....
که جمعه خوښ د کشمیر په سرداري دئ	زه رحمت خوښ د خپل یار په خاکساري یم

میر محمد علي خان ساګزی
(میر آخور باشي)

د تیمورشاه سدوزي په زمانه کي، په کندهار کي د شهزاده همایون سدوزي میر آخور باشي و [۱۳۶۴]. لقب ئې شاه پسند خان و. د شاه زمان سدوزي له خوا د کندهار والي و. په (... هـ.ق.) کال چي شاه محمود سدوزي له هراته څخه پر کندهار حمله وکړه، دی ورسره وجنګېد، چي مات سو په ښار ننوت، یوویشت ورځي کلابند و.

مهر علي خان میر آخور باشي، شاه عزت الله مجددي رحمة الله علیه بن محمد معصوم مجددي رحمة الله علیه (۱۲۰۶ هـ.ق. مړ) ته ارادت درلود. د شاه عزت الله مجددي رحمة الله علیه، چي په حضرت جي مشهور و، زیارت د کابل په سیاسنګ کي سته او شنخته ئې د محمد علي خان میر آخور باشي په مصرف او فرمایش جوړه سوې ده.

[۱۳۶۴] آریانا مجله، ۲۶۳ پرله پسې (دلو او حوت ۱۳۴۴ هـ.ش.) ګڼه، ۷۸ مخ.

خان خانان لقمان خان سدوزی

د تاریخ احمد شاهي په ۱۴۸ مخ کي کښلي دي:
خان خانان لقمان خان سدوزی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه وراره و[۱۳۶۵].
د تاریخ احمد شاهي په ۲۰۷/۱ - ۲۱۰ او ۲۳۰ مخونو کي کښلي دي:
لقمان خان سدوزی په (... ه.ق.) له خراسانه کندهار ته راغی، د "خان خانان" خطاب او
لعه جیغه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا ورکړه سول.
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په کندهار کي د حکومت واګي خپل وراره خان خانان لقمان خان
زي (د ذوالفقار خان زوی) ته وسپارلې.
د تاریخ احمد شاهي په ۳۲۸/۱ مخ کي کښلي دي:
په (۱۱۶۴ ه.ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له پېښوره څخه کابل ته را روان و، په
ر کي خبر سو، چي په کندهار کي خان خانان لقمان خان سدوزي پور ته سوی دئ. تیمور شاه
وزی او د شاهي حرم ځیني نور غړي ئې بندیان کړي. روشندل خان اڅکزی (د برخوردار
اڅکزي ورور) او حاجي حسین خان بامېزی (د اشرف الوزراء خپل) ئې وژلي دي، ځکه نو
بیره څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا شاه پسند خان ساګزی وګمارل سو، چي کندهار
لاړسي او له خان خانان لقمان خان څخه کندهار ونیسي. نوموړي له خپلو پوځو سره په ډېر
ار سره ځان کندهار ته ورساوه.
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه هم له لوی لښکره سره په پسې و. تر ښار دباندي د شاه پسند
ن ساګزي او خان خانان لقمان خان د پلویانو سخت جنګ وسو. خان خانان ماته وکړه، په ښار
ت او کلابند سو. شاه پسند خان ساګزي ښار ونیو او خان خانان ئې بندي کړ. لوی احمد شاه
ا رحمة الله علیه چي کندهار ته ورسېدئ، خان خانان لقمان خان او د ده ملګري ئې ووژل.
بستان خان مستوفي ئې هم وواژه. محبت خان بلوڅ هم په دغه جنګ کي، چي د کندهار
ښار کي دننه واقع سو، د خان خانان لقمان سدوزي په طرفداري، په جنګ کي ومړ.

[۱۳۶۵] آریانا مجله، ۲۶۴ پرله پسې ګڼه، ۱۶۹ مخ.

ملا الیاس اخوند

ملا الیاس اخوند د تېمورشاهي زمانې له لویو علماوو څخه و او له شاهي درباره څخه ئې
مستمري معاش درلود.

ملا پیر محمد کاکړ

لوی ملا او مقتدر ادیب کندهاری ملا پیر محمد کاکړ رحمة الله علیه د حضرت مولانا ابو الوفا
افغاني رحمة الله علیه په روایت مهترزی سنتیا کاکړ دئ، چې د کاکړستان د هندوباغ په سیمه کې
زېږېدلی دئ. نوموړي مولانا دا هم زیاته کړېده: ملک طیب مرحوم ئې د کلي نوم هم یاداوه،
خو اوس زما له یاده وتلی دئ[١٣٦٦]. ډاکټر انعام الحق کوثر د ملک صالح محمد لهړي د لیکنې
په حواله، د ملا پیر محمد کاکړ د زوکړې کلی "کان مهترزی" ښوولی دئ، چې د ږوب د سیمې
د هندوباغ په لمنه کې پروت دئ[١٣٦٧].

ملا پیر محمد کاکړ خپل تحصیلات په کندهار کې بشپړ کړي او دلته پسې مېشت سوی
دئ، تر دې چې د احمدشاهي افغانستان په پایتخت "اشرف البلاد" کې ئې له دې نابودې دنیا
سترګې پټې کړې دي او د حضرت جي بابا رحمة الله علیه زیارت ته نژدې، د شاه ولي پر غاړه، په ابدي
خوب بیده دئ[١٣٦٨].

ملا پیر محمد کاکړ د سدوزو د پاچهۍ په لومړي وخت کې، د کندهار مشهور مدرس
عالم او د نامه تښتن فاضل و، له پاچهي خزانې څخه ئې د کندهار د لویو او مدرسو ملایانو او
علماوو په ډله کې، ځېره او مواجب درلودل[١٣٦٩] او په دربار کې په درنه سترګه ورته کتل کېده.

ملا پیر محمد کاکړ له لویه علمه سره، یو منلی شاعر هم و، په پښتو، پاړسي او عربي ژبو

[١٣٦٦] د پیر محمد کاکړ دېوان، د کابل چاپ، ۱۴۱ مخ.

[١٣٦٧] بلوچستان می فارسی شاعری، د کوټې چاپ، ۴۵ مخ، د بلوچستان نومې اثر د ۵۶ مخ په حواله.

[١٣٦٨] پښتانه شعراء، د کابل چاپ، ۳۴۰/۱ مخ.

[١٣٦٩] وګ: په تاریخ خرقه معظمه کې د شاه محمود سدوزي فرمان.

ئې له سوز او خونده ډک شعرونه ويل(١٣٧٠)، د ذوق خاوندانو ئې د ادب له باغه څخه خوشبويي ګيډۍ، تر هيوادو پوري په سوغاتو کي ورلېږلې او د جنت نظير کشمير خوشنويسانو او مذهبانو به له افغاني اميرانو څخه، د ده د دېوان په ليکلو، درانه خلاتونه او انعامونه تر لاسه کول(١٣٧١).

د ملا پير محمد کاکړ د زوکړي نېټه، د فاضل استاد پوهاند عبد الحي حبيبي له خوا، په اټکلي توګه د (١١٢٠ هـ. ق.) کال حدود ټاکل سوې ده او د ده دغه اټکل نورو ليکوالو لکه: فاضل بېنوا، جعفر اڅکزي، رضا همداني، ډاکټر کوثر او سلطان محمد نبي هم په خپلو آثارو کي اخيستی دئ(١٣٧٢).

د ملا پير محمد کاکړ د مړيني وخت فاضل بېنوا د (١١٩٦هـ. ق.) او (١٢٠٣هـ. ق) کلو تر منځ ښوولی دئ، ده د پير محمد کاکړ د دېوان په مقدمه کي کښلي دي:

"د (ملا پير محمد) ژوند تر (١١٩٦هـ. ق.) کال پوري يقيني دئ، ځکه چي ده خپل دېوان په دغه کال تمام کړی دئ ..... او تر (١٢٠٣هـ. ق.) کال دمخه وفات سوی دئ، ځکه چي په دغه کال د ده شاګرد ابراهيم خان کاکړ د ده دېوان نقل کړی دئ او په خپله خاتمه کي پير محمد په داسي صيغه يادوي، چي د پير محمد مرګ ځني ثابتېږي".

زه (رشاد) د نوموړي ابراهيم خان له خوا د پير محمد کاکړ په نقل سوي دېوان کي د استنساخ نېټه، له دې امله د بيا فکر کولو وړ بولم، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د لمسي شاه محمود سدوزي (١٢١٦–١٢١٩هـ. ق.) په يوه فرمان کي، چي د (١٢١٦هـ. ق.) کال د لومړۍ خور په مياشت کي کښلی سوی دئ، د ملا پير محمد کاکړ نوم د کندهار د ژونديو ملايانو په ډله کي ثبت دئ، په دغه فرمان کي داسي کښلي دي:

"حکم همايون شد آنکه فضيلت و کمالات پناهان ملا خدابخش ملا باشی و ملا نصر الله امين محکمه احمد شاهی و ملا الياس و ملا پير محمد کاکړی، ملا دوست محمد ترينی و غيره علمای اشرف البلاد احمد شاهی بالطاف شاهانه سرفراز گشته بدانند ...... هر يک مواجب و جيرهٔ مقرری دارند ...." (١٣٧٣).

(١٣٧٠) وګ: بلوچستان می فارسی شاعری، له ۴۵ څخه تر ۵۰ مخه پوري، د ملا پير محمد کاکړ د پښتو ديوان، ۲۵ مخ.

(١٣٧١) وګ: د کابل د ارګ په کتابتون کي د ملا پير محمد کاکړ ديوان، خوشخطه او مطلا نسخه، چي په کشمير کي ليکل سوېده.

(١٣٧٢) وګ: د پير محمد کاکړ دېوان، ۱۵ مخ، بلوچستان مين فارسی شاعری، ۴۶ مخ، هماري جد و جهد، ۲۷ مخ، د کوټي چاپ، ادبيات سرحد، ۳۳۴/۱ مخ، د پېښور چاپ، وندر، ۸۹ مخ، د کوټي (۱۹۵۹ع.) چاپ.

(١٣٧٣) آريانا مجله، ۳۶۵ پرله پسې ګڼه، ۳۳۱ مخ او د مشهور خطاط او مورخ ښاغلي عزيز الدين خان وکيلي پوپلزي "تاريخ خرقه معظمه".

د ملا پیر محمد کاکړ مولفات:

۱- "دېوان": ملا پیر محمد کاکړ خپل دیوان، چي بیتونه ئې پنځو زرو (۵۰۰۰) ته رسېږي، په (۱۱۹۶هـ. ق.) کال پای ته رسولی دئ او د دېوان په پای کي ئې ویلي دي:

زر سل شپږ نوي کلونه　　د هجرت تېر سوي و نه
ما انشا د عشق دېوان کړ　　په پښتو مي ښه بیان کړ
په دې تمه چي یادګار سي　　او منشور په هر دیار سي

(د کابل چاپ دېوان، ۱۴۰ مخ)

د ملا پیر محمد کاکړ د دېوان یوه خورا نیمګړې نسخه، تقریباً نیمه زدی (قرن) پخوا په هندوستان کي چاپ سوې وه. په (۱۳۲۵هـ. ش.) کال ئې د محترم فاضل عبد الروف بېنوا په مقدمه، مقابله او تصحیح، یوه بله نسبتاً بشپړه نسخه په کابل کي چاپ سوه، خو ما (رشاد) چي د پیر محمد کاکړ د دېوان کومه قلمي نسخه، په کندهار کي له فضل الهي ساګزي څخه لیدلې ده، په هغه کي داسي غزلي هم سته، چي د کابل په چاپي نسخه کي نه دي راغلي.

۲- "معرفة الافغاني": د پیر محمد کاکړ دوهم اثر معرفة الافغاني[۱۳۷۴] دئ، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه (۱۱۶۰-۱۱۸۶هـ. ق.) د دوهم زوی شهزاده سلیمان سدوزي حضور ته ئې د "آغا وجیه" په واسطه وړاندي کړی دئ[۱۳۷۵].

معرفة الافغاني چي ۵۳ کاله پخوا په (۱۳۴۱هـ. ق.) کال د کندهار د مشهورو کتاب پلورونکو، ملا جان محمد او ملا بسم الله په پرمایښت، د لاهور په اسلامیه سټیم پریس کي چاپ سوی دئ، د پښتو ژبي یو داسي تدریسي کتاب دئ، چي د اوسنیو معلوماتو له مخي، د پښتو ژبي لومړی تدریسي کتاب بلل کېدای سي.

فاضل استاد پوهاند عبد الحي حبیبي د پښتانه شعراء د لومړي ټوک په ۳۴۱ مخ کي کښلي دي، چي د معرفة الافغاني شروع په دغو بیتونو سوې ده:

پس له حمده له درودہ　　سوه د شاه مدحه مقصوده
شاه سلیمان د حکم لمر دئ　　کل عالم پرې منور دئ
د شاه تخت سلیماني دئ　　عجب لطف یزداني دئ
زېب زینت دئ شاه د علم　　سیال ئې نسته څوک په حلم
پر میدان د جنګ هم شېر دئ　　د اعدا په حق شمشېر دئ

(۱۳۷۴) د معرفة الافغاني په نامه یو بل کتاب هم سته، چي میجر عبد الرشید کښلی او په (۱۳۴۱هـ. ق.) کال په لاهور کي چاپ سوی دئ.

(۱۳۷۵) وګ: د معرفة الافغاني ۴۸ مخ، د لاهور چاپ. "آغا وجیه" د سدوزو د دربار له ملازمینو څخه و.

صاعقه د ده د قهر ورانوي د دښمن ښهر
ښتانه وربانديښاد سوه له همه غمه ازاد سوه
شهزاده د علم کان دئ نن رونق د درست جهان دئ
د دولت ئې زه دعا کړم د بخت خواست ئې تل له خدا کړم
څو امکان د بقا وينه دا آفتاب دي خدای لرينه
چي عالم په ده روشن دئ تمام ملک په ده گلشن دئ

مگر ما (رشاد) چي د معرفة الافغاني چاپي نسخه وکتله، هلته دغه بيتونه د ځلرم باب په روع کي ليکلي وو او د کتاب شروع په دغو بيتونو سوې وه:

راسه تل د حق ثنا کړه په ثنا ژبه گويا کړه
د ثنا په زړه کي نهال که په سايه ئې خلک بال کړه
که په دې ثنا مشغول سې په دوه کونه به مقبول سې
که خپل ورد ئې په اخلاص کړې له محنته به ځان خلاص کړې
دغه ورد د زړه سراج دئ د هغه ظلمت علاج دئ
نفس مه کاږه بې ذکره زړه خالي مه کړه له فکره
د دنيا چي څه بهبود دئ عاقبت همه نابود دئ

۳-"د پښتنو تاريخ": د پير محمد کاکړ دريم اثر د پښتنو تاريخ دئ، چي ويل کېږي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په امر ئې، په پښتو ژبه کښلی و. محترم فاضل عبد الروف بېنوا د ملا پير محمد کاکړ د دېوان په مقدمه کي ليکلي دي:

"د دغه کتاب کومه خطي نسخه د امير عبد الرحمن خان په دربار کي موجوده وه او بيا ملا محمد خان افغاني نويس ته ورکړه سوې وه، مگر دا نسخه تر (۱۳۰۰هـ. ش.) کال وروسته، له کابله خارج ته وتلې ده او اوس ئې درک نه لرو"[۱۳۷۶].

[۱۳۷۶] وگ: د پير محمد کاکړ دېوان، ۱۵ مخ، بلوچستان مين فارسی شاعری، ۴۶ مخ، هماری جد و جهد، ۲۷ مخ، د کوټي چاپ، ادبيات سرحد، ۳۳۴/۱ مخ، د پېښور چاپ، وند، ۸۹ مخ، د کوټي (۱۹۵۹ع.) چاپ.

ګل محمد خان غوریاخېل بابړ[۱۳۷۷]
(امین الملک)

ګل محمد خان غوریاخېل بابړ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پاچهي کي امین الملک و.
امین الملک ګل محمد خان بابړ د افشار نادر د فتور په وختو کي، له لوی احمد شاه بابا رحمة الله
سره په ایران کي و. افشار نادر چي په (۱۱۶۰هـ. ق.) کال مشهد ته نژدې، په خبوشان کي وواژه سو
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له نورو پښتنو سردارانو سره، کندهار ته راغئ او کډه و کورنۍ ئې پ
مشهد کي پاته سوه. ګل محمد خان بابړ په دغو وختو کي په مشهد کي و او د لوی احمد شا
بابا رحمة الله علیه د کورنۍ په ساتنه او روزنه کي ئې ډېره مېړانه وکړه.
علی شاه چي تر افشار نادر وروسته، په مشهد کي د پاچهۍ نغاره وهله، دی ئې ډېر
وځوراوه، خو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د کورنۍ له ساتني او روزني څخه ئې لاس وانه خیست او
تر پایه پوري ئې هر راز ځورو تکلیف او آزار ومانه، خو وفائې پرې نښوولـه.
منشي محمود الحسیني د تاریخ احمد شاهي د لومړي ټوک په ۲۰۵ مخ کي کښلي دي:
".... ذکر ورود شهزاده خورشید کلاه تیمورشاه از ولایت مشهد بدرگاه آسمان جاه و
سرافراز شدن ملا گل محمد بابری بخدمت خزانه داری و منصب امین الملکی و خطاب گل محمد
خانی ....".
د تاریخ احمد شاهي په ۱/ ۴۴۷ مخ کي کښلي دي:
".... د میر علم خان د مالو د ضبط له پاره برخوردار خان اڅکزی، امین الملک ګل محمد
خان بابړ او تقي خان شیرازي وګمارل سول ....".
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۷۳هـ. ق.) کال د یاغي سوي نصیر خان بلوڅ د ځپلو او
اېلولو له پاره، بلوڅستان ته لښکري وخوځولې، ګل محمد خان بابړ امین الملک ورسره و[۱۳۷۸].
د تاریخ احمد شاهي مولف هم د نصیر خان بلوڅ د بغاوت په وخت کي د هغه د ځپلو له پاره په
احمد شاهي لښکرکښۍ کي د ده ګډون داسي راوړي:

[۱۳۷۷] د ګل محمد خان بابړ په باب علامه رشاد رحمة الله علیه د "امین الملک ګل محمد خان غوریاخېل بابړ او د هغه کورنۍ"
په نامه مستقل اثر لري، چي په (۱۳۸۹هـ. ش.) کال د علامه رشاد اکاډیمۍ له خوا چاپ سوی دئ، ګران لوستونکي
کولای سي، چي د ده او د ده د کورنۍ په اړه د زیاتو معلوماتو له پاره هغه کتاب ته مراجعه وکړي.
(علامه رشاد اکاډیمي)

[۱۳۷۸] وګ: د افغانستان نومیالي، ۳/ ۲۴۱ مخ.

"....القصه امر همایون به نفاذ مقرون شد که گل محمد خان امین الملک و شاه ولي خان وزیر با فوجی از عساکر نصرت پژوه و بهادران انجم شکوه، از سمت قبله بر سر سنگر شاه مردان یورش برده، طایفهٔ بلوچ را به نیروی بازوی شهامت و مردانگی اخراج و مستأصل سازند....".

د پاني پت په غزا کي هم امین الملک ګل محمد خان بابړ د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه سره ملګری و[1379].

د احمد شاهي دربار منشي محمود الحسیني الجامي د تاریخ احمد شاهي په ۱/ ۲۰۶ کي کښلي دي:

"... ملا گل محمد بابری که در سلک بندگان جان فشان و قدیمان این دولت ابد بنیان عز انسلاک دارد و با اوصاف ذاتی و وهبی مجموعه ایست از کمالات صفاتی و کسبی اگر از علم و فضلش پرسند افلاطون روزگار دانستنش سزاوار و اگر مکارم اخلاق و محامد اطوار و اوضاع او تأمل کنند گلدسته بوستان آفرینش خواندنش پسندیده انظار اولو الابصارست....".

ژباړه:

ګل محمد خان بابړ د ذاتي او کسبي کمالاتو یوه مجموعه وه، په علم و فضل کي د دې وړ و، چي د زمانې افلاطون ئې وبولو، د سترګورو خلکو په سترګه، په ښو اخلاقو کي د خلقت د باغ یوه ګلدسته وه.

د ګل محمد خان بابړ ماندینې:

د امین الملک ګل محمد خان څلور ساهو (ژوندی) ماندینې پاته وې:

۱. صفیه: د نور محمد خان امین الملک مور.

۲. زینب: د فتح الله خان امین الملک او زینتي مور. زینبه چي مړه کېدله، فتح الله خان او زینته ژوندی وه، بل اولاد ئې نه درلود.

۳. خدیجه: د شرف النساء مور وه.

۴. منیژه: د خالو خان مور وه.

د ګل محمد خان بابړ زامن:

۱. نور محمد خان (امین الملک)

۲. دوست محمد خان

۳. ولي محمد خان

۴. فتح الله خان (امین الملک)

[1379] وګ: د افغانستان نومیالي، ۳/ ۲۴۳ او ۲۴۵ مخونه.

۵. دين محمد خان
۶. خالو خان (د پلار تر مرګ وروسته، تر ټولو ورونو او خوندو د مخه دی مړ سو. جړه و، مور ئې تر ده د مخه مړه وه.)

عبد الکریم خان بابړ

د عبرتنامې په ۲۵۰ مخ کي کښلي دي:
"په .... کال تیمورشاه درانی د سکهانو له لاسه څخه د ملتان د نیولو له پاره، ملتان ته راغئ. سکهان کلابند سول او د عبد الکریم خان بابړ په وساطت او شفاعت، چي پنځه شپږ سوه جرار سپاهیان ئې درلودل، تیمورشاه سکهانو ته امان ورکړ. سکهان له کلا ووتل او کلا د پښتنو په لاس کښېوتل او شجاع خان د تیمورشاه دراني له خوا د ملتان والي مقرر سو. تیمورشاه کابل ته راوکوچېدئ".
د اولیای ملتان په ۶۸ مخ کي هم دغه واقعه کښلې ده، خو د دغه پیښني کال ئې (۱۷۷۹ ع.) (= ۱۱۹۳ ه. ق.) ضبط کړی دئ او څه نور تفصیلات هم لري.
د اولیای ملتان په ۷۱ مخ کي کښلي دي:
"په (۱۷۷۹ ع.) (= ۱۱۹۳ ه. ق.) کال چي نواب مظفر خان د ملتان نواب سو، د بهاولپور پر داود پوتره نوابانو ئې حمله وکړله، په دغه حمله کي عبد الکریم خان بابړ، چي د نواب مظفر خان د پوځ یو نومیالی افسر و، وواژه سو".
منشي محمود الحسیني الجامي د تاریخ احمد شاهي په ۲/ ۱۲۵۰ مخ کي کښلي دي:
"په (۱۱۸۵ ه. ق.) کال چي لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په .... کي و، خبر ورته راغئ؛ شریف تکلو چي د دانش خان شهنګ چي باشي له خوا د ملتان نائب الایالة (والي) مقرر سوی و، د دانش خان تر موقوفی وروسته یاغي سو، عبد الکریم خان بابړ ئې هم ملګری سوی و. د دغه کال په پیل کي د ملتان د پخواني صوبه دار (والي) محمد شجاع خان سدوزي[۱۳۸۰] او بارو خان بارکزي عمله باشي له لاسه کلابند سول. وروسته چي مځکه پر سره سوله، توبه ئې وکښله او امان ئې وغوښت. بارو خان بارکزی له کندهار څخه د ملتان او د پرو د یاغیانو ځبلو ته ګمارل سوی و".

[۱۳۸۰] محمد شجاع خان سدوزی په (۱۱۸۷ ه. ق.) کال په ملتان کي ومړ، دی د زاهد خان (۱۱۶۲ ه. ق- په ملتان کي مړ) زوی و. زوی ئې مظفر خان سدوزی د پلار تر مرګ وروسته د ملتان والي سو.

ملا محمد غوث اخوند
(خان علوم)

لوی استاد پوهاند عبد الحی حبیبي رحمة الله علیه د تازه نوای معارک د تعلیقاتو په ۸۳۵ مخ کي کښلي دي:

"اخوند محمد غوث د اخوند ترکمن زوی او د تاج خان لمسی دئ. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پېښور کي قاضي مقرر کړی و. ده د علم ښه برخه درلوده، په منطق کي ئې پر میرزا باندي شرحه کښلې ده، په علم قال کي د حاجي محمد سعید شاګرد و، د حال رابطه ئې د میا فقیر الله رحمة الله علیه (۱۱۹۵ هـ. ق.) سره وه. د ده لمسي قاضي محمد حسن ته هم د سدوزیو پاچهانو له خوا د "خان علماء" لقب ورکړه سوی و".

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د اشعارو پښتو شرحه کوونکي، د دغه کتاب په مقدمه کي خپل لقب "خان علوم" راوړی دئ، نوم ئې نسته. ویل کېږي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پاچهي کي د "خان علوم" لقب څو تنو ته ورکړ سوی و، یو په هغو کي د پېښور قاضي اخوند محمد غوث و، چي د "شرح الشرحه" په نامه ئې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د یوې عرفاني رسالې (علم ګنج) شرحه لیکلې ده. ما (رشاد) ته د دغې الفنامې شارح دغه اخوند محمد غوث ښکاري.

د تذکره علما و مشایخ سرحد په ۱۵۹/۱ مخ کي قاضي محمد غوث د شاه محمد غوث قادري لاهوري رحمة الله علیه (۱۱۵۲ هـ. ق. مړ) مرید ښوول سوی دئ. د تذکرې مولف دغه روایت د مولوي غلام سرور لاهوري له خزینة الاصفیاء (د ۱۲۸۱ هـ. ق. تالیف) څخه را نقل کړی دئ، مګر په خزینة الاصفیاء کي د قاضي کلمه له محمد غوث سره نسته[۱۳۸۱].

ملا مداح اخوند

ملا مداح اخوند د تېمور شاه سدوزي د پاچهي په زمانه کي (د کندهار) د محکمې امین و.

[۱۳۸۱] وګ: خزینة الاصفیاء، ۲۰۱/۱ مخ، د لکهنو چاپ.

ملا نصر الله اخوند

ملا نصر الله اخوند د شاه محمود سدوزي د پاچهی په ابتداء کي، د کندهار د محکمې
امين و[١٣٨٢].

ملا محمد رسول اخوند

ملا محمدرسول اخوند زاده سرکانی الکوزی د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په وخت کي د
کندهار د شاه جامع خطيب و.

سُکه جيون مل

سُکه جيون مل په قوم کهتري هندو، چي د ځينو په قول کابلی او د ځينو په وينا پنجابی
و، د اشرف الوزراء شاه ولي خان ميرزا و. په (١١٦٥ ه.ق.) چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په
امر عبدالله خان شاغاسي (ديوان بيگي) کشمير ونيو، کوچنی عبدالله خان د نائب الحکومه

[١٣٨٢] آريانا مجله، ٢٦٥ پرله پسې گڼه، ٣٣١ مخ.

او سُکهه جيون مل د سربښته دار (مستوفي) په حيث وټاکل سول. څه موده وروسته سکهه جيون ياغي سو او د کشمير الحاق ئې، د ډهلي په پاچهي پوري اعلان کړ او د دوهم عالمګير په نامه ئې خطبه وويله.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه چي د سکهانو تر ځبلو وروسته، افغانستان ته د ستنېدلو په لار کي لاهور ته ورسېد، نور الدين خان بامېزی ئې کشمير ته واستاوه، چي د هغه ځای ياغي سوی مستوفي (سُکهه جيون مل) وځپي او کشمير بيرته ونيسي. نور الدين خان بامېزي هم سُکهه جيون مل هندو په جنګ کي بندي کړ او کشمير ئې بيا فتح کړ.

د سير المتاخرين په ۹۱۹ مخ کي کښلي دي:

"سُکهه جيون از قوم کهتری متوطن کابل در ابتدا متصدی اشرف الوزراء شاه وليخان وزير احمدشاه ابدالی بود، يکبار اورا احمدشاه ابدالی برای طلب زر محالات تنخواه کابل نزد معين الملک بسفارت فرستاد و در سال شصت و هفتم از مائة دوازدهم عبد الله خان ايشک اغاسی را که از کابل بتسخير کشمير روانه نمود، سُکهه جيون مذکور را نيز بهمراه او کرد، او صوبه مذکور را از دست صوبه داری که از طرف عالمگير ثانی بود انتزاع نموده خواجه کنجک را با فوجی از افاغنه نائب گذاشت و سکهه جيون را بديوانی آنجا مقرر نموده خود برگشت، بعد چندی سُکهه جيون سردار افاغنه را بکشت و خواجه کنجک را اول مقيد کرده بعد ازان از کشمير اخراج نمود و از عماد الملک سند صوبه داری آنجا بمهر عالمگير ثانی بنام خود طلبيد و خطبه و سکه بنام عالمگير کرد و تمام صوبه را مع خالصه و جاگير ضبط نموده مالک و متصرف گشت. زيبا روی و نيکو خوی بود و در عقائد قريب الاسلام مزار بزرگان کشمير و باغهای آنجا را مرمت نمود و هر روز بعد فراغ از ديوان دو صد کس از مسلمانان را روبروی خود الوان اطعمه ميخورانيد و هر ماهی در دوازدهم و يازدهم طعام پخته بر مردم تقسيم ميفرمود و با واردين اگر درويش و اگر غير آن می بود در خور حال هر کس رعايتی ميکرد و در هر هفته يکروز مشاعره قرار داده شعرای کشمير را احضار می نمود و در آخر مجلس اطعام ميفرمود و پنج کس از شعرای مستعد را ده ده کس موزون طبعان کمکی مقرر نموده مامور فرموده بود که تاريخ کشمير از ابتدای آبادی تا زمان او تحرير نمايند ....."

شاه نظر خان کندهاری

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۲۰۹ مخ کي، چي د (۱۲۱۲هـ.ق.) کال د مياني د مياشتي وروستی ورځ کښل سوی دئ، ليکلي دي:

راو جي گوپال د آصف الدوله اخبار نويس پخپله عريضه کي کښلي دي، د ډېره اسماعيل خان خلک د خپل حاکم شاه نظر خان کندهاري څخه ډېر په عذاب دي، وايي موږ ئې چور کړلو، ډېر ظلم کوي.

زمان شاه سدوزي پاچا حکم وکړ، چي جيران دي ولاړ سي، شاه نظر خان دي له ډېرې څخه راولي. دستي څلور جيران ډېرې ته ولېږل سوه.

حاجي عبدالله شاه پيرزاده

حاجي عبدالله شاه پيرزاده نقشبندي د لارډ هستهنگز له خوا افغانستان ته لېږل سوی و[۱۳۸۳].

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۹۴ گڼه ليک کي، چي له ډهلي څخه د (۱۲۰۱ هـ.ق.) کال د ذی القعدې د مياشتي په نهمه د شنبې په ورځ کښل سوی دئ، کښلي دي:

دوهم شاه عالم ملا ترلی په دېوان خاص کي ناست دئ، د جمنا پوري خوا ته د غلام قادر خان روهيله پوځونه له مادهو راو سيندهيا سره جنگېږي. شاه جي (شاه نظام الدين) شاه عالم ته وويل، چي شاه عبدالله دي غلام قادر خان روهيله ته ورسي، چي له جنگه لاس واخلي. شاه عبدالله جواب ورته راولېږه، ما چي کوم خط غلام قادر خان ته لېږلی دئ، د هغه جواب ئې نه دئ راکړی، زه څنگه ولاړ سم؟

د دغه فهرست په ٦۴ مخ کي غلام محمد نقشبندي د شاه عبدالله نقشبندي زوی ته کښلي دي، چي په (۱۷۸۱ ع.) د لارډ هستهنگز له خوا د ايلچي په توگه د تيمورشاه سدوزي دربار ته ولېږه سو.

دلاسه خان کندهاری

د فارسي اخبارات و مراسلات په ۳۷۷ مخ کي کښلي دي:

زمان شاه سدوزي چي په (۱۲۰۷ هـ.ق.) کال د مياني په مياشت کي د شهزاده همايون سدوزي د ځبلو له پاره کندهار ته تئ، په دغه ترځ کي دلاسا خان له شپاړسو زرو (۱٦۰۰۰) سپرو سره، د کندهار له شاوخوا څخه کابل ته راغی. پاچا خلات ورکړ، ده وويل:

(۱۳۸۳) د فارسي اخبارات و مراسلات انډيکس، ۱ مخ (؟).

زما لښکر ته شپږ میاشتي پخه ډوډۍ ورکړه، زه کندهار در نیسم. پاچا ونازاوه.
په اسماء الرجال کي کښلي دي:
دلاسا خان د زمان شاه سدوزي له څلورو غښتلو منصبدارانو څخه و.
په (۱۷۹۶ ع.) کال د اټک پر ګودر باندي له خپلو پوځو سره د قراول په توګه تېر سو.
د دغه کتاب (فارسي اخبارات و مراسلات) په ۳۹۱ مخ کي کښلي دي:
له دلاسا خان سره درې نور منصبداران، چي په قراول کي شامل وو، دا دي:

۱-اسد خان
۲-احمد خان
۳-میر افضل خان

الله یار خان

د رستم التواریخ په ۲۲۷ مخ کي کښلي دي:
افشار نادر چي وواژه سو، بندیو زمریانو ځنځیران وشلول او د ایران په هر ګوټ کي د پاچهۍ او خپلواکۍ نغارې وډنګېدلې. په دغو کي یو الله یار خان ازبک (؟) و، چي د نادر له خوا د لاهور خپلواک حاکم و. د افشار نادر په وژله چي خبر سو، له لاهوره څخه (؟) ئې فارس ته مخه وکړه، په لار کي ئې د هر ځای شیعه ګان ولوټل، وې وژل او بندیان ئې کړل او له سنیانو سره ئې ښه وضعه کوله. چي شیراز ته ورسېد، شیراز ئې ونیو، ډېر خلک ئې ووژل او ډېري ودانۍ ئې ونړولې. بیا ئې د اصفهان خوا ته لښکر وبهاوه. د اصفهان نادري حاکم سید حسن خان ئې په نجف آباد کي مخه ونیوله. الله یار خان چي اصفهان نیول ګران وبلل، کاشان ته ئې لښکر ولېږداوه. کاشان ئې ونیو او د هغه ځای خلک ئې ووژل. بیا ئې د قُم ښار ونیو. د قُم ترنیولو او خرابولو وروسته طهران ته ولاړ. طهران ئې هم ونیو، مګر بالاحصار ئې ونه نیولای سو. له طهرانه زنجان او بیا سلطانیې ته ولاړ او دا سیمي ئې هم ښه ولوټلې او ډېر عمارتونه ئې ونړول.
الله یار خان له خپل لښکر سره هرات او بیا کندهار ته ولاړ او په کندهار کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه په امر وواژه سو.

ملا جلال درانی

د احمدشاهي تاریخ (تاریخ احمدشاهي) په لومړي ټوک کي کښلي دي:

په (۱۱۶۴ه.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر لاهور باندي یرغل وکړ، د میرمنو (میر معین الدین معین الملک) له خوا مولوي عبد الله د عفوي له هیلي سره، د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته راغی. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا ملا جلال درانی او محراب خان درانی له مولوي عبدالله سره میرمنو ته ور ولیږل سوه.

محراب خان درانی

د تاریخ احمدشاهي په لومړي ټوک کي کښلي دي:

".... جناب حضرت اعلی، ملا جلال درانی و حاجی محراب خان درانی را به اتفاق میرزا احمد مامور فرموده، اعلام نمودند که مردمی را که او جمع آورده مستعد جنگ شده است، اکثری اهل اسلام و رعایای آستانهٔ فلک احتشام اند، چرا ناحق به کشتن می دهد و خون مسلمین پاک دین به گردن خود می گیرد؟ نواب همایون ما را خیر خلایق منظور و استحصال وجه مقرر محظور است، امری دیگری مطمح نظر مرحمت اثر نیست ..... حاجی محراب خان (درانی) ارشادات هدایت سمات مفصلاً و مشروحاً به معین الملک ابلاغ نمود و معین الملک و اعوان از راه جهل و غفلت از مآل کار، زبان در جواب به این گفتار گشود که ما هم مسلمان و مسلمان زاده ام .... چون میان مکالمه مدتی کشید و توقف فرستادهٔ مزبور پیش معین الملک به طول انجامید، معلوم ایستادگان پایهٔ سریر اعلی گردید که معین الملک استمداد از احمدشاه پادشاه هندوستان نموده می خواهد تا به ورود کمک پادشاه هند، اوقات به لطایف الحیل بگذراند. خاطر دریا مقاطر خاقان غیب دان، از مکر و فریب آن حیله جو و امتداد ایام گفت و گو، طیش آلود گشته سمند عزیمت آسمان سطوت از گرمی مزاج بندگان حضرت قدر قدرت جولانگر میدان مسارعت و تکاپو گردیده، وارد پل شاه دوله شد. جمعی از افواج قاهره به موجب حکم اشاره، به قرب دایرهٔ لشکر معین الملک رفته، برخی از لشکریان او را کوفته و کشته معاودت نمودند. معین الملک خبردار گشته و بساط لیت و لعل را در نوشته یافته، حاجی جلال و محراب خان مذکور را که در معسکر بود مخلع ساخته مرخص نمود ...."

ولي محمد خان جوانشیر

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي خپل نومیالی سپهسالار سردار جان خان غازي د ناسیاله آدینه بیگ خان د ځبلو له پاره وګماره، ولي محمد خان جوانشیر ئې هم ملګری و. په تاریخ احمد شاهي (۶۱۴/۱ مخ) کي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لسم جلوسي کال د واقعاتو په سلسله کي کښلي دي:

"..... سردار کثیر الاقتدار (سردار جان خان پوپلزی) بر وفق امر فیض آثار، از رکاب دولتمدار پادشاه زادهٔ عالی تبار جدا و جاده پیما شده، پانزده روزه راه را در سه روز طی نموده به اتفاق اسد الله خان نایب ایشک آقاسی باشی و اخلاص قلی خان هوتکی و ولی محمد خان جوانشیر و محمد صالح خان و محمد حسین خان خبوشانی و چراغ خان کرد و دیگر خوانین نامدار و قراولان آزموده کار، قریب موضع ماکو وال رسید و به اظهار قراولان معلوم گردید که چهار پنج هزار سوار از قشون آدینه بیگ خان تبه روزگار، به سر مسالک و مداخل و استحفاظ حوالی و مناهل در موضع مذکور بادپیمایی و هرزه درایی دارند و خس و خار بی اعتبار وجود خود را عایق و مانع عبور و مرور سیلاب می انگارند .....".

د تاریخ احمد شاهي په ۷۱۹/۲ مخ کي کښلي دي:

ولي محمد خان په (۱۱۷۱ هـ.ق.) کال د شبرغان په جنګ کي ومړ، دی د نواب خان الکوزي ملګری و. د ده د مرګ او د دې جنګ تفصیل په ۷۱۷/۲ مخ کي داسي کښلی دئ:

"..... به مجرد استماع آن معنی، حضرت ظل سبحانی، نواب خان الیکوزایی را به سرکردگی قشون ترکستان و نقاوهٔ سادات عالی مکان سید عطاء الله خان را کماکان به داروغگی ولایت مقرر فرموده مرخص ساختند ..... رفته رفته فیمابین حاجی خان و نواب خان غبار نقار برخاست و از این جهت فتنه های غنوده در اطراف و جوانب ولایت سر از خواب برداشت. ایزباسر حاکم شبرغان، رایت بغی و طغیان و عَلَم تمرد و عصیان بر افراشت. الله نظر خان اتالیق ترکستان به درگاه خدیو کیهان رسیده تفصیلات و تشریحات واقعات ولایت مزبور معروض داشت. برای اصلاح مفاسد ملکی، قشون از بندگان درگاه پادشاهی خواست. حسب العرض اتالیق مزبور ولی محمد خان جوانشیر با سرکردگان آنجا به تنبیه ایزباسر از جناب آمر بر حق مأمور و متعین شد. بعد ورود مأمورین نواب خان سردار به اتفاق واردین و جمعی دیگر از خوانین و گروهی از سرکردگان، عازم ملک شبرغان و جازم استیصال باغیان گردید و با اعوان و انصار، طی شوارع و طُرُق نموده قریب مسکن فرق عاصیان رسید. ایزباسر نیز به ارادهٔ ستیز و آویز یسال بسته و صف آراسته و از قلعهٔ

شبرغان برآمده، گردن خیرگی افراخته و آتش افروز هنگامهٔ جدال گشته به مروحه جنبانی بی اعتدالی و دامن افشانی بدسگالی پرداخت و دلیرانه به میدان رزم و هیجا تاخت. سپاه طرفین تیغ جرأت و جلادت از نیام کینه ورزی کشیدند و آستین کارگزاری بر مالیدند. تفنگ برق آهنگ بر سر شورانگیزی آمده هنگامهٔ قیامت انگیخت و رعد را از رشک بلند صدایی سرمه در گلو ریخت. درین حیص و بیص از قضایای فلک دو رنگ، در عین گرمی هنگامهٔ پیکار و جنگ، گلوله تفنگ بی درنگ بر پهلوی ولی محمد خان جوانشیر که پیش آهنگ لشکریان با نام و ننگ بود، خورد و قضای الهی عجب سانحه ای بر روی کار آورد ..... ولی محمد خان (جوانشیر) یک شبانه روز انفاس معدودهٔ زندگی شمرده به ملک جاودانه روانه شد .....".

امیرخان جوانشیر

د تاریخ احمدشاهي په ۲/۱۰۰۰–۱۰۰۱ مخو کي د امیر خان جوانشیر د جنګیالي توب په باب داسي کښلي دي:

".... بارو خان عمله باشی سرکار خاصهٔ شریفه که از برای استخبار احوال، هر طرف تردد به میدان می کرد و دسته های افواج ظفر نمون را به هر جانب که ضرور می شد، به موجب حکم همایون به جنگ می برد، آمده عرض نمود که از طرف کفار زور بر سمت میمنه بسیار است. اعلی حضرت قدر قدرت امیر خان (جوانشیر) چنداول باشی را که سرکردهٔ ایل جوانشیر و در صغر سن جنگ آور بی همال و فایق بر معرکه آرایان کهن سال است، با دستهٔ چنداولان، امر به اطفای نایره و شورش کافران نموده، مقرر فرمودند که بارو خان عالی جاه مشار الیه را با جماعت جوانشیر و چنداولان تحت او برداشته از پشت سر مخالفان برده، به جایی برساند که بر کمر آن گروه عصیان پژوه بزنند و پای استقلال معاندان شقاوت بنیان را به حملهٔ تکاوران صرصر آهنگ بشکنند و بارو خان امیر خان (جوانشیر) را با جماعهٔ همراهی او برداشته به امتثال حکم قضا مثال پرداخت و آن دلیر جوانشیر بر پشت مقاهیر ضلالت تخمیر رسیده به ریزش باران گلولهٔ تفنگ و حملهٔ هیونان صرصر آهنگ، کوه انبوه گروه عصیان پژوه را مثل بنای راسخ که از زور سیل تند به جنبش آید، متزلزل ساخت.

امیر جوانشیر چون نره شیر — به میدان هیجا روان شد دلیر
بر افروخته ز آتش کین جبین — چو خورشید تابان به روی زمین
ز پشت سر دشمن بد گهر — چنان زد که بشکست او را کمر

د تاریخ احمدشاهي په ۸۲۷/۲ مخ کي امیر خان جوانشیر د ولي محمد خان جوانشیر زوی

سوي دئ. د پاني پت په يوه جنګ کي امير خان جوانشير د چنداول پرځ مشر و.

عزيز الدين وکيلي پوپلزي په احمد شاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان (۶۴۴مخ) کي ليلي دي:

"..... و امير خان پسر ولي محمد خان جوانشير با چنداولان تحت اداره خويش به چنداولي پاه امتياز يافته مقرر شد بمحافظت و محارست عقب افواج قيام و اقدام نمايد و احدی از تزمان عساکر را دنبال نگذاشته طريق احتياط پيمايند....".

نواب خان درانی

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د پاچهۍ په لومړي کال، چي د احمدشاهي پاچهۍ پر ضد نورمحمد خان علېزی، ميا داد خان ساګزی، مانو خان نورزی، محبت خان پوپلزی او عبد الرحمان خان بارکزی توپچي باشي سره يو ځای سول او د برېڅو او ترينو رسالو په مرسته او حمايت ئې د بغاوت توطئې ته ملا وتړله، په دغه وخت کي نواب خان دراني، چي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له مخلصو ملګرو څخه و، دا توطئه رسوا کړله او د احمد شاهي دربار سره ئې خپل نهايي اخلاص او انعقاد ښکاره کړ. په دې باب محمود الحسيني المنشي د تاريخ احمدشاهي په لومړي ټوک کي، د احمد شاهي جلوس د لومړي کال په واقعاتو کي داسي کښلي دي:

"..... در خلال اين احوال، نواب خان الکوزايی و چند نفر ديگر از معسکر محبت و مانو، پنهاني برآمده در جناب عطوفت مآب شاه در دران مظهر خلوص بندگی و دولتخواهی از دل و جان شده، معروض داشتند که محبت و مانو با جماعت بريجی و ترينی در طی طريق مخالفت اوليای دولت ابدمدت، رفيق گشته و اکثر رؤسای ايلات درانی را به فريب و تطميع مال، با خود متفق ساخته، گردن فتنه گری و خودسري افراخته، به ارادۀ فساد به هيأت اجتماعی به شهر می آيند.

سپرده ز کين و ز بغض و عناد — محبت به مانو ره اتحاد
ز درگاه شه روی گردان شدند — طلبکار عصيان و طغيان شدند
به درانيان در خور هر مذاق — نمودند تکليف در اتفاق
به هر يک فريب جدا داده اند — زبان را به تطميع بگشاده اند
شده جمع از بغضِ خاقان دين — به ايشان موافق پی جنګ و کين
وگر بعضی از شرمِ، بعضی ز غدر — گروهی هم از وعدۀ جاه و قدر
يکی از طمع، ديگری هم ز بيم — برای تماشا گروهی عظيم

به هم متفق گشته با های و هوی | به سوی جهاندار کردند روی
زبس در جهان واژگون گشت کار | محبت خصومت نمود اختیار

و نور محمد خان علیزیی و میان داد خان اسحق زیی و عبد الرحمان خان بارکزیی توپچي باشي، که در شهر می باشند، نیز با سرکرده های بیرونی شریکِ مشورت و کنکاش و بانی مفسده و پرخاش شده اند و نقش قرارداد چنین زده اند که محبت و مانو و رفقای ایشان با جمعیت خود از بیرون و نور محمد خان و عبد الرحمان خان و میان داد خان با تبعه و لحقه، از درون ابواب شورش و فساد گشایند".

د آریانا مجلې د ۲۷۵ پرله پسې ګڼې په ۴۱ مخ کې، د تاریخ احمد شاهي په حواله کښلي دي، چې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په وختو کې د توپک والو لښکرو مشر نواب خان درانی و.

د تاریخ احمد شاهي په ۴۳۳/۱ مخ کې کښلي دي:

".... و از همان منزل نواب خان جزایرچی باشی را با جمعی از افواج قاهره، مقدمة الجیش نصرت و فیروزی مقرر کرده، مأمور ساختند که به اتفاق میرزا خان الکوزایی چند منزل پیش موکب والا مراحل پیما بوده به الکای قاین برسد و دست تعرض از مال و حال سکنهٔ آنجاه کوتاه داشته و مجوز اضرار و ایذای ذی حیاتی نگشته، اهالی آن مقام را به عنایات پادشاهی مستبشر و مستهظر نموده، در سر راه به ملازمت والا رساند......".

نواب خان درانی په (۱۱۶۷هـ. ق.) کال د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه، د جعفر خان او د هغه د کورنۍ د خلاصون له پاره، د طبس کلا ته استول سوی دئ. د تاریخ احمد شاهي په ۴۴۹/۱ مخ کې کښلي دي:

"..... و نواب خان درانی جزایرچی باشی با پانصد نفر مأمور شد که همراه مومی الهیما به قلعهٔ طبس رفته عالی جاه جعفر خان و کوچ و بنهٔ ایشان را که به موجب اشارهٔ میر علم خان در آنجا محبوس بودند، برآورده در نواحی مشهد مقدس به اردوی معلی آورند.....".

په (۱۱۷۰هـ. ق.) کال چې د میمنې (ترکستان) خلکو د هغه د ځای د احمدشاهي حاکم حاجي خان د بد چلند او ظلم و زیاتي څخه د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه حضور ته په عرض راغلل. د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه نواب خان الکوزي ته، د ترکستان د پوځونو د مشرتوب فرمان او هغه ځای ته د تګ امر ورکړل سو. د تاریخ احمد شاهي په ۷۱۷/۲ مخ کې دا موضوع داسې کښلې ده:

".... به مجرد استماع آن معنی، حضرت ظل سبحانی، نواب خان الیکوزایی را به سرکردگی قشون ترکستان و نقاوهٔ سادات عالی مکان سید عطاء الله خان را کماکان به داروغگی ولایت مقرر فرموده مرخص ساختند.....".

عزیز الدین وکیلي پوپلزي په احمدشاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان ۵۶۰ مخ کې کښلي دي:

"..... اعلیحضرت احمدشاه در دران رحمة الله علیه در فصل تابستان سال (۱۱۳۶هـ. ش.) مطابق (شوال ۱۱۷۰هـ. ق.) و موافق (جون ۱۷۵۷ع.) نواب خان درانی الکوزائی را بسرداری عساکر و فرماندهی امور ملکی و نظامی کل ایالات شمال افغانستان مقرر و از کابل بدان سمت مرخص نمود....".

محمد عثمان خان

(توپچي باشي)

د آریانا مجلې د ۲۷۵ پرله پسې ګڼې په ۴۲ مخ کي کښلي دي:

عثمان خان بارکزی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په زمانه کي لومړنی توپچي باشي و، چي د ټولو توپچي قواوو مشري د ده پر غاړه وه.

محمد عثمان خان توپچي باشي په (.... هـ.ق.) کال د .... [۱۳۸۴] په ملګري پورته سو، چي وروسته بیا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په امر وواژه سو.

بارکزی عبد الرحمان خان

(توپچي باشي)

د آریانا مجلې د ۲۷۵ پرله پسې ګڼې په ۴۲ مخ کي کښلي دي:

تر عثمان خان توپچي باشي وروسته، عبد الرحمان خان بارکزی توپچي باشي د احمد شاهي پوځ د ټولو توپچي قواوو مشر سو.

محمود الحسیني د تاریخ احمد شاهي مولف، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پاچهی د لومړي کال په واقعاتو کي کښلي دي، چي عبد الرحمان خان بارکزي توپچي باشي هم د بغاوت په هغه توطئه کي لاس درلود، چي د نور محمد خان علېزي، مانو خان نورزي او میا داد خان ساګزي په مشري، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه پر ضد جوړه سوې وه، خو وار د مخه لا لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په خبر سو او په ډېر تدبیر سره ئې د دې بلا مخنیوی وکړ.

[۱۳۸۴] د علامه رشاد رحمة الله علیه په اصلي نسخه کي هم دغه ځایونه سپین پاته دي.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د پاچهۍ په دوولسم کال، چې نصیر خان بلوڅ د بغاوت نغاره ووهله، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د هغه د ځپلو په نیامت خپلې لښکرې قلات ته وخوځولې. په دغه لښکر کښې کې عبد الرحمان خان توپچي باشي هم برخه اخیستې وه. محمود الحسیني المنشي د تاریخ احمدشاهي په ۷۸۲/۲ مخ کې د دې جنګ یوه واقعه داسې بیانوي:

"..... و از جانب مغربی قلعۀ مزبور عبد الرحمن خان بارکزائی با توپچیان فرنگی نژاد آتش دست، سرگرم معرکۀ دشمن سوزی گشته، باافگندن خمپاره و توپ سپاه بلوچ را مغلوب و منکوب نماید و بقیه امرای عالی مقام و سایر خوانین عظام با رؤسا و سرکردگان سپاه نصرت فرجام، آماده و مهیا بوده، مستعد و منتظر فرمان باشند و هر وقت که اشارت فیروزی بشارت به صدور پیوست و نایرۀ جدال و قتال مشتعل گشت هر کس از طرفی که مأمور شده آثار جلادت و دلیری بظهور آورده و از چهار طرف بسنگر دروازه و برج حصار یورش برده و سپه و سنگر را مسخر کرده نصیر را دستگیر سازند.....".

عبد الرحمان خان بارکزی توپچي باشي د پاني پت په تاریخي جنګ کې هم د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کې حاضر و. د تاریخ احمدشاهي په ۹۶۶/۲ مخ کې کښلي دي:

"..... و بعد از ان فرمان قضا جریان خطاب بعبد الرحمان خان توپچی باشی شرف لمعان یافت که توپخانه شعله بار صاعقه کردار را بدیهی که واقع بمیان عرصۀ مصاف است کشیده و توپهای رعد خروش اژدر دهان را بر سر راه اعادی شقاوت کراچیده مهیای آتش افروزی و دشمن سوزی داشته باشد و برای مزید استحکام این سد سدید پیادهای همراهی برخوردار خان را بجانب دست راست و پیادهای تحت شاه ولیخان وزیر را بطرف دست چپ توپخانه قیامت نشانه گماشته مقرر نمودند که هر دسته مهیا و اماده بجای خود ایستاده و کمر عقیدت بر میان جان محکم بسته مستعد لوازم جانفشانی و سرگرم طریق جان ستانی باشند .....".

د عبد الرحمن خان بارکزي توپچي باشي په نامه یو مسجد د کندهار په ښار کې، د لومړۍ ناحیې په توپخانه کوڅه کې سته.

شفقت خان ماکو

(عبدل خان)

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چې پاچا سو، تر شاه ولي خان بامېزي دمخه ئې د وزارت چوکۍ شفقت خان ماکو ته ورکړه. لومړی وار چې لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پر هندوستان برید وکړ، دی ورسره و، خو معتوب واقع سو او بندي کړه سو. د را ستنېدلو په لار کې، کله چې د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځ د ملتان او دیرو په حدودو کې تر اټک راپوري ووت، ده ځان رود ته واچاوه او مړ

(١٣٨٤). د دغه کتاب په ١٠٨/١ مخ کي کښلي دي:
... لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي د (١١٦١ هـ.ق.) کال د محرمي دمیاشتي په دوه ویشتمه لاهور ... شهنواز خانه ونیو، عبدل خان ماکو (درانی) چي تر دغه پخوا د سرکار خاصه ناظر و او د ... قت خان" لقب ئې درلود، د دېوان اعلی په وزارت ونمانځه او د ده پر ځای ئې د ده ورور مکن ... د سرکار خاصه په نظارت وټاکه.

اسماعیل خان پنی

علامه پوهاند عبد الحي حبیبي صاحب رحمة الله علیه د آریانا مجلې د پرله پسې ٢٧٢ گڼې په ٢ مخ ... کښلي دي:
په (١١٦٧ هـ. ق.) کال چي د سنده میر محمد مرادیاب خان امیر سو، نو د احمدشاهي دربار ... گدو مل سفیر په واسطه، ده ته د "سربلند خان" لقب ورکړ سو او د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له ... وا اسماعیل خان پنی د سند په دربار کي، د رسمي نماینده په حیث مقرر سو.

عظمت خان علیزی (حاضر خان)

د تاریخ احمدشاهي په دوهم ټوک کي کښلي دي:
د سکانو سره چي په (١١٧٩ هـ.ق.) کال د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه، اووه ورځي په غزا بوخت وو، په دغه غزا کي عظمت خان علیزی، د علیزیو جنگیالیو مشر، په ډېره مېړانه وجنگېد، پای ته د توپک یوه گولۍ پر ونښتله او د شهادت کټوری ئې پر سر واړاوه. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه ئې دغه د "حاضر خانی" درونډ خطاب، ورور قاسم خان علیزي ته ورکړ او د علیزیو جنگیالیو مشر ئې وټاکه.
د مشهد په محاصره کي عظمت خان علیزی وگمارل سو، چي د مشهد د شاوخوا سیمو ... شخه غله راټوله کړي او د مشهد ښار ته د خوراکي موادو ټولي لاري بندي کړي. په دې باب

(١٣٨٥) تاریخ احمدشاهي، د ماسکو (١٩٧۴ع.) چاپ، ١٣٠/١ مخ.

محمود الحسيني د تاريخ احمد شاهي په لومړي ټوک کي داسي کښلي دي:

"..... و متعاقب مأمورين عاليجاه رفيع جايگاه، عمدة الخوانين الكرام، عظمت خان عليزائی را فرمان شد که با جمعی از غازيان پيش رفته، غلهٔ محصولات آن نواحی را جمع آوری نموده، راه وصول آذوقه با اهل قلعه مسدود سازد.....".

په (۱۱۷۷هـ. ق.) کال چي عنايت خان هزاره بغاوت ته ملا وتړله، د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه له خوا څخه ئې د ځبلو او اېلولو له پاره، شاه ولي خان بامېزی او عظمت خان عليزی "حاضر خان" وګمارل سول.

لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه په (۱۱۸۵هـ. ق.) کال د عظمت خان عليزي لور، خپل زوی شاهزاده پروېز ته ور وغوښتله او د دغه کال د ربيع الاول د مياشتي په لومړيو ورځو کي ئې ور واده کړله.

د لوی احمد شاه بابا رحمة الله عليه د زمانې شاعر حبيب الله په هغه نظم کي، چي د کندهار د دربار د اراکينو په ستاينه کي ئې تر (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال د مخه ويلی دئ، په هغه کي د عظمت خان عليزي داسي ستاينه کوي:

عظمت خان چي د ده نوم دئ، مېلمه دوست نژدې ئې کوم دئ
دی معطی د طعام اوم دئ، آه ارمان دئ کندهاره!
د ده عمر دي خدای ډېر کا، هر غليم دي ورته زېر کا
بيا بهادر و لکه شير کا، آه ارمان دئ کندهاره!

(د ديوان ۵۳ مخ)

اسد الله خان نورزی

په (۱۲۰٦ هـ.ق.) کال د تېمورشاه سدوزي له خوا اسد الله خان نورزی د سفير په حيث، د ډهلي دربار ته لېږل سوی دئ. له ده سره غلام احمد خان د وقايع نګار په ډول ملګری و.

دغه سفير د جلال آباد، پېښور او کشمير له لاري ډهلي ته ولاړ او د تېمور شاه سدوزي فرمان ئې، د ډهلي پاچا دوهم شاه عالم مغل ته ورساوه[۱۳۸٦].

[۱۳۸٦] آريانا مجله، ۲۷۲ پرله پسې ګڼه، ۲ مخ.

غلام احمد خان

په (۱۲۰٦ ه.ق.) کال چي اسدالله خان نورزی د تیمورشاه سدوزي له خوا د سفیر په حیث ډهلي ته تئ، غلام احمد خان د وقایع نګار په حیث ورسره و.

د تیمورشاه سدوزي یو بل فرمان، چي د (۱۲۰۷ ه.ق.) کال د رجب د میاشتي په پنځه ویشتمه کښل سوی دئ، له هغه څخه معلومیږي، چي غلام احمد خان لا هغسي د هندوستان په وقایع نګاری مقرر دئ او په (۱۲۰۸ ه.ق.) کال، چي د تیمورشاه له خوا کوم فرمان صادر سوی دئ، هم د ده مقرري تائیدوي.

د شاه زمان په زمانه کي هم دغه غلام احمد خان د سفیر او وقایع نګار په ډول سته.

په (۱۲۰۸ ه.ق.) کال چي د زمان شاه سدوزي کوم فرمان د "دولت راو سیندهیا" په نامه صادر سوی دئ، په هغه کي کښلي دي:

"درین ولا عمدة الخوانین العظام غلام احمد خان وقایع نگار بلاد هندوستان بعرض رسانید که...".

په (۱۲۱۱ ه.ق.) کال هم د شاه زمان سدوزي په یوه فرمان کي، چي د شهزاده اکبر مغل د ولي عهدی په باب کښلی سوی دئ، د غلام احمد خان ذکر د هندوستان د وقایع نګار په توګه ستهٔ[۱۳۸۷].

وجیه الدین

(وجیه الدوله)

وجیه الدین د هندوستان د مغولي پاچا دوهم شاه عالم له خوا، کابل ته د هند د سفیر په توګه رالیږل سوی دئ. دی په (۱۲۰٦ ه.ق.) کال د د تیمورشاه سدوزي دربار ته راغلی دئ.

تیمورشاه سدوزي وجیه الدین خان ته د "وجیه الدوله" لقب ورکړ او د (۱۲۰٦ ه.ق.) کال د ذی القعدې په میاشت کي بیرته، د ملتان له لاري، ډهلي ته ستون سوی دئ. د ده په دغه سفر کي غلام احمد خان هم ورسره ملګری و[۱۳۸۸].

(۱۳۸۷) آریانا مجله. ۲۷۲ پرله پسې ګڼه. ۲-۳ مخونه.

(۱۳۸۸) آریانا مجله. ۲۷۲ پرله پسې ګڼه. ۲ مخ.

سید محمود خان

علامه حبيبي صاحب رحمه الله د آريانا مجلې د ۲۷۲ پر له پسې ګڼې په ۲ مخ کې کښلي دي:
په (۱۲۱۱هـ.ق.) کال د ډهلې د مغلي پاچا دوهم شاه عالم له خوا د زمان شاه سدوزي دربار ته، د سفير په حيث راغلی دی او د ميرزا اکبر مغل د ولي عهدی منظوري ئې غوښتې ده.

ملا محمد شريف اخوند

محمود الحسيني الجامي د تاريخ احمدشاهي په دوهم ټوک کې کښلي دي:
ملا محمد شريف اخوند د لوی احمدشاه بابا رحمه الله د تخت نشيني په نږدو (لومړيو) کلو کې، د احمدشاهي دربار نديم و.

علي اکبر خان ورکزی

علامه حبيبي صاحب رحمه الله د وږمې مجلې د (۱۳۴۸هـ. ش.) کال د څلورمې او پنځمې (ګډې) ګڼې په ۴۶-۵۱ مخو کې، د علي اکبر خان ورکزي په باب داسې کښلي دي:
"..... علي اکبر خان په قوم ورکزی دی. دا پښتون قوم په تيراه او د کورمې په سيمو کې له قديمه اوسي ..... علي اکبر ورکزی له دې ځايه د (۱۱۶۵هـ. ق.) کال په حدودو کې هندوستان ته تللی او په اکثرو ښارو ګرځېدلی دی، د ده وظيفه غالباً عسکريت دی، خو په پښتو او دري ژبو ښه شاعر او ليکوال هم و.
د ده ديوان مردفي پښتو او دري برخې لري او سُني مذهبه حنفي او د نقشبندي طريقې پيرو با ذوقه او اديب پښتون ښکاري، (دی) د خپل ديوان مقدمه په دري (ژبه) داسې ليکي:
"سپاس و ستايش بی پايان و حمد و ثنای فراوان، مر متکلمی را سزاوار است که زبان هر

حامد بچندین لغات مختلفه گویا گردانید، و هر قومی را معنی لغات تازی و دری و افغان
دانانید .... این فقیر احقر مولای سید بشر، علی اکبر بن قاسم خان اورکزئی قوم افغان، ساک
تیراه خیبر، در حداثت سن و آوان طفلی، که طبیعتش مانند کف مفلسان از نقد فن شاعری عار
بوده .... بفرمایش سلطان شوق، به تسوید غزلی چند، بزبان افغانی که محاورهٔ اسلاف و مانوس
الاستعمال بود، چند صفحه را سیاه ساخت و براقعات متفرقه مرقوم شد .... بعد ازان در عنفوا
شباب در تعلیم و آموختن این فن، نزد اکثری از اولوالالباب سعی موفور بکار برده .... و چون ای
گلدسته مشتمل بر ازهار الفاظ رنگین و متضمن اثمار معانی شیرین است، به اتقای حضر
یزدان به "گلشن افغان" موسوم گشت ....".

د گلشن افغان لومړی غزل

زړه مي بل هغه دلبر په اور د غم کا — چي مي ورک په دغه اور د سترګو نم کا
هسي ما غوندي ئې ډېر عالم خراب کړ — کرشمه و ناز پیشه چي ئې صنم کا
د عالم په باب ژوندی، له مړو بتریم — که څوک شمار څما په عین د عالم کا
سر و مال تالا کوي، پروا ئې نشي — که جهان سره بر هم په یوه دم کا
لکه دی کاندي د هر عاشق په باب کي — د ازل حکم، نه لوحه، نه قلم کا
په دغه ساعت ئې زړه له ما نه یووړ — اوس پخپله غلا انکار راوړي قسم کا
د سپین مخ په عکس هر شي ته به ګوري — د مضمون نمایش ئې جام د جم کا
هر ساعت به د یار ذکر کا په ژبه — که اکبر د زړه د زخم څوک مرهم کا

علي اکبر خان په نقشبندیه طریقه کي د شیخ عبد الرحیم مرید و.

په (۱۱۷۵ هـ.ق.) کال چي د احمد شاهي دربار له خوا نور الدین خان مصلح الدوله د کشم
ناظم مقرر سو او هغه ځای ئې فتح کړ، علي اکبر خان ورکزی هم هلته و. ده د نور الدین خان بامېز
په باب داسي ویلي دي:

په کشمیر کي وم څو کاله — ؤ حاکم نور الدین خان
په زیارت د پیر مرشد مي — خدای عطا کړه دین ایمان

په (۱۱۸٦ هـ.ق.) کال چي ستر ټولواک لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ومړ، تیمور شاه سدوزي
کوچنی پوځ د علي اکبر خان ورکزي په مشري، د کشمیر د افغاني حاکم امیر خان جوانشیر څ
ته، چي خپلسري ئې شروع کړې وه او د کشمیر سُني مذهبه خلک ئې ځورول او په زوره ئې ش
کول، وګماره او علي اکبر (ورکزی) ئې د کشمیر صوبه دار مقرر کړ.

علي اکبر چي مظفر آباد ته ورسېدئ، د بمبو قوم خلک چي د امیر خان جوانشیر پلویان
لار ورنه کړله او دی بیر ته کابل ته ستون سو.

تر ده وروسته د تيمورشاه سدوزي له خوا نواب كريمداد خان بامېزى د كمشير نيولو ته وگماره سو او هغه امير خان جوانشير بندي كړ او كشمير ئې ونيو.

اكبرخان ورکزي کښلي دي:

د كشمير حاكم "امير" و — منافق شو له سلطان
له وطنه را روان شوم — د لښكرو په سامان
بل د وروستو مي غبر راغى — چي "حاجي كريمداد خان"
شو سردار كشمير ئې واخيست — له درباره د خاقان

اكبرخان ورکزي د حاجي كريمداد خان بامېزي په باب دا هم كښلي دي:
"حاجى كريمداد خان قوم درانى افغان با حقير عناد ذاتى داشت".

اكرم خان الكوزى

احمد علي كهزاد د بالاحصار كابل په دوهم ټوك كي كښلي دي:
شاه محمود سدوزي چي په (١٢١٦ ه.ق.) كال پاچا سو، اكرم خان الكوزى ئې ونازاوه او ډېر ئې د ده خولې ته كتل.

په (١٨٠٩ ع.) كال (=١٢٢٣ ه.ق.) مانستوړانټ الفنسټون د كابل د پاچهۍ د لومړي ټوك په نهم فصل (٢٩٢ مخ) كي كښلي دي:

"د پښتنو لويانو د كركتر بيان به د دغه كتاب په تاريخي برخي او نورو مختلفو برخو كي راسي، خو دلته به د هغو لويانو د سجيې انځور، چي ما د شاه شجاع په دربار كي وليدل، د دوى د مزاج او سلوكونو په باب يوه عمومي مفكوره وركړي. د دغو لويانو مشر اكرم خان و".

بل ځاى په ٧١/١ مخ كي ليكي:

"اكرم خان چي د پاچا په ډېرو سختيو كي ئې مرسته كوله او په دې پوهېده، چي جگړه‌ل او لوېدل ئې له خپل بادار (پاچا) سره تړلي دي، هم دا وخت د خپل حرص له امله بيخي روند سو او د خپلو زياتو خزانو او شتمنيو له وركولو ځخه ئې، چي د پلار څخه ورته پاتي وې، ډډه وكړه او له پاچا څخه ئې ځان يو څه گوښه كړ. د دغه نامي مشر وزير كركتر او دا شان خاصيت د پاچا د كمزورۍ لوى عامل و. سره د دې چي اكرم خان په سياسي هڅو كي يو څه نيمگړى و، خو حتى د ده دښمنانو هم دا منله، چي دى د زياتي زړه ورتيا څښتن دئ. په علايقو كي ډېر مهربان او صادق، په ژبه رښتونى، د عدالت كلك څارونكى او په كړو وړو كي په بشپړه توگه صاف او سم و، خو له

بلي خوا فوق العاده حريص، کبرجن، نيولی (تريو تندی) او د بدگمانۍ خوی ئې درلود. دغه راز ځان ستايونکی، په خپلو ملګرو باندي قهرجن، کلک احترام غوښتونکی او د نورو د بري او نفوذ په مقابل کي سخت ګير و.

له اکرم خان سره د خبرو اترو په وخت کي دا راته جوته سوه، چي ده ته منسوب ټول ښه صفات په رښتيا سره پکښي موجود وو. نوموړی ډېر غښتلی او قوي هيکله سړی و، چي په ونه له شپږو فوټو څخه زيات ليده کېده. ښه ئې نيولې او په ظاهره توګه ئې چوپتيا ته طبيعي ميلان درلود.... عادي کالي ئې اغوستل او د ساده خوی څښتن و...".

"(د شاه شجاع) په دربار کي دوه ګوندونه او ډلي وې، د يوې ډلي مشر اکرم خان، چي د يو لوی دراني سردار او رښتيني صدر اعظم و، بله ډله د پارسي ژبو وزيرانو ډله وه او له پاچا سره ئې د خپل ګوند په ګډون، ډېري ځانګړي او نژدې اړيکي درلودې او د پاچا په التفات ئې تکيه لرله، دوی يو پټ نفوذ او اقتدار درلود، چي دا اقتدار به ئې کله کله د اکرم خان پر ضد کاراوه.... اکرم خان په ډېره صميمانه او طبيعي توګه زموږ سره چلند کاوه او هيڅکله ئې پر موږ دا ټينګار نه کاوه، چي د مقابلي ډلي څخه د ده په برخه کي څه پټ کړم، بلکي په ډاګه به ئې ويل، چي له ده سره هيڅ يوه خبره د پارسيانو له ډلي څخه پټه ونه ساتم. د دغي هيلي او نيکي روييې له مخي، چي اکرم خان ښکاره کړه، د هيأت ډېره او وارخطايي ئې ورکه کړه. د سفارت د رسېدو په وخت کي اکرم خان د کشمير په لور وخوځېد. زما زياتره مشکلات او خنډونه د ده په مرسته مخکي له منځه وړل سوي وو....".

په ٨١/١ مخ کي د اکرم خان د وژني په باب داسي ليکي:

"....پاچا او اکرم خان د لښکر شا ته روان وو، خو اکرم خان سملاسي زغره په ځان کړه او د سلو يا دوو سوو څخه لږو کسانو په حدودو کي ورسره د جګړې مخامخ ځای ته وخوځېدل. خو ده له همدغو کسانو څخه ځان وړاندي کړ او دوی ئې شا ته پرېښوول. د ده له رسېدو نه وړاندي غليم بريالی سوی و، خو اکرم خان سره د دې هم د فتح خان لوري ته وړاندي ولاړ، ليکن دغه نامی شخصيت له سخت مقاومت وروسته ډېر ژر مغلوب او همدلته ووژل سو".

زرداد خان پوپلزی

احمد علي خان کهزاد د بالاحصار کابل په ٢/١٣٦-١٣٧ مخو کي د شاه محمود سدوزي د پاچهۍ د لومړۍ دورې په واقعاتو کي، د ده د طرفدارانو او پيش قراولانو او شاه شجاع سدوزي تر منځ د جنګو په لړ کي ليکلي دي، چي د (١٢١٧ هـ.ق.) کال په حدودو کي د شاه شجاع سدوزي او زرداد خان پوپلزي تر منځ، په پېښور کي جنګ وسو.

بوستان خان پوپلزی

بوستان خان پوپلزی د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه مستوفي الممالک و.
د تاریخ احمد شاهي په ۳۴۹/۱ مخ کي کښلي دي:
لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۴ هـ.ق.) کال پنجاب ته تللی و، بُستان خان پوپلزی مستوفي الممالک ئې په رکاب کي و. کندهار ته د راستنېدلو په لار کي، چي لوی احمد شا بابا رحمة الله علیه خیبر ته راورسېد، په کندهار کي د لقمان خان "خان خانان" د پورته کېدلو خبر ور ورسېد او دا هم معلومه سوه، چي بستان خان پوپلزی هم په پټه له دوی سره رابطه لري او له خپل ورو مقرب خان او خان خانان لقمان خان سره مکاتبه لري او د دوی بغاوت لمسوي، ځکه نو د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له حضوره شخه، د ده د بندي کولو امر صادر سو. کله چي لوی احمد شا بابا رحمة الله علیه کندهار ته ورسېد او باغیان ئې په سزا ورسول، بستان خان ئې هم وواژه.

انزله خان پوپلزی
(نسقچي باشي)

د مشهد په جنګو کي انزله خان پوپلزی نسقچي باشي د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا، د خواف د حاکم اسمعیل خان په مرسته ګمارل سوی و. د تاریخ احمد شاهي په ۲۶۵/۱ کي په دې باب داسي کښلي دي:

".... چون مهم دار السلطنة هرات بتائید خالق الارض و السموات صورت انفصال پذیرفت بعد از ترخیص مخلص خان درانی باتفاق خوانین و روسای ترکمانیه بسمت ترکستان خاطر خورشید مظاهر خاقان کشورستان باستخلاص اسمعیل خان که از دست افواج شاهرخی محصور در قلعه رود و توسل بآستان فیض بنیان جسته امیدوار نجات و کمک از بارگاه فلک شکوه بود مایل گشته چند دسته از افواج منصور بسرکردگی انزَلَ خان درانی فوفلزئی بسمت الکای خواف مامور فرمودند در وقتی که امرای شاهرخی قلعه مذکور را در کمال شدت محصور کرده و بضرب توپ و قنباره بنای ثبات و استقامت اسمعیل خان را از پا درآورده کوس استیلا بر طارم اعتلا می

نواختند و قرب زمان قلعه را سرمایهٔ سردرد انشراح دلها می ساختند که خبر مسخر شدن قلعهٔ هرات بدست بهادران فیروزی رایات و تعین شدن انزل خان درانی با افواج نصرت قرین از درگاه خلایق مطاف بکمک اسمعیل خان بسمت الکای خواف در اردوی شاهرخی انتشار یافته تزلزل تمام باحوال خاص و عام رو داد و تفرقگی و سراسیمگی عظیم در میان قزلباشیه افتاد ....".

انزله خان درانی پوپلزی د پاني پت د جنگ په لښکر کښیو کي هم د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په رکاب کي و. د تاریخ احمد شاهي په دوهم ټوک کي لیکلي دي:

"... بعد از آن سالک مسالک فدویت و اخلاص منشی انزله خان فوفلزئی نسقچي باشی همراه بنهٔ همایون بوده و راه حزم و هوشیاری پیموده، از غداری و مکاری اعادی خبردار باشد و دلیر معرکهٔ دار و گیر ....".

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په هرات کي درویش علي خان هزاره د بیګلربیګي په حیث مقرر کړ، انزله خان پوپلزی ئې د ده سره په هرات کي پرېښود. د درویش علي خان د بدي ګذارۍ په نسبت د هرات خلک په غاو سول او سرېېره پر دې ئې احمد شاهي دربار ته له حساب ورکولو څخه هم ډډه وکړل. انزله خان دی څو واره سمي لاري ته راوباله، خو ده بیا هم خپلسري نه پرېښووله او بالاخره ئې بغاوت ته ملا وتړله. انزله خان پخپله هم د ده د ځبلو کوښښ وکړ، خو چي څه نتیجه ئې لاس ته رانه وړه، نو ئې له احمد شاهي دربار څخه مرسته وغوښتله. هغه و چي بیا د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه له خوا څخه شاه پسند خان ساګزی چرخچي باشي، د ده د مرستي او د درویش علي خان هزاره د ځبلو له پاره، هرات ته ور ولېږل سو.

انزله خان پوپلزي نسقچي باشي له سکانو سره د غزا په نیت، د چندالۍ په جنګ کي هم د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه د لښکرو مل و.

نور محمد خان خوګیانی

د تاریخ احمد شاهي په ۵۱۱/۱ مخ کي کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي په (۱۱۶۸ هـ.ق.) کال مشهد ونیو، شاهرخ افشارئې د هغه ځای واکمن وټاکه. د شاهرخ د اکا زوی محمد کاظم ئې د مشهد حاکم مقرر کړ، د وزارت منصب ئې جعفر خان کرد ته وسپاره. له خپلي خوا ئې نور محمد خان خوګیانی له دوو زرو پښتنو سپاهیانو سره، د شاهرخ په دربار کي د خپل نماینده په توګه پرېښود.

د تاریخ احمد شاهي په دوهم ټوک کي کښلي دي:

لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه چي د پاني پت په غزا بوخت و، د مشهد فیوډالانو نور محمد خان

خوګیانی له مشهده څخه پسي را واخیست.

د تاریخ احمدشاهي په ۱۱۲۴/۲ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۷۸ هـ.ق.) کال شاهرخ د مشهد واکمن او جعفر خان کرد د هغه وزیر، تېمورشاه سدوزي ته وکښل، چي دلته د کردانو یوه قبیله چي "عمارلو" نومېږي، همېشه بغاوت کوي او اطاعت ته غاړه نه ږدي، څه لښکر زموږ مرستي ته را ولېږه. تېمورشاه دا خبره پلار ته ولیکله. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه امر وکړ، چي نور محمد خان خوګیانی او درویش علي خان هزاره له یوه پوځه سره د شاهرخ مرستي ته واستوه، مګر باید هیڅ کار د شاهرخ او جعفر خان کرد بې سلا ونه کړي. هغه وچي نور محمد خان خوګیانی او درویش علي خان هزاره ئې له یوه پوځه سره مشهد ته ولېږل.

هغوی د خپل ماموریت تر ختم وروسته، بیرته هرات ته راستانه سول. درویش علي خان هزاره په کافر کلا (اسلام کلا) کي خپل وطن (نره تو) ته ولاړ او یاغي سو. نور محمد خان هرات ته راغی.

د روحاني تړون په ۷۷۹ مخ کي نور محمد خان خوګیانی د پېښور حاکم ښوول سوی دئ او د میا عمر صاحب رحمة الله علیه په مخلصینو او مریدانو کي ئې شمېرلی دئ.

مکرم خان ګکهر

مکرم خان ګکهر د معظم خان (۱۱۴۷ هـ.ق. مړ) زوی، د سلطان دلاور خان (۱۱۴۲ هـ.ق. مړ) لمسی، د پهروالې د پرګنې خان و.

د کی ګوهرنامې په ۲۰۱ مخ کي کښلي دي:

په (۱۱۶۰ هـ.ق.) کال چي لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له کندهاره لاهور ته تئ، تر اباسین چي پوري ووت، مکرم خان ګکهر ئې سلام ته راغی. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د پوټوهار د سیمي حکومت عزت خان او سرفراز خان ختک ته ورکړ، مګر پای ته مکرم خان د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه حضور ته ورغی، د "دانګلي" او "پهرواله" پرګنې ده ته وسپارلي سوې او د سلطانی خطاب ئې، چي ددوی په کورنۍ کي د بابر مغل له وختو راغلی و، ورکړ. مکرم خان خپله یوه لور اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي ته او بله لور ئې نومیالي سپهسالار سردار جان خان پوپلزي ته ورکړه.

په کشمیر کي چي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه لښکري له سُکهه جیون مل سره جنګېدلې، مکرم خان ګکهر د دوی ملګری و.

د دغه کتاب په ۲۰۷ مخ کي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي لاهور ته راغی، سکهانو ډېر زور پیدا کړی و. لوی احمدشاه

بابا رحمة الله عليه د لاهور حکومت مکرم خان ګکهر ته ورکړ او پخپله کابل ته ولاړ. د کی ګوهرنامې خپل متن دا دئ:

"بعده وقتیکه پادشاه جهان پناه احمدشاه در دارالسلطنت لاهور رونق بخش بودند دران ایام قوم سنگهان از ملک مانجهه و دیگر نواحی جوقی جوقی برآمده بر سپاه پادشاهی وقت بیوقت دستبرد و قطاع الطریقی مینمودند و عساکر فیروزه تعاقب آنها نموده قتل میساختند، لیکن سنگهان روز بروز زیاد شور بر پا نمودند. حضرت ظل سبحانی سلطان مکرم خان را بخطاب نوابگی صوبه دار مقرر فرموده و در لاهور گذاشته خود بدولت نهضت فرما بصوب کابل شدند".

مکرم خان ګکهر په (۱۱۷۷ هـ.ق.) کال د سکهانو له لاسه شهید سو[۱۳۸۹].

د تاریخ احمدشاهي په ۱۱۰۴/۲ مخ کي کښلي دي:

لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه د (۱۱۷۷ هـ.ق.) کال په سر کي (چي د ژمي پای و) له لاهوره څخه کابل ته را رهي سو. تر را رهي کېدلو دمخه ئې د لاهور د ولایت صوبه داري مکرم خان ګکهر ته وسپارله او یوه مرصعه جیغه ئې هم ور وبخښله. لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه په پسرلي کي کابل ته ورسېد، څو ورځي لا تیري نه وې، چي د مکرم خان ګکهر د وژل کېدلو او د سرهند د احمدشاهي حکمران زین خان مومند سره د سکهانو د جګړې خبر، لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه ته ورسېد. لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه چي په دې اغتشاش خبر سو، سردار جان خان او مراد خان ئې د پېښور د سردارانو له پوځو سره د دوی ځبلو ته وګمارل.

رحـیم خان کاکړ
(لشکرنویس)

رحیم خان کاکړ د "لشکر نویس" لقب درلود او په احمدشاهي پوځ کي ئې د لښکر نویسۍ دنده درلود.

د تاریخ احمدشاهي په دوهم ټوک کي کښلي دي:

په (۱۱۷۹ هـ.ق.) کال چي د شرقي پنجاب په چنداله کي د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه پوځونه او وه ورځي پرله پسې د سکهانو سره په غزا بوخت وو، په دغه غزا کي رحیم خان کاکړ شهید سو. د لوی احمدشاه بابا رحمة الله علیه له خوا د کاکړو جنګیالیو مشرتوب، د ده زوی بهادر خان او د لشکر نویسۍ عهده، د رحیم خان شهید ورور رحیمداد خان کاکړ ته ورکړه سوه.

[۱۳۸۹] وګ: کی ګوهرنامه، ۲۰۸ مخ.

احمد خان پوپلزی

د یک مرد بزرگ په ٦٦ مخ کي کښلي دي:

"احمد خان پوپلزی د سعد الدین انصاري کابلي رحمة الله علیه (۱۱۴۰-۱۲۲۵ ه.ق.) له مریدانو څخه و او د خپل پیر په هدیره کي د خپل پیر څنګ ته ښخ دئ. د سعد الدین انصاري رحمة الله علیه کابلي هدیره د ده په مصرف او زیار جوړه سوې ده".

د لوګر ولایت په ... کي چي د پوپلزو یوه کورنۍ اوسي، هغه د دغه احمد خان پوپلزي اولاده ده. عبد الستار خان چي په (۱۳۱۰ ه.ق.) کال د ګرش حکمران و، د دغي کورنۍ د ژوندیو مشرانو څخه دئ.

احمد خان پوپلزی
|
محمد خان
|
......
|
عبد الودود خان
|
عبد الستار خان
|
نور احمد خان

عبد الرحیم خان هوتک

د (۱۸۰۲ ع.) کال د می د میاشتي په ۱۱ تاریخ، د وزیر فتح خان لښکري د عبد الرحیم خان هوتک او شهاب الدین خان توخي په مقابل کي، په ګلچین نومي ځای کي وجنګېدلې. د عبد الرحیم خان هوتک او شهاب الدین خان توخي لښکر مات سو. عبد الرحیم خان هوتک، شهاب الدین خان توخی او د عبد الرحیم خان دوه زامن په توپ کي والوزول سول[۱۳۹۰].

[۱۳۹۰] وګ: عروج بارکزائي ها، ۳۴ مخ.

نواب سربلند خان درانی

دکی گوهر نامې په (۱۴۵ او ۱۴۶ مخو) کې کښلي دي:

"..... هر گاه که احمد شاه بادشاه درانی رحمة الله علیه نواب سربلند خان را برای مالش سنگهان مامور فرموده مشار الیه مع گکهران مالک پوتهوهار در رهتاس در دوآبهٔ سنده ساگر یعنی پوتهوهار مقید گردید. سنگهان بضلع گوجرات فراهم شدند، چنانچه باین طرف راجه همت خان و باجوخان و کامو نخان و چوهدری عبد الرحیم جلال پوری گوجر عرف بسوال سکنه جاله و چوهدری رحمت خان و چوهدری الهداد سکنه موضع ډنگه نزد نواب موصوف حاضر شده بجا آوری خدمات مینمودند، لیکن چوهدری عبد الرحیم گوجر که همراه بوگیالان نامبرده عداوت داشت، اولاً خود بصوب سنگهان باین مضمون نگاشت که بلا وسواس از دریای گذر جهلم باین روی آب عابر شوند، بلا جنگ فتح شما خواهد شد. وقتیکه سنگهان از دریا عبور شدند، آن وقت نواب سربلند خان را صلاح داده در قلعهٔ رهتاس متحصن شدند. باین صورت پیرامون قلعه سنگهان محاصره داده را مداخلت و مخارج آنچنان تنگ نمودند که در تحریر نمی آید. در آن ایام گوجر نامبرده از راه فریب یک عرضی از زبانی راجه همت خان بوگیال بصوب سنگهان چنان مرقوم یافت که ما همه کسان گکهران و چوهدریان ډنگه و جلال پوری خیرخواه ایم و از فلان دروازه حمله آرند، مایان دروازه را خواهم کشاد و نیز از اثنای راه این کاغذ را از دست آن آدم گرفتار ساخته بوقت موقع بخدمت نواب سربلند خان گذارش ساخت و دیگر چند سخنان افتر گوشگذار نموده، چنان کنانید که نواب مشار الیه راجه همت خان و باجوخان و کامو خان بوگیالان و نیز چوهدری رحمت خان و اله داد خان را بالمشاقهٔ خویش طلبانیده قتل کنانید. ازین واقعه دیگر گکهران و الوسات که در قلعه محصور بودند از نواب سربلند خان مایوس شده سنگهان را در اندرون قلعه آوردند و نواب نامبرده را بدست سردار چرت سنگه قید کنانیده سردار موصوف او را در قصبهٔ گوجرانواله قید کرده برد و جریمه سخت گرفتنی نموده، چنانچه در همان قید فوت شد و بر دوآبه سنگهان متصرف گشتند".

اعظم خان پوپلزی
(نسقچي باشي)

مانستوراټ الفنستون د "An Account of the Kingdome of Caubul" په ۲۹۳/۱ م
کي د ده په باب کښلي دي:

"اعظم خان د نسقچي باشي منصب عهده دار و، چي دغه منصب په پخوا وختو کي زموږ
ارل مارشال "Earl Marshal" منصب په شان دئ. اعظم خان په هيڅ وجه بې استعداده نه و، خو
دی تر هغو زيات په ميلمستيا او عزت کي د نامه خاوند و. څه وخت چي شاه محمود (سدوزي)
دی په دې مأمور کړ، چي وفادار خان او نور سدوزيان ووژني، ده د دغه امر له تر سره کولو نه سر
غړاوه، ځکه چي دغه کار د هغه رواج مخالف و، چي درانيو ته تقريباً مقدس و. محمود لومړی په
دغه خپل سری ډېر په قهر سو او محافظانو ته ئې امر وکړ، چي د توپکو په کنداغونو ئې وپرزوي،
خو له دغه وحشيانه سلوک سره، چي له ده سره وسو او د محمود له هغو ترټنو سره سره، چي که دی
د امر اطاعت ونه کړي، وبه وژل سي، اعظم خان پر خپل انکار ټينګار وکړ او خپلو پرنسيپونو ته ئې
د خپلي ټينګي عقيدې په وجه، يو څه وخت وروسته د شاه محمود اعتماد جلب کړ.

غلام جيلاني اعظمي چي يو وخت په کابل کي، د انجمن ادبي غړی او معاون و، د دغه
اعظم خان نسقچي باشي پوپلزي لمسی دئ.

غفور خان
(۱۲۲۳ ه.ق. مړ)

مانستوراټ الفنستون د کابل د پاچهۍ (سلطنت) د لومړي ټوک په نهم فصل (۲۹۲-۲۹۳
مخو) کي د ده په باب کښلي دي:

"غفور خان د شتو او اهميت خاوند و، خو د ټينګي (ټېکي) سړی نه و او استعداد ئې هم نه
لاره ..... يو مياشت وروسته له هغه، چي ما ورسره وکتل، ده د شاه محمود خوا پرېښوده او له شاه
شجاع سدوزي سره يو ځای سو او په دغه تغير سره ئې د نملې په جنګ کي مرګ په نصيب سو".

د نملې جنګ د شاه شجاع سدوزي د پوځ او شاه محمود سدوزي د پوځ ترمنځ پېښ سوی دئ. په دغه جنګ کي اکرم خان بامېزی هم ومړ[١٣٩١].

ابدال خان روهيله

د فارسي اخبارات و مراسلات په ٧٦ ګڼه اخبار کي، چي د (١٢٠١ه.ق.) کال د کوچني اختر په دوولسمه د مادهو جي سيندهيا[١٣٩٢] له درباره چا کښلی دئ، داسي ليکلي دي:

"د جي نګر راجا دهارا راو د سيندهيا له لښکره څخه غله، چي پر دوو سوو (٢٠٠) غويو بار وه، له څو يابو ګانو سره تالا کړه او څو تنه ئې هم ټپيان کړل. لښکر چي پسي واستول سو، څوک ئې ونه نيولای سوای.

د ابدال خان د لښکر سل (١٠٠) تنه روهيله او د افضل خان د لښکر دوه سوه (٢٠٠) تنه د جي نګر د راجا خواته ور اوښتي دي".

آزاد خان سليمانخېل

په ناسخ التواريخ کي کښلي دي:

حسن خان قاجار چي له کريم خان زنده څخه د اصفهان شاوخوا ونيوله، کريم خان شېراز ته وتښتېد او حسن خان قاجار په (١١٦٩ه. ق.) کال د آذربايجان لور ته مخه کړله. د آذربايجان واکمن آزاد خان پښتانه له شلو زرو (٢٠٠٠٠) سپاهيانو سره، د اروميې په شپږ فرسخي کي د ده مخه ونيوله، په جنګ کي پښتانه مات سول. آزاد خان تفليس ته ولاړ، آذربايجان د حسن خان قاجار په لاس کښېووت او څلور زره پښتانه ئې په خپل لښکر کي شامل کړل. حسن خان د شوش تر کلا پوري ټولي سيمي ونيولې، چي تبرېز ته ستنېدئ، د آذربايجان واکمني ئې خپل مشر زوی "اغا محمد خان" ته، چي په دغه وخت کي ....؟ کلن و، وسپارله. دغه پښتانه لښکر د اصفهان په کلابندي کي

[١٣٩١] وګ: واقعات شاه شجاع، ٣٥ مخ.

[١٣٩٢] مادهو جي سيندهيا په دغه وخت کي د جهوانه غوندی ته نژدې اېرولي و.

له اصفهانه څخه شېراز ته مخه ځني ونيول او وتښتېدل او د محمد حسن خان قاجار د لښکر د م
سبب سو.

آزاد خان په حيات افغاني (۲۶۵ مخ) کي سليمانخېل بلل سوی دئ. د حيات افغاني مو
زياتوي:

"د هوتکو د پاچهی تر ړنګېدلو وروسته، په براهيم غلجيو کي د نامه تښتن آزاد خان سلې
خېل و، دی ډېر زړه ور او هوډيالی سړی و، ده په ايران کي د پاچهی دعوه وکړله، لوی دښمن
کريم خان زند و. د دوی تر منځ خورا خونړي جنګونه وسول، پای ته د آزاد خان سليمانخېل او ک
خان زند دښمني په دوستي بدله سوه. کريم خان زند چي پاچهي تر لاسه کړله[1393] آزاد خان څو ک
د ده په دربار کي په خورا آب او عزت تېر کړل. د آزاد خان زوی لغمان ته راغی او س ئې اولاد
لغمان کي سته".

کټ مټ دغه مطلب په پاړسي ژبه د تواريخ خورشيد جهان په ۲۱۷ او ۲۱۸ مخو کي راغ
دئ.

ابو الحسن بن محمد امين ګلستانه هم د مجمل التواريخ په ۴۶۴ مخ کي آزاد خان سليمانخې
بللی دئ، ده ليکلي دي:

"آزاد خان بيګ سليمانخيلی غليجای از افغانهای کابل بود".

د تاريخ کامل ايران په څلورم فصل (۴۴۹ مخ) کي ليکلي دي:

".... حکمران زند (کريم خان زند) در مقابل خود دو دشمن قوی داشت يکی آزاد خان افغا
و ديګری محمد حسن خان قاجار. نزديک قزوين جنګی بين آزاد خان و کريم خان رخ داد و چنا
شکستی بر کريم خان وارد آمد که مجبور شد اصفهان و حتی شيراز را رها کرده بجانب کوه کيلوي
برود ....".

د آزاد خان او هراکليوس جنګونه:

آزاد خان چي په آذربايجان کي پاچهي جوړه کړله، په دغه وخت کي د ققفاز (ګرجستان) پاچا
د تېموراز زوی هراکليوس و، ده هم د ګرجستان خپلواکي اعلان کړه او پر آذربايجان ئې بريد وکړ،
آزاد خان ئې مخه ونيوله جنګ وسو، خو ماته د آزاد خان په نصيب سوه، مګر ډېر ژر د هراکليوس
او د ده د يوه لوی منصبدار حاجي جلال خان لکزي تر منځ اختلاف پېښ سو، آزاد خان د حاجي
جلال خان مل سو او پر هراکليوس ئې بريد وکړ، مګر هراکليوس ژر حاجي جلال خان پخلا کړ او په
دواړو ئې پر آزاد خان حمله وکړله او بيا ئې آزاد خان ته شکست ورکړ. دا جنګونه په (۱۱۶۶هـ.ق.)
کال پېښ سوي دي.

تر دې جنګ وروسته هراکليوس او آزاد خان يوه عهد نامه وکړله او د دغي عهدنامې له مخي

[1393] کريم خان زند په (۱۱۶۸هـ. ق.) کال شېراز ونيوه، د اصفهان و تهران و عراق عجم تر نيولو وروسته.

د رود ارس د شمال مځکي د هراکليوس سولې.

آزاد خان او ګرجستان:

آزاد خان د ګرجستان د نائب السلطنه تيموراز لمسی غوښتې وه[١٣٩٤]، آزاد خان چي په آذربايجان کي حکومت جوړ کړ، تيموراز وغوښتل د ده په مرسته پر اېران بريد وکړي او د ايران پر تخت کښيني، ځکه ئې نو څلور زره ګرجي سپاره د شهزاده "Obelliani" په مشرتوب آزاد خان ته ورکړل. په (١١٧٠ هـ. ق.) کال چي آزاد خان د محمد حسن خان قاجار څخه ماتې وکړه، آزاد خان له نوموړي شهزاده او پاتو ګرجي سپاهيانو سره بغداد ته ولاړ، مګر ترکانو د ايران په نيولو کي مرسته ورسره ونه کړله، دی مجبور سو په (١٧٦١ع.) کال ګرجستان ته ولاړ. د ګرجستان نائب

(١٣٩٤) تيموراز (Taimaraz) د کاختي شاهزاده، د يوه بل ګرجي شهزاده لوخراسپ (Lukhrasp) په ملګري غوښتل قفقاز د ايران له تسلطه خلاص کړي. وايي په دغه اغتشاش کي د ترکانو د پاچهي لاس و (وګ: د کارملیت د کشیش اثر " A Chronicale of The Carmelites"). په (١٠٢٣ هـ. ق.) (= ١٦١٣ع.) کال چي شاه عباس خبر سو، پر ګرجستان ئې بريد وکړ، ځوانان شهزاده ګان ئې خصي کړل او له ميندو سره ئې د شېراز بنديخانې ته ولېږل. څو کوره ګرجيان ئې خراسان، مازندران او ګيلان ته وکوچول.

شاه عباس بله پلا په (١٦١٥ع.) کال بيا پر ګرجستان بريد وکړ، ګرجستان ئې ونيو او هلته ئې سخت ظلمونه وکړل. پيترو دولا واله (Pietro della valla " له ملکې کيتران (Ketaran) سره، چي د کاختي د پاچا تيموراز لور وه، د شاه عباس د ظلمونو داستان ليکلی دئ.

اندره اس ګريفيوس (Andreas Gryphus) الماني د اندريوس د دغي قصې تر لوستلو وروسته، د " Catharina von Georgien " تراژيدي درام ليکلی دئ.

د شاه عباس د پاچهي په وروستيو کلو کي (تر ١٠٣٥ هـ. ق. کال وروسته) تيموراز له روسيې سره روابط قايم کړل، د روسانو ايلچي ګرجستان ته راغی او د ګرجستان نماينده د رومانف د سلسلې لومړي پاچا "ميخائيل فيودرويچ" په پاچهي کي روسيې ته ولاړ. تيموراز بيا په (١٠٤٤ هـ. ق.) کال په ګرجستان کي فساد جوړ کړ. د ايران لښکر چي ورغی، تيموراز وتښتېدئ.

تيموراز د افشار نادر په وختو کي د کاختي پاچا و او له نادر سره ئې ښه روابط درلودل. هراکليوس د تيموراز زوی و، د نادر په وختو کي دوی د کاتلي او کاختي پاچهان وو.

په (٢٧ جمادی الثاني ١١٦٠ هـ. ق.) (= ٦ جولای ١٧٤٧ع.) کال چي د نادر وراره عليقلي ميرزا پاچا سو، ده تر دغه پخوا د کاتلي د نائب السلطنه تيموراز لور، چي کتوان (Kutvean) نومېدله په نکاح کړې وه او ګرجي شهزاده ګان د ده پر خوا وو.

په (١١٦٢ هـ. ق.) کال چي محمد حسن خان قاجار په استرآباد کي پاچهي اعلان کړه، مازندران ئې ونيو، پر اېراوان ئې بريد وکړ. تيموراز او زوی ئې هراکليوس د ايراوان د پاچا په مرسته راغلل او په دواړو ئې محمد حسن خان قاجار مات کړ.

په (١١٦٤ هـ. ق.) (= ١٧٥٠ ع.) کال د ګرجستان شهزاده ګانو له روسيې څخه مرسته وغوښتله، په (١٧٥٢ ع.) کال د ګرجستان اسقف (Athanasius) پطرز بورګ ته ولاړ. په (١٧٦٠ ع.) کال تيموراز پخپله روسيې ته ولاړ او له ملکې اليزابت (١٧٤١-١٧٦٢ ع.) څخه ئې مرسته وغوښتله، مګر روسان ځکه چي له پروس سره په جنګ اخته وو، د دوی مرسته ئې ونه کړله، تيموراز چي له روسيې څخه وطن ته راستنېدئ، په حاجي ترخان کي، په (١٧٦٢ ع.) کال مړ سو.

السلطنه هراکليوس د ده ښه هرکلي وکړ.

په .... کال چي کريم خان زند پر آذربايجان بريد وکړ او هغه ئې ونيو، هراکليوس ته ئې وليکل، چي آزاد خان را وسپاره، هراکليوس آزاد خان کريم خان ته وسپاره او د دغه کار په صله کي ئې د کريم خان څخه د "رود ارس" د شمالي سيمو د حکومت فرمان تر لاسه کړ.

محمد ولي زلمي د مجمل التواريخ، آتشکده آذر، گيتی کشا او گلشن مراد په حواله د لمر مجلې د (۱۳۵۰هـ. ش.) کال د جوزا په ګڼه کي د آزاد خان په باب داسي ليکلي دي:

آزاد خان د افغانستان د جنوبي سيمو يو ننګيالی، دلاور، غښتلی او قوي الجثه ځوان و، چي د وطن د دفاع او د پردي تسلط د ليري کولو له پاره ئې ډېري ملي مبارزې کړي دي. د کندهار او کابل په قومي مجاهدو کي ئې د وطن د ښمنان ډېر په تنګ کړي وو او افشار نادر چي ننګيالي او توريالي ځلميان خوښول، هر کله ئې غوښته چي آزاد خان د ده ملګری وي او د ده په رکاب کي هر ځای واوسي.

د مجمل التواريخ د ۴۶۴ مخ په حواله چي دغه کتاب ابوالحسن بن محمد امين ګلستانه ليکلی دئ، د آزاد خان د پېژندني په باره کي داسي ليکي:

"آزاد خان بيگ سليمانخيلی غليجائی از افغانهای کابل بود، در وقت تصرف آنجا بدست نادر وی با جمعی داخل سپاهيان نادرشاه گرديد و به ايران آمد و به حسب فرمان بخدمت امير اصلان خان قرقلوی افشار فرمانفرمای آذربايجان پيوست. در رزميکه بين ابراهيم شاه و امير اصلان خان روی داد وی پيش از جنگ باردوی ابراهيم شاه ملحق و در ازاء اين خدمت از طرف وی به لقب خانی خوانده شد".

په هغه جنګ کي، چي شاهرخ ابراهيم شاه مات کی خان افغان (آزاد خان) د زور ښار ته ولاړ او د هغه ځای څخه آذربايجان ته ورسېد او د اورمي (اروميې) کلا ئې ونيوله، د فتح عليخان افشار ارشلو او نورو لويانو سره ملګری سو او اقتدار ته ورسېد.

په (۱۱۶۶هـ. ق.) کال کي آزاد خان افغان د اتو زرو (۸۰۰۰) افغانانو او افشاريانو سره، د عليمردان خان په مرسته د اورمي څخه کرمانشاهان ته ولاړ. د لاري دوه دريځ پړاوه لا پاته وو، چي د عليمردان خان په ماتې خبر سو او وې غوښته چي بيرته وګرځي، خو کريم خان ئې لاره بنده کړه او آزاد خان مجبور سو، چي مدافعه وکړي، ځکه ئې کريم خان مات کئ او "ملاير" ته ولاړ او د "بری" په کلا کي، چي زنديان پکښي اوسېدل هغه ئې محاصره کړه، محاصره چي اوږده سوه، د کلا ساتونکي په تنګ سول او تسليم سول. په تسليم سوو کسانو کي شيخ علي خان، محمد خان، د کريم خان زند مور او ۱۷ نفره نور لويان وو، چي دوی ټول د علم خان افغان سره، چي د زرو لښکرو مشر و، اورمي ته واستول سول، چي يوسف خان هوتک افغان ته، چي د اورمي حاکم و، هغه ته وسپارل سي(۱۳۹۵).

(۱۳۹۵) وګ: "آتشکده آذر"

د گیتي کشاه په ۳۷ مخ کې کښلي دي:

"آزاد خان افغان بیا د اصفهان د نیولو په هڅه کې سو، څرنګه چې لار او پړده وه علم خان افغان خوب وړی و، په دغه وخت کې د شیخ علیخان مور ځان زوی ته را ورساوه او هغه توره او تمانچه (توپانچه) چې په ملا کې ئې تړلې وه، ده ته ئې ورکړه او نورو ښځو هم خپلې پټې اسلحې د ځان د خوشي کولو له پاره ورکړې، په دې وخت کې د محافظینو او بندیانو په منځ کې شدیده مقابله او مقاتله شروع سوه، په نتیجه کې محافظین یا ووژل سول او یا تیت و پرک سول او خپله علم خان افغان، چې د خوبه تازه راویښ سوی و او اودس ئې تازه کاوه، هم ووژل سو او دوی ټولو "بروجرد" ته ځانونه ورسول او د کریم خان زند ملګري سول.

آزاد خان افغان چې اصفهان ته ورسېد، سکه ئې په خپل نامه ووهله او د زندیانو د ماتولو له پاره ئې لښکر ولېږئ. کریم خان که څه هم د دغه لښکر د مقابلې توان نه درلود، خو بیا هم مقابلې ته راووت او په دلاوري ئې جنګ وکئ. په جنګ کې د کریم خان زند ورور سکندر خان ووژل سو او کریم خان د ده مړی د شاه رضا په مقبره کې ښخ کړ او خپله د "کیلویه" غره ته وتښتېد.

په فهرست التواریخ کې داسي راغلي دي، چې:

کریم خان به قمشه و به آزاد خان افغان مصاف داد و ازو هزیمت شد و رستم خان برادرزاده کریم خان کشته شد و کریم خان بطرف کوه کیلویه شد.

آزاد خان افغان بیا خپل وراره د کریم خان مقابلې ته ولېږئ، کریم خان دا ځل بریالی سو او "کازرون" ته ولاړ. آزاد خان بیا د اصفهان څخه فارس ته ولاړ، په "خشت" کې ئې د کریم خان د لښکرو له سردار، محمد علي خشتي سره جګړه وکړه.

آزاد خان افغان "ګیلان" ونیوئ، عبد العلي خان عرب او خانچي خان افغان ئې د یوې ډلې سره "رودسر" ته واستول، چې په هغه ځای کې سنګر ووهي او د دښمن د یرغل مخه ونیسي، خو د طالع د ګرزېدو له امله محمد حسن خان د اووه زرو لښکرو په مرسته هغوی مات کړل او ځیني ئې ونیول. عبد العلیخان او خانچي خان "رشت" ته ماتې وکړه.

آزاد خان افغان په (۱۱۶۹ هـ. ق.) کال د ګیلان د نیولو وروسته آذربایجان ته ورسېد او په آذربایجان کې څو نفره امیران هم ورسره ملګري سول او "ارومي" ئې کلابند کړ. یوسف خان هوتک افغان (په ۱۱۷۲ هـ. ق. کې په ساري کې وژل سوی) چې د آزاد خان له خوا څخه د هغه ولایت نائب الحکومه و، ایلچي ئې آزاد خان ته ولېږئ او د محمد حسن خان د راتلو خبر ئې ورکړ. آزاد خان په دې خبر خفه سو، د شپېتو زرو (۶۰۰۰۰) سپرو سره آذربایجان ته راغی او د محمد حسن خان سره په شدیده شخړه لګیا سو، کله چې محمد حسن خان ماتې ته نژدې و، د آزاد خان ملګری "شهباز خان دنبلی"، چې د یو لښکر قوماندان و او د فتح علي خان سره یو ځای و، د خپل دنبلي غونډ سره د آزاد خان څخه واوښت او د محمد حسن خان په طرفداري ودرېد. دا بېوفائي د آزاد خان د ماتې سبب سوه او آزاد خان په جنګ کې د "باشنو" خوا ته ماته وکړه او د "حکاري" ټولني ته ورغی".

په لاره کي ځيني افغانان او ازبکان، چي په اروميې کي اوسېدل د ده د طرفدارۍ څخه لاس واخيست او اروميې ته راغلل.

آزاد خان د کردستان له لاري بغداد ته متوجه سو او په "کاظمين" کي څو نفره افغانان ورسره ملګري سول. مشره ماينه ئې، چي د شاه اشرف افغان لور ده د خپلي بلي مايني سره، چي د موسی خان قاسملوی افشار لور ده، د خپلي کورنۍ د څو نورو ښځو سره بغداد ته ولېږل، چي د عادله خاتون په واسطه، چي د پخواني والي احمد پاشا لور او د سليمان پاشا مايندوه، مرسته وغواړي. سليمان پاشا د دوی زيات احترام وکړ او د آزاد خان د درناوي له پاره خپله کاظمين ته ولاړ او د هغه سره د ليدني کتني وروسته، يو ځای بغداد ته راغی. د موصل، کرکوت او د کردستان د نورو ښارو لښکري، چي د عراق عرب تر لاس لاندي وې، ټولي د ده تر قوماندانۍ لاندي سوې او هر ډول تجهيزات د ده لاس ته ورغلل.

آزاد خان افغان د "اوکداد" خان افغان په مشري شل زره (۲۰۰۰۰) سپاره او پلي عسکر آذربايجان ته واستول، چي فتح علي خان ته ايداد او سزا ورکړي. په دغه ځای کي فتح علي خان په دې دوو درو کلونو کي زيات قوت مونډلی و او دی چي د آزاد خان افغان پرورده و، د آزاد خان افغان حق ناشناسي ئې کوله او د ده په مخالفت ولاړ و. کله چي آزاد خان پوه سو اوکداد خان دا کار نسي کولای، نو خپله د څلوېښتو زرو (۴۰۰۰۰) سپرو سره، چي شل زره يزدي کردان هم ورسره وو، آذربايجان ته رهي سو، دغه خبره چي فتح علي خان ته ورسېده، ډېر وارخطا سو او مجبوراً ئې په هغه ځای کي ټولو خانانو او د قبيلو مشرانو ته د مرستي خواست وکړ[١٣٩٦].

مورخانو د ده (آزاد خان سليمانخېل) په باب ډېر څه ليکلي دي، خو مونږ د هغه کارنامې په لنډ ډول بيانوو، آزاد خان افغان خپل ټول دښمنان يو د بل پسې مات کړل. آزاد خان افغان د عمر په وروستيو وختو کي د "خناق" په ناروغي اخته سو او د دغه ناجوړۍ په سبب په (١١٩٥هـ. ق.) کال په شيراز کي وفات سو او د ده د وصيت سره سم ئې جنازه په امانت توګه په شيراز کي خاورو ته وسپارل سوه، چي ګوندي له هغه ځايه څخه بيا پښتونخوا ته يووړه سي[١٣٩٧].

د پښتنو د تاريخ په ١٨٨/١ مخ کي ليکلي دي:

"د اتلسمي صدۍ د آخر نه روسيانو د لوی پيټر د زړې پاليسۍ مطابق د خپلو مشرقي مقبوضاتو د توسيع کوښښونه بيا شروع کړل، د ډېر خونرېزو او وحشيانه ظلمونو او قتلونو نه پس روس بالاخره د ايران نه د جارجيا د علاقې په اخيستلو کي کامياب سو او "Paul" روسي ځار دا لويه صوبه باقاعده طور په (١٨٠٠ع.) (= ١٢١٥هـ. ق.) کال خپل ملک سره شامله کړله".

(١٣٩٦) وګ: "ګلشن مراد"

(١٣٩٧) د دغه مېړني او نوميالي افغان (آزاد خان سليمانخېل) د توري، مېړاني، کارنامو او ملک ګيری په باب دې د لازياتو معلوماتو له پاره د "مجمل التواريخ"، "آتشکدهٔ آذر"، "ګيتی کشا" او "ګلشن مراد" کتابو ته مراجعه وسي.

ملا ګلاب اخوند کندهاری

لوی عالم او عارف ملا ګلاب کندهاري په (۱۱۷۶ هـ. ق.) کال د حنفي فقې معتمد تاب "قدوري"، چې د ابو الحسن احمد بن المحمود بن جعفر البغدادي قدوري تاليف دئ، په پښتو ژبه اړولی دئ.

ځوان او تکړه څېړونکي عبد القديم پتيال د کندهار مجلې د (۱۳۸۳ هـ. ش.) کال په پرله پسې دوهمه، درېيمه او څلورمه ګڼه کې د ده د ژوند او د دغې ژباړې په باب ډېر څه ليکلي دي، چې ځيني ئې دا دي[۱۳۹۸]:

"..... ملا ګلاب اخوند د معروف په اولسوالۍ کې زېږېدلی او تر ديني زده کړو وروسته د هلمند موسی کلا ته، طالبانو ته د تدريس له پاره تللی دئ .... ملا ګلاب اخوند د خپل وخت له ډېرو وتلو او منلو عالمانو څخه و، چې له ډېرو سيمو څخه به طالبان ورته راتلل او درس به ئې پر وايه، دی د فقې په علومو کې د خپل وخت استاد ګڼل و او يو ځانګړی تخصص ئې په فقې مسائلو کې درلود، ده د تدريس يوه لويه کړۍ درلوده، چې بې شمېره طالبان به پر راټولېدلي ول او فيض به ئې ترې موند ...... ".

ملا ګلاب اخوند د پښتو قدوري پيل داسې کوي:

"ستاينه د هغه خالق چې لوی دی ډېر او بندګانو خپلو تَ ډېر ورتېر، درود پر سيدنا محمد صلی الله عليه و سلم چې (دئ) پېشوا او امام زموږ او سلامونه پر صحابَ کرامو هُم، بعد طالب العلمان د پښتو د عربي په کتابو ابتدايي فقې کښِ پر کيشني کتاب تېر کې وخت ډېر چې دا عبث د وخت دی نو بنده حقير ملا ګلاب خوښ کړه دا چې کتاب ابتدايي د فقې قدوري چې زښت معتمد دی په ژبې مورنۍ خپلې پښتو وکاږم او سوواني سې طالب العلمانو ته الله دې راکا توفيق او الله دې هغو اغلو خلقو ته هم ورکا توفيق چې

[۱۳۹۸] د علامه رشاد رحمة الله عليه په خپله قلمي نسخه کې، د ملا ګلاب اخوند په باب يوازې د دغه ماخذ ذکر سوی دئ او يو څه ځای سپين ورته پرېښوول سوی دئ، له نوموړي ماخذ څخه متن زموږ له خوا بشپړ سوی دئ.

(علامه رشاد اکاډيمي)

تـه مېر زامن يې گرده روڅ غورځوي مُرغ او عالم مخلوق يې آچولی په عذاب کي ا
ا رب العلمين، تحرير ملا گلاب ۱۱۷۶ ه‌ق".

پای

ضمایم

۱. د سړیو د نومونو فهرست

۲. د ځایو د نومونو فهرست

۳. د قومو او قبیلو د نومونو فهرست

۴. د خطابو، القابو او رتبو فهرست

۵. د ماخذونو فهرست

د سرېو د نومونو فهرست

د ځايو د نومونو فهرست

د درباري، نظامي، اداري او اعزازي خطابونو، القابو او رتبو فهرست

د قومو او قبیلو د نومونو فهرست

د ماخـــذونو فهرست

۱. احمدشاه بابای افغان، د میر غلام محمد غبار پرملي تالیف، د کابل (۱۳۲۲هـ. ش.) چاپ.
۲. احمدشاه وارث و مجدد امپراتوري افغانستان، د عزیز الدین وکیلي پوپلزي تالیف، د کابل (۱۳۵۹هـ. ش.) چاپ.
۳. احوال آدینه بیگ خان، د برټش موزیم قلمي نسخه.
۴. احوال و آثار عبد القادر بیدل، د ډاکټر عبد الغني په زیار، د میر محمد آصف انصاري ژباړه، د کابل (۱۳۵۱هـ. ش.) چاپ.
۵. اخبار الصنادید، لومړی او دوهم ټوک، د نجم الغني خان رامپوري (۱۹۳۲ع. مړ) تالیف، د لکهنو (۱۹۰۴ع.) چاپ.
۶. ادب کا تنقیدي مطالعه، د عبد السلام سندیلوي تالیف، د لکهنو (۱۹۶۰ع.) چاپ.
۷. ادبي ستوري، لومړی ټوک، د حبیب الله رفیع تالیف، د کابل (۱۳۵۳هـ. ش.) چاپ.
۸. ادبیات سرحد، لومړی ټوک، د رضا همداني تالیف، د پېښور (۱۹۵۳ع.) چاپ.
۹. افغان، کابل، بخارا، خیوه و خوقند خانلرین احوال و حکایات، د میر عبد الکریم نادم تالیف، د استانبول چاپ.
۱۰. افغانستان در پنج قرن اخیر، د میر محمد صدیق فرهنگ تالیف، د پېښور (۱۳۶۷هـ. ش.) چاپ.
۱۱. افغانستان در مسیر تاریخ، د میر غلام محمد غبار پرملي تالیف، د کابل (۱۳۴۶هـ. ش.) چاپ.
۱۲. افغانستان و هند برتانوی، د اصغر حسن بلګرامي تالیف، د عبد الوهاب فنائی ژباړه، د کابل (۱۳۶۱هـ. ش.) چاپ.
۱۳. افغانستان، د آریانا دائرة المعارف له نشراتو څخه، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ.
۱۴. اکبرنامه، د حمید کشمیري (د ۱۲۶۰هـ. ق. کال) تالیف، د علي احمد نعیمي په تحشیه، د محمد ابراهیم خلیل په تصحیح او د محمد شفیع رهګذر په زیار، د کابل (۱۳۳۰هـ. ش.) چاپ.
۱۵. انتخاب یادګار، د امیر مینایي تالیف، د لکهنو (۱۲۹۰هـ. ق.) چاپ.
۱۶. انساب رؤسای دیره اسماعیل خان، د شیر محمد خان تالیف.
۱۷. اولیای ملتان، د سید محمد اولاد علي ګیلاني تالیف، د لاهور (۱۹۶۳ع.) چاپ.
۱۸. آثار الصنادید، د سر سید احمد خان (۱۳۱۵هـ. ق. مړ) تالیف، د ډهلي (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۱۹. آریانا دائرة المعارف، ۲ – ۱۳ ټوکونه، ګڼ شمېر لیکوال، د کابل چاپ.
۲۰. آشنایی با میا فقیر الله جلال آبادي، د مقالو ټولګه، ګڼ لیکوالان، د کابل (۱۳۵۹هـ. ش.) چاپ.
۲۱. آئینه تاریخ نما، دوهم ټوک، د بابو شیو پرشاد (۱۸۹۶ع. مړ) تالیف، د اله آباد (۱۸۷۳ع.) چاپ.

۲۲. بالاحصار کابل، لومړی او دوهم ټوک، د احمد علي کهزاد تالیف، د کابل (۱۳۴۰هـ. ش.) چاپ.
۲۳. بجنور گزیټر، د بجنور (هند) چاپ.
۲۴. بحر الانوار، د عبدالروف نوشهري تالیف، د پېښور (۱۳۸۴هـ. ق.) چاپ.
۲۵. بحر الفوائد و درر الفرائد احمدشاهي (خطي نسخه)، د قاضي عاقل محمد خان تالیف.
۲۶. بدایع الوقایع، لومړی او دوهم ټوک، د ذین الدین محمود واصفي تالیف، د مسکو (۱۹۶۱ع.) چاپ.
۲۷. برټش کتلاک، درېیم ټوک، د ریو تالیف، د لندن چاپ.
۲۸. بزرگان لاهور، د پیر غلام دستگیر نامي تالیف، د لاهور (۱۹۶۶ع.) چاپ.
۲۹. بلوچستان مین فارسی شاعری، د انعام الحق کوثر تالیف، د کوټې (۱۹۶۸ع.) چاپ.
۳۰. بلوچستان، د صالح محمد لهړي تالیف، د کوټې چاپ.
۳۱. بوستان، د شیخ شرف الدین مصلح بن عبد الله سعدي شیرازي (۶۰۶هـ. ق. کال زوکړی او د ۶۹۱ تر ۶۹۴هـ. ق. کلونو تر منځ مړ) تالیف، د لاهور (۱۳۵۳هـ. ق.) چاپ.
۳۲. بهارستان افغاني، د میر احمد شاه رضواني تالیف، د لاهور (۱۸۹۸ع.) چاپ.
۳۳. بهاونامه، د پنډت کاشي راو دکني تالیف، د لکهنو (۱۸۹۷ع.) چاپ.
۳۴. بیان واقع، د عبد الکریم بن عاقبت محمود کشمیري تالیف، د لاهور (۱۹۷۰ع.) چاپ.
۳۵. پټهان (اردو)، د اولف کیرو تالیف، د سید محبوب علي ژباړه، د مولانا عبد القادر په سریزه او د خیال بخاري په زیار، د پېښور (۱۹۶۷ع.) چاپ.
۳۶. پښتانه شعراء، څلورم ټوک، د عبد الله بختاني خدمتگار تالیف، د کابل (۱۳۵۷هـ. ش.) چاپ.
۳۷. پښتانه شعراء، درېیم ټوک، د علامه اکاډمیسن پوهاند عبد الشکور رشاد او حسن خان ساپي تالیف، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ.
۳۸. پښتانه شعراء، دوهم ټوک، پوهاند صدیق الله رشتین تالیف، د کابل (۱۳۲۱هـ. ش.) چاپ.
۳۹. پښتانه شعراء، لومړی ټوک، د علامه پوهاند عبد الحی حبیبي تالیف، د کابل (۱۳۲۰هـ. ش.) چاپ.
۴۰. پښتانه، د پوهاند حبیب الله تږي تالیف، د پېښور (۱۳۷۷هـ. ش.) چاپ.
۴۱. پښتو ادب، د قاضي عبد الحلیم خان اثر تالیف، د پېښور (۱۳۷۰هـ. ق.) چاپ.
۴۲. پښتو پانگه، دوهم ټوک، د حبیب الله رفیع تالیف، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.
۴۳. پښتو قاموس، دوهم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډیمی له خوا، د کابل (۱۳۶۰هـ. ش.) چاپ.
۴۴. پښتو کتابونه، د راز محمد ویښ تالیف، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ.
۴۵. پښتو گرامر، د هانري جارج راورټي (د ۱۸۲۵-۱۹۰۶ع. کال) تالیف، د کلکتې (۱۸۵۵ع.) چاپ.
۴۶. پښتونستان، د فاضل عبد الروف بېنوا تالیف، د کابل (۱۳۳۰هـ. ش.) چاپ.
۴۷. پنجابی قصے فارسی زبان مین، لومړی ټوک، د ډاکټر محمد باقر تالیف، د لاهور (۱۹۵۷ع.) چاپ.
۴۸. پنجاه مقاله، د علامه پوهاند عبد الحی حبیبي تالیف، د کابل (۱۳۶۲هـ. ش.) چاپ.
۴۹. تاریخ ریاست سوات، د محمد آصف خان تالیف، د پېښور (۱۹۵۸ع.) چاپ.
۵۰. تاریخ احمد (د تاریخ حسین شاهي تکمله ده پسله ۱۲۱۲هـ. ق. کاله څخه)، د منشي عبد الکریم خان

علوي تاليف، د لکهنو (۱۸۵۰ع.) چاپ.
۵۱. تاریخ احمدشاهي، د منشي محمود الحسیني الجامي تالیف، د مسکو (۱۹۷۴ع.) چاپ.
۵۲. تاریخ ادبیات، د هرمان اته تالیف.
۵۳. تاریخ افغانستان، د کرنیل ملیسون تالیف، د منشي احمد جان ژباړه، د پېښور (۱۳۴۹ه. ق.) چاپ.
۵۴. تاریخ اوده، د محمد نجم الغني خان رامپوري تالیف، د مراد آباد (۱۹۰۹ع.) چاپ.
۵۵. تاریخ بدخشان، د میرزا شنگ محمد او فضل بیگ تالیف، د لینن گراد (۱۹۵۹ع.) چاپ.
۵۶. تاریخ بلوچستان، د هتو رام تالیف، د لاهور (۱۹۰۷ع.) چاپ.
۵۷. تاریخ بلوچستان، لومړی ټوک، د گل خان نصیر تالیف.
۵۸. تاریخ جهانکشای نادري، د میرزا محمد مهدي استرآبادي تالیف، د بمبئي (۱۳۰۹ه. ق.) چاپ.
۵۹. تاریخ حسین شاهي (قلمي)، د امام الدین حسیني (د ۱۲۱۲ه. ق. کال) تالیف.
۶۰. تاریخ حیات دهلي، د سید رکن الدین نظامي دهلوي تالیف، د ډهلي چاپ.
۶۱. تاریخ خټک، د عقاب خټک (۱۳۶۳ه. ق. مړ) تالیف، د پېښور (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۶۲. تاریخ خرقه شریفه، د عزیز الدین وکیلي پوپلزي تالیف، د کابل (۱۳۴۶ه. ش.) چاپ.
۶۳. تاریخ روابط سیاسي ایران و افغانستان، د احمد توکلي تالیف، د تهران (۱۳۲۷ه. ش.) چاپ.
۶۴. تاریخ روهیلکهنډ، د دور اپرېدي، د رامپور (۱۹۸۶ع.) چاپ.
۶۵. تاریخ روهیلکهنډ، د ډاکټر مصطفی حسین نظامي تالیف، د لکهنو (۱۹۸۶ع.) چاپ.
۶۶. تاریخ سلطاني، د سلطان محمد خان "خالص" بارکزي تالیف، د بمبئي (۱۲۹۸ه. ق.) چاپ.
۶۷. تاریخ سلطنت خداداد میسور، د محمود خان بنگلوري تالیف، د لاهور (۱۹۴۷ع.) چاپ.
۶۸. تاریخ سیاسي افغانستان، د مهدي فرخ تالیف، د قم (۱۳۷۱ه. ش.) چاپ.
۶۹. تاریخ ظفره، د گردهاري لال احقر تالیف، د گورکهپور (۱۹۲۷ع.) چاپ.
۷۰. تاریخ عالمگیر ثاني، د سر جادوناتهـ سرکار ژباړه، د برټش موزیم خطي نسخه.
۷۱. تاریخ فرخ آباد، د مفتي ولي الله فرخ آبادي تالیف، د هند چاپ.
۷۲. تاریخ کا ایک روشن پهلو،
۷۳. تاریخ کامل ایران، د ډاکټر عبد الله رازي تالیف، د تهران (۱۳۷۴ه. ش.) چاپ.
۷۴. تاریخ گنجپوره، د نیاز اثر تالیف، د لاهور (۱۹۷۳ع.) چاپ.
۷۵. تاریخ لاهور، د کنهیا لال هندي تالیف، د لاهور (۱۸۸۴ع.) چاپ.
۷۶. تاریخ محمدي،
۷۷. تاریخ مختصر افغانستان، لومړی او دوهم ټوک، د علامه پوهاند عبد الحی حبیبي تالیف، د کابل (۱۳۴۶ه. ش.) چاپ.
۷۸. تاریخ مرصع، د افضل خان خټک (۱۰۷۵ه. ق. زوکړی) تالیف، د پېښور (۱۹۷۴ع.) چاپ.
۷۹. تاریخ مظفري (خطي نسخه)، د محمد علي خان انصاري (د ۱۸۱۲ع. کال) تالیف.
۸۰. تاریخ وقایع و سوانح افغانستان، د اعتضاد السلطنه علیقلي میرزا تالیف، د تهران (۱۲۷۳ه. ش.) چاپ.

۸۱. تاریخ هند عهد برطانیه،
۸۲. تاریخ هند، د هاشمي فرید آبادي تالیف،
۸۳. تاریخ هندوستان، د اې. مارسډن تالیف،
۸۴. تاریخ هندوستان، نهم ټوک، د شمس العلماء مولانا محمد ذکاء الله خان دهلوي تالیف، د علي ګړه (۱۹۱۹ع.) چاپ.
۸۵. تازه نوای معارک، د میرزا عطا محمد خان تالیف، د علامه عبد الحی حبیبي تصحیح، تعلیق او تحشیه، د کراچي (۱۹۵۹ع.) چاپ.
۸۶. تبصرة الناظرین، د میر محمد تالیف،
۸۷. تتمة البیان فی بیان تاریخ الافغان، د سید جمال الدین افغاني (۱۲۵۴-۱۳۱۴هـ. ش.) تالیف، د محمد امین خوګیاني پاړسي ژباړه، د کابل (۱۳۱۸هـ. ش.) چاپ.
۸۸. تحایف الاخبار فی ذکر اولیاء الاخیار، د الحاج ابو محی الدین مسکین تالیف، د امرتسر چاپ.
۸۹. تحفة الاسلام،
۹۰. تحفة الامیر،
۹۱. تحفة العالم، د عبد الطیف شوستري (۱۲۲۰هـ. ق. مړ) تالیف، د دکن (۱۲۱۶هـ. ق.) چاپ.
۹۲. تحفة الکرام، د میر علیشیر قانع تتوي تالیف، د برټش موزیم خطي نسخه.
۹۳. تحفة النصیر، د قاضي نور محمد ګنجابي تالیف،
۹۴. تحقیقات چشتي، د مولوي نور احمد چشتي تالیف، د لاهور (۱۸۵۹ع.) چاپ.
۹۵. تذکرة الابرار و الاشرار، د اخوند درویزه تالیف، د پېښور (۱۲۸۷هـ. ق.) چاپ.
۹۶. تذکرة الخواتین، د مولوي عبد الباري آسي تالیف، د لکهنو (۱۹۲۷ع.) چاپ.
۹۷. تذکرة الشعرای جی پور (ادب جی پور کا ماضی و حال)، د احترام الدین احمد "شاغل" عثماني (د ۱۹۵۵ع. کال) تالیف، د ډهلي (۱۹۵۷ع.) چاپ.
۹۸. تذکرهٔ حضرت شاه ولی الله دهلوي، د مناظر حسن ګیلاني تالیف، د حیدر آباد دکن (۱۹۴۶ع.) چاپ.
۹۹. تذکرهٔ شعراء اردو (د ۱۱۸۸-۱۱۹۲هـ. ق. کلونو تر منځ لیکنه)، د میر حسن دهلوي (۱۲۰۱هـ. ق. مړ) تالیف، د ډهلي (۱۹۴۰ع.) چاپ.
۱۰۰. تذکرهٔ علما و مشایخ سرحد، لومړی ټوک، د محمد امیر شاه قادري ګیلاني تالیف، د لاهور (۱۹۷۲ع.) چاپ.
۱۰۱. تذکرهٔ علمای اهل سنت، د مولانا محمود احمد قادري تالیف، د د لکهنو (۱۳۹۱هـ. ق.) چاپ.
۱۰۲. تذکرهٔ علمای هند، د رحمن علي خان تالیف، د ډهلي (۱۹۴۰ع.) چاپ.
۱۰۳. تذکرهٔ فرح بخش،
۱۰۴. تذکرهٔ مؤرخین، د نبي احمد خان سندیلوي تالیف، د کراچي چاپ.
۱۰۵. تذکرهٔ نتایج الافکار، د قدرت الله ګوپاموي تالیف، د بمبئي چاپ.
۱۰۶. تزُک آصفیه، د تجلي علیشاه تالیف (په ۱۱۵۲هـ. ق. کال زېږېدلی، تر ۱۲۰۷هـ. ق. کال پوري پېښې پکښې سته)، د حیدر آباد دکن (۱۳۱۰هـ. ق.) چاپ.

۱۰۷. تزک جهانګیري، د میرزا محمد هادي خان په زیار، د لکهنو چاپ.
۱۰۸. تفسیر معدن الاسرار، د شیخ سعد الدین احمد کابلي بره کي تالیف، د لاهور (۱۹۷۰ع.) چاپ.
۱۰۹. تفضیح الغافلین (تاریخ آصفي)، د ابو طالب اصفهاني تالیف،
۱۱۰. تنقیح الاخبار، دوهم ټوک،
۱۱۱. تواریخ حافظ رحمت خاني، د پیر معظم شاه تالیف، د خان روشن خان له تعلیق او تحشیې سره، د کراچي (۱۹۷۶ع.) چاپ.
۱۱۲. تواریخ خورشید جهان، د شیر محمد خان ګنډاپوري تالیف، د لاهور (۱۸۹۴ع.) چاپ.
۱۱۳. توریالي، د حاجي خانمیر خان هلالي تالیف، د پېښور (۱۹۶۷ع.) چاپ.
۱۱۴. توضیح المعاني،
۱۱۵. تهذیب الواجبات لتخریب العادات، د ملا عبد الباقي "افغان" کاکړ (۱۳۴۴ه. ق. مړ) تالیف، قلمي نسخه.
۱۱۶. تهذیب الواجبات لتخریب العادات، د ملا عبد الباقي "افغان" کاکړ (۱۳۴۴ه. ق. مړ) تالیف، د کراچي (۱۴۰۸ه. ق.) چاپ.
۱۱۷. تېر هېر شاعران، د قاضي عبد الحلیم خان اثر تالیف، د پېښور (۱۹۶۳ع.) چاپ.
۱۱۸. تیمورشاه دراني، لومړی او دوهم ټوک، د عزیز الدین وکیلي پوپلزي تالیف، د کابل (۱۳۴۶ه. ش.) چاپ.
۱۱۹. جاوید نامه، د علامه اقبال لاهوري تالیف، د کراچي چاپ.
۱۲۰. جغرافیه هند،
۱۲۱. جمهوریت اخبار، د (۱۹۵۷ع.) د جولای د میاشتي ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۲۲. جنګ آزادي، د مصطفی حسین خان تالیف،
۱۲۳. چراغ هدایت (قاموس)، د سراج الدین خان آرزو تالیف، د لاهور (۱۳۲۵ه. ق.) چاپ.
۱۲۴. حالات نواب نجیب الدوله (د قلمي نسخې کاپي)، د سید نور الدین حسین خان فخري تالیف، (دغه کتاب سر جادوناتهـ سرکار په انګرېزي ژبه ژباړلی او په کال ۱۹۳۳ او ۱۹۳۴ع. کلونو کي د "Islamic Culture" مجلې خپور کړی دئ).
۱۲۵. حدیقة الاقالیم، د مرتضی حسین الله یار عثماني بلګرامي تالیف، د لکهنو (۱۲۹۶ه. ق.) چاپ.
۱۲۶. حدیقة الاولیاء، د مفتي غلام سرور لاهوري تالیف، د لاهور (۱۲۹۲ه. ق.) چاپ.
۱۲۷. حدیقة العالم، دوهم ټوک، د هندوستان چاپ.
۱۲۸. حقیقت فردوسي و شهنامه، د مفتون یزدي تالیف، د حیدر آباد دکن چاپ.
۱۲۹. حیات افغاني (پښتو)، د محمد حیات خان (د ۱۲۱۸ه. ق.) تالیف، د کابل (۱۳۷۰ه. ش.) چاپ.
۱۳۰. حیات افغاني (اردو)، د محمد حیات خان تالیف، د لاهور (۱۸۶۷ع.) چاپ.
۱۳۱. حیات حافظ رحمت خان، د سید الطاف علي تالیف، د بدایون (۱۹۳۳ع.) چاپ.
۱۳۲. حیات سید جمال الدین افغان، د مولوي محمد امین خوګیاني تالیف، د کابل (۱۳۱۸ه. ش.) چاپ.
۱۳۳. حیات لودي (په شوکت افغاني سره هم مشهور دئ)، دریم ټوک، د محمد عبد الحکیم خان لودي

تالیف، د لاهور (۱۹۶۵ع.) چاپ.

۱۳۴. خاندانِ برکات، د محمد میا مارهروي تالیف، د بریلي (۱۳۴۶هـ. ق.) چاپ.

۱۳۵. خزانهٔ عامره، د حسان الهند میر غلام علي آزاد بلگرامي (۱۲۰۰هـ. ق. مړ) د (۱۱۷۶هـ. ق) کال تالیف، د کانپور (۱۸۷۱ع.) چاپ.

۱۳۶. خزینة الاسرار، د ځمکنو د میا عمر تالیف، قلمي نسخه.

۱۳۷. خزینة الاصفیاء، لومړی ټوک، د مفتي مولوی غلام سرور لاهوري (د ۱۲۸۱هـ. ق. کال) تالیف، د لاهور (۱۲۸۴هـ. ق.) چاپ.

۱۳۸. خلاصة الاعجاب، د حافظ رحمت خان د زوی الله یار خان بړېڅي تالیف،

۱۳۹. خلاصة الانساب، د حافظ رحمت خان بړېڅي تالیف، قلمي نسخه.

۱۴۰. خلاصهٔ کیداني افغاني، د ځمکنو د میا عمر صاحب تالیف، د ډهلي (۱۲۹۸هـ. ق) چاپ.

۱۴۱. خوردبین هند، د پربهودیال تالیف، د امرتسر چاپ.

۱۴۲. د احمد شاه بابا د اشعارو پښتو شرحه، د محمد غوث خان خانعلوم تالیف، د علامه رشاد تحشیه او سریزه، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.

۱۴۳. د ازبکستان د علومو اکاډیمۍ (تاشکند) د کتابو کتلاک، څلورم ټوک، د تاشکند چاپ.

۱۴۴. د اسلام دائرة المعارف (The Encyclopedia of Islam) دوهم ټوک، د لندن (۱۹۲۷ع.) چاپ.

۱۴۵. د اشرف خان هجري دیوان، د پېښور (۱۹۵۸ع.) چاپ.

۱۴۶. د افغانستان جغرافیایي قاموس، دوهم ټوک، د کابل (۱۳۴۲هـ. ش.) چاپ.

۱۴۷. د افغانستان نومیالي، درېیم ټوک، د فاضل استاد عبد الرؤف بېنوا تالیف، د کابل (۱۳۵۳هـ. ش.) چاپ.

۱۴۸. د الپوري د حافظ دیوان، د پېښور (۱۳۶۶هـ. ق.) چاپ.

۱۴۹. د اولس مجله، د (۱۹۴۶ع.) د نومبر د میاشتي ګڼه، د کوټي چاپ.

۱۵۰. د اولس مجله، د (۱۹۷۵ع.) ګڼه، د کوټي چاپ.

۱۵۱. د آجکل مجله، د (۱۹۵۸ع.) کال د فبروري د میاشتي ګڼه، د ډهلي چاپ.

۱۵۲. د آجکل مجله، د (۱۹۷۱ع.) د ډسمبر د میاشتي ګڼه، د ډهلي چاپ.

۱۵۳. د آریانا مجله، ۵-۲۶۳-۲۶۴-۲۶۵-۲۷۲-۲۷۵-۲۷۶-۲۸۴-۲۹۱-۳۶۵ پرله پسې ګڼې، د کابل چاپ.

۱۵۴. د آزاد افغانستان مجله، دوولسمه ګڼه، د کابل چاپ.

۱۵۵. د برټیش په جزیرو کي د پښتو خوندي کتابونه،

۱۵۶. د بیدل دیوان، د همېش خلیل په زیار، د پېښور (۱۹۵۷ع.) چاپ.

۱۵۷. د پښتنو تاریخ، د قاضي عطاء الله خان (۱۹۵۱ع. مړ) تالیف، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.

۱۵۸. د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک، د علامه عبد الحی حبیبي تالیف، د کابل (۱۳۲۵هـ. ش.) چاپ.

۱۵۹. د پښتو مجله، د (۱۹۵۷ع.) لومړۍ ګڼه، د پېښور چاپ.

۱۶۰. د پښتو مجله، د (۱۹۵۹ع.) شلورمه ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۶۱. د پښتو مجله، د (۱۹۵۹ع.) دریمه ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۶۲. د پښتو مجله، د (۱۹۵۹ع.) دوهمه ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۶۳. د پښتو مجله، د (۱۹۷۰ع.) د جنوري د میاشتي ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۶۴. د پښتونخوا د شعر هار و بهار، د ډار مستېتر فرانسوي (د ۱۸۴۹-۱۸۹۴ع. کال) راټولونه، د حبیب الله رفیع په زیار، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.
۱۶۵. د پوهاند صدیق الله رښتین مقاله، چي په هېواد جریده کي خپره سوېده.
۱۶۶. د پیام مشرق مجله، د (۱۹۶۰ع.) د اپریل د میاشتي ګڼه، د ډهلي چاپ.
۱۶۷. د پیر غوث الاعظم په اړه د خلیل الله خلیلي رساله، د کابل (۱۳۵۵هـ. ش.) چاپ.
۱۶۸. د پیر محمد کاکړ دیوان (د کابل د ارګ د کتابتون خطي نسخه)،
۱۶۹. د پیر محمد کاکړ دیوان، د فاضل استاد عبد الروف بېنوا په زیار، د کابل (۱۳۲۵هـ. ش.) چاپ.
۱۷۰. د جلات او محبوبا قصه، د محمد اعظم کودېزي تالیف،
۱۷۱. د شهزاده جهاندارشاه قصه، د احمدي صاحبزاده (عبید الله میا ګل) تالیف، د پېښور (۱۹۶۱ع.) چاپ.
۱۷۲. د حاجي جمعه بارکزي دیوان، سریزه او لغتنامه د علامه عبد الشکور رشاد، د کابل (۱۳۶۰هـ. ش.) چاپ.
۱۷۳. د حبیب الله خلیل دیوان، د کابل (۱۳۶۰هـ. ش.) چاپ.
۱۷۴. د حسین علي د زیب تاریخها روسي ژباړه، د تاشکند (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۱۷۵. د حمید بابا دیوان، د پوهاند صدیق الله خان رشتین په زیار، د کابل (۱۳۳۱هـ. ش.) چاپ.
۱۷۶. د خراسان مجله، ۲۸ پرله پسې ګڼه، د کابل چاپ.
۱۷۷. د ډان (Dawn) ورځپاڼه، د پاکستان چاپ.
۱۷۸. د رحمت داوي دیوان، د همېش خلیل په زیار، د پېښور (۱۹۸۰ع.) چاپ.
۱۷۹. د رهبر مجله، د (۱۹۵۷ع.) د مې د میاشتي ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۸۰. د رهبر مجله، د (۱۹۵۹ع.) د اکتوبر د میاشتي ګڼه، د پېښور چاپ.
۱۸۱. د ژوندون مجله، د (۱۳۵۹هـ. ش.) کال لومړۍ ګڼه، د کابل چاپ.
۱۸۲. د سروش مجله، لومړی کال، د کراچي چاپ.
۱۸۳. د سره غره ګلونه، د حبیب الله رفیع او زلمي هېوادمل په زیار، د کابل (۱۳۵۷هـ. ش.) چاپ.
۱۸۴. د شمس الدین کاکړ دیوان، د کابل (۱۳۳۳هـ. ش.) چاپ.
۱۸۵. د ښاغلي قاضي عبد الحلیم خان اثر مقاله، چي په رهبر جریده کي خپره سوېده.
۱۸۶. د قنبر علي خان دیوان، د همېش خلیل په زیار، د پېښور (۱۹۷۲ع.) چاپ.
۱۸۷. د کابل سلطنت (پاچهي) بیان، لومړی او دوهم ټوک، د مونستوارټ الفنستون تالیف، د حسن کاکړ او نصر الله سوبمن ژباړه، د کابل (۱۳۵۹ او ۱۳۶۱هـ. ش.) چاپ.
۱۸۸. د کابل مجله، ۵۶۱ پرله پسې ګڼه، د کابل چاپ.

۱۸۹. د کابل مجله، دوهم کال ځلرمه ګڼه، د کابل چاپ.
۱۹۰. د کاظم خان شیدا دیوان، د فاضل استاد عبد الروف بېنوا (۲۱ جدي ۱۳۶۳هـ. ش. مړ) په سریزه، تصحیح او مقابله، د کابل (۱۳۳۱هـ. ش.) چاپ.
۱۹۱. د کندهار مجله، د (۱۳۸۳هـ. ش.) کال دوهمه، درېیمه او ځلرمه ګڼه، د کندهار چاپ.
۱۹۲. د لمر مجله، د (۱۳۵۰هـ. ش.) کال د جوزا د میاشتې ګڼه، د کابل چاپ.
۱۹۳. د لوی احمدشاه بابا دیوان، د علامه، لوی استاد، پوهاند عبد الحي حبیبي تدوین، تصحیح او سریزه، د کابل (۱۳۱۹هـ. ش.) چاپ.
۱۹۴. د مخدوم قلي فراقي (توراني) د اشعارو ټولګه "مخدوم قلي فراغي نینګ شعرلر توپلامي"، د شاه محمد یازمز په زیار، د کابل (۱۳۶۵هـ. ش.) چاپ.
۱۹۵. د مصري خان ګګیاڼي دیوان، د پېښور (۱۹۵۹ع.) چاپ.
۱۹۶. د معارف مجله، د (۱۹۶۸ع.) د می د میاشتې ګڼه، د اعظم ګړه چاپ.
۱۹۷. د ملا علم اپرېدي دیوان، د ډهلي د نیشنل آرکایوز خطي نسخه.
۱۹۸. د وږمې مجله، د (۱۳۴۲هـ. ش.) کال لومړۍ ګڼه، د کابل چاپ.
۱۹۹. د وږمې مجله، د (۱۳۴۸هـ. ش.) کال ۴۹ ګڼه، د کابل چاپ.
۲۰۰. د وږمې مجله، د (۱۳۴۸هـ. ش.) کال ځلرمه او پنځمه ګډه ګڼه، د کابل چاپ.
۲۰۱. د ویکیپیډیا برېښنائي (انټرنیټي) دائرة المعارف.
۲۰۲. د هراتي سید جونګ (قلمي)، د سرور خان ګویا اعتمادي د کتابخانې نسخه.
۲۰۳. د هند په کتابخانو کې پښتو خطي نسخې، د زلمي هېوادمل تالیف، د کابل (۱۳۶۳هـ. ش.) چاپ.
۲۰۴. د هند د تاریخ یوه لنډه سروې،
۲۰۵. داستان تاریخ اردو، د حامد حسن خان قادري تالیف، د اګرې (۱۹۵۷ع.) چاپ.
۲۰۶. داستان ترکتازان هند، د دولت یار جنګ میرزا نصر الله خان فدائي تالیف،
۲۰۷. داستان دیر، د ریاض الحسن آزاد تالیف، د پېښور چاپ.
۲۰۸. دائرة المعارف قرن العشرین، د علامه فرید وجدي تالیف، د (۱۳۵۶هـ. ق.) دوهم چاپ.
۲۰۹. دراني شاهنشاهي (ایمپایر درانیه- په روسي ژبه)، د ګانکوفسکي تالیف، د مسکو (۱۹۵۸ع.) چاپ.
۲۱۰. دراني احمد شاه، د ډاکټر ګنډا سنګهـ تالیف، د نصر الله سوبمن ژباړه، د کابل (۱۳۶۶هـ. ش.) چاپ.
۲۱۱. درة الزمان، د عزیز الدین وکیلي پوپلزي تالیف، د کابل (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ.
۲۱۲. درهٔ نادره، د (۱۲۸۰هـ. ق.) کال چاپ.
۲۱۳. دستارنامه، د خوشال خان خټک (۱۰۲۲–۱۱۰۰هـ. ش.) تالیف، د کابل (۱۹۵۲ع.) چاپ.
۲۱۴. دقایق الاخبار، د قابل خان ورکزي تالیف،
۲۱۵. دلیل ساطع، د محمد مهدي واصف تالیف، د مدراس (۱۲۶۸هـ. ق.) چاپ.
۲۱۶. دوران مجله، د پېښور چاپ.
۲۱۷. دورنامه (خطي نسخه)، د میترا سین کایستهـ تالیف.

۲۱۸. دولت درانیه، د مولوي محمد رحیم بخش ژباړه، د ډهلي (۱۹۰۳ع.) چاپ.

۲۱۹. دیوان هرا (د لوی احمد شاه بابا دیوان)، سریزه، ترتیب او مقابله د محمد معصوم هوتک، د کوټې (۱۳۸۸هـ. ش.) چاپ.

۲۲۰. راجپوت اور مغل زن و شو کي معاشرت، د مقبول احمد فرخ آبادي تالیف، د اله آباد (۱۹۴۷ع.) چاپ.

۲۲۱. رجال و رویداد های تاریخی، د احمد علي خان کهزاد تالیف، د کابل چاپ.

۲۲۲. رساله مسکوکات افغانستان در عصر اسلام، د احمد علي کهزاد تالیف، د کابل (۱۳۱۹هـ. ش.) چاپ.

۲۲۳. رستم التواریخ، د رستم الحکماء محمد هاشم خان تالیف،

۲۲۴. روح صحافت، د امداد صابري تالیف، د ډهلي (۱۹۶۸ع.) چاپ.

۲۲۵. روحاني ترون، د قاضي عبد الحلیم خان اثر تالیف، د پېښور (۱۹۶۵ع.) چاپ.

۲۲۶. روزنامه غزوات هندوستان،

۲۲۷. روضة الادباء، محمد الدین لاهوري تالیف، د لاهور (۱۲۹۳هـ. ق.) چاپ.

۲۲۸. روضة الصفا، د محمد بن خاوندشاه تالیف، د لکهنو (۱۹۱۴ع.) چاپ.

۲۲۹. روهیله پښتانه، د عیسي خان جاله وان ژباړه، قلمي نسخه.

۲۳۰. روئیداد معارف اسلامیه،

۲۳۱. ریاض السلاطین،

۲۳۲. الزبیر (کتابخانه نمبر)، د بهاولپور (۱۹۶۷ع.) چاپ.

۲۳۳. سراج التواریخ، د میرزا فیض محمد خان تالیف، د کابل (۱۹۱۳ع.) چاپ.

۲۳۴. سرکشی ضلع بجنور، د سید احمد خان تالیف، د شرافت حسین میرزا په زیار، د ډهلي (۱۹۶۴ع.) چاپ.

۲۳۵. سرگذشت نواب نجیب الدوله، د عبد السلام خان عمرخېل تالیف، د علي ګړه (۱۹۲۴ع.) چاپ.

۲۳۶. سرو آزاد، د میر غلام علي آزاد بلګرامي تالیف، د عبد الله خان په زیار د حیدرآباد دکن (۱۹۱۳ع.) چاپ.

۲۳۷. سفرنامۀ انندرام مخلص (۱۱۶۴هـ. ق. مړ) د (۱۱۵۸هـ. ق.) تالیف، د ډاکټر سید اظهر علي په زیار، د رامپور (۱۹۴۶ع.) چاپ.

۲۳۸. سلطان التواریخ، د زین (رتن؟) سنګهه ابن رای مالک رام مشهور په زخمي لکهنوي بریلوي تالیف، د فاضل استاد عبد الرؤف بېنوا د کتابخانې قلمي نسخه.

۲۳۹. سیاسي نظریات، د محمد نادر ایوبي تالیف، د کندهار (۱۳۳۷هـ. ش.) چاپ.

۲۴۰. سیر المتأخرین، د غلام حسین طباطبائي (د ۱۱۹۴هـ. ق.) تالیف، د لکهنو (۱۳۱۴هـ. ق.) چاپ.

۲۴۱. سیر المصنفین، دوهم ټوک، د محمد یحیٰی تنها تالیف، د ډهلي چاپ.

۲۴۲. سیر تاریخی کتب خانه ها در افغانستان، د کابل چاپ.

۲۴۳. سیرت امام رباني، د ابو البیان محمد داود مجددي په زیار، د امرتسر (۱۹۲۵ع.) چاپ.

۲۴۴. سیرت نبوي (خطي نسخه)، د خواجه معین الدین تالیف،
۲۴۵. شاه عالم نامه، د غلام علي خان (۱۲۲۱هـ. ق. مړ) تالیف، د کلکتې (۱۹۱۲ع.) چاپ.
۲۴۶. شاه ولي الله کی سیاسي مکتوبات، د خلیق احمد نظامي په زیار، د ډهلي (۱۹۶۹ع.) چاپ.
۲۴۷. شاه ولی الله اور ان کے سیاسی تحریک، د مولانا عبید الله سندهي تالیف، د لاهور (۱۹۴۵ع.) چاپ.
۲۴۸. شاهان اوده کی کتابخانین، د ډاکټر اې. سپرنګر تالیف، د محمد اکرم چغتايي په زیار، د کراچي (۱۹۷۳ع.) چاپ.
۲۴۹. شعر الهند،
۲۵۰. شمائل نبوي، د عبید الله میا ګل احمدي صاحبزاده تالیف، د پېښور چاپ.
۲۵۱. شهنامه احمد شاه ابدالي، د حافظ ګل محمد مرغُزي تالیف، د پېښور (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۲۵۲. شهنامه احمد شاهی، د نظام الدین خان عشرت تالیف،
۲۵۳. صحیفهٔ خوشنویسان،
۲۵۴. صحیفهٔ زرین، د پراګ نراین بهارګو تالیف، د لکهنو (۱۹۰۲ع.) چاپ.
۲۵۵. صولت افغاني، د زردار خان ناغر پښتون تالیف، د لکهنو (۱۲۸۹هـ. ق.) چاپ.
۲۵۶. طبقات الشعراء، د قدرت الله شوق تالیف، د نثار احمد فاروقي په زیار، د لاهور (۱۹۶۸ع.) چاپ.
۲۵۷. طلوع افغان اخبار، لسم کال، شلمه ګڼه، چهارشنبه ۱ سرطان ۱۳۱۱هـ. ش.، د کندهار چاپ.
۲۵۸. ظفرنامهٔ رنجیت سنګ، د امرناتهه اکبري تالیف، د لاهور (۱۹۲۸ع.) چاپ.
۲۵۹. عبرتنامه، لومړی او دوهم ټوک، د مفتي علي الدین لاهوري تالیف، د لاهور (۱۹۶۱ع.) چاپ.
۲۶۰. عجائب الاخبار، د مسعود ګل (د ۱۲۲۶هـ. ق. کال) تالیف،
۲۶۱. عجائبات هندوستان، د احمد حسین خان تالیف، د هندوستان چاپ.
۲۶۲. عروج بارکزائیها، د ادوارد الایسس پیرس تالیف، د عبد الرحمن پژواک او عثمان صدقي ژباړه، د کابل (۱۳۳۳هـ. ش.) چاپ.
۲۶۳. عماد السعادت، د سید غلام علي نقوي لکهنوي (د ۱۲۲۳هـ. ق.) تالیف، د لکهنو (۱۸۶۴ع.) چاپ.
۲۶۴. عمدة التواریخ، لومړی ټوک، د سوهن لال تالیف، د لاهور (۱۸۸۵ع.) چاپ.
۲۶۵. عمل صالح، دریم ټوک،
۲۶۶. عهد بنګښ، د مفتي وليُ الله فرخ آبادي تالیف، د کراچي (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۲۶۷. غدر کے چند علماء، د مفتي انتظام الله شهباني تالیف، د ډهلي چاپ.
۲۶۸. غیاث اللغات، د مولانا محمد غیاث الدین بن جلال الدین بن شرف الدین رامپوري (د ۱۲۴۳هـ. ق.) تالیف (څورلس کاله ئې په تالیف لګېدلي دي)، د لاهور (۱۳۲۵هـ. ق.) چاپ.
۲۶۹. فارسي اخبارات و مراسلات (له ۱۷۷۶ع. څخه تر ۱۸۰۳ع. کال پوري د ډهلي په آرکایوز کي د خوندي ۲۳۱ خطو مجموعه)، د ډاکټر پرماتما شرن راتهولونه، د حیدرآباد دکن (۱۹۶۶ع.) چاپ.

۲۷۰. فتاوی احمد شاهي، د ملا عبد الله پوپلزي کندهاري "وکیل الدوله" تالیف، د پېښور (۱۳۲۲هـ. ق.) چاپ.
۲۷۱. فتحنامه (منظومه)، د عظیم الدین تتوي تالیف، د حیدر آباد (سنده) (۱۹۶۷ع.) چاپ.
۲۷۲. فرامین سلطاني، د بشیر الدین احمد دهلوي په زیار، د ډهلي (۱۹۲۶ع.) چاپ.
۲۷۳. فرس نامه، د ابوبکر ابن البدر البیطار تالیف، د قاضي محمد ادریس دولت شاهي ژباړه،
۲۷۴. فرهنگ زبان و ادبیات پښتو، لومړی ټوک، د زلمي هیوادمل تالیف، د کابل (۱۳۵۶هـ. ش.) چاپ.
۲۷۵. فوائد الصفویه،
۲۷۶. فواید فقیر الله، د میا فقیر الله جلال آبادي تالیف، د علامه عبد الشکور رشاد له سریزې، تعلیقاتو او لغتنامې سره، د کابل (۱۳۵۹هـ. ش.) چاپ.
۲۷۷. فهرست اسناد تاریخي آرشیف ملي افغانستان، د عبد الله نجرابي په زیار، د کابل (۱۳۶۳هـ. ش.) چاپ.
۲۷۸. فهرست کتب خانه آصفیه، دریېم ټوک،
۲۷۹. فهرست مخطوطات شیراني، لومړی ټوک،
۲۸۰. فهرست مکتوبات فارسی، دریېم ټوک،
۲۸۱. فهرست نسخ خطي آرشیف ملي افغانستان، لومړی او دوهم ټوک، د محمد اعظم افضلي او منیر په زیار، د کابل (۱۳۶۳هـ. ش.) چاپ.
۲۸۲. فیوض الحرمین، د امام الهند حضرت شاه ولي الله دهلوي تالیف،
۲۸۳. قاموس المشاهیر، د نظامي بدایوني تالیف، د بدایون د نظامي پریس (۱۹۲۴ع.) چاپ.
۲۸۴. قاموس جغرافیایی افغانستان، دوهم ټوک، د کابل (۱۳۳۶هـ. ش.) چاپ.
۲۸۵. قانون القرائت، د رکن الدین ابن منیر غوریاخېل تالیف، د ډهلي چاپ.
۲۸۶. قصر عارفان، د احمد علي خیرآبادي تالیف، د لاهور (۱۹۶۵ع.) چاپ.
۲۸۷. قصص هند، دوهمه برخه، د شمس العلماء محمد حسین آزاد دهلوي تالیف، د لاهور چاپ.
۲۸۸. قول الجلي،
۲۸۹. کتاب الشمائل (نبوي)، د حافظ امام ابو عیسی محمد بن عیسی بن سوره الترمذي تالیف،
۲۹۰. کرامات احمد شاهي (قلمي)، د کابل د ملي آرشیف نسخه،
۲۹۱. کرامت نامهٔ ملا گندم علي هراتي، د ملا عزیز الدین تالیف،
۲۹۲. کشف الظنون، د حاجي خلیفه مصطفیٰ چلپي (۱۰۶۷هـ. ق. مړ) تالیف، د استانبول (۱۹۴۱ع.) چاپ.
۲۹۳. کلیات اقبال، د علامه اقبال لاهوري تالیف، د ډهلي (۱۹۷۲ع.) چاپ.
۲۹۴. کلید افغاني، د پادري هیوز راټولونه، د کابل (۱۳۵۶هـ. ق.) چاپ.
۲۹۵. کمالات مولایي، د امام الدین درویش تالیف،
۲۹۶. کنز الوصول الی معرفة الاصول (مشهور په اصول فخر الاسلام)، د فخر الاسلام علی بن محمد البزدوي الحنفي تالیف،

۲۹. کنفرانس تاریخي نجف (قلمي)، د عبد الله بن حسین سویدي عباسي تالیف، د عبد الستار ژباړه،

۲۹. کنوز الحقایق فی حدیث خیر الخلایق، د امام عبدالروف المناوی تالیف،

۲۹. کوټه، د سلطان محمد پاني تالیف، د کوټې (۱۹۵۹ع.) چاپ.

۳۰. کیګوهرنامه، د دیوان دُني چند تالیف، د ډاکټر محمد باقر په زیار، د لاهور (۱۹۶۵ع.) چاپ.

۳۰. ګل رحمت، د حافظ رحمت خان بړیڅي د لمسي سعادت یار (محمدسعدیار) خان تالیف.

۳۰. ګل رعنا، (تذکرۀ شعرائے اردو)، د حکیم عبد الحی خان تالیف، د اعظم ګړه (۱۳۶۴ه. ق.) چاپ.

۳۰. ګلزار پښتو، د سید ابو علیشاه تالیف، د پېښور چاپ.

۳۰. ګلستان رحمت، د مستجاب خان بړیڅي (د ۱۲۴۹ه. ق. کال) تالیف.

۳۰. ګلستان مسرت، د عبد الرحمن شاکر تالیف، د لاهور (۱۳۳۱ه. ق.) چاپ.

۳۰. ګلشن افغان، د علي اکبر خان ورکزي تالیف،

۳۰. ګلشن روه، د راوړتیي راټولونه، د علامه عبد الشکور رشاد له سریزي او لغتنامې سره، د زلمي هېوادمل په زیار، د کابل (۱۳۵۶ه. ش.) چاپ.

۳۰. لاهور سکون کے عهد مین،

۳۰. لاهور کے اولیاء سهروردي، د لاهور چاپ.

۳۱. لاهور مین اولیای نقشبند کے سرگرمیان، د محمد دین کلیم تالیف، د لاهور چاپ.

۳۱. لاهور، د سید محمد لطیف تالیف،

۳۱. لب تاریخ سنده، د خدایداد خان ترین تالیف، د امرتسر (۱۹۰۰ع.) چاپ.

۳۱. لوایح خانقاه مظهری، د غلام مصطفی تالیف، د کراچي (۱۹۷۵ع.) چاپ.

۳۱. مأثر الامراء (اردو ژباړه)، د صمصام الدوله شهنواز خان خوافي تالیف (شهنواز خان په ۱۱۷۱ه. ق. کال ومړ تکمیل او اشاعت ئې میر غلام علي آزاد وکړ او تر هغه وروسته میر عبد الحي خان د صمصام الدوله زوی په ۱۷۷۹ع. کال بیا څه ایزادات پر وکړل، میر عبد الحی صمصام الدوله په ۱۱۹۶ه. ق. کال ومړ)، د پروفیسر محمد ایوب قادري ژباړه، د لاهور (۱۹۶۸ع.) چاپ.

۳۱. مادهوجي سیندهیا، د ایچ. جي. کین تالیف،

۳۱. مآثر الکرام، د میر غلام علي آزاد بلګرامي تالیف، تصحیح او حواشي د مولانا محمد عبده لائلپوري، د لاهور (۱۹۷۱ع.) چاپ.

۳۱. مآثر عالمګیري، د محمد ساقي مستعد خان تالیف، اردو ژباړونکی مولوي محمد فداعلي طالب، د کراچي (۱۹۶۲ع.) چاپ.

۳۱. مآثر عالمګیري، د محمد ساقي مستعد خان تالیف، د کراچي (۱۹۶۲ع.) چاپ.

۳. مبارک نامه، د ارادت خان مغل تالیف، د هند چاپ.

۳. مجمع الانشاء، د محمد مهدي استرآبادي تالیف، د هند (۱۳۱۰ه. ق.) چاپ.

۳. مجمل التواریخ، د ابو الحسن ابن محمد امین ګلستانه تالیف، د تهران (۱۳۲۰ه. ش.) چاپ.

۳. مجموعۀ نغز، د حکیم ابو القاسم میر قدرت الله "قاسم" تالیف، د لاهور (۱۹۳۳ع.) چاپ.

مخطوطات تاریخي، د سید شمس الله قادري تالیف، د کراچي (۱۹۶۷ع.) چاپ.

۳۲۳. مخطوطات متفرقه پنجاب لایبرري، د منظور احسن خان عباسي په زیار، د لاهور (۱۹۶۴ع.) چاپ.

۳۲۴. مرآة الاشباه، د محمد ارتضی خان تالیف، د محمد حسن خان په زیار، د دهلي (۱۸۶۸ع.) چاپ.

۳۲۵. مرآة الاصطلاح، د آنند رام مخلص تالیف، د هند چاپ.

۳۲۶. مرآة آفتاب نما (خطي نسخه)، د عبد الرحمن شهنواز خان تالیف،

۳۲۷. مرقع دهلی، د یادگار قلي خان تالیف، د حکیم مظفر حسین په زیار، حیدرآباد دکن چاپ.

۳۲۸. مرقع مشاهیر، د کراچي (۱۹۶۶ع.) چاپ.

۳۲۹. مزارات شهر کابل، د محمد ابراهیم خلیل تالیف، د کابل (۱۳۳۹هـ. ش.) چاپ.

۳۳۰. مزارات هرات، حصه سوم، د ملا محمد صدیق هروي تالیف، د فکري سلجوقي تعلیق، د کابل چاپ.

۳۳۱. مسافر، د علامه اقبال لاهوري تالیف، د کراچي (۱۹۶۸ع.) چاپ.

۳۳۲. مساکن فلسفي، د منولال دهلوي تالیف، د هند چاپ.

۳۳۳. مطالعه تاریخ افغانستان از نگاه عسکري لومړی او دوهم ټوک، د علي احمد جلالي تالیف، د کابل (۱۳۴۳هـ. ش.) چاپ.

۳۳۴. معجم البلدان، د شهاب الدین ابي عبد الله یاقوت بن عبد الله الحموي تالیف، د مصر (۱۹۰۶ع.) چاپ.

۳۳۵. معجم المولفین، د رضا کحاله تالیف، د دمشق (۱۳۸۰هـ. ق.) چاپ.

۳۳۶. مفتاح التواریخ، د توماس ویلیام بېل تالیف، د کانپور (۱۹۶۷ع.) چاپ.

۳۳۷. مقالات الشعراء، د علیشیر قانع تتوي تالیف، مقدمه، تصحیح او حواشي د سید حسام الدین راشدي، د کراچي (۱۹۵۷ع.) چاپ.

۳۳۸. مکاتیب غالب، د عرشي راټولونه، د هند چاپ.

۳۳۹. مکتوبات حاجي دوست محمد قندهاري، د ملتان (۱۳۸۳هـ. ق.) چاپ.

۳۴۰. مکتوبات میا فقیر الله شکارپوري، د میا فقیر الله جلال آبادي ثم الشکارپوري تالیف، د لاهور چاپ.

۳۴۱. ملخص، د عنایت خان آشنا تالیف،

۳۴۲. ملفوظات شاه عبد العزیز (محدث دهلوی)، د شاه عبد العزیز تالیف، د کراچي (۱۹۶۰.) چاپ.

۳۴۳. مناقب ابو حنیفه النعمان (الکوفی)، د علامه حافظ الدین محمد بن محمد الکردري (مشهور په ابن البزازي) تالیف،

۳۴۴. مناقب المحبوبین، د حاجي نجم الدین خان تالیلف، د لاهور (۱۳۱۲هـ. ق.) چاپ.

۳۴۵. مناقب غوثیه، د رکن الدین ابن منیر غوریاخېل تالیف،

۳۴۶. المنجد فی العلوم و الادب، د لویس معلوف الیسوعي تالیف، د بیروت (۱۹۵۶ع.) چاپ.

۳۴۷. منشور الوصیت و دستور الحکومت، د میا نور محمد والي سنده تالیف، د حیدرآباد (سنده)

۳۴۸.

چاپ.

۳۴۹. میرزا مظهر جان جانان کے خطوط، د خلیق انجم تالیف، د ډهلي (۱۹۶۲ع.) چاپ.

۳۵۰. نادرشاه، د لارنس لکهارت تالیف،

۳۵۱. نادرنامه، د نظام الدین خان عشرت (د ۱۱۶۶هـ. ق. کال) تالیف.

۳۵۲. ناسخ التواریخ، د محمد تقي سپر تالیف، د تبریز (۱۳۱۹هـ. ق.) چاپ.

۳۵۳. نامهٔ احمدشاه بابا بنام مصطفٰی ثالث عثمانی، د غلام جیلاني خان جلالي تحشیه او تعلیق، د کابل (۱۳۴۶هـ. ش.) چاپ.

۳۵۴. نامهٔ عالم آرای نادري، دوهم او درېیم ټوکونه، د محمد کاظم مروي تالیف، د مسکو (۱۹۶۲ع.) چاپ.

۳۵۵. نقوش (آپ بیتی نمبر)، لومړي او دوهم ټوک، د لاهور (۱۹۶۴ع.) چاپ.

۳۵۶. نگارستان سلطاني، د میرزا محمد هاشم بهشتي خراساني تالیف،

۳۵۷. نگارستان کشمیر، د قاضي ظهور الحسن خان ناظم تالیف، د ډهلي (۱۳۵۲هـ. ق.) چاپ.

۳۵۸. ننګیالي پښتانه، د حاجي خانمیر خان هلالي تالیف، د پېښور د پېښور (۱۳۷۷هـ. ق.) چاپ.

۳۵۹. نوای افغان، د علامه پوهاند عبد الحی حبیبي تالیف، د پېښور چاپ.

۳۶۰. نوموړکي مؤرخین، د علامه پوهاند عبد الحی حبیبي تالیف، د کابل (۱۳۵۹هـ. ش.) چاپ.

۳۶۱. نیرنگ افغان، د مولوي سید محمد حسین اغلب موهاني تالیف، د لکهنو (۱۹۰۴ع.) چاپ.

۳۶۲. واقعات دارالحکومت دهلی، دوهم ټوک، د بشیر الدین احمد دهلوي تالیف، د اګرې (۱۹۱۹ع.) چاپ.

۳۶۳. واقعات دراني، د منشي عبد الکریم تالیف، د میر وارث علي سیفي ژباړه، د لاهور (۱۹۶۳ع.) چاپ.

۳۶۴. واقعات شاه شجاع، د شاه شجاع سدوزي او محمد حسین هراتي تالیف، د کابل (۱۳۳۳هـ. ش.) چاپ.

۳۶۵. ورکه خزانه، دوهم ټوک، د همیش خلیل په زیار، د پېښور (۱۹۶۰ع.) چاپ.

۳۶۶. وقایع عالمشاهي، د ډاکټر پریم کشور فراقي تالیف، د رامپور (۱۹۴۹ع.) چاپ.

۳۶۷. وندر، د جعفر خان اڅکزي تالیف، د کوټې (۱۹۵۹ع.) چاپ.

۳۶۸. هفت قلزم، د قبول محمد تالیف، د لکهنو چاپ.

۳۶۹. هماری جد و جهد، د عبد الرحمن غور تالیف، د کوټې (۱۹۵۲ع.) چاپ.

۳۷۰. هندوستان کي حالت،

۳۷۱. هندوستان کی قدیم اسلامي درسګاهین، د ابو الحسنات عبد الشکور ندوي تالیف، د اعظم ګړه (۱۹۳۶ع.) چاپ.

۳۷۲. هندی مملکت برطانیه کا عروج و وسعت، د سر الفرېډ لایل تالیف، د سید عبد السلام ژباړه، د دکن (۱۳۴۰هـ. ق.) چاپ.

۳۷۳. هوتکي ها، د عبد الرؤف بېنوا تالیف، د کابل (۱۳۳۵هـ. ش.) چاپ.

یادگار تاجپوشي خان قلات، د مولوي دین محمد تالیف، د لاهور چاپ.
۳۷۴. یک مرد بزرگ (د شیخ سعد الدین انصاري کابلي ژوندلیک) د محمد ابراهیم خلیل تالیف، د
۳۷۵. کابل (۱۳۳۵هـ. ش.) چاپ.
۳۷۶. یوسفزی افغان، د الله بخش یوسفي تالیف، د کراچي (۱۹۷۳ع.) چاپ.
۳۷۷. "۱۸۵۷ع. کے غدار شعراء"، د امداد صابري تالیف، د ډهلي (۱۹۶۰ع.) چاپ.
۳۷۸. "۱۸۵۷ع. کے مجاهد شعراء"، د امداد صابري تالیف، د ډهلي (۱۹۵۹ع.) چاپ.
۳۷۹. A Chronicle of the Carmelites،
۳۸۰. A History of Sikhs from the Origin of the of the Nation to the battle of Sutlej، د
جوزیف ډیوي کننګهم تالیف، د لندن (۱۸۴۹ع.) چاپ.
۳۸۱. A Journey from Bengal to England, through the northern part of India, Kashmir, Afghanistan and Persia and into Russia, by the Caspian Sea، د جارج فوسټر تالیف،
لومړی او دوهم ټوک، د لندن (۱۷۹۸ع.) چاپ.
۳۸۲. Adina Beg Khan The Last Mughal Viceroy of The Panjab، دا مقاله، چي د ایچ. آر.
ګوپتا په قلم لیکل سوې ده، د "رویداد های معارف اسلامیه" په دوهم ټوک کي خپره سوې ده.
۳۸۳. Ahmad Shah Durrani، د ډاکټر پوهاند ګنډا سنګهـ تالیف، د کوټي (۱۹۷۷ع.) چاپ.
۳۸۴. Ahmad Shah Durrani، د محمد نبي مصداق تالیف، د ډهلي (۱۹۹۷ع.) چاپ.
۳۸۵. An Account of the Battle of Panipat، د پنډت کاشي راو تالیف، د جیمز براون ژباړه، د
کلکتې (۱۷۹۲ع.) چاپ.
۳۸۶. Cathalogue of the Persian Manuscripts in British Museum، د لندن (۱۸۷۹ع.) چاپ.
۳۸۷. Culcutta Reveiw، دریم ټوک، د (۱۸۷۰ع.) چاپ.
۳۸۸. Fall of the Maghul Impire، لومړی او دوهم ټوک، د سر جادوناتهـ سرکار تالیف، د کلکتې
(۱۹۵۰ع.) چاپ.
۳۸۹. Histings and the Rohillah War، د سر جان سټرېچي تالیف،
۳۹۰. History of Afghans from the Earliest Period to Outbreak of the War of 1878، د
مالیسون تالیف، د لندن (۱۸۷۸ع.) چاپ.
۳۹۱. History of the Afghans، د جي. پي. فرِیر تالیف، د لندن (۱۸۵۸ع.) چاپ.
۳۹۲. History of the Marathas، دوهم ټوک، د جېمز ګرانټ ډف تالیف، د لندن (۱۸۲۶ع.) چاپ.
۳۹۳. History of the Panjab، د سید محمد لطیف تالیف، د لندن (۱۸۹۱ع.) چاپ.
۳۹۴. Jullundur District Gazettier، د اکسفورډ (۱۹۰۷ع.) چاپ.
۳۹۵. Notes on Afghanistan and Baluchistan، د هانري جارج راورټي تالیف، د کوټي
(۱۹۷۶ع.) چاپ.
۳۹۶. Old Lahore،
۳۹۷. Persian Literature، لومړی ټوک، د سي. اي. سټوري تالیف، د لندن (۱۹۵۳ع.) چاپ.

۳۹۸. Selection from the Poetry of the Afghans، د هنري جارج راورټي راټولونه، د لندن (۱۸۶۲ع.) چاپ.

۳۹۹. The Coins of India، د جي. براون تاليف، د کلکتې چاپ.

۴۰۰. The Later Mughals، لومړی ټوک، د ويليام ارون تاليف،

۴۰۱. The Numismatic Chronical and Journal of the Numismatic Society third Series، اتم ټوک، د لانګ ورت ډېمز تاليف، د لندن (۱۸۸۸ع.) چاپ.

۴۰۲. The Pathans، د اولف کيرو تاليف، د بريټانيا (۱۹۶۵ع) چاپ.

۴۰۳. The Rohillah Afghans، د چارلس هملټن تاليف،

۴۰۴. Wonderful India،

۴۰۵. ГОСУДАРСТВО НАДИР-ШАХА АФШАРА (حکومت نادرشاه افشار)، د هارونوا او اشرفيان تاليف، د ماسکو (۱۹۵۸ع.) چاپ.




د پاني پت قهرمان، پښتون غازي، ستر ټولواک، لوی فاتح، اعليحضرت احمــد شاه بابا.




د افغانستان د ټولواک په حیث، په (۱۱۶۰ هـ. ق.) کال د لوی احمد شاه بابا تر ټاکل کېدلو وروسته، صابر شاه ملنګ، د
شیر سرخ په زیارت کې، د هغه په پګړۍ کې د غنمو د وږي ټومبلو په حال کې.




د پاني پت قهرمان، پښتون غازي، ستر ټولواک، لوی فاتح، اعلیحضرت
لوی احمد شاه بابا او د ده سرتېر لښکر، په شمالي هندوستان کي له
طغياني جمنا سيند څخه د پوري وتلو په حالت کي.



د ستر تولواک غازي لوی احمدشاه بابا جنګي خول، بازوبند او امسا.



د لوی افغانستان د ستر تولواک اعلیحضرت لوی احمد شاه بابا په زیارت کې دننه د هغه قبر.




د کندهار د زاړه احمدشاهي ښار (اشرف البلاد) دکلا دېوالونه.






د لوی احمد شاه بابا د پلي پوځ دراني عسکر په جنګي لباس کي.




دلوی احمد شاه بابا په وختو کي د احمدشاهي پوځ د پیاده عسکرو جنګي افزار.



د کندهار په ذاکر کي د نوميالي پښتون مشر حاجي جمال خان نيکه زيارت.



د لوی احمد شاه بابا لومړی وزیر اشرف الوزراء
شاه ولي خان (بگی خان) بامېزی.




"زمزمه" نومی توپ، چي د اشرف الوزراء شاه ولي خان بامېزي په
امر په لاهور کي له مس او برنج څخه جوړ سوی دئ او اوس په
لاهور کي د لاهور موزیم مخ ته د یادګار په توګه ولاړ دئ.



نومیالی احمدشاهي سپهسالار غازي سردار جهان خان پوپلزی.



د ډهلي مغل پاچا محمد شاه بهادر ګورګاني.



د ډهلي مغول پاچا احمدشاه بهادر ګورګاني.



د ډهلي مغول پاچا دوهم عالمګیر (عزیزالدین).



د ډهلي مغول پاچا دوهم شاه عالم (عالي ګوهر).



د روهیلکهند دروند او نومیالی پښتون حافظ الملک نواب حافظ رحمت خان بړیڅ.



د ډهلي د دربار احمدشاهي امير الامراء نواب نجيب الدوله نجيب خان يوسفزى.



د شمالي هندوستان د روهيلکهنډيو پښتنو د سپاره پوځ جنګيالي.



د ایران پاچا نادرشاه افشار "نادرغلي".



د آذربایجان خپلواک پښتون پاچا، نومیالی
آزاد خان سلیمانخېل.



د لاهور احمد شاهي نائب الحکومه مير معين الدين معين الملک مشهور په "مير منو".



د ډهلي د مغلي دربار وزير غازي الدين عماد الملک.



د ډهلي د مغلي دربار وزير او د اوده نواب صفدر جنګ ترکمن.



داودھ نواب شجاع الدولہ ترکمن۔



د بست جالندهر دوآبې حاکم نواب آدینه بیګ خان.



د بهرتپور او ډیگ واکمن راجا سورجمل جاټ (جت).




د پاني پت په جنګ کې د مرهټې پوځو سپهسالار سدا شيو راو بهاو (باهو).



د اندور د راجاګانو نیکه، صوبه دار ملهار راو هولکر مرهټه.




مرهٽه سردار مدهوجي (مهداجي) سينڌيا مرهٽه.



په سپکه سلاح سمبال د مرهټي سپاره پوځ يو جنګيالی.




په سپکه سلاح سمبال د مرهټې پياده پوځ يو جنګيالى.




د مرهټه پوځ د پیاده عسکرو د اسلحې ډولونه.




د پاني پت په ډاګ کې د لوی احمد شاه بابا رحمة الله علیه او د مرهټو تر منځ د مشهور او تاریخي جنګ



دلوی احمد شاه بابا په ژوند، په (۱۷۶۲ع.) کال کې دلوی افغانستان (دراني امپراتوري) نقشه.



دلوی احمد شاه بابا تر وفات وروسته، په (۱۷۷۲ع.) کال کي د لوی افغانستان (دراني امپراتوری) نقشه.



په شمالي هندوستان کي د پښتنو د ټاټوبي (روهیلکهند) هغه نقشه، چي علامه رشاد په خپل لاس کښلې ده.



د دې اثر (د احمدشاهي عصر نوميالي) ليکوال
علامه اکاډميسن پوهاند عبد الشکور رشاد.

"də ahmad shāhi asar numyāli" is Prof. Abdul Shakoor Rashad's scholarly work, which provides vital research and information about Ahmad Shah Durrani's era and contribution to Afghanistan's History. This research was originally organized in two separate scripts. The first edition introduced 4 and the second edition introduced 91 important characters in regards to their life accounts, as well as their scientific and military actions. Of these many important characters and figures, his scholarly research includes not only the history of Ahmad Shah Durrani era's Pashtun figures, but also covers his loyal remnants' popular characters and rivals until the end of the Sadozay's era.

With this said, we are privileged to have copies of Prof. Rashad's "də ahmad shāhi asar numyāli". It has been written in two separate additions. We had a chance to organize, tape and compose both of them, and for ease of access we decided to publish them in one cover.

In summary, it is important to acknowledge with great respect and admiration this work as well many other publications that Professor Rashad has contributed to the academic field. If there is any misapprehension we declare sole responsibility.

Sincerely yours,

Allama Rashad Academy

Kandahar-Afghanistan

March, 2015

INTRODUCTION

Afghanistan is well known for its geographic location, wit the Silk Road traversing through it connecting India and Easter Asia to the Middle East and Europe. For this particular reason has been in a strategic area of interest for many empires, and ha been crossing path for different cultures. Despite man endeavors by different empires and kingdoms to conquer thi area, the Afghan people have always tried to maintain a sens of independence, dignity and culture.

One of the resilience of the Afghan people to maintain strong sense of self identity is best exemplified during the er of Ahmad Shah Durrani's reign, the founder of modern da Afghanistan. His transition to power was in the 18th century, time where many local Pashtun chiefdoms' were at odds wit each other. In July 1747, the chiefs of many Pashtun tribes me near Kandahar for a Loya Jirga to choose their leader. The looked for a person, who was trustworthy, honest, strong, an most importantly, someone to bring the drifts and conflict between different tribes to an end.

A well-known religious figure, Sabir Shah, brought to th attention of the Loya Jirga a person who would best suite thi role. He described Ahmad Shah Durrani best when he said, "I found no one worthy for leadership except Ahmad Shah. He i the most trustworthy and talented for this job." These word carried a lot merit, enough to convince the local chiefdoms' the to accept this charismatic figure as their new leader for promising future. Ahmad Shah Durrani's first accomplishmen as King was unifying all the different Afghan tribes. Over th course of 25 years, he had expanded the boundaries of h empire in north east point up to Kashmir or Himalay mountains, in Turkistan area up to Amu darya (Oxus River), i Mashad area up to Qalat Nadiri, in west as miles to westwar of Tibbis and Sabzwar, in South, in the area of Baluchistan a Sindh up to Arabian Sea, in the area of Bahawalpur up Bikaneer, in the area of Sirhind up to Karnal and in one point eastern border up to Jamuna (Yamuna) river.

The Aim of Allama Rashad Academy

The aim of Allama Rashad Academy is to protect, manage and publish the books of Academician Professor Abdul Shakoor Rashad *(May God have mercy on him)* as well as other Afghan Writers, to our Nation.

First edition, 2015
Kandahar-Afghanistan

Composed & Designed by Allama Rashad Academy

Series published (22)

Printed in Kandahar-Afghanistan

Address: House # 4, Allama Habibi Road, Madad Khan Chowk Kandahar -Afghanistan

Phone: +93 (0) 302003053

Mobile: +93 (0) 708897674

+93 (0) 799445117

Email: rashadacademy@gmail.com

də ahmad shāhi asar numyāli

(THE LEGENDS OF AHMADSHAH DURRANI'S ERA)

(First & Second Volumes)

Author:
Academician Professor
Abdul Shakoor Rashad

ALLAMA RASHAD ACADEMEY
Kandahar-Afghanistan
2015

ahmad shāhi asar numyāli"

Prof. Abdul Shakoor Rashad's
larly work, which provides vital
arch and information about
nad Shah Durrani's era and
ribution to Afghanistan's History.
research was originally organized
two separate scripts. The first
ion introduced 54 and the second
ion introduced 91 important
acters in regards to their life
unts, as well as their scientific and
tary actions. Of these many
ortant characters and figures, his
larly research includes not only
history of Ahmad Shah Durrani
Pashtun figures, but also covers
oyal remnants' popular characters
rivals until the end of the
ozay's era.

Allama Rashad Academy

də ahmad shāhi asar

numyāli

(THE LEGENDS OF AHMADSHAH DURRANI'S E

Academician Professor Abdul Shakoor Rasha

